ولقد یسرنا القرآن للذکر

تفسیر

جواهر القرآن پښتو

مع ترمیم و اضافه

شیخ القرآن حضرت مولانا غلام الله خان صاحب رحمة الله علیه

وحیدی کتب خانه
پشاور

اَلقُرآنُ الحَکِیم

مَعَ

تَفسِیرُ جَواھِرُ القُرآن پښتو

از افادات شیخ التفسیر حضرت مولانا حُسین علی صاحب رحمۃ اللہ علیہ

ترجمہ شیخ الہند حضرت مولانا محمود الحسن صاحب دیوبندی رحمۃ اللہ علیہ

مَع

ترمیم و اضافہ

شیخ القرآن حضرت مولانا غلام اللہ خان صاحب رحمۃ اللہ علیہ

فوائد موضح قرآن :۔ از مولانا شاہ عبد القادر صاحب محدث دہلوی رحمۃ اللہ علیہ

فوائد فتح الرحمٰن :۔ از مولانا شاہ ولی اللہ صاحب محدث دہلوی رحمۃ اللہ علیہ

۱	۲	۳	۴	۵
اوّلہ	دوېمہ	درېمہ	څلورمہ	پینځمہ

وَحِیدِی کُتُب خانَہ

قصہ خوانی بازار پشاور ــــ فون نمبر : ۲۵۷۳۵۵۹

موبائیل نمبر ــــــــ ۰۳۰۰-۹۵۹۳۱۵۰

اوّل جلد



د کتاب نوم ———— **تفسیر جَوَاهِرُ الْقُرْآن**

مع ترمیم و اضافه ———— شیخ القرآن حضرت مولانا **غلام الله خان** صاحب

پښتو مترجم ———— مولانا عبد المالک صیب

د قرآن مصحح ———— قاری عبد الله

د تفسیر او ترجمے مصحح ———— مولانا عبد اللطیف سکندر فاضل جامعه بنوریه ټاؤن کراچي

د کاتب نوم ———— ارقم جان (چارسده روډ) بخشی پُل کلے خدرخیل

ناشر

وحیدی کُتب خانه


قصه خوانی پیښور ښار

فون نمبر ———— ۲۵۶۴۹۹۱

موبائیل نمبر ———— ۹۵۹۶۱۵۰ ———— ۰۳۰۰



بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ



سُوْرَةُ الْفَاتِحَة

خلاصه دَ سُورَةُ الفاتحه ډیر نومونه دی چه په هغې کښې اُمُّ القرآن د ټولو نه زیات جامع او مشهور دے۔ د دے نوم وجه تسمیه دا ده چه د اُمّ معنٰی دلته مغز او خلاصه ده۔ دا سورت چونکه د هغه ټولو مضامینو خلاصه ده کوم چه قرآن شریف کښې په تفصیل سره ذکر دی۔ په دے وجه دا سورت په اُمُّ القرآن سره مُسمّٰی کړے شو۔ د دے دوه تقریرونه دی:

اول تقریر مولانا شبیر احمد عثمانیؒ دا تقریر فرمائیلے دے چه په قرآن مجید کښې شپږ مضامین بیان شوی دی (۱) توحید (۲) رسالت (۳) احکام (۴) قیامت (۵) د مننونکو حالات (۶) د نه مننونکو حالات۔ او په سُورةُ الفاتحه کښې دا ټول مضامین اجمالاً موجود دی۔ دَ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ نه د الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ پورے توحید دے۔ مٰلِكِ یَوْمِ الدِّیْنِ کښې قیامت، اِیَّاكَ نَعْبُدُ او اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِیْمَ کښې د احکامو بیان دے ځکه چه په نَعْبُدُ کښې د عبادت د ټولو طریقو او د احکامو طرفته اشاره ده۔ دغه شان د الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِیْمَ نه د شریعت ټول احکام مراد دی۔ صِرَاطَ الَّذِیْنَ اَنْعَمْتَ عَلَیْهِمْ کښې یو طرفته د رسالت بیان دے ځکه مُنْعَم عَلَیْهِم کښې څلور ډلے دی چه انبیاء کرام علیهم السلام پکښې اول دی لکه چه د الله تعالیٰ ارشاد دے، اُولٰٓئِكَ الَّذِیْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَیْهِمْ مِّنَ النَّبِیّٖنَ وَالصِّدِّیْقِیْنَ وَالشُّهَدَآءِ وَالصّٰلِحِیْنَ وَحَسُنَ اُولٰٓئِكَ رَفِیْقًا (نساء) او بل طرفته د مننونکو حالاتو طرفته اشاره ده یعنی مننونکو ته به هر قسمه انعام او عزت ورکړے شی او په غَیْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَیْهِمْ وَلَا الضَّآلِّیْنَ کښې د نه مننونکو ذکر دے۔ د دے طریقے سره دا سورت د ټولو مضامینو خلاصه ده۔ په دے وجه د دے نوم اُمُّ القرآن دے۔

دویم تقریر دویم تقریر زمونږ د شیخ حضرت مولانا حسین علی رحمه الله دے۔ دوی به فرمائیل چه امام ربانیؒ د حضرت علیؓ نه نقل کړی دی۔ بل دا چه په تفسیر مَوَاهِبُ الرَّحْمٰن ص۱ کښې دی چه د ټولو اسمانی علومو او قرآن مجید خلاصه په سورة الفاتحه کښې موجوده ده ځکه چه د مضامینو په اعتبار سره د قرآن مجید څلور حصے دی او هره حصه د اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ نه شروع کیږی۔ اوله حصه د سورة الفاتحه نه تر د سورة المائده اخره پورے ده۔ په دیکښې د خالقیت بیان ډیر دے یعنی د ټول کائنات پیدا کونکے صرف الله تعالیٰ دے بل څوك نشته۔ دویمه حصه د سورة انعام نه تر د سورة بنی اسرائیل پورے ده۔ د دے حصے مرکزی مضمون ربوبیت دے یعنی دیکښې دا خبره ډیره بیان شوے ده چه څیز لره د پیدا کولو نه پس تر کمال حد ته رسولو والا او د هر څیز پرورش کونکے صرف الله تعالیٰ دے، د هغه نه سوا بل هیڅوك نشته۔ دریمه حصه د سورة کهف نه تر د سورة احزاب اخره پورے ده۔ په دیکښې دا مضمون ډیر بیان شوے دے چه د بادشاهۍ په تخت باندی هم هغه موجود دے، هغه

مالک، متصرف، مختار او کارساز دے او هم هغه پر کائنات ولوی او په خپل بادشاهئ او تصرفاتو او اختیاراتو کښې خوک ئې شریک نوی. خلورم حصه د منوه تسبیات ته د قرآن مجید اخوه ېوے دے او دے حسه مضمون دا دے چه د قیامت په ورځ بانی مالک او مختار صرف الله پاک دے او د هغه په دربار خوک سفارش کونکے نشی کیدے. دا څلور مضامین کوم چه په قرآن مجید کښې تفصیل سره ذکر دی، د دے خلاصه او اجمالی ذکر په سورة الفاتحه کښې موجود دے. په اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ کښې حصه اول طرف اشاره ده څکه د لفظ الله نه وصف مشهور مراد دے یعنی خالق بمطابق قاعده د مشهوره: یَنۡقُضُ فِرۡعَوۡنٍ مُوۡسٰی ای لکل مبطل محق. د عرب مشرکینو هم د الله پاک د خالقیت اقرار کولو. لکه چه الله پاک ارشاد فرمائی:

وَلَئِنۡ سَاَلۡتَهُمۡ مَّنۡ خَلَقَهُمۡ لَيَقُوۡلُنَّ اللّٰهُ (زخرف) "که ته د دوی نه تپوس او کړے چه دوی له چا پیدا کړی دی نو دوی به ضرور او وائی چه الله پیدا کړی یو" بل ځائے ارشاد دے:

وَلَئِنۡ سَاَلۡتَهُمۡ مَّنۡ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضَ لَيَقُوۡلُنَّ اللّٰهُ (لقمان ع۳) "او که ته د دوی نه تپوس او کړے چه اسمانونه او زمکه چا پیدا کړی دی نو دوی به ضرور او وائی چه الله تعالیٰ"

دویمه حصه په رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ کښې ذکر ده. او دریمے حصے طرفته په اَلرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ اشاره ده یعنی مالک او مختار او د بادشاهئ په تخت باندې هم هغه متمکن دے څکه چه انتهائی رحمت او انتهائی شفقت هم د بادشاهانو صفتونه دی. او څلورمه حصه په مٰلِکِ یَوۡمِ الدِّیۡنِ کښې ذکر ده. دا رنګ حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنه فرمائی: لکل شیء لباب ولباب القرآن الحوامیم (خازن ج۶) یعنی د هر څیز یو خلاصه وی او د قرآن مجید خلاصه حوامیم دی. او د ټولو حوامیمو ابتدائی سورت زمر دے. او د زمر دعویٰ دا ده چه صرف د الله پاک عبادت کوئ د ماسوا عبادت مکوئ. د الله تعالیٰ ارشاد دے:

فَاعۡبُدِ اللّٰهَ مُخۡلِصًا لَّهُ الدِّیۡنَ ۞ اَلَا لِلّٰهِ الدِّیۡنُ الۡخَالِصُ (زمر ع۱) "پس ته خالص اعتقاد سره د الله تعالیٰ بندګی کوه. یاد ساته عبادت کوم چه د شرک نه پاک وی، هم الله پاک سره لائق دے" او د عبادت نه مراد غائبانه دعا او غوښتل دی لکه حٰمٓ مؤمن کښې د دے وضاحت شوے دے. د الله پاک ارشاد دے:

فَادۡعُوا اللّٰهَ مُخۡلِصِیۡنَ لَهُ الدِّیۡنَ (حٰمٓ مؤمن ع۷) "پس تاسو خالص اعتقاد سره الله پاک له رابلئ" دلته د اُعۡبُدُوۡا په ځائے باندې اُدۡعُوۡا او فرمایه. دیکښې دے طرفته اشاره ده چه د عبادت نه مراد دعا او بلل دی او بلل د عبادت اعظم جز دے لکه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم ارشاد دے: اَلدُّعَآءُ مُخُّ الۡعِبَادَةِ. د هغه شان د سورة مؤمن په شپږمه رکوع کښې دی: وَقَالَ رَبُّکُمُ ادۡعُوۡنِیۡۤ اَسۡتَجِبۡ لَکُمۡ ؕ اِنَّ الَّذِیۡنَ یَسۡتَکۡبِرُوۡنَ عَنۡ عِبَادَتِیۡ سَیَدۡخُلُوۡنَ جَهَنَّمَ دٰخِرِیۡنَ ۞ "او ستا پروردګار فرمائیلی دی چه ما له رابلئ زه به ستاسو درخواست قبلومه. کوم خلق چه صرف زما د عبادت نه اعراض کوی، متکبرینو سره به ذلیله کیږی او جهنم ته به داخلیږی. د نبی علیه السلام نه د دے ایت په تفسیر کښې نقل شوی دی چه دوی او فرمائیل: عَنۡ عِبَادَتِیۡ قَالَ عَنۡ دُعَائِیۡ (ابن جریر) یعنی په عَنۡ عِبَادَتِیۡ کښې د عبادت نه مراد دعا او بلل دی. او د حوامیمو سبعه

دعوی هم صرف دغه ده چه په ټولو مشکلاتو کښې غائبانه طور باندې صرف د الله پاک نه غواړی
او صرف د هغه نه امداد طلب کوی. د سورة زمر خلاصه د فاتحې په إِيَّاكَ نَعْبُدُ کښې راغلې ده
او د حوامیمو سبعه خلاصه د فاتحې په إِيَّاكَ نَسْتَعِينُ کښې راغلې ده. دغه شان د پوره قرآن خلاصه
په فاتحه کښې راغله. د سورة الفاتحه خلاصه او دعوی د سورة الجن په رکوع مبارکه کښې داسې
بیان شوې ده: "قُلْ إِنَّمَا أَدْعُوا رَبِّي وَلَا أُشْرِكُ بِهِ أَحَدًا" او وایه چه زه خو صرف
خپل پروردګار (په غائبانه حاجاتو کښې) رابلم او په دې بللو کښې ورسره بل څوک نه شریکوم"
بعینه هم دغه شان مفهوم علامه ابن کثیرؒ داسې بیان کړې دې: الفاتحة سر القرآن وسرها
هذه الكلمة (إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ) یعنی سورة الفاتحه د ټول قرآن مغز دې او د
سورة الفاتحه مغز إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ دې.

سوال دلته یو سوال پیدا کیږی او هغه دا چه د قرآن مجید څلورمه حصه د سورة سبا
نه شروع کیږی په اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ سره او د دې حصې دویم سورة یعنی سورة
الفاطر هم د اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ نه شروع شوې دې. د دې څه وجه ده؟

جواب نو د دې جواب دا دې چه په دویمه حصه کښې دوه مضمونه بیان شوی دی
یو دا چه د قیامت په ورځ باندې به څوک قهری شفیع نه وی او دویم دا چه
عبادت او بلل صرف د الله پاک نه پکار دی، نه د بل چا نه. دغه شان دا دواړه سورتونه خپل
مینځ کښې مربوط شول. یعنی هر کله چه د الله تعالٰی په وړاندې څوک قهری شفیع نشته نو
عبادت او بلنه هم صرف د هغه پکار ده. د دې وجه نه په سورة سبا کښې د شفاعتِ قهری
نفی شوې ده او بیا سورة یٰسٓ، صافات او صٓ درې واړه په دې متفرع دی. سورة یٰسٓ
کښې ئې اوفرمائیل چه مونږ بدکرداره قومونه اونیول لیکن چا هم خلاص نه کړل. صافات
کښې ئې اوفرمائیل خلاصیدل خو یو طرفته کړه، د چا باره کښې چه د خلاصیدو ګمان دې یعنی
انبیاء علیهم السلام هغوی د الله تعالٰی په وړاندې عجز او زاری کوی. او صٓ کښې ئې بیان کړل چه نه
صرف زاری کوی بلکه د الله پاک د طرفنه په بعض جسمانی مرضونو کښې هم مبتلا دی. دارنګې
په سورة فاطر کښې د عبادت او بللو مسئله بیان شوې ده او بیا په زمر او حوامیمو سبعه کښې
د دې وضاحت شوې دې او د شبهاتو جواب ورکړې شوې دې. سورة سبا چونکه د
یٰسٓ، صافات او صٓ مبدأ وه او سورة فاطر د زمر او د حوامیمو سبعه مبدأ وه، د دې وجې
نه د دواړو سورتونو شروع په اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ سره اوشوه.

څرنګه چه د پوره قرآن مجید خلاصه په سورة فاتحه کښې موجوده ده دغه رنګې د پوره
سورة الفاتحه خلاصه په بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ کښې موجوده ده. اوله حصه په
لفظ د الله کښې موجوده ده ځکه چه د دې نه وصف مشهور یعنی خالق مراد دې. دریمه
حصه د سابق بیان موافق په الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ کښې ذکر ده. خو هر کله چه خالق هم هغه
شو او مالک هم هغه نو بلاشبه چه روزی ورکونکې به هم هغه وی او دغه شان پالونکې هم.
د غیب یوه حصه صراحةً او بله حصه اشارةً په بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ کښې راغله، د

کوم دریو جصو تعلق چه د دنیا سره دی هغه په بِسْمِ اللّٰهِ کښې راغلی. هر کله چه په دنیا کښې د ټولو خالق او د ټولو مالک او مربی هم الله تعالیٰ دے نو په آخرت کښې به هم مالک او مختار او متصرف هغه وی. او بیا د پوره بِسْمِ اللّٰهِ خلاصه په لفظ د باء کښې موجود ده گویا د ټول قرآن مجید اصل مقصد د باء استعانت نه معلومیږی. متعلق د باء حذف دے او اصل عبارت داسے دے، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ اِسْتَعِیْنُوْا متعلق په آخر کښې دے وجے نه وبینا شو چه د حصر فائده ورکړی: اَیْ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ خاصّةً لا بما یشرک یعنی المشرکون فی دعاءهم وادعوه خاصّةً لا لغیره. یعنی صرف د الله په نوم سره امداد طلب کوه او هم الله تعالیٰ په غیبی حاجت کښې بلله او کوم لره چه مشرکینو شریکان جوړ کړی دی، هغوی نه امداد مه طلب کوه او مه هغوی لره بلله.

تَعْلِیْمُ الْمَسْئَلَةِ

د سورة الفاتحه یو نوم تعلیم المسئله هم دے چه معنیٰ ئے ده د سوال کولو تعلیم. په سورة الفاتحه کښې الله پاک خپلو بندګانو ته د سوال کولو تعلیم ورکړے دے چه ما نه داسے سوال کوئ. په دے وجه دے سورت ته تعلیم المسئله هم وائی. چنانچه پوره سورة الفاتحه کښې غور کولو سره دا معلومیږی چه دا ټول په ټوله یو عاجزانه درخواست دے کوم چه بنده د خپل مولا په وړاندې پیش کوی. اول ئے حمد و ثناء کوی او هغه سره لائق د هر ثناء والی اعلان کوی او د هغه د مالک کیدو او د پوره کائناتو د پالونکی او د رحمٰن رحیم کیدو او د ورځے د جزا د مالک کیدو اقرار کوی، او بیا د خپلے بندګئ او د کمزورئ اعتراف کوی او په نیغه لاره باندې د قائم کیدو توفیق تر ینه غواړی. دا هم د الله پاک ډیر شفقت او رحم دے چه بندګانو ته ئے د سوال کولو تعلیم ورکړو.

چونکه په سورة الفاتحه کښې بندګانو ته د سوال کولو تعلیم ورکړے شوے دے، په دے وجه د دے نه وړاندې لفظ د قُوْلُوْا (داسے وایئ) محذوف دے. او بیا د تعریفی او دعائیه جملو په اول کښې هم لفظ د قُوْلُوْا محذوف دے مثلاً: قُوْلُوْا بسم الله الرحمٰن الرحیم نستعین قولوا الحمد لله رب العٰلمین الرحمٰن الرحیم مٰلک یوم الدین. قولوا ایاک نعبد. قولوا وایاک نستعین. قولوا اهدنا الصراط المستقیم الخ. د حضرت شیخ رحمة الله علیه په الفاظو کښې د سورة فاتحے خلاصه داسے ده:

قال الله تعالیٰ بسم الله الرحمٰن الرحیم ای قولوا بسم الله الخ ومعناه الله نستعین خاصّةً وادعوه خاصّةً لا لغیره ولا تلبس بذکر اسمه. نسمی هٰذه الطریق فی اصطلاحنا ادماجاً ای استعین بالله الرحمٰن الرحیم لانّه هو الخالق المالک و فهم المعنی الوصفی عن العلم لشهرته بهٰذا الوصف قال تعالیٰ وهو الله فی السمٰوٰت و فی الارض فقال تعالیٰ وهو الذی فی السماء اِلٰهٌ و فی الارض اِلٰه فهو الخالق المالک الرحمٰن الرحیم. اعلم یا اخی انّ جمیع القراٰن منقسم الیٰ اربع ابحاث کل بحث یبتدأ بالحمد لله الاوّل من فاتحة الکتاب الیٰ اٰخر سورة النساء والثانی من الانعام الیٰ اٰخر سورة بنی اسرائیل والثالث من

الکهف الی اخر الاحزاب والرابع من السبا الی اخر القران - فاجتمعت المضامین الاربعة فی الفاتحة والفاتحة فی بسم الله الرحمن الرحیم ویلفظ اخر تمام القران فی الفاتحة فان لباب القران الحوامیم وخلاصة الحوامیم فی حٰمٓ المؤمن ای اُدْعُوا اللهَ مُخْلِصِیْنَ لَهُ الدِّیْنَ کما نبینه فی تفسیر الحوامیم و ذکر فی السور السابقة انه تعالی هو الخالق لاغیره فاعبدوا الله مخلصین له الدین وهذا المذکور ثابت فی الفاتحة والفاتحة فی بسم الله وبسم الله فی الباء - کان لفظة الله جمعت فیه الالوهیة والربوبیة والمقصود من الحصر فی الحمد له هو حصر العبادة التی اعظم شعابها الاستعانة فاذا قرأ القاری بسم الله استعین بتقدیم الجار فهم حصر الاستعانة ای بسم الله استعین لا بما اشرک به المشرکون. فالفاتحة جامعة و ام للقران وهی فی البسملة والبسملة فی الباء نقل عن علی رضی الله عنه ان الباء فی بسم الله جامعة کذا فی المکتوبات للامام الربانی قدس سره والله اعلم بالصواب فشروع القران بحصر الاستعانة والختم علی قل هو الله احد وقل اعوذ برب الناس فالشروع بالاستعانة منه والختم علیها کذا سنة رب العلمین فی الاشجار الا تری الی حبة تنبت فالمبدأ والمنتهی الثمرة التی هی الحبة وهذا یشعران المبدأ منه والیه المرجع والمصیر۔

ﻟﻪ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ، د تفسیرا وفنون په کتابونو کښی دا بحث ډیر په تفصیل سره ذکر دے - په اَلْحَمْدُ کښی الف لام دپاره د استغراق دے - بیا په دے بانډې د اعتراضاتو او جواباتو یوه اُوږده سلسله ده۔ کوم چه ختمیږی نه. مثلًا په دے بانډې دا یو اعتراض کیږی چه که الف لام د استغراق دپاره شی نو مطلب به دا شی چه د تمامو صفتونو او خوبیانو مالك الله تعالی دے لهٰذا د الله نه ماسوا د هغه په مخلوق کښی هیڅ کښی هم یو صفت موجود نهٔ دے حالانکه دا خبره صحیح نهٔ ده ځکه چه د الله تعالی په مخلوق کښی په زرګونو صفتونه موجود دی چه په خپله په قرآن کښی د مخلوق صفتونه بیان شویدی. د رسول الله صلی الله علیه وسلم څو مره صفات مثلًا رَءُوْفٌ رَّحِیْمٌ، سراج ومنیر، بشیر و نذیر وغیره په قرآن کښی موجود دی. د دے نه علاوه د نبیانو صفات، د صالح مومنانو او د جبرئیل امین بعض صفات په قرآن مجید کښی ذکر دی. د دے نه علاوه په کافرانو کښی هم بعض خوبیانے قابل د تعریف موجود دے دی۔

نو دینه دا جواب ورکولے شی چه په مخلوق کښی کوم صفتونه موجود دی د هغے خالق هم الله تعالی دے - بل دا چه دا صفات عارضی دی یعنی د مخلوق په فنا او مرګ کیدلو بانډې دا هم ختمیږی۔ همیشه او مستقل نهٔ دی مګر د الله تعالی چه کوم صفات دی هغه دائمی او مستقل دی، هغے لره فنا نشته هغه ازلی او ابدی دی، د مخلوق د صفاتو سرچشمه او د هغے خالق او ورکوونکے هم الله تعالی دے او د مخلوق د ټولو صفتونو رُجوع هغه ته کیږی۔ د دے وجے نه د پوره صفتونو او خوبیانو مالك او لائق په حقیقت کښی هم الله تعالے دے۔

لیکن حضرت شیخ رحمه الله د خپل خاص طرز موافق چه (د هر لفظ او ایت دا سے مراد بیان کړے شی چه هغے بانډې څه اعتراض وارد نشی) فرمائی چه په اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ کښی الف لام د استغراق دپاره نهٔ دے

بلکه د جنس او عهد خارجي د پاره دے او د نحوي قاعدے سره موافق د الف لام حقیقي هم جنسي او عهد خارجي راځي. استغراق لره محققینو د الف لام مجاز محمل قرار کړے دے او د دینه صرف هم هغه صفات مراد دي کوم چه صرف د الله تعالیٰ ذات سره خاص دي او په مخلوق کښې نه دي موجود یعني د کارسازۍ صفات یا په نورو الفاظو کښې صفات فاعلیه یا صفات مافوق الاسباب مثلاً مالک و مختار، متصرف و کارساز، حاجت روا و مشکل کشا او دلیرے او نزدے نه په یو شان سمیع او بصیر وغیره. مطلب دا چه د الوهیت ټول صفات الله تعالیٰ پورے خاص دي او په دے کښې هیڅوک د هغه شریک نشته. په دے صورت کښې نه خو څه اعتراض وارد یږي او نه د جواب زحمت اوچتول پریوزي.

قرآن مجید کښې الله پاک ځائے په ځائے د خپل الوهیت صفات بیان کړي دي. یو ځائي کښې ارشاد دے: قُلْ لَّا يَعْلَمُ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الْغَيْبَ اِلَّا اللّٰهُ (نمل ع۵) "اووایه چه د الله نه ماسوا نه څوک اسمان والا غیب پیژني او نه زمکے والا" په دے ایت کښې د الله تعالیٰ د علم غیب د صفت ذکر دے کوم چه د الوهیت د صفاتو نه دے. یو ځائے کښې فرمائي: وَاِنْ يَّمْسَسْكَ اللّٰهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهٗٓ اِلَّا هُوَ ۚ وَاِنْ يُّرِدْكَ بِخَيْرٍ فَلَا رَآدَّ لِفَضْلِهٖ (یونس ع۱۱) په دیکښې ئے بیان کړل چه د نقصان مالک صرف الله پاک دے، د هغه نه ماسوا نه څوک نفع ورکولے شي او نه څوک نقصان ورکولے شي یو ځائے کښې ارشاد دے چه په ټول مخلوق باندې سحرا و ما بنام باران کیږي، دا هم د الله تعالیٰ د طرفه دي، فرمائي: وَمَا بِكُمْ مِّنْ نِّعْمَةٍ فَمِنَ اللّٰهِ (نحل ع۷) یعني تاسو سره چه څومره نعمتونه دي دا ټول د الله پاک له طرفه دي. یو ځائے کښې فرمائي: يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اذْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ ۚ هَلْ مِنْ خَالِقٍ غَيْرُ اللّٰهِ يَرْزُقُكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ ۚ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ (فاطر ع۱) "اے خلقو! هغه نعمتونه یاد کړئ کوم چه الله پاک په تاسو باندې کړي دي، ایا د الله نه ماسوا څوک پیدا کونکے شته؟ کوم چه د زمکے او اسمان نه تاسو ته روزي درکوي (یاد لرئ) د الله نه ماسوا هیڅوک معبود نشته." په دیکښې الله پاک د خپل خالق مالک، رازق او منعم او مربي کیدلو صفاتو بیان کړے دے. دا او ذکر شوي پورته تمام صفات د الوهیت دي.

د دے نه علاوه نورو په سلګونو ایتونو کښې د الله تعالیٰ د مخصوص صفاتو بیان شوے دے. دینه دا هم معلومه شوه چه د الله پاک دا ټول صفات مافوق الاسباب دي او د عالم الغیب سره تعلق لري. د لنډه دا خبره پیژندل پکار دي چه د عالم په نظام کښې کوم کارونه کیږي هغه به د دوؤ حالتونو نه خالي نه وي: یا به "ماتحت الاسباب" وي یعني د عادي اسبابو لاندې کارکوي مثلاً لیده وینځے او آوریدونکے سړے خپل کیرچا پیره شیزونو لره لیدلے شي او د خواؤشا آوازونه آوریدلے شي، یا مثلاً یو سړے غله او میوه زرغونول غواړي نو هغه دے کار د پاره آسباب استعمالوي یعنې په زمکه کښې یوے چلوي او د کروندے قابله ئے جوړه کړي، بیا پکښې تخم واچوي، بیا ورله اوبه ورکړي او خصمانه ئے کوي،

د هغوی له دی اسبابو نه دی چه دا په کار دا شوی، هغو کار نه کیږی. دوهم قسم کارونه هغه دی کوم چه ما فوق الاسباب دی یعنی د هغو دی اسبابو نه بالا تر دی مثلاً د یو سړی کا ئناتو ذره ذره هر وخت پیدا ول او زمکه او د آسمان او په هغو باندی نو مشاهده کول، د دے اسبابو نه بالا تر دی او ما فوق الاسباب ټول امور صرف د الله تعالیٰ د قدرت لاندی دی یعنی ما فوق الاسباب ټول صفتونه او خوبیانے الله تعالیٰ سره خاص دی او په دیکښی یو صفت او خوبی هم په نورو کښی نشته. د مکے مشرکانو به چونکه دے صفات الوهیت یا ما فوق الاسباب صفتونو کښی معبودان الله تعالیٰ سره شریک منل، د دے وجے نه په اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ کښی د مشرکانو د دے باطل خیال تردید کړے شوے دے چه ما فوق الاسباب ټول صفتونه صرف الله پاک سره خاص دی.

په قرآن مجید کښی چه چرته هم اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ واقع دے نو د سیاق او سباق نه هم دا معلومیږی چه په دے سره د مشرکینو د دے خیال تردید دے چه د دوی کمانی معبودان د دے الوهی صفتونو مالک دی. په سُورَةُ الانعام کښی ارشاد دے: فَقُطِعَ دَابِرُ الْقَوْمِ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ۗ وَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝ " بیا د ظالمانو خلقو جړه پریکړے شوه او ټول تعریفونه الله پاک له دی کوم چه د تمام جهان پروردگار دے." د دے نه وړاندے الله تعالیٰ د خپلو صفاتو کارسازی بیان کړے ده مثلاً د مصیبت په وخت هم هغه پکار راځی، د الله تعالیٰ نیول زبردست دی: د ظالمانو جړه کټ کوی. آخر کښی ئے اوفرمائیل: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ یعنی دا تمام صفات کارسازی صرف الله تعالیٰ له خاص دی.

دلته که چرے د اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ اختصاص په صفات کارسازی پورے اونکړے شی نو بیا د ما قبل سره د دے ربط باقی نه پاتے کیږی، په سُورَةُ النمل کښی دی: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ سَلٰمٌ عَلٰی عِبَادِهِ الَّذِيْنَ اصْطَفٰی " ټول تعریفونه الله پاک د پاره لائق دی او په هغه بندګانو دِ سلام دی کوم چه الله پاک منتخب کړی دی. د دے نه وړاندے د حضرت صالحؑ او د هغه د قوم ذکر دے چه د هغه تکذیب کوونکے قوم څرنګه تباه کړے شو او ایماندار خلق څرنګه بچ کړے شو. چنانچه ارشاد دے: اَنَّا دَمَّرْنٰهُمْ وَ قَوْمَهُمْ اَجْمَعِيْنَ ۝ " مونږ هغه نهه واړو او د هغوی ټول قوم تباه کړو." او د مؤمنانو باره کښی ئے اوفرمائیل: وَ اَنْجَيْنَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ كَانُوْا يَتَّقُوْنَ ۝ او مونږ هغه ایمان والا کوم چه هر وخت د الله پاک نه ویریدل، بچ کړل."

د دے نه پس ئے د لوط علیه السلام د منونکو او انکار کوونکو باره کښی اوفرمائیل: فَاَنْجَيْنٰهُ وَ اَهْلَهٗۤ اِلَّا امْرَاَتَهٗ " پس مونږ لوط علیه السلام او د هغه اهل ماسوا د هغه د ښځے نه بچ کړل." او فَاَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ مَّطَرًا او د هغه په منکرینو باندے مونږ یو نوے قسم باران اوورولو. او حضرت لوط علیه السلام او د هغه مؤمن قوم ته د نجات ورکولو او د منکرینو د تباه او برباد کولو نه پس په آخر کښی ئے اوفرمائیل: قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ سَلٰمٌ عَلٰی عِبَادِهِ الَّذِيْنَ اصْطَفٰی پس نیکانو بندګانو ته سلامتیا ورکول او کافران تباه کول د الله پاک صفتونه دی. د

الله تعالیٰ په نیکانو بندګانو باندې د الله پاک له طرفه سلامتیا خو نازلیږي لیکن هغوی کارساز متصرف او مختار نه وي.

او د سورة الجاثیة په اخري رکوع کښې ارشاد دے : فَلِلّٰهِ الْحَمْدُ رَبِّ السَّمٰوٰتِ وَرَبِّ الْاَرْضِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ۝ "پس ټولے خوبیانے صرف الله پاک لره دي څوک چه مالک د ټولو اسمانونو او مالک د ټولو زمکو او مالک د ټوله جهان دے". دلته ئے صفا اوفرمائیل چه د زمکے او اسمان مالک او مختار او د کائناتو کارساز صرف الله تعالیٰ دے او د کارسازۍ صفات هم هغه لره خاص دي او په دیکښې د هغه څوک شریک نشته. او په سورة الصّٰفّٰت کښې د انبیاء کرامو د مختلف واقعاتو بیان کولو نه پس فرمائي، وَسَلٰمٌ عَلَى الْمُرْسَلِیْنَ ۝ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ۝ "او سلامتیا دِ وي په ټولو پیغمبرانو او ټول تعریفونه الله پاک لره دي چه هغه د تمام جهان پروردګار دے." مطلب دا چه د تباهۍ او عذاب نه رسولان بچ کول او د هغوی دشمنان هلاکول، دا کار د الله تعالیٰ دے، د پیغمبرانو نه دے. حاصل دا چه د ټولو مافوق الاسباب او غائبانه طاقتونو مالک صرف الله تعالیٰ دے او د الوهیت تمام صفتونه د هغه پاک ذات سره خاص دي. مشرکانو چه خپل باطل ګمان کښې کوم پیغمبرانو لره په مافوق الاسباب او غائبانه طاقتونو کښې د الله پاک شریکان ګڼرلي دي هغوی پخپله الله پاک ته محتاج دي او په سختۍ کښې د دوی په کار نشي راتلے.

ګله "رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ" لفظ د الله د ذات د باري تعالیٰ د پاره اسم عَلَم دے لیکن دلته کښې وصف مشهور مراد دے یعنې خالق او اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ سره د باقي صفتونو نه دا سے دعوی ده چه دے دلیل هم پکښې دلته موجود دے یعنې د کارسازۍ تمام صفتونه او د الوهیت تمام صفتونه الله پاک سره خاص دي ځکه چه هغه خالق او رَبُّ الْعٰلَمِیْنَ دے، هغه رحمٰن او رحیم دے، هغه مالک د ورځے د جزاء دے او د هغه نه ماسوا په زمکه او اسمان کښې بله دا سے هستي نشته چه کومه په دے ټولو صفتونو سره یا په دیکښې یو صفت سره متصف وي. د سورة انعام په اوله رکوع کښې ارشاد دے : اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَجَعَلَ الظُّلُمٰتِ وَالنُّوْرَ ط "ټول صفتونه هغه الله پاک لره لائق دي چه اسمانونه او زمکے ئے پیدا کړل او تیاره او رڼرا ئے پیدا کړے". دلته اَلَّذِیْنَ موصول د خپلے صله سره ملاؤ دے او په منزله د علت دے یعنې هر کله چه د اسمانونو او زمکے خالق او د تیارو او رڼرا پیدا کونکے الله تعالیٰ دے نو د کارسازۍ صفات هم هغه سره خاص دي او د بل چا پکښې څه حصه نشته دے. دے نه پس ئے متصل اوفرمائیل : ثُمَّ الَّذِیْنَ کَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ یَعْدِلُوْنَ ۝ "بیا کافران خلق خپل باطل معبودانو لره د خپل پروردګار برابر ګڼړي". په دے سره ئے هم دا حقیقت واضح کړو چه هر کله د زمکے او اسمان او شپے او ورځے پیدا کونکے الله دے نو د کارسازۍ د صفاتو هم یوازے مالک هغه دے. که د هغه نه ماسوا بل څوک خالق نه وي نو خامخا دا به هم منل وي چه د الله پاک نه ماسوا کارساز او مافوق الاسباب، متصرف او مختار هم څوک نشته دے. ښه وي چه اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ یوه دعوی ده چه په دے کښې وئیل شویدي

چه دکائناتو د تمامو صفاتو مستحق صرف الله پاک دے - دغه ده پس رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ او الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ او مٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ ټول ددے دعوے دلیلونه دی.

سكه رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ: د لفظ د الله نه چونکه وصفي معنی مراد وه یعني خالق ددے وجے نه ددے په مناسبت سره ئے بل صفت د رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ راوړو ځکه چه هر قسمه مخلوق د خپل وجود دپاره خالق ته محتاج دے - دغه شان د بقاء وجود دپاره رب او پروردګار ته محتاج دے -

د رب معنی ده هر څیز لره دهغه حدّ د کمال ته رسول او د موقع مناسب دهغه ضرورتونه مهیا کول او هغه لره د ضرورتونو پوره کول لکه چه امام نسفی حنفیؒ د امام واسطیؒ نه نقل کړیدی هوالخالق ابتداءً ومربي غذاءً والغافر انتهاءً وهو اسم الله الاعظم. (مدارک ج ۱ ص ۶)

العٰلمین د عالم جمع ده او صیغه د اسم آله ده او د لته کښ تربیه مراد هغه څیز دے چه د کائناتو د خالق په وجود باندې پرے استدلال اوکړے شي، برابره خبره ده که انسان وی او که حیوان وی، نباتات وی او که جمادات وی، په دے وجه امام نسفیؒ فرمائی: والعالم كل ما علم به الخالق من الاجسام والجواهر والاعراض وكل موجود سوى الله تعالى سمى به لانه علم على وجوده الخ (مدارک ص ۶ ج ۱)

غرض داچه هر هغه څیز چه هغه په خلعت وجود کښ ملبوس دے او انسان ئے په سترګو سره مشاهده کولے شي، یا د نورو حواسو په ذریعه دهغې وجود محسوس کولے شي هغه ټول د اَلْعٰلَمِيْنَ په جامع لفظ کښ داخل دی - مطلب داچه د الله پاک د ربوبیت نظام د مخلوق هر نوع ته شامل دے او د کائنات عالم هیڅ یوه ذرّه دهغه د ربوبیت نه بے پروا نه ده. ځکه چه هر څیز د الله پاک دے دغه شان د هر څیز مربّي یعني پرورش کونکے او حفاظت کونکے هم الله پاک دے.

دَ الله تعالىٰ نِظامِ دَ رُبُوبيّت

دَ تمامو انسانانو پیدا کونکے الله تعالیٰ دے. د نطفې نه تر د طفل والی پورے، او دَ طفل والی نه تر د بوډا والی پورے د ټولو مرحلو نه انسان لره الله تعالیٰ تیروی. الله تعالیٰ پوخائے کښ ډیر اختصار سره دا حقیقت بیان کړے دے: اَللّٰهُ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ مِّنْ ضُعْفٍ ثُمَّ جَعَلَ مِنْۢ بَعْدِ ضُعْفٍ قُوَّةً ثُمَّ جَعَلَ مِنْۢ بَعْدِ قُوَّةٍ ضُعْفًا وَّشَيْبَةً يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ وَهُوَ الْعَلِيْمُ الْقَدِيْرُ (روم ع ۶) "الله پاک هغه دے چه تاسو ئے پیدا کړئ د کمزورئ په حالت کښ، بیا د کمزورئ د حالت نه پس ئے طاقت درکړو، د طاقت نه پس ئے کمزوری او بوډا والے درکړو. هغه چه څۀ اوغواړی پیدا کوی او هغه علم والا او قدرت والا دے." د زمکے او د اسمان خالق او د کائناتو د ذرّے ذرّے پیدا کونکے هم هغه دے: خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ وَصَوَّرَكُمْ فَاَحْسَنَ صُوَرَكُمْ (تغابن ع ۱) "هم هغه زمکے او اسمانونه صحیح طریقے سره پیدا کړیدی او ستاسو نقشه ئے جوړه کړه. پس بنه

[illegible] جوړ کړه" او بیو ځائے کښې ارشاد دے: خَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ فَقَدَّرَهُ تَقْدِيرًا (الفرقان ع ۱) "هغه هر څیز پیدا کړو بیا ئے هغوی له په جُدا جُدا اندازه باندې اوساتل". بل ځائے ارشاد دے: اَللّٰهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ وَّهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ وَّكِيْلٌ ۝ (الزمر ع ۷) "الله د هر څیز پیدا کونکے دے او هغه د هر څیز نګهبان دے". د دے آیتونو نه دا معلومه شوه چه د عالَم د ذرّے ذرّے پیدا کونکے الله پاک دے او د الله پاک نه ماسوا بل څوک خالق نشته. دغه شان د الله پاک رَبُوبیّت هم عام دے او ټول کائنات د هغهٔ د ربوبیّت د نظام لاندے داخل دي. الله تعالے د خپل ربوبیتِ عامه دا سے طریقے سره اعلان کوی: رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا (شعراء ع ۲) "هغه پروردګار دے د اسمانونو او زمکے او د هغه مخلوقاتو کوم چه د دے په مینځ کښې دی". او بیو ځائے کښې فرمائی: فَلْيَنْظُرِ الْاِنْسَانُ اِلٰى طَعَامِهٖٓ ۝ اَنَّا صَبَبْنَا الْمَآءَ صَبًّا ۝ ثُمَّ شَقَقْنَا الْاَرْضَ شَقًّا ۝ فَاَنْۢبَتْنَا فِيْهَا حَبًّا ۝ وَّعِنَبًا وَّقَضْبًا ۝ وَّزَيْتُوْنًا وَّنَخْلًا ۝ وَّحَدَآئِقَ غُلْبًا ۝ وَّفَاكِهَةً وَّاَبًّا ۝ مَّتَاعًا لَّكُمْ وَلِاَنْعَامِكُمْ ۝ (عبس ع ۱) "پس انسان د خپل خوراک طرفته نظر اوکړی چه مونږ عجیبه طریقے سره اوبو لره او زیتون لره او کهجورو لره او ګڼړو باغونو لره او میوو او ګیاه لره پیدا کړیدی ستاسو او ستاسو د حیوانانو دپاره". بیو ځائے کښې ارشاد دے: قُلْ اَغَيْرَ اللّٰهِ اَبْغِيْ رَبًّا وَّهُوَ رَبُّ كُلِّ شَيْءٍ (انعام ع ۲۰) "او وایه چه ایا زه د الله نه ماسوا بل څوک رب جوړولو دپاره تلاش کړم حالانکه هغه د هر څیز رب دے". انسان او د دوئ نه علاوه حیواناتو ته الله تعالے څرنګه رزق رسوی، د دے ذکر په مختلفو ایت کښې اوشو.

د پورته ذکر شوی آیتونو نه دا اندازه کیږی چه د الله تعالیٰ نظام د رُبُوبیّت په پوره کائناتو باندې حاوی دے او د انسانانو نه واخله تر د تمامو حیواناتو، نباتاتو، جماداتو او د الله تعالیٰ د نُوری اوناری او خاکی او علوی او سفلی د ټولو خالق، مُربّی، محافظ او پروردګار الله پاک دے.

الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۝ دا دواړه د صفتِ مشبه صیغے دی او په دواړو کښې د مُبالغے مفهوم موجود دے او دواړه مُشتق دی د رَحِیم نه. مُفسّرینو د دواړو لفظونو په مفهوم کښې فرق په مختلفو طریقو سره بیان کړے دے. بعضو فرمائیلی دی چه رحمٰن د دُنیا په اعتبار سره او رَحِیم د اٰخرت په اعتبار سره دے. یعنی په دُنیا کښې د هغهٔ رَحمت د مؤمنانو او کافرانو دپاره عام دے. په دُنیا کښې د دُنیاوی څیزونو نه کافر او مسلمان یو شان فائده اخلی. دا د هغهٔ د رحمانیت د صفت اثر دے او په اٰخرت کښې به د هغهٔ رحمت د صفت به وی. جاء فی الدعاء یا رحمٰن الدنیا لانه یعم المؤمن والکافر ورحیم الاٰخرة لانه یخص المؤمن (مدارک ص ۵ ج ۱) حضرت شیخؒ په دواړو صفتونو کښې یو لطیف فرق بیان کړے دے او هغه دا چه رَحْمٰن هغه موصوف ته وائی چه هغه رحمت بالفعل کوی او چه د هغهٔ رحمت د کائناتو ذرّے ذرّے ته شامل وی او رَحِیم (صیغه د صفت مشبه)

هغه پاک ذات ته وائي چه رحم د هغه لازمي او خصوصي صفت وي او دا رحمي صفت ته وائي. د
مطلب دا شو چه الله پاک چه بالفعل په هر وخت کښې په ټول مخلوق باندې د رحم ...
او رحيم د هغه ذات ته وائي چه رحم ورته لازم وي او د هغه صفت ذاتي وي. د دې نه ... الله ...
کولو دپاره ... د رحمٰن نه پس رحيم هم ذکر کړو.

د رب العٰلمين نه پس الرحمٰن الرحيم ذکر کولو کښې د دې طرف ته اشاره ده چه د ټول جهان
نظام ... د عالم تمام نظام د الله پاک د صفت رحم ظهور دے. ګويا دا ټول عالم
صرف د هغه د پاره جوړ شوے دے چه ... فائده اوچتې او ...
... دا مضمون په قرآن مجيد کښې الله پاک ځو ځايونو کښې تفصيل سره بيان کړے
... کښې ارشاد دے ﴿وَسَخَّرَ لَكُم مَّا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا مِّنْهُ ۚ إِنَّ
فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ﴾ (جاثيه ع ۲) "او تابع ئے کړل ستاسو د پاره هغه څه
چه په آسمانونو کښې دي او هغه چه په زمکه کښې دي. دا ټول په خپل حکم سره. يقيناً
په دې کښې د فکر کونکو د پاره نښانې دي."

نه صرف د زمکے او د آسمان په مابين خلاء کښې بلکه د زمکے په خيټه کښې هم هغه
دخپل رحمت او نعمت بے شماره خزانے دخپل مخلوق د پاره پټے ساتلې دي. که چرے
صرف د هغه رحمت او شفقت سره د زمکے سطحے نه بهر را اوچتې او د هغه ټول مخلوق ترې
فائده واخلي. د زمکے سطح د ميوو، ګلونو او غلے، ترکاريانو نه ډکه ده او د ونو
وخوږے چينے د زمکے د خيټے نه بهر راوځي او د زمکے زړونو د سرو
سپينو زرو او نورو قيمتي معدنياتو نه ډک دے. د الله پاک ارشاد دے: ﴿وَهُوَ الَّذِي
مَدَّ الْأَرْضَ وَجَعَلَ فِيهَا رَوَاسِيَ وَأَنْهَارًا ۖ وَمِن كُلِّ الثَّمَرَاتِ جَعَلَ فِيهَا زَوْجَيْنِ
اثْنَيْنِ ۖ يُغْشِي اللَّيْلَ النَّهَارَ ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ۝ وَفِي الْأَرْضِ
قِطَعٌ مُّتَجَاوِرَاتٌ وَجَنَّاتٌ مِّنْ أَعْنَابٍ وَزَرْعٌ وَنَخِيلٌ صِنْوَانٌ وَغَيْرُ صِنْوَانٍ يُسْقَىٰ
بِمَاءٍ وَاحِدٍ وَنُفَضِّلُ بَعْضَهَا عَلَىٰ بَعْضٍ فِي الْأُكُلِ ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ
لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ﴾ (سورة رعد ع ۱) "او الله پاک هغه ذات دے چه زمکه ئے خوره کړه او
په هغې کښې ئے غرونه او نهرونه پيدا کړل او د هر قسم ميوو نه ئے دوه دوه پيدا کړل
شپه ورځ په پورته سره پټوي. بے شکه په دے (پورته ذکر شوي څيزونو کښې) د فکر کونکو
د پاره (د توحيد) دلائل موجود دي او په زمکه کښې نزدے نزدے مختلف ټکړې دي او
د انګورو باغونه دي او پټي دي او کجورے دي چه په دې کښې څو بعض چه پورته
وخيږي نو دوه تنو والا جوړے شي او بعض دوه تنه نه وي. ټولو ته يو شان اوبه
ورکولے کيږي او په ميوو کښې مونږه يو لره په بل باندې اوچتوالے ورکوو. په دے امورو
کښې هم د پوهانو د پاره د توحيد دلائل موجود دي". د دې نه علاوه په نورو کښې
هم د هغه د عام رحمت آثار ښکاره دي. مثال په طور باندې د سمندر سطح د جهازونو او
کشتو د نقل وحرکت او تللو راتللو د پاره د يو اعلیٰ سړک کار ورکوي او د دے زور والے

دلعلونو اونورو قیمتي خیزونو نه ډک دے. دغه شان دریابونو او سمندرونو نه د مهیانو تازه په تازه غوښه حاصلیږي کومه چه انسان د پاره بهترینه غذا ده: هُوَ الَّذِیْ سَخَّرَ الْبَحْرَ لِتَاْکُلُوْا مِنْهُ لَحْمًا طَرِیًّا وَّ تَسْتَخْرِجُوْا مِنْهُ حِلْیَةً تَلْبَسُوْنَهَا وَ تَرَی الْفُلْکَ مَوَاخِرَ فِیْهِ وَ لِتَبْتَغُوْا مِنْ فَضْلِهٖ وَ لَعَلَّکُمْ تَشْکُرُوْنَ ۝ (نحل ع ۲) "او الله هغه ذات دے چه تاسو د پاره ئے دریابونه هم تابع کړل د پاره د دے چه تاسو ترینه تازه په تازه غوښه اوخورئ او دلعلونو کالے ترینه اوباسئ چه هغه تاسو اغوندئ او تاسو کشتو لره ګورئ چه دریابونو لره څیرې کوي او ګرځي وي د پاره د دے چه تاسو د الله پاک پیدا شوے رزق تلاش کړئ او شکر ادا کړئ." د دے ایتونو د مطالعے نه دا معلومیږي چه څرګنګه الله پاک د دے جهان ذره ذره پیدا کړے ده او د عالم پوره نظام لره ئے د خپل ربوبیت لاندے ساتلے دے او د هغه د ربوبیت نظام د هغه د رحمت او شفقت لاندے چلیږي. د عالم د پوره نظام یوه ذره هم یو ساعت د پاره د هغه د رحمت نه بے پرواه کیدے نشي، الله پاک چه څرنګه ورځے او د لوړ نه دے د اتمام نعمتونه د عالم جسماني د پرورش د پاره پیدا کړي دي نو دغه شان د الله پاک بے انتهاء رحمت د عالم روحاني د پرورش د پاره هم انتظام اوکړلو او په دنیا کښې د انبیاء کرامو د اسماني کتابونو په ذریعه د روحاني غذا بند وبست اوفرمائيلو په دے وجه الله پاک د اخري پیغمبر حضرت محمد ﷺ بعثت او د خپل اخري پیغام قرآن مجید تعلیم په خصوصیت سره د خپل رحمت سره متعلق کړے دے. چنانچه ارشاد دے: وَمَاۤ اَرْسَلْنٰکَ اِلَّا رَحْمَةً لِّلْعٰلَمِیْنَ ۝ (انبیاء ع ۷) رَحْمَةً د اَرْسَلْنٰکَ مفعول لهٗ دے. یعني نه مونږ ته دے د پاره اولیږلے چه په پوره مخلوق باندې رحم اوکړو. یا رَحْمَةً مصدر دے بمعني صیغه صفت د اَرْسَلْنَا د فاعل یا کَ ضمیر د مفعول یا د دواړو نه حال واقع دے. مطلب ئے ښکاره دے. بل ځائے کښې ارشاد دے: اَلرَّحْمٰنُ عَلَّمَ الْقُرْاٰنَ ۝ خَلَقَ الْاِنْسَانَ عَلَّمَهُ الْبَیَانَ ۝ (الرحمن ع ۱) "رحمن د قران تعلیم ورکړو، هغه انسان پیدا کړو، بیا ئے ورته د خبرو چل اوښودلو." د هغه ربوبیت او رحمت څومره اندازه کښې حاوي دے چه یو طرفته ئے د روح او د جسد تعلق باقي ساتلو د پاره بے شماره مادي غذاګانے مهیا کړے او بل طرفته ئے د روح د پرورش د پاره روحاني غذا تیاره کړله. فَتَبٰرَکَ اللّٰهُ اَحْسَنُ الْخٰلِقِیْنَ.

ـــه مٰلِكِ یَوْمِ الدِّیْنِ ۝ لفظ دِین په قران مجید کښې څو معنو د پاره استعمال شوے دے بعض ځایونو کښې پوره شریعت ته دین ویلے شوے دے مثلاً ارشاد دے: وَمَنْ یَّبْتَغِ غَیْرَ الْاِسْلَامِ دِیْنًا فَلَنْ یُّقْبَلَ مِنْهُ (آل عمران ع ۹) "یعني چا چه د اسلام نه ماسوا بل دین خوښ کړو، نو دا به د ده نه هرګز نشي قبلولے." په اکثرو ځایونو کښې اَلدِّیْن د الله پاک د توحید، د هغه د خالص عبادت او بندګۍ په معنے سره استعمال شوے دے. د سورة یوسف رکوع نمبر ۵ کښې دي حضرت یوسف علیه السلام قیدیانو ته نصیحت کولو کښې اوفرمائيل: اِنِ الْحُکْمُ اِلَّا لِلّٰهِ ؕ اَمَرَ اَلَّا تَعْبُدُوْۤا اِلَّاۤ اِیَّاهُ ؕ ذٰلِکَ الدِّیْنُ الْقَیِّمُ "حکم نشته دے مګر د الله د پاره دے، هغه دا

حکم کړے دے چه د هغه نه غیر د بل چا عبادت مه کوئ، هم دا دین محکم دے. "سورة زمر رکوع نمبر کښې فرمائی: أَلَا لِلَّهِ الدِّينُ الْخَالِصُ "خبردار هم الله دپاره دے خالص عبادت او بلنه. او په سورة مؤمن رکوع نمبر کښې فرمائی: فَادْعُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ ۝ "پس الله لره بلنې او خالص د هغه عبادت کوئ اګرچې کافرانو ته بد ورته اونه لګي." مګرچرته کښې چه لفظ د الدِّين مضاف اليه د يوم وی هلته کښې ئے بیا معنی جزاء راځی لکه مٰلِكِ يَوْمِ الدِّينِ کښې يعنې د روزِ جزاء مالك يعنې په هغه ورځ د تمامو تصرفاتو او اختیاراتو واحد مختیار او د اعمالو جزا او سزا مقررکونکے او په اعمالو باندې بنه او بدنتیجے مرتب کونکے او اختیارمند صرف هغه دے. دا ذ مذکوره دعوے الْحَمْدُ لِلَّهِ دریم دلیل دے.

دَ ورځے د جزا اهمیت

الله تعالیٰ ټول کائنات پیدا کړل او د ربوبیت د نظام لاندې ئے هر څیز لره د انسان په خدمت باندې اولګولو کوم طرفته چه نظر کوی په وچه او په لوند ه باندې د هغه د رحمت خادرونه غوړیدلی په نظر راځی. د مادی ترقئ سره سره ئے د روح د ترقئ انتظام اوفرمائیلو او د هدایت او صراطِ مستقیم ښودلو دپاره ئے کتابونه او رسولان رالیږل او په آخرکښې ئے په خپل آخری پیغمبر حضرت محمد ﷺ باندې خپل آخری کتاب قرآن مجید نازل کړو او د اسلام د نعمت تکمیل ئے اوکړو. د دے ټول نظام ربوبیت دا لازمی نتیجه ده چه داسے یوه ورځ ضرور کیدل پکار دی چه د فیصله پکښې اوشي چه چا شکر ادا کړے دے او چا ناشکری کړے ده د دے تمامو نعمتونو. او چا چه د الله تعالیٰ په لیږلے شوی هدایت باندې او د هغه په احکاماتو باندې عمل کړے دے او چا چه هدایت او د هغه احکامات پښکرا اوکړی دی داسے ورځ په دنیا کښې خو ځکه نشي کیدے چه دا د عمل کور دے. په دے وجه داسے ورځ به خامخا د دنیا په اختتام باندې وی. د هغې ورځے نوم يَوْمُ الدِّين دے او دغے ته یوم الآخر او روزِ جزاء هم وائی ځکه چه دا ورځ به د دنیا په ختمیدو باندې راځی او په دیکښې به د ښه او بد و اعمالو جزا ملاویږی. په دغه ورځ باندې به هر قسمه اختیارات صرف د الله تعالیٰ په قبضه کښې وی او هلته به مجازی طور باندې هم چا ته اقتدار او اختیار حاصل نه وی.

دَ اهلِ کتابو تصور دَ اخرت

د اهلِ کتابو علماءِ سوءو او راهبانو او پیرانو او پادریانو ته چونکه د حق پټولو او غلط بیان کولو او په انجیل او تورات کښې د لفظی او معنوی تحریفونو او بدلون کولو عادت لګیدلے وو د دے وجے نه هغوی په خپلو عوامو کښې د هر قسمه غلط عقائد خواره کړی وو. قرآن مجید کښې الله تعالیٰ ځائے په ځائے د دوی دا بد خصلتونه ظاهر کړیدی دپاره د دے چه امت محمدیه ترینه عبرت حاصل کړی. چنانچه ارشاد دے: ثُمَّ يُحَرِّفُونَهُ مِنْ بَعْدِ مَا عَقَلُوهُ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ۝ (بقره ع ۹) بیا دوی په هغې باندې د پوهیدلو نه پس هغه بدلولو حالانکه دوی ښه

بوهیدل۔ "یوځائے کښې ارشاد دے۔ يُحَرِّفُونَ الْكَلِمَ عَن مَّوَاضِعِهِ۔ " اړوی هغوی هغه کلام لره دخپل ځایونو نه۔" د اهلِ کتابو علماء او پیرانو لره نے د حق پټولو نه منع کولو کښې اُوفرمائیل يَا أَهْلَ الْكِتَابِ لِمَ تَلْبِسُونَ الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ وَتَكْتُمُونَ الْحَقَّ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ ۝ (آل عمران ع ۷) " ای ډلې د کتاب ولې ګډوډ کوئ حق د باطل سره او ولې پټوئ حق لره حالانکه تاسو پوهیږئ۔" د یهودو او نصارا و احبار او بد مذهبی مشرانو به د غیر الله نذرو نیاز او د ارنګه نورو طریقو سره حرام مال هم خوړلو۔ سَمَّاعُونَ لِلْكَذِبِ أَكَّالُونَ لِلسُّحْتِ (مائده ع ۶) "دا خلق د غلطو خبرو اوریدو عادت دی او لوئے حرام خوارهٔ دی۔"

د اهلِ کتابو پادریانو او صوفیانو د اخرت باره انتهائی غلط تصور د عوامو په ذهنونو کښې اچولے وو۔ دخپل ځان متعلق ئے خو د عوامو په ذهنونو کښې دا خبره اچولے وه چه موږ د الله تعالیٰ مقرب او محبوبان یو او د الله پاک خاص یو۔ څرنګه چه د پلار صفتونه په خامنو کښې موجود وی دغه شان د الله صفات هم په موږ کښې موجود دی۔ د دے وجے نه اخرت کښې خو به موږ ته هیڅ قسمه عذاب نه وی۔ وَقَالَتِ الْيَهُودُ وَالنَّصَارَىٰ نَحْنُ أَبْنَاءُ اللَّهِ وَأَحِبَّاؤُهُ۔ (مائده ع ۳) "یهود او نصارٰی وئیل موږ خو د الله خامن یو او د هغه محبوب یو۔" او عوامو ته هغوی دا یقین ورکړے وو چه جنت هم د دوی پښکه دے او د دوی نه علاوه بل څوک به جنت ته نه داخلیږی۔ قَالُوا لَن يَدْخُلَ الْجَنَّةَ إِلَّا مَن كَانَ هُودًا أَوْ نَصَارَىٰ (بقره ع ۱۳) "هغوی وئیل چه جنت ته به هرګز نه داخلیږی مګر هغه څوک چه یهودیان وی یا نصارٰی۔" او عوامو ته ئے دا یقین هم ورکړے وو چه که موږ ته عذاب ملاویږی هم نو څو ورځے به وی او همیشه د پاره به موږ په عذاب کښې نه یو۔ قَالُوا لَن تَمَسَّنَا النَّارُ إِلَّا أَيَّامًا مَّعْدُودَةً (بقره ع ۹) هغوی اُووئیل چه موږ ته به صرف یو څو ورځے عذاب ملاویږی۔ د اهلِ کتابو دا هم عقیده وه چه حضرت عزیر علیه السلام و حضرت عیسیٰ علیه السلام او د هغوی پیران او پادریان حاجت روا او مشکل کشا او غالب سفارش کوونکی دی او د قیامت په ورځ به دوی موږه د عذاب نه بچ کوی۔ اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِّن دُونِ اللَّهِ وَالْمَسِيحَ ابْنَ مَرْيَمَ (توبه ع ۵) " هغوی خپلو پیرانو او پادریانو او مسیح ابن مریم لره د الله نه ماسوا خدایان جوړ کړی وو۔" په سورهٔ فاتحه کښې چه څرنګه د نورو باطلو عقیدو تردید اُوکړے شو دغه شان په مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ کښې د اهلِ کتابو د اخرت متعلق د غلط تصور تردید هم اُوکړے شو چه د قیامت په ورځ به مالک صرف الله تعالیٰ وی او هم د هغه په لاس کښې به ټول حساب کتاب او عذاب او ثواب وی او کوم چه تاسو معبودان ګنړئ او هغوی لره مالک او مختار او غالب سفارشیان منئ او د چا باره کښې چه ستاسو عقیده ده چه د قیامت په ورځ به هغوی تاسو د عذاب الٰهی نه بچ کړی نو د قیامت په ورځ به د هغوی هیڅ زور نه چلیږی او نه هغوی ته څه قسمه تصرف او اختیار حاصل وی او نه به هغوی خپله خبره منوَلے شی۔ حکم تصرف صرف هغه څوک کولے شی کوم چه مالک او مختار وی او د قیامت په ورځ مالک صرف الله تعالیٰ دے او د ټولو نیکو او بدو اعمالو پیژندلو والا صرف هم هغه دے

په دے وجه صرف هم هغه د مخلوقو د اعمالو د جزاء او سزا مالک دے، هغه چه څنګه او غواړی او څرنګه اوغواړی کولے شی، د هغه نه ماسوا د چا دا قدرت نشته چه د اعمالو حساب واخلی او د هر چا د حالت موافق او د هغه د نیک او بد نیت او عمل موافق جزا او سزا ورکړی.

د یهودو او نصاراو د دے غلط تصور د اخرت په قران مجید کښې تفصیلاً رد هم کړے شوے دے. په دے وجه د اهلِ کتابو د دے باطلے عقیدے په رد کښې چه مونږ د الله محبوبین یو او مونږ ته به عذاب نه وی، الله پاک فرمائی. لَیْسَ بِاَمَانِیِّکُمْ وَلَآ اَمَانِیِّ اَهْلِ الْکِتٰبِ مَنْ یَّعْمَلْ سُوْٓءًا یُّجْزَ بِهٖ وَلَا یَجِدْ لَهٗ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلِیًّا وَّلَا نَصِیْرًا ه (نساء ع ۱۸) " یعنی نجات نه خو ستاسو په خواهشاتو بانڈے موقوف دے او نه د اهلِ کتابو په ارزوګانو بانڈے (بلکه د مالک الملک قانون دا دے چه) څوک هم بدی اوکړی هغه به ضرور د هغے بدله ملاویږی او بیا به هلته کښې د الله تعالیٰ نه ماسوا کارساز او مددګار او نه مومی. او بل ځائے کښې فرمائی، بَلٰی مَنْ کَسَبَ سَیِّئَةً وَّ اَحَاطَتْ بِهٖ خَطِیْٓئَتُهٗ فَاُولٰٓئِکَ اَصْحٰبُ النَّارِ هُمْ فِیْهَا خٰلِدُوْنَ ه وَ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اُولٰٓئِکَ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ هُمْ فِیْهَا خٰلِدُوْنَ ه " چا چه کسب د ګناه اوکړو او د دے خپلو ګناهونو راګیر کړو، دغه خلق دوزخیان دی او په جهنم کښې به همیشه دپاره اوسیږی، او کومو خلقو چه ایمان راوړو او نیک عمل ئے اوکړو، دا خلق جنتیان دی او په جنت کښې به همیشه دپاره وی." په دے ایت کښې د لفظ کسب نه دے طرفته اشاره ده چه نجات او عذاب او ثواب او عقاب د عمل سره تعلق لری. دا به نه وی چه اعمال د بنده وی او په شرک کښې د آخته وی لیکن د یو پیغمبر یا ولی یا بزرګ سفارش او مدد سره به نجات ملاؤ شی بلکه هلته به په دے اصولو بانڈے عمل کیږی چه څنګه کړے هغه به ریبے. په مٰلِکِ یَوْمِ الدِّیْنِ کښې د لفظ مالک نه دے طرفته اشاره ده چه اګرچه د الله تعالیٰ فعل او د اعمالو جزاء او سزا عدل او انصاف سره عین موافق ده لیکن بیا هم الله پاک مجبوره نه دے بلکه هغه مالک دے او په خپل ملک کښې چه څرنګه غواړی تصرف کوی، د هغه په وړاندے د هیچا د چون چرا ګنجائش نشته دے.

د دُنیا او د اخرت مالک او مختار

په دُنیا او اخرت کښې مالک او مختار صرف الله تعالیٰ دے: لَا یُسْئَلُ عَمَّا یَفْعَلُ وَهُمْ یُسْئَلُوْنَ ه (انبیاء ع ۲) " هغه چه څه کوی سوال ترینه نشی کیدے او د ماسوا نه سوال کولے شی. په دُنیا کښې اګرچه د الله نه ماسوا د مالک او مختار کیدلو دیر دعوی کونکی چوړ شول او مشرکینو هم خپل معبودان مالک او مختار ګڼړل مګر په اخرت کښې به مشرکینو ته معلومه شی چه دوی په غلطه وو، په حقیقت کښې د الله تعالیٰ نه ماسوا هیڅوک مالک او مختار نه وو. د فرعون او نمرود پشان سرکش حکمرانانو ته به هم دا معلومه شی چه په ورځ د قیامت چه د دوی ټولے دعوے غلطے وے او دوی بالکل بے وسه او بے یار و مددګار دی. د دوی په اختیار کښې هیڅ هم

قدرت کښې دی

نشته، او تمام معاملات صرف دَ الله پاك په قدرت [illegible] (الانفطار ع ۱) په دغه ورځ به هيڅ نفس هم دَ بل نفس دپاره هيڅ [illegible] دَ الله پاك وي. دغه شان په قرآن مجيد کښې نور [illegible] او شکر به صرف دَ الله پاك [illegible] چه په دنيا او آخرت کښې مالك او مختار [illegible] د هغه نه دا معلوميږي چه [illegible]

هم [illegible] په سورة فاتحه کښې دا آيت مرکزي حيثيت لري

صرف الله تعالیٰ دے [illegible] إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ ۝ په سورة فاتحه کښې ... مفعول بانې مخکښې کړے شوے دے چه د حصر فائده

په إِيَّاكَ نَعْبُدُ کښې إِيَّاكَ مفعول په نَعْبُدُ فعل بانې مخکښې کړے شوے او د هغه نه ماسوا دچا پيغمبر، ولي [illegible] او مطلب دا چه صرف دَ الله پاك عبادت پکار دے ځکه چه دوی ټول هم دَ الله تعالیٰ فرښتے يا ولي عبادت او نه د هغه نه غوښتنه پکار ده

په حکم بانې هم د هغه عبادت کوي۔

دغه شان په إِيَّاكَ نَسْتَعِينُ کښې دَ حصر د فائدے په خاطر بانې إِيَّاكَ مفعول مقدم شوے دے او مطلب دا چه مدد صرف دَ الله پاك نه غوښتل پکار دي د هغه نه ماسوا دچا پيغمبر، ولي، فرښتے نه ما فوق الاسباب أمورو کښې مدد د نه دی غوښتل پکار۔ امام ابن کثيرؒ د بعض بزرگانو نه نقل کوي چه د ټول قرآن مجيد مرکزي حصه سورة الفاتحه ده او د سورة الفاتحه مرکزي حصه إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ ده۔ هغه ليکي: الفاتحة سر القرآن وسرها هذه الكلمة "إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ" (ابن کثير ص ۲۵ ج ۱)

دَ عبادت مفهوم

دَ عبادت په مفهوم کښې دوه څيزونه داخل دی. يو انتهائي تذلل يعني انتهائي عاجزي او ذلت او دويم انتهائي تعظيم لیکن دے اعتقاد او شعور سره چه معبود ته غائبانه تصرف او قدرت حاصل دے چه په دے سره هغه په نفع او نقصان بانې قادر دے ځکه چه معبود صرف هغه شوك جوړيدے شي چه دوه صفتونه پکښې موجود وي: (۱) چه عالم وي په غيبو بانې، د کائناتو ذره ذره هغه ته ښکاره وي او د زمکے او آسمان تمام ظاهر او باطن، پټ او ښکاره ورته معلوم وي. (۲) بل دا چه مالك او مختار متصرف في الامور او د اقتدار اعلیٰ مالك وي. قرآن مجيد کښې چرته هم چه الله تعالیٰ خپل ځان دپاره د عبادت او بلنے د استحقاق ذکر کړے دے نو هلته ئے هم خپل دغه دوه صفتونه علت کرځولي دي او چرته چه د غير الله دَ عبادت او بلنے نفي کړے شوے ده نو هلته ئے د هغوی نه هم د دغه دوه صفتونو نفي فرمائيلے ده او چرته صرف د يو صفت نفي شوے ده. يو ځائے کښې ارشاد دے:

وَرَبُّكَ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ وَيَخْتَارُ ؕ مَا كَانَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ ؕ سُبْحٰنَ اللّٰهِ وَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ۝ وَرَبُّكَ يَعْلَمُ مَا تُكِنُّ صُدُوْرُهُمْ وَمَا

او ستا رب چه څه غواړي پيدا کوي او خوښوي، د مخلوقونو هيڅ اختيار حاصل نه دے، الله پاك د دوی د شرك نه پاك دے او عالي دے او ستا رب پوهه دے په هغه څه کوم چه د دوی په زړونو

يَعْمَلُوْنَ ○ وَهُوَ اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ لَهُ الْحَمْدُ فِي الْاُوْلٰى وَالْاٰخِرَةِ وَلَهُ الْحُكْمُ وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ○ (قصص ع ۷)

کښې پټه دی او هغه چه دوی ظاهروی، هم هغه الله دے، د هغه نه ماسوا هیڅوک د معبود کیدو لائق نشته او په دُنیا او آخرت کښې د ثنا ستائنے کارسازی د صفاتو مالک صرف هغه دے او هم د هغه حکومت دے او هغه طرفته به واپس کیږئ۔" بل ځائے ارشاد دے:

لَهُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا وَمَا تَحْتَ الثَّرٰى ○ وَاِنْ تَجْهَرْ بِالْقَوْلِ فَاِنَّهُ يَعْلَمُ السِّرَّ وَاَخْفٰى ○ اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ لَهُ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى ○ (طٰهٰ ع ۱)

هم د هغه په ملکیت کښې دی څۀ چه په اسمانونو کښې دی او څۀ چه په زمکه کښې دی او کوم څۀ چه د اسمانونو او زمکے په مینځ کښې دی او هغه چه په تحت الثرٰی کښې دی۔ او که تاسو په زوره یا نن خبره کوئ نو هغه پټه خبره او د دے نه هم پټه خبره باندې پوهیږی۔ الله هغه ذات دے چه د هغه نه ماسوا هیڅوک معبود نشته او د هغه ښکلی ښکلی نومونه دی۔"

بل ځائے کښې ارشاد دے:

وَلِلّٰهِ غَيْبُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَاِلَيْهِ يُرْجَعُ الْاَمْرُ كُلُّهٗ فَاعْبُدْهُ وَتَوَكَّلْ عَلَيْهِ ؕ وَمَا رَبُّكَ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ○ (هود ع ۱۰)

او په اسمانونو او زمکه کښې چه څومره د غیب خبرے دی، ټولے الله پاک ته معلومے دی او ټول امور به هغه طرفته واپس کیږی۔ پس تاسو هم د هغه عبادت کوئ او هغه باندې توکل کوئ۔ او تاسو چه کوم کارونه کوئ، ستاسو پروردګار د هغے نه بے خبره نۀ دے۔"

د دے نه علاوه په آیۃ الکرسی او نورو آیتونو کښې دا مضمون په ښۀ وضاحت سره بیان کړے شوے دے۔ په دے ټولو آیتونو کښې الله تعالیٰ اول د خپل د دے صفتونو ذکر کړے دے چه هغه متصرف او مختار دے، په زمکه او اسمانونو کښې چه څۀ دی، د هغه په قبضه کښې دی د زمکے او اسمان د تمام مخلوق ټول معاملات او د کارخانۀ عالم ټول بیړا او د عالم پوره نظام د هغه د حکومت لاندې دی او د زمکے او اسمان تمام غیبو باندې صرف هغه خبردار دے۔ او په دے وارو ځایونو کښې ئے د دے دوارو صفتونو ذکر کولو نه پس اُو فرمائیل چه هر کله عالم الغیب، متصرف او مختار الله تعالیٰ دے نو د عبادت لائق او بلنے حقدار هم صرف الله تعالیٰ دے۔ د کارسازئ ټول صفات صرف هغه سره خاص دی۔ لهٰذا تاسو د هغه عبادت کوئ، د هغه وړاندې سر ټیټوئ، چه څۀ غواړئ نو د هغه نه غواړئ۔ یو ځائے کښې الله تعالیٰ مشرکانو ته د اخطاب په هغه وخت کښې ښکاره طور باندې د هغوی د رویئے انکار کولو سره فرمائیلے دے چه تاسو خو داسے بے وسه او ضعیفو معبودانو له بلنۀ کوئ چه ستاسو د نفعے او نقصان اختیار نۀ لری، نۀ ورته ستاسو حالات معلوم دی او نۀ ستاسو بلنه اوری او نه قادر او خبردار خُدا اسے پریږدئ کوم چه هر څۀ اوری او پیژنی او ستاسو د نفعے او نقصان پوره اختیار لری، قُلْ اَتَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَّلَا نَفْعًا ؕ وَاللّٰهُ هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ○ (مائده ـ ع ۱۰) "آیا تاسو د الله تعالیٰ نه ماسوا د هغه چا

عبادت کوئ او هغه خولك را بلني کوم چه نه تاسو ته د نقصان رسولو اختیار لري او نه د نفع د رسولو حالانکه الله تعالیٰ د هرڅه اورېدونکے او وربانڼ پوهه دے.

د دے بیان نه دا واضحه شوه چه هر قول او فعل، دُعا او بَلنه، ثناء او تعظیم، رکوع او سجده، قیام او قعود وغیره چه دی اعتقاد او شعور سره وی چه معبود لره په مافوق الاسباب تماموم معاملاتو زمونږ په بانڼ غیبي قبضه او اختیار حاصل دے او هغه هرڅه اوری او پیژنی نو دا عبادت دے - علامه ابن قیمؒ د عبادت تعریف په یو جامع عبادت سره دا سے فرمائیلے دے: العبادة عبارة عن الاعتقاد والشعور بان للمعبود سلطة غیبیة یقدر بها علی النفع والضر فکل ثناء و دعاء وتعظیم یصاحبه هذا الاعتقاد والشعور فهي عبادة - (مدارج السالکین ص ۳۰ ج ۱) یعني عبادت د دے اعتقاد او شعور نوم دے چه معبود لره غیبي قبضه حاصله ده د کوم په وجه چه هغه په نفع او نقصان بانڼ قدرت لري - د دے وجے نه هر هغه تعریف او بلنه او تعظیم کوم چه مذکوره اعتقاد سره وی نو هغه عبادت دے.

دَ یو بے شُبهے جواب

د بورتنی تقریر نه د دے شُبهے جواب هم اوشو چه تعظیم او تکریم او عزت خو د الله تعالیٰ نه د ماسوا هم کیږی د الله د پیغمبر رسول الله ﷺ عزت خو په ټول اُمت فرض دے - د اُستاد او پیر، آدب او احترام هم لازم دے او د والدینو تعظیم او احترام هم یو ضروري خبره ده - لهٰذا که چرے د تعظیم او تکریم او د عاجزئ نوم عبادت وی نو بیا خو په دا هم عبادت وی حالانکه عبادت صرف حق د الله پاك دے - د الله پاك نه ماسوا د بل چا عبادت جائز نه دے - نو د دے جواب دا دے چه صرف هغه تعظیم عبادت دے چه په هغے کښ معبود لره مافوق الاسباب غیبي طور بانڼ متصرف، مختار او عالم الغیب اُوګنړلے شي او که چرته معظم او محترمه هستي په دغه صفاتو سره متصف اُونه ګنړلے شي نو دا تعظیم په عبادت کښ داخل نه دے د دے د پاره دا سے تعظیم د غیر الله هم جائز دے - د دے اجمال تفصیل دا دے چه د تعظیم دوه قسمونه دی - یو هغه چه د الله تعالیٰ د ذات سره خاص دے او دویم هغه چه د الله تعالیٰ نه ماسوا د بل هم جائز دے.

دَ تعظیم اول قسم

د روښنو ایتونو نه په وضاحت سره دا خبره ذکر شوه چه د معبودیت دوه شرطونه دی - یو متصرف او مختار او د کامل قدرت مالك کیدل - دویم د زمکے او اسمان د تمامو ښکاره او پټو خبرو عالم کیدل - د علامه ابن قیمؒ کوم عبارت چه وړاندې نقل شوے دے - د هغے حاصل دا دے چه معبود معرف هغه جوړیدے شي چا لره چه د علم او تصرف په اعتبار سره ټول مخلوق بانڼ غیبي قبضه حاصله وی د کوم په وجه چه هغه په نفع او نقصان رسولو بانڼ قدرت لري - لهٰذا د تعظیم هر هغه طریقه خواه حمد وی او که ثناء وی یا دُعا او بَلنه وی، رکوع دی او که سجده وی یا نور څه چه وی، اعتقاد او شعور سره وی چه معظم او محترمه هستي د ما فوق الاسباب اختیار او

تصرف مالک دے. او عالم الغیب دے نو داسے تعظیم به عبادت وی او دا ذات باری تعالیٰ سره
مخصوص دے. لهذا چه هرکله دا اعتقاد وی چه فلانی ته په ما باندې وظاهری اسبابو نه
ماسوا ما فوق الاسباب غیبی قبضه حاصل ده او هغه غائبانه طور باندې ما ته نفع او نقصان
رارسولے شی. دے اعتقاد سره چه کوم څه تعظیم د لاس او ښپو نه صادر شی یا ژبے سره
ثناء او وئیلے وی نو دا به د هغه عبادت وی. که چرے دا اعتقاد الله پاک سره متعلق وی
نو د دے لاندے کړے شوی تمام افعال د تعظیم د الله به عبادت کښ داخلیږی او که چرے
الله مکره دا پورته اعتقاد غیر الله سره وابسته شی مثلاً فرښته، پیرے، پیغمبر، ولی ژوندے یا
مړ، نو د دے اعتقاد لاندے سجده، رکوع، بلله، نذر و نیاز، سرټیټول، د التحیات په شکل
کښ ناسته، په قبر باندې غادر یا کلونه غوړول وغیره تعظیمی افعال به د هغوی عبادت وی
او دا به شرک وی. الله تعالیٰ چه چرته هم د خالص عبادت حکم ورکړے دے او د شرک نه
ئے منع فرمائیلے ده هلته همدا اضداد وی چه پورته ذکر شوی اعتقاد او شعور سره تمام
تعظیمی افعال او اقوال (رکوع، سجده، دعا، نذر و نیاز وغیره) صرف الله د پاره اوکړی. په
سورة زمر رکوع نمبر کښ ارشاد دے، فَاعْبُدِ اللّٰهَ مُخْلِصًا لَّهُ الدِّیْنَ. پس ته خالص اعتقاد
سره د الله تعالیٰ عبادت کوه.

د دے مقصد دا دے چه غیبی تسلط او ما فوق الاسباب اقتدار اعلیٰ اعتقاد سره هر قسمه
تعظیم صرف د الله تعالیٰ کوئ، نه د یو پیغمبر، فرښتے یا ولی. او د سورة زمر په رکوع نمبر ۲
کښ ارشاد دے، قُلْ اِنِّیْۤ اُمِرْتُ اَنْ اَعْبُدَ اللّٰهَ مُخْلِصًا لَّهُ الدِّیْنَ. او د یو ایت نه پس
فرمائی: قُلِ اللّٰهَ اَعْبُدُ مُخْلِصًا لَّهٗ دِیْنِیْ فَاعْبُدُوْا مَا شِئْتُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ. مطلب دا دے
چه اے پیغمبره! ته دوی ته اووایه چه ما ته خو دا حکم راکړے شوے دے چه څنګه د
غائبانه تسلط او ما فوق الاسباب تصرف او قدرت لاندے تمام تعظیمی افعال او اعمال
صرف د هغه الله د پاره اوکړم او اے مشرکانو! تاسو مذکوره اعتقاد سره دا تعظیمی افعال
چه د الله نه ماسوا چا د پاره کوئ نو کوئ یے، که ابراهیم او اسماعیل د پاره وی او
که هاهیل (هبل) د پاره او که لات یا نورو بزرګانو د پاره وی لیکن زه به هیچرے داسے
اونکړم. کوم خلق چه پورته ذکر شوے تعظیم صرف الله د پاره کوی او د غیر الله د داسے
تعظیم نه ځان ساتی، د جنت او د آخرت خوشخبری هم د داسے خلقو د پاره ده. حاصل
دا چه غیبی تسلط او ما فوق الاسباب تصرف او قدرت د اعتقاد لاندے چه کوم افعال
د تعظیم اوکړے شی نو دا به عبادت کښ داخل وی او داسے تعظیم الله پاک سره خاص دے
او د الله پاک نه ماسوا چا پیغمبر، ولی، پیر او مرشد، مور او پلار، او حاکم وخت د پاره جائز
نه دے

د تعظیم دویم قسم

د تعظیم دویم قسم دا دے چه د غیبی قبضے او ما فوق الاسباب
او تصرف لرلو د اعتقاد نه بغیر د پیغمبر علیه السلام او د خپل
استاد، پیر او مرشد او د نورو مخلوق تعظیم او اکرام کول، د هغوی تابعداری کول، د هغوی

په ؤرانې د اَلتحیات په شکل کښ استعل ، د هغوی لاسونه ښکلول : د هغوی په خدمت کښ تحفې تحائف لیږل او هدیه ورته پیش کول وغیره د تعظیم چونکه په عبادت کښ داخل نه دے په دے وجه د دَ الله پاک نه ماسوا هستو د پاره جائز دے ځکه چه په دے کښ هغه اعتقاد موجود نه دے کوم چه د عبادت رُوح دے - د دینه دا معلومه شوه چه په عبادت او نه عبادت کښ فرق کونکے او جُدائی راوستونکے نیت او اعتقاد دے لیکن د اخبره پکار ده چه د تعظیم بعض صورتونه داسے وی چه کوم صرف الله تعالیٰ سره مخصوص دی ، هغه په هیڅ یو نیت سره غیر الله د پاره جائز نه دی مثلاً سجده کول د الله د کور نه غیر ته طواف کول ، قسم پرے کول او ند رونیاز ئے ورکول - دا اُمور داسے دی چه په هرحال کښ صرف الله د پاره جائز دی ، غیر الله د پاره بیخی جائز نه دی . که چرے د ا کارونه د الله تعالیٰ نه ماسوا دَ وُرانې ذکرشوی غیبی تسلط او مافوق الاسباب اُمورو باندې د اختیار لرلو عقیدے سره د بل چا د پاره اوشی نو دا بنکاره شرک دے او که د دے عقیدے سره نه وی نو شرک خو نه دے لیکن بیا هم حرام دے - حاصل دا چه د تعظیم هغه صورتونه کوم چه الله تعالیٰ سره خاص نه دی هغه که د الله نه ماسوا پورته ذکرشوی اعتقاد سره د غیر الله د پاره نه وی نو دا په عبادت کښ نه شماریږی - په دے وجه د ا تعظیم جائز دے -

استعانت

وَاِیَّاکَ نَسْتَعِیْنُ ۝ دلته هم مفعول په فعل باندې د دے وجے نه ؤرانې کړے شوے دے چه د حصر فائده ورکوی . مطلب دا چه څرنګه عبادت صرف د الله تعالیٰ کول پکار دی د غه شان استعانت (امداد غوښتل) هم صرف هم د هغه نه پکار دے ، نه د بل چا نه - استعانت (یعنی حاجتونو او مشکلاتو کښ بلنه او مد د غوښتل) د عبادت د ټولو نه لوئے او اهم شاخ دے . نو ځکه د عبادت نه پس ئے په خصوصیت سره د دے ذکر اوفرمائیلو . هر انسان چه د کوم معبود عبادت کوی ، د دُنیاوی ژوند په اعتبار سره د دهٔ د عبادت مفهوم هم دا وی چه د دهٔ تمام حاجتونه د پوره شی او تمام مشکلات د دهٔ آسان شی . په دے وجه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه دُعا د عبادت مغز دے : اَلدُّعَاءُ مُخُّ الْعِبَادَةِ - او بل روایت کښ دی : اَلدُّعَاءُ هُوَ الْعِبَادَةُ (تفسیر ابن جریر ج ۲۴ ص ۴۷ ، ابو داؤد ج ۱ ص ۲۸ ، ترمذی ج ۱ ص ۱۷۳) یعنی بلل هم اصل عبادت دے - قرآن مجید کښ هم لفظ د عبادت د دُعا او بللو په معنیٰ سره راغلے دے :

وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُوْنِیْٓ اَسْتَجِبْ لَكُمْ ؕ اِنَّ الَّذِیْنَ یَسْتَكْبِرُوْنَ عَنْ عِبَادَتِیْ سَیَدْخُلُوْنَ جَهَنَّمَ دٰخِرِیْنَ ۝ (مؤمن - ع ۶)

او ستا پروردګار فرمائیلی دی چه ما رابلئ ، ځه به ستاسو درخواست قبلومه . کوم خلق چه صرف زما د عبادت نه اعراض کوی ، زر ده چه هغه به مرګیدلو سره ذلیله دوزخ ته داخلیږی -

دے ایت کښ اول الله پاک د خپلو بللو حکم کړے دے . بیا بللو له ئے د عبادت په لفظ سره تعبیر فرمائیلے دے لکه نبی کریم ﷺ د دے ایت په تفسیر کښ فرمائی چه د

عِبَادَتِیْ نه مُراد دُعَائِیْ دے یعنی په دے آیت کښې دَعبادت نه مُراد دُعا او بلنه ده (تفسیر ابن جریر ج ۲۴ ص ۴۷ و ابن کثیر ج ۴ ص ۸۵) د سُورة زُمر او سورة حوامیم مرکزی مقصد دَ فَادْعُوْهُ مُخْلِصِیْنَ لَهُ الدِّیْنَ ○ (مومن ع ۷) او په سُورة فاتحه کښې دے دَعوے لره په لفظ د اِیَّاكَ نَعْبُدُ وَاِیَّاكَ نَسْتَعِیْنُ سره ذکر شوه. دغه طریقے سره د قرآن مجید مرکزی مضمون په حوامیم کښې او د حوامیم خلاصه سورة الفاتحه کښې او د فاتحه خلاصه په اِیَّاكَ نَعْبُدُ وَ اِیَّاكَ نَسْتَعِیْنُ کښې ده۔

یَو لا شُبهه

موننږ هروخت دا مُشاهده کوو چه یو انسان د بل انسان نه مدد غواړی او هغه خپل مدد د پاره رابللی او دَمدد درخواست ورته کوی۔ یو بل سره دَمدد دا سلسله دومره وسیع او فراخه ده او ضروری ده چه د دینه بغیر دَ دُنیا دا نظام یَو منټ هم نشی چلید ے او یو بل سره دَ امداد ثبوت پخپله قرآن مجید کښې هم ذکر دے۔ حضرت عیسیٰ علیه السلام چه کله دَیهودیانو په شرارت باندے پوهه شو چه دوی په کُفر باندے په ضد شوی دی نو اعلان ئے اوکړو: مَنْ اَنْصَارِیْٓ اِلَی اللّٰهِ ؕ قَالَ الْحَوَارِیُّوْنَ نَحْنُ اَنْصَارُ اللّٰهِ (آل عمران ع ۵) "دَ الله په طرف ما مددګاران به څوك وی؟ نو حواریینو اُووے چه موننږ یو دَ الله تعالیٰ دَدین مددګار." دغه شان ذوالقرنین هم دَیَو قوم نه دَمَدد درخواست کړے وُو. په سورة کهف رکوع نمبر۱۱ کښې دی: فَاَعِیْنُوْنِیْ بِقُوَّةٍ۔ یعنی تاسو خلق دَمځو په طاقت ما سره امداد اُوکړئ.

دے نه علاوه الله پاك تمام انسانانو ته یو بل سره دَامداد دکولو حُکم کړے دے چنانچه ارشاد دے: وَتَعَاوَنُوْا عَلَی الْبِرِّ وَالتَّقْوٰی (مائده ع ۱) "او دنیکئ او دَ الله تعالیٰ نه دَ ویرے په کارونو کښې یو بل سره امداد کوئ." نو د دے نه دا معلومه شوه چه دَغیر الله نه مَدد غوښتل جائزدی. د دې صبا اَهلِ بدعت هم دا سے رقسمه خبرے دعوامو په مخکښې پیش کوی او هغوی له دهوکه ورکوی او وائی چه ګوره جناب! الله تعالیٰ دیو بل نه دَمدد غوښتلو حُکم کړے دے۔ حضرت عیسیٰ علیه السلام هم دخپلو تابعدارانو نه مدد غوښتے وُو. لهٰذا د الله پاك دَوَلیانو نه هم مدد غوښتل جائزدی.

دَدے جواب

دَ اَهلِ بدعت دَقول نه دا معلومه شوه چه عوام النّاس دَ انبیاء کرامو ع او اَولیاء کرامو حاجت روا او مُشکل کُشا دی ځکه چه حضرت عیسیٰ علیه السلام دَخپلو تابعدارو نه مدد غوښتلے وُو او ذُوالقرنین دخپل قوم نه. دا اَهلِ بدعت هم په عجیبه کشمکش کښې ګرفتاردی. یو طرفته دا دعوٰی کوی چه نبیان او وَلیان حاجت روا او مُشکل کُشا دی او بل طرفته عوام النّاس دَنبیانو او ولیانو حاجت روا او مُشکل کُشا ګنړی. مَعَاذَ اللهِ رَبِّیْ۔

دا خو الزامی جواب دے، تحقیقی جواب دا دے چه په اِیَّاكَ نَسْتَعِیْنُ کښې کوم استعانت او امداد الله تعالیٰ سره خاص کړے شوے دے هغه جُدا دے او کوم طلب او استعانت او امداد چه یو انسان د بل انسان نه کوی په هغه وزانه ژوند کښې یا انبیانو دَخپلو

تا بعد ارو نه کړے دے هغه جُدا دے۔ دو دے تفصیل لاندې دے۔

د اِستعانت دوه قسمونه

د استعانت (مدد غوښتلو) دوه قسمونه دی. یو استعانت د اسبابو لاندې یعنی د ظاهری اسبابو لاندې چا نه مدد اوغوښتلے شی۔ دا هغه امداد دے چه کوم تمام انسانانو ته په روزانه ژوند کښې د یو بل نه حاصلیږی۔ حضرت عیسیٰ علیه السلام چه د حواریینو نه کوم امداد غوښتلے وو هغه هم د اسبابو لاندې وو۔ کله چه هغوی دا محسوسه کړه چه یهودیان ما وژنی نو حواریانو ته ئے دا اُووئیل چه په تاسو کښې څوک دا سے شته چه د الله د دین په خاطر ما امداد اوکړی۔ حواریانو اُووے چه مونږه یُو د الله د دین مدد ګار. دا ټوله معامله د اسبابو لاندې وه۔ حواریان د حضرت عیسیٰ علیه السلام سره حاضر ناست وو، غائب نه وو. مخامخ په مخامخ ئے حواریانو نه دعا دیه اسبابو لاندې مدد طلب کړے وو. د غه شان ذوالقرنین هم د یاجوج ماجوج منع کولو د پاره د دیوال جوړولو وخت کښې د خلقو نه امداد طلب کړے وو او خلقو ته ئے وئیلی وو: اَعِیْنُوْنِیْ بِقُوَّۃٍ چه تاسو خلق د مټو په طاقت ما سره امداد اوکړئ. دا مدد هم د ظاهری اسبابو لاندې وو. نه خو حضرت عیسیٰ علیه السلام حواریانو لره غائبانه بللی وو او نه ئے د هغوی نه ما فوق الاسباب امداد طلب کړے وو او نه ذوالقرنین دا سے کړی وو. څرنګه چه د ظاهری اسبابو لاندې مدد او امداد کول جائز دی د غه شان د دے اسبابو لاندې بلل هم جائز دی یعنی کوم سړے چه مخامخ موجود وی هغه لره اوبلی او د یو دا سے کار ورته وائی کوم چه د عادی اسبابو لاندې د هغه په قدرت کښې وی، مثلاً هغه ورته اُووائی چه په ما اوبه اوڅکوه یا د بازار نه سودا وغیره راوړه. قران مجید کښې دی چه کله د وخت ناسازئ په وجه څه صحابه کرامؓ د نبی علیه السلام نه جُدا شول نو نبی علیه السلام دوی واپس راوُغوښتل۔ وَّالرَّسُوْلُ یَدْعُوْکُمْ فِیْٓ اُخْرٰىکُمْ (آل عمران - ع ١٦) "او رسول د روستو نه تاسو ته آواز ورته کول۔" د نبی علیه السلام دا بللنه د ظاهری اسبابو لاندې وه او آواز هغه چا ته کړلو چا چه په میدان جنګ کښې دوی آواز آوریدلو. او دا راغوښتل د اسبابو لاندې وو او د دے نه بغیر د دُنیا یو کاروبار هم نه چلیږی. یو ځائے کښې فرمائی:

لَا تَجْعَلُوْا دُعَآءَ الرَّسُوْلِ بَیْنَکُمْ کَدُعَآءِ بَعْضِکُمْ بَعْضًا (نور - ع ٩) یعنی څرنګه چه تاسو یو بل په نوم او اوچت آواز سره بللئ، دا سے رسول علیه السلام لره مه بللئ۔

معلومه شوه چه کوم امداد طلب کول د عادی اسبابو لاندې وی هغه نه صرف جائز دے بلکه د دے نه بغیر د دُنیا روزګار او چلیدے نشی او په اِیَّاکَ نَسْتَعِیْنُ کښې د دے قسمه استعانت خو مقصود نه دے او نه په قران مجید کښې د دے منع راغلے ده.

د استعانت دویم قسم دے ما فوق الاسباب یعنی د عادی اسبابو نه بغیر چا لره د لرے یا نزدے نه اُوبللے شی او د هغه نه امداد طلب کړے شی، دا بللنه او امداد غوښتل د الله تعالیٰ سره خاص دی او د الله تعالیٰ نه ما سوا د یو پیغمبر یا ولی نه هرګز جائز نه دے

د تولو انسانو بلکې د ساه لرونکو مافوق الاسباب مدد هم صرف الله تعالیٰ کوي. د هغهٔ په امداد کولو د لرے والي او نزدے والي څهٔ سوال نهٔ پیدا کیږي او د الله نه غیر دا امداد طلب کول شرك دے او دا هغه مدد طلب کول دي چه حصر ئے په إِيَّاكَ نَسْتَعِينُ کښې راغلے دے په دے مقام کښې په تفسیرونو کښې یو سوال او جواب ذکر شوے دے او هغه دا چه یو انسان د بل نه په ځینو کارونو کښې مدد غواړي، اوبهٔ غواړي، ډوډئ غواړي او دغه شان نور د ضرورت څیزونه طلب کوي. نو بیا د إِيَّاكَ نَسْتَعِينُ حصر څنګه شو. ددے جواب دا دے چه دا ورکړے شوے وے چه انسان د ظاهري اسبابو لاندے کوم امداد طلب کوي، دا ظاهري امداد هم په اصل کښې د الله تعالیٰ نه وي ځکه چه څوك امداد کوي هغه هم الله تعالیٰ پیدا کړے دے. لاس او پښے الله پاك ورکړے دي او حرکت پکښې الله پیدا کړے دے لیکن د استعانت او امداد طلب کولو پورته ذکر شوي دواړو قسمونو (د اسبابو لاندې او د اسبابو نه پورته) بیا نزولو نه پس د دا سے قسمه سوال او جواب ضرورت باقي نهٔ پاتے کیږي.

یوه مغالطه

بعض بدعتیان په دے موقعه باندې یوه بله مغالطه پیش کوي، او هغه دا چه دوي وائي دا خو صحیح ده چه د الله تعالیٰ نه ماسوا د بل چا عبادت کول جائز نهٔ دي بلکه شرك دے خواه که د یو پیغمبر، فرښتے یا ولي وي لیکن نبیانو او ولیانو په حاجتونو او مشکلاتو کښې امداد د پاره غائبانه رابلل شرك نهٔ دے بلکه جائز دي او د قرآن شریف په کومو آیتونو کښې چه د غیر الله د رابللو نه منعه راغلے ده نو هلته د دُعا او بللو نه مراد عبادت دے او ثبوت دا وړاندې کوي چه مفسرینو د "يَدْعُونَ" تفسیر په يَعْبُدُونَ سره او د يَدْعُوا تفسیر په يَعْبُدُ او د أُدْعُوا تفسیر په أُعْبُدُوا سره کړے دے.

جواب

د الله نه ماسوا غائبانه مافوق الاسباب رابلل شرك دے او د بدعتیانو دا استدلال سراسر غلط دے ځکه وړاندې په تفصیل سره دا بیان شویدي چه د دُعا او بللو دوه قسمه دي یو د اسبابو لاندے او بل د اسبابو نه پورته. د بللو اولنے قسم عبادت دے او صرف الله تعالیٰ پورے خاص دے او دویم قسم عبادت نهٔ دے. لهٰذا د الله پاك نه ماسوا بل لره هم جائز دے او دا هغه بلل دي چه په کوم سره مغالطه ورکولے شي.

باقي دا چه مفسرینو د يَدْعُونَ تفسیر په يَعْبُدُونَ سره کړے دے. نو د هغوي مقصد د دُعا حاصل معنیٰ بیانول دي او مطلب ئے دا دے چه غائبانه مافوق الاسباب بلل هم د عبادت یو فرد دے (بلکه دا ویل پکار دي چه دا بلل د عبادت د ټولو نه اهم فرد دے) او څرنګه چه د الله پاك نه ماسوا د بل چا عبادت جائز نهٔ دے نو دغه شان دا بلل هم جائز نهٔ دي. شاه ولي الله صاحبؒ په الفوز الکبیر کښې فرمائي:

"مفسرین حاصل معنیٰ بطریق افهام بیان می کنند مردمان ناواقف گمان می کنند که لفظی معنی کرده اند. دعا به معنی مطلق خواندن کسے را منع نیست. مراد از خواندن کسے را در غائبانه حاجت

است۔ لہذا مفسرین تعبیر بعبادت می کنند۔"

دَ شاه صاحبٖ دَ عبارت نه دا معلومه شوه چه غیر الله لره بَلل په دوه قِسمه دی۔ یو په غائبانه حاجتونو کښی یعنی مافوق الاسباب۔ مُفسرین چه دیَدْعُوْنَ تفسیر په یَعْبُدُوْنَ سره کړی نو دے طرفته اشاره کوی چه مافوق الاسباب غائبانه حاجتونو کښی رابلل عبادت دے۔ په دے وجه دا صرف الله تعالیٰ پورے خاص دے او دَ غیر الله دپاره شِرك دے۔ دبللو دویم قِسم ماتحت الاسباب (دَ اسبابو لاندے) دے او دا غیرالله دپاره جائز دے لکه چه په ﴿وَالرَّسُوْلُ يَدْعُوْكُمْ فِيْٓ اُخْرٰىكُمْ﴾ او ﴿لَا تَجْعَلُوْا دُعَآءَ الرَّسُوْلِ﴾ کښی دی غونګه چه په تفصیل سره ذکر شو۔ دغه شان تماموو لُغت خاوندانو هم دَ دعا معنیٰ بَلل اُغستے ده، عبادت نه، او دَ مُفسرینو مقصد لغوی معنیٰ بیانول نه وی بلکه دهغوی کار خو مطلب او تفسیر بیانول وی۔

ﮥ ﴿اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ﴾ ۝ د اولنو ایتونو خلاصه دا ده چه دټولو بیا کونکے الله تعالیٰ دے او بیا هرڅیز او هر ذی روح لره په مزه مزه دکمال حَدته رسونکے هم الله دے۔ دټول عالَم نظام دهغه په لاس کښی دے، هم هغه تصرف کونکے او اختیارمند دے او دَ اعمالو دحساب دَ ورځ یعنی دَ وُرځے دَ قیامت مالك هم هغه دے۔ هرکله چه انسان ددے څلورو حقیقتونو اعتراف وکړی او په دے بانډې پوخ ایمان راوړی نو دے به بے اختیاره دا آواز پورته کوی چه ﴿اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ﴾ دا په اصل کښی د بندګانو دخپل پروردګار سره عهد دے چه اے الله! مونږ به ضرور ستا بندګی کوو او صرف تا لره به په حاجتونو او مُشکلاتو کښی رابللو دپاره دَ مدد۔ دینه پس په دے عهد بانډې دقائم ساتلو دپاره په ﴿اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ﴾ کښی دُعا غوښتلے شی۔ مطلب دا چه اے الله! دا نیغه لاره کومه چه تا مونږ ته ښودلے ده یعنی دتوحید اوخپله دَ عبادت او صرف ستانه دمدد غوښتلو چه کومه لاره ده او بیا په دے بانډې مونږ قائم اوساته او تر اخره پورے مو په دے اوچلوه۔ د ﴿الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ﴾ یو مطلب خو دادے چه ددے نه د ﴿اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ﴾ والا لاره مراد ده په دے صورت کښی به الف لام په الصراط کښی دَ عهد خارجی دپاره شی۔ د قرآن مجید په نورو ایتونو کښی د توحید او خالص دالله تعالیٰ عبادت طرفته اشاره شوے ده۔ په یو ځائے کښی دحضرت عیسیٰ علیہ السلام په ژبه بانډې د الصراط المستقیم دا مفهوم بیان کړے دے

﴿وَاِنَّ اللّٰهَ رَبِّيْ وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوْهُ ؕ هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيْمٌ﴾ (مریم۔ ۲)

بیشکه الله ځما هم پروردګار دے او ستاسو هم. پس تاسو دهغه عبادت کوئ او صرف هغه رابلئ، همدا صراط مستقیم (نیغه لاره) ده۔

یو ځائے کښی تمامو بنیادمو ته خطاب شوے دے۔ فرمائی:

﴿اَلَمْ اَعْهَدْ اِلَيْكُمْ يٰبَنِيْٓ اٰدَمَ اَنْ لَّا تَعْبُدُوا الشَّيْطٰنَ ۚ اِنَّهٗ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ۙ وَّاَنِ اعْبُدُوْنِيْ ؕ هٰذَا صِرَاطٌ﴾

اے دَ آدم اولاده! آیا ما تاسو ته دا تاکید نه وو کړے چه دَ شیطان تابعداری مکوئ او صرف ځما بندګی کوئ۔ همدا صراطِ مستقیم (نیغه لاره) ده۔

مُّسْتَقِيْمًا . (انعام ع ۲۰)

د الصراط المستقیم دویم مطلب دا دے چه دے نه مطلق حق لاره مراد ده کوم چه د اسلام پوره احکاماتو له شامله ده. مثلاً عبادات، معاملات، اخلاقیات، معاشیات، سیاسیات احکام د برزخ او د آخرت اصول وغیره. د المراد به طریق الحق وهو ملة الاسلام. (مدارک ج ۱ ص ۷). په سورة انعام رکوع لمبر ۲۰ کښ هم دے طرف ته اشاره ده. هلته کښ اول الله تعالیٰ د شرک نه منع فرمائیلے ده، بیا ئے مور او پلار سره د ښه سلوک حکم کړے دے. بیا ئے د اولاد د قتل او د نفس محترمه د قتل نه او نورو فحشو اعمالو نه منع فرمائیلے ده. بیا د یتیمانو د حق د خوړلو نه منع شوے ده، بیا ناپ او تول کښ پوره والے او په هر حال کښ د عدل او انصاف قائم ساتلو حکم کړے شوے دے. او په آخر کښ ئے نبی کریم ﷺ ته د دے اعلان کولو حکم کړے دے: وَاَنَّ هٰذَا صِرَاطِیْ مُسْتَقِیْمًا فَاتَّبِعُوْهُ. بیشکه دا زما نیغه لاره ده، پس په دے لاره باندې مستقیم تلل کوئ. دلته کښ ئے د دین احکاماتو ته صراطِ مستقیم اُوفرمائیلو.

الصراط المستقیم مرکب توصیفی دے. او مستقیم هغه څیز ته وئیلے شی چه بالکل نیغ وی او څه قسمه کوږ والے او لوړ والے ژوړ والے پکښ نه وی او پوره دین اسلام ته یا صرف توحید ته ئے الصراط المستقیم په دے وجه اُووئیلو چه د توحید لاره بالکل نیغه ده په کومه باندې تللو سره چه انسان نیغ الله پاک ته رسی، که د توحید د لارے نه لږ غوندې هم څوک آخوا شی نو نیغ به دوزخ ته ځی. دغه شان دین اسلام هم نیغه او سیخه لاره ده، کږے زیاتے پکښ نشته لکه یهودیانو چه د عزیر علیه السلام باره کښ د زیاتی نه او د عیسیٰ علیه السلام باره کښ د کمی نه کار اخستے دے او عیسایانو د عیسیٰ علیه السلام باره کښ د زیاتی نه او د نبی کریم ﷺ باره کښ د کمی نه کار اخستے دے. دغه شان په نورو شرعی احکامو کښ هم د رومبنو امتونو کښ کږے زیاتے وُو لیکن د نبی علیه السلام شریعت د هر قسمه عقیدتی او عملی زیاتی او کمی نه پاک دے.

لفظ د هدایت همیشه د پاره دوه مفعولو طرفته متعدی کیږی. مفعول اول طرفته بغیر د واسطے د حرفِ جر نه متعدی کیږی او د دویم مفعول طرفته کله په واسطه د حرفِ جر سره، مثلاً: يَهْدِیْ مَنْ يَّشَآءُ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۝ (یونس ع ۳) وَهَدَيْنٰهُمْ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۝ (انعام ع ۱۰) او کله بغیر د حرفِ جر نه متعدی کیږی مثلاً: وَهَدَيْنٰهُمَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ ۝ (صافات ع ۳) او وَيَهْدِيَكَ صِرَاطًا مُّسْتَقِيْمًا ۝ (فتح ع ۱) لیکن د استعمال په دے دواړو صورتونو کښ د معنے په اعتبار سره فرق دے. په اول صورت کښ د هدایت معنے د ه اراءة الطریق: راه نمودن یعنی لاره ښودل. او په دویم صورت کښ ئے معنی ده ایصال الی المطلوب بمنزل رسانیدن یعنی منزل مقصود ته رسیدل. په اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ کښ نَا ضمیر منصوب متکلم مفعول اول دے او الصراط المستقیم دویم مفعول دے کوم چه بغیر د واسطے د حرفِ جر نه استعمال شوے دے. په دے وجه دلته کښ د

هدایت معنیٰ ده ایصال الی المطلوب یعنی منزلِ مقصود ته رسول۔ دلته چونکه منزلِ مقصود
صراطِ مستقیم دے۔ ددے وجے نه معنیٰ به داوی چه سونږ ته په صراطِ مستقیم (نیغه لاره)
باندې اُوچلوه او په دے موقائم اُوساته۔ لکه څرنګ چه شاه عبد القادر صاحب ددے ترجمه
کړے ده: "اُوچلوه مونږ ته په نیغه لاره باندې" او دلته هم دغه معنیٰ موزون او مناسب ده
ځکه هرکله چه بیوکس د اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ نه اِیَّاكَ نَسۡتَعِیۡنُ پورے په تمامو خبرو باندے ایمان
راؤړی او په دے باندې عمل کوی نو صراطِ مُستقیم خو ده ته اُولیدے شو او نیغه لاره ورته ملاؤ
شوه۔ ددے وجے نه اُوس دے په اِهۡدِنَا الصِّرَاطَ الۡمُسۡتَقِیۡمَ کښې د نیغے لارے دُعا نه کوی
بلکه ددے سوال کوی چه اے الله! کومه نیغه لاره چه تا ما ته ښودلے ده په هغے م
قائم اُوساتے۔ ومعناه ادم هدایتنا (قرطبی ص ۱۴۸ ج ۱)

د هدایت دوه قسمونه دی: (۱) فطری (۲) کسبی۔ فطری هدایت د انسان او غیر انسان
ټولو د پاره عام دے او د الله پاک له طرفه هرساه والا ته پیدا کیدو سره ملاویږی لکه
ارشاد دے: وَاَعۡطٰی کُلَّ شَیۡءٍ خَلۡقَهٗ ثُمَّ هَدٰی۔ (طٰهٰ ع ۲) "او الله پاک هر څیز ته
صورت ورکړو او بیا ئے ورته لاره اُوښودله۔ او بیو ځائے کښې فرمائی: وَالَّذِیۡ قَدَّرَ
فَهَدٰی ۝ (اعلیٰ-ع ۱) "چا چه د هر څیز اندازه مقرر کړے ده او لاره ئے ورته ښودلے ده"
مونږ وینو چه د چرګے بچے ځنګه د هګۍ نه راوُځی نو دانه خوری او د ځنا وروبچی پیدا
کیدو سره د مور د تیونو نه پئ روی۔
اخر هغوی ته داخبره څوك ښائی چه دا زمونږ غذا ده او ددے د حاصلولو ځائے او
طریقه دا ده۔ دا لاره ورته الله پاك ښودلے ده او د هر ساه والا په فطرت کښې ئے داخبره
ایښے ده۔ د هدایت دویم قسم کسبی دے کوم چه د الله پاك له طرفه د نبیانو او اسمانی
کتابونو په ذریعه حاصلیږی۔ بیا ددے څلور درجے دی۔ ① انابت یعنی الله تعالیٰ طرفته
رُجوع کول او بُغض او عناد پریښودل او د هدایت تلاش او فکر کول۔ دا هدایت صرف
هغه خلقو ته ملاویږی چا کښې چه الله پاك طرفته د رجوع او د حق د تلاش جذبه وی۔
ارشاد دے: وَیَهۡدِیۡۤ اِلَیۡهِ مَنۡ اَنَابَ ۝ (رعد-ع ۴) او بل ځائے ارشاد دے: وَیَهۡدِیۡۤ
اِلَیۡهِ مَنۡ یُّنِیۡبُ ۝ (شوریٰ-ع ۱) یعنی الله پاك د هدایت توفیق صرف هغه چا له ورکوی
څوك چه هغه طرفته رجوع کوی۔
② هدایت یعنی نیغه لاره ښوندل د الله طرف ته د رجوع نه پس حاصلیږی لکه ځنګه
چه وړاندے ذکر شول۔
③ اِستقامت: د هدایت نه پس د استقامت درجه ده۔ کله چه یو سړی ته هدایت
حاصل شی او ده ته صراطِ مستقیم ملاؤ شی نو دے بیا د الله پاك د هدایت مطابق
په نیغه لاره باندې روان وی او په دے باندې قائم وی: اِنَّ الَّذِیۡنَ قَالُوۡا رَبُّنَا اللّٰهُ
ثُمَّ اسۡتَقَامُوۡا (حٰمٓ السجده ع ۴) په د یکښې د دویمے او دریمے درجے بیان دے۔ په قَالُوۡا
رَبُّنَا اللّٰهُ کښې هدایت راغلو او په ثُمَّ اسۡتَقَامُوۡا کښې اِستقامت۔

③ ربط القلب :- د هدايت دَ لارے د صراطِ مستقيم نه پس درجه د ربط القلب نه صبيري دا درجه د ايمان د مضبوطوالي او د يقين د پوخوالي د تيوبو نه اوچت مقام دے. که څه مؤمن ته د ايمان او يقين دا درجه حاصله شي نو بيا د دنيا يو طاقت هم د دے د شيخ د لارے نه نشي اړولے او نه دوئ په ايمان او يقين کښ تزلزل راتلے شي. دا درجه ډيرو لږو خلقو ته ملاويږي. اصحاب کهف ته دا درجه حاصله وه. د الله پاک ارشاد دے: ﴿إِنَّهُمْ فِتْيَةٌ آمَنُوا بِرَبِّهِمْ وَزِدْنَاهُمْ هُدًى وَرَبَطْنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ إِذْ قَامُوا فَقَالُوا رَبُّنَا﴾ (پ ١٥ کهف ع ٢) "هغوي يو څو ځوانان وو چه يخپل رب ئے ايمان راوړے وو، د موږ د هغوي په هدايت کښ ترقي اوکړه او د هغوي زړونه مو مضبوط کړل."

په دے ايت کښ د درے درجاتو ذکر دے. په آمَنُوا بِرَبِّهِمْ کښ د هدايت او په زِدْنَاهُمْ هُدًى کښ د استقامت او په رَبَطْنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ کښ د ربط القلب ذکر دے. د هدايت دا درجه حضرات صحابه کرامو ته هم حاصله وه لکه د الله پاک ارشاد دے: ﴿وَلَٰكِنَّ اللَّهَ حَبَّبَ إِلَيْكُمُ الْإِيمَانَ وَزَيَّنَهُ فِي قُلُوبِكُمْ وَكَرَّهَ إِلَيْكُمُ الْكُفْرَ وَالْفُسُوقَ وَالْعِصْيَانَ﴾ (الحجرات ع ١) "ليکن الله تعالى ايمان لره ستاسو په زړونو کښ محبوب اوګرځولو او ستاسو په زړونو کښ ئے د دے محبت پيدا کړو او د کفر او فسق او نافرماني نه ئے تاسو کښ نفرت پيدا کړو." په اِهْدِنَا کښ د هدايت د اخري درے درجو درخواست کړے شوے دے. يعني استقامت او ربط القلب ځکه انابت او هدايت خو وړاندے حاصل شوے دے. د هدايت پشان د ضلالت هم څلور درجے دي. د هغوي ذکر وړاندے راروان دے.

﴿صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ﴾ دا د الصراط المستقيم نه بدل دے او د بدل فائده دا ده چه د صراط مستقيم تفسير او تعين اوشي. يعني صراط مستقيم هغه لار ده په کومه باندے چه هغه خلق تلي دي کوم چه د صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ مصداق دي او د جمهور مفسرينو په نزد باندے د دے نه انبياء کرام، صديقين، شهداء او صالحين مراد دي. لکه چه په يو بل ايت کښ د دے طرف اشاره ده: ﴿وَمَن يُطِعِ اللَّهَ وَالرَّسُولَ فَأُولَٰئِكَ مَعَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِم مِّنَ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ وَالصَّالِحِينَ وَحَسُنَ أُولَٰئِكَ رَفِيقًا﴾ "څوک چه د الله او د رسول اطاعت اوکړي دا به هم هغه خلقو سره وي په چا چه الله تعالى انعام کړے دے يعني انبياء کرام، صديقين، شهداء او صالحين. او دا حضرات ډير ښه ملګري دي."

قال الجمهور من المفسرين انه (اي) صراط النبيين والصديقين والشهداء والصالحين وانتزعوا ذلك من قوله تعالى: وَمَن يُطِعِ اللَّهَ وَالرَّسُولَ فَأُولَٰئِكَ مَعَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ الخ (قرطبي ص ١٤٩ ج ١)

يوه شبه که چرے د الصراط المستقيم نه مرويته د کرشو څلورو درجو لاره مراد وي نو دا معلومه شوه چه اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ کښ د دے څلورو واړو درجو د درجاتو حاصولو درخواست کړے شوے دے او په دے کښ د النبيين درجه هم شامله ده. نو

دے دَحاصلولو درخواست به هم دیکښې شامل وی او دا دے خبرے دلیل دے چه نبوّت د درجے حاصلولو امکان موجود دے۔

جواب اول خو دا غلط دہ چه اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ کښې د دے څلورو ډلو د درجو د حاصلولو درخواست کړے شوے دے بلکه دیکښې خو صرف د هغه څلور ډلو بانې دَتللو او قائم پاتے کیدلو درخواست دے۔ دا شان درخواست او دُعا همیشه د دے څیز دحاصلولو دپاره کیږی چه دکوم حصول کسب او محنت سره ممکن وی او دکوم فضل او کمال حصول چه کسب او محنت سره ناممکن وی هغه دپاره درخواست کول بالکل بے ځایه او عبث دے۔ د دے وجے نه که چرے بالفرض دا اومنلے شی چه اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ کښې د دے څلورو ډلو دَحاصلولو درخواست کړے شوے دے نو د نبوت درجه چونکه کسب او ریاضت سره نشی حاصلیدلے بلکه نبوت محض وَهبی څیز دے او د دے باره کښې د الله پاک قانون دا دے چه اَللّٰهُ اَعْلَمُ حَيْثُ يَجْعَلُ رِسَالَتَهٗ (انعام ع ۱۵) لهٰذا د درخواست تعلق نبوت سره نه دے بلکه درخواست صرف دَصدیقینو، شهیدانو او صالحینو دَکمالاتو دپاره دے۔

لـه غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّآلِّيْنَ ۝ دا بدل دے د اَلَّذِيْنَ اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ نه یا د هغے صفت دے او وَلَا الضَّآلِّيْنَ معطوف دے په غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ باندے او لَا دَ نفی د تاکید دپاره دے کوم چه د لفظ غَیْر نه مفهوم دے۔ بدل من الذين انعمت عليهم اوصفة له. ولا مزيدة لتاكيد ما في غير من معنى النفي (مظهری ج ۱ ص ۱۰) دحضرت نبی کریم ﷺ نه منقول دی چه د مغضوب علیهم نه مُراد یهود او د الضالین نه مُراد نصاریٰ دی۔ دا شان د حضرت عبد الله بن مسعود او حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنهما نه منقول دی (ابن جریر ص ۶۱۔۶۳) دَ غضب معنیٰ سخت غُصه ده او دا یو نفسانی کیفیت دے لیکن د الله تعالیٰ په صفاتو کښې د غضب معنیٰ د عقوبت اراده او د سزا قصد دے: ومعنى الغضب في صفة الله تعالى ارادة العقوبة فهو صفة ذات وارادة الله تعالى من صفات ذاته۔ (قرطبی ص ۱۰۵ ج ۱) او ضلال معنیٰ د ښے لارے نه ګُمرکیدل او جُدا کیدل دی: الضلال في الدين الذهاب عن الحق (روح ص ۹۶ ج ۱) د دے ایتونو حاصل دا دے: اے الله! مونږ د هغه خلقو په لاره باندے قائم اوساته په کومو چه تا انعام کړے دے او په داسے چه نه ستا غضب اوشو او نه هغوی ګمراه شول۔ په کومو خلقو چه ستا غضب اوشو مثلاً یهود او کوم خلق چه دحق د لارے نه بے لارے شول مثلاً نصاریٰ د هغوی د لارے نه مونږ بچ اوساته۔ د مغضوب علیهم تفسیر یهود سره او د ضالین نصاریٰ سره دَ تمثیل په طور دے۔ دا مطلب نه دے چه مغضوب علیهم صرف یهودیان دی او ضالین صرف نصاریٰ دی ځکه چه د یهودو او نصاراؤ نه علاوه مشرکین او منافقین هم د دواړو لفظونو کښې داخل دی۔ د نبی علیه السلام په زمانه کښې چونکه د یهودو او نصاراؤ د مذهب د ځانځانګو اجاره داری وه او دے سره سره دحق د لارے نه ګمراه او ځانله شوی وو او د الله تعالیٰ دقهر او غضب مُستحق وو۔ په دے وجه د المغضوب علیهم او الضالین تفسیر د دواړو ډلو سره اوکړے شو۔

د هدایت پشان د ضلالت هم څلور درجې دی: (۱) رَیب وشك:- دا درجه د ګمراهئ ابتدا ده. او د انسان په زړه کښ د توحید او دینِ حق باره کښ شکونه او شبهات پیدا کړی چه هغه د صراطِ مستقیم او د هدایت د لارے نه جدا کوی۔

(۲) ضلالت ګمراهی:- د توحید او دینِ حق متعلق د شکونو او شبهو نه اګرچه اول شی او دا په زړه کښ چه ځائے اونیسی نو انسان په ګمراهئ کښ پریوځی او حق لاره پریږدی او باطل لاره اختیار کړی۔

(۳) جدال:- د ضلالت نه پس د جدال درجه ده۔ د ګمراهئ روستو ګمراه سړے د خپلو باطلو نظریاتو او غلطو عقائدو د صحیح ثابتولو دپاره د اهلِ حق سره جګړه او بحث د عنادنه شروع کړی او ضد او عناد سره هر د حق خبره رد کوی۔

(۴) مُهرِ جبّاریت، یا طبع علی القلب، یا ختم علی القلب:- د ګمراهئ نه روستو چه کله انسان د حق په مقابله کښ جګړه او جدال شروع کړی او بتلو عقلی او نقلی دلائلو سره حق واضح او ثابت کیدلو نه پس هم هغه نه منی او خپل ضد او عناد باندے ټینګ ولاړ وی نو اوس د هغه په زړه باندے مُهر لګی. یعنی د هغه په زړه کښ چه کوم کفر، نفاق او شرك دے هغه زړه نه بهرته نه راوځی او کوم خیز چه د هغه د زړه نه بهر دے یعنی ایمان، یقین، او توحید او اخلاص هغه ئے زړه ته نه داخلیږی چه هغه انسان د ګمراهئ دے درجے ته اورسیږی نو بیا د هغه په نیغه لاره باندے راتلل ناممکن شی، د دے درجه کښ د هغه نه د هدایت توفیق واخستلے شی۔ حضرت شیخ رحمة الله علیه به دا مُهرِ جبّاریت سره تعبیرکولو. قرآن کښ دا څلور درجے چرته خوجُدا جُدا او چرته دوه دوه یا درے نه زیات یوځائے ذکرشویدی په سورة مومن رکوع نمبر کښ دوه ایتونو کښ دغه څلور واړه درجے یوځائے ذکرشویدی۔

وَلَقَدْ جَآءَكُمْ يُوسُفُ مِنْ قَبْلُ بِالْبَيِّنٰتِ فَمَا زِلْتُمْ فِيْ شَكٍّ مِّمَّا جَآءَكُمْ بِهٖ ؕ حَتّٰۤى اِذَا هَلَكَ قُلْتُمْ لَنْ يَّبْعَثَ اللّٰهُ مِنْۢ بَعْدِهٖ رَسُوْلًا ؕ كَذٰلِكَ يُضِلُّ اللّٰهُ مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ مُّرْتَابُ ۝ اِلَّذِيْنَ يُجَادِلُوْنَ فِيْۤ اٰيٰتِ اللّٰهِ بِغَيْرِ سُلْطٰنٍ اَتٰىهُمْ ؕ كَبُرَ مَقْتًا عِنْدَ اللّٰهِ وَعِنْدَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ؕ كَذٰلِكَ يَطْبَعُ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ قَلْبِ مُتَكَبِّرٍ جَبَّارٍ ۝

او یقینًا د دے نه مخکښ یوسف علیه السلام تاسو ته د توحید او نبوت دلائل راوړی وو نو تاسو هغه کاروونو کښ برابر په شك کښ پاتے شوئ کوم چه هغه تاسو ته راوړی وو تردے چه هغه وفات شو نو تاسو اووئیل بس اوس به الله تعالیٰ د هغه نه پس هیڅ یو پیغمبر نه رالیږی، د دے دپاره الله تعالیٰ د حد نه تجاوز کونکی او توحید کښ شك کونکی ګمراه کوی څوك چه (محض د ضد او عناد د وجے نه) په غیر د څه دلیل نه کوم چه هغه سره موجود وی د الله تعالیٰ په ایتونو کښ جګړے کوی۔ دا کږ بحثی او جګړه الله تعالیٰ نه خوښوی او مومنان ئے هم نه خوښوی۔ په دے وجه الله تعالیٰ د هر مغرور او جابر په زړه باندے مُهر لګوی۔

د دے ایت کښ په كَذٰلِكَ کښ دواړو ځایونو کښ کاف تعلیلیه دے او په معنیٰ د لام سره دے

ځکه چه په ترجمه کښې ظاهر کړے شوے دے۔ د دے آیت کښې څلور درجې په تدریج سره ذکر شوی دی. اول هغه خلق د حضرت یوسف علیه السلام د راوړے شوو دلائلو توحید او نبوت باره کښې په شک او ریب کښې پریوتل په دے وجه ګمراه شول او د هدایت د لارے او توحید نه لرے شول۔ د دے نه پس دویم ضد او ځان د سره جګړه او مجادله شروع کړه او د توحید او حق لارے نه لرے اوتښتیدل۔ د دے وجه نه ورله الله تعالیٰ په زړونو باندې مهرونه اولګول۔ د ضلالت او څلور درجې د هدایت د څلورو واړو درجو په مقابله کښې دی:

اول د اِنابت په مقابله کښې ریب او شک. دویم د هدایت په مقابله کښې ضلالت. دریم د استقامت په مقابله کښې جدال او مخاصمت. څلورم د ربط علی القلب په مقابله کښې طبع علی القلب۔

غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّآلِّينَ کښې د ضلالت څلور واړه درجے ذکر شوی دی. ۳ ومبنیٰ درجه الضالین کښې او څلورمه درجه په مغضوب علیهم کښې۔





سُوْرَةُ الْفَاتِحَةِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ سَبْعُ اٰيَاتٍ

سورة فاتحه ... مکی ده او ... اووه آیتونه دی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۝

شروع د الله په نوم سره چه بے حده مهربان نهایت رحم کونکے دے

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝١ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۝٢ مٰلِكِ

ټول صفتونه الله دپاره دی چه پالونکے د ټول جهان دے بے حده مهربان نهایت رحم کونکے دے مالک

يَوْمِ الدِّيْنِ ۝٣ اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ ۝٤ اِهْدِنَا

د ورځے د جزاء دے خاص ستا مونږ بندگی کوو او هم ستا نه مدد غواړو ښوده مونږ ته

الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ ۝٥ صِرَاطَ الَّذِيْنَ اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ ۝٦

لاره نیغه شه لاره د هغه کسانو چه تا پرے فضل کړے دے

غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّآلِّيْنَ ۝٧

چه نه پرے ستا غصه اوشوه او نه هغوی ګمراه شول

موضح قرآن ف :- چا باندے چه تا فضل اوکړو۔ دے نه څلور ډلے مراد دی: انبیاء، صدیقین، شهداء او صالحین۔ او په چا چه غصه اوشوه۔ دے نه یهود او ګمراهانو نه نصاری مراد دی۔ دا سورت الله تعالیٰ د بندګانو په ژبه باندے اوفرمائیلو چه داسے اوکړئ۔

فتح الرحمٰن ف١ :- مترجم وائی یعنی عالم د انسانانو او عالم د پیریانو او عالم د ملائکو وعلیٰ هذا القیاس۔ ف٢ مترجم وائی مراد د هغوی نه چه په چا انعام کړے شوے دے، څلور ډلے دی: نبیان، صدیقین، شهیدان او صالحان۔ او هغه چه غصه ورباندے شوے ده هغه یهود دی او ګمراهان نصاری دی۔ آمین: قبوله کړه زمونږ دعا۔

نکات :- بسم: ای قولوا بسم الله۔ الله اول حصے طرفته اشاره ده۔ لفظ الله نه صفت مشهور د مراد دے یعنی خالق۔ الرحمٰن الرحیم: دریمے حصے طرفته اشاره ده صراحةً او دویمے حصے طرفته اشاره ده ضمنًا۔

ف١ ای قولوا الحمد لله یعنی صفات فاعلیه یا د کارسازئ صفات ما فوق الاسباب۔ ف٢ اول حصے طرفته اشاره ده ف٣ دریمے حصے طرفته اشاره ده ف٤ دریمے حصے طرفته اشاره ده۔ ف٥ څلورمے حصے طرفته اشاره ده یعنی قیامت کښے هم هغه په څکښے شوله غالب شفیع نشته۔ ف٦ ای قولوا د سورة زمر دعوے طرفته اشاره ده ف٧ ای قولوا۔ د حوامیم دعوے طرفته

اشاره ده یعنی ما فوق الاسباب استعانت الله پورے خاص دے ۲؎ ای قولوا۔ د هدایت نه مُراد عام دے یا خاص ۳؎ مُراد یا خو عام دے یعنی شریعت یا خاص دے یعنی خالص عبادت د الله او خالص استعانت د الله نه د ما قبل مطابق هم دا دے ۴؎ دینه مُراد عام دے دینه څلور درجې مُراد دی یا خاص دے ۔ څلور جماعتونه تیرے مُراد دی ۵؎ دینه مُراد هغه دی کوم چه د مُهرِ جبّاریت لاندے راغلی دی ۶؎ دینه هغه درے ډلے مُراد دی کوم چه د مُهرِ جبّاریت لاندے راغلی دی۔ صرف یهود او نصاریٰ مُراد نه دی۔

سُوْرَةُ الْبَقَرَةِ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ مِائَتَانِ وَسِتٌّ وَّثَمَانُوْنَ اٰيَةً وَّاَرْبَعُوْنَ رُكُوْعًا

سورة بقره مدنی دے او دیکښې دوه سوه او شپږ اتیا آیتونه او څلویښت رکوعګانے دی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع د الله نوم سره چه بیحده مهربان نهایت رحم کوونکے دے۔

الٓمّٓ ۱ ذٰلِكَ الْكِتٰبُ لَا رَيْبَ ۛ فِيْهِ ۛ هُدًى لِّلْمُتَّقِيْنَ ۲

له ۱؎ دا کتاب بلاشبه ټول هدایت دے ویریدونکو د پاره ۲؎

الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِالْغَيْبِ وَيُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَمِمَّا

چه یقین کوی په ناليدلو څيزونو ۳؎ او قائموی مونځ ۴؎ او څه چه مونږ

رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ۳ وَالَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِمَآ اُنْزِلَ

ورکړی دی هغوی ته د هغے نه خرچ کوی ۵؎ او هغه خلق چه ایمان ئے راوړو په هغے کوم څه چه نازل

اِلَيْكَ وَمَآ اُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ ۚ وَبِالْاٰخِرَةِ هُمْ يُوْقِنُوْنَ ۴

شو ستا طرفته او په هغے کوم څه چه نازل شو ستا نه وړاندې او آخرت لره هغوی یقیني ګڼړی ۶؎

اُولٰٓئِكَ عَلٰى هُدًى مِّنْ رَّبِّهِمْ ۗ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ۵

دا هغه خلق دی چه په هدایت دی د خپل پروردګار له طرفه او هم دوی دی مُراد ته رسیدونکی ۷؎

تفسیر:۔ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ سُوْرَةُ الْبَقَرَةِ له دا دے سورة مشهور نوم هم دا دے ۔ د بقره معنیٰ ده غوا۔ چونکه د دے سُورة په اتمه رکوع کښې د غوا متعلق یوه قصه بیان شوے ده۔ په دے وجه د دے مناسبت سره د دے نوم سورة البقرة (یعنی هغه سُورت چه پکښې د غوا ذکر دے) کیښودے شو۔

فضیلت د صحیح حدیثونو نه د سورة بقره ډیر زیات فضیلت ثابت دے. یو حدیث کښې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمائیلي دي: اِنَّ لِكُلِّ شَيْءٍ سَنَامًا وَسَنَامُ الْقُرْاٰنِ سُوْرَةُ الْبَقَرَةِ. (مستدرک ص ۲۵۹ ج ۲ جامع ترمذی ص ۱۱۱ ج ۲ وانظر تفسیر ابن کثیر ص ۳۲ ج ۱) "یعني د هر څیز یوه اعلی حصه وي او د قرآن مجید اعلی او اوچته حصه سورة بقره ده." د قرآن شریف سورتونه د کلام الله کیدو په وجه ټول برابر دي لیکن د مضامینو په اعتبار سره بعضو ته په بعضو باندې اوچتوالے حاصل دے. سورة بقره کښې چونکه ټول بنیادي عقائد، توحید رسالت، کتابونه، اخرت وغیره مرکزي اعمال (جهاد، انفاق، روژه، حج، زکوٰة وغیره) او ځنې اهم معاملات (نکاح، طلاق، عدت، قصاص، وصیت، رهن، قرض، سود وغیره) تفصیل سره ذکر شوي دي بلکه ټول مضامین چه ټول قرآن کښې خواره دي هغه تفصیلاً یا اجمالاً ټول په دے سورت کښې راغلي دي. د دے مناسبت سره بعض روایتونو کښې د دے سورت نوم فسطاط القرآن هم راغلے دے. د فسطاط معنی ده خیمه. څنګه چه خیمه لاندې ناستو خلقو باندې حاوي وي دغسې دا سورت هم د قرآن مجید ټولو سورتونو باندې حاوي دے. نو د دے لحاظ سره په باقي سورتونو باندې ده ته فضیلت او برتري حاصله ده. یو حدیث کښې د نبي علیه السلام ارشاد دے: اِقْرَءُوْا سُوْرَةَ الْبَقَرَةِ فَاِنَّ اَخْذَهَا بَرَكَةٌ وَتَرْكَهَا حَسْرَةٌ وَلَا يَسْتَطِيْعُهَا الْبَطَلَةُ (صحیح مسلم ص ۲۷۰ ج ۱ ومسند احمد ص) "یعني سورة بقره لولئ ځکه چه د دے لوستل او عمل پرے کول د برکت ذریعه ده او د دے پرېښودل موجب د حسرت او ندامت دي لیکن باطل پرست خلق په دے باندې عمل نه کوي."

ربط:- د سورة بقره ربط سورة فاتحه سره څو قسمه دے، (۱) ربطِ اِسمي:- دا ربط د حضرت شیخ رحمة الله علیه د خصوصي افاداتو نه دے. د دے تفصیل حسب ذیل دے. یهود باندې د غوا عبادت او تعظیم کولو. نو چه کله سامري د سرو زرو وسخے جوړ کړو او د دوی مخکښې ئے کیښودو نو ټول د هغه په مخکښې ټیټ شول او د هغه عبادت ئے شروع کړو. د یهودیانو نه علاوه ځینې مشرکین عرب هم د غوا عبادت کښې مبتلا وو او د هغه د تقدس قائل وو چه کله به باران نه وو نو هغوي به د غوا لکئ پورے واښه اوتړل او هغې ته اور ورته کولو سره به ئے پرېښودله. د دوي دا عقیده وه چه کله اور سره د غوا لکئ اوسوزي نو هغه به زمباړے اوهي نو د دے د وجې نه به الله تعالی باران اوورووي. لکه چه د جاهلیت د زمانے یو هوښیار او سلیم الفطرة شاعر الورل الطائي دا سے ضعیف الاعتقاد مشرکان ملامته کولو سره وائي:-

لَا دَرَّ دَرُّ رِجَالٍ خَابَ سَعْيُهُمُ ❁ يَسْتَمْطِرُوْنَ لَدَى الْاَزَمَاتِ بِالْعُشَرِ

ترجمه:- "د هغه خلقو عمل بے نتیجې شو د چا کوشش چه ناکام شو او چا چه په خشک سالئ کښې د عشر (د اونې) په ذریعه باران طلب کولو." (لسان العرب ص ۱۳۰)

اَجَاعِلٌ اَنْتَ بَيْقُوْرًا مُسَلَّعَةً ❁ ذَرِيْعَةً لَكَ بَيْنَ اللهِ وَالْمَطَرِ

ترجمه:- "آیا ته د الله تعالی او د باران په مینځ کښې هغه غوا وسیله ګرځوے د کومے لکئ سره چه د سلع (نوم بوټي) څانګے تړلے شوي دي." (مشکل القرآن ابن قتیبه ص ۷)

او دغه وخت عیسایان د آلِ عمران د بعضو بزرګانو د اُلوهیت قائل وُو او هغوی به ئے مالک او مختار ګڼړل او حاجتونو او مشکلاتو کښې به ئے رابلل. د حضرت عیسیٰ علیه السلام او مریم صدیقه متعلق چه د عیسایانو کومے مُشرکانه عقیدے وے هغه قرآن مجید کښې ځائے په ځائے تفصیل سره ذکر شوي دي. په سُورة بقره کښې د خبرو زیاتے توجُه د یهودو طرفته وه او په سُورة آل عمران کښې د نصاراؤ طرفته ده. د دے دواړو سُورتونو کښې د حقوق الله نه پس د حقوق العباد نمبر راځي. د دغه زمانه کښې څنګه چه حقوق الله ډیر بے باکئ سره د خپو لاندے کړلي شو، د دغه شان حقوق العباد هم ډیر بے دردئ سره ضائع کړلي شو، خصوصاً ښځو سره به وحشیانه او غیر منصفانه سلوک کړلے شو او د دوی د فطری کمزورئ نه به ئے ناجائزه فائده اخستله، بلکه حق تلفي به ئے کوله. نو الله تعالیٰ د سورة بقره او سُورة آل عمران نه پس سُورة نساء کښې د ښځو د حقونو ادا کولو او د دوی سره د ښه سلوک تلقین اوکړو د پاره دے چه مُسلمانان حقوق الله او حقوق العباد ادا کولو سره د الله تعالےٰ رضامندي حاصله کړي او د الله تعالیٰ د نعمتونو د خولے ښځه نه په دُنیا او عقبیٰ کښې فائده واخلي. اوس به په دے سُورتونو کښې اسمي رَبط لاندے طریقے سره وی؛

اللّٰهم ایاك نعبد و ایاك نستعین (فاتحه) ولانعبد ولا نستعین البقرة کما فعل الیهود والمشرکون (بقرة) ولانعبد ولا نستعین آل عمران کما فعل النصٰری (آل عمران) ونوٴدی حقوق النساء رغبة ونوٴتی صدقاتهن نحلة (نساء) فانزل علینا مائدة انعامك و افضالك فی الدنیا والاٰخرة (مائدة)

"اے الله! مونږ صرف ستا بندګي کوُو او صرف ستا نه امداد غواړو او ستا نه سوا د هیڅ عبادت او بندګي نه کوُو څنګه چه یهودیانو او مشرکین عرب دغوا کړے وُو او نصاراؤ به د آلِ عمران د بزرګانو عبادت کولو. مونږ به د ښځو حقونه په رضا او رغبت سره ادا کوُو، نو اے الله! دُنیا او آخرت کښې مونږ با ندِ خپل فضل، احسان، انعام او اکرام اوکړه."

دا اسمي ربط تر سورة مائده پورے دے. د دے نه پس به اسمي رَبط د سُورة انعام په شروع کښې ذکر کیږي.

دویم رَبط سُورة فاتحه کښې اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِیْمَ سره د هدایت درخواست کړے شوے دے. اوس د سُورة بقره په ابتداء کښې دا دے منظور ے راغے چه دا نزول کتاب د هدایت سرچشمه ده او نیغه لاره ښائي او بیا په سُورت کښې د هدایت جامع او مُکمل پروګرام بیان شوے دے.

دریم رَبط سُورة فاتحه کښې د جماعتونو ذکر وُو (۱) منعم علیهم (په چا چه انعام شویدے) (۲) مغضوب علیهم (په چا چه غضب شوے دے) (۳) الضَّآلِّیْن (ګمراه خلق)، د مُنعم علیهم نه مؤمنان مُراد دي چه د هغوی څلور درجے دی. باقي دواړه ډلے غیر مؤمنین دي. د هغوی هم څلور، درجے دي څنګه چه د سُورة فاتحه په تفسیر کښې تفصیل سره ذکر کړے شویدي. د مَغْضُوْبِ عَلَیْهِمْ نه هغه خلق مُراد دي کوم چه د باطني فساد

سره سره په عملی فساد کښې مُبتلا دی. یعنی نه د هغوی عقائد صحیح دی. دا د کافرانو ډله ده. وَ دَ اَلضَّآلِّیْنَ نه مُراد هغه خلق دی چه صرف باطنی فساد کښې گرفتار دی او په عقائدو کښې ئے دکفر او شرک گندگی پرته ده لیکن ظاهری اعمال ئے دمُسلمانانو پشان دی. دا د مُنافقانو ډله ده. په سُورة فاتحه کښې ددے دریو ډلو ذکر اجمالی وُو. اوس دسُورة بقره په ابتدا کښې لف او نشر مرتب په طور ئے اندازه تفصیل سره ذکر اُوکړے شو او دے سره د دوی دځینې صفتونو او ددوی دجزا او سزا بیان هم راغلے دے:

قال الامام الرازی ویحتمل ان یقال المغضوب علیهم هم الکفار والضالون هم المنافقون وذالک لانه تعالٰی بدأ بذکر المؤمنین والثناء علیهم فی خمس ایات من اول سورة البقرة ثم اتبعه بذکر الکفار وهو قوله ان الذین کفروا ثم اتبعه بذکر المنافقین وهو قوله و من الناس من یقول امنا فکذا ابهنا بدأ بذکر المؤمنین وهو قوله انعمت علیهم ثم اتبعه بذکر الکفار وهو قوله غیر المغضوب علیهم ثم اتبعه بذکر المنافقین وهو قوله وَلَا الضَّآلِّیْنَ. (تفسیر ابن کثیر ص ۲۰۳ ج ۱)

خلورم ربط

سُورة فاتحه کښې د بندګانو له د اِيَّاكَ نَعْبُدُ په ذریعه د الله د توحید اقرار اُخستے شوے دے او دعبادت او استعانت الله پورے دخاص کیدلو اعلان کړے شوے دے. سُورة بقره کښې دا د توحید دعوی د مختلفو مقاصدو په پیش نظر درے ځایه ذکر شوے ده. هر ځائے کښې دا دلیل عقلی سره واضح او ثابت کړے شوے ده. لُومړے رکوع په اول کښې يَآاَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوْا رَبَّكُمُ سره ئے دعوی پیش کړه او الَّذِیْ خَلَقَكُمْ نه تر رِزْقًا لَّكُمْ پورے دلیل عقلی پیش کړو. دویم ځل ئے په رکوع نمبر ۱۹ کښې وَاِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِیْمُ سره دعوی پیش کړه او ددینه روستو ئے اِنَّ فِیْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ نه تر یَعْقِلُوْنَ پورے دلیل عقلی بیان کړو. دریم ځل ئے رکوع نمبر ۳۴ کښې اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ سره دعوی پیش کړه او دے سره ئے اَلْحَیُّ الْقَیُّوْمُ نه تر الْعَلِیُّ الْعَظِیْمُ پورے دلیل عقلی پیش کړو. د دعوی توحید درے ځایه ذکر کولو مقصد جُدا جُدا دے.

اوله موقعه باندے دشرك فِی الدُّعَآءِ نفی مقصود ده یعنی د الله تعالٰی نه سوا غائبانه دُعا اُوریدونکے بل څوك نشته. دویم ځائے کښې نذرا او نیاز (منخته) کښې د شرك نفی مقصود ده او دریم ځائے کښې د شفاعت قهری تردید مقصود دے.

دمضامینو خُلاصه

توحید، رسالت، جهاد فی سبیل الله، انفاق فی سبیل الله، اُمورِ انتظامیه او اُمورِ مُصلحه ——— سُورة بقره

مدینه منوره کښې د بتولو نه مخکښې نازل شوے وُو. مدینه او ددے خواؤشا کښې یهود کافی تعداد سره آباد وُو. ددے دپاره په دے سُورت کښې دیهودو د اِصلاح اړخ ډیر زیات بنګاره دے ځکه چه یهودیانو کښې لوئے لوئے سرمایه دار او لوئے لوئے عالمان او پیران

موجود ولو. د دوی اصلاح سره د ټول قوم اصلاح کیدلے شوه. د ټولو تیرو شوو انبیاء علیهم السلام او ټولو تیرو شوو کتابونو د تعلیم او تبلیغ خلاصه او د دوی د دعوت مرکزی نکته د الله پاك توحید ولو. یعنی صرف الله تعالیٰ معبود او مستعان، مالك او مختار، نافع او ضار، د نذر او منخته مستحق او کارساز او حاکم ګڼړل ——— د سورة بقره مرکزی مضمون هم همدا د توحید دعوت دے. باقی ټول مضامین دده نه ګیرچاپیره چکر لګوی او دده متممات او لوازمات دی. دے سورت کښ څلورو ځایونو کښ د توحید دعوی عقلی دلائلو او عالمګیر حقیقتونو او مسلمات سره مدلل او واضحه کړے شوے ده. د ټولو نه اول د دریمے رکوع په ابتداء کښ يٰاَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوْا رَبَّكُمْ سره ټولو انسانانو ته د توحید عام دعوت ورکړے شوے دے. د دے نه پس اَلَّذِيْ خَلَقَكُمْ الخ سره منلے شوے حقائقو او روزمره مشاهداتو سره د دے وضاحت شوے دے. د دینه پس د نولسمے رکوع په اخر کښ وَاِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۚ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِيْمُ سره د دعوت توحید اعاده اوکړے شوه او دے سره اِنَّ فِيْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ کښ افاقی مشاهدات او عقلی سائنتفك دلائلو سره مدلل کړے شوه. وُرانبیا تللو سره رکوع نمبر ۳۴ کښ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ کښ بیا د توحید دعوی اعاده کړے شوه او دے سره اَلْحَيُّ الْقَيُّوْمُ نه تر الْعَلِيُّ الْعَظِيْمُ سره عقلی دلائل بیان کړے شول. دے دریوارو ځایونو کښ د توحید دعوی او عقلی دلائل دواړه یو ځائے ذکر دی. څلورم ځائے یعنی د سورت په اخری رکوع کښ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ نه تر وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ پورې کښ ئے د توحید دعوی بانړ عقلی دلیل پیش کړو او دائے نوره هم زیاته واضحه او مدلل کړه. د دعوت توحید بیا بیا ذکر سره د توحید هر اړخ ثابتول او د شرك د هر اړخ نفی کول مقصود ولو. یهود او نصاریٰ او مشرکین عرب د دریے قسمه شرك کښ مبتلا ولو. (۱) هغوی انبیاء علیهم السلام او اولیاء کرام عالم الغیب او باختیاره ګڼړل. چه به ئے ورته وهله او په حاجتونو او مشکلاتو کښ به ئے د هغوی نه استعانت غوښتلو. (۲) هغوی به د خپل فرضی معبودانو راضی ساتلو د پاره د هغوی په نومونو نذرونه او منخته کولے. هغوی د خپلو معبودانو یادګارونه قائم کړی ولو او د هغوی د نوم مزارات (استانے) ئے جوړے کړے وے او هلته به ئے غوښے یا خاروی او نقد په صورت کښ د هغوی په نومونو نذرا او منخته کولے. د دوی عقیده داوه چه د دے طریقے سره به زمونږ خپل معبودان خوشاله شی او په مال او اولاد کښ به راله برکت واچوی، یا به د الله نه راله برکت واخلی.
(۳) هغوی به خپل معبودان الله پاك ته سفارشیان جوړول. د هغوی دا خیال ولو چه دا کومو بزرګانو دین مونږ عبادت کوو، دوی الله پاك ته دومره خوښ دی چه الله پاك د دوی خبره نه رد کوی او دوی چه د الله پاك نه څه مطالبه اوکړی الله تعالیٰ به ضرور هغه منی. الله پاك دے سورت کښ درے ځله د توحید د دعوے ذکر اوکړو او د شرك د دریے وارو قسمونو ئے نفی اوکړه. اوله موقعه بانړ ئے شرك فِي الدُّعَاء یعنی په اواز او دعا کښ ئے د شرك نفی اوکړه دویمه موقعه بانړ ئے په نذرونیاز کښ شرك نفی کړو او دریمه موقعه بانړ ئے د شفاعت قهری

نفي اُوکړه۔

دمرکزي مضمون او باقي ضمني مضامینو اعتبار سره دد ے سُورت دوه حصے دي۔ اول حصه دسورت د ابتداء نه شروع کیږي او په دوه ویشتمه رکوع کښ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُتَّقُونَ ۝ باندې ختمیږي او دویمه حصه د ے رکوع کښ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ فِي الْقَتْلَى نه واخله تر آخره پور ے چلیدلے ده۔ اوله حصه کښ دوه اعتقادي مسئلے بیان کړ ے شویدي یعنی توحید او رسالت او په دویمه حصه کښ هم ددوو مسئلو بیان د ے۔ لیکن دهغے تعلق عمل سره د ے یعنی جهاد في سبیل الله او انفاق في سبیل الله او ورسره سره دامورِ انتظامیه او امورِ مُصلحه بیان هم شو ے د ے۔ په اوله حصه کښ د سُورت د ابتداء نه واخله تر پنځلسمه رکوع کښ وَلَا هُمْ يُنْصَرُونَ ۝ پور ے دتوحید د مضمون بیان د ے۔ دشروع په دوه رکوع کښ دتمهید په طور د درے ډلو ذکر د ے چه د دعویٰ توحید د منلو او نه منلو نه پیدا شو ے د ے۔ بیا يَا أَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوا رَبَّكُمُ سره د توحید دعویٰ او الَّذِي خَلَقَكُمْ نه تر وَأَنْتُمْ تَعْلَمُونَ پور ے عقلي دلیل او كَيْفَ تَكْفُرُونَ نه تر إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ سره د دلیلِ عقلي تتمه بیان کړ ے شو ے ده چه د نظام عالم مالك او مدبر، کارساز او هرڅه پاندې عالِم صرف الله تعالیٰ د ے۔

دد ے وجے نه صرف هغه را بللي۔ دد ے نه پس ئے د توحید متعلق د مُشرکینو دوه شُبهے ذکر کړ ے۔ اوله شُبه داوه چه محمّد (ﷺ) مونږ د انبیاء علیهم السلام او اولیاء کرامو عبادت نه او هغوی لره د رابللو نه منع کوی او بیا وائي چه ما ته الله تعالیٰ دا ے حُکم راکړ ے د ے نو داڅنګه کید ے شي چه الله پاك د خپل محبوب بندګانو د عبادت نه منعه اُوکړي۔ نو الله تعالیٰ دا ے حُکم نه د ے کړ ے۔ محمّد (ﷺ) چه څه وائي د خانه وائي (العیاذ بالله) په الله تعالیٰ دروغ وائي لکه چه په سورۃ یُونس (ع ۴) کښ دي، أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَاهُ۔ نو الله تعالیٰ وَإِنْ كُنْتُمْ فِي رَيْبٍ الخ سره جواب ورکړو۔ د مُشرکانو دویمه شُبه داوه چه مونږ څنګه د محمّد دعویٰ اُومنو او دده کلام څنګه د الله کلام اُوګنړو حال دا د ے چه دیکښ د الله نیکانو بندګانو نه او از کُولو لره بالکل د حقیر څیزونو سره تشبیه ورکړ ے ده لکه سُورۃ عنکبوت رکوع ۴ کښ مَثَلُ الَّذِينَ اتَّخَذُوا مِنْ دُونِ اللَّهِ أَوْلِيَاءَ كَمَثَلِ الْعَنْكَبُوتِ د ینه معلومه شوه چه دا دعویٰ د الله پاك له طرفه نه ده او نه دا کلام د الله کلام د ے۔ نو الله تعالیٰ إِنَّ اللَّهَ لَا يَسْتَحْيِي الخ سره دد ے جواب ورکړو چه مثال د مُمثل له د پاره د وضاحت وي او د عنکبوت (جولاګۍ) مثال سره د توحید مسئله واضح کړ ے شو ے ده۔ د ے د پاره الله تعالیٰ دد ے اعتراضاتو په وجه د مثالونو بیانولو نه نه ویریږي۔

مشرکینو د انبیاؤ او اولیاؤ نه علاوه فرښتو او پیریانو ته هم اواز کُولو۔ لکه د الله پاك ارشاد د ے: وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا ثُمَّ يَقُولُ لِلْمَلَائِكَةِ أَهَٰؤُلَاءِ إِيَّاكُمْ كَانُوا يَعْبُدُونَ قَالُوا سُبْحَانَكَ أَنْتَ وَلِيُّنَا مِنْ دُونِهِمْ ۖ بَلْ كَانُوا يَعْبُدُونَ الْجِنَّ ۖ أَكْثَرُهُمْ بِهِمْ مُؤْمِنُونَ ۝ (سبا۔ ع ۵) د ے د پاره دد ے نه پس په څلورمه رکوع کښ ئے وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ

ملائکو سره د نوري ناري او خاکي بوه مسئله اصل واقعه بیان شي کړه او ثابت شي کړه چه ملائکو ته حضرت آدم خاکي د فطري خوبیانو پته هم اونه لګیده - په دې وجه هغه نه عالم الغیب دي او نه حاضر او ناظر. لهذا هغوی په حاجتونو کښې رابلل لائق نه دي او ابلیس او د هغه ذُرّیت خو د بنی آدم سره د ابتداء نه عداوت او دشمني ده - د دې وجې نه هغه شګه ستاسو حمایتي او د بللې لائق کیدے شي لکه څنګه چه په سورة کهف ع ۷ کښې دي: اَفَتَتَّخِذُوْنَهٗ وَذُرِّيَّتَهٗٓ اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِيْ وَهُمْ لَكُمْ عَدُوٌّ د غه شان د حضرت آدم علیه السلام نه خو په جنت کښې هیره شوے وه او معبود د دې عیب نه پاک وي، هغه هم د دُعا او بللې لائق نه دے.

مدینه منوره او د هغې په خواوشا کښې یهود قوم آباد وُو. هغوی کښې لوئے لوئے عالمان، پیران او نوابان موجود وُو. د دې وجې نه په یٰاَیُّهَا النَّاسُ کښې د توحید د دعوت عمومي طور باندې د بیانولو نه پس په پنځه رکوع کښې د خبرو مخه د یهودو طرف ته ګرځولے شوې ده چه اے عالمانو، پیرانو او نوابانو! د توحید مسئله اُومنئ. که چرے تاسو دا اُونه منله نو ستاسو د وجې نه به ستاسو معتقدین او ستاسو رعایا هم نه مني او د هغوی وبال به هم په تاسو پریوځي. د دې مسئلے منلو سره که چرے تاسو نه د دُنیا ریاست او نذر او نیاز او د دُنیا آمدن پریښودل وي نو صبر اُوکړئ، که چرے وے مني نو الله تعالیٰ به تاسو باندې د مخکښې پشان انعامات اُوکړي او که وے نه مني نو په عذاب کښې به مو ګرفتار کړي. دا ټے: اُذْكُرُوْا نِعْمَتِيَ الَّتِيْٓ اَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ ... تا ... وَاِيَّايَ فَارْهَبُوْنِ ه سره بیان کړو. بیا ئے د شپږم رکوع نه تر دیوَلسم رکوع د آخره پورې د یهود قوم د تذکیر او تفهیم د پاره د هغوی مختلف حالات او معاملات بیان کړل چه د هغې پنځه قسمونه دي.

اوّل قسم کښې هغه نعمتونه او عذابونه بیان شوي دي کوم چه د دوی په پلرونو نیکونو باندې شوي وُو د پاره د دې چه په موجوده بني اسرائیلو کښې د اُمید او ویرې جذبه پیدا شي او هغوی د توحید دعوی اُومني. دویم قسم کښې دا بیان کړے شوي دي چه د دوی پلرونو او نیکونو به د الله نافرماني کوله او په حکمونو کښې به ئے حُجّت بازي (اعتراضات) کول. دریم قسم کښې دا بیان کړے شوي دي چه موجوده بني اسرائیل هم د خپلو پلرونو او نیکونو پشان د الله تعالیٰ احکامات نه مني او د هغې نافرماني کوي. څلورم قسم کښې وئیلے شوي دي چه د موجوده بني اسرائیلو پلرونو او نیکونو صرف د انبیاء علیهم السلام په تکذیب باندې اِکتفاء اُونکړه بلکه کله چه هغوی د توحید مسئله بیان کړه نو دا خلق د هغوی د وژلونه هم بند نه شول. پنځم قسم کښې دا بیان دے چه مخکښو بني اسرائیلو د مخکښو انبیاؤ تکذیب اُوکړو او هغوی ئے قتل کړل لیکن موجوده بني اسرائیل د آخري نبي ﷺ تکذیب کوي او د دۀ راز په شوے دعوی توحید نه مني. د دے نه پس د یهودو قول: نُؤْمِنُ بِمَآ اُنْزِلَ عَلَيْنَا وَيَكْفُرُوْنَ بِمَا وَرَآءَهٗ پنځو طریقو سره رد کړے شوے دے. او په آخر کښې: قُلْ اِنْ كَانَتْ لَكُمُ الدَّارُ الْاٰخِرَةُ سره پیغمبر ﷺ ته

حکم ورکړے شو چه د دے تفصیلي وعظ او تذکیر سره هم یهودیان د حق ایت بانې رانشي او د توحید مسئله اُونه مني او د دے ضد بانې ټلک ولاړ دي چه جنت ته به صرف دوی ځي ، بل څوک به نه ځي نو دوی ته د مباهلے چیلنج ورکړي چه که چرے دوی په خپله دعوی کښې رښتوني دي نو د مباهلے میدان ته دِ راشي. هرکله چه یهود مباهلے ته تیار نه شول نو هغه وخت ئے په توحید بانې اعتراضات کول شروع کړل او د غیرالله د بللے د جواز ثابتولو په کوشش کښې لګیا شول. اوله شبه د هغوی دا وه چه د توحید دعوی کومه چه په يَا أَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوا کښې ذکر ده ، د دے راوړونکے جبرئیل فرشته ده او هغه او میکائیل دواړه زمونږ پخواني دشمنان دي او زمونږ مخالفت کوي. د دے وجے نه دا توحید دعوی هم محض زمونږ د مخالفت د پاره ده. مونږ دا هیڅ کله نه منو. دویمه شبه د دوی دا وه چه زمونږ اوراد او وظائف کوم چه د حضرت سلیمان علیه السلام نه نقل سره مونږ ته رارسیدلي دي ، هغے کښې غیرالله رابلل موجود دي چه د هغے نه معلومیږي چه هغه پخپله هم غیرالله ته اواز کولو او په دے د هغه د حکومت مدار وو. د هغوی دریمه شبه دا وه چه هاروت او ماروت دوه فرشتے وے کومے چه الله تعالی دنیا ته د جادو ښودلو د پاره رالیږلے وے او جادو کښې غیرالله رابللے شي. نو هرکله چه الله تعالی غیرالله ته د اواز او بللے د تعلیم د پاره پخپله فرشتے راولیږلے نو بیا دا ولے ناجائز دے. نو الله تعالی په رکوع نمبر ۱۲ کښې ، قُلْ مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِّلّٰهِ الخ سره د اولے شبے جواب او ، وَلَمَّا جَآءَهُمْ رَسُوْلٌ ... نه تر ... وَمَا كَفَرَ سُلَيْمٰنُ وَلٰكِنَّ الشَّيٰطِيْنَ كَفَرُوْا سره د دویمے شبے جواب. او وَمَا أُنْزِلَ عَلَى الْمَلَكَيْنِ سره ئے د دریمے شبے جواب ورکړو.

هرکله چه د شبهاتو تسلي بخش جواب ورکړے شو او اُوس د هغوی د انکار د دعوی هیڅ وجه په نظر رانغله. نو اُوس ئے دا سازش اوکړو چه مسلمانانو سره ګډوډ اوسیږي او خفیه طور بانې د دوی کښې موهم شرک الفاظ داخل کړي د پاره د دے چه په مزه مزه غیر شعوری طور بانې مسلمانان بیا په شرک کښې مبتلا شي نو د دے نه پس الله تعالی مسلمانان د یهودو د سازش نه خبر کړل او مسلمانانو ته ئے حکم ورکړو چه هغوی نبي علیه السلام ته "رَاعِنَا" لفظ ویل پریږدي ځکه چه دا لفظ یهودو د خپل پټ سازش لاندے مسلمانانو کښې رائج کړے وو چه د دوی ذهن کښې دا تصور پیدا کړي چه د الله رسول هم نګهبان دے. او دا رنګے بیا د شرک په جال کښې راګیر کړے شي ځکه چه رَاعِنَا د مُرَاعَاة نه دے چه د دے معنی نګهباني کول ده او د رَاعِنَا معنی به شي نګهباني اوکړه زمونږ. نو الله تعالی د دے په ځائے د اُنْظُرْنَا ویلو حکم ورکړو. په اخر کښې ئے ، فَاعْفُوْا وَاصْفَحُوْا سره دا اوفرمائیل چه اهل کتاب ضد او عناد او بغض حسد کښې دومره لرے تللي دي چه هغوی به ئے هیڅکله اُونه مني. د دے وجے نه چه ترڅو پورے د جهاد حکم نه وي راغلے نو هغه وخته پورے د صبر تحمل او عفو درګذر نه کار واخله.

دے نه پس ئے د یهودو او نصاراؤ او مشرکینِ عرب د پنځه معاندانه خبرو شکوه اوکړه او د هغې جواب ئے ورکړو.

اوله شکوه:- د یهودو او نصاراؤ دعوه وه چه د دوی نه علاوه به هیڅوک جنت ته نه ځی نو الله تعالیٰ قُلْ هَاتُوْا بُرْهَانَكُمْ سره د دے جواب ورکړو.

دویمه شکوه:- یهودیانو به وئیل چه د عیسایانو دین باطل دے او عیسایانو به وئیل چه د یهودیانو دین باطل دے. كَذٰلِكَ قَالَ الَّذِيْنَ ع ۱۳ سره ئے د دے جواب ورکړو.

دریمه شکوه:- مشرکانو به د الله په کور کښې د الله پاک د توحید بیانولو نه او خاص هغه ته د اواز کولو نه منع کوله ځکه چه په مقام حُدَیبیه کښې مشرکانو نبی علیه السلام او صحابه کرامؓ بیت الله ته د داخلیدو نه منع کړل. أُولٰٓئِكَ مَا كَانَ لَهُمْ الخ سره ئے د دے جواب ورکړے دے.

څلورمه شکوه:- یهودیانو به وئیل چه حضرت عُزیرؑ د الله ځوئے او نائب دے. عیسایانو حضرت عیسیٰ او مشرکانو به فرشتے د الله پاک اولاد گڼړلو او دوی به ئے په کارسازئ کښې د الله نائبان گڼړل. سُبْحٰنَهٗ بَلْ لَّهٗ مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الخ سره ئے د دے جواب ورکړو.

پنځمه شکوه:- مشرکانو به وئیل چه الله مونږ سره ولے خبرے نه کوی، که چرے هغه مونږ سره مخامخ خبرے اوکړے نو مونږ به ئے اومنو. كَذٰلِكَ قَالَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ سره ئے د دے جواب ورکړو. نبی علیه السلام سره به هر وخت دا فکر وو چه مشرکین او اهلِ کتاب ایمان راوړی نو الله تعالیٰ ورته تسلی ورکړه چه ستاسو فرض صرف دا دی چه تاسو دوی ته د توحید دعوت اورسوئ. باقی دوی با نیِ منل ستاسو کار نه دے. او که تاسو دا غواړئ چه یهود او نصاریٰ به ستاسو نه خوشاله شی نو هغوی به صرف په دے شرط ستاسو نه خوشاله شی چه تاسو د هغوی دین قبول کړئ او د هغوی د خواهشاتو پیروی اوکړئ. دے ته روستو ئے وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ اَهْوَآءَهُمْ کښې د زجر په طور اُوفرمائیل چه د الله پاک له طرفه د علم او وحی راتللو نه پس که چرے تاسو د دوی د خواهشاتو تابعداری اوکړه نو بیا به ستاسو د الله پاک نه بچ کولو څوک نه وی.

د سورة په ابتداء کښې ئے د توحید دعوی اَلَّذِىْ خَلَقَكُمْ عقلی دلیل سره ثابته کړے وه. اوس د یهودو حالات بیانولو نه پس اَلَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ سره د توحید په دعوی بانیِ نقلی دلیل پیش کړے شوید دے چه په یهودو کښې علماء ربانیین شته چه هغوی دا دعوی منی. د دینه پس يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اذْكُرُوْا (ع ۵) سره بنی اسرائیلو ته دوباره یاددهانی او یادداشت کولو سره د توحید بحث ختم کړے شوے دے. مخکښې د رسالت بحث دے. دینه روستو پنځلسمه رکوع کښې د ۱

اِذِ ابْتَلٰى اِبْرٰهٖمَ رَبُّهٗ نه دوه ویشتمے رکوع کښ تر وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُتَّقُوْنَ پورے د رسالت بیان دے۔ اول ئے د تمهید په طور د حضرت ابراهیم علیه السلام ذکر کړے دے چه هغه مشرکینِ عرب او یهودو نصارا ؤ خپل روحانی او جسمانی پلار گڼړلو یعنی حضرت ابراهیم علیه السلام چه د لوئے درجے پیغمبر وُو، او په هر ازمیښت کښ کامیاب شوے وو، او چا چه خانه کعبه جوړه کړے وه هغهٔ د الله تعالیٰ نه دُعا غوښتے وه چه اے الله! په زمکه کښ یو پیغمبر اولیږه۔ اوس هغه رَسُوْلٌ راغلے دے او هغه رسول ﷺ خه نوے دعوی نهٔ ده کړے بلکه د ابراهیم علیه السلام نه واخله تر عیسیٰ علیه السلام پورے چه څومره پیغمبرانو کړے وه هغے سره ایمان لری. مونږ به صرف د الله تعالیٰ عبادت کوُو او صرف هغه به رابلو۔ دے سره سره د یهودو او نصاراؤ د درے غلطو پروپیگنډو جواب هم ورکړے شوے دے۔ اوله پروپیګنډه د هغوی دا وه چه حضرت یعقوب علیه السلام د وفات په وخت دا وَصِیَّت کړے وُو چه د وفات نه پس هغه رابلئ. نو الله تعالیٰ اَمْ كُنْتُمْ شُهَدَآءَ سره د دے رد اوفرمائیلو۔

دویمه پروپیګنډه د هغوی دا کوله چه یهودو به وئیل چه د حضرت ابراهیم علیه السلام نه واخله تر عیسیٰ علیه السلام پورے ټول پیغمبران یهودیان وُو او عیسایانو به وئیل چه هغوی عیسایان وُو. په دے وجه د هغوی دعویٰ وه چه هدایت صرف یهودیت او نصرانیت کښ منحصر دے او د غه رنګے به ئے خلق خپل دین طرفته مائل کوُل او رابلل. نو الله تعالیٰ قُلْ بَلْ مِلَّةَ اِبْرٰهٖمَ حَنِیْفًا او قُلْ ءَاَنْتُمْ اَعْلَمُ اَمِ اللّٰهُ د سره د دے جواب ورکړو۔

دریمه پروپیګنډه د هغوی دا وه چه مونږ د پیغمبرانو اولاد یُو، د دے وجے نه په مونږ به هیڅ مؤاخذه نشته او مونږ به د هغوی په طُفیل جنت ته ځو. نو الله تعالیٰ تِلْكَ اُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ سره تاکیدًا دوه ځله د دوی د دے نظریے تردید اوکړو۔

د دے نه روستو د مشرکینو او یهودوله طرفه د حضرت خاتم النبیین ﷺ په رسالت باندے دوه شبهے وارد کیدلے، د هغے جواب ئے ورکړے دے۔

اوله شبه دا وه چه د بنی اسرائیلو د ټولو نبیانو علیهم السلام قبله بیت المقدس ؤ او دے پیغمبرﷺ شپاړس اولس میاشتے هغے طرفته مونځونه کوُل لیکن اوس هغه خانه کعبے طرفته مخ کړځولو سره مونځ کوی۔ د دے نه صفا معلومیږی چه دے د بنی اسرائیلو د پیغمبرانو نه خلاف دے۔ د دے باندے اصلی قبله مشتبه شوے ده او حیران سرګردان دے۔ نو الله تعالیٰ د دے شبهے په جواب کښ د تحویلِ قبله څلور علتونه بیان کړل۔ دوه اجمالی او دوه تفصیلی۔ لِلّٰهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ سره ئے اولنے اجمالی علت بیان کړو چه ټول طرفونه د الله دی۔ هغه چه کوم طرفته اوغواړی د مخ کرځولو حکم ورکوی۔ اِنَّ الَّذِیْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ کښ ئے دویم اجمالی علت بیان کړو چه د یهودو علماءنو او اهلِ کتابو ته ښه معلومه ده چه د آخری پیغمبر قبله به خانه کعبه وی اګرچه اوس

حق پټوی. او وَمَا جَعَلْنَا الْقِبْلَةَ الَّتِي كُنْتَ عَلَيْهَا سره ئے اول لمے تفصیلی علت بیان کړو چه تحویلِ قبله نه مخلص او غیر مخلص امتحان مقصود دے. او لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَيْكُمْ حُجَّةٌ کښ د دویم تفصیلی علت بیان اوکړے شو چه د تحویلِ قبله حُکم خو په تورات او انجیل کښ موجود دے. که چرے د تحویلِ قبله حُکم نه راتلے نو اهلِ کتاب ته به بیو ځنا په لاس راتلے. د دے نه پس مؤمنانو ته حُکم ورکړے شوید ے چه هغوی دِ د الله تعالیٰ شکر ادا کړی چه د اخری او ذُوقبلتین (دوو قبلو والا) پیغمبر په اُمت کښ د کیدلو شرف ئے ورته ورکړو.

دویمه شبه د هغوی داوه (بلکه د بعضو نوو مسلمانانو په زړونو کښ هم دا خیال تیرشو) چه په صفا او مروه بانډې خو ترننه پورے د بُتانو عبادت کیږی. اُوس دلته د حج په موقعه بانډې د الله تعالیٰ د عبادت حُکم ورکړے شوے دے حالانکه دا ځائے د دے قابل نه دے نو إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللَّهِ (ع ۱۹) سره ئے د دے جواب ورکړو چه صفا او مروه خو د الله د دین د یاد ګارونو نه دی او اُوس د بُتانو نه پاک شوی دی. د دے دپاره اُوس دلته بغیر شک شبهے عبادت کوئ. د دواړو شبهاتو په مینځ کښ ئے: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَعِينُوا بِالصَّبْرِ وَالصَّلَاةِ د سره مسلمانانو ته د صبر او استقلال تلقین اوکړو. ممکن ده چه د تحویلِ قبله نه پس اهلِ کتاب او مشرکینو سره مخالفت زیات شی او تاسو ته د هغوی له طرفه مالی او ځانی نقصان اُورسیږی. د دے دپاره تاسو صبر کوئ، او ثابت قدم اُوسیږئ. د شبهاتو د ازالے نه پس ئے إِنَّ الَّذِينَ يَكْتُمُونَ نه تر وَلَا هُمْ يُنْظَرُونَ پورے ئے د اهلِ کتابو عُلمائو ته زجر ورکړو چه هغوی به حق پټولو پابه ئے ترینه انکار کولو. وُرپانډے ئے وَإِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ سره د هغه دعوئ توحید ذکر اُوکړو د کوم په پټولو او انکار بانډے چه اهلِ کتابو ته زجر ورکړے شو. د دعوے عقلی دلیل سره د ثنا بتؤلو نه پس وَمَا هُمْ بِخَارِجِينَ مِنَ النَّارِ پورے د هغه خلقو دپاره تخویفِ اُخروی دے چه د توحید دعوی نه منی او د محبت او بندګئ چه کوم تعلق دوی د پاره الله تعالیٰ سره پکار دی، دوی دا تعلق غیر الله سره ساتلے دے. د دے نه روستو تمثیلاً د هغه تعلق بیان دے په کوم کښ چه دوه څیزونه ذکر شوی دی.

اول تحریماتِ عباد یا تحریمات غیرالله:۔ يَا أَيُّهَا النَّاسُ كُلُوا نه تر إِنْ كُنْتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ (ع ۲۱) پورے د دے بیان چه دا بحیرے او سائبے وغیره کومے چه تاسو د خپله ځانه حرام ګرځولی دی، دا حرام نه دی بلکه حلال طیب دی. دا خوری او د خپل ځان نه څه څیز حرام او حلال مه ګرځوئ.

دویم نذرِ د غیرالله:۔ د دے ذکر ئے إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ سره اُوکړو چه کوم څیزونه د غیرالله خوشالولو دپاره د هغوی په نوم د نذر او نیاز په طور ورکوی هغه حرام دی او د دے سره ئے د دے نور محرمات هم ذکر کړل. مخکښ د إِنَّ الَّذِينَ يَكْتُمُونَ نه تر د لَفِي شِقَاقٍ بَعِيدٍ پورے هغه خلقو دپاره زجر او تخویفِ اُخروی دے څوک چه

حق خبره نه پیا منوی او د غیر الله نذر و نیاز منئ. او نور د باطلو طریقو سره د خلقو مالونه
خوری.

وتحویل قبله نه روستو یهودو او نصاراؤ د نبی کریم ﷺ او مسلمانانو خلاف
معاندانه پروپیګنډه تیزه کړه او هغوی به نیکی او عمل صالح د خپلې قبلې په تابعدارۍ
کښی منحصر کړه. نو الله تعالیٰ لَیْسَ الْبِرَّ اَنْ تُوَلُّوْا نه تر اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُتَّقُوْنَ ه پورې د دې
جواب ورکړو چه اصل نیکی د خاص طرفونو پابندی نه ده بلکه اصل نیکی هغه عمل صالح
دے. ځکه چه ایمان راوړی او د شرک نه بچ شی او نیک کارونه کوی، په اصل کښی
نیکان او متقیان همدا خلق دی. د دے ځائے پورے اوله حصه ختمه شوه. دویمه
حصه شروع کیږی چه په هغے کښی د جهاد فی سبیل الله او انفاق فی سبیل الله ذکر دے.
جهاد فی سبیل الله صرف هغه قوم کولے شی چه په خپل مینځ کښی منظم وی او اندرونی
نظم او نسق صحیح وی. په دے وجه جهاد سره سره د امورِ انتظامیه ذکر کړے شوے
او دے متعلق د اسلامی طرزِ عمل وضاحت کړے شوے دے او د امورِ انتظامیه
باره کښی د اسلامی احکامو صحیح طور باندې صرف د هغے صورت کښی پابندی کیدے شی
کله چه د انسان د باطن اصلاح اوشی او د هغه په طبیعت کښی د صلاح او تقویٰ خوبیانے
پیدا شی. دے د پاره امورِ انتظامیه سره اوله په اوله د امورِ مصلحه ذکر شوے دے
او د امورِ انتظامیه ذکر درے ځایه راغلے دے. اول یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا كُتِبَ
عَلَیْكُمُ الْقِصَاصُ سره حکم د قصاص او كُتِبَ عَلَیْكُمْ اِذَا حَضَرَ سره حکم د وصیت او
بیا رکوع نمبر ۲۳ کښی وَلَا تَاْكُلُوْٓا اَمْوَالَكُمْ بَیْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ سره د ناحق مال خوړلو،
رشوت او ناجائزه مقدماتو نه منع شوی ده. د دینه پس قرآنی تللو سره سره بیا د
امورِ انتظامیه بیان اوکړو. وَلَا تَجْعَلُوا اللّٰهَ عُرْضَةً (ع ۲۸) سره د قسم احکام او لِلَّذِیْنَ
یُؤْلُوْنَ سره د ایلاء او وَالْمُطَلَّقٰتُ یَتَرَبَّصْنَ سره لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ (ع ۳۱) پورې
د نکاح او طلاق، عدت او رجعت، رضاعت او نفقے سره د حسنِ معاشرت احکام بیان
کړی دی. او بیا رکوع نمبر ۳۹ کښی اِذَا تَدَایَنْتُمْ بِدَیْنٍ سره سره د قرض، خرڅولو اخستلو،
خپل مینځ کښی د لین دین او شهادت وغیره احکام بیان کړی دی. د دے امورِ انتظامیه
مینځ کښی درے امورِ مصلحه بیان کړے شوی دی.

یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا كُتِبَ عَلَیْكُمُ الصِّیَامُ سره سره د روژے، وَاَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ
لِلّٰهِ (ع ۲۴) سره د حج او حَافِظُوْا عَلَی الصَّلَوٰتِ (ع ۳۱) سره سره د مانځه حکم ورکړے دے.

د درے امورِ انتظامیه او یو امرِ مصلح نه روستو: وَقَاتِلُوْا فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ (ع ۲۴)
سره سره د جهاد حکم نازل کړو او ورسره سره وَاَنْفِقُوْا فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ سره د الله په لاره
کښی د خرچ کولو حکم ورکړو ځکه چه د انفاق نه بغیر جهاد نشی کیدے. د دینه پس وَمِنَ
النَّاسِ مَنْ یُّعْجِبُكَ (ع ۲۵) نه اَلَآ اِنَّ نَصْرَ اللّٰهِ قَرِیْبٌ (ع ۲۶) پورې سره د مختلفو طریقو
سره د جهاد ترغیب ورکړے دے. د دے نه روستو یَسْـَٔلُوْنَكَ مَاذَا یُنْفِقُوْنَ سره سره

د انفاق بيان مکرر کړے دے او بيا ئے كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ سره د جهاد حکم ورکړے
دے نه روستو ئے رکوع نمبر ۲۷ کښې په اَشْهُرِ حَرَام کښې د قتال باره کښې د يو سوال جواب
ورکړے دے چه دے د عزت والا مياشتو کښې قتال واقعي چه لويه ګناه ده د نيکئ د
توحيد نه او مسجدِ حرام کښې د الله پاک د خالص عبادت نه بندول او کفر او شرک خورول
دے نه هم لويه ګناه ده او د فساد بندولو د پاره دے مياشتو کښې قتال جائز دے ـ
چونکه اَشْهُرِ حَرَام کښې د قتال د وه جهتونه وو، يو د جواز دويم د عدم جواز ـ په دې وجه
دے مناسبت سره ئے پنځه دوه جهتين مسائل د دے نه پس نور هم بيان کړيدى ـ (۱) شراب
او جوارى (۲) انفاق (۳) د يتيم خرچ خپل خان سره ساتل (۴) د اهلِ شرک نکاح
(۵) د حائضې ښځے سره د کوروالے ـ

بيا په اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ خَرَجُوْا کښې ئے د بنی اسرائيلو يو واقعه بيان کړے ده ؛
څوک چه د مرګ نه تختيدلى وو ليکن بيا هم د مرګ نه بچ نه شول ـ د دے نه پس ئے قَاتِلُوْا
فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ سره د ريجه حل د جهاد حکم ورکړو ـ او مَنْ ذَا الَّذِيْ يُقْرِضُ سره ئے د انفاق
ترغيب ورکړو ـ د دے نه روستو ئے اَلَمْ تَرَ اِلَى الْمَلَاِ نه تر ذُوْ فَضْلٍ عَلَى الْعٰلَمِيْنَ پورے
هم د جهاد ترغيب دے ـ دکښې بيان کړے شوے دے چه په الله تعالى باندې بهروسه کړے
او د هغه د توحيد د مونځ ورونکے جماعت هم لوئے جماعت باندې غالب کيدے شى ـ د
دے نه روستو يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اَنْفِقُوْا سره د انفاق حکم دے او بيا د اَللّٰهُ لَاۤ اِلٰهَ
اِلَّا هُوَ نه تر الْعَلِيُّ الْعَظِيْمُ پورے ئے د توحيد دعوے سره دليلِ عقلى مکرر بيان کړے
چه د هغے د وجے نه جهاد او انفاق مشروع کړے شويدى ـ د دے نه پس ئے دوه قاعدے
بيان کړيدى ـ

اوله قاعده:- که چرے د ايمان والو په زړونو کښې شبهات پيدا شى نو الله تعالى
د هغوى شبهات لرے کولو سره هغوى ته د توحيد لاره واضحه کوى ـ د دے بيان د اَللّٰهُ وَلِيُّ
الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا نه تر يُخْرِجُهُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ (ع۳۳) کښې دے ـ

دويمه قاعده:- کوم خلق چه د عناد په وجه حق پټ کړى، شيطان په هغوى باندې
مسلط شى او هغوى تر دے حده ګمراه کوى چه د هغوى په زړونو باندې د جبارئيت مهر ولګى
وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْۤا نه تر فِيْهَا خٰلِدُوْنَ د پورے د دے ذکر دے ـ د دے نه روستو دے دواړو
قاعدو باندې د لَفّ او نشر مرتب په طور درے قصے متفرع دى، د نمرود سرکشى او د حضرت
ابراهيم عليه السلام سره مناظره ـ دا په دويمه قاعده متفرع ده او د دے نه روستو د حضرت عزير او
حضرت ابراهيم عليه السلام دواړو واقعے په اولئ قاعده باندې متفرع دى ـ د دے ځائے پورے خو
د جهاد بيان راغلے وو او د انفاق کم ـ اوس د ځائے نه د انفاق اکثرو اړخونو تفصيلى بيان
دے ـ مَثَلُ الَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ (ع۳۶) نه تر وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ (ع۳۸) پورے د انفاق ذکر دے
د دے سلسله کښې مخصوص طريقو سره د فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ خرچ کولو ترغيب ورکړے شوے دے ـ
خرچ کولو کښې د ريا کارئ او غرورے نه د بچ کيدلو او خصوص د الله پاک د رضا لټولو د پاره د

خرڅ کولو ترغیب ورکړے شوې دے۔ د قصاص، وراثت او خبر اتو د مُستحق متعلق خبرې شوې دي او خيرات چا ته ورکول پکار دي؟ د الله په لاره کښې هغه خرڅ کول پکار دي او د دے نه علاوه د انفاق متعلق ډیر احکام بیان کړے شوي دي. او ورسره د سُود حُرمت او د سُود خورو د بیا پره دُنیوي او اُخروي نقصانو نه بیان کړے شوي دي. د دے نه روستو د رکوع شل په ابتداء کښې لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ سره د توحید دعوٰی د اثبات د پاره څلورم دلیل بیان کړے شوے دے او هر کله چه په ټول سورت کښې د توحید دعوٰی مختلف عقلي او نقلي دلیلونو سره ثابته کړے شوه او دا واضحه شوه چه د الله نه سوا اليغوث د ابیللو لائق نشته او د الله نه سوا بل څوک د نذر او منتونو مُستحق نشته او نه د هغه مقابله کښې څوك شفیع غالب شته نو په آخر کښې: اٰمَنَ الرَّسُوْلُ بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِ مِنْ رَّبِّهٖ سره اعلان اوکړو چه د الله رسول ؐ او ټولو مؤمنانو د توحید نظریه كَمَا حَقَّهٗ منلے ده. لهٰذا اوس دوی له صرف الله ته اواز کول پکار دي او د هغه په دربار فریاد او زاری کول پکار دي او هغه پورے خپل اُمید وړنه ترل او د هغه نه دُعا او التجاء کول پکار دي. د دے د پاره د سُورت په خاتمه د الله پاك نه د دُعا او د هغه د رابللو تعلیم ورکړے شوے دے۔

مختصر خُلاصه

د سُورة بقره مختصر خلاصه دا ده چه د دے دوه حصے دي. اوله حصه د سُورت د ابتداء نه تر وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُتَّقُوْنَ ۝ (ع ۲۲) پورے ده. او دوېمه حصه د هغه ځائے نه تر د سُورت اخره پورے ده. اوله حصه کښې دوه مضمونونه بیان شوي دي، توحید او رسالت. د سُورت د ابتداء نه وَلَا هُمْ يُنْصَرُوْنَ ۝ (ع ۵) پورے توحید او د وَاِذِ ابْتَلٰٓى اِبْرٰهٖمَ رَبُّهٗ نه د اولے حصے تر اخره پورے د رسالت بیان دے. گویا اوله حصه د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ تشریح ده. دوېمه حصه کښې د مسلمانانو د ظاهر او باطن د اصلاح طریقے او د اندروني نظام صحیح کولو د پاره انتظامي اُمور بیان کړل. د مشرکانو په مقابله کښې ورته د جهاد حُکم ورکړے شوے دے. گویا چه د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ په خاطر د مُشرکانو سره د جهاد حُکم ورکړے شوے دے۔

د سُورت روح

دیني او دُنیوي لحاظ سره مُنظم کیدلو سره د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ په خاطر مُشرکانو سره جهاد اوکړئ ؞



اوله حِصّه

① تمهید ② توحید او دَ دے متعلقات ③ رسالت او دَ دے متعلقات

تمهید :- تمهید کښې دوه خبرے بیان شوے دي. اول دا چه دَ کوم هدایت تاسو طلب کوئ هغه به تاسو ته دچرته نه ملاویږی؟ دویم دَ دے هدایت دَ نه او قبول یا انکار سره دَ خلقو دَ مختلفو ډلو ذکر. دیځواته دَ قدرت دا قانون دے چه هرکله یو دَ حق داعی دَ دین دعوت پیش کوی نو خلق دوه حصو کښې تقسیمیږی: څه منونکی او څه نه منونکی لکه دَ الله پاک ارشاد دے: وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا إِلَىٰ ثَمُودَ أَخَاهُمْ صَالِحًا أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ فَإِذَا هُمْ فَرِيقَانِ يَخْتَصِمُونَ (النمل - ع۴) ددینه پس که چرے اهلِ حق ته دنیوی اقتدار هم حاصل شی نو نه منونکو کښې یوه دَ خوشامدګرو ډله پیدا کیږی چه په ظاهره خو صحیح وی لیکن په باطن کښې خطرناک دشمن وی. دا رنګ دَ دعوتِ توحید آخری علمبردار حضرت محمد ﷺ کله دَ دینِ حق دعوت پیش کړو نو حضرت ابوبکر صدیق، حضرت خدیجه، حضرت علی او نور ځان نثاران راټکښې شول او دنبی علیه السلام په دعوت سره نیک اوید بد طرفته ابو لهب، ابو جهل، عتبه، شیبه او ولید وغیره ددوی په مخالفت کښې ملا اوتړله اول جماعت دنبی علیه السلام په صداقت، او ددوی په راوړلے شوے دین حقانیت باندے ژړه وخان سره ظاهرًا او باطنًا ایمان لرلو. دوی ته دَ مومنانو جماعت اووئیلے شو. دویم جماعت په ښکاره او په پټه دنبی علیه السلام دَ نبوت او صداقت نه منکر وو. دوی ته دَ کافرانو جماعت اووئیلے شو. دَ هجرت نه پس چه هرکله الله تعالیٰ نبی علیه السلام ته مادی طاقت او اقتدار هم ورکړو نو اوس په کافرانو کښې یوه ډله پیدا شوه چه هغوی دَ مادی فائدو او دنیوی معاملو په خاطر دوه رنګی چالونه شروع کړل. دے خلقو به دَ مسلمانانو په مخکښې اسلام ظاهرولو او دَ اسلام ظاهری احکام به ئے په ځائے راوړل لیکن په باطن کښې دَ نورو کافرانو په شان دَ کفر او انکار، او دَ شرک او عناد په نجاستونو باندے ککړ وو. دا دَ منافقانو ډله وه. ددوی حال دا وو چه کله به ئے دَ مسلمانانو په ملګرتیا کښې څه دنیوی نفع لیدله نو دوی سره به ئے ملګرتیا کوله او دوی ته به ئے وئیل: ذَرُونَا نَتَّبِعْكُمْ: مونږ هم خپل ځان سره پریږدئ (سورة فتح ع۲) او چه کله به پوهه شول چه دَ دوی ملګرتیا دَ مرګ او هلاکت مترادف ده نو وئیل به ئے: ذَرْنَا نَكُنْ مَّعَ الْقَاعِدِينَ (سورة توبه ع۱۱) چه مونږ دَ ورستو پاتے کیدونکو سره پریږدئ. او دَ دروغو بهانے به ئے جوړولے: إِنَّ بُيُوتَنَا عَوْرَةٌ (سورة احزاب ع۲) چه جناب زمونږ کورونه خالی دی.

الله تعالیٰ دے سورت کښې د توحید دعوې پیش کولو نه وړاندې د دے دریو ډلو ذکر کړے دے او ورسره ئے د دوی صفات او انجام هم بیان کړے دے د پاره د دے چه د دعوت توحید قبلولو او د دے د رد کولو نتیجے او عواقب ئے ته راشی او انسان په رد او قبول کښې سوچ فکر سره قدم او چت کړی۔

اَمرِ اَوّل (اَوله خبره)

د کوم هدایت چه تاسو تلاش او طلب کوئ نو کیدی هغه به تاسو ته د الله کتاب کښې ملاویږی ذٰلِكَ دا د حروف مقطعات نه دے چه کوم د قرآن مجید د نو لسُ ۲۹ سورتونو په ابتداء کښې راغلی دی۔ مفسرین کرام رحمهم الله د دے حروفو د دغه سورتونو په شروع کښې د ذکر کولو حکمتونه د دے ظاهری معانی او د دے تمثیلات بیان کړیدی۔ مفسرینو چه کوم څه بیان کړی دی، هغه ته د دے حروف مقطعات حقیقی معنے او د الله مرادونه نشی وئیلے، البته زیات نه زیات هغه فوائد سره تعبیرکیدے شی۔ دا حروف بے معنے او مهمل نه دی، د دے نه د الله تعالیٰ مراد ضرور متعین دے لیکن د دے راز د الله پاك نه بغیر هیچا ته معلوم نه دے۔ هذا علم مستور و سرّ محجوب استاثر الله تبارك وتعالیٰ به (تفسیر کبیر ص ۲۲۷ ج ۱، و روح المعانی بمعناه ص ۸۲ ج ۳) د خلفاء راشدینو او حضرت ابن مسعود رضی الله عنه نه نقل شوی دی۔ د غه شان عامر شعبی، سفیان ثوری، ربیع بن خیثم، ابن حبان او ابوبکر انباری رحمهم الله د دے قائل دی (قرطبی ص ۱۵۴ ج ۱، ابن کثیر ص ۳۶ ج ۱، بیضاوی ص ۶) د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه نه نقل دی: لِکُلِّ کتاب سرٌّ و سرّ القرآن اوائل السّور (روح المعانی ص ۱۰۰ ج ۱، تفسیر کبیر ص ۲۲۷ ج ۱) یعنی د هر کتاب یو راز وی او د قرآن راز د سورتونو ابتدائی حصے یعنی حروف مقطعات دی۔ امام شعبی رحمه الله فرمائی: سرّ الله تعالیٰ فلا تطلبوه (روح المعانی ص ۱۰۰ ج ۱، تفسیر کبیر ص ۲۲۷ ج ۱) یعنی حروف مقطعات د الله پاك راز دے، د دے طلب مه کوئ۔ د سورتونو په ابتداء کښې د دے حروفو د ذکر کولو چه کوم حکمتونه عامو مفسرینو ذکر کړی دی د هغے نه یو دا دے چه د اعمالِ شرعیه دوه قسمونه دی، یو هغه چه د هغے حکمت او علت زمونږ په عقل کښې راشی لکه مونځ، روژه او زکوٰة۔ دا خبره بنه په ذهن کښې راځی چه مونځ کښې د قیام، رکوع او سجود وغیره په ذریعه د خپل مالك او آقا په مخکښې د عاجزئ او بے چارګئ اظهار مقصود دے۔ روژے سره نفسانی خواهشات کمزوری شی، روحانی پاکیزګی ورسره حاصله شی او د لوږے تجربے سره د غریبانانو او لوږو سره همدردی پیدا کیږی او د زکوٰة په ذریعه د ضرورت نه زیاتی مال او دولت معتدل او محتاج طبقه کښې تقسیمولو سره د هغوی ضرورتونه پوره کولے شی۔ دویم قسم هغه اعمال دی د کوم علت او حکمت چه زمونږ په ذهن کښې نه راځی۔ لیکن مونږ د دا سے اعمالو په کولو بانے مکلف یو لکه چه د حج افعال دی مثلاً د صفا مروه په مینځ کښې سعی کول، طواف کښې رمل کول (یعنی اوګو وهلو سره تلل) او په جمراتو بانے کانړی ویشتل

کمالِ انقیاد او تسلیم دومره لوی دی چه د حکم د اکمین د هر حکم تعمیل ورته کوی نو که هغه حکم نه پوهیږی او که د هغه حکم علت په عقل کښ راشی یا رانه شی ځکه د اطاعت کولو دپاره د علت پوهیدل شرط نه دی بلکه دا په ایمان کښ داخل دی۔

د احکامِ شرعیه پیشان د قرآن هم دوه قسمونه دی۔ یو خو هغه دی د کوم مفهوم چه زمونږ په عقل کښ راتلے شی۔ دوهم متشابه او د هغے په معنو کښ د غور و فکر کولو او د هغے مطابق د عمل کولو حکم ورکړے شوی دے (تفسیر کبیر ص ۲۰۳ ج ۱)۔ د سورة آل عمران دوهم آیت هم دا مطلب دے۔ هُوَ الَّذِیٓ اَنۡزَلَ عَلَیۡكَ الۡكِتٰبَ مِنۡهُ اٰیٰتٌ مُّحۡكَمٰتٌ هُنَّ اُمُّ الۡكِتٰبِ وَاُخَرُ مُتَشٰبِهٰتٌ ؕ فَاَمَّا الَّذِیۡنَ فِیۡ قُلُوۡبِهِمۡ زَیۡغٌ فَیَتَّبِعُوۡنَ مَا تَشٰبَهَ مِنۡهُ ابۡتِغَآءَ الۡفِتۡنَةِ وَابۡتِغَآءَ تَاۡوِیۡلِهٖ ۚ وَمَا یَعۡلَمُ تَاۡوِیۡلَهٗۤ اِلَّا اللّٰهُ ۘ وَالرّٰسِخُوۡنَ فِی الۡعِلۡمِ یَقُوۡلُوۡنَ اٰمَنَّا بِهٖ ۙ كُلٌّ مِّنۡ عِنۡدِ رَبِّنَا ۚ وَمَا یَذَّكَّرُ اِلَّاۤ اُولُوا الۡاَلۡبَابِ ○ (ترجمه) هغه الله دا دے چه تاسو بانده ئے کتاب نازل کړو چه د هغے یو حصه هغه آیتونه دی چه محکم دی یعنی د هغے مطلب واضح او بښکاره دے دا آیتونه (ددے کتاب اصل مدار دے او دیکښ ځنے آیتونه داسے دی چه د هغے مُراد مشتبه دے نو چه د کومو خلقو په زړونو کښ کوږوالے دے نو هغوی د دین کښ فتنه پیدا کولو دپاره ددے مطلب تلاش کولو په غرض سره هغه پسے لګیدلے دی د کوم مُراد چه مشتبه دے حال دا دے چه د هغے مُراد د الله پاک نه بغیر بل څوک نه پیژنی کوم خلق چه پخه دین کښ پاخه دی هغوی دا وائی چه مونږ په دے باندے ایمان لرو چه دا ټول زمونږ د پروردګار له طرفه دی او نصیحت صرف هغه خلق قبلوی کوم چه د عقل خاوندان دی۔

ددے نه صفا معلومه شوه چه د قرآن آیتونه دوه قسمه دی۔ یو محکمات یعنی هغه آیتونه چه مطلب ئے معلوم او متعین دے۔ د هغے حکم دا دے چه د هغے مطابق عمل کول واجب دی۔ دویم قسم متشابهات یعنی هغه چه مُراد ئے مشتبه دے او د هغے صحیح مُراد د الله تعالیٰ نه سوا هیچا ته معلوم نه دے۔ د علماؤ راسخین د متشابهاتو متعلق دا عقیده ده چه دا ټول د الله پاک له طرفه دی لیکن اصلی مطلب ئے الله تعالیٰ پیژنی د متشابهاتو دوه قسمونه دی اول قسم حروف مقطعات چه د بعض سورتونو په ابتدا کښ راغلی دی لکه الٓمّٓ، الٓرٰ، الٓمّٓرٰ، طٰهٰ، حٰمٓ وغیره (ابن کثیر ص ۳۴۴ ج ۱، روح المعانی ص ۱۰۲، خازن و معالم ص ۲۰ ج ۱ ص ۲۶۹ ج ۱، قرطبی ص ۱۵۵ ج ۱)۔ او دویم قسم هغه الفاظ دی چه د هغے ظاهری او لغوی معنی خو معلومے دی لیکن د هغے اصل مُراد د الله نه سوا هیچا ته معلوم نه دے لکه د الله پاک طرفته د ید (لاس)، وجه (مخ) وغیره نسبت لکه فَاَیۡنَمَا تُوَلُّوۡا فَثَمَّ وَجۡهُ اللّٰهِ (بقره ع ۱۴) او یَدُ اللّٰهِ فَوۡقَ اَیۡدِیۡهِمۡ (الفتح ع ۱) ذٰلِكَ۔ د دے آیت کریمه کښ د ترکیب نحوی څو صورتونه دی۔ (۱) ذٰلِكَ الۡكِتٰبُ مبتدا او لَا رَیۡبَ فِیۡهِ جمله ددے خبر شو۔ (۲) ذٰلِكَ مبتدا او الۡكِتٰبُ ددے اول خبر او لَا رَیۡبَ فِیۡهِ خبر بعد خبر

شو. یا خانله جمله به شي. د دے صورت کښې به نو اَلْكِتٰبُ الف لام حقیقت د پاره وي او د ذٰلِكَ الْكِتٰبُ مطلب به دا وي چه هم دا کامل او صحیح معنو کښې کتاب یعني هم دا قرآن دے. (روح المعاني ص ١٠٦ ج ١) یا به د الْكِتٰبُ الف لام د عهد د پاره وي او د دے سره به اشاره وي هغه کتاب ته طرف ته وي د کوم د نزول بشارت چه د تورات او انجیل په ذریعه یهودو او نصارو ته ملاؤ شوے وو او هغوی ته معلومه شوے وه چه آخري پیغمبر به بني اسماعیل کښې وي او د هغه په اني به د الله پاك له طرف کتاب نازل وي. (روح المعاني ص ١٠٥ ج ١). لیکن د دے صورت کښې به لَا رَيْبَ فِيْهِ خانله جمله گرځول زیات مناسب وي او ترجمه به ئے دا دے شي بیشکه دا هغه کتاب دے د کوم بشارت چه تیرو شو پیغمبرانو ورکړے وو. ذٰلِكَ الْكِتٰبُ اي الكتب الذي اخبر الانبياء المتقدمون بان الله تعالى سينزل على النبي المبعوث من ولد اسماعيل. (تفسیر کبیر ص ١٣٧ ج ١)

ترکیب ع ع کښې په هُدًى لِّلْمُتَّقِيْنَ کښې دوه احتماله دي. یا خو به دا جمله د ذٰلِكَ الْكِتٰبُ د خبر نه روستو خبر وي یا به دا جُدا جمله وي او د دے مُبتدا به هُوَ محذوف وي. د دے دواړو ترکیبونو په صورت کښې به د لَا رَيْبَ فِيْهِ مطلب دا وي چه دد دے د الله له طرفه کید لو کښې او دده د مضامینو د صحت او واقعیت کښې هیڅ شك نشته. دلته نفس قرآن کښې د شك نفي مقصود ده. دا مطلب نه دے چه دده کښې د بیو بشر شك شبه نشته ځکه چه دیو انسان د قرآني مضامینو صحت کښې یا دده مِنْ عِنْدِ الله کید لو کښې شك کول د هغه د خپل تصور فهم نتیجه ده. دا رَيْب د هغه د خپل فهم کښې دے نه چه قرآن کښې. د دے د پاره دلته مقصود دا دے چه دا کتاب فی نفسه د هر قسم شك او رَيْب نه پاك دے. دده واضحه دلائلو او قاطع براهینو ده کښې د هیڅ قسمه شك ګنجائش پرے نخود ده. (قرطبي ص ١٥٩ ج ١، مدارك ص ١٠ ج ١، کبیر ص ٢٣٢ ج ١)

٣: ذٰلِكَ الْكِتٰبُ مبتدا. لَا رَيْبَ فِيْهِ جمله معترضه د پاره د تاکید. هُدًى لِّلْمُتَّقِيْنَ خبر. د دے صورت کښې به د آیت ترجمه دا شي: بیشکه دا کتاب ویریدونکو د پاره سراسر هدایت دے. د دے ترکیب په صورت کښې نه د رَيْب متعلق څه اشکال واردیږي او نه د بل یو لفظ مُقدّر منلو ته ضرورت شته. حضرت شیخ رحمة الله علیه به د دے ترکیب ته ترجیح ورکوله.

دلته یو شبه کیدے شي چه د قرآن د نورو آیتونو نه معلومیږي چه دا (قرآن) بلا تخصیص د ټولو انسانانو د پاره هدایت دے لکه څنګه چه ارشاد دے: هُدًى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنٰتٍ مِّنَ الْهُدٰى وَالْفُرْقَانِ (البقرة ع ٢٣) لیکن د دے آیت کښې د قرآن کریم هدایت کیدل صرف متقیانو د پاره خاص کړے شوي دي.

نو د دے جواب دا دے چه بلاشبه قرآن مجید تر قیامته پورے د ټولو انسانانو د پاره هدایت دے لیکن چونکه دده د هدایت نه صرف متقیان خلق فائده حاصلوي د چا په زړونو کښې چه د الله پاك ویره وي. په د دے وجه دلته ئے صرف د متقیانو ذکر کړے شوے. (تفسیر کبیر ص ٢٣٣ ج ١، روح المعاني ص ١١٠ ج ١). یا د متقیانو نه مراد: السنيين الى الله

الذین یتقون الضد ویجتنبون العناد. یعنې کوم خلق چه د الله پاک طرفته متوجه او د حق د لارې طالبان وي چه کله هغوي ضد او عناد پرېږدي او د انصاف په نظر د دې کتاب مطالعه اوکړي نو هغوي ته به د اکتاب یقیناً د هدایت لارې پرانزي او د هغوي زړونه به د هدایت نور سره روښانه او منور کړي. کما قال الله تعالیٰ. وَمَا يَتَذَكَّرُ اِلَّا مَنْ يُّنِيبُ (المؤمن ع۲). وَيَهْدِيْٓ اِلَيْهِ مَنْ يُّنِيبُ (الشوریٰ ع۲). مَنْ خَشِيَ الرَّحْمٰنَ بِالْغَيْبِ وَجَآءَ بِقَلْبٍ مُّنِيبٍ (ق ع۳). وَيَهْدِيْٓ اِلَيْهِ مَنْ اَنَابَ (الرعد ع۴) قاله الشیخ جزیره.

دویم امر

یعنې د هدایت قبلولو او د دې د رد کولو په اعتبار سره د خلقو د درې قسمونو بیان.

اول جماعت:- یعنې هغه خلق چه په ظاهر او باطن کښې مسلمانان دي. د دوي پنځه صفتونه بیان کړیدي. **اول** د متقیانو اولنۍ صفت يُؤْمِنُوْنَ. د ایمان نه ماخوذ دے او د ایمان معنی د د زړه نه منل او تصدیق کول (قرطبي ص۱۶۲ ج۱) او غیب هر هغه خیز ته وئیلے شي چه د عقل رسائي نه اخوا وي: ما لا یقع تحت الشعور ولا تقتضیه بداهة العقل (روح المعاني ص۱۱۳ ج۱) وهو قول جمهور المفسرین ان الغیب هو الذي یکون غائباً عن الحاسة (تفسیر کبیر ص۲۷ ج۱) او د دلته د غیب نه مراد هغه ټول خیزونه دي د کوم ادراک چه عقل او حس سره ممکن نه وي او د هغې متعلق چه کوم څه هم معلوم وي هغه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم اطلاع او اخبار سره معلوم دي مثلاً ذات باري تعالیٰ، فرښتې، اسماني کتابونه تېرکني انبیاء علیهم السلام، د برزخ احوال، د قیامت علامات، حشر نشر، صراط، میزان، جنت دوزخ وغیره. کل ما اخبر به الرسول علیه السلام مما لا تهتدی الیه العقول من اشراط الساعة وعذاب القبر والحشر والنشر والصراط والمیزان والجنة والنار (روح، قرطبي ص۱۶۳ ج۱) انما اخبر به الرسول صلی الله علیه وسلم في حدیث جبریل علیه السلام وهو الله تعالیٰ وملائکته ورسله والیوم الاخر والقدر خیره وشره (روح المعاني ص۱۱۳ ج۱، ابن کثیر ص۴۲ ج۱، قرطبي ص۱۶۳ ج۱، ابن جریر ص۷۸ ج۱) نو د ایت حاصل دا شو چه هغه خلق دا ټول امور کوم چه د عقل، فهم، حس او ادراک نه بهر دي، محض د نبي صلی الله علیه وسلم اطلاع پاندې یقیناً مني او د هغې تصدیق کوي. دلته یو خبره ذهن کښې کېنول پکار دي چه د عالم غیب ټول خیزونه او د هغې متعلق احوال او کوائف مثلاً عالم برزخ او بعد الحشر تفصیلات او کوائف به د مخبر صادق صلی الله علیه وسلم د بیان مطابق مني. خو تخمین او عالم شهادت باندې قیاس کولو سره د عالم غیب هیڅ یو خیز نه شي ثابتیدے. د عالم غیب امور کوم چه نصوص قطعیه سره ثابت دي مثلاً عذاب قبر، حشر نشر وغیره د هغې نه انکار کفر دے او کوم چه دلائل ظنیه سره ثابت دي مثلاً د شهیدانو ځنې کارونه د مړو د پاره فائده مند کیدل (مثلاً ایصال ثواب) د امت صلوٰة وسلام نبي علیه السلام ته رسیدل او په

عالَمِ برزخ کښې د اَرواحو اَجسادِ مثالیه کښې ښکاره کیدل، عبادات او نور نیک اعمال په خپلو مثالي شکلونو کښې ښکاره کیدل، دا امور حق دی، ددې نه انکار نه شي کیدې او دغه امور دې کوم چه محض ضعیف او یا کمزورو روایتونو باندې ثابت وي. دغه ته انکار سره په ایمان کښې هیڅ نقصان نه واقع کیږي. ددې امورو قبلولو او زړه کولو کښې به د قرآن ارشاداتو او صحیح روایتونو ته رعایت کولې شي. د مرو اَوریدل، د نبي ﷺ په وړاندې د اَعمالو پیش کیدل وغیره هم داسې امور دي. ددې امورو تحقیق به خپل مقام باندې راشي.

۵ــه د متقیانو څلورم صفت دا دې چه هغوی مونځ قائموي. د مونځ قائمولو نه د ټولو فرائض، واجبات، سُنن، مستحبات او حقوقو او اَدابو سره اَداکول مراد دي.

یأتون بحقوقها (تفسیر ابن جریر) عن ابن عباس اقامة الصلوٰة اتمام الرکوع والسجود والتلاوة والخشوع والاقبال علیها فیها وقال قتادة اقامة الصلوٰة المحافظة علی مواقیتها و وضوئها و رکوعها وسجودها.

(ابن کثیر ص ۴۲ ج ۱) اقامتها عبارة عن تعدیل ارکانها وحفظها من ان یقع خلل فی فرائضها وسننها واٰدابها (التفسیر کبیر ص ۲۵۱ ج ۱)

ددې عبارتونو خلاصه دا ده چه د مونځ یو ظاهري صورت دې او یو باطني حقیقت. ظاهري صورت خو دا دې چه د شرعي طریقې مطابق د مونځ کولو بدن، د هغه کپړې او د مونځ اَداکولو ځائ پاک وي او مونځ د ټولو ظاهري ارکانو او اَدابو او د ټولو حدودو پابندۍ کولو سره اداکړې شي. او د مانځه باطني صورت دا دې چه مونځ د الله تعالیٰ فریضه اوګڼلې شي او خالص د مولیٰ راضي کولو په خاطر پوره خشوع او خضوع سره اداکړې شي او د مونځ د دوران کښې صرف مونځ د خپل زړه د توجه مرکز اوګرځولې شي. د فاسدو خیالاتو او د شیطاني وسوسو نه زړه پاک او خالي کړې شي. لهٰذا د مونځ ټولو ظاهري او باطني حقوقو سره د اداکولو نوم اِقامتِ صلوٰة دې او هم دا د متقیانو دویم صفت دې. دې صفت کښې چه څومره اندازه کمال او نقص وي هم هغومره به په تقویٰ کښې فرق پریوځي.

۶ــه دا د متقیانو دریم صفت دې. بعض مفسرینو ددې ایت نه زکوٰة مراد اخستې دې لیکن اکثرو مفسرینو ویلې دي چه اَیت په خپل عموم باندې محمول دې او د ټولو حقوقِ مالیه اداکولو ته شامل دې، خواه هغه واجب وي یا غیر واجب مثلاً زکوٰة، نفلي صدقه، قرباني په خپل ځان او اَهل وعیال باندې خرچ کول وغیره.

واَولی التأویلات بالاٰیة واحقها بصفة القوم ان یکون کانوا لجمیع اللازم فی اموالهم مؤدین زکوٰة کان ذٰلك او نفقة من لزمته نفقته من اهل وعیال وغیرهم ممن تجب علیهم نفقته بالقرابة والملك وغیر ذٰلك.

(ابن جریر ص ۸۰ ج ۱، ابن کثیر ص ۴۳ ج ۱) ویدخل فیه الانفاق الواجب کالزکوٰة والنذر والانفاق علی النفس وعلی من تجب نفقته علیه والانفاق فی الجهاد

ادا ما وجب علیه والانفاق فی المندوب وهو صدقة التطوع ومواساة الاخوان
ونحو ذلك مما یحتاج الیها (خازن ص ۲۰ ج ۱)

الی ایة هم پخپل معنی کښې هم زیات د عموم متحمل دے. لفظ "مما" ډیر عموم او وسعت په
ځان کښې لري او ټولو انعاماتو ته شامل دے کوم چه الله تعالی انسان ته ورکړي دی خواه مادي
وي لکه مال، اولاد، دولت، ثروت او قوت او صحت وغیره. خواه علمي وي لکه علم،
عقل، فهم، فراست وغیره. لهذا دخپل قوت، صحت او اولاد په ذریعه دنورو خلقو
مرسته کول، په علم او حکمت چا ته زده کول او مفید، مخلصانه مشوره سره تعاون کول، دا
ټول په دے ایت کښې داخل دی؛ "الانفاق البذل من النعم الظاهرة والباطنة
ومنه لایقال مبه کنز لا ینفق منه (روح المعانی ص ۱۱۹ ج ۱) وقال بعض المتقدمین
فی تأویل قوله تعالی: وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ای مما علمناهم یعلمون (قرطبی ص ۱۷۹ ج ۱)

ــه دا د متقیانو څلورم صفت دے. په دے ایت کښې د دوو څیزونو ذکر دے. یو
هغه وحي کومه چه حضرت رسول الله ﷺ باندې نازله شویده. دویمه هغه وحي کومه
چه د مخکښنو پیغمبرانو باندې نازله شوې وه. د مخکښنو پیغمبرانو کتابونو باندې د ایمان راوړلو نه
مراد صرف دا دے چه هغه د الله پاک له طرفه اومنلے شي او رښتني اوګڼړلے شي.
هغه باندې عمل واجب نه دے. او د نبي کریم ﷺ وحي باندې د ایمان راوړلو مطلب دا
دے چه دا حق او من عند الله اومنلے شي دے سره دے باندې عمل هم اوکړے شي او خپل
ژوند دے د هغه ایت مطابق تیر کړے شي. د نبي علیه السلام وحي صرف په قران مجید کښې
منحصره نه ده بلکه د هغوي ټول دیني ارشادات کوم چه د احادیثو په کتابونو کښې موجود
دي دا ټول هم وحي ده. نو څرنګه چه په قران باندې ایمان راوړل ضروري دي. دغه رنګه
د قران نه علاوه نوره وحي منل هم فرض دي. د دے ایت نه معلومه شوه چه د
نبي کریم ﷺ نه پس وحي ختمه شوې ده. که جاري وے نو دلته به هغې باندې د ایمان
راوړلو ذکر هم ضرور شوے وو. د دے ایت کښې چه د کوم ایمان ذکر شوے دے، په
حقیقت کښې هغه د ایمان بالغیب یوه شعبه ده. د يُؤْمِنُوْنَ بِالْغَيْبِ الفاظ په ټول عالم غیب
باندې حاوي وو لیکن د دے ایت کښې د عالم غیب د دوه څیزونو ذکر خصوصیت سره شوے
یعني تیره شوے او موجوده وحي باندې ایمان راوړل. نو تخصیص بعد التعمیم سره یهودو
او نصارا ته کښې چه کوم مخلقو ایمان راوړے وو، د هغوي د عزت افزائي او فضیلت
اظهار مقصود دے. (روح المعانی ص ۱۲۰ ج ۱، تفسیر کبیر ص ۲۵۳ ج ۱، مظهری ص ۲۱ ج ۱)

ــه دا د متقیانو پنځم صفت دے. دلته د آخرت نه مراد دار آخرت یعني قیامت دے
نه چه نبوت څنګه د ختم نبوت د منکرینو خیال دے لکه بل ایت کښې ارشاد دے: وَ
اِنَّ الدَّارَ الْاٰخِرَةَ لَهِيَ الْحَيَوَانُ (عنکبوت ع ۷) قیامت باندې د ایمان راوړلو مطلب
دا دے چه حشر، نشر، حساب کتاب، جنت، دوزخ او د قیامت په ورځ چه کوم څه
کیدونکي دي هغه ټول هر څه منی او د هغې په وقوع باندې ایمان لري.

دے ځائے پورے خو دَ دعوت دَ قبلولو او دَ کتابِ هدایت نه دَ مُنتفع کیدونکو
دَ صفاتو او علاماتو ذکر وُو- اُوس الله تعالیٰ کښې دَ دے صفاتو ثمره او دَ دے دَ حاملینو دَ
اَجر بیان دے.

۵ دواړو ځایونو کښې دَ اُولٰٓئِكَ اشاره دَ ذکر شوو صفتونو حاملینو طرف ته ده : ای
المتصفون بما تقدم من الایمان بالغیب و اقام الصلوٰة و الانفاق من الذی رزقهم الله
(تفسیر ابن کثیر ص ۴۲ ج ۱) ای الذین هذه صفتهم (تفسیر خازن ص ۲۶ ج ۱) ای اهل هذه الصفة.
(معالم ص ۲۶ ج ۱) یعنی کوم خلق چه مذکوره صفتونو سره مُتصف دی، دُنیا کښې هغوی په نیغه
لاره دی او په آخرت کښې به هم دَ هغوی دَ طبیعت مطابق کامیابی وی، فان الهدی فی
الدنیا والفلاح فی الاٰخرة- (روح المعانی ص ۱۲۵ ج ۱) او دا هم کیدے شی چه دَ مُفْلِحُوْنَ
تعلق دُنیا او آخرت دواړو سره وی (تفسیر ابن کثیر ص ۴۳ ج ۱) یعنی په نیغه لاره باندې دَ تللو
او کتابِ هدایت باندې دَ عمل کولو په وجه به هغوی دُنیا کښې هم کامیاب وی او آخرت
کښې هم. اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ○ کښې هُمْ ضمیر فصل دے چه دَ حصر او تخصیص معنیٰ
پیدا کوی (تفسیر بیضاوی ص ۷، تفسیر مظهری ص ۲۲ ج ۱) معتزلو دے آیت سره استدلال کړے دے
چه دَ کبیره گناه مرتکب به همیشه په اُور کښې وی او هغه دَ پاره نجات نشته ځکه چه دَ دے
آیت کښې ذکر شوے فلاح مذکوره صفاتو والا مؤمنانو پورے مخصوص کړے ده- نو دَ دینه
معلومه شوه چه په چا کښې دا صفات نه وی هغوی به دَ فلاح نه محرومه پاتے وی. نو
دَ دے جواب دا دے چه دلته حصر دَ مطلق فلاح اعتبار سره نه دے بلکه دَ فلاحِ کامل
په اعتبار سره دے یعنی فلاح کامل خو صرف هغه خلقو پورے مخصوص ده څوک چه
مذکوره صفاتو سره متصف وی لیکن مطلق فلاح دَ وی پورے مخصوص نه ده بلکه کومو
خلقو کښې چه څه عملی کمے وی نو نجات او فلاح به هغوی ته هم په آخر کښې حاصله
شی

وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ○ یدل علی انهم الکاملون فی الفلاح فیلزم ان
یکون صاحب الکبیرة غیر کامل فی الفلاح (تفسیر کبیر ص ۲۵۷ ج ۱) المراد المفلحون
الکاملون فی الفلاح ویلزم منه عدم کمال فلاح من لیس منهم لا عدم الفلاح
مطلقا (تفسیر مظهری ص ۲۲ ج ۱، بیضاوی ص ۸)

دے ځائے پورے خو دَ هغه خلقو ذکر وُو چا چه کتابِ هدایت په سر سترگو منلے
دے او دا ئے دَ خپل ژوند دستور العمل گرځولے دے. اُوس وړاندې دَ دویم جماعت
ذکر دے.

موضع قرآن ف :- دا اَړومبے سُورت دے چه په مدینه منوّره کښې نازل شو لیکن
یو آیت چه په اتفاق سره دَ حجة الوداع په ورځ مِنیٰ کښې نازل شو. دَ دے سُورت دَ وړومبو
آیتونو دَ نزول سبب دا وُو چه مالك بن حُنَیف یهودی به دَ مؤمنانو په زړونو کښې شك
اچولو او وئیل به ئے چه دا هغه کتاب نه دے دَ کوم خبر چه مخکنو کتابونو کښې ورکړے

نکات ...

اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا سَوَآءٌ عَلَيْهِمْ ءَاَنْذَرْتَهُمْ اَمْ لَمْ

بیشکه کوم خلق چه منکر شوي دي برابر دي په دوی باندي که ته دوی وېروې او که ونه

تُنْذِرْهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿٦﴾ خَتَمَ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ

وېروې دوی ایمان به را نه وړي مهر کړی دی الله په زړونو د دوی باندي او په غوږو باندي

وَعَلٰى سَمْعِهِمْ ۭ وَعَلٰٓى اَبْصَارِهِمْ غِشَاوَةٌ ۡ وَّلَهُمْ

د دوی په سترګو باندي پرده ده او د دوی دپاره

عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿٧﴾ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّقُوْلُ اٰمَنَّا

لوی عذاب دی. او د خلقو نه ځنې داسي هم شته چه وايي موږ ایمان راوړی

بِاللّٰهِ وَبِالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَمَا هُمْ بِمُؤْمِنِيْنَ ﴿٨﴾

په الله او په ورځ د قیامت باندي او دوی هرګز مؤمنان نه دي.

يُخٰدِعُوْنَ اللّٰهَ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ۚ وَمَا يَخْدَعُوْنَ

دهوکه کوي الله سره یعني ایمان والو سره او په اصل کښي چا ته دهوکه نه ورکوي

اِلَّآ اَنْفُسَهُمْ وَمَا يَشْعُرُوْنَ ﴿٩﴾ فِىْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ

بیکن ځېل ځان ته او سوچ نه کوي ځکه ... د دوی په زړونو کښي بیماري ده

فَزَادَهُمُ اللّٰهُ مَرَضًا ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۢ بِمَا

بيا زیاته کړه الله د دوی بیماري او د دوی دپاره دردناک عذاب دی د دې خبرې

كَانُوْا يَكْذِبُوْنَ ﴿١٠﴾ وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ لَا تُفْسِدُوْا

چه دروغ يې ویل. او کله چه ورته ویلی شي چه فساد مه کوي

فِي الْأَرْضِ قَالُوا إِنَّمَا نَحْنُ مُصْلِحُونَ ﴿١١﴾ أَلَا

په ځمکه کښې ګډه نو وائي مونږ هم اصلاح کوونکي يو ګله پوهه شئ

إِنَّهُمْ هُمُ الْمُفْسِدُونَ وَلَٰكِن لَّا يَشْعُرُونَ ﴿١٢﴾ وَ

هم دوی دي نقصان کوونکي ګله ليکن نه پوهيږي ګله او چه

إِذَا قِيلَ لَهُمْ آمِنُوا كَمَا آمَنَ النَّاسُ قَالُوا

کله ويلې شي دوی ته ايمان راوړئ څنګ چه ايمان راوړو نورو خلقو يعني ګله صحابه کرامو نو وائي

أَنُؤْمِنُ كَمَا آمَنَ السُّفَهَاءُ ۗ أَلَا إِنَّهُمْ هُمُ

آيا مونږ ايمان راوړو څنګه چه ايمان راوړو بيوقوفانو ګله پوهه شئ هم دوی دي

السُّفَهَاءُ وَلَٰكِن لَّا يَعْلَمُونَ ﴿١٣﴾

بيوقوفان ګله ليکن نه پوهيږي ګله

نکات:- ا دويم جماعت هغه کافران چه د مهر جباريت لاندې راغلي دي ۲ دريم جماعت ذکر چه د مهر جباريت لاندې راغلي دے۔

موضح قرآن:- ف۱ دا ايت د هغه خلقو په حق کښې نازل شو د چا مرګ چه الله تعالىٰ ته په خپل قديم علم باندې معلوم کړے شو لکه عُتبه، شيبه، ابو جهل او وليد بن مغيرة۔ ف۲ دد ے ايت د نزول سبب دا دے چه حضرت علی کرم الله وجهه ابن ابي منافق او د هغه ملګرو ته اُو ويل چه د الله تعالىٰ نه اُو ويريږئ او منافقت مه کوئ۔ هغوی په جواب کښې اُو ويل چه اے ابو الحسن! د نفاق نسبت مونږ ته کوے، سره د دے چه مونږ مؤمنان يو۔ الله تعالىٰ د دے کلام رد کولو د پاره دا ايتونه نازل کړل۔ ف۳ يو آزار دا وُو چه قوم دين ئے زړه نه غوښتلو هغه ئے مجبوراً قبول کړو او دويم آزار الله تعالىٰ زيات کړو او د جهاد حکم ئے ورکړو۔ چه د چا خيرخواه وُو هغوی سره جنګ اُوشو۔

دويم جماعت (کُفَّار)

تفسير:- دا هغه خلق دي چا چه د حق دعوت ظاهراً و باطناً رد کړو، نه ئے د زړه نه اُومنلو او نه ئے په ژبه بلکه خپل پوره طاقت سره ئے د دے مخالفت اُوکړو۔

ف د دے ايت کښې د کفروا نه مُراد مطلق کافران نه دي ځکه چه د نبي عليه السلام په تبليغ باندې به زرګونو کافرانو ايمان راوړو او دا سلسله تر اوسه پورے جاري ده بلکه د دے نه مُراد خاص قسم کافران دي يعني هغه خلق چه حق ئے ښه اُوپيژندلو ليکن

محض د ضد او عناد په وجه سره د هغوئ نه انکار اوکړو. د ضد او عناد د وجے نه د هغوی زړونه مړهٔ او تور شوی دی. د دے وجے نه وعظ او نصیحت، تبلیغ او ویرول په هغوی هیڅ اثر نه کوی. ای استروا الحق عِنادًا (مدارک)، د مکے مشرکانو کښې ابُوجهل، ابو لهب، ولید بن مغیره وغیره او د یهودو څخه عالمان او سرداران مثلًا حیّ بن اخطب، کعب بن اشرف وغیره دا قسم کافران وو. (ابوالسعود ص ۲۸۳ ج ۱، قرطبی ص ۱۸۳ ج ۱، نیشاپوری ص ۱۴۰ ج ۱) لکه چه د فرعون او د هغه د قوم متعلق الله تعالیٰ ارشاد فرمائیلے دے: وَجَحَدُوا بِهَا وَاسْتَيْقَنَتْهَا أَنفُسُهُمْ ظُلْمًا وَعُلُوًّا (نمل ع ۱) همدا حال د مشرکینِ مکه وو. او د أحبارِ یهود متعلق ارشاد دے: فَلَمَّا جَاءَهُم مَّا عَرَفُوا كَفَرُوا بِهِ (البقرة ع ۱۱) او ءَأَنذَرْتَهُمْ کښې همزه د استفهام دپاره نهٔ ده بلکه د تسویه دپاره ده د حکم چه کومه همزه سَوَآءٌ ما ادری، ما اُبالی، لیت شعری وغیره نه روستو راشی نو هغه تسویه دپاره وی او د دے علامه دا ده چه مصدر د هغے مداخول قائمقام شی. (مغنی ابن هشام ص ۱۶ ج ۱) او رضی شرح کافیه (ص ۳۳۵ ج ۲) کښې دی: إن الهمزة تستعمل مطردًا مع ام التسوية او اَم د دے ایت کښې احد الامرین دپاره نهٔ دے بلکه اَم متصله دے او تسویه دپاره دے. (رضی شرح کافیه ص ۳۱۴ ج ۲، مغنی ص ۹ ج ۱). "ترکیب نحوی": اَلَّذِيْنَ كَفَرُوْا موصول مع الصلة اسم انّ سَوَآءٌ عَلَيْهِمْ ءَأَنذَرْتَهُمْ أَمْ لَمْ تُنذِرْهُمْ بتاویل المصدر مبتداء مؤخر او دا جمله خبر د إنَّ دے. (تفسیر مظهری ص ۲۳ ج ۱، رضی ص ۳۱۷ ج ۱) لَا يُؤْمِنُونَ جمله مُفسّره ده چه د ما قبل تفسیر کوی. جملة مفسّرة لاجمال ما قبلها فيما فيه الاستواء (تفسیر مظهری ص ۲۳ ج ۱، روح المعانی ص ۱۲۹ ج ۱) یعنی دا دے کافرانو په حق کښې ستاسو د إنذار او عدم إنذار یو شان کیدلو مطلب دا دے چه دوی بانِ په ئے هیڅ اثر نهٔ وی او دوی ایمان نهٔ راوړی. یا لَا يُؤْمِنُونَ جمله خبر دے د إنَّ او سَوَآءٌ عَلَيْهِمْ الخ مینځ کښې جمله معترضه ده او خبرُ إنَّ والجملة قبلها اعتراضٌ (روح المعانی ج ۱ ص ۱۳۲، تفسیر مظهری ص ۲۳ ج ۱، مدارک ص ۱۳ ج ۱) د ایت مفهوم دواړو صورتونو کښې یو دے.

۱۱ دا جمله معلّله ده او د ما قبل علت او د هغه سبب بیانوی:

اعلم انه تعالیٰ لما بين في الاية انهم لايؤمنون اخبر في هذه الاية بالسبب الذي لاجله لم يومنوا وهو الختم (تفسیر کبیر ص ۲۷۰ ج ۱) خَتَمَ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ استيناف تعليلي لما سبق من الحكم (ابوالسعود ص ۲۸۸ ج ۱) اشارة الى برهان لِمّي للحكم السابق (روح المعانی ص ۱۳۱ ج ۱)

یعنی د نبی علیه السلام د إنذار باوجود په ایمان نهٔ راوړی او د دے دولت نه به همیشه محرومه وی. اوس دلته یوه شبه پیدا کیږی چه هر کله الله تعالیٰ د دوی په زړونو او غوږونو باندے مُهر اولګولو او د دوی په سترګو ئے پردے واچولے او د هغه شان د هدایت قبلولو توله لارے ئے ورته بندے کړے نو بیا که چرے دوی ایمان راونړی او کفر باندے مړهٔ شی نو دوی ته به په کوم قصور باندے سزا ورکولے شی؟ حکه چه

دَ مهرِ خُداوندی په وجه سره هغوی کافران مرۀ کیدلو بانې مجبوره وُو۔ لهٰذا دا خبره دَ عدل او انصاف سره منافی ده چه داسے خلقوته سزا ورکړے شي۔ ددے جواب دا دے چه الله تعالیٰ ظالم نه دے چه بیځایه قصوره سزا نه ورکوی۔ دے ایت کښ چه دَدے کافرانو کوم انجام بیان شوے دے هغه بخپله ددوی داعمالو نتیجه ده۔ ددے اجمال تفصیل دا دے چه الله تعالیٰ انسان پیدا کړو، دلیدلو اوریدلو دپاره ئے ورته سترګے غوږونه ورکړل۔ دغور فکر او سوچ دپاره ئے ورته دماغ او عقل او شعور ورکړو۔ دالله تعالیٰ ارشاد دے: وَاللّٰهُ اَخْرَجَكُمْ مِّنْۢ بُطُوْنِ اُمَّهٰتِكُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ شَيْـًٔا ۙ وَّجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ وَالْاَفْـِٕدَةَ ۙ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ۝ (سورۂ نحل ع۱۱) بیا ئے دَدُنیا او جهان تو واضحه او روښانه دلائلو دفتر دهغه په مخکښ پرانستلو دپاره ددے چه هغه دخپلو حواسو په ذریعه دیکښ سوچ او فکر اوکړی او دحق او باطل په مینځ کښ امتیاز اوکړی سَنُرِيْهِمْ اٰيٰتِنَا فِي الْاٰفَاقِ وَفِيْٓ اَنْفُسِهِمْ حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَهُمْ اَنَّهُ الْحَقُّ (حٰمٓ السجدة ع۶) او بیا ئے په دے اِکتفاء اُونکړه بلکه دنیځے لارے ښودلو دپاره ئے پیغمبران رالیږل چه هغوی به شپه او ورځ خلقوته دالله پیغام اورولو او دهغوی ټول شبهات به ئے لرے کړل او دالله تعالیٰ حجت ئے پورے قائم کړو۔ رُسُلًا مُّبَشِّرِيْنَ وَمُنْذِرِيْنَ لِئَلَّا يَكُوْنَ لِلنَّاسِ عَلَى اللّٰهِ حُجَّةٌۢ بَعْدَ الرُّسُلِ (سورۂ نساء ع۲۳) لیکن ددے باوجود چه حق دوی ته واضح شو او دوی حق ښه اُوپیژندلو، حق ئے اُونه منلو بلکه محض دضد او عناد په وجه کُفر بانې ټینګ ولاړ وُو۔ نه ئے دسترګو نه کار واخستو، نه دَ غوږونو نه او نه دعقل شعور نه۔ دهغے نتیجه دا شوه چه په مزه مزه کُفر او انکار ددوی په رګ او ریشه کښ ننوتلو، ددوی طبیعت ثانیه اُوګرځیدو، حواس ئے بیکاره شول او دحق احساس او شعور ترینه همیشه دپاره رُخصت شو او دګمراهئ یو داسے تیاره وربانې راخوره شوه چه اُوس ددے نه بهرته نشو راوتلے۔ دَ ګمراهئ دے کیفیت ته مُهر سره تعبیر کړے شوے دے۔ نو دا مُهر کوم چه لګیدلے دے هغه دَقانونِ تکوینی دلاندے دخپلو اسبابو او علتونو په بناء لګیدلے دے۔ چه هرکله یو اِنسان دَحق پیژندلو نه پس دضد او عناد په وجه خپلے ارادے او اختیار سره کُفرته په ایمان بانې ترجیح ورکوی نو دهغهٔ نه دایمان توفیق اخستلے شی او دهغهٔ حواس بیکاره کیږی او هغه چه جرته تلل غواړی نو هم هغلته دیکه کولے شی لکه دالله تعالیٰ ارشاد دے: فَمَآ اَغْنٰى عَنْهُمْ سَمْعُهُمْ وَلَآ اَبْصَارُهُمْ وَلَآ اَفْـِٕدَتُهُمْ مِّنْ شَيْءٍ اِذْ كَانُوْا يَجْحَدُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ (سورۂ احقاف ع۳) او بل ځائے ارشاد دے: وَمَنْ يُّشَاقِقِ الرَّسُوْلَ مِنْۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدٰى وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيْلِ الْمُؤْمِنِيْنَ نُوَلِّهٖ مَا تَوَلّٰى وَنُصْلِهٖ جَهَنَّمَ ۭ وَسَاۗءَتْ مَصِيْرًا۝ (سورۂ نساء ع۱۷)

دَدینه معلومه شوه چه ددوی په حواسو مُهر لګیدل او دایمان دسعادت نه دَدوی همیشه محرومتیا دَدوی دخپلو اعمالو نتیجه ده۔ ددوی دانکار او جحود، ضد

او عناد د وجې نه د دوی په زړونو مُهر لګیدلے دے. دا سے نه ده چه د دوے مُهر د وجې نه دوی په کُفر بانډې مجبوره کړے شوی دی. حضرت شیخ رَوَّحَ اللّٰهُ رُوحَهٗ به د دینه مُهرِ جبارِیّت سره تعبیر کولو او د عارف رومی رحمه الله دا شعر به ئے وئیلو است

این نه جبر و معنیٰ جبارِیست ✿ معنیٔ جبّاریت ازاری است

اُوس دلته یو سوال باقی پاتے کیږی چه خَتَمَ اللّٰهُ عَلٰی قُلُوْبِهِمْ کښې مُهر لګول الله تعالیٰ طرفته منسوب کړے شوی دی. دے نه معلومه شوه چه مُهر لګیدل د دوی د اَعمالو نتیجه نه ده بلکه د الله تعالیٰ فعل دے. نو د دے جواب دا دے چه د اهلِ سنت په نزد د بندګانو د ټولو افعالو خالق الله تعالیٰ دے (و هر کار د پاره فاعلِ مباشر او سبب کیدل ضروری دی، او د کار چونکه د رے وارو سره نسبت وی، الله تعالیٰ سره د مخلوق کیدلو نسبت، فاعل سره د صدور او سبب سره د ترتب. په دے وجه فعل د رے وارو ته منسوب کولے شی. د مثال په طور یو سړی ته د قتل او ډاکے په جُرم کښې پهانسی ورکولے شی نو هغه بانډې به خلق مختلفو عبارتونو سره اظهارِ خیال کوی. څوک به وائی الله د هغه بیړه غرقه کړه، څوک به وائی هغه پخپله خپله خانه خرابه کړه. او څوک به دا سے وائی چه بَدْ عملو هغه ډوب کړو. خپل خپل ځائے بانډې دا د رے واړه فقرے صحیح دی. چا چه د دے مجرم تباهی الله پاک طرفته منسوب کړه، د هغے هیڅکله دا مطلب نه دے او نه ترے اوریږ ونکو دا نتیجه اخستے ده چه د دے تباهئ ذمه دار الله پاک دے او دا مجرم بریٔ الذمه او بے قصوره دے بلکه دا تباهی الله پاک طرفته د دے وجے نه منسوب شوے ده چه هغه خالق الافعال دے، باقی پاتے شوه د هغه تباهی نو هغه د ده د خپلو عملونو نتیجه ده. دا رنګے مُهر لګول د مختلفو نسبتونو په وجه سره مختلف ذاتونو طرف ته منسوب کړے شوی دی. د مُهر لګیدلو اصلی سبب چونکه د هغه خپل اعمال وُو، د دے وجے نه کله دا کیفیت د هغه اعمالو سره متعلق کړے شو: كَلَّا بَلْ ٚ رَانَ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ مَّا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ○ (تطفیف) او کله د دے معاندینو د دے مُهر کیفیت بیان کړو او خپل ځان ته ئے د هر څه نسبت اوکړو: وَقَالُوْا قُلُوْبُنَا فِيْۤ اَكِنَّةٍ مِّمَّا تَدْعُوْنَاۤ اِلَيْهِ وَ فِيْۤ اٰذَانِنَا وَقْرٌ وَّمِنْ بَيْنِنَا وَبَيْنِكَ حِجَابٌ فَاعْمَلْ اِنَّنَا عٰمِلُوْنَ ○ (حٰمٓ السجدة ع۱) او الله تعالیٰ چونکه خالق الافعال، عِلّةُ العِلَل (د ټولو علتونو علت) او مُسَبِّبُ الاسباب دے نو د دے لحاظ سره د مُهرلګولو نسبت د الله تعالیٰ طرفته هم کړے شوے دے لکه څنګه چه زیرِ بحث ایت کښې دی. د دے د پاره د مُهر لګولو نسبت الله پاک طرفته کولو سره د ایمان نه د دوی محرومتیا، په کُفر بانډې مرګ او د همیشه عذاب ذمه داری په الله تعالیٰ بانډې نه لازمیږی. دا ټول هر څه د دوی د خپلو عملونو نتیجه ده او د خپلو کړو سزا د ده ترے ځانے پورے د کافرانو ذکر اُوکړے شو، د دے نه پس د منافقانو حال بیان کړے شوے دے.

دریمه جماعت (مُنافقین)

دا هغه خلق دی چا چه ظاهری طور بانډې خو اسلام قبول کړو لیکن باطن کښې کافران پاتې شول - دې خلقو په ژبه خو دَ اسلام اقرار اُوکړو لیکن په زړه کښې لې انکار اُوکړو. ۱۲ دې ایت کښې لې دمنافقینو دایمان حقیقت بیان کړو چه په ژبه خو هغوی د الله دتوحید او اٰخرت اقرار کوی لیکن زړونه ئې دیقین او ایمان او تصدیق او اذعان نه بالکل خالی دې. ددې نه پس منافقت او دوه مخیزی چالونه او ددې مُنافقانو غرض او غایت بیان کړې شوې دې. ۱۳ دې دوه مخیز چال سره هغوی مسلمانانو ته دهوکه ورکوی او ددوی نه دُنیاوی او مادی فائدې حاصلول غواړی ځکه چه ظاهری طور بانډې اسلام قبلولو سره به دُنیاوی احکامو کښې هغوی مسلمانان شمارلې شی. ددوی ځان او مال به محفوظ اُوګرځی او مسلمانانو ته وخت په وخت حاصل شوې مال غنیمت او نورو مادی فائدو کښې به ورسره دوی برابر شریك وی. یُخٰدِعُوْنَ اللّٰهَ بانډې دا اعتراض کیږی چه دهوکه او فریب خو هغه چاته ورکولې شی چه بې علمه او دحقیقت نه ناخبره وی لیکن الله تعالٰی خو عالم الغیب والشهادة دې او هر ظاهری او هر پټ څیز پیژنی، هغه ته څرنګه دهوکه ورکولې شی؟

نو ددې جواب دادې چه دلته مضاف محذوف دې ای یخادعون رسول اللّٰه۔ (تفسیر مدارک ص ۱۵ ج ۱، قرطبی ۱۹۵ ج ۱، مظہری ص ۲۵ ج ۱، خازن و معالم ص ۲۸ ج ۱، روح المعانی ص ۱۲۶ ج ۱، نیشاپوری ص ۱۵۳ ج ۱، بحرالمحیط ص ۵۶ ج ۱) یعنی د الله رسول ته دهوکه ورکوی (دینه دا هم ډیره ښه ظاهره او معلومه شوه چه ددې نېولو مفسرینِ اهل سُنت وجماعت مفسرینو اتفاق او مسلّمه عقیده ده چه حضرت نبی کریم صلی الله علیه وسلم عالم الغیب نه وُو، نه ذاتی طور بانډې او نه عطائی طور بانډې) یا دَ دهوکه ورکولو نه ایمان والو ته دهوکه ورکول مُراد دی ځکه چه الله والو ته دهوکه ورکول او هغه هم صرف په دې وجه چه هغه مؤمنان د توحید پابند دی، دا سې ده لکه چه الله ته دهوکه ورکوی. وَقِیْلَ المراد به المؤمنون و اذا خادعوا المؤمنین فکانهم خادعوا الله تعالٰی (خازن ص ۲۸ ج ۱) وقیل ذکر الله ههنا تحسین والمقصود بالمخادعة الذین اٰمنوا۔ (معالم ص ۲۸ ج ۱) دې صورت کښې به واؤ تفسیریه وی او وَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْا عطف به ماقبل بانډې تفسیری وی۔

۱۴ منافقانو دا خیال کړې دې چه هغوی دې دوه رنګئ پالیسئ سره مسلمانانو ته دهوکه ورکړه، مزې کوی لیکن حقیقت دادې چه هغوی مسلمانانو ته دهوکه نه ورکوی بلکه خپلو ځانونو ته دهوکه ورکوی او دې منافقانه طریقې سره غیر شعوری طور بانډې خپل عاقبت خرابوی. ۱۵ لیکن هغوی ته ددې خبرې شعور او احساس بالکل نشته چه ددوی دا طریقه به ددوی دتباهئ ذریعه وی او ددې وبال به په خپله دوی بانډې راپریوځی (قرطبی ص ۱۹۷ ج ۱، معالم ص ۲۸ ج ۱) راتلونکی ایت کښې دَ منافقانو په حال زیاته رڼا

آچولے شوے وه. ۶۶ـه د دوی د باطن خرابئ او د عقیدے د فساد نه ئے بیماری سره تعبیر اوکړو. والمرض عبارة مستعارة للفساد الذی فی عقائد هم. (قرطبی ص ۱۹۷ ج ۱) او د لفظ د نفاق رشك او رَیب، جحود او انکار، د پیغمبر ﷺ او مسلمانانو سره عداوت او بُغض او حسد وغیره ټولو ته شامل دے.

فِیْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ شَكٌّ وَّنِفَاقٌ (معالم ص ۲۸ ج ۱، ابن جریر ص ۹۳ ج ۱) استعیر هٰهنا لما فی قلوبهم من الجهل وسوء العقیدة وعداوة النبی صلی الله علیه وسلم وغیر ذٰلک من فنون الکفر (ابو السعود ص ۳۰۷ ج ۱) ومجازا بان یستعار لبعض اعراض القلب کسوء الاعتقاد والغل والحسد والمیل الی المعاصی فان صدورهم کانت تغلی علی رسول الله صلی الله علیه وسلم غلًا وحنقًا. (تفسیر نیشاپوری ص ۱۵۳ ج ۱)

او بیماری د اندام د هغه غیر طبعی حالت نوم دے د کوم په وجه چه د اندام طبعی افعالو کښې خلل او فتور واقع شی. دا ټول اُمور چونکه زړهٔ د الله پاك د معرفت او د هغهٔ د ربښتونی اطاعت او مخلصانه عبادت نه منع کوی، ځکه چه دا ټول رُوحانی او قلبی امراض دی. (من الکبیر بتصرف) ۶۷ـه د شك او نفاق او بغض حسد دا بیماری کومه چه د دوی زړونو ته لګیدلے ده، د کمیدلو په ځائے ورځ په ورځ زیاته شوه، ځکه چه په قرآن نازلیدلو، د هغوی کُفر او نفاق به زیاتیدلو ځکه چه هر ایت سره به هغوی منافقانه سلوك کولو. په ظاهره خو به ئے هغه منلو لیکن زړهٔ کښې به ئے ترینه انکار کولو. یا چه کله پیغمبر ﷺ او مؤمنانو ته په دُشمنانو باندې غلبه او اقتدار حاصل شو او د دینِ اسلام په شان او شوکت کښې ترقی اُوشوه نو د دوی د زړونو سوزیدل او تکلیف او د دوی په سینو کښې د بُغض او حسد اُور زیات شو.

وزیادة الله تعالی مرضهم اما بتضعیف حسدهم بنعم الله تعالی علی رسول الله صلی الله علیه وسلم والمؤمنین او ظلمة قلوبهم بتجدد کفرهم بما ینزله سبحانه شیئًا فشیئًا من الأیت والذکر الحکیم (روح ص ۱۵۰-۱۴۹ ج ۱)

فَزَادَهُمُ اللّٰهُ کښې فاء د پاره د تعقیب ده چه د هغې مطلب دا دے چه د فاء ما بعد په ما قبل باندې مرتب دے: والفاء للدلالة علی ترتب مضمونها علیه (ابو السعود ص ۳۰۷ ج ۱) یعنی د دوی بیماری د دوی د بد پرهیزو نتیجه ده. باقی پاتے شوه اضافه په مرض کښې د الله طرف ته منسوب کول نو هغه محض د دے د پاره دی چه هغه مُسبّب الاسباب دے او فاعلِ حقیقی دے. د ایت د دواړو حصو کښې د منافقانو د انجام علت او سبب بیان دے. وړاندې د دوی د انجام ذِکر دے.

۶۸ـه منافقان په باطنی خباثت او د عقیدے د فساد په خطرناکه بیماری کښې مبتلا وُو. د الله پاك له طرفه به د شفاء ایتونه یو بل پسے پیوست نازلیدل لیکن هغوی ترے اعراض اوکړو او د هغې نه د فائدے اوچتولو معمولی کوشش ئے هم اُونکړو چه د دے په نتیجه کښې ئے بیماری زیاته شوه او اخر کښې ئے د هلاکت ذریعه شوه او د دردناکے سزا مُستحق

اوګرځیدل - بِمَا كَانُوْا یَكْذِبُوْنَ ٥ دلته باء د سببیت دپاره ده او ما مصدریه ده (روح ص ۱۵۰ ج ۱، ابوالسعود ص ۲۰۱ ج ۱) او فعل ناقص د دوام او استمرار دپاره دے (ابوالسعود، روح ص ۱۵۱ ج ۱) یعنی د مسلسل دروغ وئیلو او نفاق باندې پرله پسې اصرار په وجه هغوی ته د مذکوره سزا حکم اوروله شوے دے او دلته د دروغو وئیلو نه هم هغه نفاق مراد دے یعنی په زړه کښې ئې د اسلام نه انکار پټ کړے دے لیکن په ژبه د اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَبِالْیَوْمِ الْاٰخِرِ اقرار کوی. وَمعناهُ بكذبهم وقولهم اٰمنا و لیسو بمؤمنین (قرطبی ص ۱۹۸ ج ۱) ای بكذبهم فی قولهم اٰمنا بالله وبالیوم الاٰخر (مدارک ص ۱۶ ج ۱)

ورانديځ منافقینو زیاتی خبا ثتونه (ګندګئ) ذکر کړلے. د دوی حالات ئې نور هم واضحه کړل. ۱۹ منافقان په ظاهره مسلمانان وو لیکن پټ په پټه ئې کافرانو سره تعلق ساتلے وو. د مسلمانانو پټ رازونه به ئې هغوی ته رسول او هغوی به ئې د مسلمانانو خلاف راپاروُل او دغسې به ئې د فتنې او فساد دپاره زمکه اواروله:

وَ كان فسادالمنافقین فی الارض انهم كانوا یمایلون الكفار ویمالئونهم على المسلمین باقشاء اسرارهم الیهم و اغرائهم علیهم و ذلك مما یؤدی الى هیج الفتن بینهم (مدارک ص ۱۶ ج ۱) و الفساد منها النفاق الذی صافوا به الكفار فاطلعوهم على اسرار المؤمنین فان كان ذلك یؤدی الى خراب الارض وقلة الخیر ونزع البركة وتعطل المنافع (روح المعانی ص ۱۵۳ ج ۱)

۲۰ یعنی مونږ چه د مسلمانانو او کافرانو دواړو ډلو سره تعلق قائم ساتلے دے، د دینه زمونږ مقصود صرف د دواړو ډلو په مینځ کښې صرف د صُلح فضا پیدا کول دی بل څه نه دی. انّ هذه المداراة سعی فی الاصلاح بین المسلمین والكفار (کبیر ص ۲۸۸ ج ۱)

قالوا انما نرید الاصلاح بین المؤمنین و اهل الكتاب - (ابن جریر ص ۹۷ ج ۱)

۲۱ دا د منافقانو د دعوے نهایتې بلیغه طریقے سره رد دے، جمله مستانفه ئې راوړله او حرف تنبیه سره ئې سامعین متوجه کړل او د تاکید حرف او د حصر کلمے سره ئې دا حقیقت واضح کړلو چه دا خلق د مُصلح کیدو دعوی کوی حال دا دے چه د فتنے او فساد بنیاد همدا خلق دی او زیات فساد هم د دوی په ذریعه خوریږی.

۲۲ د دوی زړونه د نفاق د مرض په وجه سره تر دومره حده پورے مړه شوی او بے حِسه دی چه اصلاح او فساد کښې امتیاز نشی کولے، شر او فساد ته امن او اصلاح وائی: وهذا انما نشی عن جهل مركب فاعتقدوا الفساد صلاحًا واصروا واستكبروا استكبارًا - (روح ص ۱۵۳ ج ۱) ۲۳ دا د منافقینو دویم خبا ثت دے. ژبه باندے اٰمَنَّا وئیلو سره د مؤمن کیدو دعوی خو هغوی ختمی کړے وه. دلته دوباره هغوی ته د ایمان راوړلو حکم ورکولے کیږی: ای ایمانًا مقرونًا بالاخلاص بعیدًا عن النفاق - (کبیر ص ۲۸۹ ج ۱) مقرونا بالاخلاص خالصًا عن شوائب النفاق (روح ص ۱۵۴ ج ۱) او په النَّاس کښې الف لام د عهد دے او د دے نه مراد مهاجرین او انصار دی یا ترے نه هغه

مؤمنان مراد دی چه د اهل کتابو نه ئے ایمان راوړے وُو. عبد الله بن سلام وغیره من اهل الکتاب وقیل کما امن المهاجرون والانصار (معالم ص ۲۹ ج ۱) انها للعهد ای کما امن رسول الله ومن معه وهم ناس معهودون او عبد الله بن سلام واشیاعه (کبیر ص ۲۸۸ ج ۱، مدارک ص ۱۰ ج ۱) ۲۴ دا د مُنافقانو قول دے او د لفظ سُفهاء نه هغوی صحابه کرام رض پیورے مسخره کړے ده. یعنی مونږ (خلهٔ ئے د ښاوړو دِ که شه) د دے بیوقوفانو پشان ایمان راوړو چه خپل نفع او نقصان هم نه پیژنی: وانما سفهوهم جهلا منهم حیث اشتغلوا بما لا یجدی فی زعمهم (روح ص ۱۵۵ ج ۱) امام رازیؒ فرمائی چه منافقین صاحب اقتدار خلق وُو. هغوی د دولت او اقتدار په نشه کښ مَسته طبقه وه. د دین اسلام ئے باطل گنړلو او خوك چه باطل دین قبول کړی هغه بیوقوف وی (کبیر ص ۲۸۹ ج ۱) ننګچه نن صباد روشن خیالئ په مرض کښ مُبتلا او د اقتدار په نشه کښ بد مسته طبقه د دین درد لرونکو او ددوی د الله او رسول ؐ د احکامو نه بغاوت کوُلو بانی نیوکه کوُنکو ته د کم فهمئ او دقیانوسئ او د موجوده زمانے د تقاضونه ناخبره القابو سره یادوی. دا بیخی د هغه مُنافقانو تقلید دے.

۲۵ دلته هم زوردار تاکین سره د منافقانو رد شوے دے یعنی اصلی بیوقوفان خو هغوی پخپله دی چه د ټولو انبیاؤ علیهم السلام مُتفقه دین قبلوُنکو بانی د سفاهت او کم عقلئ الزام لګوی: الا انهم هم السفهاء دون المؤمنین المصدقین بالله و برسوله وثوابه وعقابه (ابن جریر ص ۹۹ ج ۱) ۲۶ ددوی د جهالت او ناپوهئ دا حالت دے چه دوی په دے خپل بیوقوفتوب او سفاهت بانی هم نه پوهیږی.

فائده:- دد ے اٰیتونو نه د صحابه کرامو رض ډیر لوئے فضیلت ثابت شوے دے. دا اٰیتونه ددوی د ایمان خالص کیدلو ښکاره او لافانی ثبوت دے. د دوی ایمان دومره کامل او د نفاق د شائبو نه دومره پاك وُو او د الله په نزد دومره غوره او مقبول وُو چه د منافقانو په وړاندے د نمونے په طور پیش کړے شو. د غه شان دے مبارك تبولګی ته بیوقوف ویُونکی ئے د انتهائی درجے بیوقوف اوګرځول.

وَاِذَا لَقُوا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا قَالُوْٓا اٰمَنَّا ۚ وَاِذَا

او کله چه ملاقات کوی مسلمانانو سره نو وائی مونږ ایمان راوړے دے او کله چه

خَلَوْا اِلٰی شَیٰطِیْنِهِمْ ۙ قَالُوْٓا اِنَّا مَعَكُمْ ۙ اِنَّمَا

خانله کیږی خپلو شیطانانو سره (یعنی یهود او مشرکانو سردارانو سره) ئے نو وائی بیشکه مونږ تاسو سره یو مونږ خو

نَحْنُ مُسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۱۴﴾ اَللّٰهُ یَسْتَهْزِئُ بِهِمْ وَیَمُدُّهُمْ

خندا کوُو (یعنی مُسلمانانو پورے) ۳۰ الله خندا کوی دوی پورے ۳۱ او ترقی ورکوی دوی ته

فِي طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُونَ ﴿١٥﴾ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ اشْتَرَوُا

دوی سرګردانه ګرځي ... دغه هغه کسان دي چه واخسته

الضَّلَالَةَ بِالْهُدَىٰ فَمَا رَبِحَت تِّجَارَتُهُمْ وَمَا

ګمراهي په عوض د هدایت نو ګټه ونه کړه سوداګرۍ د دوی او نه وو

كَانُوا مُهْتَدِينَ ﴿١٦﴾

هغوی لاره موندونکي

ربط آیات: ... دے حقیقت چونکه د زړه ... په وجه توحید منلو او د شرک ... پریښودلو ضروري دي نو ځکه د دوی حالات بیان کړے شول.

تفسیر: ... دا د منافقانو د ډیر خباثت دے چه هر کله هغوی با اخلاص مسلمانانو سره ملاقات کوي نو وائي چه مونږ خالص ایمان راوړے دے۔ اٰمَنَّا مراد مخلصانه ... دے خبره یقیني ورته ښوول غواړي چه اوس هغوی نفاق پریښے دے او د زړه نه یې خالص ایمان قبول کړے دے ځکه چه د هغوی زباني ایمان خو ... د مخکښ نه معلوم وو۔ فالمراد اخلصنا بالقلب الدليل عليه ان الاقرار باللسان كان معلوما منهم (کبیر ص ۱۰۱ ج ۱) لیکن هم دا لفظ د دوی د نفاق مخبري کوي ځکه چه ... د مخکښ نه د دوی د نفاق علم وو۔ اوس د دے د تردید دپاره او د دوی په زړونو کښې د خپل اخلاص رعب کینولو دپاره هغوی لږ غوندې تاکیدي جمله وړه ... دے په وجود هغوی سرسري طور باندې صرف اٰمَنَّا لفظ استعمالوي ځکه چه د نفاق ... د وجے نه هغوی تاکیدي جمله نه شوه برداشت کولے۔

ف د خلا معنی ... راځي لیکن دلته الیٰ راغلے دے۔ دے دپاره دلته خلا د ذهب په معنیٰ کښې متضمن دے او مطلب ئے دا دے چه منافقان مسلمانانو سره ملاقات نه پس چه کله خپلو ... ته ورځي نو هلته د مسلمانانو مخکښې د کړے شوي ... خلاف خبرے کوي۔ ... فائده دا ده چه دے سره د منافقانو نفاق ... ښه واضحه کیږي۔ لهٰذا اي ذاهبين محذوف سره متعلق دے چه د خلوا د فاعل نه حال دے ... خلوا ذاهبين الیٰ شياطينهم۔ او د شیاطین نه د یهودو عالمان او د کفر او شرک لیډران مراد دي۔ شياطينهم سادتهم وكبراؤهم ورؤساؤهم من احبار اليهود ورؤس المشركين والمنافقين (ابن کثیر ص ۱ ۵ ج ۱)

ف یعني د دین، ایمان او عقیدے کښې مونږ تاسو سره یو: انا مصاحبوكم وموافقوكم على دينكم (... ص ۰ ۸ ج ۱) **ف** یعني مونږ د زړه نه لږ مسلمانان یو، د زړه نه تاسو سره یو۔ د مسلمانانو په وړاندې د ایمان اظهار صرف د استهزاء او مسخرے په طور

د هغوی د پيغور ګرځولو دپاره کوم چه هغوی مونږ مسلمانانو او کافرانو
سره او مسخره کوونکو سره معامله اوکړي، مونږ سره او مال محفوظ شي او د غنيمت په
مال کښې ئې حصه ملاؤ شي. (انه ستخف بهم في ذلك القول لصون دمائهم و
اموالهم [illegible]) ❋ [illegible] د جزاء په سزا د لفظ جزاء [illegible]
مطلب دا دے چه الله تعالیٰ به هغوی ته د تمسخر او استهزاء سزا ورکړي. (ان يتشفى
[illegible] على استهزائهم فسمي العقوبة باسم
الذنب [illegible]) دغه شان دي چه کله منافقان مسلمانانو ته راځي وقوف
ګرځوي. دغه شان الله هم منافقانو ته وقوف ګرځوي او دوی سره مسخرې
کوي. مثلاً دنيا کښې ئې هغوی باندې د اسلام احکام جاري کړي دي او مهلت ئې
ورته ورکړے دے چه کله دوی د کفر او سرکشۍ انتها ته اورسيږي نو ناګهانه به
ونيولے شي. [illegible] منافقان [illegible] خپل ځان د [illegible] پاره [illegible] لکن د اخرت نه
د دوی [illegible] پيش [illegible] ده: (الاية جارية على سبيل التمثيل والمراد
[illegible] معاملة المستهزئ اما في الدنيا باجراء احكام الاسلام واستدراجهم
من حيث لا يعلمون. [illegible])

❋ د دويم تفسير مطابق د (الله يستهزئ بهم) بيان دے او معطوف على قوله
سبحانه وتعالیٰ [illegible] (في طغيانهم يعمهون)
سره متعلق دے او (يعمهون) د ضمير مفعول نه حال دے. هغه دوی لره په سرکشۍ او
ګمراهۍ کښې [illegible] او په [illegible] شک او تردد کښې سرګردان ګرځي.

❋ (اولئک) سره منافقينو طرف ته اشاره ده چه د خپلو [illegible] ذکر ئے اوشو.
[illegible] اختيار ګمراهي ده.

هغوی د هدايت [illegible] ګمراهۍ باندې [illegible] د الاشتراء
معنی ده [illegible] ضروري ده چه [illegible] قيمت
موجود وي. [illegible] د ګمراهۍ قيمت ګرځولے دے چه [illegible] په عوض کښې
منافقو ګمراهي واخسته، نو دا سوال پيدا کيږي چه منافقين اول په هدايت باندې وو
[illegible] ځکه چه [illegible] د شروع نه منافقانه طور باندې ايمان راوړے وو.
نو ددے يو جواب دا دے چه دلته اشتراء په معنی د استبدال [illegible] نده بلکه
محض د ترجيح او اختيار په معنی ده: (ان الاشتراء مجاز عن الاختيار فكانه تعالى قال
اختاروا الضلالة على الهدى. [illegible]) يعني هغوی هدايت باندې ګمراهۍ ته ترجيح
ورکړه او د هدايت په ځائے ئے ګمراهي اختيار کړه. ليکن [illegible] صورت کښې به د
[illegible] په معنی د [illegible] وي.
دويم جواب دا دے چه اشتراء خپله حقيقي معنی باندې دے او د هدايت نه
[illegible] فطري هدايت دے کوم چه الله تعالیٰ د انسان په فطرت کښې ايښے دے.

المراد بالهدى الجبلي وقد كان حاصلا لهم حقيقة فان كل مولود يولد على الفطرة (روح ص ۱۹۱ ج ۱) دے صورت کښې ټول الفاظ په خپل حقیقت باندې پاتے کیږي او د څه قسمه مجاز ارتکاب کولو ته ضرورت نه پیښیږي. ۳۲ـــه لیکن دا سودا دوی د پاره فائده منه نه شوه او څنګه به شوے وے چه هغوی دا سودا بے عقلۍ او بے بصیرتۍ سره کړیده او بیو دا سے څیز ئے اخستے دے چه سراسر نقصان دے.

مَثَلُهُمْ كَمَثَلِ الَّذِي اسْتَوْقَدَ نَارًا ۚ فَلَمَّآ

د دوی مثال ۳۳ هغه چا پشان دے چه اور ئے بل کړو (یعنی پیغمبر) ۳۴ بیا چه کله ئے

أَضَآءَتْ مَا حَوْلَهُ ذَهَبَ اللَّهُ بِنُورِهِمْ وَتَرَكَهُمْ

روښانه کړو اور ګیر چاپیره (او هلته ئے خلق نورهم موجود وو) نو لرے کړو الله پاک د دوی رڼا (یعنی پرېکړے ئے بنود ل دوی

فِي ظُلُمَٰتٍ لَّا يُبْصِرُونَ ﴿١٧﴾ صُمٌّۢ بُكْمٌ عُمْيٌ

په تیارو کښې چه هیڅ ئے نه لیدل ۳۵ کانړه دی، ګونګیان دی، ړانده دی ۳۶

فَهُمْ لَا يَرْجِعُونَ ﴿١٨﴾ أَوْ كَصَيِّبٍ مِّنَ السَّمَآءِ

پس دوی نه واپس کیږي ۳۷ یا د دوی مثال داسے دے ۳۸ لکه چه زور سره باران وریږي ۳۹ د اسمان

فِيهِ ظُلُمَٰتٌ وَرَعْدٌ وَبَرْقٌ ۚ يَجْعَلُونَ أَصَٰبِعَهُمْ

هغے کښې تیارے دی او ګړز ګروز او بریښنا دی ور کوی ۴۰ ګوتے

فِيٓ ءَاذَانِهِم مِّنَ الصَّوَٰعِقِ حَذَرَ الْمَوْتِ ۚ

په خپلو غوږونو کښې د تندر د وجے نه د مرګ د ویرے نه ۴۱

وَاللَّهُ مُحِيطٌۢ بِالْكَٰفِرِينَ ﴿١٩﴾ يَكَادُ الْبَرْقُ يَخْطَفُ

او الله احاطه کونکے دے د کافرانو ۴۲ نزدے ده چه بریښنا د دوی ستر ګے

أَبْصَٰرَهُمْ ۖ كُلَّمَآ أَضَآءَ لَهُم مَّشَوْا فِيهِ وَإِذَآ

خوږے کړي کله چه دوی ته او ځلیږي نو روان شي د هغے په رڼا کښې او کله چه

أَظْلَمَ عَلَيْهِمْ قَامُوا ۚ وَلَوْ شَآءَ اللَّهُ لَذَهَبَ

تیاره شي نو ودرېږي پاتے شي ۴۳ او که الله اوغواړي نو وابه خلي

بِسَمْعِهِمْ وَأَبْصَارِهِمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ

قَدِيرٌ ۝ يَا أَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوا رَبَّكُمُ الَّذِي

خَلَقَكُمْ وَالَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ۝

[illegible]

نکات ... دوېم جماعت يعنې د منافقانو مثال ... دوېم جماعت مثال يعنې منافقان ... في ذلك الموضع رجال قاعدون والقطة ... كناية عن ان يعذبهم.

موضح قرآن ف: يعني الله تعالى ... سلام ... وښاره کړو وخلقو ... د منافقان هغه وخت ... شول. دستر ګو رڼا ... ګوري ... چه چه ... راشي. د منافقانو ... رجوع شته چه ... د انسان نه توقع نشي ... چه ... شي.

فتح الرحمن ف: مترجم وائي حاصل د مثال دا دے چه د منافقانو ... جماعت ... شوه. ف: مترجم وائي حاصل د مثال دا دے چه منافقان ... کښې ... او چه کله مواعظ بليغه ... د مسافرو ... چه ... ورځ ... کښې ... قدمونه ... او بيا ودريږي.

تفسير: ... دا مثال ... مطابق ... د منافقانو ... مثال ... نه ... لا يرجعون ... او دوېم ... او كصيب ... جمع ضمير ذکر ... الذي ... جمع ... استوقد ... کښې ... جمع ... شوی دے ... اطراف ... شوی ... ايمان زباني اقرار ...

سره تعبیر کړے شوے دے او د اظهار اسلام نه روستو د مسلمانانو په طور چه کوم فائدے هغوی ته حاصلے شوے هغه د ماحول د ښا سره تعبیر کړے شوے دے او د ړنړ اخستلو نه مراد دا دے چه الله تعالیٰ د هغوی نفاق په نبی علیه السلام باندې ښکاره کړو او هغوی ئے د دغه فائدے نه محرومه کړل او هغوی ئے بیا د کفر او ضلالت په تیارو کښی پریخودل. (کبیر ص ۲۹۳ ج ۱)

۳۸ اګرچه د دوی ظاهری حواس صحیح وو دی لیکن چه هر کله دوی د ظاهری حواسو نه کار وا نخستلو، غوږونو سره ئے حق وا نه وریدلو، په ژبه ئے د حق اقرار اونکړو او د بصیرت سترګو سره ئے حق اونه لیدلو نو ګویا چه د دوی حواس بیکاره شول او دوی کانړه ګونګیان او ړانده دی - کانت حواسهم سلیمة ولکن لما سدوا عن الاصاخة الی الحق مسامعهم وابوا ان ینطقوا به السنتهم وان ینظروا ویبصروا بعیونهم جعلوا کانما ایفت مشاعرهم (مدارک ص ۲۰ ج ۱)۔

۳۹ اوس د دوی په هدایت باندې د راتلو هیڅ توقع نشته لیکن حضرت شیخ علیه الرحمة والغفران وفرمائیل چه دنیا کښی کله هم یو داعئ توحید د توحید دعوت پیش کړو، همیشه خلق په دوه ډلو کښی تقسیم شول- څنے خلقو د توحید دعوت اومنلو او مؤمنان ورته اووئیلے شو او څنے خلقو هغه دعوت اونه منلو، هغوی ته د کافرانو نوم ورکړے شو بیا کله چرے مؤمنانو ته مادی او دنیوی اقتدار هم حاصل شو نو په کافرانو کښی د خوشامد ګرو خلقو یو ټولے پیدا شو. دا خلق یو طرفته د مسلمانانو د اقتدار نه مرعوب او ویریدونکی وو- په دے وجه به ئے د دوی وړاندې اسلام ظاهرولو او خپل ځانونه به ئے د اسلام او مسلمانانو خیرخواه ظاهرول او بل طرفته به کافرانو سره ملاویدل. دا د منافقانو جماعت دے - کافران هم د اسلام او مسلمانانو دپاره خطره وی لیکن منافقان د کافرانو نه هم زیات مضر او خطرناک وی ځکه چه منافقان مسلمانانو سره یو ځائے اوسیږی او مسلمانان هغوی د خپل جماعت خلق ګڼړی. دا شان منافقانو ته د اسلام او مسلمانانو خلاف د پټو سازشونو ښه موقعه ملاویږی. او هغوی دے خپلو لئی سره دومره نقصان رسوی چه دشمن او پردی هم هغو سره نشی رسولے. الله تعالیٰ د دے دریواړو ډلو مؤمنانو، کافرانو او منافقانو حال بیا نولو نه پس د دوه وړوستنو ډلو حال ښه واضح کولو دپاره دوه مثالونه بیان کړیدی. یو د ښکاره (علانیه) کافرانو دپاره یعنی د مَثَلُهُمْ نه تر د لَا یَرْجِعُوْنَ پورے. او یو د منافقانو دپاره یعنی د اَوْ کَصَیِّبٍ نه تر د رکوع اخره پورے. په دے وجه د مَثَلُهُمْ ضمیر مطلق کافرانو طرفته راجع دے. اول مثال کافرانو دپاره دے او دے تفصیل لاندے لیکلے شو یدے.

الَّذِی اسْتَوْقَدَ نَارًا نه په نبی علیه السلام مراد وی چه هغوی د آیات بینات په ذریعه د رشد او هدایت اوربل کړو. فَلَمَّا اَضَآءَتْ مَا حَوْلَهٗ نه روستو د عبارت محذوف دے وَعِنْدَهٗ رِجَالٌ اٰخَرُوْنَ. یعنی د دے اوربلونکی سره څنے نور خلق هم موجود وو لیکن دا خلق د دے اور د رڼا نه محرومه پاتے شول ځکه چه اور دپاره د رڼا سره د لیدلو ضرورت

الله ددوی نه نور بصیرت واخستو - دا کفار ځکه ورهم شته - ذَهَبَ اللّٰهُ بِنُوْرِهِمْ - الله ددوی نه نور بصیرت واخستو - دا کفار ځکه
بچه د اور بلونکی په شان کښې موجود وو - چه کله دانبی په ګاونډو کښې خلق مستفید کیدل
هغه وخت دغه کافرانو د ضد او عناد ، بغض او حسد په وجه کفر، عصیان او انکار نه
ملا او تړله - نو د دے لازمی او تکوینی نتیجه دا شوه چه د هغوی نه نور بصیرت لوم
چه انسان ته فطرتاً ملاویږی ، واخستلے شو او د هغوی د زړونو نه د احساس حق
صلاحیت ختم کړے شو - وَتَرَكَهُمْ فِي ظُلُمٰتٍ لَّا يُبْصِرُوْنَ o ددوی په زړونو باندے چه نایت
مُهر نقش کړے شو او ددوی په سترګو باندے پردے واچولے شوے او دوی په تورو
تیارو کښې پریښودے شو چه اوس لاره نه وینی - صُمٌّۢ بُكْمٌ عُمْيٌ فَهُمْ لَا يَرْجِعُوْنَ o
دا ایت مفهوم بعینه هغه دے کوم چه د خَتَمَ اللّٰهُ الخ دے - کانړه او ړانده د خوځکه
دی چه په غوږونو باندے مهر او په سترګو باندے پرده ده - ګونګیان ځکه دی چه
په زړونو باندے مُهر اولګید و چه هر کله دوی کښې د حق پیژندلو صلاحیت پاتے
نه شو نو د حق ویناو جود یه هم نه وی - کله چه په څه پوهیږی نه نو خبرے
په څنګه اوکړی - او د لَا يَرْجِعُوْنَ بیان هم هغه دے کوم چه هلته د لَا يُؤْمِنُوْنَ
دے - یوه خبره ذهن کښې کینوئ چه دلته د کافرانو ذوات له د مُسْتَوْقِد (اور بلونکی
سره تشبیه نه ده ورکړے شوے بلکه د دوی قصے له د مُستوقد قصے سره تشبیه ورکړے
شوے ده - وانما شبهت قصتهم بقصة المستوقد - (کبیر ص ۲۹۵ ج ۱)

۴۰ اَوْ كَصَيِّبٍ د اول تفسیر مطابق دا د منافقانو دویم مثال دے او اَوْ د تخییر
دپاره دے او د حضرت شیخ د تفسیر مطابق اَوْ د تنویع دپاره دے او دا د منافقانو
د حال واحد تمثیل دے او بیا د دے تمثیل دوه شقونه دی - یو وَاللّٰهُ مُحِيْطٌۢ بِالْكٰفِرِيْنَ o
پورے او دویم د يَكَادُ الْبَرْقُ نه د رکوع اخره پورے - او د صَيِّبٍ نه وړاندے لفظ ذوی
یا اصحاب محذوف دے ای کَاَصْحَابِ صَيِّبٍ (معالم ص ۳۱ ج ۱) یعنی د منافقانو مثال د
هغه خلقو په شان دے چه په سخت باران کښې راګیر شی او د صیب معنی په شیبو باران
ده - ۴۱ سَمَآءِ " هر هغه څه ته وائی چه بره طرفته وی - السماء کل ما علاک
فاظلک (قرطبی ص ۲۱۶ ج ۱) او دلته د سماء نه مُراد وریځ ده: ای من السحاب (معالم
ص ۳۱ ج ۱) ۴۲ يَجْعَلُوْنَ الخ ظُلُمٰتٌ وَّرَعْدٌ سره متعلق دے او حَذَرَ الْمَوْتِ مفعول له
دے د يَجْعَلُوْنَ چه د دے فعل علت بیانوی یعنی د دے ویرے نه چه چرته د
ګړزیدونکی تندر اواز سره هغوی هلاک نشی - هغوی په غوږونو کښې ګوتے ننه باسی
دپاره د دے چه د تندرونو اواز وا نه وری - د دے تمثیل کښې د صَيِّبٍ نه مُراد ایمان یا
قرآن دے - د ظُلُمٰتٌ او رَعْدٌ نه هغه سختئ او تکلیفونه مُراد دی کوم چه د ایمان
راوړلو نه پس برداشت کولے شی یا د دے نه قرآنی وعیدونه او تخویفونه مُراد دی - او
د برق نه د ایمان دُنیاوی فوائد یا په قرآن کښې د رُشد او هدایت ذکر مُراد دے -
او د صواعق نه مُراد شرعی تکلیفونو یا د قرآن د وعد او وعید ایتونه دی (کبیر ص ۲۹۷ ج ۱)

روح المعانی ص ۱۳۷ ج ۱، قرطبی ص ۲۱۹ ج ۱ [illegible] منافقانو به هغوی [illegible] وپیاره [illegible]
قرآن [illegible] حکم چه هغوی [illegible] قرآن او [illegible] چه [illegible] د هغوی
زړونو ته ایمان داخل نشي او ایمان [illegible] هغوی [illegible] - [illegible] اصابعهم
فی اذانهم [illegible] لئلا یسمعوا القرآن [illegible] الشلاق و ذالک عندهم
کفر والکفر موت (قرطبی ص ۲۱۹ ج ۱)
۴۳ لیکن د هغوی [illegible] ته داخلیدل نشي، څوک چه څنګه دنیا په اختیار کښ موړ
او [illegible] هغه د هغوی [illegible] قدرت په لحاظ سره هغوی [illegible] د هغوی د
دنیاوي [illegible] هم نشي ازادولی. دا د مثال حاصل دا دے چه په شپه شپه
باران وریږي، ښکلو د اره طرفونو ته تورے تیارے خورے شوے وي او کله زیاتونکی
تندر او آواز هم آوریږي او بریښنا هم وي نو د هغه وخت کښ خوږ کار دا وه
چه د وي د رعد گرجیدل او آواز طرفته توجه ورکړے وے او پوهه شوے وے چه
زیاتے باران کیدونکے دے او ځائې وریدونکے دے، دے دپاره ئې د خپل ځان د
بچ کولو څه صورت تلاش کړے وے چه کله بریښنا کیدلے نو هغه وخت ئې د خپل
امن لاره لیدلے وے او چه کله تیاره شوے وے نو هغه وخت د خپل امن ځائې
ته روان شوے وے. لیکن دے منافقانو حال دا دے چه هغوی د رعد آواز یعنی
قرآني وعیدونه نه آوریدل بلکه په غوږونو کښ به ئې ګوتے ورکولے چه چرته په زړونو
کښ مو ایمان داخل نشي څکه چه ایمان هغوی مرګ ګڼلو.
۴۴ دا دویم تمثیل دویم شق دے یعني چه کله په تیاره کښ بریښنا پرقیږي نو
هغوی ددے په رڼا کښ څو قدمه لاړشي او چه څنګه د بریښنا رڼا غائبه شي نو هم هغلته
اودریږي. همدا حال د منافقانو وُو چه کله به ئې فتح او د مسلمانانو کامیابي اُولیدله
نو زړونه به ئې ایمان طرفته مائله کیدل لیکن چه کله به په هغوی باندے څه مصیبت یا
تکلیف راتللو نو د ایمان نه به کرکژن کیدل، کلما اصاب المنافقین من عز الاسلام
اطمأنوا الیه و اذا اصاب الاسلام نکبة قاموا لیرجعوا الی الکفر (ابن کثیر ص ۵۵ ج ۱)
حالانکه پکار خو دا وه چه په رڼا کښ ئې لاړلیدلے او په تیاره کښ ئې د لارے تلاش کړلے
او د مخکښ تللو کوشش ئې کړلے یعنی په هر حال کښ ئې صدق دل او خلوص نیت سره
د اسلام تابعداري کړلے. حضرت شیخ رحمة الله علیه به فرمائیل چه د یخطف ابصارهم دلته
د سترګو شړکول مراد نه دي بلکه ددے معنی دلته د حیران کولو ده. یعنی د قرآني هدایت
رڼا چه هغه برق سره تعبیر کړے شوه، ورځ په ورځ خوریدله او د اسلام شان او
شوکت په تیزئ سره زیاتیدلو چه د منافقانو سترګو به هغه اولیدلو نو خړے به
شوے او مرعوبه کیدل به لیکن هغوی د شک او شبهے په ختو کښ راګیر شوي وُو او څنګه
موانعو به هغوی لره د خالص ایمان نه منعه کول.
۴۵ ددے تعلق یَجْعَلُوْنَ اَصَابِعَهُمْ فِیْٓ اٰذَانِهِمْ، او یَکَادُ الْبَرْقُ یَخْطَفُ اَبْصَارَهُمْ

[illegible] الم، الف لام میم [illegible] یعنی هغوی ته [illegible]
[illegible] والآخرة [illegible] هغوی د [illegible]
[illegible]
[illegible] الله تعالی [illegible]
[illegible] داخل دے۔

د دے څه پورته تمهید وو چه پکښې د هدایت د اصل سرچینې نښانې هم ذکر شوې او د منونکو او نه منونکو اوصاف او د هغوی د انجام ذکر وو۔ اوس راتلونکی آیتونو کښې ورته د توحید دعوی پیش کولے شي۔

د توحید دعوی

هُغه تمهید کښې د دریو جماعتونو یعنی مؤمنانو، کافرانو او منافقانو اوصاف او د هغوی د جزا او سزا بیانولو نه پس ئے اوس دلته ټول مخاطب کړل او د هغوی مخکښې ئے د توحید دعوت بیان کړیدے۔ د دے سورت کښې د توحید دعوی درے ځله مکرر کړے شوې ده چه تفصیلاً مخکښې تیر شوې دی چه د هغے خلاصه داده چه اول ئے ﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوا رَبَّكُمُ﴾ (۲۱) کښې د دعوی توحید ذکر اوکړو۔ د دے نه روستو ئے ﴿وَإِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ﴾ (۱۶۳) سره اول ځل د دے اعاده اوکړه او بیا ئے ﴿اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ﴾ (۲۵۵) کښې په دویم ځل اعاده اوکړه۔ نو د دے وجه داده چه مشرکان درے قسمه شرک کوي۔ ۱: شرک فی الدعاء، ۲: نذر او نیاز کښې شرک، ۳: د شفاعت قهري په ذریعه یعنی خپل معبودان الله تعالی سره غالب شفیع گنړي۔ د دے د پاره الله تعالی د دریو وارو ځایونو کښې د توحید دعوی عقلي دلائلو سره مدلل کړیده او د پورته ذکر شوے د شرک د دریو وارو قسمونو بالترتیب نفي کړے ده۔ د عبادت معنی ده "نهایتي عاجزي"۔ د دے لفظ جامع مفهوم د علامه ابن قیمؒ په ژبه واورئ:

العبادة عبارة عن الاعتقاد والشعور بان للمعبود سلطة غيبية (اى فى العلم والتصرف) فوق الاسباب يقدر بها على النفع والضر فكل دعاء وثناء وتعظيم ينشأ من هذا الاعتقاد فهى عبادة۔ (مدارج السالکین ص ۴۰ ج ۱)

یعنی د اعتقاد او شعور چه زمونږ حالات معلومولو او په کښې خپل اختیار سره تصرف کولو کښې زمونږ د معبود ما فوق الاسباب غیبي قبضه ده او هم د دے اعتقاد لاندے خپل معبود ته آواز اوکړے شي، د هغه حمد او ثناء اوویلے شي، رکوع او سجده یا نذر او نیاز سره د هغه تعظیم اوکړے شي نو دا ټول هر څه عبادت دے۔" نو دا عبادت بجمیع

او قسمونه او اولاد ته الله پورے خاص وے او ویلی هغه سره پوهول شریک نیسی. ولٰکن د عبادت نه دُعا او پکار شوی دے. د نبی کریم ﷺ ارشاد دے: الدُّعَاءُ هُوَ الْعِبَادَةُ (ابو داؤد ص ۲۰۹ ج ۱، ترمذی ص ۱۷۳ ج ۲) یعنی دُعا اصل عبادت دے او د توحید دعوی اُعْبُدُوْا رَبَّكُمْ کښ حصر او تخصیص مراد دے یعنی صرف د الله تعالیٰ عبادت کوئی او صرف هغه را بلئ لکه څنګه چه عبدالله بن عباس رضی الله عنه دے آیت په تفسیر کښ فرمائی: ای افردوا الطاعة والعبادة لربکم دون سائر خلقه (ابن جریر ص ۱۲۲ ج ۱) یعنی طاعت او عبادت صرف د خپل رب کوئی او د هغه مخلوق د هغه په طاعت او عبادت کښ شریک مه ګرځوئی. د عبادت نه هم هغه دُعا او پکار مراد ده او د حصر د وېمه قرینه هغه نتیجه ده کومه چه د توحید د دعوے د عقلی دلائلو نه پس ذکر شوے ده یعنی فَلَا تَجْعَلُوْا لِلّٰهِ اَنْدَادًا۔

الَّذِیْ اوس دوے څائے نه په مذکوره دعوی باندے د عقلی دلائلو ابتدا کیږی. الموصول صفة مادحة للرب وفیها ایضًا تعلیل العبادة او الربوبیة علی ما قیل (روح ص ۱۸۲ ج ۱) دلته د توحید په دعوی باندے چه کوم عقلی دلیل پیش کړے شوے دے هغه په پنځه امورو باندے مشتمل دے.

اول:- "خَلَقَكُمْ" یعنی تاسو ئے پیدا کړی او د وجود نعمت ئے درکړو.

دویم:- "وَالَّذِیْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ" ستاسو پلرونو او نیکونو او د نورو ټولو انسانانو فرشتو او پیریانو هم هغه خالق دے. لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ۝ دے دپاره چه تاسو متقیان جوړ شئ څکه چه د توحید پابندئ سره تقوی حاصلیدے شی. لَعَلَّ د شک او امید دپاره وضع شوے دے لیکن کله چه د الله پاک له طرفه وی نو د یقین په معنو کښ وی؛ قال سیبویه لعل وعسی حرفا ترج وهما من الله واجب (معالم ص ۲۳ ج ۱)

دریم:- اَلَّذِیْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ فِرَاشًا. هغه تاسو دپاره زمکه د فرش پشان هواره ګرځولے ده. تاسو په هغے باندے تلے راتلے شئ، کېناستلے شئ پرے او خپل کاروبار پرے کولے شئ.

څلورم او پنځم:- وَاَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَاَخْرَجَ بِهٖ مِنَ الثَّمَرٰتِ رِزْقًا لَّكُمْ د باران په ذریعه مړه زمکه ژوندئ کړی او د هغے نه تاسو دپاره روزی پیدا کړی.

الَّذِیْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ فِرَاشًا وَّالسَّمَآءَ بِنَآءً

چا چه | اوګرځوله | تاسو دپاره | زمکه | فرش | او | آسمان | عمارت اوچت

وَّاَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَاَخْرَجَ بِهٖ مِنَ الثَّمَرٰتِ

او نازل ئے کړے | د آسمان نه | اوبه | بیا ئے راویستلے | هغے سره | میوے

رِزْقًا لَّكُمْ فَلَا تَجْعَلُوا لِلّٰهِ أَنْدَادًا وَّأَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿٢٢﴾

خوراک دپاره ستاسو نو مه کوئ خوښ شئ د الله برابر بل څوک او تاسو پوهیږئ شئ

وَإِنْ كُنْتُمْ فِيْ رَيْبٍ مِّمَّا نَزَّلْنَا عَلٰى عَبْدِنَا فَأْتُوْا

او که چیرے تاسو شئ شک کښې یئ د هغه کلام نه کوم چه موږ نازل کړو خپل بنده باندې نو راوړئ

بِسُوْرَةٍ مِّنْ مِّثْلِهٖ وَادْعُوْا شُهَدَآءَكُمْ مِّنْ دُوْنِ

یو سورت د دے قسم نه شي او راوبلئ خپل هغه حاضروئ تاسو د الله نه

اللّٰهِ إِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿٢٣﴾ فَإِنْ لَّمْ تَفْعَلُوْا وَ

سوا شئ که چیرے تاسو رښتوني یئ شئ بیا که چیرے او نکړئ شئ او

لَنْ تَفْعَلُوْا فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِيْ وَقُوْدُهَا النَّاسُ

ضرور به او نکړئ ، تاسو بچ شئ د اور نه چه د هغې خشاک انسانان

وَالْحِجَارَةُ ۚ أُعِدَّتْ لِلْكٰفِرِيْنَ ﴿٢٤﴾ وَبَشِّرِ الَّذِيْنَ

او کاڼي دي شئ تیار شوي دے انکار کوونکو دپاره شئ او زیرے ورکړه هغو ته چه

اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ أَنَّ لَهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ

یقین ئے اوکړو او نیک کارئے اوکړو شئ چه دی دوی دپاره باغونه بهیږي

مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهٰرُ ۖ كُلَّمَا رُزِقُوْا مِنْهَا مِنْ ثَمَرَةٍ

لاندے د هغې نه ویالے شئ چه کله ملاؤ شي هغوی ته د هغې نه څه شئ میوه

رِّزْقًا ۙ قَالُوْا هٰذَا الَّذِيْ رُزِقْنَا مِنْ قَبْلُ ۙ وَ

د خوراک نو وائي به شئ دا خو هم هغه ده کوم چه ملاؤ شوے وه موږ ته د دے نه مخکښې او

أُتُوْا بِهٖ مُتَشَابِهًا ۖ وَلَهُمْ فِيْهَا أَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ ۖ

ورکولے به شي دوی ته میوے یو شان شئ او دوی دپاره به هلته بیبیانے وی پاکیزه شئ

وَّهُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿٢٥﴾

او دوی به هلته همیشه اوسیږي وال شئ

نکات: دا د دوی شبهې جواب دی "أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَاهُ".

موضح قرآن: ف یعنی د جنت د میوې خوند به جدا وي اګرچه شکل کښې به یو شان سره ملاویږي چه شکل ته اوګوري نو اوبه وائي چه هغه شان ده ګوره چه د خوراک ده او چه د خلګي نو خوند به یې جدا بیا موږي.

تفسیر: ۲۲ د مذکوره دلیل نتیجه ده. فی ضمیرونه د خپل خان ... او د خپلو پېروانو نیکونو، د باقي بتانو انسانانو، پیریانو او فرښتو، د زمکې او آسمانونو او د بتانو کائناتو خالق الله پاک منلو او بتول تکویني امورونه ئې د الله پاک په تصرف او اختیار کښي ګڼل. په دې وجه د اسمانه امورې د دلیل په طور پېش کړل او وې فرمائیل چه هرکله د بتول کاروونه د الله دي او د بتول انبیاء مات د هغه دي چه تاسو ته ئې ورکړي او هرکله چه ستاسو او د بتولو کائناتو خالق، مالک، رازق او مربي صرف هغه دې او دې بتولو کاروونوکښې ورسره هیڅوک شریک نشته نو بیا صرف د هغه عبادت کوئ او صرف هغه خپلو حاجتونو او مشکلاتو کښې غائبانه رابلئ او د هغه په عبادت او پکار کښې څوک نوري، ناري یا خاکي هغه سره شریک مه جوړوئ. چا چه د بتول تعمتونه ژوند، د انسانانو بدن، ستر ګې، غوږونه پوزه، زړه او دماغ وغیره زمکه او آسمان د زمکې قیمتي خزانې، سپوږمئ، نمر او ستوري وغیره وغیره د طلب او درخواست نه بغیر تاسو ته درکړي دي، آیا هغه به طلب او درخواست سره تاسو ته خپله رحم نه کوي، بیا د محسن او مربي پرېښودلو سره نورو ته رابللئ.

۲۳ او تاسو ته ښه معلومه ده چه د دې بتولو کارونو فاعل او د بتولو خالق او رازق صرف الله پاک دې او ستاسو د معبودانو د دې کارونو هیڅ نشي کولې ﴿وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ أَنَّهَا لَا تَخْلُقُ شَيْئًا وَلَا تَرْزُقُ وَاللَّهُ الْخَالِقُ الرَّزَّاقُ﴾ (مدارک ص [illegible]) د توحید د دعوې عقلي دلائلو سره د واضحه کولو نه پس ئې د توحید متعلق د مشرکانو د دوه شبهاتو جواب ورکړو. یوه شبه خو دا وه چه دا دعوی د الله پاک له طرفه نه ده بلکه محمد ﷺ د خپل خان نه جوړه کړې ده بیا ئې هغه الله طرفته منسوب کولو سره زمونږ وړاندې پیش کوي. لکه چه بل ځائې کښې الله پاک د دې شبهې ذکر د دې الفاظو سره کړې دې "أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَاهُ" (یونس [illegible]) دویمه شبه دا وه چه دا د توحید مسئله د الله پاک له طرفه نه ده او نه دا کتاب د الله کلام دې ځکه چه د دې کښې اولیاء الله دیره د جولاګۍ، پشان د معمولي او کمینه څیزونو مثالونه بیان کړې شویدي چه دا د اولیاء الله په شان کښې سخته بې عزتي او توهین دې. دا څه چرته کیدې شي چه الله تعالی د خپلو نیکانو بندګانو توهین اوکړي.

۲۴ دا د مشرکانو د اولنۍ شبهې جواب دې یعنې کوم څه چه مونږ په خپل بنده حضرت محمد ﷺ نازل کړیدي که چرې د هغې د الله پاک له طرفه کیدلو کښې ستاسو څه قسمه شبه وي نو د هغې واحد علاج دا لاندینې دې: ومعنی قولهم فی ریب منه

فی کونه وحیا من الله تعالیٰ شانه (روح ص ۱۹۲ ج ۱) **۵۱** چه تاسو هم ژبات نه، صرف یو سورت داسې راوړئ چه په فصاحت او بلاغت کښې، د مضامینو په لحاظ کښې، د حکمتونو او رښتینو واقعاتو په صداقت کښې، د امثالو او مواعظو په اثرانگیزئ کښې، د دلائلو او براهینو په جامعیت او معقولیت کښې د محمد (ﷺ) د پیش کړې شوي قرآن مثل او هم رتبه وي۔ حضرت شیخ رحمه الله به فرمایل چه د قرآن مجید معجزه کیدل صرف د فصاحت او بلاغت په اعتبار سره نه دي ځکه چه د فَأْتُوا بِسُورَةٍ چیلنج د دُنیا ټولو منکرینو ته ورکړې شوی دی خواه هغه عربي وي یا عجمي۔ د دې وجې نه چه قرآن څنګه په فصاحت، بلاغت، ترکیب او د الفاظو په اعتبار سره معجز دی هم دغسې د مضامینو او مطالبو، حکمتونو او رښتینو واقعاتو او د براهینو او دلائلو وغیره لحاظ سره هم معجز دی۔ **۵۲** د شُهَدَآءَ نه مُراد د دوي هغه معبودان دي د کوم چه دوي عبادت کولو او د چا متعلق چه ئې دا خیال وو چه هغوي د دوي مددګار او په سخته کښې په کار راتلونکي دي۔ لهٰذا اوس وخت دی چه ستاسو په کار راشي۔ المعنیٰ ادعوا الذین اتخذتموهم الٰهة من دون الله (کبیر ص ۳۴۹ ج ۱) استعینوا بالٰهتکم فی ذٰلک یمدونکم وینصرونکم (ابن کثیر ص ۵۹ ج ۱) ای واستعینوا بالٰهتکم التی تعبدونها۔ (معالم ص ۳۳ ج ۱)
یا د دوي نه په کفر او انکار کښې د دوي هم مذهب او د دوي مددګاران مُراد دي: المراد من الشهدآء اکابرهم ومن یوافقهم فی انکار امر محمد صلی الله علیه وسلم۔ (کبیر ص ۳۴۷ ج ۱) مطلب دا دی چه خپل ټول امدادیان راوبلئ او خپلو معبودانو ته هم د امداد درخواست اوکړئ او د قرآن مثل راوړئ۔
۵۳ یعني که چرې تاسو خپلې دې دعوي کښې رښتیني یئ چه دا د الله کلام نه دی بلکه انساني کلام دی نو تاسو د دې مثل جوړ کړئ او راوړئ ځکه چه تاسو هم اهل لسان یئ او تاسو ته پخپل فصاحت او بلاغت او قادر الکلامئ باندې ناز دی **۵۴** د دې شرط جزاء محذوف ده۔ ای فَإِنْ لَّمْ تَفْعَلُوا وَلَنْ تَفْعَلُوا فَآمِنُوا۔ یعني که چرې د قرآن مثل نشئ راوړې او هیڅکله به ئې راونه وړئ نو تاسو د توحید مسئله اومنئ۔ دا د قرآن یوه بله معجزه ده چه ده بلاخوف او تردید اعلان اوکړو چه تر قیامته پورې به څوک د قرآن مثل پیش نکړې شي لکه چه تر ننه پورې د قرآن د یو آیت مثل هم پیش نکړې شو او نه تر قیامته پورې دا ممکن ده۔ (ابن کثیر ص ۶۰ ج ۱) **۵۵** دا د محذوف جزاء یعني فَآمِنُوا قائمقام دی۔ **۵۶** که چرې د ټولو ذریعو اختیارولو باوجود بیا هم د قرآن مثل پیش نکړئ نو یقین اوکړئ چه قرآن د الله تعالیٰ کلام دی او محمد (ﷺ) د الله پاک رښتونی پیغمبر دی۔ که چرې اوس هم تاسو په کفر او انکار باندې قائم پاتې شوئ نو ستاسو ټیکاڼه به د جهنم هغه اور وي د کوم خشاک چه به د الله نافرمانه بندګان او کاڼړي وي او هم ستاسو پشان کافرانو او معاندینو د پاره تیار کړې شوی دی۔ لهٰذا د جهنم نه ځان بچ کړئ او د کفر او انکار نه واپس شئ،

او محمد صلی الله علیه وسلم باندې ایمان راوړي. جهنم کښې به دغه تیږې وي ځکه استعمال شوي چه په گرمۍ کښې ئې سختي پیدا کړې شي. او ځنې مفسرینو ویلي دي چه د دې نه دغه تیږې حقیقي چه پرستش ئې کاوه مراد دي کوم چه به مشرکانو خپلې بتان معبودان جوړ کړي وو او عبادت به ئې کولو.

وقیل المراد بها حجارة الاصنام لانها التي كانت تعبد من دون الله (کبیر ص ۱ ج ۱)

د دې نه خو یو طرفته به په اور کښې سختي پیدا شي او بل طرفته چه کله مشرکان د خپلو معبودانو عاجزي او بې وسي اووینی نو د حسرت او افسوس په وجه به ئې عذاب د وچه شي. یو د دوزخ عذاب او دوئیم د حسرت، ندامت او نا امیدۍ. د منکرینو د پاره تخویف وو. اوس قرآن د مؤمنانو د پاره د جنت بشارت دے ځکه چه تخویف او تبشیر یو ځائې ذکر کوي : ومن عادة الله انه اذا ذكر آية في الوعيد يعقبها باية في الوعد. (کبیر ص ۳۲۱ ج ۱)

۵۷ کوم خلق چه د توحید او رسالت په مسئله باندې ایمان راوړي او قرآن د الله تعالی کلام مني او د دې مطابق عمل کوي هغوی ته زیرې واوروه. **۵۸** هغوی ته به اخرت کښې داسې باغونه ملاویږي چه د هغې د ونو او محلونو لاندې به ویالې بهیږي. اي من تحت اشجارها ومساكنها (معالم ص ۳۲ ج ۱) **۵۹** مِنْهَا او مِنْ ثَمَرَةٍ کښې مِنْ ابتدائیه دے او رِزْقًا د رُزِقُوا مفعول ثاني دے او مفعول اول د هغه نائب فاعل دے یعني چه کله هم هغوی ته د جنت د میوو نه د خوراک د پاره څه ورکړے شي. **۶۰** هغوی به د دې لیدلو سره اووائي چه دا خو هم هغه مزیداره میوه ده چه مخکښې هم موږ خوړلې ده. د غه شان به هغوی د خپلې خوشالۍ اظهار کوي. **۶۱** جنت کښې چه کومې میوې جنتیانو ته ورکولے شي هغه به په ظاهري شکل او صورت او رنگ کښې یو بل سره ملاویږي لیکن خوند به د هرې یوې جدا وي : قال ابن عباس ومجاهد والربيع متشابها في الالوان مختلفا في الطعوم (معالم ص ۳۲ ج ۱) او دا خبره میوو پورې مخصوصه نه وي بلکه د جنت ټول خوراکونه به یو بل سره مشابه وي، قال الحسن يؤتى احدهم بالصحفة فيأكل منها ثم يؤتى بالاخرى فيقول هذا الذي اوتينا به من قبل فيقول الملك كل فاللون واحد والطعم مختلف (کبیر ص ۳۴۷ ج ۱، مدارک ص ۲۷ ج ۱) جنت کښې به د اعلیٰ درجې لذیذ مادي غذاگانو سره سره د سکون قلب د پاره د خپلې خوښې ښځې هم ملاویږي. **۶۲** یعني هغه به د هر قسمه پلیتۍ او ناکاره اخلاقو او ناخوښه عادتونو نه پاکې وي : مطهرة من الغائط والبول والحيض والنفاس والبصاق والمخاط والمني والولد وكل قذر .... وقيل مطهرة عن مساوي الاخلاق (مدارک)

۶۳ یعني نه به دوي د جنت نه وباسلے شي او نه به ورباندې مرگ راځي او نه به د جنت نعمتونه فنا کیږي : دائمون لايموتون فيها ولايخرجون (معالم ص ۳۵ ج ۱) فانهم مع هذا النعيم في مقام امين من الموت والانقطاع فلا اخر له ولا انقضاء بل في نعيم سرمدي ابدي على الدوام (ابن کثیر ص ۶۳ ج ۱)

إِنَّ اللَّهَ لَا يَسْتَحْيِي أَن يَضْرِبَ مَثَلًا مَّا بَعُوضَةً فَمَا

بیشکه الله شرم نه کوی د دے خبرے نه چه بیان کړی مثال د یو ماشی یا د هغه څیز

فَوْقَهَا ۚ فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا فَيَعْلَمُونَ أَنَّهُ الْحَقُّ

چه د دے نه زیات وی نو کوم خلق چه د توحید په مسئله ایمان راوړی نو هغوی یقیناً پوهیږی چه دا مثال یقینی دے

مِن رَّبِّهِمْ ۖ وَأَمَّا الَّذِينَ كَفَرُوا فَيَقُولُونَ مَاذَا

چه نازل شوے دے د رب د هغوی نه او هغوی چه کافران دی نو هغوی وائی څه مقصد

أَرَادَ اللَّهُ بِهَٰذَا مَثَلًا ۘ يُضِلُّ بِهِ كَثِيرًا وَيَهْدِي

وو د الله د دے مثال نه گمراه کوی د دے سره ډیر او هدایت کوی

بِهِ كَثِيرًا ۚ وَمَا يُضِلُّ بِهِ إِلَّا الْفَاسِقِينَ ﴿٢٦﴾ الَّذِينَ

د دے سره ډیرو ته او نه گمراه کوی د دے مثال سره مگر بدکاران چه هغوی

يَنقُضُونَ عَهْدَ اللَّهِ مِن بَعْدِ مِيثَاقِهِ وَيَقْطَعُونَ

د الله معاهده د توحید د مضبوطولو نه پس ماتوی او قطع کوی

مَا أَمَرَ اللَّهُ بِهِ أَن يُوصَلَ وَيُفْسِدُونَ فِي الْأَرْضِ ۚ

هغه څیز د کوم چه الله حکم کړے دے د یوځائے کولو او فساد کوی په زمکه کښی همدغه خلق

أُولَٰئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ ﴿٢٧﴾ كَيْفَ تَكْفُرُونَ بِاللَّهِ وَ

هم دوی نقصان والا دی څرنگه کافران کیږئ په الله تعالی حالانکه

كُنتُمْ أَمْوَاتًا فَأَحْيَاكُمْ ۖ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ

تاسو مړه (بے ساه) وئ بیا یئ تاسو ژوندی کړئ بیا به تاسو مړه کړی بیا به مو ژوندی کړی

ثُمَّ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٢٨﴾

بیا به هغه طرفته واپس کولے شئ

نکات:- ۱- دا د دویم شبهے جواب دے الله تعالی د جولاگی په شان د حقیرو څیزونو ذکر ولے کوی؟ ۲- یُضِلُّ متفرع دے په یَقُولُونَ مَاذَا أَرَادَ اللَّهُ بِهَٰذَا او یَهْدِي متفرع دے په

يَعْلَمُوْنَ اَنَّهُ الْحَقُّ پاتې په طريقه دلف او نشر غير مرتب. سره متعلق دے دليل عقلى پورے تر وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ.

موضح قرآن: ف۱ قرآن شريف کښې لے ځينو مثال بيان کړے دے د جولاګې او دے پاتې به کافرانو عيب نيولو چه د الله تعالى شان دے څيزونو ذکر چرته دځې. که چرے دا د الله کلام وے نو دا سې به نه ذکر کيدلے. دے سره دا کړلو نه دے. ايتونه نازل شو.

فتح الرحمن: ف۱ کافرانو چه کله د ذباب او عنکبوت ذکر قرآن شريف کښې واوريدو نو طعن ئے کړلو او ويل به ئے چه الله تعالى د دے خسيس څيزونو ذکر کولو سره څه اراده کړے ده؟ نو دا ايت نازل شو.

تفسير: ۲۶ د مشرکانو د دويم شبهے جواب او د لَا يَسْتَحْيِيْ معنى ده لَا يَتْرُكُ څکه چه انسانانو پورے مختص صفتونه هر کله الله پاک طرفته منسوب کولے شي نو هغے نه د دوي نتائج مراد وي او د حياء نتيجه چونکه د فعل پريښودل وي په دے وجه دلته هغه مراد دے. فاذا ورد الحياء في الله تعالى فليس المراد منه ذلك الخوف الذي هو مبدأ الحياء ومقدمته بل ترك الفعل الذي هو منتهاه وغايته (کبير ج۱). د مَثَلًا تنوين تنکير د پاره دے. مَا نکره صفت دے د مَثَلًا چه د ئے کښې زيات ابهام پيدا کوي او بَعُوْضَةً د دے نه بدل يا عطف بيان دے (کبير ص ۳۵۵ ج۱، روح ص ۲۰۶ ج۱) فَمَا فَوْقَهَا. دلته د فوقيت نه مراد هغه معنى کښې زيادت او فوقيت دے کوم کښې چه تمثيل واقع شوے دے يعنى د حجم کمے او حقارت: والمراد بالفوقية الزيادة في المعنى الذي وقع التمثيل فيه وهو الصغر والحقارة فهو تنزل من الحقير الى الاحقر. (روح ص ۲۰۶ ج۱) نو مطلب دا شو چه د دوي وينا سره الله تعالى د ماشي يا د دے نه هم د کم او حقير څيز نو مثال بيانول نه پريږدي يعنى هغه به د ضرورت مطابق او د محل مناسب دا سے مثالونه بيانوي. مثال دے د پاره بيانولے شي چه مسئله واضحه شي لکه چه الله تعالى د جولاګې د جال مثال ورکړے دے او دا حقيقت ئے واضح کړے دے چه د الله نه سوا ئيو نبي يا ولى د عبادت او پکارلو لائق نه دے يعنى د غير الله پناه نيول داسے کمزورے ده لکه د جولاګې جال. که چرے دا مثال نه وے بيان شوے نو د غير الله د پکارلو مسئله به دا شان نه وه واضح شوے.

اوس مخکښې چه دوے مثالونو بيان سره مختلف خلقو باندې مختلف اثرات مرتب کيږي د هغے بيان دے.

۲۷ کوم خلق چه د محمد ﷺ په رسول کيدلو او د قرآن په کلام الله کيدلو باندې ايمان لري او د توحيد مسئله ئے منلے ده. هغوي دے خبرے باندې يقين لري چه دا مثال هم د الله پاک له طرفه دے او د موقع او محل مطابق دے: اى يعلمون انه كلام الرحمن وانه من عند الله (ابن کثير ص ۶۵ ج۱) ف۲۸ ليکن کفار معاندين د سپکاوي په لهجه کښې وائي

چه اخر دے مثال نه د الله تعالیٰ غرض څهٔ دے؟ دے کښې خو د اولیاء الله توهین دے.

٦٦ د منکرینو خیال وُو چه د دے حقیرو څیزونو د تمثیلاتو نه هیڅ فائده نشته نو د دے دوه جملو کښې ئے د مثالونو بیانولو حکمت او د هغې ډیر فائده بیان کړه چه دا مثالونه حق دی چه د مسلمانانو هدایت او د معاندینو په ګمراهئ کښې د زیاتوالی ذریعه او باعث جوړیږی. انه مشتمل علی حکمة جلیلة هی کونه وسیلة الی هدایة المستعدین للهدایة واضلال المنهمکین فی الغوایة (روح ص ٢٠٩ ج ١) وقال الشیخ رحمه الله تعالیٰ فی ضرب الامثال بالمحقرات ابتلاء للمؤمنین والکفار. تمثیل بیانول څهٔ نوے خبره نهٔ ده، د تمثیل دستور د پخوا زمانے راسے رارَوان دے او پخپله مشرکان خپلو روزمره خبرو کښې هم د مثال استعمال کوی. د مشرکانو دا اعتراض چه الله تعالیٰ د مچ او جولاګې پشان د حقیرو څیزونو مثالونه ولے بیانوی؟ دا محض د ضد او عناد په بنا بانې وُو. په حقیقت کښې د دغه خلقو نفرت خو د توحید د مسئلے نه وُو او دا اعتراض د تنګې یې یوه بهانه وه. د هدایت ورکولو او ګمراه کولو نه دا مطلب نهٔ دے چه د دے مثالونو په ذریعه د هدایت او ضلالت حدوث کیږی بلکه مطلب دا دے چه د دے په ذریعه مؤمنانو ته زیات انشراح صدر او اطمینان حاصلیږی او د ګمراهانو او مشرکانو په پریشانو کښې نور اضافه کیږی (روح ملخصاً) ٦٧ د فاسقین نه مُراد هغه خلق دی څوک چه د ایمان د حدونو نه بهر ته ځی. والمراد بالفاسقین هُنا الخارجون عن حدود الایمان (روح ص ٢١٠ ج ١). یعنی د دے په ذریعه صرف هغه خلق ګمراه کوی څوک چه پخپله ګمراه کیدل غواړی او پخپل اختیار سره ګمراهی اختیارول غواړی. اِضلال ئے فاسقین پورے خاص کړو. ورانډے ئے د دوی درے خونور خباثتونه بیان کړی دی. د دے سره همدے حقیقت طرفته اشاره ده چه د دوی په ګمراهئ باندې قائم پاتے کیدلو او د هدایت توفیق ترے نه د سلب کیدلو اصل سبب همدا خباثتونه دی. لهٰذا د دے ګمراهئ اسباب پخپله هم دوی پیدا کړیدی او د دے اسبابو او د دے په اثارو او نتائجو کښې هم هغه تکوینی تعلق دے کوم چه په اور او سوزولو کښې دے. څنګه چه د اور کار سوزول او ایره کول دی دغه شان د سرکشئ او د حدود الله د ماتولو تکوینی نتیجه د هدایت نه همیشه محرومه کیدل دی او دلته اضلال د الله پاک طرفته محض په دے وجه منسوب کړے شوے دے چه هغه فاعلِ حقیقی او خالق د افعالو دے. وَاِسناد الاضلال ای خلق الضلال الیه سبحانه مبنی علی ان جمیع الاشیاء مخلوقة له تعالیٰ. (ابوالسعود، ص ٢٩٣ ج ١)

٦٨ دا دَ الفاسقین صفتِ کاشفه دے یعنی د الله تعالیٰ د توحید وعده ماتوی، د الله وَصل پریکوی او غیرالله رابلی او زمکه کښې د شرک په ذریعه فسا د خوروی. د عهدالله نه مراد توحید او د احکامِ الٰهی عهد دے. "قال الشیخ رحمه الله تعالیٰ ما عهد الله الیهم من التوحید والاحکام" امام ابن کثیرؒ فرمائی: ای جمیعهم فی توحید وما وضع لهم من الادلة علی ربوبیته وعهده الیهم فی امره ونهیه ما احتج به لرسله من المعجزات الخ

(ابن کثیر ص ۶۶ ج ۱) یعنی دا دے عهد توثیق آفاق او انفسی دلائلو سره د نازل شوو کتابونو او د پیغمبرانو معجزاتو سره کیدله. المراد ما وثق الله به عهده من الآیات والکتاب.
(بیضاوی ص ۶۶ ج ۱)

۵۹ اَنْ یُّوْصَلَ د بِهٖ ضمیر مجرور نه بدل الاشتمال دے. مَا دخپل عموم او وسعت په اعتبار سره هغه ټولو تعلقاتو ته شامل دے دکوم چه الله پاک د قائمولو حکم ورکړے دے. المراد به الامر الشامل لما ذکر لما یوجب قطعه قطع الوسیلة بین الله تعالیٰ وبین العبد (روح ص ۲۱۱ ج ۱) یحتمل کل قطیعة لا یرضی بها الله سبحانه وتعالیٰ (ابوالسعود ص ۳۴۲ ج ۱) الاشارة الی دین الله وعبادته فی الارض واقامة شرائعه وحفظ حدوده فهی عامة فی کل ما امر الله به ان یوصل هذا قول الجمهور (قرطبی ص ۲۴۷ ج ۱) **۶۰** شرک کوی، خلق د ایمان او د نبی علیه السلام د تابعدارئ نه منع کوی او د کفر ترغیب ورکوی او هر کار د نفسانی خواهشاتو مطابق کوی - د الله تعالیٰ په نافرمانو او بدعملو کښې مشغول دی: ای یعبدون غیر الله تعالیٰ ویجورون فی الافعال (قرطبی ص ۲۴۷ ج ۱) بالمعاصی ویعوق الناس عن الایمان بمحمد صلی الله علیه وسلم وبالقرآن (معالم ص ۳۴ ج ۱) افسادهم باستدعائهم الی الکفر والترغیب فیه وحمل الناس علیه (روح ص ۲۱۳ ج ۱) والاظهر منه الصد عن طاعة الرسول لان تمام الصلاح فی الارض بالطاعة (کبیر ص ۳۶۶ ج ۱) **۶۱** اُولٰٓئِکَ سره اشاره فاسقین طرف ته ده. هُمْ ضمیر فصل د حصر د پاره دے او مطلب دا دے چه مذکوره بالا صفتونو سره موصوف صرف فاسقان نقصان او چتونکی دی او حصر د کمال نقصان په اعتبار سره دے ځکه چه د ایمان د دولت نه د محرومتیا په وجه سره هغوی د دنیا او آخرت دواړو جهانونو کښې په خساره کښې دی. **۶۲** د مشرکانو د دواړو اعتراضونو د جواب ورکولو نه پس دلته بیا د توحید اصلی دعوے طرف ته رجوع ده او نور زیاتی دلائل سره دے اثبات کړے شوی دی. استفهام د تعجب او انکار د پاره دے او د تَکْفُرُوْنَ معنیٰ تُشْرِکُوْنَ ده یعنی دومره واضحه دلائلو په موجودګئ کښې تاسو ولے الله پاک سره شریک کوئ؟ کَیْفَ تَکْفُرُوْنَ بِاللّٰهِ بعد نصب الدلائل ووضوح البرهان ثم ذکر الدلائل (معالم ص ۳۷ ج ۱) کیف تکفرون بالله ای کیف تجحدون معه غیره. (ابن کثیر ص ۶۷ ج ۱) د براهینِ قاطعه او دلائلِ واضحه په موجودګئ کښې ستاسو شرک کول د بیرزیات تعجب قابل دے. تاسو ته معلومه ده چه مُحْیِی او مُمِیت خالقِ د زمکے او د آسمان او د عالَم په هر څیز باندې صرف الله تعالیٰ دے او دا صفتونه بل چیرې کښې نشی موندلے. نو بیا ولے هغه سره شریک کوئ؟ وَکُنْتُمْ اَمْوَاتًا یعنی تاسو بے روحه نطفه وئ. نطفة فی اصلاب آبائکم (معالم) فَاَحْیَاکُمْ. تاسو ته ئے ژوند درکړو او د ژوند قائم ساتلو د پاره ئے ټول ضروریات موجود کړل. ثُمَّ یُمِیْتُکُمْ چه کله ستاسو مقرره عمرونه پوره شی هغه به تاسو مړه کوی. ثُمَّ یُحْیِیْکُمْ. بیا به هغه تاسو ټول د قیامت په ورځ راژوندی کوی. ثُمَّ اِلَیْهِ تُرْجَعُوْنَ ۝ بیا به د حساب کتاب او جزا سزا د پاره تاسو د هغه په وړاندے راوستلے شئ.

هُوَ الَّذِي خَلَقَ لَكُم مَّا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا ثُمَّ

هغه هغه ذات دے چه پیدا کړل ستاسو دپاره کوم شے چه په زمکه کښې دی ټول بیا هغه

اسْتَوَىٰ إِلَى السَّمَاءِ فَسَوَّاهُنَّ سَبْعَ سَمَاوَاتٍ ۚ وَهُوَ

قصد اوکړو اسمان طرفته نو برابر یې کړل اووه اسمانونه او هغه

بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿٢٩﴾ وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَائِكَةِ إِنِّي

د هر څیز نه خبردار دے ښکه او هر کله چه اووئیل ستا رب فرشتو ته ښکه چه زه

جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيفَةً ۖ قَالُوا أَتَجْعَلُ فِيهَا

جوړونکے یم په زمکه کښې یو نائب اووئیل فرشتو آیا قائموے ته په زمکه کښې

مَن يُفْسِدُ فِيهَا وَيَسْفِكُ الدِّمَاءَ وَنَحْنُ

هغه خلق چه فساد اوکړي دیکښې او وینه توئے کړي ښکه او مونږ

نُسَبِّحُ بِحَمْدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَ ۖ قَالَ إِنِّي أَعْلَمُ

بیانوو ستا صفتونه او یادوو ستا پاک ذات ښکه وے فرمائیل بیشکه ما ته معلوم دي

مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿٣٠﴾ وَعَلَّمَ آدَمَ الْأَسْمَاءَ كُلَّهَا

هغه کوم چه تاسو ته دي معلوم ښکه او اوښودل الله تعالیٰ آدم ته نومونه د ټولو څیزونو

ثُمَّ عَرَضَهُمْ عَلَى الْمَلَائِكَةِ فَقَالَ أَنبِئُونِي بِأَسْمَاءِ

بیا ئے رامخکښې کړل دا ټول څیزونه فرشتو ته بیا ئے اوفرمائیل اوښایئ ما ته نومونه

هَٰؤُلَاءِ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿٣١﴾ قَالُوا سُبْحَانَكَ لَا

د دے ښکه که چرے تاسو رښتوني یئ ښکه وے وئیل پاک یے ته مونږ ته

عِلْمَ لَنَا إِلَّا مَا عَلَّمْتَنَا ۖ إِنَّكَ أَنتَ الْعَلِيمُ الْحَكِيمُ ﴿٣٢﴾

معلوم نه دي مګر دومره چه تا راته اوښودل ښکه بیشکه ته یې اصلي علم والا حکمت والا ښکه

نکات :- متعلق دے د دعوی توحید پورے سره د دلیل عقلي نه. ۲ ملائک

د بللو لائق نه دي ځکه هغوي په غیبو عالمان نه دي۔

تفسير: **خَلَقَ** دَ زمکے کائنات تاسو دپاره پیدا کړل دپاره دد دے چه تاسو ترینه فائده حاصله کړئ او دیکښ غور او فکر او کړئ او د خالق د قدرت او صنعت کارېګرئ اندازه اولګوئ. زمکه کښ موجود دپاره تیا شوے دنیاوی فائدے نه دی بلکه دینی فائدے هم شته او د اخرت سامان هم. واما قوله لکم فهو یدل علی ان المذکور بعد قوله خلق لاجل انتفاعنا فی الدین والدنیا (کبیر ص ۲۵۲ ج ۲) **ثُمَّ اسْتَوٰٓى اِلَى السَّمَآءِ** ـــــ د استوی صله چه کله اِلیٰ وی نو دا دے معنیٰ قصد کول او متوجه کیدل وی. استوی الیٰ ای اقبل (قرطبی ص ۲۵۵ ج ۱) دَ زمکے پیدا کولو نه پس دغه اسمان طرفته متوجه شو. **فَسَوّٰىهُنَّ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ** د تسویه نه مراد دا دے چه اسمانونه ئے بالکل مکمل جوړ کړل او دے کښ ئے څه قسمه چوند سے یا سورے باقی پری نه خودو ومعنی تسویتهن تعدیل خلقهن واخلاؤه من العوج والفطور واتمام خلقهن (کبیر) **وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ** ـ ځکه چه هغه د ټولو کائناتو، د زمکے او اسمان خالق دے دغے هغه د ټول عالم په ذره ذره باندے خبردار دے او د زمکے او اسمان هیڅ یو څیز دهغه د علم د تویے نه بهر نشته. د دے ایت په ابتداء کښ **هُوَ الَّذِىْ خَلَقَ** کښ مبتدا او خبر دواړه دمعرفه کیدلو د وجے نه حصر دے. بیا **ثُمَّ اسْتَوٰى**، **خَلَقَ** باندے معطوف دے **وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ** په **هُوَ الَّذِىْ خَلَقَ** باندے معطوف دے او قاعده دا ده چه کله د کلام په ابتداء کښ حصر وی نو دهغه په باقی اجزاؤ کښ به هم حصر وی. نو مطلب دا شو چه الله تعالیٰ د زمکے او اسمان خالق او کارساز دے او صرف الله تعالیٰ په هر څیز باندے عالم دے.

نتیجه هر کله چه تاسو ته پته ده چه مرګ او ژوند دَ الله په قبضه کښ دی، دَ زمکے او اسمان خالق هم الله دے او د هر ظاهر او پټ څیز پیژندونکے هم هغه دے. هر کله چه دا ټول کارونه دهغه دی او دیکښ ورسره هیڅوک شریک نشته نو بیا په عبادت او پکارونو کښ ورسره نور خلق ولے شریکوئ. دا زمکے ټول دینی او دنیوی نعمتونه هم هغه درکړیدی او بخیر دغو بنتلونه ئے درکړیدی نو بیا هغه کوم څیزونه دی چه هغه ئے نشی درکولے او تاسو هغه د نورو نه غواړئ. څوک انبیاء علیهم السلام و اولیاء کرامو ته چغه وهی، څوک مقربو فرښتو سره خپل امیدونه تړی او څوک د پیریانو بنا د طلب کوی حال دا دے چه هیڅوک ناری یا خاکی د الله تعالیٰ شریک نشی جوړیدلے ځکه چه معبود صرف هغه کیدے شی څوک چه د زمکے او اسمان خالق، مالک او په هر څیز عالم وی لیکن نوری، ناری او خاکی کښ هیڅوک داسے نشته.

اِذْ ـ د اِذْ ظرف عامل محذوف منلو ته ضرورت نشته لکه څنګه چه بعض مفسرینو دلته اُذْکُرُوْا محذوف منلے دے ځکه چه روستو راتلونکے قَالُوْٓا دَ دے کښ عامل دے او د ظروفو د عواملو مخکښ راتلے دے باندے جائز دے. **خَلِيْفَةً** ـــــ خلیفه هغه چا ته وئیلے شی چه د یو کس نه پس دهغه فرائض سنبهالوی: الخلیفة من یخلف غیره ویقوم مقامه (کبیر)

ف۵ د فرښتو سوال د اعتراض په طور یا د بنی ادم سره د حسد په وجه نه وو بلکه محض د تپوس او وضاحت په طور وو. لیس علی وجه الاعتراض علی الله ولا علی وجه الحسد لبنی آدم کما قد یتوهم بعض المفسرین (ابن کثیر ص ۶۹ ج ۱) او د بنی ادم متعلق د فساد خوړولو او وینے تویولو نظریه هغوی دوی لره پیریانو باندې قیاس کولو په قائمه کړه ځکه چه تر دے به زمکه باندې پیریان آباد وو او د هغوی فساد فی الارض او خون خرابه فرښتولیدلے وه نو هغوی خیال اوکړو چه بنی ادم چه اوس خلیفه جوړولے شي دلوی به هم هغسے وي.

ف۶ قال الشیخ رحمه الله تعالی قول الملائکة نحن نسبح بحمدك یرجع الی نفی النقص فی ملکه تعالی فی الحال وقولهم نقدس لك یرجع الی نفیه فی المستقبل.

فرښتو دا قول هم د فخر او غرور په طور نه وو بلکه محض د عاجزئ او انکسارئ د اظهار په طور وو لکه څنګه چه یو مخلص خادم خپل مالک او آقاته وائی چه حضور! د خدمت چه تاسو چا ته سپارل غواړئ هغه به د دے پوره حق ادا نکړے شي. ځکه چه همیشه ستاسو مخلص خادم یم او هر وخت م ستاسو خدمت ته ملا تړلے ده، د دا خدمت تاسو ماته اوسپارئ. بعینه دا طریقه فرښتو اختیار کړے وه. لیس المقصود الا الاستفسار عن المرجح لا العجب والتفاخر (روح ص ۲۲۲ ج ۱) او علی طریقة من یجد فی خدمة مولاه وهو یأمر بها غیره اتخدم العصاة وانا مجتهد فیها (ابو السعود ص ۲۵۶ ج ۱)

ف۷ د فرښتو علم محدود وو. د سابقه تجربے په بناء هغوی خو صرف دا اندازه لګولے وه چه د نوے مخلوق به فسادی او خونریز وي لیکن د دے مخلوق د نورو خوبیانو او نورو مصلحتونو نه هغوی ناواقفه وو لکه چه الله تعالی فرمائی چه د دے پیدا کولو کښې کوم مصالح پټ پراته دی هغه تاسو ته معلوم نه دی. ای اعلم من الحکم فی ذلک ما هو خفی علیکم یعنی یکون فیهم الانبیاء والاولیاء والعلماء (مدارک ص ۴۰ ج ۱) ای اعلم من المصلحة الراجحة فی خلق هذا الصنف علی المفاسد التی ذکرتموها ما لا تعلمون انتم (ابن کثیر ص ۶۹ ج ۱) حاصل دا دے چه دوی کښې به فساد او وینه تویول هم وي لیکن دوی کښې چه کوم صفتونه وي هغه به د دے مفاسدو باندې راجح وي. هغه دا چه دوی کښې به اولیاء او پیغمبران وي، صدیقین، شهداء او علماء به وي. د انسان په خلقت کښې یو حکمت دا هم وو چه انسان د خداوندی صفاتو مظهر اوګرځیدے، که چیرے انسان نه وے پیدا شوے نو د الله تعالی صفتونه مثلاً د رزاقیت، جباریت، غفاریت وغیره ظهور به نه وو شوے.

ف۸ د فرښتو د سوال اجمالی جواب خو تیر شو. اوس د دوی د مزید اطمینان د پاره د حضرت ادم علیه السلام د دے فضیلت عملاً اظهار کولے شي. دلته کل د استغراق حقیقی د پاره نه دے بلکه کل اضافی دے او د دے نه ضروری څیزونه مراد دی کوم چه د ادم علیه السلام مناسب وو. هر څیز مراد نه دے، کما فی قوله تعالی یأخذ کل سفینة

عجب و اوتیت من کل شیء، وفتحنا علیهم ابواب کل شیء، د اسماء نه د اشیاؤ
خواص و د هغې تفصیلات مراد دي. المراد بالاسماء صفات الاشیاء ونعوتها و خواصها.
(روح المعاني) و د تعلیم نه مراد دا دے چه الله تعالی د حضرت آدم علیه السلام په فطرت کښې
د دے علم استعداد ایښے ؤ. هغوی د دے فطري استعداد په ذریعه د دے څیزونو
خواص او اوصاف بیان کړل. لهذا د آدم علیه السلام د فضیلت وجه د هغوی فطرت و اعتبار
سره وه. د مطلب نه دے چه د فطري استعداد نه علاوه هغه ته علم ورکړے شوے ؤ
لکه چه د دے طریقه باندې دا اعتراض لازمیږي چه هر کله د دے څیزونو علم حضرت آدم
ته ورکړے شوے ؤ نو پکښې د هغه کمال د کوم ځایه شو؟ او فرشتو ته ورنکړے شوے نو
پکښې د هغوی څه قصور دے؟ ۷۹ے بیا هغه اشیاء د فرشتو په مخکښې پیش کړے
شوې وې او تپوس ترے اوکړے شو چه د دے څیزونو خواص بیان کړئ. ۸۰ے که چرے
تاسو په دے دعوی کښې رښتوني یئ چه زمونږ په موجودګۍ کښې چه هر وخت د الله په
تسبیح، تقدیس، تحمید او تمجید کښې مصروف اوسیږو د بل یو مخلوق د پیدا کولو
ضرورت نشته چه د هغوی نه د فساد او وینې تویولو خطره ده. ۸۱ے فرشتو د خپل
عجز او قصور اعتراف اوکړو چه اے الله! مونږ ته خو صرف هغه څیزونه معلوم
دي د کوم علم چه تا مونږ ته زمونږ د استعداد موافق راکړے دے او کوم څیزونه
چه زمونږ د قابلیت او استعداد نه بالا دي مونږ ته د هغې علم نشته. لاعلم لنا الا
ما علمتنا بحسب قابلیتنا من العلوم المناسبة لعالمنا ولاقدرة لنا على ما هو خارج
عن دائرة استعدادنا. (ابو السعود ص ۸۰ ج ۱) ۸۲ے ته علیم او حکیم یې. ستا هیڅ یو
کار د حکمت نه خالي نه دے. مختلف مخلوق کښې د مختلف استعدادونو کیښودلو حکمت
هم تاته ښه معلوم دے.

قَالَ يٰۤاٰدَمُ اَنۡۢبِئۡهُمۡ بِاَسۡمَآئِهِمۡ ۚ فَلَمَّاۤ اَنۡۢبَاَهُمۡ

وئے فرمائیل اے آدم! اوښایه فرشتو ته د دے څیزونو نومونه، بیا چه کله اوښودل هغه

بِاَسۡمَآئِهِمۡ ۙ قَالَ اَلَمۡ اَقُلۡ لَّكُمۡ اِنِّىۡۤ اَعۡلَمُ غَيۡبَ

د دے نومونه، وے فرمائیل آیا نه وو وئیلي ما تاسو ته چه بیشکه زه پیژنم پټ څیزونه

السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ ۙ وَاَعۡلَمُ مَا تُبۡدُوۡنَ وَمَا كُنۡتُمۡ

د آسمانونو او د زمکے او پیژنم هغه څه چه تاسو یې ظاهروئ او هغه چه تاسو یې

تَكۡتُمُوۡنَ ﴿۳۳﴾ وَاِذۡ قُلۡنَا لِلۡمَلٰٓئِكَةِ اسۡجُدُوۡا لِاٰدَمَ

پټوئ کله او کله چه مونږ حکم ورکړو فرشتو ته چه سجده اوکړئ آدم ته

فَسَجَدُوٓا اِلَّآ اِبْلِيْسَ اَبٰى وَاسْتَكْبَرَ وَكَانَ مِنَ

نو سجده ئې وکړه ټولو ملائکو مګر شیطان (ابلیس) هغه اونه منل او تکبر ئې اوکړو او شو هغه د

الْكٰفِرِيْنَ ﴿۳۴﴾ وَقُلْنَا يٰٓاٰدَمُ اسْكُنْ اَنْتَ وَزَوْجُكَ

کافرانو نه او مونږ اوویل چه اے آدمه! اوسیږه ته او ستا ښځه

الْجَنَّةَ وَكُلَا مِنْهَا رَغَدًا حَيْثُ شِئْتُمَا ۠ وَلَا تَقْرَبَا

په جنت کښې او خورئ دیکښې ښه په فراخئ او چرته چه غواړئ او نزدے مه ورځئ

هٰذِهِ الشَّجَرَةَ فَتَكُوْنَا مِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۳۵﴾ فَاَزَلَّهُمَا

دغه ونې ته بیا به تاسو شئ ظالمان لګه بیا اوخوزول دواړه

الشَّيْطٰنُ عَنْهَا فَاَخْرَجَهُمَا مِمَّا كَانَا فِيْهِ ۠ وَقُلْنَا

شیطان د هغه خائے نه لګه بیا ئې راویستل دواړه د هغه عزت او راحت نه په کوم کښې چه وو لګه او مونږ اوویل

اهْبِطُوْا بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ ۚ وَلَكُمْ فِى الْاَرْضِ

تاسو ټول کوز شئ تاسو به دیو بل دشمنان یئ لګه او تاسو دپاره په زمکه کښې د

مُسْتَقَرٌّ وَّمَتَاعٌ اِلٰى حِيْنٍ ﴿۳۶﴾

اوسیدو ځائے دے او نفع اخستل دی یو وخت پورے لګه

نکات: ۔۱۔ ابلیس او د هغه اولاد هم د رابللو لائق نه دی ځکه چه هغه ستاسو پخوانی دشمنان دی۔ ۔۲۔ آدم او حواء علیهما السلام هم درابللو لائق نه دی ځکه هغوی په غیبو خبر نه دی۔

تفسیر: ۸۳ لګه هرکله چه فرشتو د خپلے عاجزئ او قصورِ علم اقرار اوکړو نو د حضرت آدم علیه السلام فضیلت ظاهرولو دپاره هم هغه سوال هغه ته پیش کړے شو۔ ۸۴ لګه ستاسو حقیقت او ستاسو ظاهری او باطنی حالات ښه پیژنم۔ ماته معلومه ده چه ستاسو حقیقت یو دے او د انسان حقیقت بل دے۔ دے ځائے پورے د فرشتو عجز، قصورِ علم او په کمالاتو کښې د حضرت آدم علیه السلام نه کموالے د روښانه ورځ پشان واضحه شو، پخپله د فرشتو خپل اقرار هم او د الله تعالیٰ داعلان نه هم۔ هرکله چه د دے نوری مخلوق د عجز او قصورِ علم د احوال دے او هغه د حضرت آدم علیه السلام نه بعض کمالاتو کښے هم دی نو بیا هغه د الله پاک شریک څرنګه جوړیدے شی۔ لهٰذا هغه متصرف او مختار او عالم الغیب مه ګڼړئ او هغوی ته ئیا نه مه رابلئ۔ داړنګه فرشتے پخپله د "نَحْنُ نُسَبِّحُ بِحَمْدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَ" اعلان کوی، د الله د

توحید اِقرار اوکړي شرك نه تردید کوي او تاسو هغه د الله تعالیٰ شریك ګرځوئ.

۸۵ فرښتو ته د سجدې حکم، د هغوی د عاجزئ اظهار او د حضرت آدم علیه السلام دوی باندې فضیلت ثابتولو د پاره ورکړے شو. د سجدې نه مُراد شرعي سجده ده. اوس دے باندې د اقیاس نشي کیدلے چه یو انسان بل انسان ته سجده اوکړي. یا د لِاٰدَمَ لام په معنیٰ د اِلیٰ سره دے نو دے صورت کښ اصل مسجودِ حقیقي الله تعالیٰ وي او د حضرت آدم علیه السلام حیثیت به د قبلې وي لکه څنګه چه مونږ شپه او ورځ بیت الله ته سجده کوو. (روح ص ۲۲۹ ج ۱) غیر الله ته د سجدې کولو پوره تحقیق به په سورة یوسف کښ راشي اِن شاء الله. د اکثرو مفسرینو رائے دا ده چه دا سجده شرعي نه وه بلکه لغوی وه او د دے نه مُراد صرف د عجز و انکسارئ اظهار وو؛ وقیل المعنی اللغوی ولم یکن فیه وضع الجباه بل کان مجرد تذلل و انقیاد (روح ص ۲۲۸ ج ۱). فَسَجَدُوْٓا اِلَّآ اِبْلِيْسَ؛ د الله د دے حکم ټولو فرښتو فورًا تعمیل اوکړو لیکن اِبلیس مغروره شو. اَبٰى وَاسْتَكْبَرَ : هغه د کبر او غرور په وجه انکار اوکړو او خپل ځان ئے د حضرت آدم علیه السلام نه بهتر اوګڼړلو. وَكَانَ مِنَ الْكٰفِرِيْنَ ۝ او د الله په عِلم کښ هغه ازلي بدبخته وو او الله تعالیٰ ته معلومه وه چه دے به د ایمان نه پس کُفر کوي او یا کَانَ د صَارَ په معنیٰ دے یعني د انکار او استکبار د وجې نه هغه کافر شو. د دلته ئے د فرښتو عبادت کوونکو باندې یو حقیقت واضحه کړو چه هغوی کوم مخلوق ته چه ستاسو د نیکه د تعظیم د پاره د هغهٔ په مخکښ د تیټیدلو حُکم ملاؤ شوے وو. ولے تیټیږئ؟ او خپله خود شناسي ولے برباد وئ؟ کوم خلق چه د جِنّاتو عبادت کوي هغوی دِ هم غور اوکړي چه جِنّات خو د رُومبئ ورځے نه د دوی دشمنان دي او د دوی دُشمني بالکل واضحه ده. بیا دوی هغوی لره د الله پاك شریکان جوړوي او د الله نه سِوا ئے کارساز ګڼړي. د الله پاك ارشاد دے: اَفَتَتَّخِذُوْنَهٗ وَذُرِّيَّتَهٗٓ اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِيْ وَهُمْ لَكُمْ عَدُوٌّ ؕ (سورة کهف)

۸۶ د زَوْجُكَ نه مُراد حوا بي بي ده چه الله تعالیٰ هغه د حضرت آدم علیه السلام د اوګیرلے او د زړهٔ د سکون د پاره پیدا کړه. وَكُلَا مِنْهَا رَغَدًا حَيْثُ شِئْتُمَا . او د جنت د میوو نه چرته چه غواړئ فراخئ سره خورئ. وَلَا تَقْرَبَا هٰذِهِ الشَّجَرَةَ : د قرآن نه صرف دومره پته لګي چه حضرت آدم او حوا علیهما السلام د جنت د یوے مخصوص وُنے نه منع کړے شو لیکن د قرآن نه دا ثابته نهٔ ده چه کومه وُنه وه او نهٔ د دے تعیین څه ضرورت شته. واعلم انه لیس في الظاهر ما یدل علیٰ تعیین فلاحاجة ایضا الی بیانه (کبیر ص ۴۵۶ ج ۱) فَتَكُوْنَا مِنَ الظّٰلِمِيْنَ ۝ د ظالمین نه مراد هغه خلق دي ځکه چه د الله نافرماني کولو سره خپل ځان باندې ظلم کوي. یعني که چرته تاسو شجره ممنوعه اوخوړله نو تاسو به په نافرمانو کښ شامل شئ.

۸۷ د شیطان بغض او حسد خو د حضرت آدم علیه السلام سره د مخکښ نه پیدا شوے وو.

دوی وېره نه هغه همیشه په دې انتظار کښې وو چه په څه طریقه دوی نه انتقام واخلی نو هغه ته موقعه ملاؤ شوه. هغه آدم او حوا علیهما السلام غولول او دهوکه کول شروع کړل او د رنګ رنګ قسمونو سره یقین ورکړو چه دا وُنه دګوټه نه چه تاسو منع کړې شوی یئ دا شَجَرَةُ الْخُلْد ده. که تاسو دا اُوخوری نو تاسو ته به لوړه تنده نه لګی او تاسو به هیچرې نه مری نو د حضرت آدم ته د الله تعالیٰ د صریحې نهی نه خو مخالفت ممکن نه وو په دې وجه ورته شیطان ملعون یو بل تاویل هم اُوخودلو او وې وئیل چه د هٰذِهِ الشَّجَرَةَ په ذریعه الله پاک تاسو صرف د متشخص او مشار الیه وُنې نه منعه کړی یئ، د دې د جنس نه ئې منع کړی نه یئ. لهٰذا تاسو مشار الیه وُنې ته نزدې مه ورځئ او د دې جنس د باقی وُنو نه میوې خوشالئ سره استعمالوئ. اکلا من غیر التی اشیر الیه فلم یتأولا النهی واقعا علی جمیع جنسها فان ابلیس غرّه بالظاهر (قرطبی ص ٣٠٥ ج ١)

٨٨ دا رنګې د کوم انعام او اکرام دُنیا کښې چه دوی وو، د هغې نه شیطان دوی رااُوویستل او په آرام شو: ای من النعیم والکرامة او من الجنة (روح ص ٢٣٦ ج ١) دلته د حضرت آدم علیه السلام عجز او قصور علم ښکاره شو چه هغه د شیطان ملعون د چالونو په حقیقت باندې پوهه نشو او خپل ځان ئې د لغزش نه بچ نکړې شو. نو معلومه شوه چه هغه هم معبود نشی جوړیدې. معبود خو هغه څوک کیدې شی چه مالک او مختار هم وی او په هر څیز باندې عالِم هم وی. د الله پاک بتول پیغمبران علیهم السلام د هر قسمه ګناه نه پاک او معصوم وی لیکن دلته شُبه پیدا کیږی چه بیا حضرت آدم علیه السلام د الله پاک نافرمانی څنګه اوکړه؟ نو د دې جواب دا دې چه په معصیت او لغزش کښې فرق دې. مَعصیت خو دا دې چه د نافرمانئ په نیت ارادې سره د الله حُکم مات کړې شی نو دا څیز د عصمت سره منافی دې او د دې صدور د اَنبیاء علیهم السلام نه ناممکن او محال دې او لغزش هغه فعل دې چه بغیر د قصد او ارادې مخالفت د الله تعالیٰ د حُکم نه په ظاهره خلاف اوکړې شی د دا سې لغزش صدور د عصمت مُنافی نه دې او د دې وقوع د انبیاء علیهم السلام نه ممکن دې وهٰذا دلیل علی انه یجوز اطلاق اسم الزلة علی الانبیاء علیهم السلام کما قال مشائخ بخاری فانه اسم الفعل یقع علی خلاف الامر من غیر قصد الی الخلاف کزلة الماشی فی الطین. (مدارک ص ٣٣ ج ١) لیکن انبیاء علیهم السلام دې لغزش باندې قائم نشی پریښودې. که چرې د لغزش تعلق د احکامو سره وی نو د وحی په ذریعه هغوی ته اطلاع ورکولو سره د دې تلافی کولې شی او که چرې د هغې تعلق د هغه خپل ذات سره وی نو د هغې تلافی استغفار سره کولې شی دلته د حضرت آدم علیه السلام نه هم دا قسم لغزش اُوشو. د دې په صدور کښې د هغه د قصد او ارادې هیڅ دخل نه وو لکه چه په سُورة طٰهٰ کښې بخپله الله تعالیٰ د دې تصدیق کړې دې. فَنَسِيَ وَلَمْ نَجِدْ لَهٗ عَزْمًا یعنی آدم نه دې باره کښې هیره شوې وه، عزم او ارادې سره هغه دا سې نه وو کړی

٨٩ یعنی اُوس تاسو دلته نشئ اُوسیدلې. شجره ممنوعه تاسو کښې دا سې اعراض

پیدا کړی دی چه جنت د هغه د اظهار ځائے نه دے، هغه د پاره مناسب ځائے زمکه ده.
اوس هلته لاړشئ. په هغه انسانی اعراضو صفاتو کښ یو بغض او حسد هم دے چه د
عداوت او دشمنئ تخم دے. د دغه شان د کوم حکمت پیش نظر چه د آدم تخلیق وجود
ته راغلے وو، د هغه تقاضا هم دا وه چه اوس هغه زمکے ته لاړشی او د خلافت فرائض
سرته اورسوی. ۵۹ اوس ستاسو د ژوند نوے دور شروع کیږی. اوس تاسو زمکے
ته لاړشئ او هلته به ستاسو اولاد کیږی، ژوند به تیروی او زمونږ د نعمتونو نه
به فائده اخستونکی یئ.

فَتَلَقّٰٓى اٰدَمُ مِنْ رَّبِّهٖ كَلِمٰتٍ فَتَابَ عَلَيْهِ ؕ اِنَّهٗ

بیا زده کړے آدم د خپل رب نه خوخبرے الله ورپسے متوجه شو الله په هغه، بیشکه

هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ ﴿۳۷﴾ قُلْنَا اهْبِطُوْا مِنْهَا جَمِيْعًا ۚ

هغه دے توبه قبلونکے مهربان ګډ ووئیل مونږ حکم ورکړو ښکته لاړشئ د دے ځائے نه تاسو ټول

فَاِمَّا يَاْتِيَنَّكُمْ مِّنِّىْ هُدًى فَمَنْ تَبِعَ هُدَاىَ

بیا که اورسیږی تاسو ته ځما له طرفه څه هدایت ګډ نو چه څوک لاړشی ځما په هدایت باندی

فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿۳۸﴾ وَالَّذِيْنَ

نو به ویره نه وی په هغوی باندی او نه به هغوی غمژن وی ګډ او کوم خلق چه

كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَآ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ

منکر شول او دروغ ئے اوګڼل ځما ایتونه، هغوی دوزخ ته ستلونکی دی،

هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۳۹﴾ ع يٰبَنِىْٓ اِسْرَآءِيْلَ اذْكُرُوْا ع

هغوی به دیکښ همیشه اوسیږی ګډ اے بنی اسرائیلو ګډ یاد کړئ

نِعْمَتِىَ الَّتِىْٓ اَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ وَاَوْفُوْا بِعَهْدِىْٓ اُوْفِ

ځما هغه احسان کوم چه ما په تاسو باندی اوکړو او تاسو پوره کړئ ځما اقرار نو زه به پوره کړم

بِعَهْدِكُمْ ۚ وَاِيَّاىَ فَارْهَبُوْنِ ﴿۴۰﴾ وَاٰمِنُوْا بِمَآ

ستاسو اقرار ګډ او صرف ځما نه اوویریږئ ګډ ګډ او اومنئ هغه کتاب کوم

أَنزَلْتُ مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَكُمْ وَلَا تَكُونُوٓا أَوَّلَ كَافِرٍ

چه ما نازل کړے دے رښتولے کوونکے دے هغه کتاب لره چه تاسو سره دے او مه کیږئ په ټولو کښې اول منکر

بِهِۦ ۖ وَلَا تَشْتَرُوا بِـَٔايَٰتِى ثَمَنًا قَلِيلًا وَإِيَّٰىَ فَٱتَّقُونِ ﴿٤١﴾

د دې نه او مه اخلئ په آیتونو زما بدله کښې قیمت لږ او هم زما نه یرېږئ او سې و

وَلَا تَلْبِسُوا ٱلْحَقَّ بِٱلْبَٰطِلِ وَتَكْتُمُوا ٱلْحَقَّ وَأَنتُمْ

او مه ګډوئ صحیح په غلط کښې او مه پټوئ ریښتیا سره د

تَعْلَمُونَ ﴿٤٢﴾

پوهه ده۔

نکات: ـ متعلق دے دعوی توحید پورے، د توحید د عام دعوت نه پس د بنی اسرائیلو (ملایانو، پیرانو او نوابانو) ته دعوت دے او دے کښې اته أوامر دی: ۱ـ امر اول ۲ـ امر ثانی ۳ـ امر ثالث ۴ـ امر رابع ۵ـ نهی اول ۶ـ نهی ثانی ۷ـ اعاده د امر ثالث ۸ـ نهی ثالث ۹ـ نهی رابع۔

موضح قرآن: ـ ف۱ یعنی د آدم په زړه کښې الله پاک څو لفظونه واچول چه هغې اواز ئے اوکړو نو اُوبخښلے شو او هغه الفاظ سورة اعراف کښې دی۔ ف۲ بنی اسرائیل د حضرت یعقوبؑ اولاد ته وائی، په هغوی کښې حضرت موسیٰ علیه السلام پیدا شو او تورات ورباندې نازل شو او د فرعون نه ئے خلاص کړل ملک شام کښې ئے آباد کړل۔ د هغوی نه الله تعالیٰ اقرار اخستے وو چه تاسو به د تورات په حکم قائم اوسیږئ او کوم پیغمبر چه څه لیږم د هغه امداد به کوئ نو د شام ملک به تاسو سره وی۔ بیا هغوی ګمراه شول یعنی بد نیته شول، رشوت به ئے اخستلو او غلط مسئلے به ئے بنودلے او د خوشامند په وجه به ئے حق خبره پټوله، د سره به ئے خپله سرداری غوښتله، د پیغمبر آخر زمان خبره به ئے نه منله او د پیغمبرؐ چه کوم صفت په تورات کښې لیکلے شوے وو هغه ئے بدل کړو۔ الله پاک دوی ته یادګیرنه ورکوی د خپلو احساناتو او د دوی د نافرمانئ۔ ف۳ په تورات کښې لیکلے شوی دی چه کوم پیغمبرهم راشی او هغه تورات ریښتونے کړی نو پوهه شئ چه هغه ریښتونے دے کنې دروغژن دے۔ او په آیتونو بانډې قیمت دا چه د دُنیا محبت سره دین مه پریږدئ۔

فتح الرحمٰن: ـ ف۱ او هغه کلمات دادی: رَبَّنَا ظَلَمْنَآ أَنفُسَنَا وَإِن لَّمْ تَغْفِرْ لَنَا وَتَرْحَمْنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلْخَٰسِرِينَ۔ ف۲ مترجم وائی چه الله پاک بنی اسرائیلو ته خپل نعمتونه وریاد کړل او هغه معجزے کومے چه دے قوم کښې ظاهرے کړے شوے وے۔ او س ئے د هغوی شبهات او بیهوده خبرے ذکر کړے او د هغے رد ئے او کړو د لاٹلو سره او دا

قِصه اُوږده شوے ده دے قول د الله تعالیٰ پورے : وَاِذِ ابۡتَلٰۤى اِبۡرٰهٖمَ رَبُّهٗ ۔

تفسیر : ۹۱ اګرچه دا لغزش وُو لیکن حضرت اٰدم علیه السلام چه د الله تعالیٰ غوره پیغمبر وُو، په دے لږ دا ډیره زیاته محسوسه کړه او د الله تعالیٰ په حضور کښ ئے اُوژړل نو الله پاک دغه دهغه په زړه کښ څه دعائیه کلمات وا چول۔ دا هغه کلمات دی چه په قرآن مجید کښ بل ځائے موجود دی کوم چه تیره شوے صفحه کښ اُولیکلے شو۔ فَتَابَ عَلَيۡهِ ؕ نو الله تعالیٰ په خپل رحمت کښ واخستو او دهغه توبه ئے قبوله کړه۔

۹۲ هغه د تائب نه صرف توبه نه قبلوی بلکه زیاتی مهربانی او انعام ورباندی کوی قُلۡنَا اهۡبِطُوۡا مِنۡهَا جَمِيۡعًا ۚ دا حکم حضرت اٰدمؑ او حواؑ او د دوی په تبعیت کښ د دوی اولاد ته کیږی۔ دویم ځل ئے دے دپاره مکرر کړل چه اُوس دے بانے د خلافت حکمت مرتب کړی او د الله پاک له طرفه د راتلونکی قانونِ خلافت د تابعدارئ ترغیب ورکړی، او نه منونکو ته دعذاب ویره واوروی ۔ او الامر به کان تحقیقا للوعد المتقدم فی قوله اِنِّىۡ جَاعِلٌ فِى الۡاَرۡضِ خَلِيۡفَةً ؕ - (کبیر ص ۴۷۶ ج ۱) **۹۳** د هُدًى نه مراد انبیاء او رسولان دی چه د توحید پیغام راوړلو سره به دوی ته راځی۔

۹۴ یعنی په اٰخرت کښ به هغوی ته نه څه ویره او خطره وی او نه به په تیرشوی ژوند باندے څه غم او افسوس وی۔ دا د هدایت د تابعدارو دپاره زیرے دے۔ وړاندے د منکرینو حشر بیان دے۔ **۹۵** د کفر نه مراد د زړه نه انکار دے او د تکذیب نه زباني انکار مراد دے، فیراد بالکفر بالاٰیات انکارها بالقلب و بالتکذیب انکارها باللسان۔ اُولٰٓـئِكَ اَصۡحٰبُ النَّارِ ۚ هُمۡ فِيۡهَا خٰلِدُوۡنَ ۞ د خلود نه مراد دلته دوام دے، هغوی به همیشه دپاره په دوزخ کښ ګرفتار وی۔ والخلود ههنا الدوام علی ما انعقد علیه الاجماع۔ (روح ص ۲۴۱ ج ۱)

بنی اِسرائیلو ته دعوت

شروع کښ د يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ په عام خطاب سره ټولو انسانانو ته د توحید پیغام ورکړے شو۔ عقلي دلائلو سره د توحید دعوٰی مُدَلَّله او واضحه کړے شو او د توحید د دعوے متعلق د شبهاتو نهایت تسلی بخش طریقے سره ازاله اوکړے شوه او ثابته کړے شوه چه نه خو فرښتے د بلنے لائق دی، نه پیغمبران او نه جنات۔ اُوس په راتلونکو اٰیتونو کښ د خبرو رُخ یهودو طرفته ګرځولے شوے دے۔ د هجرت نه پس په مدینه منوره کښ چه د ټولو نه رومبے سورت چه په نبی علیه السلام باندے نازل شو هغه سورة بقره وُو۔ مدینه کښ او د دے ګیرچاپیره د یهودو اٰبادی وه۔ دوی کښ لوئے لوئے نوابان، عالمان، پیران او درویشان وُو۔ د عوامو هغوی سره محبت وُو بلکه د مکے مشرکانو به هم د دوی احترام کولو۔ د دے وجے نه د دغه مُلایانو او پیرانو اصلاح سره د یهودو قوم اصلاح کیدے شوه۔ نو الله تعالیٰ دا

سورت نازل کړو او خاتمه په خاتمه کښې یهود مخاطب کړل او دَ دوی د اصلاح دپاره نے
دُحکیمانه پند او نصیحت طریقه اختیار کړے . چرته نے ترغیب سره پوهه کړیدی او چرته تحقیق
سره دپاره ددے چه د ضد ، عناد او انکار حق نه منع شی . چرته نے د دوی دخباثتونو او
شرارتونو ذکر کولو سره سره د خپل نے انتها ، عفو او درګذر ذکر کړیدے دپاره ددے چه دَ
دوی د شکر ګذاری جذبه را بیداره شی او دحیا او غیرت څه احساس پکښې پیدا شی . الله
چونکه مهربان ، ناصح او حکیم دے . په دے وجه نے دیهودو دعوامو او خواصو دَ پند او نصیحت
هر ممکن انداز اختیار کړیدے دے دپاره چه هغوی څه نه څه طریقے سره په نیغه لاره راشی
او دحق دعوت قبول کړی او که چرے هغوی په ضد او انکار باندې کلک ولاړ وی نو دالله پاک
حجت به په هغوی قائم شی . د پنځمے رکوع ابتداء یعنی : يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اذْكُرُوْا نِعْمَتِيَ الَّتِيْٓ
اَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ وَاَوْفُوْا بِعَهْدِيْٓ اُوْفِ بِعَهْدِكُمْ نه تر شپږمے رکوع کښې وَلَا تَنْفَعُهَا شَفَاعَةٌ وَّ
لَا هُمْ يُنْصَرُوْنَ ۝ پورے دَ بنی اسرائیلو د اصلاح عمومی اړخ مد نظر ساتلے شویدے او بیا
د هغه نه پس نه د رسالت او نبوت مسئله شروع شویده . د اصلاح دَ عمومی اړخ په سلسله
کښې دَ تذکیر او ارشاد دپاره پنځه طریقے اختیار کړے شویدی .
(۱) د یهودو پلرونو ، نیکونو باندې د څو انعاماتو ذکر (۲) دَ دوی پلرونو او نیکونو د خباثتونو
ذکر (۳) دَ نزولِ قرآن په وخت د موجوده بنی اسرائیلو دَ بد عملونو ذکر (۴) د دوی
بد عملئ خوبیو طرفته دی ، د دوی پلار نیکه به توحید بیانونکی پیغمبران قتلول او دَ دروغو
نسبت به نے ورته کولو ، د دے ذکر (۵) د دوی د پلرونو او نیکونو ذکر خو پریږده ، دَ
موجوده بنی اسرائیلو دا حال دے چه آخری پیغمبر کله راغے نو هغه ته نے دَ دروغو نسبت اوکړو
حالانکه د هغوئ د راتلو نه وړاندے به نے د هغوئ خوشامند ے کولے ، د هغوئ د مخالفت ذکر .

اِصلاحی پروګرام

دَ دے سلسلے شروع کښې د بنی اسرائیلو په وړاندې اته اوامر او خلور نواهی باندې مشتمل یو اصلاحی پروګرام پیش کړے شوے دے .

٩٦ اسرائیل دَ عبرانئ ژبے لفظ دے چه د دے معنی ده " د الله بنده " دا د حضرت
یعقوب علیه السلام لقب دے او دَ بنی اسرائیل نه د حضرت یعقوب علیه السلام اولاد مراد دے او
دلته بنی اسرائیل سره هغه یهود یانو ته خطاب شوے دے څوک چه مدینه کښې او د هغه
خوا وشا اوسیدل . اُذْكُرُوْا نِعْمَتِيَ - دَ پند او نصیحت نه مخکښې د انعاماتو ذکر ډیر زیات
موثر حکمتِ عملی دے او دلته نعمت اسم جنس دے او د دینه مراد هغه مادی او
روحانی انعامات دی کوم چه الله تعالیٰ په بنی اسرائیلو باندې کړی وو . مثلاً دولت ، حکومت
نبوت او نور ، دَ ختی انعامات لکه یو ځائے کښې د الله تعالیٰ ارشاد دے : وَاِذْ قَالَ مُوْسٰى
لِقَوْمِهٖ يٰقَوْمِ اذْكُرُوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ اِذْ جَعَلَ فِيْكُمْ اَنْۢبِيَآءَ وَجَعَلَكُمْ مُّلُوْكًا ۖ وَّاٰتٰىكُمْ
مَّا لَمْ يُؤْتِ اَحَدًا مِّنَ الْعٰلَمِيْنَ ۝ د دے انعاماتو څه اندازه تفصیل مخکښې راروان دے .
٩٧ دا دویم امر دے . دلته لفظ عهد دواړه ځایه مصدر دے او دواړو ځایونو کښې دَ

مفعول طرفته مضاف دے او فاعل محذوف دے، ای وَاَوْفُوْا بِعَهْدِيْ كُمْ اِيَّايَ اُوْفِ بِعَهْدِكُمْ اِيَّايَ. یعنی کوم وعده چه تاسو ما سره کړے وه تاسو هغه پوره کړئ نو چه کوم وعده ما تاسو سره کړے ده زه به هغه پوره کړم تاسو سره. وهو المفهوم من كلام قتادة ومجاهد ان كليهما مضاف الى المفعول ـــ ان فسر الايفاء باتمام العهد تكون الاضافة الى المفعول فى الموضعين (روح ص ۲۳۲ ج ۱) بنی اسرائیلو خو الله تعالیٰ سره دا وعده کړے وه چه هغوی به بنی اسمٰعیل کښې پیدا کیدونکی آخری نبی ﷺ باندې ایمان راوړی نو الله تعالیٰ دوی د گناه معاف کولو او جنت ته د داخلولو وعده کړے وه لکه د حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه نقل دی: ان الله تعالىٰ عهد الى بنى اسرائيل فى التورٰىة انى باعث من بنى اسماعيل نبيا اميا فمن تبعه وصدق بالنور الذى ياتى به اى بالقرآن غفرت ذنبه وادخلته الجنة الخ (کبیر ص ۳۸۳ ج ۱، معالم ص ۴۳ ج ۱) یا مراد هغه عهد دے کوم چه په دے ایت کښې ذکر دے: وَلَقَدْ اَخَذَ اللّٰهُ مِيْثَاقَ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ۚ وَبَعَثْنَا مِنْهُمُ اثْنَيْ عَشَرَ نَقِيْبًا ۭ وَقَالَ اللّٰهُ اِنِّىْ مَعَكُمْ ۭ لَىِٕنْ اَقَمْتُمُ الصَّلٰوةَ وَاٰتَيْتُمُ الزَّكٰوةَ وَاٰمَنْتُمْ بِرُسُلِيْ وَعَزَّرْتُمُوْهُمْ وَاَقْرَضْتُمُ اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا لَّاُكَفِّرَنَّ عَنْكُمْ سَيِّاٰتِكُمْ وَلَاُدْخِلَنَّكُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۚ (سورۃ مائدہ ع ۳)

وَاِيَّايَ فَارْهَبُوْنِ ۝ دا دریم امر دے چه هر کله ستا منعم حقیقی او محسن تحقیقی زه یم نو صرف زما نه اُویریږئ. که چیرے تاسو زما نه اُویریږئ او زما په احکامو باندې عمل شروع کړئ نو هیڅوک به تاسو ته نقصان نشی درکولے.

۹۸ یعنی کوم کتاب چه ما نازل کړیدے او کوم پیغمبر چه ما رالیږلے دے د چا ذکر چه په تورات او انجیل کښې موجود دے، په هغه باندې ایمان راوړئ. دا څلورم امر دے. مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَكُمْ. د الله تعالیٰ کوم دین چه د تورات په شکل کښې تاسو سره موجود دے، د قرآن او حضرت محمد ﷺ تصدیق کوی. د تصدیق کولو نه مطلب دا دے چه توحید او رسالت او نور عقائد کوم چه تورات کښې پیش کړے شوے وو حضرت محمد ﷺ د قرآن په ذریعه د هغې دعوت ورکړو او هم هغه عقائد ئے پیش کړیدی: اى موافقا لما معكم من التورٰىة فى التوحيد والنبوة والاخبار ونعت النبى صلى الله عليه وسلم (معالم ص ۳۵ ج ۱) د دے یو مثال دا دے چه الله تعالیٰ د حضرت موسیٰ علیه السلام په ذریعه بنی اسرائیلو ته حکم ورکړے وو چه هغوی صرف الله پاک مالک، مختار، متصرف او کارساز اُوګڼړی او په حاجتونو او مشکلاتو کښې صرف هغه نه د نصرت او مدد دپاره اواز اُوکړی لکه چه د تورات حواله پخپله قرآن پیش کړه. وَاٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ وَجَعَلْنٰهُ هُدًى لِّبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اَلَّا تَتَّخِذُوْا مِنْ دُوْنِيْ وَكِيْلًا ۝ (سورۃ بنی اسرائیل ع ۱) د تورات د دے مضمون تصدیق قرآن مجید څرګندیه کړیدے لکه چه سورۃ مزمل کښې ارشاد دے: لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ فَاتَّخِذْهُ وَكِيْلًا ۝ یعنی د الله نه سوا څوک د هیڅ قسم د عبادت لائق نشته. د هغه نه سوا حاجاتو او مشکلاتو کښې څوک ملجا او ځائے د پناه

نشته. لهٰذا هغه ته اواز کوئ او هغه خپل کارساز اوګڼئ، ضرورتونو او مصیبتونو کښې د
هغه طرفته رجوع اوکړئ.

۹۹ دا دویم نهي ده. د کَافِرٍ لفظ مفرد دے لیکن معنیٰ جمع ده. معناه اول من
کفر به و اول فریق او فوج کافر به (کبیر ص ۳۹۰ ج ۱، قرطبی ص ۲۳۳ ج ۱) ده سره یهودیانو ته
مخکښې مشرکین عرب د توحید د دعوت نه انکار کړے وو. بیا دوی ته د ټولو اول انکار
کوونکي ولے اووئیلي شو؟ نو د دے جواب دا دے چه یهودیانو حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ته تلل
او هغوی باندې د قران نازلیدل بنه پیژندل. د هغوی اوصاف حمیده په تورات کښې
ذکر شوی وو. د نبي علیه السلام د بعثت نه مخکښې د یهودو عالمانو د هغوی د ظهور زیرے
ورکولو او هغوی ته به ئے د تورات هغه ایتونه لوستلے او وړول کوم کښې چه د قران
او صاحبِ ذکر کیدو. نو پکار خو دا وه چه هغوی په مخکښې قرانی دعوت قبول کړے وے
لیکن دوی د برعکس هغوی سره د علم او پوهے د دینه انکار اوکړو. اوس به د دوی مریدان
او مقتدیان هم او دا رنګے د دوی اولاد هغوی ته کتلو سره کفر او انکار کوی. فان
وظیفتکم ان تکونوا اول من امن به لما انکم تعرفون حقیقة الامر (روح ص ۲۴۴ ج ۱)

۱۰۰ دا دویمه نهي ده د یهودو عالمانو او پیرانو نیک شهرت خپل قوم کښې بنه
مضبوط وو. د عوامو هغوی دیر زیات محبت او عقیدت وو. عوامو به همیشه د دوی
د خوشالولو د پاره هغوی ته نذرانې پیش کولو. د علماءِ یهود یقین وو چه که چرے
د دوی عوامو حضرت محمد صلی الله علیه وسلم اومنلو نو د دوی سرداری او شان شوکت به خاورو سره
ملاؤ شی او د دوی د نذرانو مخفو سلسله به بنده شی. نو هغوی د تورات هغه ایتونه د
خپلو عوامو نه پټول شروع کړل کوم کښې چه د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم نعت او د دوی صفات او
علامات بیان کړے شوی وو. دلته د دے عمل نه د یهودو عالمان منع کړے شوی دی.
او لفظِ اشتراء دلته خپله حقیقی معنیٰ کښې نه دے بلکه د دینه مراد محض ترجیح او استبدال
دے یعنی دیو خیز په ځائے بل خیز اختیارول. د دے ایت کښې د دنیوی دولت او فانی منافو
ته اظهارِ حق باندې ترجیح ورکولو له اشتراء سره تعبیر کړے شوے دے. او ثَمَنًا سره د
لفظ قلیلاً زیاتولو سره د دنیا د دولت حقارت طرفته اشاره ده، یعنی څما د ایتونو په عوض
کښې تاسو چه کوم رقم وصولوئ هغه څما د ایتونو یا دولتِ اخرت نسبت سره دیر لږ او
حقیر دے. د دے مطلب دا نه دے چه الله پاک ایتونه د لږ قیمت په عوض کښې خرڅول جائز
نه دی او د زیات رقم په عوض کښې جائز دی. (من الکبیر ص ۳۹۱ ج ۱ والروح ص ۲۳۵ ج ۱ وغیرهما)
د حق پټولو او د جهنم خیټه ډکولو دا طریقه نن هم جاری ده. د یهودیانو پشان دیر ملایان
او پیران به تاسو ته دا سے په نظر راشی چه دیو لسے (ګیارهویں شریف) ترغیب خو به ورکوی او د خپل
نیکه په قبر باندې د حاضرئ او نذر، منتونو پیش کولو تلقین به کوی، حاجتونو او مصیبتونو
کښې بد اولیاء په قبرونو باندې د حاضرئ کولو او د هغوی امداد د پاره د رابللو، هغوی ته د
اواز کولو تعلیم هم ورکوی لیکن د خپلو مریدانو په مخکښې به تاسو هغوی له د قران مجید

دَ هغه آیتونو وعظ کوونکی هیڅکله نه وی لیدلی په کومو کښې چه الله تعالیٰ دغیر الله دَ نذر او نیاز او منښتونو ته حرام وښیلی دی او کوم کښې چه الله تعالیٰ فرمائیلی دی چه ځما نه سوا څوک حاجت روا او مشکل کشا نشته. په دے وجه ځما نه سوا حاجتونو او مشکلاتو کښې بل هیڅ ته آواز مه کوئ ځکه چه دا سے کوَلو سره دَ یهودیانو پېشان ددوی هم توهین دے چه دَ دوی امدنی په بنده شی او د دروغو وقار به ئے ختم شی.

لاله دا دریمه نهی ده وَتَكْتُمُوا الْحَقَّ. ددے عطف په تَلْبِسُوْا باندے دے او داخلو نهی ده. یهودیان پخپله هم گمراه او په گمراهئ کښې مبتلا وُو او نور خلق به ئے هم گمراه کول دے دپاره ددینه مخکښې آیت کښې دَ گمراه کوَلو نه منع شوید ه: اعلم ان قوله سبحانه وَاٰمِنُوْا بِمَآ اَنْزَلْتُ امر بترک الکفر والضلال وقوله وَلَا تَلْبِسُوا الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ امر بترک الاغواء والضلال. (کبیر ص ۳۹۲ ج ۱)

دَ یهودو عالمانو به دَ عوامو گمراه کوَلو دپاره دوه قسمه حربے استعمالوَلے. کومو خلقو ته چه د نبی علیه السلام تورات کښې دبیان کړے شوو صفتونو او علاماتو لږ دیر علم وُو دهغوی په زړونو کښې خوئے شبهات پیدا کړل. هغوی ته به ئے دا یقین ورکولو چه دا صفات او علامات دے پیغمبرؐ باندے منطبق کیږی. دداسے خلقو دهـ آیت چه به ئے ادنیٰ امکان پیدا کید لو نو هغه به ئے ختمولو وَلَا تَلْبِسُوا الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ کښې ئے ددے عمل نه منعه کړیده. وَاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ. یعنی تاسو ته ښه معلومه ده چه دَ گمراه کولو او حق پټولو په ذریعه خلق گمراه کوئ او دا هم درته معلومه ده چه دا الله مخلوق گمراه کوَل څومره لوئے جرم دے او ددے سزا څومره سخته ده، ددے دپاره تاسو له داسے کول پکار نه دی. وَاَقِیْمُوا الصَّلٰوةَ. دا پنځم امر دے. وَاٰتُوا الزَّکٰوةَ: دا شپږم امر دے یعنی پخپله هم ایمان راوړئ او نور هم دایمان راوړلو نه مه منعه کوئ، او ددینه پس د اسلام نور اعمال هم پابندی سره کوئ. په بدنی او مالی عبادتونو کښې د ټولو نه زیات اهم مونځ او زکوٰة وُو ځکه ئے ددے ذکر اوکړو. بل دا چه دے دواړو عبادتونو کښې ددوی دُنیا دی بیماری یعنی دحُبِّ دُنیا مکمل علاج هم وُو ځکه ئے دټولو نه مخکښې د مونځ او زکوٰة حُکم ورکړو. مانځه سره دَ باطن اصلاح کیږی، دے سره زړونو ته دحسد او بغض دبیمارئ نه شفا حاصلیږی او زکوٰة سره دحرص، طمع او حُبّ جاه او حُبّ مال نه نجات ملاویږی. وَارْكَعُوْا مَعَ الرّٰكِعِیْنَ. دا اووم امر دے او ددے نه مُراد دا دے چه پوره پوره اُمتِ محمدیه کښې شامل شئ او د اسلام ټول احکام قبول کړئ. دَ الرّٰكِعِیْنَ نه مُراد د اُمتِ محمدیه مونځګذاردی ځکه چه رکوع د اُمتِ محمدیه خصوصیت دے. ای صلّوا مع الذین فی صلٰوتهم رکوع. (معالم ص ۳۶ ج ۱)

وَاَقِیْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّکٰوةَ وَارْكَعُوْا مَعَ الرّٰكِعِیْنَ ﴿۴۳﴾

او قائم ساتئ مُونځ او ورکوئ زکوٰة او ښکته شئ مانځه کښې ښکته کیدونکو سره

أَتَأْمُرُونَ النَّاسَ بِالْبِرِّ وَتَنْسَوْنَ أَنْفُسَكُمْ وَأَنْتُمْ
ایا حکم کوئ خلقو ته د نیکو کارونو وهېروئ خپل ځانونه ته او تاسو خو
تَتْلُونَ الْكِتٰبَ ۚ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٤٤﴾ وَاسْتَعِينُوا بِالصَّبْرِ
لولئ کتاب نو بیا سوچ ولې نه کوئ او مدد اوغواړئ په صبر او
وَالصَّلٰوةِ ۚ وَإِنَّهَا لَكَبِيرَةٌ إِلَّا عَلَى الْخٰشِعِينَ ﴿٤٥﴾
مانځه سره فقط بیشکه هغه ګران دے لیکن هغه عاجزي کوونکو باندې نه دے
الَّذِينَ يَظُنُّونَ أَنَّهُمْ مُلٰقُوا رَبِّهِمْ وَأَنَّهُمْ إِلَيْهِ
د چا چه خیال دے چه هغوي ملاقات کیدونکي دي ته خپل رب ته او دا چه دوئ د هغه طرفته
رٰجِعُونَ ﴿٤٦﴾ يٰبَنِي إِسْرَآءِيلَ اذْكُرُوا نِعْمَتِيَ الَّتِي
واپس کیدونکي دي فقط اے بني اسرائیلو! یاد کړئ نعمت احسان کوم چه
أَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ وَأَنِّي فَضَّلْتُكُمْ عَلَى الْعٰلَمِينَ ﴿٤٧﴾
ما تاسو باندې کړي دے فقط او هغه چه ما تاسو ته غوره والے ورکړو تول عالم باندې
وَاتَّقُوا يَوْمًا لَا تَجْزِي نَفْسٌ عَنْ نَفْسٍ شَيْئًا وَلَا
او اوویرېږئ د هغه ورځې نه چه بکار به نه راشي یو انسان د بل هیڅ هم فقط او نه به
يُقْبَلُ مِنْهَا شَفٰعَةٌ وَلَا يُؤْخَذُ مِنْهَا عَدْلٌ وَلَا
قبلیږي د هغه له طرفه سفارش او نه به شي اخستلے د هغه له طرفه بدله او نه به
هُمْ يُنْصَرُونَ ﴿٤٨﴾ وَإِذْ نَجَّيْنٰكُمْ مِنْ اٰلِ فِرْعَوْنَ
هغوي ته مدد اورسیږي فقط او هرکله چه خلاصے درکړو مونږ تاسو ته د فرعون د خلقو نه ځکه
يَسُومُونَكُمْ سُوٓءَ الْعَذَابِ يُذَبِّحُونَ أَبْنَآءَكُمْ وَ
چه درکولو به ئے تاسو ته لوئ عذاب حلالول به ئے ستاسو ځامن او
يَسْتَحْيُونَ نِسَآءَكُمْ ۚ وَفِي ذٰلِكُمْ بَلَآءٌ مِنْ رَبِّكُمْ عَظِيمٌ ﴿٤٩﴾
ژوندي به ئے پرېښودل ستاسو ښځے فقط او په دې کښې ازمېښت وو ستاسو د رب له طرفه لوئ فقط

نکات:- سلا پنځم امر سلا شپږم امر سلا اووم امر سلا اتم امر سلا اعاده د مسئلو د
عهد نه دیاره د ترغیب او ترهیب سلا ترغیب سلا ترهیب سلا د بنی اسرائیلو د حالاتو پنځو
قسمونو نه اول قسم ، دیکښې اته انعامات او دوه عذابونه ذکر شوی دی دا اول انعام دے۔

موضح قرآن:- **ف۱** طاقت اونیسئ محنت برداشت کولو سره او مانځه سره یعنی د دے
عادت سره د دین ټول کارونه اسانیږی۔ **ف۲** بنی اسرائیلو به وئیل چه مونږ هر قسم
ګناه اوکړو د نو نیکو به نشو ، زمونږ پلاران او نیکونه پیغمبران به مونږ خلاصوی۔

فتح الرحمٰن:- **ف۱** مترجم وائی چه د غه مشوږلو سبب دا وو چه نجومیانو فرعون ته خبر
ورکړے وو چه بنی اسرائیلو کښې به یو هلک پیدا کیږی چه ستا د بادشاهئ ختمیدلو سبب به
جوړیږی۔ والله اعلم۔

تفسیر: **سلله** دلته استفهام د حیرانتیا او تعجب ظاهرولو دپاره دے یعنی ستاسو حال
قابل د تعجب دے چه تاسو خو خلقو ته د نیکئ حکم ورکوئ لیکن پخپله نیکی نه کوئ۔ دا
خطاب د یهودو عالمانو ته دے چه هغوی به خلقو ته په تورات باندې د عمل کولو تلقین کولو
لیکن پخپله به ئے پرے عمل نه کولو۔ تورات کښې د نبی کریم ﷺ د صداقت نښے
موجود وے لیکن هغوی نبی علیه السلام اونه منلو : الیهود کانوا یأمرون غیرهم
باتباع التوراة ، ثم انهم خالفوه لانهم وجدوا فیها ما یدل علی صدق محمد
صلی الله علیه وسلم ثم انهم ما اٰمنوا به (کبیر، ص ۳۹۰ ج ۱) د بعض مفسرینو قول دے
چه کله به د مکے مشرکانو یا د یهودیانو د مسلمانانو رشته دارانو نه چا په پټه باندې د یهودو
د عالمانو نه د نبی علیه السلام باره کښې تپوس اوکړو نو ورته به ئے وئیل چه هغه رښتونے
پیغمبر دے هغه اومنئ لیکن پخپله به ئے نه منلو ځکه چه هغوی سره د خپلو ندرونو او تحفو
بندیدلو ویره وه ، اذا جاءهم احد فی الخفیة لاستعلام امر محمد صلی الله علیه وسلم
قالوا هو صادق فیما یقول و امره حق فاتبعوه وهم کانوا لا یتبعونه لطمعهم فی
الهدایا و الصلات التی کانت تصل الیهم من اتباعهم (کبیر، ص ۳۹۳ ج ۱) نزلت فی
علماء الیهود وذلک ان الرجل کان منهم یقول لقریبه وحلیفه من المؤمنین اذا
سأله عن امر محمد صلی الله علیه وسلم اثبت علی دینه فان امره حق وقوله
صدق۔ (معالم ص ۴۲ ج ۱) — وَاَنْتُمْ تَتْلُوْنَ الْكِتٰبَ : او تاسو د تورات عالمان یئ او
هغه لولئ ، هغے کښې د حضرت خاتم النبیین ﷺ صفات او علامات مذکور دی بلکه په
هغے کښې د نیکئ کولو او بدئ نه د بچ کیدلو حکم دے : معناه تقرءون التوراة وتدرسونها
وتعلمون ما فیها من الحث علی افعال البر والاعراض عن الافعال الاثم (کبیر ص ۳۹۰ ج ۱)
اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ۔ تعجب دے چه د پورتنو امورو با وجود تاسو د عقل نه کار نه اخلئ۔
سلله دا اتم امر دے د علماء یهود ، د اسلام او مسئله توحید په قبلولو کښې د دوی لوئے
رکاوټ د هغوی امدنی وه کومه چه به د هغوی د معتقدینو په ذریعه حاصلیدله
دا رنګه د هغوی شان وشوکت او ریاست او سیاست کوم چه په عوامو باندې قائم وو ، د

سره قبضول یې صورت کښې به ددے یتیمانو خیزونه لاس ویستلي ول او ددے سره دحرام خیزونو
په وجه دهغوی زړونه مړه شوي ول. دهغوی ډیر زړونه د الله پاک ویره او دحق طلب
نه خالي شوي ول. دے آیت کښې الله تعالیٰ ددے بیمارۍ علاج اوښودلو. متصل بما
قبله کأنهم لما امروا بما یشق علیهم لما فیه من الکلفة وترک الریاسة والاعراض
عن المال عولجوا بذلك. (بیضاوی ص ۳۳) چه دصبر او مانځه پابندي سره به تاسو دخیزونو
ومال جذبه باندې غلبه بیا مومئ ځکه چه کله تاسو د نفس دمرغوبانو نه ومنعه کیدو
یعنې اراده اوکړئ (او همدا دصبر مفهوم دے) او دے سره دمونځ پابندي شي نو دمونځ
او دیکښې د الله تعالیٰ ذکر او وعد او وعید او دثواب او عذاب یاد. د اقبول خیزونه به
ستاسو زړونه د دُنیا دمحبت نه پاک کړي او د آخرت درغبت او محبت نه به نے ډک کړي.
(من الخبیر ص ۴۳ ج ۱ او المروح ص ۲۴۹ ج ۱) مشهوره ده: من یتصبر یصبره الله.
صبر آرد آرزو هارا شتاب . صبر کن والله اعلم بالصواب
او د الله تعالیٰ ارشاد دے: إِنَّ الصَّلٰوةَ تَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَآءِ وَالْمُنْكَرِ ۔
وَاِنَّهَا لَكَبِيْرَةٌ ـ اِنَّهَا کښې ضمیر خصلة ته راجع دے او ددینه مراد استعانت
بالصبر والصلوٰة دے کوم چه د ما قبل نه مفهوم دے یعنې نفس دمرغوباتونه منع کول
دهغه د دُنیا دقسم قسم منافعو او مختلف قسم مخلوق پریښودلو باندې اماده کول ډیر گران
او سخت کار دے ـ اِلَّا عَلَى الْخٰشِعِيْنَ ۞ لیکن د چا په زړه کښې چه د الله ویره وي او
هغه د الله پاک دحکمونو په مخکښې تیټیږي هغوی د پاره دا کار څه گران نه دے ځکه چه
هغوی ته دخپل آقا په فرمانبرداري کښې لذت محسوسیږي.
۲۴۳ لفظ ظن عربي ژبه کښې د شك او یقین دواړو معنو کښې استعمالیږي. الظن من
الاضداد یکون شکاً ویقیناً (معالم ص ۳۴ ج ۱) العرب قد تسمي الیقین ظناً والشك ظناً (ابن جریر
ص ۲۰۰ ج ۱) دلته دیقین په معنیٰ کښې استعمال شوے دے: يَظُنُّوْنَ: یستیقنون (ابن جریر ص ۲۰۰ ج ۱،
معالم ص ۳۴ ج ۱) والظن هٰهنا في قول الجمهور بمعنی الیقین (قرطبی ص ۳۷۵ ج ۱) یعنې هغوی یقین
لري چه هغوی خپل پروردگار سره ملاویږي ونکي دي هم دوی کار باندې ډ اماده کولو د پاره دوه
خیزونه ضروري کیدے شي یعنې امید او خوف: مُلٰقُوْا رَبِّهِمْ کښې صفت ربوبیت ته واضح
سره اشاره کړیده چه دوی به خپل هغه مهربان رب سره ملاویږي چا سره چه دوی
ته ډیر امیدونه ترلي شویدي ـ وَاَنَّهُمْ اِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ ۞ د الله پاک طرفته واپس کیدو سره
فوراً ذهن آخرت طرفته متوجه کیږي او دهغه نقشه مخے ته راځي کوم کښې چه به د الله نه
سوا د هیچا حکومت او عدالت نه وي ـ دینه د ترهیب اړخ راوځي او دوی خوف آخرت
طرفته اشاره ده:
قال الشیخ رحمه الله تعالیٰ ثبت من هٰذه القصة ان لا تعبدوا من هو
عدو لکم واتبعوا هدی الانبیاء علیهم السلام الذي اخذ علیکم العهد
باتباعه حین الاخذ علی آدم علیه السلام حیث قال فمن تبع هدای فلا خوف

عليهم ولا هم يحزنون فلما عمم الخطاب اولا بقوله يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوْا رَبَّكُمُ
الاية فالان خص الخطاب باهل الكتاب بقوله يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اذْكُرُوْا الخ و
نفى في ضمنه عبادة الانبياء عليهم السلام۔

يعنې د حضرت ادم علیه السلام او د ابلیس د قصې نه ثابته شوه چه ابلیس د آدمؑ او اولادِ آدم
سخت دُشمن دے۔ په دے وجه د دهٔ عبادت مکوئ او د انبیاء علیهم السلام د راوړلے شوُ هدایت
تابعداري اوکړئ ځکه چه د اتباع هُدٰی څخه ستاسو نه اخستے شوی یے۔ اول الله تعالیٰ
یٰۤاَیُّهَا النَّاسُ الخ سره د خطاب عامې په ذریعه د مسئلهٔ توحید د منلو دعوت ټولو انسانانو
ته ورکړو۔ د دینه پس یٰبَنِیْٓ اِسْرَاءِیْلَ اذْكُرُوْا الخ سره خطاب خاص اوکړو او اهلِ کتاب ئے
د دے مسئلے طرفته متوجه کړل۔ عوام به همیشه د درے ډلو تابع وی؛ د عالمانو، پیرانو گدی نشینو
او د ریجو دکوا بانو۔ د بنی اسرائیل عام خطاب ټولو ته شامل دے۔ الله تعالیٰ ټولو ته خطاب
اوکړو او وے فرمائیل چه زما نعمتونه یاد کړئ او زما د حکمونو منلو کومه وعده چه تاسو
ما سره کړے ده هغه پوره کړئ۔ د دے دواړو خبرو تقاضا دا ده چه د مسئلهٔ توحید مخالفت
مکوئ بلکه دا اومنئ۔ د دے په عوض کښ به زهٔ تاسو ته نور نعمتونه درکړم او په دُنیا او
اخرت کښ به درله اجرِعظیم درکړم۔

وَاٰمِنُوْا بِمَآ اَنْزَلْتُ الخ د توحید مسئله کومه چه ما په قرآن کښ نازله کړے ده هغه اومنئ
دا څه نوے مسئله نه ده بلکه ستاسو کتاب تورات کښ هم موجوده ده۔ که چرے تاسو د دے
مسئلے نه انکار اوکړو نو تاسو نه کتلو سره به ستاسو مُریدان او ستاسو رعیت هم د دے نه
انکار اوکړی او د هغې گناه به هم ستاسو په سر وی۔ وَلَا تَشْتَرُوْا بِاٰيٰتِیْ الخ د څو ورځو او
حقیرو دُنیاوی فائدو او مذهبی او خانقاهي دولت په بدله کښ د توحید مسئله مه پریږدئ۔
وَلَا تَلْبِسُوا الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ الخ او د ناخبره خلقو نه د توحید مسئله مه پټوئ او چا ته چه
د دے لږ ډیر علم شته هغوی بانو ئے مه کړي ورته کوئ۔ وَلَا تَشْتَرُوْا بِاٰيٰتِیْ۔ د اصلي امر
د ے۔ شرك پریږدئ او توحید اومنئ۔ مونځ قائم کړئ؛ د یهودیانو ملایانو او گدی نشینو ته
چه کوم اقتدار د هغوی د خواصو په زړونو کښ مضبوط کړے شوے وُو، د هغوی مذهبي امارت
و ریاست، د عوامو نه حاصلیدونکے مالي او دُنیوي فائدے، دا ټول پریښودل پرېښودل ډیر
مُشکل کار وُو او د توحید مسئلے منلو سره به دا ټول هرڅه پرېښودلی شو۔ د دے وجے نه الله پاك
د مونځ قائمولو او زکوٰة ورکولو حکم ورکړو ځکه چه مونځ سره ظاهري او باطني طهارت
حاصلیږی او زکوٰة سره د ایثار جذبه پیدا کیږی او حُبّ جاه او حبِّ مال کښ کمے واقع
کیږی۔— وَاسْتَعِیْنُوْا بِالصَّبْرِ وَالصَّلٰوةِ۔ او چه کله تاسو د توحید مسئله اومنئ نو ظاهره
ده چه ستاسو د نذرانو او نیازونو ټول امدن به بند شی او ستاسو ډیر مُریدان او عقیدتمند به هم
ستاسو نه واوړی، نو د دے نقصان عوض پوره کولو او دا رنگے د دے صدمے برداشت کولو دپاره
د صبر او مانځه نه کار واخلئ۔

یٰبَنِیْٓ اِسْرَآءِیْلَ اذْكُرُوْا (ع ۶) نه واخله تر یٰبَنِیْٓ اِسْرَآءِیْلَ اذْكُرُوْا (ع ۱۵) پورے

د اجمال نه روستو تفصیل دے ادد اُذۡكُرُوۡا نِعۡمَتِيۡ او اِيَّايَ فَارۡهَبُوۡنِ ۝ تفصیلي بیان دے بني اسرائیلو یو داسے قوم وُو چه الله تعالیٰ ورته د مسئلہ توحید منلو په وجه خپل قِسما قِسم نعمتونه ورکړي وُو لیکن چه هرکله دے قوم توحید پریښودو او شرك ئے شروع کړو نو الله تعالیٰ هغوي د خپل عذاب او عتاب نښه اُوګرځول۔

اَوَل قِسم ـ دا په ترغیب او ترهیب یانې مشتمل دے

دیکښې د یهودیانو پېلرونو او نیکونو یانې د اَتلَسْ نعمتونو او دوولس عذابونو ذکر دے۔ په شروع کښې اجمالي طور یانې د ترغیب او ترهیب اعاده ده او بیا تفصیل دے۔ دا قِسم ګویا چه د اُذۡكُرُوۡا نِعۡمَتِيۡ او اِيَّايَ فَارۡهَبُوۡنِ ۝ تشریح او توضیح ده۔

ف۱۰۵ دا ترغیب دے، ددے تفسیر مخکښې تېر شوے دے۔ وَاَنِّيۡ فَضَّلۡتُكُمۡ عَلَى الۡعٰلَمِيۡنَ ۝ دلته د عالمین نه مُراد صرف د هغه زمانے ټول خلق دی۔ یعنی دے ایت کښې د نزولِ قرآن په وخت د موجوده یهودیانو د پېلرونو او نیکونو د هغوي ټول هم زمانه قومونو یانې د فضیلت اظهار مقصود دے، المراد فضلتكم على عالمي زمانكم (کبیر ص ۵۰۰ ج ۱ قرطبي ص ۳۷۶ ج ۱) المراد بالعٰلمين سائر الموجودين في وقت التفضيل (روح ص ۲۵۰ ج ۱) لهٰذا ددینه د بني اسرائیلو په حضرت محمد ﷺ او د هغوئ په اُمت باندې فضیلت نه لازمیږي او د افضلیت دپاره همیشه ځه امتیازي صفت کیدل پکار دي او هغه د توحید عقیده ده۔ د فترت په زمانه کښې صرف بني اسرائیل یو داسے قوم وُو چه د سوو نو کلونو نه د مسلكِ توحید پابند پاتے شوي وُو۔ د دُنیا باقي قومونه ځنه نه ځنه شرك کښې مبتلا وُو لیکن په مرور مرور بني اسرائیل قوم هم د توحید نه لرے کیدلو تر دے چه د نبي علیه السلام د زمانے پورے یهودیان خو قسمه شرك کښې مبتلا شوي وُو۔

وَاتَّقُوۡا يَوۡمًا۔ دا ترهیب دے۔ يَوۡمًا نکره ده او روستو راتلونکے دده صفات متعین کوي چه مُراد دینه د اخرت وَرځ ده۔ دُنیا کښې د مجرم د سزا نه بچ کیدلو دپاره عام طور یانې د خلاصي د څلورو ذریعو نه یوه ذریعه استعمالولے شي۔ او اکثر مجرم ددے په ذریعه د سزا نه بچ کیږي۔ (۱) که چرے د مجرم پلار نیکه یا پورته کوم مورث یا بیخي لرے یا نزدے رشته دار د دین یا دُنیا لحاظ سره با اثره او با رسوخ انسان وي خلق د هغه د دُنیوي کارنامونه متاثره وي یا د هغه د دیني او مذهبي خدماتو په وجه سره هغه د الله ولي ګڼړي او هغه سره د زړه نه عقیدت او محبت لري نو داسے کس سره تعلق لرونکے مجرم محض ددے تعلق او نسبت په بناء پریښودلے شي۔

(۲) دیو با اثره او صاحب اقتدار انسان سفارش سره هم د مجرم سزا معاف کولے شي۔

(۳) ځنے وخت څه شے ورکړي او مجرم بري کړے شي (۴) ځنے وختونو کښې داسے هم کیږي چه د طاقت په زور او زبردستئ سره مجرم راخلاصولے شي۔ یهودیانو کښې شرك او د عقیدے خرابي د وسره مضبوطه شوے وه چه د هغوي خیال وُو چه ددے جنګي حربو په ذریعه

به د آخرت د سزا نه هم بچ کولے شی نو الله تعالیٰ هغوی خبر کړل چه هلته به د اشیونه په کار نه راشی. ۱۰۶ دیکښ د امر اول نفی ده. ای لا یغنی احد عن احد (ابن کثیر ص ۹۰ ج ۱) لا تقضی یوم القیامة نفس عن نفس شیئا مما وجب علیها ولا تنوب عنها ولا تحتمل اصابها (روح ص ۲۵۱ ج ۱) - وَلَا يُقْبَلُ مِنْهَا شَفَاعَةٌ، دا د امر ثانی نفی ده. معتزلو او نورو باطلو فرقو کوم چه د شفاعت نه منکر دی دی د ے ایت په عموم سره د شفاعت په نفی باندې استدلال کړیدے نو د دے جواب دا دے چه دلته د مطلق شفاعت نه نفی نه ده بلکه د شفاعت قهری نفی ده. څنګه چه د یهودو خیال وو چه زمونږ پیلاران او نیکونه به مونږ له زمونږ د بدعملو باوجود د الله تعالیٰ د عذاب نه خلاص کړی او الله تعالیٰ به د هغوی سفارش خامخا قبلوی. یا دا نفی کافرانو او مشرکانو پورے خاص ده او مطلب دا دے چه د کافرانو او مشرکانو په حق کښې به هیڅ قسم شفاعت نشی قبلولے. والجواب انها خاصة بالکفار للایات الواردة فی الشفاعة والاحادیث المرویة فیها (ابو السعود ص ۲۱۵ ج ۱) - وَلَا يُؤْخَذُ مِنْهَا عَدْلٌ : دلته د دریم ذریعے نافع کیدلو نفی ده. وَلَا هُمْ يُنْصَرُونَ ۝ دا د څلورم ذریعے نافع کیدلو اعلان دے. ورانده د انعاماتو تفصیل دے.

۱۰۷ دا اول انعام دے. د آلِ فرعون نه مراد دلته د فرعون قوم دے چه د کفر او شرک په مسلک کښې د هغه ملګری وو. واما آل فرعون فلاشك ان المراد منه ههنا من کان من قوم فرعون وهم الذین عزموا علی هلاك بنی اسرائیل (کبیر ص ۵۱۵ ج ۱) آل فرعون قومه واتباعه واهل دینه (قرطبی ص ۳۸۱ ج ۱) د قوم فرعون نه د نجات ورکولو مطلب دا دے چه د هغوی له طرفه کوم ظلمونه کیدل او کوم تکلیفونه او ضررونه چه دوی ته ورکولے شو د هغے نه ئے دوی بچ کړل. يَسُومُونَكُمْ سُوٓءَ الْعَذَابِ. د فرعون قوم چونکه حکمران وو او بنی اسرائیل محکوم وو. د دے وجے نه به د فرعون قوم دوی په بیګار کښې نیول او دوی باندې به ئے سخت محنت او مشقت کولو. دا رنګے به ئے هغوی په جسمانی عذاب کښې مبتلا کړی وو.

۱۰۸ دا ذهنی او روحانی تکلیف وو چه دوی ته به د فرعونیانو له طرفه رسیدلو. د بنی اسرائیلو د ځامنو وژلو وجه دا وه چه فرعون اوریدلی وو چه الله تعالیٰ حضرت ابراهیم علیه السلام سره وعده کړے وه چه د دوی په اولاد کښې به همیشه نبیان او بادشاهان پیدا کیږی (تر دے چه د نبی خاتم النبیین صلی الله علیه وسلم ظهور اوشی) د دے سره فرعون خپلے بادشاهئ دپاره خطره محسوس کړه او د بنی اسرائیلو کښې د پیدا کیدو نکو هلکانو قتلِ عام ئے شروع کړو.

عن ابن عباس رضی الله عنهما انه وقع الی فرعون وطبقته ما کان الله وعد ابراهیم ان یجعل فی ذریته انبیاء وملوکا فخافوا علی ذلك واتفقت کلمتهم علی اعداد رجال معهم الشفار یطوفون فی بنی اسرائیل فلا یجدون مولودا ذکرا الا ذبحوه (کبیر ص ۵۱۷ ج ۱)

۱۰۹ لفظ "بلاء" نعمت او مصیبت دواړو کښې مستعمل دے ؛ فیقال للنعمة بلاء وللمحنة الشدیدة

بلاء (کبیر ص ۱ د ق) دغه که چرے ذٰلِکُمْ اشاره وګرځولے شي واقعه د غرقېدو ته نو بلاء معنی به
ابتلاء و مصیبت وي او که چرے اشاره نجات ورکولو طرفته وي نو معنی به ئے نعمت وي او د
زیاتته موندون ده د ابتلاء فهذا هو المحنة ان اشیر بلفظ ذٰلکم الی صنع فرعون والنعمة
ان اشیر به الی الانجاء وحمله علی النعمة اولی لانه فی موضعه الحث وفیه موضع تجدید علی البعود
نعام الله تعالیٰ علی اسلافهم (کبیر ص ۱ د ق) کذا فی روح ص ۲۵ والقرطبی ص ۳۸۸ ج ۱ والبیضاوی ص ۲۲

وَإِذْ فَرَقْنَا بِكُمُ الْبَحْرَ فَأَنْجَيْنٰكُمْ وَأَغْرَقْنَا آلَ فِرْعَوْنَ

او هر کله چه موږ اوشلولو ستاسو په وجه دریاب بیا موږ ستاسو بچ کړي شته او ډوب موږ کړل د فرعون خلق

وَأَنْتُمْ تَنْظُرُونَ ﴿٥٠﴾ وَإِذْ وٰعَدْنَا مُوسٰى أَرْبَعِينَ

او تاسو کتل الله فرما او هر کله چه موږ وعده ورکړه موسیٰ سره د څلوېښتو

لَيْلَةً ثُمَّ اتَّخَذْتُمُ الْعِجْلَ مِنْ بَعْدِهٖ وَأَنْتُمْ

شپو ئے بیا تاسو جوړ کړو سخے د موسیٰ نه پس او تاسو

ظٰلِمُونَ ﴿٥١﴾ ثُمَّ عَفَوْنَا عَنْكُمْ مِنْ بَعْدِ ذٰلِكَ لَعَلَّكُمْ

ظالمان وی ئے الله فرمایی بیا موږ تاسو معاف کړئ د دے بانديه هم د پاره د دے چه

تَشْكُرُونَ ﴿٥٢﴾ وَإِذْ آتَيْنَا مُوسَى الْكِتٰبَ وَالْفُرْقَانَ

تاسو احسان اومنئ ګله او هر کله چه موږ ورکړه موسیٰ ته کتاب او فیصله حق او باطل ترمنځ علم اولی اسلام

لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴿٥٣﴾ وَإِذْ قَالَ مُوسٰى لِقَوْمِهٖ يٰقَوْمِ

د پاره د دے چه تاسو نیغه لاره بیا مومئ او هر کله چه اووے موسیٰ خپل قوم ته اے قومه!

إِنَّكُمْ ظَلَمْتُمْ أَنْفُسَكُمْ بِاتِّخَاذِكُمُ الْعِجْلَ فَتُوبُوا

تاسو نقصان اوکړو خپل د ځان په جوړولو سره د سخي نو اوس توبه اوباسئ

إِلٰى بَارِئِكُمْ فَاقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ ۚ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ

خپل پیدا کوونکي طرفته او مړه کړئ خپل ځانونه دا بهتره ده ستاسو د پاره

عِنْدَ بَارِئِكُمْ ۚ فَتَابَ عَلَيْكُمْ ۚ إِنَّهٗ هُوَ التَّوَّابُ

ستاسو د خالق په نزد بیا متوجه شو تاسو باندے بیشکه هغه دے معاف کوونکے

الرَّحِيمُ ﴿٥٤﴾ وَإِذْ قُلْتُمْ يَٰمُوسَىٰ لَن نُّؤْمِنَ لَكَ حَتَّىٰ

نَرَى ٱللَّهَ جَهْرَةً فَأَخَذَتْكُمُ ٱلصَّٰعِقَةُ وَأَنتُمْ

تَنظُرُونَ ﴿٥٥﴾ ثُمَّ بَعَثْنَٰكُم مِّنۢ بَعْدِ مَوْتِكُمْ لَعَلَّكُمْ

تَشْكُرُونَ ﴿٥٦﴾

تاسو احسان اُومنئ ۱۱۳

نکات: ۱۱۰ دویم انعام ۱۱۱ دریم انعام ۱۱۲ څلورم انعام ۱۱۳ پنځم انعام ۱۱۴ شپږم انعام

موضح القرآن ف ۱ دغه قصه په سورة اعراف او سورة طٰهٰ کښې بیان کړے شوې ده۔ ف ۲ فیصله هغه حکم کوم سره چه معامله فیصله شي او تاسو ته معلوم شي۔

فتح الرحمٰن ف ۱ مترجم وائي چه الله تعالیٰ حضرت موسیٰ علیه السلام سره وعده اُوکړه چه خلوېښت شپې په کوه طور کښې معتکف شه د پاره د دے چه تورات درکړم دے زمانه کښې بني اسرائیلو د سامري په ګمراه کولو سره د سخي عبادت اختیار کړو۔ الله تعالیٰ د موسیٰ علیه السلام واپس کیدلو سره حکم ورکړو چه د دوی نه بعض د بعضو لره قتل کړي او دا د دوی توبه ده۔ والله اعلم۔ ف ۲ مترجم وائي چه موسیٰ علیه السلام خان سره د بني اسرائیلو نه اویا کسان بوتلل د پاره د دے چه د الله کلام واوري۔ هغوی د اوریدو نه پس د لیدلو خواهش اُوکړو او د دے په طلب کښې ئې د حد نه تجاوز اوکړو۔ الله تعالیٰ دوی بتول صاعقه سره اُوسوزول او بیائې د موسیٰ علیه السلام په دُعا سره راژوندي کړل۔ دا ایت هغې قصې ته اشاره ده۔ والله اعلم۔ ف ۳ بني اسرائیلو ته اَمر اُوشو عمالقه سره د جهاد کولو او دوی په هغې کښې بے پرواهي اُوکړه نو څلوېښت کاله په بیابان کښې او غورځولي شو او سزا ورکړے شوه او هلته چه کله اُوبه او خیمې نه وے او نه خوراک وُو نو الله تعالیٰ د موسیٰ علیه السلام په دُعا سره مَن او سلویٰ نازل کړل او د کاڼړي نه ئې دولس چینے روانے کړے او وریځ ئې ورباندې سورے کړو نو هغوی د دے نعمتونو قدر اُونکړو او ناشکري ئې اُوکړه۔ دے ایت کښې دے قصې ته اشاره ده۔

تفسیر: ۱۱۳ دا دویم انعام دے۔ پکار کښې ټاء په معنیٰ د لام سره ده یعني مونږ تاسو د پاره د دریاب او شلولو، په هغې کښې مو لارے جوړے کړے، اِذ فرقنا لکم دا معالم

ص ۲۹ ج ۱ قرطبی ص ۳۸۷ ج ۱) یا « بـ » دپاره د سَببیت ده: فرقت بسببکم و بسبب انجائکم.
(کبیر ص ۵۱۸ ج ۱، روح ص ۲۵۷ ج ۱) او « البحر » نه مراد دلته بحرِ احمر دے چه د هغه دویم نوم بحرِ قلزم دے. ویذکر ان البحر هو بحر القلزم (قرطبی ص ۳۹۰ ج ۱) حضرت موسیٰ علیه السلام شپه او ورځ تبلیغ کښې مصروف وُو لیکن فرعون او د هغه قوم باندې د هغه د دعوت او د الله تعالیٰ د مظلومو بنی اسرائیلو فریاد او اوازِ واورېدو چه د ډیرے مودے راسے د فرعون ظلم او زیاتے برداشت کولو. او س په فرعونیانو باندې د عذاب الٰهی وخت راغے الله تعالیٰ موسیٰ علیه السلام ته د خپل قوم ځان سره د بوتللو او هجرت کولو حکم ورکړو نو هغوی د شپے اُووتل او تلل تلل چه دسمندر غاړے ته اُورسیدل. دلته فرعون خبر شو، هغه ځان سره ډیر لوے لښکر روان کړو او د دوی په تلاش کښې اُووتل. هرکله چه بنی اسرائیلو اُولیدل چه مخکښې ته دریاب دے او شاته دشمن او بنی او کس طرفته غروته نو اُویریدل. حضرت موسیٰ علیه السلام ته د الله تعالیٰ حکم ملاؤ شو او دریاب ئے خپله همسا سره اُووهلو چه هغه سره فوراً د دریاب اُوبه اُودریدلے (جمع شوے) او پکښې دولس فراخه لارے جوړے شوے. اسرائیلیان د دے لارو په ذریعه دسمندر نه پورت وتل جزیرہ نمائی ته اُورسیدل. ایت کښې دے واقعے طرفته اشاره ده.

سـ ۱۱۱ـ هرکله چه فرعون سره د خپل لښکر د دریاب غاړے ته اُورسیده او دریاب کښې ئے اُوچے لارے اُولیدلے نو هغوی هم خپل آس په سمندر باندې ور واچولو او هغه پسے شاته ټول لښکر په دریاب کښې داخل شو. کله چه ټول لښکر دریاب ته کوز شو نو الله تعالیٰ دریاب جاری کړو او ټول ئے غرق کړل. د فرعونیانو د غرقیدلو دا ننداره بنی اسرائیلو پخپلو سترګو اُولیدله. سـ ۱۱۲ـ دا دریم انعام دے: دریاب پورے وتلو نه پس حضرت موسیٰ علیه السلام د تورات راوړلو دپاره د الله حکم سره کوهِ طور ته اُورسیدو هلته ئے خلوبښت شپے تیرے کړے او د الله پاک له طرفه ئے تورات حاصل کړو. ثُمَّ اتَّخَذْتُمُ الْعِجْلَ — د اِتَّخَذْتُمْ دویم مفعول محذوف دے: ای اتخذتم العجل الٰهًا؛ یعنی تاسو سخے معبود جوړ کړو (ابوالسعود، ص ۵۲۸ ج ۱، قرطبی ص ۳۹۶ ج ۱). هرکله چه حضرت موسیٰ علیه السلام خپل مشر ورور حضرت هارون علیه السلام خپل نائب جوړ کړو او پخپله کوهِ طور ته لاړو نو سامری چه یو منافق وُو، د سخی بُت تیار کړو او د حضرت ابن عباس رضی الله عنه او معمر د قول مطابق د خاورے هغه موټے کوم چه هغه د حضرت جبرئیل علیه السلام د سورلئ د خپو د ځائے نه راپورته کړے وُو، په هغه کښې واچولو نو دے سره پکښې ژوند پیدا شو او هغه د ژوندی سخی پشان وینا شروع کړه: فلما جمعوه القی السامری القبضة وقال کن عجلا جسدا له خوار فصار کذلک (روح ص ۲۲۸ ج ۱، قرطبی ص ۲۳۵ ج ۱) او مجاهد فرمائی چه د سخی د خیټے جوړولو کښې داسے سورے وُو چه کله به هغے کښې هوا داخله شو نو د غه وخت به بالکل سخی پشان اواز پیدا شو: خوار؛ وصوته؛ کان بالریح لانه کان عمل فیه خروقا فاذا دخلت الریح فی جوفه خار ولم

تکن فیه حیاة وهذا قول المجاهد (قرطبی ص ۳۶۵ ج ۱). سامری اسرائیلو ته اُووئیل چه دا ستاسو زب دے، ددۀ عبادت کوئ ځکه چه الله تعالیٰ په دۀ کښې حلول کړے دے (نعوذ بالله). هُمدا عقیده د عیسایانو وه چه الله تعالیٰ حضرت مسیح علیه السلام کښې حلول کړے دے. هُمدا عقیده د نن عبا دُ مخنے غالی بدعتیانو هم ده. هغوی داسې نړی چه الله تعالیٰ د دوی پیر او مُرشد کښې کښې داخل دے. نو اسرائیلو دَحضرت هارون علیه السلام منع کولو باوجود دَسامری دَسخی عبادت شروع کړو. وَاَنْتُمْ ظٰلِمُوْنَ ۝ یعنې دا دے شرک په وجه سره تاسو په خپلو ځانونو باندې ظلم کړیدے. ځکه چه شرک ډیر لوئ ظلم دے. ثُمَّ عَفَوْنَا عَنْكُمْ. دا دے شرک کولو نه پس چه هر کله تاسو ربښتنے توبه اُوویستله نو مونږ ستاسو قصور معاف کړو. لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ۝ د پاره ددے چه تاسو ددے انعام شکریه اَدا کړئ او اَئنده د پاره د شرک نه منع شئ او د الله تعالیٰ اطاعت دَ ژوند شعار جوړ کړئ. حضرت موسیٰ علیه السلام د څو ورځو د پاره د خپل اُمت نه غائب شوے وُو چه سامری مکر او فریب سره د هغۀ اُمت گمراه کړو. دا قسم سامرے تقریباً په هر اُمت کښې موجود وی. اُمتِ مُحمد په کښې هم نن پیر مذهبی او سیاسی سامری موجود دی چه هغوی خپلے چالاکئ سره ساده زړا پوهه خلق په غلط لاره باندې روان کړی دی:

وَاِذْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ وَالْفُرْقَانَ. دا څلورم انعام دے. الکتاب او الفرقان نه مُراد تورات دے ځکه چه دا دواړه صفتونه دی دَتورات: ان التوراة لها صفتان کونها کتاباً منزلا وکونها فرقاناً تفرق بین الحق والباطل (کبیر ص ۲۳ ج ۳، کذا فی المعالم ص ۲۵ ج ۱)

لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ ۝ د پاره ددے چه یو جامع نظام زندگی ستاسو په لاس کښې راشی او تاسو دَ ژوند په هر شعبه کښې نیغه لاره باندې روان شئ او د الله پاک رضا حاصله کړئ.

پنځم انعام: وَاِذْ قَالَ مُوْسٰى لِقَوْمِهٖ، کله چه حضرت موسیٰ علیه السلام دَ کوهِ طُور نه واپس راغے او قوم ئے دَ سخی په عبادت کښې مبتلا بیا مُونده نو دَ توبے تلقین ئے ورته اُوکړو. فَتُوْبُوْٓا اِلٰى بَارِئِكُمْ فَاقْتُلُوْٓا اَنْفُسَكُمْ یعنې چا چه دَ سخی عبادت نۀ دے کړے هغوی دِ هغه خلق قتل کړی کوم چه د هغۀ عبادت کړیدے. ای لیقتل بعضکم بعضاً ...... وروی انه امر من لم یعبد العجل ان یقتل من عبده (روح ص ۲۶۰ ج ۱) دَ توبے اَصل خو دا دے چه تیرو شوو گناهونو باندې خپیمانه شی او اَئنده د پاره دَ گناهونو پرینښودلو ځکه اِراده اُوکړی. لیکن د اسرائیلو دَ توبے قبولیت د پاره ئے قتلِ نفس شرط اُوگرځولو. لان الله تعالیٰ اوحی الی موسی علیه السلام ان شرط توبتهم قتل النفس (کبیر ص ۲۲ ج ۱) ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ عِنْدَ بَارِئِكُمْ ۝ یعنې په گناه باندې د اِصرار کولو نه دا بهتره ده ځکه چه ددے سره به تاسو د شرک دَ گناه نه پاک شئ او اخرت کښې به همیشه ژوند بیا مومئ: لما انه طهارة عن الشرک ووصلة الی الحیاة الابدیة والبهجة السرمدیة. (ابو السعود ص ۱۰۳ ج ۱) فَتَابَ عَلَيْكُمْ ۝ د هر کله چه تاسو ربښتنے توبه اُوویستله او قتل د پاره تیار شوئ او څخه دستاسو نه قتل کړے شو نو الله تعالیٰ دَ باقی پاتو نه د قتل حکم اُوچت کړو او دیتولو توبه ئے قبوله کړه: ان الله تعالیٰ امرهم بالقتل رفع ذلک الامر عنهم قبل فنائهم بالکلیة فکان ذلک نعمة

فی حق ورثۃ ابنا قبیل الخ (کبیر ص ۵۰۰ ج ۱) اِنَّهٗ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ ۞ الله تعالیٰ ډیر مهربانه دے چه هرکله هغه دَ زړونو اخلاص اُولیدهٔ نو د دوی توبه ئے قبوله کړه او معاف ئے کړل.

۱۱۳ ﴿ دا شپږم انعام دے یعنی تر څو چه مونږ الله تعالیٰ په خپلو سترګو اُونه وینو ترهغه وخته پورے به مونږ ستا دَ بیان تصدیق نه کوو. کله چه حضرت موسیٰ علیه السلام تورات راوړلو او خپل قوم ته راغے او دَ توبے دَ قبولیت دَ پوره شتی واقعه نه پس ئے هغوی ته اُووئیل چه دا د الله تعالیٰ کتاب دے او دے بانډے عمل اُوکړئ نو دوی کښے ځنو ګستاخ او ضعیف الایمان قسمه خلقو اُووئیل چه تر څو پورے مونږ په خپله دَ تورات متعلق د الله تعالیٰ حکم نه وی اَورید ترهغه به ئے نه منو. د ا رنګے د وی کښے بعضو اُووئیل چه دَ تورات اَحکام مشکل دی، مونږ به دے عمل نشو کولے او نهٔ دا خبره ممکن ده چه الله تعالیٰ دا سے مشکل احکام نازل کړی. ځنګه چه نن صبا دَ نوے زمانے متأثره شوی ذهنونه لرونکی مسلمانان وائی چه چی د قران ډیر احکام خو ډیر سخت دی چه هغه د اسلام د ابتدائی دَور د پاره موزون وُو لیکن دے ترقی یافته زمانه کښے خو هغه بالکل ناقابلِ عمل دی. نو حضرت موسیٰ علیه السلام دَ خپل قوم نیک او غوره انسانان خوښ کړل او کوهِ طور ته ئے بوتلل. هلته هغوی دَ پردے د شانه پخپلو غوږونو بانډے د الله کلام واؤریده و لیکن بیا هم مطمئن نهٔ شول او یو ه مُهمله او ناممکنه مطالبه ئے پیش کړه چه د الله پاک کلام خو مونږ واؤریدو و لیکن مونږ ته به کامل اطمینان په هغه صورت کښے حاصل شی چه الله تعالیٰ په خپلو سترګو اُووینو.

فَاَخَذَتْكُمُ الصّٰعِقَةُ : دَ صاعقه نه مُراد هیبتناك اَواز دے : صیحة سماویة خروا لها صعقین میتین (روح ص ۲۶۲ ج ۱) دا مطالبه چونکه ډیره ګستاخانه او محض د ضد او عناد په بنیا د وه او د طلبِ هدایت د پاره نهٔ وه نو ځکه د دے په سزا کښے د یو هیبتناك اَواز په ذریعه هلاك کړے شول. لانهم لم یسألوا سؤال استرشاد بل سوال تعنت وعنا د (مدارك ص ۳۱ ج ۱) لفرط العناد والتعنت وطلب المستحیل فانهم ظنوا انه تعالیٰ یشبه الاجسام فطلبوا رؤیته رؤیة الاجسام فی الجهات والاحیاز المقابلة للرائی وهی محال اه (ایضا وکبیر ص ۲۵ ج ۱) وَاَنْتُمْ تَنْظُرُوْنَ ۞ یعنی تاسو پخپلو سترګو دَ صاعقه په ذریعه یو بل مړه اُولیدل ای ینظر بعضکم لبعض حین اخذکم الموت (معالم ص ۵۳ ج ۱)

۱۱۴ ﴿ د پاره د دے چه تاسو د و باره دَ ژوندی کیدلو دَ نعمت قدر اُوکړئ او حُما لیږلے شوے تورات اُومنئ او دَ عقیده ءِ توحید پابند شئ. مُعتزلو او روافضو دے ایت سره د الله تعالیٰ دَ رویت په امتناع بانډے استدلال کړیدے لیکن دا استدلال صحیح نه دے ځکه چه د دے نه امتناع فی الدنیا ثابتیږی نه چه مطلق امتناع او د اهلِ سُنت مسلك دا دے چه د الله تعالیٰ رویت فی نفسه دُنیا او اخرت دواړه جهانه کښے ممکن دے لیکن دُنیا کښے به د دهٔ وقوع نهٔ کیږی لیکن په اخرت کښے به مؤمنان د الله تعالیٰ دَ دیدار نه مُشرف او فائده اخستونکی وی : واهل السنة والسلف علیٰ جوازها فیهما ووقوعها فی الاٰخرة (قرطبی ص ۴۰۳ ج ۱)

وَظَلَّلْنَا عَلَيْكُمُ الْغَمَامَ وَأَنْزَلْنَا عَلَيْكُمُ الْمَنَّ وَالسَّلْوٰى ط

او سورے کړو مونږ تاسو باندې وریځ او نازل کړو مونږ تاسو باندې مَن او سَلوٰی ١١٩

كُلُوا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا رَزَقْنٰكُمْ ط وَمَا ظَلَمُونَا وَلٰكِنْ

خورئ پاکیزه څیزونه کوم چه مونږ تاسو ته درکړل او هغوی زمونږ هیڅ نقصان اونکړو بلکه

كَانُوا أَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴿٥٧﴾ وَإِذْ قُلْنَا ادْخُلُوا هٰذِهِ

خپل نقصان ئې کولو ١٢٠ او هرکله چه مونږ اووئیل داخل شئ دې

الْقَرْيَةَ فَكُلُوا مِنْهَا حَيْثُ شِئْتُمْ رَغَدًا وَادْخُلُوا

ښار ته ١٢١ او خورئ په دیکښې چرته چه غواړئ فراغت سره ١٢٢ او داخل شئ

الْبَابَ سُجَّدًا وَقُولُوا حِطَّةٌ نَغْفِرْ لَكُمْ خَطٰيٰكُمْ ط

دروازے ته سجده کونکي او وایئ اوبخښه ١٢٣ نو معاف به کړو مونږ ستاسو قصورونه

وَسَنَزِيدُ الْمُحْسِنِينَ ﴿٥٨﴾ فَبَدَّلَ الَّذِينَ ظَلَمُوا

او زیات به هم ورکړو نیکو کارو ته ١٢٤ بیا بدله کړه ظالمانو

قَوْلًا غَيْرَ الَّذِي قِيلَ لَهُمْ فَأَنْزَلْنَا عَلَى الَّذِينَ

خبره خلاف د هغې کوم چه ورته وئیلے شوے وه هغوی ته ١٢٥ بیا مونږ نازل کړو ظالمانو

ظَلَمُوا رِجْزًا مِنَ السَّمَاءِ بِمَا كَانُوا يَفْسُقُونَ ﴿٥٩﴾ ع و

باندې عذاب د آسمان نه ١٢٦ د دوی نافرمانئ باندې ١٢٧ او

إِذِ اسْتَسْقٰى مُوسٰى لِقَوْمِهِ فَقُلْنَا اضْرِبْ بِعَصَاكَ

هرکله چه اوبه اوغوښتلے موسٰی خپل قوم د پاره ١٢٨ نو مونږ اووئیل چه اووهه خپله همسا

الْحَجَرَ ط فَانْفَجَرَتْ مِنْهُ اثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْنًا ط قَدْ

په کاڼړی نو روانے شوے د هغې نه دولس چینے ١٢٩ او

عَلِمَ كُلُّ أُنَاسٍ مَشْرَبَهُمْ ط كُلُوا وَاشْرَبُوا مِنْ رِزْقِ

پیژندلو هر قوم خپل گودر ١٣٠ خورئ او څښئ د الله

اللّٰهِ وَلَا تَعْثَوْا فِی الْاَرْضِ مُفْسِدِیْنَ ﴿۶۰﴾
روزی او مه ګرځئ په ملک کښې فساد کوونکی الله ق

نکات: ۱ دوېم انعام ۲ اول عذاب ۳ اتم انعام -

موضح القرآن ف۱ هر کله چه فرعون غرق کړے شو او بنی اسرائیل خلاص شول لاړل، ځنګل کښې د هغوی خیمې اُوشلیدلے نو تو له ورځ وربانندې وریځ وه، د غرمه پېچ دلو او ګاله به نه رسیدله نو من او سلوی به د خوراک دپاره نازلیدل. من یو خوږ څیز وو، د دُهنیا پشان به د شپې ورېدو او د خلقو ګیرچاپیره به ډهیری ګیدل، سحر به هر سړی د خپل طاقت مطابق راټولولے - او سلوی د یو حیوان نوم دے ماښام به د ښکرنه ګیرچاپیره په زرګونو حیوانات جمع شول چه تیاره به شوه نو اُوبه ئے نیؤل او کباب به ئے کړل اُوبه ئے خوړل. ف۲ د غه ځنګل کښې ګیر شوی وو، د خپل تقصیر په وجه - سورة مائده کښې د دے بیان شته. بیا د یو خوراک نه ستړے شول نو یو ښار ته ئے اُورسول او حکم ئے ورته ورکړو چه سجده کوونکی داخل شئ او حِطّة وایئ یعنی ګناه معاف کړے کړه - ف۳ یعنی خندا سره ئے د حِطّة په بدله کښې حِنْطَة وئیل شروع کړل یعنی غنم، او د سجدے په ځائے په کُناتو اُوخوئیدل. بیا چه هر کله ښار ته لاړل نو طاعون وربانندې راغے د ښکو وبا، د غرمے په وخت تقریباً اُویا زره کسان مړه شول -

ف۴ د غه ځنګل کښې اُوبه نه وے نو د یو کاڼی نه دولس چینې راؤوتلے، دولس قومونه وو، چا کښې خلق زیات وو او چا کښې کم. د هر قوم موافق یوه چینه ورې هغه ئے اُوپیژندله. چه کله به ښکر روانیدلو نو هغه کاڼے به ئے ځان سره اُوچتولو او چه کله به ئے ډیره اُچولو نو هغه به ئے کینسودلو.

فتح الرحمن ف۱ یعنی د غه ښار د حضرت موسی علیه السلام په زمانه کښې فتح شو.
ف۲ یعنی بنی اسرائیل دولس قبیلے وو او د هرے یوے دپاره یوه چینه مقرره شوه.

تفسیر: ۱۵ دا دوېم انعام دے. د بنی اسرائیلو اصلی وطن ملکِ شام وو. د حضرت یوسف علیه السلام په زمانه کښې مصر ته راغلل آباد شول. کله چه فرعون غرق شو او اسرائیل بالکل مطمئن شول نو دوی ته عمالقه قوم سره چه هغه وخت ملکِ شام باندې قبضه کړې وه، د جهاد کولو او خپل ملک آزادولو حکم ملاؤ شو نو د اخلق د حضرت موسی علیه السلام په مشری کښې جهاد دپاره اُووتل. هر کله چه نزدے ورا اُورسیدل او د عمالقه قوت او طاقت ورته معلوم شو نو همت ئے اُوبائیللو او د جنګ نه ئے صفا انکار اوکړو. په دے ورته الله پاک دا سزا ورکړه چه دوی پوره څلویښت کاله په میدان تیه کښې حیران او سرګردان ګرځیدل. دا ځنګل بیخی هموار او بے آب وګیاه وو. د دے کښې نه د سُوری دپاره څه وُنه وه او نه د خوراک څکاک دپاره اُوبه او نه بل څه څیز وو. هر کله چه دوی د ګرمئ شکایت اوکړو نو الله تعالیٰ

پرے وریځ راخوره کړه، سورے ئے ورته ورکړو، بیا چه کله ئے د لوږے شکایت اوکړو نو
د مَن او سَلوىٰ انتظام ئے ورله اوکړو. دے ایت کښې هغه واقعے طرفته اشاره ده. دَ
اَلْمَنّ معنیٰ ترنجبین ده. دا د جاوُلے پشان یو خوږ څیز دے چه د پرخے پشان به د سحر په
وخت په بوټو باندې پریوتل. بنی اسرائیل به چه کله سحر پاځیدل نو په بوټو باندې به ورته
ډیر مقدار کښې ملاویدل چه هغوی به ډیر خوند سره خوړل: والمشهور انه الترنجبين و
هو شیٔ، یشبه الصمغ حلو مع شیٔ من الحموضة كان ينزل عليهم كالطل (روح ص ۲۶۳ ج ۱)
او سَلوىٰ دیو قسم مرزان دی، وهو طائر يشبه السمانی او هو السمانى بعينه (روح ص ۲۶۴ ج ۱)
كان يبعث عليهم الجنوب فتحشر عليهم السلوى وهى السمانى فيذبح الرجل منها مايكفيه.
(مدارک ص ۳۱ ج ۱) یعنی الله تعالیٰ به د جنوب له طرفه داسے هوا راوالوزوله چه هغے سره به
مرزان الوتل راتلل او دوی به هغه نیول او حلالول به ئے. الله تعالیٰ دوی ته یوه
اسانی هم ورکړه چه مرزان به د دوی نه نه تښتیدل. دوی به چه کله هم غوښتل نو هغه
به ئے نیول. كُلُوا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا رَزَقْنٰكُمْ. قرآن مجید کښې د مختلفو واقعاتو سلسله کښې
چرته چه هم د امر صیغه استعمال شوے وی د هغے نه مخکښې به قَالَ یا قُلْنَا وغیره د موقع
مطابق محذوف وی (رضی ص) وقلنا لهم كلوا من الطيبات (مدارک ص ۳۹ ج ۱، روح ص ۲۶۳ ج ۱،
قرطبی ص ۴۰۴ ج ۱)

۱۱۶ اسرائیلو د الله پاک د نعمتونو ناشکری اوکړه او د دے سره هغوی الله پاک ته هیڅ
نقصان ورنکړو بلکه خپل نقصان ئے اوکړو ځکه چه د دے ناشکرئ وبال پخپله هم دوی باندې
راپریوتلو. بعض مفسرینو دا هم لیکلی دی چه بنی اسرائیلو ته حکم وُو چه د ومره مَن او
سَلوىٰ جمع کړئ څومره چه خوړلے شئ او دراتلونکی وخت د پاره مه جمع کوئ لیکن هغه د
حرص او لالچ بندګان منعه نه شول او ذخیره اندوزی ئے اوکړه او د الله پاک نافرمانی ئے
اوکړه او په دے شان هغوی خپلو ځانونو باندې ظلم اوکړو.

۱۱۷ دا اوومے عذاب دے. د حضرت موسیٰ علیه السلام وفات خو صیدان تیه کښې شوے وُو
او حضرت یوشع علیه السلام د هغه ځاے نشین شو. دلته د بنی اسرائیلو هغه دیرش کاله سرکشه
عمر اکان هم ختم شوی وُو چا چه د جهاد نه انکار کړے وُو. اوس حضرت یوشع علیه السلام د ځوانانو
نوے نسل د عمالقو جهاد د پاره تیار کړو او د شام ملک ئے فتح کړو. د دینه پس هغوی
ته بیت المقدس ښارته د داخلیدو حکم ملاؤ شو. دلته د اَلْقَرْيَةَ نه مراد بیت المقدس
ښار دے: وهو اختيار قتادة والربيع وابى مسلم الاصفهانى انه بيت المقدس (کبیر ص ۵۳۳ ج ۱)

۱۱۸ دلته ئے د دُنیاوی لذتونو نه د نفع اخستلو اباحت فرمائیلے دے. وَادْخُلُوا الْبَابَ
نه مراد د بیت المقدس دروازه ده. والمراد بها على المشهور احد ابواب بيت المقدس
ويدعى الأن باب حطة قاله ابن عباس (روح ص ۲۶۵ ج ۱) وهو قول الضحاك ومجاهد و
قتادة (کبیر ص ۵۳۳ ج ۱) او د سجود نه مراد سجده نه ده بلکه محض تینهیدل مراد دی، او
بعضو دا په تواضع او خضوع باندې محمول کړے دے او ممکن ده چه د دے نه مراد اصطلاحی

سجده ده وی یعنی تندے په زمکه کیښودل: قال الحسن اراد به نفس السجود الذی هو الصاق الوجه بالارض. (کبیر ص ۲۳ ج ۳) امام رازی رحمة الله دے باندې بیو اشکال وارد کړے دے چه که د سجدے نه مراد اصطلاحی سجده وی نو د سجدے په حالت کښې دروازه باندې داخلیدل ممکن نه دی لیکن اشکال صرف هغه صورت کښې دے کله چه د دروازے نه فصیلِ شهر (د ښار د چار دیوارئ) دروازه مراد وی لیکن که چرے د دروازے نه مراد د بیت المقدس د مسجد دروازه مراد وی لکه چه امام نسفی رح فرمائی: باب القبة التی کانوا یصلون الیها (مدارک ص ۳۹ ج ۱) او سُجَّدًا حالِ مؤکده نشی بلکه مقدره شی لکه چه یٰۤاَیُّهَا النَّبِیُّ اِنَّاۤ اَرْسَلْنٰكَ شَاهِدًا وَّ مُبَشِّرًا کښې علامه زمخشری لیکلی دی (کشاف ص ۲۴۴ ج ۱) نو دے صورت کښې به اصل عبارت داسے وی: وادخلوا باب المسجد مقدرین لکم السجود وقت حصولکم فیه. او مقصد دا دے چه دے ښار کښې د خوراک څکاک څیزونه ډیر مقدار کښې موجود دی، بنو فراخئ سره خوری او څکئ او په دے د الله د شکر ادا کولو په طور د الله تعالیٰ کور ته حاضریږئ او د هغه عبادت کوئ. حضرت شیخ رحمه الله دے معنے ته ترجیح ورکوی.

۱۱۹ حِطَّةٌ خبر دے د مبتدا محذوف ای مسئلتنا حِطَّةٌ (مدارک ص ۳۰ ج ۱ کبیر ص ۲۵ ج ۱) یعنے زمونږ درخواست د گناهونو معافی ده. نَّغْفِرْ لَكُمْ خَطٰیٰكُمْ. دا د اُدْخُلُوْا او قُوْلُوْا دواړو جواب دے. یعنی چه کله تاسو ځما عبادت ادا کړئ او ما نه د گناهونو بخښنه اوغواړئ نو زه به ستاسو ټول گناهونه معاف کړم. وَسَنَزِیْدُ الْمُحْسِنِیْنَ. د محسنین نه مخلصین کاملین مراد دی لکه څنګه چه حدیث جبرئیل کښې د احسان په تفسیر کښې دی: ان تعبد الله کانك تراه. مطلب دا دے چه د گناهونو معافی هغه ټولو د پاره ده څوك چه د مذکوره حکم تعمیل کوی لیکن مخلصینو ته به مزید انعام او اکرام ورکولے شی. یا د محسنین نه مراد هغه خلق دی چا چه په تیر شوی وخت کښې د الله تعالیٰ نافرمانی نه وه کړے مثلاً د سخی عبادت ئے اونکړو او مَن، سلوٰی ئے ذخیره نه کړه وغیره (قرطبی ص ۴۱۵ ج ۱)

۱۲۰ د وی کښې چه څوك نافرمانه او پخپله بدکاره وو، هغوی د الله پاك له طرفه تعلیم کړے شوے الفاظ پریښودل او د ټوقو مسخرو په طور ئے خپل نور الفاظ شروع کړل. د روایتونو کښې راځی چه هغوی د حِطَّةٌ په ځائے حِنْطَةٌ بیا بیا وئیل شروع کړل (قرطبی ص ۴۱۵ ج ۱، روح ص ۲۶۶ ج ۱، وغیره) قولی مخالفت سره سره هغوی عملاً هم د الله تعالیٰ د حکم مخالفت اوکړو. نو دروازه باندې د تیجید لو په ځائے ناز نخرو سره ننوتل. ۱۲۱ کوم خلقو چه د الله نافرمانی اوکړه او د هغه حکم ئے مسخرو سره بدل کړو هغوی باندې عذاب نازل کړے شو. دا عذاب هغوی باندې د طاعون مرض په صورت کښې مسلط کړے شو: والمراد به الطاعون (بیضاوی ص ۲۵) وقال ابن زید بعث الله علیهم الطاعون (کبیر ص ۴۲۰ ج ۱) بِمَا كَانُوْا یَفْسُقُوْنَ ۝ دا عذاب هغوی باندې د مسلسل نافرمانئ په وجه نازل کړے شو. بسبب فسقهم المستمر (ابو السعود ص ۴۲۹ ج ۱) ۱۲۲ دا اَتمِ انعام دے. دا واقعه هم په میدان تیه کښې پیښه شوه هر کله چه هلته بنی اسرائیلو ته تنده اولګیده نو هغوی د حضرت موسیٰ علیه السلام نه د اُوبو

مطالبه اوکړه ، جمهور المفسرين اجمعوا على ان هذا الاستسقاء كان فى التيه (كبير ص ۰۳، ج ۱) نو هغوی د الله تعالیٰ په حکم سره کانړے په همسا باندې اووهلو چه هغې سره دولس چینې روانې شوے - اِضْرِبْ بِّعَصَاكَ الْحَجَرَ، په الْحَجَرَ کښې الف لام عهد د پاره دے او دے سره یو خاص او مقرر شوی کانړی طرفته اشاره ده ؛ كان حجرًا معينًا بدليل انه عرفه بالالف واللام (معالم ص ۵۵ ج ۱)

۱۲۳ د اسرائیلو دولس قبیلې وے او د دوی خپل مینځکښې نفرت او بے اتفاقی وه - د دے وجې نه ئے هرے قبیلې د پاره جدا جدا چینه جاری کړه چه چرته اوبو څښلو سره خپل مینځکښې جګړه اونکړی ؛ لكونهم كانوا اثنى عشر سبطا وكان بينهم تضاغن وتنافس فاجرى الله تعالى لكل سبط عينًا يردها لا يشركه فيها احد من السبط الأخر دفعا لاثارة الشحناء - (روح ص ۲۷۱ ج ۱) قَدْ عَلِمَ كُلُّ أُنَاسٍ مَّشْرَبَهُمْ ، یعنی هرے قبیلې ته خپل ګودر معلوم وو او هرے قبیلې ته اوخودلے شوے چه هغوی صرف د خپل ګودر نه اوبه څښلے شی - ۱۲۴ یعنی د الله تعالیٰ د ورکړے شوی رزق نه خوراک څکاک کوئ او د هغه د نعمتونو شکر ادا کړئ او د هغه د ورکړے شوی رزق نه خوراک څکاک کولو سره د هغه په زمکه نافرمانئ او شر فساد مکوئ - مفسدين حال مؤكده لعاملها دے - (شرح شذور الذهب ابن هشام ص ۲۲۷)

وَإِذْ قُلْتُمْ يَا مُوسَىٰ لَن نَّصْبِرَ عَلَىٰ طَعَامٍ وَاحِدٍ

او کله چه اووئیل تاسو اے موسیٰ ! مونږ هیڅکله صبر نه کوو په یو قسم خوراک باندې ۱۲۵

فَادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُخْرِجْ لَنَا مِمَّا تُنبِتُ الْأَرْضُ

نو دعا اوغواړه مونږ د پاره د خپل پروردګار نه چه راوباسی مونږ له هغه ګوم چه راټوکوی زمکه

مِن بَقْلِهَا وَقِثَّائِهَا وَفُومِهَا وَعَدَسِهَا وَبَصَلِهَا ۖ

ترکاری او ترے او غنم او مسور او پیاز

قَالَ أَتَسْتَبْدِلُونَ الَّذِي هُوَ أَدْنَىٰ بِالَّذِي هُوَ خَيْرٌ ۚ

ووئیل موسیٰ ایا اخستل غواړئ هغه څیز کوم چه معمولی دے په بدله د هغه څیز کښې کوم چه بهتر دے ۱۲۶

اهْبِطُوا مِصْرًا فَإِنَّ لَكُم مَّا سَأَلْتُمْ ۗ وَضُرِبَتْ

کوز شئ یو ښار ته نو ملاؤ به شی تاسو ته هغه کوم چه غواړئ او واچولے شو

عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ وَالْمَسْكَنَةُ وَبَاءُوا بِغَضَبٍ مِّنَ اللَّهِ ۗ

دوی باندې ذلت او محتاجی ۱۲۷ او بیائے د الله غصه واخسته

ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ كَانُوْا يَكْفُرُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَ يَقْتُلُوْنَ

دا حکم اوشوه چه دوی به نه منل د الله احکام شلهاو وژل به یې

النَّبِيّٖنَ بِغَيْرِ الْحَقِّ ؕ ذٰلِكَ بِمَا عَصَوْا وَّ كَانُوْا يَعْتَدُوْنَ ﴿٦١﴾

پیغمبران په ناحقه ، دا حکم چه نافرمانه وُو او په حد بانو نه ولاړ کیدل دالله

نکات ۲۵ دویم عذاب -

تفسیر: ۱۲۵ دا دویم عذاب دے. دا واقعه هم د میدان تیه ده - کله چه بنی اسرائیلو ویر کلونه یو قسم خوراک اُوخوړلو یعنې مَنّ او سَلوٰی د خوراک نه ستومانه شول نو حضرت موسیٰ علیه السلام ته یې دے شکایت اوکړو او ورته وئیل چه تاسو الله پاک ته درخواست اوکړې حکمه چه د انبیاء علیهم السلام دُعا قبولیت ته ډیره نزدے وی. دے نه ژوندی بزرګانو ته د دُعا دپاره د درخواست کولو جواز معلومیږی. وَفُوْمِهَا ، د فُوم معنی غنم او اوږه دواړه راځی لیکن دلته اُوږه مُراد ده : وهو مروی عن ابن عباس ومجاهد و اختیار الکسائی (کبیر ص ۵۳۳ ج ۱)

۱۲۶ استفهام د اظهارِ تعجب دپاره دے یعنې تعجب دے چه تاسو د غوره څیز په بدله کښې د معمولی څیز مطالبه کوئ. د مَن او سلوٰی په طلب کړے شوے څیزونو بانې فضیلت دے وجه نه دے چه مَن او سلوٰی یو قیمتی او لذیذ خوراک دے او د ترکاریانو په نسبت زیات فائده مند هم دے. بل دا چه دوے په حاصلولو کښې څه تکلیف او مشقت هم نشته. (روح ص ۲۷۵ ج ۱) اِهْبِطُوْا مِصْرًا فَاِنَّ لَكُمْ مَّا سَاَلْتُمْ ط د دوی مطالبه منظوره شوه او اجازت ورته ملاؤ شو چه خپل خوا کښې یو ښار ته لاړ شئ نو د خپلے خوښے دا څیزونه به درته ملاؤ شی.

۱۲۷ اَلذِّلَّةُ نه مُراد رسوائی ده او اَلْمَسْكَنَةُ نه مُراد فقر او احتیاج دے. والذلة الذل والصغار والمسكنة الفقر (قرطبی ص ۴۳۰ ج ۱) د الله تعالیٰ د مُسلسل نافرمانئ او ضد، عناد د وجے نه په بنی اسرائیلو بانې ذلت، رسوائی ، نیستی او محتاجی همیشه دپاره مُسلط کړے شوه - دُنیا کښې چرته هم چه دا قوم دے ، ذلیل او خوار، فقیر او محتاج دے. کچرے دوی کښې دولتمند هم دی نو په شمار څو کسان دی، باقی پاتے عوام نو د دوی شمار د دُنیا په مُفلس ترینو خلقو کښې دے. اُوس د دُنیا په نقشه کښې د اسرائیلو وړوکے شان حکومت هم جوړ شوے دے لیکن دا حکومت په حقیقت کښې هیڅ هم نه دے ، امریکے په مشرق وسطیٰ کښې د خپل مخصوص مفادو دپاره یو کاغذی شان ډهانچه اُودرولے ده - د دوی خپل هیڅ طاقت نشته او نه ئے څه جُدا پالیسی شته. که چرے نن امریکه د دوی د امداد نه لاس واخلی نو د نهر پر بوتلو نه وړاندے به د اسرائیلو حکومت ختم شی - وَبَآءُوْ بِغَضَبٍ مِّنَ اللّٰهِ ، د باء معنی دلته د اِسْتَحَقُّوْا وَاسْتَوْجَبُوْا ده. (کبیر ص ۵۳۶ ج ۱ ، ابن کثیر ص ۱۰۲ ج ۱ ، روح ص ۲۷۶ ج ۱) یعنې بنی اسرائیل قوم د کُفر، نافرمانئ

او د پیغمبرانو د قتل په وجه د غضب الهی مستحق اوګرځیدل۔

۱۲۸ د آیتونو نه مراد د توحید آیتونه دی یا دغته مراد آسمانی کتابونه او د پیغمبرانو معجزے دی؛ ای یکفرون بِاٰیٰتِ اللّٰهِ ای بکتابه ومعجزات انبیائه کعیسٰی ویحیٰی و زکریا ومحمد علیهم السلام ــ یَقْتُلُوْنَ النَّبِیّٖنَ ۔ دا مضارع هم د کَانُوْا د لاندے داخل دے کَانَ ماضی چه کله په فعل مضارع باندے داخل وی نو دے سره عام طور باندے فعل کښ د دوام او استمرار معنیٰ پیدا کیږی نو مطلب به دا وی چه د آیتونو تکذیب او قتلِ انبیاء د دوی همیشه عادت ګرځیدلے وُو۔ یو طرفته خو به دوی د توحید نه انکار کولو او بل طرفته توحید بیانوونکی پیغمبران به ئے وژل او همدا د دوی د عذاب مستحق کیدلو او د غضب سببه جوړ شو۔ بِغَیْرِ الْحَقِّ ؕ قید سره دا سوال پیدا کیږی چه انبیاء علیهم السلام خو معصوم دی په دے وجه د دوی قتل صرف ناحقه کیدلے شی نو بیا د غیرالحق قید زیاتولو نه څه فائده؟ نو د دے جواب دا دے چه د انبیاء علیهم السلام قتل یوه لویه ګناه او عظیم جرم دے د دے د پاره ئے د دے قباحت او بدی تاکید سره بیانولو د پاره د دے قید صراحت اوکړو؛ تعظیم الشنعة والذنب الذی اتوه۔ (قرطبی ص۲۴۳ ج۱)

۱۲۹ ذٰلِكَ سره کفر بالآیات او قتلِ انبیاء طرفته اشاره ده؛ اشارة الی الکفر والقتل الواقعین سبباً لما تقدم (روح ص۲۷۷ ج۱) بِمَا کښ باء سببیه او ما مصدریه دے۔ د الله پاک نافرمانئ او د حد نه وړاندے تلو د دے حد ته رسولی وُو چه هغوی د الله پاك د آیتونو تکذیب او د انبیاؤ وژل شروع کړل ځکه چه وړے وړے نیکئ د لویو نیکو طرفته بوتلل کوی۔ دغسے خطاګانے او وړے وړه ګناهونه هم د لویے ګناهونو طرفته راښکل کوی؛ ای اجرهم العصیان والتمادی فی العدوان الی ما ذکر من الکفر وقتل الانبیاء علیهم السلام فان صغار الذنوب اذا دووم علیها ادت الی کبارها کما ان مداومة صغار الطاعات مودیة الی تحری کبارها (ابوالسعود، ص۵۲۸ ج۱ کذا فی البیضاوی ص۲۵) تر دے ځائے پورے د اول قسم تفصیل وُو۔

اِنَّ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَالَّذِیْنَ هَادُوْا وَالنَّصٰرٰی وَ

بیشکه کوم خلق چه مسلمانان شول ۱۳۰ او کوم خلق چه یهودیان شول او نصارٰی او

الصّٰبِـِٕیْنَ مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْیَوْمِ الْاٰخِرِ وَعَمِلَ

صابئین ہر چا چه ایمان راوړو (د دوی نه) په الله او د قیامت په ورځ او کار وئے کړل

صَالِحًا فَلَهُمْ اَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ ۚ وَلَا خَوْفٌ عَلَیْهِمْ

نیك نو د دوی د پاره د دوی ثواب دے د دوی د رب سره او نشته د دوی باندے څه ویره

وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٦٢﴾ وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَاقَكُمْ وَرَفَعْنَا

او نه به دوی غمژن وی ف لــه ۔ او کله چه واخستو موږ اقرار ستاسو نه ف ۔ او وچت کړو موږ

فَوْقَكُمُ الطُّورَ خُذُوا مَا آتَيْنَاكُم بِقُوَّةٍ وَاذْكُرُوا

ستاسو د پاسه کوه طور ۔ چه اونیسئ هغه چه موږ تاسو ته درکړو په زور ۔ او یاد وساتئ

مَا فِيهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿٦٣﴾ ثُمَّ تَوَلَّيْتُم مِّن بَعْدِ

هغه چه دکښی دی دپاره ددی چه تاسو وویریږئ ف ۔ بیا تاسو اوګرځیدئ ۔ د وروسته نه ددے

ذَٰلِكَ فَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ لَكُنتُم مِّنَ

نو که چرے نه وے د الله فضل په تاسو باندی او د هغه مهربانی نو ضرور به تاسو

الْخَاسِرِينَ ﴿٦٤﴾ وَلَقَدْ عَلِمْتُمُ الَّذِينَ اعْتَدَوْا مِنكُمْ

خوار شوی وئ ف ۔ او تاسو ته معلوم دی (وګړی) هغه چه حد نه تیر شوی وو ستاسو نه

فِي السَّبْتِ فَقُلْنَا لَهُمْ كُونُوا قِرَدَةً خَاسِئِينَ ﴿٦٥﴾

د خالی په ورځ کښی ف ۔ نو موږ اوویل دوی ته شئ بیزوګان ذلیل خوار ف

نکات: ۔ ف د اول قسم تتمه ۔ ف نوع ثانی ۔ د بنی اسرائیلو د بد عملو شکوو د دریمو خباثتونو نه اوڅم خباثت ۔

موضح القرآن ف یعنی په یوه فرقه باندے موقوف نه دے ۔ یقین کول شرط دے او نیک عمل په هیڅ هیڅ وخت کښی ۔ بیا چه د اوګوره نو ثواب ئے بیا موندو ۔ دا ئے د دے دپاره اوفرمائیل چه بنی اسرائیل د دے باندے مغرور وو چه موږ د پیغمبرانو اولاد یو ۔ هر حال کښی د الله تعالیٰ په نزد بهتر یو ۔ یهودیان وئیلی شی د حضرت موسیٰ علیه السلام قوم ته او نصاریٰ وئیلی شی د حضرت عیسیٰ علیه السلام امت ته ۔ صابئین هم یوه فرقه ده چه حضرت ابراهیم علیه السلام منی ۔ ف۲ هر کله چه تورات نازل شو نو وے وئیل چه زموږ نه دومره حکمونو باندے عمل نشی کیدے ۔ هغه وخت غر اوچت کړے شو او ورته اووئیلے شو چه د یا ئے راپریوزی نو د ویرے نه ئے قبول کړو ۔

فتح الرحمٰن ف۱ د دے آیت د معنے حاصل دا دے چه انسان د هرے فرقے نه وی خو چه کله ایمان راوړی نو د اهل نجات نه به وی ۔ د فرقے خصوصیت معتبر نه دے ۔

تفسیر: ۔ ف ۱۳۰ دا آیت د اول قسم تتمه دے ۔ او د اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا نه مراد

اُمتِ محمد ګیه دے ، ای من امة محمدؐ (بحر، ص ۲۳۰ ج ۱) وَالَّذِيْنَ هَادُوْا - دیهودیت تابعدار یعنی دحضرت موسٰی علیه السلام اُمت - وَالنَّصٰرٰی : دعیسوی دین پیروکار - وَالصّٰبِـِٔيْنَ ، داخلق هم د اَهلِ کتابو یو ه ډله ده - فرقة من اهل الکتاب (ابن کثیر، ص ۱۰۳ ج ۱) مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ ، هره فرقه خپل خپل لقب او نوم باندې خوشاله ده لیکن اَصل ذریعه د نجات د القابات او انتسابات نه دی بلکه د نجات مدار خو په ایمان او عملِ صالح باندې دے . د لته دا شبه ظاهرېږي چه په ایت کښې صرف الله تعالٰی باندې د ایمان راوړلو ذکر شوے دے - ددے نه معلومیږي چه صرف الله باندې ایمان راوړل نجات دپاره کافی دی او ټولو پیغمبرانو باندې ایمان راوړل ضروری نه دی . نو ددے جواب دا دے چه الله تعالٰی باندې د ایمان راوړلو مطلب دا دے چه الله تعالٰی د خپلو ټولو صفتونو سره او نعت ، جلال کښې وَحدہٗ لاشریک له یکتا او بے مثله اُومنلے شي او د هغهٔ د ټولو احکامو تعمیل اُوکړے شي - لهٰذا دا جمله ایمان بالرسل ، ایمان بالکتب ، ایمان بالملائکة ټولو ته شامله ده : قد دخل فی الایمان بالله الایمان بما اوجبه اعنی الایمان برسله (کبیر، ص ۵۵۰ ج ۱) دویمه خبره داده چه دلته دا ایمان بالله ذکر اجمالی دے - د قرآن په نورو ایتونو کښې ددے تفصیل موجود دے ، څنګه چه د سورة الحجرات رکوع ۲ کښې د الله پاک ارشاد دے : اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُوْا وَجٰهَدُوْا بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ اُولٰٓئِكَ هُمُ الصّٰدِقُوْنَ ۝

دے ایت کښې صفا اعلان شوے دے چه مؤمنان صرف هغه خلق دی څوک چه په الله باندې ایمان راوړلو سره د الله په ټولو رسولانو باندې هم ایمان راوړي چه د شک ، تردد او هر قسم شکوک او شبهاتو نه پاک وی او بیا د هغوی عملی ژوند هم د ایمان عین مطابق وی - او رسولانو باندې د ایمان راوړلو مطلب دا دے چه د الله په ټولو رسولانو باندې ایمان راوړي او د الله ټول رسولان رښتني اُومني - داسے نه چه څهٔ مني او څهٔ نه مني لکه څنګه چه د الله تعالٰی ارشاد دے : اِنَّ الَّذِيْنَ يَكْفُرُوْنَ بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ وَيُرِيْدُوْنَ اَنْ يُّفَرِّقُوْا بَيْنَ اللّٰهِ وَرُسُلِهٖ وَيَقُوْلُوْنَ نُؤْمِنُ بِبَعْضٍ وَّنَكْفُرُ بِبَعْضٍ ۙ وَّيُرِيْدُوْنَ اَنْ يَّتَّخِذُوْا بَيْنَ ذٰلِكَ سَبِيْلًا ۙ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْكٰفِرُوْنَ حَقًّا ۚ وَاَعْتَدْنَا لِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابًا مُّهِيْنًا ۝ (سورة نساء ع ۲۱)

دے ایت نه دواړه خبرے واضحه طریقے سره معلومے شوے - اَول دا چه څنګه په الله باندې ایمان راوړل ضروری دی دغسے د الله په رسولانو باندې ایمان راوړل هم ضروری دی ، ددے نه بغیر نجات ناممکن دے . دویم دا چه بلا تفریق په ټولو پیغمبرانو باندې ایمان راوړل ضروری دی - په بعضو ایمان راوړل او په بعضو ایمان نهٔ راوړل ، ایمان او نجات دپاره کافی نهٔ دی - د بعض انبیاؤ نه انکار د ټولو انبیاؤ نه د انکار برابر دے -

وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ : د اٰخرت په ورځ او دیکښې چه څهٔ کیدونکی دی په هغه ټولو باندې ایمان راوړي -

د پورتنی تقریر نه معلومه شوه چه د اٰخرت په ورځ باندې ایمان راوړل اٰمَنَ بِاللّٰهِ کښې داخل دی لیکن ددے باوجود ئے هم ذکر صراحةً اُوکړے شو . نو ددے وجه داده

چه یهود او نصارٰی اګرچه په اٰخرت باندې ایمان لرلو لیکن د هغوی د اٰخرت تصوّر د قرآن کریم د پیش کړے شوی تصوّر نه بالکل جُدا وو. د هغوی دا خیال وو چه اٰخرت کښې به د علاوه یهودو یا نصارٰی جنت ته نه ځی، د دوی نه سِوا به هیڅوک جنت ته نه ځی. په دے وجه الله تعالیٰ اٰخرت باندې د ایمان راوړلو ذکر جُدا اوکړو او دے طرفته ئے اشاره اوکړه چه په اٰخرت باندې داسے ایمان راوړل ضروری دی څنګه چه محمد ﷺ د وحی په ذریعه د هغے احوال بیان کړیدی چه په اٰخرت کښې په یو قوم یا د یو جماعت اجاره داری نه وی بلکه هلته به صرف ایمان او عملِ صالح په کار راځی.

دویم قسم

(دیکښې د نزولِ قرآن په وخت د موجوده بنی اسرائیلو د پلرونو او نیکونو درے خیانتونه او شرارتونه بیان شویدی)

۱۳ دا اَولنے خیانت دے. دلته د میثاق نه مُراد په تورات باندې د عمل کولو عهد او میثاق دے. بقبول ما فی التوراة (مدارک ص ۳۶ ج ۱) بالمحافظة علی ما فی التوراة (ابو السعود ص ۳۵۵ ج ۱) — وَرَفَعۡنَا فَوۡقَكُمُ ٱلطُّورَ : هرکله چه موسیٰ علیه السلام ته تورات ورکړے شو راغے او بنی اسرائیلو ته ئے اُووئیل چه دا د الله کتاب دے، د دے باندې عمل اوکړئ. نو هغوی اُووے چه دا احکام سخت دی. ترڅو چه الله مونږ سره په خپله خبرے اُونکړی او مونږ هغه پخپلو سترګو اُونه وینو نو تر هغے مونږ نه منو. څنګه چه نن صبا د مغرب نه متأثره خلق وائی چه د اسلام احکام سخت دی چه د موجوده زمانے دپاره فائده مند نه دی. د دے دپاره دیکښې ترامیم کول پکار دی. د دے سره هغوی به یو صاعقه راولیږلے شوه او هلاک کړے شول. د حضرت موسیٰ علیه السلام په درخواست به بیا دوباره راژوندی کړے شول لیکن د دے نه پس بیا هم هغوی تورات منلو ته تیار نشول. نو الله تعالیٰ کوهِ طور غر اُوچت کړو او د دوی په سرونو باندې ئے اُودرولو او ورته فرمائیل چه تورات باندې د عمل کولو وعده اوکړئ کنې غر راغورځولو سره به هلاک کړے شئ. نو د دے سره ئې لو تورات باندې د عمل کولو عهد اُوکړو. دلته دا سوال پیدا کیږی چه دِین کښې خو جبر او اِکراه نشته نو بیا په بنی اسرائیلو باندې غر زوړند لو سره هغوی په تورات باندې د عمل کولو دپاره ولے مجبوره کړے شو؟

نو د دے جواب دا دے چه اِبتداءً اسلام قبلولو باندې د چا د مجبورولو اجازت بالکل نشته لیکن د اِسلام قبلولو نه پس که چرے یو اِنسان د اسلام د دستورِ حیات نه بغاوت اُوکړی نو هغه به هیڅکله نشی برداشت کولے. اسلام صرف د څو مذهبی رسومات او احکامات نوم نه دے بلکه هغه د اَحکم الحاکمین د حکومت او سلطنت کامل او مکمل آئین دے. د دے دپاره د دے د قبلولو نه پس د دے نه بغاوت کول به په شرط د ضرورت د جبر او اِکراه او قوت او طاقت په ذریعه بند کړے شی په دے شرط چه حکومت اِسلامی وی.

شنګه چه د دُنیا د ټولو حکومتونو اُصول دی چه هغوی د خپل دستور او آئین نه بغاوت په هیڅ شان نشی برداشت کولے۔ اسرائیلو چونکه اسلام قبول کړے وُو او اوس ئے د هغه د دستور (یعنی تورات نه کوم چه هغه وخت د اِسلام دستور وُو) نه بغاوت کولو۔ د دے وجه نه هغه برداشت نکړے شو او جبر او اکراه سره د هغوی نه په تورات باندې د عمل کولو وعده واخستلے شوه۔

۱۳۲ف د دے نه وړاندې فَقُلْنَا محذوف دے۔ یعنې موږ کوه طور د د وی د پاسه پورته کړو او موږ اُووئیل د وی ته چه تورات په صورت کښ موږ تاسو ته کوم اَحکام ورکړیدی د هغے سختئ سره پابندی اُوکړئ۔ وَاذْكُرُوْا مَا فِیْهِ: د درس او تدریس په ذریعه دا یاد کړئ، غور او فکر پکښ اُوکړئ او په اَمر او نهی باندې ئے عمل اُوکړئ، واحفظوا ما فیه وادرسوه ولا تنسوه ولا تغفلوا عنه (مدارک ص ۴۲ ج ۱، کبیر ص ۵۵۲ ج ۱) ای تدبروه واحفظوا اوامره ووعیده ولا تنسوه ولا تضیعوه (قرطبی ص ۴۳۷ ج ۱) لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ۝ د پاره د دے چه تاسو د دُنیا د تباهئ او د اخرت د عذاب نه بچ شئ، لکی تنجوا من الهلاک فی الدنیا والعذاب فی العقبیٰ (معالم ص ۵۸ ج ۱) **۱۳۳ف** دا اشاره مذکوره عهد او پیمان طرفته ده یعنې د پوخ عهد او پیمان (اقرار) نه پس تاسو بیا د زوړ عادت موافق د هغے نه اعراض اُوکړو او هغه مو شا ته اُوغورځولو، من بعد اخذ ذلک المیثاق المؤکد (ابو السعود ص ۵۵۵ ج ۱) ای اعرضتم عن الوفاء بالمیثاق بعد اخذه وخالفتم (روح ص ۲۸۰ ج ۱)

۱۳۴ف لیکن د دے عهد شکنئ باوجود الله تعالیٰ خپلے خاص مهربانئ سره تاسو په موقعه باندې فوراً هلاک نکړئ او د خان د اصلاح د پاره ئے زیات مُهلت درکړو، که چرے هغه داسے نه وے کړے نو ستاسو نام او نښان به هم د دُنیا نه ختم شوے وُو۔ وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ تعالیٰ علیکم بالامهال وتاخیر العذاب لکنتم من الهالکین (ابو السعود ص ۵۵۵ ج ۱)

۱۳۵ف سَبْت، یعنې د خالی وَرځ د یهودیانو په دین کښ منبرکه او مقدسه وَرځ وه څنګه چه مسلمانانو د پاره جُمعه او عیسایانو د پاره اتوار دے۔ د خالی ورځ باندې هغوی د ښکار نه منع کړے شوی وُو لیکن هغوی د الله پاک د دے حُکم پروا اُونه ساتله او د خالی په ورځ هم د ښکار نه بند نه شول نو الله پاک ورته عبرتناکه سزا ورکړه چه د هغے ذکر وړاندے راروان دے۔ دغه واقعه د حضرت داؤد علیه السلام په زمانه کښ پیښه شوے وه او دکومو اسرائیلو چه دغه واقعه ده هغوی د سمندر په غاړه واقع د "ایله" نومے کلی اُوسید ونکی وُو۔ (روح ص ۲۸۲ ج ۱، کبیر ص ۵۵۳ ج ۱)

۱۳۶ف موږ د هغوی شکلونه مَسخ کړل او موږ هغوی لره ذلیله شادوګان اُوګرځول۔ دا حقیقی او جسمی مَسخ وه، مجازی او معنوی نه وه۔ او د مسخ نه پس درے ورځو کښ د دنه د ننه ټول هلاک شول: وظاهر القرآن انهم مسخوا قردة على الحقيقة وعلى ذلك جمهور المفسرين وهو الصحيح .... ولم یعیشوا اکثر من ثلثة ایام (روح ص ۲۸۳ ج ۱) د دے ایت کښ الله تعالیٰ موجوده بنی اسرائیل مخاطب کړلو سره اُوفرمائیل چه د خپلو

اِسلافو د نافرمانئ دا واقعه خو تاسو ته ښه معلومه ده ، دا ستاسو د پلرونو یوه مُسلّمه تاریخي واقعه ده او د هغوی چه کوم حشر اُشو هغه هم درته ښه معلوم دے . نو اوس د دے واقعے نه اندازه او کړئ چه که چرے تاسو دغسے نافرمانئ ، بغاوت او سرکشئ کښ پاتے شوئ نو په تاسو باندے به هم د الله تعالیٰ قهر نازل شي . انه تعالیٰ لما اخبرهم بما حاصل به اصحاب السبت فكانه يقول لهم اما تخافون ان ينزل عليكم بسبب تمردكم ما نزل عليهم من العذاب فلا تغتروا بالامهال الحد وعيه (کبیر ص ۴۵۸ ج ۱)

فَجَعَلْنٰهَا نَكَالًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهَا وَمَا خَلْفَهَا وَ

بیا مونږ دا واقعه عبرت کړه ګڼله دپاره د هغه خلقو کوم چه هلته موجود وُو او کوم چه روستو راتلونکی وُو او

مَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿٦٦﴾ وَاِذْ قَالَ مُوْسٰى لِقَوْمِهٖٓ

نصیحت ویرېدونکو دپاره ف او هر کله چه اُووئیل موسیٰؑ خپل قوم ته

اِنَّ اللّٰهَ يَاْمُرُكُمْ اَنْ تَذْبَحُوْا بَقَرَةً ؕ قَالُوْٓا

الله فرمائی تاسو حلاله کړئ یوه غوا ئه لله وا هغوی اُووئیل

اَتَتَّخِذُنَا هُزُوًا ؕ قَالَ اَعُوْذُ بِاللّٰهِ اَنْ اَكُوْنَ مِنَ

ایا ته مونږ سره ټوقے کوے؟ ئه لله وئیل ، پناه په الله سره غواړم چه شم د

الْجٰهِلِيْنَ ﴿٦٧﴾ قَالُوا ادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّنْ لَّنَا مَا هِيَ ؕ

جاهلانو نه . وے وئیل راؤبله مونږ دپاره خپل رب چه بیان کړی مونږ ته هغه غوا څنګه ده؟

قَالَ اِنَّهٗ يَقُوْلُ اِنَّهَا بَقَرَةٌ لَّا فَارِضٌ وَّلَا بِكْرٌ ؕ

وے وئیل هغه فرمائی چه هغه یوه غوا ده نه زړه او نه ځوانه ،

عَوَانٌۢ بَيْنَ ذٰلِكَ ؕ فَافْعَلُوْا مَا تُؤْمَرُوْنَ ﴿٦٨﴾ قَالُوا

مینځنۍ ده د زوړوالی او د ځوانئ ، اُوس اوکړئ کوم حکم چه تاسو ته ملاؤ شویدے ، وے وئیل چه

ادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّنْ لَّنَا مَا لَوْنُهَا ؕ قَالَ اِنَّهٗ يَقُوْلُ

دعا اوکړه مونږ دپاره د خپل رب نه چه اُوښائی مونږ ته چه څنګه دے د هغے رنګ ئه لله وے وئیل هغه فرمائی

اِنَّهَا بَقَرَةٌ صَفْرَآءُ ۙ فَاقِعٌ لَّوْنُهَا تَسُرُّ النّٰظِرِيْنَ ﴿٦٩﴾

چه هغه یوه غوا ده زیړه خالص زیړ رنګ ئے وی ، ښه لګی کتونکو ته په نظر

قَالُوا ادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّن لَّنَا مَا هِيَ إِنَّ الْبَقَرَ

دوی وویل دعا اوکړه مونږ د پاره د خپل رب نه چه بیان کړی مونږ ته چه کوم قسم ده ځکه چه دا غواګانی

تَشَابَهَ عَلَيْنَا وَإِنَّا إِن شَاءَ اللَّهُ لَمُهْتَدُونَ ﴿٧٠﴾

شبه پریوتلی ده مونږ ته او مونږ که چیرته الله اوغوښتل نو ضرور به لاره بیا مومو۔

نکته :۔ ۱۔ دویم خیانت۔

موضح القرآن :۔ ف ۱ د سورة اعراف کښ دی۔

فتح الرحمٰن **ف۱** مترجم وائی چه یو سړے د بنی اسرائیلو مړ بیا موندے شو او قاتل ئے معلوم نه وُو۔ الله حکم اوکړو چه غوا حلاله کړئ او د هغې نه یوه حصه باندې مقتول او وهئ د پاره د دے چه هغه راژوندے شی او خپل قاتلان اوښائی۔ لنډه دا چه غوا ئے په ډیر زیات قیمت واخستله او مړے ئے پیے اُووهلو نو هغه ژوندے شو او د خپلو ترېورانو نوم ئے واخستل چه دوی وژلے یم نو قاتلان قصاص کړے شول۔ د هغه وخت نه قاتل د میراث نه محرومه شو۔ والله اعلم۔

تفسیر : ۱۳۷ ها ء ضمیر منصوب کوره سرۀ سزا طرفته راجع ده۔ نَكَالًا، د نکال معنی عبرت دے : نكالا عبرة تنكل المعتبر بها اى تمنعه و تردعه (ابو السعود، ص ۵۵۷ ج ۱) لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهَا : دد ے نه مراد هغه خلق دی چه دد ے واقعے د ظهور په وخت په قرب و جوار کښ موجود وُو، اى لمن قرب منها (نهر، ص ۲۴۷ ج ۱) لما حولها من القرى (بحر، ص ۲۴۷ ج ۱) وَمَا خَلْفَهَا : هغه خلق چه دد ے زمانے نه پس به وی، اى من جاء بعدهم (نهر) وما يحدث بعدها من القرى التى لم تكن (بحر) یعنی مونږ دا سزا موجود خلقو د پاره او راتلونکی نسل د پاره عبرت اوګرځولو چه هغوی دا یاد کړی او د الله تعالیٰ نه اُوېریږی او د هغه د نافرمانئ جرأت اُونکړی۔ وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِينَ ۔ د متقین نه مراد د بنی اسرائیلو هغه خلق دی کوم چه به بنی اسرائیل د خالی په ورځ د ښکار نه منع کول۔ دا واقعه هغوی د پاره هم نصیحت نه ډکه ده او د الله پاک د اطاعت او د هغه د حدودو د پابندئ کولو زیات نه زیات ترغیب ورکوی یا د متقین نه مراد عام پرهیزګاران او د الله نه وېرېدونکی خلق دی : الذين نهوهم عن الاعتداء من صالحى قومهم او لكل متق سمعها (مدارک ص ۴۲ ج ۱)

۱۳۸ دا دویم خیانت دے۔ الله پاک بنی اسرائیلو ته د غوا ذبح کولو حکم ورکړو لیکن هغوی د باطنی خیانت په وجه د ے حکم پورے مسخرے شروع کړے او دا معامله ئے خلو بینت کالو نو پورے مؤخر کړه۔ مفسرینو لیکلی دی چه د غوا د حلالولو حکم به د وجه ورکړے شوے وُو چه بنی اسرائیلو کښ یو سړے خپلو ترېورانو د هغه د دولت حاصلولو د پاره د شپے تیارۀ کښ قتل کړو چه صبا شو نو چغې سورے ئے شروع کړے او معامله ئے د موسیٰ علیه السلام په وړاندے پیش کړه۔ هغه د الله تعالیٰ نه هدایت حاصل کړو او هغوی

نه ئے دغوا حلالولو او د هغې په یوه حصه باندې د مقتول د جسم وهلو حکم ورکړو چه هغه راژوندے شی او خپل قاتل اوښائی.[له] د دے واقعے اولنۍ حصه روستو: وَ اِذۡ قَتَلۡتُمۡ نَفۡسًا فَادّٰرَءۡتُمۡ فِیۡهَا کښې ذکر شویده او وَ اِذۡ قَالَ مُوۡسٰی لِقَوۡمِهٖۤ کښې د واقعے اخری حصه ذکر ده. د واقعے ترتیب د دے وجے نه بدل کړے شو چه د یوے واقعے سره متعلق د دوی د دوه خباثتونو نشاندهی واضح طور باندې اوشی. اول دغوا ذبح کولو سلسله کښې حیلے بهانے او تاخیر. دویم بے گناه خلقو باندې د قتل الزام. که چرے واقعه اصل ترتیب سره ذکر کړے شوے وے نو دا مقصد په ترسه نهٔ و حاصل شوے. د اکثرو مفسرینو همدا رائے ده لیکن حضرت شیخ رحمه الله اوفرمائیل چه دا دوه مستقل واقعے دی ځکه چه د تیرو شوو واقعاتو د سیاق نه معلومیږی. ځکه چه وَ اِذۡ سره چه څومره واقعات بیان شویدی هغه ټول مستقل واقعات دی. دا رنګے د بعض روایاتو نه معلومیږی چه دغوا ذبحه کولو حکم او دغوا حاصلولو او ذبحه کولو په مینځ کښې د څلویښتو کالو اوږده وقفه وه. (مدارک ص ۴۳ ج ۱، کبیر ص ۵۶۳ ج ۱) د لاش د ومره چیره موده بے ګور او بے کفنه پاتے کیدل او بیا نهٔ بدبُویه کیدل، دا امور هم د عقل او قیاس نه لرے دی. د دے نه هم اشاره ملاویږی چه دا یوه واقعه نهٔ ده بلکه دوه مستقل واقعے دی. لیکن دا کیدے شی چه اول دوی ته دغوا ذبحه کولو حکم ملاؤ شوے وی او دا اوږد تاخیر او طلب نه پس چه کله په هغه مطلوبه غوا حاصلولو کښې کامیاب شوی وی نو د قتل واقعه راپیښه شوے وی او بیا ورته د دغه غوا د غوښے د مقتول بدن سره د لګولو حکم ملاؤ شوے وی د پاره د دے چه هغه ژوندے شی او د خپل قاتل معلومات ورکړی، وقیل انه یجوز ان یکون ترتیب نزولها علی موسٰی علیه السلام علی حسب تلاوتها بان یامرهم الله تعالٰی بذبح البقرة ثم یقع القتل فیؤمروا بضرب بعضها (روح ص ۲۸۵ ج ۱، قرطبی ص ۴۲۵ ج ۱) لیکن دا یو سوال باقی پاتے کیږی چه د دے صورت کښې به د غوا د ذبح کولو حکم وجه څهٔ وی. نو د دے جواب دا دے چه د یوے واقعے کیدلو په صورت کښې چه کوم خیز مفسرینو د ذبح د پاره د غوا د منتخب کولو حکمت بیان کړیدے، د دے صورت کښې به هم هغه د غوا د ذبحه کولو علت وی. د مصریانو سره په ښکلو د اوسیدلو په وجه سره اسرائیل هم د ګوساله پرستئ شرک کښې مبتلا شوی وو. هغوی به د غوا عبادت کولو. او د هغې تعظیم به ئے کولو. حضرت موسٰی علیه السلام باندې د ایمان راوړلو باوجود د هغوی د غوا عبادت (ګوساله پرستئ) سره څهٔ قدرے محبت باقی پاتے وو. اګرچه عملی طور باندې به ئے د غوا عبادت نهٔ کولو لیکن د ګوساله پرستئ نه هغوی پوره متنفر نهٔ وو ځکه چه ئے د سامری سخے اولیدو نو د هغې په وړاندې په سجده پریوتل. په دے وجه د سابق معبود د دوی په نظرونو کښې د ذلیل کولو او د دوی د هغې د عبادت نه ګلی طور باندې

له د دے واقعے متعلق حافظ ابن کثیر رحمه الله لیکی: الظاهر انها ماخوذة من کتب بنی اسرائیل وهی مما یجوز نقلها ولکن لا تصدق ولا تکذب فلهذا لا یعتمد علیها الا ما وافق الحق عندنا والله اعلم ۱۲ (ابن کثیر ص ۱۱۰ ج ۱) س. ب.

متنفر کولو دپاره الله تعالیٰ دوی ته د غوا د ذبح کولو حکم ورکړو دپاره د دے چه د توحید جرړے د دوی په زړونو کښې خورے شی او ښه مضبوطے شی:

و قیل انما امروا بذبح البقرة دون غیرها من البهائم لانها افضل قرابینهم و لعبادتهم العجل فاراد الله ان یهون معبودهم عندهم (مدارک ص ۳۳ ج ۱) وانما اختص البقر من سائر الحیوانات لانهم کانوا یعظمون البقر ویعبدونها من دون الله فاختبروا بذلک الخ (بحر، ص ۲۵۰ ج ۱)

۱۳۹ اسرائیلو دا گڼل چه غوا یو مُقدس او مُعظم ځناور دے نو الله تعالیٰ دد ے ذبح کولو حکم ځکه ورکوی یا هغوی د غوا د ذبح کولو په ذریعه د قاتل معلومول د عقل نه لرے گڼړلو. ځکه ئے اُوویل چه حضرت موسیٰ علیه السلام مونږ سره ټوقے کوی. قَالَ اَعُوْذُ بِاللّٰهِ اَنْ اَكُوْنَ مِنَ الْجٰهِلِيْنَ ۝ ځکه چه د الله د احکامو په تبلیغ کښې ټوقے کول د جاهلانو او بے وقوفانو کار دے او د انبیاء علیهم السلام سره دا خیزونه ښه نه ښکاری: لان الهزء فی اثناء تبلیغ امر الله سبحانه جهل و سفه (ابو السعود، ص ۵۵۹ ج ۱) ۱۴۰ اُوس د دے ځائے نه د اسرائیلو د نکته چینئ او د الله تعالیٰ په احکامو کښې د تال متول سلسله شروع کیږی. دلته د ما هی په ذریعه د غوا د مختص حقیقت سوال دے بلکه دا سوال محض د ایضاح دپاره دے. لَا فَارِضٌ وَّلَا بِكْرٌ یعنی هغه چه نه بوډۍ وی او نه وړه: الفارض اسم للمسنة التی انقطعت ولادتها من الکبر والبکر اسم للصغیرة التی لم تلد من الصغر (روح ص ۲۸۶، ۲۸۷ ج ۱) عَوَانٌ بَیْنَ ذٰلِكَ: دا د ما قبل تاکید دے. عَوَانٌ هغه ته وئیلے شی چه د مذکوره دوه عمرونو په مینځ کښې وی. وسط بین الشنین (معالم ص ۶۰ ج ۱) ای لا هی صغیرة ولا هی مسنة (قرطبی ص ۴۳۹ ج ۱) فَافْعَلُوْا مَا تُؤْمَرُوْنَ ۝ یعنی د حکم تعمیل اُوکړئ او زیات سوال جواب مه کوی: ای من ذبح البقر ولا تکثروا السوال ولا تتعنتوا (روح ص ۲۸۸ ج ۱) تجدید للامر وتاکید وتنبیه علیٰ ترک التعنت فما ترکوه. (قرطبی ص ۳۴۹ ج ۱) ۱۴۱ هر کله چه ئے د عمر متعلق اطمینان اُوشو نو اُوس ئے د رنگ متعلق سوال اُوکړو. صَفْرَآءُ فَاقِعٌ لَّوْنُهَا. د فاقع معنیٰ تیز زیړ رنگ دے: شدید الصفرة تکاد من صفرتها تبیض (ابن کثیر، ص ۱۱۱ ج ۱) تَسُرُّ النّٰظِرِیْنَ ۝ یعنی د هغے تیز او ډیر زیړ رنگ به ډیر ښه ښکاری بلکه داسے بنا ئسته به ښکاری چه ورته کتونکی به راحت او خوشالی محسوسوی.

۱۴۲ دا د اسرائیلو د سرکشئ او باطنی خباثت انتهاء ده چه د الله تعالیٰ د حکم تعمیل کښې ځنډله چالاکئ سره حیلے بهانے کوی. اِنَّ الْبَقَرَ تَشٰبَهَ عَلَیْنَا: یعنے پورتنی صفتونه خو ډیر و غواګانو کښې مونده شی. د دے سره د غوا تعیین نشی کیدے. نو زیات وضاحت د اُوکړے شی وَاِنَّآ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ لَمُهْتَدُوْنَ ۝ د بیا بیا تپوس کولو په وجه د غوا په حاصلولو کښې مشکلات زیاتیدل. د دے وجه نه اُوس هغوی خپله غلطی محسوس کړه او په دے خپلو تشولو او اخری سوال کښې ئے خپله کامیابی د الله تعالیٰ مشیت پورے مُعلق کړه گویا چه دا ئے وئیل چه مونږ به مطلوبه غوا حاصلولو نه بغیر په آرام نه کینو. حدیث شریف کښې راغلی دی چه که دوی اِنْ شَآءَ اللّٰهُ نه وے وئیلے نو هیڅ رے به نه وو کامیاب شوی. (قرطبی ص ۳۵۲ ج ۱)

قَالَ إِنَّهُ يَقُولُ إِنَّهَا بَقَرَةٌ لَّا ذَلُولٌ تُثِيرُ الْأَرْضَ وَلَا

وے ویل هغه فرمائی هغه یوه غوا ده محنت کوونکې نه ده کلکه چه زمکه اړوی او نه

تَسْقِي الْحَرْثَ مُسَلَّمَةٌ لَّا شِيَةَ فِيهَا ۚ قَالُوا الْآنَ

اوبه ورکوی فصل ته، بے عیبه ده هیڅ داغ پکښې نشته، وے ویل اوس دې

جِئْتَ بِالْحَقِّ ۚ فَذَبَحُوهَا وَمَا كَادُوا يَفْعَلُونَ ﴿٧١﴾

تحقیق خبره راوړه، بیائے هغه ذبح کړه او هغوی نه وو داسے کونکی

وَإِذْ قَتَلْتُمْ نَفْسًا فَادَّارَأْتُمْ فِيهَا ۖ وَاللَّهُ مُخْرِجٌ مَّا

او هر کله چه قتل کړو تاسو یو سړے بیا تاسو په یو بل الزام اولګولو ۳۳ او الله ظاهرونکے دے د هغے کوم

كُنتُمْ تَكْتُمُونَ ﴿٧٢﴾ فَقُلْنَا اضْرِبُوهُ بِبَعْضِهَا ۚ كَذَٰلِكَ

چه تاسو پټولو. بیا موږ اوویل او وهئ دغه مړی بانډ دغے غوا یوه حصه، داسے به

يُحْيِي اللَّهُ الْمَوْتَىٰ وَيُرِيكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴿٧٣﴾

ژوندی کړی الله پاک مړی ۳۴ او ښائی الله تاسو ته خپل قدرت نمونې دوباره د دے چه تاسو غور او کړئ

ثُمَّ قَسَتْ قُلُوبُكُم مِّن بَعْدِ ذَٰلِكَ فَهِيَ كَالْحِجَارَةِ

بیا ستاسو زړونه سخت شول د دے نه روستو ۳۶ نو هغه د کانړی په شان شول

أَوْ أَشَدُّ قَسْوَةً ۚ وَإِنَّ مِنَ الْحِجَارَةِ لَمَا يَتَفَجَّرُ

یا د دوینه هم سخت ۳۷ (ځکه چه) په کانړو کښې داسے هم وی چه د هغے نه بهیږی

مِنْهُ الْأَنْهَارُ ۚ وَإِنَّ مِنْهَا لَمَا يَشَّقَّقُ فَيَخْرُجُ مِنْهُ

نهرونه، او دیکښې داسے هم وی چه اوچوی او راوځی ترینه

الْمَاءُ ۚ وَإِنَّ مِنْهَا لَمَا يَهْبِطُ مِنْ خَشْيَةِ اللَّهِ ۗ وَمَا اللَّهُ

اوبه او دیکښې ځینے داسے هم وی چه راوړغړیږی د الله د ویرے نه - او الله ناخبره

بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٧٤﴾

نه دے ستاسو د کارونو نه ۳۸

نکته: دریم خیانت.

موضح القرآن **ف۱** بنی اسرائیلو کښې یو سړے اُووژلے شو. د هغه قاتل معلوم نه وو د هغه وارث به په هرچا باندې دعوی کوله. هر کله چه الله تعالی د ا رنګے هغه مړے را ژوندے کړو نو هغه اُووے چه هغه دے وارثانو وژلے یم.

تفسیر: **۱۳۳** یعنی د هغې نه د محنت کار نشی اخستلے. تُثِيرُ الْاَرْضَ وَلَا تَسْقِي الْحَرْثَ. دا د ما قبل تفسیر دے. مُسَلَّمَةٌ بے عیبه وی؛ بریئة من العیوب (معالم ص ۲۱ ج ۱) لَا شِيَةَ فِيْهَا. هغه به یو رنګه وی او د بل کوم رنګ داغ او ټکے به پکښې نه وی: ای لیس فیها لون یخالف معظم لونها هی صفراء کلها لا بیاض فیها ولا حمرة ولا سواد. (قرطبی ص ۴۵۴ ج ۱) جِئْتَ بِالْحَقِّ دلته حق په معنی د حقیقت سره دے یعنی اُوس تاسو د مطلوبه غوا صحیح حقیقت بیان کړیے ای اظهرت حقیقة ما امرنا به فالحق هنا بمعنی الحقیقة (روح ص ۲۹۱ ج ۱) فَذَبَحُوْهَا وَمَا كَادُوْا يَفْعَلُوْنَ ۝ یعنی د هغوی طبیعت د غوا ذبحه کولو د پاره نه مائل کیدو. د دے وجے نه نے بیا بیا تپوسونه کول. ذبح خو ئے کړه لیکن ډیر په مشکله. بنی اسرائیلو ته د یوے غوا ذبح کولو حکم ملاؤ شوے وو لیکن هغوی د نکته چینئ په وجه په هغې کښې مختلف قسمه تپوسونه شروع کړل نو د هغې نتیجه دا شوه د پورته ذکر شوے صفتونو غوا خوئیو طرفته ډیره په زیات قیمت ادا کولو پریوتله. او دویم د ډیرے مودے پورے د هغې په تلاش کښې حیران ګرځیدل. حضرت عبد الله بن عباس رض فرمائی چه که چرے هغوی یوه غوا نیولے وے او ذبحه کړے ئے وے نو کار به ئے جوړ شوے وو. لو ذبحوا ای بقرة ارادو لاجزأتهم ولکن شددوا علی انفسهم فشدد الله تعالی علیهم. (روح ص ۲۸۸ ج ۱)

۱۳۴ دا دریم خیانت دے. د اول تفسیر مطابق دا د مذکوره واقعے اُوله حصه ده چه روستو ذکر کړے شویده. او د دویم تفسیر مطابق دا مستقله خانله واقعه ده چه د اولنئ واقعے نه روستو پیښه شویده. اِدّٰرَءْتُمْ، د هغه نه اخستے شویدے چه معنی ئے اُوچتول او دفع کول دی او دا په اصل کښې تَدَارَأْتُمْ وو. تاء د قرب مخرج د وجے نه په دال سره بدله شوه او بیا هغه ساکنه کړے شوه په دویم دال کښې ادغام اُوکړے شو او په ابتداء کښې د همزهٔ وصلی اضافه اُوشوه. د باب تفاعل خاصه مشارکت دے. د دے مطلب دا شو چه تاسو کښې هرچا په بل باندې د قتل الزام اچول شروع کړل.

وَاللّٰهُ مُخْرِجٌ مَّا كُنْتُمْ تَكْتُمُوْنَ ۝ یعنی د کوم څیز چه تاسو مسلسل د پټولو کوشش کولو، الله تعالی د هغې د ښکاره کولو فیصله کړے وه. فَقُلْنَا اضْرِبُوْهُ بِبَعْضِهَا. ۀ ضمیر نفس طرفته راجع دے ځکه چه مؤنث معنوی دے. د دهٔ طرفته د مذکر او مؤنث دواړه ضمیرونه راجع کیدے شی. او د بعضها ضمیر د غوا طرفته راجع دے. مطلب به دا وی چه د غوا د بدن یوه حصه د مقتول په بدن اُووهئ نو هغه به راژوندے شی او خپل قاتل به اُوښائی: وقال الشیخ رحمه الله تعالی ان الضمیر فی ببعضها راجع الی النفس ایضا و معناه اضربوا النفس القتیلة ببعض نفسها کالید ونحوها والله تعالی اعلم.

۴۵ له دا جمله معترضه ده چه دوسره واقعے دَ عبرت او موعظة دَ اظهار دپاره راوړلے شویده - دے واقعه کښې دمنکرین حشر او نشر دپاره عبرت دے څنګه چه الله تعالیٰ دا مړے راژوندے کړے وو، دغه شان به ټول مړی راژوندی کړی - وَيُرِيكُمْ اٰيٰتِهٖ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ : الله تعالیٰ دقدرت دا نښانے دے دپاره ظاهروی چه تاسو ته معلومه شی چه هغه په هرڅیز قادر دے او دے دپاره چه تاسو دَ عقل نه کار واخلئ او دهغهٔ په قدرت کاملهٔ باندې استدلال اوکړئ : وَيُرِيكُمْ اٰيٰتِهٖ على انه قادر على كل شئ لعلكم تعقلون فتعملون على قضية عقولكم وهى ان من قدر على احياء نفس واحدة قدر على احياء جميعها - (مدارک ص ۴۲ ج ۱) یعنی کوم ذات چه یو مړے ژوندے کړلے شی هغه ټولو ته دوباره ژوند ورکولے شی - دا هغهٔ ته هیڅ ګرانه نه ده -

۴۶ له ذٰلِكَ سره ټولو مخکینو واقعاتو، انعاماتو، اٰیاتونو او معجزو طرفته اشاره ده. ما سبق من الاٰيات التى علموها - (روح ص ۲۵۵ ج ۱) یعنی پکار خو دا وه چه ددے ټولو اٰیتونو، معجزاتو، تخویفاتو او تبشیراتو نه پس ستاسو زړونه نرم شوے وے او ویره پکښې پیدا شوے وے او پوره اخلاص سره مو دَ الله تعالیٰ داحکامو تابعداری کړے وے او رښتونی نیت سره مو دَ هغهٔ اطاعت کړے وے لیکن ددے باوجود ستاسو زړونه سخت شول او زیات مو دَ الله تعالیٰ حدود مات کړل او دهغهٔ دَ پیغمبرانو مخالفت مو اوکړو. ثُمَّ دلته دبیان دتراخئ دپاره نه دے بلکه استبعاد دپاره دے : ثم لاستبعاد القسوة بعد مشاهدة ما يزيلها (ابو السعود، ص ۳۷۵ ج ۱) یعنی دحق قبلولو طرفته لږ هم دهغوی زړهٔ مائل نشو - دپوره ذکر شوو عبرتناکو واقعاتو لیدلو نه پس دِ هغوی زړونه د نرمیدلو په ځائے نور هم سخت شول -

۴۷ له او سخت هم څنګه ! دکاڼی په شان بلکه د کاڼی نه هم سخت - وَاِنَّ مِنَ الْحِجَارَةِ لَمَا يَتَفَجَّرُ مِنْهُ الْاَنْهٰرُ - ځکه چه کاڼی ځنے داسے هم وی چه نهرونه ترینه راوځی - قال الشيخ رحمه الله تعالى الواو تعليلية (كذا فى المغنى لابن هشام، ص ۳۳ ج ۱) وَاِنَّ مِنْهَا لَمَا يَهْبِطُ مِنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ - او ځنے داسے هم شته چه دَ الله پاک دویرے نه راغورځیږی - دکاڼو نه دَ اوبو راوتل خو څهٔ بعید نهٔ دی لیکن دکاڼو راپریوتل دَ الله دَ ویرے په وجه، دے باندې شبه کیدے شی لیکن دا هم څهٔ خلاف عقل نهٔ دی ځکه چه ټولو جماداتو ته الله تعالیٰ یو قسم شعور ورکړے دے چه هغې ته شعور بسیط ویلے شی او ددے شعور په بناء باندې په جماداتو کښې خوف، مسرت، محبت او بغض او نور اعراض موندے شی لکه څنګه چه یو حدیث شریف کښې راغلی دی دَ اُحد دَ غر متعلق : اُحُدٌ جَبَلٌ يُحِبُّنَا وَنُحِبُّهٗ. یعنی اُحد غر دے چه مونږ سره محبت کوی او مونږ دهٔ سره محبت کوو - خلاصه دا ده چه کاڼے خو بیا هم څهٔ درجه کښې اثر قبلوی لیکن ددوی زړونه دومره سخت دی چه دپکښې هیڅ اثر نهٔ کیږی - والمعنى ان الحجارة تتأثر وتنفعل وقلوب هؤلاء لا تتأثر ولا تنفعل عن امر الله تعالى اصلاً -

۱۴۸ دا دوی په بد اعمالو باندی وعید دے یعنی کوم څه چه تاسو کوئ الله پاک د هغې نه بے خبره نه دے، هغه ټول هر څه وینی او هغه به د دے ټولو بد عملونو سزا ضرور ورکوی.
تر دے ځایه پورے دویم قسم ختم شو کوم کښې چه د دوی د خباثتونو ذکر وو. اوس دراتلے دے نوع د تنځه ذکر دے په هغه کښې د خباثت په لحاظ سره د یهودیانو د پنځو ډلو ذکر دے
اوله ډله احبار او رهبان یعنی د یهودیانو د پیرانو او مُلایانو دے چه سره د پوهے نه ئے
په تورات تحریف کړلو. دویمه ډله د منافقانو وه. دریمه ډله د بے علمه او جاهلانو
خلقو وه چه د علماؤ او پیرانو په بهودے شوو خبرو باندی به ئے ایمان راوړلو. څلورمه
ډله د هغه عالمانو وه چه تحریری طور باندی به ئے په تورات کښې تحریف کړلو، او پنځمه
ډله د هغه صاحبزادګانو وه چا چه به په خپلو پلرونو او نیکونو باندی فخر او ناز کړلو.

أَفَتَطْمَعُونَ أَن يُؤْمِنُوا لَكُمْ وَقَدْ كَانَ فَرِيقٌ مِّنْهُمْ

اوس ایا تاسو (اے مسلمانانو) اُمید ساتئ چه دوی به اومني ستاسو خبره او دوی کښې یوه ډله وه چه

يَسْمَعُونَ كَلَامَ اللَّهِ ثُمَّ يُحَرِّفُونَهُ مِن بَعْدِ مَا

اوریدلو به ئے دالله کلام، بیا به ئے بدلولو هغه سره د

عَقَلُوهُ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿٧٥﴾ وَإِذَا لَقُوا الَّذِينَ آمَنُوا

پوهے نه او دوی پوهیدل. او چه هرکله ملاوشي مسلمانانو سره

قَالُوا آمَنَّا وَإِذَا خَلَا بَعْضُهُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ قَالُوا

نو وائي مونږ مسلمانان شو او چه کله ځانله شي یو د بل سره نو وائي

أَتُحَدِّثُونَهُم بِمَا فَتَحَ اللَّهُ عَلَيْكُمْ لِيُحَاجُّوكُم

تاسو ولے وایئ هغوی ته هغه چه ښکاره کړیدی الله تاسو باندی چه تاسو دروغژن ثابت کړي

بِهِ عِندَ رَبِّكُمْ ۚ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٧٦﴾ أَوَلَا يَعْلَمُونَ أَنَّ

ته سره ستاسو د رب په مخکښې، آیا تاسو نه پوهیږئ هله آیا دوی مره هم نه پوهیږی چه

اللَّهَ يَعْلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعْلِنُونَ ﴿٧٧﴾ وَمِنْهُمْ أُمِّيُّونَ

الله ته معلوم دی هغه څه چه دوی ئے پټوی او کوم څه چه ښکاره کوی الله او ځینې دوی کښې لوستونکی نه دی

لَا یَعْلَمُوْنَ الْکِتٰبَ اِلَّاۤ اَمَانِیَّ وَ اِنْ هُمْ اِلَّا یَظُنُّوْنَ ﴿۷۸﴾

خبر نه لري د کتاب الله سوا د دروغو ارزوګانو او دوی سره هیڅ نشته مګر خیالات

فَوَیْلٌ لِّلَّذِیْنَ یَكْتُبُوْنَ الْكِتٰبَ بِاَیْدِیْهِمْ ثُمَّ

نو خرابي ده هغه چا دپاره خلوک چه لیکي کتاب په خپلو لاسونو ، بیا

یَقُوْلُوْنَ هٰذَا مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ لِیَشْتَرُوْا بِهٖ ثَمَنًا قَلِیْلًا

وائي دا د الله پاک له طرفه دے د دې دپاره د دے چه واخلي د دے سره لږشان مال.

فَوَیْلٌ لَّهُمْ مِّمَّا كَتَبَتْ اَیْدِیْهِمْ وَ وَیْلٌ لَّهُمْ مِّمَّا

نو خرابي ده دوی دپاره د خپلو لاسونو د لیکلو شوي نه او خرابي ده دوی دپاره د خپله

یَكْسِبُوْنَ ﴿۷۹﴾

دے ګټي نه الله فی ط

نکات: ۱ تنته دده یم قسم د بني اسرائیلو د پنځو ډلو ذکر ئے. اوله ډله (محرفین) ۲ دویمه ډله (منافقین) ۳ دریمه ډله (جاهل مریدان) ۴ څلورمه ډله (د مال او دولت دپاره د الله احکام بدلوونکی)

موضح القرآن ف کوم چه دوی کښ منافقان وُو، د خوشامند دپاره به ئے د خپل کتاب نه د نبي آخر الزمان ﷺ خبرے مسلمانانو ته بیانولے. او هغه کوم چه مخالف وُو هغوی به دوی ته په دے دا الزام ورکولو چه د خپل علم نه د هغوی په لاس کښ سند ولے ورکوئ؟ ف۲ دا هغه خلق دي چه د عوامو د خواهش مطابق خبرے به ئے جوړولے او نسبت د هغې به ئے الله یا رسول ﷺ طرفته کولو

فتح الرحمٰن ف۱ مترجم وائي چه د یهودو د باطلو عقیدو نه یو دا وه چه هغوی به ویل یهود به دوزخ کښ نه وي لیکن څو ورځے، او دا غلطه ده ځکه چه جنت ته داخلیدل موقوف دي په ایمان راوړلو بانې او د قیامت په ورځ او د زمانے په پیغمبر بانې. د یهودیانو وغیره جنس اعتبار نه لري او د دے ایت کښ هم د دے معنے ته اشاره ده.

تفسیر: ۷۵ د لته همزه استفهام د توبیخ او انکار دپاره ده او خطاب حضرت محمد رسول الله ﷺ او مؤمنانو ته دے. مطلب دا چه د دے یهودیانو نه دا امید مه ساتئ چه دوی به ایمان راوړي ځکه چه دوی دا وخت پخه ړلے دي او د دوی تولو خباثت د دے حد ته رسیدلے دے چه د دوی نه د ایمان امید ساتل بے کاره دي. وَقَدْ كَانَ فَرِیْقٌ مِّنْهُمْ. د دے فریق نه د یهودو هغه عالمان مراد دي کوم چه د نبي علیه السلام په زمانه کښ موجود وُو، المراد بالفریق

من کان فی زمن محمد علیه الصلوٰة والسلام (کبیر ص ۵۵۵ ج ۱) قال مجاهد الذین یحرفونه و الذین یکتمونه هم العلماء منهم (ابن کثیر ص ۱۱۵ ج ۱) او د کلام الله نه مراد تورات دے۔ ثُمَّ يُحَرِّفُونَهٗ، د یهودو عالمانو ته ښه معلومه وه چه حضرت محمد ﷺ د الله پاک نبی او رسول دے او تورات کښ چه د کوم آخری پیغمبر ذکر دے هغه هم دوئ دی لیکن هغوی به سره د بوجه په ایتونو کښ تحریف کولو کوم کښ چه د نبی علیه السلام اوصاف مذکور وو۔ د دوی دا تحریف د غلط فهمئ بانده مبنی نه وو بلکه قصدًا او ارادةً وو۔ کله خو به ئے د تورات د ایتونو الفاظ بدلول او کله به ئے د هغے مضمون په داسے طریقه مسخ کولو سره بیان کړو چه اصل مطلب سره به د هغے هیڅ تعلق باقی پاتے نه شو۔ د قرآن مجید الفاظو کښ خو تحریف ناممکن دے لیکن د قرآن په معنو کښ د تحریف کولو کښ د یهودیانو د جانشینو ملایانو او پیرانو نن هم په اُمتِ محمدیه کښ څه کمے نشته۔ د قرآن مجید د معنوی تحریف یو مثال د وه اُوګورئ۔

د قرآن مجید دی ایت: اِنَّمَآ اَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ تفسیر د پنجاب یو پیر داسے کولو چه د اِنَّمَا خبر محذوف دے، اصل کښ دا ایت داسے وو: اِنَّمَآ اَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ۔ یعنی ځکه خو زه یم او بشر ستاسو پشان وی۔ د غسے تاسو به د لویو لویو ملایانو او پیرانو ته اورئ چه قرآن مجید کښ چرته هم د مِنْ دُوْنِ اللهِ یعنی د غیر الله د عبادت نه چه منعه کړے شوے ده د عبادت نه مراد بندګی ده۔ غائبانه دعا او پلنه نه ده۔ د غه شان د غیر الله نه مُراد بُت دے نه چه د الله تعالیٰ نیکان بندګان۔ حال دا دے چه د عبادت معنیٰ صحیح حدیث شریف کښ دعا او پلنه راغلے ده۔ دا رنګے د مِنْ دُوْنِ اللهِ نه په خپله د قرآنی تصریحاتو موافق چرته انبیاء او چرته فرشتے مُراد دی، چرته اولیاء الله او چرته جنات مراد دی او چرته بُتان هم مُراد دی لیکن دا ملایان او پیران اصلی حقیقت ښه پیژنی محض د حقیرے دُنیا په خاطر عوامو ته اصلی خبره نه بیانوی۔ مِنْۢ بَعْدِ مَا عَقَلُوْهُ وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ۝

۱۵۰ دا د یهودو د مُنافقانو ذکر دے چه د مُسلمانانو په مخکښ به ئے د ایمان اظهار کولو۔ وَاِذَا خَلَا بَعْضُهُمْ اِلٰى بَعْضٍ یعنی چه کله به مُنافقان یهودیان د هغه یهودیانو سره ملاویدل کوم چه مُنافقان نه وو۔ قَالُوْٓا اَتُحَدِّثُوْنَهُمْ: یعنی منافقان یهود چه به مسلمانانو سره ملاویدل نو هغوی ته به ئے د خپل ایمان یقین ورکولو او د هغوی د خوشامندی د پاره به ئے ورته وئیل چه د نبی علیه السلام صفتونه په تورات کښ ذکر دی او هغه ټول صفتونه په دوی صاف د قیږی لیکن دا مُنافقان به خپلو لیډرانو سره ملاویدل نو هغوی به دوی رټل چه تاسو هغه اسرار مُسلمانانو ته ولے بیانوئ کوم چه الله پاک تاسو ته په تورات کښ ښودلی دی: ای تخبرون المؤمنين بما بينه الله تعالیٰ لكم خاصة من نعت نبيه محمد صلى الله عليه وسلم (روح ص ۲۹۹ ج ۱) لِيُحَآجُّوْكُمْ بِهٖ: یعنی د قیامت په ورځ به د الله تعالیٰ په مخکښ ستاسو د دے اقرار سره په تاسو باندے احتجاج کوی۔ نو تاسو د عقل نه کار واخلئ او د دے معامله کښ احتیاط اوکړئ۔

۱۵۱ یعنی الله تعالیٰ د دوی پټ او ښکاره خبره پیژنی۔ که چرے د دوی مُنافقانو ئے

مسلمانانو ته اُونه ښائی نو الله تعالیٰ به ئے د وحی په ذریعه مسلمانانو ته بیان کړی. فحینئذ یظهر الله تعالیٰ من المؤمنین ما ارادوا اخفائه بواسطة الوحی الی النبی صلی الله علیه وسلم فیحصل المحاجة (ابوالسعود، ص ۵۸۵ ج ۱) نو مسلمانانو ته به بیا هم د احتجاج موقع ملاؤ شی.

۱۵۲ دا دریمه ډله ده د جاهلانو، بیوقوف رذیل مُریدانو او عقید تمند و چه غلطے خبرے به ئے د خپلو ملایانو او پیرانو نه اُوریدلے او صرف هغه ئے دین گنړلو. د وی پخپله تورات نشو لوستلے. د دے وجے نه به اُوریدلے شوی خبرو به ئے ایمان لرلو. اِلَّآ اَمَانِیَّ: د ځانه د جوړے شوی قصو، د دروغو آرزوگانو او تمناگانو نه بغیر کوم چه هغوی د غیر غلط کارو او محرّف عالمانو نه اُوریدلے وے. نورئے هیڅ نه پیژندل. الا اکاذیب اخذوها تقلیدا من شیاطینهم المحرفین (روح ص ۳۰۱ ج ۱) اکاذیب مختلفة سمعوها من علمائهم فنقلوها علی التقلید (بحر ص ۲۷۵ ج ۱) هغه آرزوگانے، تمناگانے ځنګه وے. هغه هم وا اوری:

د یهودو عالمانو عوامو ته ښودلی وو چه الله تعالیٰ به د وی په گناهونو بانې ته نیسی، او زمونږ پلرونه او نیکونه به مونږ په الله تعالیٰ بخښی او جنت زمونږ او زمونږ د مُریدانو د پاره دے. او که زمونږ نه څوك دوزخ ته لاړ نو د څو ورځو د پاره به ځی. ځنګه چه نن صبا جعلی پیرانو خپلو مریدانو ته هم دا خبره ښودلے ده لکه چه د دوی مُریدان ښکاره وائی چه مونږ ته د مونځ او روژے ضرورت نشته، مونږ خپل لاس د خپل پیر په لاس کښی ورکړے دے، مونږ به د لاس نه اُونیسی او په پُل صراط بانې به مو پورے باسی او ځان سره به مو جنت ته بوځی او دا مو ځکه ارخواران به حیران پاتے شی: وامانیهم ان الله یعفو عنهم ویرحمهم ولا یؤاخذهم بخطایاهم وان آباءهم الانبیاء یشفعون لهم (بحر ص ۲۷۵ ج ۱ روح ص ۳۰۱، ۳۰۲ ج ۱) وان الجنة لاید خلها الا من کان هودا وان النار لا تمسهم الا ایاما معدودة (روح ص ۳۰۲ ج ۱) وَاِنْ هُمْ اِلَّا یَظُنُّوْنَ ۝ لیکن دا تول باطل اوهام او فاسد گمانونه دی. د دے هیڅ حقیقت نشته.

۱۵۳ دا څلورمه ډله ده او دا هم د دوی د خواصو او عالمانو بیوه ډله ده. دوی دا سے اوکړل چه د خپل طرفه ئے د تورات څو نسخے تیارے کړے او تورات کښی چه چرته چرته د توحید بیان وُو یا د نبی علیه السلام ذکر او صفات وُو هغه ئے دا سے بدل کړل چه اصل سره ئے هیڅ نسبت پاتے نشو. بیا ئے د اصلی تورات نسخے پټے کړے او د خپلو لاسونو تیارکړے شوے محرّف نسخے ئے خپلو عوامو او مشرکین عرب کښی تقسیم کړے او دا به ئے وئیل چه اُوگورئ دا د الله کتاب دے دیکښ خو د دے نبی چرته هم ذکر نشته او نه د هغهٔ د توحید بیان شته کوم چه د وی پیش کوی (روح ص ۳۰۲ ج ۱) د دے جُرم د ځنځ او د بد کردارو عالمانو د تحقیر او تذلیل د وجے نه ئے د دوی ذکر دَ وَیْلٌ، هلاکت او ذلت رسوایئ سخت وعید سره کړے دے. لِیَشْتَرُوْا بِهٖ ثَمَنًا قَلِیْلًا ط دے تحریف او تبدیل سره د دوی مقصد څهٔ د دین خدمت نهٔ دے بلکه محض د دُنیا او دولت په خاطر هغوی دا سے اوکړل. د دُنیا دولت اگرچه په ډیرو ډیرو وی لیکن د دین او اخرت په مقابله کښی

هغه بالکل حقیر او بې حقیقته دے. ددے حقارت دوجې نه ئے ورته قلیل اُووئیلے.

۱۵۲ دا دماقبل تفصیل دے. مخکښې د توحید صرف اجمالی ذکر وُو او دلته ورسره ددے دعلت ذکرهم دے او دلفظ وَیلٌ تکرار سره په وعید کښې شدت او مبالغه پیدا شوې. الفاء لتفصیل ما اجمل فیه من التنصیص بالعلة ولا یخفی ما فی هذا الاجمال والتفصیل من المبالغة فی الوعید والزجر والتهویل (روح ص ۳۰۳ ج ۱). یعنی ددوی دپاره وعید سبب ددوی تحریف او تبدیل او حرامه کټه ده کومه چه دوی د تحریف په ذریعه کټي.

وَقَالُوْا لَنْ تَمَسَّنَا النَّارُ اِلَّآ اَيَّامًا مَّعْدُوْدَةً ؕ قُلْ

او وائي دوی مونږ ته به هرګز اُور اُونه رسیږي لیکن څو ورځې د شمار، فقط اُووایه

اَتَّخَذْتُمْ عِنْدَ اللّٰهِ عَهْدًا فَلَنْ يُّخْلِفَ اللّٰهُ

آیا تاسو اخستې دے دالله په نزد وعده چه اُوس به هرګز خلاف نکوی الله

عَهْدَهٗۤ اَمْ تَقُوْلُوْنَ عَلَى اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ۝۸۰

د خپلې وعدې یا ترې په الله هغه د کوم علم چه تاسو ته نشته

بَلٰى مَنْ كَسَبَ سَيِّئَةً وَّ اَحَاطَتْ بِهٖ خَطِيْٓئَتُهٗ

ولې نه ده چا چه ګناه اوکړه لګه او راګیر کړو هغه لره خپلې ګناه

فَاُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ۝۸۱

نو دغه دی د دوزخ اُوسیدونکی، هغوی به دیکښې همیشه اُوسیږي فقط

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ

او چا چه ایمان راوړو او عمل ئے نیک اوکړو، هم دا دی د جنت

الْجَنَّةِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ۝۸۲ وَاِذْ اَخَذْنَا مِيْثَاقَ

اوسیدونکی، هغوی به دیکښې همیشه اُوسیږي او هر کله چه مونږ واخسته اقرار د

بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ لَا تَعْبُدُوْنَ اِلَّا اللّٰهَ ۟ وَبِالْوَالِدَيْنِ

بنی اسرائیلو نه چه عبادت مکوئ مګر د الله فقط او مور پلار سره

اِحْسَانًا وَّذِي الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنِ وَقُوْلُوْا

نیکي کوئ او رشته دارو سره او یتیمانو سره او حاجتمندو سره او وایئ

لِلنَّاسِ حُسْنًا وَّاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ ثُمَّ تَوَلَّيْتُمْ

ټولو خلقو ته ښې خبرې او قائم لرئ مونځ او ورکوئ زکوٰة، بیا تاسو واوړیدلئ

اِلَّا قَلِيْلًا مِّنْكُمْ وَاَنْتُمْ مُّعْرِضُوْنَ ﴿۸۳﴾

لیکن لږ ستاسو نه ۱۶۰ او تاسو وئ اوړیدونکی.

نکات:- ۱ پنځمه ډله (پیران او صاحبزادګان) ۲ تخویف اخروی ۳ بشارت اخروی ۴ دریم قسم (دموجوده بنی اسرائیلو خباثتونه) ۵ رُومبے خباثت.

موضح القرآن:- ف راګیر کړل ګناه یعنی ګناه کوی او شرمیږی نه.

تفسیر ۱۵۵ داپنځمه ډله د صاحبزادګانو ده چاچه مکر او فریب سره عوامو ته یقین ورکړے وُو چه دوی چونکه دالله تعالیٰ دپیغمبرانو اولاد دے او ددوی نسل دَ پاکو شاګانو نه راوتلے دے، په دے وجه به الله تعالیٰ ددوی هیڅ قسم مواخذه نکوی او مشرانو په طُفیل به دوی معاف کړی لکه الله تعالیٰ ددوی دا دعوٰی نقل کړیده: نَحْنُ اَبْنٰٓؤُا اللّٰهِ وَاَحِبَّآؤُهٗ (مائده ع۳) او که چرے مونږ ته سزا هم راکوَلے شی نو هغه به محض معمولی شان او څو ورځو دپاره وی. قُلْ اَتَّخَذْتُمْ عِنْدَ اللّٰهِ عَهْدًا: دا دَیهُودیانو دمذکوره دعوے تردید دے یعنی دَدوزخ نه دمحفوظ پاتے کیدلو دپاره تاسو دالله نه څه وعده اخستے ده چه دهغے په بنیاد به تاسو محفوظ ساتی یعنی که چرے هغه داسے وعده کړے وی نو بیا به ئے هغه ضرور پوره کوی لیکن، دا ظاهره ده چه الله تاسو سره داسے وعده نه ده کړے. یا دَعهد نه مُراد دَ توحید عهد دے او مطلب ئے دادے چه آیا تاسو د کلمه توحید لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ اقرار کړے دے؟ او الله سره مو دَ توحید اقرار کړے دے څکه چه چا د الله د توحید اقرار کړے دے نو الله هم هغه سره دَ دوزخ نه دَ حفاظت وعده کړے ده. قال ابن مسعودؓ عهدا بالتوحید یدل علیه قوله تعالیٰ اِلَّا مَنِ اتَّخَذَ عِنْدَ الرَّحْمٰنِ عَهْدًا یعنی قوله لا اله الا الله (معالم ص۶۶ ج۱) وروی عن ابن عباس رضی الله عنهما ان معنی الاٰیة هل قلتم لا اله الا الله وامنتم واطعتم (روح ص۳۰۲ ج۱)

۱۵۶ بَلٰی حرف استدراک دے، دما قبل نفی او مابعد اثبات کوی: وبلٰی وبل حرفا استدراک ومعناه هی نفی الخبر الماضی واثبات الخبر المستقبل (معالم ص۶۶ ج۱) دا هم دیهودیانو دغلطو دَعوو او دروغژنو اَرزوګانو تردید دے یعنی څنګه چه تاسو خیال کړے دے او په زړونو کښ ئے هم اُمید ونه او اَرزوګانے ساتلی دی. داسے نه ده بلکه هر بد عمله ته به خواه هغه هرڅوک وی، دَبدو عملونو سزا ضرور ورملاویږی: یقول الله تعالیٰ لیس الامر کما تمنیتم ولا کما تشتهون بل الامر من عمل سیئة واحاطت به خطیئته .... فهذا من اهل النار (ابن کثیر ص۱۱۹ ج۱) او دَ سیّئة نه دلته کفر او شرک مُراد دے، وذهب کثیر من السلف الی انها هٰهنا الکفر (روح ص۳۰۶ ج۱) سیئة شرکا

عن ابن عباس ومجاهد وغیرهما رضی الله عنهم (مدارک ص ۳۶ ج ۱) او ممکن ده چه د سیئه نه مُراد مطلق معصیت وی چه ټولو ته شامل دے. وَأَحَاطَتْ بِهِ خَطِيْئَتُهُ : او ګناهونو هغه راګیر کړے وی ترد ے چه د نیکئ ټولے لارے پرے بندے شوے وی او د ګناهونو پرے د و مره غلبه وی چه هیڅ نیکی ورسره نه وی ترد ے چه ایمان ئے هم مفقود (ورك) شوے وی. لهٰذا د ے صورت کښ به دا آیت مؤمنانو ته شامل نه وی بلکه صرف مشرکانو او کافرانو سره متعلق وی. لهٰذا د معتزلو او خوارجو دے آیت سره استدلال چه مؤمن عاصی به مخلد فی النار وی، باطل شو. هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ۝ او د خلود نه مُراد دلته دوام دے.

۱۵۷ د کافرانو او مشرکانو د وعید نه پس دلته د صالحانو مؤمنانو د پاره د خلود فی الجنة زیرے بیان شوے دے او دلته هم د خلود نه مراد دوام دے. امام سید محمود آلوسی رحمه الله دلته دوه لطیف نکتے بیان کړی دی. اول دا چه د عمل عطف په ایمان باندے د دے خبرے دلیل دے چه عمل د ایمان د حقیقت نه خارج دے او د دهٔ جُزء نه دے ځکه چه د جُزء عطف په کُل باندے نه کیږی. دویم دا چه د اَصحابِ نار (جهنمیانو) وعید بیانولو په وخت ئے د حرف فاء استعمال کړے دے چه دا د دے خبرے دلالت کوی چه د دهٔ ماقبل باندے مرتب او د دهٔ نتیجه ده لیکن د اَصحابِ جنت د خلود فی الجنة خوشخبری اورولو سره ئے د حرف فاء استعمال اُونکړو. دے سره د دے خبرے طرفته اشاره ده چه د اهلِ نار خلود فی النار د وی د بد و عملونو نتیجه ده او د اهلِ جنة خلود فی الجنة محض د الله تعالیٰ مهربانی او د هغه لطف او کرم دے. (روح ص ۳۰۷ ج ۱) ترد ے ځایه پورے دویم قسم ختم شو.

دریم قسم

د یکښ د نزولِ قرآن په وخت د موجوده بنی اسرائیلو خباثتونه او شرارتونه بیان کړے شوی دی یعنی ضد او عناد، عُدوان (و عصیان یوا ځے ستا سو مشرانو پورے منحصر نهٔ دے بلکه تاسو هم د هغوی په نقش قدم باندے لاړئ یعنی کوم احکام چه تورات کښ تاسو ټولو بنی اسرائیلو ته درکړے شوی وُو او کوم وعدے چه ستاسو نه اخستے شوے دی ستاسو مشرانو هغه احکام اُونهٔ منل او هغه وعدے ئے ماتے کړے. اُوس تاسو هم د الله د هغه اَحکامو نه مخ اړوی او هغه وعدے او میثاق ټوټے ټوټے کوئ.

۱۵۸ دا د موجوده بنی اسرائیلو اولنی خباثت دے. بنی اسرائیلو نه د حضرت موسیٰ علیه السلام په واسطه تورات کښ د دے اَحکامو د پابندئ عهد اخستے شوے وُو. د ټولو نه وړمبی وعده کومه چه د دوی نه اخستے شوے وه هغه دا وه چه دوی به صرف د یو الله عبادت کوی، صرف هغه به کارساز، مالك او مختار مَنی او هغه به په حاجتونو کښ را بلی، هغه سره به هیڅوك شریك نهٔ جوړوی. توحید چونکه د الله تعالیٰ حق دے او د ټولو اعمالو رُوح دے. په دے وجه د ټولو نه اول ئے د دے ذکر اُوکړو. لَا تَعْبُدُوْنَ. په ظاهره خبر دے

لیکن د معنے لحاظ سره اَمر دے او دا تعبیر ئے ځکه غوره کړو چه اَمر په صورت د خبر کښ زیات مؤکد وی۔ قال الزمخشریؒ خبر بمعنی الطلب وھو اٰکد (ابن کثیر ص ۱۱۹ ج ۱)

وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا ؕ د حقوق الله نه پس د حقوق العباد درجه ده او دیکښ بیا په ټولو باندی مقدم د والدینو حقوق دی ځکه ئے د حق الله نه پس مونږ پلار سره د ښه سلوک حکم ورکړو۔ قرآن مجید کښ ډیرو ځایونو کښ د توحید سره سره د والدینو د حقوقو ادا کولو حکم ورکړے شوے دے۔ وَبِالْوَالِدَيْنِ، لَا تَعْبُدُونَ باندی عطف دے او ددهٔ متعلق تُحْسِنُوْنَ محذوف دے او اِحْسَانًا ددے مقدر فعل مفعول مطلق دے۔ مطلب دا شو چه د حقوق الله نه پس د والدینو حقوق کما حقهٗ ادا کړئ۔ د والدینو حقونه ډیر دی. مثلاً د هغوی اکرام او احترام کول، د هغوی حکم منل، په ادب او نرمئی ورسره خبره کول، مالی امداد ورله کول وغیره۔ د والدینو دا حقوق په هر حال کښ لازم دی اگرچه هغوی کافران وی۔ که چرے مور پلار مشرکان وی او شرک باندی د مجبوره کوی نو بیا معامله کښ د هغوی اطاعت جائز نه دے لیکن هغوی سره حُسنِ سلوک فرض دے۔

۱۵۹ ددے ټولو عطف اَلْوَالِدَيْنِ باندی دے۔ د والدین نه روستو ئے د رشته دارانو یتیمانو او غریبانو سره د حُسن سلوک حکم ورکړو. دلته د حُسنِ سلوک نه مُراد دوی سره مالی امداد دے۔ وَقُوْلُوْا لِلنَّاسِ حُسْنًا ؕ او د بنی اسرائیلو نه ددے اَمر وعده هم اخستے شوے وه چه دوی د ټولو خلقو سره ښه اخلاقو سره پیش راځی۔ حُسْنًا د قَوْلًا محذوف صفت دے: ای قولوا للناس قولاً حسناً۔ او حُسْنًا د مبالغے په طور باندی قَوْلًا باندی محمول کړے شوے دے یعنی خلقو سره داسے خبرے کوئ چه ټول حُسنِ اخلاق وی۔ وَأَقِيمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ۔ یعنی د بنی اسرائیلو نه د مونځ قائمولو او زکوٰة ادا کولو وعده هم اخستے شوے وه۔ دلته د مونځ او زکوٰة نه هم هغه مونځ او زکوٰة مراد دے کوم چه بنی اسرائیلو باندی فرض وُو۔

۱۶۰ لیکن تا سو دا وعده پوره نکړه بلکه د هغه اَحکامو نه مو مخ اوګرځولو، توحید مو پریښودلو او شرک مو اختیار کړلو۔ حضرت عُزیر علیه السلام او خپل مشران مو د الله تعالیٰ نائبان او کارساز اُومنل۔ انسانی حقوق مو پائمال کړل۔ د مونځ او زکوٰة نه مو هم بے پرواهی اوکړه او تاسو کښ ډیر لږ دے وعده باندی قائم پاتے شول۔ وَأَنْتُمْ مُّعْرِضُوْنَ ۝ دا اعراض او وعده ماتول ستاسو څه نوے خبره نه ده بلکه دا همیشه راسے ستاسو پخوانے عادت دے۔ ستاسو د پلارانو او نیکونو هم دا عادت وُو۔ اُوس ستاسو هم دا دستور دے۔ ای و انتم قوم عادتکم الاعراض والتولی عن المواثیق (روح ص ۳۱۰ ج ۱) نن که چرے اُوکتلے شی نو د بنی اسرائیلو دا ټول حالات په مسلمانانو کښ هم پیدا شوی دی۔ څنګه چه هغوی د الله نبیان او ولیان الله سره شریکان جوړ کړل او د اربلل به ئے او د الله تعالیٰ حدود ئے ماتول، بالکل همدغه شان مسلمانان هم کوی۔

وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَاقَكُمْ لَا تَسْفِكُونَ دِمَاءَكُمْ وَلَا

[illegible]

تُخْرِجُونَ أَنفُسَكُم مِّن دِيَارِكُمْ ثُمَّ أَقْرَرْتُمْ وَأَنتُمْ

[illegible]

تَشْهَدُونَ ﴿٨٤﴾ ثُمَّ أَنتُمْ هَٰؤُلَاءِ تَقْتُلُونَ أَنفُسَكُمْ

[illegible]

وَتُخْرِجُونَ فَرِيقًا مِّنكُم مِّن دِيَارِهِمْ تَظَاهَرُونَ

[illegible]

عَلَيْهِم بِالْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَإِن يَأْتُوكُمْ أُسَارَىٰ

[illegible]

تُفَادُوهُمْ وَهُوَ مُحَرَّمٌ عَلَيْكُمْ إِخْرَاجُهُمْ

[illegible]

أَفَتُؤْمِنُونَ بِبَعْضِ الْكِتَابِ وَتَكْفُرُونَ بِبَعْضٍ فَمَا

[illegible]

جَزَاءُ مَن يَفْعَلُ ذَٰلِكَ مِنكُمْ إِلَّا خِزْيٌ فِي

[illegible]

الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ يُرَدُّونَ إِلَىٰ أَشَدِّ

[illegible]

الْعَذَابِ وَمَا اللَّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٨٥﴾

[illegible]

[illegible]

د پاره موجود یې او تاسو هغوی ته تکلیف ورکولو کښې قصور نه کوئ. که چرې د الله تعالیٰ په حکم بانډې چلیدې نو د دوارو ځایه عمل اوکړئ.

فتح الرحمٰن ف۱ منع کړې شو د وژلو نه او د جلاوطن کولو نه او په ظلم کښې د امداد کولو نه او حکم ورکړې شو د فدیې ورکولو د قیدیانو نه او دوی دې ټولو احکامو کښې صرف د قیدیانو فدیه ورکولو بانډې عمل اوکړو ځکه چه دوی ته نفس موافق وو، نو دیکښې د نفس اطاعت دے او د الله تعالیٰ اطاعت پکښې نشته.

تفسیر: ۱۶۱ دا دویم خیانت دے. د بنی اسرائیلو نه په تورات کښې دا وعده اخستې شوې وه چه دوی به خپل مینځ کښې اتفاق سره اوسیږی او د کورونو جنګونو نه به ځان ساتی. خپل رور به د هغه د کور نه نه اوباسی او نه به یو بل وژنی. ثُمَّ أَقْرَرْتُمْ وَأَنتُمْ تَشْهَدُونَ ۝ او تاسو نسل در نسل د دے وعدے او اقرار سره راروان یئ او نن هم تاسو د دے اعتراف کوئ چه تاسو د دے وعدے اقرار کړے دے او دا مو قبوله کړے ده.

۱۶۲ د دے ځائے نه د بنی اسرائیلو د عهد شکنئ بیان دے یعنی مونږ تاسو د خانه جنګئ نه منع کړی وئ لیکن تاسو د پوخ اقرار باوجود منع نه شوئ او خپل رونړه وژل مو شروع کړل. د نبی علیه السلام په زمانه کښې د مدینے دوه مشهورے قبیلے اوس او خزرج د سوونو کالو راسے د یو بل دشمنان وو. مدینه کښې او د دے په خواؤ شا کلو کښې یهودیان هم د اقلیت په حیثیت سره اباد وو. او د دوی دوه قبیلے بنو قریظه او بنو نضیر مشهورے وے. اقلیتونه همیشه د پاره د نورو امداد ته محتاج وی. د دے د پاره بنو قریظه د اوس ملګرے شوه او بنو نضیر د خزرج قبیلے سره معاهده اوکړه. د اوس او خزرج په مینځ کښې به هر کله ورځ جنګونه کیدل نو د دوی معاهد یهودیانو به هم خپل ملګرے قبیلے سره یو ځائے د غه جنګونو کښې حصه اخستله او د داشان به د یو طرف د یهودیانو د لاس نه به د بل طرف د یهودیان مړه کیدل. د دے ایت کښې د دے طرف ته اشاره ده.

۱۶۳ د مذکوره جنګ جګړے او قتل و غارت په وخت به د فریقینو نه ډیر خاندانونه خپل کورونه پریښودل او بے کوره بے وطنه به شول. د هر یو فریق د خپلو کورونو نه د وتلو سبب به د دویم فریق یهودیان جوړیدل ځکه چه د یهودیانو یو فریق به د خپل حلیف (ملګری) کافرانو سره یو ځائے شو او د دویم فریق یهودیان به ئے د کورونو نه ویستل. په دے وجه ئے اخراج (ویستل) دوی طرفته منسوب کړل.

۱۶۴ تَظَاهَرُونَ. په اصل کښې تَتَظَاهَرُونَ وو. یوه تاء د تخفیف په غرض حذف کړے شوه او دا د تُخْرِجُونَ د ضمیر نه حال دے. عليهم کښې هم ضمیر فریقًا ته راجع دے چه معنیً جمع ده. إِثْمٌ نه مراد د الله نافرمانی ده او د عُدْوَانٌ نه مراد ظلم دے. بالاثم والعدوان بالمعصية والظلم. (معالم ص ۶۷ ج ۱) مطلب دا دے چه تاسو د خپلو رونړو خلاف د غیر قومونو امداد کوئ او دا امداد هم د یو نیک او تعمیری کار د پاره نه وی. دیکښې یو طرفته تاسو د الله نافرمانی کوئ ځکه چه هغه تاسو د خپلو رونړو د قتل

او اخراج نه منع کړی ېږي او بل طرفته د قتل او اخراج په ذریعه په خپلو رونړو بانډې ظلم کوئ او دهغوی حق تلفي کوئ۔

ف۱۶۵ څنګه وخت به داسې هم کیدل چه د یهودیانو د یو فریق سره به د بل فریق په لاس قید شو نو دوی خلقو به فدیه ورکولو سره خپل قید یان راخلاصول۔ هر کله چه به د دوی نه تپوس اُوشو چه تاسو داسې وَلے کوئ؟ نو دوی خلقو ویل چه الله مونږ ته د فدیې ورکولو او قید یانو راخلاصولو حکم کړے دے، مونږ څنګه داسې کوو۔ وَهُوَ مُحَرَّمٌ عَلَيْكُمْ إِخْرَاجُهُمْ، دا جمله هم د تُخْرِجُوْنَ د ضمیر نه حال دے یعني فدیه ورکولو سره خو د قید یانو راخلاصولو حکم بانډې تاسو عمل کوئ لیکن د خپلو رونړو د کورونو نه د ویستلو په وخت دا خیال نه کوئ چه داسې کول تاسو بانډې حرام دی۔ أَفَتُؤْمِنُوْنَ بِبَعْضِ الْكِتٰبِ وَتَكْفُرُوْنَ بِبَعْضٍ، استفهام د تهدید او ویرولو په طور دے او د الکتاب نه مراد تورات دے ځکه چه خطاب بني اسرائیلو ته دے یعني تاسو د تورات یوه حصه اُومنله او یوه حصه مو اُونه منله۔ د فدیې ورکولو حکم بانډې مو عمل اُوکړو او د قتل او اخراج د نهي پروا مو اُونکړه۔

ف۱۶۶ د الله تعالیٰ څنګه حکمونه منل او څنګه رد کول، دا ډیرلوئے جرم دے او د الله پاک حکمونو سره یو قسم ټوقے او استهزاء ده۔ دے ایت کښې ئے د دے جرم د سزا بیان کړے دے چه تاسو کښې څوک داسې کوی نو هغه به د دُنیا او اخرت کښې د قهر او غضب لائق وی او دُنیا کښې به ورته د ذلت او رسوائي نه سوا هیڅ نه ملاویږی لکه څنګه چه د یهودیانو حشر هم داسې اُوشو چه د دے نه څو کاله پس بنو نضیر د ذلت او رسوائي سره د وطن نه اُوشړلی شو او د بنو قریظه سړی اُووژلی شو او ښځے او بچي ئے غلامان جوړ کړے شول۔ **ف۱۶۷** او د قیامت په ورځ به هغوی ډیر سخت عذاب کښې ګرفتار کړے شی۔ د اَشَدُّ الْعَذَابِ نه مُراد د جهنم همیشه عذاب دے او هغه به د ټولو نه سخت دے د لحاظ سره وی چه هیڅکله به نه ختمیږی: والمراد به الخلود في النار واشدیته من حیث انه لا انقضاء له (روح ص ۳۱۴ ج ۱)۔ **ف۱۶۸** دا د تیر شوی وعید دپاره یو قسم تاکید دے یعني الله تعالیٰ تاسو په نظر کښې ساتلی یئ هغه ستاسو د عملونو نه ناخبره نه دے۔ هغه به تاسو ته ستاسو د عملونو پوره پوره سزا درکوی۔ د دے ایتونو مخاطب هغه بني اسرائیل دی کوم چه د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په زمانه کښې موجود وو لیکن اُوس نول اُمتِ محمدیه هم د دے احکامو مخاطب او مُکلف دے لکه څنګه چه د حضرت عمر رضی الله عنه نه نقل دی: عن عمر رضی الله تعالیٰ عنه انه قال ان بني اسرائیل قد مضوا و انتم تعنون بهذا یا أمة محمد و بما یجری مجراه (روح ص ۳۱۵ ج ۱)

أُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ اشْتَرَوُا الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا بِالْاٰخِرَةِ ز

هغه خلق دی چا چه واخستلو د دُنیا ژوند د اخرت په بدله کښې ف۱۶۹

فَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ الْعَذَابُ وَلَا هُمْ يُنْصَرُونَ ﴿٨٦﴾ وَلَقَدْ
نو سپک به نکړے شي د دوی نه عذاب او نه به ورته امداد اورسولے شي - او بیشکه
آتَيْنَا مُوسَى الْكِتٰبَ وَقَفَّيْنَا مِنْ بَعْدِهٖ بِالرُّسُلِ
مونږ ورکړو موسیٰ ته کتاب شاته او روبل پسې مونږ ولیږل د هغه نه پس پیغمبران
وَآتَيْنَا عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ الْبَيِّنٰتِ وَأَيَّدْنٰهُ بِرُوحِ الْقُدُسِ
او ورکړے مونږ عیسیٰ د مریم ځوی ته ښکاره معجزے شاته او قوت مونږ ورکړو هغه ته پاک روح سره
أَفَكُلَّمَا جَاءَكُمْ رَسُولٌ بِمَا لَا تَهْوٰى أَنْفُسُكُمُ
بیا څنګه عجیبه ده چه هرکله راوړو یو پیغمبر هغه حکم کوم چه خوښ نکړو ستاسو زړونو
اسْتَكْبَرْتُمْ فَفَرِيقًا كَذَّبْتُمْ وَفَرِيقًا تَقْتُلُونَ ﴿٨٧﴾ وَ
نو تاسو تکبر اوکړو شاته بیا یو جماعت دروغژن اوګڼړلو او یو جماعت مو قتل کړو شاته او
قَالُوا قُلُوبُنَا غُلْفٌ بَلْ لَعَنَهُمُ اللّٰهُ بِكُفْرِهِمْ فَقَلِيلًا
وائی زمونږ په زړونو باندے پرده ده بلکه لعنت پرے کړے دے الله د دوی د کفر په سبب نو ډیر کم
مَا يُؤْمِنُونَ ﴿٨٨﴾ وَلَمَّا جَاءَهُمْ كِتٰبٌ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ
ایمان راوړی شاته او هرکله چه راورسید دوی ته کتاب د الله پاک له طرفه شاته
مُصَدِّقٌ لِمَا مَعَهُمْ وَكَانُوا مِنْ قَبْلُ يَسْتَفْتِحُونَ
چه تصدیق کوی د هغه کتاب کوم چه د دوی سره دے او مخکښې به یے د دے متعلق بیان کولو
عَلَى الَّذِينَ كَفَرُوا فَلَمَّا جَاءَهُمْ مَا عَرَفُوا كَفَرُوا بِهٖ
کافرانو ته بیا چه کله راغے دوی ته کوم چه یے پیژندلے وو نو د هغه نه منکر شو شاته
فَلَعْنَةُ اللّٰهِ عَلَى الْكٰفِرِينَ ﴿٨٩﴾
نو لعنت دے د الله په منکرینو باندے وی شاته

نکات :- ۱ د دریم قسم تتمه ۲ څلورم قسم، احکام منل او نه منل خو پرېږده د ستاسو مشرانو توحید بیا نو نکی پیغمبران دروغژن اوګڼړل او هغوی ئے اوو وژل. ۳ د څلورم قسم تتمه

ــــه پنځم قسم : ستاسو مشرانو د مخکنو پیغمبرانو تکذیب اُوکړو او تاسو سره چه پیژندلو د اخری پیغمبر تکذیب کوئ.

موضح القرآن ف۱ رُوح القُدُس حضرت جبرئیل ؑ ته وائی چه هر وخت به حضرت سره وُو. ف۲ چه کله به ئے د کافرانو غلبه لیدله نو دُعا به ئے غوښتله چه نبی علیه السلام زر پیدا شی، هر کله چه پیدا شو نو تاسو انکار اُوکړو.

فتح الرحمٰن ف۱ تعریض دے هغه قصے ته چه د خیبر یهودیانو د غطفان (قبیلے) سره جنګ کولو او شکست به ئے خوړلو. اخر ئے دُعا اُوکړه چه د نبی اُمی محمد ﷺ په طفیل چه د هغهٔ د ظهور وعده په اخره زمانه کښ کړے شوے ده، زمونږ امداد اُوکړه. د دے نه پس ئے فتح بیا مونده.

تفسیر : ۱۶۹ دے خلقو دُنیا ته اخرت باندے ترجیح ورکړه حال دا دے چه د اخرت حاصلولو پوره پوره سامان دوی سره موجود وُو، د الله کتاب تورات دوی سره وُو لیکن هغے باندے عمل کولو سره د اخرت سامان تیارولو په ځائے هغه ئے د دُنیا حاصلولو ذریعه جوړه کړه. فَلَا یُخَفَّفُ عَنْهُمُ الْعَذَابُ. د دوی په عذاب کښ به بالکل تخفیف نهٔ وی نهٔ په دُنیوی سزا کښ او نهٔ اُخروی کښ. وَلَا هُمْ یُنْصَرُوْنَ ۝ فعل مجهول ئے راوړو او فاعل ئے ذکر نهٔ کړو. دے طرف ته ئے اشاره اُوکړه چه د مذکوره عذاب نه بچیدلو د پاره به هغوی ته د هیڅ طرف نه د هیڅ قسمه امداد نهٔ رسیږی. نهٔ به د دُنیا د دولت په ذریعه هغوی خلاص کړے شی د عذاب نه او نهٔ به د هغوی د مشرانو مخ او بزرګی څه بکار راشی او نهٔ به ورته د مشرانو سفارش او کارسازئ سره نجات ملاؤ شی کوم چه هغوی د الله تعالیٰ نائبان او کارساز ګڼلی وُو. دا خبره په بنی اسرائیلو پورے مخصوص نهٔ ده بلکه دا خو د الله تعالیٰ یو عالمګیر او لازوال قانون دے چه دُنیا او اخرت کښ د الله تعالیٰ د عذاب نه او د هغهٔ له طرفه د راتلونکو تکلیفونو نه هیڅوک هم خوک نشی بچ کولے.

شلورم قسم

د بکښ ئے د بنی اسرائیلو د پلارانو او نیکونو د کړلیچ او د زړهٔ د سختوالی دوه مثالونه بیان کړی دی. اُول د پیغمبرانو تکذیب او دویم د انبیاؤ قتل، یعنی د الله تعالیٰ حکمونه منل نهٔ منل یو طرف ته، ستاسو د مشرانو د کړلیچ دا حالت وُو چه هغوی د الله د احکامو راوړونکو پیغمبرانو تکذیب اُوکړو او بالکل ئے اُو نهٔ منل او بیا ئے په تکذیب باندے اکتفاء اُونکړه بلکه بعض پیغمبران د غه سنګدلو اُو وژل.

تکلے ستاسو د هدایت او د رهنمائی د پاره مونږ حضرت موسیٰ علیه السلام ته د شریعت یو قانون ورکړو چه په هغے کښ د الله تعالیٰ د خالص عبادت کولو او د شرک نه د بچ کیدلو حکم ورکړے شو او د دینه علاوه ئے نور هم ډیر احکام ورکړل. د اَلْکِتٰبَ نه مراد تورات

دے - وَ قَفَّيْنَا مِنْ بَعْدِهٖ بِالرُّسُلِ - حضرت موسیٰ علیہ السلام پخپله ژوند کښې تاسو ته په تورات باندې د عمل کولو تلقین کولو - د هغوی د وفات نه پس هم د انبیاؤ او رسولانو سلسله جاری وه او د حضرت عیسیٰ علیہ السلام پورې ئے په زرګونو پیغمبران راولیږل : و کانوا الی زمن عیسیٰ علیہ السلام اربعۃ الاف (روح ص ۲۱۶ ج ۱) څنو د دے نه هم زیات لیکلی دی مثلاً حضرت یوشع شمعون، داؤد، سلیمان، عُزیر، حزقیل، الیاس، زکریا او یحییٰ علیہم السلام، دا ټول د حضرت موسیٰ علیہ السلام په شریعت باندې وو -

۱۷۱ اَلْبَيِّنٰتِ ؛ یعنی واضح او ښکاره دلائل - د دے نه مراد هغه معجزات دی کوم چه حضرت عیسیٰ علیہ السلام ته ورکړے شوی وو مثلاً - مړے ژوندے کول، ابرص (برګی) مرض والا او ړوند دی رانده جوړول وغیره - یا د اَلْبَيِّنٰتِ نه مراد انجیل دے ځکه چه د دے اینونو نه هم د رُشد او هدایت واضح لښے وے، المعجزات الواضحات من احیاء الموتٰی و ابراء الاکمه و الابرص و الاخبار بالمغیبات او الانجیل (ابوالسعود، ص ۶۶۲ ج ۱) قرآن مجید کښې هیڅ یو پیغمبر د خپل پلار طرفته منسوب کولو سره نۂ دے ذکر شوے لیکن حضرت عیسیٰ علیہ السلام اکثر د خپلے مور طرفته نسبت سره ذکر کړے شوے دے - دیکښې یو طرفته د هغه خلقو د خیال تردید دے څوک چه حضرت عیسیٰ علیہ السلام د پاره د پلار تجویز کوی یعنی د هغۂ څوک پلار وے نو هغۂ طرفته به ئے نسبت شوے وے نۂ چه د مور طرفته -

بل طرفته د هغه عیسایانو تردید دے څوک چه حضرت عیسیٰ علیہ السلام ته خدائ یا د الله پاک ځوئے یا جُزء وائی بلکه هغه یو انسان او بشر دے او د یوے ښځے ځوئے دے لیکن د خپل پیغمبرا نه عظمت او شان په لحاظ سره د الله محبوب او مقرب نبی دے. وَ اَيَّدْنٰهُ بِرُوْحِ الْقُدُسِ ط او د روح القدس نه مراد جبرئیل علیہ السلام دے او روح القدس سره د تائید کولو مطلب دا دے چه د حضرت جبرئیل علیہ السلام پوکی (نفخ) سره د هغے حمل شو او د ولادت په وخت د هغۂ په موجودګئ کښې د شیطان د اثر نه محفوظ شو. حضرت عیسیٰ علیہ السلام به چه چرته تللو نو روح القدس به ورسره وو. د هغه شان دیهودیانو د قتل د سازش نه ئے بچ کړو - دا روح القدس سره تائید هم یوه معجزه وه - د لته ئے هم واضحه کړه چه حضرت عیسیٰ علیہ السلام سره د اوچتے مرتبے او صاحب عزم پیغمبر کیدلو هم زمونږ د تائید او تقویت نه محتاج وو. هر کله چه هغه پخپله محتاج وو نو د نورو نو به مدد به څنګه اُوکړی - **۱۷۲** ستاسو د یو هلو د پاره مونږ په زرګونو پیغمبران راولیږل . تورات او انجیل کښې واضح دلائلو سره ئے تاسو د توحید مسئله اُوښودله - ستاسو د اطمینانِ قلب د پاره پیغمبرانو معجزے ښکاره کړے لیکن د دے باوجود چه کله هم یو پیغمبر د توحید دعوت سره راغلے دے او تاسو ته ئے د الله پاک له طرفه نور احکام در کړی دی کوم چه ستاسو د خواهش مطابق نۂ وو نو تاسو فوراً د هغے نه انکار اُوکړو او هغه مو د غرور د وجے نه حقیر اُوګڼل او ستاسو د اروتیه د یو پیغمبر سره نۂ وه بلکه تاسو د هر پیغمبر راتللو سره د ا ټول هر څۂ اُوکړل -

۱۷۳ دا الله تعالیٰ هر نبی د توحید پیغام راوړو او د توحید پیغام د دروغژن ببرانو، غلط کار مُلایانو او دُنیا پرست سرمایه دارانو او نوابانو دپاره د مرګ پیغام دے ځکه چه د توحید پیغام منلو سره نذر، نیاز، ځنبته ختمیږی او عوامو بانې د مصنوعی (ظاهری) تقدس او اقتدار اثر باطلیږی. په یهودو کښ دا طبقے موجود سے وے. د سے دپاره چه کله به هم یو پیغمبر راتللو نو دے خلقو به هغه شان دپاره خطره ګڼڵه او سختے سره به ئے د هغوی مخالفت او تکذیب کولو او کئی چرے موقعه به ورته ملاؤ شوه نو هغوی به ئے اُووژل. دا د هغوی د خیانت او سنګدلئی انتهاء وه. (کبیر، تسهیر بیسیر)

۱۷۴ دا د شلورم قسم تتمه ده او موجوده یهودیانو مقوله ده. غُلْفٌ: دا اغلف جمع ده او اَغلف هغه ته وائی په کوم چه غلاف اچولے شوے وی. مطلب دا چه زمونږ په زړونو بانې غلاف یعنی پرده اچولے شوے ده چه د هغے په وجه ورته ستاسو د دعوت او تبلیغ اثر نه رسیږی. د حضرت ابن عباس رضی الله عنه په قرأت کښ دا لفظ غُلُفٌ دے. چه د غِلَافٌ جمع ده. د سے صورت کښ به دا مطلب وی چه زمونږ زړونه خو مخکښ د علم او حکمت نه ډک شوی دی، زمونږ محمد ﷺ، د هغه قرآن او علوموته ضرورت نشته. قال ابن عباسؓ ای قلوبنا ممتلئة علمًا لا تحتاج الی محمد صلی الله علیه وسلم ولا غیره (قرطبی ص ۲۵ ج ۲)

بَلْ لَّعَنَهُمُ اللّٰهُ بِكُفْرِهِمْ: بَلْ د اضراب دپاره دے یعنی د ایمان نه د نفرت په وجه هغه نه ده کومه چه دوی بیان کړه بلکه اصل وجه دا ده چه د دوی د مسلسل انکار او ضد او عناد د وجے الله پاک دوی د خپل درګاه نه ویستلی دی او د خپل رحمت نه ئے لرے کړیدی، د ایمان توفیق ئے ترینه اخستے دے. دد سے نه مراد مُهر جباریت دے. فَقَلِيْلًا مَّا يُؤْمِنُوْنَ ۝ قَلِيْلًا د مفعول مطلق محذوف صفت دے او ما د قلت معنیٰ د تاکید دپاره دے (روح ص ۳۱۹ ج ۱) مطلب دا دے چه هغوی د برائے ایمان راوړی. دد سے لږ شان ایمان نه مُراد هغه ایمان دے کوم چه هغوی په بعضو څیزونو بانې راوړی ځکه چه ورانې تیر شو. اَفَتُؤْمِنُوْنَ بِبَعْضِ الْكِتٰبِ وَتَكْفُرُوْنَ بِبَعْضٍ ۚ یا د لته قلت په عدم بانې محمول دے نو مطلب به دا وی چه د ملعون او مقهور کیدلو د وجے نه به هغوی لږ شان ایمان نه راوړی. معناه لا یؤمنون اصلا قلیلًا ولا کثیرًا (کبیر، ص ۵۱۳ ج ۱)

پنځم قسم

خلورم قسم کښ د یهودو د شرارتونو د سنګدلئی او کړلیچ نمونه پیش کړے شوه چه د انبیاء علیهم الصلوٰة والتسلیمات د تبلیغ د هغوئ د معجزو او د تورات او انجیل د واضحو ایتونو هغوی بانې هیڅ اثر اونه شو. اُوس دلته د موجوده یهودیانو د کږ لیچ او شرارت ذکر دے چه د هغے نه هم زیات دے ځکه چه د رُشد او هدایت څومره کوره دلائلو او د افهام او تفهیم د مُعتبرو ذریعو په موجودګئی کښ کفر او انکار سره ئے د خُبث باطن دا حال دے

چه د حضرت محمد صلی اللہ علیہ وسلم د ظهور او د قرآن د نزول نه مخکښ دے خلقو د واړه منل لیکن کله چه د دوی پیژندلے شوے داخیز ورنه مخے ته راغلل نو د بغض او حسد او د ضد او عناد په وجه ئے د دواړو نه انکار او کړو.

۲۵۱ دکتاب نه مراد قرآن دے او تنوین د اظهار عظمت د پاره دے. هو القرآن و تنکیره للتفخیم (ابو السعود ص ۱۲۷ ج ۱) مُصَدِّقٌ لِّمَا مَعَهُمْ - مَا مَعَهُمْ نه مراد تورات دے یعنی قرآن په مسئلهٔ توحید کښ، د شرك تردید کښ، او نبوت او نور و احکامو کښ د تورات تصدیق کوی - د قرآن د صداقت یو دلیل خو دا شو. وَكَانُوا يَسْتَفْتِحُونَ: دلته د يَسْتَفْتِحُونَ معنیٰ يَفْتَحُونَ ده څکه چه د باب استفعال بو خصوصیت موافقت مجرد دے لکه څنګه چه اِسْتَقَرَّ په معنیٰ د قَرَّ دے او د فتح معنیٰ د ښودلو او خبر ورکولو هم راځی لکه چه مخکښ تیر شوی دی. من قولهم فتح علیه اذا علمه و وقفه کما فی قوله تعالی: أَتُحَدِّثُونَهُمْ بِمَا فَتَحَ اللّٰهُ عَلَيْكُمْ - (روح ص ۳۲۰ ج ۱) یعنی یهود یانو به د دے نه مخکښ کافرانو او مشرکانو ته وئیل چه عرب کښ کوم آخری نبی پیدا کیدونکے دے، د هغهٔ د ظهور وخت رانزدے شویے دے او هغهٔ بانډی به د الله پاك له طرفه یو کتاب نازلیږی. ای یعرفون المشرکین ان نبیا یبعث منهم وقد قرب زمانه (روح ج ۱ بحر ص ۳۰۳ ج ۱) دا د قرآن او صاحب قرآن په صداقت بانډی دویم دلیل دے.

۲۵۲ هر کله چه دوی ته هغه کتاب راغے او د الله هغه رسول هم راغے کوم چه دوی ښهٔ پیژندلے د کو نو دوی محض د بغض او حسد او ضد او عناد په وجه او د خپل تقدس او اقتدار د حفاظت او د دُنیا د حرص په خاطر د دے دواړو نه انکار او کړو. بغیا و حرصا علی الریاسة (مدارك ص ۴۸ ج ۱) كَفَرُوا د اولنی لَمَّا جواب دے او دویم لَمَّا د اول تاکید دے یا دَ اول لَمَّا جواب محذوف دے او دا د دویم لَمَّا جواب دے. فَلَعْنَةُ اللّٰهِ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ه دے کافرانو د پاره د کفر او انکار په وجه د الله د رحمت نه لرے والے دے، نهٔ به ورته په دُنیا کښ د ایمان توفیق نصیب شی او نهٔ به آخرت کښ نجات بیا موی.

بِئْسَمَا اشْتَرَوْا بِهٖۤ اَنْفُسَهُمْ اَنْ يَّكْفُرُوْا بِمَاۤ اَنْزَلَ

بد څیز دے هغه د کوم په بدله کښ چه خرڅ کړل هغوی خپل ځانونه ځکه چه منکر شول د هغه څیز نه کوم چه الله

اللّٰهُ بَغْيًا اَنْ يُّنَزِّلَ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ عَلٰى مَنْ

نازل کړو، د ضد بانډی چه نازل کړی الله د خپل فضل نه په چا چه ئے

يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ ۚ فَبَآءُوْ بِغَضَبٍ عَلٰى غَضَبٍ ط وَ

اُوغوښتل د خپلو بندګانو نه نو وے ګټله غصه د پاسه د غصے او

لِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ﴿۹۰﴾ وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ اٰمِنُوْا

کافرانو د پاره عذاب دے رسوا کوونکے . او کله چه ویلے شی دوی ته اومنئ

بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ قَالُوْا نُؤْمِنُ بِمَآ اُنْزِلَ عَلَيْنَا وَيَكْفُرُوْنَ

هغه کوم چه الله رالیږلے دے نو وائی منو هغه کوم چه نازل شوے په موږ باندے او نه منو

بِمَا وَرَآءَهٗ ۗ وَهُوَ الْحَقُّ مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَهُمْ ۗ قُلْ فَلِمَ

هغه کوم چه دده نه علاوه دے حال دا دے چه هغه کتاب ریښتونے دے تصدیق کوی د هغه کتاب کوم چه دوی سره دے او وایه بیا

تَقْتُلُوْنَ اَنْۢبِيَآءَ اللّٰهِ مِنْ قَبْلُ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۹۱﴾

تاسو ولے وژل د الله پیغمبران مخکښ که چرے تاسو ایمان لرلے ؟

وَلَقَدْ جَآءَكُمْ مُّوْسٰى بِالْبَيِّنٰتِ ثُمَّ اتَّخَذْتُمُ الْعِجْلَ

او راغے تاسو ته موسیٰ ؑ صریح معجزو سره نو بیا تاسو جوړ کړو سخے

مِنْۢ بَعْدِهٖ وَاَنْتُمْ ظٰلِمُوْنَ ﴿۹۲﴾

د هغه د تللو نه پس او تاسو ظالمان یئ .

نکات: ـ ۱ د پنځم نوع تتمه ۲ د انواع خمسه نه روستو د یهودیانو د یو باطل قول شکایت ۳ د دوی د باطل قول تردید د پنځو وجونه د اول وجه ده ۴ دویمه وجه ۵ دریمه وجه ۶ څلورمه وجه .

تفسیر ۱ بِئْسَمَا دلته د اِشتراء معنیٰ خرڅول ده یعنی د کوم څیز په عوض کښ چه هغوی خپل ځانونه خرڅ کړل او کوم کار د پاره چه هغوی خپل ځانونه وقف کړی دی، هغه ډیر خراب دے . دا د پنځم قسم تتمه ده . اَنْ يَّكْفُرُوْا بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ . دا د بِئْسَ مخصوص بالذم دے یعنی د کوم بد کار د پاره چه هغوی خپل ځانونه وقف کړیدی هغه د الله پاک له طرفه د نازل شوو آیتونو نه کفر او انکار دے او د مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ نه مراد قرآن دے د کوم ذکر چه كِتٰبٌ مُّصَدِّقٌ الفاظو کښ تیر شوے دے : المراد بما انزل الله كتٰب مصدق . (روح ص ۳۲۱ ج ۱) بَغْيًا اَنْ يُّنَزِّلَ اللّٰهُ ـــ د اَنْ يَّكْفُرُوْا مفعول دے او د دوی د کفر او انکار علت بیانوی او د مِنْ فَضْلِهٖ نه مراد وحی ده . او مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ نه مراد حضرت محمد ﷺ دے او مطلب دا دے چه اهل کتابو د قرآن نه انکار د غلط فهمئ په وجه اُونکړو ، هغوی د قرآن کلام الله کیدل ښه پیژندلو او انکار ئے محض د بُغض او حسد په بناء کولو ځکه چه د هغوی خیال وُو چه آخری پیغمبر به هم زموږ د

خاندان د بنی اسرائیلو نه وی لیکن هر کله چه ئے اولیدل چه هغه خو په بنی اسمٰعیل کښې پیدا شوے دے نو حسد ئے شروع کړو چه د بنی اسماعیلو پیغمبر دپاسه وحی ولې نازله شوه؟ وَ

انهم ظنوا ان هذا الفضل العظيم بالنبوة المنتظر لا يحصل فی قومهم فلما وجدوه فی العرب حملهم ذٰلک علی البغی والحسد (کبیر ص ۶۲۰ ج ۱)

یعنی هغوی د دوچند غضب مستحق شول. یو غضب خو د توحید پرېښودلو او شرک کولو او د غوساله پرستۍ د وجې نه نازل شو او دویم غضب د آخری نبی ﷺ د نه منلو د وجې نه. وَلِلۡكٰفِرِيۡنَ عَذَابٌ مُّهِيۡنٌ۔ او دے کافرانو دپاره داسے عذاب تیار دے چه د دوی بغض او عناد او کبر، غرور به مات کړی او دوی به خوار او ذلیل کړی. اوس وَاِذَا قِيۡلَ د یهودیانو د ایمان د دعوے تردید او تکذیب دے. دے بانی الله تعالیٰ پنځه دلیلونه قائم کړی دی.

د یهودیانو د یو باطل قول تردید

تر دے ځائے پورے د افهام او تفهیم، تبلیغ او ارشاد د ټولو ذریعو استعمالولو نه پس د یهودیانو د انتهائی ضد او بی سلوکئ شکوه کولے شی او د هغوی د غلط بیانئ مسکت (چپ کوونکے) جواب ورکولے شی. ۸ کله کله چه دوی ته وئیلے شی چه الله پاک کوم کتاب په خپل آخری پیغمبر ﷺ بانی نازل کړے دے هغے بانی ایمان راوړئ نو هغوی وائی چه مونږ هم د الله کتاب منو، مونږ د دے نه کله انکار کړے دے؟ لیکن صرف هغه کوم چه په مونږ نازل شوے دے یعنی مونږ صرف خپل کتاب تورات منو، د دے نه سوا بل هیڅ یو کتاب نه منو. وَيَكۡفُرُوۡنَ بِمَا وَرَآءَهٗ. دا په قَالُوۡا بانی عطف دے او د یهودیانو د قول دپاره په طور د تتمه راوړے شوے دے. وَهُوَ الۡحَقُّ مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَهُمۡ. دا د یهودیانو د کذب د دعوی اولے او دویم دلیل دے. که چرے هغوی په خپله دعوی کښې رښتونی وے نو په قرآن بانی به ئے ضرور ایمان راوړے وے ځکه چه قرآن په خپله د حق د تعلیماتو حامل دے او په اصول دین کښې د هغو کتابونو تصدیق کوی لیکن د دوی د ضد او عصبیت حد دا دے چه قرآن سره د دے نه چه حق دے او بیا قرآن ځنې نوے او نا آشنا خبره هم نه پیش کوی بلکه هغه هم هغه د توحید دعوت پیش کوی کوم چه په تورات کښې موجود دے لیکن چونکه قرآن د دوی د قوم په یو کس نه دے نازل شوے نو په دے وجه ئے نه منی.

۹ کله دا د یهودیانو د ایمان دعوی کښې د دروغژن کیدلو دریم دلیل دے یعنی ستاسو دا دعوی هم غلطه ده چه تاسو د خپل قوم انبیاء منئ. دارنګے هغه وحی او کتاب هم منئ کوم چه په تاسو نازل شوے دے. که چرے ستاسو په خپلو انبیاؤ او خپلو کتابونو بانی ایمان وے نو د الله نبیان به مو ولے وژل؟ ځکه چه تورات خو د داسے کولو اجازت نه ورکوی

بلکه هغه خو د انبیاء علیهم السلام د اتباع حکم درکوی۔ د دینه دیهودیانو دایمان بالانبیاء او ایمان بالتوریة دعوے حقیقت معلوم شو۔ **۱۸۰** دا د یهودیانو د کذب په دعوی خلورم دلیل دے۔ یعنی حضرت موسیٰ علیه السلام تاسو ته د الله تعالیٰ د توحید واضح دلائل راوړل چه د الله پاک نه سوا هیڅوک کارساز نشته او د هغه نه سوا هیڅوک د عبادت او د پکار لائق نشته الاظهر ان یراد بالبینات الدلائل الدالة علی الوحدانیة فانه ادخل فی التقریع بما بعد۔ (روح ص ۵ ج ۱) ثُمَّ اتَّخَذْتُمُ الْعِجْلَ مِنْ بَعْدِهٖ — د بَعْدِهٖ د ضمیر مرجع د ماقبل جملے مضمون دے: ای بعد مجیئ موسیٰ علیه السلام بها (روح ص ۳۲۵ ج ۱) یعنی د حضرت موسیٰ علیه السلام د توحید واضح دلائلو سره راتللو نه پس تاسو سخے معبود او کارساز جوړ کړو او د هغه نه د رونه او منتونه غوښتل موهم شروع کړل۔ وَأَنْتُمْ ظَالِمُونَ۔ او د دے شرک او ګوساله پرستئ د وجے نه د دوی د دعویٰ توحید کذب ښکاره شو۔

وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَاقَكُمْ وَرَفَعْنَا فَوْقَكُمُ الطُّورَ خُذُوا

او کله چه مونږ واخستو اقرار ستاسو او پورته مو کړو ستاسو د پاسه کوه طور الله اونیسئ

مَا آتَيْنَاكُمْ بِقُوَّةٍ وَاسْمَعُوا ۖ قَالُوا سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا ۚ

هغه کوم چه مونږ تاسو ته درکړو زور سره او واورئ، وے ویل واورېدو مونږ او نه مو منلو

وَأُشْرِبُوا فِي قُلُوبِهِمُ الْعِجْلَ بِكُفْرِهِمْ ۚ قُلْ بِئْسَمَا

او اوڅکولے شو د دوی زړونو کښ محبت د دغه سخي په سبب د کفر د دوی الله اووایه چه بد دے خبره

يَأْمُرُكُمْ بِهِ إِيمَانُكُمْ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ ﴿٩٣﴾ قُلْ

زده کوی تاسو ته ایمان ستاسو، که چرے تاسو ایمان والا یئ الله اووایه

إِنْ كَانَتْ لَكُمُ الدَّارُ الْآخِرَةُ عِنْدَ اللَّهِ خَالِصَةً مِنْ

که چرے وی تاسو دپاره د اخرت کور الله سره خالص سوا د

دُونِ النَّاسِ فَتَمَنَّوُا الْمَوْتَ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ ﴿٩٤﴾ وَ

نورو خلقو نه نو تاسو د مرګ ارمان اوکړئ که چرے تاسو رښتیا وایئ او

لَنْ يَتَمَنَّوْهُ أَبَدًا بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ

هرګز به ارمان ونکوی د مرګ هیچرے هم په سبب د هغه ګناهونو چه لیږلی دی د دوی لاسونو او الله ښه پیژنی

بِالظّٰلِمِيْنَ ﴿۹۵﴾ وَلَتَجِدَنَّهُمْ اَحْرَصَ النَّاسِ عَلٰى حَيٰوةٍ

گنهګاران. او ته به اومومې دوی د ټولو خلقو زیات حرص کوونکی په ژوندون باندې

وَمِنَ الَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا ۚۛ يَوَدُّ اَحَدُهُمْ لَوْ يُعَمَّرُ اَلْفَ

او زیات حرص کوونکی د مشرکانو نه هم خوښه غواړي یو یو د دوی نه چه عمر بیامومي زر

سَنَةٍ ۚ وَمَا هُوَ بِمُزَحْزِحِهٖ مِنَ الْعَذَابِ اَنْ يُّعَمَّرَ ۭ

کاله او نه دے بچ کوونکے د عذاب نه د ومره اندازه ژوندون

وَاللّٰهُ بَصِيْرٌۢ بِمَا يَعْمَلُوْنَ ﴿۹۶﴾ ع

او الله وینی کوم څه چه دوی کوی ئے

نکات: ـ سے پنځمه وجه سے د انواع خمسه او قول باطل د تردید نه پس د مباهلے چیلنج.

موضح القرآن

ف۱ وئیل به ئے چه جنت ته به هیڅوک نه ځی سوا زمونږ نه او مونږ د پاره به عذاب نه وی. الله تعالیٰ اوفرمائیل چه یقیناً که چرے تاسو جنتیان یئ نو بیا د مرګ نه ولے ویریږی؟

فتح الرحمٰن

ف۱ د یهودیانو د تحریف نه علاوه دا خبره هم وه چه وئیل به ئے چه داخل به نشی جنت ته هیڅوک مګر یهود، او دا غلطه ده ځکه چه د جنتیانو علامه د الله پاک د ملاقات شوق لرل دی او دوی د مرګ نه ویریدل او هم دے معنے ته په دے ایت کښ اشاره ده. **ف۲** د یهودیانو بیهوده خبرے دا وے چه جبریل علیه السلام به ئے دشمن ګنړلو ځکه چه په مخکنو امتونو ئے عذابونه راوړی دی؛ او دا غلطه ده ځکه چه جبریل علیه السلام مامور دے د الله پاک له طرفه، د هغه خپل څه اختیار نشته.

تفسیر: ـ **۱۸۱** دا د یهودیانو د کذب د دعوی پنځم دلیل دے یعنی تورات هم تاسو بالکل نه دے منلے کله چه تورات ستاسو وړاندې پیش کړے شو نو تاسو د هغے د منلو او عمل کولو نه انکار اوکړو. نو د تورات د منلو د پاره مونږ ستاسو سرونو د پاسه کوه طور اودرولو. ستاسو سرونو باندې کوه طور اودرولو سره مونږ تاسو ته حکم درکړو چه د تورات احکام قبول کړئ او دے باندې مضبوطیا سره عمل اوکړئ. قَالُوْا سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا نو د ظالمانو خوژبے سره د منلو اقرار اوکړو لیکن عملی طور باندې ئے نافرمانی اوکړه او هغه اونه منلو یا واؤ مطلق جمع د پاره دے، سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا دواړه خبرے هغوی په مختلفو وختونو کښ کړے دے. سَمِعْنَا ئے هغه وخت وئیلی وُو چه هر کله غر د دوی په سرونو باندې اودرولے شو او عَصَيْنَا ئے هغه وخت اُووے کله چه غر لرے کړے شو.

۱۸۲ د اخلق تورات بانو د ایمان د غوړلو دعوی لری حال دا دے چه د کفر او شرک سره د دوی خاص محبت دے. هم دا وجه ده چه د سخی عبادت د دوی په زړونو کښی پوره ځائے کړے دے او د شرک او بُت پرستئ محبت د دوی په وینه او ګوښو کښی داسے جاری شوے دے لکه چه په کپړه کښی رنګ او بدن کښی اوبه داخلے شوے او ګډے وډے شوے وی. کما یتداخل الصبغ الثوب والشراب اعماق البدن. (بیضاوی ص ۱۳۰) د ګوساله پرستئ د ډیر زیات محبت نتیجه وه چه کله دوی ته د غوا حلالولو حکم ملاؤ شو نو دوی پکښی روستوولے اوکړو نو ایا تورات د شرک او بُت پرستئ اجازت ورکوی ؟

۱۸۳ که چرے واقعی تاسو مؤمنان یئ نو دا خو عجیبه ایمان دے چه دا سے بَد او خراب اَعمال کوئ تاسو نه غواړی یعنی د انبیاؤ وژل او شرک او ګوساله پرستی او د تورات انکار. دا ټول ناکاره اُمور او خراب اعمال د ایمان د مُقتضئ نه خلاف دی. لهٰذا ستاسو د خپلو پیغمبرانو علیهم السلام باندے نازل شوے وحی او هدایت باندے هم ایمان نشته.

یهودیانو ته د مُباهلے چیلنج

ځنګه چه تن صبا ځنے پیښه ورکړی نشین د خپلو مُریدانو په مخکښ دا دعوی کوی چه دوی چونکه د بزرګانو اولاد دے په دے وجه دوی او د دوی مُریدان خیر او عافیت سره ضروری جنت ته ځی. دغه شان د یهودیانو مُلایانو او پیرانو هم دعوه کوله چه جنت ته به دوی او د دوی تابعدار ځی. په دے وجه الله تعالیٰ د دوی د اوهام او تخیلاتو د رقمونو بیان او د دوی د باطل قول د تردید نه پس دوی ته د مُباهلے چیلنج ورکړے دے. دا چیلنج د دوی د دے اُوچتے دعوے په جواب کښی دے چه مونږ د الله پاک د غوره کړے شوو پیغمبرانو اولاد یو. په دے وجه مونږ د الله تعالیٰ خویندی او محبوب یو او جنت ته به زمونږ نه سوا بل څوک نه ځی. سبب نزولها قولهم لَنْ يَّدْخُلَ الْجَنَّةَ الخ وَ نَحْنُ اَبْنٰٓؤُا اللّٰهِ وَ اَحِبَّآؤُهٗ الخ وَلَنْ تَمَسَّنَا النَّارُ الخ (روح ص ۳۲۷ ج ۱، قرطبی ص ۳۳ ج ۱، معالم ص ۷۱ ج ۱، ابن کثیر ص ۱۲۷ ج ۱) نو د دے جواب مباهلے سره ورکړے شو.

۱۸۴ د الدَّارُ الْاٰخِرَةُ نه مُراد جنت دے او النَّاس نه مراد ټول هغه خلق دی کوم چه د دوی په دین باندے نه وُو. فَتَمَنَّوُا الْمَوْتَ. یعنی هره یوه ډله دے بلے ډلے د مرګ ارزو اوکړی یعنی د مرګ بد دُعائی اوکړی ځنګه چه په مباهله کښی کیږی: ای ادعوا بالموت علی الکاذب من الفریقین والمراد منه المباهلة کما صح عن ابن عباس رضی الله عنهما وغیره من السلف (جامع البیان ص ۱۶، قرطبی ص ۳۳ ج ۱) اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ o که چرے تاسو دے دعوی کښی رښتونی یئ چه جنت صرف ستاسو د پاره دے نو راشئ مباهله اوکړئ. د دے ایت په تفسیر کښی یو قول دا هم دے چه د دلته د تمنوا الموت نه د خپل مرګ تمنا مراد ده یعنی که چرے تاسو خپله دعوی کښی رښتونی یئ نو د الله تعالیٰ نه خپل مرګ اُوغواړئ ځکه چه د کوم سړی د یقین

وي چه هغه به جنت ته ځي نو د هغهٔ دِلي خواهش به دا وي چه هغه د دنیا د پریشانو نه خلاصے بیا مومي او اخرت طرفته منتقل شي او جنت کښې وخت تیروي۔

۱۸۵ یهودیانو ته د خپلو تیروشو بدو عملونو په بناء د دے خبرے یقین دے چه هغوی خپلو دے دعوو کښې دروغژن دي۔ د دے وجے نه به هغوی هیڅکله مباهلے ته تیار نشي او نه به د خپل مرګ تمنا اوکړي۔ اِنَّهُمْ فِیْ دَعْوَاهُمْ کَاذِبِیْنَ (معالم ص ۷۱ ج ۱، قرطبی ص ۳۳ ج ۱)۔ وَاللّٰهُ عَلِیْمٌۢ بِالظّٰلِمِیْنَ ۝ الله تعالیٰ ظالمانو لره ښهٔ پیژني او د دوي د ټولو بیرونو او فریبونو نه ښهٔ خبردار دے۔ ۱۸۶ تَجِدُ کښې خطاب نبي علیه السلام سره دے او هُمْ ضمیر د یهودیانو طرفته راجع دے د کوم ذکر چه راروان دے۔ یعنې اے پیغمبره صلی الله علیه وسلم! دوي به د مرګ نه هیڅکله اونکړي ځکه چه دا خلق د ژوند باندې ډیر حریصان دي او د ټولو نه زیات د دوي ژوند خوښ دے ځکه چه دوي ته د خپلو بدو عملونو په وجه خپل بد انجام معلوم دے۔ یا د دوي د حرص وجه دا وه چه په عوامو باندې د دوي د تقدس او اقتدار رعب پروت وو او د ننذرانو نیاز ذریعے حسابه آمدنۍ سلسله جاري وه۔ د دے مفت عیش او عشرت د وجے نه هغوي غوښتل چه همیشه ژوندي وے۔

۱۸۷ من حیث المعنیٰ د دے عطف اَلنَّاس باندې دے یعنې یهودیان د مشرکانو نه هم زیات حریصان دي په ژوند باندې ځکه چه مشرکانو ته د اخرت د عذاب، ځمو ویره نهٔ وه چه هغوی د اخرت منونکي نهٔ وو او نهٔ د یهودیانو د ملایانو او پیرانو پشان هغوی ته د نذر او نیاز آمدنونه وصول کیدل۔ یَوَدُّ اَحَدُهُمْ لَوْ یُعَمَّرُ اَلْفَ سَنَةٍ ۚ د هُمْ ضمیر هم د یهودیانو ته راجع دے۔ دا د دوي د زیات حرص بیان دے۔ یعنې د دوي نه هر یو دا آرزو کوي چه هغهٔ ته زر کاله ژوند ملاؤ شي۔ وَمَا هُوَ بِمُزَحْزِحِهٖ۔ مَا نافیه دے هُوَ د دے اسم او بِمُزَحْزِحِهٖ ئے خبر دے او اَنْ یُّعَمَّرَ د مُبتداء بیان دے یعنې د اوږد عمر ورکیدے کیدل د عذاب نه هغه نشي بچ کولے ځکه چه د زرو کالو نه پس هم آخر مرګ دے۔ وَاللّٰهُ بَصِیْرٌۢ بِمَا یَعْمَلُوْنَ ۝ الله تعالیٰ د دوي هر حرکت ویني او د دوي د ټولو ظاهري او باطني اعمالونه خبر دے۔ نو خامخا به دوي ته د دوي د اعمالو سزا ورکوي۔

د یهودیانو د شبهاتو ازاله

د افهام او تفهیم د دوران کښې د مخاطب په ذهن کښې د بعضو شبهاتو پیدا کیدل ضروري وي۔ تر څو چه د دغه شبهاتو ازاله اونکړے شي تر هغے وخته پورے د مخاطب زړهٔ نه مطمئن کیږي۔ مختلفو اوږدو کوعاتو کښې د یهودیانو د پوهولو د پاره او تبلیغ لاره باندې راوستلو د پاره دا افهام او تفهیم مسکنه ذریعے اختیار کړے شوي۔ اوس په آخر کښې د دے شبهاتو جواب ورکولے شي۔

اوله شبهه:- هر کله چه یهودیانو ته معلومه شوه چه نبي علیه السلام ته وحي راوړونکے

جبرئیل علیه السلام دے نو وے وئیل چه جبرئیل فرښتے خو همیشه دعذاب او هلاکت او قحط سالئ پیغام راوړے دے۔ دا رنګے هرکله چه بخت نصر په بیت المقدس بانډې حمله اوکړه هغه وخت جبرئیل علیه السلام وو چه دهغے ظالم بادشاه امداد ئے اوکړو او هغه یهودیان او بیت المقدس تباه برباد کړل۔ دغه شان دا جبرئیل زمونږ پټ رازونه محمد ﷺ ته بیانوی نو دا فرښته زمونږ دشمنه ده۔ (بحر ص ۳۱۹ ج ۱، روح ص ۳۳۱ ج ۱) چونکه د توحید پیغام دے فرښتے راوړے دے نو مونږ ددے منلو ته هرګز تیار نه یو لیکن که چرے د یٰاَیُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوْا رَبَّكُمْ پیغام یٰبَنِیْۤ اِسْرَآءِیْلَ اذْكُرُوْا نِعْمَتِیَ، وَلَا تَشْتَرُوْا بِاٰیٰتِیْ ثَمَنًا قَلِیْلًا او وَلَا تَلْبِسُوا الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ او نور احکام میکائیل فرښتے راوړے وے نو مونږ به هغه خوشالئ سره قبول کړے وے۔ دا اګرچه په حقیقت کښې صرف د ضد په بنیاد وو او د نه منلو یوه کمزورے بهانه وه لیکن ناصح حکیم جل مجده ددے هم یو ډیر مضبوط او معقول جواب ورکړے دے۔

دویمه شُبهه

هرکله چه الله تعالیٰ یهودیانو ته بیا بیا اوفرمائیل چه محمد ﷺ او هغوی بانډې نازل شوے کتاب خو ستاسو نوے مسئله نه بیانوی بلکه د هغه توحید پیغام پیش کوی کوم چه حضرت موسیٰ علیه السلام د تورات په ذریعه پیش کړو، او د هغه نه پس راتلونکو په زرګونو پیغمبرانو علیهم السلام د هغے تبلیغ او اشاعت کړے وو نو دے بانډې یهودو عالمانو اووئیل چه مونږ دا نه منو چه محمد ﷺ او قرآن کومه نظریه پیش کړے ده بعینه د تورات او زمونږ د پیغمبرانو هم دا نظریه وه ځکه چه زمونږ په اورادو او وظائفو کښې خو د غیر الله د راپلو اجازت موجود دے او ددے دلیل دا دے چه حضرت سلیمان علیه السلام (العیاذ بالله) غیر الله ته اواز کړلو، او ددے وجه نه ئے په انس او جن بانډې حکومت قائم وو۔ که چرے په تورات کښې ددے اجازت نه وے نو هغوی به هرګز دا سے نه کولے او د عوامو د ګمراه کولو د پاره به ئے هغوی ته د جادو (کتابونه) ښودل کوم چه شیطانانو د خپل ځان نه جوړ کړی وو او د حضرت سلیمان علیه السلام په ذمه ئے لګولی وو (کبیر ص ۶۲۶ ج ۱) یهودیانو به دغه کتابونه خلقو ته ښکاره کړل او وئیل به ئے چه اوګورئ دا د حضرت سلیمان علیه السلام خاص رونامچے دی او دیکښې ئے غیر الله ته اواز کړل لیکلے دی۔

دریمه شُبهه

دریمه شُبهه د دوی دا وه چه که چرے غیر الله ته اواز کول جائز نه وو نو الله تعالیٰ به دوه مقربے فرښتے هاروت او ماروت د جادو ښودلو د پاره دُنیا ته ولے رالیږلے؟ حال دا دے چه په جادو کښې غیر الله ته اوازونه کولے شی او د خبیثو روحونو نه استمداد او استعانت غوښتلے شی۔ ددے زیاتی تحقیق وړاندې راروان دے۔ نو ددینه معلومه شوه چه غیر الله ته اواز کول او د غیر الله نه امداد غوښتل جائز دی۔ اوس ترتیب سره د درے واړو شبهاتو جوابونه ورکولے شی۔

قُلْ مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِّجِبْرِيْلَ فَإِنَّهٗ نَزَّلَهٗ عَلٰى

تہ أووایہ خوک چہ دشمن شو د جبرئیل حٰلہ نو هغهٔ خو نازل کړے دے دا کلام ستا پر

قَلْبِكَ بِإِذْنِ اللّٰهِ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ وَهُدًى

زړهٔ باندې د الله په حکم چه رښتونے بیانوونکے دے د هغه کلام کوم چه ددهٔ نه مخکښې دے او لارہ ښائی

وَّبُشْرٰى لِلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٩٧﴾ مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِّلّٰهِ وَمَلٰٓئِكَتِهٖ

او زیرے ورکوی ایمان والو ته۔ خوک چه دشمن شو د الله او د هغهٔ د فرشتو

وَرُسُلِهٖ وَجِبْرِيْلَ وَمِيْكٰىلَ فَإِنَّ اللّٰهَ عَدُوٌّ لِّلْكٰفِرِيْنَ ﴿٩٨﴾

او د هغهٔ د پیغمبرانو او د جبرئیل او د میکائیل الله نو الله دشمن دے د دغه کافرانو ی

وَلَقَدْ أَنْزَلْنَآ إِلَيْكَ اٰيٰتٍۭ بَيِّنٰتٍ ۚ وَمَا يَكْفُرُ بِهَآ إِلَّا

او مونږ نازل کړل ستا طرفته ایتونه روښانه او انکار ئې نکوی د دې نه لیکن

الْفٰسِقُوْنَ ﴿٩٩﴾ أَوَكُلَّمَا عٰهَدُوْا عَهْدًا نَّبَذَهٗ فَرِيْقٌ

کافران هغه چه ګمراه او نافرمانه دی ۔ ایا چه کله اوتړی څوک وعده نو غورزوی به هغې له یو جماعت

مِّنْهُمْ ۚ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿١٠٠﴾ وَلَمَّا جَآءَهُمْ

د دوی نه الله بلکه د دوی نه اکثر یقین نهٔ کوی۔ او هر کله چه راغے دوی ته

رَسُوْلٌ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ مُصَدِّقٌ لِّمَا مَعَهُمْ نَبَذَ فَرِيْقٌ

رسول د الله پاک له طرفه تصدیق کوونکے د هغه کتاب کوم چه د دوی سره دے نو او غورزولو یو جماعت

مِّنَ الَّذِيْنَ أُوْتُوا الْكِتٰبَ ۙ كِتٰبَ اللّٰهِ وَرَآءَ ظُهُوْرِهِمْ

د أهل کتابو نه د الله کتاب د خپلو شاګانو وروستو

كَأَنَّهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿١٠١﴾

لکه چه هغوی آدو پیژندلو نهٔ۔

نکات: ۔ دمباحثے چیلنج نه پس په آخر کښې د دعوٰی توحید پاره کښې د یهودیانو د دریو شبها تو جواب۔ د اولے شبهے جواب دے اوله شبهه دا وه چه د توحید دعوٰی راوړونکے

جبرئیل زمونږ دشمن دے. څه دتردید اوله وجه څه دویمه وجه څه دریمه وجه څلورمه وجه څه پنځمه وجه څه زجر اول څه زجر ثانی څه دویمے شبهے جواب - دویمه شبهه دا وه چه حضرت سلیمان علیه السلام نه غیر الله ته ندا او زکول ثابت دی. دینه معلومیږی چه دا د توحید دعوی د الله پاک له طرفه نه ده.

د اولے شبهے جواب

۱۸۸ مَنْ شرطیه دے او ددے خبر محذوف دے ای فعداوته لاوجه لها او ما اشبه هذا التقدیر.

(روح ص ۳۳۲ ج ۱) ای من کان عدوا فلا انصاف له (بحر ص ۳۱۸) نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته حکم ملاؤ شو چه تاسو ددوی د شبهے جواب ورکړئ چه څوک د حضرت جبرئیل دشمن وے دهغه دشمني بے وجه ده او په انصاف بانډے مبنی نه ده. روستو ددے پنځه علتونه بیان شوی دی. فَاِنَّهٗ نَزَّلَهٗ. دا د محذوف جزاء اولنے علت دے یعنی جبرئیل سره دشمني کول خو بیخی بے معنے او غیر منصفانه حرکت دے ځکه چه هغوی چه کوم څه ستاسو په زړه بانډے نازل کړی دی هغه دخپل ځانه او خپلے خوښے سره نه دی نازل کړی بلکه هغه خو د الله تعالیٰ کلام دے او هغوی د الله تعالیٰ حکم سره نازل کړے دے. په دے وجه حضرت جبرئیل سره دشمني سراسر بے وقوفی ده. مُصَدِّقًا لِّمَا بَیْنَ یَدَیْهِ - دا د محذوف جزاء دویم علت دے او مُصَدِّقًا د نَزَّلَهٗ ضمیر منصوب نه حال دے یعنی کوم کتاب چه حضرت جبرئیل د الله حکم سره په حضرت محمد صلی الله علیه وسلم بانډے نازل کړے دے هغه هم څه نوے او نا اشنا نه دے بلکه د اولنو کتابونو د بنیادی او اصولی مضامینو تصدیق کوی او هغه دعوت پیش کوی کوم چه ددے نه وړاندے پخپله تورات پیش کړے وو. هُدًى وَّبُشْرٰى لِلْمُؤْمِنِیْنَ ۞ دواړه مُصَدِّقًا بانډے معطوف دی. دلته د قرآن دوه صفتونه نور هم بیان شوی دی. یو دا چه نیغه لار ښائی او د کفر او شرک د تیارو نه راویستلو سره د ایمان او توحید طرفته راوستل کوی. دویم دا چه هغه منونکو ته په اخرت کښ د همیشه والے زیرے اوروی نو دداسے کتاب راوړونکی سره دشمني سراسر بے انصافی او بے وقوفی ده.

۱۸۹ مخکنو ایتونو کښ د دلائلو سره د عداوت جبرئیل غیر معقولیت بیان کړے وو. اوس دے ایت کښ د جبرئیل او نورو فرشتو سره د دشمني ساتونکو انجام بیان کړے دے نو دا د عداوت جبرئیل د غیر معقولیت پنځم دلیل دے. عَدُوًّا د عداوت نه اسم دے. او عداوت د محبت او دوستئ ضد دے او ددے نه مراد هر هغه فعل دے کوم چه د دوستئ او محبت منافی وی. د ټولو فرشتو ذکر کولو نه پس د جبرئیل او میکائیل تخصیص په باقی فرشتو بانډے ددوی د فضیلت او برتری ظاهرولو د پاره دے چه یهودیانو ددے دواړو ذکر کړے وو. او ددے په سبب دا ایت نازل شو. لان الیهود ذکروهما ونزلت الآیة بسببهما (روح ج ۱ ص ۳۳۳). مَنْ شرطیه دے او جواب شرط محذوف دے. تقدیره فهو کافر مجزی باشد العذاب (روح ص ۳۳۳ ج ۱) یعنی څوک چه د الله دهغه د فرشتو او رسولانو خصوصاً د جبرئیل او میکائیل دشمن وی هغه کافر دے او هغه ته به سخته سزا ورکولے شی - فَاِنَّ اللّٰهَ عَدُوٌّ

لِّلْكٰفِرِيْنَ ۝ دا جواب د شرط محذوف علت دے یعني د دوی د سزا علت دا دے چه الله تعالی د کافرانو دشمن دے او د دوی د کفر په وجه به دوی ته سزا ورکوی۔ د دے نه معلومه شوه چه د الله تعالی بندګانو سره دشمني د الله د ناراضګئ او غضب سبب دے۔ ورانې سره د اهل کتابو د پاره زجر او تنبیه ده۔

۱۹۰ مونږ تا سوته داسے واضحه دلایل او داسے ښکاره نښانے درکړي دي چه د هغه انکار صرف هغه خلق کولے شي چا چه د ضد او عناد په وجه سره فسق او فجور خپله شیوه او عادت جوړکړے دے۔ المتمردون في الكفر الخارجون عن الحد ودا (روح ص ۳۳۳ ج ۱) دا یهودیانو په ضد او عناد: تمرد او سرکشئ کښې دومره لرے تللے دي چه د داسے واضحه دلائلو نه بے خطرے انکار کوی۔ **۱۹۱** د دوی د طغیان او عصیان دا حال دے چه دوی کله هم وعده کړے ده نو هغه ئے نه ده پوره کړے بلکه د دوی کښې همیشه یو ډیرلوے جماعت وعده خلافئ ته ملا تړلے ده۔ ګویا چه وعده خلافی، غداری، نافرماني د دوی زوړ عادت او قومي خصوصیت دے۔ بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ۝ بلکه د دوی اکثریت په خپل کتاب باندي هم مخلصانه ایمان نه لرلو صرف منافقانه طور باندې زباني اقرار ئې وو لیکن د دوی عمل د هغے خلاف وُو۔ (کبیر ص ۳۳۳ ج ۱) نو د چا د باطنی پلیتئ چه دا حال وي چه خپل کتاب او رسول هم نه مني نو هغه به د بل قوم نبي او د هغه کتاب څنګه اُومني؟

دَ دویم شبهے جواب

۱۹۲ د رسول نه مُراد حضرت محمد ﷺ دے هرکله چه دے اسرائیلو ته د الله پیغمبر داسے پیغام سره راغے چه د حضرت موسیٰ علیه السلام او تورات تصدیق کوي او کوم د توحید دعوت او د دین اصول چه هغه بیان کړي دي د هغے تائید او توثیق کوی: صدق ما فيها من قواعد التوحيد و اصول الدين واخبار الامم والمواعظ والحكم (روح ص ۳۳۰ ج ۱)۔ نَبَذَ فَرِيْقٌ مِّنَ الَّذِيْنَ دا جواب د لمّا دے او د اَلَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ نه مُراد هم دا یهود دي او د كِتٰبَ اللّٰهِ نه مُراد تورات دے او دا مفعول دے د نَبَذَ یعني هرکله چه د الله رښتونے پیغمبر د تورات تصدیق کوونکے دوی ته راغے نو دے تورات باندې د ایمان دعوے دارو د تورات احکام اُونه منل او انکار ئے ترے اوکړو او د دے پروائے اُونکړه۔ تورات کښې د دے اخري نبيؐ د ظهور پیشنګوئی او د دهٔ صفات او علامات موجود وُو او تورات کښې دا حکم هم موجود وُو چه کله د غه پیغمبرؐ ظاهر شي نو ایمان راوړئ په هغهٔ باندې او د یهودو عالمانو نه بنهٔ معلومه وه چه تورات کښې د کوم پیغمبر ذکر دے هغه هم دا دے لیکن د دے باوجود ئے اُونه منلو او د تورات حکم ئے شا ته اُوغورځولو۔ كَاَنَّهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝ هغوی د تورات د حکم نه داسے بے پرواهي اُوکړه او د داسے ئے رد کړو لکه چه دا علم ورته بالکل نه وُو چه هغه د الله کتاب دے۔

وَاتَّبَعُوْا مَا تَتْلُوا الشَّيٰطِيْنُ عَلٰى مُلْكِ سُلَيْمٰنَ ۚ وَمَا

او او لګیدل هغے پسے کوم چه لوستل شیطانانو د سلیمانؑ د بادشاهئ په وخت ۱۹۳ او کفر

كَفَرَ سُلَيْمٰنُ وَلٰكِنَّ الشَّيٰطِيْنَ كَفَرُوْا يُعَلِّمُوْنَ النَّاسَ

اُونکړو سلیمان ﷺ لیکن شیطانانو کفر اوکړو چه ښودلو به ئے خلقو ته

السِّحْرَ ۗ وَمَآ اُنْزِلَ عَلَى الْمَلَكَيْنِ بِبَابِلَ هَارُوْتَ وَ

جادو او هغه یے اولګیدل کوم چه نازل شو دوه فرشتو باندې د بابل په ښار کښې چه د هغوی نومونه هاروت او

مَارُوْتَ ۭ وَمَا يُعَلِّمٰنِ مِنْ اَحَدٍ حَتّٰى يَقُوْلَآ اِنَّمَا نَحْنُ

ماروت دی ﷺ او نه به ښودل هغه دوه فرشتو چا ته ترڅو چه به ئے اُونه ویل چه مونږ خو ازمیښت

فِتْنَةٌ فَلَا تَكْفُرْ ۭ فَيَتَعَلَّمُوْنَ مِنْهُمَا مَا يُفَرِّقُوْنَ بِهٖ

دپاره یو نو مه کافر کیږی ﷺ بیا به ئے د دوی نه زده کړلو جادو کوم سره چه به ئے جدائی راوستله

بَيْنَ الْمَرْءِ وَزَوْجِهٖ ۭ وَمَا هُمْ بِضَاۗرِّيْنَ بِهٖ مِنْ

د سړی او د هغه د ښځے په میینځ کښې ﷺ او هغوی به ئے سره نقصان نه شو کولے د

اَحَدٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ۭ وَيَتَعَلَّمُوْنَ مَا يَضُرُّهُمْ وَلَا

هیچا بغیر د الله د حکم نه او زده کوی هغه څیز چه نقصان اوکړی د دوی او فائده

يَنْفَعُهُمْ ۭ وَلَقَدْ عَلِمُوْا لَمَنِ اشْتَرٰىهُ مَا لَهٗ فِي الْاٰخِرَةِ

اُونکړی ﷺ او هغوی ته ښه معلومه ده چه چا جادو خوره کړو نشته هغه دپاره اخرت کښې

مِنْ خَلَاقٍ ڜ وَلَبِئْسَ مَا شَرَوْا بِهٖٓ اَنْفُسَهُمْ ۭ لَوْ كَانُوْا

څه حصه او ډیر بد څیز دے کوم څیز بدله کښې چه هغوی خرڅ کړل خپل ځانونه ﷺ که چرے دوی

يَعْلَمُوْنَ ١٠٢

پوهیدلے۔

فتح الرحمٰن :- ف۱ د یهودیانو نورے بیهوده خبرے داوے چه سحر به ئے کولو او حضرت سلیمان علیه السلام به ئے ساحر گنړلو او دا په سلیمان علیه السلام باندې افتراء وه۔ او دے ایت کښې اشاره د هم دے معنے ته ۱۲

تفسیر :- ۱۹۳ د شیاطین نه سرکشه پیریان او د ابلیس مریدان او شاګردان مراد دی کوم چه خلق ګمراه کوی۔ والمتبادر من الشیاطین مردة الجن وهو قول

الاکثرین. (روح ص ۳۳۷ ج ۱) دے یهودو تورات کښې آخری نبی بانې د ایمان راوړلو حکم نه انکار اوکړو بلکه هغوی خو د تورات دعوت توحید هم پائمال کړو او هغه ئے پریښودو او د جادو او سحر تابع شول کوم چه د حضرت سلیمان علیه السلام په زمانه کښې شیطانانو د خلقو د گمراه کولو دپاره دروغ جوړ کړی وُو. هر کله چه یهودیانو د قرآن د دعوت په مقابله کښې د غیرالله د رابللو د جواز ثابتولو دپاره تورات پیش کړو. د توحید مسئله بانې د قرآن سره متفق شو نو اوس یهودیانو د خپلې شرمندگئ ختمولو دپاره د جادو هغه کتابونه راوویستل کوم چه شیطانانو لیکلی وُو او د حضرت سلیمان علیه السلام او د هغهٔ د مؤمن وزیر آصف بن برخیا او هاروت او ماروت فرښتو نومونو سره مشهور کړی وُو او نسلاً بعد نسل موجوده یهودو ته را رسیدلی وُو. قال السُّدی عارضت الیهود محمدًا صلی الله علیه وسلم بالتوراة فاتفقت التوراة والقرآن فنبذوا التوراة واخذوا بکتاب آصف وسحر هاروت وماروت (قرطبی ص ۴۱ کبیر ص ۶۳۵ ج ۱، نیسابوری ص ۳۴۱ ج ۱).

۱۹۳ په جادو کښې چونکه غیرالله ته آوازونه کولے شي، په دے وجه دا سے جادو صریح شرک او کفر دے. کله چه یهودیانو د جادو او سحر کتابونه راوړل او وے وئیل اوگورئ دا د حضرت سلیمان علیه السلام خاص لیکلے شوی دی او هغهٔ به جادو کولو او غیرالله ته یه ئے آوازونه کولو بلکه د دے په بناء به هغه په پیریانو باندې حکومت کولو. نو الله تعالیٰ د یهودیانو د دے دعوے تکذیب او تردید اوکړو، د حضرت سلیمان علیه السلام د کفر او شرک نه ئے د براءت اعلان اوکړو چه سلیمان پیغمبر خو دا سے کفر او شرک هیڅکله نه وُو کړے کوم چه دا خلق د هغهٔ په ذمه بانې لگوی وَلٰکِنَّ الشَّیٰطِیْنَ کَفَرُوْا. لکن د ماقبل نفی او د مابعد د اثبات دپاره راغلے. یعنی حضرت سلیمان علیه السلام دا (جادو) کفر او شرک نه وُو کړے بلکه دا ټول شیطانی کارنامے دی. د حضرت قتادهؒ بیان دے چه د حضرت سلیمان علیه السلام په زمانه کښې شیطانانو یو کتاب تیار کړو چه په هغې کښې جادو او شرک وُو او په خلقو کښې ئے د هغې اشاعت اوکړو او هغې کښې لیکلے شوے جادو به ئے خلقو ته لیکلو. هر کله چه حضرت سلیمان علیه السلام ته د دے علم اوشو نو هغهٔ د غه کتابونه حاصل کړل او د خپل تخت لاندے ئے ښخ کړل. کله چه هغوی وفات شول نو جنّاتو هغه کتابونه بیا راوویستل او اوس ئے په خلقو کښې دا مشهوروّل شروع کړل چه دا د حضرت سلیمان علیه السلام مخصوص لیکلے شوے او د هغهٔ خاص علمی خزانه ده کومه چه ئے زمونږ نه پټه کړے وه او د دغو تحریرونو په شروع کښې د دے خبیثانو دا الفاظ زیات کړل، هذا ما کتب آصف بن برخیا للملک سلیمان بن داؤد من ذخائر کنوز العلم. یعنی دا د علم د ذخیرو نه هغه خزانه ده کومه چه آصف بن برخیا د حضرت سلیمان علیه السلام د حکم سره لیکلے وه. جنّاتو دغه کتابونه راوویستل او خلقو کښې ئے خور وّل او هغوی ته به ئے زده کول (هذا کله من ابن جریر ص ۳۴۹ ج ۱) په مزه مزه دا تحریرونه او کتابونه د نبی علیه السلام د زمانے یهودیانو ته راورسیدل. او بعض روایتونو کښې دی چه د حضرت سلیمان علیه السلام په زمانه کښې به شیطانان آسمان ته نزدے لاړل د آئنده کارونو متعلق به ئے د فرښتو خبرے اوریدلے او په هغې کښې

په ئے د تیل شان نه په سوؤنو دروغ یو ځائے کړل او کاهنانو او نجومیانو ته به ئے بیان کړل او هغوی به دا تهولے مخبرے کتابونو کښ لیکلے او خلقو کښ به ئے خورؤلے او ورته به ئے ښودلے او چونکه څنے خبرے به رینتیا هم وے، په دے وجه به هغوی په خلقو کښ مشهور وه کړے وے چه پیریان غیبو باندے خبردار دی او دا د حضرت سلیمان علیه السلام خاص علم دے او د دے علم په ذریعه هغوی جن او انس او هوا تابع کړخولی دی. (مدارک ص ۵۱ ج ۱، نیشاپوری ص ۴۳۴ ج ۱)
کله چرے دا روایت د نظر وړاندے بوسا تلے شي نو د شیاطین نه شیاطین الجن والانس دواړه مراد کیدل پکار دی ځکه چه د دے کار شروع خو شیاطین الجن کړے وه لیکن خلقو د دے تعلیم او اشاعت د شیاطین الانس په ذریعه اوشو.

د سحر تحقیق

دے ایت کښ جادو ته کفر ویلے شوے دے. په دے وجه دلته د جادو نه د دوایانو په ذریعه یا د لاس صفایئ سره عجیبه او نا اشنا کار ښکاره کول نه مراد نه دی ځکه چه بعض خلق دے باندے هم د جادو اطلاق کوی او دا کفر نه دے بلکه د دے نه د جادو هغه تهول قسمونه مراد دی کوم کښ چه غیر الله ته اواز کیږی او د ارواح خبیثه نه استعانت کولے شی. او شرکیه وظائف پکښ لوستلے شي. ویستعان فی تحصیله بالتقرب الی الشیطان بارتکاب القبائح قولا کالرقی التی فیها الفاظ الشرک الخ (روح ص ۳۳۸ ج ۱) شاه عبدالعزیز رحمة الله علیه فرمائی چه د جادو دیارلس قسمونه دی او د تهولو خلاصه غیر الله ته آواز کول، غیر الله قادر او عالم الغیب کنړل دی. د دے نه پس فرمائی چه د جادوګر سزا قتل دے او د قتل نه روستو به نه هغه باندے جنازه کولے شي او نه به د مسلمانانو قبرستان کښ ښخولے شی. حضرت شیخ رحمه الله فرمائی، "اے دوره! دعا لغیر الله چه هغے باندے عجیبه اثار ظاهریږی، سحر دے. همدا حقیقت دے په الفاظو د دعوتِ قمری کښ ای مرسل الرحمة ومنزل النعمة او په دعوت د عطارد کښ: "کل ما حصل لی من الخیر فهو منك، او د ارنګے فرمائی: ایها العالم بخفیات الامور والمطلع علی السرائر" او په تفسیر عزیزی کښ دی: "کله چرے په سحر قولی یا فعلی کښ چه موجب د کفر وی لکه ذکر کول د نومونو د بتانو او ارواح خبیثه د اسے تعظیم سره کوم چه د رب العزت سره ښائی لکه اثبات د عموم علم او قدرت او غیب دانئ، او مشکل کشایئ یا ذبح لغیر الله وغیر ذلک واقع شي نو بیشکه دا سحر کفر دے او د دے صاحب به مرتد ګرځی.
انتهی مختصرا فی التوسل لابن تیمیه ص ۱۳۰، استغاثه لغیر الله و اقسام لغیر الله حرام است."
د غه شان امام ابن تیمیه په "قاعده جلیله" کښ فرمائی چه جادو کښ غیر الله ته آواز کول لازم دی."
څرنګه چه یهودیانو د الله پاك د معصوم پیغمبر حضرت سلیمان علیه السلام په ذمه د غیر الله را بللو پشان شرك لګولے وو او په ثبوت کښ ئے غیر مستند کتابونه پیش کړی وُو، د ارنګے ن صبا هم

د قرآن د خالص توحید مقابله کښې شرک خوښونکو پیرانو او بدعتي مُلایانو د خپلو شرکیه اعمالو او عقائدو او ویدو د ماتو ثابتولو دپاره د امام ابوحنیفهؒ، شیخ عبدالقادر جیلانیؒ، امام شعرانیؒ او نورو بزرګانو دین نومونه اخلي او وائي چه دے حضراتو به هم د غیرالله د پلنے نه صرف اجازت ورکولو بلکه پخپله به ئے هم رابللو او ثبوت کښې د "قصیدهٔ نعمانیه، قصیدهٔ غوثیه، لطائف المنن او بهجة الاسرار" پشان غیر مستند او بے سرو پا کتابونه پیش کوي حال دا دے چه دا بزرګان دین د دے قسمه خرافاتو نه بالکل بري وُو. که چرے د قرآن په مقابله کښې دا سے کتابونه او عبارتونه بزرګان دین ته منسوب کړے شي او پیش کړے شي نو که چرے واقعي هغه بزرګ او وَلیُ الله وي لکه چه مذکوره بزرګان دي نو د دے نسبت نه صفا انکار ریکار دے.

څرنګه چه وضاعینو او دروغژنو د حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم په ذمه د دروغو احادیث لګولي دي د غسے د توحید غدارانو او د سنتو باغیانو د ا د څانه جوړ شوے خرافات د دے بزرګانو په ذمه لګولي دي. او که چرے د دے عبارتونو نسبت د دے بزرګانو طرفته صحت سره ثابت شي نو دیکښې د تاویل اوکړے شي او د دے د داسے محل بیان کړے شي او داسے تاویل د اوکړے شي کوم چه د شرعي قواعد و موافق وي او که چرے په الفاظو کښې د تاویل ګنجائش نه وي نو اُو دِ وئیلے شي چه کلمات به د هغه سړي نه د غلبهٔ حال په حالت کښې صادر شوي وي په کوم کښې چه هغه معذور وه د ے. بهرحال د قواعدِ شرعیه نه خلاف د هیچا وینا د قبلیدو قابله نهٔ ده خوا ه هغه پیرلوئے وَلي او امام ولے نهٔ وي. شریعت د اماما نو او ولیانو تابع نهٔ دے بلکه امام او وَلي د شریعت تابع دے.

۱۹۵ وَمَآ اُنۡزِلَ کښې مَا موصوله دے نافیه نهٔ دے لکه چه د بعضو نه غلطي شوې ده. او دا عطف په مَا تَتۡلُوۡا دے یعني یهودیانو د تورات پیغام پریښودو او د شیطانی توکو او هاروت ماروت تابعداري ئے شروع کړه. دلته د اُنۡزِلَ نه مُراد وحي نهٔ ده بلکه د الهام په ذریعه تعلیم مُراد دے: الانزال بمعنی الالهام والتعلیم. (معالم ص ۷۵ ج ۱) اَلۡمَلَکَیۡنِ کښې مشهوره قرأت د لام فتحه سره دے. القراءة المشهورة بفتح اللام (کبیر ص ۶۵۱ ج ۱) دے بناء بانیے د محققینو رائے دا ده چه هاروت او ماروت دواړه فرشتے وے کوم چه الله تعالٰی د خلقو د ازمیښت او امتحان دپاره زمکے ته رالیږلے وے. ذهب کثیر عن السلف الی انهما کانا ملکین من السماء وانهما انزلا الی الارض (ابن کثیر ص ۱۳۷ ج ۱) وهذا الملکان انزلا لتعلیم السحر ابتلاء من الله تعالٰی للناس (روح ص ۳۴۰ ج ۱)

د دے فرشتو زمکے ته د رالیږلو د وجے متعلق محققینو عالمانو لیکلي دي چه د غه زمانه کښې د سِحر او جادو عام شهرت وُو او جادو ډیر زیات وُو. بعضِ وخت به جادو ګرو د نبوت دعوی کوله او د جادو عجیبه او ناآشنا کارونه ئے اوکړو او خلقو بانې به ئے خپل د دروغو نبوت اُومنلو. جادوګرو به خلقو ته داسے لوبے ښودلے چه هغوی به حیران پاتے شول. د سفلی عملیاتو او د جادو د توټکو نه به خلق دومره متاثره شول چه هغوی به ئے

حق اُوګنړل او په ذهنونو کښې به ئے داسے پریشانی پیدا شوه چه د جادو او معجزے په مینځ کښې به ئے فرق نشو کولے۔ دغسے به د جادو په ذریعه ګمراهي ورځ په ورځ خوریدله. خلقو به انبیاء علیهم السلام، د الله نیکان بندګان او جادوګران یو شان ګنړل۔ نو الله تعالیٰ د حق او باطل فیصله کولو دپاره او د جادو او معجزے مینځ کښې د فرق قائمولو دپاره دغه فرښتے د جادو د حقیقت نه خبر کړے او زمکے ته ئے رالیږلے دپاره د دے چه خلق د جادو او معجزے په حقیقت او مینځ کښې فرق اُوپیژنی او د جادوګرو د مکر او فریب نه بچ شی۔

(من الکبیر ص ۶۵۲ ج ۱ والروح ص ۳۴۰ ج ۱ والبحر ص ۳۲۹ ج ۱)

یهودیانو د هاروت او ماروت متعلق عجیبه او نا اشنا دروغ قصه مشهوره کړے وه چه د هغے خلاصه دا ده چه الله تعالیٰ دا دوه فرښتے د ازمینت دپاره بشری لوازمات ورکولو سره زمکے ته رالیږلے وے نو هغوی د یوے کنجرے زهره غولولو سره بُت ته سجده اُوکړه او شراب ئے اُوڅکل او یو کس ئے په ناحقه اُووژلو او د زهره کنجرے سره ئے زنا اُوکړه۔ د دے نه پس ئے زهره کنجرے ته اسمِ اعظم اُوښودلو او هغه د دے په ذریعه اسمان ته اُوختله نو الله تعالیٰ هغه زهره ستورے اُوګرځولو۔ هاروت او ماروت د خپلے ګناه په وجه اسمان ته لانړل او هغوی اُلټه زوړند کړے شول او عذاب ورکولے شی۔ تعجب دے چه بعض مفسرینو دا دروغ قصه بلا نکیر په خپلو کتابونو کښې لیکلے ده لیکن محققینو مفسرینو ئے باندے سخت انکار کړے دے۔ امام رازیؒ فرمائی: واعلم ان هذه الروایة فاسدة مردودة غیر مقبولة لانه لیس فی کتاب الله ما یدل علی ذلك بل فیه ما یبطلها. (کبیر ص ۶۵۲ ج ۱)

قرطبیؒ لیکی: قلنا هذا کله ضعیف وبعید عن ابن عمر وغیره لا یصح منه شیء (قرطبی ص ۵۲ ج ۲)

امام ابوحیانؒ لیکی: وهذا کله لا یصح منه شیء والملائکة معصومون لا یعصون الله ما امرهم ویفعلون ما یؤمرون (بحر ص ۳۲۹ ج ۱) علامه خازنؒ لیکی: فبان بهذا الوجوه رکة هذه القصة ۔ (ص ۷۰ ج ۱) علامه سید محمود آلوسی حنفیؒ د امام رازیؒ پورته ذکر شوے قول نقل کولو سره د علامه عراقیؒ نه نقل کوی: ونص الشهاب العراقی علی ان من اعتقد فی هاروت وماروت انهما ملکان یعذبان علی خطیئتهما مع الزهرة فهو کافر بالله تعالیٰ العظیم. (روح ص ۳۴۱ ج ۱) دا واقعه موضح قرآن کښې هم ده چه شاه عبد القادر محدث دهلویؒ په نوم کتابی صورت کښې چهاپ شوے ده لیکن د محققینو مثلاً محدث العصر مولانا سید محمد انور شاه صاحب رحمه الله په نزد دا تفسیر د شاه عبد القادرؒ نه دے، بل چا لیکلے دے او هغه طرفته ئے منسوب کړے دے۔ د حضرت شاه صاحبؒ "موضح قرآن" صرف هغه حواشی دی کوم چه د قرآن په حاشیه باندے چهاپ شوی دی۔ مخکے ناشرینو اُوس په هغے کښې هم څه بدلون راوستے دے۔

۱۹۶ یُعَلِّمٰنِ د تعلیم نه دے او د تعلیم معنیٰ دلته درس او تدریس نه دے بلکه تعلیم دلته په معنیٰ د اعلام (خبر ورکولو) دے۔ انه من اعلام لا من التعلیم فیعلمان بمعنی یُعْلِمَانِ (قرطبی ص ۵۳ ج ۲) وقرأ طلحة بن مصرف یُعْلِمَانِ من الاعلام لا من التعلیم وعلیها

حصل بعضهم قراءة القطعيه (روح ص ۳۴۳ ج ۱) او مِن زائده دے د تاکید استغراق دپاره. (روح ص ۳۴۳ ج ۱) د فِتْنَةٌ معنی ازمیښت او امتحان دے. واما الفتنة في هذا الموضع فان معناها الاختبار والابتلاء. (ابن جریر ص ۳۴۸ ج ۱) الفتنة الاختبار والامتحان (ابوالسعود ص ۷۵۲ ج ۱) یعنی هرکله چه بر خوله مے دواړو فرشتو ته د جادو زده کولو دپاره راشي نو دے دواړو به اول د خیر خواهئ په وجه دوی ته واضحه کړه چه کورئ په جادو یا نه عقیده مه لرئ او دے بانے عمل کول کفر دے او مونږ خو صرف دے دپاره رالیږلی شوی یو چه د جادو او معجزے فرق خلقو ته واضح کړو. لهٰذا د جادو کوم اصول چه مونږ تاسو ته بیانوو، د ناجائزه طریقے سره مه استعمالوئ او دغه رنګے مونږ ستاسو دپاره د ازمیښت او امتحان ذریعه یو. کورئ د جادو تابع کیدلو سره چرته خپل ایمان ضائع نه کړئ. د مذکوره بیان سره د هاروت او ماروت لمن د شرک او جادو نه پاکه شوه کوم چه یهودیانو دوی په ذمه لګولے وو. دینه معلومه شوه چه هغوی پخپله جادو نه کولو او نه ئے غیرالله ته آواز کولو، هغوی خو محض د خلقو د امتحان دپاره د جادو حقیقت واضح کولو دپاره لیږلے شوے وو.

۱۹۷ د فرشتو د منعه کولو باوجود هم تو خلقو د جادو ناجائز طور بانے استعمال کول شروع کړل او زیات به ئے د ښځے او خاوند په مینځ کښ د جد ایئ راوستلو دپاره د استعمالولو. وَمَا هُمْ بِضَآرِّيْنَ بِهٖ مِنْ اَحَدٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ. جادو، ټوټکو او تعویذ سره چه کوم اثر ظاهریږی هغه د الله حکم او قضا سره کیږی حکه چه فاعل او مؤثر حقیقی صرف هغه دے، نور چه څیزونه دی. دا څیزونه خو محض د اسبابو درجه لری، قال سفیان الثوری الا بقضاءه وقدرته ومشیته. (معالم ص ۷۸ ج ۱) نو ضروری نه ده چه د هر جادو او تعویذ اثر ظاهر وی.

۱۹۸ دا بد بخته یهودیان چه کوم څه زده کوی، د دے په ذریعه نورو ته نقصان رسول خو د دوی د وس خبره نه ده لیکن جادو د دنیا او اخرت کښ دوی دپاره بیخی نقصان دے او ذره برابر فائده ئے پکښ هم نشته. وَلَقَدْ عَلِمُوْا. د عَلِمُوْا فاعل د یهودو عالمان دی. قیل عائد علی علماء الیهود (بحر، ص ۳۳۳ ج ۱) اِشْتَرٰىهُ کښ ضمیر مفعول مَا تَتْلُوْا طرفته راجع دے چه مراد ترے نه جادو دے. د اشتراء نه مراد استبدال دے. ای استبدلوا ما تتلوا الشیطین بکتاب الله تعالی (ابوالسعود، ص ۷۵۷ ج ۱) یعنی دے یهودیانو ملایانو ته ښه معلومه ده چه چا د الله کتاب پریښودو او د جادو او سحر کتابونو ته ئے ترجیح ورکړه او د توحید نه ئے مخ واړولو او د غیرالله راپللو کښ مشغول شول هغوی به په اخرت کښ سخت بد نصیبه وی. د الله تعالی د کتاب نه تورات یا قران مراد دے. علامه ابوحیان یو صورت دا هم لیکی چه د اشتراه ضمیر تورات یا قران طرفته عائد وی او اشتراء په معنی د بیع وی یعنی چا چه تورات یا قران پریښودو، د دے په عوض کښ ئے د جادو په کتابونو بانے عمل شروع کړو: او کتابهم الذی باعوه بالسحر او القرآن لانه تعوضوا عنه بکتب السحر. (بحر، ص ۳۳۴ ج ۱)

۱۹۵ وبئس مخصوص بالذم محذوف دے یعنی السحر او شَرَوْا په معنی د بَاعُوْا دے
او انفسهم نه مخکښ لفظ حظوظ محذوف دے یعنی دا چا دُکوم په عوض کښ چه هغوی
خپله د آخرت حصه خرچ کړے ده هغه ډیر زیات خراب څیز دے. ای بئس ما باعوا
به حظوظ انفسهم السحر (من البحر ص ۳۳۳ ج ۱، والروح ص ۳۳۶ ج ۱) لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ، هغوی
ددے سود او ضرره پیژندله لیکن چونکه هغوی د خپل علم مطابق عمل او نکړو نو
ځکه ئے د دوی نه د علم نفی کړے ده۔

وَلَوْ أَنَّهُمْ آمَنُوا وَاتَّقَوْا لَمَثُوبَةٌ مِّنْ عِندِ اللَّهِ خَيْرٌ ۖ

او که هغوی ایمان راوړے وے او تقوی ئے کړے وے نو ثواب به ئے موندلے وے د الله سره بهتر،

لَّوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ ﴿١٠٣﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَقُولُوا رَاعِنَا

که چرے دوی پوهیدلے وے، اے ایمان والو! تاسو مه وایئ راعنا

وَقُولُوا انظُرْنَا وَاسْمَعُوا ۗ وَلِلْكَافِرِينَ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١٠٤﴾

او وایئ انظرنا او واورئ، او کافرانو دپاره عذاب دے دردناک

مَّا يَوَدُّ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ وَلَا

نه غواړی زړونه د هغه خلقو چه کافران دی د اهل کتاب نه او نه د

الْمُشْرِكِينَ أَن يُنَزَّلَ عَلَيْكُم مِّنْ خَيْرٍ مِّن رَّبِّكُمْ ۗ

مشرکانو نه دا خبره چه نازل شی تاسو باندی څه نیکه خبره ستاسو د رب له طرفه

وَاللَّهُ يَخْتَصُّ بِرَحْمَتِهِ مَن يَشَاءُ ۚ وَاللَّهُ ذُو الْفَضْلِ

او الله خاص کوی خپل رحمت سره چا لره چه او غواړی او الله لوئے فضل والا

الْعَظِيمِ ﴿١٠٥﴾ ۞ مَا نَنسَخْ مِنْ آيَةٍ أَوْ نُنسِهَا نَأْتِ بِخَيْرٍ مِّنْهَا

دے. کوم چه منسوخ کړو موږ د یو آیت یا ئے هیر کړو نو راولو د هغې نه بهتر

أَوْ مِثْلِهَا ۗ أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿١٠٦﴾

او د هغې برابر. آیا تاته معلومه نه ده چه الله په هر څه قادر دے

أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ اللّٰهَ لَهُ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ ۚ وَ

ایا تا ته ۱۰۶ معلوم نه دی چه الله دیاره دی بادشاهي د اسمانونو او زمکے او

مَا لَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ ﴿۱۰۷﴾

نشته تاسو دپاره د الله نه سوا څوک حمایتي او نه مدد کار.

نکات:- ۱ د شبهاتو د ازالے نه پس مسلمانان دیهودو د سازش (مسلمانانو کښې د کلمات موهمه شرك ترویج) نه خبر کړے شوی دی. ۲ د رَاعِنَا په ځائے د اُنْظُرْنَا حکم. ۳ دا د ماقبل سره هم متعلق دے او دعویٰ توحید سره هم.

موضح القرآن

ف۱ یعنی یهودیانو دخپل دین اوکتاب علم پریښودو او د سحر په عملونو کښې مشغول شول او سحر به خلقو کښې د دوه طرفونو نه راغے. یو د حضرت سُلیمان علیه السلام په زمانه کښې انسانان او شیطانان یو ځائے اُوسیدل نو دهغه شیطانانو نه ئے زده کړو او هغه به یهودو منسوب کړلو حضرت سلیمان علیه السلام ته چه مونږ ته دهغهٔ نه رارسیدلے دے او دهغهٔ حکومت جن او انس باندې د دے په زور سره وُو نو الله تعالیٰ بیان اوکړو چه دا کار د کفر دے، د سلیمان علیه السلام نهٔ دے دهغهٔ په زمانه کښې شیطانانو خلقو ته ښودلے دے. او بل د هاروت او ماروت له طرفه په بابل ښار کښې. داهغه دوه فرښتے وُو چه د انسان په صورت کښې اُوسیدلے. دوی ته د سحر علم معلوم وُو چه کله به دوی ته څوك طالب راغے نو اول به ئے ورته اُووئیل چه دے سره به دِ ایمان ختمیږی. بیا که چرے هغهٔ به غوښتل نو ورته به ئے ښودلو. الله تعالیٰ ته اَزمینت منظور وُو نو الله تعالیٰ اُوفرمائیل چه دا سے علومو سره د آخرت هیڅ فائده نشته بلکه نقصان دے او دُنیا کښې هم ضرر موجی او د الله تعالیٰ دحُکم نه بغیر هیڅ هم نشی کیدے او که چرے علمِ دین اوکتاب ئے زده کړلے نو الله تعالیٰ سره به ئے بدله مونده وے. **ف۲** یهودیان به د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په مجلس کښې کیناستل او نبي علیه السلام به کلام فرمائیلو. دځنو خبرو اَوریدل به ئے غوښتل د پاره د دے چه بیا تحقیق اُوکړی نو وئیل به ئے "رَاعِنَا" زمونږ طرفته متوجه شه. هغوی ته مسلمانانو هم اُوکتل نو ځنے وخت به ئے دا لفظ وئیلو. الله تعالیٰ منعه اُوفرمائیله چه دا لفظ مهٔ وایئ، که وایئ نو اُنْظُرْنَا وایئ. د دے معنیٰ هم دا ده. نور مجلس کښې اَوریږئ چه د تپوس کولو ضرورت پیښ نشی. یهودیانو په دے لفظ کښې دهوکه کوله. د دے سره یه ئے اَواز اښکلو نو رَاعِينَا به شو یعنی زمونږ شپونکے او د دوی په ژبه کښې رَاعِنَا بے وقوف ته هم وائی.

ف۳ دا دیهودو ملامت کول وُو چه ستاسو په کتاب کښې ځنے ایتونه نسخ کیږی. که چرے دا الله پاك له طرفه وے نو بیا ئے څهٔ عیب اُولیدهٔ؟ چه موقوف ئے کړو. الله تعالیٰ اوفرمائیل چه عیب نهٔ ځکښې کښې وُو او نهٔ روستو کښې حاکم چه هر وخت کوم څهٔ غواړی نو حکم کوی.

فتح الرحمٰن

ف۱ د یهودیانو نور یے بیهوده خبرے داوے چه د نبی علیه السلام مجلس ته به راغلل لفظ رَاعِنَا به یے وئیلو او دا لفظ دوه معنے لری. یوه داچه زمونږ رعایت اُوکړه او په مونږ شفقت اوکړه. بله رعونت یعنی بیوقوف او ددوی قصد کنځل وو. الله سبحانه وتعالی مسلمانان ددے کلمے نه منع کړل د فساد بندولو دپاره او دے آیت کښ اشاره هم دے معنے ته ده. ف۲ دے آیت کښ تعریض دے د یهودو جواب ته چه د نسخ نه به یے انکار کولو.

تفسیر: ف۳ که چرے دے یهودیانو د الله په آخری رسول صلی الله علیه وسلم او قرآن باندے ایمان راوړے وے او جادوئے پریښودے وے او د قرآن مطابق ئے عمل کړے وے. دا هغه معاند یهودو دپاره ترغیب دے او دا د الله پاک انتهائی رحمت او شفقت دے چه هغه داسے سرکشه او ضدیانو دپاره هم د رشد او هدایت ټولے لارے پرانزی. لَمَثُوبَةٌ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ خَيْرٌ دا معنیٰ د لَوْ جواب دے. یعنی که چرے هغوی ایمان راوړی او تقوی اختیار کړی نو د الله پاک له طرفه به ورته اجر ملاؤ شی او د الله ثواب یقیناً د سحر او کفر نه بهتر دے. لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ ۝ کاش چه هغوی دا حقیقت پیژندلے. تر دے ځائے پورے خو د یهودو د شبهاتو جواب وو، اوس مسلمانان د یهودیانو د مکر او فریب او د هغوی د ناپاکه عزائمو نه خبر کړے شوی دی. یهودیان د تحریف او تلبیس ماهران وو چه د هغے شهادت قرآن هم ورکړے دے او پخپله موجوده تورات هم ددوی د تحریف او تلبیس حق یوه لویه کارنامه ده. یهودیانو سوچ اُوکړو چه مسلمانانو کښ خو علانیه طور باندے شرک داخلول ډیر گران دی لهذا د خفیه تدبیر او سازش نه کار اخستل پکار دی. مسلمانانو به د نبی کریم صلی الله علیه وسلم توجه خپل طرفته راکړځولو دپاره لفظ "رَاعِنَا" استعمالولو. ددے لفظ چونکه دوه معنے وے یو صحیح او بله د شرك موهم نو ځکه به منافقین یهود هم د نبی علیه السلام مجلس ته حاضریدل او هغوی به ئے "رَاعِنَا" سره مخاطب کړول. په ظاهره خو ددے معنیٰ ډیره بهتره وه یعنی زمونږ خیال هم اوساته. یهودیانو سوچ اُوکړو چه هرکله دا لفظ په مسلمانانو کښ رائج دے نو ددے نه خپل مطلب راویستل پکار دی ځکه چه ددے لفظ بله معنیٰ دا هم ده چه زمونږ نګهبانی او حفاظت اوکړئ. راعنا في اللغة ارعنا ولنرعك لان المفاعلة من اثنين فتكون من رعاك الله اى احفظنا ولنحفظك وارقبنا ولنرقبك. (قرطبی ص ۵۷ ج ۱) ددے لفظ نه ددوی مقصد مسلمانانو کښ د غیر الله د حافظ ناصر خیال اچول وو دپاره ددے چه غیر شعوری طور باندے مسلمانانو کښ د شرك عقیده رواج بیاموی نو الله تعالیٰ د داسے موهم شرك لفظ نه منعه اُوفرمائیله. ددے نه معلومه شوه چه د موهم شرک د الفاظو استعمال جائز نه دے دے نه په هرحال کښ اجتناب کول پکار دی لکه ځنګه چه نن صباځنے جاهلانو کښ ددے قسمه موهم شرك الفاظ جائز دی مثلاً ځنګه چه الله او د هغه رسول اوغوستل او "یا پیر استاد" او "یارسول الله" او "یا خواجه معین الدین اجمیری" وغیره وغیره.

ف۴ الله پاك مسلمانان د "رَاعِنَا" لفظ نه منع کړل ځکه چه دا لفظ د شرك موهم وو او ددے

د "اُنْظُرْنَا" لفظ استعمالولو حکم ورکړو. وَاسْمَعُوْا ـــ هُما امر او نهی غوږ سره واورئ او عمل پرے اوکړئ. ای ما امرتکم به و نهیتکم عنه بجد (روح ص ۳۳۹ ج ۱) دا ځکه چه د یهودیانو پلیت نیتونه وُو. او دوي په هغه الفاظو وئیلو او ددا سے رسمونو جوړولو مما نعت ثابت شو چه د شرک مبدأ وی. الله پاک نبی علیه السلام ته د: قُلْ لَّآ اَقُوْلُ لَكُمْ عِنْدِيْ خَزَآئِنُ اللّٰهِ وَلَآ اَعْلَمُ الْغَيْبَ الْاٰيَة د اعلان کولو حکم ورکړو د دے دپاره چه د نصاراو پشان مسلمانان نبی علیه السلام لره عالم الغیب او مالك او مختار اونه گڼری.

دارنګے حضرت موسیٰ علیه السلام دعا اوکړه چه اے الله! ښما قبر مه ښکاره کوے د دے دپاره چه هغه د شرک اډه جوړه نشی. کذا فی الخازن. حافظ ابن کثیرؒ د امام ابن جریرؒ نه نقل کړیدی چه صحیح قول دا دے چه الله تعالیٰ دا خبره نه خوښوله چه نبی علیه السلام ته "رَاعِنَا" سره خطاب اوکړے شی حکه ئے ایمان والا منع کړل. والصواب من القول فی ذلك عندنا ان الله نهی المؤمنین ان یقولوا لنبیه صلی الله علیه وسلم "راعنا" لانها کلمة کرهها الله تعالیٰ لهم ان یقولوها لنبیه صلی الله علیه وسلم نظیر الذی ذکر عن النبی صلی الله علیه وسلم انه قال لا تقولوا للعنب الکرم ولکن قولوا الحبلة ولا تقولوا عبدی ولکن قولوا فتای وما اشبه ذلك (ابن کثیر، ص ۱۴۹ ج ۱). وَلِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابٌ اَلِيْمٌ دا دے تعلق لَمَّا جَآءَهُمْ رَسُوْلٌ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ سره دے یعنی کله چه دوی ته اُوویلے شی، اُعْبُدُوْا رَبَّكُمْ وَلَا تَجْعَلُوْا لِلّٰهِ اَنْدَادًا. نو هغوی د دے مقابله کښ جادو منتر پیش کوی. اُوس د لته دا اُوفرمایلے شو چه هغوی خو مشرکان دی. اُوس په تاسو کښ هم د موهم شرك الفاظو په ذریعه شرك خوروُل غواړی. الکافرین کښ الف لام عهد دپاره دی او د دے نه مراد هغه شرارتیان یهودیان دی چا چه په بد نیت سره لفظ رَاعِنَا استعمالول شروع کړی وُو. اُوس وراندِ د اهلِ کتابو او مشرکانو دیو بل خراب او ناخوښه پلیت خواهش ذکر دے.

۲۱۳ يَوَدُّ. وُدٌّ نه دے چه معنی ئے غوښتل او خوښول دی. او مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ کښ مِنْ بیانیه دے او وَلَا الْمُشْرِكِيْنَ عطف دے اَهْلِ الْكِتٰبِ باندِ. دینه معلومه شوه چه د کافرانو دوه قسمونه دی: یو اهلِ کتاب، دویم مشرکان. او دینه دا هم معلومه شوه چه ټول اهلِ کتاب کافران دی ترڅو چه هغوی آخری پیغمبرؐ او آخری کتاب باندِ ایمان رانه وړی تر هغے وخته پورے تنهی مسلمانان نه دے. من الاولی للبیان لان الذین کفروا جنس تحته نوعان اهل الکتب والمشرکون. (مدارك ص ۵۳ ج ۱، کبیر ص ۲۵۰ ج ۱) او خَيْرٍ بعض مفسرینو بعض معنے پورے خاص کړے دے لیکن بهتره دا ده چه دا عام پریښودلے شی دپاره دے چه ټولو قسمونو د خیر ته شامل شی: اوعام فی انواع الخیر کلها لان المذکورین لا یودون تنزیل جمیع ذلك علی المؤمنین عداوة وحسدا وخوفا من فوات الدراسة والریاسة. (روح ص ۳۵۰ ج ۱) اُوس د آیت مفهوم دا شو چه د یهودیانو د باطنی پلیتئ او ستاسو دپاره خواهش دا حال دے چه یو طرفته خو هغوی ستاسو گمراه کولو کوشش کښ مصروف دی او بل طرفته دا یهودیان او دارنګے نصاریٰ او مشرکان دا خبره بالکل نه خوښوی

چه تاسو باندې دالله پاك له طرفه څه انعامات او اکرام نازل شي، تاسو ته دُښمنانو مقابله کښې فتح حاصله شي یا بل څه قسمه نفع فائده درته اورسیږي. هغوی داګنړل چه دَ خیر دَ ټولو قسمونو مستحق صرف مونږ یو. او ددوی داخواهش صرف عداوت او بُغض حسد باندې مبني وُو. دغه شان هغوی سره دا ویره وه چه که مسلمانانو باندې وحي نازله شوه نو زمونږ مدرسه او دامدنی دُکانونه به بند شي او زمونږ شان او شوکت به خاورو کښې ملاؤ شي.

۲۰۲ دلته هم لفظ رحمت عام دے او هغه ټول انواع رحمت ته شامل دے چه هغه الله څه وخت کښې خپلو بندګانو باندې کوي. الرحمة في هذه الاية عامة لجميع انواعها التي منح الله بها عباده قديمًا وحديثًا (قرطبي ص۶۱ ج۲) الله تعالیٰ ته ښه معلومه ده چه څوك دهغه دَ رحمت مستحق دے او چالره چه هغه او غواړي نو خپلو انعاماتو سره یے ښوره کوي، دخلقو دخواهشاتو دے باندې هیڅ اثر نه کیږي. بعض مفسرینو دخیر او رحمت نه وحي مراد اخستے ده او دا مطلب یے بیان کړے دے چه اول به پیغمبران په بنی اسرائیلو کښې پیدا کیدل. وکله چه اخري رسول ﷺ په بنی اسماعیل کښې پیدا شو نو یهودیانو دتعصب او حسد په وجه داخوښ نکړل. وقیل معنی الایة ان الله تعالیٰ بعث الانبیاء من ولد اسحٰق فلما بعث النبي صلی الله علیه وسلم من ولد اسمٰعیل لم یقع ذلك بود الیهود ومحبتهم (معالم ص۷۹ ج۱) لیکن دمشرکانو دبُغض او حسد دپاره دا وجه موزون نه ده بلکه دا څیز خو ددوی دپاره دفخر باعث دے ځکه چه هغه ټول دحضرت اسماعیل دَ نسل نه وُو. وَاللّٰهُ ذُو الۡفَضۡلِ الۡعَظِیۡمِ د الله تعالیٰ فضل او کرم خو ډیر فراخه دے. دے دپاره دبعضو محرومي خو دهغه دمشیت او حکمت لاندے ده نه چه دهغه د فضل او مهربانۍ دکمي دوجے نه. وان حرمان بعض عباده لیس لضیق فضله بل لمشیته وماعرف فیه من حکمته (روح ص۳۵۱ ج۱)

دیهودو، نصارا او مشرکانو اصل دشمني خو دَ توحید دعوت سره وه او هغوی به دے دُښمنۍ اظهار مختلفو طریقو سره کولو. کله خو به یے دَ رَاعِنَا په شان دموهم شرك الفاظ دمسلمانانو په ژبو راوستل او هغوی کښې به یے دشرك داخلولو کوشش کولو او کله به یے داسلام او مسلمانانو خلاف غلطے پروپیګنډے او بے ځایه اعتراضات کول. کله به یے وئیل چه دا خلق دے قابل نه دي چه دالله پاك له طرفه دوی باندې وحي یا څه خیر نازل شي او کله به یے وئیل که چرے داقرآن دالله کلام وے نو دده احکام وَلے بدلیږي؟ محمد ﷺ مسلمانانو ته یو حکم ورکوي بیا دهغې خلاف بل حکم صادروي. دے نه معلومیږي چه دا دَ محمد ﷺ کلام دے دالله کلام نه دے. نزلت لما قال المشرکون او الیهود الا ترون الی محمد صلی الله علیه وسلم یامر اصحابه بامر ثم ینهاهم عنه ویامرهم بخلافه .... ما هذا الا کلام محمد صلی الله علیه وسلم ویقول من تلقاء نفسه. (روح ص۳۵۱ ج۱) په اتلوسمې آیت کښې الله تعالیٰ ددوی ددے غلطے پروپیګنډے جواب ورکړے دے چه الله تعالیٰ هر څیز باندې قادر، مالك او مختار دے او څه چه غواړي نو حکم ورکوي.

۲۰۴ دَ نسخ نه مراد دا دے چه دآیت حکم پورته کړے شي لیکن تلاوت یے باقي پاتے شي.

اود إِنْسَاءٌ نه مراد دا دے چه حکم او تلاوت سره دواړه لرے کړے شي (بحر، ص ۳۴۳ ج۱) دا د
رَاعِنَا منسوخ کولو او ددے په ځائے د اُنْظُرْنَا وئیلو حکم طرفته اشاره ده. نَأْتِ بِخَيْرٍ مِّنْهَآ
اَوْ مِثْلِهَا . یعنی که چرته مونږ حکم منسوخ کړو نو هغه هم مونږ. د حکمت او مصلحت سره بالکل
موافق وی او مونږ د منسوخ شوی حکم په ځائے د هغه نه زیات فائده مند حکم او زیات
آسان یا نفع او سهولت کښ د هغه برابر دویم حکم نازلوو. ای بما هو انفع لکم واسهل
علیکم واکثر لاجرکم او مثلها فی المنفعة والثواب الخ (معالم ص ۱۰۰ ج۱) أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ عَلٰى
كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ . دلته استفهام تقریری دے او ددے مخاطب هر سامع دے. هذا استفهام
معناه التقریر ...... والاولی ان یکون المخاطب السامع. (بحر، ص ۳۴۳ ج۱) مطلب دا دے
چه اے مخاطبه! ته ښه پوهیږے چه الله تعالی په هر څیز باندې قادر دے او په خپلو بندګانو
باندې احکامو کښ د بدلون او محو او اثبات هغه ته پوره پوره اختیار دے. لهذا دے باندې
هیچا ته د اعتراض څه حق نشته. دے سره اصل دعوے طرفته اشاره ده چه کله الله تعالی
په هر څیز باندې قادر دے او هغه د انسانانو ټول حاجتونه او ضرورتونه پوره کولے شی او
ددوی ټول مشکلات آسانولے شی نو بیا ددۀ نه سوا بل چا ته وَلے آواز کولے شی او د
بل چا نه امداد ولے غوښتلے شی. ددے آیت دویم ربط دا دے چه کله چرے مونږ څه
داسے رسم منسوخ کړو چه د شرک سره هم نه وی نو د هغے په ځائے به د هغے نه بهتره طریقه
رائجه کړو لکه څنګه چه مونږ د رَاعِنَا لفظ منسوخ کړو او د هغے په ځائے مونږ د اُنْظُرْنَا
لفظ وئیلو حکم ورکړو.

فائده :- متقدمینو حضراتو به نسخ ددے وسیع معنو کښ اخستلو یعنی د آیت
صفت مطلق تغیر ته به یے نسخ وئیلو. په دے وجه ددوی په نزد د پنځه سوؤ نه زیات
آیتونه منسوخ دی. لیکن متاخرینو نسخ په محدود معنو کښ استعمال کړو یعنی د آیت حکم
مع تلاوت یا بدون تلاوت اوچتولو ته نسخ وائی. نو ددے مفهوم په رڼا کښ د شلو نه
زیات آیتونه منسوخ نه دی لکه څنګه چه علامه سیوطیؒ اتقان کښ پوره تفصیل سره ذکر
کړی دی لیکن امام شاه ولی الله دهلویؒ په الفوز الکبیر باب دویم فصل دویم کښ ددۀ مفهوم
د لاندے صرف پنځه آیتونه منسوخ منی او د باقی ټولو آیتونو توجیه کوی لیکن حضرت شیخ
رحمه الله به پنځه آیتونه هم منسوخ نه منل او د حضرت شاه صاحب پشان به یے ددے پنځو
آیتونو داسے توجیه کوله چه د هغے نه به معلومیدله چه ددے پنځو آیتونو حکم هم تر قیامته
پورے باقی دے. ددغه پنځه آیتونو توجیه به په خپل خپل ځائے راځی إن شاء الله.

ځنی خلق نسخ باندې اعتراض کوی چه الله تعالی یو حکم ورکړی نو بیا هغه واپس ولے
اخلی؟ ددے جواب دا دے چه د نسخ معنی اول حکم واپس اخستل نه دی بلکه ددینه
د اول حکم د مودے انتها بیانول مقصود وی چه دا حکم صرف تر دے وخته پورے دے
ددے نه روستو وخت د پاره نه دے.

مسئله دلته هم استفهام تقریر د پاره دے او خطاب هر سامع ته دے. اِنَّ اللّٰهَ لَهٗ

مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ ملک السمٰوٰت والارض مبتدا، مؤخر او لَهٗ خبر مقدم دے او دغه تقدیم د افادهٔ حصر د پاره دے یعنی د زمکے او اسمان بادشاهي او د زمکے، اسمان کښې د ټولو کارونو کیدلو اختیار صرف الله پاک ته حاصل دے. وَمَا لَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ ۝ دا جمله د اَنَّ خبر باندې معطوف ده. اول مِنْ ابتدائیه دے او استغراق د عموم نفی د پاره دے. (روح ص ۳۵۳ ج ۱، ابوالسعود ص ۷۷۵ ج ۱) یعنی د الله نه سوا هیڅوک ستاسو حمایتی او مدد ګار نشته. نه څوک نوري، نه ناري او نه خاکي. دا ایت اصل دعوی یعنی اُعْبُدُوْا رَبَّكُمْ سره متعلق دے او هغې باندې عقلي دلیل دے. یعنی هر کله چه د زمکے او اسمان بادشاهي د الله په قبضه کښې ده او د هغه نه سوا څوک حمایتی او مدد ګار نشته نو په حاجاتو او مشکلاتو کښې غائبانه طوریانږ صرف هغه ته اواز کوئ او د هغه په بللو او دعا کښې هیڅوک مه شریکوئ. د دغے دینه معلومه شوه چه د الله نه سوا څوک حافظ ناصر او نګهبان نشته. په دے وجه غیر الله د پاره هیڅ داسے لفظ مه استعمالوئ د کوم نه چه د داسے قسم شرک وهم کیږي مثلاً نبي علیه السلام ته په رَاعِنَا لفظ سره خطاب کول.

دے ته پس الله تعالی مسلمانانو لره د نبي علیه السلام نه د بے ځایه سوالونو نه منع کړي دي.
د بعضو مفسرینو خیال دے چه د مکے مشرکانو به یوه ونه مقدسه منله، هغه ونه باندې به د خوراک څښاک د څیزونو منتیے کولے او هغه به ئے وربانږ اځول او د هغې تعظیم او عبادت به ئے کولو او هغې ته به ئے ذات انواط ویل نو ځنې مسلمانانو هم د نبي علیه السلام په خدمت کښې عرض اوکړو، یا رسول الله ﷺ! تاسو زمونږ د پاره هم داسے ونه مقرر کړئ چه مونږ هم په هغې باندې ندرونه او منتیے غورځوو. د مسلمانانو دا سوال بعینهٖ د اسرائیلو پشان وو چه کله هغوی یو بت پرست قوم د بتانو عبادت کونکے اولیدو نو حضرت موسی علیه السلام ته ئے سفارش کړے وو چه تاسو زمونږ د پاره یو داسے بت جوړ کړئ چه مونږ د هغې عبادت کوو. دے لا یعنی سوال سره الله تعالی راتلونکي ایت کښې تنبیه اوفرمائیله. (من الکبیر ص ۲۶۵ ج ۱، والنیسابوری ص ۳۵۸ ج ۱) لیکن دے روایت کښې یوه خبره د تردد او اندیښنے ده. هغه دا چه د کوم صحابه کرامو پخپله نبي کریم ﷺ ډیره موده تزکیه کړے وي او چا چه تیغ په تیغه د شمع محمدیؐ نه خپلے سینے د توحید په نور سره روښانه کړے وي، د هغوی نه د اقسم سوال ډیر لرے معلومیږي نو د دے جواب دا دے چه دا ایت چونکه مدني دے، د دے د پاره ظاهره ده چه دا واقعه په مدینه کښې پیښه شوې. مدینه کښې په سوونو یهودیان منافقانه طور باندې مسلمانان شوي وو ځکه چه د هغوی اصل مقصد د اسلام په جامه کښې اسلام ته نقصان رسول وو. نو داسے معلومیږي چه ځنګه د غه یهودیانو د رَاعِنَا لفظ رائج کولو سره مسلمانانو کښې د شرک داخلولو ناپاکه کوشش کړے وو، د غه شان منافقانو یهودیانو د نبي علیه السلام نه د ذات انواط مقررولو سوال کړے وو. ګویا چه مسلمانانو کښې د شرک داخلولو د پاره هغوی دا یوه حربه استعمال کړه چه هغه وخت کامیابه نشوه.

أَمْ تُرِيدُونَ أَنْ تَسْأَلُوا رَسُولَكُمْ كَمَا سُئِلَ مُوسَىٰ

ایا تاسو مسلمانان هم غواړئ چه سوال تپوس کړئ د خپل رسول نه لکه چه سوال کړے شوے وو د موسیٰ ع نه

مِنْ قَبْلُ ۗ وَمَنْ يَتَبَدَّلِ الْكُفْرَ بِالْإِيمَٰنِ فَقَدْ ضَلَّ

د دے نه وړاندے نه او څوک چه کفر واخلی د ایمان په بدله کښ نو هغه ورک شو

سَوَآءَ السَّبِيلِ ﴿١٠٨﴾ وَدَّ كَثِيرٌ مِنْ أَهْلِ الْكِتَٰبِ لَوْ يَرُدُّونَكُمْ

د نیغے لارے نه څخه وو زړه غواړی د ډیرو اهل کتابو چه څو بیا تاسو راوګرځوی د

مِنْ بَعْدِ إِيمَٰنِكُمْ كُفَّارًا ۚ حَسَدًا مِنْ عِنْدِ أَنْفُسِهِمْ

مسلمانیدو نه پس کافر ته څخه په سبب د خپل دلی حسد څخه

مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْحَقُّ ۖ فَاعْفُوا وَاصْفَحُوا

پس د هغے نه چه ښکاره شویدے دوی ته حق نو تاسو عفوه کوئ او په خیال کښ مه راولئ

حَتَّىٰ يَأْتِيَ اللَّهُ بِأَمْرِهِ ۗ إِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ

ترو دے چه راولیږی الله خپل حکم خپل بیشکه الله تعالیٰ په هر څیز باندے

قَدِيرٌ ﴿١٠٩﴾ وَأَقِيمُوا الصَّلَوٰةَ وَآتُوا الزَّكَوٰةَ ۚ وَمَا

قادر دے. او قائم کړئ مونځ او ورکوئ زکوٰة څخه او کوم څه چه

تُقَدِّمُوا لِأَنْفُسِكُمْ مِنْ خَيْرٍ تَجِدُوهُ عِنْدَ اللَّهِ ۗ إِنَّ

مخکښ لیږئ خپل ځان د پاره نیکی بیا به مومئ هغه الله سره الله بیشکه

اللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿١١٠﴾ وَقَالُوا لَنْ يَدْخُلَ الْجَنَّةَ

الله کوم څه چه تاسو کوئ وینی. او وائی چه هرګز به لاړنشی جنت ته

إِلَّا مَنْ كَانَ هُودًا أَوْ نَصَٰرَىٰ ۗ تِلْكَ أَمَانِيُّهُمْ ۗ قُلْ

لیکن هغه څوک چه وی یهودی یا نصرانی څخه دا ارزوګانے ترلے دی هغوی. او وایه

هَاتُوا بُرْهَٰنَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿١١١﴾

راوړئ ثبوت خپل که چیرے تاسو رښتونی یئ.

نکات: ۱ د اُمورِ مصلحه بیان. ۲ د بحث خاتمه بانډې پنځه شکایتونو بیان. دا اول شکایت دے.

موضح القرآن: ف۱ یعنی د یهودیانو دهوکه کولو سره تاسو د خپل نبیؐ نه سوالونه مکوئ ځکه چه دوی د خپل نبی نه کړی وُو، ګویا یقین پرېښودل او انکار کول وُو.

فتح الرحمٰن: ف۱ یعنی اَمر اُوکړی د جهاد دوی سره.

تفسیر: ۲۰۶ دلته "اَمْ" منقطعه په معنیٰ د "بَلْ" دے او مُفید د اضراب دے یعنی د یو مضمون نه بل مضمون طرفته انتقال د پاره (روح ص ۳۴۲ ج ۱) او تُرِیۡدُوۡنَ سره خطاب پورتنی تفصیل سره یهودیانو ته دے یعنی تاسو دے خبره کښې فکر اُونکړو چه د الله نه سوا هیڅوک یار، او مددګار او حافظ، ناصر نشته. او تاسو د دَاعِنَا په ذریعه مُسلمانانو کښې د شرک پرېښودلو کوشش پرېښودو بلکه د شرک بنیاد پرېښودلو د پاره تاسو بے ځایه مطالبے پیش کړے. ستاسو دا مطالبے بالکل داسے دی ځکه چه د حضرت موسیٰ علیه السلام نه کړے شوے وے.

۲۰۷ کفر ایمان سره د بدلولو نه مطلب دا دے چه د ایمان په مقابله کښې کفرته ترجیح ورکړه او د ایمان په ځائے کفر اختیار کړو. ای یختاره ویاخذه لنفسه (ابوالسعود ص ۶۲۶ ج ۱) یعنی چا چه پیغمبر باندې معاندانه سوالونه اُوکړل او کفر ئے اختیار کړو هغه یقیناً د سمے لارے نه خطا شو. ۲۰۸ د اَهلِ کتاب نه بعض مفسرینو د یهودیانو عالمان مُراد اخستے دی لیکن دا د یهودو عالمانو پورے خاص نه دے. د عیسائی پادریانو هم همیشه دا خواهش دے او نن پادری خلق چه کوم کوشش سره د مسلمانانو مُرتد کولو کښې مصروف دی هغه د دے خبرے ښکاره ثبوت دے. ایت کښې لَوۡ مصدریه دے، او کُفَّارًا د یُرِیۡدُوۡنَ مفعول ثانی دے. الله تعالیٰ مُسلمانان خبر کړل چه د اَهلِ کتاب تاسو د اِسلام نه د واپس ګرځولو او د وباره کافر کولو خواهش لری. کله خو د موهم شرک الفاظ ستاسو د ځلے نه راوُباسی او کله نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته د نوو مشرکانه رسمونو درخواست کوی.

۲۰۹ حَسَدًا ــ مفعول دے د وَدَّ یعنی هغوی د مسلمانانو ارتداد محض د ذاتی بُغض او عداوت او حَسد په وجه غواړی او د دے بُغض او حسد بنیاد د دوی نفسانی خواهشات دی. مِنۡۢ بَعۡدِ مَا تَبَیَّنَ لَهُمُ الۡحَقُّ. یعنی د مُسلمانانو د مُرتد کولو سلسله کښې د دوی کوششونه څه غلط فهمئ یا ناپوهئ باندې مَبنی نه وُو بلکه هغوی چه څه کوی هغه قصدًا سره د پوهے نه کوی. د تورات بیاناتو او د محمد صلی الله علیه وسلم معجزاتو سره حق واضح شوے دے. نو اُوس چه دوی څه کوی محض د رشک او حسد د وجے نه کوی. فَاعۡفُوۡا وَاصۡفَحُوۡا حَتّٰی یَاۡتِیَ اللّٰهُ بِاَمۡرِهٖ د اَمر نه مراد د جهاد حکم دے. والمراد به الامر بالقتال. (روح ص ۳۵۷ ج ۱) د اَهلِ کتاب مذکوره حرکتونو باندې د مسلمانانو غصه کیدل

لازمي (خبره) ده نو الله تعالیٰ في الحال دانتقامي کارروائۍ نه منع کړل او دعفو درګذر حکم ورکړو یعنې دجهاد حکم راتللو پورې صبر او سکون او عفو درګذر نه کار واخلئ. اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ o هغه چه کله اوغواړي ددې سرکشه او معاندينو نه به انتقام واخلي او د اسلام او اهلِ اسلام مدد به اوکړي.

۲۲۰ وَاَقِیْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ ترخو چه دجهاد حکم نه وي راغلی تر هغه وخته پورې د مانځه او دزکوٰة او نورو اسلامي احکامو پابندي کوئ. مونځ او زکوٰة وغیره امور عملي دي، ددې سره د باطن اصلاح کیږي چه ددې سره یو طرفته خو د دشمنانو تکلیف او ضرر رسولو باندې د صبر او سکون مادہ پیدا کیږي او بل طرفته د توحید په عقیده کښې پوخوالی او مضبوطیا پیدا کیږي چه مسلمانان د توحید د دشمنانو او د اسلام باغیانو سره د جهاد کولو د پاره تیار روي. ۲۲۱ اول ئې د عفوې او درګذر او د مونځ زکوٰة حکم ورکړې سې دلته ئې ددې احکامو ترغیب ورکړو چه کوم چرې تاسو نه خوک څه قسمه نیک کار اوکړي نو هغه به نشي ضائع کولې بلکه الله پاک سره به د هغې ثواب محفوظ وي چه تاسو به هغه الله سره بیا مومئ. اِنَّ اللّٰهَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِیْرٌ o دا هم د ما قبل تاکید دې یعنې تاسو ته به ستا سو د ورې نه وړې نیکۍ بدله هم ملاویږي ځکه چه ستاسو هره نیکي د الله په نظر کښې ده لهٰذا د نیکۍ ضائع کیدلو هلته ادنیٰ احتمال هم نشته.

اَهلِ کتابو او مشرکانو د مسلمانانو خلاف هره حربه استعمال کړه. دوی کښې د شرک خورولو او د دوی د ګمراه کولو هر ممکن کوشش ئې اوکړو. هغوی هره موقعه باندې د ناکامئ او نامرادۍ سره مخامخ شول نو اوس ئې طریقه بدله کړه او یوه بله پروپیګنډه ئې شروع کړه یعنې خپل غلط او مشرکانه عقائد او اعمال ئې په عجیبه او ښکلې رنګ کښې د مسلمانانو په وړاندې پیش کول شروع کړل. لکه چه په راتلونکو ایتونو کښې الله تعالیٰ د دوی د ناکاره حرکتونو شکوه کړې ده او ورسره ئې په معقوله طریقه د دوی اصلاح هم کړې ده.

پنځهٔ شکوې

اوله شکوه: ۲۲۲ د یهودیانو عقیده ده چه په آخرت کښې به نجات صرف یهودیانو د پاره وي او د عیسایانو عقیده ده چه د دوی نه بغیر به هیڅوک جنت ته نه ځي. عیسایانو به حضرت عیسیٰ علیه السلام د خپلو ګناهونو کفاره او نجات ورکوونکی ګڼړلو او یهودیانو به حضرت عُزیر علیه السلام. د دواړو ډلونه به هریو دعویٰ کوله چه هغوی د پیرانو او پیغمبرانو ځامن دي، د الله تعالیٰ محبوب او خوښ دي نو جنت صرف د دوی د پاره دې. په حقیقت کښې یهودو او نصاراؤ په اسلام باندې عیب لګول غوښتل او خلقو کښې ئې د اسلام نه کرکه پیدا کول غوښتل. د دوی مقصد دا وُو چه نجات صرف د دوی دین سره تړلی دې. لهٰذا د دوی د دین په موجودګۍ کښې اسلام ته څهٔ ضرورت دې. وړاندې د دې دعوې

تردید دے۔ تِلْكَ اَمَانِيُّهُمْ د اماني تحقيق مخکښې تېر شوے دے چه دد ينه مُراد باطل او دروغ خواهشات دي او د هغې هيڅ حقيقت نشته. اى شهواتهم الباطلة التي تمنوها (معالم و خازن ص ۸۳ ج ۱) يعني دا محض ارزو ګانے دي. قُلْ هَاتُوْا بُرْهَانَكُمْ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ٥ د يهودو او نصاراؤ لاجواب کولو دپاره د دوي نه د دوي په دعوي باندې د دليل مطالبه شوے ده يعني که چرے تاسو رښتيا وئے د مذکوره دعوي کښې رښتينوني يئ نو د خپلې دعوي په حقله دليل پيش کړئ. د دے نه پس ئے د نجات اخروي اصل قانون بيان کړے دے.

بَلٰى ۚ مَنْ اَسْلَمَ وَجْهَهٗ لِلّٰهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ فَلَهٗٓ اَجْرُهٗ

ولے نه ده، چا چه تابع کړو خپل مخ د الله او هغه نيک کاره وي نو هغه دپاره دے ثواب

عِنْدَ رَبِّهٖ ۠ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿١١٢﴾ وَ

خپل رب سره کلله او نه ويره شته دوي باندې او نه به هغوي خفه کېږي او

قَالَتِ الْيَهُوْدُ لَيْسَتِ النَّصٰرٰى عَلٰى شَيْءٍ ۠ وَّقَالَتِ

يهود وائي چه نصارىٰ نه دي په يو لاره باندې او نصارىٰ

النَّصٰرٰى لَيْسَتِ الْيَهُوْدُ عَلٰى شَيْءٍ ۙ وَّهُمْ يَتْلُوْنَ الْكِتٰبَ ؕ

وائي چه يهود نه دي په يوه لاره باندې باوجود د دے چه دوي ټول لولي کتاب

كَذٰلِكَ قَالَ الَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ مِثْلَ قَوْلِهِمْ ۚ

دا رنګ ويلي وه هغه خلقو څوک چه جاهلان دي کلله د دوي په شان خبره

فَاللّٰهُ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فِيْمَا كَانُوْا فِيْهِ

اوس به الله حکم کوي دوي کښې د قيامت په ورځ په کومه خبره کښې چه هغوي

يَخْتَلِفُوْنَ ﴿١١٣﴾ وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ مَّنَعَ مَسٰجِدَ اللّٰهِ

اختلاف کوله کلله او د هغه نه لوئے ظالم څوک دے چا چه منع کړو د الله په جماتونو کښې

اَنْ يُّذْكَرَ فِيْهَا اسْمُهٗ وَسَعٰى فِيْ خَرَابِهَا ؕ اُولٰٓئِكَ

چه واخستې شي هلته د الله نوم کلله او کوشش ئے او کړو د هغې په ورانولو کښې، دوي لره

مَا كَانَ لَهُمْ أَنْ يَدْخُلُوهَا إِلَّا خَآئِفِينَ ۚ لَهُمْ فِي

... چه داخل شي ... خو په داسې حال کې چه ويريدونکي وي دوی ته په دنيا

الدُّنْيَا خِزْيٌ وَّلَهُمْ فِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١١٤﴾

کې ذلت دے او دوی دپاره په آخرت کې لوئے عذاب دے

لغات: ... ذليله ... دے

موضح قرآن ف١ ... دا په عرب ... خلق دي ... د ابراهيم ... عبادت ... شروع کړو ... ف٢ نصارا ... او يهود ... حضرت عيسیٰ ... بيت المقدس ... ګران ... يهود ... او د ... الله تعالیٰ ... مسلمانانو ... کړو.

فتح الرحمٰن ف١ د اهل کتاب ... يهودو او نصاراؤ ... انکار کولو او ... اشاره ... ف٢ په دې آيت کې ... د مکې ... او اشاره ده ... بيت المقدس ... منسوخ شو ... په دې آيت کې اشاره ده ... ته.

تفسير: ١١٢ ... يهودو او نصاراؤ دعوے ... ذات مراد دے يا اراده او قصد ... ذات الله پاک ته ... سپارلو او ... شريک نه جوړول ... وَهُوَ مُحْسِنٌ ... او فاعل نه حال دے ... يهودو او نصاراؤ دعوی اوکړه چه دوی ... جنت ته به ځي ... جواب ورکړے شو ... سپارلو او صرف ... شريک نه کړو ... رضا ... معلومه شوه چه ... يهود او نصاراؤ دعوی غلطه ده ... عزير او حضرت مسيح عبادت کوی او هغوی ته اواز کوی.

١١٣ ... راجع دی ...

یعنې دے خلقو ته به په اخرت کښې په تیره شوے زمانه نه ځهٔ افسوس وی او نهٔ به ئے راتلونکے غم غمژن کوی۔

دویمه شکوه

۲۱۵ یهودیانو اُوئیل چه د نصارٰو دین باطل دے ځکه چه هغوی د تثلیث او د مسیح د اُلوهیت قائل دی۔ هغوی شرک خپل دین گرځولے دے۔ د دوی دین غلط دے۔ وَقَالَتِ النَّصٰرٰی لَیْسَتِ الْیَهُوْدُ عَلٰی شَیْءٍ او عیسایانو به وئیل چه د یهودیانو دین غلط دے ځکه چه هغوی حضرت مسیح علیه السلام او انجیل مُقدس نهٔ منی۔ وَهُمْ یَتْلُوْنَ الْکِتٰبَ۔ اَلْکِتٰب کښې الف لام جنس د پاره دے او دے نه مُراد تورات او انجیل دے یعنې دا دواړه ډلے خپل خپل کتاب لولی او بیا هم دا سے دعوٰی کوی د کومے تردید چه د دوی خپل کتاب کوی۔ یا د الکتٰب نه مُراد تورات دے ځکه چه تورات نصارٰی هم منی۔ مطلب دا دے چه دواړه ډلے یو کتاب منی بیا د دے باوجود دیو بل د دین ابطال کوی۔

۲۱۶ الَّذِیْنَ لَا یَعْلَمُوْنَ ۵ یعنې کوم خلق چه علم نهٔ لری، چا سره چه د دے کتاب او د الله تعالٰی د ورکړے شوے رُشد او هدایت عِلم نشته۔ د دے نه مُراد دَ عربو مشرکین دی: وهم مشرکون العرب فی قول الجمهور۔ (روح ص ۳۶۱ ج ۱) مِثْلَ قَوْلِهِمْ، دے اهلِ کتابو او اهلِ عِلم پشان په دعربو مشرکانو هم دا رنگے دعوے کولے او د خپل شرکی دین او جاهلیت نه سوا باقی ټول دینونه به ئے باطل گڼړل۔ قالوا لاهل کل دین لیسوا علی شیء (مدارک ص ۵۵ ج ۱) قالوا فی نبیهم محمد صلی الله علیه وسلم واصحابه انهم لیسوا علی شیء من الدین (معالم ص ۸۳ ج ۱) د جواب حاصل دا دے چه د یهودیانو او نصارٰو دا دعوٰی هم دَ عربو د جاهل مشرکانو پشان بالکل جاهلانه او احمقانه ده۔

۲۱۷ بَیْنَهُمْ کښې ضمیر یهود او نصارٰو ته راجع دے۔ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ فِیْمَا دواړه ظرفونه یَحْکُمُ سره متعلق دی۔ فِیْهِ، یَخْتَلِفُوْنَ سره متعلق دے یعنې دُنیا کښې خو به دا جګړے کوی۔ د دے جګړے صفا فیصله خو به د قیامت په ورځ الله تعالٰی کوی۔

دریمه شکوه

۲۱۸ مَنْ د لته د اِستفهام انکاری د پاره دے یعنې د الله د کورونه د منعه کونکو نه لوئے ظالم بل نشته۔ وکلایرا د بالاستفهام حقیقة و انما هو بمعنی النفی فیئول الی الخبر ای لا احد اظلم من ذلک۔ (روح ص ۳۶۳ ج ۱) مَنْ مَّنَعَ او مَسٰجِدَ اللهِ کښې مفسرینو د بعض روایتونو په بناء تخصیص کړے دے۔ بعضو وئیلی دی چه د دے نه مُراد نصارٰی دی چا چه یهودو لره د بیت المقدس نه اُوویستل او بیت المقدس ئے وران کړو او د بعضو خیال دے چه د دے نه مُراد دَ مکے مشرکان دی چا چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم او د هغوی صحابه رض مقام حدیبیه بانډې دَ بیت الله نه منع کړل لیکن بهتره دا ده چه ایت پخپل عموم بانډې پاتے وی او د دینه مُراد هر هغه سړے وی څوک چه جُماتونه غیر اباد کړی خواه هغه را اُوغورځوی یا پکښې د خالص توحید دَ ذِکر نه منعه اوکړی یا پکښې د شرک تبلیغ اوکړی او غیر الله ته د آوازکولو په ذریعه ئے غیر آباد کړی۔ وظاهر الأیة العموم فی کل مانع

وفی کل مسجد وخصوص السبب لایمنعه (روح ص ٣٦٣ ج ١) مَسٰجِدَ اللّٰهِ مُبدل منه دے او اَنْ یُّذْکَرَ فِیْهَا اسْمُهٗ بدل اشتمال دے او د الله ذِکر نه مراد دے ای ان یذکر فیها اسمه وحده قاله الشیخ رحمه الله تعالی۔ مطلب دا دے چه څوک د الله په کورونو کښې خالص توحید سره د الله پاک ذِکر کرنه منع کوی هغه د ټولو نه لوئے ظالم دے۔ د هغه نه لوئے ظالم بل نشته خواه هغه یهودی وی یا عیسائی یا مشرک او یا د نننۍ زمانے پنا سپی مسلمان۔ وَسَعٰی فِیْ خَرَابِهَا۔ تخریب عام دے خواه عمارت راغورځولو سره وی یا خالص توحید سره د الله ذِکر او مانځه نه د منعه کولو په ذریعه وی۔

٢١٩ دوی له د الله په کورونو کښې د هغې د تعظیم او حرمت په بناء په ویره ویره داخلیدل پکار وو لیکن دا ظالمان د هغې د ورانولو کوشش کوی۔ لَهُمْ فِی الدُّنْیَا خِزْیٌ وَّلَهُمْ فِی الْاٰخِرَةِ عَذَابٌ عَظِیْمٌ۔ د اسے ظالمانو دپاره د دنیا کښې ذلت او رسوائی ده او په آخرت کښې د جهنم عذاب دے۔

وَلِلّٰهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ ۗ فَاَیْنَمَا تُوَلُّوْا فَثَمَّ وَجْهُ اللّٰهِ ۗ

او هم د الله دے مشرق او مغرب، نو کوم طرفته چه تاسو مخ کړئ هم هغلته متوجه دے الله ٢٢٠

اِنَّ اللّٰهَ وَاسِعٌ عَلِیْمٌ ﴿١١٥﴾ وَقَالُوا اتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا ۙ

بیشکه الله بے انتها بخښش کونکے په هر څه خبردار دے ٢٢١ او وائی الله لری اولاد ٢٢١

سُبْحٰنَهٗ ۗ بَلْ لَّهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۗ کُلٌّ لَّهٗ

هغه د ټولو خبرو نه پاک دے بلکه هغه دپاره دی کوم څه چه اسمانونو او زمکه کښې دی ٢٢٢ ټول د هغه

قٰنِتُوْنَ ﴿١١٦﴾ بَدِیْعُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۗ وَاِذَا قَضٰۤی

تابعداری۔ نوے پیدا کونکے دے د اسمان او زمکے ٢٢٣ او کله چه حکم کوی

اَمْرًا فَاِنَّمَا یَقُوْلُ لَهٗ کُنْ فَیَکُوْنُ ﴿١١٧﴾ وَقَالَ الَّذِیْنَ

د څه کار نو دا فرمائی هغه ته چه شه نو هغه اوشی۔ او وائی هغه خلق کوم چه

لَا یَعْلَمُوْنَ لَوْلَا یُکَلِّمُنَا اللّٰهُ اَوْ تَاْتِیْنَاۤ اٰیَةٌ ۗ کَذٰلِکَ

په هیڅ نه پوهیږی ٢٢٤ ولے نه کوی خبرے مونږ سره الله یا ولے نه راځی مونږ ته څه ایت، دا رنګے

قَالَ الَّذِیْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ مِّثْلَ قَوْلِهِمْ ۗ تَشَابَهَتْ

وئیلے دی هغه خلقو کوم چه د دوی نه مخکښې وو د دوی په شان خبرے ٢٢٥ یو شان دی

قُلُوْبُهُمْ قَدْ بَيَّنَّا الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يُّوْقِنُوْنَ ﴿۱۱۸﴾ اِنَّآ اَرْسَلْنٰكَ

زړونه ددوی، بیشکه موږ بیان کړی دی نښې هغه خلقو د پاره څوک چه یقین راوړی ق بیشکه موږ ته لیږلی یې

بِالْحَقِّ بَشِيْرًا وَّنَذِيْرًا ۙ وَّلَا تُسْـَٔلُ عَنْ اَصْحٰبِ الْجَحِيْمِ ﴿۱۱۹﴾

رښتونوین سره زیری ورکونکے او ویره ورکونکے او ستا نه پوښتنه نشته د دوزخ د اوسیدونکو ق

وَلَنْ تَرْضٰى عَنْكَ الْيَهُوْدُ وَلَا النَّصٰرٰى حَتّٰى تَتَّبِعَ

او هرګز به راضي نه وی ستا نه یهود او نه نصاری ترڅو چه ته تابع نه یې

مِلَّتَهُمْ ؕ قُلْ اِنَّ هُدَى اللّٰهِ هُوَ الْهُدٰى ؕ وَلَئِنِ

د دوی د دین، ته اُووایه کومه لاره چه الله اوښودله هغه سمه لاره ده او بالفرض که

اتَّبَعْتَ اَهْوَآءَهُمْ بَعْدَ الَّذِىْ جَآءَكَ مِنَ الْعِلْمِ ۙ

ته تابعداری او کړے د دوی د خواهشاتو پس د هغه علم نه کوم چه تا ته در اُورسیدو

مَا لَكَ مِنَ اللّٰهِ مِنْ وَّلِىٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ ﴿۱۲۰﴾

نو ستا د پاره هیڅوک نشته د الله د لاس نه حمایت کونکے او نه مددګار نشته

نکات:- ۱ دا متعلق دے د وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ مَّنَعَ مَسٰجِدَ اللّٰهِ سره. ۲ خلورمه شکوه. ۳ پنځمه شکوه د مشرکینو مکه د پاره. ۴ تسلی د پاره د نبی کریم صلی الله علیه وسلم ۵ زجر او تنبیه د پاره د نبی کریم صلی الله علیه وسلم

موضح قرآن ف۱ دا هم د یهودو او نصاراؤ جګړه وه چه هریو به خپلے قبلے نه بهتره وئیله. الله تعالیٰ اُوفرمائیل چه الله تعالیٰ هیڅ یو طرف پورے مخصوص نه دے، د هغه حکم سره چه کوم طرفته مخ کوئ هغه متوجه دے. ف۲ یعنی وړاندے اُمت کوم چه موجود وُو هغه هم خپل نبیٔ ته دا اُووئیل کوم چه اُوس خلقو وئیل شروع کړل. ف۳ یعنی نا بانده الزام نشته چه دا د وړے مُسلمانان نکړل.

فتح الرحمن ف۱ د اهلِ کتابو نورے د حماقت خبرے دا وے چه یهودو عزیر علیه السلام او نصاراؤ عیسیٰ علیه السلام ته د الله خوئے وئیلو، الله تعالیٰ نازل کړو.

تفسیر:- ۲۲۰ دے ایت کښ خطاب مسلمانانو ته دے. مسلمانانو ته الله تعالیٰ تسلی ورکړے ده چه که چرے کافران او مشرکان تاسو د جُمات تو نو نه منع کړی نو تاسو فکر مکوئ. مشرق او مغرب او باقی ټول طرفونه د الله پاک دی، تاسو چه هر چرته یے ئی هلته مخ قبلے ته اُوکرځوئ او خپل عبادت او مونځ اُوکړئ ځکه چه الله تعالیٰ هر ځائے موجود

دے. تاسو چه چرته هم هغه ته اواز کوئ هغه به ستاسو اواز اوری. ای فَثَمَّ ای مکان
فعلتم التولیة شطر القبلة (روح ص ٣٦٥ ج ١، مدارک ص ٥٥ ج ١) اِنَّ اللّٰهَ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ه د الله تعالیٰ
حکومت او رحمت د بندګانو وسیع دے او هغه د بندګانو د مصلحتونو نه پوره خبر دے نو
ځکه ئے د عبادت په معامله کښ دیو ځائے تخصیص اونکړو چه دلته عبادت کوئ یا کوئ.

خلاصه شکوه

٢٣١ د قَالُوْا فاعل یهود، نصاریٰ او د عربو مشرکان دی او
د ے دی ځکه چه د دریواړو ذکر مخکښ تیر شوے دے. دواړه
په حضرت عزیر علیه السلام او عیسایانو په حضرت عیسیٰ علیه السلام ته د الله پاک ځوئے وئیلو، او
مشرکین عرب به وئیل چه فرشتے د الله تعالیٰ لونړه دی. اِتَّخَذَ اللّٰهُ سره د دے طرفته اشاره
ده چه د دے خلقو به الله پاک لره حقیقی ولد نه ثابتولو بلکه د دوی مطلب صرف دا وو چه
د احضرات الله تعالیٰ ته د ومره خوښ دی چه هغه دوی لره خاص ګټکولی دی او د ځانو
نه د دوی مراد نائب او مختار وو یعنی ځکه چه ځوئے د خپل پلار نائب وی د غه رنګ الله
خپل غوره کړے شوے بندګانو ته د خپلو اختیاراتو نه څه اختیارات ورکړل او خپل نائبان
ئے اوګرځول او دنیا ته ئے رالیږل. اوس هغوی د الله ورکړے شوی اختیارات مثلاً
علم غیب، حاجت روائی، مشکل کشائی وغیره په ذریعه د خلقو حالاتو نه خبر دی، د هغوی
غائبانه اواز اوری او د هغوی په حالاتو او مشکلاتو کښ د هغوی مدد کوی. اوس ورانده
د دے جواب دے.

٢٣٢ د زمکے او اسمان ټول مخلوق د الله تعالیٰ مملوک او هر څیز د هغه ملکیت دے خواه
انبیاء وی یا ملائک یا د الله تعالیٰ نیکان بندګان او نور څیزونه. لهذا دا ټول د الله تعالیٰ
مملوک شول نو بیا د هغه خاص څرنګه کیدے شی؟ بل دا چه د هغوی ضرورت خو هغه چا
ته وی چه محتاج او فانی وی د پاره د دے چه د هغه نوم ژوندے پاتے شی او ځوک ئے وارث
جوړ شی نو الله تعالیٰ خو محتاج نه دے او نه هغه فانی دے، هغه خو د زمکے او اسمان پوره
مالک او بادشاه دے، د زمکے او اسمان ټول اختیارات د هغه په لاس کښ دی. په دے وجه
د هغه کوم نائب یا وارث ته ضرورت نشته. كُلٌّ لَّهٗ قٰنِتُوْنَ ه د زمکے او اسمان ټول مخلوق
چه په هغے کښ حضرت عزیر او حضرت مسیح او ملائک هم شامل دی، ټول د الله تعالیٰ
فرمانبردار او مطیع دی او د هغه د ربوبیت اقرار کوونکی او د هغه په دربار کښ د عبدیت
معترف دی او په خپلو حاجتونو کښ الله ته اواز کوی. په دے وجه هغوی د الله خاص څنګه
کیدے شی بلکه هغوی خو د الله پاک غوره کړے شوی بندګان دی.

٢٣٣ هغه زمکه او اسمان بغیر د چا د امداد نه او بغیر د مثال سابقه نه نوے پیدا کړی دی
اِذَا قَضٰٓى اَمْرًا دلته قَضٰى په معنیٰ د اَرَادَ دے ای اَرَادَ شَیْئًا (روح ص ٣٦٨ ج ١) یعنی هغه چه
د څه څیز د پیدا کولو اراده اوکړی. فَاِنَّمَا يَقُوْلُ لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنُ ه نو بس اراده کولو سره هغه
څیز په وجود کښ راشی. كُنْ وئیلو سره کیدل دا د تیزئی او جلتئ نه کنایه ده. دا مطلب نه
دے چه د كُنْ لفظ وائی نو هغه څیز وجود ته راځی. هغه صرف د ارادے انتظار وی چه څیز

پیدا شي. وهذا مجاز عن سرعة التكوين وتمثيل ولا قول ثم (مدارک ص ۵۰ ج ۱). نو کوم الله چه دومره طاقتور او قادر وي چه صرف اراده اوکړي او کار اوشي نو تاسو اُووايئ چه د هغه نائبانو ته څه ضرورت دے؟ لهٰذا د هغه څوک نائب او ولد نشته.

پنځمه شکوه

۲۲۴ خلورمه شکوه توحید کښې د جګړے کولو متعلق وه او دا رسالت بانئ د سوالونو او اعتراضونو متعلق ده. اَلَّذِیْنَ لَا یَعْلَمُوْنَ نه بعضو مشرکین عرب مراد اخستي دي او بعضو یهود او نصارٰی لیکن بحر کا دا ده چه د دے نه درے واړه ډلے مراد دي ځکه چه بے ځایه او معاندانه سوالونه د دریواړو ډلو نه ثابت دي. مشرکانو مطالبه کړے وه: فَلْیَاْتِنَا بِاٰیَةٍ كَمَاۤ اُرْسِلَ الْاَوَّلُوْنَ ۝ (الانبیاء ع ۱) او د یهود او نصاراؤ متعلق ارشاد دے. یَسْــٴَـلُكَ اَهْلُ الْكِتٰبِ اَنْ تُنَزِّلَ عَلَیْهِمْ كِتٰبًا مِّنَ السَّمَآءِ ۝ (نساء ع ۲۲) باقي پاتے دا خبره چه مشرکین خو هیڅ علم نه لرل ځکه چه د وي سره د الله کتاب نه وو. اَهلِ کتاب به څرنګه د لَا یَعْلَمُوْنَ لاندې داخل وي نو د دے جواب دا دے چه د دوي د جاهلانه حرکاتو او بد عملئ په بناء باندې د دوي نه د علم نفي شوے ده. وَ على الاخرين لتجاهلهم اولعدم علمهم بمقتضاه (روح ص ۳۷۰ ج ۱). لَوْلَا یُكَلِّمُنَا اللّٰهُ یعنی ځکه چه الله تعالٰی فرشتو سره خبرے کوي یا انبیاؤ ته وحی رالیږي، د هغے نه په نیغه پلا وحی په ذریعه موږ سره خبرے ولے نه کوي او موږ ته هدایت نامه ولے نه رالیږي؟ اَوْ تَاْتِیْنَاۤ اٰیَةٌ د آیت نه د نبي ﷺ د صداقت دلیل مراد دے. دا سوالات د دوي د انتهائي سرکشئ او ضد او عناد نتیجه وه. د بغض او عناد اظهار لپاره ئے کړے وو.

۲۲۵ یعني دا سرکشانه او معاندانه رویه څه د دوي پورے خاص نه ده، د دوي نه مخکښې پلرونو نیکونو ئے دا قسم سوالونه کړي وو. فَقَدْ سَاَلُوْا مُوْسٰۤى اَكْبَرَ مِنْ ذٰلِكَ (نساء ع ۲۲) تَشَابَهَتْ قُلُوْبُهُمْ. بے عقلئ او ضد عناد کښې د دوي او د دوي د مشرانو زړونه سره ورته شوي دي. نه د دوي سوالات په حق طلبی باندې مبني وو او نه د دوي مطالبات په نیک غرض باندې مبني دي. ای قلوب هٰؤلاء من قبلهم في العمى والعناد (روح ص ۳۷۰ ج ۱). قَدْ بَیَّنَّا الْاٰیٰتِ. د دے خلقو مقصد محض سرکشي او ضد دے کنې موږ خو دلائل او آیات واضح واضح بیان کړیدي. لِقَوْمٍ یُّوْقِنُوْنَ ۝ کوم خلق چه صدق نیت سره د حق او یقین طلب کوونکي دي. د دوي د اطمینان د پاره خو هغه آیتونه کافي او شافي دي: الطالبون معرفة حقائق الاشياء على يقين وصحة (ابن جرير ص ۳۸۸) ای یطلبون الیقین (بیضاوي ص ۳۶۳) لیکن د ضد او عناد څه علاج نشته.

۲۲۶ د حق نه مراد قرآن او دین اسلام دے او ظرف اَرْسَلْنٰكَ سره متعلق دے (کبیر ص ۱۰ ج ۱) بَشِیْرًا وَّ نَذِیْرًا. دا د ضمیر خطاب نه حال دے. وَّ لَا تُسْــٴَـلُ عَنْ اَصْحٰبِ الْجَحِیْمِ ۝ کوم خلق چه کفر او انکار کولو سره دوزخ ته تلي دي د هغوي متعلق به ستا نه د دا تپوس نشي کولے چه ستا سو د تبلیغ اثر په دوي ولے اُونه شو، دوي ایمان ولے رانه وړلو او دوزخ ته لاړل. ځکه چه د اهلِ کتابو او مشرکینو کفر او انکار د ضد او عناد د وجه اُو رسیدُ

نو دے سره نبی علیه السلام ته محض د شفقت علی الخلق په وجه غم او افسوس اوشو چه دے
خلقو ایمان ولے رانه وړلو۔ نو دے آیت کښ الله تعالیٰ نبی علیه السلام ته تسلی ورکړه چه تاسو
دا فکر مکوئ۔ مونږ تاسو ته د قرآن پشان د حق او صداقت، رُشد او هدایت نه ډک کتاب
سره اولیږلئ او ستاسو فرض دا دی چه تاسو د تبلیغ حق آدا کړئ او منونکو ته زیرے ورکړئ
او نه منونکی اُوویروئ۔ باقی دوی باندې منل، نو دا خو ستاسو فریضه نه ده او نه دا ستاسو د
اختیار خبره ده۔ د دے وجې نه کوم خلقو چه انکار او کفر اوکړو، جهنم ته به ځی، د دوی
متعلق به ستاسو نه هیڅ سوال نه کیږی۔ د یکښ الله تعالیٰ د دوی د ایمان نه راوړلو عُذر
د نبی علیه السلام له طرفه بیان کړو چه د دے بد انجام سبب دوی پخپله دی، ستاسو د تبلیغ
قصور نه دے، د بے بسئ او بے اختیارئ اِنتها ده۔ که چیرے نبی علیه السلام مالک، مختار او
متصرف وے نو په دنیا کښ به هیڅ یو کافر په نظر نه راتلو۔ نبی علیه السلام به ټولو ته د ایمان
دولت ورکړے وو۔ اوس کړانې د یهودیانو او نصاراؤ اسلام سره په سختئ دشمنئ او کفر
باندې د سختئ بیان دے۔

۲۲۷ے دا نبی علیه السلام ته د زورنے او تنبیه په طور اُوفرمائیل چه هغوی به شرک او
گمراهئ کښ دومره پاخه دی چه توحید به هیڅکله اُونه منی۔ نو تاسو د دوی د خواهشاتو
تابعداری مکوئ۔ د نبی علیه السلام انتهائی خواهش دا وو چه یهود او نصاریٰ مسلمانان شی۔
او هغوی سره به یې د نرمئ سلوک کولو۔ نو الله تعالیٰ اُوفرمائیل چه دے معمولی نرمئ سره
دوی راضی کیدونکی نه دی۔ دوی به ستاسو نه صرف د دے صورت کښ راضی شی چه تاسو
د دوی د شریعت تابعداری اوکړئ او د دوی دین خپل کړئ۔ یهودیانو به حضرت عزیر
او عیسایانو به حضرت عیسیٰ علیه السلام د الله تعالیٰ نائب او متصرف او مختار گڼړلو او رابللو به یې۔
تاسو هم چه دوی ته آواز کوئ او رابلئ یې او د دوی نور مشرکانه او جاهلانه رسمونه په
ځائے راوړئ نو بس دا خلق به ستاسو نه راضی شی۔ بل دا چه د نبی علیه السلام په زړه کښ
چه د دوی د ایمان راوړلو کوم معمولی شان اُمید وو هغه یې هم ختم کړو گویا چه د دوی
ایمان راوړل د امکان نه بهر دی ځکه چه دا په یو محال امر پورے مُعلق کړے شوی دی۔
نه نبی علیه السلام د دوی د دین تابعداری کوئ شی او نه دوی ایمان راوړے شی۔ د ملت نه
مُراد شریعت او دین دے۔

۲۲۸ے د یهودو او نصاراؤ تیری شوی مقالات او حالات د دوی د دے دعویٰ باندې مبنی
وو چه صرف د دوی دین حق دے او هدایت صرف یهودیت او عیسائیت کښ دے۔ نو
دے جواب دا ورکړو چه د دوی دعویٰ باطله ده بلکه اصل هدایت یعنی دینِ اسلام
کوم باندې چه ته یې او د کوم طرفته چه دعوت ورکوے، اصل هدایت هم دا دے چه الله
ته خوښ دے او په آخرت کښ په کار راتلونکے دے۔ د دے سره نبی علیه السلام او د هغوی اُمت ته
خبر داری ورکړے شوے دے چه چرته د یهودو او نصاراؤ د پروپیګنډے نه متاثره نشی او
خپل عاقبت خراب نکړی۔

۲۲۱ اَھْوَاءَ دهَوَىٰ جمع ده ، معنیٰ ئې ده "دَنفس خواهش" د اَھواء نه مراد هغه باطل عقائد دي کوم چه محض نفساني خواهشاتو پسې لګيدلو سره هغوی جوړکړې وو او کوم چه به هغوی دملت او دین په نوم سره دخلقو وړاندې پیش کول ؛ ای الاٰراء الزائغة المنحرفة عن الحق الصادر لاعنهم بتبعیة شهوات انفسهم (روح ص ۳۷۲ ج ۱) څنګه چه نن صباځينې پیرانو او مُلایانو نفساني خواهشات او شیطاني وَسوسې دین ګرځولې دے او څوك چه ددوی دکوړجوړ شوې دین نه مني هغه ددوی په نزد مَردود او د الله پاك نه لرې دے. وَلَا تَتَّبِعْ کښ خطاب نبي علیه السلام سره دے لیکن دهغوی په وساطت سره داخطاب دهغوی اُمت ته هم شامل دے. بَعْدَ الَّذِي جَآءَكَ مِنَ الْعِلْمِ. دعِلم نه مُراد وحي ده یعنې د الله پاك له طرفه دَوحي په ذریعه دحق او باطل واضح کیدلو نه پس او دَ یهودو او نصاراؤ دَعقائدو دبطلان او فساد ښکاره کیدلو نه پس که چرې ته ستا سو کښې څوك هم ددې باطلو خواهشاتو تابعداري اوکړه.

۲۲۳ دا دَلَئِنْ جواب دے. یعنې که چرې ستا سو کښې چا دَدوی تابعداري اوکړه نو دهغه به هیڅوك حمایتي او یار و مَددګار نه وي چه د الله پاك دعذاب نه ئې بچ کړي. د نبي علیه السلام د یهودو او نصاراؤ دَ خواهشاتو طرفته خو معمولي شان میلان هم نشي متصور کیدے ، بیا دهغوی مخاطب کولو سره دا تنبیه وَلې ورکړې شوه؟ نو ددے وجه دا ده چه اُمتِ محمدیه له دباطل دین، شرك او بدعت دتابعدارئ دخوفناك او دردناك انجام نه سختئ سره منع کول مقصود دي چه دَدوی په ذهن کښې دا خبره کینې چه دَشرك او بدعت اتباع دومره لویه ګناه او سخت جرم دے چه که بفرض محال هغه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم نه هم (نعوذ بالله) واقع شي نو هغوی به هم ددے سزا نه نشي مُستثنا کولے او نه به دهغه په حق کښې د یو پیغمبر، فرشتے یا پیر سفارش قبولے شي، نو بیا مونږ دکوم باغ مُولئ یو. دګه اُمتِ محمدیه له عبرت حاصلول پکار دي. فیه تهدید و وعید شدید للامة عن اتباع طرائق الیهود والنصارىٰ بعد ما علموا من القرآن والسنة. (ابن کثیر ص ۱۶۳ ج ۱) دافسوس مقام دے چه نن دتوحید او سُنت په ځائے شرك او بدعت دین ګرځولے شي او ددے اتباع کولے شي، غیر الله ته آوازکول ، بزرګانو ته نذرونه او منتې کول، قبرونو باندې عُرسونه کول، قبرونو باندې غلافونه اچول او ډیوے (شمع) وربانډې بلول وغیره نن ددین اسلام یوه حصه ګرځیدلې ده. العیاذ بالله العظیم.

دَتوحید دعوىٰ باندې نقلي دلیل

تر دے ځائے پورے خود اهلِ کتابو د نه منو نکو ذکر وُو ، او دهغه خلقو ذکر دے چا چه ددوی نه ایمان راوړو او تورات ئې کما حقه اُولوستلو او هیڅ قسم تحریف ئې پکښې اُونکړو او بیائې دَهغې دَ تعلیم مطابق عمل اوکړو. ددے آیت تعلق اَصل دعوے اُعْبُدُوا رَبَّكُمُ سره دے او دا ددے دعوے نقلي دلیل دے.

اَلَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ يَتْلُوْنَهٗ حَقَّ تِلَاوَتِهٖ ؕ اُولٰٓئِكَ
هغه خلق چاته چه موږ ورکړی دی کتاب هغوی داتلاوت کوي ئې دده حق د تلاوت هغوی
يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ ؕ وَمَنْ يَّكْفُرْ بِهٖ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿۱۲۱﴾
یقین راوړي پدې او څوک چه منکرشي ددې نو هغوی نقصان مونده ونکي دي ﴿۱۲۱﴾
يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اذْكُرُوْا نِعْمَتِيَ الَّتِيْٓ اَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ وَ
اے بنی اسرائیلو ! یاد کړئ احسان زموږ دا کوم چه کړے دے موږ تاسو باندې او
اَنِّيْ فَضَّلْتُكُمْ عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۲۲﴾ وَاتَّقُوْا يَوْمًا لَّا تَجْزِيْ
دا چه موږ تاسو ته بهتري ورکړه په اهل عالم باندې ﴿۱۲۲﴾ او ویریږئ د هغه ورځې نه چه کار به ورنشي
نَفْسٌ عَنْ نَّفْسٍ شَيْئًا وَّلَا يُقْبَلُ مِنْهَا عَدْلٌ وَّلَا
یو انسان د بل په طرفه لږ هم او نه به قبول کړے شي دهغه نه طرفه بدله او نه به
تَنْفَعُهَا شَفَاعَةٌ وَّلَا هُمْ يُنْصَرُوْنَ ﴿۱۲۳﴾ وَاِذِ ابْتَلٰٓى اِبْرٰهٖمَ
په کار راشي هغه ته سفارش او نه به هغه ته مدد اورسیږي ﴿۱۲۳﴾ او کله چه اوازمائیلو ابراهیم لره
رَبُّهٗ بِكَلِمٰتٍ فَاَتَمَّهُنَّ ؕ قَالَ اِنِّيْ جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ
دهغه رب خو خبرو سره نو هغه پوره کړے نو ئې اوفرمائیل زه تا جوړوم خلقو دپاره
اِمَامًا ؕ قَالَ وَمِنْ ذُرِّيَّتِيْ ؕ قَالَ لَا يَنَالُ عَهْدِي
پیشوا ئې ووئیل او زما د اولاد نه هم ؟ ئې فرمائیل نه به رسیږي زما اقرار
الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۲۴﴾ وَاِذْ جَعَلْنَا الْبَيْتَ مَثَابَةً لِّلنَّاسِ وَاَمْنًا ؕ
ظالمانو ته ﴿۱۲۴﴾ او کله چه مقرر کړه موږ خانه کعبه د جمع کیدو ځائے خلقو دپاره او د امن ځائے
وَاتَّخِذُوْا مِنْ مَّقَامِ اِبْرٰهٖمَ مُصَلًّى ؕ وَعَهِدْنَآ اِلٰٓى
او جوړ کړئ د ابراهیم د اودریدو ځائے ، د مانځه ځائے ، او حکم اوکړو موږ
اِبْرٰهٖمَ وَاِسْمٰعِيْلَ اَنْ طَهِّرَا بَيْتِيَ لِلطَّآئِفِيْنَ وَ
ابراهیم او اسمٰعیل ته چه پاک اوساتئ زما کور دپاره د طواف کوونکو او

الْعٰكِفِيْنَ وَالرُّكَّعِ السُّجُوْدِ ﴿۱۲۵﴾

اعتکاف کوونکو او رکوع او سجده کوونکو ۲۳۱

نکات: ۱ دلیل نقلی د اهل کتابو مؤمنانو نه. ۲ خاتمه د توحید بحث با نذا بنی اسرائیلو ته دوباره یادګیرنه. ۳ د نبی علیه السلام د صداقتِ رسالت د پاره تمهید.

موضح قرآن

ف۱ یعنی یهودیانو کښې انصاف دار خلق هم وو چه خپل کتاب به ئے لوستلو او پرے به پوهیدل. هغوی دے قرآن باندې ایمان راوړو، یو د دوی عالِم وو عبد الله بن سلام، هغهٔ سره څخه نور هم مسلمانان شول. ف۲ بنی اسرائیل دیر مغرور وو په دے چه مونږ د ابراهیم علیه السلام اولاد یو او الله تعالی ابراهیم علیه السلام سره وعده اوکړه چه نبوت او بزرګی به ستاسو په کور کښې وی او مونږ د ابراهیم علیه السلام په دین باندې یو او د هغهٔ دین هر څوک منی. اوس الله تعالی دوی پوهوی چه د الله وعده د ابراهیم علیه السلام اولاد سره ده څوک چه نیکه لاره باندې ځی او د هغهٔ دوه څامن پیغمبران وو څه موده پورے د اسحٰق په اولاد کښې بزرګی وه، اوس د اسمٰعیل اولاد ته راورسیده او د هغهٔ دُعا د دواړو په حق کښې ده. او فرمائی چه دین اسلام همیشه یو دے. ټول پیغمبران او ټول اُمتونه په دے باندې روان وی هغه دا چه کوم حکم د الله پاک له طرفه راورسیږی د پیغمبر په لاس نو هغه قبول کړی. اوس مسلمانان دے لاره باندې روان دی او تاسو د دے نه ګرځیدلی یئ.

فتح الرحمٰن

ف۱ مترجم وائی د دے ځائے نه تر سَيَقُوْلُ السُّفَهَآءُ پورے الله تعالی د نبی علیه السلام نبوت ثابتوی د ابراهیم د قصے نه دُعا سره کومه چه تورات کښې ذکر شوے ده او ترجیح ورکوی ملتِ حنیفیه ته چه زمونږ پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم دے د پاره راولیږلے شو. او رد کوی د یهودیانو د قول چه حضرت یعقوب مونږ ته په یهودیت سره وصیت کړے دے او د تفریق انبیاء علیهم السلام نهی کوی یعنی څه منل او څه نه منل. والله اعلم. ف۲ یعنی هغه کوم چه په تورات باندې پوهیږی، د ښه نعت محمد ﷺ نه تصدیق کوی او کوم چه تصدیق نهٔ کوی هغه په تورات باندې نهٔ پوهیږی.

تفسیر: ۲۳۱ موصول عهد د پاره دے او د دینه مراد هغه خلق دی چا چه د اهلِ کتابو نه ایمان راوړو مثلاً عبد الله بن سلام، ابن صوریا او ابن یامین وغیره. وقال الضحاك هم من امن من اليهود كابن سلام و ابن صوريا و ابن يامين (بحر ص ۳۶۹ ج ۱) د الْکِتٰب نه مُراد تورات او انجیل دے علی ارادة الجنس. او د تلاوت معنٰی دلته اتباع او پیروی ده لکه چه والقمر اذا تلاها کښې تلا په معنٰی د اتبعها او ذهب علی اثرها دے. ای یتبعونه حق اتباعه ...... قال عکرمة اما سمعت قول الله تعالی والقمر اذا تلاها. (قرطبی ص ۹۵ ج ۲) یعنی هغه اهلِ کتاب د خپل کتاب د اتباع حق ادا کوی. د اتباع حق دا دے چه هغوی د دے د ټولو اوامرو او نواهی تعمیل کوی.

او مے کښ لفظي یا معنوي تحریف نهٔ کوي - او تلاوت کهٔ چرے په معنیٰ د قرأت وي نو مطلب به بیا هم داوي چه هغوي دا داسے لولي څنګه چه نازل شوے دے او دے کښ تحریف نهٔ کوي - یقرأونه کما انزل الله ولا یحرفون الکلم عن مواضعه ولا یبدلونه علی غیر الحق. (کبیر ص ۳۰۲ ج ۱)

۲۳۲ے أُولَٰٓئِكَ يُؤۡمِنُونَ بِهِۦ د بِهٖ ضمیر بعضو مفسرینو الکتاب طرفته راجع کړے او راجح ئے کرځولے دے لیکن دا صحیح نهٔ دے ځکه چه دے صورت کښ به د يَتۡلُونَهُۥ حَقَّ تِلَاوَتِهِۦٓ او د أُولَٰٓئِكَ يُؤۡمِنُونَ بِهِۦ دواړو مفهوم یو وي - او د عبارت د تنوع او تاکید نه بغیر به د دواړو جملو هیڅ فائده نهٔ وي - په دے وجه بهتره دا ده چه دا ضمیر نبي کریم ﷺ طرفته راجع وي ځکه چه إِنَّآ أَرۡسَلۡنَٰكَ کښ د نبي علیه السلام ذکر تیر شوے دے نو دے صورت کښ به خطاب نه غیبت ته التفات وي - یا ضمیر هُدَى ٱللَّهِ طرفته راجع وي. (بحر ج ۱ ص ۳۷۰) نو دواړو صورتونو کښ به د دے مطلب دا وي چه کوم اهل کتاب خپل کتاب کما حقه لولي او د دے په اوامرو او نواهیو باندے عمل کوي او دیکښ هیڅ قسم تحریف نهٔ کوي نو هغوي د آخري نبي مني او ایمان ورباندے لري یا د هغهٔ راوړے شوے هدایت مني - هر کله چه ستاسو د اعالمانو مني نو د دے نه معلومه شوه چه دا پیغمبر رښتونے دے او کومه د توحید دعوي چه ئے پیش کړے ده هغه هم صحیح او ټهیک ده دینه دا هم معلومه شوه چه د دے پیغمبر صداقت او د دهٔ پیش کړے شوي دعوت توحید حقانیت پخپله د دوي په کتاب کښ هم ذکر دے نو بیا خو دوي هغه وخت د دهٔ تصدیق کړے دے - د غه شان به دا ایت د دعوي توحید نقلي دلیل وي.

۲۳۳ے کوم خلقو چه د دے پیغمبر ﷺ نه او د دهٔ د راوړے شوي هدایت نه انکار اوکړو هغوي به سخت نقصان کښ وي ځکه چه هغوي د ایمان په عوض کښ کفر واخستو چه په هغے کښ سراسر تاوان دے - تر دے ځائے پورے الله تعالیٰ بني اسرائیلو باندے خپل انعامات او احسانات یو په یو ذکر کړیدي - بیا ئے د دوي شرارتونه او خباثتونه واضح کړي دي د دوي د سرکشئ او ضد عناد مثالونه ئے بیان کړي دي - د دے ټولو یادداشت ئے اوکړو اوس په آخر کښ ئے د انعاماتو یادولو او د عذاب او انتقام نه د ویریدلو حکم ورکړیدے د دے بیا بیا ترغیب او ترهیب نه روستو ئے د دے سلسلے مضامین ختم کړیدي او دا ئے د ترغیب او ترهیب د اینده مضامینو د پاره په طور د تمهید راوړے شوے دے.

۲۳۴ے ځما هغه ټول انعامات یاد کړئ کوم چه اوس او س تاسو ته مونږ یاد کړي دي خصوصًا هغه د توحید نعمت د کوم د وجے نه چه ستاسو مشرانو ته په دُنیا کښ د ټولو نه اوچت او ممتاز مقام حاصل شو -

۲۳۵ے ځما پیغمبر باندے ایمان راوړئ او د توحید دعوت اُومنئ کنی د قیامت په ورځ ستاسو د عذاب نه د بچ کیدلو هیڅ صورت نشته - د دے ایت تفسیر مخکښ تیر شوے دے ۔

دویمه حِصّه

رِسالت او هغه څه چه د هغې سره تعلق لري

دا حصه د وَ اِذِ ابْتَلٰى اِبْرٰهٖمَ نه شروع شوې ده. دوولس رکوع کښې وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُتَّقُوْنَ ۝ باندې ختمه شوې ده. اول مختصر شان تمهید دے. د دې نه پس د نبی علیه السلام د صداقت او نبوت په حقیقت باندې د یهودو، نصاراؤ او مشرکینو د مسلماتو نه دلائل پیش کړے شوي دي. بیا په رسالت باندې د شُبهاتو جوابات او په اخر کښې د پیغام رسالت یعنی د مسئله توحید مزید عقلي دلائلو سره وضاحت کړے شوے دے د نزولِ قرآن په وخت عربو کښې مذهبي لحاظ سره درې ډلې زیاتې مشهورې وے.

(۱) مشرکین عرب، (۲) یهود، (۳) نصارٰی. دے درے واړو ډلو نسلي او روحاني اعتبار سره خپل ځانونه حضرت ابراهیم علیه السلام سره شاملول. مشرکین عرب به د بُت پرستئ باوجود خپل ځان نه ابراهیمي ویئلو او د حضرت ابراهیم علیه السلام د تابعدارئ دعوی به ئې کوله او بیا صرف دعوی به ئې هم نه کوله بلکه د شریعتِ ابراهیمي څنې اعمال به ئې هم په ځائې راوړل اګرچه د هغه اعمالو شکل وصورت ئې مسخ کړے وُو. مثلاً حج کول، قربانی کول، د ږیره ساتل، سُنت (ختنه) کول وغیره او د حضرت ابراهیم او حضرت اسماعیل علیهما السلام سره محبت او عقیدت ئې د حد نه زیاتے درجے ته رسیدلے وُو. د دے دواړو بزرګانو بتان ئې جوړکړي وُو، په بیت الله کښې ئې ایخودي وُو او د هغې عبادت به ئې کولو، د هغوي نذرونه منتونه به ئې کولے، د هغوي به نوم باندې به ئې غواګانې پریخودلے او هغوي به ئې حاجت روا، مشکل کشا او عالم الغیب ګڼړل، غائبانه اوازونه ئې ورته کولو. دارنګے به یهودیانو، عیسائیانو هم حضرت ابراهیم علیه السلام خپل پیشوا منلو او هرے یوې ډلے به دعوی کوله چه دوي د هغه په مذهب دي او د دوي مذهب د هغه نه راروان دے. د دوي نه علاوه یهودو او نصاراؤ به حضرت اسحاق، حضرت یعقوب، حضرت موسٰی علیهم السلام او د دے سلسلے باقي ټول پیغمبران هم منل. نصاراؤ د دے ټولو نه علاوه د حضرت عیسٰی علیه السلام هم قائل او مُتبع وُو.

د مخاطبینو په نزد د دے مُسلّم شخصیاتو د تصدیقاتو په رنړا کښې د نبی علیه السلام په صداقت دوه دلیلونه بیان کړے شوي دي. اول دلیل خو دا دے چه دا هغه پیغمبر دے د چا د راتللو او نبوت دپاره چه حضرت ابراهیم او حضرت اسماعیل علیهما السلام بیت الله کښې اودریدل او د الله تعالٰی په حضور کښې ئې دُعا اوکړه چه "اے الله! د مکه ښار کښې یو داسے پیغمبر راولیږه چه دوي ته ستا احکام واوروي، ستا دین ورته اوښائي او د دوي د ظاهر او باطن تزکیه اوکړي." اوس هغه رسول راغلے دے او بالکل هغه

صفاتو سره متصف دے کوم چه د ابراهیم علیه السلام په دعاګانو کښې ذکر وو. لهذا اکثر چرے ناسو
د ابراهیمی کیدلو دعوی کښې رښتونی یئ نو دا پیغمبر اومنئ چه کوم دهغوی ۱۴۴ د دعا
ثمره (نتیجه) ده.

دویم دلیل دا ورکړے شوے دے چه حضرت ابراهیم، اسحاق او حضرت یعقوب
علیهم السلام او دے سلسلے باقی ټول پیغمبران تر د حضرت عیسی علیه السلام پورے ټول بخپله په دین د
توحید باندې وو، صرف دیو الله عبادت به ئے کولو، صرف هغه ته به حاجاتو او مشکلاتو
کښې آواز کولو. د مرګ په وخت ئے خپل اولاد ته هم توحید باندې د پابندۍ او سین لو وصیت
کولو. دا ټول بزرګان د شرک او بت پرستۍ نه سخت بیزاره وو. چونکه د توحید د
نظریے اعتبار سره حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم ستاسو هغه ټولو بزرګانو سره متفق دے
او هم د دے نظریے دعوی توحید دعوت ورکوی او د دے تبلیغ او اشاعت کوی چه
کومه په خپله ستاسو دهغه روحانی او جسمانی آباؤ اجداد وه. لهذا اغنګه چه دا خیز د دے
نظریے د حق کیدلو دلیل دے دغه شان داد دے توحید پیش کونکی حضرت محمد
صلی الله علیه وسلم د صداقت دلیل هم دے. رسالت باندې چه د مخالفینو کوم شبهات وو د هغې
تقریر به په هغه موقعو باندې راځي.

تمهید

تمهید کښې ښودلی شوی دی چه حضرت ابراهیم علیه السلام دیو جامع شخصیت مالک
وو او د ټولو مذهبو پیشوا وو. هغوی خانه کعبه جوړ کړے وه او هغه ئے د الله تعالی
خالص عبادت سره آباده کړه. دے تمهید باندې د راتلونکو دلائلو بناء ده. د اشان
وړاندې د تحویل قبله حکم راځي. دا دے دپاره هم تمهید دے چه خانه کعبه د حضرت
ابراهیم علیه السلام قبله ده، په دے وجه د دے طرفته مخ کولو سره مونځ کولو باندې اعتراض
بے ځایه دے.

۲۳۶ وَاِذِ عامل د قَالَ دے کوم چه مخکښې راروان دے. والاختیار ان یکون
العامل فیه ملفوظًا به وهو قال انی جاعلک. (بحر ص ۳۷۳ ج ۱) د ابتلاء معنی امتحان
او ازمائش ده. کله چه الله تعالی د خپلو بندګانو امتحان اخلی نو د یته د هغې مقصد
د بندګانو د حالاتو معلومول نه وی ځکه چه هغې ته د مخکښې نه معلوم دی بلکه د
هغې نه د هغوی د حالاتو بخپله هغوی د پاره او نورو د پاره اظهار مقصود وی د پاره
د دے چه بندګانو باندې خپل حقیقت واضح شی او نور د هغې نه سبق حاصل کړي.
وابتلاء الله العباد لیس لیعلم احوالهم بالابتلاء لانه عالم بهم ولکن لیعلم العباد
احوالهم. (معالم ص ۸۸ ج ۱) کلمات د کلمه جمع ده او دینه مراد هغه اُمور او احکام دی
کوم کښې چه الله تعالی د حضرت ابراهیم علیه السلام امتحان اخستے وو. د دے کلماتو
پاره کښې د مفسرینو ډیر اقوال ذکر کړی دی. ځینو خو دے حده پورے لیکلی دی چه

دینه مراد خصائل فطرت دی یعنې خلنه او پوزه کښې اوبه اچول. مسواک کول. نوکان پریکول، د تر خونو وینښته وېستل او د نامه نه لاندې ویښته صفا کول وغیره. ځنو دا تمام نور احکام ذکر کړیدی لیکن د دومره لوئې جلیل القدر پېغمبر ابتلاء او بیا د دې اسان احکامو سره دا خبره د عقل مطابق نه معلومیږي. د اصحیح ده چه دا فضائل حدیث کښې حضرت ابراهیم علیه السلام ته منسوب شوی دی لیکن حدیث کښې چرته هم دا نه دی ذکر شوی چه په کوم کلماتو کښې د هغوی امتحان اخیستې شوې وو، هغه خصائل دا دی. په دې وجه د عقل موافق دا ده چه د دینه مراد د خوږ خوی او د خوږ ځان قربانی ده الله تعالی هغه ته د خپل خوی د قربانۍ اشاره ورکړه نو د هغې د پاره تیار شو. د الله تعالی توحید په خاطر هغه اور ته اوغورځولې شو لیکن د دې سختۍ کښې ئې هم صبر اوکړو او صرف الله پاک ته ئې مدد د پاره چغه کړه او د غیر الله د امداد خیال قدرې ئې هم اونکړو. العاشر هي ما ابتلاه به في ماله وولده ونفسه فسلم ماله للضيفان و ولده للقربان ونفسه للنيران وقلبه للرحمٰن فاتخذ الله خليلا. (بحر ص ۳۷۶ ج ۱)

فَاَتَمَّهُنَّ. هغه په امتحان کښې پوره اوختلو او تهوئې خبرې ئې د الله تعالی د مرضۍ مطابق اوکړې.

۲۳۷ د لته د امام نه مراد صاحب شریعت رسول دې یعنې هغه رسول چه د بل تیر شوی پېغمبر تابع نه وي بلکه د هغه نه روستو راتلونکي انبیاء ټول د هغه تابع وي. د دې نه د شیعه ګانو اصطلاحي امام مراد نه دې. قال اهل التحقيق والمراد بالامام ههنا النبي اى صاحب شرع متبع (بحر ص ۳۷۷ ج ۱) یعنې الله تعالی ابتلاء کښې کامیابۍ باندې د اعزاز او اکرام په طور هغه ته قیامته پورې راتلونکو نسلونو د پاره د دین په اصولو او د توحید په عقائدو کښې امام او پیشوا جوړ کړو. تر قیامته پورې چه کوم رسولان او نبیان راځي نو هغه به د دوی په نسل کښې وي او د دوی د ملت تابعدار به وي. وامامته عليه السلام عامة مؤبدة اذ لم يبعث نبي بعده الا كان من ذريته مامورا باتباع ملته. (ابو السعود ص ۲۱۸ ج ۱) قَالَ وَمِنْ ذُرِّيَّتِيْ: دا جَاعِلُكَ باندې عطف دې او عطف د تلقین د قبیلې نه دې. کله چه ابراهیم علیه السلام ته د ټولو خلقو د پیشوائۍ اعزاز ملاؤ شو نو خواهش ئې ظاهر کړو چه د ده په اولاد کښې هم د دین پیشوایان او نبیان پیدا اشي.

۲۳۸ د عهد نه مراد هم هغه د امامت عهد دې چه مراد ترې نبوت دې: فالتبادر عن العهد الامامة وليست هي ههنا الا النبوة (روح ص ۳۷۷ ج ۱) او ظالمین نه مراد نافرمانه وي. مطلب دا شو چه ستا اولاد کښې چه کوم نافرمانه وي هغه به د دې نعمت نه محرومه وي او فرمانبردار و کښې چا ته چه الله تعالی اوغواړي نو دا د نبوت مرتبه به ورکړي. حضرت شیخ نور الله مرقده اوفرمائیل چه د دې ایت مطلب دا دې چه خلق به د دین کښې ستا اقتداء کوي او فائده به اخلي. عرض ئې اوکړو چه ا

اولاد ته به هم ځوك فائده اخلی؟ وے فرمائیل چاچه انا بت اوکړو اوضد ئے اونکړو هغه به فائده اخلی. الحاصل: اے یهودو! دحضرت ابراهیم علیه السلام معاند بنوته هیڅ فائده نشته اوتاسو معاندین یئ. دے دپاره د وَمِنْ ذُرِّيَّتِيْ نه مُراد ومن ینتفع من ذریتی دے۔ قَالَ لَا يَنَالُ عَهْدِي الظّٰلِمِيْنَ ای بالنفع لمن عاند. مطلب دا شو چه کوم ظالمان اومشرکان وی هغه به نفع نهٔ اخلی، دامطلب نهٔ دے چه ځوك ظالمان وی نو هغه به پیشوا جوړیږی.

۲۳۹ د اَلْبَيْتَ نه مراد خانه کعبه ده. مثابةً اسم ظرف دے اوتا مُبالغے دپاره ده یعنی هغه ځائی چه خلق به هلته بیا بیا راځی. اَمْنًا مصدر دے چه مُراد تری نه موضع د اَمن دے یعنی دامن ځائے. دحضرت ابراهیم علیه السلام ابتلاء کښی دکامیابئ نه پس ارشاد کیږی چه مونږ بیت الله دخلقو دپاره مرجع اومامن (د رُجوع او امن ځائی) کړځولے دے چه دلرے لرے نه خلق دزرګونو په تعداد خصوصًا دحج په موقعه هلته جمع کیږی او کوم خلق چه دحرم کعبه په حدودو کښی داخل شی نو هغوی دالله تعالیٰ په پناه او حِفظ کښی وی. انسان خو انسان دے، دغه حدودو کښی دمارغانو او حیواناتو ښکار هم جائز نهٔ دے، هغه هم هلته محفوظ اومامون دی. مونږ ابراهیم علیه السلام ته حُکم ورکړے ؤو چه هغه دے کور لره (چه دلرے لرے نه ورته خلق ځما عبادت دپاره راځی او ویریدونکی پناه اخلی) دهر قسم شرك د پلیتیٔ نه پاك کړی.

۲۴۰ دیکښی خطاب مسلمانانو ته دے او دمقام ابراهیم نه هغه کانړے مُراد دے په کوم چه هغوی اودریدلی ؤو او بیت الله ئے تعمیر کړے ؤو. وهو قول الجمهور المسلمین. (روح ص ۳۷۹ ج ۱) دحج په موقعه بانی دے ځائے کښی چه کوم دوه رکعتونه اداکولے شی، دالله تعالیٰ ددے حکم لاندے دی اودحنفیانو او مالکیانو په نزد واجب دی.

۲۴۱ دلفظ عهد صله چه کله اِلیٰ وی نو دده معنیٰ وصیت کول وی او مجازًا تری نه امر مُراد وی: العهد اذا تعدی بالی یکون بمعنی التوصیة ویتجوز به عن الامر (روح ص ۳۸۱ ج ۱) لهذا دلته به دعَهِدْنَآ اِلٰىٓ اِبْرٰهٖمَ وَ اِسْمٰعِيْلَ معنیٰ وی. امرنا ابراهیم و اسمٰعیل یعنی مونږ ابراهیم او اسماعیل ته حُکم ورکړو. اَنْ دمامور به دبیان دپاره دے او دتطهیر کعبه نه مراد دا دے چه هغوی دے لره دبُتانو او بُت پرستئ نه پاکه کړی او دیکښی خالص دالله تعالیٰ عبادت کوی او شرك ته پکښی ځوك پرینږدی. والمعنی انه لاینصب فیه وثن ولایعبد فیه غیر الله. (بحر، ص ۳۸۲ ج ۱) ځکه چه کله خانه کعبه آباده وه نو هغه وخت مشرکانو دخپلو مشرانو بُتان جوړکړی ؤو او دیکښی ئے ایښودی ؤو او دهغے عبادت به ئے کولو. ذکروا انه کان عامرًا علی عهد نوح وانه کان فیه اصنام علی اشکال صالحیهم وانه طال العهد فعبدت من دون الله فامر الله بتطهیره من تلك الاوثان قاله جبیر و مجاهد وعطاء و مقاتل. (روح ص ۳۸۰ ج ۱، بحر، ص ۳۸۲ ج ۱) بَيْتِيَ: یعنی ځما کور، دے کښی اضافت تخص

دکعبې دشرافت ظاهرولو دپاره دے کښې د الله تعالیٰ خوکوم داُوسیدلوکورنشته یا دا اضافت دلته دے څنګه چه دمملوك اومخلوق اضافت دمالك اوخالق طرفته کیږي. اضاف البیت الی نفسه اضافة تشریف وتکریم وهی اضافة مخلوق الی خالق ومملوك الی مالك۔ (قرطبی ص ۳۱ ج ۲)۔ لِلطَّآىِٕفِيْنَ کښې لام تعلیلیه دے۔ ای لاجلهم فاللام تعلیلیة (روح ص ۳۸۱ ج ۱) دطائفین نه مراد هغه بهرنی خلق دي کوم چه هلته لاړشي او دعاکفین نه مراد دهغه ځائے اُوسیدونکي دي او الرُّكَّعِ السُّجُوْدِ نه مُراد مونځ کونکي دي۔ مطلب داشوچه مونږ ابراهیم علیه السلام ته حکم ورکړوچه دبهرنه راتلونکو اوهلته داُوسیدونکو او دنورو ټولو عبادت کوُنکو په خاطرخپل ګهرشرك اوبُت پرستۍ نه پاك اُوساته اوهلته دَ الله تعالیٰ دخاص عبادت طریقه جاري کړه دپاره ددے چه دهرسړي توحید سره تعلق پیدا شي. دا سے نهٔ چه مشرکان موقعه بیاموهي اُوبیت الله کښې بیا دمشرانو بتان کیدي اوشرك شروع کړي اوبیت الله ته راتلونکو خلقو کښې دشرك جراثیم خوارهٔ شي۔ ددے تمهید نه پس اُوس داهلِ مکه دپاره دابراهیم علیه السلام دُدعا ذکر دے۔ هغوي دوی دپاره دوه دُعا ګانے غوښتے وے، یوه ئے ماذي اودُنیاوي ژوند دپاره اودویمه دَ رُوحاني اواُخروي ژوند دپاره۔

وَاِذْ قَالَ اِبْرٰهٖمُ رَبِّ اجْعَلْ هٰذَا بَلَدًا اٰمِنًا وَّ

اوکله چه اُوویل ابراهیم اے ربه زما! جوړکړه دا ښار ځائی دَ امن لګه او

ارْزُقْ اَهْلَهٗ مِنَ الثَّمَرٰتِ مَنْ اٰمَنَ مِنْهُمْ بِاللّٰهِ وَ

رزق ورکړه ددے اوسیدونکوته میوے خوك چه ددوی نه ایمان راوړي په الله او دَ

الْيَوْمِ الْاٰخِرِ ؕ قَالَ وَمَنْ كَفَرَ فَاُمَتِّعُهٗ قَلِيْلًا ثُمَّ

قیامت په ورځ بانندے الله وے فرمایل اوخوك چه کفراوکړي هغه ته به نفع اُورسوم لږ بیا به

اَضْطَرُّهٗۤ اِلٰى عَذَابِ النَّارِ ؕ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ (۱۲۶) وَاِذْ يَرْفَعُ

هغه جبرًا راوبلم دجهنم عذاب طرفته او هغه بد ځائے دے داُوسیدلو۔ اویادکړه کله چه اوچتول

اِبْرٰهٖمُ الْقَوَاعِدَ مِنَ الْبَيْتِ وَاِسْمٰعِيْلُ ؕ رَبَّنَا تَقَبَّلْ

ابراهیم بنیادونه دخانه کعبې او اسماعیل اودُعائے کوله اے پروردګاره زمونږ قبول

مِنَّا ؕ اِنَّكَ اَنْتَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ (۱۲۷) رَبَّنَا وَاجْعَلْنَا

کړه زمونږ نه عمل بیشکه ته ئے اوریدونکے پوهه۔ اے پروردګاره زمونږ اوګرځوه مونږ

مُسْلِمَيْنِ لَكَ وَمِنْ ذُرِّيَّتِنَآ اُمَّةً مُّسْلِمَةً لَّكَ وَاَرِنَا

حکم وړونکي خپل ستا او زمونږ اولاد کښې هم یو جماعت فرمانبردار د خپل ځان او اوښایه مونږ ته

مَنَاسِكَنَا وَتُبْ عَلَيْنَا ۚ اِنَّكَ اَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ (۱۲۸)

قاعدے د حج کولو او مونږ معاف کړه، بیشکه ته ئے توبه قبلونکے مهربان۔

رَبَّنَا وَابْعَثْ فِيْهِمْ رَسُوْلًا مِّنْهُمْ يَتْلُوْا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِكَ

اے پروردګاره زمونږ! او لیږه دوی کښې یو پیغمبر ﷺ د دوی نه چه او لولی دوی ته ستا آیتونه

وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَيُزَكِّيْهِمْ ۭ اِنَّكَ اَنْتَ

او اوښائی هغوی ته کتاب او د باریکئ خبرے او پاک کړی هغوی لره، بیشکه ته ئے

ع ۱۵ ۸ ۱۵ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ (۱۲۹)

ډیر طاقتور لوئے حکمت والا ئے

نکات: ـ ۱ د حضرت ابراهیم علیه السلام اوله دعا. ۲ د حضرت ابراهیم علیه السلام دویمه دعا.

تفسیر: ـ ۲۲۲ دلته هم د اِذْ فاعل محذوف دے یعني اُذْكُرْ هٰذا. د بَلَدًا نه مُراد مکه مکرمه ده. اٰمِنًا فاعل نسبت د پاره دے لکه تامر ولابن ای ذا امن. دا د ډومبئ دُعا اوله حصه ده. دیکښې مکے ښار د پاره د امن او سکون ځائے جوړولو دُعا ده چه دا ښار او د ده ګیرچاپیره اطراف د ډاکوانو، غلو او شوکمارو نه محفوظ کړه. د پاره د دے چه د دغه ځائے اوسیدونکی امن او سکون سره ستا خالص عبادت وکړی او ستا توحید خور کړی.

۲۲۳ دا د اولنئ دُعا دویمه حصه ده. مکه او د هغے ګیرچاپیره اطراف غرونو او ریګستانونو کښې راګیر دی او هلته د کرکرونډے هیڅ امکان نشته. نو د دوی د معاشی اطمینان د پاره ئے هم دُعا اوکړه چه هغوی ته د میوو رزق ورکړے شي. مَنْ اٰمَنَ د اَهْلَهٗ نه بدل بعض دے یعني د اهلِ مکه نه چه څوك مؤمنان دی هغوی ته رزق ورکړه. اول ئے د لَا يَنَالُ عَهْدِي الظّٰلِمِيْنَ ه فیصله واورولہ. د حضرت ابراهیم علیه السلام په ذهن کښې دا خبره ناسته وه چه شاید د رُوحانی نعمت پشان به د دُنیوی نعمت هم د الله فرمانبردارو پورے خاص وی. د دے وجے نه ئے په دُعا کښې د مؤمنین تخصیص اوکړو لیکن د دے شبهے ازاله مخکښې ایت کښې شوے ده. د ایمان د ټولو اجزاؤ ذکرکولو په ځائے ئے صرف ایمان بالله او ایمان بالاٰخرة یعني مبدأ او معاد باندے د دے وجے نه اکتفاء کړیده چه د دے دواړو باندے ایمان راوړل باقی نورو باندے ایمان

اُولو دپاره مُستلزم دے او باقی ټول أجزاء د ایمان د دهٔ په ضمن کښې راغلي. واقتصر فی متعلق الایمان بذکر المبدأ والمعاد لتضمن الایمان بهما بجمیع مایجب الایمان به. (روح ص ۳۸۲ ج ۱، بحر ص ۳۸۳ ج ۱)

۱۲۶ له وَمَنْ كَفَرَ: معطوف علیه محذوف دے ای ارزق من اٰمن ومن کفر (روح ص ۳۸۳ ج ۱) یعنی څوک چه ایمان راوړی هغوئ ته به هم رزق ورکړم او څوک چه کفر اوکړی هغوئ ته هم. فَأُمَتِّعُهُ، مَنْ كَفَرَ بانډې معطوف دے او قَلِيلًا د زَمَانًا محذوف صفت دے او دینه مُراد د هغوئ د پوره ژوند زمانه ده هغه چونکه د آخرت د همیشه ژوند په مقابله کښې ډیره کمه ده. ځکه ئے دیته لږه اُوویئیله یعنی کوم سړے چه کفر کوی هغوئ ته به هم په څو ورځے ژوند کښې د دنیاوی رزق نه د فائدے اُوچتولو موقعه ورکړم، فنبه سبحانه وتعالیٰ علی ان الرزق رحمة دنیویة تعم المؤمن والکافر بخلاف الامامة والتقدم فی الدین. (بیضاوی ص ۳۷) ثُمَّ أَضْطَرُّهُ إِلَىٰ عَذَابِ النَّارِ لیکن آخرت کښې کافر جهنم ته اُوغورځولے شی چه د هغے نه د بچکیدلو به هیڅ صورت نهٔ وی. اُوس وړاندې خپل ځان دپاره دُعا غواړی.

۱۲۷ له وَإِذْ يَرْفَعُ عطف دے وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ بانډې او د إِذْ عامل يَقُولَانِ دے چه د رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا نه وړاندې محذوف دے (روح ص ۳۸۴ ج ۱) ویجوز ان یکون القول المحذوف هو العامل فی اذ. (بحر، ص ۳۸۸ ج ۱) قواعد د قاعدة جمع ده چه معنیٰ ئے بنیاد ده. د اسمٰعیل عطف په ابراهیم دے یعنی چه کله دواړو پلار او ځوی د بیت الله بنیا دونه اُوچتول نو هغوئ دے دُعا غوښتله چه اے الله! محض خپل فضل او رحمت سره زمونږ اعمال قبول کړه. إِنَّكَ أَنتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ه أَنتَ ضمیر فصل او د خبر معرفه کیدل په حصر دلالت کوی او د جمله اسمیه او إِنَّ سره مؤکد کیدل د دواړو بزرګانو قوتِ یقین او د ایمان مضبوطیا ظاهروی یعنی بیشکه یقینًا ته زمونږ دُعا قبلونکے او زمونږ نیتونو بانډې خبر یے.

۱۲۸ له مُسْلِمَيْنِ لَكَ: د أَسْلَمَ وَجْهَهُ نه ماخوذ دے. ای مخلصین موحدین لک. (روح ص ۳۸۵ ج ۱) ای موحدین مخلصین لا نعبد الا ایاک (کبیر ص ۳۰۷ ج ۱) یعنے مونږ ته نورِ اخلاص هم نصیب کړه او خپل توحید او خالص عبادت بانډې را ته ثبات او دوام را نصیب کړه چه همیشه زړهٔ، ساه او ژبے سره په هره نفع او نقصان کښې تا رابلو، او مالی، بدنی او زبانی عبادتونه صرف ستا دپاره اوکړو یعنی مونږ په صفتِ اخلاص، خپل توحید او خالص عبادت بانډې قائم اُولره. وَمِن ذُرِّيَّتِنَا عطف د جَعَلْنَا ضمیر مفعول بانډې دے. مطلب دا چه زمونږ په اولاد کښې هم همیشه یو داسے جماعت برقرار وی چه د توحید پابند وی، صرف ستا عبادت کوی او صرف تا رابلی، د توحید اشاعت اوکړی او د شرک نه منعه اوکړی. وَأَرِنَا مَنَاسِكَنَا. دلته اراءت په معنیٰ د تعلیم دے او د مناسک نه مراد د شریعت احکام او د حج کارونه دی.

علمنا وعرفنا....... شرائع ديننا و اعلام حجنا. (معالم ص ۹۳ ج ۱) يعنې مونږ د شريعت د احکامو او د حج د کارونو تعليم راکړه. وَتُبْ عَلَيْنَا ۚ دلته د توبې نه مراد هغه د ګناهونو توبه نه ده کومه چه د ګناهونو نه کيږي بلکه دا توبه د خواص الخواص ده چه د هغې مقصد د درجاتو بلندي او د مقاماتو د اوچتوالي دپاره دعا او درخواست وي. توبة خواص الخواص لرفع الدرجات والترقي في المقامات (روح ص ۳۸۶ ج ۱) اِنَّكَ اَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ ۝ ځکه چه توبه قبلونکے او د خپل رحمت په سيورى کښې اخستونکے خو صرف ته يې. اوس وړاندې دوېم روحاني دعا ذکر کړے.

۲۴۳ د هُمْ ضمير مرجع اُمَّةً مُّسْلِمَةً دے. رَسُوْلًا مِّنْهُمْ ـ دلته هم د هُمْ مرجع اُمَّة مسلمة دے او اُمَّة مسلمة سره د ذُرِّيَّتِنَا قيد تير شوے دے. مطلب دا دے چه زمونږ د دواړو په اولاد کښې چه کوم اُمَّتِ مُسْلِمَه وي د هغوى نه يو پيغمبر اولېږه دا دعا صرف هغه صورت کښې پوره کيدے شي چه کله د حضرت اسماعيل علیه السلام د اولاد نه د دے صفاتو حامل رسول اولېږلے شي. لهٰذا د حضرت اسحاق علیه السلام په اولاد کښې د پيدا کيدونکو انبياؤ په ذريعه دا دعا نشوه پوره کيدے ځکه چه ذُرِّيَّتِنَا کښې تا نه مراد حضرت ابراهيم او حضرت اسمعيل علیهما السلام دي ځکه چه د کعبې جوړولو په وخت دوي دواړه هلته موجود وو. د مِنْهُمْ نه دا هم واضحه شوه چه دا امتِ مسلمه چونکه انسانان دي خاکي دي، بشر او بنيادم دي. لهٰذا د دوي نه چه کوم رسول پيدا وي هغه به هم انسان او بشر وي نه چه د بل کوم جنس او نوع نه وي. وړاندې ئے د دے رسول ع څلور صفتونه بيان کړيدي.

اُوّمبے صِفت:- يَتْلُوْا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِكَ. هغه دوي ته ستا ايتونه اولولي او داؤروي او د هغې الفاظ بغير د څه کمي نه اورسوي هغوي ته.

دوېم او دريم صِفت:- وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ. هغوي ته حکمت او کتاب اوښائي. د کتاب ښودلو مطلب دا دے چه د هغې الفاظ دوي ته زده کړي، د الفاظو د ادا طريقه ورته اوښائي، د هغې د ايتونو مطالب او معاني او حقائقو او اسرارو نه ئے خبر کړي. بان يفهمهم الفاظه ويبين لهم كيفية اداءه ويوقفهم على حقائقه واسراره - (روح ص ۳۸۷ ج ۱) او د حکمت نه مراد سُنت او د شريعت د احکامو تشريح او تبيين دے: وقال قتادة الحكمة السنة وبيان الشرائع (قرطبي ص ۲۳ ج ۱، بحر، ص ۳۹۳ ج ۱) يعنې د الله د کتاب د احکامو چه د الله تعالىٰ پيغمبر کومه زباني تشريح او تفسير کوي يا د هغې د احکامو د تعميل کيفيت بيانوي، د حکمت نه دا تول هر څه مراد دي او هم دے ته د شريعت په اصطلاح کښې سُنت ويلے شي. د دے مزيد تشريح به اتلسمه رکوع کښې راشي. وَيُزَكِّيْهِمْ ؕ دا د نبي علیه السلام څلورم صفت دے يعنې هغه پيغمبر دوي د کفر او شرک د پليتو، د بدو عملونو او د بدو اخلاقو د ګندګئ نه پاک صفا کړي.

۲۲۸ یقیناً ته په ټولو باندې غالب یې او هر حکمت پیژندونکې یې. ته دغه دُعا په ردکولو او قبلولو باندې لمئے مجبوره کولے. او دهر یو دُعا رد او قبول هم ستا سو دَ حکمت موافق وي. د حضرت ابراهیم علیه السلام دَ دُعا ظهور د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د بعثت نه اُوشو. دا دُعا د یهودو او نصاراؤ، مشرکینو په وړاندې دَ نبي علیه السلام په صداقت باندې د دلیل په طور پیش کړه چه دا هغه پیغمبر دے د کوم د ظهور دپاره چه ستا سو روحاني او جسماني پلار حضرت ابراهیم علیه السلام دُعا کړے وه. لهذا دهٔ باندې ایمان راوړئ او ددهٔ راوړے شوے دعوت توحید اُومنئ ځکه چه دا دعوت هم هغه دے کوم چه پخپله حضرت ابراهیم علیه السلام د خپل اولاد په مخکښې پیش کړو او د مرلو ترو ختنه پورے نې پرے د قائم اوسیدلو وصیت اُوکړو.

وَمَنْ يَّرْغَبُ عَنْ مِّلَّةِ اِبْرٰهٖمَ اِلَّا مَنْ سَفِهَ نَفْسَهٗ ؕ

او څوک دے چه اُوګرځي د ابراهیم د مذهب نه مګر هغه څوک چه بیوقوف یې جوړ کړے خپل ځان

وَلَقَدِ اصْطَفَيْنٰهُ فِى الدُّنْيَا ۚ وَاِنَّهٗ فِى الْاٰخِرَةِ

۲۲۹ او بیشکه مونږ هغه منتخب کړو دُنیا کښې او هغه په اخرت کښې

لَمِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۱۳۰﴾ اِذْ قَالَ لَهٗ رَبُّهٗٓ اَسْلِمْ ۙ قَالَ

د نیکانو نه دے. یاد کړه کله چه هغهٔ ته اُووئیل خپل رب چه حکم اُومنه ۲۳۰ نو وے وئیل

اَسْلَمْتُ لِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۳۱﴾ وَوَصّٰى بِهَآ اِبْرٰهٖمُ بَنِيْهِ

ما حکم منو کړے یم د ټولو عالم د پروردګار. او همدا وصیت اُوکړو ابراهیم خپلو ځامنو ته

وَيَعْقُوْبُ ؕ يٰبَنِىَّ اِنَّ اللّٰهَ اصْطَفٰى لَكُمُ الدِّيْنَ فَلَا

او یعقوب ته هم ۲۳۱ چه اے ځامنو! بیشکه الله غوره کړو تاسو له دین، نو هرګز مهٔ

تَمُوْتُنَّ اِلَّا وَاَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ ﴿۱۳۲﴾ اَمْ كُنْتُمْ شُهَدَآءَ

مرئ مګر مسلمانان. ایا تاسو موجود وئ

اِذْ حَضَرَ يَعْقُوْبَ الْمَوْتُ ۙ اِذْ قَالَ لِبَنِيْهِ مَا تَعْبُدُوْنَ

کله چه رانزدے شو یعقوب ته مرګ ۲۳۲ هر کله چه هغهٔ اُووئیل خپلو ځامنو ته چه تاسو د چا عبادت

مِنْۢ بَعْدِیْ ؕ قَالُوْا نَعْبُدُ اِلٰهَكَ وَ اِلٰهَ اٰبَآئِكَ اِبْرٰهٖمَ

کوئ څمانه روستو ۲۴۸ وئیل موږ به بندګي کوو ستا د رب او ستا د پلرونو او نیکونو د رب چه ابراهیم

وَ اِسْمٰعِیْلَ وَ اِسْحٰقَ اِلٰهًا وَّاحِدًا ۚۖ وَّ نَحْنُ لَهٗ مُسْلِمُوْنَ ﴿۱۳۳﴾

او اسماعیل او اسحاق دی، هغه یو معبود دے ۲۴۹ او موږ د هغهٔ حکم منونکی یو.

نکات: ۱۴ آخری پیغمبر باندے د ایمان راوړلو ترغیب څکه چه هغه د ملتِ ابراهیمی متبع دے.

تفسیر: ۲۴۹ د رَغِبَ صله چه کله عَنْ راشی نو معنیٰ ئے اعراض وی. د سَفِهَ نَفْسَهٗ معنیٰ ده: جَعَلَهَا مَهَانَةً ذَلِیْلَةً. (روح ص ۳۸۷ ج ۱) یعنی چا چه خپل ځان د شرك او بدعت په وجه خوار او ذلیل ګرځولے وی او یا د دے معنیٰ ده خَسِرَ نَفْسَهٗ (بحر، ص ۳۹۴ ج ۱، معالم ص ۹۶ ج ۱) یعنی چا چه د شرك په وجه خپل ځان په خساره کښ اچولے وی، یا د دے معنیٰ حمق رأیه ده (ایضًا) یعنی د چا رائے چه احمقانه وی او هغه بیوقوف وی. مطلب دا دے چه ملتِ اسلامیه خو سراسر د اخلاص او توحید نه ډك دے او د دهٔ ټول احکام د عقل او فطرت مطابق دی. نو د داسے ملت نه صرف هغه څوك اعراض کوی چه په شرك کښ ډوب شوے وی یا د چا په عقل کښ چه نقص وی. وَلَقَدِ اصْطَفَیْنٰهُ فِی الدُّنْیَا. د دے ملتِ وحدت او دین توحید د پیروئ بنیاد خو موږ ابراهیم علیه السلام د ټولو د پیشوائئ د پاره منتخب کړے وو. وَاِنَّهٗ فِی الْاٰخِرَةِ لَمِنَ الصّٰلِحِیْنَ. د صالح فی الاخرة معنیٰ ده کامیاب او فائز المرام. الصالح فی الاخرة هو الفائز (قرطبی ص ۱۳۲ ج ۲) ملتِ ابراهیمی یو داسے څیز دے چه د هغهٔ د اتباع په وجه حضرت ابراهیم علیه السلام ته کمالاتِ دُنیویه او مقاصد اُخرویه حاصل شو. لهٰذا د داسے ملت نه اعراض کوونکے سړے یقینًا ضدی او بیوقوف دے. امام قتاده رح فرمائی چه د دے نه مراد یهود او نصارٰی دی چا چه ملتِ ابراهیمی پریښودو او یهودیت او نصرانیت ئے اختیار کړو. (قرطبی ص ۱۳۲ ج ۲) او خپل مشران ئے الله تعالیٰ سره نائبان او شریکان اوګرځول او هغوی ئے په حاجتونو کښ غائبانه طور بانې رابلل. دارنګے د هغه مشرکانو رد دے چا چه د ابراهیمی کیدلو دعوے سره سره د الله د توحید نه بغاوت اوکړو او هغه سره ئے شرك اوکړو. (ابن کثیر ص ۱۸۵ ج ۱) اوس مخکښ د ملتِ ابراهیمی امتیازی خصوصیت او د هغهٔ خصوصی وصف یعنی توحید بیان دے.

۲۵۰ د اِذْ عامل اصْطَفَیْنٰهُ دے. اَسْلِمْ د اسلام مصدر دے چه د دے معنیٰ ده تفویض او حواله کول لکه اَسْلَمَ وَجْهَهَا. د ملت هم د دے لفظ معنیٰ همدا ده یعنی خپل ځان ئے الله پاك ته حواله کړو او بالکل د هغهٔ شو، هغهٔ سره ئے خپل حاجتونه اوتړل د هغهٔ نه ئے غواړی، هغه ته زاری کوی او د هغهٔ بانې بهروسه لری. معنا ۷

أسلِمْ نفسك الى الله تعالى وفوض امرك اليه. (خازن ص ٩٧ ج ١) بعضو دا معنىٰ اخلاص کړے دہ یعنی خالص دالله تعالیٰ عبادت ئے اوکړه او دهغهٔ په عبادت کښ ئے هیڅوك شریك نکړو، خپل ځان ئے د شرك نه بچ اوساتلو. اخلص دينك وعبادتك لله وبجعلها سليمة (خازن ص ٩٦ ج ١) قَالَ أَسْلَمْتُ لِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝ حضرت ابراهیم علیه السلام بلا تأمل دالله تعالیٰ دحکم تعمیل اوکړو او فوراً ئے دکامل اطاعت او انقیاد او دکامل فرمانبرداری اقرار اوکړو چه ما خپل ځان رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ته اُوسپارلو، او دهغهٔ پوره پوره اطاعت او فرمانبرداری ئے قبوله کړه او همیشه ئے دهغهٔ توحید او خالص عبادت بانې د تیار اُوسیدلو اقرار اوکړو.

٢٥١ه د بِهَا ضمیر مرجع ملت دے او دیعقوب عطف په ابراهیم دے یعنی حضرت ابراهیم علیه السلام چه دټولو خلقو اعلیٰ دے۔ دے دواړو حضراتو د وفات په وخت خپل خپل اولاد ته په ملتِ توحید بانې د قائم پاتے کیدلو وصیت اوکړو۔ يٰبَنِيَّ إِنَّ اللّٰهَ اصْطَفٰى لَكُمُ الدِّيْنَ۔ دغسے هغوی خپل خپل اولاد ته دا هم اُووئیل چه الله تعالیٰ ستاسو دپاره دا دین اسلام منتخب کړے دے او خوښ کړے ئے دے. فَلَا تَمُوْتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ ۝ لهٰذا تاسو ترمرګه پورے دے دینِ اسلام او ملتِ توحید بانې قائم اُوسیږئ او دالله تعالیٰ په عبادت کښ هیڅوك شريك مه جوړوئ. لهٰذا اے یهود او نصاری او مشرکینِ عرب دخپلو عزتمند ومشرانو او پلرونو نیکونو حال واورئ چه هغوی د توحید څومره زیات پابند او دشرك نه څومره د یر متنفر وُو چه دمرګ په وخت ئے هم توحید هیر نکړو او خپل اولاد ته ئے ترمرګه پورے په توحید بانې د قائم پاتے کیدلو وصیت اوکړو او د دُنیا نه رُخصت شول. ستاسو هم دعوی دہ چه تاسو دا بزرګان منئ لیکن تاسو هغه توحید پریښودو دکوم چه هغوی قائل وُو او پخپله مو هغه بزرګان دالله نائبان او شریکان جوړکړل او دَ عبادت او رابلنه مو شروع کړه. لهٰذا دا شرك پریږدئ او ځان پیش کړے شوے دَ توحید دعوی اُومنئ ځکه چه همدا توحید ستاسو دپلرونو او نیکونو وراثت دے.

٢٥٢ه یهودیانو نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته اُووئیل چه حضرت یعقوب علیه السلام خو خپلو ځامنو ته په یهودیت بانې د قائم اُوسیدلو وصیت کړے وُو، نو مونږ دهغهٔ دین پریښودلو سره دین اسلام څنګه قبول کړو؟ قالوا للنبي صلى الله عليه وسلم الست تعلم ان يعقوب لما مات اوصى بنيه باليهودية. (روح ص ٣٩٠ ج ١، جامع ص ٢١) نو دے یهودیانو دَ کذب او افتراء په رد کښ دا آیت نازل شو. دلته اَمْ منقطعه دے په معنیٰ د بَلْ اضرابیه او استفهام انکاری. مطلب دا شو چه تاسو دروغ وایئ چه حضرت یعقوب علیه السلام په یهودیت بانې د قائم اُوسیدلو وصیت کړے دُو ځکه چه تاسو هغه وخت هلته موجود نه وئ هرکله چه دهغهٔ دمرګ وخت نزدے وُو او خپل اولاد ته ئے وصیت کولو: اى ما كنتم حاضرين حين احتضار يعقوب الموت عليه الصلوٰة والسلام

وسؤاله بنيه من الدين فلم تدعون ما تدعون (روح ص ۳۹۰ ج ۱) اوکیږی شي چه اَمْ مُتصله دی او استفهام تقریری وی او مطلب دا وی چه ستاسو اسلاف خو حضرت یعقوب علیه السلام د وفات په وخت هغهٔ سره موجود وُو کله چه هغهٔ خپل اولاد ته په اسلام او توحید باندې د قائم اوسیدلو وصیت کړلو او هغوی ته ښهٔ معلومه وه او د هغوی په وساطت سره تاسو ته هم معلومه ده چه حضرت یعقوب علیه السلام د یهودیت وصیت نهٔ وُو کړے. نو بیا وَلے سره د پوهے په هغهٔ باندې الزام لګوئ؟ وَلٰکن ان تجعل الاستفهام للتقریر ای کانت اوائلکم حاضرین حین وصی بنیه علیه الصلوٰة والسلام بالاسلام والتوحید وانتم عالمون بذلک فما لکم تدعون علیه خلاف ما تعلمون. (روح ص ۳۹۰ ج ۱) - اِذْ حَضَرَ کښ اِذْ شُهَدَآءَ سره متعلق دے۔

۲۵۳ اِذْ قَالَ – د اِذْ حَضَرَ نه بدل دے، والعامل فی اذ الاولٰی معنی الشهادة واذ الثانیة بدل من الاولٰی۔ (قرطبی ص ۱۳۷ ج ۲) یعنی آیا تاسو هغه وخت موجود وئ چه هر کله حضرت یعقوب علیه السلام د وفات په وخت د خپل اولاد نه امتحاناً تپوس کړلو چه تاسو به ځما نه پس د چا عبادت کوئ؟

۲۵۴ اِلٰهًا وَّاحِدًا – د اِلٰهَكَ نه بدل دے چه د تاکید او احتمال تعدد د قطع کولو دپاره راوړے شوے دے نو د حضرت یعقوب علیه السلام نیک بخته ځامنو په اتفاق سره جواب ورکړو چه مونږ به د هغه الله عبادت کوو کوم چه ستا معبود دے او کوم چه ستا د پلارنیکه حضرت ابراهیم، اسمٰعیل او اسحٰق علیهم السلام معبود دے. وَنَحْنُ لَهٗ مُسْلِمُوْنَ" او مونږ په نزم رګه پورے د هغهٔ حکم منونکی اوسیږو او خالص د هغهٔ عبادت به کوو او د هغهٔ په عبادت، بلنه او نذر منلښته کښ به هیڅوک هغهٔ سره نهٔ شریکوو۔

اے یهودیانو! اوس تاسو اووایئ چه آیا حضرت یعقوب علیه السلام د یهودیت وصیت کړے وُو حالانکه تاسو ته ښهٔ معلومه ده چه هغهٔ د خپل اولاد ته اِسلام باندې د قائم اوسیدو اقرار اخستے وُو۔

تِلْكَ اُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ ۚ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَلَكُمْ مَّا

هغه یوه ډله وه چه تیره شوه ۲۵۵ هغوی دپاره دی کوم چه هغوی اوکړل او ستاسو دپاره دی کوم چه

كَسَبْتُمْ ۚ وَلَا تُسْـَٔلُوْنَ عَمَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۳۴﴾ وَقَالُوْا

تاسو اوکړل، او تاسو نه تپوس نشته د هغوی د کارونو۔ او وائی

كُوْنُوْا هُوْدًا اَوْ نَصٰرٰى تَهْتَدُوْا ؕ قُلْ بَلْ مِلَّةَ اِبْرٰهٖمَ

چه شئ یهودیان یا نصرانیان نو بیا به مومئ سمه لار ۲۵۶ او وایه چه هرګز نه دے بلکه مونږ منو ګروه لاره

حَنِيفًا وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿١٣٥﴾ قُولُوا آمَنَّا بِاللَّهِ

ابراهیم چې یو طرفه ؤ او نه ؤ شرک کوونکو کښې . تاسو اووایئ چې مونږ ایمان راوړی دې په الله باندې

وَمَا أُنزِلَ إِلَيْنَا وَمَا أُنزِلَ إِلَىٰ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ

او هغه چې نازل شوی دې مونږ ته او هغه چې نازل شوی دې ابراهیم او اسماعیل او

وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ وَالْأَسْبَاطِ وَمَا أُوتِيَ مُوسَىٰ وَ

اسحاق او یعقوب علیهم السلام او د دوی په اولاد باندې او کوم چې ورکړې شوی موسیٰ او

عِيسَىٰ وَمَا أُوتِيَ النَّبِيُّونَ مِن رَّبِّهِمْ لَا نُفَرِّقُ

عیسیٰ ته علیهم السلام او هغه چې ورکړې شوی نورو پیغمبرانو ته د هغوی د رب له طرفه ، مونږ فرق نه کوو

بَيْنَ أَحَدٍ مِّنْهُمْ وَنَحْنُ لَهُ مُسْلِمُونَ ﴿١٣٦﴾ فَإِنْ آمَنُوا

د دې ټولو په یو کښې هم او مونږ د دغه پروردګار فرمانبردار یو . نو که چرې هغوی ایمان

بِمِثْلِ مَا آمَنتُم بِهِ فَقَدِ اهْتَدَوا ۖ وَّإِن تَوَلَّوْا

راوړي لکه چې تاسو ایمان راوړی دې نو هدایت به یې موندلی وي هغوی هم او که چرې اوګرځي نو

فَإِنَّمَا هُمْ فِي شِقَاقٍ ۖ فَسَيَكْفِيكَهُمُ اللَّهُ ۚ وَهُوَ السَّمِيعُ

بیا هغوی دي په ضد باندې . پس کافی دې ستا له طرفه دوی له الله او دی هغه دی اوریدونکې

الْعَلِيمُ ﴿١٣٧﴾ صِبْغَةَ اللَّهِ ۖ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللَّهِ صِبْغَةً ۖ

خبر دار . مونږ قبول کړو رنګ د الله [illegible] او د چا رنګ بهتر دې د الله د رنګ نه [illegible]

وَنَحْنُ لَهُ عَابِدُونَ ﴿١٣٨﴾ قُلْ أَتُحَاجُّونَنَا فِي اللَّهِ وَ

او مونږ د هغه بندګي کوونکي یو . اووایه ایا تاسو جګړه کوئ مونږ سره د الله په نسبت [illegible]

هُوَ رَبُّنَا وَرَبُّكُمْ وَلَنَا أَعْمَالُنَا وَلَكُمْ أَعْمَالُكُمْ

هغه زمونږ رب دې او رب ستاسو دې ، مونږ ته دي زمونږ عمل او تاسو ته دي ستاسو عمل

وَنَحْنُ لَهُ مُخْلِصُونَ ﴿١٣٩﴾ أَمْ تَقُولُونَ إِنَّ إِبْرَاهِيمَ

او مونږ خو خالص د هغه یو . ایا تاسو وایئ چې ابراهیم

وَإِسْمَٰعِيلَ وَإِسْحَٰقَ وَيَعْقُوبَ وَالْأَسْبَاطَ كَانُوا هُودًا

او اسماعیل او اسحاق او یعقوب او دهغهٔ اولاد خو یهود وو

أَوْ نَصَارَىٰ ۗ قُلْ ءَأَنتُمْ أَعْلَمُ أَمِ اللَّهُ ۗ وَمَنْ أَظْلَمُ

یا نصرانیان ۱۶۳ او وایه چه تاسو زیات خبر یئ یا الله ته؟ او دهغه چانه لوئ ظالم څوک دے

مِمَّن كَتَمَ شَهَادَةً عِندَهُ مِنَ اللَّهِ ۗ وَمَا اللَّهُ

چه پټه ئے کړه هغه ګواهي کوم چه ثابته شوه هغهٔ ته د الله له طرفه ۲۶۴ او الله بے خبره

بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿١٤٠﴾ تِلْكَ أُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ ۖ

نه دے ستاسو د کارونو نه ۲۶۵ هغه یو ګډله وه چه تیره شوه،

لَهَا مَا كَسَبَتْ وَلَكُم مَّا كَسَبْتُمْ ۖ وَلَا تُسْأَلُونَ عَمَّا

هغوی دپاره هغه څه دی چه هغوی اوکړل او تاسو دپاره هغه څه دی کوم چه تاسو اوکړل او تاسو نه به پوښتنه نشي

كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١٤١﴾

د هغوی د کارونو ۲۶۸ ولا

نکات :- ۲۶۳ د یو بے شبهے جواب چه زمونږ پلرونه نیکونه پیغمبران وو، په دے وجه به مونږ هم بخښلے کیږو. ۲۶۴ شکوه ۲۶۵ جواب شکوه ۲۶۶ د اجمله مقصودي ده یعني ایمان خو به په ټولو پیغمبرانو راوړی لیکن ته بیږی به صرف د الله په بخښنې. ۲۶۷ د اجمله هم مقصودي ده یعني ایمان خو به په ټولو پیغمبرانو راوړی لیکن ته بیږی به صرف د الله په بخښنې ۲۶۸ زجر دپاره د اهل کتابو ۲۶۹ د اجمله هم مقصودي ده ۲۷۰ شکوه ۲۷۱ جواب شکوه ۲۷۲ زجر دپاره د اهل کتابو او جواب شکوه ۲۷۳ د شبهے جواب اعاده د تاکید دپاره.

موضح قرآن

ف۱ د نصارا دستور وو چه څوک به ئے خپل دین کښ داخلولو نو یو زیړ رنګ به ئے جوړ کړو او دهغهٔ کښ به ئے پکښې رنګ کړے او په هغهٔ باندې به ئے هم اچولو. دائے د هغوی په مقابل کښې اوفرمائیل.

فتح الرحمن

ف۱ یعني دهغهٔ دین. ف۲ مترجم وائي چه کله نبي کریم ﷺ مدینے طیبے ته هجرت اوکړو نو شپاړس یا اوولس میاشتے ئے بیت المقدس ته مونځ کولو او ارزو به ئے کوله چه الله پاک کعبه دهغهٔ قبله اوګرځوی نو الله تعالیٰ نازل کړو: قَدْ نَرَىٰ تَقَلُّبَ الخ. د دے نه پس ئے د بیوقوفانو د شبهے جواب نازل کړ

دے مسئله کښې: سَيَقُوْلُ السُّفَهَآءُ - دے نه پس ئے امر اوکړو صبر سره د جهاد په تکليفونو په ډيرو احکامو د توحيد او قصاص او حج او روژې او صدقه او نکاح او طلاق کښې چه اهل جاهليت په هغې کښې تحريف کړے وُو يا به ئے د انصاف خيال نه ساتلو، حقيقت ئے بيان کړو او د مخالفينو د شبهاتو بطلان ئے اوکړو او د هغوی د سوالونو جواب ئے ورکړو او دا د احکامو سلسله چليدے لے دلا -

تفسير: ۲۵۵ تِلْكَ سره د حضرت ابراهيم عليه السلام او د هغه د اولاد طرفته اشاره ده - يهودو، نصاراؤ او مشرکانو خپلو مشرانو باندې فخر کولو او د هغې صاحبزادگئ په غرور کښې خوشاله وُو او ويل به ئے چه که مونږه بد عمله يُو نو څه چل اوشو، زمونږه پلاران او نيکونه خو نيکان او توحيد پرست وُو - هر کله چه هغوی جنت ته ځي نو مونږه به هم د هغوی په طفيل او مخلصے شو او جنت کښې به راته ځائے ملاؤ شي نو الله تعالیٰ د د غرورماتولو دپاره ئے جواب ورکړو چه هغه جماعت خو تير شو او د هغوی کمالات هم د هغوی سره لاړل - لَهَا مَا كَسَبَتْ وَلَكُمْ مَّا كَسَبْتُمْ - د هغوی کارونه به هغوی ته مخے ته راځي او ستاسو کارونه به تاسو ته مخے ته راځي - لهٰذا د ذرې نه دا خبره اُوباسئ چه د هغوی د نيکو کارونو په وجه به تاسو هم جنت ته لاړ شئ، محض نسبت سره تاسو ته هيڅ فائده نشي رسيدے خو که د هغوی پشان کارونه اوکړئ نو دے سره به ضرور فائده بيامومئ - هم دا حال ئن صبا د مخنے گدی نشينو (پيرانو) دے چه هغوی د خپلو مريدانو په مخکښې فخر کوی او نازونه ورته کوی چه زمونږه پلاران او نيکونه ډير نيکان او د الله تعالیٰ خوښ وُو - وَلَا تُسْئَلُوْنَ عَمَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝ او تاسو نه به د هغوی د اعمالو حساب نشي غوښتلے بلکه تاسو نه به د خپلو عملونو تپوس کيږی - توحيد او رسالت واضحه دلائلو سره ثابت او واضحه کولو نه پس د يهودو او نصاراؤ د بعضو غلطو نظرياتو ترديد دے .

۲۵۶ شکوه :- سره دد ے چه د يهودو او نصاراؤ د پلرونو او نيکونو د کومو ذکر چه اوس شوے دے هغوی ټول د دينِ اسلام او ملتِ توحيد پابند وُو ليکن دوی مخپله په شرک مضبوط ولاړ دی او خلقو ته هم د شرک دعوت ورکوی او مخپله هم مشرکانه عقائد عين هدايت تصور کوی لکه چه يهود وائي چه تاسو يهوديان جوړ شئ او حضرت عُزير عليه السلام د الله نائب او متصرف اوگنړئ او نصاریٰ وائي چه تاسو عيسايان جوړ شئ او حضرت عيسیٰ عليه السلام د الله نائب او نجات ورکوونکے اوگنړئ نو هدايت به درته ملاؤ شي -

۲۵۷ جواب شکوه :- مِلَّةَ منصوب دے او دد ے عامل نتبع محذوف دے او خطاب نبی عليه السلام ته دے يعنی تاسو دوی ته جواب ورکړئ چه مونږه يهوديت او نصرانيت نه قبلوُو بلکه مونږه خو به د ملتِ ابراهيمي پابندی کوُو او د حضرت ابراهيم عليه السلام د دين توحيد تابعداری به کوُو کوم چه د باطل او مشرکانه اديانو نه کناره کش

او لرے وُو. وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ٥ دا مُدّعیان ـــ یهودا و نصاری او مشرکانِ د عربو خو مشرکان او بُت پرست دی لیکن حضرت ابراهیم علیه السلام د شرک نه لرے وُو. لهٰذا مونږ خو به د هغوی پیروی کوُو. دا د هغه مُدّعیانِ ابراهیمیت د پاره د عبرت کوره ده چاچه دین توحید پریښودو او شرک ئې دین گرځولے وُو او بزرګان ئې د الله تعالیٰ نائبان او متصرف گنړلی وُو، او دا ئې په ئې ورته کولو. والمقصود التعریض باهل الکتاب والعرب الذین یدعون اتباعه ---- فان فی کل طائفة منهم شرکاء فالیهود قالوا عزیر ابن الله والنصاریٰ المسیح ابن الله والعرب عبد والاصنام وقالوا الملٰئکة بنات الله. (روح ص ۳۹۳ ج ۱) دا خو د اهل کتابو د غلط نظریے الزامی جواب دے یعنی هغوی اُو وئیل چه یهودیان یا نصرانیان شئ نو جواب ورکړے شو چه مونږ به ابراهیمی یُو، یهودیان یا نصرانیان به نه یُو. اُوس وړاندې د دے تحقیق جواب ورکړے شوے دے چه آبائی نسبت یا قبائلی قومیت باندې د ایمان مدار نه دے بلکه ایمان خو د الله تعالیٰ د توحید او د هغه د رسولانو او د هغه د نور و احکامو منلو نوم دے.

۲۵۸ دا خطاب مسلمانانو ته دے چه تاسو دوی ته جواب ورکړئ چه مونږ یهودیت یا نصرانیت نه پیژنو، مونږ خو صرف د یو الله توحید باندې ایمان لرو. وَمَآ اُنْزِلَ اِلَيْنَا. او د خپل آخری رسول په وساطت سره چه کوم څه په مونږ نازل شوی دی مونږ هغه هم منو. **۲۵۹** د حضرت اسماعیل علیه السلام په اولاد کښې مختلف خاندانونو ته قبائل ویلے شی د دا رنګے د بنی اسرائیلو خاندانانو ته اسباط ویلے شی. والسبط فی بنی اسرائیل بمنزلة القبیلة فی ولد اسمٰعیل. (قرطبی ص ۱۴۱ ج ۲) یعنی مونږ هغه ټولے صحیفے هم منو کومے چه په حضرت ابراهیم، اسماعیل، اسحاق او یعقوب علیهم السلام باندې نازلے شوے. دا رنګے هغه صحیفے کومے چه بنی اسرائیلو کښې راتلونکو ټولو پیغمبرانو باندې نازلے شوے.

۲۶۰ او مونږ تورات او انجیل هم منو. د تورات او انجیل منلو مطلب دا دے چه هغه د الله پاک له طرفه نازل شوے وُو او خپل خپل وخت کښې د هدایت سرچشمه او واجب العمل وُو. اُوس په هغے باندې عمل واجب نه دے. د یهودو او نصاراؤ په وجه د اسباط نه پس د حضرت موسیٰ علیه السلام ذکر خصوصیت سره شوے دے. وَمَآ اُوْتِيَ النَّبِيُّوْنَ مِنْ رَّبِّهِمْ. د دوی نه علاوه باقی ټولو انبیاؤ باندې چه کوم څه نازل شو مونږ په هغے باندې هم ایمان راوړو. لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْهُمْ. ټول انبیاء برحق منو او دوی کښې څه نسلی یا قبائلی بنیاد باندې تفریق نه کوُو چه څینے اُومنو او څینے نه انکار اُو کړو لکه څنګه چه یهودو او نصاراؤ کړے دے. ای کما فرق اهل الکتاب فامنوا ببعض وکفروا ببعض بل نؤمن بهم جمیعًا. (روح ص ۳۹۰ ج ۱) وَنَحْنُ لَهٗ مُسْلِمُوْنَ ٥ ـــ د لَهٗ د تقدیم په وجه دیکښې حصر پیدا شو یعنی مونږ خو ایمان په ټولو انبیاؤ راوړو او کوم څه چه په دوی نازل شوی دی هغه هم منو لیکن د عبودیت انقیاد د صرف الله تعالیٰ د پاره خاص کوُو او خپل ټول ضرورتونه او حاجتونه صرف هغه ته سپارو او صرف هغه متصرف

او مختار گنڑو، خالص د هغه عبادت کوو او هغه ته اواز کوو لکه څنګه چه د ټولو انبیاؤ علیهم السّلام د تعلیم خلاصه ده -

۲۶۱ یهودو او نصاراؤ دعوه کوله چه د هدایت مدار یهودیت او نصرانیت دے نو الله تعالیٰ د هدایت اصلی معیار بیان کړو چه اصل هدایت خو د ټولو انبیاؤ د تعلیماتو تابعداری نوم دے - د دے نه پس ئے نبی علیه السلام او صحابه کرام رضی الله عنهم مخاطب کړل او ئے فرمایل چه د ایهود، نصاریٰ او مشرکان که چرے داسے ایمان راوړی څنګه چه ستاسو ایمان دے یعنی په ټولو انبیاؤ باندے ایمان لری نو بیا به یقیناً دوی هم هدایت مونده وکی شی. وَإِنْ تَوَلَّوْا فَإِنَّمَا هُمْ فِي شِقَاقٍ ۚ - او که چرے دوی ستاسو پشان ایمان راوړلو نه ډډه اوکړی او انکار ترے نه اوکړی نو پوهه شئ چه د اخلق بُغض، حَسَد، ضد او عِنا د کښ گرفتار دی - د هدایت طلب یا د حق احقاق د دوی مقصد نهٔ دے. ای فما هم إلا فی خلاف وعداوة ولیسوا من طلب الحق. (مدارک ص ۶۱ ج ۱) لیس غرضهم طلب الدین والانقیاد للحق وانما غرضهم المنازعة واظهار العداوة. (کبیر، ص ۷۵ ج ۱) فَسَيَكْفِيكَهُمُ اللَّهُ ۚ - دا دُشمنان توحید د مخالفت او عداوت په مقابله کښ د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د پاره تسلی او د مدد وعده ده چه تاسو د دوی د سخت مخالفت او د دوی د زیات شمار پروا مکوئی، الله تعالیٰ به تاسو د دوی د شر نه محفوظ اوساتی. وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ۝ او هغه ټول هرڅه پیژنی، هغه د دوی کُفر، ضد او عِناد هم پیژنی او ستاسو د خلوص او باطنی طهارت نه هم ښهٔ واقف دے. د دے ایت نه معلومه شوه چه د صحابه کرامو رضی الله عنهم ایمان معیاری او عند الله مقبول وُو او هغوی هدایت یافته وُو څکه چه د یهودو، نصاراؤ او مشرکینو هدایت یافته کیدل د دوی د ایمان پشان ایمان راوړلو باندے موقوف کړے شوی دی.

۲۶۲ دا منصوب دے او عامل ئے محذوف دے. د قُولُوا آمَنَّا مناسبت سره د لته قبلنا حذف منل زیات مناسب دی - ای قبلنا صبغة الله - او د صبغة الله نه مُراد دینِ توحید او ملتِ حقه دے. نصرانیانو به خپل بچی او د هغوی مذهب کښ داخلیدلو لره په یو خاص قِسم زیړ رنګ کښ لمبول اوویل به ئے چه اوس پاکیزه او پوخ نصرانی اوګرځید او د ګناهونو نه پاک شو. د دے کار ته هغوی بپتسمه وائی نو د دے په جواب کښ مُسلمانانو ته حکم اوشو چه تاسو وایئ چه مونږ خو د الله دین او د هغهٔ د توحید رنګ قبول کړے دے چه هغه سره هر قسم نجاست لرے کیږی.

۲۶۳ د لته استفهام انکار د پاره دے یعنی د الله د رنګ نه هیڅ رنګ ښهٔ نهٔ دے دا الله رنګ خو د اسلام او توحید رنګ دے د کوم قبلولو سره چه ظاهر او باطن طاهر او پاک جوړیږی او د دے مصنوعی او بناوتی رنګ کښ خو ښیګڼه د کوم دے؟ وَنَحْنُ لَهُ عَابِدُونَ ۝ مونږ د الله دین او توحید قبول کړے دے - د دے وجے نه مونږ هر قسم عبادت صرف الله تعالیٰ د پاره کوو. ټول مالی، بدنی او زبانی عبادتونه به هغهٔ پورے

خاص کړئ، د هغه (په نوم) به نذرونه منتونه ورکوئ، د هغه په وړاندې به سجده کوئ او هغه به رابلئ. دا جمله د ماقبل خلاصه او مقصود دے۔

۲۶۴ د اخطاب یهودو او نصاراؤ ته دے او فی الله کښې مضاف محذوف دے ای فی دینه او القرب منه (قرطبی ص ۱۴۰ ج ۲) حضرت شیخ اوفرمائیل یعنی تاسو مونږ سره د الله دین او د هغه توحید کښې جهګړه کوئ چه د الله پاک رښتونے دین یهودیت او نصرانیت دے او د حضرت عزیر او حضرت عیسیٰ علیہما السلام د الله تعالیٰ نائب، مختار او متصرف منلونه بغیر الله تعالیٰ نه راضی کیږی. دا رنګے مونږ چونکه د الله تعالیٰ محبوب او خوښ یُو، په دے وجه مونږ الله ته زیات نزدے یُو: قالوا نحن اولی بالله منکم لاننا ابناء الله واحباءه (قرطبی ص ۱۴۵ ج ۲) وَهُوَ رَبُّنَا وَرَبُّكُمْ. لیکن دا ستاسو جهګړه بالکل لغوه ده ځکه چه څنګه هغه ستاسو رب دے دا رنګے هغه زمونږ رب دے. څمونږ او ستاسو پروردګار او اقا هم هغه دے. د هغه نه سوا هیڅوک اقا او داتا نشته او د هغه ربوبیت دیو قوم او قبیلے سره مخصوص هم نه دے. لَنَا اَعْمَالُنَا وَلَكُمْ اَعْمَالُكُمْ. ستا اعمال تاسو سره او زمونږ اعمال مونږ سره دی د الله تعالیٰ نزدیکت انسان ته په اعمالو باندے حاصلیږی که چرے د هغه اعمال د شرک او ریا نه پاک وی نو د الله پاک نزدیکت به ورته حاصل شی. او که اعمال ئے د شرک پلیتئ سره خیرن وی نو هغه به د دربار الهی نه شړلے شی. او نیغ به دوزخ ته ځی. وَنَحْنُ لَهُ مُخْلِصُوْنَ ○ ځکه چه مونږ خپل اعمال صرف د الله د رضا دپاره کوو او دا د شرک او ریا کارئ نه پاک ساتو. قال سعید بن جبیرؓ: الاخلاص ان لا تشرک فی دینه ولا ترائی احدًا فی عمله. (روح ص ۳۹۹ ج ۱) دا جمله هم مقصودی ده. دلته درے مقصودی جملے پرله پسے راغلی دی. نَحْنُ لَهُ مُسْلِمُوْنَ ○ او نَحْنُ لَهُ عٰبِدُوْنَ ○ او نَحْنُ لَهُ مُخْلِصُوْنَ ○ مقصد دا دے چه اے ایمان والو! د دے خبرے اعلان اوکړئ چه ایمان خو مونږ ټولو پیغمبرانو باندے راوړے دے او د ټولو د نبوت اقرار مو کړے دے لیکن تینګیږو به صرف د الله په وړاندے او عبادت به هم صرف د هغه کوو او صرف هم هغه ته به اواز کوو او په دے کارونو کښې به هیڅ یو پیغمبر الله تعالیٰ سره نه شریکوو.

۲۶۵ کله چه یهود او نصاریٰ هر قسمه دلائلو سره لاجوابه کړے شو او ورته اوویلے شو چه که توحید معیار صداقت وی نو مونږ موحدین یُو او که اتباع معیار حق وی نو مونږ ټولو پیغمبرانو باندے ایمان راوړو او د هغوی پیغام توحید منو. لیکن هر کله چه هغوی دے سره څه جواب جوړنه شو نو هغوی دا غلط پروپیګنډه شروع کړه چه ګوندې ټول پیغمبران خو دوی په مذهب وُو. دیهودیانو دعوی وه چه هغوی ټول یهودیان وُو او د نصاراؤ دعوی وه چه هغوی ټول نصرانیان وُو. نو الله تعالیٰ د زجر په طور اوفرمائیل چه ایا اوس تاسو دا وایئ چه ټول انبیاء علیهم السلام ستاسو په مذهب وُو او ستاسو په شان العیاذ بالله مشرکان وُو. قُلْ ءَاَنْتُمْ اَعْلَمُ اَمِ اللّٰهُ ○

جواب شکوه اَیا د دغه پیغمبرانو دین او مذهب تاسو د الله تعالیٰ نه زیات پیژنئ ظاهره دا چه د الله علم زیات دے او الله تعالیٰ روښې په واضح طور باندې بیان فرمائیلی دی چه د انبیاء علیهم السلام دین، دین اسلام وُو او هغوی ټول په ټول توحید باندې قائم وُو او مشرکان نهٔ وُو۔

۲۶۶ دا د اَهلِ کتابو دپاره زجر دے او د شکوے جواب هم دے، استفهام د انکار دپاره دے او د شهادت نه د الله تعالیٰ هغه شهادت مُراد دے کوم چه تورات او انجیل کښې موجود دے چه ټول انبیاء علیهم السلام په توحید باندې وُو او د باطل مذهبونو نه په میلونو لرے وُو، شهادة التورٰىة والانجیل علی الانبیاء کانوا علی التوحید والحنفیة۔ (کبیر ص ۳ ۷ ج ۱) یعنی د ټولونه لوئے ظالم هغه دے چا چه د الله تعالیٰ هغه شهادت پټ کړو کوم چه هغه سره موجود دے څنګه چه یهودو او نصاراؤ وکړل۔ د وی سره په تورات او انجیل کښې د انبیاء کرامو په توحید پرست کیدو باندې شهادت موجود وُو لیکن د دے باوجود د وی هغوی لره یهودیان او نصرانیان ظاهر کړل۔

۲۶۷ دا د وی دپاره سخت وعید دے چه الله ستاسو د اَعمالو نه بے خبره نهٔ دے۔ پیغمبرانو باندې ستاسو غلطے افترا کانے او د الله تعالیٰ د شهادت پټول او ستاسو نور اعمال ټول د هغهٔ په نظر کښې دی هغه به تاسو ته د هغے پوره پوره سزا درکړي۔

۲۶۸ د یهودو او نصاراؤ په زړونو کښې په خپلو پلرونو نیکونو باندې فخرا و غرور مضبوط شوے وُو۔ او هغوی به د خپل نجات دپاره بس د خپلو اسلافو اعمال کافی ګنړل۔ په دے وجه د د وی د اب قائدے فخرما تولو دپاره او د وی د دے غلط خیال د بیخ انجام نه ویرولو دپاره د دے آیت اعاده اُوشوه۔ تکریر لما تقدم للمبالغة فی التحذیر عما استحکم فی الطباع من الافتخار بالاٰباء والاتکال علیهم۔ (روح ص ۴۰۱ ج ۱)

دے ځائے پورے خوږ توحید او رسالت د نقلی دلائلو بیان وُو۔ اُوس دُوړانه د رسالت متعلق د یهودو او نصاراؤ او مشرکینو د بعضو شبهاتو بیان کړے شوے دے۔

اَوله شُبهه هرکله چه نبی کریم ﷺ مدینے ته تشریف راؤړو، هغه وخت په هغوی بیت المقدس طرفته مخ کولو سره مونځ کولو۔ شپاړس یا اولس میاشتے پس ورته خانه کعبے ته د مخ کولو حکم اُوشو۔ د تحویلِ قبله د حکم ورکولو نه مخکښې الله تعالیٰ په طور د پیشن ګوئی هغوی ته اُوښودل چه راتلونکے نزدے وخت کښې چه هرکله تاسو ته د تحویلِ قبله حکم ملاؤ شی دغه وخت به احمق او بیوقوف خلق په دے خبره باندې اعتراض کوی۔ څوک به وائی چه د دی بیت المقدس چه د ټولو پیغمبرانو قبله وه، پریخودهٔ څکه دا پیغمبر نهٔ دے۔ څوک به وائی چه د بیت المقدس نه ئے د بیت رُخ کړے دے، کیدے شی چه د وطن یاد تنګ کړے وی او کوړئی به زر بیرته مدینه پریږدی او مکے ته به لاړ شی۔ لهٰذا دا چه هر څوک به خپله رائے قائموی۔ الله تعالیٰ د هغوی د دے شبهے یا اعتراض جواب ورکړے دے۔

ربوطه

سَيَقُولُ السُّفَهَآءُ مِنَ النَّاسِ مَا وَلّٰهُمْ عَنْ قِبْلَتِهِمُ

اوس به اووائي بیوقوف [۲۶۱] خلق چه کوم شیز اوګرځول مسلمانان ددوی د قبلې

الَّتِيْ كَانُوْا عَلَيْهَا ؕ قُلْ لِّلّٰهِ الْمَشْرِقُ وَ الْمَغْرِبُ ؕ يَهْدِيْ

نه چه کوم چه هغوی وو [۲۶۲] په نه او وایه الله دپاره دے مشرق او مغرب [۲۶۳] بیائي چاله چه

مَنْ يَّشَآءُ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۱۴۲﴾ وَكَذٰلِكَ جَعَلْنٰكُمْ اُمَّةً

وغواړي په سمه لاره باندے [ف۱] او دا شان اوګرځولي مونږ تاسو امّت

وَّسَطًا لِّتَكُوْنُوْا شُهَدَآءَ عَلَى النَّاسِ وَيَكُوْنَ الرَّسُوْلُ

درمیانه [۲۶۴] دپاره چه تاسو ګواهي ورکونکي یئ په خلقو باندے او وي رسول په تاسو

عَلَيْكُمْ شَهِيْدًا ؕ وَمَا جَعَلْنَا الْقِبْلَةَ الَّتِيْ كُنْتَ عَلَيْهَآ

باندے ګواهي ورکونکے [۲۶۵] [ف۲] او نه وو مقرر کړے مونږ هغه قبله په کوم چه ته ځمکنی وے [۲۶۶] لیکن

اِلَّا لِنَعْلَمَ مَنْ يَّتَّبِعُ الرَّسُوْلَ مِمَّنْ يَّنْقَلِبُ عَلٰى

دے دپاره چه معلوم کړو چه څوک په تابع اوسي د رسول او څوک به ګرځي په

عَقِبَيْهِ ؕ وَاِنْ كَانَتْ لَكَبِيْرَةً اِلَّا عَلَى الَّذِيْنَ هَدَى اللّٰهُ ؕ

خپو [۲۶۵] ئے [ف۳] او بیشکه دا خبره ګرانه شوه لیکن په هغو باندے چاته چه لاره اوښودله الله.

وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُضِيْعَ اِيْمَانَكُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بِالنَّاسِ لَرَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۴۳﴾

او الله داسے نه دے چه ضائع کړي ستاسو ایمان [۲۶۶] بیشکه الله په خلقو باندے ډیر شفیق نهایت مهربان دے

نکات:- ۱ده په رسالت باندے اوله شبه، ۲د شبهے جواب درومبی اجمالی علت سره ۳د اولے شبهے جواب تفصیلی علت سره او کاف د بیان کمال دپاره دے ۱۲

موضح قرآن

ف۱ چه کله نبی علیه السّلام دمکے نه مدینے ته راغے نو دپاسه یو کال یې بیت المقدس طرفته مونځ اوکړو بیا حکم ملاؤ شو چه کعبے طرفته مونځ کوه نو هغه وخت یهود او څنے کچه مسلمانانو د یهودیانو دهوکه کولو سره شبهات اچول شروع کړل چه هغه خو د نبیانو قبله وه د هغې پرینبودل د نبی لپنه نه ده-

الله پاك د ځکنی نه اوفرمائیل چه خلق به اووائي . ف۲ یعنی ځنګه چه دے دا پوکښ تاسو دواړه اولیدل چه تاسو سره پوره خبره ده او مخالفینو سره ناقصه. یو دا چه تاسو ټول پیغمبران

مانئ او یهود بیه نه منی. دویم دا چه ستاسو قبله کعبه ده چه د ابراهیم علیه السلام د وخت نه
مقرر ده. ابراهیم علیه السلام د ټولو پیشوا دے. او د یهودو او نصارو قبله روستو ثابته شوه د هغے
تاسو په هره خبره کښې پوره یئ او نور امتونه ناقص دی او هغوی حاجت دے چه تاسو ورته اوښایئ
او تاسو ته د چا د ښودلو ضرورت نشته. ف۳ یعنی ستاسو قبله د ابراهیم د وخت نه کعبه
مقرر ده او د ایمان ازمائیلو د پاره څو ورځے بیت المقدس شوه. او په دیکښې چه څوک
په ایمان قائم پاتے شول د هغوی لویه درجه ده.

فتح الرحمٰن ف۱ یعنی کوم چه د الله په علم کښې مخکښې مقرر شوید ه هغه دا ده چه د محمد صلی الله علیه وسلم قبله به کعبه وی او بیت المقدس ته مخ کول څو
میاشتے د امتحان د حکمت په وجه ده.

تفسیر ۲۶۹ سَيَقُولُ بعضے مفسرینو د ماضی په معنیٰ کښې اخستے ده د هغوی خیال
دے چه دا آیت د تحویلِ قبله نه روستو نازل شو. لیکن د جمهور مفسرینو
رائے دا ده چه سیقول مستقبل د پاره دے او دا آیت د تحویلِ قبله نه مخکښې نازل
شوید ے. الله تعالیٰ د بیوقوفانو د اعتراض نه مخکښې نبی علیه السلام ته اطلاع ورکړے
وه. سیقول ظاهر فی الاستقبال و انه اخبار من الله تعالیٰ لنبیه صلی الله علیه وسلم
انه یصدر منهم هذا القول فی المستقبل و ذلك قبل ان یؤمروا باستقبال الکعبة
(بحر ج۱ ص۴۱۹) د السفهاء نه بعضو یهود مراد اخستے دی او بعضو د مکے مشرکان او بعضو
منافقین. لیکن لفظ د خپل عموم لحاظ سره ټولو ته شامل دے. د دے وجے نه دا په
عموم محمولول بهتر دی ځکه چه دا ټول دشمنان وو چه د تحویلِ قبله په پناه کښې به
موقعه بیا موندله ټولو اعتراض کړے وو. ان یکون الکل قد قال ذلك لان الاعداء
مجبولون علی القدح والطعن فاذا وجدوا مجالا لم یترکوا مقالا (کبیر ج۴ ص۱۲)
۲۷۰ دا د سُفَهَاءُ مقوله ده او مَا استفهامیه ده او استفهام د طنز او استهزاء
د پاره دے. مَا وَلّٰهُمْ عَنْ قِبْلَتِهِمُ استهزءوا بالمسلمین (قرطبی ج۲ ص۱۴۸) د قبلتهم نه مراد
بیت المقدس دے چه اول د مسلمانانو قبله وه یعنی کم عقل او بیوقوف خلق به اعتراض
کوی او د طنز په طور به وائی چه دا مسلمانان د خپلے زړے قبلے نه کوم څیز واړول؟ یعنی
یو طرفته خو دا سړی د مخکینو پیغمبرانو د اتباع دعویٰ کوی بل طرفته بے د نبیانو قبله
پرېښوده. معلومیږی چه حیران او سرګردان دی او په دے باندے حق مشتبه شوید ے
د دوی د دے اعتراض الله څلور جوابونه ورکړیدی. دوه اجمالی دوه تفصیلی. د دے
اعتراض د جوابونو سلسله په لوړسمه رکوع کښې وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُهْتَدُوْنَ پورے چلیدلے
لِلّٰهِ اول اجمالی جواب :- یعنی ټول طرفونه د الله دی او په کوم یو طرف کښې تقدس
نه دے کیښودے شوے هغه چه کوم طرفته اوغواړی د مخ کرځولو حکم ورکوی او مونږ
خو د حکم بندګان یو. اول یے بیت المقدس طرفته د مخ کولو حکم ورکړو نو هغه طرف ته
مخ کرځولو سره هم مونږ کوو. او س کعبے طرفته د مخ کولو حکم ملاؤ شوید ے نو د دے حکم

تعمیل به کوی ځکه چه د هغه د احکامو تعمیل اصل هدایت دے. يَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ. هغه چه چا ته اوغواړی په سمه لاره د روانیدلو توفیق ورکوی او د هغه هر حکم سمه لاره ده.

۲۷۲ مفسرينو كذلك د تشبيه د پاره گرځولے دے ليكن حضرت شيخ اوفرمائيل چه كذلك دلته د متعارف تشبيه د پاره نه دے. لهذا د مشبه او مشبه به منلو ته ضرورت نشته بلكه د بيان د كمال د پاره دے. د وسط معنى غوره او بهتر ده نو مطلب دا دے چه دا شان مونږ تاسو بهترين او خير اُمت گرځولی يئ يعنی دا زمونږ كمال دے دا شان نور د ېر ځايونو كښې كاف تشبيه د پاره نه دے بلكه د بيان د كمال د پاره دے لكه چه ارشاد دے وَكَذٰلِكَ اَنْزَلْنٰهُ حُكْمًا عَرَبِيًّا (رعد ع ۵) يعنی قرآن دا شان عربی گرځول زمونږ كمال دے. چونكه د دُنيا رهنمائی او پيشوائی تاسو ته حواله كيدونكے ده. د دے وجے نه كعبه چه د جغرافيے په اعتبار سره د ټولے دُنيا په مينځ كښې واقع ده ستاسو مركز مو گرځولے دے.

۲۷۳ دا مركزيت تاسو ته دے د پاره حواله كړے شويدے چه ځما پيغمبر تاسو ته ځما توحيد بيان كړی او ځما د احكامو نه تاسو خبر كړی او تاسو نور د خلقو ته توحيد بيان كړئ او هغوی ته ځما احكام اُورسوئ د يكښې خطاب عامو صحابو ته دے. او شهداء د شهيد جمع ده چه د شهادت نه اخستے شويدے چه معنى يے بيان كړل دی. په دے وجه به د شهيد او دا شان د شاهد معنى دی د الله توحيد بيانونكے او حقه لاره ښودونكے اخښنګه چه علامه ابن صفی حنفی ليكلی دی. اِنَّآ اَرْسَلْنٰكَ شَاهِدًا اِلٰى اللّٰهِ بِالْوَحْدَانِيَّةِ (جامع ج ۲ ص ۲۶۳) يعنی مونږ تاسو توحيد بيانونكی ليږلی يئ. دا شان په سورة مائده كښې وَكَانُوْا عَلَيْهِ شُهَدَآءَ د لاندے علامه موصوف ليكی. رقباء لئلا يبدل (جامع ص ۲۰۸) يعنی د يهودو عالمان د تورات محافظو وو چه څوك هغے كښې تبديلی اونكړی. او حضرت مولانا شاه عبد القادر محدث دهلوئ په سورة مزمل كښې د شَاهِدًا معنى ښودونكے كړيده. اِنَّآ اَرْسَلْنَآ اِلَيْكُمْ رَسُوْلًا شَاهِدًا عَلَيْكُمْ (مونږ اُوليږه ستاسو طرفته رسول ښودونكے تاسو ته. شاه عبد القادر) ليكن شرك او بدعت خوښونكی مُلايان وائی چه دلته د شهيد معنى گواه ده او گواه صرف هغه كيدے شی چه په موقعه باندے موجود وی او واقعه په خپلو سترگو وينی. كله چه الله تعالىٰ نبی عليه السّلام په اُمت باندے گواه كړو. نو د دے نه معلومه شوه چه هغوئ د هر اُمتی سره موجود وی او د هغه ټول حركات، سكنات وينی ځكه نو هغه گواه نه شی جوړيدے نو د دے نه ثابته شوه چه نبی عليه السّلام هر ځائ او هر وخت حاضر ناظر دے.

اول جواب:- لفظ شهيد دلته د گواه په معنى نه دے ځكه چه وړاندے د جامع البيان او ترجمه موضح قرآن په حواله سره بيان كړے شويدی. دلته د شهيد معنى بيانونكے او ښودونكے دے او د سياق سباق په اعتبار سره هم دا معنى موزون ده ځكه چه د دے ايت كښې د صحابه كرامو د پاره هم لفظ شهداء استعمال شويدے او دا لفظ بعينه هم هغه مفهوم ادا كوی چه په سورة اٰلِ عمران ركوع ۲ كښې په يو بل ايت كښې بيان كړے شويدی

یعنی كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَ تُؤْمِنُونَ بِاللّٰهِ۔

دویم جواب :- که چرته اُومنلے شی چه په دے ایت کښې شهید په معنٰی د گواه دے لیکن دا دعوی غلطه ده چه گواه صرف هغه څوك کیدے شی کوم چه په موقعه باندے موجود وی او واقعه په خپلو سترگو اووینی ځکه چه د حنفی فقهاؤ متفقه فیصله ده چه د گواهئ د پاره د واقعے لیدل مشاهده په سترگو ضروری نه ده۔ ځکه چه قرآن مجید کښې دی، وَشَهِدَ شَاهِدٌ مِّنْ أَهْلِهَا إِنْ كَانَ قَمِيصُهُ قُدَّ مِنْ قُبُلٍ الآیة دلته یے هغه کس ته گواه اووئیلو چا چه د زلیخا د لاس اچولو مشاهده په خپلو سترگو نه وه کړے بلکه صرف د علاماتو په بنیاد یے گواهی اوکړه۔ نو معلومه شوه چه د گواهئ د پاره مشاهده ضروری نه ده۔ دا شان که چرته یو کس په موقعه موجود نه وی. لیکن د واقعے خبر هغه ته په معتبر او باوثوق ذریعے سره اُورسی چه هغه ته د واقعے د صداقت یقین اُوشی نو هغه د پاره گواهی ورکول جائز دی ځکه چه د هدایے ص۱۵۴ ج۳ کښې دی۔ انما یجوز للشاهد ان یشهد بالاشتهار و ذالك بالتواتر او اخبار من یثق به۔

دریم جواب :- د شهید معنٰی دلته رقیب او نگهبان ده۔ او مطلب دا دے چه د خدائے رسول په تاسو (یعنی صحابه کرامو) باندے نگهبان وی دے د پاره چه تاسو د دین اسلام نه وانه ړوی او په دین کښې تحریف اُونکړئ او تاسو په هغه خلقو باندے نگهبان شئ څوك چه تاسو نه دین زده کوی۔ ځکه چه په صحیح حدیث کښې دی. نبی علیه السلام اُوفرمائیل چه د قیامت په ورځ به زۀ اووینم چه ځنې د اُمت ځنې خلق به را وستلے شی لیکن د دے نه مخکښے چه هغوی ما ته حوض کوثر باندے را ورسی هغوی به جهنم طرفته بوتللے شی نو زۀ به اووایم چه دا خو زما اُمتیان دی نو ما ته به په جواب کښې اُو وئیلے شی چه ستا نه روستو دے خلقو کوم څه کړیدی هغه تا ته معلوم نه دی نو :-

فاقول کما قال العبد الصالح وکنت علیهم شهیدا ما دمت فیهم فلما توفیتنی کنت انت الرقیب علیهم (صحیح بخاری ص۶۶۵ ج۲) زۀ د دے په جواب کښې هغه څۀ اووایم کوم به چه د الله نیك بنده عیسٰی علیه السلام وائی چه تر څو زۀ به د دوی کښې موجود وُم په دوی باندے نگران وُم او چه کله تا زۀ اُوچت کړم نو تاسو د دوی نگهبان وئ؛

په دے حدیث کښې نبی علیه السلام په خپله اُو فرمائیل چه تر څو زۀ به د دوی کښې موجود وُم او د دوی د حالاتو نه خبر وُم۔ نو د دے نه معلومه شوه چه د نبی علیه السلام گواه کیدل صحابو د پاره دی او هر اُمتی باندے هغوی گواه نه دی۔ او نه هر ځائ حاضر ناظر دے۔

څلورم جواب :- یا د گواه نه مراد دا دے چه کله د قیامت په ورځ د نبی علیه السلام اُمت به تیرو شوؤ اُمتونو باندے گواهی اوکړی چه هغوی ته د دوی پیغمبرانو د الله احکام رسولی دی او نبی علیه السلام به په خپل اُمت باندے د تبلیغ رسالت گواهی ورکوی ځکه چه حضرت کتاده فرمائی لِتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ لتکون هذه الامة شهداء علی الناس ان الرسل

قد بلغتکم ویکون الرسول علی هذه الامة شهیدا ان قد بلغهم ما ارسل به (ابن جریر) ځکه چه په حدیث کښې دي یجاء بنوح علیه السلام یوم القیمة فیقال له هل بلغت فیقول بلغت یعني نعم یارب فیسئل امته هل بلغکم فیقولون ما جاءنا من نذیر فیقال من شهودك فیقول محمد و امته فیقال رسول الله صلی الله علیه وسلم فیجاء بکم فتشهدون (صحیح بخاري ج ۲) یعني قیامت په ورځ به نوح علیه السلام نه تپوس اوشي چه آیا تا خپل احکام خپل اُمت ته رسولي دي؟ نو هغه به جواب ورکړي چه اے خدایه! ما رسولي دي. بیا به الله پاك د هغه د اُمت نه تپوس اوکړي چه هغه تاسو ته خپل احکام رسولي دي؟ نو هغوی به اووائي چه مونږ ته خو څوك ویروونکے نه دے راغلے نو د نوح علیه السلام نه به تپوس اوشي چه ستا ګواه څوك دے؟ نو هغه به جواب ورکړي چه محمد صلی الله علیه وسلم او د هغوی اُمت زما ګواه دے نبي علیه السلام اوفرمائیل چه بیا به تاسو راوبللے شئ او تاسو به ګواهي اوکړئ. بعضے روایتونو کښې راځي چه د نوح علیه السلام قوم به په اُمتِ محمدیهؐ باندے اعتراض اوکړي چه تاسو څنګه ګواهي کوئ تاسو خو هغه وخت موجود هم نه وئ نو اُمتِ محمدیه به جواب ورکړي (ان الله تعالی بعث الینا رسولا وانزل علیه الکتاب فکان فیما انزل الینا خبرکم) یعني الله پاك مونږ ته خپل پیغمبر رالیږلو او په هغه باندے یے کتاب نازل کړو او په هغے کښې یے ستاسو ذکر هم اوکړو چه نوح علیه السلام خپل قوم ته د الله توحید او د هغه احکام کما حقهٗ رسولي وو.

پنځم جواب:- بالفرض که چرے اومنلے شي چه د دے ټولو قطعي دلائلو او د صریحو نصوصو خلاف دلته د شهید معنی صرف حاضر و ناظر ده او دینه د نبي علیه السلام حاضر ناظر ثابتیږي نو بیا خو صرف نبي علیه السلام نه بلکه ټول اُمتِ محمدیهؐ به حاضر ناظر منل دي ځکه چه دے آیت کښې د اُمتِ محمدیهؐ د پاره هم د شهداء لفظ استعمال کړے شویدے چه د شهید جمع ده بلکه دے صورت کښې خو به د اُمت مرتبه د نبي علیه السلام نه هم زیاته شي ځکه چه نبي علیه السلام خو صرف د خپل اُمت ګواه دے او دا اُمت په تیرو شوو اُمتونو باندے ګواه دے ځکه چه لِّتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ نه ظاهره ده.

شپږم جواب:- که چرے د شهید هغه معنی تسلیم کړے شي کوم چه مبتدعین وائي تو د دے آیت او د قرآن د نورو آیتونو په مینځ کښې به داسے اختلاف او تضاد واقع شي چه د هغے لرے کول به ممکن نه وي مثلاً سورة بقره چه په هغے کښې دا آیت دے مدینه منوره کښې د ټولو نه مخکښې نازل شو وے نه روستو تقریباً ۱۶، ۱۷ سورتونه نور هم نازل شو. او دینه روستو سورة منافقون نازل شو چه د هغے شان نزول د صحیح روایتونو مطابق دا دے چه د غزوهٔ تبوك په سفر کښې عبد الله بن اُبي رئیس المنافقین موقعه بیا مونده او خپلو منافقینو ملګرو ته یے اوویل چه دے پیغمبر او د ده ملګرو مونږ ډیر زیات تنګ کړي یو. د دوي د وجے نه مونږ ته ډیر تکلیف دے که چه مونږ واپس مدینے ته لاړ شو نو العیاذ بالله) دا ذلیل به د ښار نه اُوباسو د عبد الله دا خبرے یو کم عمر صحابي حضرت زید بن ارقم

واورېدلے او خپل تره ته ئې اوویلے هغه دا ټوله واقعه د نبي علیه السلام په خدمت کښې عرض کړه نو هغوئ عبد الله بن أبي را وغوښتلو نو هغه قسمونه اوکړل او نبي علیه السلام ته ئې دا یقین ورکړو چې هغه دا قسم خبرے نه دي کړي نو نبي علیه السلام زید بن أرقم رض دروغژن اوګڼړل او عبد الله بن أبي ئې رښتونے اومنلو ورپسے بانده سُورةُ منافقون نازل شوه چې په هغې سره نبي علیه السلام ته د حال حقیقت واضح شو. که چرے نبي علیه السلام حاضر ناظر وے نو یقیناً به هغوئ ته د عبد الله بن أبي خبرے معلوم وے او د زید بن أرقم رض تصدیق به ئې کړے وے او د عبد الله بن أبي په قسمونو بانده ئې یقین نه وے کړے هغه به ئې دروغژن ګڼړلے وے په دے وجه دا دے ته ثابتیږي چې د شهید معنی دلته حاضر او ناظر نه ده ځکه چې دا د فریق مخالف خیال دے.

یوه شبهه :- ځینې مبتدعینو دلته د شاه عبد العزیز قدس سره یو عبارت پیش کړیدے او هغې نه د نبي علیه السلام حاضر ناظر کیدل ثابتوي هغه وائي چې شاه صاحب د دے آیت په تفسیر کښې لیکلي دي یعنی وباشد رسول شما بر شما گواه زیرا که او مطلع است بنور نبوت به رتبه هر متدین بدین خود که در کدام درجه از دین من رسیده الخ (تفسیر عزیزی ص ٦٣٦) یعنی او وي به رسول ستاسو په تاسو بانده ګواه ځکه چې هغه خبر دے د نبوت نور سره د هر متدین په رتبه باندے په خپل دین کښې چې کومے درجے ته ځان په دین کښې رسیدلے دے. نو د دے نه معلومه شوه چې نبي علیه السلام ته د هر اُمتي د تفصیلي حالاتو نه خبر دے او حاضر او ناظر دے.

جواب :- دا عبارت د شاه عبد العزیز رحمة الله علیه نه دے بلکه مدرج دے روستو چا زیات کړیدے ځکه چې دے نه روستو حضرت شاه صاحب وړاندے لیکلي شهادت دریني معنی ګواهي نیست بلکه یعنی اطلاع و نګهباني است تا از جادهٔ حق بیرون نروند چنانچه وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ. و در مقوله حضرت عیسی علیه السلام که وَكُنْتُ عَلَيْهِمْ شَهِيْدًا مَّا دُمْتُ فِيْهِمْ فَلَمَّا تَوَفَّيْتَنِيْ كُنْتَ اَنْتَ الرَّقِيْبَ عَلَيْهِمْ وَاَنْتَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ (تفسیر عزیزی ص ٦٤١) یعنی په دے آیت کښې د شهادت معنی ګواهي نه ده بلکه اطلاع او نګهباني ده. دے د پاره چې هغوئ د حق لارے نه بهر لاړ نشي ځکه چې په وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ کښې او د حضرت عیسی علیه السلام قول كُنْتُ عَلَيْهِمْ شَهِيْدًا کښې شهید د ګواه په معنی نه دے بلکه دے معنی نګران او نګهبان دے دا عبارت د دے خبرے ښکاره قرینه ده چې مخکنے عبارت د شاه صاحب نه دے ځکه چې روستني عبارت کښې هغوئ چې د لفظ شهید کوم مفهوم بیان کړیدے هغه د مخکني عبارت بالکل منافي دے.

دویم جواب ٢٧٦ :- دا دویم جواب دے او د اولني جواب تفصیل دے یعنی د تحویل قبله حکم مونږ د دے وجے نه ورکړیدے چې د کهره کهوټه او مخلص او منافق امتیاز اوشي مکه معظمه کښې خو نبي علیه السلام کعبے طرفته مُونځ کولو د هجرت نه روستو بیت المقدس قبله مقرر کړے شوه او بیا د شپاړس اوولس میاشتو نه روستو دوباره کعبه قبله مقرر کړے شوه دا اُلّٰئن د قبله نسخ دوه ځله واقع شویده دلته جَعَلَ په معنی د صَیّر دے لهٰذا د دے دوه مفعوله

پکار دی نو د دے مفعول اول محذوف دے یعنی الکعبة او القبلة مفعول ثانی دے او التی کنت علیها د الکعبة صفت دے۔ و المعنی و ما جعلنا الکعبة التی کانت قبلة لك اولاً ثم صرفت عنها الی بیت المقدس قبلتك الآن الا لنعلم (بحر ص۴۲۳ ج۱) یعنی کعبه چه مخکښ ستاسو قبله وه او۔ کوم ته ړوستو چه بیت المقدس ستاسو قبله اوګرځولے شوه اوس ستاسو قبله بیا دویم ځل صرف کعبه ځکه اوګرځولے شوه چه تابعدار او نافرمان کښ فرق اوکړے شی۔ ۲۲۵ لِنَعْلَمَ استقبال د پاره دے۔ لهٰذا په دے باندے شبه راځی چه دے نه وړاندے الله ته معلوم نه وه چه څوك به منی او څوك به نه منی حالانکه دا خبره د اسلام دالو د عقیدے نه خلاف دے ځکه چه الله پاك ته د ازل نه تر ابده پورے د ټولو کلیاتو او جزئیاتو علم لری۔ نو د دے جواب دا دے چه دلته د علم نه مراد په خارج کښ تمییز او اظهار دے ارید به التمییز فی الخارج (روح ص۴ ج۲) فوضع العلم موضع التمییز لان به یقع التمییز (مدارك ص۶۲ ج۱) یعنی مونږ د قبلے تحویل د دے د پاره کړیدے چه زمونږ د پیغمبر په منونکو او نه منونکو کښ فرق اوشی کوم خلق چه د قبلے تحویل په خوشحالئ اومنی هغه به فرمانبردار وی او چه څوك یے نه منی بلکه هغه پورے خندا کوی هغه به نافرمان وی ځکه چه څینے مفسرینو لیکلی دی چه په دے موقعه ډیر مسلمانان مرتد شول لیکن دا هغه مسلمانان وُو چه په ظاهره ورته مسلمانان ویلے شو لیکن په حقیقت کښ مسلمانان نه وُو یعنی منافقان وُو د دے خلقو خو به اول په پټه مخالفت کولو لیکن د قبلے د تحویل په موقعه یے ښکاره د دے پورے توقے مسخرے شروع کړے چه د مخلصو مسلمانانو په زړونو کښ شبهات پیدا شی د قبلے تحویل هم د مخلصو او منافقو، پاکو او خبیثو په مینځ کښ د فرق کولو یوه ذریعه ده۔ وَ اِنْ كَانَتْ لَكَبِيْرَةً اِلَّا عَلَى الَّذِيْنَ هَدَى اللّٰهُ۔ د هدایت نه مراد ایمان دے۔ ای خلق الهدی الذی هو الایمان فی قلوبهم (قرطبی ص۱۵۵ ج۲) یعنی د قبلے تحویل یو ګران ازمیښت وُو۔ لیکن چه د چا په زړونو کښ الله پاك ایمان پیدا کړے وُو هغوی د پاره د دے مقابله اسانه ځکه چه هغوی نه مصلحتونو ته ګوری نه حکمتونو ته د هغوی د زړونه ما حصل خو بس ایمان او تسلیم دے چرته چه حکم اوشو هلته یے سر ټیټ کړو۔

۲۲۶ د ایمان نه مراد مونځ دے ځکه چه په صحیح روایتونو کښ د ابن عباس رضی الله عنه نه روایت شویدے۔ د قبلے د تحویل نه ړوستو څینے مسلمانانو د نبی علیه السلام په خدمت کښ عرض اوکړو۔ چه اے د الله رسوله! کوم مسلمانانو چه بیت المقدس طرفته مونځ کولو او وفات شویدی د هغوی د مونځونو به څه حال وی۔ نو د دے باندے دا ایت نازل شو چه الله پاك به ستاسو مونځ نه ضائع کوی۔ بیت المقدس طرفته ستاسو شوی ټول مونځونه صحیح دی ځکه چه هغه هم زمونږ د حکم مطابق کړے شویدی۔ دا شان دا د سوال مقدر جواب دے او ممکن ده چه ایمان خپل مفهوم یعنی تصدیق بالقلب او اقرار باللسان باندے باقی دی نو په دے صورت کښ به په دے ایت کښ د مسلمانانو دا شبه ختمه شی چه کله اصل قبله کعبه وه نو د بیت المقدس طرفته مونږ کول او مونځونه کول او هغه خپله قبله

تیرو سره خوبه زمونږ په ایمان کښې څخه خلل نه وی راغلی. اِنَّ اللّٰهَ بِالنَّاسِ لَرَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ
الله پاک دا سے شفیق او مهربان دے چه دهغه ټول احکام په شفقت او رحمت بانی مبنی
دی څکه چه د قبلے تحویل حُکم هم د دے قبیلے نه دے او هغه د چا اخلاص او ایمان سره
کړے عمل هیڅ کله نه ضائع کوی۔

قَدْ نَرٰى تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَآءِ ۚ فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبْلَةً

بیشکه مونږ وینو بیا بیا پورته کیدل ستا د مخ اسمان طرفته ۲۷۹ نو ضرور به مونږ اوګرځوو تا لره کوم

تَرْضٰهَا ۪ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ؕ وَحَيْثُ مَا

قبلے طرفته چه ته راضی یے ۲۸۰ او س اوګرځوه مخ خپل په طرف د مسجد حرام او کوم ځای چه تاسو یئ

كُنْتُمْ فَوَلُّوْا وُجُوْهَكُمْ شَطْرَهٗ ؕ وَاِنَّ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ

اوګرځوئ مخونه د هغه طرفته او چا ته چه ورکړے شوید ے کتاب ضرور

لَيَعْلَمُوْنَ اَنَّهُ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّهِمْ ؕ وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا

پیژنی چه دا ټهیک دے د دوی د رب د طرفه ۲۸۱ او الله بے خبره نه دے د هغه کارونو

يَعْمَلُوْنَ ﴿١٤٤﴾ وَلَئِنْ اَتَيْتَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ بِكُلِّ اٰيَةٍ

نه کوم چه هغوی کوی او که چرے ته راوړے اهل کتابو ته ټولے نښانے نو هم

مَّا تَبِعُوْا قِبْلَتَكَ ۚ وَمَآ اَنْتَ بِتَابِعٍ قِبْلَتَهُمْ ۚ وَمَا بَعْضُهُمْ

نه منی ستا قبله ۲۸۲ او نه ته منے د هغوی قبله او نه د دوی نه یو منی د بل

بِتَابِعٍ قِبْلَةَ بَعْضٍ ؕ وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ اَهْوَآءَهُمْ مِّنْ بَعْدِ

قبله او که چرے ته لاړے د دوی په خواهشاتو روستو د هغه

مَا جَآءَكَ مِنَ الْعِلْمِ ۙ اِنَّكَ اِذًا لَّمِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿١٤٥﴾ اَلَّذِيْنَ

علم نه کوم چه تا ته راغلے دے نو بیشکه ته هم شوے بے انصافو کښې ۲۸۳ چا ته چه ورکړے

اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ يَعْرِفُوْنَهٗ كَمَا يَعْرِفُوْنَ اَبْنَآءَهُمْ ؕ وَاِنَّ

مونږ کتاب پیژنی هغه څنګه چه پیژنی خپل ځامن ۲۸۴ او بیشکه یو

فَرِيْقًا مِّنْهُمْ لَيَكْتُمُوْنَ الْحَقَّ وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۴۶﴾ اَلْحَقُّ

دله د دوی نه پټوی حق سره د علم نه ۲۸۳ شلله حق هغه دے

مِنْ رَّبِّكَ فَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الْمُمْتَرِيْنَ ﴿۱۴۷﴾

کوم چه ستا رب اووئیل بیا ته مه کیږه شک ۲۸۴ اوړونکو نه

نکات: ۱- سل مراد د قبلے تحویل دے. ۲- د نبی علیه السلام هم دا خوښه وه چه کعبه د هغوی قبله وی لیکن هغوی خوښنل چه څه وخت د پاره بیت المقدس قبله پاتے شی شاید چه یهودیان اسلام طرفته مائل شی په دے باندے دا اوله تنبیه ده. ۳- دویمه تنبیه یعنی د قبلے تحویل په دلیل د سیاق. ۵- یعنی هذا هو الحق ای تحویل القبلة:

تفسیر: ۱- ۲۸۳ د نبی علیه السلام خواهش وو چه د هغوی قبله کعبه اوګرځولے شی ځکه چه هغه د ابراهیم علیه السلام قبله وه دا شان د اهل عربو د پاره دیکښ زیات میلان وو او د هغوی اسلام ته د نزدے راوستلو یو ښه ذریعه وه. ۲- د اهل کتابو نه چه چا ایمان راوړلو نو هغوی ایمان راوړے وو او کوم چه پاتے وو د هغوی د ایمان نه نبی علیه السلام نا اُمیده وو څنګه چه د اَفَتَطْمَعُوْنَ اَنْ يُّؤْمِنُوْا لَكُمْ الآية او وَلَنْ تَرْضٰى عَنْكَ الْيَهُوْدُ وَلَا النَّصٰرٰى الآية نه واضح ده. ۳- او د نبی علیه السلام دا توقع هم وه چه د قبلے تحویل به کیږی ځکه چه اوس د دین امامت او سیادت د بنی اسرائیلو نه بنی اسماعیلو ته منتقل شوے وو. اوس ضروری وه چه قبله هم هغه مقرر شی کوم چه د ابراهیم علیه السلام وه په دے وجه به هغوی د وحی د راتلو توقع سره بیا بیا د اسمان طرفته نظر اُوچتولو او کتل به یے نو الله او فرمائیل چه مونږ ستا بے الامی او انتظار وینو لیکن د بعض حکمتونو په وجه تر اوسه پورے مونږ د قبلے د تحویل حکم درنکړو. دیوزتنی ایت مطلب د دے روایت په بناء دے کوم کښ چه دا ذکر دی چه نبی علیه السلام به د وحی انتظار کولو او د اشتیاق د وجے نه به یے بیا بیا پورته اسمان طرف ته کتل لیکن حضرت شیخ قدس سره فرمائی چه لفظ تقلب د باب تفعل نه دے چه د هغه خاصه تکلف دے صراح کښ دی تقلب الشئ ظهر البطن کالحیة تتقلب فی الرّمضاء یعنی په سخته ګرمئ کښ د مار تکلیف سره تلو باندے د تقلب لفظ وئیلے شی نو د ایت مطلب به دا وی چه مونږ وینو تکلیف او ناګواری سره ستا سو بیا بیا اسمان طرفته کتل چه چرته د قبلے د تحویل حکم رانه شی ځکه چه د نبی علیه السلام دا خواهش هم وو چه اوس د قبلے تحویل اونشی او بیت المقدس قبله پاتے شی دے د پاره چه د اهل کتابو سره موافقت راشی او شاید د دے په وجه سره ایمان قبول کړی د ایت دا مفهوم حضرت شیخ رحمة الله علیه فرمائیلے دے. دا مفهوم چونکه د لغت او عرف مطابق هم دے او دے سره د اسلام کوم منصوص او قطعی حکم نه مخالفت هم اُونه شو. د دے وجے نه د ایت دا تفسیر او تاویل د تفسیر بالرای په دائره کښ داخل نه دے بلکه دا د هغه تاویل په زمره کښ داخل دے د کوم چه شرعاً اجازت

دے ښکلے چه د تفسیر علماؤ لیکلی دی التاویل صرف الاٰیة الی معنی موافق لما قبلها و بعدها تحتمله الاٰیة غیر مخالف الکتاب والسنة من طریق الاستنباط (الاتقان فی علوم القرآن ص۱۷۳ و تفسیر خازن ص۳)
یعنی تاویل دا دے چه اٰیت په یوه داسے معنیٰ محمول کړے شي چه د سیاق او سباق مطابق وی او په اٰیت کښ (لغةً او عرفاً) د دے گنجائش هم وی او هغه د کتاب او سنت نه مستنبط احکامو نه خلاف هم نه وی او بیا د دے تفسیر په تائید کښ دوه قرینے هم موجود دی.
اوله قرینه وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ اَهْوَآءَهُمْ مِّنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَكَ مِنَ الْعِلْمِ. په دے اٰیت کښ الله تعالیٰ نبی علیه السلام ته په دے خبره باندے زجر ورکړو چه دا خلق دومره حاسدان او ضدیان دی چه کله به هم ستاسو اتباع اُونکړی په دے وجه تاسو د داسے خلقو دومره زیات خیال ولے ساتئ. دویمه قرینه، وَلَئِنْ اَتَیْتَ الَّذِیْنَ اُوْتُوا الْکِتٰبَ بِکُلِّ اٰیَةٍ مَّا تَبِعُوْا قِبْلَتَكَ دا هم په دے باندے شاهد دے چه نبی علیه السلام د یهودیانو د دین طرفته مائل کړلو او د دوی د زړونو د تالیف د پاره هغوی سره څه قدرے ظاهری موافقت (مثلاً اتحاد قبله، قائم ساتلو متمنی وو لیکن الله پاك نبی علیه السلام د دے نه منع کړو. پاتے شوه خبره د یت چه دکوم په بناء باندے چه اول مطلب بیان شویدے نو د هغے په باره کښ گذارش دے چه اکثر حدیثونه د روایة بالمعنے طریقے سره بیان شویدی دا حقیقت د ټولو محدثینو په نزد منلے شویدے او زیر بحث روایت هم په دے طریقه باندے نقل کړے شویدے. او اکثر داسے کیږی ښکله چه په صحیح بخاری جلد ۲ صفحه ۶۶ کښ دی. قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لا تقوم الساعة حتی تطلع الشمس من مغربها فاذا طلعت وراٰها الناس اٰمنوا اجمعون و ذلك حین لا ینفع نفسًا ایمانها ثم قرأ الاٰیة. نبی علیه السلام اوفرمائیل چه ترڅو نمر د مغرب د طرفنه نه وی راختلے تر هغے به قیامت نه قائمیږی او چه کله خلق نمر د مغرب د طرف نه راختونکے اووینی نو ټول به ایمان راوړی لیکن دغه وخت به ایمان دوی ته هیڅ فائده نه ورکوی دے نه پس نبی علیه السلام دا اٰیت تلاوت کړو. هَلْ یَنْظُرُوْنَ اِلَّآ اَنْ تَاْتِیَهُمُ الْمَلٰٓئِکَةُ اَوْ یَاْتِیَ بَعْضُ اٰیٰتِ رَبِّكَ یَوْمَ یَاْتِیْ بَعْضُ اٰیٰتِ رَبِّكَ لَا یَنْفَعُ نَفْسًا اِیْمَانُهَا الخ په دے حدیث کښ د نبی علیه السلام مقصد دا دے چه کله د قیامت داسے نښے ښکاره شی دکوم په لیدلو سره به چه خلق په ایمان راوړلو مجبور کړے شی د هغه وخت ایمان راوړل به فائده نه ورکوی په دے باندے د استشهاد په طور نبی علیه السلام دا اٰیت تلاوت کړو. د دے نه د هغوی دا مطلب نه وُو چه د بَعْضُ اٰیٰتِ رَبِّكَ نه مراد د نمر راختل دی د مغرب نه لیکن څینے راویانو د دے حدیث نه د خپل فهم مطابق دا خیال اوکړو او د روایت بالمعنیٰ په ذریعه ئے بیان کړو چه د بَعْضُ اٰیٰتِ رَبِّكَ نه د نمر راختل مراد دی د مغرب د طرفنه. حالانکه دا خیز د نبی علیه السلام د منشاء نه خلاف دے. دا شان د ابوهریرهؓ نه روایت دے. چه نبی علیه السلام اُوفرمائیل چه د قیامت په ورځ به د بے ښکرو حیوان د پاره د ښکرور حیوان نه بدله اخستلے شی. دا څینے خلقو په حقیقت باندے محمول کړو حالانکه جلحاء او ذی القرن د کمزور او طاقتور نه کنایه ده ځکه چه حیوانات به دوباره نه شی ژوندی کولے. بس د

دوی د مرګ نوم دے ځکه چه د ابن عباس رضی الله عنه نه نقل شوی دی حشر کل شئ الموت سوی الجن والانس (جامع البیان ص ۲۳۸) یعنی د هر څیز حشر او انجام مرګ دے بیا د پیریانو او انسانانو نه ځکه چه دوی به د مرګ نه روستو د جزاء او سزاء د پاره ژوندی کولے شی دا شان د زیر تفسیر ایت په سلسله کښې هم راغلے دے. فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبْلَةً تَرْضٰهَا. دلته الله تعالیٰ نبی علیه السلام سره وعده اوکړه او هغوی ئے مطمئن کړل چه تا ته به داسے قبلے ته د مخ کرځولو حکم درکولے شی چه ته به هغه خوښوے او د دویم مفهوم په بناء باندے به د ایت مطلب دا وی چه کومه قبله تاسو خوښوئ مونږ به هغه طرفته د مخ کرځولو اجازت درکړو او د حضرت شیخ د بیان کړے شوی مفهوم مطابق به د دے مطلب دا وی چه تاسو ته به د داسے قبلے طرفته د مخ کرځولو حکم درکولے شی چه ته به هغه خوښوے.

ځکله دا د اولے وعدے د ایفاء او د قبلے د تحویل حکم دے. د شطر معنیٰ طرف او اړخ دے. د المسجد الحرام معنیٰ د عزت او حرمت والا مسجد دے. ځکه چه په دے جماعت کښې او د دے په حدودو کښې جنګ جګړه او ښکار کول وغیره جائز نه دی او د وَجْهٌ نه مراد ټول بدن دے. المراد من الوجه ههنا جملة بدن الانسان (کبیر ص ۲۲ ج ۲) مفسرینو لیکلی دی چه قبله خو خانه کعبه ده لیکن په ایت کښې مسجد حرام طرفته د مخ کولو حکم ورکړے شویدے د دینه معلومیږی چه کوم خلق د مسجد حرام نه لرے لرے اوسی هغوی د پاره مسجد حرام طرفته مخ کول کافی دی. عین کعبے طرفته مخ کول واجب نه دی. وذکر المسجد الحرام دون الکعبة دلیل علیٰ ان الواجب مراعاة الجهة دون العین (مدارک ص ۶۲) لیکن کوم خلق چه خانه کعبے سره موجود وی هغوی د پاره عین کعبے طرفته مخ کول واجب دی. وَحَيْثُ مَا كُنْتُمْ فَوَلُّوْا وُجُوْهَكُمْ شَطْرَهٗ. اول ئے نبی علیه السلام ته خطاب اوکړو د هغه نه د نبی علیه السلام یا د خپل خصوصیت مفهوم کیدے شو. ځکه چه دا ایتونه مدنی دی او س په دے ایت کښې صراحت سره دا حکم ټولو افرادو د پاره او ټولو ځایونو د پاره عام کړے شویدے یعنی تاسو چیرته هم یئ مونځ کولو کښې مسجد حرام طرفته مخ کرځوئ.

ځکله دا د قبلے د تحویل دویم اجمالی دلیل دے د الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ نه مراد یهود او نصاریٰ دی او د انه ضمیر تحویل قبلے ته راجع دے یعنی امر القبلة وتحویلها الی الکعبة (خازن و معالم ص ۱۲۵) په وَاِنَّهُ لَلْحَقُّ کښې د خبر تعریف د حصر معنیٰ پیدا کړیده یعنی اهل کتابو ته ښه معلومه ده چه د قبلے په باره کښې دا حکم حق دے چه د نبی علیه السلام قبله به خانه کعبه وی ځکه چه د تورات او انجیل په ذریعه معلومه وه چه اخری پیغمبر به د واړو قبلو ته مونځ کوی او په اخر کښې به د هغوی قبله هم هغه وی کومه چه د حضرت ابراهیم علیه السلام قبله وه. وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا يَعْمَلُوْنَ. کوم خلق چه دا ټول خلق کوی الله د دے نه بے خبره نه دے. کوم خلق چه د قبلے د تحویل په باره کښې د تسلیم او انقیاد نه راځیسته دے الله پاک هغه هم پیژنی او چا چه استهزاء کړیده هغه د دوی د عملونو نه هم بنه خبر دے د دے وجے نه هغه به هر یو د هغه د عملونو مطابق جزا ورکوی. الضمیر علی القراءتین لجمیع الناس فیکون وعدا ووعیدا للفریقین من

المؤمنين والكافرين (روح ص۱۱ ج۲) ۲۸۰ دلته هم د اهلِ کتابو د ضد او عناد بیان دے یعنی د دے باوجود چه دا خلق د قبلے د تحویل حق کیدل پیژنی لیکن د ضد، عناد او د حسد د وجے نه خپله قبله پریږدی او ستا اتباع نه کوی اګرچه ته د قبلے د تحویل د حقیقت ټول دلائل پیش کړے. وَمَا اَنْتَ بِتَابِعٍ قِبْلَتَهُمْ. اهلِ کتابو به نبی علیه السلام ته د هوکه ورکولو د پاره وئیل چه اے محمد! (صلی الله علیه وسلم) خپله قبله بیا بیت المقدس اومنه نو مونږ به تاسو پیغمبر او منو او ستاسو اتباع به اوکړو (روح ص۱۱ ج۲) نو الله پاک د اهلِ کتابو دا ارزو ختم کړه چه دا کار ناممکن دے چه ته اے محمد صلی الله علیه وسلم د دوی قبله دوباره قبوله کړے په دے وجه هغوی له دا لے اُمید ساتل پکار نه دی. وَمَا بَعْضُهُمْ بِتَابِعٍ قِبْلَةَ بَعْضٍ. یعنی د اهلِ کتابو ضد او عناد بُغض او حسد معامله تش تاسو پورے مخصوص نه ده دا خلق په خپلو کښی هم دیو بل دُشمنان دی او د دوی په خپل مینځ کښی هم د ضد او بُغض اُور شعله وهونکی دی. څنګه چه یهود او نصاری په خپلو کښی هم یو د بل قبلے منلو ته تیار نه دے. یهودیان د نصارو دین او قبله غلط ګنړی. او نصاری د یهودیانو قبله او دین غلط ګنړی. د یهودیانو قبله بیت المقدس او د عیسایانو قبله د مشرق طرفته وه فاليهود تستقبل بيت المقدس والنصارى مطلع الشمس (مدارک ص۶۳ ج۱)

۲۸۱ په دے ایت کښی خطاب نبی علیه السلام ته دے د هغوی خواهشونو چه د قبلے په معامله کښی فی الحال د یهودیانو سره موافقت راشی دے سره به شاید د دوی زړه نه اسلام طرف ته مائل شی نو دے باندے الله تعالیٰ د تنبیه په طور اُوفرمائیل که چرے بفرضِ محال تاسو د دوی د خواهشاتو اتباع شروع کړه نو تاسو به په ظالمانو کښی اُوشمارلے شئ. د نبی علیه السلام رجحان د اهلِ کتابو باطلو خواهشاتو طرفته یو ناممکن کار دے لیکن الله تعالیٰ د باطل والو د تابعدارئ قباحت او شناعت (بدی او خرابی) مؤکد کولو د پاره اوفرمائیل چه اے پیغمبره! که چرے بفرضِ محال تاسو هم د پیژندلو باوجود د دوی د نفس د خواهشاتو اتباع اوکړه نو ستاسو شمار به هم د الله تعالیٰ په نافرمانو کښی وی. د نفس د خواهشاتو نه مراد باطل والو دین دے ځکه چه هغه د دوی د نفسانی خواهشاتو او د خود ساخته ارزوګانو مجموعه وی. د دے نه مسلمانانو ته خصوصاً عُلماؤ ته عبرت حاصلول پکار دی چه د روا دارئ (تعلقاتو ساتلو) په جنون کښی د مشرکانو او باطل والو د ځینے مُشرکانه او جاهلانه عقائدو او عملونو باندے آفرین او شاباس وائی یا کم نه کم د خوشامندئ نه کار اخلی او چُپ پاتے کیږی.

۲۸۲ د اَلَّذِیْنَ نه مراد د اهلِ کتابو عالمان دی. وان كان عاما بحسب اللفظ لكنه مختص بالعلماء منهم (کبیر ص۲۶ ج۲) یَعْرِفُوْنَهٗ ضمیر نبی علیه السلام ته راجع دے چه د هغه ذکر په طور د خطاب په مخکښی ایت کښی موجود دے یعنی د اهلِ کتابو عُلماؤ د نبی علیه السلام صداقت داسے پیژنی څنګه چه هغوی خپل ځامن پیژنی مطلب دا دے چه په تورات او انجیل کښی د نبی علیه السلام اوصاف داسے فصاحت سره بیان شویدی چه د اهلِ کتابو عُلماؤ ته پوره پوره یقین دے چه دا اوصاف صرف په محمد صلی الله علیه وسلم باندے منطبق کیږی او صرف هغوی د دے مصداق دی. حضرت شیخ اوفرمائیل چه د یَعْرِفُوْنَهٗ ضمیر مرجع د نبی علیه السلام

ذات گرځول اگرچه فی نفسه صحیح دی . لیکن د سیاق او سباق سره مناسب نه دی لهذا د
یَعۡرِفُوۡنَهٗ ضمیر د امر قبلې طرفته راجع دے . القول الثانی الضمیر فی قوله یعرفونه راجع
الی امر القبلة (بحر ص۴۳۰ ج۱) نو مطلب به داوی چه د قبلې د تحویل حق کیدل اهل کتاب د
شان یقینی طور باندے پیژنی ښکاره چه هغوی خپل بچی پیژنی . ۲۸۴ لیکن د دے
باوجود د دوی نه یوه ډله حق پټوی او د نبی علیه السلام بیان شوی صفتونو یا د قبلې په
تحویل باندے پرده اچوی ، د دے نه هغه خلق مراد دی چا چه د دوی نه ایمان نه وو راوړے
اَلۡحَقُّ مِنۡ رَّبِّكَ . الحق کښ الف لام عهد د پاره دی یعنی هغوی چه کوم حق پټوی هغه
د الله د طرف د دے او د دینه د نبی علیه السلام صفت او نعت مراد دے یا د قبلې د تحویل
معامله . فَلَا تَكُوۡنَنَّ مِنَ الۡمُمۡتَرِيۡنَ . یعنی د اهلِ کتابو قصدًا د حق پټولو د وجے نه د حق
په حقانیت کښ هیڅ فرق نشی راتلے او د دوی د کتمان باوجود حق بیا هم حق دے او
دیکښ د شک هیڅ گنجائش نشته .

وَلِكُلٍّ وِّجۡهَةٌ هُوَ مُوَلِّيۡهَا فَاسۡتَبِقُوا الۡخَيۡرٰتِ ؕ اَيۡنَ مَا

او هر چا د پاره یو طرف دے یعنی قبله چه هغه مخ کوی هغه طرفته ۲۸۵ نو تاسو نیکو ته مخکښی شی چرته

تَكُوۡنُوۡا يَاۡتِ بِكُمُ اللّٰهُ جَمِيۡعًا ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَىۡءٍ قَدِيۡرٌ ﴿۱۴۸﴾

هم چه تاسو یئ را به ولی تاسو الله یو ځائ بیشکه الله تعالیٰ هر شئ کولے شی . ف

وَمِنۡ حَيۡثُ خَرَجۡتَ فَوَلِّ وَجۡهَكَ شَطۡرَ الۡمَسۡجِدِ الۡحَرَامِ ؕ

او د کوم ځائ نه چه ته اووځے نو مخ کړه خپل مسجد حرام طرف ته ۲۸۵

وَاِنَّهٗ لَلۡحَقُّ مِنۡ رَّبِّكَ ؕ وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعۡمَلُوۡنَ ﴿۱۴۹﴾

او بیشکه دا حق دے ستا د رب د طرفه او الله بے خبره نه دے ستاسو د کارونو نه ف

وَمِنۡ حَيۡثُ خَرَجۡتَ فَوَلِّ وَجۡهَكَ شَطۡرَ الۡمَسۡجِدِ الۡحَرَامِ ؕ

او د کوم ځائ نه چه ته اووځے مخ کړه خپل مسجد حرام طرفته

وَحَيۡثُ مَا كُنۡتُمۡ فَوَلُّوۡا وُجُوۡهَكُمۡ شَطۡرَهٗ ۙ لِئَلَّا يَكُوۡنَ

او کوم ځائ چه تاسو یئ نو مخ کړئ د هغه طرفته ۲۸۶ دے د پاره چه پاتے نه شی

لِلنَّاسِ عَلَيۡكُمۡ حُجَّةٌ ۙ اِلَّا الَّذِيۡنَ ظَلَمُوۡا مِنۡهُمۡ ۙ فَلَا

خلقو ته تاسو سره د جگړے موقعه لیکن کوم چه دوی کښ بے انصافه دی ۲۸۷ نو هغوی

تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِيْ وَلِاُتِمَّ نِعْمَتِيْ عَلَيْكُمْ وَلَعَلَّكُمْ

نه یعنې هغوی (د اعتراضونو نه) مه ویریږئ او خپله او زما نه ویریږئ او دے دپاره چه کامل کړم په تاسو باندے

تَهْتَدُوْنَ ﴿١٥٠﴾ كَمَآ اَرْسَلْنَا فِيْكُمْ رَسُوْلًا مِّنْكُمْ يَتْلُوْا عَلَيْكُمْ

فضل خپل او دے دپاره چه تاسو بیاموئ سمه لاره لکه چه اولیږلو مونږ په تاسو کښې پیغمبر ستاسو نه لولي

اٰيٰتِنَا وَيُزَكِّيْكُمْ وَيُعَلِّمُكُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَيُعَلِّمُكُمْ

ستاسو په وړاندے ایتونه زمونږ او پاکوي تاسو لره او ښائي تاسو ته کتاب او د هغے اسرار او ښائي تاسو

مَّا لَمْ تَكُوْنُوْا تَعْلَمُوْنَ ﴿١٥١﴾ فَاذْكُرُوْنِيْٓ اَذْكُرْكُمْ

ته کوم چه تاسو نه پیژندل تو تاسو یاد ساتئ ما لره زه به یاد ساتم تاسو لره

وَاشْكُرُوْا لِيْ وَلَا تَكْفُرُوْنِ ﴿١٥٢﴾

او احسان اومنئ زما او ناشکري مه کوئ زما

نکات: ۱ـ تخویفِ اُخروی د بیا بیا تنبیه او تخویف نه هم معلومیږي چه هغوی ته غوښتل چه بیت المقدس قبله پاتے شي د انسان فلا تکونن من الممترین. ۲ـ د دے زیاتي سره د تاکید په طور د قبلے د تحویل د امر اعاده کړے شوے ده. ۳ـ دوباره اعاده اوکړے شوه د غلو رم علت بیا تولو د پاره. ۴ـ اګرچه ته په مدینه منوره کښې یے. ۵ـ د شُبے دویم جواب تفصیلي علت د بیان سره. ۶ـ الله پاک تاسو د دوه قبلو والا کړئ لي یئ لهذا هغه یاد کړئ او هغه شکر ادا کړئ ۱۲۰

موضح قرآن

ف۱ یعني د اضد کول چه زمونږ قبله بهتره یا ستاسو عبث ده بهتري هغه ځا د پاره چه په نیکو کښې زیات وي. هر اُمت ته د یوے یوے قبلے حُکم شوے وو. آخر ټولو یو ځائ جمع کیدل دي. ف۲ مسجد حرام د ښیلے شي د مکے ښار نه د حرم معنی ده کوم ځائ چه بند ساتل پکار وي. دے مکان کښې څو خبرے منع دي انسان وژل، حیوان ته تکلیف ورکول، ونے واښه ویستل او پریوتے مال اوچتول.

فتح الرحمٰن

ف۱ په تورات کښې ذکر شوے دی چه د بني اسمٰعیلو یو اُمت به پیدا کیږي. چه د کعبے تعظیم به کوي نو د نبي علیه السلام کعبے ته مخ کول ښکاره دلیل دے د نبي علیه السلام په صدق نبوت د یهود و علماؤ په نزد اګرچه بے وقوف یهودیان طعن کوي په د نبیانو قبله سے پریښودله. ف۲ دے نه روستو الله پاک حُکم کوي صبر سره د جهاد په مشقتونو او د صبر ثواب

تفسیر ۲۸۴ وَلِكُلٍّ تنوین عوض د مضاف دے ای لکل قوم او د وِجْهَةٌ معنیٰ قِبْلَةٌ ده او مرکزی مطلب دا دے چه د هر قوم یو خپل قبله ده او د هر مذهب او ملت متبعین خپلے خپلے قبلے ته مخ کوی. فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرَاتِ خطاب مسلمانانو ته دے یعنی هر قوم د خپلے خپلے قبلے اتباع کوی تاسو د الله د حکم مطابق د نیکئ په کارونو کښی په ټولو باندے د سبقت کولو کوشش کوی او کوم طرف ته چه الله حکم درکوی هغه طرفته مخ کړئ. اَیْنَ مَا تَكُوْنُوْا یَاْتِ بِكُمُ اللّٰهُ جَمِیْعًا د تخویف اُخروی دے تاسو ټول مسلمانان او ستاسو دشمنان چرته هم چه وی هغه به تاسو د قیامت په ورځ یو ځائ جمع کړی او ستاسو د ټولو جګړو فیصله به اوکړی لهٰذا فضول جګړے او بحثونه پریږدئ او د خدائ عبادت کوئ او د هغه د احکامو تابعداری اوکړئ کوم چه اصل نیکی ده. اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ. د هغه د قدرت نه هیڅ څیز بهر نه دے. وژل او بیا خوارهٔ وارهٔ اجزاء جمع کول او په هغوی کښی دوباره روح اچول هم د هغه د قدرت د لاندے داخل دی ۲۸۵ د قبلے د تحویل متعلق اولنے حکم هم اګرچه عام وو لیکن د دے خبرے صراحت یے اوکړو چه د لته حکم د مدینے قیام پورے مخصوص نه دے. بلکه ټولو حالاتو سفراو حضر ته شامل دے. وَاِنَّهٗ لَلْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ او دا کعبے ته د مخ کولو حکم د الله د طرفته دے او ترقیامته پورے دے. او س به په دے کښی هیڅ تبدیلی نه کیږی. استقبال هذه القبلة هو الحق ای الثابت الذی لا یعرض له نسخ ولا تبدیل (بحر ج ۱ ص ۴۲۹) ای الثابت الموافق للحکمة (روح ج ۲ ص ۱۶) وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ. ستاسو ټول عملونه د هغه په نظر کښی دی او ستاسو د نیک او بد عملونو مطابق به تاسو ته جزا درکړی.

۲۸۶ وړاندے چونکه د قبلے د تحویل د څلورم دلیل بیان وُو چه د دویم اجمالی دلیل تفصیل دے په دے وجه یے د قبلے د تحویل د حکم دلته بیا اعاده اوکړه دے دپاره چه دلیل بلا فصل حکم سره متعلق شی. لِئَلَّا یَكُوْنَ لِلنَّاسِ عَلَیْكُمْ حُجَّةٌ. دا د قبلے د تحویل دویم تفصیلی علت دے. د النَّاس نه ټول مخالفین مراد دی. یهود او نصارٰی او د عربو مشرکین. تورات او انجیل کښی دا ذکر شوی وُو چه د آخری نبی قبله به کعبه وی که چرے د قبلے د تحویل حکم نه وے ورکړے شوے نو د اهل کتابو اعتراض به باقی پاتے کیدلو چه زمونږ په کتابونو کښی خو قبله بیت الله لیکلے شوے ده لیکن دے د بیت المقدس طرفته مخ کوی. لهٰذا دا نبی موعود نه دے. المنعوت فی التوراة قبلته الکعبة لا الصخرة وهذا النبی یصلی الی الصخرة فلا یکون النبی الموعود (روح ج ۲ ص ۱۷) د مشرکینو دا اعتراض وُو چه محمد صلی الله علیه وسلم خو دا دعوٰی کوی چه دے په ملت ابراهیمی باندے دے لیکن د ابراهیم علیه السلام د قبلے مخالفت کوی. لهٰذا هغه په ملت ابراهیمی باندے نه دے. او س د قبلے د تحویل نه د مشرکینو اعتراض هم ختم شو. وتندفع احتجاج المشرکین بانه علیه الصلوٰة والسلام یدعی ملة ابراهیم و یخالف قبلته (روح ج ۲ ص ۱۷) یعنی مونږ د قبلے د تحویل حکم د دے دپاره درکړے دے چه مخالفینو ته د معقولو اعتراضونو موقعه هم ملاؤ نه شی.

۲۸۷ دا د النَّاس نه استثناء ده. الَّذِیْنَ ظَلَمُوْا نه مراد معاندین او ضدیان دی. اِلَّا

ته حري منهم (مدارک ۶۳) یعنې مخالفینو کښې چه کوم خلق ضد پالن دي د قبلې د تحویل نه
ستړيه هغوي سره خو معقول اعتراض پاتې نه شي لیکن کوم خلق چه د ضد او عناد
د وجې نه مخالفت کوي هغوي به د قبلې د تحویل نه روستو هم د جګړې نه نه منع کیږي
ته هغوي به وائي چه صرف د خپل آبائي ښار محبت او د آبائي دین نصرت د رغبت د
وجې نه دے پیغمبر کعبه قبله ګرځولے ده. مشرکین معاندین به وائي چه اوس هغه ته
زمونږ طرف راغلے دے د خپل پلار نیکه قبله یې منلے ده. او نزدے ده چه خپل دین هم بیرته
زمونږ دین ته واپس راشي غواړي وغیرذلک. فَلَا تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِي لهٰذا تاسو
د دوي د مخالفت نه مه ویریږئ او د قبلې د تحویل په باره کښې د دوي د اعتراضونو پروا
مه کوئ او زما د عذاب نه او ویریږئ او زما د احکامو تعمیل وکړئ. فلا تخافوا مطاعنهم
في قبلتكم فانهم لا يضرونكم (مدارک ۶۳) وَلِأُتِمَّ نِعْمَتِي عَلَيْكُمْ د دے عطف په لِئَلَّا يَكُونَ
باندے دے. د اتمام نعمت نه مراد دلته د قبلې تعیین دے. واتمام النعمة الهداية الى
قبلة ابراهيم (قرطبي ۱۷۰) د قبلې تحویل یې دے د پاره اوکړو چه په تاسو باندے د روحاني او دنیوي
نعمتونو اتمام اوکړو. دنیا کښې به دے طریقه چه کعبه ستاسو مرکز او قبله ګرځولو د وجې
نه تاسو ته هغه شرف او برتري حاصله شوه چه بل چاته حاصله نه ده. ما حصل للعرب من
الشرف بتحويل القبلة الى الكعبة (بحر ج ۱) کعبه چونکه د الله تعالیٰ د رحمت او د هغه د
برکتونو او تجلیاتو مرکز دے. د دے وجې نه د مومنو پیشان عبادت د پاره چه د مومنانو د پاره
د معراج درجه لري. خانه کعبه قبله مقرر کول د ټولو نه لوئ اخروي او روحاني نعمت دے.
وَلَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ د دے د پاره چه تاسو ته د ملت ابراهیمي نیغه لاره ملاؤ شي. كَمَا أَرْسَلْنَا
فِيكُمْ رَسُولًا مِّنكُمْ يَتْلُو عَلَيْكُمْ آيَاتِنَا وَيُزَكِّيكُمْ وَيُعَلِّمُكُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ. د دے
تفسیر په رکوع ۱۵ کښې تیر شویدے. کاف د تشبیه د پاره دے او ما مصدریه دے یعنې
څنګه چه مونږ د دے صفتونو والا پیغمبر لیږلو سره په تاسو باندے مونږ ډیر لوئ انعام
او احسان اوکړو داشان د قبلې په تعیین سره مونږ په تاسو باندے خپل نعمت پوره
کړو. وَيُعَلِّمُكُم مَّا لَمْ تَكُونُوا تَعْلَمُونَ. او هغه پیغمبر تاسو ته هغه خبرے بیانوي کوم
چه تاسو نه پیژندې او نه د وحي نه بغیر هغه تاسو معلومولے شئ مما لا طريق الى معرفته
سوى الوحي (روح ج ۱) په دے آیت کښې الله تعالیٰ د خاتم النبیین ﷺ پنځه صفتونه
پنځه حیثیتونه بیان کړیدي. ① هغوي د کتاب الله آیتونه لولي او خلقو ته یې اوروي
② هغوي د کتاب الله د الفاظو اداکولو کیفیت او د هغې مطلبونه او معانې او اسرار
او رموز ښائي. ③ د خپلو سنتو او اسوۀ حسنه په ذریعه د کتاب الله د احکامو صحیح
تعبیر او تصویر او د هغې عملي نمونه ښائي. ④ د ظاهري تعلیم سره سره د خلقو روحاني
تربیت کوي او د هغوي د عقائدو، عملونو او اخلاقو تزکیه هم کوي. ⑤ د دین په ټولو
امورو کښې د کوم علم چه خلقو ته ضرورت وي او هغوي د هغې علم په بله ذریعه حاصلولے نشي.
هغه ټول پیغمبر دا ستاسو ټولو کارونو کښې د الله د طرفنه د دوي رهنمائي کوي او په دے آیت

کښې دا ټول افعال د رسول لا نه حال دی چه د هغه مطلب دا دے چه د دے ټولو صفتونو او حیثیتونو سره هغوئ متصف کړل او وے لیږل دا نه چه خلقو او د معاشرے افرادو دا ذمه داری د هغوئ په ذمه لګولے وے څنګه چه منکرین حدیث وائی چه د نبی علیه السلام ذمه داری د خدائ د طرفه صرف دا وه چه هغوئ خلقو ته آیتونه واورَوی او بس. باقی نور کارونه هغوئ په خپل طور باندے اوکړل یا به یے د خلقو په درخواست دا سے کول. لیکن د قرآن مجید دا آیت د دے خیال تردید کوی او په واضح طور باندے اعلان کوی چه دا ټولے ذمه داری د الله د طرفه هغوئ ته سپارلے شوے وے. لهٰذا د هغوئ د هر قول او فعل او د هغوئ هر سُنت باندے عمل واجب دے. په دے شرط چه هغه په صحت سره مونږ ته راورسی ځکه چه د نبی علیه السلام سُنت او د هغوی اُسوه د قرآن نه بغیر پیژندل ناممکن دی. فَاذْكُرُوْنِیْٓ اَذْكُرْكُمْ. لهٰذا تاسو خما د انعاماتو د شکریے په طور باندے هر وخت ما یاد کړئ. خما احکام اُومنئ صرف خما عبادت کوئ. او صرف ما ته آواز کوئ نو زه به هم تاسو په اجر و ثواب او زیات اکرام او انعام سره یاد کړم. وَاشْكُرُوْا لِیْ وَلَا تَكْفُرُوْنِ د توحید په پابندئ او د احکامو په تعمیل سره خما د نعمتونو شکر ادا کوئ، کفر، شرك او طغیان نافرمانئ سره خما د نعمتونو بے قدری مه کوئ. امام ابن جریرؒ فرمائی. واشکروا لی ایها المؤمنون فیما انعمت علیکم من الاسلام والهدایة للدین الذی شرعته لانبیائی واصفیائی (ابن جریر ص ۲۲ ج ۲) یعنی اے ایمان والو! خما د هغه نعمت شکر ادا کړئ چه ما تاسو ته د اسلام او دین توحید توفیق درکړے دے کوم چه ما د خپلو ټولو نبیانو او غوره بندګانو دپاره مقرر کړے وو. یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوا اسْتَعِیْنُوْا بِالصَّبْرِ وَالصَّلٰوةِ. مُسلمانانو ته خو هره ورځ د اسلام د دُشمنانو نه مُصیبتونه او تکلیفونه رسیږی. او س د قبلے د تحویل د وجے نه معاندینو ته د تکلیف رسولو یوه بله بهانه په لاس راغله نو په دے موقعه باندے الله پاك مُسلمانانو ته تلقین اوکړو چه هغوی په هر قسمه مشکلاتو او مصیبتونو کښې خپل خدائ باندے بهروسه اوساتی او هغه سره خپل تعلق اوساتی او د هغه په څنګښې څکته شئ د صبر او مونځ پابندی به دوی کښې داسے استقلال او سکون پیدا کړی چه هغوی به د دُنیا او مافیها نه بے پرواه او د هرے خطرے نه محفوظ شی. اِنَّ اللّٰهَ مَعَ الصّٰبِرِیْنَ. د صبر کوونکو الله پاك خصوصی مدد کوی دا د هغه خصوصی نصرت او مدد اثرات وو چه صحابه کرام رضی الله عنهم په ډیرو جنګونو کښې د کم شمیر او بے سرو سامانئ باوجود فتحیاب شول.

یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوا اسْتَعِیْنُوْا بِالصَّبْرِ وَالصَّلٰوةِ ۭ اِنَّ

اے مُسلمانانو! مدد واخلئ په صبر او مانځه سره بیشکه

اللّٰهَ مَعَ الصّٰبِرِیْنَ ﴿۱۵۳﴾ وَلَا تَقُوْلُوْا لِمَنْ یُّقْتَلُ فِیْ سَبِیْلِ

الله د صبر کوونکو سره دے او مه وایئ هغه خلقو ته کوم چه او وژلے شی د خدائ

اللّٰهِ اَمۡوَاتٌ ؕ بَلۡ اَحۡيَآءٌ وَّلٰكِنۡ لَّا تَشۡعُرُوۡنَ ﴿۱۵۴﴾ وَ
په لاره کښې چې مړه دي ۲۸۸ بلکه هغوی ژوندي دي لیکن تاسو ته خبر نشته

لَنَبۡلُوَنَّكُمۡ بِشَىۡءٍ مِّنَ الۡخَوۡفِ وَالۡجُوۡعِ وَنَقۡصٍ مِّنَ
او ضرور به مونږ ازمائش کوو په تاسو باندې لږ شان ویرې سره او لوږې سره او نقصان سره د

الۡاَمۡوَالِ وَالۡاَنۡفُسِ وَالثَّمَرٰتِ ؕ وَبَشِّرِ الصّٰبِرِيۡنَ ﴿۱۵۵﴾
مالونو او د ځانونو او د میوو ۲۸۹ او زیرے ورکړه هغه صبر کوونکو ته چې

الَّذِيۡنَ اِذَآ اَصَابَتۡهُمۡ مُّصِيۡبَةٌ ۙ قَالُوۡٓا اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّآ
کله هغوی ته اورسیږي څه مصیبت نو وائي مونږ خو د الله مال یو او مونږ د هغه

اِلَيۡهِ رٰجِعُوۡنَ ﴿۱۵۶﴾ اُولٰٓئِكَ عَلَيۡهِمۡ صَلَوٰتٌ مِّنۡ رَّبِّهِمۡ
طرف ته واپس ورتلونکي یو ۲۹۰ دا هغه خلق دي باندې رحمتونه دي د خپل رب د طرفه او

وَرَحۡمَةٌ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الۡمُهۡتَدُوۡنَ ﴿۱۵۷﴾ اِنَّ الصَّفَا وَالۡمَرۡوَةَ
مهرباني او هم هغوی دي په نیغه لاره باندې ف۱ بیشکه صفا او مروه د نښانو

مِنۡ شَعَآئِرِ اللّٰهِ ۚ فَمَنۡ حَجَّ الۡبَيۡتَ اَوِ اعۡتَمَرَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡهِ
نه دي د الله ۲۹۱ پس چې څوک حج اوکړي د بیت الله یا عمره نو هیڅ ګناه نشته په هغه

اَنۡ يَّطَّوَّفَ بِهِمَا ؕ وَمَنۡ تَطَوَّعَ خَيۡرًا ۙ فَاِنَّ اللّٰهَ شَاكِرٌ عَلِيۡمٌ ﴿۱۵۸﴾
کښې چې طواف اوکړي په دې دواړو ف۲ ۲۹۲ او څوک چې په خپله خوښه څه نیکي اوکړي نو الله قدردان دے او هر څه پېژندونکے دے

نکات: ۱۔ ۲۸۸ د اهل کتابو قبله پرېښودلو باندې د هغوی د طرفنه په راتلونکو مصیبتونو قتل وغیره باندې د صبر کولو تلقین او صبر کوونکو د پاره زیرے ۱۲ ۲۹۰ په رسالت باندې د دویم شبهې جواب ۱۲

موضح قرآن ف۱ دې ځائې نه اشاره ده چې په جهاد کښې محنت برداشت کړئ او مضبوطي اختیار کړئ۔ ف۲ صفا او مروه د مکې په ښار کښې دوه غرونه دي د عربو خلق د ابراهیم علیه السلام د وخت نه همیشه حج کوي لیکن د کفر په وخت کښې اکثر غلطیانې راغلې دي په دې دوه غرونو باندې دوه بتان کېښودلے شوي وو حج کښې به یې هلته هم طواف کولو چې کله خلق مسلمانان شو نو یو شول چې دا هم د کفر

غلطي وه اوس هلته تلل بیکار نه دي په دې باندې دا ایت نازل شو۔

فتح الرحمٰن ف ۱ ځینې مسلمانانو صفا او مروه د طواغیتو د شعائرو یعنې بتانو د شعائرو نه خیال کړې وُو او د هغې نه یې لاس اخستې وُو نو دا ایت نازل شو۔

تفسیر ۲۸۸ اول په مصیبتونو باندې د صبر تلقین اوکړو اوس یې دلته بیان اوکړو چه د قبلې د تحویل په معامله کښې که چرې دیهودیانو د لاسه کوم مسلمان شهید شي نو د هغه مرګ چونکه د الله په لار کښې واقع شوې دې د دې وجې نه هغه ته مړه مه وایئ داشان چه کوم خلق د الله د دین په خاطر د کافرانو سره جهاد کوي او شهید شي او د خدائې داغ ورته اورسیږي ځکه چه هغوي هم د الله په لاره کښې شهیدان شوي دي هغوي ته هم مړه مه وایئ بَلْ اَحْيَآءٌ وَّلٰكِنْ لَّا تَشْعُرُوْنَ ○ بلکه هغوي خو ژوندي دي لیکن تاسو ته د هغې ادراك نشته. په دې ایت کښې الله پاك د شهیدانو یوه لویه فضیلت بیان کړې دې چه د دې دُنیا نه رُخصتیدلو او في سبیل الله مقتول کیدلو او د طبعي مرګ مُوندلو نه پس په عالم برزخ هغوي ته یو امتیازي ژوند ورکولې شي کوم چه نورو غیر شهیدانو مؤمنانو ته نه حاصلیږي۔ او د دې حیات تعلق چونکه د عالم برزخ سره دې په دې وجه یې د دې متعلق اوفرمائیل چه تاسو خپلو حواسو او مشاعرو سره د هغې ادراك نشئ کولې د دې مسئلې مکمل تحقیق به انشاء الله په سورة اٰلِ عمران کښې راځي۔

۲۸۹ د بَلَآءٌ معنی ازمینت او امتحان اخستل دي. والمعنی لنمتحننکم (قرطبي ص۱۷۳ ج۲) یعنې مونږ به ستاسو امتحان اخلو د خوف نه مراد د دُشمن خوف دې او په دې کښې هغه ټولې دهمکیانې، مشکلات او مصیبتونه هم داخل دي کوم چه د قبلې د تحویل په سلسله کښې دوي ته د یهودو د طرفه رسیږي۔ او د لوږې نه قحط سالي مراد ده د مالونو په کمې سره د څارو او فصلونو ضائع کیدل د ځانونو په کمي سره د خپلوانو او دوستانو مرګ او د میوو د کمي نه د باغونو تباهي یاد بچو مرګ مراد دې. ځکه چه بچي د انسان یوه غوره نتیجه او خوږه میوه وي الله پاك مسلمانانو ته خبر ورکوي چه په تاسو باندې به د الله د طرفنه د امتحان او ابتلاء په طور مشکلات او مصیبتونه راځي د دې د پاره چه په ګره کوټه کښې فرق اوشي. وَبَشِّرِ الصّٰبِرِيْنَ ○ دلته یې نبي علیه السلام مخاطب کړو چه تاسو په مصیبتونو کښې صبر کونکو ته د بهروسه کوُنکو ته زیرے واوروئ. د دې نه معلومه شوه چه د مصیبتونو او مشکلاتو په ذریعه د مُسلمان امتحان اخستلو سره د صبر او استقلال سبق ښودل مقصد دی۔

۲۹۰ که چرې د قبلې د تحویل په سلسله کښې هغوي ته څه تکلیف اورسیږي نو هغوي په دې باندې صبر کوي دا د الصابرین صفت دې او په دې سره د دې طرفته اشاره مقصود ده چه د اجر و ثواب مستحق صرف هغه صابر دې چه د مُصیبت په شروع کښې صبر کوي لهذا کوم خلق چه د مُصیبت د نزول په وخت د انتهائي بې صبرۍ او جزع فزع اظهار کوي او روستو صبر کوي هغوي د دې اجر مستحق نه دي ځکه چه د

مصیبت هیر شي او مړه خو د صبر کولو ثواب ئې نه معنی ثبتېږي څنګه چې حدیث کښې راغلي دي
چې صبر په اول وار باندې دے چې اجر او ثواب ملاویږي هغه خو د مصیبت په شروع کښې
شوي او هر اجر من صبر وقت الصدمة كما في الخبر انما الصبر عند الصدمة الأولى. نو ځکه په
دې آیت کښې معلومه شوه چې صبر دا دے چې د مصیبت په وخت کښې ... د افسوس او
ژړا او د بې صبرئ د خبرو په ځائې إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ ووائي یعني
مونږ د الله مملوک او غلامان یو هغه زمونږ مالک او آقا دے زمونږ په مونږ کښې هغه
ته هر قسم تصرف او اختیار حاصل دے زمونږ د هغه صرف ته راضي کېدل پکار دي ...
چې مونږ په مصیبت کښې مبتلا یو او که کافرو تکلیفونه مونږ ته رسیږي ... په آخرت
کښې به مونږ له رحمت او اجر راکوي. په دې جمله کښې د بندګئ او مملوکیت اعتراف دے
او دویمه جمله کښې د بعث بعد الموت اقرار دے. وفيه بعد ... اقرار بالملك والعبودية لله
ثبوت في قوله تعالى انا لله وانا اليه راجعون اقرار بالبعث ... د
روح کښې ... طريقه اشاره ده يعني کوم خلق چې د مصيبت په وخت إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ
رَاجِعُونَ وائي أُولَٰئِكَ عَلَيْهِمْ صَلَوَاتٌ مِّن رَّبِّهِمْ وَرَحْمَةٌ صَلَوَات د صلوٰة جمع ده لاچې دینه
مراد په دنیا او آخرت کښې عفو، مغفرت، رحمت، برکت او د هغه اعزاز او اکرام دے بصلوٰة
الله على عبده عفوه ورحمته وبركته وتشريفه اياه في الدنيا والآخرة (قرطبي). او د رحمت
لفظ تاکید او زیات تعمیم دپاره دے یعني دا خلق به د الله د رحمت او مغفرت او د هغه
د صلوٰة مستحق وي. وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُهْتَدُونَ. د مهتدون معنی ... دے.
څنګه چې د موصوفو خلقو صفات ذکر او هغوي ته ئې خپل خاص رحمت وکړو د هغوي نه
زیات کامیاب څوک دے. والمعنى اولئك هم الفائزون بمطالبهم الدينية والدنيوية فان من نال
زلفة الله تعالى ورحمته لم يفته مطلب (روح المعاني).

۱۵۸ دا د پوښتنې شبهې جواب دے چې صفا او مروه هغه دوه غرونه دي چې ... دے په
مکه کښې حضرت هاجرة رضي الله عنها د خپل معصوم بچي حضرت اسمعيل علیه السلام دپاره د
اوبو په تلاش کښې ورته منډې وهلې وې ... مشرکانو په دې غرونو باندې دوه بتان
اېښي وو او د هغې عبادت ئې شروع کړو. په صفا باندې اساف بت او په مروه باندې نائله
بت وو. مشرکانو به د صفا او مروه په مینځ کښې طواف کولو په وخت چې ... بتو ته لاس
لګول او هغه به ئې ښکلول. د اسلام د غلبې نه روستو د بتانو عبادت ګرانے شو ... دے
بتانو ... په مخکښې زمانه کښې د دې دواړو غرونو د مشرکانو د مقدس مقام په ګیدو
د وجې نه د مسلمانانو په زړونو کښې د صفا او مروه په مینځ کښې د سعي کولو نه کراهت شو بیا
ځینو خلقو د نبي علیه السلام په مخکښې د ... اظهار وکړو. ممکن ده چې یهودیانو
د مشرکانو د هغه ... اعتراض کړے وي چې په دے غرونو باندې خو تر اوسه پورې بت
پرستي کیدله او پیغمبر د دے غرونو تعظیم کوي نو په دے باندې الله تعالی اوفرمائیل چې صفا
او مروه ... د الله د توحید یادګارونه دي چې ابراهیم علیه السلام قائم کړي وو په دے وجه د

طواف هم کوئ دے دپاره چه د ملتِ ابراهیمی اتباع خپل تکمیل ته اُورسی. ۲۹۲ دا په ماقبل
باندے مرتب دے. او د جناح معنیٰ گناه ده یعني چه کله صفا او مروه د خدائ د توحید یادګارونه
دی نو چه کوم سړے د بیت الله حج یا عمره اوکړی نو هغهٔ دپاره دے په طواف کولو کښ قطعًا
هیڅ گناه نشته او نه په مخکښ زمانه کښ د دے غرونو د شِرک ځائ گرځیدلو د وجے نه په
زړهٔ کښ څهٔ قسمه تنګی او کراهت کیدل پکار دی او دلته د طواف نه د دواړو غرونو په مینځ کښ
سعی او منډه وهل مراد دی کوم چه د حج او عمره په موقعه باندے کولے شي. دا سعی د حضرت
امام ابوحنیفهؒ په نزد باندے واجب او د باقی امامانو په نزد باندے فرض ده د فریقینو دلائل
د فقهے په کتابونو کښ ذِکر دی. بعضے خلقو د لَا جُنَاحَ لفظ نه د سعی په عدمِ وُجوب باندے
استدلال کړیدے ځکه چه د جُناح د نفی نه عدمِ لزوم متبادر وی نو د دے جواب دادے چه د
جُناح نفی په مطلق جواز باندے دلالت کوی او د واجب او غیر واجب په مینځ کښ قدرِ مشترک
دے لهٰذا د نفی وُجوب باندے د دے هیڅ دلالت نشته. وَمَنْ تَطَوَّعَ خَيْرًا فَإِنَّ اللّٰهَ شَاكِرٌ
عَلِيْمٌ لفظ خیر عام دے او هرے نیکئ ته شامل دے او مطلب دادے چه کوم خلق په خوشالئ
سره نیک کارونه کوی الله تعالیٰ هغوی هم پیژنی او هغه ډیر قدردان دے د هغوی د اخلاص
والا عملونو باندے به هغوی ته ضرور جزاء ورکړی. وقال الحسن المراد منه جميع الطاعات و هذا
اولىٰ لانه اوفق لعموم اللفظ (کبیر ص ۶۶ ج ۲۵)

إِنَّ الَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَا أَنزَلْنَا مِنَ الْبَيِّنَاتِ وَالْهُدَىٰ

بیشکه کوم خلق چه پټوی کوم څهٔ چه موږ نازل کړل صفا حُکم او د هدایت خبرے ۲۹۳

مِن بَعْدِ مَا بَيَّنَّاهُ لِلنَّاسِ فِي الْكِتَابِ ۙ أُولَٰئِكَ يَلْعَنُهُمُ

روستو د هغے نه چه موږ ښکاره کړل خلقو دپاره په کتاب کښ په هغوی باندے لعنت کوی

اللَّهُ وَيَلْعَنُهُمُ اللَّاعِنُونَ ﴿١٥٩﴾ إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا وَأَصْلَحُوا

الله او لعنت کوی په دوی باندے لعنت کونکی ټول لیکن هغه چه توبه اوکړه او صحیح یے کړو خپل کار

وَبَيَّنُوا فَأُولَٰئِكَ أَتُوبُ عَلَيْهِمْ ۚ وَأَنَا التَّوَّابُ الرَّحِيمُ ﴿١٦٠﴾

او بیان یے کړه حقه خبره ۲۹۴ نو هغوی معاف کوم او زهٔ یم لوئ معاف کونکے نهایت مهربان

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَمَاتُوا وَهُمْ كُفَّارٌ أُولَٰئِكَ عَلَيْهِمْ

بیشکه کوم خلق چه کافران شول او مړهٔ شول ۲۹۵ کافران په هغوی باندے

لَعْنَةُ اللّٰهِ وَالْمَلٰٓئِكَةِ وَالنَّاسِ اَجْمَعِيْنَ ﴿١٦١﴾ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۚ

لعنت دے د الله او د فرښتو او خلقو ټولو همیشه به اوسیږي په دې لعنت

لَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ الْعَذَابُ وَلَا هُمْ يُنْظَرُوْنَ ﴿١٦٢﴾ وَاِلٰـهُكُمْ

کښې نه به سپک وي د دوی نه عذاب او نه به دوی ته مهلت ملاویږي ٢٩٦ او معبود

١٩ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۚ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِيْمُ ﴿١٦٣﴾

ع ١١ ستاسو د ټولو صرف یو معبود دے ٢٩٧ هیڅوک معبود نشته د هغه نه سوا ٢٩٨ ډیر مهربان نهایت رحم والا

٣ نکات :- ١ په رسالت باندې د شبهاتو د جواب ورکولو نه روستو زجر دیهودو د احبارو

رهبانو د پاره چې په د قبلې د تحویل حکم پټولو یا به یې انکار کولو ١٢. ٢ د توحید د دعوې

اعاده ٣ او ٤ د دلیل عقلي د پاره د نفي د شرک فی التحلي. د دې مسئلهٔ توحید پټوونکي او د دې انکار

کوونکي علماء سوء باندې هم تخفیف په اِنَّ الَّذِيْنَ يَكْتُمُوْنَ سره تنبیه شوي ده ١٢.

موضح قرآن ف ١ دا د هغه چا په حق کښې دے چا چې د خدائي حکم اورسیدهٔ او د دُنیا د غرض د پاره یې پټ کړو ١٢.

تفسیر :- ٢٩٣ دلته اهلِ کتابو ته تنبیه او وعید اورولے شي چا چې د قبلې امر او د صفا او مروه په باره کښې د تورات او انجیل احکام پټ کړي وُو. د اَلَّذِيْنَ يَكْتُمُوْنَ نه مراد یهود او نصارٰی دي. نزلت فی اهل الکتاب من الیهود والنصارٰی (کبیر ص ٢٦٠ ج ٢) والاقرب انها نزلت فی الیهود والحکم عام (روح ص ٢٦ ج ٢) یعني دا آیت خو د یهودو د عالمانو په حق کښې نازل شوي دے لیکن د دې حکم عام دے که څوک د اُمتِ محمد په عالمانو هم د یهودو د عالمانو په طور طریقو روان شي او د خُدائي واضح آیتونه پټول شروع کړي نو دوی به هم د هغوی سره وي. د بیّنٰت مطلب دے واضح دلائل او معجزې نښانات مراد د نبي علیه السلام صفات دي چې په تورات او انجیل کښې ذکر وُو او د عموم په صورت کښې به د بیّنٰت نه مراد د قرآن هغه آیتونه وي په کومو کښې چې د توحید مسئله بنه په وضاحت سره بیان شوې ده او په کومو کښې چې مثالونو ورکولو سره د شرک تردید او د توحید اثبات شوې دے او د هُدٰی نه مراد د توحید او د احکامو آیتونه دي. مِنْۢ بَعْدِ مَا بَيَّنّٰهُ لِلنَّاسِ فِى الْكِتٰبِ. الکتاب جنس دے او د دې نه مراد تورات او انجیل دے او د عموم په صورت کښې قرآن مجید هم په دې کښې شامل وي. یعني مونږ آیات بیّنٰت او د رُشد او هدایت خبرې د دې د پاره واضح بیان کړې دي چې هغه خلقو ته اورسولې شي. لیکن هغه خلقو محض د نفساني خواهشاتو په وجه هغه پټې کړې او خلقو ته یې ظاهر نه کړې. اُولٰٓئِكَ يَلْعَنُهُمُ اللّٰهُ وَيَلْعَنُهُمُ اللّٰعِنُوْنَ. د خُدائي لعنت دا دے چې هغه به دوی د خپل رحمت نه محروم کړي او هغوی ته به د دردناک عذاب مزه اوڅکوي او د فرښتو، پیریانو او انسانانو د لعنت نه د لعنت بد دُعائي مراد ده اي یبعدهم عن رحمته ویذیقهم الیم نقمته .... ان لعنة اللّٰعنین بمعنی الدعاء علیهم بالابعاد عن رحمة

الله تعالی [illegible] یعنی په حق [illegible] لعنت [illegible]

او فرښتو هم د لعنت [illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

فائده حضرت [illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

ربط [illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

الاطلاق، مختار، حاجت روا او مشکل کشا کیدلو د وجے نه د تولو مالی، بدنی او لسانی عباداتو مستحق وی چه هغه ته په حاجتونو کښې آواز اوکړے شی په مصیبتونو او تکلیفونو کښې چه د چا نه پناه اوغوښتلے شی، د چا د رضامندئ حاصلولو او خوشحالولو د پاره د هغه نذر او منتئے ورکړے شی. او په تکلیف او مصیبت، قحط او وباء کښې هغه ته فریاد اوکړے شی د هغه نه مدد اوغوښتلے شی او د واحد نه مراد دا دے چه هغه بے مثل او یو دے. په ذات او صفاتو کښې بے مثال دے او د عبادت په استحقاق کښې د هغه سره څوک شریک نشته۔

واکثر الناس علی ان الواحد هنا بمعنی لا نظیر له ولا شبیه فی ذاته ولا فی صفاته ولا فی افعاله ... واصح الاقوال عند ذوی العقول السلیمة انه الذی لا نظیر له ولا شبیه له فی استحقاق العبادة (روح ص ۳۲) فرد فی الوهیته لا شریك له فیها ولا یصح ان یسمی غیره الٰها (مدارک ص ۶۶) لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ. لَا نفی د جنس د پاره دے او د دے خبر محذوف دے او اِلَّا په معنیٰ د غیر دے. ای لا اله موجود غیره یعنی په نفس الامر او عالم وجود کښې د الله نه سوا د کوم اِلٰه نوم او نښان بالکل موجود نه دے. او دے جملے سره یے د دے خبرے نفی کړیده چه په دُنیا کښې د عبادت مستحق صرف الله دے او د هغه نه سوا هیڅوک د عبادت لائق نشته. نو شبه کیدله چه شاید دُنیا کښې د الله نه سوا بل کوم اِلٰه وی لیکن د عبادت مستحق نه وی نو دے جُمله کښې یے د سره نه د اِله د وجود نفی اوکړه. وصرح علی ما قیل لما عسی ان یتوهم ان فی الوجود الٰها لکن لا یستحق العبادة (روح ص ۳۲) ﷲ دا دواړه صفتونه د توحید په دعوی باندے د دلیل په طور راوړے شویدی. ځکه چه رحمٰن خو هغه دے چه ټول موږ ته د دُنیاوی نعمتونو دولت راکړیدے. او رحیم هغه دے چه په اٰخرت کښې به په موږ باندے د خپل خاص رحمت دروازے پرانزے. نو چه کله په دُنیا او اٰخرت کښې هغه زموږ د نعمت ولی او محسن او مربی دے او باقی ټول کائنات د زمکے او اسمان او مخلوقات، نوری، ناری او خاکی ټول د هغه محتاج دی نو هغه رحمٰن او رحیم د عبادت مستحق دے د هغه نه سوا څوک علوی یا سفلی، ارضی یا سماوی، نوری ناری یا خاکی د عبادت حقدار نشته. نه د آواز کولو لائق نه د نذر او منتئے. تر دے ځائ پورے خود توحید د دعوے اعاده وه وړاندے د دے د اثبات د پاره عقلی دلیل بیان شوید ے چه په اووه مختلفو دلیلونو باندے مشتمل دے۔

اِنَّ فِیْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَاخْتِلَافِ الَّیْلِ

بیشکه د اسمان او زمکے په پیدا کولو کښې ﷲ او د شپے او ورځے په بدلیدلو

وَالنَّهَارِ وَالْفُلْكِ الَّتِیْ تَجْرِیْ فِی الْبَحْرِ بِمَا یَنْفَعُ النَّاسَ

کښې او په کشتو کښې چه روانے وی اوړی په دریاب کښې د خلقو د کار شیزونه

وَمَاۤ اَنْزَلَ اللّٰهُ مِنَ السَّمَآءِ مِنْ مَّآءٍ فَاَحْیَا بِهِ الْاَرْضَ

او په اوبو کښې چه هغه نازل کړے الله د اسمان نه بیا یے ژوندئ کړه هغے سره زمکه

بَعْدَ مَوْتِهَا وَبَثَّ فِيْهَا مِنْ كُلِّ دَآبَّةٍ ۪ وَّتَصْرِيْفِ الرِّيٰحِ

وروستو د مړه کیدو د هغې نه او خواره کړي يې په دې کښې ټول قسمونه د ځناورو، او د هوا ګانو په بدلیدو کښې

وَالسَّحَابِ الْمُسَخَّرِ بَيْنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ

او په وریځو کښې چه تابعداره دي د هغه د حکم په مینځ د اسمان او زمکه کښې بیشکه دلیلونه دي هغه قوم لره

يَّعْقِلُوْنَ ﴿۱۶۴﴾ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّتَّخِذُ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ

کښې نښې دي هوښیارانو دپاره. او ځینې خلق هغه دي چه جوړوي د الله برابر نورو لره

اَنْدَادًا يُّحِبُّوْنَهُمْ كَحُبِّ اللّٰهِ ؕ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَشَدُّ حُبًّا

د هغوی سره داسې محبت ساتي لکه د محبت د الله تعالیٰ او د ایمان والو ډیر زیات

لِّلّٰهِ ؕ وَلَوْ يَرَى الَّذِيْنَ ظَلَمُوْٓا اِذْ يَرَوْنَ الْعَذَابَ ۙ اَنَّ

محبت د الله سره دې لره او که وګوري دا ظالمان هغه وخت کله چه اووینې عذاب چه قوت

الْقُوَّةَ لِلّٰهِ جَمِيْعًا ۙ وَّاَنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعَذَابِ ﴿۱۶۵﴾ اِذْ تَبَرَّاَ

ټول الله لره دے او دا چه د الله عذاب سخت دے کله چه بیزاره شي هغه

الَّذِيْنَ اتُّبِعُوْا مِنَ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْا وَرَاَوُا الْعَذَابَ وَ

کسان چه د چا تابعداري يې کړې وه د هغوی نه چا چه د دوی تابعداري کړې وه او وبه وینې عذاب

تَقَطَّعَتْ بِهِمُ الْاَسْبَابُ ﴿۱۶۶﴾ وَقَالَ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْا لَوْ اَنَّ لَنَا

او قطع به شي د دوی ټول علاقې او وبه وائي تابعداران څه ښه به وے چه موږ ته

كَرَّةً فَنَتَبَرَّاَ مِنْهُمْ كَمَا تَبَرَّءُوْا مِنَّا ؕ كَذٰلِكَ يُرِيْهِمُ اللّٰهُ

دنیا ته دوباره تلل ملاو شوي نو بیا به موږ هم بیزاره شوي وو د دوی نه لکه چه دوی زموږ نه بیزاره

اَعْمَالَهُمْ حَسَرٰتٍ عَلَيْهِمْ ؕ وَمَا هُمْ بِخٰرِجِيْنَ مِنَ النَّارِ ﴿۱۶۷﴾

شول همدغه شان به اوښائي الله دوی ته د دوی کارونه افسوس دپاره په هغوی او هغوی هرګز نه ووځي د اور نه

نکات : ۱۔ دویم عقلي دلیل ۔ ۲۔ زجر د مشرکانو دپاره چه د شرک اعتقاد دې سره بیخ بیا ختم کړئ

موضح قرآن :- ف ۱ خلق چه د چا عبادت کوي د الله نه سوا هغوي به په دغه ورځ عبادت کونکو ته جواب ورکړي او د هغوي اُميدونه به د ټولو نه هم پرېکړے شي او افسوس به کوي هغه وخت د افسوس هيڅ فائده نشته. ددے ځائ نه د بُت پرستو احوال دي ۱۲

فتح الرحمٰن ف ۱ مترجم وائي چه د جاهليت خلقو څيزونه د خپل ځان نه حرام کړي وُو شلنګه چه بحيري او سائبه الله پاک د دوي په رد کښې نازل کړو. والله اعلم.

تفسير :- ۲۹۹ إنَّ حرف مشبه بالفعل دے او فِي خَلْقِ السَّمٰوٰتِ سره د معطوفاتو نه د اِنَّ خبر دے. د زمکے او اسمان پيدا کول او نه صرف د هغے ذوات بلکه د هغے ټول متعلقات. او بيا د اسمان په فضا او د زمکے په خيټه کښې دقيمتي خزانو پيدا کول دا د هغه د توحيد د ومبے عقلي دليل دے. وَاخْتِلَافِ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ. يعني د شپے او ورځے تلل راتلل، په رڼا او تياره کښې، کمي او زياتي کښې ددے دا اختلاف دا دويم دليل دے. دريم دليل وَالْفُلْكِ الَّتِيْ تَجْرِيْ فِي الْبَحْرِ بِمَا يَنْفَعُ النَّاسَ. دا په خَلْقِ السَّمٰوٰتِ باندے معطوف دے لفظ فلك مفرد او جمع دواړو دپاره استعماليږي. ولته د جمع په طور استعمال شويدے په بِمَا کښې مَا مصدريه دے يا موصوله يعني کوم بحري جهاز چه په سمندر کښې نقل و حرکت کوي دا هم د الله د قدرتِ کامله دليل دے. څلورم دليل وَمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ مِنَ السَّمَآءِ مِنْ مَّآءٍ - په الفلك باندے معطوف دے. فَاَحْيَا بِهِ الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا. د اسمان نه باران نازلول بيا د هغے په ذريعه اُوچه او بنجر زمکه تروتازه او شينکي راټوکول او په دېکښې هر قسمه سبزيانے، غلے، ميوے، ګلونه، شپږم دليل دے. وَتَصْرِيْفِ الرِّيٰحِ دا په مَآ اَنْزَلَ باندے معطوف دے او تَصْرِيْفِ الرِّيْحِ سره د هواګانو د مختلفو طرفونو نه الوتل او مختلفو اوصافو سره موصوف کيدل مثلاً ګرم، يخ، تيز او په مزه وغيره. اووم دليل وَالسَّحَابِ الْمُسَخَّرِ بَيْنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ د زمکے او اسمان په مينځ کښې د وريځے د مسخر او تابع کيدلو مطلب دا دے چه نه خو هغه زمکے ته راکوزيږي او نه په اسمانونو کښې دومره پورته ځي چه هلته زمونږ دپاره په هغے کښې څه فائده نه وي. بلکه هغه په فضا کښې معلق (زوړند) وي او د خدائ په حکم سره هواګانے يو خوا بل خوا بوځي. (قرطبي ص ۲/۱۹۶، روح ص ۲/۳۳) لَاٰيٰتٍ دا د اِنَّ اسم دے او ددے تنکير د تفخيم شان دپاره دے. يعني په ذکرشوي اُمورو کښې ډيرزيات او ډير لوئ دليلونه دي. چه د الله په قدرتِ قاهره او رحمتِ واسعه او زبردست حکمت او دا تابع باندے دلالت کوي او ددے ټولو مقتضي دا ده چه د عبادت مستحق صرف الله دے. لِقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ. يعني دلائل صرف غور و فکر او سوچ کونکو دپاره دي بيشکه کوم چه ددے دلائلو کښې فکر سوچ اوکړے شي نو ددے سره د قادر او دانا خدائ د وحدانيت پوره يقين حاصليږي او زړه په ددے حقيقت باندے مطمئن کيږي چه د الله نه سوا څوک د عبادت لائق نشته هر قسم عبادت هغه پورے خاص دے ددے دلائلو نه ثابتيږي چه الله تعالیٰ د زبردست قدرت او ژور حکمت او د وسيع علم مالک دے. د هغه رحمت او شفقت د کائناتو ذرے ذرے ته شامل

دے بیا هغه په دے ټولو صفاتو او افعالو کښې واحد او یواځے دے. په افعالو کښې سره څوک شریک نشته. دا حصر د مخاطبینو د عقائدو مطابق دے ځکه چه د مکے مشرکانو دا ټول کارونه الله پورے مختص منل. او په دے افعالو کښې هغوی هیڅوک د خدائ سره شریک نه ګڼړل ځکه چه په خپله په قران کښې د دے صراحت موجود دے. نو چه کله په دے ټولو صفتونو او افعالو کښې هغه بے مثل او بے نظیره دے نو بیا په استحقاق د عبادت کښې هم هغه یو او بے مثله اوګڼړئ د هغه په مخکښې خلته کیږئ صرف هغه ته اواز کوئ او د هغه د رضا لټولو د پاره نذر او منښتے ورکړئ.

دلته د توحید د دعوے د دوباره ذکر کولو نه د شرک فعلی یعنی د غیرالله نذر نیاز او د لغیرالله د تحریمانو تردید مقصود دے. او په دے باندے دا اووه عقلی دلائل قائم کړے شویدی. دا اووه دلائل ډیر باریک او زړه پورے طریقے سره په دے دعوی باندې منطبق کیږی. نذر او منښتے هیشه د دریو څیزونو نه ورکولے شی. (۱) د زمکے پیداوار مثلاً غلے، میوے او کپړے وغیره. (۲) څاروی (۳) نقدے روپئ. الله تعالیٰ عقلی دلیل په دے خبره باندے قائم کړیدے چه د دریواړو څیزونو نه د کوم څیز نذر او منښته د خدائ نه سوا هیچا د پاره عقلاً جائز نه ده. او صرف خدائ پاک د هر قسم د نذر او نیاز مستحق دے. د دلیل په دعوی باندے د منطبق کولو صورت حسب ذیل دے. غلے میوے وغیره ټولے د زمکے نه پیدا کیږی. زمکه د خپل قوت نامیه په ذریعه د دے پرورش کوی. د باران په ذریعه د زمکے په قوت نامیه کښې اضافه کیږی. او د باران په ذریعه دا قوت په زمکه کښې محفوظ کیږی. او د باران سره فصلونه تروتازه او اباد وی. د شپے په وخت د سپوږمئ او ستورو اثراتو سره د میوو رنګونه او خوندونه مکمل کیږی. د ورځے ګرمی او د شپے یخه فصلونه میوے د پوخوالی حد ته رسوی. او بیا د هر ساه والا او روح والا (چه د هغے پیدا کونکے الله تعالےٰ دے) ژوند د زمکے په پیداوار باندے موقوف دے. دغه رنګ د زمکے د پیداوار او د هغه څاروی ذکر شوی پیداوار په ذریعه تاسو په خپل ملک کښې او د بحری جهازونو په ذریعه په نورو ملکونو کښې تجارت کوئ او دولت ګټئ. نو دا دریواړه څیزونه د زمکے پیداوار او څاروی او دولت تاسو چه په کومه ذریعه حاصلوئ د هغه ټولو ذرائعو او اسبابو خالق هم تاسو منئ چه الله دے او دا ټول د هغه په قبضه قدرت کښې دی او هغه په هرڅه خبردار دے او تاسو چه د خدائ نه سوا کوم معبودات جوړ کړیدی په هغوی کښې چا هم د دے څیزونو نه یو څیز هم نه دے پیدا کړے او نه هغوی ته د دے څیزونو علم شته. نو اوس د عقل او پوهے او د شکرګذارئ د جذبے او د نعمت شناسئ تقاضا دا ده چه د هغه رحمٰن او رحیم او محسن او منعم د دے بے انتهاء احسانانو او انعامانو شکر ادا کولو او د هغه د رضا مندئ حاصلولو د پاره د هغه د پیدا کړے شوی څیزونو نه د هغه نذرونه او منښتے ورکړے شی. د زمکے په پیداوار کښې د هغه حصه مقرر کړے شی. روپئ هم د هغه په نوم

باندې خرچ کړې شي. ځکه دوی د هغه د نزدیکت حاصلولو دپاره د هغه د تعظیم دپاره د هغه په نوم باندې قربان کړې شي.

۳۳ه دا د مشرکانو دپاره زجر دے۔ په توحید باندې د عقلي دلائلو قائمولو نه پس بیا د هغه مخلوقو حال بیان کړیږي چه د دې واضحه او روښانه دلائلو باوجود بیا هم شرك کوي او د خپلو معبودانو سره لکه د خدائ پشان محبت ساتي. اَنْدَادًا د نِدّ جمع ده چه د دے معنی مثل او مشابه ده۔ او دلته د انداد نه مراد بتان دي یعني د کاڼړو نه جوړ شوي شکلونه چه مشرکانو د انبیاء علیهم السلام او اولیائے کرامؤ په شکلونو او صورتونو باندې جوړ کړي وو او هغوي سره به یې د محبت او تعظیم هغه معامله کوله چه کومه هغوي له د خدائ سره کاروه. الله تعالی چونکه خالق، مالك او محسن او منعم دے۔ لهذا د هغه د محبت تقاضا خو داده چه د هغه عبادت اوکړې شي او د هغه مخکښې خکته شي د هغه نه سوال اوکړې شي او د هغه نذر او منښته اوکړې شي. لیکن مشرکانو دا معاملات د خپلو بتانو سره کوي کوم چه هغوي د خدائ نه سیوا کارساز ګرځولے دي. د دوي عبادت یې د خدائ د نزدیکت ذریعه ګڼړلے ده. د دوي نه د نفع او نقصان امیدونه لري. د دوي په وړاندې خپل حاجتونه پیش کوي د دوي منښتې کوي او د هغوي خوشحالولو او تعظیم دپاره بحیره او سائبه پریږدي انها هي الاوثان التي اتخذوها الهة لتقربهم الى الله زلفا و رجوامن عندها النفع والضرر وقصدوها بالمسائل ونذروا لها النذر وقربوا لها القرابين وهوقول اکثرالمفسرين (کبیرص۱۸۱ج۱)

مخفے خلق وائي چه په قرآن شریف کښې د انداد، اوثان او د اصنام نه د کاڼړو تراشلے شوي بتان مراد دي. مشرکانو به هغوي له تول هرڅه ګڼړل او هم هغوي دپاره به یې هرڅه کول. لیکن دا خیال کول ناپوهي ده ځکه چه بتان خو هغوي صرف د توجه د یکسوئي (یوطرفتیا لو) او د یاد ګار په طور ساتلي وو. او د هغوي سره یې چه د عبادت او تعظیم کوم سلوك کولو هغه یې صرف د دے دپاره کولو چه هغوي د دوي د مشرانو مجسمے او یادګارونه دي. او د دے عبادت او تعظیم نه د دوي مقصد دا وو چه زمونږ مشران زمونږ نه راضي شي او هغوي زمونږ حاجتونه پوره کړي او مشکلات اسان کړي. که څوک یو سړے بت جوړ نه کړي او د بت نه بغیر د الله نیك بندګانو سره د محبت او عقیدت او عبادت او تعظیم هغه معامله اوکړي کومه چه الله سره کول پکار ده مثلاً هغه عالم الغیب، مالك، مختار، حاجت روا او مشکل کشا اوګڼړي او د هغه د رضامندئ دپاره د هغه په نوم باندې نذرونه او منښتې ورکړي او د هغه نه د نفع او نقصان امید اوساتي نو هغه سړي د الله نیك بنده د خدائ ند اوګرځولو او هغه یې د هغه خدائ وحده لاشریك مثل او شریك اوګرځولو. ځکه چه هغه سره یې د محبت دا سے معامله اوکړه څنګه چه هغه له د خدائ سره پکاروه. د دے وجے نه د انداد لاندے هرهغه سړے او هر هغه څیز درج دے چه د هغه سره د خدائ د محبت پشان سلوك اوکړے شي.

۱۶۵ه مشرکانو خو د خدائ سره په محبت کښې یو څو شریکان جوړ کړي دي. لیکن

مؤمنان د خدائ په محبت کښې هیڅوک د هغهٔ مِثل او شریک نه ګنړی او د خدائ نه غیر سره د خدائ د محبت پشان سُلوک نه کوی- او د خدائ محبت د هغوی په زړونو کښې د هرڅیز د محبت نه زیات وی. د محبت مختلف درجې دی. د خدائ محبت، د رسول الله ﷺ محبت، د دین د بُزرګانو محبت، د مور پلار محبت، د رو ترو خویندو محبت د اولاد محبت وغیره هر یو سره به د محبت هغه سُلوک کولے شی کوم چه د هغهٔ د شان سره مناسب وی. د خدائ محبت دا دے چه د هغهٔ محبت په ځائ راوړلے شی هغهٔ ته اواز اوشی. د هغهٔ نه سوال اوشی د هغهٔ نذر او منښته وکړے شی او د هغهٔ په عبادت کښې څوک شریک نکړے شی. د پیغمبر علیه السّلام محبت دا دے چه هغه د خدائ ریښتونے او اخری رسول اومنی په شوق سره د هغوی د هر حُکم تعمیل اوکړی په هغوی باندے صلوٰة او سلام اولیږی او دیکښې خپله نیک بختیا او نجات اوګنړی. د دین د بُزرګانو محبت دا دے چه هغوی خپل پیشوایان اوګنړی او د هغوی په نقشِ قدم باندے لاړ شی. علیٰ هٰذا القیاس. اوس چه څوک د پیغمبر خُدا ﷺ عبادت شروع کړی. هغه مالک او مختار اوګنړی اواز ورته کوی د هغهٔ نذر او منښته کوی نو دا محبِ رسول نهٔ دے بلکه مُشرک دے. دا شان کوم سړے چه خپل مُرشِد د رسول مثل ګنړل شروع کړی او د شریعت په احکامو کښې هغه ته د پیغمبر پشان اختیار منل شروع کړی نو هغه به هُم د دے پړوند محبت د وجې نه کافر اوګرځی. د دے وجې نه هر یو سره د هغهٔ د حال مناسب محبت کول لازِم دی.

۳۰۲ـه دا د مُشرکانو د پاره تخویف دے په دے ایت کښې دوه ترکیبونه دی یو خو دا دے چه لَوْ شرطیه دے او د دے جواب د شَدِیْدُ الْعَذَابِ نه پس محذوف دے یعنی لما فعلوا او دیری مفعول حال انفسهم محذوف دے. او اِذْ یَرَوْنَ الْعَذَابَ ظرف د یری سره متعلق دے. او د عذاب نه اُخروی عذاب مراد دے. او دا اَنَّ الْقُوَّةَ نه مخکښې باسببیه محذوف ده. او دا د اِذْ یَرَوْنَ سبب دے. او مطلب دا دے چه کوم خلق په دُنیا کښې په شِرک کولو سره په خپلو ځانونو باندے ظُلم کوی که چرے هغوی ته معلومه شی چه به قیامت کښې کله هغوی د الله عذاب اووینی هغه وخت به د دوی څه حال وی نو هغوی به هرګز شِرک اونکړی او هغوی به عذاب څکه بیا مُومی چه د قیامت په ورځ به ټول طاقت او اختیار صرف د الله وی او د هغهٔ عذاب به ډیر سخت وی او کوم چه مُشرکانو خپل سفارشیان او حیله ساز ګنړلی وُو هغه ټول به بے وَسه او عاجز ثابت وی. د دے صورت کښې به اِذْ تَبَرَّاَ د اِذْ یَرَوْنَ الْعَذَابَ نه بدل وی. دویم صورت دا دے چه لَوْ تمنی د پاره دے چه د هغې جواب نهٔ وی. یری په معنیٰ د یَعْلَمُ دے (قرطبی ص۲۰۵ ج۲) او د عذاب نه دُنیوی عذاب مُراد دے. ان القوة الخ او اَنَّ اللّٰهَ الخ منصوب بنزع الخافض قائم مقام د دوه مفعولینو د یری دے. او مطلب دا دے چه کاش! دے مُشرکانو کله په دُنیا کښې د مصیبتونو او تکلیفونو په صورت کښې د خُدائ عذاب لیدلے وے. هغه

صفت هغوی د دے خبرے یقین کوڵے چه هر قسمه قوت او طاقت او تصرف او اختیار صرف خُدائ ته حاصل دے. او د هغه گرفت ډیر زیات زبردست دے او دا خبره د هغوی په خیال کښې رانغلے چه د الله نه سوا څوك پیغمبر یا ولی یا پیرے یا فرښته ناصر او مددگار او مختار او متصرف نه دے او نه د الله د عذاب نه څوك بچ کولے شو په دے صورت کښې به اِذْ تَبَرَّاَ تخویفِ اُخروی د پاره استیناف وی.

۳۰۳ دا تخویفِ اُخروی دے. د قیامت په ورځ چه کله مُشرکان خپل معبودان او مُشرك پیشوایانو او پیرانو ته د امداد د پاره اواز اوکړی نو هغوی به د دوی نه جُدا شی او د دوی نه به د بیزارئ اظهار کوی. په دے ایت کښې د قیامت دا حسرتناك منظر پیش کړے شوے دے. اَلَّذِیْنَ اتُّبِعُوْا (یعنی متبوعینُ) نه د لته مُشرکانو عُلماء او سرداران مراد دی چه په دُنیا کښې به یے خپل منونکو او ماننونه شرك بنودلو او د توحید نه به یے هغوی لرے ساتل. انهم السادة من مشرکی الانس (بحر صـ۱۱۱ ج۱) په پټځه کښې ب په معنیٰ دعَنْ ده او د اسبابو نه مراد محبت، نسل او دِین هغه تعلقات دی کوم چه مُشرکانو د خپل نجات د پاره کافی گنړلے وُو. مطلب دا دے چه هغه منظر هُم خپل مخے ته راوړئ چه کله متبوعین یعنی د شرك داعیان او مبلّغین خپل منونکو نه بیزاره شی او د دوی نه جُدا شی او خپل بد انجام په خپلو سترگو اووینی او د دوی ټول مینځنئ خیالی رشتے ماتے شی. نو متبوعین به دوی ته صفا اووائی چه اَنَحْنُ صَدَدْنٰکُمْ عَنِ الْهُدٰی بَعْدَ اِذْ جَآءَکُمْ بَلْ کُنْتُمْ مُّجْرِمِیْنَ (سورة السباع ۲)

۳۰۴ مُشرکان به ډیر د افسوس او نا اُمیدئ په حالت کښې آرزو کوی چه آرمان! مونږ دوباره دُنیا ته اُولیږلے شُو او مونږ دا شان د دوی نه د بیزارئ اظهار اوکړو چه څنگه ئی هغوی مونږ پریښودلی یُو. که چرے مونږ دُنیا ته اُولیږلے شُو نو مونږ به هُم شرك نه کوُو او صرف د الله عبادت به کوُو او د دے گمراهانو په خبرو به نه دهوکه کیږو. فلا نلتفت الیهم بل نوحد الله وحده بالعبادة (ابن کثیر صـ۲۰۳ ج۱)

۳۰۵ کَذٰلِكَ دلته هُم هغه شان دے څنگه چه په کَذٰلِكَ جَعَلْنٰکُمْ اُمَّةً وَّسَطًا کښې دے او د رؤیت نه رؤیت بصری مراد دے. او حسراتٍ د اعمالهم نه حال دے وحال من اعمالهم ان کانت بصریة (روح صـ۳۶ ج۲) یعنی دا شان د دوی خیالی اسباب د نجات به مونږ باطل کړو او د دوی اُرزوگانے به مونږ په اُوبو کوسو. د دوی اعمال به ټول افسوس او پښیمانتیا اوگرځوُو او دوی ته به یے اُوښایُو یعنی د دوی هغه ټول عبادتونه کوم چه دوی په دُنیا کښې کړی وُو د شرك په وجه سره به ټول ضائع شی او به اخرت کښې به دوی ته د افسوس او پښیمانتیا نه بغیر هیڅ حاصل نه وی.

۳۰۶ او هغه کافران او مُشرکان به هیڅ کله هُم د جهنّم نه نشی وتلے دا ایت د دے خبرے دلیل دے چه کافران او مُشرکان به همیشه په جهنّم کښې اُوسی. دلیل علی خلود الکفار فیها وانهم لا یخرجون منها (قرطبی صـ۲۰۷ ج۳) وَمَا هُمْ بِخٰرِجِیْنَ مِنَ النَّارِ ترکیب په

مسند الیه کښې د نفي حصر فائده ورکوي یعني د خروج من النار نفي کافرانو کښې منحصره ده نو د دې نه معلومه شوه چه کوم ګنهګار مؤمن د خپلې ګناه په وجه د سزا برداشت کولو دپاره دوزخ ته ځي هغوي به په دېکښې همیشه نه وي څنګه چه د معتزلو او خوارجو خیال دې. المتبادر فی امثاله حصر النفی فی المسند الیه ..... ففیه اشارة الی عدم خلود عصاة المؤمنین الداخلین فی قوله تعالیٰ وَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْۤا اَشَدُّ حُبًّا لِّلّٰهِ فی النار (روح ج ۲ ص ۳۲)

يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ كُلُوْا مِمَّا فِي الْاَرْضِ حَلٰلًا طَيِّبًا ۖ وَّ

اے خلقو! خورئ د ځمکې د څیزونو نه حلال پاکیزه ۳۰۷.

لَا تَتَّبِعُوْا خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ ؕ اِنَّهٗ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ﴿۱۶۸﴾

تابعداري مه کوئ د شیطان ۳۰۸ بیشکه هغه ستاسو دښمن دے ښکاره ول

اِنَّمَا يَاْمُرُكُمْ بِالسُّوْٓءِ وَالْفَحْشَآءِ وَاَنْ تَقُوْلُوْا عَلَى اللّٰهِ

هغه خو به هم دا حکم کوي تاسو ته چه بد کاري او بے حیائی کوئ ۳۰۹ او دروغ جوړ کړئ په الله

مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۱۶۹﴾ وَاِذَا قِيْلَ لَهُمُ اتَّبِعُوْا مَآ اَنْزَلَ

باندې هغه خبرے چه تاسو پرې نه پوهیږئ ۳۱۰ او چه کله دوی ته شي وئیلے او وائي چه تابعداري اوکړئ

اللّٰهُ قَالُوْا بَلْ نَتَّبِعُ مَآ اَلْفَيْنَا عَلَيْهِ اٰبَآءَنَا ؕ اَوَلَوْ

د هغه حکم کوم چه الله نازل کړو نو وائي چه هرګز نه موږ خو به تابعداري کوو د هغې په کوم چه بیاموند

كَانَ اٰبَآؤُهُمْ لَا يَعْقِلُوْنَ شَيْـًٔا وَّلَا يَهْتَدُوْنَ ﴿۱۷۰﴾ وَ

موږ خپل پلرونه او نیکونه ۳۱۱ عجیبه ده اګرچه د دوي پلار نیکونه نه پوهیدي په هیڅ هم او نه پیدا شوي وي

مَثَلُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا كَمَثَلِ الَّذِيْ يَنْعِقُ بِمَا لَا يَسْمَعُ

او مثال د دې کافرانو داسې دے لکه چه اواز کوي یو سړے یو څیز ته چه هیڅ نه اوري سوا د

اِلَّا دُعَآءً وَّنِدَآءً ؕ صُمٌّۢ بُكْمٌ عُمْيٌ فَهُمْ لَا يَعْقِلُوْنَ ﴿۱۷۱﴾

اواز نه او چیغې نه ۳۱۲ کانړه، ګونګیان، ړانده دي نو هغوي په هیڅ نه پوهیږي

نکات: ۳۰۷ د مشرکانو د حرام کړے شوو څیزونو تو بیان ۱۲ ۳۰۸ یعني بحیره، سائبه، ملا جوړول ۱۲ ۳۰۹ مراد په بدبختۍ طواف دے ۱۲

موضح قرآن

ف۱ د عربو خلقو د ابراهیم علیه السلام په دین کښې په مختلفو طریقو سره نقصان پیدا کړے وو اول خو یې د خدای نه سوا د نورو عبادت شروع کړو او د هغوی د محبت د پاره به یې ښاروی ذبح کول چه دا مرداري او کار کفر دے. او د ښارو نه به یې ډیر څیزونه حرام ګرځول. په سورة مائده او انعام کښې دکوم بیان دے او د خنزیر غوښه یې حلاله ګنړله. په دے خبرو باندے الله تعالیٰ دوی ته الزام ورکوی ف۲ یعنی مسئلے د خپل ځان نه جوړے کړی لکه چه اوس هم عوام وغلطو ډیر ګیری. ف۳ یعنی چه کله معلومه شوه چه د پلار نیکه رسم د خدائ د حکم خلاف دے نو بیا په دے باندے مه ځئ. ف۴ یعنی د دے کافرانو پوهول داسے دی لکه چه څوک د ځنګل ځناور رابلی هغه سوا د اواز نه نور په هیڅ نه پوهیږی. هم دا حال د هغه چا دے چه په خپله علم نه لری او د علم والو خبره نه قبلوی.

تفسیر

۲۶ د توحید د دلائلو او د مشرکینو د پاره د تخویف اخروی نه روستو اوس وړاندے د شرکِ فعلی د دواړو قسمونو یعنی تحریم لغیر الله یا په نورو الفاظو کښې د تحریماتِ مشرکین او نیازاتِ مشرکینو تردید کړے شویدے. مشرکانو به د خپلو معبودانو د خوشحالولو د پاره دوه قسمه شرک فعلی کولو. یو خو دا چه هغوی به خپل ښاروی د خپلو معبودانو د پاره معین کولو سره پرېښودل. هغه به بغیر د څه منع نه ګرځیدل او چرته چه به یې خوښه وه هلته به یې خوراک څکاک کولو. او د دے نه د هغوی مقصد دا وو چه په دے سره زمونږ معبودان زمونږ نه راضي شي او په مونږ باندے مهربانه شي او په سخت وخت کښې به زمونږ مدد اوکړی او زمونږ په مال او ځان کښې به برکت واچوی او زمونږ نه به بیماریۍ او تکلیفونه لرے کړی. د داسے ښارو متعلق هغوی دا عقیده لرله چه د دے ښارو خوړل او د دوی پیٔ څکل او د دوی نه څه قسمه فائده اخستل جائز نه دی. هغوی به د دے غوښه خوړل او د دوی نه فائده اخستل حرام ګنړل او ویریدل به چه که چرے مونږ دا ښاروے استعمال کړو یا ورته څه تکلیف اورسوو نو زمونږ معبودان به زمونږ نه ناراضه شي او مونږ ته به تکلیف اورسوی نو دے مشرکانو به دالله پاک حلال کړے شوی څیزونه د خپل معبودانو د راضي کولو د پاره محض د خپل باطل وهم او د کچه خیال دلاندے حرام ګرځول حالانکه هغوی د پاره د دے هیڅ حق نه وو دا خو تحریماتِ مشرکین یا تحریمات لغیر الله دی. د شرک دویم قسم دا وو چه هغوی به د مصیبتونو نه د نجات او په مقصدونو کښې د کامیابۍ حاصلولو د پاره د خپلو معبودانو نذرونه او منتے کولے. مثلاً وئیل به یې چه که چرے زمونږ فلانے کار اوشي یا فلانے مصیبت لرے شو نو مونږ به د خپلو معبودانو په تهیکانو او د عبادت په ځایونو باندے غله، نقدے، کپړے یا څه ځناور د نذر و نیاز په طور اوړو یا د هلته اوړلو نه بغیر به یې په غریبانو باندے تقسیموو. او کله به یې داسے هم کول چه د حاجت او مصیبت نه بغیر به یې خپل مال او ښارو کښې د خپلو معبودانو حصه مقرروله. او د دے نه

پلہ پسے مقصد داوو چہ زموبر معبودان بہ زموبر نہ خوشحالہ شی او زموبر پہ مالونو کښی بہ برکت اچوی او زموبر مال او ځان بہ د مصیبتونو او بیمارو نہ محفوظ ساتی. دسے تہ نذور مشرکین یا نذور لغیراللہ وئیلے شی، او ددسے متعلق د مشرکانو عقیدہ دا چہ ددسے خوراک او استعمال جائز دسے حالانکہ دا څیزونہ د تقرب لغیراللہ د وجے نہ حرام دی.

دلتہ اللہ تعالیٰ ددسے دوارو قسمونو د تعیناتو او تخصیصاتو حکم اوفرمائیلو. کوم چہ مشرکینو پہ خپل خیال کښی جائز گرځولے وو. نو دسے فرمائیل چہ کوم حلال او پاک څیزونہ تاسو د خپل ځانہ نہ حرام کړیدی هغہ حلال دی هغہ خورئ. او کوم نذر او نیاز چہ تاسو د غیراللہ دپارہ مقرر کړیدے او تاسو هغہ حلال گنڼئ هغہ قطعی حرام دی هغہ مہ خورئ څنگہ چہ مخکښی د يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُلُوْا نہ تر اِنْ كُنْتُمْ اِيَّاهُ تَعْبُدُوْنَ پورسے د مشرکانو حرام کړے شوی څیزونہ یعنی تحریمات لغیراللہ حکم بیان کړے شویدے. او د اِنَّمَا حَرَّمَ نہ د لَفِيْ شِقَاقٍۭ بَعِيْدٍ پورسے د نذر لغیراللہ حکم بیان کړے شویدے. د حضرت ابن عباس رضی اللہ عنهما نہ روایت دسے چہ دا ایت د هغہ ښارو د حلال والی د اعلان دپارہ نازل شویدے کوم چہ ځینو خلقو بالکل حرام گرځولی وو یعنی بحیرہ، سائبہ وغیرہ. قال ابن عباس نزلت الاٰیة فی الذین حرموا علی انفسهم السوائب والوصائل والبحائر (کبیر ص۱۳ ج۲) انها نزلت فی ثقیف وخزاعة وبنی مدلج فیما حرموہ علی انفسهم من الانعام (قرطبی ص۲۰ ج۲) پہ دسے ایت کښی حَلٰلًا طَيِّبًا نہ مراد هغہ حلال ښاروی دی کوم چہ مشرکانو د خپل ځان نہ حرام کړی وو مثلاً بحیرہ، سائبہ وغیرہ وقد فسرها بعضهم بالبحیرة والسائبة والوصیلة والحام یعنی کلوا البحیرة واخواتها ولا تاکلوا المیتة واخواتها (تفسیر احمدی ص۳۱) ددسے مسئلے نور تحقیق بہ پہ سورۃ مائدہ ع ۱۴ کښی راځی. ددسے ایت نہ د ټولو حلالو څیزونو نہ د فائدسے اخستلو اباحت ثابتیږی.

۳۲۸ خطوات د خطوة جمع دہ یعنی د قدم نقوش. ای اثارہ کما حکی عن الخلیل (روح ص۲۹) او ددسے نہ د گمراهئ هغہ ټولے طریقے مراد دی کوم چہ شیطان د خلقو د گمراہ کولو دپارہ اختیاروی. د شیطان پہ نقش قدم باندسے مہ ځئ او د هغہ د جاری کړے شوو طریقو مثلاً تحریمات لغیراللہ وغیرہ نہ پرهیز اوکړئ. وهی طرائقه ومسالکه فیما اضل اتباعه فیه من تحریم البحائر والسوائب والوصائل ونحوها (ابن کثیر ص۲۰۳ ج۱) دا پہ د شیطان نہ د نفرت کولو دپارہ اوفرمائیل یعنی شیطان خو ستاسو ښکارہ دښمن دسے هغہ همیشہ تاسو نہ د هلاکت او تباهئ لارہ ښائی.

۳۲۹ د اِنَّمَا کلمہ د حصر دہ او مطلب دا دسے چہ شیطان بہ همیشہ شیطانی گوی هغہ نہ د نیکئ او خیرخواهئ هیڅ اُمید لشتہ. السُّوٓء نہ مراد هغہ افعال دی چہ عقلاً خراب او قبیح دی. او الفحشاء هغہ کارونہ کوم چہ شریعت هم بد گرځولے دی. دلتہ د الفحشاء نہ پہ بربنډہ طواف مراد دسے. مشرکانو بہ پہ بربنډہ طواف کول هم د خپلو معبودانو د

رضا ذریعه گنړله دوسره وجه نه یې د باقي امور شرکیه سره دوسره نه هم منع وکړه.

۳۱۰ دا په السوء باندې عطف دے. قوله یخبرتم نه دانه په خدائ باندې افتراء مراد ده یعني شکله چه شیطان دلوړ وخرابو شیانو حکم درکوي دا شان هغه د دین په باره کښې په خدائ باندې بهتان تړلو باندې تیزول کوي گومخشنې چه د خپل نفس خواهش نو ته دین وائې په خدائ باندې افتراء کوي شکه چه د هغوی خواهشا تو الله تعالی دین نه دے گرځولے. نو د خدائ حلال څیزونه حرام گرځول او حرام څیزونه حلال گرځول او په برېنډه طواف کول عبادت گنړل د قبول په خدائ باندې افتراء او د شیطان فریب دے.

۳۱۱ مشرکانو به خپلو پلرونو او نیکونو ته کتل او شرک بدعت به یې کول او هغوی به تقلید کښې به یې د خپل ځان نه څیزونه حراموول چه کله به هغوی ته او وئیلے شو چه د خدائ د کتاب پیروي اوکړئ نو د هغوی جواب به دا وو، د پلارانو رسمونه پریږدو او د خدائ د کتاب پیروي اوکړئ نو د هغوی جواب به دا وو چه موږ خو به د خپلو پلارانو او نیکونو دین منو. او د دے په مقابله کښې به د خپلو دین تابعداري نه کوو. دا د هغوی د ضد او جهالت او جمود حد وو. الله تعالی ورله دے جواب ورکړو. اَوَ لَوۡ كَانَ اٰبَآؤُهُمۡ لَا يَعۡقِلُوۡنَ شَيۡـًٔا وَّلَا يَهۡتَدُوۡنَ. یعني که چرے د دوی پلرونه نیکونه د علم خاوندان نه وے او توحید یې نه منلے او هغوی به سم لار د نه وے اوبیا دے خلقو د هغوی اتباع کولے نو بیا به هم څه خبره وه نو اب اگرچه هغوی د دین نه ناخبره او د سمے لارے نه بے لارے شوي دي نو بیا به هم دوی د هغوی اتباع کوي.

۳۱۲ دا د مشرکانو مثال دے چه په تیاره کښې د خپل پلار نیکه نقش قدم پالي. ما اسم موصول دے او ورنه مراد څاروي دي چه اواز اوري لیکن نه پرے پوهیږي. دا د مشرکانو د ناپوهئ او بے حسئ مثال دے یعني څنگه چه بوڅاروي ته اواز اوکړے شي نو هغه خو اواز اوري لیکن گوم څه چه هغه ته وئیلے شي په هغه نه پوهیږي. دا شان د دوی حال دے چه دوی خو اواز اوري لیکن په هیڅ نه پوهیږي. عن مجاهد کمثل الذی ینعق مثل ضربه الله لمن یسمع ما یقال له و لا یعقل کمثل البهیمة تسمع النعیق ولا تعقل (ابن جریر ص ۴ ج ۲). دا خلق د حق اواز نه کانړه دي شکه چه دوی د هغے نه فائده نه اخلي او د حق خبرے اقرار کولو د پاره د دوی ژبے گونگئ دي او هغوی د نبیغ او سمے لارے نه ړانده دي چه کله د علم تولے لارے بندے وي نو څه خاورے به پوهه شي.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا كُلُوۡا مِنۡ طَيِّبٰتِ مَا رَزَقۡنٰكُمۡ وَ

اے ایمان والو! خورئ پاکیزه څیزونه گومه روزي درکړے موږ تاسو ته او

اشۡكُرُوۡا لِلّٰهِ اِنۡ كُنۡتُمۡ اِيَّاهُ تَعۡبُدُوۡنَ ۝ اِنَّمَا حَرَّمَ

شکر اوکړئ د الله ۳۱۳ که چرے تاسو دده بندگان یئ هغه په تاسو باندې دا څیزونه

عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ وَلَحْمَ الْخِنْزِيْرِ وَمَآ أُهِلَّ بِهٖ

حرام کړیدی هر مړشه څاروی او وینه او غوښه د خنزیر او په کوم څاروی چه اواز

لِغَيْرِ اللّٰهِ ۚ فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَّلَا عَادٍ فَلَآ إِثْمَ

وکړے شی د الله د نوم نه سوا دچا په نوم ۲۳۳ بیا چه څوک بے اختیاره شی نه خود نافرمانی کوی

عَلَيْهِ ۚ إِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۷۳﴾ إِنَّ الَّذِيْنَ يَكْتُمُوْنَ

نه زیاتے نو په دهٔ هیڅ گناه نشته ۲۳۴ بیشکه الله ډیر بخښونکے ډیر مهربان دے ۲۳۵ بیشکه کوم خلق

مَآ أَنْزَلَ اللّٰهُ مِنَ الْكِتٰبِ وَيَشْتَرُوْنَ بِهٖ ثَمَنًا قَلِيْلًا

چه پټوی کوم شے چه نازل کړے الله د کتاب نه ۲۳۶ او اخلی په هغے بدله کښے لږ شان مال

أُولٰٓئِكَ مَا يَأْكُلُوْنَ فِيْ بُطُوْنِهِمْ إِلَّا النَّارَ وَلَا يُكَلِّمُهُمُ

هغوی نه ډکوی په خیټو خپلو کښې لیکن اور ۲۳۷ او نه به خبرے کوی هغوی

اللّٰهُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَلَا يُزَكِّيْهِمْ ۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيْمٌ ﴿۱۷۴﴾

سره الله د قیامت په ورځ ۲۳۸ او نه به پاک کړی هغوی له گناه نه هغوی د پاره دے عذاب دردناک

أُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ اشْتَرَوُا الضَّلٰلَةَ بِالْهُدٰى وَالْعَذَابَ

هم دا خلق دی چا چه واخسته گمراهی په بدله د هدایت کښې او عذاب په بدله د

بِالْمَغْفِرَةِ ۚ فَمَآ أَصْبَرَهُمْ عَلَى النَّارِ ﴿۱۷۵﴾ ذٰلِكَ بِأَنَّ اللّٰهَ

د مغفرت کښې نو څومره صبر کوونکی دی هغوی په اور باندے ۲۳۹ دا په دے وجه چه الله

نَزَّلَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ ۗ وَإِنَّ الَّذِيْنَ اخْتَلَفُوْا فِي الْكِتٰبِ

نازل کړو کتاب رښتونے ۲۴۰ او چا چه اختلاف اوکړو په کتاب کښې هغوی

لَفِيْ شِقَاقٍ ۢ بَعِيْدٍ ﴿۱۷۶﴾ ع ۲۱

بیشکه په ضد کښې لرے پریوتی دی ۲۴۱

نکات: ۲۳۳ کوم تحریمات چه تاسو د غیر الله په نوم کړیدی هغه حلال هم او گڼئ او هغه خوری هم ۲۳۴ ... تقدیم د ما حقه التاخیر د حصر فائده ورکوی. یعنی د الله عبادت به هغه

وخت وی چه کله شرکی عقیده پریښودلو سره سره د خپل ځان نه جوړکړی محرمات حلال اُونه‌ګڼی او هغه خوری کنی نو د الله په ځائی به د غیر الله عبادت وی ۱۲ ۳ د نیازات غیرالله او د نیازاتِ مشرکینو بیان ۱۲ سے یعنی د اضطرار په حالت کښې حرام ګڼلو سره په قدر د مایکفی که چرے اُوخوری نو الله غفور او رحیم دے ۱۲ ۵ د احبار او رهبان سود دپاره تنبیه چه د نیازاتِ غیر الله مسئله پټوی او د غیر الله نیازات خوری ۱۲ ۶ تحریف نفروی ۱۲ ۷ الضلالة د غیرالله نیازونه ۱۲ ۸ الهدی. توحید ۱۲ ۹ یعنی دا په دُنیا کښې ګمراهی او په اخرت کښې عذاب دے دپاره دے چه صرف د عناد د وجے نه یے د کتاب الله حکم پریښودلو ۱۲ -

موضح قرآن ف۱ یعنی په ښاروګښې دومره څیزونه حرام تو بیا هُم چه کله انسان د لوږے نه مری نو دا هُم معاف دی په دے شرط چه بے حُکمی نه کوی یعنی د اضطرار وخت ته نه وی رسیدلے او خوراک شروع کړی او زیاتے نه کوی. د ضرورت په قدر خوراک اوکړی. ف۲ یهودیانو په خپل کتاب کښې د نبی علیه السلام صفتونه پټ کړل او د ډیرو ایتونو معنی یے بدله کړه د دُنیوی غرض دپاره.

فتح الرحمٰن ف۱ مترجم وائی چه که چرے او وائے چه په دے ایت کښې نو د تحریم حصر اوشو په مذکوره څیزونو کښې حالانکه په حدیث کښې نور څیزے درنده ښکار اوخره او دوه ډے پشان نور هُم حرام شمارلے دی نو د تطبیق وجه به څه وی. زه وایم چه حصر اضافی دے په نسبت د بحائر او سوائب چه تیولو پیژندل نو په بهیمة الانعام کښې هیڅ څیز حرام نه دے بغیره مذکوره څیزونو نه او په پلیتو څیزونو او درنده ښکار نو وغیره کښې یے خبره نه ده کړے ۱۲

تفسیر ۱۷۲ اول د عامو انسانانو سره خطاب وو او س مسلمانانو ته حُکم ورکولے شی چه هغوی د د مشرکانو پشان د حلال او حرام په باره کښې د خپل زړه خوښه نه کوی او کوم څیزونه چه مونږ حلال کړیدی هغه دی نه صرف حلال ګڼړی بلکه هغه د خوری هُم - او داشان خپل عمل سره د هُم د خپل اعتقاد تصدیق اوکړی. څنګه وخت انسان یو څیز خو د عقیدے تر حده پورے منی لیکن په هغے باندے د عمل کولو نه شرم کوی د دے د وجے نه ایمان والو تهٔ یے ارشاد اُوفرمایه چه که چرے واقعی تاسو د زړه نه د الله عبادت کوئ و د تحریمات لغیرالله په ذریعه مو د شرک نه په رښتیا توبه کړے وی نو د دے خبرے عملی ثبوت هُم ورکړئ او هغه دا دے سائبه بحیره وغیره خورئ او د دے نه فائده اخلئ لیکن که چرے تاسو دائے اُونکړئ نو دا به د دے خبرے دلیل وی چه او س هُم تاسو د الله خالص عبادت نه کوئ بلکه او س هُم ستاسو په عملونو کښې د شرک کیدون شته دے او بیا د الله تعالیٰ شکر هُم اداکړئ ځکه چه ستاسو دپاره دا حلال څیزونه درکړیدی ځکه چه د هغه شکر هُم یولوئ عبادت دے. او د دے نه بغیر عبادت نه مکمل کیږی د الله تعالیٰ د ورکړے شوی حلال څیزونو یوه شکر به دا هُم د ه چه هغه د شرک ذریعه جوړه نه کړے

شي او د خپل طرفه هغه حرام نه کړے شي. ۳۱۴ اوس د دلته نه د هغه څيزونو د حرمت
بيان شروع کيږي کوم چه مشرکينو حلال ګڼړل. په دے آيت کښې د حصر سره د څلور څيزونو
حرمت بيان شويدے. (۱) مردار (۲) بهيده وينه (۳) خنزير (۴) ما اهل لغير الله. اوس يو
اشکال دے چه الله تعالیٰ په دے آيت کښې کلمه د حصر (انما) استعمال کړے حرام څيزونه
يې په څلورو کښې بند کړيدي. حالانکه د دے څلورو څيزونو نه علاوه نور هم ډير څيزونه
حرام دي چه د هغے حرمت په قرآن کښې په خپل خپل ځاۍ باندے ذکر دے نو بيا د دے
حصر مطلب څه دے؟ نو د دے جواب دا دے چه دلته د ټولو د حلت او حرمت د
بيانول مقصود نه دے بلکه مقصود صرف د مشرکانو د خود ساخته تحليل ترديد دے.
مشرکانو بحيره، سائبه او وصيله وغيره د کوم ذکر به چه په سورة مائده کښې راځي،
خپل طرفه حرام کړي وو نو د دے په جواب کښې الله تعالیٰ اوفرمايل چه کوم څيزونه
تاسو حرام کړے دي هغه حرام نه دي بلکه حرام خو صرف دا څيزونه دي. ليس المراد
من الآية قصر الحرمة على ما ذکر مطلقا کما هو الظاهر.... بل مقيد بما اعتقدوه حلالا (روح
المعانی) نه مراد هغه څاروے دے چه د ذبح کولو يا حلالولو نه بغير په خپله مړشي يا خو
هغه ذبح کړے شي ليکن هغه ذبح شرعي طريقے سره اونکړے شي. وهي التي ماتت من
غير ذکوة شرعية (روح ج ۲) ځکه چه د مردار غوښه خوړل حرام دي دا شان د هغه باقي
ټولو اجزاء نه فائده اخستل هم جائز نه دي. ليکن د هغه هډوکي، وېښته په دے شرط
چه هغه د ټولو رطوبتونو نه پاک او صفا کړے شوے وي او د هغه څرمن د رنګ کولو نه پس
پاک دي د هغے استعمال جائز دے او د وينے نه مراد بهيده وګے وينه ده يعني هغه وينه چه
د څاروي د بدن د کوم ځاۍ نه اوبهيږي ځکه چه د ذبح په وخت د رګونو نه راوځي. لحم
الخنزير. د خنزير ټول اجزاء يعني غوښه، څرمن، هډوکي، وازګه او وېښته وغيره ټول
حرام دي. د هغه د بدن د هيڅ حصے نه نفع اخستل جائز نه دي ځکه چه هغه نجس
العين دے او د غوښے تخصيص صرف د دے د پاره شويدے چه غوښه د څاروي نه مقصود
او ضروري حصه وي چه کله هغه حرام ده نو باقي اجزاء خو به په طريقه اولیٰ حرام وي. څلورم
د دے محرماتو کښې څلورم څيز ما أهل لغير الله دے. أهل د اهلال نه دے چه د دے
معنیٰ آواز اوچتول او شهرت ورکول دي. الاهلال اصله رفع الصوت (کبير ج ۲) يعني
هغه څاروے هم حرام دے کوم ته چه د غير الله په نوم شهرت ورکړے شي او د غير الله تعظيم
او رضا د پاره معين کړے شي. مثلاً که چيرے بو مشرک د خپل معبود د پاره يا بدعتي يا جاهل
معين کړو يا بو مسلمان د بو ولي يا نبي د پاره بو څاروے مقرر کړو. او مقصد يې دا وو چه
هغه به خوشحاله او راضي شي او د هغه حاجت به پوره کړي يا به مشکل آسان کړي نو هغه
څاروے حرام شو به. لهٰذا اوس به هغه د خداۍ په نوم ذبح کولو سره حلال او پاک
نه ګرځي ځکه چه سپي او خنزير د خداۍ نوم اخستلو سره ذبح کولو باندے حلال نه دي
دا شان د غير الله د تعظيم او رضا کولو په خاطر مقرر شوے څاروے هم د خداۍ نوم

خستنلو سره او حلالولو سره هغه حلال او پاک نه گرځي. کوم سړے چه د غیر الله د تقرب
ورضا د پاره داسے کوی یعنی د غیر الله د پاره ځاروے معین کړی بیا دے نیت سره هغه
ذبح کوی نو هغه مرتد او د اسلام د دائرے نه وځی او هغه حلاله حرامه ده. قال العلماء
لو ان مسلما ذبح ذبیحة وقصد بذبحها التقرب الی غیر الله صار مرتدا و ذبیحته مرتد (کبیری
پشاوری ص ۳۳۲) حضرت شاه عبد العزیز دهلوی په فتاوی عزیزیه کښې لیکلي دي چه:

در حدیث صحیح وارد شده که ملعونٌ من ذبح لغیر الله یعنی هرکه بذبح جانور تقرب بغیر خدا نماید ملعون است خواه در وقت ذبح نام خدا بگیرد یا نه زیراکه چوں شهرت داد که این جانور برائے فلان است ذکر نام خدا بوقت ذبح فائده نکرد چه آں جانور منسوب بآں غیر گشت وخبثے درآں پیدا شد که زیاده از خبث مردار است وهرگاه این خبث درو سرایت کرد دیگر بذکر نام خدا و ند حلال نمی شود مانند سگ وخوک که اگر بنام خداوند مذبوح شوند حلال نمی گردند. (فتاوی عزیزی ص ۵۵ ج ۱)

په صحیح حدیث کښې دي چه ملعون دے هغه څوک چه غیر الله د پاره ذبح کوی یعنی چا چه د ځاروی په ذبح کولو سره د غیر الله تقرب غواړی هغه ملعون دے د ذبح په وخت که د خدائی نوم واخلی یا نه ځکه چه کله هغه مشهوره کړه چه دا ځاروے د فلانی غیر الله د پاره دے نو د ذبح په وخت به د خدائی نوم اخستلو سره هیڅ فائده نه وی. چه کله هغه ځاروے د نذر په طور د غیر الله طرف ته منسوب شو نو دیکښې د مردار نه هم زیاته نجاست پیدا شو او په هغه کښې به داسے نقص وی چه اوس به د خدائی نوم اخستلو سره او ذبح کولو سره هم نه حلالیږی ځکه چه سپے او خنزیر ذبح کولو سره نه حلالیږی" د دے نور تحقیق به ان شاء الله په سورۃ مائده کښې راځی.

۲۱۵ په دے ایت کښې د اضطراری حالت حکم بیان دے. شو چه که چرے یو سړے د
لوږے نه مری او د خوراک د پاره څه حلال شیز موجود نه وی یا څوک یو ظالم او جابر
حاکم د حرام شیز په خوړلو باندے مجبوره کړے وی او د نه خوړلو په صورت کښې د قتل
ځان خطره وی نو په دے دواړو صورتونو کښې پورته ذکر شوی حرام شیزونه مثلاً د غیر الله
نیاز وغیره نه که په قدر د ضرورت خوراک اوکړی نو هغه به گنهگار نه وی. وهذه الضرورة
لها سببان احدهما الجوع الشدید وان لا یجد ماکولا حلالا یسد به الرمق فعند ذلك یکون
مضطرا الثانی اذا اکرهه علی تناوله مکره فیحل له تناول (کبیر ص ۱۳۱ ج ۲) لیکن د اجازت سره یے
دوه قیدونه هم اولگول یو غیر باغ او دویم ولا عاد. د غَیْرَ بَاغٍ مطلب دا دے چه صرف
د ضرورت په وخت یے اوخوری او بغیر د ضرورت نه یے نه خوری. او د وَلَا عَادٍ مطلب
دا دے چه په قدر د سد رمق (چه ژوندے پرے پاتے شی) اوخوری او ځان سره یے یو نه سی.
لیکن ن صبا په عرسونو کښې څه کیږی د غیر الله نیازات په مړه خیټه خوری او بیا د تبرک
په طور یے کورته اوړے شی. إِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِیْمٌ. چه ستاسو په گناهونو باندے هم
بعض وخت مواخذه نه کوی او په مشکل وختونو کښې تاسو ته اسانی رسوی.

۲۱۶ د نذر لغیر الله احکام بیانولو نه روستو یے هغه منفقو د پاره زجر او تخویف اُخروی
بیان کړو چه نه صرف د نذر غیر الله احکام پټوی. بلکه پخپله د غیر الله نذر او نیاز خوری.

کوم چه الله صفا صفا حرام کړي دي . نن صبا چه کوم ملا او ګدي نشين د نذر و نیاز صحیح مسئله نه بیانوي بلکه پخپله د غیر الله نیازونه منځي سره خوري هغوی د پاره هم سزا مقرر ده. دا ایت اګر چه د یهودو په حق کښې نازل شوي وو چه په تورات کښې بیان کړي شوي د حل او حرمت وغیره احکام او د نبي علیه السلام صفتونه به یې پټول لیکن د دې حکم عام دې او د امت محمدیه علیٰ صاحبها الصلوٰة والسلام علماؤ ته هم شامل دې چه د خدائ د کتاب احکام کما حقه خلقو ته نه رسوي خصوصاً د توحید د اثبات او د شرک او بدعت او نذر و نیازات لغیر الله د تردید قرآني ایتونه د خلقو مخکښې نه بیانوي او د دې حق پوشۍ مقصد صرف د دنیا حقیر دولت ګټل وي او د خپلو ګدو محفوظ کول وي خکه چه حق ښودلو سره به د نذر او نیاز هغه ټوله ناجائزه امدني ختمه شي د دې وجې نه د دې دنیوي منافع او امدنو د بحالۍ د پاره ضروري ده چه هغوی د خدائ احکام د خلقو نه پټ کړي ځکه چه که چیرې عوامو ته معلومه شي چه د غیر الله نذر نیاز په دین کښې ناجائزه او حرام دې نو بیا به هغوی کله دوی ته نذرانې او منتې پیش کړي.

۳۱۷ـه د حق پټولو د وجې نه چه کومې روپۍ ، نذرې نه او هدیې دوی ته ملاویږي د ټول د جهنم اور دې او دا ظالمان دا ځیزونه په دنیا کښې خوري او خپلې ګیډې د جهنم د اور نه ډکوي. چونکه دا ځیزونه د جهنم په اور کښې د سوزیدلو سبب او موجب دي ګویا چه دا د جهنم اور دې. لانه لما اکل ما یوجب النار فکانه اکل النار (کبیر ۱۳۲/۲) .

۳۱۸ـه هغوی سره د خبرې نه کولو مطلب دا دې چه هغه خلق به د قیامت په ورځ د خدائ د رحمت او شفقت نه محروم کړې شي او الله تعالیٰ به هغوی سره د مهربانۍ او رحمت کلام نه کوي بلکه حکم به اوشي اِخْسَئُوْا (لرې شئ) او هغوی به د نذرانو خوړلو او د نورو ګناهونو د خیرې نه پاک نه کړي. اي لا یطهرهم من دنس الذنوب (روح ۴۴/۲)

اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ اشْتَرَوُا الضَّلٰلَةَ- دې خلقو خو حق پټ کړو او د هدایت په عوض کښې یې ګمراهي واخستله. کتاب الله چه د هغې احکام ټول حق او هدایت وو او په هغې کښې د نذرو نیاز غیر الله حرمت موجود وو هغه یې پټ کړو او د هدایت په ځائ یې ګمراهي خوره کړه. محض د دنیا د حقیر دولت او د ګدو د حفاظت د پاره. بسبب کتمانهم الحق لمطامع الدنیة والاغراض الدنیویة (روح ۴۴/۲) که دې خلقو د نذر لغیر الله مسئله چه د هغې حرمت د دوی په کتاب کښې صراحت سره موجود دې او دا شان نورې مسئلې یې بیانولې او په هغې باندې یې عمل کولې نو دوی د پاره مغفرت وو. لیکن هغوی دا مسئله پټه کړه او عملاً یې د دې خلاف ورزي اوکړه. د دې وجې نه د دوی د پاره عذاب دې هغوی په دنیا کښې د هدایت په ځائ ګمراهي اختیار کړه او د اخرت د ژوند د پاره چه د ټولو نه لوی هدایت یافته کیدلو په صورت کښې د دوی د پاره مقدر وو دا ګمراهي سبب خوره کړه او په همیشه عذاب باندې یې بدل کړو.

۳۱۹ـه دا فعل التعجب دې یعنې دا دې معلومیږي چه د جهنم عذاب برداشت کولو د پاره

دی ځکه چه هغوی بغیر د څه تردد نه حق پټوی او د خدائی د عذاب ذره هغوی د پرواه هم نه کوی. ما اشجعهم علی النار اذ یعملون عملا یؤدی الیها (قرطبی ج۲ ص۲۳۵)

ذٰلِكَ په ذٰلِكَ سره ذکر شوی عذاب ته اشاره ده. او بان. لیستیقنوا محذوف پورې متعلق دے لکه چه بل ځائ کښی ارشاد دے ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْحَقُّ (حج ع ۱) ای لتستیقنوا بان الله الخ او بو ځائ ئے اُوفرمائیل ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ شَاۤقُّوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ (انفال ع ۲) الْكِتٰبَ نه جنس کتاب مراد دے. الکتب جنس دے. د الحق نه مراد رښتونے یا دلیل او حجت دے. بالحق ای بالصدق وقیل بالحجة (قرطبی ج۲ ص۲۳۵) او په بِالْحَقِّ کښی با په معنی د لام دے او د دے نه پس مضاف محذوف دے. ای لاظهار الحق (مدارک) یعنی دا عذاب په دے د پاره ورکولے شی چه د دوی یقین اُوشی چه الله تعالیٰ په دوی باندے د اظهارِ حق د پاره کتاب نازل کړو چه په هغے کښی د نیازات غیر الله د حُرمت بیان وُو. لیکن هغوی منع نه شول ځکه چه هغوی محض ضدیان او عنادیان وُو.

۳۲۱ اوس چه کوم خلقو زمونږ په کتابونو کښی اختلاف پیدا کړیدے او د هغے په نهو لو احکامو قبلولو کښی تامل کړیدے هغه خلقو سره نه څه دلیل شته او نه څه معقول عذر. هغوی محض د سخت مخالفت په بناء باندے دا ښے کړیدی او دا مخالفت د حق قبلولو نه وړاندې دے او د ضد او عناد حد ته رسیدلے دے نو چه کوم خلق محض د ضد او عناد په وجه سره حق پټوی او د ګمراهئ لاره اختیار کړی د هغوی هُم دا سزا ده. نو یهودی عالمان او د دوی پیران چه بنه ورته معلومه ده چه د نذر غیر الله حُرمت د دوی تورات کښی موجود دے. لیکن د دے باوجود هغوی دا پټوی هغوی محض د ضد او عناد په وجه دا ښے کوی او د دے وجے نه هغوی د سخت عذاب مستحق ګرځولے شویدی. هُم دا حال د موجوده نجدی پیرانو او ګدی نشینو دے چه محض د ضد او عناد د وجے نه ګمراه کیږی. د لته ئے اُوفرمائیل چه چا اختلاف کړیدے هغوی محض د ضد او عناد د وجے نه اختلاف کړیدے. او په بل ځائ کښی ئے اُوفرمائیل چه اختلاف صرف لوئ لوئ عالمانو او پیرانو کړیدے. وما اختلف فیه الا الذین اوتوه (بقره ع ۲۶) او بو بل ځائ کښی ئے اُوفرمائیل چه دے د اهل کتابو عالمانو اختلاف سره د علم کړے دے. وَمَا اخْتَلَفَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ اِلَّا مِنْۢ بَعْدِ مَا جَاۤءَهُمُ الْعِلْمُ (آلِ عمران ع ۲)

لَيْسَ الْبِرَّ اَنْ تُوَلُّوْا وُجُوْهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ

نیکی هیڅ هم نه ده چه مخ کړئ خپل د مشرق طرف ته یا

وَالْمَغْرِبِ وَلٰكِنَّ الْبِرَّ مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ

مغرب طرف ته ګرځئ مخ لیکن لویه نیکی دهٔ خو دا ده چه څوک ایمان راوړی په الله باندې او د

الْاٰخِرِ وَالْمَلٰٓئِكَةِ وَالْكِتٰبِ وَالنَّبِيّٖنَ ۚ وَاٰتَى الْمَالَ

قیامت په ورځ باندے او په فرښتو باندے او په ټولو کتابونو باندے او په پیغمبرانو باندے ۳۲۳ او ورکړی مال

عَلٰى حُبِّهٖ ذَوِى الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنَ وَ

د هغه د محبت سره ۳۲۴ رشته دارانو او یتیمانو ته او محتاجو ته

ابْنَ السَّبِيْلِ ۙ وَالسَّآئِلِيْنَ وَفِى الرِّقَابِ ۚ وَاَقَامَ

مسافرو ته او سوالګرو ته او د ختو نو په ازادولو کښې ۳۲۵ ده ۳ او قائم کړی

الصَّلٰوةَ وَاٰتَى الزَّكٰوةَ ۚ وَالْمُوْفُوْنَ بِعَهْدِهِمْ اِذَا

مونځ او ورکړی زکوٰة او پوره کوونکی وی د خپل اقرار چه کله اقرار

عٰهَدُوْا ۚ وَالصّٰبِرِيْنَ فِى الْبَاْسَآءِ وَالضَّرَّآءِ وَحِيْنَ

اوکړی ۳۲۶ او صبر کوونکی وی په سختئ کښې او تکلیف کښې او د جنګ په

الْبَاْسِ ۗ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ صَدَقُوْا ۗ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ

وخت کښې ۳۲۷ هم دا خلق دی رښتونی ۳۲۸ او هم دوی دی پرهیزګاران

الْمُتَّقُوْنَ ﴿۱۷۷﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُتِبَ عَلَيْكُمُ

اے ایمان والو! فرض شو په تاسو باندے

الْقِصَاصُ فِى الْقَتْلٰى ۗ اَلْحُرُّ بِالْحُرِّ وَالْعَبْدُ بِالْعَبْدِ

(قصاص) برابری کول په مړو کښې ۳۲۹ ده ۷ د ازاد په بدله کښې ازاد ده ۵ او د غلام په بدله کښې غلام

وَالْاُنْثٰى بِالْاُنْثٰى ۗ فَمَنْ عُفِىَ لَهٗ مِنْ اَخِيْهِ شَىْءٌ

او د ښځے په بدله کښې ښځه ۳۳۰ بیا چه څوک معاف کړے شی ۳۳۱ د هغه د روره طرفه ۳۳۲

فَاتِّبَاعٌ بِالْمَعْرُوْفِ وَاَدَآءٌ اِلَيْهِ بِاِحْسَانٍ ۗ ذٰلِكَ

هر څه چه وی نو تابعداری کول پکار دی د دستور موافق ده ۵ او ادا کول پکار دی هغه له په ښه طریقه

تَخْفِيْفٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَرَحْمَةٌ ۗ فَمَنِ اعْتَدٰى بَعْدَ

باندے ۳۳۳ ده ۹ دا اسانی او شوه ستاسو رب د طرفه او مهربانی. بیا چه څوک زیاتے اوکړی د دے فیصلے

ذٰلِكَ فَلَهٗ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۱۷۸﴾ وَلَكُمْ فِى الْقِصَاصِ حَيٰوةٌ

نو دے هغه د پاره عذاب دردناک ف او ستاسو د پاره په قصاص کښ ژوند دے اے

يّٰاُولِى الْاَلْبَابِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴿۱۷۹﴾ كُتِبَ عَلَيْكُمْ اِذَا

د عقل والو! دے د پاره چه تاسو بچ شئ ۳۳۴ ف ۲ فرض کړے شو په تاسو باندے چه

حَضَرَ اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ اِنْ تَرَكَ خَيْرًا ۖ الْوَصِيَّةُ

کله حاضروی یو چا ته ستاسو نه مرګ په دے شرط چه پریږدی مال ۳۳۵ که وصیت کول د

لِلْوَالِدَيْنِ وَالْاَقْرَبِيْنَ بِالْمَعْرُوْفِ ۚ حَقًّا عَلَى

مور پلار د پاره او د رشته دارو د پاره په انصاف سره دا حکم لازم دے پرهیزګارانو

الْمُتَّقِيْنَ ﴿۱۸۰﴾ فَمَنْۢ بَدَّلَهٗ بَعْدَ مَا سَمِعَهٗ فَاِنَّمَآ اِثْمُهٗ

باندے ف ۳ بیا چه څوک بدل کړی وصیت روستو د هغې نه چه اوریدلے یے وی نو د هغې ګناه په

عَلَى الَّذِيْنَ يُبَدِّلُوْنَهٗ ۭ اِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿۱۸۱﴾ فَمَنْ

هغه چا ده چه هغه بدل کړو. بیشکه الله اوریدونکے او خبردار دے ف ۴ بیا چه څوک ویره اوکړی

خَافَ مِنْ مُّوْصٍ جَنَفًا اَوْ اِثْمًا فَاَصْلَحَ بَيْنَهُمْ فَلَآ

د وصیت کونکی نه د طرفدارئ یا د ګناه بیا یے د دوی په مینځ کښ صلح اوکړی ۳۳۶ نو په

اِثْمَ عَلَيْهِ ۭ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۸۲﴾

هغه باندے هیڅ ګناه نشته بیشکه الله ډیر بخښونکے نهایت مهربان دے ف ۵

نکات: ۱۔ ف د بحث په خاتمه باندے د قبلے تحویل زیات روښانه کول ۱۲ ف ۲ ای امدح الصابرین دا منصوب علی المدح دے د حق حمایت کولو په وجه سره په راتلو نکو مصیبتونو باندے د صبر کونکو امتیازی شان ظاهرولو د پاره د تعبیر الصابرین په عنوان کښ د رفع نه نصب ته بدل کړے شو ۱۲ ف ۳ د سورة د دویم حصے ابتدا ۱۲ ف ۴ اولنے انتظامی امر قصاص اخلئ دے د پاره چه ملک د قتل او وینے تویولو نه محفوظ شی ۱۲ ف ۵ د قصاص معاف کیدو په صورت کښ به دیت ورکول وی ۱۲ ف ۶ دویم انتظامی امر یعنی د مړی ترکه د شریعت مطابق تقسیم کړئ ۱۲ ف ۷ والدینو ته او رشته دارو ته د دے خبرے وصیت چه ترکه د شریعت مطابق تقسیم کړی ۱۲ ف ۸ جنفا ای خطأ او اثما ای عمدا ۱۲ ...

موضح قرآن

ف۱ د صاحب (مالک، آقا) په بدله کښې صاحب او د غلام بدله کښې غلام دا شائنه یعنې هر صاحب د بل صاحب برابر او هر غلام د بل غلام برابر دے. د اشراف او کم ذات فرق دولتمند او د فقیر فرق نشته. څنګه چه په کفر کښې معمول وُو چاته چه معافي اوکړے شوه یعنې د مقتول وارث که چرے قصاص موقوف کړي او په مال راضي وي نو قاتل له پکار دي چه هغه راضي کړي او احسان منلو سره دِیت اُورسوي دا آساني اوشوه یعنې په تیر شوؤ اُمتونو باندے صرف قصاص مقرر وُو دے اُمت ته معافي کول او په مال باندے صُلح کول هم ورکړے شو بیا چه څوک زیاتے اوکړي یعنې په صُلح کولو سره دِیت واخلي او بیا د قتل قصد اوکړي. ف۲ یعنې حاکم‌انو له پکار دي چه په قصاص ورکولو کښې قصور اونکړي دے د پاره چه قتل بند شي.

ف۳ د کفر په رسم کښې د مړي وارث د اولاد نه سوا هیڅوک نه وُو او په اولاد کښې هم صرف ځوئ. نو اول الله تعالیٰ وارث اولاد کړځولے دے مړي د پاره ضروري شوه چه مور پلار او رشته دارانو د پاره د هغوي د حاجتونو موافق تخمینه ورکړے شي.

ف۴ یعنې که چرے مړي وصیت کړے وي او ورکولو ورنکړو تو مړے بے ګناه دے او هغوي ګنهګار دي. ف۵ یعنې چا اُولیدل چه مړي په بے انصافئ سره وصیت اوکړو اولاد ته د پرلږ مال پاتے شو نو نور خلق بے پوهه کړل او مینځ کښې یے صُلح اوکړه دا سے بدلول ګناه نه ده. اول الله تعالیٰ دا حُکم فرمائیلے وُو روستویے په سُورة نساء کښې د وارثانو حِصے پخپله مقرر کړے اوس د مړي وصیت موقوف شو.

فتح الرحمن

ف۱ یعنې مخ کول د مشرق او مغرب طرفته څنګه چه یهود او نصاراؤ خیال کولو چه نیکي نه ده بلکه منسوخ شوېده. ف۲ یعنې د هغه نیک کارونو خاوند چه مِلتونه په هغې کښې اختلاف نه لري هغه دي. ف۳ د مریانو په آزادولو کښې یا د مکاتب په خلاصولو کښې. ف۴ یعنې د وژل شوؤ د مماثلت اعتبار. ف۵ یعنې د هغه مثل دے په حُکم کښې ف۶ یعنې د ده پشان دے حُکم کښې. ف۷ یعنې څه څیز د مقتول مُسلمان د قتل نه. ف۸ یعنې د قصاص ولي به د دے معاملے په سختئ سره مطالبه نه کوي. ف۹ یعنې قاتل به بنو اخلاقو سره ادا کړي نه په سختئ سره.

ف۱۰ مترجم وائي چه د جاهِلیت خلقو به شریف دلاندے نسب په مقابله کښې نه وژلو او د شریف په مقابله کښې به یے څو کسان د کم نسب نه وژل. الله تعالیٰ حُکم نازل کړو چه حکمِ الهي د مماثلت په اعتبار سره دے په اجناسو کښې، دے معنیٰ سره چه دا احرار حُکم جُدا دے چه هر حُر د بل حُر پشان دے په دغه حُکم کښې او د مریانو حُکم جُدا دے چه هر مریے د بل مریي پشان دے په دیکښې او د ښځو حُکم جُدا دے او هره ښځه د بلے ښځے پشان ده په دے حُکم کښې. او امتیاز د ښځو د حُکم په باب د دِیت کښې دے نه په باب د قصاص کښې. نو هر کس د دے اجناسو نه مساوي دے د بل کس سره نو هر څومره چه یو کس شریف وي او بل کس د کم نسب او لاندے مرتبے والا او څنګه خالنته او څنګه

بدرنګ، ځینې مالداره او ځینې فقیر۔ او حدیث دوه چشمه نور هم زیات کړیدی چه مسلمان په مقابله د مسلمان کښی دے او کافر په مقابله د کافر کښی۔ نو که چرے ځینې وارثان عفوه کوی دوئ لوته او دیت قبلوی نو د قصاص ولی دپاره پکار ده چه په ښه معامله سره مطالبه او کړی نه په سختئ سره۔ او قاتل له پکار دی چه په ښه خوښئ سره دیت ادا کړی نه په بدخوئ سره والله اعلم۔ ۲ هلا مترجم وائی چه د وصیت حکم منسوخ دے په آیت د مواریث سره

تفسیر ۳۳۲ لفظ بر عام دے۔ او د نیکئ ټولو قسمونو ته شامل دے البر جامع لانواع الخیر والطاعات المقربة الی الله تعالیٰ والخطاب لاهل الکتابین (روح ص۴۲ ج۲) په دے آیت کښی یهودو او نصاراؤ ته خطاب دے۔ د بحث رسالت په اختتام باندے بیے د تحویل قبله متعلق دوباره د اهل کتابو د خیال تردید کړیدے۔ د تحویل قبله معامله په اهل کتابو ډیر زور شور سره بیانولو او دے په ذریعه به یے د نبی علیه السلام نه د خلقو د متنفر کولو کوشش کولو۔ د دے وجے نه الله تعالیٰ تاکیداً د دوئ دوباره رد کړیدے یهودیانو به د مغرب طرف ته بیت المقدس صحیح قبله ګنړله او عیسایانو به د مشرق طرف ځکه چه حضرت مریم د بچی پیدا کیدو د دره په وخت د بنار نه مشرق طرف ته وتلے وه او د دواړو ډلو عقیده وه چه د دوئ قبله صحیح ده باقی ټولے قبلے غلطے دی او اصلی نیکی دا ده دا بلکه اصلی نیکی خو خالص ایمان او عمل صالح یعنی د الله احکام منل او د هغے تعمیل دے هغه چه کوم طرفته د ځے کولو حکم ورکړیدے نو هغه اصل قبله ده دا شان په دیکښی د هغه مشرک قومونو هم تردید دے چه دا طرفونه د خیر او شر، مرلی او ژوند منبع او مصدر ګنړی او مقدس یے ګنړی او د دے عبادت کوی۔

۳۳۳ البر چونکه معنیٰ ده او مَنْ اٰمَنَ ذات دے چه په دے باندے نئی محمول کیدلے د دے وجے نه د لته د البر نه مخکښی ذا محذوف دے۔ یا د مَنْ اٰمَنَ نه مخکښی بر مضاف محذوف دے یعنی و لکن ذا البر من امن یا و لکن البر بر مَنْ اٰمَنَ د یهود او نصاراؤ د باطل خیال د تردید نه روستو یے د اصل نیکئ بیان اوکړو چه اصل نیکی ایمان او عمل صالح دے نو دے آیت کښی د ایمان ذکر دے یعنی په الله تعالیٰ باندے، قیامت باندے، فرشتو باندے، د خدائ په کتابونو باندے او د هغه په پیغمبرانو باندے لیکن د ایمان نه مراد هغه ایمان دے چه د شرک نه پاک او خالص وی د یهود او نصاراؤ د ایمان پشان نه وی چه په خدائ باندے د ایمان راوړلو سره حضرت عزیر علیه السلام او حضرت عیسیٰ علیه السلام یے د خدائ شریک ګنړلو او هغوی ته به یے اوازونه کولو۔ والمراد بهذا الایمان ایمان خال عن شائبة الاشراك لا كايمان اليهود والنصارى القائلين عزير ابن الله و المسيح ابن الله (روح ص۴۶ ج۲) دا شان په فرشتو، پیغمبرانو او په کتابونو باندے ایمان راوړی داسے نه چه ځینې فرشتے او پیغمبران اُومنی او د ځینو سره دُشمنی اوساتی دا شان ځینې کتابونه اُومنی او ځینې اُو نه منی داسے ایمان قابل قبول نه دے۔

۳۳۴ اوس د دلته نه د اعمال صالحه بیان شروع کیږی د اعمالو دوه قسمونه دی

یو هغه چه د هغې تعلق د مال خرچ کولو سره دے. دویم هغه چه د هغې تعلق د انسان
د بدن سره دے. د حُبِّهٖ ضمیر اَلْمَال طرفته راجع دے. مطلب دا دے چه د مال او
دولت محبت باوجود هغه خرچ کوی. ذَوِی الْقُرْبٰی دا د اٰتی مفعول دے. او د رشته دار
مراد غریب او محتاج رشته دار دے. اَلْيَتٰمٰى د يتيم جمع ده او يتيم هر هغه نابالغ ته وائی
چه د هغه پلار مړ وی کله چه د يتيم خپل مال نه وی نو د هغه پرورش د هغه په نزدے
رشته دارانو باندے لازم دے. وَالْمَسٰكِيْنَ. د مسكين جمع ده يعنی حاجتمند او محتاج
وَابْنَ السَّبِيْلِ مسافر چه کله په سفر کښې بے خرچه شي اگرچه د هغه په کور کښې مال موجود وی
وَالسَّآئِلِيْنَ د دے نه مراد هم حاجتمند خلق دی نو په مساکینو او سائلینو کښې فرق دا دے
چه مساکین هغه دی چه د حیا نه سوال نه کوی او سائلین هغه دی چه سوال سره بے
غواړی. اهل الحاجة ثم هم ضربان منهم من يكف عن السؤال و هو المراد هٰهنا ومنهم من يسأل
و ينبسط و هو المراد بقوله و السائلين (کبیر ص۱۳۶ ج۲)

۳۲۵ رقاب د رَقَبَةٌ جمع ده او د رقبه نه مراد انسان دے مجازًا. الرقبة مجاز عن
الشخص (روح ص۴۷ ج۲) په رقاب کښې د خرچ کولو نه مطلب دا دے چه هغه ازاد کړے شي
ای فی تخلیص الرقاب و فکاکها (روح ص۴۷ ج۲) د لته د فک رقاب نه ځینو مفسرینو د غلامانو
ازادول او ځینو د غلامانو خلاصول مراد کړی دی. لیکن لفظ د عموم د دے خبرے تقاضا
کوی چه د دے نه دواړه مراد دی او د دے نه علاوه هغه مقروض چه موحد وی او مشرک
نه وی د هغه امداد کول هم دیکښې شامل دے تر دے ځایه پورے د مالی صدقاتو ذکر وو.
او س مخکښې د ما بخه ذکر دے چه د ټولو بدنی عباداتو نه اعلیٰ دے. واقام الصلوٰة د
اقامتِ صلوٰة مفهوم د وَيُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ لاندے ذکر شوے دے. وَاٰتَى الزَّكٰوةَ مخکښې د
نفلی صدقاتو ذکر وو دلته یے د فرضی صدقے یعنی زکوٰة ذکر کیږی. والمراد بالصلوٰة
المفروضة كالزكوٰة فی و اٰتی الزكوٰة بناءً علی ان المراد بما مرّ من ایتاء المال نوافل الصدقات
(روح ص۴۷ ج۲)

۳۲۶ د عقائدو او اعمالو تصحیح نه روستو او س د حُسنِ اخلاق ذکر کولے شی او
د عهد نه مراد دلته کومه خاص وعده مراد نه ده بلکه د دے نه مراد هر هغه عهد دے
چه یو انسان د بل انسان سره کړے وی یا یے د الله تعالیٰ سره کړے وی. ای فیما بینهم
و بین الله تعالیٰ و فیما بینهم و بین الناس (قرطبی ص۲۴۳ ج۲) والظاهر حمل العهد علی ما یشمل
حقوق الحق و حقوق الخلق (روح ص۴۷ ج۲) انسانانو سره شوی وعدے صرف د هغه وعدو پوره کول
جائز او لازم دی چه د شریعت خلاف نه وی د خلاف شریعت کار متعلق وعدو پوره
کول جائز نه دی. د خدائی سره کړے شوی وعدو کښې د خدائی په نوم نذر ته او د خدائی
په نوم قسم کول هم شامل دی. که څوک د خدائی په نوم یے نذر منلے دے نو د هغې پوره
کول واجب دی. لیکن د غیر الله نذر او منت نه ناجائز او شرک دے او څوک چه
جهالت سره او منی نو د هغې نه د توبه کړی او هغه د نه پوره کوی. داشان که څوک یے

د خدائ په نوم قسم کړے وي. که چرے هغه په ناجائزه کار باندے نه وي نو هغه د ضرور پوره کړي که چرے ناجائز کار باندے وے نو قسم د مات کړي د غیرالله په نوم قسم کول جائز نه دي.

۳۲۴ه الصّٰبِرِيْنَ، منصوب علی المدح دے او د دے عامل محذوف دے یعنی امدح الصّٰبرين د ماقبل نه دے دپاره جدا اوکړے شوید ے چه د صابرینو زیات فضیلت حاصل شي. البأساء والضراء. د دوارو معنی شدت او تکلیف دے. لیکن د بأساء تعلق مال سره دے یعنی فقر او فاقه وغیره. او د ضراء تعلق د بدن سره دے لکه بیماري. البأساء في الاموال کالفقر والضراء في الانفس کالمرض (بیضاوي ص۲۶) او د البأس نه مراد جنګ او جهاد دے. ای وقت القتال وجهاد العدو (روح ج۲ ص۴۷) مطلب دا چه صرف په آرام سره مونځ کولو سره به کار نه چلیږي بلکه جهاد به هم کول وي او د مال ځان تکلیفونه برداشت کول به هم وي په دے ایت کښ د جهاد ترغیب دے.

۳۲۵ه په اُولٰٓئِكَ سره پورته ذکرشوي صفتونو سره متصف خلق مراد دي یعنی نیکۍ ربښتولي طالبان خو هغه خلق دي په چا کښ چه ایمان او عمل (یعني د الله احکام وزره نه منل) او د حسن اخلاق پورته ذکرشوے ټولے خوبیانے موجودے وي نه چه هغه خلق چا چه مشرق او مغرب طرفته مخ کول نیکي ګڼړلے ده او په خیل ضد باندے ټینګ ولاړ دي. او هم دا خلق پرهیزګار دي. دا ایت ټول د نیکو عملونو دپاره جامع دے دیکښ ټول ضروري عملونه او بنیادي عقیدے راغلي دي. د دے وجے نه دا ایت د دین د اصولو یو ډیر لوئ اصل دے.

دویمه حِصّه

(۱) جهاد في سبیل الله (۲) اِنفاق في سبیل الله

تمهید تر دے ځائ پورے د سورة بقره اوله حصه په کومه کښ چه د توحید او رسالت بیان وو ختمه شوه. اوس مخکښ دویمه حصه شروع کیږي په دے حصه کښ دوه مسئلے بیان کړے شوي دي د کوم تعلق چه د عمل سره دے یو جهاد في سبیل الله یعني د الله په لاره کښ د الله د توحید او د هغه د دین په خاطر جنګیدل او دویم انفاق في سبیل الله یعني د الله د دین په خاطر خپل دولت خرچ کول د اصل مسئلو شروع کولو نه مخکښ بے أمورِ انتظامیه بیان کړیدي. ځکه چه په خپلو کښ نظم او ضبط او محبت او اُنس نه بغیر اجتماعي قوت سره جهاد ناممکن دے. او د انتظامي أمورو پابندي صرف په دے صورت کښ کیدے شي چه د انسان په زړه کښ د الله ویره او د هغه باطن صحیح او د هغه نیت نیک وي. د دے وجے نه د انتظامي أمورو سره سره به مینځ کښ د څو مصلحو أمورو ذکر اوکړو. مثلاً مونځ، روژه، حج. د دے نه روستو د جهاد ذکر دے او د جهاد د حکم سره سره أمورِ مصلحه هم ذکر کیږي. د دے دپاره چه روښت سره د

باطن صفائي حاصله شي او دچې په موقعه باندے په بيت الله کښې حاضر شي د الله تعالے نه د قتح د پاره دُعا اوکړي ځکه چه هلته دُعا قبليږي. او په ماځه سره به په خپل مينځ کښې محبت پيدا شي.

۳۳۹ــه د انتظامي امورو نه دا اولنے انتظامي امر دے. ديهوديانو په مذاهب کښې دقتل سزا صرف قتل وه د معافئ هيڅ صورت نه وُو د عيسايانو په نزد صرف يو د عفو او درګذر قانون وُو، قصاص نه وُو. په عربو کښې قصاص او عفو دواړه څيزونه موجود وُو. ليکن په دے کښې به ډير زيات د کمي نه کار اخستلے شو. که چرے قاتل به يو معمولي انسان وُو او مقتول به د لوئي خاندان سره تعلق لرلو نو د هغه په عوض کښې به د قاتل د قبيلے نه ډير انسانان وژلے شول. دا شان لويو خلقو به د خپلو زخمونو په عوض کښې هم دوچند درے چنده ديتونه وُصولول نو الله تعالیٰ د قصاص او ديت احکام نازل کړل او د دے ټولو بے انصافو اصلاح يے اوکړه. د قصاص مطلب دا دے چه انسان سره هم هغه څه اوکړے شي کوم چه هغه د بل سره کړي وي. (بحر ص۱۵ ج۲، روح ص۴۹ ج۲) دلته مراد دا دے چه قاتل به د مقتول په بدله کښې قتل کړے شي او قصاص صرف حکومت اخستلے شي عوامو نه اختيار نشته چه هغوی د خپلو مقتولينو قصاص واخلي ځکه چه په دے سره به د بد نظمئ دروازه پرانستے شي. دُشمنئ به زياتے شي او په زمکه کښې به جګړه او فساد پيدا شي. اتفق ائمة الفتوٰی علیٰ انه لا یجوز لاحد ان یقتص من احد حقه دون السلطان ولیس للناس ان یقتص بعضهم من بعض (قرطبی ص۲۵۶ ج۲)

۳۴۰ــه د احنافو په نزد که چرے يو ازاد يو غُلام لره يا يو سړي يوه ښځه قتل کړه نو د غُلام په بدله کښې به ازاد او د ښځے په بدله کښې به سړے قصاص کښې قتلولے شي. د حضرت علي، حضرت ابن مسعود رضي الله عنهما، سعيد بن مُسيّبؒ، ابراهيم نخعي، سُفيان ثوري، ابن ابي ليلیٰ، قتاده او حکم بن عتيبه رحمهم الله هُم دا مسلک دے. (قرطبی ص۲۴۶ ج۲) د امام شافعيؒ او نورو امامانو په نزد به د غُلام په بدله کښې ازاد نه شي قتلولے. ليکن د ښځے په بدله کښې به د سړي نه قِصاص اخستلے شي. په دے ايت کښې چونکه د ازاد د ازاد سره او د غلام د غلام سره او د ښځے د ښځے سره مقابله کړے شويده. په دے وجه د دے نه معلوميږي. چه ازاد به د ازاد او غلام به د غلام او ښځه به د ښځے په بدله کښې قتلولے شي. ليکن ازاد به د غُلام په بدله کښې او سړے به د ښځے په بدله کښې نه شي قتلولے ځکه چه د دے تقابل مفهوم مخالف هُم دا دے. دا شان دا ايت د فريقينو خلاف ګرځي. امام شافعيؒ خو د دے جواب دا ورکوي چه د دے ايت حِصّه يعني اَلْاُنْثٰى بِالْاُنْثٰى حديث سره منسوخ ده. احناف د دے جواب دا ورکوي چه د ازاد په بدله کښې د غُلام نه قتلولو حُکم د ايت مفهوم مخالف نه اخستے شويدے حالانکه مفهوم مخالف په احکام شرعيه کښې حجت نه دے. قاله

صاحب المدارک۔

فائده: حضرت مولانا انورشاه صاحب رحمة الله علیه فرمائیلی دی۔ چه مفهوم مخالف د احکامو د اثبات دپاره د حلال او حرام قسم د پاره خو معتبر نه دے لیکن د تقدیم او تاخیر یا حصر وغیره د نکتی بیانولو دپاره هغه ذکر کولے شی۔ دویم خبره دا ده چه په الحر بالحر کښی حصر مقصود نه دے بلکه مقصد صرف په قصاص کښی مساوات بیانول دی یعنی د جاهلیت په زمانه کښی د قصاص په باره کښی چه کوم ظلم زیاتے کولے شو دهغے بندول مقصود دے۔ قاله الامام ولی الله الدهلوی۔ دریم جواب دا دے چه د قصاص په معنو کښی عموم دے چه دا لفظ قتل او جراحت دواړو دپاره ویلے شی او ددے مفهوم دا دے چه یو سړی سره هغه شے کول کوم چه هغه د بل سړی سره کړے وی. اما القصاص فهو ان یفعل بالانسان مثل ما فعل (کبیر ص ۱۵۰ ج ۱) داشان په صراح کښی هم د قصاص دا معنی لیکلے ده. "قاتل بیا وژل او زخمی کول د زخم په عوض کښی" نو په ایت کښی د قصاص بالنفس او قصاص بالاطراف د دواړو ذکر دے په کُتِبَ عَلَیۡکُمُ الۡقِصَاصُ فِی الۡقَتۡلٰی کښی د قصاص بالنفس حکم دے۔ او په الحر بالحر کښی د قصاص بالاطراف حکم دے۔ اوس که چرے مفهوم مخالف هم مراد واخستلے شی نو بیا هم دا ایت د احنافو خلاف نه کوځی۔ ځکه چه په قصاص فی الاطراف کښی د ازاد اعضاء د غلام په بدله کښی او د سړی اعضاء د ښځے په بدله کښی نه شی پریکولے۔ قاله الشیخ روح الله تعالیٰ روحه. دا خو د قصاص حکم وو یعنی د نفس قصاص او د اطراف قصاص اوس وړاندے د فَمَنۡ عُفِیَ لَهٗ نه د دیت او خون بها بیان دے (د نفس دیت او د اطرافو دیت)

۳۳۰ د مَنۡ نه مراد قاتل دے او د لَهٗ ضمیر د هغه طرفته راجع دے او په مِنۡ اَخِیۡهِ کښی ضمیر مجرور د مَنۡ طرفته راجع دے او د اَخِیۡهِ نه مراد مقتول دے او د مقتول د طرفه د معافئ مطلب دا دے چه د هغه وارثان معافی اوکړی مقتول ته د قاتل رور وئیلو سره ځکه ذکر کړو چه د قاتل په زړه کښی د شفقت او ندامت جذبات پیدا شی چه ده څوک وژلے دے هغه څه بل څوک نه وو۔ بلکه په دین او بشریت کښی ده ورور وو۔ سماه انما استعطافا بتذکیر اخوة البشریة والدین (روح ص ۵۰ ج ۲)

۳۳۱ په شَیۡءٌ کښی تنوین د تنکیر دپاره دے۔ مطلب دا دے چه د مقتول د وارثانو د طرفه بتول هرڅه معاف کول کښی څه تنګی نشته۔ که لږ شان معافی ورکړے شی۔ مثلاً قصاص معاف کړے شی او دیت واخستلے شی۔

۳۳۲ د صلح کیدلو په صورت کښی ئے د قاتل او مقتول د دواړو په وارثانو کښی د ښه سلوک تلقین اوکړو یعنی د مقتول وارثان د هم په معقول طریقه مطالبه اوکړی دا سے نه چه د دویم فریق تنګولو دپاره د دیت په مطالبه کښی سختی اوکړی او نه د د زیاتی مطالبه کوی۔ داشان قاتل له هم پکار دی چه هغه مقرره رقم د معاهدے مطابق ادا کړی او ټال متول (تاخیر) د نه کوی۔ ذٰلِکَ تَخۡفِیۡفٌ مِّنۡ رَّبِّکُمۡ۔ ذٰلِکَ اشاره ذکرشوی

حُکم طرف ته دهٔ یعني د عفو او دِیت مشروعیت د الله د طرفنه تخفیف او مهربانی دهٔ چه هغهٔ د خون بَها (دِیت) او معافئ صورتونه پیدا کړل ځکه چه د عفو په صورت کښې قاتل ته سهولت دے او د دِیت په صورت کښې د مقتول وارِثانو ته فائده ده. لما فی مشروعیة العفو تسهیل علی القاتل و فی شرعیة الدیة نفع لاولیاء المقتول (روح ۵۳)
فَمَنِ اعۡتَدٰی بَعۡدَ ذٰلِکَ الخ دا د هغه خلقو د پاره تخویفِ اُخروی دے چه د خُدائے دا واضح کښې و نه روستو د هغې نه تجاوز اوکړی مثلاً د قاتِل په ځائے بے گناه کس قتل کړی یا د معافئ او خون بَها وصولولو نه روستو قاتل قتل کړی یا په بے گناه باندے د قتل الزام اُولګوی او په هغهٔ باندے د دروغو دعوٰی دائِر کړی۔

۳۳۴ه قصاص اګرچه په ظاهِر ګران او بد معلومیږی، لیکن عقلمند او صاحب عقل خلق په دے خبره پوهیږی چه قصاص خو د ژوند باعث دے ځکه چه قِصاص د ویرے نه به قاتِل د قتل نه منع شي او د اشان به د قاتِل او مقتول روح بچ شي. د اشان قتل سره د قاتِل او مقتول په قبیلو کښې چه د دُشمنئ او انتقام دکوم اور بَلید لو خطره ده هغه به هُم مړ شي او د اشان به د دواړه خاندانونه د قتل او خونریزئ نه بچ شي او په ارام سره به ژوند تیروی. د دے وجے نه یے اوفرمائیل چه اے عقلمندو! قصاص بد څیز نهٔ دے بلکه دا خو ستاسو د روحونو د حفاظت ضمانت او ستاسو د ژوند بیمه ده۔ لَعَلَّکُمۡ تَتَّقُوۡنَ ۝ قصاص سره خو به یو طرفته تاسو په دُنیا کښې د قتل او وِیجے ټوټولو نه بچ شئ. او بل طرف ته به په اٰخرت کښې د قتل او فساد فی الارض د عذاب نه بچ شئ۔

۳۳۵ه کُتِبَ عَلَیۡکُمۡ الخ دلته د خیر نه مراد مال دے. څنګه چه په یو بل ایت کښې دی وَمَا تُنۡفِقُوۡا مِنۡ خَیۡرٍ (بقره ع ۳۷) او د معروف نه مراد عدل او انصاف دے یعنی په وصیّت کولو کښې د باقی وارِثانو هُم خیال اُوساتئ چه د هغوی حق تلفی اُونشی. حقًا عَلَی الۡمُتَّقِیۡنَ ۔ د متقین نه مراد مؤمنان دی۔ او د متّقین تعبیر سره یے دے طرفته اشاره اوکړه چه د وصیّت حُکم او د اشان د نورو احکامِ الٰهی رعایت د مُتّقیانو او پرهیزګارانو خوئ دے۔ وضع المظهر موضع المضمر للدلالة علی ان المحافظة علی الوصیة والقیام بها من شعائر المتقین الخائفین من الله (روح ۵۵) فَمَنۡ بَدَّلَهٗ بَعۡدَ مَا سَمِعَهٗ الخ بَدَّلَهٗ او سَمِعَهٗ کښې منصوب ضمیرونه ایصاء طرفته راجع دے کوم چه د ماقبل نه مفهوم دے. اِثۡمُهٗ کښې ضمیر تبدیل طرفته راجع دے کوم چه په بَدَّلَهٗ کښې ذِکر شوید ے. مطلب دا دے چه کوم سړے د مړی وَصِی یا د وصیّت ګواه دے که چرے دا خلق روستو د مړی په وصیّت کښې بدلون اوکړی یا بالکل د وصیّت نه انکار اوکړی نو د دے تبدیل او انکار ګناه به د دے بدلون راوستونکو باندے دی. اِنَّ اللّٰهَ سَمِیۡعٌ عَلِیۡمٌ ۝ الله تعالٰی د وصیّت کوونکو او په وصیّت کښې د بدلون راوستونکو اقوال او افعال آوری او په هغې خبر دے. او هغه به د هغې مطابق هر یو ته سزا ورکوی.

۳۳۱ د جَنَفٌ معنی ده د حق نه ناحق طرفته میلان. ولته د دے نه بلا قصد غلطئ سره میلان عن الصواب مراد دے او د اِثْمًا نه قصدً میلان عن الصواب مراد دے مطلب دا دے چه که چرے بل کوم انسان سره ویره وی چه وصیت کونکے به غلطئ سره یا عمدًا په وصیت کښې د شرعی ضابطے خلاف ورزی کوی یا د نورو وارثانو حق تلفی کوی نو په هغه باندے لازم دی چه د وصیت کونکی رهنمائی اوکری او هغه ته د حق او انصاف لاره اوښائی دا سړے به ګنهګار نه وی بلکه د اجرو ثواب مستحق به اوګرځی. اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِیْمٌ. هغه ګنهګار هم معاف کوی. چه په نیک نیتئ سره اصلاح کونکی وی. په هغوی باندے به خپله خپل رحمت نه کوی. د والدینو او رشته دارانو دپاره د وصیت حکم ابتداءً په اسلام کښې وُو لیکن د میراث ایتونو سره دا حکم منسوخ شو اوس مور پلار د پاره او دا شان د نورو وارثانو دپاره وصیت جائز نه دے. ثم ان هذا الحکم کان فی بدء الاسلام ثم نسخ بآیة المیراث (روح ص۵۳ ج۲)

حضرت شاه ولی الله رحمة الله علیه چه کوم پنځه ایتونه منسوخ منلی دی د هغے نه یو دا دے. لیکن د بعضے مفسرینو په نزد دا ایت منسوخ نه دے ځکه چه صاحب د مدارك فرمائی چه دا ایت د مشرك مور پلار او د رشته دارانو په حق کښې نازل شوے دُو او حکم استحبابی دے د وجوب دپاره نه دے. وقیل غیر منسوخة لانها نزلت فی حق من لیس بوارث بسبب الکفر... فشرعت الوصیة فیما بینهم قضاءً لحق القرابة ندبًا (مدارك ص۷۳ ج۱) او حضرت شیخ رحمة الله علیه دا شان توجیه فرمائی چه دلته وصیت د مور پلار او خپلوانو دپاره نه دے بلکه والدینو او اقربینو ته دے. او د المعروف نه مراد حکم شرعی دے. او مطلب دا دے چه خپل مرګ په هغوی باندے لازم دی چه هغوی مور پلار او رشته دارو ته ددے وصیت اوکړی چه هغوی د ده ترکه یعنی پاتے مال د شرعی حکم مطابق تقسیم کړی.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا

اے ایمان والو! ۳۳۲ فرض کړے شوه په تاسو باندے روژه ۳۳۳ ځکه چه فرض

كُتِبَ عَلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴿۱۸۳﴾

کړے شوے وه تاسو نه مخکښې خلقو باندے ۳۳۴ ګکه دے دپاره چه تاسو پرهیزګار شئ ۳۳۵

اَيَّامًا مَّعْدُوْدٰتٍ ۭ فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَّرِيْضًا اَوْ

څو ورځے دی د شمار بیا چه تاسو نه څوك بیمار شی یا

عَلٰی سَفَرٍ فَعِدَّۃٌ مِّنْ اَیَّامٍ اُخَرَ ط وَعَلَی الَّذِیْنَ

مسافر نو په هغه باندے دهغو شمارل دی د نورو ورځو او ۳۲۱ په هغو کسانو چه طاقت لري

یُطِیْقُوْنَهٗ فِدْیَةٌ طَعَامُ مِسْکِیْنٍ ط فَمَنْ تَطَوَّعَ خَیْرًا

د روژے دهغه په ذمه بدله ده دیو فقیر د خوراك ۳۲۲ بیا چه څوك په خوښه سره اوکړی نیکی

فَهُوَ خَیْرٌ لَّهٗ ط وَاَنْ تَصُوْمُوْا خَیْرٌ لَّکُمْ اِنْ کُنْتُمْ

نو بنه ده هغه دپاره او چه روژه اونیسئ نو بهتره ده ستاسو دپاره که چرے تاسو پوهه

تَعْلَمُوْنَ ﴿۱۸۴﴾ شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِیْٓ اُنْزِلَ فِیْهِ

لرئ ف ۲ میاشت ۳۲۳ د رمضان ده په کوم کښ چه نازل شو قرآن

الْقُرْاٰنُ هُدًی لِّلنَّاسِ وَبَیِّنٰتٍ مِّنَ الْهُدٰی وَ

۳۲۴ هدایت دے دپاره دخلقو او دلیلونه دی روښانه د لارمونده او حق

الْفُرْقَانِ ج فَمَنْ شَهِدَ مِنْکُمُ الشَّهْرَ فَلْیَصُمْهُ ط وَمَنْ

د باطل نه دجدا کولو ف ۳ تو چه څوك بیامومی ستاسو نه دا میاشت نو ضرور دِ روژه اونیسی او څوك

کَانَ مَرِیْضًا اَوْ عَلٰی سَفَرٍ فَعِدَّۃٌ مِّنْ اَیَّامٍ اُخَرَ ط

او چه څوك وی بیمار یا مسافر نو هغه له شمیر پوره کول پکار دی د نورو ورځو

یُرِیْدُ اللّٰهُ بِکُمُ الْیُسْرَ وَلَا یُرِیْدُ بِکُمُ الْعُسْرَ وَلِتُکْمِلُوا

الله غواړی په تاسو باندے آسانی او نه غواړی په تاسو باندے گرانی او دے دپاره چه تاسو پوره

الْعِدَّۃَ وَلِتُکَبِّرُوا اللّٰهَ عَلٰی مَا هَدٰىکُمْ وَلَعَلَّکُمْ تَشْکُرُوْنَ ﴿۱۸۵﴾

کړئ شمیر او دے دپاره چه لوئی اوکړئ دخدائ په هغه څیزه چه تاسو ته یے هدایت اوکړو دے دپاره چه تاسو احسان ومنئ

نکات: ۔ ف ۱ د امر مُصلح روژے دبیان نه یے مخکښ د دیت (خون بها) او په ترکه کښ دبے انصافئ نه یے منع اوکړه او روستو یے وَلَا تَاْکُلُوْٓا اَمْوَالَکُمْ بِالْبَاطِلِ سره د حرام مال خوړلو نه منع کړه او په مینځ کښ یے د روژے ذکر اوکړو ځکه چه هغه د حرام خوراك نه منع کوونکے ده ۱۲ ف ۲ تشبیه په نفس وُجوب کښ ده په ټولو صفتونو کښ نه ده ۱۲ ف ۳ مفعول فیه ده د الصیام دپاره ۱۲ ف ۴ ای فعلیکم العدة ۱۲ ف ۵ کوم خلق د بوډا والی

دویمه نه په روژه نیولو کښې سخت مشقت برداشت کوي (شیخ فاني) ســـ دوباره ذکرو ترغیب دپاره دے معطوف علیه محذوف دے ای لیسهل الامر علیکم ولتکملوا الخ

موضح قرآن

ف یعني روژے سره په شعور او تمیز پیدا شي د زړه صبر کولو نو هرڅائي به صبر کوي ۱۲ ســ اول دا حکم نازل شو چه مریض او مسافر به نوري نو بیا د قضا راوړي او چه دچا طاقت شته دے بعضي به غذاره دے هغه لیکاردي چه قضا راوړي او بمقابله دی نو بیا طاقت نوي نو بالفعل د د روژے په بدله کښې یو فقیر ته د ډوډئ ورکړي او روژه خو بهتره ده بیا دے نه روستو چه کوم ایت نازل شو په هغے کښې فقط بیمار او مسافر ته رخصت ملاؤ شو د قضا. او بل چاته نشته. ف۳ دے نه معلومه شوه چه د رمضان میاشت دے نه مقرر شوه چه په دیکښې قران نازل شو نو د قران خدمت په دے میاشت کښې اول پکار دے په دے وجه نبي علیه السلام به دے میاشت کښې تراویح مقید کړے. او نبي علیه السلام څو ورځے جماعت اوکړو بیا یے اونکړو ځکه چه په قران کښې اشارات دي چه صریح فرض اونه کړځي.

فتح الرحمن:۔ دا مترجم وائي چه دے ایت مضمون تخییر دے په روژه او فدیه کښې او دا معنی منسوخ شوه هغه ایت سره چه متصل راځي. مترجم وائي چه د ایت معنی به دا شان وي او واجب ده هغه کسانو باندے چه طاقت لري د فدیے ورکولو فدیه ورکول چه عبارت دے د طعام دیو فقیر نه مراد صدقة الفطر ده او په حدیث کښې د هغے مقدار یو صاع د اوربشو یا نیم صاع غنم مقرر شوید دے نو ایت به محکم وي نه منسوخ او شاید د ایت معنی دا شان وي چه واجب ده په هغه کسانو باندے چه طاقت لري د قضاء راوړلو او قضا رانه وړي تر دے چه بل رمضان پرراشي. واللہ اعلم ۱۲

ف۲ فدیه ورکول چه عبارت دے دیو مسکین د طعام نه یوه ورځ سره او دا حکم منقول دے د قاسم او سعید بن جبیرؒ نه او د امام شافعيؒ هم دا مذهب دے او په دے صورت کښې هم محکم دے منسوخ نه دے. ف۳ یعني په رمضان کښې په یو ځل د لوح محفوظ نه د دنیا اسمان ته نازل شو او د هغه ځائ نه لږ لږ په نبي علیه السلام باندے په څو کلونو کښې نازل شو.

تفسیر

۳۲۱ دے ځائ نه د امور مصلحو بیان شروع کیږي د تېرولو نه مخکښې یے د روژے حکم اوکړو د دے نه مخکښې یے په وصیت کښې د بدلون سره د چا د حق د هلون منع اوکړه او مخکښې تللو سره یے په وَلَا تَاْكُلُوْٓا اَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ سره دوباره د حرام مال خوړلو نه منع اوکړه. د دے دواړو انتظامي امورو په مینځ کښې یے یو مصلح امر یعني روژه ذکر کړه ځکه چه روژه د حرام مال نه په اجتناب کښې مددګاره ده. په دے طریقه چه روژے سره د الله قرب حاصلیږي. د خدائ محبت او د نیکئ رغبت زیاتیږي. باطن پاک او صفا کیږي. او زړه د ګناهونو نه پاک او د حرام مال نه متنفر جوړیږي. هم د دے ځکه د پاره یے د روژے د احکامو په مینځ کښې اوفرمائیل.

وَاِذَا سَاَلَكَ عِبَادِیْ عَنِّیْ فَاِنِّیْ قَرِیْبٌ الخ ځکه چه یو ے روژے سره انسان داوړیا کالو د فاصلے نه هم زیات الله تعالےٰ ته نزدے کیږی.

۳۳۸ یعنی روژے صرف په تاسو باندے فرض شوی نه دی بلکه په تیرشوو امتونو باندے هم فرض وے او دا تشبیه په ټولو صفتونو کښ نه ده بلکه په نفس وجوب کښ ده. روژه د هر پیغمبر په شریعت کښ فرض شوې ده. لیکن د روژو شمیراو وخت کښ فرق وو. علی الانبیاء والامم من لدن آدم علیه السلام الی عهدکم فهو عبادة قدیمة (مدارک ص۷۵ ج۱) لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ. دلته یے د روژے غرض او مقصد بیان کړیدے چه روژه په ظاهره ګوره او تکلیف معلومیږی. لیکن په دے کښ ستاسو د پاره روحانی فائدے دی او د دے د ټولو نه لویه فائده دا ده چه تاسو په روژه نیولو سره متقیان او پرهیزګار جوړ شئ ځکه چه د روژے نیولو سره قوت شهوانی کمزورے شی. او د نفس خواهش نفسانی مرغوبات ته کم شی چه د هغے نتیجه به د ګناهونو نه بچ کیدل او د نیکئ په کارونو کښ د رغبت په صورت کښ ظاهروی او دا تقوی ده. د دے روحانی تزکیے نه علاوه روژے سره د بدن اصلاح کیږی د دے وجے نه د روحانی او مادی دواړه قسمه فائدے حامل ده. اَیَّامًا مَّعْدُوْدٰتٍ. دا د كُتِبَ مفعول فیه دے. نصب علی الظرف لکتب ای کتب علیکم الصیام فی ایام (قرطبی ص۲۷۶ ج۲) او د اَیَّامًا مَّعْدُوْدٰتٍ (د شمار څو ورځے) نه مراد د رمضان میاشت ده او دلے د حوصلے د اوچتولو دپاره اوفرمائیل چه روژے ډیرے زیاتے نه دی بلکه د شمار څو ورځے دی. فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَّرِیْضًا اَوْ عَلٰی سَفَرٍ الخ د روژے د فرضیت حکم ورکولو نه روستو یے د معذورینو دپاره د رعایت اعلان اوکړو چه کوم مسلمان بیمار وی او هغه د روژے نیولو طاقت نه لری یا یو سړی ته د رمضان په میاشت کښ اوږد سفر مخے ته راشی نو هغوی ته اجازت دے چه هغه په رمضان کښ روژه اونه نیسی او څومره روژے چه د هغه نه پاتے شی د رمضان نه روستو دِ د هغے قضا راوړی او د رمضان د روژو شمار دِ پوره کړی.

۳۳۹ د ځینے مفسرینو خیال دے چه په شروع کښ روژے علی التخییر فرض وے یعنی هر سړی ته اختیار وو چه که خوښه یے وی نو هغه دِ روژے اونیسی یا که چرے طاقت لری نو د هرے ورځے په عوض کښ دِ په یو مسکین باندے خوراك اوخوروی. روستو دا حکم منسوخ شو. د بعضو دا خیال دے چه دلته لَا مقدر دے او اصل عبارت داسے دے. وَعَلَی الَّذِیْنَ لَا یُطِیْقُوْنَهٗ. یا همزه د باب افعال د سلب ماخذ دپاره ده او د ضمیر منصوب نه مراد روژه ده. او په دے کښ د شیخ فانی، حامله او د ماشوم ورکوونکے ښځے حکم بیان شوے دے چه د روژے نیولو طاقت نه لری. حضرت شاه ولی الله فرمائی چه په یُطِیْقُوْنَهٗ کښ ضمیر منصوب فدیے طرفته راجع دے چه روستو مذکور دے لیکن رتبه مقدم دے ځکه چه هغه مبتدا، موخر دے او د دے نه مراد د صدقة الفطر حکم دے یعنی کوم خلق چه د صدقة الفطر طاقت لری په هغوی باندے

صدقة الفطر واجب دہ۔ (الفوز الکبیر) او مولانا انور شاه صاحب رحمة الله علیه فرمائی چه دلته د ایام بیض د روژو ذکر دے. او دا حکم هغے سره متعلق دے او اوس هم دا حکم باقی دے. د ایام بیض په روژو کښې تخییر دے که څوک غواړی نو روژے دِ اونیسی یا د هرے روژے په عوض کښې دِ فدیه ورکړی ځکه چه تر اوسه پورے د رمضان فرضیت نه وُو نازل شوے. وهذا الحکم ایضا یتعلق بالایام البیض ولا تعلق له برمضان (فیض الباری ص۱۳۵ ج۲) دویمه توجیه یې دا اُو فرمائیله چه د اطاق یطیق استعمال هغه ځائی کیږی چرته چه یو څیز ډیر مشقت او تکلیف سره برداشت کړے شی مطلب دا شو چه کوم خلق په تکلیف او مشقت سره روژے نیسی هغوی دِ فدیه ورکړی۔ په دے صورت کښې به د دے نه مراد د رمضان روژے وی او دا آیت به د شیخ فانی په حق کښې وی او په دے صورت کښې به د لا مقدر منلو یا د همزه سلب ماخذ منلو ته ضرورت نه وی. دا د علامه زمخشری منقول دے قال الزمخشری ما حاصله ان فعل الاطاقة بمادته لا یستعمل الا فیما یتعذر او یتعسر الخ (فیض الباری ص۹۳۶ ج۲)

لکله د فدیے معین مقدار خو بهرحال لازم دے. که څوک یو سړے په خپله خوښه په دے مقدار کښې اضافه اوکړی یا د یو په ځائی دوه مسکینانو ته خوراک ورکړی نو دا د هغه د پاره نور هم بهتر او د زیات اجر و ثواب موجب دہ. ای زاد علی مسکین واحد فاطعم مکان کل یوم مسکینین فاکثر وقیل من زاد علی القدر الواجب علیه فاعطی صاعا وعلیه مد (معالم ص۱۳۰ ج۱) وَاَنْ تَصُوْمُوْا خَیْرٌ لَّکُمْ. ان مصدریه دے او اَنْ تَصُوْمُوْا په تاویل د مفرد مبتداء دے. او خَیْرٌ لَّکُمْ د دے خبر دے. مطلب دا دے چه د سفر او بیمارئ په حالت کښې اګرچه په رمضان کښې د روژے نه نیولو اجازت دے. لیکن که چرے په سفر کښې زیات تکلیف احتمال نه وی او بیماری هم ډیره سخته نه وی نو روژه نیول بهتر دی. وان تصوموا فی السفر والمرض غیر الشاق (قرطبی ص۲۹۰ ج۲) اِنْ کُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ. د اِنْ جواب محذوف دے ای اخترتموه یعنی که چرے تاسو ته معلومه وی چه په روژه نیولو کښې څه فضیلت دے نو تاسو په سفر او بیمارئ کښې هم روژه نیسئ.

لکله شَهْرُ مبتداء دے او الذی الخ د دے صفت دے. او فَمَنْ شَهِدَ الخ د دے خبر دے او د شهر رمضان چونکه صفت اسم موصول دے. او د دے وجے نه هغه متضمن د معنی د شرط لره د دے وجے نه د هغے په خبر کښې د فاء داخلول صحیح دی. شهر رمضان مبتداء خبره الموصول بعده او فمن شهد والفاء لتضمنه معنی الشرط لکونه موصوفا بالموصول (روح ص۵۹ ج۲) دلته یې د رمضان د میاشتے فضیلت بیان کړیدے چه په کومه میاشت کښې د روژو نیولو حکم ورکړے شویدے. هغه ډیر فضیلت والا میاشت دہ. په دیکښې قرآن مجید نازل شو. په رمضان کښې د قرآن د نازلولو مطلب دا دے چه په رمضان کښې د دے د نزول ابتداء اُوشوه ځکه چه ټول قرآن خو په درویشت کالو کښې نازل شوید ے۔ ای ابتدا فیه انزاله وکان ذلک لیلة القدر (روح ص۶۱ ج۲)

۳۴۲ هُدًى او بینات دواړه د القرآن نه حال دے یعنی قرآن د ټولے دُنیا د خلقو دپاره د هدایت یو جامع پروګرام دے. او بیا د دهٔ دلائل داسے قوی او واضحه دی چه د هدایت ټولے لارے روښانه کوی او د حق او باطل په مینځ کښی فرق راولی. فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ، دچا په نزد چه اول د روژے په ځائی فدیه ورکول جائز وه د هغوی په نزد دا ایت د هغه حکم ناسخ دے. وَمَنْ كَانَ مَرِيضًا أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ الخ د مریض او مسافر حکم اګرچه مخکښی بیان شوے وو. لیکن د فَمَنْ شَهِدَ په صراحت سره د دے حکم د نسخ احتمال کیدے شو. د دے وجه نه یے د دے حکم اعادہ اوکړه. وتكريره لئلا يتوهم نسخه كما نسخ قرينه (روح ج۲ ص۶۳) يُرِيدُ اللَّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ. دا د الله تعالیٰ د ډیر مهربانئ او د وسعتِ رحمت نتیجه ده چه هغه د عُذر په حالت کښی د روژے معافی ورکړه او زمونږ د پاره یے اسانی پیدا کړه.

۳۴۳ د دے نه مخکښی یے درے احکام بیان کړیدی. اول خو دا حکم وو چه د رمضان ټولے روژے اونیسئ د سفر او بیمارئ په حالت کښی چه کومے روژے پاتے شی د رمضان نه روستو د هغے قضا راوړئ. دویم حکم د پریښودلے شوُو روژو د قضاء د طریقے متعلق وو. او دریم حکم د بیمارئ او سفر په حالت کښی د رُخصت وو. او س دلته یے په ترتیب سره د دریواړو علتونه بیان کړی دی. یعنی د رمضان د روژو د شمیر خیال ساتلو حکم یے د دپاره ورکړو چه ستاسو شمیر پوره شی او کومه ورځ کمه نه شی، او د قضاء طریقه یے بیان کړه د دے د پاره چه د الله تعالیٰ په دے احسان باندے د هغه د عظمت او لوئی اقرار اوکړئ. او د عُذر په حالت کښی یے تاسو ته د روژے نه نیولو رُخصت درکړو. د دے د پاره چه تاسو د هغه د انعام شُکریه اَدا کړئ. فقوله لتكملوا علة الامر بمراعاة العدة ولتكبروا علة ما علم عن كيفية القضاء. والخروج عن عهدة الفطرة. ولعلكم تشكرون علة الترخيص (مدارک ص۷۶ ج۱)

وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ ۖ أُجِيبُ

او چه کله ستا نه تپوس اوکړی بندګان زما زما (متعلق) نو زهٔ نزدے یم ۳۴۴ قبلوم دُعا د

دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ ۖ فَلْيَسْتَجِيبُوا لِي وَلْيُؤْمِنُوا

غوښتونکو ۳۴۵ کله چه زما نه دُعا اُوغواړی نو پکار ده چه هغوی حکم اُومنی زما ۳۴۶ او یقین

بِي لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ ﴿١٨٦﴾ أُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ

راوړی په ما باندے د دے د پاره چه په نیکه لاره باندے راشی ۳۴۷ حلال شوه تاسو له د روژے په شپه کښی

الرَّفَثُ إِلٰى نِسَآئِكُمْ ۭ هُنَّ لِبَاسٌ لَّكُمْ وَأَنْتُمْ لِبَاسٌ

بے حجابه کیدل د خپلو ښځو سره ۳۴۸ هغوی کپړے دی ستاسو او تاسو کپړے یئ د

لَّهُنَّ ۭ عَلِمَ اللّٰهُ أَنَّكُمْ كُنْتُمْ تَخْتَانُوْنَ أَنْفُسَكُمْ فَتَابَ

هغوی ۳۴۷ الله ته معلومه ده چه تاسو خیانت کولو د خپلو ځانونو سره نو معاف یے کړی

عَلَيْكُمْ وَعَفَا عَنْكُمْ ۚ فَالْئٰنَ بَاشِرُوْهُنَّ وَابْتَغُوْا مَا

تاسو ۳۴۹ او درګذر یے اوکړو ستاسو نه بیا ملاو یږئ خپلو ښځو سره او طلب کړئ هغه څه چه

كَتَبَ اللّٰهُ لَكُمْ ۠ وَكُلُوْا وَاشْرَبُوْا حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ

الله لیکلے دے ستاسو دپاره ۳۵۰ او خورئ او څکئ تر هغے چه صفا په نظر راشی تاسو ته تار

الْخَيْطُ الْأَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الْأَسْوَدِ مِنَ الْفَجْرِ ۠ ثُمَّ

د سپین صبا جدا د تور مزی د فجر نه ۳۵۱ بیا

أَتِمُّوا الصِّيَامَ إِلَى الَّيْلِ ۚ وَلَا تُبَاشِرُوْهُنَّ وَأَنْتُمْ

پوره کړئ روژه ترشپے پورے ۳۵۲ او مه یو ځای کیږئ ښځو سره ترڅو چه تاسو

عٰكِفُوْنَ فِي الْمَسٰجِدِ ۭ تِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ فَلَا تَقْرَبُوْهَا ۭ

اعتکاف کوئ په جماتونو کښ ۳۵۳ دا پولے ترلے شویدی د الله نو دے ته نزدے مه ورځئ

كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ اٰيٰتِهٖ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ ﴿١٨٧﴾

داشان بیانوی الله تعالیٰ خپل ایتونه خلقو ته دے دپاره چه هغوی بچ شی ۳۵۴ ځ

وَلَا تَأْكُلُوْٓا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ وَتُدْلُوْا بِهَآ إِلَى

او مه خورئ مال یو د بل په خپل مینځ کښ ناحقه ۳۵۵ او مه هغه رسوئ حاکمانو

۲۳ ع الْحُكَّامِ لِتَأْكُلُوْا فَرِيْقًا مِّنْ أَمْوَالِ النَّاسِ بِالْإِثْمِ وَأَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿١٨٨﴾

ته ۳۵۶ چه اوخورئ یو حصه د خلقو د مالونو په ظلم سره (ناحقه) او تاسو ته معلومه ده ۳۵۷ وځ

نکات: ۱ـ دا جمله معترضه روژه د قرب الٰہی ذریعه ده په دے وجه دے ورځو کښ الله تعالیٰ دیر زیات رابلئ ۱۲ ۲ـ امر مصلح دروښے نه روستو د مال متعلق دانتظامی

أمر ذکر ۱۲. ۳۳ په تأکلوا باندے عطف دے. ۳۴ متفرع دے په نفي باندے ۱۲.

موضح قرآن

ف۱ په پورتني ایت کښې یې اوفرمائیل چه د الله لوئي بیانوئ یعني اختر په ورځ چه کوم تکبیرونه ویلے شي په اوچت آواز دے دپاره دي په دویم ایت کښې اوفرمائیل چه الله لرے نه دے په اوچت آواز سره دبلے قائد دے دپاره دے. یوسړي د نبي علیه السلام نه تپوس اوکړو چه زمونږ رب لرے دے چه مونږ هغه ته آواز اوکړو یا نزدے دے چه په پټه خبره اوکړو په دے باندے دا ایت نازل شو.

ف۲ چه کله روژه فرض شوه نو مسلمانان به تول روژه بیجیا نو ته نزدے نه ورتلل او ډیر شو اختونو پښان به چه اوده شول نو بیا به یې خوراك نه کولو. دے منځ کښې ځنے کسان بچ پاتے نه شول. بیا یې نبي علیه السلام ته عرض اوکړو نو هغه وخت دا ایت نازل شو. یعني تا سو خپله غلا کوله الله منع نه کړئ. او خوراك تر صبا پورے رخصت دے چه کله سپینه کرښه خوره شي هغه صبح صادق دے او چه ترڅو رڼا اوچته پاتے وي لکه ستن پښان هغه صبح کاذب دے. لیکن په اعتکاف کښې به د ښځے او د وړنے نزدے نه ورځئ.

ف۳ مه رسوئ حاکمانو ته یعني د چا د مال خبر مه ورکوئ یا رشوت مه ورکوئ چه حاکم ملکرے جوړ کړئ او د چا مال اوخورئ.

فتح الرحمٰن

ف۱ مترجم وائي چه دے بنده په نزد ظاهر دا دے چه سوال یې اوکړو د میاشتو د حج چه شوال او ذي قعده او څه د ذي الحجه وي چه د حج ایام دے پورے مؤقت دي یا نه. او د جاهلیت د تحریفاتو نه یو دا هم وو. چه د احرام په حالت کښې به یې د دیوال د پاسه توپ وهلو او یا به یې دیوال سورے کړو اوکوره ته به راتلو او د دروازے په لاره به نه راتلو نو دا ایت نازل شو. والله اعلم.

تفسیر

۳۳۵ دا جمله معترضه ده چه دیکښې د الله تعالیٰ خپلو بندګانو ته د نزدیکت بیان دے. روژه چونکه د قرب الٰهي حاصلولو موجب ده په دے وجه د روژے نه روستو د قرب الٰهي ذکر شوید دے. دا شان په اول ایت کښې د الله تعالیٰ د بزرګئ او لوئي بیان وو. د دے وجے نه د هغه نه د الله نه د لرے والي تصور کیدے شو. د دے وجے نه صحابو عرض اوکړو چه اے د الله رسوله! زمونږ خدائ لرے دے یا نزدے. که چرے لرے وي نو چه هغه ته په زوره زوره آواز کوؤ. او که چرے نزدے وي نو چه په مزه آواز کوؤ. په دے باندے دا ایت نازل شو. د عَنِّیْ معنیٰ ده زما د قرب او بعد متعلق تپوس اوکړي چه ایا زمونږ رب نزدے دے یا لرے دے. هغوي ته اووایه چه زه نزدے یم لرے نه یم. د دے نه معلومه شوه چه الله تعالیٰ خپلو بندګانو ته هر ځائ نزدے دے چرته چه غواړئ د هغه عبادت کوئ او چرته چه غواړئ نو آواز ورته کوئ. لیکن مشرکان چه د الله تعالیٰ د نیکو بندګانو قبرونو ته ورشي هغوي ته د مافوق الاسباب حاجت رَوائي او مشکل کشائي دپاره آواز کوي. هغه د الله بندګان هلته هم د هغوي نه لرے وي. او د هغوي آواز او دعا نه آوریدے شي او نه د هغوي په حاجت پوره کولو قدرت لري.

۳۵۵ أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ. دا الله تعالیٰ دخپل قرب دلیل بیان کړی دے
دلته داجابت معنیٰ د قبلولو ده. او د دُعا معنیٰ عبادت ده او مطلب دا دے چه کوم مخلوق
خالص ځما عبادت کوی او د توحید پابند دی د هغوی عبادت او دُعا قبلوم نو دے نه
معلومه شوه چه د مُشرک عبادت او دُعا مردود ده. ای اقبل عبادة من عبدنی فالدعاء
بمعنی العبادة والاجابة بمعنی القبول (قرطبی ص ۳۰۸ ج ۲)
۳۵۶ ځنګه چه هغوی ما ته په حاجتونو کښې اواز کوی او زهٔ د هغوی اواز اورم دا شان
هغوی له هم پکار ده چه هغوی ځما د ایمان او توحید دعوت قبول کړی او ځما اطاعت
او فرمانبرداری اوکړی. فَلْيَسْتَجِيبُوا لِي اذا دعوتهم للایمان والطاعة کما انی اجیبهم
اذا دعونی لحوائجهم (مدارک ص ۷۵ ج ۱، روح ص ۶۳ ج ۲) وَلْيُؤْمِنُوا بِي او په خالص ایمان باندے د
ثابت قدم اوسیږی. او په دیکښې د شرک نه کوی. امر بالثبات والمداومة علی الایمان
(روح ص ۶۳ ج ۲) لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ. دے د پاره چه په هغوی باندے د رُشد او هدایت دروازے
پرانستے شی او هغوی د دین او دُنیا مصالح اوپیژنی. (روح ص ۶۴ ج ۲)
۳۵۷ په شروع شروع کښې چه کله د رمضان فرضیت نازل شو هغه وخت چه ځنګه د
ورځے د خوراک څکاک او جماع نه د ځان ساتلو حکم وو دا شان د شپے هم د دے څیزونو
نه اجتناب لازم وو صرف د وړه اجازت وو چه د نمر پریوتلو په وخت د روژه ماتی
نه روستو تر اوده کیدو پورے د خوراک څکاک او جماع کولو اجازت وو. یو ځل داوده
کیدو نه روستو به اجازت نه وو. د دے تنګئ د وجے نه به ځینې وخت صحابو ته ډیر تکلیف
پیښیدلو. ځنګه چه د قیس بن صرمة انصاری رض واقعه ده چه هغه په روژه دار وو او
په باغ کښې به یے تول ورځ مزدوری کوله د روژه ماتی په وخت کور ته راغے هغه ځینې بی بی
نه د خوراک څهٔ څیز اوغوښتلو چونکه څهٔ څیز موجود نه وو. په دے وجه د هغه بی بی
د هغه نه د څهٔ څیز راوړلو د پاره لاړه چه کله واپس راغله او څیز یے راوړل نو هغه د ورځے
ستړے ستومانه اوده شوے وو په دے وجه هغه اوس څهٔ اونه خوړل. صبا بیا روژه
نیولے وو. راتلونکے ورځ چه کله د غرمے وخت شو نو بیهوشه شو. دا واقعه نبی علیه السلام
ته بیان کړے شوه. نو په دے باندے دا ایت نازل شو. (قرطبی ص ۳۱۴ ج ۲) لَيْلَةَ الصِّيَامِ د
الرفث مفعول فیه دے. او د الرفث نه جماع مراد ده. والرفث کنایة عن الجماع لان
الله عزوجل کریم یکنی (قرطبی ص ۳۱۵ ج ۲) یعنی اوس د روژے په شپو کښې د ښځو سره مشغولتیا تاسو
د پاره حلاله کړے شوے ده.
۳۵۸ یعنی اوس د شپے په وخت د ښځے او خاوند په خپلو کښې اختلاط جائز دے په
عربئ ژبه کښې د لباس معنیٰ راحت او سکون هم راځی. د حضرت ابن عباس رض نه نقل دی.
ای هن سکن لکم وانتم سکن لهن قاله ابن عباس (روح ص ۶۵ ج ۲) یعنی ښځے ستاسو د پاره
د ارام او سکون باعث دی او تاسو د هغوی د پاره.
۳۵۹ خیانت په اصل کښې د وتدے نه پوره کولو نه عبارت دے. الخیانة عبارة عن

عدم الوفاء بما یجب علیه (کبیر ج٥) مطلب دا دے چه الله پاك ته معلومه وه چه که چرے
د رمضان په شپو کښې د جماع د حرمت حکم باقي پاتے شوے وے نو تاسو به دا نه وو
پوره کړے او تاسو نه به ددے حکم خلاف ورزي کیدلے په دے وجه الله تعالیٰ د جماع
د حرمت حکم پورته کړو او د شپے په وخت د سحر نه سره د مباشرت اجازت ئے ورکړو دے
نه معلومه شوه چه تر اوسه پورے د صحابه کرامو نه ددے حکم خلاف ورزي نه وه شوې
ان المراد علم الله انکم کنتم تختانون انفسکم لو دامت تلك الحرمة ومعناه ان الله یعلم انه
لو دام ذلك التکلیف الشاق لوقعوا في الخیانة وعلیٰ هذا التفسیر ما وقعت الخیانة (کبیر ج٥)
فَتَابَ عَلَیْکُمْ وَعَفَا عَنْکُمْ یعني الله پاك په تاسو باندے مهرباني اوکړه او مخکښے حکم ئے پورته
کړو وسع علیکم ان اباح لکم الاکل والشرب والمباشرة في کل اللیل (کبیر) څه مفسرین دا هم
لیکلي دي چه څنو صحابو خیانت کړے وو یعني د حکم خلاف ورزي شوے وه چه په هغه
سره الله تعالیٰ هغه حکم پورته کړو او د مخکښې خیانت ګناه ئے معاف کړه.
٣٥٠ د مباشرت نه مراد جماع ده. او مَا کَتَبَ لَکُمْ اکوم څه چه الله پاك ستاسو په
قسمت کښې لیکلي دي نه مراد اولاد دے. قال ابن عباس ومجاهد والحکم بن عتیبة وعکرمة
والحسن والسدي والربیع والضحاك معناه وابتغوا الولد (قرطبي ج٢) یعني اوس اجازت دے
د شپے خپلو ښځو سره مباشرت کوئ او خدائ چه کوم اولاد ستاسو په قسمت کښې لیکلے دے
هغه تلاش کوئ. په دے ایت سره دے طرفته اشاره ده چه د مباشرت نه د جنسي تسکین
نه علاوه د ټولو نه لوئ مقصد د نسل زیاتول دے. وَکُلُوا وَاشْرَبُوا. یعني اوس د شپے په
وخت د ښځو سره د مباشرت نه علاوه تاسو ته د خوراك څښاك هم اجازت دے.
٣٥١ په دے ایت کښې د دریو څیزونو یعني د مباشرت او خوراك څښاك د اخري حد
او غایت بیان کړے شوے چه د هغه پورے دا درے واړه کارونه جائز دي. غایة اللذة للاشیاء
من الجماع والاکل والشرب (بحر ج٢) خَیْطُ اَلْاَبْیَضُ د سپینے کرښے نه مراد هغه اوږده کرښه مراد
ده چه د صبا په وخت د اسمان د غاړو نه رابنکاره شي. او د خیط اَلْاَسْوَد یعني د تورے کرښے نه مراد
د شپے تیاره ده. الخیط الابیض هو اول ما یبدو من الفجر المعترض في الافق کالخیط الممدود من الخیط
الاسود وهو ما یمتد من سواد اللیل (مدارك ج١) مِنَ الْفَجْرِ دا د الخیط الابیض بیان دے او په
دے بیان سره دے طرفته اشاره ده چه د سپینوالي نه خوره وره رڼا یعني د صبح صادق سپین
والے مراد دے چه د زمکے سره سره خوره کیږي او بیاض مستطیل یعني د صبح کاذب سپینه
مراد نه دے. کوم چه د صبح صادق نه مخکښې د یو اوږد خط په صورت کښې په اسمان ښکاره
شي. د تورے کرښے نه د سپینے کرښے د رابنکاره کیدو مطلب دا دے چه د شپے د تیارے نه
صبح صادق رڼا د افق سره سره ظاهره شي بس دے حد پورے یعني د صبح صادق ختلو
پورے مباشرت او خوراك څښاك جائز دے.
٣٥٢ اول ئے د روژے ابتداء بیان کړه اوس دلته ددے د ختم ذکر دے یعني د صبح
صادق نه واخله د شپے د ابتداء پورے روژه پوره کړئ. معلومه شوه چه شپه په روژه کښې

دافله نه ده. او شپه د نمر پریوتلو سره شروع کیږی. لهٰذا د نمر پریوتلو سره روژه ختمیږی. د نمر پریوتلو نه روستو د سرخئ غائب کیدو انتظار ته ضرورت نشته بلکه مکروه دی. څنګه چه په جاهلانو کښ مشهوره ده. فظاهر الاٰیة ان الصوم ینتهی عند دخول اللیل (کبیر ص ۲۶۵ ج ۲)

۳۵۳ په دے ایت کښ یے د اعتکاف حکم بیان کړیدے یعنی هسے خو د رمضان په شپو کښ د ښځے سره مُباشرت جائز دے لیکن د اعتکاف په صورت کښ د شپے هم مُباشرت جائز نه دے د مُباشرت نه مراد جماع ده که چرے د شپے په وخت معتکف د ښځے سره صحبت اوکړو نو د هغه اعتکاف باطل شو. تِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ. په تِلْكَ سره مذکوره احکامو طرفته اشاره ده. یعنی دا احکام د الله مقرر کړے شوی حدود دی. دے ته نزدے هم مه ورځئ. ای هذه الاحکام حدود الله فلا تخالفوها (قرطبی ص ۳۳۷ ج ۲)

۳۵۴ یعنی څنګه چه الله تعالیٰ د روژے احکام واضح واضح بیان کړی دی دا شان الله پاک ټول احکام واضح واضح بیانوی چه خلقو ته د الله د احکامو او اوامرو او نواهیو علم حاصل شی او هغوی د هغه د اوامرو او نواهیو د مخالفت نه بچ شی او پرهیزګار جوړ شی.

د اعتکاف مسائل :-

د احنافو په نزد د رمضان المبارك په اخری عشره کښ په یو داسے جُمات کښ د اعتکاف د پاره ناسته سُنّتِ مؤکّد ده چه په هغے کښ پنځه وخته مونځونه د جمعے سره کیږی. که چرے په یوه محله کښ یو سړے د اعتکاف د پاره کینی نو د نورو نه اعتکاف ساقطیږی. ځکه چه دا سُنّتِ کفایه دے. د اعتکاف د پاره جُمات او روژه شرط دی. د اعتکاف په حالت کښ د طبعی حاجتونو مثلاً خوراك ښکاك او قضائے حاجت نه بغیر د جُمات نه وتل جائز نه دی. د څه شرعی ضرورتونو د پاره هم د جُمات نه بهر تلل جائز دی. مثلاً یل جُمات ته د جُمعے د مانځه د پاره تلل. که چرے اعتکاف والا جُمات کښ د جُمعے مونځ نه کیدلو. او د جنازے مونځ وغیره. که چرے د یو طبعی یا شرعی حاجت د پاره د جُمات نه بهر لاړو نو د ضرورت نه زیات به جُمات نه بهر نه پاتے کیږی. که چرے بلا ضرورت د جُمات نه بهر پاتے شو نو د هغه اعتکاف به باطل شی. په کومو څیزونو سره چه روژه ماتیږی په هغے سره اعتکاف هم ماتیږی. د اعتکاف په حالت کښ نه دُنیوی خبرے جائز دی او نه بالکل چُپ اُوسیدل جائز دی بلکه په ذکر الله او تلاوتِ قرآن او صلوٰة او سلام کښ مشغول اُوسیدل پکار دی.

د قصاص او وصیّت دوه انتظامی امرونه بیانولو نه روستو یے یو امرِ مُصلح یعنی روژه بیان کړه. روژه چونکه د تقویٰ او طهارت ترغیب ورکوی. او د باطن تزکیه کوی چه د روژے په ذریعه مُسلمان د حلالو مرغوباتو نه د منع کیدو عادتی جوړ ولے شی. یعنی په روژه کښ د خدائی په حُکم سره د صُبحِ صادق ختلو او د نمر پریوتلو په مینځ کښ خوراك ښکاك او جماع منع ده. حالانکه دا څیزونه فی نفسه حلال دی. په روژه کښ د حلالو څیزونو

نه منع کولو سره د حرامو خیزونو نه د لرے اوسیدو او نیو کیدو چه په پیل اګر ے شوی نو ددے مناسبت په وجه سره لیے د روژے نه روستو د اکل حرام نه منع اوکړه.

۳۵۵ دلته د خوړلو نه مراد اخستل او قبضه کول دی. المراد من الاکل مایعم الاخذ و الاستیلا. (روح ص۶۹ ج۲) د باطل نه مراد هر هغه طریقه ده چه حرام وی او د شریعت په نظر کښ ناخوښه وی. والمراد من الباطل الحرام کالسرقة والغصب وکل مالم یاذن باخذه الشرع. (روح ص۶۹ ج۲) نو ددے تفسیر مطابق چه د توحید او د حق پټولو په بنا چه کومے نذرانے او منتے او تحفے وصول کړے شی هغه په هم د باطلو ذریعو د لاندے داخل وی. د هغه شان رشوت او دروغژن مدعی وکالت او نور په غیر شرعی پیشو سره چه کومه ګټه حاصله شی هغه ټول به ددے د لاندے راځی.

۳۵۶ ددے عطف په تاکلوا دے یعنی نه په غیر شرعی او حرام ذریعے سره دیو بل مال خورئ. او نه خپل مال د رشوت په طور حاکمانو ته ورکوئ. لِتَأْکُلُوا فَرِیْقًا مِّنْ اَمْوَالِ النَّاسِ بِالْاِثْمِ. حاکمانو ته د رشوت ورکولو مقصد همیشه دا وی چه کومه فیصله د خپل ځان خلاف کیږی هغه په خپل حق کښ فیصله کړے شی او په ناجائزه طریقه سره دا شان دیو اصلی حقدار حق تلفی اوکړی په غیر شرعی طریقے سره په هغے قبضه اوکړے شی. د رشوت ورکولو دا غلط مقصد الله تعالیٰ دلته ذکر کړیدے یعنی ددے ادنیٰ او کمینه غیر شرعی مقصد په خاطر حاکمانو ته رشوت مه ورکوئ.

۳۵۷ او تاسو ته ښه معلومه ده چه تاسو د بل رور حق تلفی کوئ او د هغه په مال باندے ناجائزه قبضه کوئ. ددے نه معلومه شوه چه که څوک یو سړے رشوت ورکړی. یا د چالاکئ په ذریعه جج یا قاضی باندے په خپل حق کښ فیصله اوکړی او د بل مال حاصل کړی. نو د قاضی فیصله اګرچه په ظاهره خو به نافذ شی لیکن د الله په نزد به هغه سړے سخت مجرم وی. او د هغه مال اخستل د ده دپاره حرام دی. ځکه چه د قاضی یا جج فیصلے سره حرام خیز نه حلالیږی. ومن الاکل بالباطل ان یقضی القاضی لک وانت تعلم انک مبطل فالحرام لایصیر حلالا بقضاء القاضی لانه انما یقضی بالظاهر وهذا اجماع فی الاموال (قرطبی ص۳۳۸ ج۲)

یَسْــَٔلُوْنَكَ عَنِ الْاَهِلَّةِ ۭ قُلْ هِيَ مَوَاقِيْتُ لِلنَّاسِ

ستاسو نه تپوس کوی حال د نوے میاشت ۳۵۸ او وایه چه دا وختونه مقرر شویدی خلقو

وَالْحَجِّ ۭ وَلَيْسَ الْبِرُّ بِاَنْ تَاْتُوا الْبُيُوْتَ مِنْ ظُهُوْرِهَا

دپاره او د حج دپاره ۳۵۹ ولا او نیکی دا نه ده چه کورونو ته راشئ د هغوی د شا له طرفه ۳۶۰

وَلٰكِنَّ الْبِرَّ مَنِ اتَّقٰى ۚ وَاْتُوا الْبُيُوْتَ مِنْ اَبْوَابِهَا ۪

ولیکن نیکي دا ده چه څوك او وېرېږي د الله نه او کورونو ته راځئ د دروازو نه ۲۶۱

وَاتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿۱۸۹﴾ وَقَاتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ

او د الله نه وېرېږئ دپاره د دې چه خپل مراد ته اورسېږئ ۲۶۲ ف او جنګ کوئ د الله په

اللّٰهِ الَّذِيْنَ يُقَاتِلُوْنَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوْا ۭ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ

لار کې هغه خلقو سره څوك چه جنګ کوي تاسو سره او په ځان زیاتے مکوئ ۲۶۳ بېشکه الله نه خوښوي

الْمُعْتَدِيْنَ ﴿۱۹۰﴾ وَاقْتُلُوْهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوْهُمْ وَاَخْرِجُوْهُمْ

زیاتے کوونکي ۲۶۴ او قتل کړئ هغوی کوم ځاي کښې چه بیا مو مومئ ۲۶۵ او اوباسئ هغوی د

مِّنْ حَيْثُ اَخْرَجُوْكُمْ وَالْفِتْنَةُ اَشَدُّ مِنَ الْقَتْلِ ۚ وَلَا

کوم ځاي نه چه تاسو ویستلي یئ او د دین نه بے لارے کول د وژلو نه هم زیات سخت دی ۲۶۵ او مه

تُقٰتِلُوْهُمْ عِنْدَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ حَتّٰى يُقٰتِلُوْكُمْ فِيْهِ ۚ

او جنګ مه کوئ دوي سره د مسجد حرام په خوا کښې ترڅو چه هغوی جنګ او نکړي تاسو سره د دے ځاي کښې

فَاِنْ قٰتَلُوْكُمْ فَاقْتُلُوْهُمْ ۭ كَذٰلِكَ جَزَاۗءُ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۱۹۱﴾

بیا که چرے هغوی پخپله جنګ اوکړي تاسو سره نو هغوی قتل کړئ هم داده سزا د کافرانو ف

فَاِنِ انْتَهَوْا فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۹۲﴾ وَقٰتِلُوْهُمْ

بیا که چرے هغوی منع شول نو الله بېشکه ډیر بخښونکے نهایت مهربان دے ۲۶۶ ف او جنګ

حَتّٰى لَا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ وَّيَكُوْنَ الدِّيْنُ لِلّٰهِ ۭ فَاِنِ

کوئ دوي سره ترڅو چه پاتے نشي باقي فساد او حکم پاتے وي د الله پاك بیا که چرے هغوی

انْتَهَوْا فَلَا عُدْوَانَ اِلَّا عَلَى الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۹۳﴾

منع شي نو بیا چا باندے زیاتے نشته مګر په ظالمانو باندے ۲۶۷ ف

نکات: ۱- ۲۶۱ د امر مصلح متعلق یو سوال روژه چه کله د قرب الٰهی یوه ذریعه ده. نو ایا د رمضان د میاشتے تخصیص ضروري دے یا د بلے کوم میاشتے د بدل روژے ...

اُونبولے شی ؟ ۲ زجرد ا سوال دا سے اُلټه دے څنګه چه کورو ته د شاته دا خلیدل دولے نیو سوتو ته پرهیز اوکړئ ۳ د اُمورِ انتظامیه سره د امرِ مصلح نه روستو د اصلی مقصد (امرِ جهاد) بیان اول حل ۱۲ ۴ دقتال اول عِلت ۱۲ ۵ تعلیلیه ۱۲ ۶ مراد شرک دے دقتال دوېم علت ۱۲ ۷ مراد شِرک دے ۱۲ ۸ د مُشرکینو د پاره یا اسلام دے یا قتال ۱۲

موضح قرآن

ف۱ خلقو د نبي علیه السّلام نه تپوس اوکړو چه څهٔ وجه ده چه سپوږمئ په یو حالت پاتے نهٔ وی الله پاک جواب ورکړو چه په دے باندے حالات موږ بدل کړل دے د پاره چه د میاشتے حد مقرر شی - بیا د میاشتو نه کال جوړ شی په دے باندے د خلقو د معاملو او د الله د عبادت وخت مقرر شی. عبادت کوم چه کال باندے مقرر دے یو روژه ده چه د هغے حُکم مخکښې شو. دوېم حج د هغے حُکم مخکښې شروع کیږی. د کُفارو د غلطو نه یوه دا وه چه کله به د کور نه اووتلو او احرام به یے اوتړلو د حج او بیا به څهٔ ضرورت پیش شو چه کور ته لاړ شی نو په دروازه باندے به نهٔ راتلو په چهت به اوختلو او راتلل به الله تعالیٰ دا غلط اوګرځول.

ف۲ د حج سره دا هم ذکر کیږی چه د حضرت ابراهیم علیه السّلام د وخت نه د امان ځائ وو که چرے دلته به چا یو دُشمن هم بیا موندهٔ نو هیڅ به یے ورته نهٔ وئیل او د حج اول او اخر دے میاشتے ذی قعده، ذی الحجة او محرم او څلورم رجب چه هغه هم د زیارت وخت وو. دا څلور میاشتے د امان وخت وو چه په ټولو عربو کښې به لارے جاری وے او جنګ به بند وو - الله تعالیٰ د دے حُکم فرمائی. د دے په مینځ کښې د جنګ نور حُکمونه او د جهاد اداب هم بیانوی. دا یے چه کوم اوفرمائیل چه څوک تاسو سره جنګ کوی هغوی سره جنګ کوئ او زیاتے مهٔ کوئ د دے معنیٰ دا ده چه په جنګ کښې ماشومان نابالغه او ښځے او بوډا کان قصدًا مهٔ وژنئ جنګ کونکی وژنئ ۱۲

ف۳ یعنی مکه د امان ځائ دے. لیکن چه کله هغوی ابتداء اوکړه او په تاسو یے ظلم اوکړو او د ایمان په راوړلو یے تاسو تنګ کړئ نو دا د قتل نه زیات ده اوس به د هغوی د پاره امان نهٔ وی پاتے چرته چه ځئ نو وژنئ یے اخر چه کله مکه فتح شوه نو نبی علیه السّلام حُکم اوکړو چه څوک وسله مخامخ کړی نو هغه قتل کړئ او باقی ټولو ته امن دے ۱۲

ف۴ یعنی هغه ټولو باندے که چرے اوس هم مُسلمانان شی نو توبه یے قبوله ده ۱۲

ف۵ یعنی جنګ د کافرانو سره د دے وجے نه دے چه ظُلم موقوف شی، او د دین نه څوک ګمراه نهٔ کړی، او د الله حُکم جاری پاتے شی - که چرے تابع شی نو د جنګ حاجت نشته او ایمان خو په زړهٔ باندے موقوف دے د زور د مُسلمانئ نه به څهٔ حاصل شی ۱۲

فتح الرحمٰن

ف۱ یعنی د دے راتلو سره به د حج احرام تړی. ف۲ یعنی د دری په مقابله کښې قتل جائز دے ۱۲

تفسیر: ۳۵۵ اَهِلَّة د هلال جمع ده چه د دے معنیٰ نوے میاشت ده. بعضے خلقو د نبی علیه السّلام نه تپوس اوکړو چه د دے وجه څهٔ ده چه سپوږمئ د نر پیشان

په بر حال نه وی د هرے میاشتے اول سپوږمئ باریکه شان وی. او بیا غټیږی غټیږی په خوارلسم تاریخ باندے پوره شی او بیا کمیدل شروع شی. تردے چه دوباره د اول په شان نرئ پاتے شی. ذکر ان رسول الله صلے الله علیه وسلم سئل عن زیادة الاهلة ونقصانها فی اختلاف احوالها (ابن جریر ص۱۰۲ ج۲)

۲۵۹ دا دهغه سوال جواب دے یعنی دا میاشت دخلقو دپاره په خپلو معاملاتو کښ د وختونو دمقررولو ذریعه ده. دا شان د دوی د تهولونه د لوئ مذهبی او سماجی اجتماع دحج تعیین هم ددے په ذریعه کیږی. بعضے مفسرینو لیکلی دی چه دمیاشت کمیدلو او زیاتیدلو متعلق چونکه سوال نامناسب او د موقع او محل مطابق نه وُو ددے وجے نه د دوی دسوال مطابق جواب ورنکړے شو. بلکه په جواب کښ یے د میاشتے دکمی زیاتی د حکمت بیانولو سره اشاره کړیده چه دداسے بیهوده او بے فائدے سوالونو او کاردونو سته اجتناب پکاردے. نکه چه دمثال په طور باندے ددوی یو فضول رسم یے وړاندے بیان کړو او وے فرمائیل چه داسے فضول کار په نیکئ کښ داخل نه دے لیکن حضرت شاه ولی الله رحمة الله علیه فرمائی چه بعضے خلقو داتپوس کړے وُو چه دحج دپاره د اشهر حج تعیین ضروری دے یا حج په نورو میاشتو کښ هم کیدے شی نو ددے جواب ورکړے شو چه دحج د میاشتو تعیین ضروری دے. لیکن په دے طریقه هم د ایت ماقبل سره هیڅ ربط نه ظاهریږی. په دے وجه داسے معلومیږی چه سوال دا وُو چه روژه بذات خود د الله دنزدیکت ذریعه ده. ددے وجے نه د رمضان میاشتے دلیدلو سره تخصیص نه ضروری دے. دمیاشت لیدلو نه بغیر د دیوے میاشتے دیرش روژے اُونیولے شی نو څه حرج دے؟ نو جواب ورکړے شو چه د رمضان تخصیص ضروری دے او ددے دپاره د میاشت دکمیدلو او زیاتیدلو سره دولس میاشتے مقرر کړے شویدی ددے دپاره چه هر سړے په اسانئ سره دیوے میاشتے ختمیدل او دبلے میاشتے اول اُوپیژنی.

۲۶۰ د جاهلیت په زمانه کښ به د عربو خلق د حج د احرام په حالت کښ خپلو کورونو کښ د دروازو نه نه داخلیدل. بلکه د مکان شا نه دیوال به یے سورے کړو یا به یے په دیوال را ډنګل اوکورته به داخلیدل او هغوی به دا یو لوئ عبادت ګنړلو داسلام نه روستو نوی مسلمانانو هم دخپل زوړ عادت مطابق داسے اوکړل نو الله تعالے په دے ایت کښ ددے غلطے طریقے نه منع اوکړه او دوی ته یے واضحه کړه چه دا غیر معقول حرکت د نیکئ او ثواب کار نه دے. ان ناسًا من العرب کانوا اذا حجوا لم یدخلوا بیوتهم من ابوابها کانوا ینقبون فی ادبارها الخ (ابن جریر ص۱۰۵ ج۲)

۲۶۱ یعنی نیکی دا نه ده چه تاسو ددے قسم جاهلانه رسمونو پابندی اوکړئ بلکه د نیکئ حقیقت خو تقوٰی ده. ددے وجے نه تاسو تقوٰی اختیار کړئ. یعنی دالله تعالے احکام په ځائ راوړئ او د کومو کارونو نه چه هغه منع کړیده د هغے نه بچ شئ دا د ما قبل دپاره یو تمثیل دے یعنی د سپوږمئ په باره کښ سوال کول بے معنیٰ او الټه

سوال دے بلکه دا شان ښکله چه د حج په موقعه باندے کورونو ته د شا د طرفه داخليدل چه اُلټه کار دے۔

۳۶۲ په دُنيا او اٰخرت کښې د فلاح او کاميابئ راز په خوفِ خُدا کښې پټ دے۔ د خدائي نه ويره او د هغه د مقرر کړے شوي ذرونه اٰئين اتباع کولو سره دِين او دُنيا کاميابي او کامراني حاصليدے شي۔ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ كُتِبَ عَلَيْكُمُ ٱلْقِصَاصُ نه تر دے ځائے پورے درے انتظامي اُمور قصاص ، وصيت او د پردي مال نه اجتناب او مصلح اُمر يعني د روژے بيان وو۔ اوس وړاندے د جهاد حُکم دے۔

ربط ۳۶۳ په دويمه حِصه کښې يے درے انتظامي اُمور بيان کړل ځکه چه د نظم او نسق او په خپل مينځ کښې د اتحاد نه بغير جهاد ناممکن دے۔ بيا يے يو مصلح اُمر بيان کړو چه د باطن صفائي د وي او په انتظامي اُمورو باندے په خوشحالئ سره عمل اوکړے شي۔ اوس وړاندے د اصل مضمون ذِکر دے يعني د قتال اُمر او دا قتال محض د الله توحيد د بلندئ د پاره دے۔ مُسلمانانو په مکه کښې پوره ديارلس کاله ډير د مظلوميت په حالت کښې تير کړل۔ د مشرکانو د طرفنه يے هر قسمه ضرر او تکليفونه برداشت کړل۔ اٰخر يے د مدينے طرفته هجرت اوکړو او لا بل ليکن دُشمنانو هلته هم په اٰرام باندے پرے نښودل تکليفونه به يے ورته رسول نو الله تعالٰے مُسلمانانو ته د خپل مدافعت د پاره د جنګ کولو اجازت ورکړو۔ ليکن دے سره يے درے شرطونه هم اولګول۔ اول دا چه په جنګ کښې به وړاندے والے نه کوئ او صرف په هغه صورت کښې به جنګ کوئ چه کله کافران په خپله جنګ شروع کړي۔ ظاهرهٗ من يناجزكم القتال ابتداءً و دفاعًا عن الحق (بحر ج۲ ص۶۵) دويم دا چه جنګ به صرف هغه چا سره کيږي څوک چه تاسو سره په ميدان جنګ کښې جنګيږي۔ يا دُشمنانو ته امداد رسوي۔ يا دُشمنانو ته د جنګ تدبيرونه ښائي او کوم خلق چه په جنګ کښې هيڅ قِسمه حِصه نه اخلي هغوي سره به تعرض نه کوي۔ د دواړو شرطونه د اَلَّذِينَ يُقَاتِلُونَكُم نه مفهوم دي۔ دريم شرط لَا تَعْتَدُوٓا۟ چه د حد نه تجاوز مه کوئ د دے متعلق د حضرت عمر بن عبد العزيز رحمة الله عليه قول دے لا تقاتل من لا يقاتلك يعني النساء ، والصبيان ، والرهبان (ابن جرير ج۲ ص۱۱۰) يعني کوم خلق چه د جنګ کولو قابل نه دي۔ يا په جنګ کښې شريک نه دي مثلاً ښځے ، بچي او د هغوي مذهبي رهنمايان وغيره هغه مه قتلوئ۔ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ (د الله په لاره کښې) دلته د سبيل الله نه مراد د الله دين او توحيد دے او د الله په لاره کښې د جهاد نه مراد دا دے چه د الله دين ته عزت حاصل شي او د توحيد کلمه اُوچته شي۔ اى جاهدوا لاعزاز الدين واعلاء كلمته (روح ج۲ ص۷۵) إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلْمُعْتَدِينَ ، دا حُکم د ما قبل علت دے يعني الله تعالٰی د مقرره حدودو نه تجاوز کوونکی نه خوښوي۔

۳۶۴ د هُمْ ضمير الذين يقاتلونكم ته راجع دے۔ ضمير المفعول عائد على الذين يقاتلونكم وهذا امر بقتلهم حيث ثقفتموهم عام في كل مكان حل او حرم الخ (بحر ج۲ ص۶۶) يعني کوم مشرکان چه تاسو

... تاسو ته د جنګ د پاره راوځي نو چه چرته هم ستاسو د هغوی سره ملاقات
... هغوی سره جنګ کوئ او قتلوئ يې که څه هم حرم کښې وي يا په حل کښې. وَ اَخۡرِجُوۡهُمۡ
مِّنۡ حَيۡثُ اَخۡرَجُوۡكُمۡ حَيۡثُ دلته تعليليه دے يعنې هغوی د مکے نه اوباسئ ځکه چه هغوی
... يا ظرفيه دے يعنې د کوم ځائ نه چه يې تاسو وِيستلی يئ د هغه ځائ نه
... اوباسئ. يعنې د مکے مکرمے نه يا حَيۡثُ تشبيه د پاره دے يعنې ځنګه چه هغوی
... يئ د مکے د زمکے نه داشان تاسو هم هغوی د هغه ځائ نه اوباسئ. مطلب دا
... د مشرکانو د قتل او اخراج نه چه کوم ممکن وي په هغه عمل اوکړئ. والمراد افعلوا
... من هذين الامرين فی حق المشرکين (روح ص ۲ ج ۲)
۳۰ وَ الۡفِتۡنَةُ اَشَدُّ مِنَ الۡقَتۡلِ علت دے او د فتنے نه مراد شرک دے. مشرکانو به مسلمانانو باندے
ظلم کړے وو چه هغوی د حرم کعبه هيڅ پرواه اُو نکړه او په د دی کښې يې جنګ شروع کړے وو
نو په دے باندے الله پاک اُو فرمايل چه تاسو په بيت الله کښې کوم شرک او بت پرستي کوئ
هغه خود قتل او د دينه څو ځلو نه هم زيات دے او دے نه زيات خراب دے. الله تعالٰی
خپل خليل حضرت ابراهيم عليه السلام ته حکم کړے وو چه هغه بيت الله د شرک نه پاک کړي
تاسو بيت الله د شرک او بت پرستئ مرکز ګرځولے دے اي شرکهم بالله اشد جرما من القتل
الذي عيروکم به فی شان ابن الحضرمي (بحر ص ۶۶ ج ۲) وَلَا تُقٰتِلُوۡهُمۡ عِنۡدَ الۡمَسۡجِدِ الۡحَرَامِ لږ په
دے ايت کښې يې مسلمانانو ته هدايت اوکړو چه هغوی د په حرم کښې د مشرکينو سره په جنګ
کښې پهل وړونکي نه کوي. ليکن که چرے مشرکان د حرم په حدودو کښې داخل شول او د
مسلمانانو سره يې جنګ شروع کړو. نو اوس د مسلمانانو د پاره هم جائز دي چه هغوی خپل
بچاؤ کولو د پاره د دوی سره جنګ اوکړي. كَذٰلِكَ جَزَآءُ الۡكٰفِرِيۡنَ ۝ د داسے ضدي او عنادګر
کافرانو سزا هم داده چه کله هغوی د کعبے په حرم کښې شر او فساد او قتل او خونريزۍ نه منع
نه شي نو هم هلته د د دوی خاتمه اوکړے شي.
۳۱ يعنې که چرے هغوی ايمان راوړي او شرک پريږدي او د جنګ او قتال نه منع شي. نو
الله تعالٰی به د دوی تير شوي ګناهونه معاف کړي او هغوی به په خپل رحمت کښې شامل کړي.
اي عن قتالکم بالايمان فان الله يغفرلهم بجميع ما تقدم ويرحم کلا منهم بالعفو عما اجترموا (قرطبي ص ۳۵۲ ج ۲)
وَقٰتِلُوۡهُمۡ الخ دلته هم د هُمۡ ضمير د عربو هغه مشرکينو طرف ته راجع دے او د فتنے نه مراد د
شرک دے يعنې د عربو مشرکينو سره تر هغے جهاد کوئ تر څو چه د عربو زمکه د شرک نه بالکل
خالي شوے نه وي او هر طرفته صرف د الله عبادت او بندګي شروع شي. ضمير المفعول عائد
علی من قاتله وهم کفار مکة والفتنة هنا الشرک وما تابعه من اذي المسلمين امروا بقتالهم
حتی لا يعبدوا غير الله ولا يسن بهم سنة اهل الکتاب فی قبول الجزية قاله ابن عباس (بحر ص ۶۶ ج ۲)
يعني لا يکون شرک بالله وحتی لا يعبد دونه احد (ابن جرير ص ۱۰۹ ج ۲)
۳۲ که چرے هغوی د شرک او کفر نه منع شي او تاسو سره جنګ بند کړي او دين اسلام او
توحيد قبول کړي نو بيا به په هغوی څه قسم زياتے نشي کولے. ليکن. دوی کښې چه څوک

ظالمان وی یعنی په شرک او کفر باندې قائم وی. او تاسو سره جنګیږی ده هغوی سره بیشکه جنګیږئ او هغوی وژنئ. فان انتهوا عن قتالکم و دخلوا فی ملتکم و اقروا بما الزمکم الله من فرائضه و ترکوا ما هم علیه من عبادة الاوثان (ابن جریر ص ۱۰۹ ج ۲) او د عُدوان نه دلته جنګ او سزا لے قتل مراد دی والمراد بالعدوان ههنا المعاقبة والمقاتلة (ابن کثیر ص ۲۲۵ ج ۱)

اَلشَّهْرُ الْحَرَامُ بِالشَّهْرِ الْحَرَامِ وَالْحُرُمٰتُ قِصَاصٌ فَمَنِ

د حُرمت والا میاشت بدله (مقابل) ده د حُرمت والا میاشتې ۳۶۸ او په ادب ساتلو کښې بدله ده بیا

اعْتَدٰى عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُوْا عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدٰى عَلَيْكُمْ

چا په تاسو باندې زیاتے اوکړو ۳۶۵ نو تاسو په هغه زیاتے اوکړئ څنګه چه هغه زیاتے اوکړو په تاسو باندې

وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ مَعَ الْمُتَّقِيْنَ ﴿۱۹۴﴾ وَاَنْفِقُوْا فِيْ

او ویریږئ د الله نه او پوهه شئ چه الله ملګرے دے د پرهیزګارانو ۳۶۶ او خرچ کوئ د الله

سَبِيْلِ اللّٰهِ وَلَا تُلْقُوْا بِاَيْدِيْكُمْ اِلَى التَّهْلُكَةِ ۛ وَاَحْسِنُوْا

په لاره کښې ۳۶۷ او مه غورځوئ خپل ځانونه په هلاکت کښې او نیکی کوئ

اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۱۹۵﴾ وَاَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلّٰهِ

بیشکه الله دوست لری نیکی کونکی ۳۶۸ او پوره کړئ حج او عمره د الله د پاره ۳۶۹

فَاِنْ اُحْصِرْتُمْ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ ۚ وَلَا تَحْلِقُوْا

بیا که چرے تاسو منع کړے شوئ نو په تاسو باندې کوم چه اسان وی د قربانئ نه ۳۷۰ او مه خروئ

رُءُوْسَكُمْ حَتّٰى يَبْلُغَ الْهَدْيُ مَحِلَّهٗ ۭ فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ

خپل سرونه تر څو چه اونه رسیږی قربانی خپل ځائ ته ۳۷۱ بیا چه څوک په تاسو کښې بیمار وی

مَّرِيْضًا اَوْ بِهٖٓ اَذًى مِّنْ رَّاْسِهٖ فَفِدْيَةٌ مِّنْ صِيَامٍ اَوْ

یا هغه ته تکلیف وی د سر ۳۷۲ نو بدله ورکړی د روژے یا

صَدَقَةٍ اَوْ نُسُكٍ ۚ فَاِذَآ اَمِنْتُمْ ۥ فَمَنْ تَمَتَّعَ بِالْعُمْرَةِ

خیرات یا قربانی ۳۷۳ بیا چه کله تاسو په ارام شئ نو چه څوک فائده واخلی د عمرے په یو ځائ کولو

إِلَى الْحَجِّ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ فَمَن لَّمْ يَجِدْ

د حج سره نو په هغه باندے ده څه چه آسان وی دهغه نه د قربانی نه ښلا بیا چه چا نه قربانی ملاو

فَصِيَامُ ثَلٰثَةِ أَيَّامٍ فِي الْحَجِّ وَسَبْعَةٍ إِذَا رَجَعْتُمْ

نه شی نو روژے دی اُونیسی درے د حج په ورځو کښی او اووه روژے چه کله واپس شئ ۳۷۷ کورته

تِلْكَ عَشَرَةٌ كَامِلَةٌ ۗ ذٰلِكَ لِمَن لَّمْ يَكُنْ أَهْلُهُ حَاضِرِي

دا لس روژے شوے پوره ۳۷۸ دا حکم هغه چا دپاره دے چه د چا کور والانه اُوسیږی ۳۷۹ ے

الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ ﴿۱۹۶﴾

مسجد حرام سره . او ویریږئ د الله نه او پوهه شئ چه بیشکه د الله عذاب سخت دے ف ول

نکات:- ۳۷۱ هغوی په اشهرِ حرم کښی تاسو سره جنګ کوی نو تاسو هم هغوی سره جنګ کوئ ۱۲ ۳۷۲ جهاد سره د الله ذکر اول ځل ۱۲ ۳۷۳ مال نه خرچ کولو سره هلاکیږئ ۱۲ ۳۷۴ دوویم امر مصلح حج ذکر چه بیت الله ته راشئ دُعا غواړئ الله به تاسو ته په مُشرکانو باندے فتح درکړی څنګه چه روژه د حرام مال خوړلو نه منع کوئ که ده د غسے بیت الله حج عالم دپاره د فتنا نه منع کوونکے دے ۱۲ ۳۷۵ ای علیکم ما استیسر ۱۲ ۳۷۶ الی الحج تعبیر دے طرف ته اشاره ده چه حج د عمرے سره نه وی بلکه ددے نه روستو وی لفظا ددے نه اصطلاحی تمتع مراد دے او قران په وَأَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ کښی ذکر شوے دے ۱۲ ۳۷۷ دے قران او تمتع ته نقم اخنسل داحنافو په نزد آفاقی پورے مختص ده د شوافعو په نزد په ذٰلِكَ سره هَدی یا د روژے تاوان طرف ته اشاره ده ۱۲

موضح قرآن

ف۱ یعنی که چرے یو کافر عزتمند مے میاشتے اُومنی چه به دے میاشتو کښی به تاسو سره جنګ نه کوی نو تاسو هم هغوی سره جنګ مه کوئ. او د مکے خلقو به په دے میاشتو کښی ظُلم کولو په مُسلمانانو باندے نو بیا مُسلمانان ولے کوتاهی کوی بلکه د حُدیبیے په سفر کښی د ذی قعدے میاشت وه نبی علیه السلام د عُمرے دپاره لاړو او کافران د جنګ دپاره موجود شول. دا آیت ددے وجے نه نازل شو چه مسلمانانو خطره کوله چه که چرے کافران په اشهرِ حُرم کښی جنګ شروع کړی نو مونږ به څه کوو.

ف۲ یعنی جهاد مه پریږدئ په دیکښی ستاسو هلاکت دے.

ف۳ دلته حُکم دے چه حج طریقه دا ده چه احرام اُوتړئ بیا د عرفے په ورځ عرفات ته حاضر شئ بیا د هغه ځائ نه بیجلاړ شئ نو شپه په مشعرِ حرام کښی تیره کړئ بیا د اختر په صبا منیٰ ته اورسیږئ جمرات (شیطانان) اُولئ او حجامت اوکړئ احرام لرے کړئ بیا مکے ته لاړ شئ د کعبے طواف اوکړئ بیا د صفا او مروه په مینځ کښی سعی اوکړئ بیا منیٰ ته راشئ دیے ورځے ایسار

شي هره ورځ شیطانان اُولي. بیا مکے ته لاړ شي طواف رخصت اوکړي او وطن ته لاړ شي او د عُمرے طریقه دا ده چه احرام اُوتړي په کومو ورځو کښې چه غواړي اُوکعبے طواف اوکړي او د صفا مروه په مینځ کښې سعي اوکړي بیا حجامت اوکړي او احرام پرانزي. او په حج او عُمره کښې زور ضروري نه ده لیکن د څه سبب په وجه دلته الله تعالیٰ درے سببونه ذکر کړل یو دا چه احرام یے اُوتړلو او هغه سړے منع کړے شو د مرض په وجه یا د دُشمن په وجه سره نو دے دچا په لاس به قرباني اُولیږي چه کله په مکه کښې قرباني ذبح شي نو دے به د احرام نه اُوځي اول به حجامت نه کوي. دویم دا چه د سر وینښتو نه ورته تکلیف رسیږي او عاجز شي د احرام په مینځ کښې حجامت اوکړي. نو دے بدله یا خو د قربانئ لیږل یا درے روژے نیول یا شپږو مسکینانو ته ډوډئ ورکول دي. دریم دا چه حج او عُمره جُدا جُدا نه کوي یو سفر کښې دواړه اُوکړي نو قرباني ضروري ده. دا قرباني که نه وي نو لس روژے به نیسي درے د حج په ورځو کښې او اووه روستو. او قرباني کم نه کم یوه چیلئ یو سړي د پاره او یوه غوا غوئي یا اُوښ د اووه کسانو نه او د حج او عُمرے یو ځائ کولو سره چه کومه قرباني راغله نو هغه د مکے په اُوسیدُونکو باندے نشته ۱۲

فتح الرحمٰن

ف۱ د دے ایت حاصل دا دے چه په مسجد حرام کښې ابتدا د قتل کول پکار نه دے او چه کله کافران شروع اوکړي نو د دوي په مقابله کښې جنګ کول پکار دے څکه چه د دے معنیٰ سره د مسجد او بنا د حُرمت سره اختلاف نه لري څکه چه ابتدا د مُسلمان وژل جائز نه دي. او که چرے ناحقه وینه توئ کړي. نو قصاصًا وژلے شي. او فقهاؤ د دے وجے نه تصریح نه ده کړے چه د حربیانو په مکه کښې اُوسیدل روستو د فتح مکے نه نشته.

ف۲ یعني په شروع سره لاړ میږي. ف۳ یعني په حج کښې به د جمرة العقبه رمي اوېشتل کوي. په مِنیٰ کښې او په عُمره کښې به سعي سره د صفا مروه په مینځ کښې په مکه کښې فارغ شي.

ف۴ یعني سپگے پکښې ډیرے وي او په دے وجه حلق کوي مخکښې د خپل ځائ نه اوو رسیدو نه.

ف۵ یعني د احرام ممنوعه اُمورو سره بے فائده واخستله.

ف۶ مترجم وائي چه په دے ایت کښې څو حُکمونه ذکر شویدي. وُجوب د اتمام حج او عُمره روستو د شروع نه. دُویم احصار حُکم اُو د احرام د اُمورِ ممنوعه د ارتکاب په وجه کفاره د مرض د عُذر په وجه سره. اُو ماهیت د متمتع. اُو د قربانئ وُجوب په متمتع والله اعلم.

تفسیر

۳۶۶ د کال په دولسو میاشتو کښې څلور میاشتے یعني محرم، رجب، ذی القعدة، ذی الحجة ته اشهر الحرم وائي او په دیکښې جنګ او قتال جائز نه وُو د ذی القعدے په میاشت کښې رسول الله صلی الله علیه وسلم د صحابؤ یو لوئ جماعت سره د عُمرے په قصد مکے مکرمے ته اُورسیدو نو د مکے مُشرکانو هغوي د حُدیبیے په مقام کښې منع کړل او په مُسلمانانو باندے یے د غشو او کانړو ویشتلو په ذریعه د عزتمنو میاشتو کښې د جنګ ابتداء اوکړه. هغه وخت په دواړو کښې دا معاهده اوشوه چه مُسلمانان به په راتلونکي کال کښې

سره اوکوی . راتلونکی کال کښې مسلمانان د عمرے د پاره لاړل نو په زړه کښې یې تردد پیدا شو چه که چیرے کافرانو مخکښې ولے اوکړو او د جنګ شروع یې اوکړه نو موږ به بیا څه کوو که چیرے جوابی کارروائی نه کوو نو دا هم مناسب نه ده او که کوو نو د عزت تمنو د میاشتې حرمتی ده نو الله تعالی اوفرمائیل چه په جوابی کاروایئ کښې په تاسو باندے هیڅ ګناه نشته . ځکه چه د عزت والا میاشت څو عزت والا د میاشتې په بدله کښې وی . که چیرے هغوی د دے میاشتو حرمت قائم اونه ساتلو او تاسو سره یې جنګ شروع کړو نو بیا نو هغه د دے میاشتو احترام ساقط دے . قاتلهم المشرکون عام الحدیبیة فی ذیقعدة قتالا خفیفا بالرمی بالسهام والحجارة فاتفق خروجهم لعمرة القضاء فیه فکرهوا ان یقاتلوهم لحرمته فقیل هذا الشهر بذلك وهتکه بهتکه فلا تبالوا به (روح ص ۷۵ ج ۲) وَالْحُرُمٰتُ قِصَاصٌ د عزت او حرمت والا شیزونه خو برابر او د عوض او معاوضے شیزونه دی . که چیرے هغوی د دے احترام کوی نو تاسو هم احترام کوئ . او که چیرته هغوی احترام نه کوی نو په تاسو باندے هم لازم نه دے .

۳۲۱ دا په ما قبل باندے متفرع دے یعنی که چیرے هغوی په تاسو زیاتے اوکړی مثلا په اشهر حرم کښې تاسو سره د جنګ ابتداء اوکړی . نو تاسو هم جوابی کارروائی اوکړئ لیکن ستاسو جوابی کارروائی به د دوی د ظلم او عدوان نه زیات نه وی . په عربی محاوراتو کښې د فعل د جزاء نه په نفس فعل سره تعبیر کولے شی . د دے محاورے مطابق دلته یې د مسلمانانو جوابی کاروایئ نه چه د مشرکینو د زیاتی وه اعتداء او زیاتی سره تعبیر کړیدے . وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ مَعَ الْمُتَّقِيْنَ . ځکه بنا شته اصول دی . د اسلام چه د دشمن نه انتقام اخستلو کښې یې هم خوف خدا په مینځ کښې کیښودو چه چیرے په دشمن باندے زیاتے اونشی . او بیا یې ورسره مسلمانانو ته اطمینان ورکړو چه که چیرے تاسو تقوی اختیار کړئ نو همیشه به ځما امداد تاسو سره وی .

۳۲۲ د جهاد د حکم نه روستو یې اوس دلته د الله په لاره کښې د خرچ کولو ترغیب ورکړیدے ځکه چه د خرچ نه بغیر جهاد ممکن نه دے . وَلَا تُلْقُوْا بِاَيْدِيْكُمْ اِلَى التَّهْلُكَةِ یعنی د الله په لاره کښې د خرچ کولو نه بخل او د جهاد د کار نه لاس اخستلو سره په خپلو لاسونو سره خپل ځان په هلاکت کښې مه اچوئ . بترك الغزو والانفاق فیه (روح ص ۷۷ ج ۲) ځکه چه د خرچ نه بغیر جهاد نشی کیدے او د جهاد نه بغیر نه توحید قائم کیدے شی او د مشرکانو زور ماتیدے شی . وَاَحْسِنُوْا او خپل ټول عملونه په ښه نیت او اخلاص سره اوکړئ . ځکه چه الله تعالی مخلصین ډیر خوښوی .

ربط ۳۲۳ د جهاد او انفاق نه روستو اوس دلته د یو امر مصلح بیان شروع کیږی د امور مصلحه ذکر ورسره کیږی . د دے د پاره چه د باطن اصلاح اوشی او د خدائ د احکامو تعمیل په طبیعت باندے بوجھ پریښه نه باسی . د جهاد نه روستو د حج ذکر کولو سره دے طرف ته اشاره ده چه تاسو ځما کور ته حاضر شئ ځما نه دعا غواړئ او د امداد درخواست اوکړئ . زه

په ستاسو امداد کوم او په مشرکانو باندے به تاسو ته فتح درکړم . او تاسو به تر قیامته پورے
قائم اولرم . ځکه چې د بیت الله حاضری د خلقو د پاره د قیام باعث ده ځنګه چه الله پاک
فرمائی جَعَلَ اللّٰهُ الْكَعْبَةَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ قِيٰمًا لِّلنَّاسِ (مائده ع ١٣). علامه نسفی رح
لیکلی دي چه که چرے یو کال یو انسان هم حج ته لاړ نشی نو ټول جهان به تباه شی. قیل لو ترکوه
عاما لم ينظروا ولم يؤخروا (مدارک ص ٣٥ ج ١) او د حج او عمرے د اِتمام نه مراد دا دے چه هغه سره د
فرائضو او واجبا تو نه ادا کړے شي. او په دیکښ سنتی اونکړے شی. او د لِلّٰهِ مطلب دا دے
چه حج محض د الله د رضا د پاره اوکړے شی . د حج نه تجارت یا نمائش (پل ته بنودل) مقصود نه
وی . و ادوهما تامين بشرائطهما وفرائضهما لوجه الله تعالىٰ بلا توان ونقصان (مدارک ص ٨٣ ج ١) اوس
وړاندے د احکامو جزوی تفصیلات ذکر کیږی.

٣٤٢ دلته ما موصوله دے او مِنَ الْهَدْيِ د دے بیان دے او د فا . نه روستو عليكم اسم
فعل محذوف دے او دا جمله د شرط جزاء ده په دے ایت کښ یے د احصار حکم بیان کړو . د
احصار نه مراد دا دے چه یو سړے احرام اوتړی او د حج یا عمرے په غرض د بیت الله طرف ته
ځی لیکن په لاره کښ د څه دشمن یا بیمارئ د وجے نه یا د لارے د څه بندش په بناء باندے
هغه بیت الله ته اونه رسیږی. نو اوس هغه خو هغه حج نشی کولے لیکن د احرام نه هم
بهر نه راتلل دی . د دے وجے نه دلته دا دے عازم حج ته یے د احرام پرانستلو طریقه بنودلے
ده چه هغه د د قربانئ یو څاروے حرم ته اولیږی چه په مقرره وخت باندے هغه د ده
د طرفنه ذبح کړے شی . هَدْی هغه څاروی ته وائی چه په بیت الله کښ د ذبح په طور
اولیږلے شی او په دیکښ هغه ټول څاروی جائز دی . کوم چه په قربانئ کښ جائز وی.

٣٤٣ د مَحِل نه مراد د حرم حدود مراد دی ځکه چې د حاجیانو د پاره د قربانئ ځائ دا
دے ای مکانه الذی یجب نحره فیه وهو الحرم (مدارک ص ٨٣ ج ١) سر خرئیل چونکه د احرام نه د بهر
راتلو علامه ده په دے وجے یے اوفرمائیل چه تر څو ستاسو یقین نه وی شوے چه ستاسو
هدایه د حرم حدودو ته رسیدلے ده تر هغے پورے سر خرئیلو سره د احرام نه بهر مه راځئ.

٣٤٤ دا په وَلَا تَحْلِقُوْا باندے متفرع دے . د بیمارئ حکم یے اوفرمائیل چه که چرے
څوک عازم حج بیمار شی او دا سے بیماری ورته اوکړی چه د هغے د وجے نه د وخت نه مخکښ د سر
خرئیلو ضرورت پیښ شی یا د هغه په سر کښ دانے ، تکلیف را اوخیژی چه د هغے د وجے نه
سر خرئیل ضروری شول.

٣٤٥ نو هغه د پاره جائز دی چه د وخت نه مخکښ سر اوخروی لیکن هغه د پاره به
د هغے شرعی فدیه ورکول وی او فدیه د درے شپږو نو نه یو څیز دے یا خو د درے ورځے
اوږیسی . یا د شپږو مسکینانو ته د صدقهٔ فطر (سر سایه) په اندازه غله ورکړی او یا د
یو څاروی قربانی اوکړی خواه چیلئ وی یا غوا یا د اوښ اووم حصه.

٣٤٦ اوس د دلته نه د امن د حالت د احکامو بیان شروع کیږی . د امن نه مراد دا دے
چه د احصار حالت نه وی . په دے ایت کښ الله تعالے د تمتع حکم بیان کړیدے د حج

عمرے کولو دوے طریقے دی. (۱) افراد یعنی اول د حج احرام اوتړی او حج ادا کړے شی او د حج نه پس شروع طریقه سره ختم کړی د عمرے احرام اوتړی او عمره ادا کړے شی. والافراد وهو ان یحرم بالحج ویعد الفراغ منه بالعمرة (روح المعانی ص ۴۸ ج ۲) یا د دے په عکس اوکړے شی یعنی اول عمره اوکړے شی او د هغے احرام ختم کړی بیا د حج احرام اوکړی حج په ځائی راوړی. دا خوری په دے سره دواړه په یو ځائی وی. (۲) قِران: قران دا دے چه د حج او عمرے احرام په یو ځائی اوتړی. دا احرام تړلو په وخت به د دواړو نیت اوکړی او په دعا کښے هم د دواړو نوم واخلی. او بیا به د حج احکام ادا کړی او دے سره یو ځائی به د عمرے احکام په ځائی راوړی. والقران هو ان یحرم بهما معًا ویاتی بمناسک الحج فیدخل فیها مناسک العمرة (روح)

(۳) تمتع: او هغه دا دے چه اول به د عمرے احرام اوتړی او د هغے احکام ادا کړی او بیا د مکے نه د حج احرام اوتړی او د هغے احکام ادا کړی. او بیا د حج احرام پرانزی. وهو ان یحرم بالعمرة فی اشهر الحج ویاتی بمناسکها ثم یحرم بالحج من جوف مکة ویاتی باعماله (روح) بیا د تمتع دوه قسمونه دی یو سره د سوق الهدی یعنی د قربانئ څاروے ورسره وی. دویم بغیر د سوق الهدی یعنی د قربانئ څاروے ورسره نه وی. د اول صورت حکم دا دے چه د عمرے ادا کولو نه روستو به احرام نه پرانزی. بلکه د مناسکِ حج ادا کولو نه روستو به دواړه احرامونه یو ځائی پرانزی. او په دویم صورت کښے به د عمرے ادا کولو نه روستو د سر وینته اوتراشی د عمرے د احکامو نه به حلال شی او بیا به په مکه کښے مقیم پاتے وی. د ترویے په ورځ یا د دے نه مخکښے به د مکے نه د حج احرام اوتړی او حج به ادا کړی. د هغے احرام به پرانزی. په دے آیت کښے د تمتع حکم بیان کړیدے چه کوم سړے تمتع اوکړی. په هغه باندے د یو څاروی قربانی لازم ده. ځنے مفسرینو دلته تمتع په لغوی معنی باندے محمول کړیدے. قِران یے هم په دیکښے شامل کړیدے. لیکن د آیت الفاظ د دے متحمل نه دی ځکه چه په آیت کښے اِلٰی د انتهاء د پاره دے او په دیکښے د عمرے نه حج طرف ته د منتقل کیدو ذکر دے او دا څیز صرف په تمتع باندے صادق کیدے شی نه چه په قِران باندے ځکه چه په قِران کښے حج او عمره دواړه یو ځائی ادا کولے شی. په دے وجه دلته صرف د تمتع ذکر دے او د قِران ذکر په وَأَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلَّهِ کښے راغلے دے ځکه چه واؤ د مطلق جمع د پاره دے. په دے وجه آیت اِفراد او قِران دواړو ته شامل دے. قاله الشیخ الانور رحمه الله تعالٰی.

ف۱۳ کوم سړے چه تمتع اوکړی لیکن د هدیے ورکولو طاقت نه لری نو هغه د پاره یے دلته دا رخصت صورت بیان کړو چه هغه به د دے په ځائی روژے اونیسی درے روژے د حج په ورځو کښے اونیسی او اووه روژے به د حج نه فارغیدلو نه روستو اونیسی. د واپس راتلو نه کور ته واپس راتلل مراد نه دے بلکه د افعالِ حج نه فراغت مراد دے. وقال ابو حنیفة المراد من الرجوع الفراغ من اعمال الحج والاخذ فی الرجوع (کبیر ص۴۳ ج ۲) لهذا که چرے څوک د حج نه فارغ شی او په مکه کښے یے اووه روژے اونیولے نو جائز دی.

۳۷۸ مفسرینو لیکلي دي چه دا محض تاکید دے یا د کَامِلَةٌ نه په فضیلت او ثواب کښې کمال مراد دے او دا ئے د هغې شبهے د ازالے دپاره اوفرمائیل چه کله چرے د چا په زړه کښې دا خیال پیدا شو چه د قربانۍ په ځای به لس روژے څه کار ورکړي دا خو د هغې په مقابله کښې ډیرے کمے دي نو دے فرمائیل چه کمے نه دي بلکه دا لس روژے به د ثواب او فضیلت په لحاظ سره د هدي برابر وي او د هدي پوره پوره بدل به وي۔

۳۷۹ په ذٰلِكَ سره اشاره تمتع طرفته ده کوم چه د فَمَنْ تَمَتَّعَ په ضمن کښې مذکور دے۔ ای تمتع بالعمرة الی الحج لمن لم یکن اهله حاضری المسجد الحرام (ابن جریر ص ۱۳۲ ج ۲) مطلب دا دے چه تمتع او دا شان قران صرف د هغه خلقو دپاره جائز دے څوک چه په مکه کښې نه اوسیږي۔ یعني د بهرنه راتلونکو دپاره مکه یعني د حرم په حدودو کښې اوسیدونکو دپاره جائز نه دے۔ امام شافعيؒ د ذٰلِكَ اشاره د هدي او بدل د هدي طرفته راجع کوي۔ او هدي یا بدل د هدي په آفاقي تمتع باندے د یو جنایت د وجے نه واجب ګرځوي په آفاقي باندے د خپل میقات نه د حج احرام تړل واجب وو۔ او د تمتع په صورت کښې هغه د میقات نه احرام اونه تړلو او بیت الله ته راغے او عمره یے ادا کړه۔ او س چونکه د حج احرام هغه د حرم نه تړلے دے او دا شان یے د ترك واجب ارتکاب کړیدے۔ لهٰذا د دے جنایت د وجے نه په هغه باندے هدي واجب ده۔ لیکن دا صحیح نه ده ځکه چه په دے صورت ذٰلِكَ عَلٰی مَنْ پکار وُو نه چه لِمَنْ ځکه چه هدي واجب ده او د واجب صله علیٰ راځي۔ وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ شَدِیْدُ الْعِقَابِ۔ دا الله په اوامرو او نواهیو کښې د هغه نه اوویریږئ۔ او دا خبره په ذهن کښې اوساتئ چه د نافرمانو دپاره د هغه عذاب ډیر سخت دے ځکه دپاره چه تاسو د هغه د نافرمانۍ نه بچ شئ۔

اَلْحَجُّ اَشْهُرٌ مَّعْلُوْمٰتٌ ۚ فَمَنْ فَرَضَ فِیْهِنَّ الْحَجَّ فَلَا

د حج څو میاشتے دي معلومے ۳۸۰ نو بیا چه چا لازم کړو دے کښې حج په ځان نو بے حجابه

رَفَثَ وَلَا فُسُوْقَ ۙ وَلَا جِدَالَ فِی الْحَجِّ ؕ وَمَا تَفْعَلُوْا

کیدل جائز نه دي د ښځے سره او نه ګناه کول نه جګړه کول د حج په زمانه کښې او کوم څه چه تاسو کوئ

مِنْ خَیْرٍ یَّعْلَمْهُ اللّٰهُ ؕ وَتَزَوَّدُوْا فَاِنَّ خَیْرَ الزَّادِ

نیکي الله هغه پیژني او د لارے توښه اخلئ ځکه چه بهتره فائده د زاد راه بچ کیدل

التَّقْوٰی ۫ وَاتَّقُوْنِ یٰٓاُولِی الْاَلْبَابِ ﴿۱۹۷﴾ لَیْسَ عَلَیْكُمْ

دي د سوال نه ۳۸۱ او شما نه اوویریږئ اے عقلمندوا هدل شو ګناه نشته په تاسو باندے

جُنَاحٌ اَنْ تَبْتَغُوْا فَضْلًا مِّنْ رَّبِّكُمْ ۭ فَاِذَآ اَفَضْتُمْ مِّنْ

چہ طلب کړئ فضل د خپل رب ۳۸۲ نو
بیا چہ د طواف د پارہ واپس شئ د

عَرَفٰتٍ فَاذْكُرُوا اللّٰهَ عِنْدَ الْمَشْعَرِ الْحَرَامِ ۠ وَاذْكُرُوْهُ

عرفات نه نو یاد کړئ الله نزدې مشعر حرام نه ۳۸۳
او هغه یاد کړئ څنګه

كَمَا هَدٰىكُمْ ۚ وَاِنْ كُنْتُمْ مِّنْ قَبْلِهٖ لَمِنَ الضَّاۗلِّيْنَ ۝۱۹۸

چه تاسو ته ښودلې لاره ښودنه او کړه او بیشکه تاسو وئ
د دې نه مخکښې ناخبره وئ

ثُمَّ اَفِيْضُوْا مِنْ حَيْثُ اَفَاضَ النَّاسُ وَاسْتَغْفِرُوا

بیا د طواف د پارہ راګرځئ د چیرته نه چه ټول خلق واپس کیږي ۳۸۴ نو او مغفرت اوغواړئ

اللّٰهَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝۱۹۹ فَاِذَا قَضَيْتُمْ مَّنَاسِكَكُمْ

د الله نه بیشکه الله بخښونکے مهربان دے ۳۸۵ نو بیا چه کله پوره کړئ د خپل حج کارونه

فَاذْكُرُوا اللّٰهَ كَذِكْرِكُمْ اٰبَاۗءَكُمْ اَوْ اَشَدَّ ذِكْرًا ۭ فَمِنَ

نو یاد کړئ الله څنګه چه تاسو یادول خپل پلرونه او نیکونه بلکه د دینه هم زیات ۳۸۶ بیا څخے

النَّاسِ مَنْ يَّقُوْلُ رَبَّنَآ اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا وَمَا لَهٗ فِي

انسان خو داسې دے اے ربه! راکړے موږ ته په دنیا کښې او هغه د پاره به په

الْاٰخِرَةِ مِنْ خَلَاقٍ ۝۲۰۰ وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّقُوْلُ رَبَّنَآ اٰتِنَا

اخرت کښې هیڅ حصه نه وي ۳۸۷ او څخے د دې نه داسې اے ربه د موږ! راکړے

فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّفِي الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ

موږ ته په دنیا کښې نیکي او په اخرت کښې نیکي او بچ کړے موږ د دوزخ

النَّارِ ۝۲۰۱ اُولٰۗىِٕكَ لَهُمْ نَصِيْبٌ مِّمَّا كَسَبُوْا ۭ وَاللّٰهُ سَرِيْعُ

د عذاب نه ۳۸۸ دے خلقو د پاره حصه ده د عملونو ئے نه او الله تعالیٰ زر

الْحِسَابِ ۝۲۰۲

حساب کوونکے دے۔

نکات سـ۱ ای وقت الحج ۱۲ سـ۲ ثم د تعقیب ذکری دپاره دے ۱۲ سـ۳ دحاجیانو اول قسم ۱۲ سـ۴ دحاجیانو دویم قسم ۱۲

موضح قرآن فـ۱ دحج دپاره د احرام تړلو دپاره وخت د شوال د اُولے ورځے نه تروه لویٔ اختر د شپے پورے دے. ددے نه مخکښې بهتر نه دے او حج او عمره لازمول احرام سره دی. احرام دا چه د شروع کولو نیت اُوکړی او په ژبه سره اُووائی لَبَّیْکَ الخ بیا چه کله په احرام کښې داخل شو نو پرهیز دِ اُوکړی سرے د ښځے د صحبت نه او د هر گناه نه او په خپل مینځ کښې د جګړے نه او د بدن ویښتنه خریئلو نه او د نوکانو پریکولو او د خوشبوئی لګولو نه او د ښکار کولو نه. او سړے دِ ګنډلے شوے کپړے نه اُغوندی او سر دِ نه پټوی. او ښځه دِ جامے اُغوندی سر دِ پټ ساتی لیکن په مخ دِ کپړه نهٔ اُچوی. او د کفارٔ یوه غلطی دا وه چه د خرچے نه بغیر به حج ته تلل او دا به یے د ثواب کار گنړلو سره د مالداری نه به یے د ځان سره خرچه نهٔ اُوړله الله پاک اُوفرمائیل چه طاقت مووی نو خرچه د ځان سره اُوړئ دده نه لویه فائده دا ده چه سوال به اُونکړئ.

فـ۲ گناه نشته چه طلب کړئ فضل د خپل رب یعنی د حج په سفر کښې د تجارت مال هم یوسئ روزی گټل منع نهٔ دی. خلقو په دیکښې شبه کړے وه چه شاید حج به قبول نهٔ وی ددے دپاره یے اُوفرمائیل.

فـ۳ دا هم د کفارٔ غلطی وه چه د مکے اُوسیدونکی به عرفات ته نهٔ تلل چه عرفات د حرم نه بهر دے. د حرم په حد بانده به ولاړ ول نو وے فرمائیل چه د کوم ځائ نه تول خلق طواف دپاره لاړشی نو تاسو هم لاړشئ او په مخکښې تقصیر بانده پښیمانه شئ.

فتح الرحمن فـ۱ یعنی شوال او ذیقعده او لس د ذی الحجه ۱۲ فـ۲ یعنی د سوال او د غلا کولو نه ۱۲ فـ۳ یعنی تجارت ۱۲ فـ۴ یعنی د عرفات نه نهٔ د مزدلفے نه ځکه چه قریشو تحریف کړے وُو ۱۲ فـ۵ ددے نه روستو الله د کافر او مؤمن تصویر بیانوی ۱۲

تفسیر سـ۳۸ د الحج نه مخکښې وقت مضاف محذوف دے یعنی د حج وخت معروف او مشهور میاشتے دی او هغه شوال، ذی قعده، د ذی الحجے لس ورځے دی. فَمَنْ فَرَضَ فِيهِنَّ الْحَجَّ. د فرض معنی دلته د مقرر کولو او لازمولو ده او د حج لازمولو نه مراد دا دے چه د حج احرام اُوتړی ای الزم نفسه فیهن الحج بالاحرام (روح ص۸۴ ج۲) د رَفَثَ نه مراد فحش کلام، جماع او ددے محرکات مثلاً ښکلول او مسه کول وغیره مراد دی. ای لا جماع ولا فحش فی الکلام (روح ص۸۶ ج۲) الجماع و دواعیه محظورة علی المحرم (ابوبکر جصاص) او د فُسُوْق نه د هر قسم غیر شرعی افعال ارتکاب مراد دے. ولا خروج عن حدود الشرع بارتکاب المحظورات (روح ص۸۶ ج۲) او جِدَال نه ملګرو او نوکرانو جګړه او سخت کلامی مراد ده. ولا الخصام مع الخدم والرفقة (روح ص۸۶ ج۲) او د فِي الْحَجِّ نه ایام حج مراد دی یعنی کوم سړے چه احرام اُوتړی او حج ته روان شی په ایام حج کښې ددے تولو خیزونو نه اجتناب کول پکار دے. وَمَا تَفْعَلُوا مِنْ خَيْرٍ يَعْلَمْهُ اللَّهُ ددے وجے نه به ستاسو هیڅ یوه نیکی نهٔ ضائع کیږی بلکه ستاسو د

اخلاص د درجو مطابق به تاسو ته د هرے یوے نیکئ بدله ملاویږی.

۳۸۱ ځینې خلق به د حج خرچه نغیر د حج په سفر باندے وتل او خپل ځان ته به یے متوکل وئیل. لیکن په لاره کښې به یے سوال کولو او په خلقو باندے به بوج شو نو دا ایت نازل شو چه د کور نه د سفر خرچه سره اُوخلئ. وکان اهل الیمن لا یتزودون ویقولون نحن متوکلون فیکونون کلا علی الناس فنزل فیهم (مدارک ص۸۰ ج۱) فَاِنَّ خَیۡرَ الزَّادِ التَّقۡوٰی. دلته د سوال او غیر غوختلو نه بچ کیدل مراد دی یعنی د ټولو نه بهتر توښه د خپل عزتِ نفس او خودداریٔ د حفاظت په خاطر د غیر غوختلو نه بچ کیدل دی. وتزودوا ما تبلغون به فان خیر الزاد ما تکفون به وجوهکم عن السوال (ص۲۵۳ ج ۲) او دا هغه زادِ راه ده چه انسان یے د خپل کور نه ځان سره وا خلی او لاړ شی نه چه تش په نوم توکل وَاتَّقُوۡنِ یٰۤاُولِی الۡاَلۡبَابِ. په ټولو احکامو کښې ځما تقوی اختیار کړئ او ځما نه سوا بل هیچا نه مهٔ ویریږئ ځکه چه کامل عقل هم دا تقاضا ده ای اخلصوا التقوی فان مقتضی العقل الخالص عن الشوائب ذلك (روح ص۸۵ ج ۲)

۳۸۲ دلته د فضل نه مراد تجارت او د معاش طلب دے. وهو الربح والنفع بالتجارة والکراء (مدارک ص۸۰ ج۱) د ځینې خلقو دا خیال وُو چه د حج په موقعه باندے تجارت کول مزدوری وغیره کول جائز نه دی داسے کولو سره حج باطلیږی ځکه چه دے سره په اخلاص کښې فرق راځی نو الله تعالیٰ دے خیال تردید اوکړو او په ایامِ حج کښې په مکه مکرمه کښې د معاش طلب کولو د پاره یے د تجارت او مزدوریٔ اجازت ورکړو. هذه الایة نزلت ردا علی من یقول لا حج للتجار والاجراء والجمالین (کبیر ص۲۵۵ ج۲).

۳۸۳ د مکے مکرمے نه تقریباً دولس میله فاصله باندے یو ډیر لوئ میدان دے د هغے نوم عرفات دے. د نهمے ذی الحجے په اوله حصه کښې ټول حاجیان دلته راځی او اخری وخت ماز یګره پورے په تکبیر او تهلیل او ذکر الله کښې مشغول اُوسیږی. د دے نوم د شرع په اصطلاح کښې وقوف عرفه دے او دا د حج ډیر لوئ رکن دے د نمر پریوتلو نه روستو دلته نه روانیږی او چه مزدلفے ته اُورسیږی د ماښام مونځ د ماسخوتن په وخت کښې د ماسخوتن سره یوځائ ادا کوَلے شی. د عرفات نه مزدلفے طرف ته تللو ته افاضه وئیلے شی او مشعر الحرام خو په اصل کښې هغه میدان دے چه د مزدلفے د دوؤ غرونو په مینځ کښې واقع دے لیکن د ذکر الله په حق کښې ټول میدان د مزدلفے مشعر حرام دے او د مشعرِ حرام تخصیص شرافت او فضیلت د پاره دے او دا میدان د مکے مکرمے نه شپږ میله فاصله باندے دے. هسے خو د حج په ټولو عملونو کښې د الله تعالیٰ د یادولو حکم دے. لیکن د مزدلفے په شپه کښې یے په خصوصیت سره حکم ورکړو او دے خبرے طرف ته یے اشاره اوکړه چه دا شپه د خپل قومی لوئ بیانولو او د ځان اُوچت برتریٔ د اظهار د پاره نه ده. او نه د نفسانی خواهشاتو او د جشن میلے د پاره ده ځنګه به چه د جاهلیت په زمانه کښې کیدل. د مختلفو قبیلو شاعرانو او خطیبانو به د قومی برتریٔ د اظهار د پاره قصیدے او خطبے وئیلے. وَاذۡکُرُوۡهُ کَمَا هَدٰىکُمۡ. بیا د الله تعالیٰ یاد د الله د نبیٔ د ښودلے شوُ طریقو مطابق کوئ. د خپل خواهش او خوښے نه نوے نوے طریقے

مه راو باسئی. وَاِنْ كُنْتُمْ مِّنْ قَبْلِهٖ لَمِنَ الضَّآلِّيْنَ ۝ یعنی د خدائی د رهنمائی او هدایت نه مخکې تاسو د دِین او ایمان نه غافله او ناخبره وئ. والمراد من الضلال الجهل بالایمان ومراسم الطاعات (روح ص ۸۹ ج ۲) نو الله تعالٰی خپل پیغمبر راولیږلو او تاسوبې د حج د افعالو او نورو احکامو نه خبر کړئ۔

۳۸۴ے قُریشو د جاهِلیت د زمانے نه خپل ځان د پاره یو امتیاز قائم کړے ؤ او هغه داؤ چه دے خلقو به خپل ځانونه د نورو خلقو نه غوره ګڼړل او د حج په موقعه بانده به د مزدلفے نه واپس راتلل حالانکه نور تول خلق به عرفات ته تلل او هلته به یې وُقوف کولو او واپس به راتلل، نو الله تعالٰی اُوفرمائیل چه بیا دا خبره هُم یاد ساتئ چه واپس د هغه ځائ نه راځئ کوم ځائ نه چه عام خلق واپس راځی یعنی د عرفات نه. اخرجه البخاری عن عائشة رضی الله عنها قالت کانت قریش ومن دان دینها یقفون بالمزدلفة وکانوا یسمون الحمس وکانت سائر العرب یقفون بعرفات (روح ص ۸۹ ج ۲) په دے آیت کښې ثُمَّ د تعقیبِ حُکمی د پاره نه دے بلکه محض د تعقیبِ ذِکری د پاره دے. ځکه چه د افاضے یعنی مزدلفے ته د تللو ذِکر خو مخکښې شوے دے اوس دلته یې د تاکید د پاره اُوفرمائیل چه بیا واوړئ چه د مزدلفے نه واپس مه راځئ بلکه تر کوم ځائ پورے چه نور خلق ځی یعنی عرفات پورے تاسو هُم د هغه ځائ پورے لاړشئ او د هغه ځائ نه ستاسو واپسی پکار ده۔

۳۸۵ے که چرے د حج په احکامو ادا کولو کښې یا د مؤقف په سِلسله کښې څه غلطی اوشی نو د هغے د پاره د الله نه استغفار اُوغواړئ ځکه چه هغه د توبه ویستونکو سره د رحمت او شفقت معامله کوی.

۳۸۶ے د جاهِلیت په زمانه کښې به چه د عربو مُشرکین د حج نه فارغ شول نو تول به یو ځائ کیناستل او د خپلو پلرونو او نیکونو صفتونه به یې کول او خپل خاندانی برتری به یې بیانوله او د خپلو مشرانو په کارنامو به یې فخر کولو. نو الله تعالٰی اُوفرمائیل چه څنګه به تاسو مخکښې د خپلو پلارانو لوئی بیانوله هغه شان اوس د الله تعالٰی حمد و ثنا بیا کوئ بلکه د الله تعالٰی ذکر تاسو د خپلو پلرونو او نیکونو نه هُم زیات بیا ئوئ. اوس یې وړاندے د حاجیانو دوه قسمونه بیان کړی دی.

۳۸۷ے اول قسم حاجیان خو هغه دی چه څنګه د هغوی د زړونو د تول کوشش مطلب صرف د دُنیا حاصِلول وی د غه شان حج هُم هغوی د دُنیاوی غرضونو د پاره کوی د عربو د مُشرکینو پشان دے خلقو به دے د پاره حج کولو چه د حج په موقعه بانده او د حج د فارغیدلو نه پس به یې د خپلو پلرونو فخرونه بیان کړی او د خپل عظمت او لوئیئ اظهار اوکړی. دا شان په دے مقدس ځایونو کښې د الله تعالٰی نه د دولت او د څارؤ د نکرو او په دُشمنانو باندے د برّی مُوندلو دُعاګانے اوکړی نو دے خلقو به د وقوفِ عرفه او د وقوفِ مزدلفه په وخت د الله تعالٰی نه د دُنیا نو او ګټو حیلو د پاره دُعاګانے کولے لیکن د الله د بخښش او د آخرت د نعمتونو دُعا به یې هیڅ کله هُم نه کوله. عن ابن عباسؓ ان المشرکین کانوا یقولون اذا وقفوا اللهم ارزقنا ابلا وبقرا وغنما وعبیدا واماءً الخ

وما كانوا يطلبون التوبة والمغفرة (كبير ص۳۳۳ ج۲) كانوا يسئلون الابل والغنم والظفر بالعدو ويطلبون الآخرة (قرطبی ص۴۳۲ ج۲) نو داسې خلقو په باره کښې اوفرمائيل چه بس کوم شئ چه غوښتل وركول په دنيا کښې موښو وركول په اخرت کښې ددوی دپاره هيڅ نشته ليکن د جهنم اور دے چه په هغې کښې به هميشه وی.

۳۸۸ دا د حاجيانو دويم قسم دے دا خلق خو يو طرف ته د الله تعالیٰ نه د دنيا وی مقصدونو باره دعا کوی. او بل طرفته هغوی په اخرت کښې د کاميابئ او د جهنم د عذاب نه د بچ کولو دعا کوی. او د حَسَنَة نه مراد په دواړو ځايونو کښې د دنيا او اخرت ټول نعمتونه مراد دی. والذی عليه اكثر اهل العلم ان المراد بالحسنتين نعم الدنيا والآخرة وهذا هو الصحيح (قرطبی ص۴۳۲ ج۲) دا د مؤمنانو ډله ده چه د حج په موقعه باندې د الله تعالیٰ نه د دنيا او اخرت د دواړو جهانونو ټول نعمتونه غواړی د دوی د نظر لاندې صرف دنيا نه وی او هم دا د مؤمن شان پکار دے بلکه د مؤمن اصلی مقصد خود اخرت طلب دے او د سره سره هغه ته د دنياوی منافعو حاصلولو اجازت هم دے. په دے شرط چه د دنيا طلب د اخرت په لاره کښې مانع جوړ نه شي. أُولَٰٓئِكَ لَهُمْ نَصِيبٌ مِّمَّا كَسَبُوا دا دويم قسم حاجيانو جزاء ده چې هغوی ته به د هغوی د نيکئ او دعا جزاء په اخرت کښې ملاويږی. او دا هم کيدے شی چه د أُولَٰٓئِكَ اشاره دواړو ډلو طرفته وی. چه د دواړو ډلو نه به هر يو ته د هغه د عمل مطابق جزاء ملاويږی. (اسرار ص۸۰ ج۱ ، بحر ص۱۰۵ ج۲) وَاللَّهُ سَرِيعُ الْحِسَابِ هغه به د خلقو د کثرت باوجود په لږ وخت کښې د ټولو حساب واخلی مطلب دا دے چه هغه زر حساب اخستونکے دے ځکه چه قيامت نزدے دے ددے وجې نه نيکئ طرف ته توجه اوکړئ.

وَاذْكُرُوا اللَّهَ فِي أَيَّامٍ مَّعْدُودَاتٍ ۚ فَمَن تَعَجَّلَ فِي

او الله ياد کړئ د شمير په څو ورځو کښې کومے بيا چه څوک په جلتئ سره لاړ

يَوْمَيْنِ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ وَمَن تَأَخَّرَ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ ۚ

په دوو ورځو کښې نو په هغه گناه نشته او چه څوک پاتے شو نو په هغه هم څه گناه نشته څوک

لِمَنِ اتَّقَىٰ ۗ وَاتَّقُوا اللَّهَ وَاعْلَمُوا أَنَّكُمْ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ (۲۰۳)

چه ويريږی ځکه او ويريږئ د الله نه او پوهه شئ بيشکه تاسو ټول به د هغه سره جمع کولی شئ

وَمِنَ النَّاسِ مَن يُعْجِبُكَ قَوْلُهُ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا

او ځينې خلق هغه دی چه خوښيږی تاته د هغه خبره د دنيا د ژوند په کارونو کښې ۲۴۰

وَيُشْهِدُ اللّٰهَ عَلٰى مَا فِىْ قَلْبِهٖ ۙ وَهُوَ اَلَدُّ الْخِصَامِ ﴿۲۰۴﴾ وَ

او ګواه کوي الله د خپل زړه په خبره باندې او هغه سخت جګړه کوونکے دے. او چه

اِذَا تَوَلّٰى سَعٰى فِى الْاَرْضِ لِيُفْسِدَ فِيْهَا وَيُهْلِكَ

کله واپس شي تاسو نه نو په جلتئ سره ګرځي په ملک کښې دے دپاره چه هغه کښې نقصان اوکړي ۳۹۳ او تباه کړي

الْحَرْثَ وَالنَّسْلَ ۗ وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ الْفَسَادَ ﴿۲۰۵﴾ وَاِذَا

فصل او شاروي او الله نه خوښوي فساد. او چه کله هغه

قِيْلَ لَهُ اتَّقِ اللّٰهَ اَخَذَتْهُ الْعِزَّةُ بِالْاِثْمِ فَحَسْبُهٗ

ته اووئیلے شي چه د الله نه اوویریږه نو آماده کړي هغه لره غرور په ګناه باندې ۳۹۴ نو کافي دے

جَهَنَّمُ ۗ وَلَبِئْسَ الْمِهَادُ ﴿۲۰۶﴾ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّشْرِىْ

هغه لره دوزخ او بیشکه هغه بد ځائې دے. او په خلقو کښې یو کس هغه دے چه خرڅوي خپل

نَفْسَهُ ابْتِغَآءَ مَرْضَاتِ اللّٰهِ ۗ وَاللّٰهُ رَءُوْفٌۢ بِالْعِبَادِ ﴿۲۰۷﴾

ځان د الله رضا طلب کولو کښې ۳۹۵ او الله ډیر مهربان دے خپلو بندګانو باندې

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا ادْخُلُوْا فِى السِّلْمِ كَآفَّةً ۠ وَّلَا تَتَّبِعُوْا

اے ایمان والو! داخل شئ په اسلام کښې پوره ۳۹۶ او مه ځئ د شیطان

خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ ۗ اِنَّهٗ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ﴿۲۰۸﴾ فَاِنْ زَلَلْتُمْ

په قدمونو باندې بیشکه هغه ستاسو ښکاره دشمن دے. بیا که چرې تاسو اوخوئیدئ

مِّنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْكُمُ الْبَيِّنٰتُ فَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ

روستو د هغې نه چه راغے تاسو ته صفا حکم نو پوهه شئ چه بیشکه الله غالب دے

حَكِيْمٌ ﴿۲۰۹﴾ هَلْ يَنْظُرُوْنَ اِلَّآ اَنْ يَّاْتِيَهُمُ اللّٰهُ فِىْ ظُلَلٍ

حکمت والا ۳۹۷ آیا هغوی د هغه لاره ګوري چه راشي دوی ته الله د وریځې په سایانو (تجلي)

مِّنَ الْغَمَامِ وَالْمَلٰٓئِكَةُ وَقُضِىَ الْاَمْرُ ۗ وَاِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ الْاُمُوْرُ ﴿۲۱۰﴾

کښې او فرښتے ۳۹۸ او فیصله شي کار او الله ته به واپس ګرځي ټول کارونه

نوټ: سے مراد ایام تشریق ۱۲ سے د جهاد اول ترغیب ۱۲ سے د جهاد دویم ترغیب ۱۲ سے جهاد به ترغیب د اسلام په ټولو احکامو باندے عمل اوکړئ د هغے نه پو جهادم دے ۱۲ سے زجر او تخویف دے. او د جهاد څلورم ترغیب دے که جهاد پریږدئ. نو د خدائ عذاب به راشی ۱۲ سے تخویف اُخروی د شرارتی یهودیانو د پاره ۱۲

موضح قرآن
ف په دے آیتونو کښی یے اُوفرمائیل چه د کُفر په وخت کښی دستور ؤ چه د حج نه به فارغ شول نو درے ورځے به یے تیرے د اختر خوشحالئ کولے او بازار به یے لګولو او د خپلو پلرو نو نیکو نو داستانونه به یے بیانول اوس الله تعالےٰ دے په بدله کښی درے ورځے مقرر کړے چه الله یاد کړئ په دے ورځو کښی د غرے په وخت شیطانان اُولئ او د هر مانځه نه روستو تکبیر و نه وایئ او د مونځونو نه علاوه هر وخت او په څوک غواړی نو دوه ورځے دِ پاتے شی او بیا دِ رُخصت شی او که درے ورځے پاتے شی نو بهتره ده او دا یے اُوفرمائیل چه د چا رغبت دُنیا ته وی هغه د آخرت نه محروم دے اوس د حج ذِکر اُوشو.

ف دا حال د منافق دے په ظاهره خوشامندے کوی او الله ګواه کوی چه خما په زړه کښی ستاسو محبت دے. او د جګړے په وخت هیڅ کمے نه کوی او چه موقعه بیا مُومی نو لوټ مار کوی د مُلکوالو سره ټورهم صنی شروع کړی او زیاته ګناه کوی. دا سړے اَخنس بن شریق ؤ هغه د نبی علیه السّلام سره دا سلوک اوکړو.

ف دا حال دے د صاحبِ ایمان چه د الله په رضا باندے ځان قُربانوی.

ف یعنی پیغمبر او قرآن باندے یقین نه ساتی نو اوس انتظار کوی چه الله راشی او هر چاته د هغه د عمل موافق بدله ورکړی.

فتح الرحمٰن: سے یعنی د هغه عذاب راشی ۱۲

تفسیر
۳۸۹ د ایام معدودات نه مراد د تشریق درے ورځے دی یعنی ۱۰/۱۱/۱۲ ذوالحجه ..... د نهمے ذی الحجے شپه په مزدلفه کښی تیره کړی او سحر وختی حاجیان د منیٰ طرفته روانیږی. دا مقام د مکے مکرّمے نه تقریبًا څلور میله فاصله باندے د شمال نه لږ شان مغرب طرفته واقع دے. دے ځائ کښی د لښتونه واخله تر دولسو پورے د نمر پریوتلو پورے قربانیانے کیږی. او جمرے (شیطانان) ویشتلے شی الله تعالےٰ حکم ورکړیدے چه دا ورځے په تکبیر، تهلیل او خما په حمد و ثناء او دُعا او ا ب ذلو کښی تیرے کړئ.

۳۹۰ په منیٰ کښی د قیام دوران کښی درے ځایونو باندے چه هغے ته جمرات وئیلے شی تیکئ ویشتلے شی. اوله ورځ یعنی په لسمه باندے د صبا ختلو نه روستو جمرهٔ عقبه باندے به اووهٔ تیکئ اوولی. او هر یو کانړی وِ یشتلو سره به تکبیر وائی. دویمه او دریمه ورځ به د نمر د زوال نه روستو درے واړه جمرو باندے ویشتل اوکړی اول به مسجدِ خیف سره جمره په څنګ سره نزدے او د تهولو نه روستو به جمرهٔ عقبه اُولی په هره جمره باندے به اووهٔ کانړی اولی او هر کانړی ویشتلو سره به تکبیر وائی. په دے آیت کښی الله تعالےٰ په منیٰ کښی د قیام دوه صورتونه بیان کړیدی یو خو دا چه د لسم تاریخ نه روستو دوه ورځے پلتے شی او په دولسم باندے به

مانیام مکے مکرے نه لار شی . دویم صورت دا دے چه په دیار لسم باندے هم هلته پاتے شی او رمی اوکړی لیکن په دیارلسم باندے ژر شی وخت د نمر زوال نه روستو دے بلکه د اوسه ورځے پیشان د صبا ختلو نه روستو دے . الله تعالیٰ د دواړو صورتونو اختیار ورکړے شوے دے په کوم باندے عمل کول غواړی نو ګناه نشته . لیکن دا ګناه او ثواب خو هغه چا دپاره دے چه چا سره د خدائ ویره وی او د ګناه او ثواب احساس ورسره وی د چا په زړه کښ چه د خدائ خوف نشته هغه سره د ګناه او ثواب څه پرواه ده .

ـ۳۹۱ـ په خپلو ټولو کارو نو کښ د خدائ نه ویریږی او د دے خبرے یقین ساتئ چه د دوباره ژوندی کیدو نه روستو به تاسو یو ځائ جمع کولے شئ او ستاسو د ټولو عملونو حساب به کیږی .

ربط :- تر دے ځایه خو د حج د احکامو بیان وو . د جهاد د حکم نه روستو الله تعالیٰ اوفرمائیل چه تاسو ځما کورته په دا سے طریقه باندے حاضری اوکړئ او په دے طریقه ترانه دعا اوغواړئ نو زه تاسو ته فتح درکړم . اوس دراندے بیا د جهاد حکم راځی . نو مخکښ ایت نه د جهاد دویم ځل ترغیب او تیزول شروع کیږی . وَمِنَ النَّاسِ مَنۡ یُّعۡجِبُکَ نه واخله تر فَاِنَّ اللّٰهَ بِهٖ عَلِیۡمٌ پورے ترغیب الی الجهاد دے . په دے ایتونو کښ الله تعالیٰ په څو طریقو د جهاد ترغیب ورکړیدے . (۱) د شر او فساد خوروونکو او فتنه موجودوونکی خلق چا چه زمکه د فتنے او فساد نشانه ګرځولے ده د دا سے خلقو خاتمه وے نه کوئ دا سے شرارتیانو خلقو سره جهاد نه کول هم د شیطان په اتباع کښ داخل دی . (۲) د جهاد په ذریعه د خدائ رضا حاصله کړئ . (۳) په اسلام کښ پوره پوره داخل شئ او د هغه ټول احکام اومنئ د هغے نه یو جهاد هم دے . (۴) که چیرے د خدائ د احکامو نه سر واړوئ نو سخته سزا به درته ملاو شی د بنی اسرائیلو حال اوګورئ چه د خدائ د نافرمانئ د وجے نه یے څه انجام شو . (۵) مشرکان او کافران د دنیا او دولت په نشه کښ بدمست شول اسلام او مسلمانانو پورے ټوقے کوی . لهٰذا دوی سره جهاد اوکړئ . (۶) د الله پاک په فطری دین توحید کښ دے خلقو اختلاف پیدا کړیدے . د دوی نوخے اوباسئ . (۷) جنت ته تلل څه اسان کار نه دے د دے په خاطر تاسو مال او ځان قربانی کوئ . (۸) د الله د دین په خاطر چه جهاد کښ کوم څه خرچ کړئ هغه به نه ضائع کیږی .

ـ۳۹۲ـ دا اول ترغیب دے یعنی ځینے خلق داسے هم دی چه صرف په دنیوی غرضونو او مقصدونو تګ رسا تلو سره تاسو سره داسے خبرے او فصیح بلیغ خبرے کوی چه تاسو د هغوی خبرو نه ډیر عزت ورکول شروع کړئ او هغه خوښوئ . المعنی ومنهم من یروقك ویعظم فی نفسك مایقوله (روح ص۹۳ ج۲ ، مدارک ص۸۳ ج۱) د ځینو مفسرینو خیال دے چه د دے نه مراد اخنس بن شریق دے چه ډیر لوئ منافق وو . لیکن د محققینو رائے دا ده چه دا ایت د هر هغه سړی په حق کښ دے نزول چه د دے ذکرشوو صفتونو حامل وی . القول الثانی وهو اختیار اکثر المحققین والمفسرین ان هذه الاٰیة عامة فی حق کل من کان موصوفا بهذه الصفات المذکورة (کبیر ص۲۳ ج۲) وَیُشۡهِدُ اللّٰهَ

فِیْ قَلْبِهٖ وَهُوَ اَلَدُّ الْخِصَامِ. د الله ګواه جوړولو مطلب دا دے چه هغوی قسمونه کوی یعنی دوے چه هغوی "خدائ ګواه دے"، "خدائ شاهد دے" وغیره الفاظ وائی یعنی هغوی د ما فی الضمیر په رښتینوالی باندے خدائ ګواه کوی او قسمونه کوی تاسو ته د خپل اخلاص یقین درکوی حالانکه هغوی ستاسو د برزبات مخالف وی.

تر څو پورے چه ستاسو سره ناست وی نو ترهغے پورے خو ډیر په ډیر سمن خبرے کوی او دے معلومیږی چه ډیر مخلص دی. لیکن چه کله ستاسو نه لاړشی نو بیا د شر او فساد کولو کوشش کوی. د شر او فساد نه مراد یا خو د فصلونو او څارو تباهی ده او یا دا مراد دے چه کوم چه یا خو د مسلمانانو په زړونو کښی د اسلام په باره کښی شبهات پیدا کوی او د کفر او شرک په تائید کښی مختلف او نا اشنا حیلے راوباسی. انه کان بعد الانصراف من حضرة النبی علیه السلام یشتغل بادخال الشبه فی قلوب المسلمین و باستخراج الحیل فی تقویة الکفر (کبیر ص۳۸۲ ج ۲) وَ یُهْلِكَ الْحَرْثَ وَ النَّسْلَ. څنګه چه اخنس کړی وو چه د نبی علیه السلام سره کینا ستلو او د اسلام سره یے د محبت اظهار کولو چه کله د هغوی نه پاڅیدو او لاړو نو د مسلمانانو په یو فصل باندے تیرشو نو هغه فصل یے اوسوځولو او د هغوی څاروی یے قتل کړل. وَاللّٰهُ لَا یُحِبُّ الْفَسَادَ. الله تعالیٰ شر او فساد نه خوښوی د دے وجے نه د فساد نه ځان اوساتئ ګنی نو د الله پاک عذاب به در باندے نازل شی.

۳۵۳ په اصل کښی د عِزَّة ضد دے لیکن دلته د دے نه کبر او غرور مراد دے. العزة فی الاصل خلاف الذل و ارید بها الانفة والحمیة مجازا (روح ص۹۵ ج ۲) او بیا د دے نفاق او فطری خباثت سره سره هغوی انتهائی درجے ضدیان او متکبر هم دی تر دے چه کله شوک خیرخواه د نصیحت په طور ورته د خدائ نه د وېرېدلو او د شر فساد نه د بچ کیدلو تلقین اوکړی نو غیرت او غرور هغوی نور هم په ګناه باندے تیز دی. او هغوی د څکښی نه هم زیات په شر او فساد کښی حصه اخلی. فَحَسْبُهٗ جَهَنَّمُ وَلَبِئْسَ الْمِهَادُ. دیر متفق ناصح نصیحت په هغوی باندے اثر نه کوی. هغوی به د جهنم اور برابر کړی چه ډیر خراب ځائ دے.

۳۵۴ دا دویم ترغیب دے. یَشْرِیْ د شراء نه دے چه د دے معنیٰ دلته خرڅول دی او د دے نه په جهاد کښی د خپل ځان قربانی کول مراد دی. ابْتِغَاءَ د یَشْرِیْ مفعول له دے. ای یبیعها ببذلها فی الجهاد (روح ص۹۶ ج ۲) یعنی د منافقانو په مقابله کښی څنے داسے مخلص او ځان قربانونکی خلق هم دی چه محض د الله د رضا د پاره په جهاد کښی خپل ځانونه قربانوی وَاللّٰهُ رَءُوْفٌۢ بِالْعِبَادِ. د عباد نه مراد مؤمنان دی. په مؤمنانو باندے خاص طور باندے مهربان دے هغوی ته یے د اوچتو درجو حاصلولو د پاره خپله لاره کښی د خپل محبوب روح قربانولو لاره اوښودله او د خپل رضامندئ د حاصلولو طریقه اوښودلے.

۳۵۵ دا د جهاد دریم ترغیب دے. كَآفَّةً. د اُدْخُلُوْا د ضمیر نه حال دے او د اَلسِّلْمِ معنیٰ استسلام او پوره اطاعت دے یعنی تاسو ټول په ټول مکمل طور باندے تابعدار جوړ شئ او شوک هم د دهٔ د تابعدارئ نه بهر مه پاتے کیږئ. ای استسلموا لله واطیعوه کافة

لا یخرج احد منکم بده عن طاعته (مدارک ص۸۳ ج ۱) یا د سِلم معنی اَمن او صُلح ده او د دے نه مراد دینِ اسلام دے. وَلَا تَتَّبِعُوْا خُطُوٰتِ الشَّیْطٰنِ. ایمان والو ته حُکم کیږی چه تاسو په دینِ اسلام کښې پوره پوره داخل شئ. او د عقائدو نه واخله تر اعمالو پورے او د عباداتو نه واخله تر اخلاقو پورے د اسلام متعلق په ټولو هدایاتو باندے عمل اوکړئ او د شیطان په تابعدارئ کښې د اسلام د احکامو په ځائې د جاهلانه رسمونو پابندی مه کوئ او داسے هم مه کوئ چه د اسلام ځینې احکام منئ او ځینې احکام نه منئ. اِنَّهٗ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ. شیطان ستاسو ښکاره دُشمن دے هغه همیشه ستاسو د گمراه کولو متعلق سوچ کوی او ستاسو په زړونو کښې نوی نوی خیالات او نوے نوے طریقے پیدا کوی دے د پاره چه ستاسو عملونه او عقیدے خرابے کړی. ځینې نوی مُسلمانانو یهودیت پریښودے وو. اسلام یے قبول کړے وو هغوی ځینې زاړهٔ رسمونه پرے نښودل نو په دے باندے الله تعالیٰ دا حُکم نازل کړو.

۳۹۷ھ دا زجر او تخویف دے. او مقلوب ترغیب دے یعنی چه کله واضح دلائل تاسو ته راغلی دی او د دینِ اسلام صداقت او حقانیت تاسو ته واضح شویدے نو اوس هم که چرے تاسو اُوخویدلئ. یعنی د اسلام په ځینې احکامو باندے تاسو عمل اُونکړو مثلاً جهاد مو پریښودو نو بیا واورئ چه الله تعالیٰ غالب او د حکمت خاوند دے د هغهٔ د سزا ورکولو نه څوک نه شی منع کولے. او د حکمت په تقاضا چه کومه سزا ورکول غواړی د هغے نه خلاصی نه شی کیدے.

۳۹۸ھ دا دُنیوی تخویف دے. هغه شرارتیان خلق چه د اسلام او مسلمانانو خلاف هر وخت په شرارتونو کښې مصروف وی او د چا شرارت چه دے حد ته رسیدلے دے چه اوس هغوی د قیامت نه مخکښې د شر او فساد نه نهٔ منع کیږی هغوی سره جهاد ولے نه کوئ. د يَنْظُرُوْنَ ضمیر یهودیانو طرفته راجع دے. (روح ص۹۵ ج ۲) یهودیان د الله د جسم قائل دی چه الله تعالیٰ کله په شان او شوکت سره راځی نو په وریځو باندے سورلی کولو سره راځی. دا شان چه کله الله تعالیٰ په کوهِ طور باندے حضرت مُوسیٰ علیه السّلام باندے تجلی اچولے وه هغه یے د وریځو سره اچولے وه نو د لته الله تعالیٰ د هغوی د خیال مطابق اُوفرمائیل چه یهودیان چه اسلام نه قبلوی دوی په دے انتظار کښې دی چه الله تعالیٰ او د هغهٔ فرشتے په وریځو د پاسه راشی او قیامت قائم شی. نو بیا به دوی یقین اُوشی د اسلام په صداقت باندے او اسلام به قبول کړی. و ذلك لان الیهود كانوا علی مذهب التشبیه وكانوا یجوزون علی الله المجیٔ والذهاب وكانوا یقولون انه تعالیٰ تجلی لموسیٰ علیه السلام علی الطور فی ظلل من الغمام (کبیر ص۲۹۳ ج ۲) او په تورات کښې دی " اُوگوره خُدائے پاك په یوه تیز رفتاره وریځ باندے سور شو. او مصر ته راځی او د مصر بُت به د هغهٔ په حضور کښې رپیږی " (کتاب یسعیاه باب ۱۹: فقره ۱)

تنبیه ۱:- د اهلِ سُنتو په نزد الله تعالیٰ نه جسم دے او نهٔ د جسم مشابه او تلل راتلل د جسم صفات دی په دے وجه الله تعالیٰ د تلو راتلو نه منزه او پاك دے. د دے وجے نه ډیرو مفسرینو لیکلی دی چه دا ایت د متشابهاتو نه دے او د دے تفسیر نه یے خاموشی اختیار کړیده. او بعضو د لته مضاف محذوف منلے دے یعنی

امر الله یا عذاب الله کومه توجیه چه صونږ پورته لیکلی ده امام رازیؒ دغه ترجیح ورکړی ده. وَإِلَى اللَّهِ تُرْجَعُ الْأُمُورُ. او د بني ادمانو د حساب کتاب معامله فیصله شي. او نیک او بد خپل انجام ته اورسیږي. ای اتم امر العباد و حسابهم فاثیب الطائع وعوقب العاصی (روح ص ۹۹ ج ۲) وَإِلَى اللَّهِ تُرْجَعُ الْأُمُورُ. او د ټولو کارونو انجام د الله په لاس کښې دی.

سَلْ بَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ كَمْ ءَاتَيْنَٰهُم مِّنْ ءَايَةٍۭ بَيِّنَةٍۗ وَمَن

تپوس اوکړه د بني اسرائیلو نه چه څومره ډیر ورکړی مونږ هغوی ته نښانې ښکاره ۱۹۹ او

يُبَدِّلْ نِعْمَةَ ٱللَّهِ مِنۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُ فَإِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ

څوک چه بدل کړی د الله نعمت روستو د هغې نه چه راشي هغه ته هغه نعمت نو د الله عذاب

ٱلْعِقَابِ ﴿٢١١﴾ زُيِّنَ لِلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَا وَ

سخت دے ۲۰۰ عاشقان کړیدی کافران د دُنیا په ژوندانه او

يَسْخَرُونَ مِنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ۘ وَٱلَّذِينَ ٱتَّقَوْا۟

مسخرے کوی ایمان والو پورے ۲۰۱ او څوک چه پرهیزګار دی هغوی

فَوْقَهُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِۗ وَٱللَّهُ يَرْزُقُ مَن يَشَآءُ بِغَيْرِ

بد کافرانو د پاسه وی د قیامت په ورځ ۲۰۲ او الله رزق ورکوی چا ته چه اوغواړی

حِسَابٍ ﴿٢١٢﴾ كَانَ ٱلنَّاسُ أُمَّةً وَٰحِدَةً فَبَعَثَ ٱللَّهُ

بے شماره ۲۰۳ ؤ ټول خلق په یو دین باندے ۲۰۴ بیا راولیږل الله

ٱلنَّبِيِّـۧنَ مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ وَأَنزَلَ مَعَهُمُ ٱلْكِتَٰبَ

پیغمبران زیرے ورکوونکی او ویروونکی ۲۰۵ او نازل یے کړو هغوی سره کتاب

بِٱلْحَقِّ لِيَحْكُمَ بَيْنَ ٱلنَّاسِ فِيمَا ٱخْتَلَفُوا۟ فِيهِۚ وَمَا

ریښتونے چه فیصله اوکړی په خلقو کښې په کومه خبره کښې چه هغوی جګړه اوکړی ۲۰۶ او

ٱخْتَلَفَ فِيهِ إِلَّا ٱلَّذِينَ أُوتُوهُ مِنۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُمُ

جګړه اونکړه په کتاب کښې لیکن هغه خلقو چا ته چه کتاب ملاؤ شوے ؤ د هغې نه روستو چه هغوی

الْبَيِّنٰتُ بَغْيًا بَيْنَهُمْ ۚ فَهَدَى اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لِمَا

ته راورسیده واضحه حکمونه د خپل مینځ کښې ضد نه لکه بیا اوس هدایت اوکړو الله ایمان والو ته هغه

اخْتَلَفُوْا فِيْهِ مِنَ الْحَقِّ بِاِذْنِهٖ ۗ وَاللّٰهُ يَهْدِيْ

ربنتونی خبرت په کومه کښې چه هغوی جګړه کوله خپل حکم سره لګه او الله تعالیٰ بناوی

مَنْ يَّشَآءُ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۲۱۳﴾

چاته چه اوغواړی نیغه لاره ښکه ول ئے

نکات:- ۱۔ د جهاد پنځم ترغیب کافران او مشرکان د دولت په نشه کښې مست شول او مسلمانانو او اسلام پورے پوټے کوی. لهٰذا دوی سره جهاد اوکړئ.
۲۔ د دے نه وړاندے اندماج دے. ای فاختلفوا بقرینة ما بعده. ۳۔ د جهاد شپږم ترغیب کوم خلقو چه د الله په فطری دین توحید کښې اختلاف پیدا کړیدے د هغوی نوښے اوباسئ ۱۲

موضح قرآن

ف یعنی الله تعالیٰ کتابونه اوکښې پیغمبران راولیږل دے د دیاره نه چه حرے دے ته د نیکونو لارے اوښودے. د الله په نزد د ټولو خلقو ته د یوے لارے حکم دے. کوم وخت چه د دے لارے نه بل کوم طرفته اوخوځی نو الله تعالیٰ پیغمبر راولیږلو چه یو هغه یے کړی او کتاب یے راولیږلو چه په هغے باندے لاړ شی. بیا چه د کتاب والا یے لارے شول نو هغه وخت بل کتاب ته حاجت پیښ شو. ټول کتابونه او پیغمبران د یوے لارے قانونو د پاره راغلی دی. د دے مثال لکه چه صحت یو دے او بیمارئ ډیرے دی. چه کله یو مرض پیدا شی نو یو ه دوائی او پرهیز یے د هغے موافق اوفرمائیلو چه کله دویم مرض پیدا شو نو دوائی او پرهیز یے د هغے موافق اوښودلو اخری کتاب کښې یے داسے لاره اوښوده چه د هر مرض نه خلاصے دا د ټولو په بدله کښې پوره والے کوی.

فتح الرحمٰن

ف یعنی مخکښې د راتلو د هر پیغمبر نه چه وی یو بل سره متفق ؤ په دین کښې اختلاف یے نه کړلو ۱۲. ف۔ مترجم وائی چه حاصل دا دے چه د الله سنت جاری شوے دے په دے باندے چه روستو د هر پیغمبر نه په امت دعوت کښې اختلاف واقع کیږی د دے نه زړه تنګول پکار نه دی.

تفسیر

۲۹۹ دا یے د نافرمانئ انجام او تخویف دنیوی یو نمونه بیان کړیده یعنی د الله د طرفنه د حق واضح کیدو نه روستو چه کوم خلق نه منی د هغوی حشر دے؟ بنی اسرائیلو نه تپوس اوکړه. مونږ هغوی ته د حق پیژندلو د پاره څومره نښے

ورکړے وے. تورات مو نازل کړو د پیغمبرانو معجزات مو ورته اُوښودل لیکن هغوی ضد او عناد سره د هغے نه انکار اوکړو، بیا مونږ په کوم قِسم عذابونو کښې راګیر کړل.

٤٠٩ د نعمت نه مراد د الله آیتونه او هغه دلائل دی کوم چه د رُشد و هدایت سبب دی ځکه چه هدایت د الله د ټولو نه لوئ نعمت دے. او د تبدیل نعمت نه مراد دا دے چه هغوی د دے اسبابِ هدایت نه کار وانه خستلو، او کوم هدایت چه د دے نه حاصلول پکار دُو هغه یے حاصل نه کړو او هُم د دے اسبابو په ذریعے یے کُفر او ګمراهی واخِستله - مثلاً په تورات کښې یے تحریف اوکړو د هغے احکام یے اُونه منل او د معجزاتو نه یے انکار اوکړو. المراد اٰیاته ودلائله وهی من اجل اقسام نعم الله لانها اسباب الهدی والنجاة من الضلالة.... المراد بتبدیلها ان الله تعالی اظهرها لتکون اسباب هدیهم فجعلوها اسباب ضلالتهم (کبیر ص٢٩٩ ج ٢) یعنی کوم سړے چه د رُشد او هدایت اسباب غلط استعمال کړی د هغے نه د ګمراهئ او فِسق او فجور کار واخلی هغه له د خُدائ د نیولو نه غافِله کیدل پکار نه دی ځکه چه د هغه نیول سخت او د هغه عذاب عبرتناک دے، دا هُم په ترکِ جهاد باندے تخویف دے. په دے واقعے سره د مُسلمانانو تنبیه مقصود ده چه اُګوری د الله د نافرمانئ دا انجام دے.

٤١٠ دا د ما قبل عِلت دے یعنی کوم خلقو چه د خُدائ د هدایت نه مخ واړولو او د هغه د پیغمبرانو تکذیب یے اوکړو د هغه آیتونه یے دروغژن اُوګنړل او د هغه د توحید نه یے انکار اوکړو. هغوی په دے باندے کوم څیز آماده کړل او سبب یے څه وُو؟ وجه دا ده چه د دے خلقو په زړونو کښې د دُنیا دولت او د ظاهری شان او شوکت محبت ځائ نیولے دے د دین په مقابله کښې دُنیوی وقار او د زړونو مادی آرام او راحت او شان او شوکت دوی ته ښکلے او ښه معلومیږی. په دے وجه هغوی هدایت پرېښودو او ګمراهی یے قبوله کړیده چه د هغے نه دوی ته د ټولو دُنیوی مقصدونو او مادی خواهِشاتو د پوره کیدو قوی اُمید دے. او هُم دا وجه ده چه هغوی ایمان والو پورے مسخرے کوی او وائی چه دے خلقو اسلام قبول کړو نو څه یے حاصل کړل. دے خلقو سره نه دولت شته نه زمکے، نه محلات شته نه باغونه. ځکه چه دے لنډ نظر والا او ناپوهو دا څیزونه د دُنیا د زړونو حاصل ګنړلے دے.

٤١١ واو حالیه دے حالا نکه دا غریبانان کوم چه د خُدائ نه ویریږی او د هغه په ټولو احکامو عمل کوی د قیامت په ورځ به د دے کافرانو نه په ډیره اُوچتو درجو کښې وی ځکه چه د دا دے ضدی او عنادیانو کافرانو او منافقانو ځائ به د جهنم په لاندینئ طبقه کښې وی او دا د خُدائ نه ویریدونکی فقیران مؤمنان به په اعلیٰ علیین کښې وی. فَوْقَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ای فی الدرجة لانهم فی الجنة والکفار فی النار (قرطبی ص٢٩ ج٣) لان الفقراء فی علیین والکفار والمنافقین فی اسفل السافلین (معالم ص١٦٥ ج ١)

٤١٢ پاتے شو په دُنیا کښې د رزق زیاتوالے او د مال او زر ډیروالے نو دا څیز خو د

خُدائ په اختیار کښې دے هغه چه چاته اُوغواړی بے حسابه دولت ورکړی یو مُسلمان ته بے ورکړی یا بے یو کافر ته ځکه چه هغه د خپل حکمت او مصلحت دلاندے چه چاته اوغواړی نو د دُنیا مال او د دولت سره بے مالدار کړی د دولت زیاتی کمی سره د حق او باطل فیصله نه شی کیدے. دے ایت د دے شبهے ازاله هُم اوکړه چه د کومے د پیدا کیدو امکان وُو چه که چرے کافران په حق نه دی. نو بیا الله پاک هغوی ته دومره ډیر مال او دولت ولے ورکړے دے؟ نو وے فرمائیل چه دا دولت خو د هغو ورخو د پاره په او محض د دُنیا زینت او رونق دے په اٰخرت کښې خو به صرف دا ایمان او تقوی بکار راځی.

۳۰۲ ځکه دلته د وحدت نه د عقیدے او دِین وحدت مراد دے یعنی په شروع کښې خلق بس یو دِین باندے وُو. او ټول د دِین اسلام پابند وُو او توحید پرست وُو، متفقین علی دین الاسلام (مدارک ص۸۴ ج۱) متفقین علی التوحید مقرین بعبودیته (روح ص۹۹ ج۲) دینه معلومه شوه چه د فطرت په شروع کښې انسان توحید پرست وُو او د شرک بیماری روستو خوره شوه په مخکینو کتابونو کښې هُم د توحید مسئله موجوده وه. ځینو پلیتو د بغاوت په سبب د توحید مخالفت اوکړو او روستو خلقو د باغیانو عبارتونه اُولیدل نو د توحید په مسئله کښې په شبهاتو کښې پریوتل لیکن د هغوی شُبه به د خُدائ پاک په نزد د کتاب الله په موجودگئ کښې قبول نه وی. د داسے خلقو سره جهاد اوکړئ.

۴۰۲ دا په ماقبل مرتب دے. لیکن په دیکښې په ظاهره یو اشکال دے ځکه چه کله ټول خلق په دینِ توحید باندے متفق وُو. نو بیا د پیغمبر لیږلو څه ضرورت وُو. د دے حل دا دے چه د دینه مخکښې فَاخْتَلَفُوْا محذوف دے او مطلب دا دے چه په شروع کښې خو ټول خلق په توحید باندے متفق وُو لیکن روستو د دوی په مینځ کښې د دے په باره کښې اختلاف پیدا شو نو الله تعالی پیغمبران اُولیږلو. د دے د پاره چه هغه دوی سمے لارے ته د راوستلو کوشش اوکړی منونکو ته د جنت زیرے واوُروی او نه منونکی د الله د عذاب نه اوویروی او په دے حذف باندے د ایت راتلونکے حصه گواه ده ځکه چه مخکښې ارشاد کیږی چه موږ پیغمبرانو ته کتابونه ورکړل د دے د پاره چه هغوی د الله تعالی د نازل کړے شوی هدایت په رڼا کښې د خلقو د مینځنی اختلاف فی التوحید فیصله اوکړی. د دے نه معلومه شوه چه د پیغمبرانو د راتلو نه مخکښې په دوی کښې د توحید په باره کښې اختلاف پیدا شوے وُو چه د هغے د ختمولو د پاره پیغمبر راُولیږلے شو. دا شان د دے مضمون په یو دویم ایت کښې د فَاخْتَلَفُوْا صراحت موجود دے. ځکه چه په سُورة یُونس ع ۲ کښې د الله پاک ارشاد دے وَمَا كَانَ النَّاسُ اِلَّآ اُمَّةً وَّاحِدَةً فَاخْتَلَفُوْا، او څونکه د قرآن بعضه حصه د بعضو تفسیر کوی. د دے وجے نه دلته هُم فَاخْتَلَفُوْا محذوف دے. وَاَنْزَلَ مَعَهُمُ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ. په الکتاب کښې الف لام د جنس د پاره وی. بِالْحَقِّ دا الکتاب نه حال دے. یعنی الله تعالی د هر پیغمبر سره یو کتاب هُم اُولیږلو چه په هغے کښې د حق دِین بیان وُو.

۴۰۶ دا د بعثت انبیاء او انزالِ کتب علت دے او دیخکم فاعل الله دے یعنې چه کله خلقو په توحید باندے د اتفاق نه روستو هغې کښ اختلاف شروع کړو. بعضے خلق په توحید باندے قائم پاتے شول او بعضے خلقو د خدائی نه د نورو عبادت او رابلل شروع کړل نو الله تعالىٰ هدایت لارے ورکړے او پیغمبران یے راولیږل دے دپاره چه په دے طریقه باندے د هغوی په مینځ کښ فیصله اوکړی. د فیصلے نه دلته مراد دلائل او براهینو سره د حق او باطل په مینځ کښ ښکاره او واضحه امتیاز پیدا کول مراد دی. اوس چه د چا زړه غواړی. نو توحید دِ قبول کړی او چه د چا خوښه وی نو شرک دِ اختیار کړی او خپل عاقبت دِ خراب او برباد کړی. دوارو لارے په دلائلو سره د دوی په مخکښ واضح کړے شویدی.

۴۰۷ اُوْتُوْهُ ضمیر مفعول الکتاب طرفته راجع دے. د اَلَّذِیْنَ اُوْتُوْهُ نه د دے کتاب عالم او درس او تدریس کونکے او د قوم پیشوایان مراد دی. الذین اوتوه ارباب العلم و الدراسة له (بحر ص۱۳۱ ج ۲) او د البینات نه مراد عقلی دلائل دی یعنې د کتاب سره سره مونږ په توحید باندے عقلی دلائل هم قائم کړی دی. وهذه البینات لا یمکن حملها علی شیء سوی الدلائل العقلیة التی نصبها الله تعالىٰ (کبیر ص۲۰ ج ۲) او بغیًا د اختلف مفعول لهٔ دے مطلب دا دے چه په حق کښ همیشه دے خلقو اختلاف وا نچولو چه د خدائی د کتاب علم یے لرلو او د قوم مشران او رهنما وو یعنې علماءِ سوء او پیرانِ سوء. او اختلاف هم دوی د څه غلط فهمئ په وجه اُونکړو بلکه عقلی او نقلی دلائلو سره یے حق اُوپیژندلو صرف د ضد او عناد د وجے نه یے اختلاف اوکړو. پو حصر خو دلته ذکر شوید ے چه اختلاف کونکی صرف ناکاره پیشوایان دی بل څوک نه دی. او دویم حصر چه دے علماءِ سوء همیشه سره د پوهے اختلاف کړیدے د څه غلط فهمئ د وجے نه یے نه دے کړے. دا په سورة جاثیه ع ۲ کښ ذکر دے. فَمَا اخْتَلَفُوْا اِلَّا مِنْ بَعْدِ مَا جَآءَهُمُ الْعِلْمُ بَغْیًا بَیْنَهُمْ. په دے ایت کښ دے څیزونه بیان شویدی (۱) اختلاف کومو خلقو اوکړو. (۲) کله یے اوکړو. (۳) ولے یے اوکړو؟ یعنې اختلاف همیشه ناکاره علماؤ اوکړو. او سره د پوهے نه یے اوکړو. او د عناد او ضد د وجے نه یے اوکړو.

۴۰۸ من الحق د ما بیان دے. او د اذن نه مراد د الله توفیق دے. ای بتوفیقه و تیسیره (روح ص۱۰۲ ج ۲) او امنوا نه قصد و الایمان مراد دے یعنې کوم خلق چه د صدقِ دِل نه د ایمان طلبګار او د حق تلاش کونکی وُو. علماءِ سوء خو همیشه په دینِ حق کښ اختلاف اچولو کښ مشغول وُو لیکن الله تعالىٰ همیشه د حق طالبانو ته صرف د خپلے مهربانئ او توفیق سره د توحید لاره اُوښودله او د ماحول د فساد باوجود په حق دِین باندے قائم پاتے شول. او که چرے د الذین اوتوه نه اهلِ کتاب مراد وی نو د الذین امنوا نه به اُمتِ محمدیه مراد وی. او مطلب به دا وی چه په کومو کارونو کښ د اهلِ کتابو په مینځ کښ اختلاف وُو الله تعالىٰ مسلمانانو ته صحیح لاره اُوښودله. مثلاً یهود او نصاریٰ د حضرت ابراهیم علیه السلام په باره کښ اختلاف اوکړو چه هغه یهودی وُو یا نصرانی. نو

الله تعالیٰ مومنانو ته اوښودل چه هغه نه یهودی وُو نه نصرانی بلکه هغه حنیف او مسلم وو. داشان یهودیانو د عیسیٰ علیه السلام تکذیب اوکړو. او عیسایانو هغه خدائی اوګڼلو. مسلمانانو ته خدائی اوښودل چه هغه د خدائی پیغمبر او د هغه بنده وو.

۴۰۹ هغه چه چاته اوغواړی نیغه لاره ښائی او د هغه مشیت همیشه د هغه خلقو د هدایت سره متعلق وی چه ضد او عناد نه کوی او د صدق دل نه او د عمل اخلاص سره د حق لارے طلبګار وی. په دے آیت کښی هم د جهاد ترغیب دے. ځکه چه په دے سره د مسلمانانو حوصله اوچتیږی. چه په اختلافاتو کښی همیشه الله تعالیٰ د ایمان والو صحیح رهنمائی کوی. د غسے جهاد دے د پاره هم ضروری دے چه د حق دین د ختمولو نوے اوو ینځلے شی. دلته یوه شبهه ده چه اختلاف خو تیر شوی کړے دی. د دوستو ته قصور دے چه د دوی سره جهاد اوشی. د دوی خو د مخکینو تقلید کړیدے نو جواب دا دے چه دوی د مخکینو په تابعداری کښی بے دلیله معذور نه دی. ځکه چه عقلی او نقلی دلائل د دوی په وړاندے موجود دی. دوی په دیکښی د غور او فکر او انصاف نه کار آخستلو سره د حق پیژندلو کوشش اونکړو څنګه چه ارشاد دے وَالَّذِيْنَ يُحَاجُّوْنَ فِي اللّٰهِ مِنْۢ بَعْدِ مَا اسْتُجِيْبَ لَهٗ حُجَّتُهُمْ دَاحِضَةٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ (شوریٰ ع ۲) حالانکه علماء ربانیین د الله توحید په دلائلو سره پیژندلے دے. دالله د طرفه کتاب هم نازل شویدے نو اوس د باغیانو اقوالو سره احتجاج مردود دے.

اَمْ حَسِبْتُمْ اَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَاْتِكُمْ مَّثَلُ الَّذِيْنَ

آیا ستاسو دا خیال دے چه جنت ته به لاړشئ حالانکه نه به وی تیر شوی په تاسو باندی حالات د

خَلَوْا مِنْ قَبْلِكُمْ ؕ مَسَّتْهُمُ الْبَاْسَآءُ وَالضَّرَّآءُ وَزُلْزِلُوْا

هغه خلقو پشان کوم چه وُو تاسو نه وړاندی ځکه چه اورسیدل هغوی ته سختی او تکلیف او اوخوزولے شو

حَتّٰى يَقُوْلَ الرَّسُوْلُ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ مَتٰى نَصْرُ

تر دے چه اوویل رسول او چا چه هغوی سره ایمان راوړلو چه کله به راځی د الله

اللّٰهِ ؕ اَلَآ اِنَّ نَصْرَ اللّٰهِ قَرِيْبٌ ﴿۲۱۴﴾ يَسْـَٔلُوْنَكَ مَاذَا يُنْفِقُوْنَ ؕ

مدد ځکه واوریئ دالله مدد نزدے دے ۴۱۲ تپوس کوی ستا نه چه څه شئ خرچ کړو ۴۱۳

قُلْ مَآ اَنْفَقْتُمْ مِّنْ خَيْرٍ فَلِلْوَالِدَيْنِ وَالْاَقْرَبِيْنَ وَ

او وایه چه کوم څه تاسو خرچ کړی مال نو مور پلار د پاره او د خپلوانو د پاره او

يَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنِ وَابْنِ السَّبِيْلِ ۭ وَمَا تَفْعَلُوْا مِنْ خَيْرٍ

یتیمانو، محتاجو او مسافرو دپاره دے کلک او کوم شئ چه کوئ تاسو نیکئ

فَاِنَّ اللّٰهَ بِهٖ عَلِيْمٌ ﴿۲۱۵﴾ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ وَهُوَ كُرْهٌ لَّكُمْ ۚ

نو هغه بیشکه الله ته ښه معلومه ده ۲۱۵ فرض شو په تاسو باندې جنګ او بد لګی تاسو باندې ۲۱۵

وَعَسٰٓى اَنْ تَكْرَهُوْا شَيْـًٔا وَّهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۚ وَعَسٰٓى اَنْ تُحِبُّوْا

او شاید چه تاسو باندې بد لګی یو څیز او هغه بهتر وی ستاسو په حق کښی ۲۱۶ او شاید تاسو ته

ع ۲۶ ۱۰ شَيْـًٔا وَّهُوَ شَرٌّ لَّكُمْ ۭ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ وَاَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۲۱۶﴾ ع

ښه معلومیږی یو څیز او هغه بد وی ستاسو په حق کښی او الله پوهیږی او تاسو نه پوهیږئ

نکات: ۱ اووم ترغیب جنت ته تلل آسان کار نه دے د مال او ځان قربانی به ورکول وی د تیرو شوو اُمتونو حال اُوګورئ ۱۲ ۲ د اِنفاق د مضمون دویم ځل بیان ۱۲ ۳ اووم ترغیب د الله د دین په خاطر چه کوم شئ خرچ کوئ هغه به ضائع نه وی ۱۲ ۴ د جهاد د مضمون دریم ځل ذکر ۱۲

موضح قرآن ف ۱ خلقو تپوس کړے وُو چه مالونو کښی د کوم مال په خرچ کولو کښی زیات ثواب دے. وے فرمائیل چه مال هر یو وی لیکن چه مال څومره په ښه ځائے خرچ شی نو ثواب ئے زیات دے.

تفسیر ۴۱۰ د مَثَل نه مراد د تیرو شوو نبیانو د اُمتونو سختئ او مُصیبتونه دی. ای حالهم التی هی مثل فی الشدائد (مدارک ص ۸۳ ج ۱) په دیکښی خطاب صحابو ته دے. او دا هم ترغیب الی الجهاد دے. مطلب دا دے چه د جنت د کومو اُوچتو مقاماتو تاسو طلب کوونکی یئ. آیا ستاسو دا خیال دے چه تاسو به په تکلیفونو او مصیبتونو کښی د پریوتلو نه بغیر هلته اُورسئ. نه داسے هرګز نه ده. د اُوچتو درجو حاصلولو دپاره به تاسو جانی او مالی قُربانئ ورکوئ تکلیفونه او مصیبتونه به برداشت کوئ د مال، ځان او اولاد په ذریعه به جهاد کوئ.

۴۱۱ دا د تیرو شوو اُمتونو د حال بیان دے. د بأساء نه مراد مالی نُقصان او معاشی بدحالی ده او د ضرّاء نه مراد جانی او جسمانی تکلیفونه او بیماریٔ دی. البأساء الفقر والضراء السقم (ابن کثیر ص ۲۵۱ ج ۲) او د زُلزِلُوا معنیٰ ده. انزعجوا ازعاجًا شدیدًا بانواع البلایا (روح ص ۱۰۳ ج ۲) یعنی د مُصیبتونو او سختو د شدّت او کثرت د وجے نه د هغوی زړونه او دیرول شول او شدّت او پریشانئ او بے آرامئ په حالت کښی پیغمبرانو او مؤمنانو د امداد طلب کولو په طور او وئیل چه آخر د الله امداد به کله راځی. الله تعالے په مصیبتونو او تکلیفونو کښی د دوی سره د مدد

وعده کړے وه چه کله به د کافرانو او مُشرکانو د لاسونو نه مُصیبتونه او تکلیفونه انتها ته رسیدلی دی
رسیدل نو نبیانو او مؤمنانو به دا خیال کَولو چه اوس خو تکلیفونه انتها ته رسیدلی دی
اوس خو د الله امداد ضرور راتلل پکار دے بیا به بے په سخته پریشانئ کښ دالله تعالے
د امداد راتلو تمنا کوَله۔

۲۱۲ـه دے تمنا او طلب په جواب کښې د الله تعالیٰ د طرفنه ارشاد اُشو چه ثابتقدم
اُو صبر ورکړے شو مسلمانانو ته تنبیه ورکړے شوه چه په دے سره امداد او نصرت راتلونکے دے
او سبری زمونږ امداد او نصرت هُم راځي. لهٰذا دوی له تیار اُوسیدل پکار دی
چه تکلیفونه او ازمائشونه به په دوی باندے هُم راځي. د آیت نه په ظاهره هُم دا معلومیږی.

۲۱۳ـه د انفاق د مضمون په دوهم ځل بیان. یعنی څه او څومره خرچ کړی او جواب
چه سوال د منفق (خرچ کړے شوی) متعلق دے یعنی څه او څومره خرچ کړی او جواب
کښ د خرچ مصارف بیان کړے شویدی په دے سره دے طرفته اشاره ده چه د اخیره
پریږدئ چه څه او څومره خرچ کوَل پکار دی. اصل څیز خو مصرف دے ددے وجے نه
تاسو چه کوم څه خرچ کړئ خواه هغه لږ وی یا زیات نو هغه دِ په صحیح مصرف کښ
خرچ کړے شي. ظاهر الآیة انه سئل عن المنفق فاجاب ببیان المصرف صریحًا لانه
اهم فان اعتداد النفقة باعتباره (روح ص۱۰۵ ج ۲) حضرت شیخؒ فرمائی چه سوال دا وُو چه
څومره خرچ کړو نو جواب ملاؤ شو چه څومره خرچ کوئ ما ته خرچے مه راکوئ بلکه خپل
مور پلار وغیره ته یے ورکوئ۔

۲۱۴ـه ددے الفاظو تفصیل مخکښ تیر شویدے او د ابن السبیل په عموم کښ د جهاد
فی سبیل الله مسافر هُم شامل دے. وَمَا تُنْفِقُوْا مِنْ خَیْرٍ. نیکی خواه چه هر قسمه وی
مالی وی یا بدنی وره وی یا غټه د الله د عِلم نه بهر نه ده ددے وجے نه به هغه د هر
نیکئ پوره پوره بدله ورکړی ددے ځائ پورے د اِنفاق ذِکر وُو۔

۲۱۵ـه د جهاد د مضمون په دریم ځل ذِکر. د کُرْهٌ نه مراد طبعًا ناخوښه څیز دے
د مال او ځان ضائع کیدل همیشه انسانی طبیعت باندے گران وی. دا مطلب نه دے
چه صحابه کرامو رض ته د الله امر بالجهاد ناخوښه وُو. ای شاق علیکم قال بعض اهل المعانی
هٰذا الکره من حیث نفور الطبع عنه لما فیه من مؤنة المال و مشقة النفس وخطر الروح لا انهم
کرهوا امر الله تعالے (معالم ص۱۸۹ ج۱) عَسٰۤی اَنْ تَكْرَهُوْا شَیْـًٔا وَّهُوَ خَیْرٌ لَّكُمْ. یعنی کیدے شی
چه څنے څیزونه د خپلو ظاهری او مادی نقصانانو د وجے نه تاسو ته ناخوښه دی او تاسو هغه
بَدْ نه گنړئ. لیکن د انجام په لحاظ سره او د بهتو فائدو په لحاظ سره هغه ستاسو د پاره خیر
او برکت او د فلاح دارین باعث وُو. مثلاً جهاد وا خلئ چه په ظاهره خود قتل او خونریزی
او د مال ځان ضائع کیدلو په وجه تاسو ته ناخوښه دے لیکن ددے انجام بهتر دے ځکه
چه د جهاد په وجه تاسو او ستاسو د دِین توم اُوچتیدلے شي او ددے د وقار او شان او
شوکت قائم ساتلے شي. په جهاد سره تاسو خپل عزت او د خپل ځان او مال حفاظت کولے شئ
او جهاد سره تاسو د غازیانو او شهیدانو درجے حاصلولے شئ په دے سره هُم د مُسلمانانو

په جهاد باندے اماده کول مقصود دی.

ځکه دا شان دا هم عین ممکن ده. چه دیو څیز ظاهری فائده او په وجه ستاسو هغه خوښوئ لیکن په حقیقت کښ هغه څیز ستاسو په حق کښ سخت مُضر وی. مثلاً په جهاد کښ شرکت نه کول او په آرام سره په خپل کور کښ کیناستل خو تاسو خوښوئ. ځکه چه په دے طریقه باندے خو به ستاسو ځان او مال محفوظ پاتے شی لیکن په اصل کښ جهاد پرېښودلو سره ستاسو سراسر نقصان او د دوارو جهانو نو خساره ده ځکه چه داشان کولو سره به تاسو د کافرانو د لاسه خوار او ذلیل شئ. هغوی به تاسو تباه او برباد کړی مالونه به مو لوټ کړی او ښځے او بچی به مو غلامان کړی. ستاسو په ښارونو باندے به قبضه اوکړی او ستاسو دین او دُنیا به ختم کړی. دا په یوه طریقه د جهاد ترغیب دے وَاللّٰهُ يَعْلَمُ وَأَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ۔ د الله علم کامل او په هر څیز باندے حاوی دے د انسان علم ناقص او محدود دے. الله پاک د هر څیز د فائدو او خوبیانو نه خبردار دے او د هر کار حکمتونه پیژنی لهٰذا هغه د جهاد حکم ورکړیدے. په دیکښې یقیناً د مُسلمانانو خیر او بهتری ده.

يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الشَّهْرِ الْحَرَامِ قِتَالٍ فِيْهِ ۖ قُلْ قِتَالٌ

ستا نه تپوس کوی د میاشتے د حرام چه دیکښې جنګ څنګه دے ځان ته اووایه جنګ په

فِيْهِ كَبِيْرٌ ۖ وَصَدٌّ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَكُفْرٌۢ بِهٖ وَالْمَسْجِدِ

دیکښې لویه ګناه ده او منع کول دی د الله د لارے نه ځکه او هغه نه منل او د مسجد حرام نه

الْحَرَامِ ۙ وَإِخْرَاجُ أَهْلِهٖ مِنْهُ أَكْبَرُ عِنْدَ اللّٰهِ ۚ وَالْفِتْنَةُ

بهر اوباسل او ویستل د هغے د خلقو د هغه ځائ نه د دینه هم لویه ګناه ده د الله په نزد ځکه او خلق د

أَكْبَرُ مِنَ الْقَتْلِ ۗ وَلَا يَزَالُوْنَ يُقَاتِلُوْنَكُمْ حَتّٰى يَرُدُّوْكُمْ

دین نه بے لارے کول هغه د قتل نه هم زیات دے ځکه او کافران به همیشه تاسو سره جنګ کوی تر دے چه تاسو

عَنْ دِيْنِكُمْ إِنِ اسْتَطَاعُوْا ۗ وَمَنْ يَّرْتَدِدْ مِنْكُمْ عَنْ

واپس کړی ستاسو د دین نه ځکه که چرے قابو پیا مومی. او چه څوک واپس شی ستاسو نه د خپل دین

دِيْنِهٖ فَيَمُتْ وَهُوَ كَافِرٌ فَأُولٰٓئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ

نه بیا مړ شی په حالت د کُفر کښې نو دا سے خلقو ضائع شو عملونه

فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ ۚ وَأُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا

په دنیا او آخرت کښې ۴۲۱ او همدغه خلق اوسیدونکي دي د دوزخ کښې همغوي به دیکښې

خَالِدُونَ ﴿۲۱۷﴾ إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَالَّذِينَ هَاجَرُوا وَ

همیشه وي ۴۲۲ بیشکه کوم خلق چه ایمان راوړی ۴۲۳ او چا چه هجرت اوکړو او

جَاهَدُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أُولَٰئِكَ يَرْجُونَ رَحْمَتَ

جنګ یې اوکړو د الله په لاره کښې همغوي امید لرونکي دي د الله د رحمت

اللَّهِ ۚ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿۲۱۸﴾

او الله بخښونکي مهربان دے ۴۲۴

نکات
۱۔ متعلق د جهادی مضمون ۲ ۔ په اشهر حرم کښې د قتال د جواز اول علت ۲ ۳۔ د قتال د جواز دویم علت ۲ ۴۔ د قتال د جواز دریم علت ۲ ۵۔ د قتال د جواز څلورم علت ۲ ۶۔ د قتال د جواز پنځم علت ۲ ۷۔ اخروی تخویف او زجر مؤمنانو دپاره ۲ ۸۔ بشارت اخروی ۲

موضح قرآن
ف نبی علیه السلام یو فوج اولیږلو جهاد دپاره همغوی کافران مړهٔ کړل او واپس راغلل مسلمانانو ته خبر وو چه هغه ورځ د جمادی الآخر ده او هغه د رجب اوله ورځ وه. کافرانو په دے باندے طعن شروع کړو. او مسلمانان په شبه کښې پریوتل په دے باندے دا آیت نازل شو یعنی په دے میاشتو کښې ناحقه جنګ کول سخته ګناه ده. او کومو کافرانو چه په دے میاشتو کښې څهٔ کمے او نهٔ کړو نو د همغوی سره جنګ کول منع نهٔ دی.

فتح الرحمٰن
ف۱ یعنی رجب، ذیقعده او ذی الحجة او محرم چه د ابراهیم علیه السلام په شریعت کښې په دیکښې جنګ حرام وُو نو تپوس یې اوکړو چه شریعت محمدی کښې د تحریم حکم باقی پاتے دے یا نه؟ ف۲ یعنی د شرک خوړل. ف۳ د جواب حاصل دا دے چه د کافرانو سره جنګ جائز دے او د مسلمانانو سره د جنګ حرام والے نور هم سخت دے.

تفسیر
۴۲۱ قِتَالٍ فِيهِ، د الشهر الحرام نه بدل الاشتمال دے. او د الشهر الحرام نه مراد دلته رجب دے او د يسئلونك فاعل مشرکین دے. یو ځل په مقام نخله کښې د مسلمانانو مقابله د مشرکانو سره اوشوه چه په هغې کښې یو مشرک عمرو بن الحضرمی او وژلے شو. مسلمانانو دا خیال اوکړو چه نن د جمادی الآخر اخری تاریخ دے یعنی دیرشم لیکن اتفاقاً هغه میاشت دیوکم دیرش وه. او دا ورځ د رجب ړومبے تاریخ وُو. کانوا یظنون

تلك الليلة من جمادى وكانت اول رجب ولم يشعروا (ابن جرير ص۱۹۶ ج۲) چه کله دغه واقعه علم مشرکانو ته اوشو نو دغوی یو وفد نبی علیه السلام ته راغے او ښه منډه کښې حاضر شو او پوښتنه یې اوکړه چه آیا رجب چه اشهر حرام دی په دیکښې قتال جائز دے نو په دے باندے دا آیت نازل شو. مفسرینو لیکلی دی چه دا سوال مسلمانانو کړے وو ځکه چه دغه واقعه په وجه سره دغوی ته پښیمانتیا شوے وه چه مونږ په اشهر حرام کښې قتل اوکړو او مونږ نو به ګناه اوکړه.

۱۸ځکه دلته په اشهر حرام کښې د قتال د جواز پنځه دلیلونه بیان کړے شوی دی. صَدٌّ. او قِتَالٌ دواړه نکره دی. او چونکه دواړو سره جار مجرور متعلق دے په دے وجه دیکښې تخصیص پیدا شویدے او دے مبتداء واقع کیدل صحیح دی. څنګه چه امام مالک په انفیه کښې ددے مثال داسے ورکړیدے. ورغبة فی الخیر خیر. د سبیل الله نه مراد اسلام دے عن سبیل الله وهو الاسلام (روح ص۱۰۹ ج۲) یعنی د اسلام او توحید نه منع کول اول دوهم علت دے. وَالْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ددے عطف په سبیل الله دے یعنی مسلمانانو د مسجد حرام نه منع کول دا دریم علت دے.

۱۹ځکه او د مسجد حرام اهل د هغه ځائی نه ویستل او د اهل نه مراد حضرت محمد صلی الله علیه وسلم او مؤمنان دی. داځکه د مسجد حرام اهل ځکه وو چه هغوی ددے د آبادئ پوره پوره حقونه ادا کول. نو ددے د ټولو نه لوئی حق خو دا وو چه په دیکښې صرف د یو خدائے عبادت اوکړے شی. او په دیکښې شرك اونکړے شی او دا حق هغوی کماحقه ادا کولو. وهم النبی صلی الله علیه وسلم والمؤمنون وانما کانوا اهله لانهم القائمون بحقوقه (روح ص۱۰۹ ج۲) دا دریم علت دے. اَكْبَرُ عِنْدَ اللّٰهِ وَالْفِتْنَةُ اَكْبَرُ مِنَ الْقَتْلِ. د فتنے نه مراد شرك دے. والفتنة التی انتم علیها مقیمون. یعنی د الله په نزد په شهر حرام کښې دا د قتل د ګناه نه زیات سخت دے. یعنی الشرك اكبر من القتل (ابن جریر ص۱۹۶ ج۲) د غسے شرك چه تاسو یې په شهر حرام کښې کوئ هغه د قتل نه هم زیات سخت جرم دے. دا څلورم علت دے. حاصل د جواب دا دے چه مسلمانانو د رجب په میاشت کښې کوم قتل کړیدے هغه یې عمدًا او قصدًا په دے میاشت کښې نه دے کړے بلکه په غلطئ سره یې کړیدے او تاسو چه کوم ګناه کوئ هغه د قتل نه هم زیاته ده. تاسو د هغې خیال نه کوئ او که چرے سوال مسلمانانو کړے وو. نو بیا به د جواب نوعیت د تسلئ وی یعنی مسلمانانو ته یې تسلی ورکړه چه که چرے ستاسو نه په رجب کښې قتل شویدے نو دا څه زیاته لویه ګناه نه ده په خپله مشرکان په اشهر حرم کښې چه کوم کارونه کوی هغه د قتل نه هم زیاته لویه ګناه ده.

۲۰ځکه دا خطاب مسلمانانو ته دے یعنی چه که چرے ستاسو د مشرکانو سره په اشهر حرم کښې جنګ شروع شی نو بغیر د څه تردد نه جنګ اوکړئ ځکه چه مشرکانو اوس ددے خبرے پخه اراده کړیده. چه هغوی بغیر د څه امتیاز نه په اشهر حرام کښې همیشه تاسو سره جنګ اوکړی تر دے چه تاسو د دین اسلام نه واپس اوګرځوی او کافران شئ. دا په

اشهر حرم کښې د قتال د جواز پخسم علت دے. الغرض په اشهر حرام کښې د قتال نه کول صرف یو علت دے. لیکن د قتال د جواز پنځه علتونه دی. اِنِ اسْتَطَاعُوْا یعنی که چرته د دوی په اختیار او قابو کښې وے. په دے سره دے طرفته اشاره ده چه دا خبره لرے ده چه هغوی په خپل مقصد کښې کامیاب شی او تاسو د پاره کافران اوګرځوی. قوله ان استطاعوا استبعاد لاستطاعتهم کقول الرجل لعدوه ان ظفرت بی فلا تبق علی (کبیر ص۲۲۳ ج ۲ مدارک ص۸۹)

۴۲۱ دا د مسلمانانو د پاره تخویف او ویرول دی. فالآیة تهدید للمسلمین لیثبتوا علی دین الاسلام (قرطبی ص۴۷ ج ۳) یعنی ستاسو نه که چرے څوک د مشرکانو په ویناسره د خپل دین نه واپس شو او د توبې نه بغیر په کفر باندے مړشو نو د هغه عملونه به د دنیا او اخرت کښې ضائع شی او هغه ته به هیڅ فائده ورنکړی. په دنیا کښې د مرتد د عملونو ضائع کیدلو نه مطلب دا دے چه په دنیا کښې د اسلام په وجه سره چه هغوی ته کومے فائدے حاصلے وے هغه نه به محروم کړے شی او په اخرت کښې به هغه ثواب هم ختم شی کوم چه په اسلام باندے مرتب کیدونکے وو. ببطلان ما تخیلوه وفوات ما للاسلام من الفوائد فی الاولی وسقوط الثواب فی الاخری (روح ص۱۱۰ ج ۲)

۴۲۲ یعنی د مرتدینو هغه سزا ده کومه چه د نورو کافرانو ده هغوی به همیشه همیشه په جهنم کښې وی او د هغوی تیرے شوے ایمان به په کار را نشی. کسائر الکفرة ولا یغنی عنهم ایمانهم السابق علی الردة شیئا (روح ص۱۱۰ ج ۲) اوس وړاندے بیے د جهاد فی سبیل الله اجر وثواب بیان کړو د جهاد زیات ترغیب یے ورکړیدے. او د کومو مسلمانانو نه چه په رجب کښې قتل شوے وو او هغوی ته خو د پورته ذکر شوی جواب نه دا معلومه شوے وه چه هغوی د ګناه نه بچ شویدی. لیکن د هغوی په زړه کښې دا خیال پیدا شوے وو چه شاید د دے مهم سرکولو کښې به هغوی د ثواب نه محروم شی. نو په وړاندے ایت کښې هغوی ته دا خوشخبری واوروله شوه چه هغوی ته به د الله د رحمت نه ضرور حصه ملاویږی. هغوی له نا امیده کیدل بکار نه دی.

۴۲۳ ایمان چونکه د ټولو عملونو د قبولیت د پاره شرط دے او د دینه بغیر نه هجرت فائده ورکوی نه جهاد، په دے وجه اول یے ذکر اوکړو. وَالَّذِيْنَ هَاجَرُوْا. د الله د دین او توحید په خاطر او د خپل ایمان د حفاظت د پاره یے خپل وطن پریښودو. وَجَاهَدُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ. د الله د دین او توحید اوچتولو د پاره یے د کافرانو سره جهاد اوکړو. اُولٰٓئِكَ يَرْجُوْنَ رَحْمَتَ اللّٰهِ. په اُولٰٓئِكَ سره د پورتنو صفتونو والا طرفته اشاره ده او د رجا نه قطع او یقین مراد دے. المراد من الرجاء القطع والیقین (کبیر ص۳۳۱ ج ۲) او خبر په معنی د امر دے یعنی دا خلق د الله د رحمت نه نا امیده کیږی، بلکه د هغه د رحمت امید دے اوساتی.

۴۲۴ د مغفرت سره یے د رحمت صفت ذکر کړو. ایمان والو ته یے زیات اطمینان ورکړو چه د ګناه د معافئ سره سره به اجر وثواب هم ملاویږی.

ربط:- د حرمت والا میاشتو کښې د قتال د ده جهتونه وو یو جهت سره جائز او بل جهت

ناجائز کړے شوے د میاشتو عزت او د نفوسو حرمت نه اوکنړلے شی نو په دے میاشتو کښې چه مشرکینو د کومو افعالو ارتکاب کولو د هغے د بندولو په پیش نظر په دے میاشتو کښې قتال ناجائز دے د نفوسو او اشهر د حرمت په مقابله کښې چونکه توحید زیات اهم دے لهذا د شرک د بیخ کنۍ د پاره دے میاشتو کښې قتال کوئ و رانۍ یے دے مناسبت سره پنځه نور هغه مسئلے بیان کړیږی او هر یو مسئلے تعلق د دفع ظلم یا اسراف سره دے چه هغے خلاصه د پنځه مسئلو روستو راځی۔

يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ ؕ قُلْ فِيْهِمَآ اِثْمٌ كَبِيْرٌ وَّ

ستاسه تپوس کوی حکم د شرابو او د جوارئ ۲۲۵ ئکه او وایه په دے دواړو کښې لوے ګناه دے او

مَنَافِعُ لِلنَّاسِ ؗ وَاِثْمُهُمَآ اَكْبَرُ مِنْ نَّفْعِهِمَا ؕ وَيَسْـَٔلُوْنَكَ

فائدے هم شته خلقو د پاره ۲۲۶ ئکه او د دے ګناه ډیره لویه ده د دے د فائدے نه ۲۲۷ ئکه او ستاسه تپوس کوی

مَاذَا يُنْفِقُوْنَ ؕ۬ قُلِ الْعَفْوَ ؕ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمُ

چه څه خرچ کړی ۲۲۸ ئکه او وایه چه کوم زیات شی د خپل خرچ نه ۲۲۹ ئکه داشان بیانوی الله ستاسو د پاره

الْاٰيٰتِ لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُوْنَ ﴿۲۱۹﴾ فِى الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ؕ وَ

حکم دے د پاره چه تاسو فکر اوکړئ د دنیا او اخرت په خبرو کښې او

يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الْيَتٰمٰى ؕ قُلْ اِصْلَاحٌ لَّهُمْ خَيْرٌ ؕ وَاِنْ

ستاسه تپوس کوی د یتیمانو حکم ۲۳۸ ئکه او وایه د هغوی د کار برابرولے بهتر دے که اوګډ کړے

تُخَالِطُوْهُمْ فَاِخْوَانُكُمْ ؕ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ الْمُفْسِدَ مِنَ الْمُصْلِحِ ؕ

د هغوی خرچ یو ځائ کړئ نو هغوی ستاسو ورونړه دی ۲۳۹ ئکه او الله پیژنی نقصان کونکی او اصلاح کونکی ئکه

وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَاَعْنَتَكُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿۲۲۰﴾ وَلَا

او که چیرے الله غوختلے نو په تاسو به یے مشقت اچولے وے بیشکه الله غالب دے حکمت والا دی او نکاح

تَنْكِحُوا الْمُشْرِكٰتِ حَتّٰى يُؤْمِنَّ ؕ وَلَاَمَةٌ مُّؤْمِنَةٌ خَيْرٌ

مه کوئ د مشرکو ښځو سره ترڅو چه ایمان رانه وړی او البته وینځه مسلمانه ۲۳۱ ئکه بهتره ده د

مِّنْ مُّشْرِكَةٍ وَّلَوْ اَعْجَبَتْكُمْ ۚ وَلَا تُنْكِحُوا الْمُشْرِكِيْنَ

مشرکے بی بی نه اګرچه هغه تاسو ته ښه معلومه شی او نکاح مه کوئ د مشرکانو سره ۵ ترڅو

حَتّٰى يُؤْمِنُوْا ۭ وَلَعَبْدٌ مُّؤْمِنٌ خَيْرٌ مِّنْ مُّشْرِكٍ وَّلَوْ

چه هغوی ایمان راته وړی او البته غلام ښه دے د مشرک نه اګرچه هغه تاسو له

اَعْجَبَكُمْ ۭ اُولٰۗىِٕكَ يَدْعُوْنَ اِلَى النَّارِ ښ وَاللّٰهُ يَدْعُوْٓا اِلَى

ښه معلومیږی ۳۲۲ هغوی بلنه کوی دوزخ طرفته ۳۲۳ او الله بلنه کوی جنت طرف ته

الْجَنَّةِ وَالْمَغْفِرَةِ بِاِذْنِهٖ ۚ وَيُبَيِّنُ اٰيٰتِهٖ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ۝۲۲۱

او د بخښنے طرفته په خپل حکم سره او بیانوی خپل حکم خلقوته د دے د پاره چه نصیحت قبول کړی. ۳۲۴

نکات: ۱- سره روښه ذو چهتینو مسئله ۱۲ سره ۲- د ذو چهتینو دویمه مسئله ۱۲ سره ۳- دریمه دوه چهته لروکے مسئله دیتیمانو د پاره اصلاح بهتره ده یعنی د هغوی مال مه اخلئ اګرچه هغوی ته هیڅ هم مه ورکوئ لیکن د هغوی د مال حفاظت اوکړئ لیکن د فرض قتال د پاره یعنی د شرک ختمولو د پاره د هغوی مال هم خرچ کړئ ۱۲ سره ۳- څلورمه ذو چهتینه مسئله. د مشرکانو په نکاح کښی اګرچه ښائست او دنیوی مال وی لیکن د شرک په مقابله کښی هغه پریږدی ۱۲

موضح قرآن

ف ۱ د شرابو او جوارئ په حق کښی ډیر ایتونه نازل شویدی په هر یو کښی د دے بدی ده. اخر د سورة مائدے ایت نازل شو چه صفا حرام شول کوم څیز چه نشه راولی هغه ټول حرام دی. او په شرط تړلو سره چه مال اوګټلے شی دا ټول حرام دے. او خلقو تپوس اوکړو چه مال څومره خرچ کړو حکم اوشو چه د خپل حاجت نه زیات وی نو بیا یے خرچ کوئ څنګه چه د اخرت فکر ضروری دے د دنیا فکر هم ضروری دے. چه ټول مال وانخلئ او خرچ یے کړئ نو د دنیا په حاجت کښی به عاجز شئ. او د یتیمانو په حق کښی اول تنبیه نازل شو چه څوک د دوی مال اوخوری نو هغه خپله خیټه د اور نه ډکه کړه بیا چه څوک د یتیمانو کفیلان وُو د هغوی مال او خوراک څکاک یے جدا کول شروع کړل چه زمونږ په خرچ کښی څه څیز را نشی بیا په ډیر سخت مشکل کښی پریوتل چه یو څیز د یتیم د پاره تیار شو د هغه پکار را نغے هغه ضائع شو نو بیا دا حکم نازل شو چه که چرے د هغوی او خپله خرچه یو ځائ کوئ نو باک نشته چه یو د خت د هغه څیز تاسو خرچ کړئ نو بل وخت یے خپل څیز د هغوی پکار کښی اولګوئ لیکن نیت د اصلاح پکار دے الله تعالے نیت ته ګوری.

ف ۲ اول د کافرانو او مسلمانانو په مینځ کښی د رشتے نسبت جاری وُو په دے ایت سره حرام کړے شو. که چرے سړی یا ښځے شرک اوکړو نو د هغه نکاح ماته شوه. شرک دا چه د الله صفت یے بل چا د پاره اومنلو مثلاً د چا په باره کښی یے خیال اوکړو چه هر خبره ورته معلومه ده یا دا چه هغه څه کول غواړی نو کولے شی یا مونږ ته خیر او شر رسول د

هغه ته په اختیار کښې دی. او دا چه د الله تعظیم پل ځا ته اوکړی مثلاً څه شیز ته سجده
اوکړی د هغه نه حاجت اوغواړی هغه مختار اوګنړی. باقی د یهود او نصارو د بنجو سره
نکاح صحیح ده. هغوی ته بے مشرك اونه وئیل.

فتح الرحمٰن ف۱ یعنی په دنیا کښې ۱۲ ف۲ یعنی حرام دی او د هغے فائدو ته کتل پکار نه دی ۱۲ ف۳ یعنی د ضروری حاجت نه ۱۲ ف۴ یعنی بغیر د شرکت ۱۲
ف۵ یعنی مؤمنانے ښځے ۱۲ ف۶ یعنی هر غلام د خدائی د بندګانو نه چه مؤمن وی او هره
وینزه د خدائی د بندګانو نه چه مؤمنه وی بهتر دی د مشرک او مشرکے نه ۱۲

تفسیر: ۴۲۵ اوله مسئله یعنی ستاسو نه د شرابو د حُرمت د عِلت او د حُرمت متعلق
تپوس کوی او د شرابو نه مراد هر هغه بهیدونکے شیز دے چه نشه راولی. او په عقل کښې
خرابی پیدا کړی خواه د هر شیز نه چه تیار کړے شوے وی او خواه د هغے هر څه نوم چه
کیښودلے شوے وی. الحق الذی لا ینبغی العدول عنه ان الشراب المتخذ مما عدا العنب کیف
کان وبای اسم سمی کان بحیث یسکر من لم یتعوده حرام وقلیله ککثیره ویحد شاربه الخ (روح ج۲ ص۱۱۳)
رغبے د مَیْسِر نه هم د جوارئ ټول قسمونه مراد دی خواه د لاټرئ په صورت کښې وی یا
د امدادی کمیټئ په شکل کښې وی یا د دے نه سوا کوم چه په لوبو یا اسونو زغلولو وغیره
باندے شرط تړلے شی دا ټول په مَیْسِر کښې داخل دی وفی حکم المیسر انواع القمار من النرد
والشطرنج وغیرهما (مدارک ص۸۳ ج۱)

۴۲۶ یعنی شراب او جوارئ کښې یو طرفته خو ډیره زیاته ګناه ده لیکن په دے سره
دیکښې د خلقو د پاره جسمانی او مالی فائدے هم دی. مثلاً په شرابو کښې لذت او سُرور نه
علاوه بدن ته تقویت هم رسیږی. او د دے په تجارت سره نفع هم کیږی. او په جوارئ
سره بغیر د محنت او مشقت نه مال لاس ته راځی. وَ اِثْمُهُمَآ اَكْبَرُ مِنْ نَّفْعِهِمَا. لیکن د
دے نه چه کومے خرابیانے پیدا کیږی هغه د دے د فائدو نه ډیرے زیاتے دی. د دے
نه حاصلیدونکی فائدے خو صرف مادی او معمولی قسم وی لیکن د دے نقصانونه د
دین او دنیا د پاره تباه کونکی دی. د دے نه اشاره مِلاؤ شوه چه د معمولی مالی فائدے د پاره
دین او دنیا مه بربادوئ او د شرابو او جوارئ نه پرهیز اوکړئ.

نکته: د خیل مالی او بدنی فائدو د پاره ځان ادنیٰ وهل هم پکار نه دی او معمولی نقصان هم ورته
رسوئ لیکن د شرك بالله په مقابله کښې د ځان وژل هم مه پریږدئ او بے خوفه یے قتل کړئ.
۴۲۷ دویمه د وجهتین مسئله. دا مسئله هم تیره شوې ده. هلته د دے په جواب کښې
د مصارفو ذکر اوکړے شو او دلته د مقدار ذکر کړ دے چه څومره مال خرچ کول دی. قُلِ
الْعَفْوَ د عفو نه مراد هغه مال دے چه د ضروری حاجتونو نه زیات وی. فالمعنی انفقوا
ما فضل عن حوائجکم (قرطبی ص۶۱ ج۳) ای انفقوا ما فضل عن قدر الحاجة (مدارک ص۸۶ ج۱)
كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمُ الْاٰيٰتِ. څنګه چه دلته یے د خرچ کولو حکم بیان کړیدے د غسے
الله پاک ستاسو د پاره ټول احکام بیانوی او په هغے کښې ستاسو سهولت او فائده په

نظر کښې ساتي فِي الدُّنْيَا وَ الْاٰخِرَةِ ظرف تَتَفَكَّرُوْنَ پورې متعلق دے. یعنی د سوال حکم بیے دے د پاره ورکړېږي چه تاسو د دین او دُنیا په معامل کښې غور اوکړئ او د خپل دولت یوه برخه په اصلاح معاش باندے خرچ کړئ او باقی پاتے د الله په لاره کښې خرچ کړئ لتفعلوا عن اموالکم مایصلحکم فی معاش الدنیا و تنفقون الباقی فیما ینفعکم فی العقبیٰ (قرطبی ص۶۲ ج ۳) اِنفاق کښې هُم دوه جهتونه وُو یو جهت د مالی نُقصان او دویم اُخروی نفع. اُخروی نفع د دُنیوی نُقصان په مقابله کښې زیاته اَهمه ده د دے وجے نه د ژوند د ضروریاتو نه زیات زیات د الله په لاره کښې خرچ کړئ. لیکن که چرے جهاد فرض شی نو د شِرک ختمولو د پاره ټول مال خرچ کړئ.

۳۲۸ که دریمه مسئله په قرآن مجید کښې د یتیمانو د مال خوړلو نه سخت ممانعت راغے نو په صحابه کرامو کښې چه د چا د پرورش لاندې څوک یتیم وُو هغوی د یتیمانو د خوراک څکاک انتظام د ځان نه جُدا اکړو. که چرے د یتیم نه به څه زیات شول نو څښتے وخت به داسے هُم کیدل چه هغه خوراک به خراب شو. دا شان د هغوی جُدا خوراک تیارولو کښې ډیر تکلیف وُو. د دے وجے نه صحابه کرامو د نبی علیه السّلام نه تپوس اوکړو چه آیا د یتیمانو د خوراک جُدا انتظام اوکړے شی یا د خپل ځان سره ذیو ځائ کولو اجازت دے؟ قُلْ اِصْلَاحٌ لَّهُمْ خَيْرٌ. نو د دے جواب ورکړے شو چه هغه طریقه اختیار کړئ په کومه کښې چه د یتیمانو اصلاح وی او د هغوی فائده وی. یعنی یتیمانو ته مال ورکول واجب نه دے بلکه د هغوی خیر لټول ضروری دی.

قاعده:- قرآن مجید کښې چرته چه دوه مسئلے بیانول وی او په هغے کښې یوه د سیاق نه معلومه شی او بله د سیاق نه معلومه نه شی نو کومه مسئله چه د سیاق نه معلومه شی د هغے صراحت نشی کوُلے او کومه چه د سیاق نه معلومه نه وی هغه صراحةً ذِکر کوُلے شی. دلته هُم دا شان ده. دا خبره د سیاق نه معلومه وه چه یتیمانو ته مال ورکول ضروری نه دی د هغے ذِکر یے اُونه کړو او د هغوی د اصلاح ذِکر کړے شویدے.

۳۲۹ که اوکه چرے تاسو د خوراک څکاک انتظام خپل ځان سره کښې وړ اُوساتئ نو دے هُم اجازت دے ځکه چه هغوی هُم ستاسو رونړه دی که چرے په رونړو کښې په رضامندئ سره لږ ډیر اَخوا دیخوا اوشی نو هیڅ باک نشته. غرض دا چه د یتیمانو مال ناحقه اُونه خوړل شی. په دے اَیت کښې بے د اصلاح د شرط سره د یتیمانو ځان سره د یو ځائ ساتلو ترغیب ورکړیدے.

۳۳۰ که الله تعالیٰ خو پیژنی چه د یتیمانو خرچ د ځان سره یو ځائ کولو کښې د چا نیت نیک دے او د چا خراب دے. څوک د یتیمانو د مال اصلاح او حفاظت غواړی او څوک هغوی په مال کښې د خیانت کولو اراده لری. الذی یقصد بالمخالطة الخیانة وافساد مال الیتیم واکله بغیر حق عن الذی یقصد الاصلاح (معالم ص۱۶۹ ج ۳) وَلَوْ شَاءَ اللّٰهُ لَاَعْنَتَكُمْ د مخالطت (یو ځائ کولو) اجازت درکولو سره سره تاسو د پاره اسانی پیدا کړیده او که چرے

هغه خوشحاله وے نو هغه به د دے اجازت نه وے ورکړے او په تاسو به یې په دے معامله کښې تنګي پیدا کړے وے ای لضیق علیکم ولم یجوز لکم مخالطتهم (روح ص۱۱۶ ج۲) اِنَّ اللّٰهَ عَزِیْزٌ حَکِیْمٌ هغه چه څه اوغواړي حُکم ورکولے شي غوښت هُم هغه نه شي منع کولے. لیکن هغه صرف هغه احکام صادروي کوم چه د هغه د حکمت او مصلحت موافق وي د دے هُم دوه جهته دي که چرے د یتیمانو مال جُدا کړے شي نو په دیکښې تکلیف دے او که چرے یو ځائې کړے شي نو احتیاط نه پاتے کیږي.

نکته:- که چرے د یتیمانو سره مال موجود وي نو په هغوی باندے خپل مال خرچ کول ضروري نه دي. لیکن د هغوی د مال اصلاح او حفاظت ضروري دے. لیکن د مُشرکانو په مقابله کښې د شرک ختمولو دپاره په جهاد کښې خرچ کول نهایت ضروري دي.

۴۳۱ څلورمه مسئله. دلته یو طرفته خو حُسن وجمال او دُنیوی مال او دولت دے اوبل طرفته د مشرک یا مُشرکے د منکرتیا نه د خپل دین د بربادئ خطره ده دویم جهت ته ترجیح ورکولو سره د مشرک سړي سره د مؤمنے ښځے او د مُشرکے ښځے سره د مؤمن سړي نکاح حرام اوګرځولے شوه - وَلَوْ اَعْجَبَتْكُمْ حُسن او جمال او دُنیوی مال او دولت د دین او ایمان په مقابله کښې بے حقیقته دے. د دے وجے نه ایماندارۀ وینزه چه د ظاهري حُسن او دُنیوی مال نه محرومه وي د هغه آزادے ښځے نه بهتره ده کومه چه ښائسته وي او دے سره مالداره هُم وي لیکن مُشرکه وي. حُسن او مال د شرک په مقابله کښې رَد کړئ او د مُشرکانو سره د نکاح رشته مه کوئ.

۴۳۲ څکه چه د مؤمن سړي نکاح د مُشرکے ښځے سره جائز نه ده. داشان د مؤمنے ښځے نکاح د مُشرک سړي سره هم جائز نه دے. حضرت مولانا شاه عبدالعزیز محدث دهلویؒ د دے اپین دلاندے فرمائي. که چرے سړي یا ښځے شرک اوکړو نو د هغوی نکاح ماته شو شرک دا چه د الله صفت په بل چا کښې اُوګنړي مثلاً د چا متعلق دا سوچ اوکړي چه هغه ته هره خبره معلومه ده یا چه هغه څه اُوغواړي نو کولے شي یا زمونږ نفع او نُقصان د هغه په اختیار کښې دي او دا چه د الله تعظیم په غیر باندے خرچ کړي مثلاً څه څیز ته سجدۀ اوکړي او د هغه نه حاجت اُوغواړي. او هغه مختار اوګنړي.

۴۳۳ مُشرکان سړي او مُشرکانے ښځے په خپلو کښې دیوبل سره د تعلق او استوګنے په ذریعه د شرک او کُفر طرفته دعوت ورکوي چه د هغے انجام د جهنم عذاب دے ای الی الاعمال الموجبة للنار (قرطبی ص۷۲ ج۳) په دے وجه د هغوی سره خپلولئ او رشتے مه کوئ. وَاللّٰهُ يَدْعُوْا اِلَى الْجَنَّةِ وَالْمَغْفِرَةِ او الله تعالیٰ د ایمان والو د صحبت او ملګرتیا او د دوي د تعلق په ذریعه د اعتقاد حق او عمل صالح دعوت ورکوي چه د هغے نتیجه او ثمره د الله بخښنه او جنت دے ای الی اعتقاد الحق والعمل الصالح الموصلین الیهما (روح ص۱۲۰ ج۲) بِاِذْنِهٖ ای بتوفیقه الذی من جملته ارشاد المؤمنین لمقاربیهم الی الخیر (روح ص۱۲۰ ج۲) دا محض د الله په توفیق سره کیږي چه هغه د ایمان والو په ذریعه د هغه متعلقینو ته ښه لاره

ښائي. دوسره وجې نه مُسلمانانو د پاره د رشتې او تعلق قائمولو په وخت همیشه ایمان او
عمل صالح معیار ګرځول پکار دي نه چه ظاهري شان او شوکت او مال او دولت۔

وَيَسْـَٔلُونَكَ عَنِ الْمَحِيضِ ۖ قُلْ هُوَ أَذًى فَاعْتَزِلُوا النِّسَآءَ

او ستانه تپوس کوي د حیض د حکم ۴۳۴ او وایه هغه ګنده ګي ده ۴۳۵ نو تاسو جدا شئ د ښځو نه

فِي الْمَحِيضِ ۖ وَلَا تَقْرَبُوهُنَّ حَتّٰى يَطْهُرْنَ ۖ فَإِذَا تَطَهَّرْنَ

د حیض په وخت کښې او مه نزدې کیږئ هغوی ته تر څو چه نه وي پاکې شوې بیا چه کله پاکې

فَأْتُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ أَمَرَكُمُ اللّٰهُ ۚ إِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ التَّوَّابِينَ

شي ۴۳۶ نو ورشئ هغوی ته د کوم ځائې نه چه حکم درکړو تاسو ته الله ۴۳۷ بیشکه الله خوښوي توبه

وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِينَ ۝٢٢٢ نِسَآؤُكُمْ حَرْثٌ لَّكُمْ ۖ فَأْتُوا حَرْثَكُمْ

ویستونکي او خوښوي د کندګي نه ځان ساتونکي ۴۳۸ ستاسو ښځې ستاسو پټي دي ۴۳۹ نو ورشئ خپلو پټو ته

أَنّٰى شِئْتُمْ ۖ وَقَدِّمُوا لِأَنفُسِكُمْ ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعْلَمُوا

په کومه طریقه چه تاسو غواړئ ۴۴۰ او د مخکښې د پاره تدبیر اوکړئ د خپل ځان د پاره ۴۴۱ او ویریږئ الله

أَنَّكُم مُّلٰقُوهُ ۗ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ ۝٢٢٣ وَلَا تَجْعَلُوا اللّٰهَ

نه او پوهه شئ چه تاسو به هغه سره ملاویږئ او زیرے واوروئ ایمان والو ته ۴۴۲ او مه جوړوئ د الله نوم

عُرْضَةً لِّأَيْمٰنِكُمْ أَن تَبَرُّوا وَتَتَّقُوا وَتُصْلِحُوا بَيْنَ

نښانه د خپلو قسمونو خوړلو د پاره ۴۴۳ چه د ښه سلوک کولو نه او پرهیزګارۍ نه او خلقو کښې د صلح کولو نه

النَّاسِ ۗ وَاللّٰهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ۝٢٢٤ لَّا يُؤَاخِذُكُمُ اللّٰهُ بِاللَّغْوِ

بچ شئ ۴۴۴ او الله هر څه اوري او په هر څه خبر دے ۴۴۵ نه نیسي الله تاسو په بیهوده

فِي أَيْمٰنِكُمْ وَلٰكِن يُؤَاخِذُكُم بِمَا كَسَبَتْ قُلُوبُكُمْ ۗ وَاللّٰهُ

قسمونو باندې ستاسو ۴۴۶ لیکن نیسي تاسو په هغه قسمونو د کوم چه قصد کړے ستاسو زړونو او الله

غَفُورٌ حَلِيمٌ ۝٢٢٥ لِّلَّذِينَ يُؤْلُونَ مِن نِّسَآئِهِمْ تَرَبُّصُ

بخښونکے او تحمل کونکے دے ۴۴۷ کوم خلق چه قسمونه کوي خپلو ښځو ته د ورتلو نه هغوی د پاره

أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ فَإِنْ فَآءُو فَإِنَّ اللّٰهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٢٢٦﴾ وَ

مهلت دے د څلورو میاشتو ۲۲۶ بیا که چرے یو ځل سره ملاؤ شول نو الله بخښونکے مهربان دے او

إِنْ عَزَمُوا الطَّلَاقَ فَإِنَّ اللّٰهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٢٧﴾ وَالْمُطَلَّقٰتُ

که چرے فیصله یې اوکړه د پرېښودلو نو بیشکه الله اوریدونکے او خبردار دے ۲۲۷ او طلاقے شوے ښځے

يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ ثَلٰثَةَ قُرُوٓءٍ ۚ وَلَا يَحِلُّ لَهُنَّ أَنْ

د به انتظار کښې اوساتی خپل ځانونه درے حیضه پورے ۲۲۸ او دوی د پاره حلال نه دی چه پټ

يَكْتُمْنَ مَا خَلَقَ اللّٰهُ فِيٓ أَرْحَامِهِنَّ إِنْ كُنَّ يُؤْمِنَّ

اوساتی ۲۲۹ کوم چه پیدا کړو الله د دوی په خیټو کښې که چرے هغوی ایمان لری په الله تعالیٰ

بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ۚ وَبُعُوْلَتُهُنَّ أَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ فِي

باندے او په روستنۍ ورځ باندے ۲۳۰ او د دوی خاوند حق لری د دوی د واپس اخستلو په دے

ذٰلِكَ إِنْ أَرَادُوٓا إِصْلَاحًا ۚ وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِي عَلَيْهِنَّ

موده کښې ۲۳۱ که چرے خواهی نه سلوک سره اوسیدل. او ښځو هم حق دے هغه چه د سړی حق دے د

ع ٢٨ ١٢ بِالْمَعْرُوفِ ۚ وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ ۗ وَاللّٰهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٢٢٨﴾

دستور مطابق ۲۳۲ او سړو ته په ښځو باندے فضیلت دے او الله زبردست دے تدبیر والا دی

نکات سلہ ښځې ذوجهتین مسئله استثناذ دا ذی په مقابله کښې پریږدی که چرے بلا ابداء وی نو څلور ځے د ښځے سره نزدیکت نه کوئ لیکن که چرے ښځه مشرکه وی نو هغه بالکل پریږدی ۱۲ سلہ د لنډ صنعت احتباک دے په اصل کښې داسے وو حتی یطهرن و تطهرن ۱۲ سلہ د ښځه ذوجهتین مسئلو ذکر کړلو نه روستو دویم شل د انتظامی امورو ذکر ۱۲ ربط یـ چه کله بیبیانے د حیض نه پاکے وی نو هغوی سره جماع کوئ. که چرے تاسو قسم هم کړے وی نو هغه مات کړئ او د جماع نه منع کیږئ ۱۲ سلہ د قسمونو د مناسبت په وجه سره د یمین لغو او یمین غموس ذکر. د یمین منعقده ذکر به په سورة مائده کښې راځی ۱۲ سلہ د یمین لغو او د یمین غموس د مناسبت د وجے نه د ایلاء بیان ۱۲. سلہ وان عزموا الطلاق مناسبت سره د طلاق کړے شوو ښځو بیان دے ۱۲ سلہ کامل درجه مراد ده ۱۲ سلہ د طلاق ورکولو او رجوع کولو حق سړی ته حاصل دے ښځو ته نه دے ۱۲ سلہ د طلاق

او رجوع نه یسوا د ښځو هم څه حقونه دی هغه د و ښځو پښان نه دی ۱۲

موضح قرآن

ف ۱ حیض د ښځې شي وینه نه چه د ښځو عادت دے او چه خلاف عادت را شي نو بیماره ده حکم اوشو چه دغه وخت د ښځې د لرسے اوسئ نبي علیه السلام او فرمائیل چه د ازار (لنګ) نه لاندے مه ځئ بیا چه کله پاکے شي نو ورشئ دکوم ځائ حکم چه الله درکړو. یعني د وبیم ځائ چه ناپاک دے هغه حکم هیڅ کله هم نه دے.

ف ۲ یعني په کومه طریقه او کیفیت چه غواړئ لاړ شئ لیکن صرف په ښځی کښ چه هم هغه چرته چه تخم اچوئ نو هغه زرغونیږي. او د ځکښ تدبیر اوکړئ یعني په جماع کښ نیت د اولاد پکار دی چه ثواب وی.

ف ۳ یعني د نیک کار په پرینبودلو باندے په الله قسم مه کوئ مثلاً د مور پلار سره به خبرے نه کوم یا به دے تقصیرة ورکړه نه کوم او که چرے قسم یے اوکړو نو مات دِ کړي او کفاره دِ ورکړي. ف ۴ یعني ناکاره قسم هغه چه د خُلے نه اوځی او زړه ته خبر نه وی.

ف ۵ یعني چا چه قسم اوکړو چه خپلے ښځے ته به نه ورځم نو په څلورو میاشتو کښ دِ ورشي او د قسم کفاره دِ ورکړي کنې نو طلاق به اوګرځي. ف ۶ چه کله سړی ښځے ته طلاق ورکړل او س دے ښځے د پاره بله نکاح جائز نه ده ترڅو چه درے ځله حیض را نشي یا یے حمل اوشي. نو معلومه به شي چه د بو بچے د بل سره اونه لګی. د دے وجے نه به ښځه باندے فرض دی چه دغه وخت حمل وی نو ظاهر دِ کړي. د دے مودے نوم عدت دے. د دے مودے پورے که سړے غواړي نو بیا دِ ښځه اوساتي اګرچه د ښځے خواهش نه وی. د دے وجے نه یے اوفرمائیل چه د ښځو حق هم په سړي باندے د برزیات دے. لیکن د لته یے سړي ته درجه ورکړه.

فتح الرحمٰن

ف ۱ یعني غسل اوکړي ۱۲ ف ۲ یعني په هره طریقه چه جماع اوکړي په ملاسته د شا وغیره نه خو چه په فرج کښ وی ۱۲ ف ۳ یعني اعمال صالحه ف ۴ یعني د نیک کار موقوف کولو د پاره قسم جائز نه دے ۱۲

ف ۵ یعني لا والله. بلیٰ والله بغیر د قصد نه وائي یا غلطئ سره قسم اوکړي. علیٰ اختلاف المذهبین ۱۲ ف ۶ یعني د ښځو د پاره په سړو باندے حق دے څنګه چه د سړو په ښځو باندے حق دے ۱۲

تفسیر

۲۳ که پنځمه مسئله. که چرے دا اوکتلے شي چه د حیض والا ښځه خپل منکوحه ده نو هغے سره صحبت جائز دے لیکن که چرے په حالت حیض نظر دا چائے شي نو صحبت جائز نه دے ځکه چه د ښځے بدن نا پاک دے ذاشان د فریقینو د بیماري خطره ده د دے وجے نه ترجیح دے طرفته ورکړے شوه او په دے حالت کښ صحبت حرام اوګرځولے شو دکوم په وجه سره چه د وطی حرمت عارضي دے او د حیض نه پاکید نو سره وطی جائز ده استلذاذ (خوند اخستنل) د آدی په مقابله کښ پریږدی که چرے ایذا

پاتې وي نو خاوندان ئې د ښځو سره صحبت مه کوئ لیکن که چیرې ښځه مشرکه وي نو هغه بالکل پریږدئ.

۴۲۵ قُلْ هُوَ اَذًى یعني د حیض په حالت کښې وطي د ښځې دپاره د تکلیف باعث کیږي او سړه د سړي دپاره هم د بد بوئي او د پلیتۍ د وجې نه د تکلیف باعث ده. ای هو شيء تتاذی به المرأة وغیرها ای برائحة دم الحیض (قرطبي ص۸۵ ج ۳) فَاعْتَزِلُوا النِّسَآءَ فِی الْمَحِیْضِ مطلب دا دے چه د حیض په زمانه کښې د ښځې سره د جماع نه پرهیز اوکړے شي. دا مطلب نه دے چه د حیض په حالت کښې د د ښځو نه بالکل جدائي اختیار کړے شي او د هغوي سره د ناستې پاستې او خوراک څکاک نه هم پرهیز اوکړے شي. والمراد من اعتزال النساء اجتناب مجامعتهن (روح ص۱۲۱ ج ۲) والمراد من هذا الاعتزال ترك المجامعة لا ترك المجالسة او الملابسة فان ذلك جائز (فتح البیان ص۲۸۵ ج ۱)

خلاصه :- نورو ته نقصان مه رسوئ او د هغوي دپاره خپل مالي او بدني فائدې قربان کړئ لیکن په جهاد کښې مشرکان بے خوفه او وژنئ. په انفاق کښې اګرچه دنیوي نقصان دے لیکن نفع دوجے نه د ضرورت نه زیات مال خرچ کړئ لیکن د شرک په مقابله کښې تول مال خرچ کړئ. د شرك د دفع کولو موقع نه بغیر هم د یتیم مال هغه ته سپارل ضروري نه دے لیکن د هغه د مال اصلاح ضروري ده خواه جدا یې ساتئ یا یې خپل مال سره یوځاي کوئ. لیکن د مشرکې ښځې سره تعلق او مجامعت حرام دے. او که چیرې مشرکه نه وي نو د حیض په وجه سره هغې سره څو ورځې نزدیکت مه کوئ.

۴۲۶ دا حکم د سابق تاکید دے. نصاری به د حیض په حالت کښې هم د ښځو سره جماع کوله او یهودیانو به بالکل تعلق قطع کولو تر دے چه د هغوي خوراك څکاك به یې هم جدا کولو لیکن اسلام د دے افراط او تفریط په مینځ کښې یوه بهترینه لاره اوښودله چه په دے حالت کښې د جماع نه پرهیز اوکړئ لیکن په ناسته پاسته او خوراك څکاك کښې د وي سره یو ځاي اوسیږئ. او د جماع ممانعت صرف تر هغه وخته پورے دے چه هغه د حیض نه پاکه شي او هغې حیض بند شي.

۴۲۷ تَطَهَّرْنَ، د باب تفعّل نه دے چه په مبالغه باندې دلالت کوي د دے وجے نه دلته د دے نه طهارت بالماء مراد دے. فإذا تطهرت یعني بالماء (قرطبي ص۸۸ ج ۳) دلته یوه شبه کیدے شي چه اول خو الله تعالى د نه نزدے کیدو غایه مطلق پاك والے بیان کړیدے یعني د جماع ممانعت صرف د حیض نه پاکیدو پورے دی چه کله حیض دا نلل بند شي نو جماع ده. لیکن فَاِذَا تَطَهَّرْنَ چه په خپل ما قبل باندې متفرع دے. دلته د جماع جواز یې په تطهر بالماء یعني په غسل باندې موقوف کړیدے. یعني چه کله غسل اوکړي نو هغوي سره د جماع اجازت دے نو د آیت د اولني حصے نه معلومه شوه چه صرف انقطاع حیض سره وطي جائز کیږي. لیکن د آیت د دویمه حصه د دے امر تقاضا کوي چه د غسل نه ورستو وطي جائز ده. په دواړو حصو کښې په ظاهره تعارض معلومیږي. نو د دے جواب دا دے چه د حیض د منقطع کیدو دوه صورتونه دي. یو دا چه حیض پوره لس ورځې جاري کیدو نه

پس بند شی. لس ورځې چونکه د حیض اکثره مُوده ده نو په دې وجه د دې نه زیاتو لو هیڅ امکان نشته. دویم صورت دا دے چه حیض د لسو ورځو نه کمه مُوده جاری کیدو نه پس بند شی د دواړو صورتونو احکام بیان کړے شو یدی. او په ایت کښې صنعت احتباک دے یعنی د ایت یو لفظ د مخکنئ حِصّې نه محذوف دے او یو د دویمې حِصّې نه. کوم لفظ چه په اولنئ حِصّه کښې مذکور دے هغه په دویمه حِصّه کښې محذوف لفظ باندې دلالت کوی او کوم چه په دویمه حِصّه کښې مذکور دے هغه په اوله حصه کښې په محذوف لفظ باندې دلالت کوی او اصل عبارت دا دے. وَلَا تَقْرَبُوْهُنَّ حَتّٰى يَطْهُرْنَ ويطّهّرن فاذا طهرن وتطهرن فاتوهن نو د ایت مطلب به دا شی چه د ښځو سره جماع مه کوئ ترڅو چه هغه د حیض د وینې نه پاکه نشی (دا په حتّٰی یطهرن باندې متفرع دے) او غُسل او کړی. (دا په یطّهّرن بالتشدید متفرع دے) نو تاسو ته هغوی سره د جماع اجازت دے. دا تقریر د حضرت شاه انورشاه رحمة الله علیه دے چه په درس بخاری کښې یے فرمائیلے وو. فَأْتُوْهُنَّ د جماع نه کنایه ده او په مِنْ حَيْثُ اَمَرَكُمُ اللّٰهُ کښې د وطی مقام ته اشاره ده یعنی د طهارت نه روستو په کوم مقام کښې چه د وطی کولو اجازت الله ورکړیدے په هغه مقام کښې تاسو وطی کولے شئ او د دے نه مراد د ښځې قُبل دے ځکه چه د وطی فطری مقام هُم دا دے او د دے د فطری کیدو د تولو نه لوئ دلیل دا دے چه ښاروی د کوم رهنمائی چه صرف فطرت کوی هغوی د خپل جنس هُم په دے مقام کښې جماع کوی.

۳۳۵ تَوّٰابِيْن نه مراد هغه خلق دی چه هغوی نه په پورته ذِکر شوو احکامو کښې کوتاهی اُوشی او هغوی فوراً د هغې نه رښتینے توبه اوکړی. مما عسی یندر منهم من ارتکاب بعض الذنوب کالاتیان فی الحیض (روح ص۱۲۳ ج ۲) او د مُتَطَهِّرِيْن نه هغه خلق مراد دی چه د حیض په حالت کښې او په غیر فطری مقام کښې د ښځې سره د جماع نه پرهیز کوی. المراد لا یاتیها فی زمان الحیض وان لا یاتیها فی غیر الماتی الخ (کبیر ص۳۹۱ ج ۲)

۳۳۶ حَرْثٌ مصدر دے او د دے نه مخکښې مضاف محذوف دے ای موضع حرثکم (روح ص۱۲۴) یعنی ستاسو ښځې ستاسو پټی او د کروندې ځائ دے د ښځو تشبیه یے د پټو سره ورکړیده ځکه چه څنګه په پټو کښې تخم اچولو سره په هغې مختلف قِسمه میوې او غلّے پیدا کیږی داشان د ښځې په رحم کښې د تخم اچولو سره اولاد پیدا کیږی. په دے ایت کښې دے طرف ته اشاره ده چه د ښځې نه اګرچه نورے فائدے هم حاصلولے شی لیکن د نکاح اصل مقصد نسل زیاتیدل او توالد تناسل دے کوم خلق چه د خاندانی منصوبه بندئ د پاره د بچی پیدائش بندولو په کوشش کښې دی هغوی د واده د اصل غرض او غایت نه ناخبره دی. کیدے شی چه هغوی د واده غرض صرف جنسی تسکین کنړلے دی که چرے داسے دی نو بیا په دے معامله کښې د انسان او نورو حیواناتو په مینځ کښې کوم د امتیاز بوځد نه پاتے کیږی.

۳۳۷ اَنّٰى دلته د كَيْفَ په معنٰی سره دے یعنی تاسو خپل پټی ته ورځئ په کومه طریقه چه غواړئ. په یهودیانو کښې مشهوره وه چه که چرے د ښځې سره د شا له طرفه جماع اوکړے

شي نو ښځې ته د حمل کیدو په صورت کښې به چه کوم بچي پیدا کیږي هغه به کوږ سترګې وي نو الله تعالیٰ اُوفرمائیل چه کوم کیفیت سره اوکوم هیئت سره چه تاسو غواړئ د خپلو بیبیانو سره جماع کولے شئ۔ لیکن دا خیال ساتئ چه جماع دِ په مقام د حرث کښې وي د مقام حرث نه مقامِ فرث (شا طرف) ته مه ځئ دلته هم د فاتوا په ځائ فَاْتُوْا حَرْثَكُمْ سره دے طرفته اشاره ده چه صرف په هغه مقام کښې وطی جائز ده کوم چه د فصل او نسل کښت ځائ دے ددے نه بغیر سره د غیرفطري عمل ممانعت ثابتیږي ځکه چه نبي علیه السلام فرمائیلي دي چه چا د خپلې ښځې سره غیرفطري عمل اوکړو هغهٔ په ما باندے د الله د نازل کړے شوُو احکامو تکذیب اوکړو. نو د الله چه کوم حُکم په دے باره کښې نازل شوے دے هغه هم دا دے چه په ښځې کښې الله تعالیٰ صرف په مقامِ حرث کښې د وطی اجازت ورکړے دے

۴۲۱ یعنی د خپل ځان د پاره څه نیک عمل مخکښې اُولیږئ. د دے نه د جماع په وخت د الله نوم اخستل او شیطان نه پناه غوختل مراد دي ځکه چه په صحیح حدیث کښې دي چه څوك دا دُعا اُولولي او د بي بي سره صُحبت اوکړي نو که چرے د هغې په نتیجه کښې الله تعالیٰ هغوی ته بچے ورکړو نو هغه به د شیطان د شر نه محفوظ وي. دُعا دا ده بِسْمِ اللّٰهِ اَللّٰهُمَّ جَنِّبْنَا الشَّيْطٰنَ وَجَنِّبِ الشَّيْطٰنَ مَا رَزَقْتَنَا (روح ص۱۲۵ ج ۲) وَاتَّقُوا اللّٰهَ او د الله تعالیٰ نه ویریږئ او د هغهٔ د اَوامرو او نواهیو تعمیل کوئ. وَاعْلَمُوْٓا اَنَّكُمْ مُّلٰقُوْهُ. او دا حقیقت همیشه په ذهن کښې ساتئ چه د یو نه یوه ورځ به ضرور د هغهٔ په مخکښې سزا او جزا د پاره حاضریدل وي. دا یے د دے د پاره اُوفرمائیل چه دا شیز به خوفِ خُدا پیدا کولو کښې معاون ثابت شي. وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ کوم مؤمنانو چه پورته ذِکر شوي احکام قبول کړل او د هغې تعمیل یے اوکړو هغوی ته د بے حده او بے اندازے انعام او اکرام زیرے واوروه.

۴۲۲ ربط :- د ښځه ذوجهتین مسئلو نه روستو د انتظامي اُمورو د باره ذِکر چه کله بیبیانے د حیض نه پاکے شي نو هغوی سره جماع کوئ که چرے تاسو د صُحبت نه کولو قَسم هم کړے وي نو هغه مات کړئ او د قَسم ماتولو کفاره ورکړئ. د جاهلیت په زمانه کښې یو ناکاره رسم دا وُو چه په نیکو کارونو کښې به خلقو د خدائ قَسم کولو مثلاً د رشته دار سره به ښهٔ سلوك نه کوم فلانکے به د دوو کسانو په مینځ کښې صُلح نه کوي وغیرۀ وغیرۀ او بیا به یے د دے قَسمونو پابندي کوله او دا شان د خدائ په نوم د نیک کار نه کولو بهانه به یے جوړوله نو الله تعالیٰ د دے نه منع اوکړه ځکه چه په دے سره ډیرو انتظامي اُمورو باندے د تعطل پیدا کیدو خطره وه. عُرْضَةً معنیٰ هدف او نښه ده د دینه علاوه د دے معنیٰ مانع هم ده او دلته هم دا معنیٰ زیاته چسپان ده. العرضة عبارة عن المانع (کبیر ص۲۵۱ ج ۲) لِاَيْمَانِكُمْ کښې لام تعلیل د پاره دے.

۴۲۳ اَنْ مصدریه دے او د دے نه مخکښې حرفِ جار مِنْ مقدّر دے او مطلب دا دے چه د الله نوم د خپلو قَسمونو د وجې نه د نیکئ او تقویٰ په کارونو کښې او د خلقو په مینځ کښې د صُلح راوستلو د پاره مانع مه جوړوئ. تقدیر الاٰیة ولا تجعلوا ذکر الله مانعًا

بسبب ایمانکم من ان تبروا الخ (کبیر ص۱۵۳ ج ۲) حضرت شیخ اوفرمائیل چه د ایمان نه ما نطیب الایمان مراد دے یعنی هغه کارونه په کوم چه قسم اوکړے شی. مطلب دا دے چه د الله نوم د نیکئ او تقوی او اصلاح بین الناس نه د منع کولو ذریعه مه جوړوئ او که چرته داسے قسمونه اوکړئ نو فوراً یے مات کړئ.

۲۲۴ الله تعالی ستاسو اقوال او اعمال بنه اوری او په هغے خبر دے. د دے وجه نه هره خبره سوچ فکر سره د خلے نه اوباسئ او هر کار د خدای د رضا د پاره کوئ.

۲۲۵ دا د یمین لغو حکم دے چه په دے باندے هیڅ مؤاخذه نشته نه په دنیا کښې کفاره شته نه په اخرت کښې سزا. د امام ابو حنیفه په نزد د لغو صورت دا دے چه په یوه تیره شوے واقعه د صحیح گنړلو باوجود د هغے متعلق قسم اوکړی چه دا شی دی حالانکه واقعه هغه شان نه وه. فعندنا هوان یحلف علی شئ یظنه علی ما حلف علیه ثم یظهر خلافه فانه لا قصد فیه الی الکذب (ابو السعود ص۲۵۹ ج ۲) مثلاً زید له په څه ذریعه معلومه شوه چه خالد لاهور ته تلے دے او هغه چا ته د ویلو په وخت په دے باندے قسم اوکړو چه خالد لاهور ته تلے دے حالانکه دا خبر غلط وو لیکن زید دا خبره صحیح اوگنړله او قسم یے اوکړو. نو دا به یمین لغوه وی. او په دے باندے هیڅ مؤاخذه نشته. د حضرت ابن عباس او حسن، مجاهد، زهری، قتاده، نخعی او د سلیمان بن یسار وغیره هم دا مسلک دے. وقول ابی حنیفة وهو قول ابن عباس والحسن والی هریرة النخعی والزهری وسلیمان بن یسار وقتادة والسدی ومکحول (کبیر ص۲۵۹ ج ۲) وَلَٰكِن يُؤَاخِذُكُم بِمَا كَسَبَتْ قُلُوبُكُمْ دا د یمین غموس حکم دے او یمین غموس دا دے چه عمداً او قصداً د یوے تیرے شوے واقعے متعلق د دروغو قسم اوکړے شی یعنی په یمین لغوه باندے خو څه مؤاخذه نشته لیکن د زړه ارادے او قصد سره تاسو چه کوم په دروغو قسمونه اوکړئ په هغے به مؤاخذه وی او دا مؤاخذه به د اخروی عذاب په صورت کښې وی په دنیا کښې د دے هیڅ کفاره نشته. وَاللَّهُ غَفُورٌ حَلِيمٌ هغه بخښونکے دے نو په غیر ارادی او لغوه قسمونو باندے مؤاخذه نه کوی. او برد بار دے. اراده د دروغو قسمونو باندے فوراً مؤاخذه نه کوی بلکه بنده ته د توبے ویستلو او گناه باندے د پښیمانه کیدو موقعه ورکوی.

۲۲۶ ربط:- د قسم جاهلی رسمونو نه یو د ایلاء غلط استعمال وو. په دے وجه یے د یمین نه روستو د جاهلی ایلاء اصلاح اوکړه. د جاهلیت په زمانه کښې چه به کله سړے د ښځے نه ناراضه شو او هغه به یے خوښه نه وه نو هغه به د دے سره ایلاء کوله یعنی قسم به یے اوکړو چه زه به د خپلے ښځے سره نه یو ځائے کیږم او د ایلاء په دے رواج کښې څه موده مقرر نه وه په دے وجه یو طرفته خو به خاوند د ایلاء په وجه ټول عمر د زوجیت تعلقات ختمول او بل طرفته به هغه ښځه د هغه د زوجیت نه نه وتله چه هغه د بل سړه نکاح اوکړی د غے به هغه عاجزه ټول عمر معلق (زوړنده) وه او تکلیفونه به یے تیرول اسلام

ودے خرابیانو د لرے کولو د پاره د جاهلیت د ایلاء اِصلاح اوکړه۔ او دے د پاره یے څلور میاشتے موده مقرر کړه دے د پاره چه خاوند د ایلاء نه روستو په دے زمانه کښ د خپلے ښځے متعلق اٰخری فیصله کولو نه مخکښ ښه سوچ فکر اوکړی او څه رائے قائم کړی کچرے د سوچ فکر نه روستو دے فیصلے ته اُورسیږی چه د خپلے ښځے سره صُلح کول پکار دی او د دوباره هغے سره د زوجیت تعلقات برابرول پکار دی. نو هغهٔ له پکار دی چه هغه د ایلاء د ورځے نه په څلورو میاشتو کښ د ننه د ننه هغے سره جماع اوکړی او د خپل قَسم کفاره اَدا کړی اوکهٔ چرے په دے زمانه کښ هغهٔ دا فیصله اوکړه چه هغه دوباره خپلے ښځے سره تعلقات په ځائ کول نه غواړی نو هغه دِ څلور میاشتے هغے ته نه نژدے نه ږی. څلور میاشتے تیریدلو نه پس به پخپله په ښځه باندے یو طلاق بائِن واقع شی. چه د هغے عِدّت تیرولو نه روستو هغه چرته نکاح کول غواړی نو اودِ کړی. یُؤْلُوْنَ د ایلاء نه دے چه لغوی معنیٰ یے مطلق قسم کول دی. لیکن د شریعت په اصطلاح کښ د ښځے سره د صُحبت نه کولو قسم ته ایلاء وئیلے شی. اما فی عرف الشرع فهو یمین علی ترك الوطی (کبیر ص۳۵۹ ج ۲) د ایلاء مختلف الفاظ دی چه د فقهے په کتابونو کښ مذکور دی دا جمله خبر مقدم دے. تَرَبُّصُ اَرْبَعَةِ اَشْهُرٍ. د تربص معنیٰ انتظار او توقف دے او دا جمله مبتدا، مؤخر ده او مطلب دا دے چه کوم خلق د خپلو بیبیانو سره ایلاء کوی یعنی د صُحبت نه کولو قسم اوکړی هغوی د پاره د څلورو میاشتو مُهلت دے دے د پاره چه په دے معامله کښ ښهٔ غور اوکړی. فَاِنْ فَآءُوْ فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِیْمٌ ۝ د فَآءُوْا معنیٰ رَجَعُوْا ده یعنی د حلف اُوچتولو نه روستو کهٔ چرے هغه څلورو میاشتو کښ د ننه د ننه د ترکِ جماع نه رجوع اوکړی او ښځے ته د تکلیف رسولو او د هغے د پریښودلو د ارادے نه واپس شی او خپل قَسم مات کړی نو الله تعالےٰ به ورته د قسم ماتولو او ښځے ته بلا وجه د تکلیف رسولو ګناه معاف کړی. او اُنده د پاره به د اصلاح احوال د ارادے په تکمیل کښ خپل رحمت او مهربانئ سره مدد اوکړی. اوکهٔ چرے د ښځے د پریښودلو اراده وی نو د هغے حکم یے په راتلونکی اٰیت کښ فرمائیلے دے.

۲۲۷ اوکهٔ چرے هغوی د خپلو ښځو د پریښودلو او د طلاق عزم اوکړی نو هُم الله تعالیٰ د هغوی خبرے ښے اَوری او د هغوی په نیتونو باندے ښه خبر دے. د امام شافعیؒ په نزد د ایلاء نه روستو د قاضی تفریق ته ضرورت دے. لیکن د امام ابو حنیفهؒ په نزد د قاضی تفریق ته ضرورت نشته. بلکه د څلورو میاشتو تیریدو سره به خود بخود طلاق واقع شی. کما هو منقول عن عمر بن الخطاب وعثمان بن عفان وزید بن ارقم وابن مسعود رضی الله عنهم رواه الامام محمد بن الحسن رحمه الله فی المؤطا ص۲۶۳ ۔ تر اوسه پورے یے څلور انتظامی اُمور ذکر کړیدی. (۱) طلاق (۲) عِدّت (۳) رضاعت او (۴) نکاح. د ایلاء په ذکر کښ چونکه د طلاقو ذِکر راغلے وو په دے وجه په دے مناسبت سره روستو یے د طلاقو او عِدّت احکام بیان کړیدی.

۴۲۸ ښځے د عِدّت په اعتبار سره د شپږ قِسمونه دی - (۱) صغیره چه ترا اُوسه بالغه شوې نه ده. (۲) کومه چه عُمر سره بالغه شویده او تراوُسه پورے لاحیض نه دے راغلے (۳) زړه زوړې دوچے نه چه د چا حیض بند شوے وی ښځے ته که طلاق ورکړے شی نو ددری عِدّت درے میاشتے دے. ددے بیان په سورة طلاق پاره ۲۸ کښې دے - (۴) حامله بښځه چه ښځے ته طلاق ورکړے شی یا د ښځے خاوند مړشی نو د ښځے عدّت وضع د حمل ده ددے بیان هم په سورة طلاق کښې دے. (۵) هغه ښځه چه حامله نه وی او د ښځے خاوند مړ شی د ښځے عِدّت څلور میاشتے او لس ورځے دی. ددے بیان په سورة بقره ع ۳ کښې دے (۶) هغه ښځه چه حامله نه وی او نه صغیره او نه آئسه. که چرے ښځے ته طلاق ملاؤ شو نو د ښځے عِدّت درے حیضه دے په دے ایت کښې ددے عِدّت ذکر دے. (۷) هغه ښځه چه ښځے نه د صحیح خلوت نه مخکښې طلاق ملاؤ شی د ښځے هیڅ عِدّت نشته ددے حُکم په سُورة احزاب ع ۶ کښې بیان کړے شویدے. قُرُوْءٍ د قرء جمع ده دالفظ په حیض او طُهر دواړو معنو کښې مشترک دے لیکن دلته ددے نه مراد حیض دے ځکه چه په دے ایت کښې د ثَلٰثَةَ لفظ استعمال دے چه د خپل مفهوم په اعتبار سره خاص دے او د کتاب الله په خاص باندے عمل فرض وی. لیکن که چرے په دے ایت کښې د قرء نه مراد طُهر واخستلے شی نو په خاص باندے عمل نه شی کیدے ځکه چه طلاق به په هرحال طُهر کښې ورکولے شی. د حیض په حالت کښې طلاق ورکول جائز نه دی او س چه په کوم طُهر کښې طلاق ورکړے شویدے که چرے هغه شمار کړے شی نو درے طُهرونه د طلاق نه پس نه پوره کیږی. بلکه دوه پوره او د دریم څه حِصه. او که چرے دا طُهر پریښودے شی نو عدّت به د دریو طُهرونو نه زیات شی. لیکن که چرے د قرء نه حیض مراد کړے شی نو هیڅ قِسمه داسے څه خرابی نه لازمیږی. او د طلاق والا طُهر نه روستو به پوره درے حیضه عدّت وی.

۴۲۹ حضرت ابن عُمر رضی الله عنهما فرمائی چه د مانه مراد حمل او حیض دے یعنی که چرے معتده حامله وی یا ورته حیض راشی نو ښځے دپاره جائز نه دے چه هغه حمل یا حیض پټ کړی او چاته یے ښکاره نه کړی. قال ابن عمرؓ الحمل والحیض ای لا یحل لها ان کانت حاملة ان تکتم حملها ولا ان کانت حائضا ان تکتم حیضها الخ (روح ص ۱۳۳ ج ۲) په زمانهٔ جاهلیة کښې به ځینې طلاق کړے شوو ښځو د عِدّت په زمانه کښې د بعضے اغراضو دپاره د دے دا شان کولو. نو ځینې حامله ښځو چاته به چه طلاق ورکړے شوے وُو هغوی به حمل نه ښکاره کولو ځکه چه که چرے هغوی حمل ښکاره کولے نو د بچی پیدا کیدو پورے به هغوی سره هیچا هم نکاح نه کولے او دا بچے به د مخکنی خاوند ګرځیدلے. او دویم خاوند به د ښځے په پرورش کښې مناسب توجه نه ورکولے او د شفقت نه به یے کار نه اخستلے. ددے وجے نه به ښځے چاته د حمل ذکر نه کولو او وارثانو ته به یے وئیل چه زمونږ عدّت تیر شویدے او دبل خاوند سره به یے نکاح کولے. او دا شان دا بچے به د دویم خاوند په

نکاح کښې پیدا کیدی او هغه پورے به پیوست کیدهٔ. او ځینے عِدّت تیرَوُ لَو ښځو ځینے حاملې به نهٔ وے هغوی به د آخری حیض ختمیدلو نه وړاندے وئیل چه ددوی حیض بند شوی دے. او پاکے شوی دے دپاره چه دخاوند د رجوع حق باطل شی او هغه رجوع اونکړے شی په دے آیت کښې الله تعالیٰ د دے ناخوښه حرکت نه منع اوفرمائیله ځکه چه په دے دواړو صورتونو کښې دخاوند حق تلفی کیږی چه په هیڅ طریقه باندے جائز نهٔ دے. په اول صورت کښې د بل سړی ځوئ بل پورے ملحق کیږی. او په دویم صورت کښې دخاوند د رجوع حق باطلیږی.

۵۵۰ اِنْ شرطیه دے. لیکن دا شرط تعلیق دپاره نهٔ دے یعنی پورته ذکرشوے نهی د ایمان سره مشروط نهٔ ده چه ایمان والا ښځو دپاره خو حمل او حیض پټول جائز نهٔ دی او غیرمؤمنے دپاره مثلاً کتابیے دپاره پټول جائز دی. بلکه شرط محض د وعید او تهدید (دهمکئ) دپاره دے او د کتمان د حُرمت تاکید دے یعنی کومے ښځے چه په خُدائ او په آخرت باندے ایمان لری د هغوی دا شان نهٔ دے چه هغوی د خُدائ د احکامو مخالفت اوکړی. هذا وعید عظیم شدید لتاکید حرمة الکتمان (قرطبی ص۱۱۹ ج۳) لیس المراد ان ذلك النهی مشروط بکونها مؤمنة .... ولا شك ان هذا تهدید شدید علی النساء (کبیر ص۳۲۹ ج۲)
حضرت شیخ رحمة الله علیه فرمائی چه دلته د ایمان کامله درجه بیان کړے شوی ده. یعنی د کومو ښځو ایمان چه کامل دے نو هغوی به ما فی الارحام نهٔ پټوی او د الله د احکامو به پوره تعمیل کوی.

۵۵۱ بُعُوْلَتُهُنَّ د بعلٌ جمع ده چه معنیٰ یے خاوند ده. البعولة جمع البعل وهو الزوج (قرطبی ص۱۱۹ ج۳) رَدِّهِنَّ مصدر دے چه خپل مفعول طرفته مضاف دے او ددینه مراد مطلقه ښځے خپل نکاح او زوجیت ته واپس راوستل دی. او دا صرف رجعی طلاق پورے مخصوص دی. احق بردهن الی النکاح والرجعة الیهن، وهذا اذا کان الطلاق رجعیا للآیة بعدها (روح ص۱۳۲ ج۲) او په ذٰلِكَ سره د عِدّت زمانے طرفته اشاره ده. ای فی زمان التربص (ابوالسعود ص۳۶۹ ج۲) مطلب دا دے چه د طلاق رجعی نه روستو که چرے خاوند رجوع کول غواړی نو د عِدّت ختمیدلو نه مخکښې هغه دا سے کولے شی. که چرے ښځه رضامنده نهٔ وی نو هُم خاوند ته دا سے کولو حق حاصل دے وصیغة التفضیل لافادة ان الرجل اذا اراد الرجعة والمرأة تأباها وجب ایثار قوله علی قولها (ابوالسعود ص۳۶۹ ج۲)
اِنْ اَرَادُوْا اِصْلَاحًا دلته هُم د صحتِ رجعت دپاره د اصلاح اراده شرط مراد نهٔ دے بلکه د اصلاح قصد او د اصلاح اراده ته ترغیب مقصود دے. او دے طرفته اشاره ده چه رجعت سره دخاوند نیت د احوالو اصلاح پکار دے نهٔ چه ښځے ته تکلیف رسول او ضرر رسول. ولیس المراد به شرطیة قصد الاصلاح لصحة الرجعة بل هو الحث علیه و الزجر عن قصد الضرار (ابوالسعود ص۳۷۰ ج۲) لیس المراد من التعلیق اشتراط جواز الرجعة بارادة الاصلاح .... بل المراد تحریضهم علی قصد الاصلاح (روح ص۱۳۲ ج۲) د آیت په روستنی حصه

کښې په ښځه باندې د خاوند د فضیلت طرفته اشاره وه او س په مخکښې حصه کښې صراحت کړے شویدے چه څنګه د سړو حقونه د ښځو په ذمه دی دغسې د ښځو حقونه هم دی. چه د هغې ادا کول د سړو په ذمه دی. د دې دپاره چه سړے په دې غلط فهمۍ کښې پرے نه وځی چه د دوی په ذمه د ښځو هیڅ حق نشته.

٤٥٣ یعنی څنګه چه د سړو حقونه د ښځو په ذمه دی هم دغسې د ښځو حقونه د سړو په ذمه دی د سړو او ښځو د حقونو دا مماثلت د کمیت او کیفیت په اعتبار سره نه دے بلکه د وجوب په اعتبار سره دے څنګه چه په ښځو باندې د سړو د حقونو ادا کول واجب دی دغسې په سړو باندې د ښځو د حقونو ادا کول فرض دی. والمراد بالمماثلة المماثلة فی الوجوب لا فی جنس الفعل (روح ص۱۳۳ ج۲) په بالمعروف سره دے طرفته اشاره ده چه د ښځې او خاوند دا حقونه به د شریعت او عقل سلیم مطابق وی کوم حقونه چه د خپل خاند جوړ کړے شوی یا د جاهلیت د رسمونو پیدا وار وی د هغې ادا کول ضروری نه دی بالمعروف بالوجه الذی لا ینکره الشرع وعادات الناس (مدارک ص۹۰ ج۱). وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ ط لیکن د سړو حقونه د ښځو په نسبت څه زیات دی او هغوی ته په ښځو باندې فضیلت دے ځکه چه هغه د کور انتظام کوونکے وی. وَاللّٰهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ه هغه د حکمت والا او غالب دے په دې وجه چه هغه څه غواړی نو حکم او کړی هیڅوک د هغه د حکم منع کوونکے نه دے دا شان د هغه ټول احکام ضرور څه نه څه حکمت او مصلحت باندې مبنی وی.

اَلطَّلَاقُ مَرَّتٰنِ ۪ فَاِمْسَاكٌ ۢ بِمَعْرُوْفٍ اَوْ تَسْرِيْحٌ ۢ بِاِحْسَانٍ ؕ

طلاق رجعی دی دوه پورے ٤٥٤ ده دے نه روستو ساتل دی د دستور موافق یا پرېښودل دی ښه

وَلَا يَحِلُّ لَكُمْ اَنْ تَاْخُذُوْا مِمَّآ اٰتَيْتُمُوْهُنَّ شَيْـًٔا اِلَّآ

طریقے سره او تاسو ته جائز نه دی چه واخلئ خپل څه ورکړے شوے څیزه د ښځو ده لیکن چه کله

اَنْ يَّخَافَآ اَلَّا يُقِيْمَا حُدُوْدَ اللّٰهِ ؕ فَاِنْ خِفْتُمْ اَلَّا

خاوند ښځه دواړه ویرېږی د دے نه چه قائم به او نه ساتلے شی د الله حکم ٤٥٥ وه بیا که تاسو خلق

يُقِيْمَا حُدُوْدَ اللّٰهِ ۙ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا فِيْمَا افْتَدَتْ

ویرېږئ د دې څیز نه چه هغه دواړه به قائم نکړے شی د الله حکم نو هیڅ ګناه نشته په دواړو باندې په دې څیز چه

بِهٖ ؕ تِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ فَلَا تَعْتَدُوْهَا ۚ وَمَنْ يَّتَعَدَّ

بدله ورکړی او ځان خلاص کړی ٤٥٦ دا د الله ترلے شوی حدونه دی نو د دینه وړاندې مه ځئ او څوک چه وړاندې ځی

حُدُوْدَ اللّٰهِ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿۲۲۹﴾ فَاِنْ طَلَّقَهَا

د الله د ټولې شوي حدونو نو هغه خلق دي ظالمان پس بیا که چیرته وسخته طلاق ورکړي یعني

فَلَا تَحِلُّ لَهٗ مِنْۢ بَعْدُ حَتّٰى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهٗ ؕ فَاِنْ طَلَّقَهَا

دریم طلاق نو دی حلاله نه ده هغه دپاره دا ښځه دوریسته تر ځو چې نکاح اونکړي دبل خاوند سره دوه نو سوچ که دا

فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَآ اَنْ يَّتَرَاجَعَآ اِنْ ظَنَّآ اَنْ يُّقِيْمَا حُدُوْدَ اللّٰهِ ؕ وَ

بیا چیرته طلاق ورکړي دویم خاوند ښځې نو هیڅ گناه نشته په دواړو باندې چې بیا یو بل سره یوځای شي که چیرته خیال وکړي

تِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ يُبَيِّنُهَا لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ﴿۲۳۰﴾ وَاِذَا طَلَّقْتُمُ

چې قائم به کړي د الله حکم او دا حدونه ټاکلي شوي دي د الله بیانوي دا دپاره پوهېدونکو قوم او چې کله طلاق ورکړئ

النِّسَآءَ فَبَلَغْنَ اَجَلَهُنَّ فَاَمْسِكُوْهُنَّ بِمَعْرُوْفٍ اَوْ سَرِّحُوْهُنَّ

تاسو ښځو ته بیا اورسیږي خپل عدت ته ښځې نو اوساتئ هغوی ورله دستور موافق یا پریږدئ هغوی په ښه

بِمَعْرُوْفٍ ۪ وَلَا تُمْسِكُوْهُنَّ ضِرَارًا لِّتَعْتَدُوْا ۚ وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ

طریقه سره او مه بندوئ هغوی تکلیف ورکولو دپاره چې تاسو په هغوی زیاتے وکړئ ښځې او څوک چې دا سے کوي هغه

فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهٗ ؕ وَلَا تَتَّخِذُوْٓا اٰيٰتِ اللّٰهِ هُزُوًا ۫ وَّاذْكُرُوْا

بیشکه ډیر زیات نقصان کوي ځانته او مه نیسئ د الله حکمونه په ټوقو او یاد کړئ د الله

نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَمَآ اَنْزَلَ عَلَيْكُمْ مِّنَ الْكِتٰبِ وَالْحِكْمَةِ

احسان کوم چې په تاسو دے او هغه چې نازل شوي په تاسو کتاب او د علم خبرے چې تاسو ته

يَعِظُكُمْ بِهٖ ؕ وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿۲۳۱﴾ ع ۱۲

نصیحت کوي هغې سره او ډیر یریږئ د الله نه او پوهه شئ چې الله په هر شي باندې خبردے۔

نکات: ۱۔ ف د دوو طلاقو پورے خاوند ته د رجوع حق باقي دي ۔ ف۲۔ په دیکښې د خلع بیان دے وشوافعو په نزد خلع فسخ ده په دے وجه د الطلاق مرتٰن او د فَاِنْ طَلَّقَهَا مِنْۢ بَعْدُ په مینځ کښې جمله معترضه ده او د حنفیانو په نزد خلع طلاق بائن دے په دے وجه دا د اول دوو طلاقو نه دیو طلاق بیان دے یعني دوه طلاقه عام دي خواه دواړه بلا خلع وي یا یو دوي نه طلاق خلع دي ۔

سـ۳ دا حاکمانو یا د مسلمانانو کمیټئ والو ته خطاب دے ۱۲ سـ۴ دوه طلاقو نه روستو سړی ته د رجوع حق دے لیکن د رجوع نه آبادی مقصود وی په ښځه باندے ظلم کول مقصود نه وی ۱۲ سـ۵ چه عِدّت ختمیږلو ته نزدے شی ۱۲

موضح قرآن

ف۱ یعنی عِدّت پورے سړے که غواړی نو ښځه د بیا اُوساتی دا خبره په اول طلاق کښې ده او په دویم کښې. د دے نه روستو به رجوع نشی کولے نو د شرع موافق د هغې حق که ادا کوی نو رجوع د اوکړی چه بیا جګړه نه وی او که نه یے ساتی نو رخصت د ورکړی په دے نیت سره د نه ایسار وی چه عاجزه شی او څه چه ما ورکړی دی هغه واپس کړے شی. دا هله جائز دی چه ناچاری وی او د دواړو خویونه سره ملاؤ نه شی او د سړی د طرفه نه په حق ادا کولو کښې قصور نه وی د هغه وخت د ټول خلق په شریکه د ښځے نه څه واپس کړی او سړے د راضی کړی او طلاق د ترے واخلی دے ته خلع وئیلے شی. ف۲ یعنی د دریم طلاق نه پس رجوع نه شی کولے بلکه که بیرے دواړه راضی شی نو هم نکاح نه شی کولے ترڅو چه په مینځ کښې بل خاوند سره صُحبت نه وی شوے

فتح الرحمٰن

ف۱ یعنی حلال نه دی چه د طلاق په بدل د مهر نه څه واخلی ۱۲ ف۲ یعنی په ژوند تیرولو کښې ۱۲ ف۳ یعنی هغه دُخول اوکړی ۱۲ ف۴ یعنی عِدّت ختمیږ و نه اُورسیږی ۱۲۔

تفسیر

۳۵۳ دلته الطلاق په معنیٰ د مصدر یعنی التطلیق سره دے وهو بمعنی التطلیق الذی هو فعل الرجل (روح ص۱۳۵ ج۲) یعنی د طلاق ورکولو فعل دکوم نه پس چه رجوع کیدے شی او د نکاح نه بغیر ښځه دوباره خپل زوجیت کښې ساتلے شی هغه دوه طلاق دی په دے شرط چه طلاق لفظ صریح سره وی نه چه کنایے سره۔ که چرے خاوند خپلے ښځے ته دوه صریح طلاق ورکړی نو دا به رجعی وی۔ او د دے نه روستو به عِدّت کښې د ننه هغه رجوع کولے شی او خپله ښځه د نکاح نه بغیر دوباره په خپل کور کښې آبادولے شی۔ او که چرے عِدّت تیر شو نو او س یے هم راوستلے شی لیکن اوس د نکاح ضرورت دے۔ د جاهلیت په زمانه کښې د طلاق څه حد مقرر نه وُو۔ سړی به چه څومره غوختل نو خپله ښځه به یے طلاقوله او بیا د عِدّت تیریدو نه بغیر به یے رجوع کوله ښځے ځلقو به د ښځو د تنګولو د پاره بار بار داسے کول۔ نو الله پاک دا آیت نازل کړو دَ دې دروازه یے بنده کړه او د رجوع کولو اجازت یے دوه طلاقو پورے محدود کړو۔ فَإِمْسَاكٌ بِمَعْرُوفٍ أَوْ تَسْرِيحٌ بِإِحْسَانٍ۔ فاء فصیحه ده چه د هغې مطلب دا دے چه د دے نه روستو په ماقبل مرتب دے یعنی د دوو طلاقو نه روستو خاوند ته اختیار دے۔ که چرے غواړی نو په عِدّت کښې د ننه د رجوع اوکړی یا د هغه عِدّت تیرولو ته پریږدی۔ د دے د پاره چه د عِدّت تیریدو نه روستو بخپله د نکاح رشته منقطع شی۔ لیکن د نکاح رشته ختمولو سره نیت د خیر وی۔ یعنی په خپلو کښې جګړه او اختلاف ختمول مقصود وی د ښځے زړه ماتول او هغې ته تکلیف ورکول مقصود نه وی۔ ځینے خلقو د یو روایت په بنیاد باندے د

اَوْ تَسْرِيْحٌ بِاِحْسَانٍ نه دریم طلاق مراد اخستے دے یعنی د دوؤ طلاقو نه روستو یا خو د به عدت کښې د ننه رجوع اوکړی یا ؤ په دویم طُهر کښې هغے ته دریم غل طلاق ورکړی دے چه هغه بائنه شی نو په دے صورت کښې به فَاِنْ طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهٗ الآیة د دے بیان وی. بیا طلاق به نه وی. لیکن اوله معنیٰ راجح ده. او حضرت ابن مسعود، ابن عباس، مجاهد عروه او قتاده رضی الله عنهم نه منقول ده. (ابن جریر ۲۵۹ ج ۲) او د کوم روایت په بناء یا نے چه د تَسْرِيْحٌ بِاِحْسَانٍ نه دریم طلاق مراد کړے شویدے. د هغے متعلق علامه قرطبی نقل کړی دی. چه هغه ثابت نه دے وذکر الکیا الطبری هذا الخبر وقال انه غیر ثابت من جهة النقل. (قرطبی ۱۲۱ ج ۳) لیکن اَلطَّلَاقُ مَرَّتَانِ عام دے. د دے نه چه دا دواړه طلاقه بلا بدل وی یا په دیکښې یو په طور د خلع وی. لهٰذا طلاق د خلع په صورت کښې کوم چه د دے نه ذکر دے. هغه دریم طلاق نه دے بلکه د هغه د دوؤ کښې شامل دے. لهٰذا فَاِنْ طَلَّقَهَا نه دریم طلاق ذکر دے.

۴۵۴ د جاهلیت د زمانے یو ظالمانه رسم دا وؤ چه کله به یو سړی خپلے ښځے ته طلاق ورکولو نو چه کوم څه به یے هغے ته ورکړی وؤ نو هغه به یے هم د هغے نه اخستل. نو الله تعالیٰ د دے بد سلوکئ نه منع اوفرمائیله چه کوم څه تاسو خپلو بیبیانو ته ورکړی دی د طلاق نه روستو د هغے نه هیڅ څیز هم مه اخلئ لیکن یو صورت کښې د طلاق په عوض کښې د ښځے مال اخستلو اجازت یے ورکړو او هغه دا دے چه د خاوند او ښځے تعلقات دومره خراب شی چه د دوی په مینځ کښې د صلحے څه صورت پاتے نه شی او د ښځے د طرفه د شرعی حدودو مطابق د حقوقِ زوجیت ادا کولو هیڅ توقع باقی پاتے نه شی او طلاق ضروری شی. نو په دے صورت کښې جائز دی چه ښځه څه ورکړی او طلاق حاصل کړی. د طلاق دے صورت ته د شریعت په اصطلاح کښې خلع وئیلے شی.

۴۵۵ دا د ماقبل تفصیل دے دلته یے د دے خبرے وضاحت اوکړو چه د خلع په صورت کښې د ښځے د پاره خاوند ته مال ورکول او خاوند د پاره مال اخستل دواړه جائز دی. او خلع د احنافو او مالکیانو په نزد طلاق بائن دے، حضرت عثمان، علی، ابن مسعود، ثوری اوزاعی او د تابعینو یو جماعت نه هم دا نقل شویدی. روی عن عثمان وعلی وابن مسعود وجماعة من التابعین هو طلاق وبه قال مالك والثوری والاوزاعی وابو حنیفة واصحابه والشافعی فی احد قولیه (قرطبی ۱۴۳ ج ۳) لیکن د شوافعو په نزد خلع طلاق نه دے بلکه فسخ ده لهٰذا د دوی په نزد د وَلَا یَحِلُّ نه تر فِیْمَا افْتَدَتْ بِهٖ پورے جمله معترضه ده د خلع د بیان د پاره او د فَاِنْ طَلَّقَهَا نه دریم طلاق مراد دے. تِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ فَلَا تَعْتَدُوْهَا یعنی ذکر شوی احکام د الله تعالیٰ د اوامرو او نواهیو حدود دی د دے نه تجاوز مه کوئ. کوم خلق چه د الله تعالیٰ حدود ماتوی هغوی په خپلو ځانونو باندے ظلم کوی.

۴۵۶ د دے تعلق د مَرَّتَانِ سره دے او په دیکښې د دریو طلاقو حکم بیان شویدے. د دوؤ طلاقو نه روستو که چرے رجعی وی نو خاوند رجوع کولے شی او که چرے د خلع په

صورت کښې وی نو دوباره نکاح کولے شی. لیکن کهٔ چرے هغه په عدت کښې دریم طلاق هم ورکړو نو اوس رجوع نه شی کولے او نه نکاح کولے شی لیکن یو طریقه ده چه ښځه سره ښځه دوباره ددۀ په نکاح کښې راتلے شی او هغه دا ده چه هغه ښځه د عدت ختمیدو نه روستو د بل کوم سړی سره نکاح اوکړی او هغه سړے دے سره صحبت اوکړی او روستو طلاق ورکړی او د هغے عدت تیر شی نو اول خاوند هغے سره نکاح کولے شی. په ذکر شوی ایت کښې هم دا حکم بیان شویدے دے ایت نه دا ثابتیږی چه د ښځے په اجازت سره نکاح منعقد کیږی. ځکه چه دلته د نکاح فعل ښځے طرفته منسوب شویدے.

۲۳۰ دا د ما قبل تفصیل دے او د طَلَّقَ فاعل دویم خاوند دے یعنی کهٔ چرے دویم خاوند هم هغے ته طلاق ورکړو نو دا ښځه او د دے مخکنی خاوند کهٔ چرے دا خیال کوی چه اوس به هغوی د شرعی حدودو موافق د یو بل حقونه ادا کوی نو هغوی دپاره جائز دی چه دوباره نکاح اوکړی او د زوجیت تعلقات برابر کړی. لیکن د دے طلاق شوے ښځے اولنی خاوند سره د دوباره نکاح کولو جواز د پاره پنځه شرطونه دی. (۱) د اول خاوند عدت دِ پوره کړی (۲) د عدت نه روستو دویم خاوند سره دِ عقد شرعی اوکړی. (۳) دویم خاوند دِ هغے سره جماع اوکړی. (۴) د وطی نه روستو دویم خاوند هغه طلاق کړی. (۵) د دویم خاوند نه د طلاق عدت پوره کړی. په دیکښې کهٔ یو شرط هم موجود نه شی نو د اول خاوند سره به د دے نکاح جائز نه وی. مذهب جمهور المجتهدين ان المطلقة بالثلاث لا تحل لذلك الزوج الا بخمس شرائط تعتد منه وتعقد للثانی ويطأها ثم يطلقها ثم تعتد منه (کبیر ص ۲ ج ۲) وَتِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ يُبَيِّنُهَا لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ۔ د حدود الله نه مراد د الله تعالٰی احکام او قوانین دی. الله تعالٰی علم او بصیرت لرونکو د پاره خپل احکام بیانوی د دے د پاره چه هغوی سوچ فکر اوکړی او په دے باندے عمل اوکړی او د دے پابندی اوکړی.

۲۳۱ اَجَلَهُنَّ کښې د اجل نه مراد عدت دے او د بلوغ اجل نه د عدت قریب الاختتام کیدل مراد دی. په قرینه د فَاَمْسِكُوْهُنَّ بِمَعْرُوْفٍ الخ. ځکه چه رجعت خو په عدت کښې د ننه کیدے شی د عدت ختمیدو نه روستو نه شی کیدے. المراد مقاربته دون انقضائه (احکام القرآن جصاص) د طلاق رجعی نه روستو خاوند ته اختیار ورکړے شویدے چه کهٔ چرے هغه غواړی نو په عدت کښې د ننه دِ رجوع اوکړی او طلاقه شوے ښځه دِ بیا خپل کور ته راولی. یا دِ په عدت کښې رجوع نه کوی او هغه دِ پریږدی لیکن الله تعالٰی ته هرګز دا خوښه نه ده چه ښځه دِ په دغه صورت کښې تنګه کړے شی. کهٔ چرے دوباره د هغے سره د زوجیت تعلقات جوړیدے نه شی نو د هغے دوباره په خپل زوجیت کښې د راوستلو نه د هغے تنګول مقصود نه وی. دغسے کهٔ چرے د هغے د پریښودلو فیصله اوکړے شی نو هم د شرعی حدودو پابندۍ سره دِ په خپلو کښې اختلاف ختم کړے شی نه چه د ښځے د ذلیل کولو دپاره او د هغے د زړۀ ازارولو دپاره. او ممکن ده چه د تسریح معروف نه مطلقے ته د ثیاب متعه یعنی د یو جوړ جامو ورکولو طرفته اشاره وی. ځکه چه مخکښې راغلی دی دے ایت مفهوم بعینه

هغه وړے کوم چه په اَلطَّلَاقُ مَرَّتٰنِ فَاِمۡسَاكٌۢ بِمَعۡرُوۡفٍ اَوۡ تَسۡرِيۡحٌۢ بِاِحۡسَانٍ کښې ذکر شویدے بیا ددے اعاده ولے اُوشوه ؟ نو ددے وجه داده چه اول یے عام حکم اوکړو چه د رجعی طلاق نه روستو د عدت په دوران کښې خپله فیصله بائدے تظرثانی اوکړئ او د لته یے دا اُوفرمائیل چه د عدت په زمانه کښې تاسو چه د مطلقې متعلق کومه فیصله کړیئ ه عدت ختمیدو نه نزدے په هغې بائدے یو ځل بیا غور او فکر اوکړئ . ممکن ده چه د تحکینئ فیصلے په نسبت اوس تاسو زیاته بهتره او فائده منده فیصله اوکړئ . هذا تفصیل ما اشار الیه الشیخ رحمه الله تعالے .

وَلَا دا حُکم د ما قبل تاکید او وضاحت دے . د جاهلیت په زمانه کښې به خپنے خلقو د خپلو ښځو د تنګولو د پاره طلاق ورکوّل چه کله به عدت ختمیدو نه نزدے شو نو رجوع به یے کوّله بیا څه زمانه پس به یے طلاق ورکوّل او رجوع به یے کوّله دا سلسله به یے جاری ساتله دے د پاره چه هغه عاجزه نه خو دده سره په آرام او سکون ژوند تیر کړی او نه د بل خاوند سره نکاح اوکړی. نو الله تعالے ددے نه منع اوکړه او حکم یے اوکړو چه که چرے مطلقه رجعیه واپس راوستل غواړئ نو د حُسنِ معاشرت په نیت سره یے راپس راولئ او د تنګولو او تکلیف رسولو په غرض دا سے مه کوئ . روی مالک عن ثور بن زید الدیلی ان الرجل کان یطلق امرأته ثم یراجعها ولا حاجة له بها ولا یرید امساکها کیما یطول بذلك العدة ولیضارها فانزل الله تعالے وَلَا تُمۡسِكُوۡهُنَّ ضِرَارًا الایة (قرطبی ص۱۵۶ ج ۳) نقله ابن کثیر ص۲۸۳ ج ۱ عن ابن عباس و مجاهد و مسروق والحسن وقتادة والضحاک والربیع ومقاتل بن حیان وغیر واحد.

ځکه په حقوقِ زوجیت کښې کوتاهی کوّنکو د پاره دا پر سخت وعید دے یعنی څوک چه ښځې صرف د تنګولو په غرض خپل ځان سره ږدی او ساتی هغه ظالم دے او په خپل ځان بائدے ظلم کوی. ځکه چه هغه به ددے بد سلوکئ سخته سزا په دُنیا او آخرت کښې بیا مومی . وَلَا تَتَّخِذُوۡۤا اٰيٰتِ اللّٰهِ هُزُوًا او د الله آیتونه تو کے مسخرے مه ګنړئ چه په کوم بائدے ستاسو زړه غواړی نو عمل اوکړئ او چه کوم نه غواړئ د هغې نه انکار کوئ. بلکه په ددے ټولو بائدے د زړه نه عمل اوکړئ. وَاذۡكُرُوۡا نِعۡمَتَ اللّٰهِ عَلَيۡكُمۡ د نعمت نه مراد دینِ اسلام او د معاشرت د آئین تفصیلی بیان دے ای بالاسلام وبیان الاحکام (قرطبی ص۱۵۷ ج ۳) وَمَاۤ اَنۡزَلَ عَلَيۡكُمۡ مِّنَ الۡكِتٰبِ وَالۡحِكۡمَةِ يَعِظُكُمۡ بِهٖ ط ما انزل په نعمت الله بائدے معطوف دے . د کتاب او حکمت نه مراد قرآن حکیم دے ځکه چه په دیکښې د واړه صفتونه موجود دی . یا د کتاب نه مراد قرآن دے او د حکمت نه مراد سُنت دے والمراد بهما القرآن الجامع للعنوانین او القرآن والسنة (روح ص۱۴۲ ج ۲) والحکمة هی السنة المبنیة علی لسان رسول الله صلی الله علیه وسلم مراد الله فیما لم ینص علیه فی الکتاب . (قرطبی ص۱۵۷ ج ۳) يَعِظُكُمۡ بِهٖ دا انزل فاعل نه حال دے . یعنی په کتاب او سُنّت کښې چه کوم احکام ستاسو نصیحت د پاره نازل شویدی هغه هر وخت د نظر لاندے اُوساتئ . او د هغې مطابق عمل اوکړئ . وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعۡلَمُوۡۤا اَنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَىۡءٍ عَلِيۡمٌ د الله د عذاب نه اوویریږئ

او د هغه د احکامو نه مخالفت مه کوئ او الله د ټولو احکامو حکمتونه پیژنی د هغه هیڅ کار د
حکمت نه خالی نه دے. دا شان هغه دا هم پیژنی چه څوك د هغه تابعداری کوی او څوك
نافرمان دے. فلا یخفی علیه شیء مما تأتون وما تذرون فلیحذر من جزائه وعقابه (روح ص۱۴۳ ج۲،
ابوالسعود ص۳۸۲ ج۲) او انه علیم بکل شیء فلا یأمر الا بما فیه الحکمة والمصلحة فلا تخالفوه (روح ص۱۴۳ ج۲)

وَإِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ فَبَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَلَا تَعْضُلُوهُنَّ

او کله چه طلاق ورکړئ تاسو ښځو ته بیا پوره کړی خپل عدت نو او س مه بندوئ هغوی

أَنْ يَنْكِحْنَ أَزْوَاجَهُنَّ إِذَا تَرَاضَوْا بَيْنَهُمْ بِالْمَعْرُوفِ

د دے نه چه نکاح اوکړی د خپلو خاوندانو سره ۵۵۲ کله چه راضی شی په خپلو کښې هغه د دستور موافق

ذَٰلِكَ يُوعَظُ بِهِ مَنْ كَانَ مِنْكُمْ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ

دا نصیحت هغه چاته کولے شی چه ستاسو نه ایمان لری په الله باندے او د قیامت په

الْآخِرِ ذَٰلِكُمْ أَزْكَىٰ لَكُمْ وَأَطْهَرُ وَاللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنْتُمْ لَا

ورځ باندے دیکښې ستاسو دپاره ډیره صفائی ده ډیره پاکیزګی. او الله پوهیږی او تاسو نه

تَعْلَمُونَ ﴿۲۳۲﴾ وَالْوَالِدَاتُ يُرْضِعْنَ أَوْلَادَهُنَّ حَوْلَيْنِ

پوهیږئ ۱ او د بچو والا ښځے د پئ ورکړی خپلو بچو ته دوه کاله

كَامِلَيْنِ لِمَنْ أَرَادَ أَنْ يُتِمَّ الرَّضَاعَةَ وَعَلَى الْمَوْلُودِ

پوره څوك چه غواړی چه پوره کړی د پئ موده ۵۶۳ او د څوئ والا یعنی

لَهُ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ لَا تُكَلَّفُ نَفْسٌ إِلَّا

په پلار باندے د خوراك او جامے د هغه ښځو موافق د دستور دی ۵۶۴ تکلیف به نه شی ورکولے چاته

وُسْعَهَا لَا تُضَارَّ وَالِدَةٌ بِوَلَدِهَا وَلَا مَوْلُودٌ لَهُ بِوَلَدِهِ

لیکن د هغه د طاقت موافق او نه د نقصان ورکړے شی مور ته د هغے د بچی د وجے نه او نه هغه ته

وَعَلَى الْوَارِثِ مِثْلُ ذَٰلِكَ فَإِنْ أَرَادَا فِصَالًا عَنْ

چه د هغه بچے دے ۵۶۵ یعنی پلار ته د هغه د بچی په وجه او په وارثانو باندے هم دا لازم ده. بیا که چرے مور پلار

تَرَاضٍ مِّنْهُمَا وَتَشَاوُرٍ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا ۗ وَإِنْ أَرَدتُّمْ

خواړی چه یې ورکول بند کړی شي یعنې دوه کاله کښې دننه خپل رضا او مشورې سره نو دوی باندې څه ګناه نشته او که چرته

أَن تَسْتَرْضِعُوا أَوْلَادَكُمْ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِذَا سَلَّمْتُم

تاسو خلق غواړئ چه یې ورکړی دبوسه دائی نه خپل اولاد ته نو هم په تاسو څه ګناه نشته چه کله حواله کړئ

مَّا آتَيْتُم بِالْمَعْرُوفِ ۗ وَاتَّقُوا اللَّهَ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ

کوم چه تاسو ورکول مقرر کړي وي د دستور موافق ف‍ ۱۱ او د الله نه او ویریږئ او پوهه شئ چه الله تعالیٰ

بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿٢٣٣﴾

ستاسو ټول کارونه ښه وینی ف ۲

نکات: ف ۱ یعنې عدت ختم کړی ۱۲ ف ۲ د رضاع یعنې بچو ته د پئیو ورکولو بیان ۱۲ ف ۳ قضاءً خو دوه کاله دی او دیانةً یعنې فیما بین الله و بینهما دوه نیم کاله دی څنګه چه په خم احقاف کښې دی وَحَمْلُهُ وَفِصَالُهُ ثَلَاثُونَ شَهْرًا ۱۲

موضح قرآن ف ۱ دا حکم د ښځې اولیاؤ ته دے چه د هغې په نکاح کښې د هغې رضا او ساتئ هغه چه چرته راضی وی نو هغلته یې اوکړئ. اګرچه په خپل نظر کښې بل کوم ځائې تاسو ته بهتر معلوم وی.

ف ۲ که چرے د سړی او ښځې په مینځ کښې طلاق واقع شي او بچے یې خوری نو مور به بنده ساتلے شي هغه ته په پئیو ورکولو باندے دوه کاله او پلار به د هغې خرچه ورکوی. او که چرے د هغه پلار مړ شو نو وارث به د هغه خرچه برداشت کوی او چه څوک د دوه کلونو نه کم یې بند کړی په خپلے رضامندئ سره نو هم روا ده او که چرے پلار د بل چا پئی ورکوی او مور نه پابند کوی نو هم روا ده لیکن د دے په بدله کښې د مور څه حق نه کټ کوی ۱۲

فتح الرحمٰن: ف ۱ یعنې د نورو خاوندانو سره چه هغوی طرفته میلان لری ۱۲ ف ۲ یعنې د دوه کالو تکمیل

تفسیر ۲۳۲ دلته د بلوغ اجل نه د عدت ختمیدل مراد دی په قرینه د فلا تعضلوهن د جاهلیت د زمانے یو رسم دا هم وو چه ښځے خلقو به خپلو طلاق شوو بیبیانو ته د دویم واده کولو اجازت نه ورکولو او دا به یې خپل ذلت ګڼړلو نو الله پاک د دے رسم ماتولو حکم ورکړو او وے فرمائیل چه کله ستاسو د طلاق شوو بیبیانو عدت پوره شي نو هغوی د خپلے خوښے مطابق د منتخب کړے شوو خاوندانو سره د واده کولو نه منع کوئ. الخطاب للازواج المطلقين حيث كانوا يعضلون مطلقاتهم بعد مضي العدة ولا يدعوهن ان يتزوجن ظلما وقسرا لحمية الجاهلية (روح ص ۱۴۳ ج ۲) په دے آیت کښې هم

اشاره راوځي چه د ښځو په الفاظو سره نکاح منعقد کیږي ځکه چه دلته هم د نکاح فعل د ښځو طرفته منسوب کړے شوید ے. اِذَا تَرَاضَوْا بَیْنَهُمْ بِالْمَعْرُوْفِ یعني په دے شرط چه دا ښځے د خپلو خاوندانو انتخاب د شرعي احکامو او د مروت د تقاضو طریقو برابر کوي. مثلاً غیر کفو خاوند نه منتخب کوي. او په مهر مثل کښې کمے نه کوي. که چرے داسے کوي نو د هغے اولیاؤ ته د اعتراض حق حاصل دے. بالمعروف بما یحسن فی الدین والمروءة من الشرائط او بمهر المثل والکفوء لان عند عدم احدهما للاولیاء ان یتعرضوا (مدارک ص۹۱ ج۱) ذٰلِكَ یُوْعَظُ بِهٖ. دا احکام خو د ټولو مؤمنانو دپاره یوشان واجب العمل دی. لیکن په دے احکامو باندے په خوشحالئ سره عمل کوونکي او ددے قدر او مرتبه پیژندونکي صرف کامل مؤمنان دي. ددے وجے نه یے د دوی په خاص طور باندے ذکر کړیدے خصه بالذکر لانه المسارع الی الامتثال اجلالا لالله تعالی وخوفا من عقابه (روح ص۱۴۵ ج۲) ذٰلِكُمْ اَزْکٰی لَکُمْ وَ اَطْهَرُ. په ذٰلکم سره د ذکرشوي احکامو مطابق د عمل کولو طرفته اشاره ده. ای الاتعاظ به والعمل بمقتضاه (روح ص۱۴۵ ج۲) یعني په ذکرشوي احکامو باندے عمل کول ستاسو دپاره د برکت او پاکیزګئ باعث دے. وَاللّٰهُ یَعْلَمُ وَ اَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ددے احکامو حکمتونه او مصلحتونه صرف الله تعالٰی ته معلوم دي. دے دپاره تاسو له په هرحال کښې په دے باندے عمل کول پکار دے.

۴۶۲ ددے ځائے نه د رضاعت احکام شروع کیږي. یُرْضِعْنَ لفظاً خبر دے او معنیً امر دے. او دا امر استحباب دپاره دے. لیکن که چرے بچے د خپلے مور نه سوا د بل چا پئ نه څکي. یا هغه دپاره بله پئ ورکوونکے نه ملاویږي. یا خو ملاویږي. لیکن پلار د معاوضے ورکولو نه عاجز دے نو په دے صورتونو کښې په مور باندے پئ ورکول واجب دے. لِمَنْ اَرَادَ اَنْ یُّتِمَّ الرَّضَاعَةَ سره دے طرفته اشاره ده چه د بچو ورکولو پوره موده او کامله موده دوه کاله ده. د دینه زیاته نه ده. مطلب دا دے چه د دوو کلونو نه زیات پئ ورکول جائز نه دي. لیکن که چرے د ځینے وجوهاتو په بناء باندے د دوو کلونو نه کم پئ ورکړے شي نو جائز دي. فقهاء اسلام ددے ایت نه دا مسئله وبستلے ده چه کوم رضاعت د نکاح په حرمت کښې مؤثر دے هغه هم دا دوه کلونه دي. د دوو کلونو نه روستو د رضاعت د نکاح په حرمت کښې هیڅ اعتبار نشته. و استدل بالاٰیة علی ان اقصٰی مدة الارضاع حولان ولا یعتد به بعدهما فلا یعطی حکمه وانه یجوز ان ینقص عنهما (روح ص۱۴۶ ج۲) الرضاعة الحرمة الجاریة مجری النسب انما هی ما کان فی حولین لانه بانقضاء الحولین تمت الرضاعة ولا رضاعة بعد الحولین معتبرة (قرطبی ص۱۶۲ ج۳) په حنفیانو کښې د صاحبینو هم دا مسلک دے او هم په دے باندے فتوٰی دے. فکان الاصح قولهما وهو مختار الطحاوی (فتح القدیر ص۲ ج۳)

۴۶۳ د مَوْلُوْدٌ لَّهٗ نه پلار مراد دے ځکه چه بچے ددهٔ دپاره پیدا کیږي. او ددهٔ طرف ته منسوب کیږي. مطلب دا دے چه د بچي د مور ضرچه خوراک او جامه د پلار په ذمه

دی او د معروف نه مراد دا دے چه په خرچ کښې نه اسراف وی او نه تنګی بلکه د سړی د مالی حالت مناسب وی ای بلا اسراف و تقتیر (روح ص۱۴۸ ج ۲) مدارک ج ۱ ص ۹۲) ای بالمتعارف فی عرف الشرع من غیر تفریط ولا افراط (قرطبی ص۱۶۳ ج ۳) یدل علی ان الواجب من النفقة والکسوة هو علی قدر حال الرجل فی اعساره ویساره (احکام القرآن للجصاص) لَا تُكَلَّفُ نَفْسٌ اِلَّا وُسْعَهَا امام نسفیؒ فرمائی چه دا جمله د معروف تفسیر دے او مطلب دا دے چه ښځه د ښځې د طاقت نه زیات تکلیف ورکړے شی نه خو د خاوند د ښځې د طاقت نه زیات خرچ کولو باندے مجبور کړے شی او نه د ښځه د تنګه ستئ په ژوند تیرولو باندے - ای لا تکلف المرأة للصبر علی التقتیر فی الاجرة ولا یکلف الزوج ما هو اسراف بل یراعی القصد (قرطبی ص۱۶۶ ج ۳)

۴۶۳ دغوی د وجے نه د خاوند د طرفنه ښځه او د بچی د طرفنه خاوند ته څه تکلیف ورکړے شی. مثلاً که چرے مور دغه بیماری په وجه سره یا د جسمانی کمزوری د وجے نه پئ نه شی ورکولے نو هغه د ښی مجبوره ولے. یا که چرے هغه پئ ورکول غواړی نو بغیر د څه وجے نه د هغې نه بچے واخستلے شی او د هغې په حقوقو کښې د کوتاهی اوکړے شی او د مور د طرفنه د تکلیف ورکولو صورت دا دے چه هغه د خاوند د تنګولو دپاره بچی ته پئ نه ورکوی. یا د هغه د وسعت نه زیات په هغه باندے خرچ واچوی. وَعَلَى الْوَارِثِ مِثْلُ ذٰلِكَ. که چرے د بچی پلار مړشی نو د بچی په وارثانو باندې به هغه ټول حقونه ادا کول واجب وی کوم چه په پلار باندے واجب وو. مثلاً د هغه د مور خوراک د هغې جامے او هغې ته تکلیف نه ورکول وغیره. علیه مثل ما علی والد الطفل من الانفاق علی والدة الطفل والقیام بحقوقها وعدم الاضرار بها وهو قول الجمهور (ابن کثیر ص۲۸۳ ج ۱) دا په هغه صورت کښې دی چه کله د بچی مال موجود نه وی. که چرے د هغه مال وی نو د هغه او د هغه د مور خرچه به د هغې نه ادا کولے شی. فَاِنْ اَرَادَا فِصَالًا عَنْ تَرَاضٍ مِّنْهُمَا وَتَشَاوُرٍ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا د رضاعت موده د دوو کلو نو د تکمیل نه مخکښې که چرے خاوند د ښځې بچی ضرورت او مصلحت مخے ته اوساتی او په خپلو کښې رضامندئ او مشورے سره د هغه پئ رودل بند کړی نو د یکښې څه حرج نشته.

۴۶۵ اٰتَيْتُمْ کښې د ایتاء نه د مقرره اُجرت ورکولو ذمه داری او ضمانت قبلول مراد دی. او معروف نه شرعاً او مروةً ښه او مستحسن طریقه مراد ده. او مخے وخت د مور په موجودګئ کښې د بچے ضروری وجوها تو په بناء باندے بچی ته د بلے ښځے یا دائی د پئ ورکولو ضرورت راپیښیږی. نو د دے متعلق یے ارشاد اوفرمائیلو چه د ضرورت په وخت دا کول جائز دی په دے شرط چه د دائی مقرره اُجرت چه شرعاً او عرفاً مناسب وی د تاخیر او د کمی زیاتی نه بغیر هغې ته حواله کړے شی. وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعْلَمُوْا اَنَّ اللّٰهَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ د الله نه اوویریږئ او د هغه حدود مه ماتوئ او یقین وساتئ چه هغه حاضر او ناظر دے. اعمال دینی د دے وجے نه ستاسو د عملونو مطابق به تاسو ته جزا او سزا ملاویږی. دلته د رضاع احکامو بیان د وړاندے د کونډے عدت او د دے متعلق نورو احکامو بیان د

وَالَّذِيْنَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَيَذَرُوْنَ اَزْوَاجًا يَّتَرَبَّصْنَ

او کوم خلق چه مړه شي ستاسو نه او پرېږدي ښځې په انتظار کښې به اوساتي

بِاَنْفُسِهِنَّ اَرْبَعَةَ اَشْهُرٍ وَّعَشْرًا ۚ فَاِذَا بَلَغْنَ اَجَلَهُنَّ

خپل ځان څلور میاشتې او لس ورځې بیا چه پوره کړي خپل عدت لګ

فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيْمَا فَعَلْنَ فِيْۤ اَنْفُسِهِنَّ بِالْمَعْرُوْفِ ؕ

نو په تاسو باندې هیڅ ګناه نشته په دې خبره کښې چه اوکړي هغوي په خپل حق کښې د قاعدې

وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ۝۲۳۴ وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيْمَا

موافق ګڼه او الله ستاسو تولو کارونو نه خبردے ول او هیڅ ګناه نشته په تاسو باندې دې کښې چه

عَرَّضْتُمْ بِهٖ مِنْ خِطْبَةِ النِّسَآءِ اَوْ اَكْنَنْتُمْ فِيْۤ اَنْفُسِكُمْ ؕ

اشاره کښې اوواني پیغام د نکاح هغه ښځوته یا پټ اوساتئ په خپلو زړونو کښې ګڼه

عَلِمَ اللّٰهُ اَنَّكُمْ سَتَذْكُرُوْنَهُنَّ وَلٰكِنْ لَّا تُوَاعِدُوْهُنَّ

الله ته معلوم دي چه تاسو به ضرور د دې ښځو ذکر کوئ ولے لیکن د دوي سره د نکاح وعده مه

سِرًّا اِلَّاۤ اَنْ تَقُوْلُوْا قَوْلًا مَّعْرُوْفًا ؕ وَلَا تَعْزِمُوْا عُقْدَةَ

کوئ په پټه لیکن دا چه تاسو اووائی څه خبره د شریعت د رواج مطابق او مه کوئ اراده د نکاح تړ

النِّكَاحِ حَتّٰى يَبْلُغَ الْكِتٰبُ اَجَلَهٗ ؕ وَاعْلَمُوْۤا اَنَّ اللّٰهَ

هغې چه اورسیږي عدت مقرر خپل اخر ته ګڼه او پوهه شئ چه الله ته معلوم دي

يَعْلَمُ مَا فِيْۤ اَنْفُسِكُمْ فَاحْذَرُوْهُ ۚ وَاعْلَمُوْۤا اَنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ حَلِيْمٌ ۝۲۳۵ ع

کوم څه چه ستاسو په زړونو کښې دي نو د هغه نه اووېرېږئ او پوهه شئ چه الله بخښونکے او تحمل کونکے دې

نکات: ۔ ۱ متوفی عنها زوجها یعني د کومې ښځې خاوند چه وفات شي د هغې د واجبي عدت بیان ۱۲ ۔ ۲ یعنې په عدت کښې نکاح کول جائز نه دي لیکن اشارةً او تعریضًا کهما تو سره خطبه کول جائز دي ۱۲

موضح قرآن ف ۱ د طلاقو عدت یې درې حیضه بیان کړل او د مړې عدت یې څلور میاشتې او لس ورځې دوا ره هغه وخت دي چې حمل نه معلومیږي۔

او چې حمل معلوم وي نو بيا تر حمل پورې ۱۲
ف۲ يعني ښځه د يو خاوند نه آزاده شوې ده او په عِدّت کښې ده نو تر هغه وخته پورې
دا قوم يوکښې د پاره جائز نه دي چې د هغې سره نِکاح اوتړي يا صفا وعده اوکړي چې تر څو
چې عِدّت نه وي تېر شوې نو بيا به د هېڅ نه والي سوا د يو رواجي خبرې نه مثلاً ښځې ته اووائي
چې يو عزيز اخلي يا اووائي چې څما د نِکاح اراده ده.

فتح الرحمن:- ف۱ يعني تصريح سره د عِدّت نه روستو ۱۲

تفسير:
لله مخکښې تېر شوېدي چې د کونډې عِدّت څلور مياشتې او لس ورځې صرف هغه صورت کښې دے چې حامله نه وي که چرې حامِله وي نو د هغې عِدّت وضع حمل ده څنګه چې په سُورة طلاق کښې ذکر دے.

لله په دے آيت کښې د کونډو ښځو د نِکاح حُکم بيان شوېدے چې د عِدّت نه روستو که چرې هغه په خپله خوښه د کوم سړي سره شرعي عقد کول غواړي نو د هغې اولياؤ ته هغه منع کول پکار نه دي. په دے شرط چې هغه د خپل کفو سره نِکاح اوکړي په غير کفو کښې د نِکاح کولو نه رِشته دارانو ته د منع کولو حق دے. نن صبا په کونډو ښځو باندے انتهائي ظلم کولے شي. ځينې ښځې بالکل ځوانۍ کښې کونډې شي ليکن ټول عمر خاوند نه بغير اوسيږي. او وارثان هغوی ته د دويم نِکاح اجازت نه ورکوي. او دا د خپل ځان ذِلت ګڼړي حالانکه دا سراسر جهالت دے او د خُدائ نافرماني ده او د دے کونډې حق تلفي ده. وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ۔ الله تعالٰے ستاسو ټولو عملونو نه خبر دے. د دے وجې نه د هغهٔ د احکامو مخالفت مه کوئ.

لله د کونډے ښځې په مخکښې د هغې سره د نِکاح کولو د ارادے اظهار د عِدّت د وران کښې صراحةً جائز نه دے ليکن که چرې اشارةً دا سے اوکړي نو جائز دي. مثلاً د کونډے د رشتې دولي په مخکښې دا سے اووائي چې خُدائ دِ اوکړي چې زمونږ کور هم آباد شي. يا د دے پشان بله کومه جُمله اووائي. دا شان که چرې په زړهٔ کښې اراده اوکړي چې د عِدّت نه روستو به د هغې سره نِکاح کوم ليکن د دے اظهار صراحةً نه کوي نو دا هم جائز دي. عَلِمَ اللّٰهُ اَنَّكُمْ سَتَذْكُرُوْنَهُنَّ وَلٰكِنْ لَّا تُوَاعِدُوْهُنَّ سِرًّا ۔ الله ته معلومه ده چې تاسو به ضرور د دے ذکر کوئ او په زړهٔ کښې به د هغوی طرفته توجه ورکوي او په دے سِلسله کښې به په خپل ځان باندے کنټرول اونکړے شئ. په دے وجه يې اشارةً د ذِکر کولو اجازت درکړو. ليکن د نِکاح کولو صريح وعدهٔ اجازت يې نه ښکاره درکړو او نه په پټه باندے. اِلَّآ اَنْ تَقُوْلُوْا قَوْلًا مَّعْرُوْفًا ۔ نه هُم دا اشاره او کنايه مراد ده.

لله دا د ما قبل تاکيد او تفصيل دے او د عزم نه مراد پخه اراده ده چې د فِعل سره يو ځائې وي. والمراد به العزم المقارن (روح ص۱۲۵ ج۲) يعني د عِدّت تېرېدو نه مخکښې د نِکاح د عزم اظهار مه کوئ. وَاعْلَمُوْآ اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا فِيْٓ اَنْفُسِكُمْ فَاحْذَرُوْهُ ۚ وَاعْلَمُوْآ اَنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ حَلِيْمٌ ۔ خپل باطن صحيح کړئ ځکه چې الله تعالٰی ستاسو د

زړونو په خبرو باندے خبردے او چه څوك د هغه نه معافي اُوغواړي نو هغه معاف کوي. او د نه غوښتو نکو هم په جلتئ سره مؤاخذه نه کوي بلکه د توبے کولو دپاره مُهلت ورکوي. دکوندے د عدّت او د احکامو بیانولو نه روستو وړاندے د طلاق زیاتی احکام ومسائل بیان کړے شویدی۔

لَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِنْ طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ مَا لَمْ تَمَسُّوهُنَّ

نشته گناه په تاسو باندے که چرے طلاق ورکړئ تاسو ښځو ته هغه وخت چه لاس

أَوْ تَفْرِضُوا لَهُنَّ فَرِيضَةً ۚ وَمَتِّعُوهُنَّ عَلَى الْمُوسِعِ

هم نه وی ورلګولے او نه مو مقرر کړے وی دهغوی دپاره مهر ئے ۱ او هغوی ته خرچه ورکړئ ۲

قَدَرُهُ وَعَلَى الْمُقْتِرِ قَدَرُهُ ۚ مَتَاعًا بِالْمَعْرُوفِ ۚ حَقًّا

قُدرت لرونکو باندے دهغه موافق ده او تنګئ والا باندے دهغه موافق. کوم خرچ چه د قاعدے موافق دے

عَلَى الْمُحْسِنِينَ ﴿٢٣٦﴾ وَإِنْ طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِنْ قَبْلِ أَنْ

لازم دے نیکو کونکو باندے ۱ او که چرے طلاق ورکړئ هغوی ته د لاس لګولو نه مخکښ

تَمَسُّوهُنَّ وَقَدْ فَرَضْتُمْ لَهُنَّ فَرِيضَةً فَنِصْفُ مَا

او مقرر کړی وُو تاسو هغوی دپاره مهر نو لازم شو نیم د هغے چه

فَرَضْتُمْ إِلَّا أَنْ يَعْفُونَ أَوْ يَعْفُوَا الَّذِي بِيَدِهِ

مقرر کړے مو وُو ۲ لیکن داچه درګذر اوکړی ښځے یا درګذر اوکړی هغه سړے چه دهغه په

عُقْدَةُ النِّكَاحِ ۚ وَأَنْ تَعْفُوا أَقْرَبُ لِلتَّقْوَىٰ ۚ وَلَا

اختیار کښ ده غوټه د نکاح یعنی خاوند ئے ۳ او تاسو سړی درګذار اوکړئ نو نزدے ده پرهیزګارئ ته او

تَنْسَوُا الْفَضْلَ بَيْنَكُمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿٢٣٧﴾

مه هیروئ احسان کول په خپل مینځ کښ بیشکه الله کوم څه چه تاسو کوئ ښه پېژنی ئے ۴

حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَالصَّلَاةِ الْوُسْطَىٰ وَقُومُوا

پابند اوسیږئ د ټولو مونځونو نه او د مینځنی مونځ نه ۱ او ولاړ اُوسئ د

لِلّٰهِ قٰنِتِيْنَ ﴿۲۳۸﴾ فَاِنْ خِفْتُمْ فَرِجَالًا اَوْ رُكْبَانًا ۚ فَاِذَآ اَمِنْتُمْ

الله په عاجزئ ادب سره ول بیا که چیرے تاسو سره ډیره وی دښمانه ول نو پیاده یے ادکری یا په سورئ

فَاذْكُرُوا اللّٰهَ كَمَا عَلَّمَكُمْ مَّا لَمْ تَكُوْنُوْا تَعْلَمُوْنَ ﴿۲۳۹﴾ وَ

بیا چه کله امن بیا مومئ نو یاد کرئ الله ځکه یے چه تاسو ته ښودلی دی کوم چه تاسو نه پیژندل ول او

الَّذِيْنَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَيَذَرُوْنَ اَزْوَاجًا ۚۖ وَّصِيَّةً

کوم خلق چه ستاسو نه مړه شی او پریږدی خپلے ښځے نو هغوی د وصیت اوکری خپلو ښځو

لِّاَزْوَاجِهِمْ مَّتَاعًا اِلَى الْحَوْلِ غَيْرَ اِخْرَاجٍ ۚ فَاِنْ خَرَجْنَ

دپاره د خرچ ورکولو دیو کال پورے بغیر د ویستلو د کور نه ول که ولا بیا که چیرے هغه

فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيْ مَا فَعَلْنَ فِيْٓ اَنْفُسِهِنَّ مِنْ

ښځے ځپله اوځی نو څه ګناه نشته په تاسو باندے په دیکښی چه اوکری هغه ښځے خپل حق کښی ښه

مَّعْرُوْفٍ ۭ وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿۲۴۰﴾ وَلِلْمُطَلَّقٰتِ مَتَاعٌۢ

خبره ولا ول او الله غالب دے حکمت والا ول او طلاق کړے شوو ښځو دپاره خرچ ورکول

بِالْمَعْرُوْفِ ۭ حَقًّا عَلَى الْمُتَّقِيْنَ ﴿۲۴۱﴾ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ

دی د قاعدے موافق لازم دے پرهیزګارو باندے ول ول دا شان بیا نوی الله

لَكُمْ اٰيٰتِهٖ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿۲۴۲﴾ ع ۳۱ / ۵

ستاسو دپاره خپل حکم دے دپاره چه تاسو پوهه شئ ول

نکات: ـ نـ۱ د طلاق شوو ښځو د څلورو قسمونو بیان، دوه صراحةً او دوه ضمناً ۱۲ د انتظامی امورو نه روستو د دریم امرِ مصلح د موقع بیان ۱۲ سـ۳ د امرِ مصلح نه روستو د سابقه امورو انتظامی متعلق د یو استحبابی شق بیان ۱۲ سـ۴ دا ایت منسوخ نه دے په دیکښی حکم وجوبی نه دے بلکه استحبابی دے بدلیل غیر اخراج ۱۲

موضح قرآن ف۱ که چیرے د نکاح په وخت مهر یاد نه کړے شی نو هم نکاح صحیح ده مهر به روستو مقرر شی. بیا که چیرے لاس نکړولو نه بغیر یے ښځے ته طلاق ورکړل نو هیڅ مهر نه لازمیږی لیکن څه خرچ ورکول ضروری دے خرچ څه دے چه یوه جوړه جامے د حال موافق ۱۲

ف۲ یعنی که چرته مَهر مقرر شوے وُو بیا د لاس وراوړلو نه بغیر یې طلاق ورکړل نو بیا به نیم مَهر لازم شي. لیکن چه ښځه درګذر اوکړي چه بالکل یې پرېږدي یا سړے درګذر اوکړي نو بهتره خبره دا ده ځکه چه الله لوئي ورکړې ده سړي ته او هغه یې د نکاح د برقرار ساتلو او د ماتولو مختار کړے دے. خپله لوئي دِ اُوساتي.

فائده: د غلور صورتونه کېدے شي دلته یې د دوُو حُکم اوکړو یو دا چه مَهر یې نه وُو مقرر کړے او د لاس وراوړلو نه مخکښې یې طلاق ورکړل. دویم دا چه مَهر مقرر شوے او د لاس لګولو نه مخکښې یې طلاق ورکړل. او دوه صورتونه باقي دي یو دا چه مَهر مقرر شوے وُو او لاس لګولو نه پس یې طلاق ورکړل نو پوره مَهر لازم شو دا په سُورة نساء کښې ذِکر دے دویم دا چه مَهر مقرر شوے نه وُو او لاس لګولو نه پس یې طلاق ورکړل. دیکښې به مَهرِ مثل پوره ورکول پکار وي یعني د دے ښځې په قوم کښې چه کوم رواج دے او چه کله خلوت اُوشو نو ګویا لاس یې اُولګولو.

ف۳ مېنځنۍ مُونځ د مازیګر دے چه د ورځې او شپې په مېنځ کښې دے د دے تقید یې زیات کړو او د طلاقو په حُکم کښې یې د مُونځ حُکم اُوفرمائیلو چه د دُنیا په معاملاتو کښې غرقیږه و شروبند کې هېر نه کړې. د دے وجه نه یې د عصر تقید زیات کړے دے چه په دے وخت کښې د دُنیا شُغل زیات وي. وے فرمائیل چه اُودرېږئ په اَدب سره نو چه کوم حرکت چه د هغې نه معلومیږي چه انسان په مانځه کښې نه دے هغې سره مُونځ ماتیږي لکه خوراک څکاک یا چا سره خبرو کولو سره وغیره.

ف۴ یعني د جنګ وخت وي نو ناچاره د پاره په سورلئ باندے هم او پیاده هم په اشارے سره مُونځ رَوا دے اګرچه قبلے طرفته هم نه وي.

ف۵ دا حُکم هغه وخت وُو چه د مړي په اختیار کښې وارثانو ته څه ورکول ورکړے شوي وُو اوس چه کله د تولو حصے الله تعالیٰ مقرر کړے د ښځې حِصه یې هم مقرر کړه اوس د مړي ورکړه موقوف شوه.

ف۶ اول یې خرچ فرمائیلے وُو یعني جوړه جامے ورکول په هغه طلاق باندے چه مَهر نه وي مقرر شوے او نه لاس لګولے شوے وي دلته یې په تولو باندے حُکم ورکړو تولو طلاق کړے شوؤ د پاره یوه جوړه ورکول بهتر دي. او دے مخکښې د پاره ضرور ده.

ف۷ دلته د نکاح او طلاق حُکم ختم شو.

فتح الرحمٰن ف۱ یعني مَهر ۱۲ ف۲ یعني کپړے ۱۲ ف۳ یعني خاوند پخپله تول تیر شوے ورکړي ۱۲ ف۴ یعني حدّ دا او د هغې پشان ۱۲ ف۵ یعني د بل چا کره اُوسوئیل ۱۲ ف۶ یعني د شریعت په طور نکاح ۱۲ ف۷ مترجم وائي دا ایت جمهور په نزد منسوخ دے په ایت د اربعة اشهر وعشرا والله اعلم ۱۲

تفسیر: ۵۷۲ تَفْرِضُوْا لَهُنَّ عطف دے په تَمَسُّوْهُنَّ باندے او دا هُم د نفي د لاندے داخِل دے یعني کوم ښځې چه نه وي مَسّ کړے شوے او نه هغوي د پاره مَهر مقرر کړے شوے وي. که چرے هغوي ته طلاق ورکړے شي نو د دے کښې څه باک نشته.

مَتِّعُوْهُنَّ یعنی دګومو ښځو د پاره چه د نکاح په وخت مَهر مقرر نه کړے شی. هغه که چرے د جماع نه مخکښې طلاق کړے شی نو هغوی ته کپړے ورکول واجب دی متعه د یے کپړے دی قمیص، لوپټه او څادر. قال الامام ابوحنیفة هی درع وخمار و ملحفة (روح ص۱۵۳ ج ۲) د مَسّ نه مراد دلته وطی ده خواه حقیقةً وی یا حکماً. حقیقی وطی خو ښکاره ده د حُکمی (لاس لګولو نه) مراد خلوتِ صحیحه مراد دے. او خلوتِ صحیحه دا دے چه ښځه او خاوند په یو داسے ځائ کښې موجود وی چه هلته د وطی څه شیز مانع موجود نه وی. د مَسّ او تفنن پیر په لحاظ سره د مطلقه څلور قسمونه دی (۱) دا چه د مطلقه مَهر د نکاح په وخت بے مقرر کړے وُو او د مَسّ حقیقی یا حُکمی نه روستو هغے ته طلاق ورکړے شو نو د دے حُکم دا دے چه هغے ته به مقرره مَهر ورکولے شی او د هغے نه واپس څه اخستل جائز نه دی د دے حُکم مخکښې په رکوع ۲۹ کښې بیان شوے دے. (۲) هغه ښځه چه هغے ته د وطی نه مخکښې طلاق ورکړے شوے وی او د هغے مهر هم مقرر نه وی نو د هغے د پاره مَهر نشته دے. البته هغے ته به ثیابِ مُتعه ورکولے شی په دے ایت کښې هم د دے ښځې حُکم بیان کړے شوے دے. (۳) هغه ښځه چه هغے ته د وطی نه مخکښې طلاق ورکړے شی لیکن د هغے مَهر مقرر شوے وی نو د هغے حُکم په راتلونکی ایت کښې راځی چه هغے ته به د مقرره مَهر نه نیم ورکولے شی. (۴) هغه ښځه چه هغے ته د وطی نه روستو طلاق ورکړے شی لیکن د هغے مَهر مقرر نه وی نو هغے ته به مَهر مثل ورکولے شي چه د هغے تفصیل د فقهے په کتابونو کښې ذکر شوے دے. عَلَى الْمُوْسِعِ قَدَرُهٗ وَعَلَى الْمُقْتِرِ قَدَرُهٗ یعنی د ثیابِ مُتعه د مالیت انحصار د خاوند په مالی حالت باندے دے. مَتَاعًا بِالْمَعْرُوْفِ متاعا بمعنی تمتیعًا د متعوهن مفعول مطلق دے بالمعروف ظرف مستقر دے چه د متلبسًا محذوف سره متعلق دے او د متاعًا اولنے صفت دے یعنی ثیابِ متعه په داسے طریقه ورکړئ چه شرعًا او عرفًا مستحسن وی. حَقًّا عَلَى الْمُحْسِنِيْنَ. دا د متاعًا دویم صفت دے او د حَقًّا معنی واجبًا ده صفة لمتاعًا ای متاعًا واجبًا علیهم (مدارک ص۹۳ ج ۱) یعنی په ښه معامله کوُنکو او حُسنِ سلوک کوُنکو خلقو باندے متعه واجب او لازم ده د محسنین تخصیص بے ترغیب او تخصیص د پاره فرمائیلے دے. لګه دا د هغے ښځے حُکم دے چه هغے ته د دخول نه مخکښې طلاق ورکړے شوے وی او د هغے مَهر د نکاح په وخت مقرر شوے وی. نو د هغے حُکم دا دے چه هغے ته به د مقرره مَهر نیم ورکولے شی اِلَّآ اَنْ یَّعْفُوْنَ اَوْ یَعْفُوَا الَّذِیْ بِیَدِهٖ عُقْدَةُ النِّکَاحِ لیکن که چرے ښځه خپل حق معاف کړی او نصف مَهر کوم چه د هغے حق دے د هغے نه هم لاس واخلی یا خاوند د سخاوت نه کار واخلی او د مَهرِ معجل په صورت کښې چه هغه نه د نیم اخستلو حق دے هغه واپس وا نخلی یا د مهرِ مؤجل په صورت کښې پوره مهر مطلقے ته ورکړی نو دا صورت مستثنی دے او دا اقدام د دواړو د طرفه مستحسن او د تعریف قابل دے. وَلَا تَنْسَوُا الْفَضْلَ بَیْنَکُمْ. حُسنِ سُلوک او په خپل مینځ کښې لطف او احسان د طلاق په موقع هم مه هیروئ. بلکه یو بل سره عفو او حُسنِ سُلوک سره پیش

د ميراث احکام نازل شوی نه وُو. اوس دا حُکم د ميراث ايت سره منسوخ شويدے
خکه چه اوس د خاوند په ترکه (پاتے مال) کښې د ښځے حِصّه مقرر شويده ده دے وجے
نه اوس د هغے په حق کښې د وصيّت حُکم منسوخ دے منسوخ کلّه عند جمهور العلماء
(قرطبی ص۲۲۶ ج ۳) ثم ان الله نسخ هٰذين الحکمين اما الوصية بالنفقة والسکنی فلان القرآن دل
على ثبوت الميراث لها والسنة دلت على انه لا وصية لوارث فصار مجموع القرآن والسنة
ناسخًا للوصية للزوجة بالنفقة والسکنی فی الحول (کبير ص۲۳۳ ج ۳) حضرت شيخ رحمة الله عليه
اُوفرمائيل که چرے دا وصيّت په استحباب باندے محمول کړے شی نو دے ايت ته د
منسوخ وئيلو ضرورت نشته او دا حُکم استحبابی اوس هم باقی دے. يعنی که چرے کونډه
تر يو کاله پورے اُوسيږی نو تاسو هغه مه تنګوئ چه دکور نه اُوځی ليکن که چرے په
خپله خوښه څلور مياشتے اولس ورځے عدّت چه دکوم ذِکر مخکښې شويدے تيروُلو نه روستو
چرته مناسب ځائے نکاح کوی نو په تاسو څۀ حرج نشته. نو معلومه شوه چه يو کال پورے
کيناستل وُجوبی حُکم نه دے بلکه استحبابی دے. هُم دا وجه ده چه ددے نه په وَصِيَّةً
او غَيْرَ اِخْرَاجٍ او مَتَاعًا اِلَى الْحَوْلِ او په فَاِنْ خَرَجْنَ سره يے تعبير کړيدے ددے وجے
ددے ايت د منسوخ کيدو ضرورت نشته.

۲۷۵ د متاع دا حُکم د ټولو مطلقاتو دپاره دے او دا حُکم استحبابی دے ليکن چه
کومے ښځے ته د دخول نه مخکښې طلاق ورکړے شی او د هغے مَهر نه وی مقرر شوے
نو هغے ته "متعه" "جوړه جامے" ورکول واجب دی څنګه چه مخکښې تير شويدی کَذٰلِكَ
يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمْ اٰيٰتِهٖ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ. دغه شان الله تعالىٰ ستاسو دپاره د
معاشی او معاشرتی احکام واضحه بيانوی چه تاسو پرے پوهه شئ او عمل پرے اُوکړئ.

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ خَرَجُوا مِنْ دِيَارِهِمْ وَهُمْ

ايا تا هغه خلق اُونه ليدل څوک چه وَتلی وُو د خپلو کورونو نه او هغوی

أُلُوفٌ حَذَرَ الْمَوْتِ فَقَالَ لَهُمُ اللَّهُ مُوتُوا ثُمَّ

زرګونه وُو د مرګ د ويرے نه بيا اُوفرمائيل هغوی ته الله چه مړه شئ ۲۷۶ بيا يے

أَحْيَاهُمْ إِنَّ اللَّهَ لَذُو فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ وَلَٰكِنَّ

ژوندی کړل بيشکه الله فضل کوونکے دے په خلقو باندے. ليکن

أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَشْكُرُونَ ﴿٢٤٣﴾ وَقَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ

اکثر خلق شُکر نه کوی ۲۷۷ وف ۱ او جنګ کوئ د الله په لاره کښې

وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿۲۴۴﴾ مَنْ ذَا الَّذِیْ يُقْرِضُ
او پوهه شئ چه بیشکه الله ښه اوري او ښه پوهیږي څوك دے داسے چه قرض ورکړي الله
اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا فَيُضٰعِفَهٗ لَهٗٓ اَضْعَافًا كَثِيْرَةً ؕ وَاللّٰهُ
ته ښه قرض ځکه بیا دوچنده کړي الله هغه ډیر دوچنده او الله
يَقْبِضُ وَيَبْصُۜطُ ۪ وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۲۴۵﴾ اَلَمْ تَرَ اِلَى الْمَلَاِ
رزق تنګوي او صرف هغه فراخ کوي او هغه طرفته به تاسو واپس کولے شئ ف ۲ آیا تا اونه کتل یو
مِنْۢ بَنِیْٓ اِسْرَآءِيْلَ مِنْۢ بَعْدِ مُوْسٰى ۘ اِذْ قَالُوْا لِنَبِیٍّ
جماعت د بني اسرائیلو ته د موسیٰ نه روستو چه کله هغوي اوویل خپل نبي ته
لَّهُمُ ابْعَثْ لَنَا مَلِكًا نُّقَاتِلْ فِیْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ قَالَ هَلْ
مقرر کړه زمونږ د پاره یو بادشاه دے د پاره چه مونږ جنګ اوکړو د الله په لاره کښې ځکه پیغمبر
عَسَيْتُمْ اِنْ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ اَلَّا تُقَاتِلُوْا ؕ قَالُوْا
اوویل آیا ستاسو نه هم دا توقع ده چه که چرے حکم اوشي تاسو ته د جنګ نو تاسو به هغه ځنے
وَمَا لَنَآ اَلَّا نُقَاتِلَ فِیْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَقَدْ اُخْرِجْنَا
جنګ اونکړئ ځکه هغوي اوویل چه مونږ له څه شوي دي چه مونږ جنګ ونکړو د الله په لاره کښې او مونږ
مِنْ دِيَارِنَا وَاَبْنَآئِنَا ؕ فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقِتَالُ
او ویستے شو د خپلو کورونو نه او د ځامنو نه بیا چه کله حکم اوشو هغوي ته د جنګ نو هغه ټول
تَوَلَّوْا اِلَّا قَلِيْلًا مِّنْهُمْ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِالظّٰلِمِيْنَ ﴿۲۴۶﴾
واپس شو لیکن لږ شان د هغوي نه ځکه او الله ښه پیژني ګنهګاران . ف ۳

نکات: ۱ - د انتظامي اُمورو نه روستو دریم ځل د اصلي مضمون د جهاد تمهید اصل مضمون د جهاد نه د زمانے د لرے والي د وجے نه د الَمْ تَرَ تعبیر اختیار کړے شو ۱۲
۲ - دریم ځل د اصلي مضمون جهاد بیان ۱۲ ۳ - د جهاد نه روستو د انفاق بیان ۱۲
۴ - ترغیب الی الجهاد سره د بیان نمونه اوکورئ چه لږو ته الله تعالیٰ په ډیرو باندے
څنګه فتح ورکړه په دے وجه منه ویریږئ ۱۲

موضح قرآن

ف۱ په ځکښې اُمتونو کښې دا سے اُوشول چه شو زره خلقو خپل کورونه او خپل وطن پریښودهٔ او اووتل هغوی دغنیم نه اوویریدل او زړهٔ یې بیځي نه غوښتنهٔ. یا د وَبا نه اوویریدل او په تقدیر یې یقین نه وُو یو منزل ته اُورسیدل او ټول مړهٔ شول. بیا داودهٔ ورځو نه روستو د پیغمبر دُعا سره ژوندی شول چه په اُمت ئې وخت کښې توبه اُویاسی دلته یې دده د پاره اُوفرمائیل چه د جهاد نه پټیدل عبث دی مرګ څوک هم نهٔ پریږدی ۱۲

ف۲ الله ته قرض ورکړی یعنی په جهاد کښې خرچ اوکړی دا شان یې اوفرمائیل په مهربانئ سره او د تنګئ اند یښنه مهٔ کوئ دالله تعالے لاس فراخ دے۔

ف۳ د موسیٰ علیه السلام نه روستو څهٔ مُوده پورے د بنی اسرائیلو کار چلیدهٔ بیا چه کله د هغوی نیت خراب شو په هغوی باندے غنیم مسلّط شول. جالوت کافر بادشاه د هغوی د اطرافو ښارونه واخستل او لوټ یې کړل او بندیان یې ځان سره بیولی بوتلل دهغه ځائ تښتیدلی خلق بیت المقدس ښار کښې جمع شول. حضرت شموئیل پیغمبر ته یې اووئیل چه یو د اقبال والا بادشاه مقرر کړه ځکه چه د اقبال والا سردار نه بغیر مونږ جنګ نه شو کولے۔

فتح الرحمٰن

ف۱ مترجم وائی چه دا یو قوم وُو د بنی اسرائیلو چه د وَبا د ویرے نه صحرا ته لاړل او هلته د الله غضب سره په یو ځل هلاک شو دوباره د حزقیل علیه السلام دُعا سره ژوندی شول. والله اعلم ۱۲

تفسیر

۷۳۲ دده ځائ نه بیا اصل موضوع یعنی د جهاد د مسئلے بیان شروع کیږی. په مینځ کښې اُمورِ انتظامیه او اُمورِ مصلحه بیان کړے شویدی. د جهاد د مسئله دوباره ذِکر کولو نه ځکښې یې د یوے پخوانئ واقعے بیان د عبرت او تخویف د پاره کړیدے دا واقعه د بنی اسرائیلو د یوے قبیلے ده ځکه چه هغوی ته د جهاد حُکم ملاؤ شو نو هغوی د کورونو نه اُوتښتیدل چه چرته په جهاد کښې شریکیدو سره د اَجل نه ورځی جوړ نهٔ شي نو الله تعالیٰ په هغوی باندے مرګ مسلط کړو او مړهٔ شول هغوی د ځان بچ کولو د پاره وتلی وُو لیکن دا تدبیر د هغوی ناکام شو د کوم مرګ نه چه هغوی تښتیدلی وُو د هغے ذریعه جوړ شول. هم قوم من بنی اسرائیل دعاهم ملکهم الی الجهاد فهربوا حذرا لموت فاماتهم الله تعالیٰ ثمانیة ایام ثم احیاهم (ابوالسعود ص۲۴۶ ج۲) ثُمَّ اَحْیَاهُمْ الله تعالے بیا دوباره ژوندی کړل دے د پاره چه هغوی د الله د قُدرت مشاهده اوکړی او هغوی ته یقین اوشی چه د خُدائ د قُدرت په مخکښې هیڅ تدبیر کامیابیدے نهٔ شي. دے واقعے نقل کولو سره یې مُسلمانانو ته ویره واوروله چه هغوی دِ ځان د جهاد نه نهٔ پټوی ځکه چه مرګ خو به بهرحال راځی د جهاد نه تښتیدلو سره هیڅوک د مرګ نه نشی بچ کیدے۔

۷۳۳ الله تعالے خو همیشه داسے احکام نازلوی چه په هغے کښې د خلقو فائده وی. لیکن هغوی دا احکام پائمال کوی او د هغے قدر نهٔ کوی او سوراندے یې د جهاد د حکم

دوباره بیان کړېږي. وَقَاتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ دا خطاب اُمّتِ محمّدیه ته دے چه د الله په لاره کښې جهاد کوئ او د هغه اسرائیلیانو پشان بزدلي مه ښکاره کوئ شولي چه د مرګ د ویرے نه د کورونو نه تښتیدلي وُو. وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ۝ الله پاک ستاسو خبرے اوري ددے وجے نه هغه ته معلومه ده چه څوک ستاسو نورونه د جهاد ترغیب ورکوي او څوک د جهاد نه متنفر کوي او هغه د زړه رازونه پیژني ددے وجے نه هغه ته دا هم معلومه ده چه څوک د دین د پاره جهاد کوي او څوک د مال غنیمت او د نیک نامۍ حاصلولو په نیت سره جهاد کښې شریکیږي. ای هو یسمع کلامکم فی ترغیب الغیر فی الجهاد و فی تنفیر الغیر عنه و علیم بما فی صدورکم من البواعث والاغراض فان ذلك الجهاد لغرض الدین اولعاجل الدنیا (کبیر ص۳۲۸ ج ۲)

۲۵ له د جهاد د حکم نه روستو دا په جهاد فی سبیل الله کښې د مال خرچ کولو ترغیب دے او الله ته د قرض ورکولو نه د الله په لاره کښې د مال خرچ کول مراد دي. والمراد النفقة فی الجهاد لانه لما امر بالقتال فی سبیل الله و یحتاج فیه الی المال حث علی الصدقة لیتهیا اسباب الجهاد (مدارک ص۹۶ ج ۱) فَيُضٰعِفَهٗ لَهٗٓ اَضْعَافًا كَثِيْرَةً ۭ د الله په لاره کښې ستاسو ورکړے شوے مال به نشي ضائع کولے بلکه د اصل استحقاق نه زیات اجر به تاسو ته درکولے شي. وَاللّٰهُ يَقْبِضُ وَيَبْصُۜطُ ۠ په جهاد کښې د خرچ کولو د وجے نه د دولت د کمي خطره مه محسوس کوئ ځکه چه د دولت زیاتے کمے او د رزق تنګي او فراخي خود الله تعالٰے په اختیار کښې ده چه کله هغه دولت درکړو نو د هغه په لاره کښې یے خرچ کړئ هغه به تاسو ته نور هم زیات درکړي اول یے په خرچ کولو باندے د اخرت د ثواب وعده اوکړه او دلته یے په دُنیا کښې د رزق د فراخۍ اُمید ورکړو. وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ۝ اخر به د الله په مخکښې حاضرولے شئ او تاسو نه به تپوس کیږي چه تاسو د خُدائے درکړے شوے دولت په کوم کوم ځائے کښې خرچ کړو پورے پورے پیسے حساب به وي ددے وجے نه اوس وخت دے خپل دولت د الله تعالٰے په خوښو مصارفو کښې خرچ کړئ چه هغے کښې د ټولو نه بهتر مصرف جهاد دے.

۲۶ که د بني اسرائیلو دا واقعه یے د ترغیب الی الجهاد د پاره ذکر کړیده دا شان دے واقعے سره یے دا سبق ورکړو چه جهاد د امیر او د امیر د اطاعت نه بغیر نه شي کیدے دا واقعه د حضرت مسیح علیه السلام نه تقریباً یو زر کاله وړاندے ده او د کوم نبي ذکر چه دے د هغه نه مراد حضرت شموئیل علیه السلام دے. قال ابوعبیدة هو شموئیل بن حنة بن العاقر وعلیه الاکثر (روح ص۱۶۳ ج ۲) په دغه زمانه کښې د عمالقه د قوم غلبه شوے وه. هغوي د بني اسرائیلو په ډیرو علاقو باندے قبضه اوکړه او هغوي یے د دغه ځائے اوسیدلو نه د قوم شریفانو او اصحاب الرائے حضرت شموئیل علیه السلام ته درخواست اوکړو چه تاسو زمونږ د پاره یو امیر مقرر کړئ دے د پاره چه مونږ د هغه په امارت کښې د دین د دشمنانو سره جهاد اوکړو.

۴۸۰ حضرت شموئیل علیه السلام ته یقینًا د بني اسرائیلو تیر شوے تاریخ او د هغوی د سابقه بد سلوکۍ روایتونه معلوم وُو۔ د دے وجے نه یې اُو فرمائیل چه په سوچ سمجه سره خبره اوکړئ هسے نهٔ چه ستاسو بیا بیا غوښتلو سره په تاسو باندے جهاد فرض کړے شي او بیا تاسو د جهاد نه تخکیني روستو کیږئ او بزدله شئ۔ قَالُوْا وَمَا لَنَآ اَلَّا نُقَاتِلَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَقَدْ اُخْرِجْنَا مِنْ دِيَارِنَا وَاَبْنَآئِنَا. نو هغوی جواب ورکړو چه دا څنګه ممکن ده چه مونږ د جهاد اونکړو حالانکه مونږ د خپلو کورونو نه اوویستلے شو او بے کوره شوی یُو. او مونږ د خپلو ځامنو نه جُدا کړے شوی یُو۔ یعني یو طرفته خو به د جهاد متعلق حکم وي او بل طرفته دا صورتِ حال وي نو اوس به د دے نه د جهاد بل کوم محرک کیدے شي.
۴۸۱ لیکن هُم هغه څهٔ اوشو چه د هغے حضرت شموئیل علیه السلام ته خطره وه۔ په شروع کښي خو د دے خلقو ډیر د جرأت او بهادرۍ مظاهره اوکړه۔ لیکن د دُشمنانو تعداد او شان او شوکت او د هغوی کمزې شمیره یې چه اُولیدهٔ نو د دوی نه اکثرو همت اُوبیللو او زړونو نه صرف د دے سره دیارلس ثابت قدم پاتے شول.

وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ اِنَّ اللّٰهَ قَدْ بَعَثَ لَكُمْ طَالُوْتَ مَلِكًا

او اووئیل هغوی ته د هغوی نبي بیشکه الله مقرر کړو ستاسو د پاره طالوت بادشاه ۴۸۲ هغوی

قَالُوْٓا اَنّٰى يَكُوْنُ لَهُ الْمُلْكُ عَلَيْنَا وَنَحْنُ اَحَقُّ بِالْمُلْكِ

اووئیل څنګه کیدے شي هغه د پاره حکومت په مونږ باندے او مونږ زیات مستحق یُو بادشاهۍ

مِنْهُ وَلَمْ يُؤْتَ سَعَةً مِّنَ الْمَالِ ۭ قَالَ اِنَّ اللّٰهَ

د هغه نه او هغه ته نهٔ دے ورکړے شوے فراخي د مال ۴۸۳ پیغمبر اووئیل بیشکه الله تعالے

اصْطَفٰىهُ عَلَيْكُمْ وَزَادَهٗ بَسْطَةً فِي الْعِلْمِ وَالْجِسْمِ ۭ

غوره کړو هغه په تاسو باندے او زیاته فراخي یې ورکړه هغه ته علم او جسم کښي

وَاللّٰهُ يُؤْتِيْ مُلْكَهٗ مَنْ يَّشَآءُ ۭ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ (۲۴۷)

او الله ورکوی بادشاهي خپله چاته چه اُوغواړي او الله فضل کونکے او په هر څهٔ پوهیدونکے

وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ اِنَّ اٰيَةَ مُلْكِهٖٓ اَنْ يَّاْتِيَكُمُ

او اووئیل بني اسرائیلو ته د هغوی نبي چه د طالوت د بادشاهۍ نښه دا ده چه راشي ستاسو ته

التَّابُوْتُ فِيْهِ سَكِيْنَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَبَقِيَّةٌ مِّمَّا تَرَكَ

تاسو ته بو صندوق چه په هغے د زړهٔ تسلي ده ستاسو درب له طرفه او څخه پاتے شوي شيزونه

اٰلُ مُوْسٰى وَاٰلُ هٰرُوْنَ تَحْمِلُهُ الْمَلٰٓئِكَةُ ؕ اِنَّ فِيْ

دي د هغه نه کوم چه پریښي وُو د موسیٰ او هارون اولاد اُوچت به راوړي دا صندوق فرښتے هغه بېشکه

ذٰلِكَ لَاٰيَةً لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۲۴۸﴾ ع

٣٢ ع ١٦ په دیکښې پوره نښه ده ستاسو دپاره که چرے تاسو یقین ساتئ ف۲

موضح قرآن

ف۱ د طالوت په قوم کښې د مخکښې نه سلطنت نه وُو او کسب به یې کوّلو د هغوی په نظر کښې هغه سپک ښکاره شو. نبي اووئیل چه سلطنت دچا حق نه دے او لوئي طاقت لیاقت دے د عقل او بدن فراخي دا ورله چه الله تعالیٰ هغه پیغمبر ته یوه همسا اُو ښودله چه دچا قد دے برابروي نو سلطنت به د هغه دپاره وي د هغه برابر قد د ده وُو.

ف۲ په دے قوم کښې یو صندوق راچلیدو په هغے کښې تبرکات وُو د حضرت موسیٰ او حضرت هارون علیهما السلام د جنګ په وخت به سردار هغه وړاندے اُوړلو او په دُشمن باندے به یې چه حمله کوّله نو هغه به یې مخکښې کینبوده بیا به هغوی ته الله فتح ورکوّله چه کله بنيتنه شول نو هغه صندوق د دوی نه واخستلے شو او د غنیم لاس ته ورغے اوس چه کله طالوت بادشاه شو نو هغه صندوق پخپله د شپے په وخت کښې د هغه د کور مخے ته راغے موجود شو سبب دا وُو چه په ښار کښې کوم ځائي کینبودے شوے وُو په هغے مصیبت راغے. پنځه ښارونه وران شول. ناچاره نه هغوی په دوه غوایانو بار کړو او هغے دوه فرښتو غوایان اُوشړل او دلته یې راوړه.

تفسیر

۳۸۲ د ماقبل تفصیل دے د دے ځائي نه د دے واقعے تفصیل شروع کیږي چه قتال څنګه فرض شو او څنګه هغوی د دے حکم نه غړه واړولو. حضرت شموئیل علیه السلام د خدائي په حکم سره د بني اسرائیلو په مخکښې اعلان اوکړو چه الله تعالیٰ ستاسو دپاره طالوت د لښکر امیر مقرر کړیدے. لهٰذا تاسو د هغه اطاعت اوکړئ او منقاد شئ او د هغه په مشرئ کښې جهاد اوکړئ.

۳۸۳ د حضرت شموئیل علیه السلام د دے اعلان اُوریدو سره دولتمند بني اسرائیل پوره شول او په حیرانتیا سره یې اووئیل چه طالوت چه یو غریب او مفلس سړے دے هغه دپاره په مونږ باندے د امارت او ریاست حق څنګه حاصلیدے شي حالانکه په مونږ کښې دولتمند او مالدار خلق موجود دي. دا شأن طالوت نه خو د سبط نبوت یعني لاوي

بن یعقوب په اولاد کښې دے او نه د سبط مملکت یعنې یهودا د اولاد نه دے ځکه چې طالوت د حضرت یعقوبؑ د ټولو نه د کشر ځوی بنیامین د اولاد نه وُو. په دے وجه مونږ د امیر جوړیدو زیات حقدار یُو. دا استفهام د اظهارِ تعجب او حیرت د پاره دے نه د هغوی مقصد د پیغمبر تکذیب او تردید نه وُو بلکه د هغه په انتخاب باندے حیرت او تعجب مقصود وُو. والاستفهام حقیقی او للتعجب لا للتکذیب لنبیهم و الانکار علیه فی رأی (روح ص۱۶۶ ج۲)

۴۸۴ د الله پیغمبر د هغوی د شُبهے په درے طریقو سره جواب ورکړو (۱) دا انتخاب انسانی نه دے بلکه خُدائی دے. د دے وجے نه کوم حکمتونه او مصلحتونه چې دیکښې پټ دی. هغه نه ستاسو د ذهنونو رسیدل نه شی کیدے. ستاسو فرض دا دی چې دا بغیر د شک شبهے نه اُومنئ. (۲) تاسو چې د اَمارت او سیادت کوم معیار مقرر کړیدے چې اَمیر هغه شوک کیدے شی چې دولتمند وی او د امارت د خاندان سره تعلق لری. نو په اصل کښې دا معیار نه دے د دے صفتونو په ځائے الله تعالیٰ طالوت ته دوه داسے خوبیانے ورکړیدی چې په امیر کښې د هغې موجودیدل ډیر زیات ضروری دی او کوم چې د اُولنو دوه صفتونو نه ډیر زیات اَهم دی یو علم او دویم جسمانی طاقت دا دواړه صفتونه ستاسو د ټولو نه زیات په طالُوت کښې موجود دی. (۳) حکومت او اَمارت د الله په اختیار کښې دے او ټول انسانان هم د هغه مخلوق او مملوک دے په دے وجه چې هغه چاته او غواړی نو اَمارت او سیادت ورکوی او په هغه باندے چاته د اعتراض کُولو حق نشته.

۴۸۵ کله چې اسرائیلیانو د طالُوت په اَمارت باندے د حیرت او د تعجّب اظهار اوکړو نو حضرت شموئیل علیه السّلام د الله په حُکم سره اعلان اوکړو چې د طالوت من جانب الله امیرکیدو نښانی دا ده چې تابُوتِ سکینه چې په یو وخت کښې تاسو سره وُو لیکن فلسطینیانو تاسو نه واخستله او وے وړلو په کوم کښې چې ستاسو د پاره د زړهٔ د اطمینان سامان وُو او په هغې کښې د حضرت مُوسیٰ او حضرت هارون علیهما السّلام پاتے شوی تبرکات دی هغه به تاسو ته راؤرسیږی کله چې فلسطنیانو هغه تابُوت یوړه هغوی په آرام سره کینه ناستل څه نه شه تکلیف کښې مُبتلا شول. آخر تنګ شول او هغه صندوق یے د غواګانو ګاډی کښې واچولو او هغه یے پریښود لو. نو الله تعالیٰ په هغې باندے فرښتے مقرر کړے چې غوایان یے شړلو او د بنی اسرائیلو علاقے ته یے راوستل. (کذافی البحر المحیط ص۲۶۳ ج۲ و تفسیر ابن کثیر ص۳۰۲ ج۱) لیکن حضرت ابن عباسؓ فرمائی چې فرښتو هغه صندوق په هوا کښې راوړے وُو او د طالوت په مخکښې یے کیښودو او ټولو خلقو دا تماشه خپلو سترګو سره لیدله قال ابن عباسؓ جاءت الملائکة تحمل التابوت بین السماء والارض حتی وضعته بین یدی طالوت والناس ینظرون (ابن کثیر ص۳۰۱ ج۱) سَکِیْنَةٌ (یعنی د سکون او اطمینان باعث او سبب) مراد تورات دے. حضرت مُوسیٰ علیه السّلام د تورات یوه نسخه د تبرک په طور په دے صندوق کښې محفوظ ساتلے وه. د جهاد په وخت به یے ځان سره ساتلو چې هغې سره د بنی اسرائیلو

زړه مطمئن وي۔ وهو التوراة المودعة فيه بناء على ما مر من ان موسى عليه السلام اذا قاتل قدمه فتسكن اليه نفوس بني اسرائيل (ابو السعود ص ۲۴۳ ج ۲) حضرت شیخ رحمة الله علیه فرمائي چه د بقية نه مراد د موسى عليه السلام څخه تبرکات دي او دا دے عطف په سکينة باندے تفسيري دے. إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لَّكُمْ. یعني دا نښان په دے طريقه د تابوت واپس راتلو کښې ستاسو د پاره يو دليل او نښاني ده چه د طالوت په امارت باندے دلالت کوي که چیرے په خدائي ستاسو ايمان وي. نو اطمينان د پاره دا دليل کافي او شافي دے۔

فَلَمَّا فَصَلَ طَالُوتُ بِالْجُنُودِ قَالَ إِنَّ اللَّهَ

بیا چه کله بهر او وتلو د طالوت فوج سره ، وے وئیل چه بیشکه الله ستاسو

مُبْتَلِيكُمْ بِنَهَرٍ ۚ فَمَنْ شَرِبَ مِنْهُ فَلَيْسَ مِنِّي ۚ

ازمیښت کوي يو نهر سره نو چا چه اوبه اوڅښکلے د دے نهر نو هغه زما نه دے

وَمَنْ لَمْ يَطْعَمْهُ فَإِنَّهُ مِنِّي إِلَّا مَنِ اغْتَرَفَ غُرْفَةً

او چا چه هغه اونه څښکلے نو هغه بیشکه زما دے لیکن چه څوک ډکه کړي يوه لپه په خپل لاس سره

بِيَدِهِ ۚ فَشَرِبُوا مِنْهُ إِلَّا قَلِيلًا مِنْهُمْ ۚ فَلَمَّا جَاوَزَهُ

بیا اوڅښکل ترې نه مګر لږو د هغوی نه بیا کله چه د نهر نه پورے وتلو طالوت

هُوَ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ قَالُوا لَا طَاقَةَ لَنَا الْيَوْمَ

او ايمان والا هغه سره وو نو وے وئیل چه طاقت نشته زمونږ نن د جالوت

بِجَالُوتَ وَجُنُودِهِ ۚ قَالَ الَّذِينَ يَظُنُّونَ أَنَّهُمْ مُلَاقُو

او د هغه د لښکر سره د جنګ او وئیل هغه خلقو د چا چه خیال وو چه هغوی

اللَّهِ كَمْ مِنْ فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيرَةً بِإِذْنِ

الله سره مخامخ کیدونکي دي ډیر کرته لږ جماعت غالب شوی دے په لوئي جماعت باندے د الله په حکم

اللَّهِ ۗ وَاللَّهُ مَعَ الصَّابِرِينَ ﴿٢٤٩﴾ وَلَمَّا بَرَزُوا لِجَالُوتَ وَ

سره او الله صبر کوونکو سره دے ، او چه کله مخامخ شول د جالوت او د هغه

جُنُوۡدِهٖ ۚ قَالُوۡا رَبَّنَاۤ اَفۡرِغۡ عَلَيۡنَا صَبۡرًا وَّثَبِّتۡ اَقۡدَامَنَا

د فوج د سره نو وے وئیل اے ربه! زموږ په وا چوه زموږ په زړو کښې صبر او مضبوط کړه زموږ پښې

وَانۡصُرۡنَا عَلَى الۡقَوۡمِ الۡكٰفِرِيۡنَ ؕ﴿۲۵۰﴾ فَهَزَمُوۡهُمۡ بِاِذۡنِ

او مدد اوکړه زموږ دے کافر قوم باندے ۱۹۱ بیا شکست ورکړ مؤمنانو د جالوت لښکرو

اللّٰهِ ۙ وَقَتَلَ دَاوٗدُ جَالُوۡتَ وَاٰتٰىهُ اللّٰهُ الۡمُلۡكَ وَالۡحِكۡمَةَ

د الله په حکم سره او قتل کړو داؤد جالوت لره او ورکړو داؤد ته الله سلطنت او حکمت او زده

وَعَلَّمَهٗ مِمَّا يَشَآءُ ؕ وَلَوۡلَا دَفۡعُ اللّٰهِ النَّاسَ بَعۡضَهُمۡ

یے کړو هغه ته کوم یے چه خوښه شوه ۱۹۲ او که چرے نه وی د الله دفع کول د یو په بل سره

بِبَعۡضٍ ۙ لَّفَسَدَتِ الۡاَرۡضُ وَلٰـكِنَّ اللّٰهَ ذُوۡ فَضۡلٍ عَلَى

نو خراب شوے به وو ملک ۱۹۳ لیکن الله ډیر مهربان دے د جهان په خلقو باندے ۱۹۴

الۡعٰلَمِيۡنَ ﴿۲۵۱﴾ تِلۡكَ اٰيٰتُ اللّٰهِ نَتۡلُوۡهَا عَلَيۡكَ بِالۡحَقِّ ؕ وَاِنَّكَ لَمِنَ الۡمُرۡسَلِيۡنَ ﴿۲۵۲﴾

دا آیتونه د الله دی موږ یے تاسو ته اوروو ټهیک او ته یقینا زموږ د رسولانو نه یے

نکات:- ۱۹۱ دا جمله مقصودی ده یعنی الله تعالیٰ حق والو ته چه لږ وو هغوی ته فتح ورکړه ۱۹۲ جمله معترضه د جهاد د مشروعیت د وجے بیا تلو د پاره ۱۹۳ جمله معترضه د صداقت د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د دے واقعاتو تا ته خبر هم نه وو د وحی په ذریعه اوشو

موضح قرآن

ف ۱ طالوت سره د وتلو د پاره ټول تیار شول هغوی دا قید اولګولو چه کوم سړے ځوان وی او بے فکره وی نو هغه دې اوځی دا سے هم اتیا زره کسان تیار شول هغه د دوی از میینت اوغوښتنه - یو منزل اوبه ملاؤ نه شوے روستو بیا هغوی ته یو نهر ملاؤ شو هغوی دا قید اولګولو چه د یو سے لپے نه زیات ځوک اونخکی نو هغه دې ما سره نه ځی. د دے سره د یارلس کسان هغوی سره پاتے شول باقی ټول موقوف شول.

ف ۲ په دے سره د یارلس کسانو کښې د حضرت داؤد علیه السلام پلار او د هغه شپږ ورونړه وو هغوی ته په لاره کښې درے کا نړی ملاؤ شول او وے وئیل چه موږ اوچت کړئ او ځان سره موبوسئ چه کله مقابله شوه نو جالوت پخپله راووتلو او وے وئیل چه زه ستاسو ټولو د پاره کافی یم ځما مقابلے ته راځئ پیغمبر د حضرت داؤد علیه السلام پلار ۱ اوغوښتلو چه خپل ځامن ما ته اوښایه هغه ورته شپږ ځامن اوښودل چه د لوړ قد والا وو او داؤد

سې آو نه بښودلو هغه د نور قد والا نه وو چې لاني يه سيه شروُلے . پيغمبر هغه را وغوښتلو او تپوس ترې اوکړو چې ته به جالوت قتل کړے هغه اوويل آو زه به يې قتل کړم بيا د هغه مخه ته ورسے هغوی درے کانړی په فلاخن کښې کيخودل او هغه يې پرے اوويشتلو د هغه تندے بنکاره وو او تټول بدن يې په اوسپنه کښې پټ وو په تندی اولګيده او شا ته تر او وتلو ددے نه روستو طالوت خپله لور هغه ته په نکاح ورکړه . د طالوت نه روستو دا باداه شو . ناپوهه خلق وائي چې جنګ کول د نبيانو کار نه دے . ددے قصے نه معلومه شوه چې جهاد به هميشه پاتے وی اوکه چرے جهاد نه وی نو مفسد خلق به ملک وران کړی .

تفسير

۴۸۶ کوم فوج چې طالوت د ځان سره يوتلو او د دشمن مقابلے ته وتلے وو په هغوی کښې څخه مخلص وو ليکن اکثريت د هغه خلقو وو چې د اخلاص د صفتونو نه محروم وو او د ومره زيات فوج چې په زرګونو سپاهيانو باندے مشتمل وو په هغے کښې به منافقان هم وی ددے وجے نه ضروری وه چې په مخلصينو او منافقينو کښې امتياز اوکړے شي او ميدان جنګ ته د رسيدلو نه مخکښې غير مخلصين جدا کړے شي ځکه چې په جنګ کښې د دا سے خلقو په موجود والے هميشه د نقصان سبب وی .

۴۸۷ دا د امتحان تفصيل دے يعنی کوم سړے چې ددے نه په مړه خيټه اوبه اوڅکی هغه به ځما د ملګرو نه نه وی او هغه ځما سره به جهاد کښې نه شی شريکيدے نفی صرف د ملګرتيا کړے شوے ده هغوی د ايمان نه خارجول مقصود نه دی ای ليس من اصحابی فی هذا الحرب ولم يخرجهم (قرطبی ص۲۵۲ ج ۳) وَمَنْ لَّمْ يَطْعَمْهُ فَاِنَّهٗ مِنِّيْٓ . او چا چې په مړه خيټه اوبه اونه څکلے هغه به ځما د ملګرو نه وی . اِلَّا مَنِ اغْتَرَفَ غُرْفَةً بِيَدِهٖ . اصلی حکم خو هغه وو چې ددے اوبو نه اونه څکی ليکن دے سره يې رخصت ورکړو چې که چرے څوک په لاس سره په لپه کښې اوبه واخلی او وے څکی نو څه باک نشته ليکن په مړه خيټه د اوبو څکلو اجازت نشته . معناه الرخصة فی اغتراف الغرفة باليد دون الکرع (مدارک ص۹۸ ج ۱)

۴۸۸ موسم چونکه د ګرمئ وو او هغوی ډير زيات تږی شوی وو ددے وجے نه هغوی په مړه خيټه اوبه اوڅکلے . ليکن څخه خلقو چې درے سوه او ديارلس وو هغوی اوبه اونه څکلے صرف په يوه لپه يې اکتفاء اوکړه د کوم چې الله اجازت ورکړے وو .

۴۸۹ د اکثرو مفسرينو خيال دے چې وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا نه هغه مؤمنان مراد دی . چا چې اوبه نه وے څکلے . ځکه چې صرف هغوی د طالوت سره د درياب نه پورے وتلی وو او چا چې په مړه خيټه اوبه څکلے وے نو هغوی ددے قابل پاتے نه شو چې هغوی د فوج سره لاړ شی په دے وجه هغوی پاتے شول . واکثر المفسرين علی انه انما جاوز معه النهر من لم يشرب جملة (قرطبی ص۲۵۵ ج ۳) ليکن د درياب پورے وتلو نه روستو چې کله ددے خلقو د دشمن سره مخامخ کيدل اوشو نو په هغوی کښې څخه خلقو د بشريت په تقاضا سره کمزوری اوښودله چې د دشمن د فوج سردار جالوت ډير قوی هيکل او طاقتور

او د هغه د فوج په مقابله کښې د مسلمانانو فوج يو لا ګه سپاهيانو باندې مشتمل وو چه ټولو سره سامان او وسله هم نه وه. ځکه نو د مسلمانانو نه ځينې د ا منظر اوليده نو وې ويل چه د جالوت او د هغه د لښکر سره د جنګ کولو طاقت زمونږ نشته. ځکه چه هغوی زمونږ په مقابله کښې د تعداد په لحاظ سره هم څو چنده زيات دی او د جنګی سازوسامان په اعتبار سره هم هغوی زيات دی.

۴۹۰ ظن دلته د يقين په معنٰی سره دے ځکه چه مخکښې تير شوي دي. والظن بمعنی يقين (قرطبی ص۲۵۵ ج ۳) يظنون ای يتيقنون (روح ص۱۷۱ ج ۲) يعنی د هغوی نه چه کوم خالص صحابه وو او د پوخ ايمان والا وو چه کله هغوی دا صورت حال اوليده نو مسلمانان يې پوهول چه د فتح او شکست مدار د فوج او سامان په کثرت او قلت باندې نه دے. بلکه دا معامله خو د خدائ په اختيار کښې ده ولے تاسو نه ګورئ چه الله تعالٰی لږ لږ لښکرو نه محض په خپل امداد او توفيق سره په لوئ فوج باندې فتح ورکړې ده د دے وجې نه تاسو همت مه بايلئ او بنه په مضبوطتيا او استقلال سره د دشمن سره جنګ اوکړئ الله تعالٰی به ستاسو مدد کوی. او ستاسو د کمی باوجود به تاسو ته په ډير فوج باندې فتح درکړی. وَاللّٰهُ مَعَ الصّٰبِرِيْنَ ۝ ځکه چه هغه د صبر او استقلال لمن نيونکو سره ضرور مدد کوی.

۴۹۱ د بَرَزُوْا معنٰی ده صاروا فی البراز وهو الفسيح من الارض المتسع (قرطبی ص۲۵۶ ج ۳ بحر ص۲۶۶ ج ۲) يعنی چه کله هغوی په فراخ ميدان کښې د جالوت او د هغه د لښکر سره مخامخ شول نو چونکه د دشمن فوج لس اتيا زره (۹۰) او د يو روايت مطابق درے لکهه سورو باندے مشتمل وو او مسلمانان صرف درے سوه او ديارلس (۳۱۳) وو هغوی اوژړل او ډير په عاجزئ سره يې د الله نه دعا اوغوښتله چه اے الله! مونږ ته صبر او استقلال او ثابت قدمی راکړه. او د کافرانو په دے فوج باندے مونږ ته فتح راکړے. فَهَزَمُوْهُمْ بِاِذْنِ اللّٰهِ. الله د هغوی دعا قبوله کړه او د هغوی امداد يې اوکړو نو هغوی د الله په توفيق او نصرت سره هغوی ته شکست ورکړو. په دے واقعه کښې دا جمله مقصودی ده يعنی د دوی د قلت باوجود الله تعالٰی هغوی ته په ډير لښکر باندے فتح ورکړه. په دے وجه تاسو هم په الله باندے توکل اوکړئ او جهاد اوکړئ.

۴۹۲ د داؤد نه حضرت داؤد بن ايشا پيغمبر مراد دے او د حکمت نه مراد نبوت دے يا عام دے چه حکومت او سلطنت د پاره ضروری دانائ او نبوت ته هم شامل دے. وَعَلَّمَهٗ مِمَّا يَشَآءُ هغه ټولو جنګی او صنعتی علومو او فنونو ته شامل دے کوم چه الله تعالٰی هغوی ته ورکړی وو. د فلسطينيانو عمالقه سردار جالوت د حضرت داؤد عليه السلام په لاس او وژلے شو نو الله تعالٰی بنی اسرائيلو ته حکومت ورکړو او نبوت يې ورته ورکړو او مختلف علوم او فنون يې ورته اوښودل. حضرت داؤد عليه السلام د ټولو نه کشر ورور وو او خپله چيلئ به يې څروَلے. دے د طالوت په فوج کښې اول شامل نه وو

لیکن د دغه منتران اووه رونړه په جهاد کښې شریک وو دے هلته صرف د جنګ لپاره لاړو نو جالوت په خپله مقابله مبارز (مقابله کوونکے) طلب کولو د بنی اسرائیلو نه چه کله څوک د هغه مقابلے ته رانه وتل نو حضرت داؤد علیه السلام په یو کانړی سره د هغه کار ختم کړو. (قرطبی ص۲۵۵ ج ۳ وغیره)

۴۹۳ په دے ایت کښې الله تعالے د حکومتونو د انقلاب او فتح او شکست تکوینی مصلحت او حکمت بیان کړیدے چه کله د یو قوم یا حکومت د طرفنه په نورو باندے ظلم زیاتے کولے شی نو الله تعالے د دغه ظلم او تشدد د ختمولو د پاره بل قوم اودرَوی او دا شان د ظلم او زیاتی او د شر فساد نه زمکه بچ کوی. که چرے داسے نه کیدے او ظالم او جابر هم داسے ازاد پریښودے شوے نو زمکه به د شر فساد نه ډکه پاتے کیدے. وَلٰكِنَّ اللّٰهَ ذُوْ فَضْلٍ عَلَى الْعٰلَمِیْنَ ٥ لیکن په دُنیا والو باندے د الله ډیره لویه مهربانی ده چه هغه په داسے انقلابانو سره عدل او انصاف او امن سکون قائم او دائم ساتلے دے

۴۹۴ دا جمله معترضه ده چه د نبی اکرم ﷺ د صداقت د اظهار د پاره راوړلے شویده یعنی د تیرو شوو واقعاتو صحیح صحیح علم کوم چه مونږ تاسو ته بیانوو دے خبرے ښکاره دلیل دے چه تاسو رښتونی پیغمبر یئ ځکه چه د دے علم بغیر د وحی الٰهی نه نشی کیدے. نبه الله تعالٰی نبیه صلی الله علیه وسلم ان هذه الآیات التی تقدم ذکرها لا یعلمها الا نبی مرسل (قرطبی ص۲۶۰ ج۳) حیث تخبر بتلک الایات وقصص القرون الماضیة واخبارها علی ما هی علیه من غیر مطالعة کتاب ولا اجتماع باحد یخبر بذلک (روح ص۱۷۵ ج ۲)

تِلْكَ الرُّسُلُ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ مِّنْهُمْ

دا ټول رسولان فضیلت ورکړو موږ دوی کښې بعضو ته په بعضو باندې ځینې هغه دی

مَّنْ كَلَّمَ اللّٰهُ وَرَفَعَ بَعْضَهُمْ دَرَجٰتٍ ۭ وَاٰتَيْنَا عِيْسَى

چه خبرې اوکړې هغه سره الله او اوچت یې کړل د ځینو درجې ۹۵ او ورکړو موږ عیسی

ابْنَ مَرْيَمَ الْبَيِّنٰتِ وَاَيَّدْنٰهُ بِرُوْحِ الْقُدُسِ ۭ وَ

د مریم ځوی ته معجزې ښکاره او قوت مو ورکړو هغه ته روح القدس یعنې جبرئیل سره

لَوْ شَاۗءَ اللّٰهُ مَا اقْتَتَلَ الَّذِيْنَ مِنْ بَعْدِهِمْ

که او که چیرې غوښتلې الله نو جنګ به نه وې کړې هغه خلقو کوم چه وو د پېغمبرانو نه

مِّنْ بَعْدِ مَا جَاۗءَتْهُمُ الْبَيِّنٰتُ وَلٰكِنِ اخْتَلَفُوْا فَمِنْهُمْ

روستو پس د هغې نه چه راورسیدې دوی ته (د توحید) واضحه دلائل ۹۶ لیکن دوی کښې اختلاف

مَّنْ اٰمَنَ وَمِنْهُمْ مَّنْ كَفَرَ ۭ وَلَوْ شَاۗءَ اللّٰهُ مَا اقْتَتَلُوْا ۣ

پریوتلو بیا ځینو به دوی کښې ایمان راوړه او ځینې کافران شو. او که غوښتلې الله نو نه کولو کښې به جنګ نه

وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيْدُ ۝٢٥٣ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا

کولې لیکن الله کوی هغه چه غواړی ۹۷ اے ایمان والو!

اَنْفِقُوْا مِمَّا رَزَقْنٰكُمْ مِّنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَ يَوْمٌ لَّا

خرچ کړئ د هغې نه کوم چه موږ تاسو ته روزی درکړې ده مخکښې د هغه ورځې د راتلو نه چه نه به هغې

بَيْعٌ فِيْهِ وَلَا خُلَّةٌ وَّلَا شَفَاعَةٌ ۭ وَالْكٰفِرُوْنَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ۝٢٥٤

کښې اخستل خرڅول شته او نه اشنائی او نه سفارش ۹۸ خلک چه کوم کافران دی هم هغه دی ظالمان ۹۹

نکات:- ۱ د جنګ د دویم علت دپاره تمهید. ۲ د قتال د دویم علت (ازمائښت) ۳ د انفاق

د مضمون پنځم ځل ذکر کول

موضح قرآن

ف ۱ یعنی د عمل وخت اوس دے په آخرت کښې نه عمل خرڅیږی نه یې

څوک په دوستانه کښې درکوی نه یې څوک په سفارش سره خلاصولے شی

تر څو پورې چه نبوګ یې پرې نږدی.

تفسیر امام رازی د امام ابو مسلم نه نقل کړی دے چه دا ایت د نبی ﷺ د تسلئ د پاره دے. اول الله تعالیٰ د اسرائیلیانو او د عیسایانو د ګمراهئ او بیهوده تیوسونو ذکر اوکړو ځکه چه یهودیانو د موسیٰ علیه السلام نه مطالبه اوکړه چه مونږ ته د خدائ د ذات مشاهده په سترګو سره اوکړه او د بت پرستو په شان زمونږ د پاره هم یو معبود مقرر کړه ادا مطالبه د سورة اعراف په ع ۱۶ کښې ذکر شویده ۲ کوم چه وړاندے نازل شوے وو، دا شان د عیسیٰ علیه السلام د معجزاتو لیدلو باوجود د هغوی تکذیب کول د حضرت شمویل نه د امیر مقررولو د مطالبے نه روستو د طالوت په امارت باندے اعتراض کول وغیره دے. ټولو واقعاتو بیانولو نه روستو بیے اوفرمائیل چه دا ټول انبیاء علیهم السلام د دیر لوئ شان او عزت والا وو د دوی د قومونو رویه تاسو اولیده له. لهذا که چرے ستاسو قوم هم د معجزاتو او دلائلو واضح کیدو باوجود ایمان نه راوړی نو به دے باندے د غمژن کیدو او زړه خفه کیدو ته ضرورت نشته. ټولو انبیاؤ له اقوام عالم کښې دا الله دستور بس هم دا دے (من الکبیر ملخصًا ج ۲). انبیاء علیهم السلام د ټولو نوری، ناری، خاکی مخلوق نه افضل او برتر دی. لیکن د دوی درجات په خپلو کښې متفاوت دی. هر پیغمبر ته څه نه څه داسے خصوصیت حاصل دے چه بل چا ته حاصل نه دے. وړاندے دد دے مثال بیانوی. مَنْ كَلَّمَ اللّٰهُ نه حضرت موسیٰ علیه السلام مراد دے چه هغه سره الله تعالیٰ په کوه طور باندے بلا واسطه خبرے اوکړے. او وَرَفَعَ بَعْضَهُمْ دَرَجٰتٍ نه مراد حضرت محمد ﷺ دے المکلم موسیٰ علیه السلام (قرطبی ج ۳ ، مدارک ج ۱) والمراد ببعضهم هنا النبی صلی الله علیه وسلم کما ینبئ عنه الاخبار بکونه صلی الله علیه وسلم منهم (روح ج ۳ ، مدارک قرطبی).

۴۹۶ د بَیِّنٰتِ نه معجزات او د انجیل واضح ایتونه مراد دی د روح القدس او تائید تفسیر په رکوع ۱۱ کښې تیر شویدی. د امت مسلمه په دے امر باندے اجماع ده چه ځینے نبیانو ته په ځینو نبیانو باندے جزوی فضیلت حاصل دے لیکن د ټولو نبیانو نه افضل حضرت خاتم النبیین ﷺ دے. اجمعت الامة علی ان بعض الانبیاء افضل من بعض وعلی ان محمدا صلی الله علیه وسلم افضل من الکل (کبیر ج ۲). **۴۹۷** که چرے الله غوښتلے نو هغه به د دین حق د واضح کیدو نه روستو ټول خلق په توحید باندے قائم ساتلے وے. او په هغوی کښې به بیے اختلاف نه واقع کولے او دا شان به د جنګ جګړے نوبت نه وے راغلے. وَلٰكِنِ اخْتَلَفُوْا نے حضرت شیخ اوفرمائیل چه الله پاک د خلقو نه اختیار اخستلو سره هغوی په توحید قبلولو باندے مجبور نکړل. ځکه چه جبری ایمان مطلوب نه دے. که چرے الله تعالیٰ بنده په ایمان راوړلو باندے مجبور وَلے نو د ثواب او عقاب سلسله به د الله د حکمت بالغه نه سوا سر معنیٰ او بے معنیٰ وے. دا شان دے قسم ابتلاء او ازمائش حکمت فوت کیږی کوم چه د نبوت او رسالت اصل مدعا ده. الله تعالیٰ انبیاء او رسولان علیهم السلام راولیږل او د دوی په ذریعه بیے د ایمان او توحید لاره په دلائلو او بینٰتو سره واضحه کړه او د بندګانو امتحان بیے واخستلو چه څوک بیے منی او څوک بیے نه منی. ځکه چه د الله تعالیٰ ارشاد دے. وَلَوْ

شَآءَ اللّٰهُ لَجَعَلَكُمْ اُمَّةً وَّاحِدَةً وَّلٰكِنْ لِّيَبْلُوَكُمْ فِيْ مَآ اٰتٰىكُمْ فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرٰتِ دا دے
وجے نه الله په بندګانو باندے جبر اونکړو بلکه هغوی ته يې اختيار ورکړيدے چه هغوی
سوچ فکر اوکړی او د خپل اختيار او خوښے مطابق د حق او باطل نه يو لاره منتخب کړی۔
دا دے وجه نه په خلقو کښې اختلاف پيدا شو چا ايمان راوړه او د توحيد لاره يې اختيار
کړه او چا د کفر او شرک لاره اختيار کړه. وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ مَا اقْتَتَلُوْا حضرت شيخ اوئيل
وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ مَا اقْتَتَلَ الخ نه روستو دا دے جملے اعاده دے دپاره کړے شوے ده چه وَلٰكِنَّ اللّٰهَ
يَفْعَلُ مَا يُرِيْدُ په دے باندے مرتب شی دا اعاده اعادة لبعد العهد د قبيل نه ده په خلقو
کښې د دين اختلاف او بيا د دے اختلاف په وجه جنګ او قتال دا ټول هر څه د خدای
د تصرف او اختيار نه بهر نه دی که هغه غوښتلے نو دا اختلاف او په خپلو کښې قتال به يې
کړے وے. ليکن هغه او نه غوښتل چه خلق يو لاره تللو باندے مجبوره کړے شی. بلکه
هغوی ته موقعه ورکړے شی چه هغه په خپل اختيار سره کومه لاره غواړی هغه اختيار کړی۔
حضرت شيخ رحمه الله اوفرمائيل چه د وجوب او مشروعيت د قتال يو علت وَلَوْلَا دَفْعُ اللّٰهِ النَّاسَ
بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ کښې بيان شوے دے او دا د قتال د مشروعيت دويم علت دے يعنی که
چرے الله غوښتلے نو د جهاد او قتال نه بغير به يې ټول خلق په حق دين او توحيد باندے
متفق کړے وے ليکن هغه د بندګانو د ابتلاء او امتحان د پاره په هغوی باندے قتال
واجب کړيدے د دے آيتونو خلاصه ربط دا دے. وَلَوْلَا دَفْعُ اللّٰهِ سره يې د جهاد د مشروعيت
علت بيان کړو او تِلْكَ اٰيٰتُ اللّٰهِ سره يې د نبی عليه السلام صداقت بيان کړو ځکه چه نبی عليه السلام
ته د دے ذکر شوو واقعاتو خبر نه وو. دا ټول تاسو ته د وحی من جانب الله په ذريعه ښودلے
شی نو معلومه شوه چه نبی عليه السلام د الله رښتينے رسول دے د هغوی د مبارک ذکر په مناسبت
سره يې د دے نه روستو تِلْكَ الرُّسُلُ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ الآية کښې يې د باقی نبيانو
ذکر اوکړو او د دے سره يو ځای يې وَلٰكِنِ اخْتَلَفُوْا نه تر يَفْعَلُ مَا يُرِيْدُ پورے د قتال دويم
علت بيان کړيدے يعنی مونږ ټولو پيغمبرانو ته فضيلت او برتری ورکړيده او بعضو ته په
بعضو باندے مونږ فضيلت ورکړو. ليکن د دے درجاتو تفاوت سره د دے ټولو دين يو دے.
ټولو په خپل خپل وخت کښې دلائلو او معجزاتو سره دين توحيد واضحه کړو ليکن د دوی
نه روستو خلقو په دين کښې اختلاف اوکړو څينې په توحيد باندے قائم پاتے شول او څينو
توحيد پريښوده او شرک يې شروع کړو تو دے چه حالت جنګ او قتال ته اورسيده که چرے
الله غوښتلے وے نو ټول مشرکان به يې هلاک کړے وے يا به يې په ايمان او توحيد
قبلولو باندے مجبور کړے وے نو د جهاد او قتال ضرورت به نه وے راغلے ليکن الله دا سے
اونکړل بلکه د ابتلاء او ازمائش د پاره يې قتال واجب کړو۔
الله د هغه هر فعل د هغه د ارادے مطابق کيږی د هغه فعل نه د بل چا د ارادے
موافقت کيږی او نه هغه څوک د هغه د ارادے نه منع کولے شی او أمر بالقتال سره د هغه اراده د
بندګانو ازمائش دے چه څوک په قتال او جهاد کښې حصه اخلی او څوک يې نه اخلی. د امر بالقتال

او ترغیب الی الجهاد نه روستو وړاندے بیا پنځم حل د جهاد د پاره د مال د خرچ کولو حکم دے.

۴۵۹ یعنی د نیکئ کیدلو او د الله په لاره کښ د خرچ کولو موقع دے دُنیا کښ ده. په دُنیا کښ کړے شوے نیکی او په دُنیا کښ د ورکړے شوی خیرات به په اخرت کښ بکار راځی. اخرت کښ به نه تجارتی کاروبار وی چه د عذاب نه د بچ کیدو د پاره د فدیے رقم اوګټلے شی او نه به هلته دوستان بکار راځی او نه د چا سفارش بکار راتلے شی. ولته د هغه سفارش د نافع کیدو نفی ده د کوم چه مشرکین قائل وو یعنی شفاعتِ قهری. وَالْكٰفِرُوْنَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ دلته واؤ تعلیلیه دے مطلب دا دے چه په جهاد کښ خرچ کوئ ځکه چه دا کافران مشرکان دی او شرک د دُنیا نه ختمول دی. دالله مقرر کړے شوی اصول او عقائد او د ژوند ائین نه منونکی اصلی ظالمان دی. چه د خدائ د نافرمانئ سره په خپلو ځانونو باندے ظلم کوی او خپل اخرت خرابوی.

اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَۚ اَلْحَیُّ الْقَیُّوْمُ ۚ لَا تَاْخُذُهٗ سِنَةٌ

د الله نه سوا څوک د عبادت (اواز کولو) نشته لائق نشته (بس هغه دے) ژوندے دے لوساتونکے

وَّلَا نَوْمٌ ؕ لَهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ ؕ مَنْ

دے نه نیسی هغه لړه پرکالی او نه خوب د هغه د پاره دی کوم څه چه په اسمانونو او زمکه کښ دی نشته دا

ذَا الَّذِیْ یَشْفَعُ عِنْدَهٗۤ اِلَّا بِاِذْنِهٖ ؕ یَعْلَمُ مَا بَیْنَ

څوک دے چه سفارش اوکړی هغه سره بیکن په اجازت سره (صرف هغه نه) معلوم دی کوم چه دوی

اَیْدِیْهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ ۚ وَلَا یُحِیْطُوْنَ بِشَیْءٍ مِّنْ عِلْمِهٖۤ

(سفارش کونکو) په وړاندے دی او کوم څه چه د دوی روستو دی نشته او هغوی نه شی کولے احاطه نشی کولے د هغه

اِلَّا بِمَا شَآءَ ۚ وَسِعَ كُرْسِیُّهُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ ۚ وَلَا

څیز د هغه د معلوماتو نه لیکن څومره چه هغه اوغواړی. فراخی نشته (د علم او قدرت) په کرسئ کښ تولو

یَـُٔوْدُهٗ حِفْظُهُمَا ۚ وَهُوَ الْعَلِیُّ الْعَظِیْمُ ﴿۲۵۵﴾ لَآ اِكْرَاهَ

اسمانونو او زمکے نه اوګران نه دے په هغه باندی ساتنه د دے او بس هغه دے د تولو نه پورته او لوئی والا. زبردستی نشته

فِی الدِّیْنِ ۙ قَدْ تَّبَیَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَیِّ ۚ فَمَنْ

د دین په معامله کښ. ۴۶۰ بیشکه جُدا شوی دے هدایت د ګمراهئ نه او س چه څوک

يَّكْفُرْ بِالطَّاغُوْتِ وَيُؤْمِنْ بِاللّٰهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ

انکار او کړی د غیرُالله (د معبود کیدو) نه او یقین راوړی (صرف) د الله (په عبادت) بانده نو هغه اونیوله

بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقٰى لَا انْفِصَامَ لَهَا ۗ وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿۲۵۶﴾

کړۍ مضبوطه چه ماتیدونکے نه ده ئــ او الله ټول هرڅه اوری او پیژنی ئــ

نکات : ــ د توحید دعوی ذکر کول دریم ځل د پاره د نفی شفاعتِ قهری. ــ په او و ۃ دلیلونو بانده مشتمل د توحید دریم عقلی دلیل. ــ د قتال بیان شپږم ځل.

موضح قرآن ف یعنی جهاد کول دا نه دے چه په زور سره خپله دعوی په چا بانده قبوله کړے بلکه چه کوم ګمار نه ټول نیک واخی او هغه نه کوی نو هغه وربانده کوی.

فتح الرحمٰن ف یعنی د اسلام حجت ظاهر شو نو ګویا چه جبر نشته اګرچه فی الجمله جبر به وی.

تفسیر ــ دلته د توحید د دعوے دوباره اعاده کړے شویده ځکه چه وړاندے بیان شویده ــ دلته د دعوے د اعادے نه مقصد د شفاعتِ قهری نفی ده. ځکه چه یهودیانو او عیسایانو خیال وو چه زمونږ پلاران او نیکونه کوم چه د الله خوښ او غوره کړے شوی پیغمبران وو هغوی به مونږ د خُدائ د عذاب نه بچ کړی او زمونږ په حق کښی به الله د هغوی سفارش منی. نو مطلب دا شو چه ځکه د الله نه سوا څوک کارساز او فریاد اوریدونکے نشته چه هغه ته آواز او کړے شی یا د هغه د تعظیم او رضا طلب کولو د پاره نذر او منتونه ورکړے شی د غیبے د هغه په مخکښی څوک شفیع غالب هم نشته چه دُنیا او اٰخرت کښی د تکلیف او مصیبت په وخت کښی د هغه پناه اُولټولے شی او هغه سفارشی جوړ کړے شی. لهذا څوک شفیع غالب منلو سره هغه ته آواز مه کوئ. دے ځای کښی د توحید اعاده د ماقبل د پاره دلیل هم دے یعنی د کافرانو اصلی ظالم کیدو وجه هم دا ده. چه هغوی شرک کوی. حالانکه د الله سره هیڅوک شریک نشته. د توحید په دعوی بانده پے دلته شپږ دلیلونه بیان کړیدی، وړُمبے دلیل اَلْحَيُّ هغه ژوندے دے دلته ژوندے چه ژوند د هغه ذاتی صفت دے او هغه د ازل نه دے او تر ابده پورے به وی په چا بانده چه هیڅ کله هم عدم نه دے راغلے او نه به کله په هغه بانده مرګ راځی. ځکه چه په سورة فرقان کښی دی وَتَوَكَّلْ عَلَى الْحَيِّ الَّذِيْ لَا يَمُوْتُ. دویم دلیل اَلْقَيُّوْمُ. هغه په خپله هم قائم او دائم او هر شیز ته پے سهارا ورکړیده او قائم پے ساتلی دی. هغه د ټولو رازق او نګهبان دے. القائم الحافظ لكل شيء، والمعطى له ما به قوامه (روح ج۳) دریم دلیل لَا تَاْخُذُهٗ سِنَةٌ وَّلَا نَوْمٌ. هغه هر وخت خبردار او بیدار اوسی او د خپل مخلوق نه هیڅ کله هم غافل نه دے هغه ته نه خوب راځی او پرکالی (د خوب جونه)

د انبیاء علیهم السلام د خوب په باره کښې د محدثینو مسلک دا دے چه هغه ناقض وضوء نه دے ځکه چه د حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه د روایت نه معلومیږي هغه فرمائي چه یو ځل د شپې د خپلې ترور أم المؤمنین حضرت میمونه رضی الله عنها په کور کښې تیره کړه. نبي علیه السلام د ماسخوتن مونځ اوکړو او د حضرت میمونه رضی الله عنها کور ته یې تشریف راوړو او څلور رکعته مونځ یې اوکړو او بیا اوده شو د شپې په آخری حصه کښې هغوی بیدار شو او اودس یې اوکړو د تهجد مونځ یې او د سحر سنت یې ادا کړل دے نه روستو بیا اوده شو تر دے چه مؤذن ورته اطلاع ورکړه. او هغوی لاړل او د سحر مونځ یې اوکړو لیکن اودس یې اونکړو. په دے موقع باندې د روایت الفاظ لاندې لیکلې شوي دي. فصلی فی تلك اللیلة ثلاث عشرة رکعة ثم نام رسول الله صلی الله علیه وسلم حتی نفخ وکان اذا نام نفخ ثم اتاه المؤذن فخرج فصلی ولم یتوضأ. او په څینې روایتونو کښې دي ثم نام حتی سمعت غطیطه (صحیح مسلم ج۱ ص۲۶۰) د غه شان د حضرت عائشې رضی الله عنها په یو روایت کښې دي. قالت عائشة فقلت یا رسول الله اتنام قبل ان توتر فقال یا عائشة ان عینی تنامان ولا ینام قلبی (جامع ترمذی وغیره) حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائي چه ما عرض اوکړو اے د الله رسوله! تاسو د وتر د کولو نه وړاندې اوده کیږئ نو هغوی اوفرمائیل چه زما صرف سترګې اوده کیږي، زړه مې بیدار وي - لیکن حضرت شیخ رحمه الله اوفرمائیل چه د حضرت ابن عباس رضی الله عنه دا واقعه ډیرو راویانو بیان کړیده. او هم دغه یو واقعه تفصیلات په بیانولو کښې د راویانو په مینځ کښې ډیر سخت اختلاف دے. حضرت شیخ رحمه الله د دے واقعې اکثر طریقې نقل کړیدي او د دوي په مینځ کښې د اختلافاتو نشاندهي یې کړیده. اوګورئ د هغوی تصنیف تحریرات حدیث د ص۳۲۲ نه تر ص۲۶۶ پورې - مثلاً یو روایت دے چه د ماسخوتن مانځه نه پس نبي علیه السلام د حضرت میمونه رضی الله عنها په کور کښې څلور رکعته مونځ ادا کړو او بیا اوده شو تر دے چه د خرارې آواز راتلل شروع شو. په یو روایت کښې د اوده کیدو او د خرارې ذکر د تهجد د مونځ او د سنتو په مینځ کښې کړے شوے دے - او په یو بل روایت کښې دا دواړه خیزونه د سحر د سنتو او فرضو په مینځ کښې ذکر شوي دي. دا شان څینې روایتونو کښې راځي چه د غه شپه کښې نبي علیه السلام د تهجد و په مانځه کښې د هر دوه رکعتو نه روستو اوده شو او بیا پاڅیده او اودس یې اوکړو. لیکن په نورو روایتونو کښې د هر دوه رکعتونو نه روستو د خوب او د اودس ذکر نشته. یو اختلاف دا هم دے چه څینې روایتونو کښې د سحر د سنتو نه روستو د مطلق خرارې او خوب ذکر دے. او څینې کښې اضطجاع (یعنې په اړخ څملاستل) او څینو کښې احتباء (یعنې زنګنونه اودرول او د دواړو لاسونو نه دائره جوړول او د هغې په سهاره کیناستلو) ذکر دے.

دا واقعه چونکه یو ځل پیښه شویده دے وجې نه دے په تفصیلاتو کښې د دومره متضاد اختلافاتو وجود ناممکن دے. لیکن په مختلفو طریقو کښې غور فکر سره د تطبیق او ترجیح لا ندینې صورت په نظر راځي. په اصل روایت کښې د خرارې ذکر صرف د څلورو رکعتو نه روستو دے چه د ماسخوتن مانځه نه پس نبي علیه السلام د حضرت میمونه رضی الله عنها په کور کښې ادا کړي وو لیکن څینې راویانو د تهجد و نه روستو یا د سحر د سنتو نه روستو هم د دے ذکر اوکړو - دا شان په اصل

واقعه کښې دا دی چه د سحر د سُننو نه پس نبي علیه السلام احتباء اوکړه او په دے حالت کښې نبي علیه السلام
ته لږ شان خوب راغلے وو او د ساه ویستلو آواز اوریدل شروع شو. چه راوی د هغے په خراری سره
تعبیر کړیدے او نفخ هغے راویانو په غطیط یا خطیط (خراری) سره تعبیر کړیدے ځکه چې
حافظ بدرالدین عینی فرمائی. نفخ بالخاء المعجمة ای من خیشومه وهو المعبر عنه بالغطیط.
(عمدة القاری شرح صحیح بخاری جلد ثانی ص۲۵۵) او دا شان د احتباء په حالت کښې خوب د هیچا په حق کښې
هم ناقض وضوء نه دے. اصل خبره خو دا وه. بیا دا مفهوم هغے راویانو روایت بالمعنی کړو. ثم
اضطجع فنام سره یې ادا کړو.

پاتے شو د عائشے رضی الله عنها والا روایت نو د هغے الفاظ خو په ظاهر کښې د قاعدې کلیه طرفته
اشاره کوی چه د خوب په حالت کښې به د نبي علیه السلام صرف سترګے بندیدلے لیکن زړه به یې همیشه
بیدار وو لیکن په حقیقت کښې دا قاعده کلیه نه ده بلکه هغے وختونو ته دا شے کیدل چه
د نبي علیه السلام سترګے او زړهٔ مبارک دواړه به په خوب سره متأثره کیدل او هغے وخت به دا شے
کیدل چه صرف سترګے به یې بندے شوے لیکن زړهٔ به یې بیدار وو ځکه چه په لیلة التعریس
کښې چه د هغې طرفته مخکښې اشاره شوې ده چه کله د خوب په وجه سره د نبي علیه السلام او د هغهٔ د
سفر د ملګرو صحابو نه د سحر مونځ قضا شو نو نبي علیه السلام سره دوباره اودس اوکړو او مونځ
یې ادا کړو. د دے واقعے په توجیه بیانولو کښې هغے محدثینو فرمائیلی دی چه په دے موقعه د
نبي علیه السلام د سترګو سره په زړهٔ باندے یې هم خوب راغلے وو. په دے وجه نبي علیه السلام به وخت
باندے بیدار نه شو او هم په دے وجه یې اودس تازه کړو ځکه چه په اوجز المسالک د موطا
امام مالک شرح ص۱۷۰ کښې دی. انه کان فی وقت ینام و فی وقت لاینام فصادف الوادی نومه.

۵۰۱ دا څلورم دلیل دے. زمکه او اسمان او کوم څه چه په دیکښې دی ټول هم هغهٔ پیدا
کړیدی او ټول هر څهٔ د هغهٔ په قبضه او اختیار او تصرف کښې دی. بیا قول دے چه په
هغهٔ باندے جبر اوکړے شی او په هغهٔ باندے خپله خبره او منی. مَنْ ذَا الَّذِیْ یَشْفَعُ عِنْدَهٗ
اِلَّا بِاِذْنِهٖ. دا پنځم دلیل دے. استفهام انکاری دے مطلب دا دے چه د هغهٔ د اجازت نه
بغیر څوک د هغهٔ په مخکښې ساه نشی ویستلے او نه د هغهٔ د مرضئ نه خلاف یو مجرم سفارش
کولو سره د سزا نه بچ کولے شی. ځکه چه د عامو مجرمانو خیال وو چه کوم بزرګانو ته مونږ
آواز کوو هغوی به مونږ په الله باندے اوبخښی او زمونږ ټول کارونه به په خدائی باندے اوکړی.
وفی ذلک تایئس للکفار حیث زعموا ان الهتهم شفعاء لهم عند الله تعالی (روح ص۹ ج۳) حضرت
شیخ رحمه الله اوفرمائیل چه د شفاعت مسئله په قرآن کښې په مختلفو عنوانانو سره بیان کړے
شویده چرته مَنْ ذَا الَّذِیْ یَشْفَعُ عِنْدَهٗ اِلَّا بِاِذْنِهٖ (بقره ع۳۴) چرته یې اوفرمائیل یَوْمَئِذٍ لَّا
تَنْفَعُ الشَّفَاعَةُ اِلَّا مَنْ اَذِنَ لَهُ الرَّحْمٰنُ وَرَضِیَ لَهٗ قَوْلًا (طٰهٰ ع۶) چرته ارشاد دے اِلَّا لِمَنِ
ارْتَضٰی (انبیاء ع۲) چرته یې اوفرمائیل اِلَّا مَنْ شَهِدَ بِالْحَقِّ (زخرف ع۷) چرته ارشاد دے. لَا
یَتَکَلَّمُوْنَ اِلَّا مَنْ اَذِنَ لَهُ الرَّحْمٰنُ وَقَالَ صَوَابًا (النباء ع۲) د دے نه علاوه نور هم ډیر آیتونو
کښې د شفاعت مسئله ذکر شویده. د دے ټولو آیتونو مشترک مفهوم دا دے چه په دے کښې د

شفاعت قهري نفي کړے شوید ه دکوم چه مشرکین معتقد وو او دغه دے نه بیوا د شفاعت د یو بل قسم اثبات کړے شوید ے یعني د شفاعت بالاذن. بیا دغه جائز شفاعت دوه قسمونه دی یو شفاعت في الدنیا او دویم شفاعت في الآخرة. شفاعت في الدنیا یعني په دُنیا کښې شفاعت د مؤمن او کافر دواړو د پاره جائز دے. مؤمن د پاره په دُنیا کښې شفاعت دا دے چه دهغه د ګناهونو د بخښنے او په حق باندے د هغه د استقامت د پاره دُعا اوکړی. څنګه چه نبي علیه السلام ته امر اوشو. وَصَلِّ عَلَيۡهِمۡ إِنَّ صَلَوٰتَكَ سَكَنٞ لَّهُمۡ وَ اسْتَغْفِرْ لَهُمْ. (توبه ع ۱۳) او کافر د پاره شفاعت دا دے چه د الله نه د هغه په صحیح لاره باندے د راتلو دُعا اوکړی. لیکن دا صرف هغه وخت جائز دے چه د هغه په زړه باندے د جباریت مُهر نه وی لګیدلے. او چه کله معلومه شي چه د هغه په زړه باندے د جباریت مُهر لګیدلے دے دغه وخت به د هغه د پاره په دُنیا کښې شفاعت نه کیږی څنګه چه د ابراهیم علیه السلام په باره کښې راغلي دی. فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُۥٓ أَنَّهُۥ عَدُوّٞ لِّلَّهِ تَبَرَّأَ مِنۡهُ. پاتے شو په اٰخرت کښې شفاعت نو هغه قبل العِلم د مؤمنانو او کافرانو دواړو د پاره جائز دے. لیکن بعد العِلم صرف مؤمنانو د پاره جائز دے او کافرانو د پاره جائز نه دے. او د عِلم نه مراد دا دے چه دا معلوم شي چه مشفوع لهٗ مؤمن دے یا کافر. څنګه چه حدیث کښې راغلي دی. چه نبي علیه السلام به قبل العِلم کافرانو د پاره د قیامت په ورځ شفاعت کوی. د قیامت په ورځ به فرښتے ځینے خلق جهنم طرفته بوځی نو نبي علیه السلام به اصحابي اصحابي کوی او د دوی شفاعت به اوکړی. په دے باندے به د الله د طرفه جواب ملاؤ شي چه تاسو ته معلومه نه ده چه تاسو نه روستو دے خلقو کوم غه کړیدی په دے باندے به نبي علیه السلام چُپ شي او بیا به د هغوی شفاعت نه کوی.

د دے اٰیتونو د الفاظو نه په ظاهره دا معلومیږی چه په دُنیا او اٰخرت کښې به اول شفاعت کونکو ته باقاعده اذن ورکولے شي چه د فلاني فلاني د پاره شفاعت اوکړه نو قبول به شي حالانکه دا سے نه ده (صرف د نبي علیه السلام د پاره د قیامت په ورځ د شفاعتِ کبرٰی اِذن ملاویدل ثابت دی) د دے وجه نه مَن اذن لهٗ او لمن اذن له وغیره نه د اِذن متبادر مفهوم یعني اجازت مراد نه دے. بلکه د نورو اٰیتونو په رڼا کښې په دے اٰیت کښې د مشفوع لهٗ نه مراد مؤمن دے څنګه چه بوخائ کښې ارشاد دے إِلَّا مَن شَهِدَ بِٱلۡحَقِّ. چاچه د حق شهادت ورکړو یعني مؤمن. د دے تائید د یو بل اٰیت نه کیږی إِلَّا مَنِ ٱرۡتَضَىٰ. هغوی چه خُدائ پاک خوښ کړی او هغه صرف مؤمن کیدے شي. په کوموا اٰیتونو کښې چه د بلا اجازت کلام نفي ده هلته د اٰخرت شفاعت مراد دے او مشفوع لهٗ صرف ایمان والا دے. او په کوموا اٰیتونو کښې چه د کلام نفي کړے شوید ه هلته د دُنیا د شفاعت سره متعلق دے او بعضِ د اٰخرت سره او بعضِ د دواړو محتمل دے. د شفاعت د مسئلے پوره تحقیق به د سورة یُونس په تفسیر کښې راځی. انشاء الله تعالٰی.

د لم دا شپږم دلیل دے او دا محاوره ده چه دے نه الله تعالٰی د احاطهٔ علمي بیان مقصود دے یعني هغه د زمکے او اٰسمان د ټول مخلوق د ټولو ظاهری او باطني او تیرشوو او راتلونکو حالاتو او واقعاتو نه خبر دے. دلیل علی احاطة علمه بجمیع الکائنات ما فیها وحاضرها ومستقبلها (ابن کثیر ج ۱ ص ۳۰۹)

حضرت شیخ فرمائی چه په مَا بَیۡنَ اَیۡدِیۡهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡ کښې ضمیر غائب مَنۡ ذَا الَّذِیۡ طرفته راجع دے. یعنې هغه خلق کوم چه مشرکینو خپل غائب شفعاء گنړل. وَلَا یُحِیۡطُوۡنَ بِشَیۡءٍ مِّنۡ عِلۡمِهٖۤ. او د هغه د مخلوق نه یو پیرښے او انسان یا یو پیغمبر یا یوه فرښته د الله د معلوماتو نه د یو څیز حقیقت هم نه پیژنی - البته چه کوم لږ څیز علم الله هغوی ته ورکړیدے د هغې نه وړاندے د هغوی د علم حدود نشی زیاتیدلے. وَسِعَ کُرۡسِیُّهُ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضَ. د کرسئ نه یا خو د هغې حقیقی معنیٰ مراد ده. لیکن د دے حقیقت د الله نه سوا هیڅوک نه پیژنی. یا د دے نه مراد علم دے څنګه چه د ابن عباسؓ نه نقل دی. یا دا د قدرت او سلطنت نه کنایه ده. کرسیه ملکه وسلطانه (معالم ص۲۳۷) المراد من الکرسی السلطان والقدرة والملك (کبیر ص۱۲ ج۲) مطلب دا دے چه د هغه قدرت او حکومت په ټولو کائناتو حاوی دے ټول د هغه محکوم او مملوک دی او څوک د هغه شریك او هم سر نشته. وَلَا یَـُٔوۡدُهٗ حِفۡظُهُمَا. د زمکے او اسمان حفاظت ئې هیڅ نه ستړے او ستوما نه نه دے. دا اووم دلیل دے. وَهُوَ الۡعَلِیُّ الۡعَظِیۡمُ. هغه د هر څیز نه ډیر اوچت او لوئ دے هر څیز د هغه په مخکښې کم او سپك دے. دا ایت کریمه د ایة الکرسی په نوم سره مشهور دے. او د قران کریم د ټولو ایتونو نه افضل دے څکه په دیکښې د الله د توحید او د هغه د صفاتو کامل او جامع بیان دے. د ایة الکرسی په شروع کښې هم حصر دے یعنې هُوَ الۡحَیُّ الۡقَیُّوۡمُ کښې. او په اخر کښې هم یعنې هُوَ الۡعَلِیُّ الۡعَظِیۡمُ کښې. څکه چه په دواړو ځایونو کښې خبرونه معرفه دی د دے وجے نه د دے ایت باقی ټولے حصے به هم په حصر باندے محمولولے شی څکه چه دا قانون دے چه د کلام په کومه یوه حصه کښې کله حصر وی نو د هغې باقی حصے هم په حصر باندے محمول وی.

۵۰۲ دا ایت د جهاد متعلق دے. او په دیکښې د جهاد متعلق د یو شبهے ازاله کړے شویده یعنې د جهاد مقصد دا نه دے چه کافران د توړے په زور سره مسلمانان جوړ کړے شی بلکه د دے مقصد دا دے څنګه چه مخکښې تیر شویدی چه د دنیا د فتنے او فساد د پاکه کړے شی او کافران مؤمنانو له جبراً د کافر کرځولو نه بند کړے شی څنګه چه سیل ځائی کښې ارشاد دے. وَقَاتِلُوۡهُمۡ حَتّٰی لَا تَکُوۡنَ فِتۡنَةٌ ای حتی لا یفتن مؤمن (مدارك) د ایمان تعلق چونکه د زړه سره دے. او په زړه باندے جبر نشی کیدے څکه چه زړه هغه څیز منی کومه چه هغه خپل اختیار سره خوښوی. د دے وجے نه اسلام کښې د چا جبراً مؤمن کرځولو ګنجائش نشته څکه چه دا شان به انسان مجبور کړے شی او د هغه نه به اختیار واخستلے شی او د ابتلاء او حکمت به فوت شی. دا شان د جبر مطلب خو دا وی چه څوك د هغه د مرضی نه خلاف په داسے فعل باندے مجبور کړے شی چه په هغې کښې فی نفسه څه ښکلا نه وی. یا که چرے وی نو هغه ته په نظر نه راځی لیکن د لته داسے نه ده څکه چه اسلام ټول خیر او خیر دے. دا شان د اسلام لاره دومره واضحه شویده چه د کفر د لارے نه د دے امتیاز بالکل اسان دے. معمولی سوچ سره د اسلام خوبیانے او د کفر بدئ په عقل کښې راتلے شی او انسان په رضا او رغبت سره په اسلام قبلولو اماده کیږی. د دے وجے نه د جبر او اکراه

ضرورت نشته. لیکن که چرے یو مسلمان عیاذاً بالله دینِ اسلام پریږدی او کفر طرفته لاړ شي نو هغه چونکه د اسلام باغي دے په دے وجه به هغه دوباره په اسلامي آئین قبلولو باندِ مجبورولے شي. که چرے هغه دوباره اسلام قبول کړو نو هغه به د مسلمانانو په جماعت کښې شامِلولے شي کنې نو د هغه غټ به وَهلے شي. قَدْ تَّبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ. دا د ما قبل عِلت دے. تعليل صدر بكلمة التحقيق لزيادة تقرير مضمونه (روح ص۱۳ ج۳)

۴۰۴ حضرت عمرؓ، حُسین بن علیؓ، مجاهد او قتاده نه نقل دی. چه د طاغوت نه مراد شیطان دے. امام مالک او امام ابن جریر فرمائی چه د الله نه سوا هر معبود طاغوت دے وعن مالک بن انس کل ما عبد من دون الله تعالىٰ (روح ص۱۳ ج۳) والصواب من القول عندی فی الطاغوت انه كل ذی طغيان على الله فعبد من دونه اما بقهر منه لمن عبده واما بطاعة من عبده انسانا كان ذالك المعبود او شيطانا او وثنا او صنما او كائنا ما كان من شیء (ابن جریر ص۱۴ ج۳) او د الْعُرْوَةِ الْوُثْقٰى نه مراد ایمان او خالص توحید دے. بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقٰى قال مجاهد العروة الايمان (قرطبی ص۲۸۲ ج۳) یعنې چا چه د شیطان اتباع پریښوده او د هر غیرُ الله عبادت یې پریښوده او د کُفر او شِرک نه یې توبه کړه په یو خدائ باندے یې ایمان راوړو په پوره اخلاص سره. نو هغه یو داسے مضبوطه او محکم کړئ اونیوله چه هغه په هیڅ کله ماتہ نه شي. دا مضبوطه کړئ ایمان او اسلام دے چه د هغے مضبوط نیولو نه روستو د دنیا او اخرت کښې د خدائ رهنمائی او دستګیری حاصلیږی زړهٔ مطمئن کیږی. او بتول کارونه اسانیږی. ورانده ے الله تعالىٰ دوه تکوینی قانون بیا نوی. اول قانون دا دے چه که چرے کوم وخت کښې د مؤمنانو په زړونو کښې د توحید په باره کښې څه معمولی شان شُبه هم واقع شي نو الله پاک فوراً د شُبهاتو تیارے د هدایت د رڼا لرے کړی د هغوی زړونه مطمئن کړی. او دویم قانون دا دے چه که چرے د مُشرک په زړهٔ کښې د توحید دلائلو لیدلو سره د توحید طرفته میلان شان پیدا شي نو شیطان فوراً هغه د شُبهاتو په پریشانئ کښې واچوی. او د هغه نیغے لارے ته د راتللو امکان ختم کړی.

اَللّٰهُ وَلِيُّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ۙ يُخْرِجُهُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ

الله مددګار دے د ایمان والو راوباسی هغوی د تیارو نه

اِلَى النُّوْرِ ؕ۬ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَوْلِيٰٓـُٔهُمُ الطَّاغُوْتُ ۙ

رڼا طرفته ۴۰۵ او کوم خلق چه کافران شول د هغوی ملګرے دی شیطانان.

يُخْرِجُوْنَهُمْ مِّنَ النُّوْرِ اِلَى الظُّلُمٰتِ ؕ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ

اوباسی دوی لره د رڼا نه د تیارو طرفته ۴۰۶ هم دا خلق دی د دوزخ کښې

النَّارِ ۚ هُمْ فِيهَا خٰلِدُونَ ﴿۲۵۷﴾ أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِي حَآجَّ إِبْرٰهِمَ

اوسیدونکی هغوی به دې کښې همیشه اوسیږي ﴿۲۵۷﴾ ایا تا اونه لیده هغه کس چه جګړه وکړه ابراهیم

فِي رَبِّهِۦٓ أَنْ ءَاتٰىهُ اللّٰهُ الْمُلْكَ إِذْ قَالَ إِبْرٰهِمُ رَبِّيَ

سره د هغه د رب په باره کښې د دې وجې نه چه ورکړې وه هغه ته الله بادشاهي کله چه اووئیل ابراهیم چې

الَّذِي يُحْيِۦ وَيُمِيتُ قَالَ أَنَا۠ أُحْيِۦ وَأُمِيتُ ۖ قَالَ إِبْرٰهِمُ

رب هغه دې چه ژوندی کول او مړه کول کوي نو هغه اووئیل چه زه هم ژوندي کول او مړه کول کوم نو اووئیل

فَإِنَّ اللّٰهَ يَأْتِي بِالشَّمْسِ مِنَ الْمَشْرِقِ فَأْتِ بِهَا مِنَ

ابراهیم چه بیشکه الله راولي نمر د مشرق نه اوس ته راوله هغه د مغرب

الْمَغْرِبِ فَبُهِتَ الَّذِي كَفَرَ ۗ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِينَ ﴿۲۵۸﴾

د طرف نه نو د دغه وخت حیران پاتې شو هغه کافر او الله نه بیاي لاره ته بې انصافو ته دې

نکات: ... اول قانون مؤمنانو د پاره ... دویم قانون مشرکانو د پاره ... او دا قصه متفرع ده په قانون ثاني باندې

موضح قرآن ف یعني چه د کافرو نه ضد مانوي دې ... الله هدایت کوي د چا په قسمت کښې چه روښنا هغوي ته خبره راغله نو فورًا بې خبره رکړي. ف یو بادشاه وو هغه به په خلقو باندې خان ته سجده کوله د بادشاهۍ په غرور سره. حضرت ابراهیم علیه السلام هغه ته سجده اونکړه هغه تپوس اوکړو. نو هغوي اووئیل چه زه خپل رب ته سجده کوم هغه اووئیل چه رب خو زه یم هغوي اووئیل چه زه رب حاکم ته نه وایم رب هغه دې چه ژوندي کول او مړه کول کوي هغه یو دوه قیدیان راغوښتل څوک چه د ژوند حقدار وو هغه یې مړ کړو او چه څوک د مرګ حقدار وو هغه یې پرېښوده نو بیا یې هغه د نمر دلیل سره راغوښتو.

فتح الرحمن ف یعني د ظلم په وجه د مرګ حقدار پرېږدم او چه څوک د مرګ حقدار نه دې هغه وژنم.

تفسیر دا د اول قانون بیان دې. د ولي معنی ناصر او مددګار دې. د ظلمات نه د کفر او شرک او د شبهاتو تیارې مراد دي او د نور نه د یقین او ایمان رڼا مراد ده. او د الَّذِينَ ءَامَنُوا نه هغه خلق مراد دي چه د حق تلاش کوي او د ایمان د راوړو اراده لري. والمراد بهم من اراد الايمان (روح مختصر) یعني کوم خلق چه د حق طالبان دي او د نه طرفته ثابت کوي او د ایمان راوړلو اراده لري. الله تعالی د هغوي مدد کوي او هغوي د کفر، شرک او شکونو او شبهاتو د پریشانو نه راوباسي د هغوي زړونه د ایمان د نور نه منور او

دیقین په دولت سره مالامال کړي. ۵۰۶ دا دویم قانون دے لیکن چه کوم خلق د کفر او عناد او د ضد د وجے نه په کفر باندے پاتے کیدل غواړي او په خپل اختیار سره د کفر لاره غوره کوي. الله تعالیٰ د هغوی نه د ایمان توفیق واخلي او شیطانان په هغه باندے مسلط کوي. چه د دوی په زړونو کښي قسما قسم شبهات پیدا کوي ترڅو چه د هغوی زړونه د شبهاتو په سیاهئ سره بالکل پټ شي او د هغوی نه فطري نور اُخستلے شي او د هغوی په زړونو باندے د جباریت مُهر اُولګولے شي. ۵۰۷ اُولَٰٓئِكَ سره اشاره اَلَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا ته ده. یعني هغه خلق چا چه عنادًا او اختیارًا کفر قبول کړیدے هغوی جهنمیان دي. او په جهنم کښي به همیشه اُوسي. د دے نه روستو الله تعالیٰ درے قِصّے بیان کړیدي. چه په دے دواړو قاعدو باندے د لف او نشر غیر مرتب په طور باندے متفرع دي. ۵۰۸ دا اوله واقعه ده چه په دویمه قاعده باندے مرتب ده او په هغے باندے د تمثیل په طور ذکر کړے شویده چه ضدي او معاند انسان ته د حق واضح کیدو باوجود د حق قبلولو توفیق نه نصیب کیږي. څنګه چه د نمرود په وړاندے حضرت ابراهیم علیه السلام مضبوط او اطمینان بخش دلائلو سره د خدائ توحید واضحه کړه په هغه باندے یے حجتِ خداوندي قائم کړو لیکن د دے باوجود هغه قبول نکړو ځکه چه هغه د ضد او عناد د وجے نه د حق قبلولو د استعداد نه محروم شوے وو. د کوم سړي سره چه د ابراهیم علیه السلام د مناظرے ذکر دلته ذِکر دے. مفسرینو د دینه نمرود مراد کړے دے. چه د دغه زمانے لوئ ظالم او سرکش جابر بادشاه وو او خپل ځان یے د خدائ اَوتار ګڼړلو (یعني د هندوانو په عقیده کښي د الله پاک په یو جسم کښي داخِلیدل او د مخلوق د اصلاح د پاره) راتلو، هذا الذی حاج ابراهیم فی ربه وهو ملك بابل نمرود بن کنعان بن کوش بن سام بن نوح (ابن کثیر ص۳۱۳ ج۱، قرطبي ص۲۸۳ ج۳) د اَنْ نه وړاندے لام تعلیلیه محذوف دے یعني د خدائ په باره کښي د دے جګړے سبب دا وو چه الله هغه ته حکومت ورکړو اقتدار یے ورکړو او هغه د اقتدار په نشه کښي مست شو او غرور یے شروع کړو او د الله سره یے ځان شریک کړو لان اتاه الله یعني ان ایتاء الملك ابطره واورثه الکبر فحاج لذلك (مدارک ص۱۰۲ ج۱)

۵۰۹ اِذْ ظرف د حاجّ سره متعلق دے. د حضرت ابراهیم علیه السلام دا قول د نمرود د سوال جواب دے نمرود سوال اوکړو چه هغه رب کوم یو دے چه د هغه د توحید دعوت تاسو راکوئ فقاله اثر قول نمرود من ربك الذی تدعوا الیه؟ (روح ص۱۶ ج۳) حضرت ابراهیم علیه السلام په جواب کښي د وه داسے صفتونه ذکر کړل چه بالکل واضحه وو او د کوم چه په روزانه ژوند کښي نمرود هم مشاهده کوله یعني ژوندي کول (پیدا کول) او وژل. ژوندون او مرګ د الله په اختیار کښي دے هغه چه چالره ژوندي کول غواړي نو ژوند ورکوي او د چا نه یے چه اوغواړي ژوند واخلي. قَالَ اَنَا اُحْيٖ وَاُمِيْتُ. د دے ضدي ملعون د هغه د قول نه غلط مفهوم واخستنه او وے ویل چه الله پاک چا ته ژوند ورکوي او د چا نه چه ژوند اخلي هغه د ظاهري اسبابو په ذریعه داسے کوي او دا شان د ظاهري اسبابو په ذریعه خوزه هم داسے کولے شم مثلاً چه څوک غواړم نو معاف یے کړم او چه څوک اُوغواړم نو قتل یے کړم. نمرود ته به معلومه وه چه مرګ او

زوند وهغه په قبضه کښ نه دے یکن دضد او عناد په وجه یے داجواب ورکړو وانما اراد اسے بری لنفسه هذا المقام عنادا ومکابرة (ابن کثیر ج۱) ۔ **فائده** حضرت ابراهیم علیه السلام پوهه شو چه هغه دضد او عناد باندے تیښتلے ولاړ دے. ددے وجے نه یے فوراً دویم دلیل پیش کړو لکه چه یو هوښیار طبیب که او وینی چه بیمار ته په یوه نسخه فائده او نشوه نو هغه د بیماری له دپاره بله نسخه تجویز کړی او شان ابراهیم علیه السلام اوفرمائیل چه الله تعالیٰ خو نمر دمشرق طرف نه راخیژوی که چرے ته خدائی یے نو د مغرب د طرف نه یے راوخیژوه ۔ فَبُهِتَ الَّذِيْ كَفَرَ. په دے باندے کافر حکمران حیران شو او چپ پاتے شو. وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ. کوم خلق چه هغه حق نه قبلوی او خپل ځان دپاره د جهنم دعذاب سامان تیاروی دا د ضد او عناد په وجه حق نه قبلوی ظالمانو ته الله پاک دهدایت دقبولیت توفیق نه ورکوی. حضرت شیخ فرمائی یعنی کوم خلق چه د ضد او عناد په وجه د توحید مخالفت کوی او د الله طرف ته رجوع نه کوی. دهغوی په زړونو باندے دجباریت مهر لګیږی او هغه په هیڅ صورت کښ په تبلیغ لاره باندے نه راځی۔

أَوْ كَالَّذِيْ مَرَّ عَلٰى قَرْيَةٍ وَّهِيَ خَاوِيَةٌ عَلٰى عُرُوْشِهَا

یا اوده کتل تا هغه سړی ته چه تیر شو هغه په یو ښار باندے او هغه ښار راغورزیدلے وو په چتونو باندے

قَالَ اَنّٰى يُحْيٖ هٰذِهِ اللّٰهُ بَعْدَ مَوْتِهَا ۚ فَاَمَاتَهُ اللّٰهُ مِائَةَ

وے ویل څنګه به ژوندی کړی دوی له الله د مرګ نه روستو نو هغه بیا مړ کړو الله هغه سړی په سل

عَامٍ ثُمَّ بَعَثَهٗ ؕ قَالَ كَمْ لَبِثْتَ ؕ قَالَ لَبِثْتُ يَوْمًا اَوْ

کاله بیا یے راپاڅولو هغه وے ویل ته څومره وخت دلته پاتے شوے وے ویل زه پاتے شوم یو ورځ یا

بَعْضَ يَوْمٍ ؕ قَالَ بَلْ لَّبِثْتَ مِائَةَ عَامٍ فَانْظُرْ اِلٰى

د ورځے نه لږ که وے ویل نه بلکه ته پاتے شوے سل کاله نو اوس اوګوره خپل خوراک

طَعَامِكَ وَشَرَابِكَ لَمْ يَتَسَنَّهْ ۚ وَانْظُرْ اِلٰى حِمَارِكَ ۫

او څکاک ته چه نه دے سخا شوے کښته او اوګوره خپل خر ته

وَلِنَجْعَلَكَ اٰيَةً لِّلنَّاسِ وَانْظُرْ اِلَى الْعِظَامِ كَيْفَ

او دے له چه مونږ نمونه جوړه ول غوښتل و خلقو دپاره او اوګوره هډوکو طرفته چه هغه مونږ څنګه

نُنْشِزُهَا ثُمَّ نَكْسُوْهَا لَحْمًا ؕ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهٗ ۙ قَالَ

راپاڅولو او بیا ځائی کوو او بیا ورته اغوندو غوښه کله چه بیا ورته ښکاره شو هغه ته هغه بانده حال نو

اَعۡلَمُ اَنَّ اللّٰهَ عَلٰی كُلِّ شَیۡءٍ قَدِیۡرٌ ﴿۲۵۹﴾ وَاِذۡ قَالَ اِبۡرٰهٖمُ

وے وئیل ما ته معلومه ده چه بیشکه الله په هر څیز قادر دے ف۱ ف۲ ف۳ ف۴ او چه کله او وئیل ابراهیم

رَبِّ اَرِنِیۡ كَیۡفَ تُحۡیِ الۡمَوۡتٰی ؕ قَالَ اَوَلَمۡ تُؤۡمِنۡ ؕ قَالَ

اے پروردګاره خما اوښایه ما ته چه څنګه به ژوندی کړے ته مړی. وے فرمائیل ولے تا یقین او نکړو وے وئیل

بَلٰی وَلٰكِنۡ لِّیَطۡمَئِنَّ قَلۡبِیۡ ؕ قَالَ فَخُذۡ اَرۡبَعَةً مِّنَ الطَّیۡرِ

ولے نه لیکن دے د پاره غواړم چه تسکین اوشی ف۵ ف۶ خما زړه ته. وے فرمائیل اونیسه څلور ساوا الوتونکی

فَصُرۡهُنَّ اِلَیۡكَ ثُمَّ اجۡعَلۡ عَلٰی كُلِّ جَبَلٍ مِّنۡهُنَّ جُزۡءًا ثُمَّ

ما ته بیا یئے بیل او مائل کړه خپل خان سره ښه بیا یئے کیږده په هر غر باندے د هغوی د بدن یوه یوه ټکړه بیا هغوی

اُدۡعُهُنَّ یَاۡتِیۡنَكَ سَعۡیًا ؕ وَاعۡلَمۡ اَنَّ اللّٰهَ عَزِیۡزٌ حَكِیۡمٌ ﴿۲۶۰﴾ ۳۵ ع

راوبله راځی به تا ته په منډه او پوهه شه چه بیشکه الله زبردست دے او حکمت والا دے ف۷

نکات: ۱ دویمه قصه متفرع په اول قانون باندے. ۲ دریمه قصه متفرع په اول قانون باندے.

موضح قرآن

ف۱ دا سړے حضرت عزیر علیه السلام وو. بخت نصر یو کافر بادشاه وو. په بنی اسرائیلو باندے غالب شو بیت المقدس ښار یئے وران کړو. ټول خلق یئے قید یان کړل. بیا حضرت عزیر علیه السلام په دے ښار باندے تیر شو حیران شو چه دا ښار به څنګه اباد شی په دغه ځائی کښی د هغه روح قبض شو سل کاله یئے ژوندے شو د هغه خوراک څکال هغه سره پراته وو د هغه خر او د سوارلئی خر یئے مړ شو وو او هډوکی یئے هم په هغه شکل کښی پراته وو هغه د دغه په څنګ کښی ژوندے شو په دے سلو کالو کښی بنی اسرائیل د قید نه خلاص شو وو او ښار بیا اباد شوے وو هغه ژوندے شو او ابادی یئے اولیده. ف۲ څلور مرغان یئے راونیول یو چرګ، یو طاؤس، یو کونتره او یو کارغه. هغه یئے د خان سره آموخته کړل چه وے پیژنی بیا یئے حلال کړل په یو غر باندے یئے د ټولو سرونه کیښودل په یو باندے وزرے په یو باندے جسم او په یو باندے خپے مینځ کښی اودریدو او یو نه یئے آواز اوکړو د هغه سر پورته شو په هوا کښی اودریدو بیا د سره جسم ملاؤ شو بیا د سره وزرے او لګیدلے بیا خپے. هغه په منډه راغے. دا شان څلور واړه راغلل.

فائده: دا دے قصے یئے بیان کړے په دے باندے چه الله تا سو ته هدایت کوونکے دے چا چه اوغواړی. که چرے شبه را پیښه شی نو فوراً جواب راولیږی. او س ګوراندے بیا د جهاد ذکر دے او د الله په لاره کښی د خرچ کولو.

فتح الرحمن

ف۱ هغه سړے حضرت عزیر علیه السلام وو. ف۲ یعنی عین الیقین غواړم.

تفسیر

۱۱ دا دویمه واقعه ده چه په اوله قاعده باندے متفرع ده او اُولنئ بیعیه ده یعنی د دویمے نوع د بیان د پاره ده. دا قصه په اوله قاعده باندے متفرع ده او د هغه تمثیل دے چه کوم خلق الله طرفته رجوع کوی د حق او صداقت او د اطمینان طلب کونکی وی. الله پاک ئے هغوی ته د کوی او د هغوی د اطمینان وطلبی اطمینان مهیا کوی استشهاد علی ما ذکر ولایته تعالیٰ للمؤمنین وتقریراً له (ابوالسعود ج۲ ص۲۳) په کالّذی ... تمثیل د پاره دے یعنی دا دے تولو شواهدو ته بودا دے دوے قسمه نور هم په واقعات ... واقعه په دویم سیپاره کښې أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ خَرَجُوا کښې ذکر شوې ده یعنی د ... مثلاً بوه واقعه په دویم ... ئے کولو په وجه سره الله تعالیٰ مړه کړل او بیا ئے ژوندی کړل. یا کاف ... مؤمنانو د قتال نه کولو ... الَّذِي مَرَّ په باره کښې د اکثرو مُفسّرینو رائے دا ده چه هغه حضرت عزیر علیه السلام دے ... وانه هو عزیر بن شرخیا کما اخرجه الحاکم عن علی کرم الله وجهه واسحٰق بن بشر عن ابن عباس وعبدالله بن سلام والیه ذهب قتادة وعکرمة والربیع والضحاک والسدی وخلق کثیر (روح ج۳ ص۲) ... قَرْيَةٍ نه مراد بیت المقدس دے چه بخت نصر تباه او برباد کړے وُو. وقال عکرمة والربیع ووهب هی بیت المقدس وکان قد خربها بخت نصر وهذا هو الاشهر (روح ج۳ ص۲۱ بحر ج۲ ص۲۹۱)

۱۲ هغوی چه کله د دے د تباهئ منظر اولیدو نو د افسوس د اظهار په طور ئے اوویل. چه الله تعالیٰ به د دے کلی خلق دوباره څنګه راژوندی کړی مطلب دا نه دے چه هغوی د دوباره ژوندی کولو یقین نه لرلو. بلکه هغه د راژوندی کولو د کیفیت مشاهده کول غوختل. فَأَمَاتَهُ اللَّهُ نو الله تعالیٰ په هغه باندے د ژوندی کولو د کیفیت مشاهده کولو د پاره په هغه باندے مرګ راوستلو او پوره سل کاله هغه په دے حالت کښې په زمکه باندے پروت وُو او د سلو کالو نه پس الله هغه ژوندے کړو. قَالَ كَمْ لَبِثْتَ. دا سوال او جواب د صفاتو د اضافے نه د هغوی د عجز د اظهار د پاره کړے شوے دے. حضرت عزیر علیه السلام د مرګ د حالت نه مخکښے تیر بیدو نه پس ... مُوده پوره ورځ یا د دے نه هُم کمه اُوښودله. دا صرف د هغه انداز وه. د سلو کالو زمانه هغوی ته د بیسے ورځے د خوب پشان معلومه شوه. د دے نه معلومه شوه چه د د مرګ په حالت کښې دا جلیل القدر پیغمبر د شپے او ورځے د بدلون او د زمانے د انقلاب نه بالکل ناخبره وُو. که هغه ته د دے څیزونو احساس کیدے نو هغه به د مُودے اندازه نه بیانولے بلکه هغه ته به د پوره مُودے صحیح صحیح علم وُو. د دے واقعے نه د سماعِ موتیٰ نفی کیږی. ځکه چه عُزیر علیه السلام په دُنیا کښې د هغه تولو انقلاباتو نه بے خبره وُو کوم چه کیدونکی وُو. د سلو کالو په زمانه کښې نه خو هغه ته د شپے او ورځے د اختلافاتو پته اُولګیده او نه هغوی بهرنئ آوازونه اُوریدل. دغسے د دینه دا هُم ثابته شوه چه د وفات نه روستو د انبیاء علیهم السلام پاک روحونه د هغوی په مبارکو بدنونو کښې موجود نه وی او د هغوی دُنیوی حیات ناسوتی (جسمانی) نه وی بلکه برزخی وی.

۱۳ یعنی تا سو پوره سل کاله مړه وې لیکن اوګوره د دے باوجود ستا سو خوراک څکاک نه دے خراب شوے. په دیکښې هیڅ قسمه بدلون او بد بوئی نه ده پیدا شوے. بلکه نن هُم هغه شان تروتازه

دے خشکه چه دئ نه سل کاله وړاندے وُو. وَانظُرۡ اِلٰی حِمَارِكَ الخ حضرت عُزیرعلیه السلام چه کله دے ځائ نه تیریدهٔ نو هغه وخت په خره باندے سور وُو د آرام د پاره یے خَر هلته پریښوده او خپلا ستلو. او د خوب په حالت کښ یے روح قبض کړے شو. دلته خر هُم مړشو. او دے د ران کښ د خَر غوښه او څرمن خاوُرو اوخوړله لیکن د هډوکو ډهانچه صحیح سلامت پرته وه. چه ناسو بعث بعد الموت یعنی دو باره ژوندی کولو او را پاڅولو باندے دخلقو دباره دلیل نو الله پاك اُوفرمائیل چه خپل خَر ته هُم اُوګوره چه موږ به هغه خشکه ژوندے کوُو. دے دپاره او بُرهان اُوګرځوُو. وَلِنَجۡعَلَكَ اٰيَةً لِّلنَّاسِ ودلالة علی البعث بعد الموت (قرطبی ص۲۹۳ ج۳)

۵۱۴ھ د اِنشاز معنی خوزوُل او حرکت کوُل ده. زموږ د قُدرتِ کامله تماشه په خپلو سترګو سره اُوګوره. چه موږ خشکه د خَر هډوکو ته غوښه څرمن آغوندوُو. او په هغه کښ روح اُچوُو او دوباره یے ژوندے کوُو. نو الله پاك د هغه په کتلوکتلو سره خَر ژوندے کړو.

۵۱۵ھ د عِلم نه مراد دلته علِم مشاهده او معائنه ده ځکه چه د خُدائ د قُدرت علم او یقین هغه ته مخکښې هُم حاصِل وُو. مګر هغه علم شهود نه وُو. قال مکی انه اخبر عن نفسه عندما عاین من قدرة الله تعالی فی احیائه الموتٰی فتیقن ذالك بالمشاهدة. (قرطبی ص۲۹۶ ج۳)

۵۱۶ھ دا واقعه هُم په اوله قاعده باندے منفرع ده. حضرت ابراهیم علیه السلام ته اګرچه د الله په قُدرت علی الاحیاء باندے پوره پوره یقین وُو. هغه د دے د کیفیت مشاهده کولو سره زیاتِ اطمینانِ قلب حاصِلوُل غوختل. د همدے وجے نه یے د الله نه دا سوال اُوکړو ځکه چه کوم عِلم مشاهدے سره حاصل شي هغه ضروری او بدیهی وی. او د عِلم الاستدلال نه زیات محکم او پائنداروی. معناه بلیٰ امنت ولکن لازید سکونا وطمانیة بمضامة علم الضرورة علم الاستدلال وتظاهر الادلة اسکن للقلوب وازید للبصیرة (مدارك ص۱۳۱ ج۱) لم یکن ابراهیم علیه السلام شاکا فی احیاء الله الموتی قط وانما طلب المعاینة (قرطبی ص۲۹۸ ج۳) د الله پاك دا سوال چه ایا تاته څما په قُدرت علی الاحیاء باندے ایمان نشته او د حضرت ابراهیم علیه السلام دا جواب چه ایمان شته دے لیکن د سترګو په مشاهده کولو سره زیات اطمینان غواړم. د دے سوال او جواب نه دا حقیقت واضح کوُل مقصود دی. چه د سامعینو نه د چا په زړهٔ کښ د ابراهیم علیه السلام د ایمان په باره کښ د څهٔ قِسم غلط فهمی پیدا نه شي.

۵۱۷ھ صُرۡ د صار یصور صورًا نه امر دے چه د دے معنٰی مائِل کوُل دی. یعنی څلور مرغان واخله او هغان سره یے بلدهٔ اُموُخته کړه. چه روستو بیا په پیژندګلو کښ تکلیف نه وی. المعنی املهن الیك ای اضممهن واجمعهن الیك (قرطبی ص۳۰۱ ج۳) ثُمَّ اجۡعَلۡ عَلٰی كُلِّ جَبَلٍ مِّنۡهُنَّ جُزۡءًا. بیا هغه حلال کړه او ټکړے ټکړے یے کړه او د هغے اجزاء په څلورو غرونو باندے کیږده. فقوله الیك علی تاویل الامالة والضم متعلق بصرهن وفی الکلام متروك فاملهن الیك ثم قطعهن (قرطبی ص۳۰۱ ج۳) ثُمَّ ادۡعُهُنَّ يَاۡتِيۡنَكَ سَعۡيًا. بیا هغه خپل طرفته راوُبله نو هغه به ژوندی شي. صحیح سلامت به په منډه ستا سو طرفته راشي. ۵۱۸ھ د دے کیفیت لیدلو سره به تاسوته علم شهود حاصِل شي. الله ډیر زبردست دے هیڅ څیز د هغه د قُدرت نه بهر نه دے. لیکن هغه هغه څه کوی کوم چه

د حکمت سره بالکل موافق دی. اوس دلته نه بیا د انفاق فی سبیل الله بیان شروع کیږی. د جهاد فی سبیل الله او انفاق فی سبیل الله بیان مخکښې شوید ے لیکن مخکښې د جهاد مضمون زیات وو او د انفاق کم وو اوس دلته د انفاق مضمون په تفصیل سره بیانیږی، دا تفصیل د مَثَلُ الَّذِينَ يُنْفِقُونَ نه واخله تر وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ پورے چلیدلے دے یعنی پوره درے رکوعاتو باندے مشتمل دے. په اوله رکوع کښې یے د الله په لاره کښې د خرچ کولو ثواب بیان کړو او د خرچ کولو ترغیب یے ورکړید ے. د ریا کارئ نه د بچ کیدو او د اخلاص خپل معمول گرځولو حکم یے ورکړید ے. د اخلاص او ریا کارئ مثالونه یے ورکړل د اخلاص اجر او د ریا کارئ خرابه نتیجه یے واضحه کړه. په دویمه رکوع کښې یے د حلال او پاک مال د خرچ کولو حکم ورکړید ے او په دریمه رکوع کښې یے د انفاق په طور د قرض دیونا جائز او مذموم صورت نه منع کړید ه.

مَثَلُ الَّذِينَ يُنْفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ كَمَثَلِ

مثال د هغه خلقو چه خرچ کوی خپل مالونه د الله په لاره کښې داسے دے لکه چه

حَبَّةٍ أَنْبَتَتْ سَبْعَ سَنَابِلَ فِي كُلِّ سُنْبُلَةٍ مِائَةُ حَبَّةٍ

یو دانه د هغے نه راوټوکیږی اووه وږی اهر وږی کښې سل دانے وی. ١٩٥

وَاللَّهُ يُضَاعِفُ لِمَنْ يَشَاءُ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ (٢٦١) الَّذِينَ

او الله زیاتوی چا د پاره چه اُغواړی او الله ډیر د فراخئ والا او د هرڅه نه خبر دے کوم خلق چه خرچ

يُنْفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ثُمَّ لَا يُتْبِعُونَ مَا أَنْفَقُوا

کوی خپل مالونه د الله په لاره کښې بیا د خرچ کولو نه روستو نه احسان کوی

مَنًّا وَلَا أَذًى لَهُمْ أَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ

او نه تکلیف ورکوی ١٩٦ هغوی د پاره ثواب دے د خپل رب سره او نه ویره شته په دوی باندے

وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ (٢٦٢) قَوْلٌ مَعْرُوفٌ وَمَغْفِرَةٌ خَيْرٌ مِنْ

او نه به غمژن دی جواب ورکول نرم او بخښنه کول بهتر دی د هغه

صَدَقَةٍ يَتْبَعُهَا أَذًى وَاللَّهُ غَنِيٌّ حَلِيمٌ (٢٦٣) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ

خیرات نه چه د هغے نه روستو دی تکلیف ورکول ١٩٧ او الله بے پرواه دے ډیر صبر کوونکے دے اے ایمان

اٰمَنُوْا لَا تُبْطِلُوْا صَدَقٰتِكُمْ بِالْمَنِّ وَالْاَذٰى ۙ كَالَّذِىْ

ایمان والو! مه ضایع کوئ خپل خیراتونه په احسان کولو او تکلیف ورکولو سره د هغه کس پشان چې

يُنْفِقُ مَالَهٗ رِئَآءَ النَّاسِ وَلَا يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ؕ

خرچ کوی خپل مال خلقو ته د ښودلو د پاره او یقین نه لری په الله باندې او د قیامت په ورځ باندې

فَمَثَلُهٗ كَمَثَلِ صَفْوَانٍ عَلَيْهِ تُرَابٌ فَاَصَابَهٗ وَابِلٌ

نو د هغه مثال داسې دے چه صفا کانړے وی چه په هغې باندې خاوره پرته وی، بیا اُورسی په هغه

فَتَرَكَهٗ صَلْدًا ؕ لَا يَقْدِرُوْنَ عَلٰى شَىْءٍ مِّمَّا كَسَبُوْا ؕ

زور زور باران نو پریږدی هغه بالکل صفا، هیڅ په لاس نه ورځی داسې خلقو ته ثواب د هغه خیز کوم چې

وَاللّٰهُ لَا يَهْدِى الْقَوْمَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۲۶۴﴾

ګټلے ئے او الله نه ښائی نیغه لار کافرانو ته

نکات: ۱۔ ف۱ د انفاق مضمون شپږم ځل ذکر کوّل (په تفصیل سره) ف۲ په خرچ کولو کښې د اخلاص ترغیب۔ ف۳ په خرچ کولو کښې د احسان او ریا کارئ نقصان ښا تل۔

موضح قرآن

ف۱ یعنی غوښتونکی ته په نرمئ سره جواب ورکول او هغه په بد خوئ بانې بخښنه غوښتل بهتر دی د هغې نه چه څه ورکړی بیا هغه بار بار یادوی۔ دا خیال اوکړئ چه ما خو الله له ورکړی دے د ده څه پرواه ده لیکن د خپل ځان سره نیکی کوم۔ ف۲ پوره نے مثال بیان کړو د خیرات لکه چه یوه دانه یې اُوکرله او اوده وړی اووه سوه دانې ملاوُ شوے۔ دلته یې اُوفرمائیل چه نیت شرط دے که چرے د ښودلو په نیت یې خرچ اوکړو نو لکه چه دانه یې اُوکرله په کانړی باندې چه په هغې باندې لږه شان خاوره په نظر راتله چه کله پرے باران اوشو نو هغه صفا پاتے شو په هغې کښې به څه راُوټوکیږی۔

فتح الرحمن

ف۱ مترجم وائی چه د دے مثال حاصل دا دے چه د احسان کوُنکی او ریا کار عمل په دُنیا کښې ښکاره کیږی چه عمل دے او په اخرت کښې برباد کرځی هیڅ فائده نه ورکوی لکه چه په کانړی باندې خاوره پریوُتے وی په ظاهره خو داسې ښکاری چه قابل د کرونده دے د ه خو چه کله پرے باران اووریږی نو څه نه شی۔ والله اعلم

تفسیر

ف۱ دا په اخلاص سره د الله په لاره کښې د خرچ کولو ترغیب دے چه په هغې باندې د پوهولو د پاره یې یو مثال بیان کړیدے یعنی کوم خلق چه په اخلاص سره صرف د الله د رضا د پاره خپل مال خرچ کوی د هغوی د خرچ مثال دے لکه چه یو انسان په زمکه کښې یوه دانه اُوکری د هغه دانے نه د اووه بناسونو والا بوټے را اُوټوکیږی او په هر

بناخ باندے یو ؤرے وی او په هر ؤږی کښې سل دانے وی. داشان دیوے دانے نه اووه سوه دانے حاصلے شی نو څنګه چه یوه دانه په زمکه کښې کرلو سره اووه سوه چنده زیاتیږی داشان دالله په لاره کښې دخرچ کړے شوی دولت یوه حصه (پیسه، آنه، روپئ وغیره) دخدائی سره اووه سوه چنده زیاتیږی. مثلاً دیوے روپئ خرچ کولو سره به اووه سوه روپو خرچ کولو ثواب ملاویږی. وَاللّٰهُ يُضٰعِفُ لِمَنْ يَّشَآءُ. په جهاد کښې په اخلاص نیت سره خرچ کونکوته به اووه سوه چنده ثواب خو په هر حال کښې ملاویږی. لیکن که چرے دخرچ کونکی تقوی، اخلاص نیت او دمال طهارت او پاکیزګی دعام سطح نه اوچت وی نو هغه ته به د اووه سوه چنده نه هم زیات ثواب ملاویږی. ای بحسب اخلاصه فی عمله (ابن کثیر ص۳۱۷ ج۱) المتصدق اذا کان صالحاوالمال طیبا ویضعه موضعه فیصیر الثواب اکثر (قرطبی ص۳۰۳ ج۳). وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ۝ هغه ډیره فراخئ والا دے هغه سره دهیڅ څیز کمے نشته هغه چه څومره غواړی ورکولے شی او دخرچ کونکو د نیت نه هم خبر دے هغه ته ښه معلومه ده چه څوک دڅومره ثواب مستحق دے.

۵۲۰ دخرچ کولو ترغیب او دخرچ ثواب بیانولو نه پس اوس هغه امور بیانولے شی چه د پوره ذکر شوی ثواب داستحقاق د پاره ضروری دی. د مَنٌّ معنی احسان او ضباطل دی. او د اَذٰی معنی تکلیف ورکول دی او ددے نه مراد هر هغه فعل او قول دے چه په هغے سره متصدق علیه (چا ته چه خیرات ورکړے شی) ته تکلیف اُورسی. مثلاً هغه ته داسے اووائی چه " یار ډیر ځګرمار یے را پورے اِنختے یے، اَدو پریږده م ته"، څومره غټ یے مزدوری ولے نه کوے". دصدقه کولو نه روستو د اَخستونکی نه کار اخستل هم په اَذٰی کښې داخل دے. په دے لحاظ سره احسان ضباطل هم په اَذٰی کښې داخل دے لیکن داحسان ضباطلو بیماری چونکه عام ده ددے وجے نه یے دا جُدا ذکر کړو. لَهُمْ اَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ. یعنی کوم خلق چه د صدقه کولو نه روستو نه احسان ضباطی او نه په بله څه طریقه سوالګر ته تکلیف ورکوی، د صدقے او خیرات ثواب به صرف دغه خلقو ته ملاویږی. ځکه چه مَنّ او اَذٰی دواړه داسے خرابئ دی چه ددے د وجے نه صدقه د الله د رضا د پاره نه پاتے کیږی په دے وجه صدقه باطله شی. او د الله په نزد د هغے هیڅ اجر او ثواب نه ملاویږی.

۵۲۱ د قولِ معروف نه مراد دا دے چه سوالګر په نرمئ سره رخصت کړی. او د مغفرت نه مراد دا دے چه که چرے سوالګر سختی اوکړی نو هغه معاف کړے شی. او نامناسب الفاظ استعمال نه کړے شی. ای کلام جمیل یرد به السائل مثلاً یرحمك الله ویرزقك الله انشاء الله تعالی اعطیك بعد هذا ومغفرة ای ستر لما وقع من السائل من الالحاف فی المسئلة وغیره مما یثقل علی المسئول وصفح عنه (روح ص۳۴ ج۳). وَاللّٰهُ غَنِيٌّ حَلِيْمٌ ۝ یعنی الله ته ستاسو د صدقو ضرورت نشته دے. په دے سره هم ستاسو اصلاح مقصود ده او هغه صبرناک دے پهمنا هو نو باندے فورًا نیول نه کوی. ۵۲۲ اوس دلته یے ډیر تاکید سره د مَنّ او اَذٰی نه منع فرمائیلے ده او واضحه کړے یے ده چه په مَنّ او اَذٰی سره صدقه باطله شی. او د هغے هیڅ ثواب نه ملاویږی. د اَلَّذِيْ يُنْفِقُ نه مراد منافق یا مشرک دے وغالب

المفسرين على ان المراد بها المنافق (روح ج ٣) رِئَآءَ. د يُنْفِقُ مفعول له دے الله د يو منافق ريا
کار مثال بيان کړو او د الاية پوره کړل چه څنګه هغه منافق خلقو ته د ښودلو د پاره
خيرات کوي او نه په الله تعالے باندے د هغهٔ ايمان دے او نه د اخرت په حساب باندے
نو ظاهره ده چه د الله رضا او د اخرت ثواب طلب کول خو به د هغهٔ په زړهٔ کښې هيڅ تير
شوے هم نه وي. نو چه څنګه د هغه منافق ريا کار خيرات بالکل ضائع او برباد دے او د
هغهٔ د پاره هيڅ ثواب نشته. اے ايمان والو! داشان تاسو هم خپل صدقات او خيراتونه
د مَنّ او اَذٰى په ذريعه مهٔ باطلوئ څنګه چه دے ريا کار د ريا کارئ په وجه خپل عمل
باطل کړو. ٢٦٤ فَمَثَلُهٗ ضمير نه مراد ريا کار خرچ کونکے دے. صَفْوَانٍ معنى ده هوار او
صفا کانړے. وَابِلٌ سخت باران. او صَلْدًا هغه صفا کانړے چه په هغهٔ باندے ګرد غبار
نه وي کوم سړے چه په ريا کارئ سره مال خرچ کوي د هغهٔ د عمل ضائع کيدو او بے نتيجه
کيدو مثال دا دے چه څنګه يو کانړے بالکل صفا او نرم وي او په هغے باندے معمولي
شان خاوره وي بيا په سخت په زوره باران اوشي نو هغه کانړے د خاورے نه بالکل صفا
شي او په هغے باندے د خاورے يوه ذره هم نه شي پاتے کيدے. هم دا حال د ريا کارو د
غير مخلصانه او ريا کارانه عملونو دے چه هغه د ريا کارئ په سيلاب کښې بهيدو سره ضائع
شي او په هغے هيڅ ثواب نه ملاويږي. لَا يَقْدِرُوْنَ عَلٰى شَيْءٍ مِّمَّا كَسَبُوْا هغوي خيال
کوي چه مونږ ډير څه کړيدي. ليکن په اخرت کښې به هيڅ څيز په لاس ورنشي. وَاللّٰهُ لَا
يَهْدِي الْقَوْمَ الْكٰفِرِيْنَ. حالانکه چه الله د عقل او بصيرت دولت ورکړو ليکن هغوي د هغے
نه فائده پوره نه کړه او په خپل اختيار سره يے کُفر خوښ کړو. د داسے خلقو ته الله د ايمان
توفيق اخلي او هغوي ته هدايت نه کوي.

وَمَثَلُ الَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمُ ابْتِغَآءَ مَرْضَاتِ

او مثال د هغو چه خرچ کوي خپل مالونه د الله رضا حاصلولو د پاره او

اللّٰهِ وَتَثْبِيْتًا مِّنْ اَنْفُسِهِمْ كَمَثَلِ جَنَّةٍۢ بِرَبْوَةٍ اَصَابَهَا

د خپلو زړونو ثابت لرلو د پاره داسے دے لکه چه يو باغ دے په اوچته زمکه باندے په

وَابِلٌ فَاٰتَتْ اُكُلَهَا ضِعْفَيْنِ ۚ فَاِنْ لَّمْ يُصِبْهَا وَابِلٌ

هغے باندے اوشو په شيبو باران نو اوکړے هغه باغ خپلے ميوے دوچنده او که چرے په هغے باران اونه شو نو پشم

فَطَلٌّ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿٢٦٥﴾ اَيَوَدُّ اَحَدُكُمْ اَنْ

کافي دے ئلکه او الله ستاسو کارونه ښه وينې هد ف اياخوښوي تاسو نه څوک دا چه د

يَّكُوْنَ لَهٗ جَنَّةٌ مِّنْ نَّخِيْلٍ وَّ اَعْنَابٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا

دهغه باغ د کهجورو او انګورو بهيږي لاندې د هغې نه

الْاَنْهٰرُ ۙ لَهٗ فِيْهَا مِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ ۙ وَ اَصَابَهُ الْكِبَرُ وَلَهٗ

نهرونه هغه ته به دې باغ کښې نورې هم هر قسمه ميوې حاصلې وي او راشي هغه باندې بوډا والے

ذُرِّيَّةٌ ضُعَفَآءُ ۖ فَاَصَابَهَآ اِعْصَارٌ فِيْهِ نَارٌ فَاحْتَرَقَتْ ؕ

او هغه اولاد وي کمزورے دغه وخت راغله دے باغ باندې برګوړکئ د باد چه په هغې کښې اور وو چه هغه

36 كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمُ الْاٰيٰتِ لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُوْنَ ﴿۲۶۶﴾ ع

باغ ۴۲۵ اوسوزيدو. دغسې پوهوي تاسو الله په ايتونو باندې دے د پاره چه تاسو فکر اوکړئ. ۴۲۶

نکات: سے په خرچ کولو کښې د اخلاص د پاره مثال.

موضح قرآن ف د باران نه مراد ډير مال خرچ کول او د پرخې نه مراد لږ مال دے. نو که چرې نيت صحيح وي نو د ډير خرچ به ډير ثواب وي او لږ هم بکار راځي ځکه چه په خالص زمکه باندې باغ دے هر څومره باران چه اوشي نو فائده ده که بلکه پرخه هم کافي ده. او چه نيت صحيح نه وي نو چه هر څومره زيات خرچ کړي هغه ضائع دے ځکه چه په زيات مال خرچ کولو کښې ريا هم زياته ده. لکه چه په کاڼي باندې دانه اوکرے شو مره ډير باران اوشي هغومره به ضرر وي ځکه چه څا ذره به ترے اوو بهيږي شي. ف۲ اوس يے مثال بيان کړو د احسان کونکو چه خپل نيک کارونه ضائع کړي. مثلاً د ځوانئ په وخت کښې يے باغ حاصل کړو دے اميد سره چه په بوډا والي کښې به په کار راشي. عين د کار په وخت اوسوزيده.

فتح الرحمن ف۱ مترجم وائي چه دا دے مثال حاصل دا دے چه عمل د اخلاص والو فائده ورکوي. که د سابقينو نه وي يا د اصحاب اليمين نه. ف۲ دا دے مثال حاصل دا دے چه د احسان کونکي او ريا کار عمل به د سخت ضرورت په وخت برباد شي ځکه چه دا دے سړي باغ د سخت ضرورت په وخت اوسوزيده.

تفسير ۴۲۳ د ريا کارو او منافقانو مثال بيانولو نه روستو يے د هغه مؤمنانو د صدقو مثال بيان کړو کوم چه صرف د الله د رضا طلب کولو او د نفسونو د پاکئ حاصلولو د پاره خرچ کوي. اِبْتِغَآءَ، مفعول لهٗ دے په تَثْبِيْتًا باندے معطوف دے. مِنْ اَنْفُسِهِمْ کښې مِنْ ابتدائيه دے يعني هغوی د الله د رضا طلب کولو او د زړه کامل يقين او ايمان د وجے نه خرچ کوي. وقال الشعبي والسدي وقتادة ايضا وابن زيد وابو صالح وغيرهم وتثبيتا معناه وتيقنا اى ان نفوسهم لها بصائر فهي تحثهم على الانفاق في طاعة الله تعالى تثبيتا (قرطبي ص۳۱۴ ج۳)

درنَبوَهٔ معنٰی دَه غونډئ یعنی هغه ځائ چه د نورے زمکے په نسبت لږ اوچت وی. او طَلٌّ نه مراد دلته پرخه نه ده بلکه لږ معمولی شان باران ترے مراد دے. والطل المطر الضعیف المستدق من القطر الخفیف قاله ابن عباس وغیره (قرطبی ج۳) د تمثیل ماحصل دے چه کوم خلق د الله د رضا د پاره او پوره اخلاص او ایمان سره مال خرچ کوی د هغوی صدقات دلے ترقی کوی او میوه ورکوی لکه چه په یو لوړ ځائ باندے یو باغ وی او په هغے باندے په شیبو باران اوشی نو د هغه باغ ونے دوچند میوے ورکوی. او که چرے په شیبو باران اُونه شی بلکه معمولی شان باران اوشی نو هم هغه باغ میوه ورکوی. داشان د نیت په اخلاص سره شوی صدقو اجر د خدائ سره خوچنده زیات ملاویږی. که چرے د اخلاص اعلیٰ درجه نه وی. نو مطلق ایمان او د نیت صحیح والے هم د صدقاتو ثواب زیاتیدلو د پاره کافی دے. وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ. په دے وجه هغه مخلص او رِیا کار نه پیژنی لو هر یو ته به د هغه د عمل مطابق جزا ورکوی. ۲۶۵هـ دا د رِیا کارو د عملونو د ضائع کیدو او بے نتیجه کیدو دویم تمثیل دے یعنی یو انسان چه بوډا شوے وی او د روزئ د گټلو لائق نه وی پاتے شوے او د هغه واړه واړه بچی هم وی چه تراوسه پورے د گټے قابل نه وی د هغه د کجورو او انګورو یو تروتازه باغ وی او د اور بربوړګئ هغه اُوسیزی یعنی عین هغه وخت هغه باغ اوسوزی او تباه شی چه کله مالک د هغه میوے ته سخت محتاج وی. هم دا به د رِیا کارو د عملونو حشروی چه په میدانِ حشر کښ به دوی د یر سخت ضرورت وی هغه به پکار نه راځی ځکه چه هغه خو په دُنیا کښ د رِیا کارئ په گرمه هوا سیزلے او ایره شویدی. كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ الله پاک داشان د تمثیلات په ذریعه خپل احکام واضحه بیانوی چه تاسو غور فکر اوکړئ. او په انجام باندے سوچ اوکړئ او قدم اُوچت کړئ.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْفِقُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا كَسَبْتُمْ وَ

اے ایمان والو! خرچ کړئ پاک څیزونه د خپلے ګټے نه او د هغه

مِمَّآ اَخْرَجْنَا لَكُمْ مِّنَ الْاَرْضِ ۠ وَلَا تَيَمَّمُوا الْخَبِيْثَ

څیزونه کوم چه مونږ پیدا کړد ستاسو د پاره د زمکے نه او قصد مه کوئ د ګنده څیز

مِنْهُ تُنْفِقُوْنَ وَلَسْتُمْ بِاٰخِذِيْهِ اِلَّآ اَنْ تُغْمِضُوْا فِيْهِ ؕ

د هغه نه چه هغه خرچ کړئ حالانکه تاسو به هغه څیز که هم وا نخلئ لیکن دا چه ستر ګے پټے کړئ

وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ غَنِيٌّ حَمِيْدٌ ﴿٢٦٧﴾ اَلشَّيْطٰنُ يَعِدُكُمُ

او پوهه شئ چه الله بے پروا د ے صفتونو والا دے شیطان ویروی تاسو د فقیرئ نه

الْفَقْرَ وَيَأْمُرُكُم بِالْفَحْشَآءِ ۖ وَاللَّهُ يَعِدُكُم مَّغْفِرَةً مِّنْهُ

او حکم کوی تاسو ته د فحشاء (بخل) ۵۲۸ او الله وعده کوی تاسو سره د خپل مغفرت او

وَفَضْلًا ۗ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٦٨﴾ يُؤْتِي الْحِكْمَةَ مَن يَشَآءُ ۚ

د فضل او ډیر فراخئ والا دے هرڅه ته خبردے ۵ ورکوی پوهه چاته چه اوغواړی.

وَمَن يُؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ أُوتِيَ خَيْرًا كَثِيرًا ۗ وَمَا يَذَّكَّرُ

او چاته چه پوهه ملاؤ شوه هغه ته لویه خوبی ملاؤ شوه ۵۲۹ او نصیحت هغه خوك

إِلَّآ أُولُوا الْأَلْبَابِ ﴿٢٦٩﴾

قبلوی چه عقل والا دی ۵۳۰

نکات:- ۱ د پاك مال خرچ کولو ترغیب ۲ د خبیث مال خرچ کولو نه منع.

موضح قرآن ف۱ یعنی دخیرات قبلیدو دا شرط هم دے چه مال یے حلال گټلے وی. دحرامو نه وی او بهتر خیز د الله په لاره کښ ورکړی. دا نه چه خراب خیز په خیرات کښ خرچ کړئ چه په ورکړه راکړه کښ تاسو داسے خیز نه قبلوئ لیکن د ناچارئ سره. ځکه چه الله بے پرواه دے محتاج نه دے او د صفتونو والا دے د بنده نه بنه خیز خوښوی ف۲ یعنی چه کله په زړه کښ خیال راشی چه مال به خیرات کښ ورکړم. نو مُفلس (غریب) به شم. او همت راشی په بے حیائی باندے چه د الله تاکید اوریدو سره بیا هم خرچ نه کړی نو پوهه شه چه دا د شیطان د طرفه راغے. او چه کله خیال راشی چه خیرات سره به گناه اوبخښلے شی او الله سره څه کمے نشته چه اوغواړی نو نور به راکړی. نو پوهه شه چه دا د الله د طرفه دے.

تفسیر ۵۲۶ دلته دا حکم ورکړے شوی دے چه د الله په لاره کښ حلال، پاك او غوره شیزونه خرچ کړئ حرام مال او بیکاره شیزونه د الله په لاره کښ مه ورکوئ - دلته امر دُوجوب د پاره دے او دے نه مراد فرض زکوٰة دے ځکه چه د حضرت علی رضی الله تعالٰے عنه عبیده سلمانی او ابن سیرین نقل کړی. عن عبیدة السلمانی قال سألت علیا کرم الله تعالٰے وجهه عن هذه الآیة فقال نزلت فی الزکاة المفروضة (روح ص۳۹ ج۳) فقال علی بن ابی طالب وعبیدة السلمانی وابن سیرین هی الزکاة المفروضة (قرطبی ص۳۲۰ ج۳) د مَا كَسَبْتُمْ نه د تجارت مال او د مَا أَخْرَجْنَا لَكُم مِّنَ الْأَرْضِ نه د زمکے پیداوار مثلاً غله او معدنیات وغیره دی نو دے نه معلومه شوه چه زکوٰة په مال تجارت کښ ځکه فرض دے. دا شان د زمکے پیداوار کښ هم فرض دے. والتفصیل فی کتب الفقه. ۵۲۷ لَا تَيَمَّمُوا د تیمم نه دے چه د دے معنٰی قصد او اراده کول دی. په اصل کښ لا تتیمموا وُو یو تاء د تخفیف د پاره حذف شوه

مِنْهُ تُنْفِقُوْنَ سره متعلق دے. او واو تیمموا د فاعل نه حال مقدره دے. ای لا تقصدوا الخبیث قاصدین الانفاق منه او. وَلَسْتُمْ بِاٰخِذِيْهِ تُنْفِقُوْنَ د ضمیر نه حال دے. او د اَلْخَبِيْثُ نه مراد بیکاره او زَړې څیز دے. الخبیث ای الردی (روح ج۳ ص۴۰) یعنی د زړې او بیکاره څیز د الله په لاره کښې د ورکولو اراده هم مه کوئ. خپل حال اُوګورئ که چرے تاسو ته ستاسو د حقونو د اداَیګئ په سلسله کښې څه زړې څیز درکړے شي نو تاسو د هغې اخستلو ته تیار نه یئ. او د زړه نه یې نه قبلوئ. نو بیا د الله په لاره کښې دا سے ناخوښه څیزونه ولے ورکوئ وَاعْلَمُوْا اَنَّ اللّٰهَ غَنِيٌّ حَمِيْدٌ. دا دے خبرے یقین اُوساتئ چه الله پاک ته ستاسو د صدقاتو ضرورت نشته هغه د دے نه بے پرواه دے. دا احکام محض ستاسو د فائدے او ښېګړے د پاره نازل وی. او هغه د کمال صفتونو سره متصف دے. په دے وجه د هغه کامل په نوم باندے خوره نه غوره، بهترا و پاکیزه څیزونه قربان کړئ. نه چه خراب او بیکاره څیزونه. ۵۲۸ يَعِدُ د وعدٌ نه مشتق دے او وعد په اصل کښې د لغت په اعتبار سره په خیر او شر دواړو کښې مستعمل دے. دلته په قرینه د مابعد شر د پاره دے او د دے معنی تخویف او د وېرولو ده. او اَلْفَحْشَآءِ هر خراب خوئ ته وائي لیکن دلته د دے نه بخل مراد دے. ای الخصلة الفحشاء وهي البخل وترك الصدقات (روح ج۳ ص۴۰) المراد بها فی هذا الموضع البخل (جصاص) حضرت شیخ رحمة الله علیه اوفرمائیل چه و فحشاء نه دلته بخل مراد دے او باقی په اکثرو ځایونو کښې د دے نه زنا مراد ده. مطلب دا دے چه شیطان ستاسو په زړونو کښې دا وسوسه اچوی. چه که چرے مال خرچ کړئ نو دولت به کم شي او فقیران به شئ. د دے قسمه وسوسو اچولو سره تاسو په بخل او کنجوسئ باندے تیزوی. وَاللّٰهُ يَعِدُكُمْ مَّغْفِرَةً مِّنْهُ وَفَضْلًا. لیکن د دے په مقابله کښې الله تعالی د مال په خرچ کولو باندے د ګناه د معافئ او په دولت کښې د اضافے وعده کوی. وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ. الله پاک د وسعت والا دے هغه خرچ کولو همت او په خرچ کولو باندے فراخي ورکوی او هغه د غیب او ښکاره پېژندونکے دے هغه ته معلومه ده چه څوک خرچ کوی او چرته او په کوم نیت سره خرچ کوی. والمراد هنا انه سبحانه وتعالی یعطی من سعة و یعلم حیث یضع ذالک ویعلم الغیب والشهادة (قرطبی ج۳ ص۳۲۹)

۵۲۹ د حکمت نه مراد د دین او دنیا صحیح پوهه ده چه په هر قول او عمل کښې د انسان صحیح رهنمائي کوی. قال مجاهد الاصابة فی القول والفعل (قرطبی ج۳ ص۳۳۰) وعن مجاهد انها الاصابة فی القول والفعل (روح ج۳ ص۴۱) دولت په صحیح مصارفو کښې خرچ کول او په نورو اعمالو او اقوالو کښې هر لحاظ سره د صحیح او سمے لارے اختیارولو پوهه او ملکه د الله ډیر لوئ نعمت دے هغه چه چا ته اُوغواړی نو هغه ته دا ورکړی. دا یو داسے دولت دے چه د دے په ذریعه انسان دیني او دنیوی فائدے حاصلولے شي او د دواړه قسمه نقصانا تو نه بچ کیدے شي هم دا وجه ده چه حکمت ته یې خیر کثیر او وئیلو. ۵۳۰ پند او نصیحت خو هر څوک اوری. لیکن د دے نه فائده هغه خلق اخلی چا ته چه الله پاک حکمت او عقل ورکړو

وَمَا أَنفَقْتُم مِّن نَّفَقَةٍ أَوْ نَذَرْتُم مِّن نَّذْرٍ فَإِنَّ اللَّهَ

او کوم چه خرچ کړئ تاسو خیرات یا قبول کړئ څه منتونه نو بیشکه الله ته تول معلوم

يَعْلَمُهُ ۗ وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ أَنصَارٍ ﴿٢٧٠﴾ إِن تُبْدُوا الصَّدَقَاتِ

دی ٥٣١ او د ظالمانو هیڅوک مددګار نشته دی ٥٣٢ که چرته په ظاهره ورکړئ خیرات ٥٣٣

فَنِعِمَّا هِيَ ۖ وَإِن تُخْفُوهَا وَتُؤْتُوهَا الْفُقَرَاءَ فَهُوَ خَيْرٌ

نو ډیره ښه خبره ده او که چرته هغه پټ کړئ او فقیرانو ته یې ورسوئ نو هغه بهتره ده

لَّكُمْ ۚ وَيُكَفِّرُ عَنكُم مِّن سَيِّئَاتِكُمْ ۗ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴿٢٧١﴾

ستاسو په حق کښې او لرې به کړي څه ګناه ستاسو او الله ستاسو د کارونو نه په خبر دے ٥٣٤

لَّيْسَ عَلَيْكَ هُدَاهُمْ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ يَهْدِي مَن يَشَاءُ ۗ وَمَا

ستا په ذمه نه ده د دوی په لاره راوستل او لیکن الله لارے ته راولی چا ته چه اوغواړی ٥٣٤ الف او کوم

تُنفِقُوا مِنْ خَيْرٍ فَلِأَنفُسِكُمْ ۚ وَمَا تُنفِقُونَ إِلَّا ابْتِغَاءَ

څه چه تاسو خرچ کړئ مال نو د خپل ځان د پاره ٥٣٥ او تر څو چه خرچ کوئ د الله د رضا

وَجْهِ اللَّهِ ۚ وَمَا تُنفِقُوا مِنْ خَيْرٍ يُوَفَّ إِلَيْكُمْ وَأَنتُمْ لَا

د پاره، او کوم څه چه خرچ کړئ د خیرات نه نو پوره به ملاویږي تاسو ته او ستاسو حق

تُظْلَمُونَ ﴿٢٧٢﴾ لِلْفُقَرَاءِ الَّذِينَ أُحْصِرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ لَا

به نه پاتے کیږي. خیرات د هغه فقیرانو د پاره دے چه بند شوي وي د الله په لاره کښې ٥٣٦ او ګرزیدے

يَسْتَطِيعُونَ ضَرْبًا فِي الْأَرْضِ يَحْسَبُهُمُ الْجَاهِلُ أَغْنِيَاءَ

نه شي په ملک کښې ٥٣٦ الف د مالدار د هغوی په خیال کوی په هغوی باندے ناخبره

مِنَ التَّعَفُّفِ تَعْرِفُهُم بِسِيمَاهُمْ لَا يَسْأَلُونَ النَّاسَ

سوال نه کولو سره. ته پیژنے هغوی لره د هغوی د مخ نه نه کوی سوال د خلقو نه په

٣٧ ع ٥ إِلْحَافًا ۗ وَمَا تُنفِقُوا مِنْ خَيْرٍ فَإِنَّ اللَّهَ بِهِ عَلِيمٌ ﴿٢٧٣﴾

اختلو سره او کوم څه چه خرچ کوئ تاسو د کار خیر هغه بیشکه الله ته معلوم دے ٥٣٧

موضح قرآن

ف یعنی منښته یې قبوله کړه نو واجب شو که اوس یې ونکړی نو ګنهګار دے. نذر د الله نه سوا د بل چا د پاره پکار نه دے لیکن داسے دِ وائی چه د الله د پاره فلانی کس ته ورکوم ته مختار یې. ف۲ که چرے نیت د ښودنے نه وی نو خیرات په ښکاره هُم بهتر دے چه نورو ته ترغیب ورکړے شی او په پټه هُم بهتر دے چه اخستونکے او نه شرمیږی. ف۳ یعنی ډیر ثواب دے هغوی ته ورکړه څوک چه د الله په لاره کښی بند شوے وی. مزدوری هُم نه کوی او خپل حاجت هُم نه ښکاره کوی څنګه چه د نبی علیه السلام صحابه اهل صُفه وُو کورونه یې پریخودل او د نبی علیه السلام صُحبت یې اختیار کړے وو. د علم زده کولو او د جهاد کولو د پاره داشان اوس هُم چه څوک په حفظ قران یا د علمِ دین په حاصلولو کښی مشغول وی نو په خلقو لازم دی چه د هغوی مدد اوکړی.

فتح الرحمٰن

ف یعنی په جهاد کښی د مشغولیدو په وجه کسب نه شی کولے.

تفسیر

۵۳۱ تاسو چه کوم صدقه کوئ خواه فرضی وی یا نفلی د الله په لاره کښی یا د شیطان په لاره کښی لږه وی یا ډیره. داشان تاسو چه کوم نذر منښته کوئ خواه هغه د الله د تعظیم او رضا د پاره وی خواه د غیر الله د تعظیم او رضا د پاره. الله د هغے نه بے خبره نه دے تهولو نه خبر دے او هر یو ته به پوره د هغے جزاء ورکوی. وما انفقتم من نفقة فی سبیل الله او فی سبیل الشیطٰن او نذرتم من نذر فی طاعة الله او فی معصیة فان الله یعلمه لا یخفی علیه وهو مجازکم علیه (مدارک ج۱ ص۱۰۶) حضرت شیخ رحمة الله علیه فرمائی چه د نذر دوه معنے دی یوه مشهوره چه د هغے صله علیٰ راځی دویمه معنیٰ عهد او معاهده کول چه د هغے صله الی راځی. دلته دویمه معنی مراد ده دے د پاره چه د حدیث مخالفت لازم نه شی. چه نذر سره د بخیل د مال نه خرچ کول وی. لهٰذا معنی به دا شی چه تاسو کوم عهد او پیمان اوکړئ چه تاسو به د خُدائ د رضا د پاره ورکړه کوئ لهٰذا وعده پوره کړئ او مال ورکړئ.

۵۳۲ د الله د احکامو نه انکار کول او په خپل حق کښی نا انصافی او ظلم کونکو د پاره څوک مددګار نشته چه هغوی د دے ظلم د بد انجام یعنی د الله د عذاب نه بچ کړی نه د طاقت په ذریعه او نه د سفارش په ذریعه. ای اعوان ینصرونه من بأس الله تعالیٰ لا شفاعة ولا مدافعة (روح ج۳ ص۴۳) د ظالمین لفظ عام دے. تهول ریا کار خیرات کولو سره احسان ضایع کولو والا د الله په لاره کښی بیکاره څیزونه ورکونکی. ناجائزه ځایونو کښی دولت خرچ کونکی د شریعت نه خلاف نذر کونکی او د الله په لاره کښی نه خرچ کونکی وغیره تهول په دیکښی داخل دی. فیشمل المنفقین بالریاء والمن والاذی والمتحرین للخبیث فی الانفاق والمنفقین فی باطل والناذرین فی معصیة والممتنعین عن اداء ما نذروا فی حق والباخلین بالصدقة مما اتاهم الله تعالیٰ من فضله (روح ج۳ ص۴۳) ۵۳۳ د صدقاتو نه دلته د جمهورو په نزد نفلی صدقات مراد دی. او مطلب دا دے چه که چرے نفلی صدقات علانیه غریبانو ته ورکړے شی نو دا هُم ښه خبره ده ځکه چه د دے سره به د نورو په زړونو کښی هُم د خیرات جذبه بیداره شی او که چرے نفلی صدقات په پټه ورکړے شی نو دا د علانیه ورکړے نه بهتره ده. په دے طریقه سره عمل

دریاکارئ نه محفوظ شی. لیکن په فرضی عملونو کښی مثلاً زکوٰة، د رمضان روژے او د فرض مونځ اظهار بهتر دے چه د فرضو پریښودلو د الزام نه بچ پاتے شی. والمراد من الصدقات علی ما ذهب الیه جمهور المفسرین صدقات التطوع (روح ج ۳ ص ۴۵) ذهب جمهور المفسرین الی ان هذه الآیة فی صدقة التطوع لان الاخفاء فیها افضل من الاظهار وکذلک سائر العبادات الاخفاء افضل فی تطوعها لانتفاء الریاء عنها ولیس کذلک الواجبات قال الحسن اظهار الزکوٰة احسن واخفاء التطوع افضل (قرطبی ج ۳ ص ۳۳۲) وَيُكَفِّرُ عَنكُم مِّن سَيِّئَاتِكُمْ. د دے نیکو په برکت سره به ستاسو خطا ګانے معاف کړی. وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ۔ الله تعالی دخپل عالم الغیب، خبیر، بصیر او د حاضر ناظر کیدلو نظریه بیا بیا ذکر کیږی. ځکه چه د ګناهونو نه د بچ کیدلو د تولو نه زیات مؤثر او اکسیر نسخه یس همدا دی.

۵۳۴ بعضے مسلمانانو په دے خیال سره خپلو کافرو رشته دارو ته صدقه نه ورکوله چه کیدے شی د تنګ ستئ او غریبئ د وجے نه ایمان راوړی. نو الله پاک دا ایت نازل کړو چه دوی ته صدقه ورکوئ پاتے شو د دوی هدایت نو تاسو د دے ذمه دار نه یئ. هغه د الله په اختیار کښی دے چا ته چه اُو غواړی نو ورکوی. کَانَ نَاسٌ من الانصار لهم قرابات من بنی قریظة والنضیر وکانوا لا یتصدقون علیهم رغبة منهم فی ان یسلموا اذا احتاجوا انزلت الآیة بسبب اولئك (قرطبی ج ۳ ص ۳۳۷)

۵۳۵ ستاسو صدقاتو سره اګرچه حاجتمندو ته فائده رسیږی. لیکن دا فائده دُنیوی او فانی ده دے نه به اصلی فائده تاسو اخلئ ځکه چه د دے صدقاتو ثواب به تاسو ته ملاویږی په اخرت کښی. وَمَا تُنفِقُونَ. دا لفظاً خبر دے لیکن معناً نهی ده یعنی تاسو د الله درضا طلب کولو نه سوا د بل کوم غرض د پاره مثلاً ریاکارئ وغیره د پاره خیرات مه کوئ. الثانی ان هذا وان کان ظاهره خبرا الا ان معناه نهی ای ولا تنفقوا الا ابتغاء وجه الله (کبیر ج ۲ ص ۵۳۲) وَمَا تُنفِقُوا الخ دا جُمله د ماقبل تاکید دے او په دیکښی د اخلاصِ نیت ترغیب دے مطلب دا دے چه په اخلاصِ نیت سره ستاسو خرچ شوے مال به نه تنی ضائع کولے. بلکه تاسو ته به د هغے پوره اجر او ثواب ملاویږی. او ستاسو یوه ذره برابر حق تلفی نه کیږی.

۵۳۶ للفقراء د مبتداء محذوف خبر دے. ای هذه الصدقات للفقراء (مدارک ج ۱ ص ۱۰۲) یعنی د دے صدقاتو اصلی مستحق هغه خلق دی کوم چه د الله په لاره کښی ګیرشوی دی. مراد ترے مجاهدین او علم دین طالبان دی. چه هغوی ته د دین د کارونو نه دومره فراغت نه ملاویږی چه هغوی په خپله څه روزګار اوکړی. په اصل کښی دا ایت د اهلِ صُفه په حق کښی نازل شوے وُو. دا کم وزیات درے سوه فقیران مهاجرین وُو چه د دوی څه کاروبار نه وُو دا خلق به هروخت د نبی علیه السلام په خدمت کښی حاضر اُوسیدل او علمِ دین به یے حاصلولو. او که چرے ضرورت به وُو نو جهاد کښی به شاملیدل. يَحْسَبُهُمُ الْجَاهِلُ أَغْنِيَاءَ. دا فقیر او محتاج مجاهدین او دِین طالبان چونکه سوال نه کوی او د خلقو نه خیرات او صدقات نه غواړی په دے وجه چه کوم خلق د دوی د حال نه واقف نه دی هغوی دوی دولتمند ګنړی. تَعْرِفُهُم بِسِيمَاهُمْ. د سیما معنیٰ علامت او نشانی ده. او د الحاف معنیٰ ده اصرار او الحاح یعنی په

غوښتلو کښې ضد کوي او د اخستلو نه بغیر نه واپس کیدل. مطلب دا چه د دوی مفلسئ د دوی
د مخونو ظاهري حالت د دوی د عاجزئ او انکسارئ نه معلومیږي. لیکن هغوي د چا نه
هرګز سوال نه کوي. الحافًا د سوالاً محذوف صفت دے او مطلب دا دے چه هغوي په الحاح
او اصرار سره سوال نه کوي. د دینه معلومه شوه چه که چرے د ضرورت په وخت بغیر د الحاح
نه سوال او کړے شي نو جائز دے ځکه چه په سورة توبه کښې دے آیت نه معلومیږي. وَلَا
عَلَى الَّذِيْنَ اِذَا مَا اَتَوْكَ لِتَحْمِلَهُمْ قُلْتَ لَاۤ اَجِدُ مَاۤ اَحْمِلُكُمْ عَلَيْهِ (توبه ع ۱۲) وَمَا تُنْفِقُوْا
مِنْ خَيْرٍ فَاِنَّ اللّٰهَ بِهٖ عَلِيْمٌ۠ تاسو چه کوم څه خرچ کوئ هغه د الله په علم کښې دي هغه
به تاسو ته د دے پوره پوره جزا درکړي۔

اَلَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ بِالَّيْلِ وَالنَّهَارِ سِرًّا وَّعَلَانِيَةً

کوم خلق چه خرچ کوي خپل مال د الله په لاره کښې د شپے او د ورځے په پټه او ښکاره نو

فَلَهُمْ اَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ ۚ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ

دوی د پاره دے ثواب د دوی د خپل رب سره او نه ویره شته په دوی او نه به هغوی

يَحْزَنُوْنَ ۝۲۷۴ اَلَّذِيْنَ يَاْكُلُوْنَ الرِّبٰوا لَا يَقُوْمُوْنَ اِلَّا

غمژن وي ۵۳۶ کوم خلق چه خوري سود نه به پاسي د قیامت په ورځ لیکن

كَمَا يَقُوْمُ الَّذِيْ يَتَخَبَّطُهُ الشَّيْطٰنُ مِنَ الْمَسِّ ؕ ذٰلِكَ

څنګه چه پاسي هغه کس چه د هغه حواس خراب شوے وي د پیرئ اخته کیدلو سره ۵۳۸ دا حالت

بِاَنَّهُمْ قَالُوْۤا اِنَّمَا الْبَيْعُ مِثْلُ الرِّبٰوا ۘ وَاَحَلَّ اللّٰهُ الْبَيْعَ

د دوی د دے وجے نه شو چه دوی وئیل چه سوداګري هم دا شان ده ځکه چه سود اخستل ۵۳۹ حالانکه الله

وَحَرَّمَ الرِّبٰوا ؕ فَمَنْ جَآءَهٗ مَوْعِظَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ فَانْتَهٰى

حلال کړیده سوداګري او حرام کړیدے الله سود. بیا چه چا ته اُورسیده نصیحت د خپل رب د طرفه او هغه منع شو

فَلَهٗ مَا سَلَفَ ؕ وَاَمْرُهٗۤ اِلَى اللّٰهِ ؕ وَمَنْ عَادَ فَاُولٰٓئِكَ

نو هغه د پاره دي کوم څه چه مخکښې اُوشو ۵۴۰ او معامله د هغه الله ته حواله ده ۵۴۱ او څوک چه بیا سود واخلي ۵۴۲

اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ۝۲۷۵ يَمْحَقُ اللّٰهُ الرِّبٰوا

نو هم دا خلق دي د دوزخ والا هغوی به پکښې همیشه اُوسي ۵۴۳ ختموي الله پاک سود او

وَيُرْبِي الصَّدَقٰتِ ۗ وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ كَفَّارٍ اَثِيْمٍ ﴿٢٧٦﴾

زیاتوی خیراتونه لـ۲ـه او الله خوشحاله نه دے دیو ناشکر گنهگار نه ولـ۳ـه

نکات: ۱ـ دغه خلقو د پاره زورنه کوم چه د الله په لاره کښې د خرچ کولو په ځائې سود اخلي. ۲ـ تخويفِ اُخروی. ۳ـ کامله درجه مراد ده.

موضح قرآن

ف۱ تر دے ځائې پورے د خیرات بیان وو ذکر شو اوس دا فرمائی چه سود اخستل حرام کړو. چه کله خیرات منظور وی نو ورته قرض ورکول بهتر دی. ولې چه سود کښې دا دی چه قرض ورکړي او بیا د هغې نه زیات واپس اخستے شی یعنی د منع نه مخکښې نو دنیا کښې دهغې واپس کول نشته او آخرت کښې د الله اختیار دے چه اوغواړي نو بخښنه به اوکړي. باقی د منع نه روستو بیا چه څوک اخلي نو هغه دوزخي دے او د خدائ د حکم په مخکښې د عقل راوړلو د هغې دغه سزا ده کوم چه اوفرمائیل. ف۲ یعنی مالدار کیږي و سره محتاج ته قرض هم مفت نه ورکول نو څوچه سود واخلي دا د نعمت ناشکري ده.

فتح الرحمٰن

ف۱ یعنی سود که د تحریم د ایت نه مخکښې اخستلے شوے وی نو د هغې واپس کول لازم نه دی. ف۲ یعنی د حرام کارخوړلو نه روستو.

تفسیر

۵۳۷ـه په دے ایت کښې الله تعالیٰ هر وخت او په هر حال کښې د خیرات کولو او د دین په خدمت کښې د مال خرچ کولو ترغیب ورکړے دے. د لیل و نهار نه عموم اوقات او د سِر او علانیه نه عموم احوال مراد دی. لیل یې په نهار باندے مقدم کړو او دے طرفته یې اشاره کړې ده چه په صدقه کښې اخفا او پټه ورکړه افضله او بهتره ده. المراد بالليل والنهار جميع الاوقات كما ان المراد بما بعده جميع الاحوال وقدم الليل على النهار والسر على العلانية للايذان بمزية الاخفاء على الاظهار (روح ج۳). ۵۳۸ـه د دے ځائې نه د هغه خلقو بیان شروع کیږي چه د الله په لاره کښې د خرچ کولو په ځائې چا ته د قرضِ حسنه ورکولو د پاره هم تیار نه وی که چرے چا ته قرض ورکوی نو هغه هم په سود باندے. دا د هغه خلقو د پاره زجر دے څوک چه په دنیا کښې سود اخلي د قیامت په ورځ به د هغوی حشر داشان وی چه کله د قبرنه پاسي نو هغوی به وارخطا وی او د هغه سړی پشان به بے سوچه په تیندکونو د حشر میدان ته روان وی لکه چه شیطان هغه ته لاس اچولے وی - او بے عقله کړے یې وی د قیامت په ورځ به د سود خورو دا خصوصي نښه وی چه هر څوک به یې د دے سره پیژني. او دا په میدان محشر کښې د هغوی د رسوا کولو یوه طریقه ده. ولعل الله تعالىٰ جعل ذالك علامة له يعرف بها يوم الجمع الاعظم عقوبة له كما جعل لبعض المطيعين امارة تليق به يعرف بها كرامة له (روح ج۳) وقالوا كلهم يبعث كالمجنون عقوبة له تمقيتا عند جميع اهل المحشر (قرطبی ج۳) امام سید محمود آلوسي فرمائي چه د شیطان مَس سره د جنون پیدا کیدل د طبیبانو د دے تحقیق خلاف نه دے چه جنون د غلبه سودا نه پیدا کیږي ځکه چه د بوشیز ډیر سببونه کیدے شي د جنون نزدے سبب خو د سوداء غلبه ده لیکن سبب بعید یې د شیطان مَس دے کوم طرفته چه

قران اشاره کړيده مثلاً دا ممکن ده چه ديو انسان په اخلاطِ فاسده کښې د جنون پيدا کولو استعداد د خپل کمال ته اورسي او د هغه نه روستو مَس شيطاني سره بالفعل جنون پيدا شي ليکن ضروري نه ده چه هر شيطاني مَسّ د جنون سبب وي او نه دا ضروري ده چه هر جنون کښې د شيطاني مس دخل وي (روح ج۳ ص۴۹) ۵۳۹ ذالك سره عذاب طرفته اشاره ده ذالک العقاب (مدارک ج۱ ص۱۰۴) ذالک اشارة الى الاکل او الى ما نزل بهم من العذاب (روح ج۳ ص۴۹) دا هغوی ته د هغه جُرم سزا ورکولے شي چه هغوی تجارتي کاروبار او سُودي کاروبار يو شان اوګرځولو. وَاَحَلَّ اللّٰهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبٰوا، حالانکه دا دواړه څيزونه برابر نه دي. په ديکښې د زمکے او اسمان فرق دے ځکه چه تجارت الله پاك جائز او حلال ګرځولے دے او سُود يے حرام کړيدے چه کله د سُود حُرمت نازل شو نو کافرانو سُود خوړو ددے په جواب کښې الزامي طور بانديے اوويل چه بيع هُم د رِبا په شان د نفع ګټلو يوه طريقه ده لهٰذا که چرے رِبا حرام ده نو د بيع او شراء په ذريعه هُم نفع ګټل حرام کيدل پکار دي داهغوی الزامًا اوويل حالانکه دا وئيل پکار وُو چه رِبا هُم د بيع په شان ده لهٰذا ځنګه چه بيع جائز دے داشان رِبا هُم جائز کيدل پکار دي.

۵۴۰ د سُود حُرمت نازليدو نه روستو چا چه د سُود اخستلو او ددے د جائز ګڼړلو نه توبه کړه او س به په تيره شوے ګناه بانديے د هغه مؤاخذه نه وي او کوم سُود چه هغوی اخستے دے د هغے واپس کول ضروري نه دي چه کوم يے واخستو نو بس وايے خسته ما تقدم اخذه قبل التحريم لا يسترد منه (روح ج۳ ص۵۰) وَاَمْرُهٗۤ اِلَى اللّٰهِ. او د اخرت معامله الله پاك ته سپارل شويده که اوغواړي هغه به معاف کړي. وَمَنْ عَادَ فَاُولٰٓئِكَ الخ د سُود د حُرمت نه روستو چه څوك بيا سُود اخستل شروع کړي او هغه جائز ګڼړي نو د هغه سزا جهنم دے. او هغه به په ديکښې هميشه وي. دا د نافرماني کامله درجه ده قران هميشه د کُفر او ايمان کامله درجے بيانوي ځنګه چه د الله پاك ارشاد دے مَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْكٰفِرُوْنَ. په مسند احمد کښې دي چه د مَنْ لَّمْ يَحْكُمْ معنى ده من لم يعتقده. نو په دے سره هُم دے طرفته اشاره چه دلته د عدمِ حُکم کامله درجه مراد ده يعني انکار. په دے وجه په دے باندے د کُفر اطلاق شويدے. ۵۴۱ د محق معنى باطلول او کمول دي. والمحق النقص والذهاب (قرطبي ج۳ ص۳۶۲) مطلب دا دے چه رِبا سره ګټلے شوي دولت کښې برکت نه دي اګرچه مقدار کښې زيات وي او د کوم مال سره چه سُود يو ځائ شي د هغے انجام به ضياع وي او هغه مال به يو وخت ضائع او برباد شي. يذهب بركته ويهلك المال الذي يدخل فيه (مدارک ج۱ ص۱۰۴) د دے برعکس د الله په لاره کښې خرچ کولو او خيرات کولو سره په مال کښې برکت وي. او مال زياتيږي ينميها ويزيدها اي يزيد المال الذي اخرجت منه الصدقة ويبارك فيه (مدارک ج۱ ص۱۰۴) وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ كَفَّارٍ اَثِيْمٍ. كَفَّار د کافر مبالغه ده يعني کوم خلق چه د سُود حلال ګڼړلو د لوئ کُفر مرتکب دي او ددے سره د سُود کاروبار په ګناه کښې ګير دي الله تعالىٰ هغوی لره نه خوښوي عظيم الکفر باستحلال الربا متمادٍ في الاثم باکله (مدارک ج۱ ص۱۰۴) سُود خوړو او سُود حلال ګڼړو نکو ته د خو شخبرۍ اوروُلو نه روستو وړاندے د هغه خلقو باره د خوشخبرۍ اوروُلو بيان دے څوك چه د ايمان راوړلو

نه روستو تول مالي او بدني عبادتونه کوي او سود اخستل خو پریږده صفتونه د الله په لاره کښې په فراخ زړه سره مال خرچ کوي۔

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ

کوم خلقو چه ایمان راوړو او عمل یې نیک اوکړو او قائم یې کړو مونځ

وَآتَوُا الزَّكَاةَ لَهُمْ أَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ

او ورکوله یې زکوٰة دوی د پاره دے ثواب د دوی د خپل رب سره او نه هغوی ته ویره ده

عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٢٧٧﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا

او نه به هغوی غمژن وي ﴿٢٧٧﴾ اے ایمان والو! او ویرېږئ

اللَّهَ وَذَرُوا مَا بَقِيَ مِنَ الرِّبَا إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ ﴿٢٧٨﴾

د الله نه او پرېږدئ کوم څه چه باقي پاتې شویدي سود که چیرے ستاسو یقین دے د الله وینا ﴿٢٧٨﴾

فَإِنْ لَمْ تَفْعَلُوا فَأْذَنُوا بِحَرْبٍ مِنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ ج

بیا که چیرے نه پرېږدئ نو تیار شئ جنګ ته د الله او د هغه د رسول سره ﷺ

وَإِنْ تُبْتُمْ فَلَكُمْ رُءُوسُ أَمْوَالِكُمْ لَا تَظْلِمُونَ وَلَا

او که چیرے توبه کوئ نو ستاسو د پاره دے اصل مال ستاسو نه به تاسو په چا ظلم کوئ او نه

تُظْلَمُونَ ﴿٢٧٩﴾ وَإِنْ كَانَ ذُو عُسْرَةٍ فَنَظِرَةٌ إِلَىٰ مَيْسَرَةٍ

د خول به تاسو ظلم کوي ﴿٢٧٩﴾ او که چیرے وي تنګدست نو مهلت ورکول پکار دي د فراخۍ کیدو پورې

وَأَنْ تَصَدَّقُوا خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٢٨٠﴾ وَاتَّقُوا

او چه بخښنه اوکړئ نو ډیره بهتره ده ستاسو د پاره که چیرے تاسو پوهیږئ ﴿٢٨٠﴾ او وېرېږئ

يَوْمًا تُرْجَعُونَ فِيهِ إِلَى اللَّهِ قف ثُمَّ تُوَفَّىٰ كُلُّ

د هغه ورځے نه چه په کومه ورځ به واپس کړے شئ الله طرفته بیا به پوره ورکړے شي هر کس

٣٨ ع نَفْسٍ مَا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿٢٨١﴾

ته کوم څه چه هغه حاصل کړو او په هغوی باندے به ظلم نه کیږي ﴿٢٨١﴾

موضح قرآن

ف۱ د منع کیدو نه وړاندې اخستې شي او د منع راتلو نه روستو ځتلې سود مه غواړئ. ف۲ که مخکینی اخستې شوې سود ستا سو د اصل مال نه حساب کړی نو په تاسو ظلم وشي او که روستني سود غواړئ نو دا ستاسو ظلم دے. ف۳ چه کله مو اولیدل چه سود حرام کړے شو نو زر تاسو غوښتل او کړئ بلکه تنګ سنه ته مهلت ورکړئ او که وَس مو کیږي نو هغه قرض ورته اوبخښئ.

تفسیر

۵۴۲ د دے ایت تفسیر مخکښې تیر شویدے. ۵۴۳ د قبیله ثقیف ځینې خلقو د اسلام قبولولو نه مخکښې بنو مغیره ته په سود باندے قرضه ورکړے وه د سود د حُرمت نازلیدو نه روستو خلقو دا خیال اوکړو چه د حُرمت د نزول نه مخکښې چه کومے سودی معاهدے شویدی په هغې باندے د دے حُرمت اطلاق نشته. د ایت مطلب دا دے چه اُمده د پاره دِ د هیڅ سودی کاروبار معاهده اُو نکړے شي. د دے غلط فهمۍ په وجه هغوی د بنو مغیره نه د سود د رقمونو مطالبه اوکړه لیکن بنو مغیره د دے وئیلو وئیلو سره د سود ورکولو نه انکار اوکړو چه په اسلام کښې سود حرام شویدے او دا کُول ساقط شویدی چه کله دا معامله د نبي ﷺ په خدمت کښې پیش شوه نو دا ایت نازل شو. چه کله د بنو ثقیف خلقو دا ایت واؤریده نو هغوی فوراً دا مطالبه پرېښوده رضی الله عنهم وارضاهم. (قرطبی ص۳۶۳ ج۳، روح ص۵۲ ج۳، کبیر ص۵۲ ج۳) مطلب دا دے چه کوم سود تاسو مخکښې اخستې دے د هغې د واپس کولو مطالبه ستاسو نه اسلام نه کوي. لیکن چه کوم ربا د قرضدار په ذِمه باقي ده د هغې د اخستلو اجازت نشته. د ایمان تقاضا دا ده چه د خُدائ د حکم په وړاندے څوک نه ګنته کړئ او د هغه د نافرمانۍ نه منع شئ.

۵۴۴ د سود خورو د پاره دا سخت وعید دے او زبردست زجر دے یعنې سود خورو که چرے تاسو د سود د خوراک نه نه منع کیږئ نو تاسو سره د خُدائ او د هغه د رسول د طرف د جنګ اعلان دے. اوس د هغې جنګ د پاره تیار شئ چونکه د اسلامی حکومت سربراه د احکامِ شریعت او د اسلام ائین نافذ کولو کښې د خُدائ او د رسول الله ﷺ نائب وی د دے وجې نه د سود خورو سره جنګ ته عملی جامه اغوستول د هغه فرض دی که چرے سود خور سود حلال ګنړی نو هغه مُرتد دے ځکه چه هغه د خُدائ حرام کړے شوے څیز حلال اُوګنړلو. په دے وجه د ارتداد په وجه به د هغه سره جنګ کولے شي او که چرے هغه سود حلال اُو نه ګنړلو لیکن سود اخستل یې پرے نخودل نو د اسلامی حکومت د ائین نه باغی دے په دے وجه د هغه سره جنګ لازم دے. فَإِن لَّمْ تَفْعَلُوا ای ما امرتم به من الاتقاء وترك البقايا اما مع انكار حرمته واما مع الاعتراف فاذنوا بحرب من الله ورسوله وهو حرب المرتدين على الاول وحرب البغاة على الثاني (روح ص۵۲ ج۳، قرطبی ص۳۶۳ ج۳، خازن ص۲۵۲ ج۱).

۵۴۵ که چرے تاسو اُمده د پاره د سود اخستلو نه توبه کړه نو تاسو خپل رأس المال اخستے شئ لیکن د دے نه زیات اخستلو اجازت نشته د دے د پاره چه په مقروض باندے ظلم اونشي او نه په تاسو باندے. نن صبا چه د ځینو خلقو په دِماغو باندے د بینک سود د حلالولو بُخار سور دے هغوی وائي چه سود صرف هغه حرام دے په کوم کښې چه یو فریق باندے ظلم وی او

دېنک په سود کښې په چا باندې ظُلم نشته بلکه دا معامله د فریقینو رضامندۍ سره کیږي لهٰذا دا جائز دے. خدای پوهیږي چه دوی په ذهنونو کښې د ظُلم کوم قِسم تصور ځائې نیولے ؤ چه قرآن مجید خو د اصل رقم نه زیات رقم وصولول دیو فریق په حق کښې ظُلم گرځولے دے. په دے آیت کښې الله پاک قرض خواه ته حُکم ورکړو چه ته تېول اصل مال اخستلے شے. لیکن د دے نه زیات اخستلو اجازت نشته او نه د اصل رقم پرېښودلو مطالبه ده دے د پاره چه تاسو دواړه فریقه د ظُلم نه بچ شئ ځکه چه د مقروض نه د قرض د مقدار نه زیات وصولول د هغه په حق کښې ظلم دے او د قرض خواه په رأس المال کښې کمے کول د دهٔ په حق کښې ظلم دے۔ لا تظلمون فرما ئکم باخذ الزیادة ولا تظلمون انتم من قبلهم بالنقص من رأس المال (روح ج۳ ص۵۳) وان کان تامه دے او ذو عُسرة د هغه فاعل دے. فنظرة کښې فاء جزائیه ده او نظرةٌ مصدر دے او د دے معنیٰ مُهلت ورکول دي او دا مبتدا دے او د دے خبر محذوف دے یعنی فعلیکم نظرة (روح ج۳ ص۵۳) مطلب دا دے چه که چرے مقروض تنګدست وي او فوري طور باندے ستاسو رأس المال نه شي واپس کولے نو هغه ته مُهلت ورکړئ او چه کله هغه د قرض ادا کولو قابل شي نو هغه وخت د هغه نه خپل حق وصول کړئ۔

۵۹۶ اَنْ مصدریه دے او جمله په تاویل د مفرد مبتدا ده او خیرلکم د دے خبر دے اول یے د قرض په مطالبه کولو کښې د نرمۍ معامله کولو تلقین ورکړو. او س دلته یے بالکل د اصل رأس المال د مطالبه نه د لاس اخستلو ترغیب ورکړو یعنی که چرے مقروض دومره غریب وي چه قرض نه شي ادا کولے نو تاسو هغه معاف کړئ دا ښان به تاسو ته نور هُم زیات ثواب ملاویږي یعنی د مُهلت ورکولو په نسبت دیکښې زیات ثواب دے. ای اکثر ثوابا من الانظار (روح ج۳ ص۵۳) یعنی ان التصدق خیرلکم وافضل لان فیه الثناء الجمیل فی الدنیا والثواب الجزیل فی العقبیٰ. (خازن ج۱ ص۲۴۳) دا اُخروي خوشخبري وه او س وړاندے اُخروي تخویف دے۔

۵۹۷ د دے آیت اوله حصه کښې د بدعملو نه د بچ کیدو او په دویمه حصه کښې د نیکو عملونو په ځائې دراوړلو ترغیب دے. د یوما نه مراد د قیامت ورځ ده. د قیامت د ورځے د ویرے او هیبت د وجے د گناهونو نه د بچ کیدو جذبه پیدا کیږي. او د دے آورېدلو سره چه هلته به بے انصاف نه وي بلکه د عملونو پوره پوره جزا به ورکولے شي. زړهٔ کښې د نیکو عملونو زیات شوق پیدا کیږي. تر دے ځایه د جهاد او انفاق مضمون سره د متعلقاتو ختم شو. او س وړاندے به دریم نمبر دا انتظامي اُمورو ذِکر کولے شي. په آئنده رکوع کښې بیان کړے شویدي چه چرے په قرض باندے لین دین اوشي نو د هغے لیکل پکار دي په دے ضمن کښې د تحریر لیکلو، د شهادت او رهن (گانړه) احکام هُم بیان شویدي. دا ټول اُمور انتظامیه دي. دا احکام د دے د پاره ذِکر شویدي چه د مُسلمانانو په خپلو کښې معاملات تو انتظام په ښه طریقه اوچلیږي. او په خپلو کښې جنگ جګړه پیدا نه شي۔

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا تَدَايَنْتُمْ بِدَيْنٍ اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى

اے ایمان والو! چه کله تاسو په خپلو کښې معامله اوکړئ د قرض د یو مقرر وخت پورے

فَاكْتُبُوْهُ ۭ وَلْيَكْتُبْ بَّيْنَكُمْ كَاتِبٌۢ بِالْعَدْلِ ۠ وَلَا يَاْبَ كَاتِبٌ

نو هغه اوليکئ ۵۴۸ او پکار دی چه اوليکي ستاسو په مينځ کښې څوک ليکونکے په انصاف سره ۵۴۹ او انکار دِ

اَنْ يَّكْتُبَ كَمَا عَلَّمَهُ اللّٰهُ فَلْيَكْتُبْ ۚ وَلْيُمْلِلِ الَّذِيْ عَلَيْهِ

نه کوي ليکونکے د دے نه چه اوليکي څنګه اوښودل الله هغه ته نو هغه له پکار دی چه اوليکي او بيان دِ کړي

الْحَقُّ وَلْيَتَّقِ اللّٰهَ رَبَّهٗ وَلَا يَبْخَسْ مِنْهُ شَيْـــًٔـا ۭ فَاِنْ كَانَ

هغه سړے چه په هغه قرض دے او دِ اوويريږي د الله نه چه د هغه رب دے او نه دِ کموي د هغے نه ۵۵۰ بيا که هغه سړے

الَّذِيْ عَلَيْهِ الْحَقُّ سَفِيْهًا اَوْ ضَعِيْفًا اَوْ لَا يَسْتَطِيْعُ اَنْ يُّمِلَّ

چه په هغه قرض دے بے عقله وي يا کمزورے دے يا په خپله بيان نه شي کولے ۔ نو بيان دِ

هُوَ فَلْيُمْلِلْ وَلِيُّهٗ بِالْعَدْلِ ۭ وَاسْتَشْهِدُوْا شَهِيْدَيْنِ مِنْ

اوکړي د هغه کارکوونکے په انصاف سره ۵۵۱ او ګواه کړئ دوه ګواهان د خپلو سړو نه

رِّجَالِكُمْ ۚ فَاِنْ لَّمْ يَكُوْنَا رَجُلَيْنِ فَرَجُلٌ وَّامْرَاَتٰنِ مِمَّنْ

بيا که چرے نه وي دوه سړي نو يو سړے او دوه ښځے د هغه خلقو نه کوم چه

تَرْضَوْنَ مِنَ الشُّهَدَاۗءِ اَنْ تَضِلَّ اِحْدٰىهُمَا فَتُذَكِّرَ اِحْدٰىهُمَا

تاسو خوښوئ د ګواهانو نه د دے د پاره چه که چرے هير شي د يوے نه په دوي کښې نو وريادوه به کړي هغه

الْاُخْرٰى ۭ وَلَا يَاْبَ الشُّهَدَاۗءُ اِذَا مَا دُعُوْا ۭ وَلَا تَسْــَٔـمُوْٓا

نه هغه بله ۵۵۲ او انکار دِ نه کوي ګواه کوم وخت چه هغوي اوبللے شي او سستي مه کوئ

اَنْ تَكْتُبُوْهُ صَغِيْرًا اَوْ كَبِيْرًا اِلٰٓى اَجَلِهٖ ۭ ذٰلِكُمْ اَقْسَطُ عِنْدَ

د هغے د ليکلو نه وړوکے دی معامله يا لويه د هغے د نيټے پورے ۵۵۳ دا کښې پوره انصاف دے د الله

اللّٰهِ وَاَقْوَمُ لِلشَّهَادَةِ وَاَدْنٰٓى اَلَّا تَرْتَابُوْٓا اِلَّآ اَنْ تَكُوْنَ

په نزد او ډير صحيح ساتونکے دے ګواهۍ لره او نزدے دے چه په شبه کښې پرے نه وځئ ۵۵۴ ليکن دا چه سودا وي

تِجَارَةً حَاضِرَةً تُدِيرُونَهَا بَيْنَكُمْ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ

نشته په تاسو ګناه چه راکړه ورکړه کوئ یې په خپل مینځ کښې لاس په لاس

أَلَّا تَكْتُبُوهَا ۗ وَأَشْهِدُوا إِذَا تَبَايَعْتُمْ ۚ وَلَا يُضَارَّ كَاتِبٌ وَ

چه ونه لیکئ یې او ګواه جوړ کړئ کله چه تاسو سودا کوئ ۵۵۵ او نقصان دې نه کړی لیکونکے او

لَا شَهِيدٌ ۚ وَإِن تَفْعَلُوا فَإِنَّهُ فُسُوقٌ بِكُمْ ۗ وَاتَّقُوا اللَّهَ ۖ

نه ګواه او که چیرے داسے کوئ نو دا ګناه خبره ده په تاسو کښې. او ویریږئ د الله

وَيُعَلِّمُكُمُ اللَّهُ ۗ وَاللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿٢٨٢﴾

نه او الله تاسو ته پوهه درکوی او الله د هر څیز نه خبردار دے ۵۵۶ ف

نکات: ۱ د جهاد او انفاق (مفصل) مضمون نه روستو په دریم ځل د انتظامی اُمورو بیان.

موضح قرآن ف ! په دے ایت کښې لے دوه څیزونه مقیبن کړل یو خو دا چه دے معامله لیکل چه دیکښې بیا څه جګړه نه وی او په خپله په شک شبه کښې پریوځئ او شاهد چه اوګوری نو ورته یاد به شی. دویم دا چه ګواهان نیول هره معامله بانده دوه سړی یا یو سړے او دوه ښځے هر څوک چه خوښ کړی. او قید یے ونګولو چه لیکونکے او ګواه به د چا نقصان نه کوی چه کوم واجبی حق دے نو بس هغه دے ادا کړی او په لیکلو کښې چه فرضد ارسے کوم څه په خپله ژبه سره وائی نو هغه دے اولیکی یا د هغه یو مشر دے بیان اوکړی که د هغه عقل نه وی.

تفسیر ۵۵۵ د لته ان کوم چه د شک په موقعه بانده استعمالولے شی دا د لفظ په ځائ استعمال شوی دے چه په وقوع فعل یانی دے دلالت کوی د دے سره د طرف ته اشاره ده چه د لین دین معامل چه کله بالفعل واقع وی هغه وخت د و ثیقه (قرارنامه) لیکو ضرورت دے دو یا نه څنګښې نه. دلته لفظ دین عام دے ثمن او مبیع دواړو ته شامل دے. ټول تجارتی معاملات په څلورو قسمونو کښې منحصر دی. (۱) بیع العین بالعین یعنی سودا لاس په لاس وی دد دے حکم وړاندے إِلَّا أَن تَكُونَ تِجَارَةً حَاضِرَةً کښې راغی (۲) بیع الدین بالدین یعنی د سودا په مجلس کښې نه خریدار قیمت ادا کړی او نه خرڅونکے مال حواله کړی دواړه څیزونه قرض وی دا بیع جائز نه ده. (۳) بیع العین بالدین یعنی خریدار مال وصول کړی لیکن د رقم ادا کولو وعده د روستو اوکړی (۴) بیع الدین بالعین یعنی خریدار رقم مخکښې ادا کړی لیکن مال روستو وصول کړی دے ته د شریعت په اصطلاح کښې بیع سَلَم وئیلے شی. د دے دواړو قسمونو حکم په دے ایت کښې بیان کړے شوی دے. مطلب دا دے چه کله

تا سودا ـــ سودا اوکړې چه په هغې کښې قیمت یا مبیع (خرڅ کړے شوے شیز) قرض وي هغه اولیکئ
القول الثالث وهو قول اکثر المفسرین...... یبقی هنا قسمان بیع العین بالدین وهو ما اذا باع شیئا
بثمن مؤجل د بیع الدین بالعین وهو المسمی بالسلم وکلاهما داخلان تحت هذه الآیة (کبیر ج ۷ ص ۱۲۲)
معاملے د لیکلو حکم یے ځکه ورکړے دے چه روستو بیا د شخړې قسمه جګړه او نزاع پیدا نه شي. د
جمهورو په نزد دا لیکل مستحب دي په قرینه د ما بعد فَإِنۡ أَمِنَ بَعۡضُكُم بَعۡضٗا یعنې که په یو بل باندې
په چا اعتماد اوکړو او تحریر یے اونه لیکلو نو موخر الذکر دے د حق په ادا کولو کښې کوتاهي نه کوي
والجمهور علی استحبابه (ابو سعود ج ۲ ص ۵۵) روح ج ۳ ص ۵۵) ۵۴۹ دا د لیکلو د شرعي طریقې بیان دے بالعدل
د لیکښت سره متعلق دے. او مطلب دا دے چه کوم سړے دا تحریر اولیکي نو هغه د عدل او
انصاف نه کار واخلي او په فریقینو کښې د یو طرفداري کولو سره دې بل ته د نقصان رسولو
کوشش نه کوي. وَلَا يَأۡبَ كَاتِبٌ أَن يَكۡتُبَ دا د کاتب د پاره دویم هدایت دے یعنې کوم چې
کاتب ته د دا سے تحریر لیکلو د پاره اووئیلے شي نو هغه له انکار کول پکار نه دي.

۵۵۰ دلته یے دا هدایت اوفرمائیلو د تحریر لیکلو ذمه داري به هغه سړي باندې عائد کیږي
په چا باندې چه د بل حق ورکول وي ځکه چه دا تحریر به منزله د اقرار دے او اقرار د هغه چا
د طرفنه وي چه د هغه په ذمه شے واجب الادا وي او ورسره یے دا تلقین هم اوکړو چه
د چا په ذمه حق وي د دستاویز (اقرارنامے) لیکلو په وخت هغه له د خوف خدا نه کار
اخستل پکار دي. او څومره چه هغه له بل ته ورکول دي هغه صحیح صحیح لیکل پکار دي.
په هغې کښې د ذرے برابر کمے کول پکار نه دي. ۵۵۱ د چا په ذمه چه حق وي که چرته هغه
ناپوهه وي یا ډیر بوډا وي یا د لیونے وي او وجے نه اقرارنامه نشي لیکلے مثلاً ګونګے دے یا
په ژبه نه پوهیږي وغیره. نو بیا دې د هغه د طرفنه په عدل او انصاف سره اقرارنامه
اولیکلے شي او د حق خاوند ته دې حواله کړے شي. ۵۵۲ دلته یے د شهادت احکام بیان کړي
یعنې پورته ذکر شوے معامله کښې په تحریر باندې دوه ګواهان هم جوړ کړئ. په ایت کښې
مؤمنانو ته دے او ایمان والو ته یے حکم ورکړے دے چه هغوي دې د خپلو سړو نه دوه
ګواهان خوښ کړي. په دے سره دے طرفته اشاره ده چه د ګواهانو مسلمانان کیدل
بالغ سړي او ازاد کیدل شرط دي. وفی ذکر الرجال مضافا الی ضمیر المخاطبین دلالة علی
اشتراط الاسلام والبلوغ والذکورة فی الشاهدین والحریة لان المتبادر من الرجال الکاملون.
(روح ج ۳ ص ۵۶) ای من رجال المؤمنین والحریة والبلوغ مشروط مع الاسلام (مدارک ج ۱ ص ۱۰۹) که چرے
د ګواهئ د پاره دوه سړي نه ملاویږي نو یو سړي سره دوه ښځے دې ګواه جوړے کړے شي.
چه قابل اعتماد وي. په ښځو باندې چونکه هیره غالب وي په دے وجه دوه ښځے د یو
سړي برابر اوګرځولے شوے. چه که چرے د یوے ښځے نه هیر شي نو بله به یے ورپه یاد
کړي. د شُهَدَآءُ لفظ دلته عام دے او کوم خلق چه په معامله کښې ګواهان جوړ شوے وي.
یا هغوي ته ګواهئ د پاره اووئیلے شي دواړو ته شامل دے ځکه چه د ابن عباس رض نه نقل دي
اذا ما دعوا لاداء الشهادة او لتحملها (روح ج ۳ ص ۵۷) مطلب دا دے چه که چرے ګواهان د ګواهئ

دوره یا پیښه یوه معامله کښی دګواه جوړیږي او د پاره راوبللے شي نو هغوی له انکار پکار نه دے.
۵۵۴ په تکتبوه کښی ضمیر مفعول دَین یا حق طرفته راجع دے او صغیرًا او کبیرًا دواړه
دے نه حال دے یعنی د دَین او قرض معامله په هرحال کښی لیکلی خواه وړه وي یا
لویه. صرف د ستړي د وجې نه په دیکښی کوتاهي مه کوئ. په اِلٰی اَجَلِه کښی اِلٰی په معنی د مَعَ
دے یعنی په تحریر کښی د حق د اداء کولو اخري موده (تاریخ) هم اولیکئ.
۵۵۵ په ذٰلِکُمْ سره لیکلو طرفته اشاره ده مطلب دا دے چه دا سے معامله لیکل زیات
زیات قرین انصاف ده او دا شان ګواهي به هم د هرقسم رد او بدل نه محفوظ وي او معامله
په د هرقسم شک شبهے نه بچ اولیسے وي. په اِلَّآ اَنْ تَكُوْنَ تِجَارَةً حَاضِرَةً. دا د ماقبل نه
استثناء ده اول یے بیان اوکړو چه که چرے د دَین دَین په معامله کښی قیمت یا مبیع قرض وي.
نو د هغے متعلق یوه اقرارنامه اولیکئ. د لته یے اوفرمائیل چه که چرے سودا لاس په لاس
وي او څه څیز قرض نه وي نو بیا لیکل ضروري نه دي. د امام عاصم نه علاوه باقي قاریانو
تجارةٌ مرفوع لوستلے دے. په دے صورت کښی به کان تامه وي او تجارة به د دے فاعل وي. د
امام عاصم په قرات کښی تجارةً منصوب دے او د تکون خبر دے. د دے اسم به دیکښی ضمیر
مستتر دے چه د هغے مرجع د قراء په نزد تجارة مؤخر دے. د بعضو په نزد د دے مرجع
معامله ده کوم چه د کلام د سیاق نه مفهوم ده (روح ملخص) وقال الشیخ رحمه الله تعالی الضمیر
یعود الی المبیع والثمن جمیعا وحمل التجارة علیهما بتقدیر ذات ای الا ان تکون ذات المبیع تجارة حاضرة
۵۵۶ څینے مفسرینو دا حکم معامله یا الدین پورے مخصوص کړیدے. او څینو دا په عموم باندے
محمول کړیدے. بهرحال دا حکم د جمهورو په نزد باندے استحبابي دے وَلَا يُضَآرَّ كَاتِبٌ وَّلَا
شَهِيْدٌ. دا یوه عامه قاعده ده چه چاته د ضرر ورکړے شي اقرارنامه لیکونکي او ګواه ته به په
دے سلسله کښی تکلیف نه شي ورکړے. مثلاً که چرے یو کاتب یا ګواه د څه مجبورئ په
وجه د دے خدمت سرته رسولو نه قاصروي نو هغه به نه شي مجبور کړے یا کاتب او ګواه ته
څوک دوستو دا مه وائي چه تاسو دا معامله ولے اولیکله یا تاسو په دے باره کښی ګواهي ولے
اوکړه، ۵۵۷ که چرے تاسو دا سے کوئ او نوروته ضرر رسوئ نو دا به ستاسو د طرفته
د الله د احکامو خلاف ورزي وي. د دے وجے نه تاسو د الله د احکامو په باره کښی د هغه نه
ویره اوکړئ او دا د الله مهرباني ده چه تاسو ته د دین احکام زده کوي. او هغه ته د دے
حق حاصل دے ځکه چه هغه د دین او دنیا د ټولو مصلحتونو نه ښه خبر دے.

وَاِنْ كُنْتُمْ عَلٰى سَفَرٍ وَّلَمْ تَجِدُوْا كَاتِبًا فَرِهٰنٌ مَّقْبُوْضَةٌ

او که چرے تاسو په سفر کښی یئ او نه مومئ تاسو لیکونکے نو ګانړه لاس کښی ګرځول پکار دی ۵۵۸

فَاِنْ اَمِنَ بَعْضُكُمْ بَعْضًا فَلْيُؤَدِّ الَّذِى اؤْتُمِنَ اَمَانَتَهٗ

بیا که چرے اعتبار اوکړی یو د بل نو پکار ده چه پوره ادا کړي هغه سړے په چا چه اعتبار اوکړے شو

وَلْيَتَّقِ اللّٰهَ رَبَّهٗ ۭ وَلَا تَكْتُمُوا الشَّهَادَةَ ۭ وَمَنْ يَّكْتُمْهَا

دخپل امانت او ویریږي د الله نه چه رب دے دهغه ۵۵۸ او مه پټوئ ګواهي او څوک چه هغه پټه کړي نو

فَاِنَّهٗٓ اٰثِمٌ قَلْبُهٗ ۭ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ عَلِيْمٌ ٢٨٣ لِلّٰهِ مَا

بیشکه ګنهګار دے زړه دهغه ۵۵۹ او الله ستاسو کارونو نه ښه خبر دے. د الله دپاره دي کوم

فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۭ وَاِنْ تُبْدُوْا مَا فِيْٓ اَنْفُسِكُمْ

هغه چه په اسمانونو او زمکه کښې دي ۵۶۰ او که چرے ظاهر کړئ دخپل زړه خبرے دا

اَوْ تُخْفُوْهُ يُحَاسِبْكُمْ بِهِ اللّٰهُ ۭ فَيَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَاۗءُ وَيُعَذِّبُ

یا یې پټه کړئ هغه حساب به اخلي دهغے تاسو نه الله ۵۶۱ بیا به او بخښي چا لره چه او غواړي او عذاب

مَنْ يَّشَاۗءُ ۭ وَاللّٰهُ عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ٢٨٤ اٰمَنَ الرَّسُوْلُ

به ورکړي چا لره چه او غواړي او الله په هر څیز باندے قادر دے ول او منلي رسول کوم شے چه

بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِ مِنْ رَّبِّهٖ وَالْمُؤْمِنُوْنَ ۭ

نازل شو په هغه باندے د هغه درب د طرفه او مسلمانانو هم ۵۶۲

كُلٌّ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَمَلٰۗىِٕكَتِهٖ وَكُتُبِهٖ وَرُسُلِهٖ ۣ لَا نُفَرِّقُ

ټولو او منلو الله او دهغه ملائکے ، دهغه کتابونه او دهغه رسولان ، وائي چه مونږ نه جدا کوو

بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْ رُّسُلِهٖ ۣ وَقَالُوْا سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا ڭ غُفْرَانَكَ

څوک هم دهغه د پیغمبرانو نه ۵۶۳ او وے وئیل چه مونږ واوریدل او قبول مو کړل ستا بخښنه

رَبَّنَا وَاِلَيْكَ الْمَصِيْرُ ٢٨٥ لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا

غواړو اے زمونږه ربه او ستا طرفته واپس تلل دي ۵۶۴ الله تکلیف نه ورکوي چا ته لیکن څومره چه دهغه طاقت ۵۶۵

لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا اكْتَسَبَتْ ۭ رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَآ

۵۶۶ شے هم هغه له ملاویږي کوم چه هغه حاصل کړل او هم په هغه باندے بریږي کوم چه هغه او کړل. اے ربه زمونږه مه

اِنْ نَّسِيْنَآ اَوْ اَخْطَاْنَا ۚ رَبَّنَا وَلَا تَحْمِلْ عَلَيْنَآ اِصْرًا كَمَا

نیسے مونږ که چرے هیر کړو یا خطا شو ۵۶۷ اے ربه زمونږه او مه ږده په مونږ باندے بوجه ذروند لکه چه

حَمَلْتَهٗ عَلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِنَا ۚ رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلْنَا مَا لَا

اېښے وو زمونږ نه وړاندے خلقو باندے ۵۶۲ اے ربه زمونږه! او مه اُوچتوه په مونږ باندے هغه

طَاقَةَ لَنَا بِهٖ ۚ وَاعْفُ عَنَّا ۗ وَاغْفِرْ لَنَا ۗ وَارْحَمْنَا ۗ اَنْتَ

(بوجه) چه مونږ طاقت نه لرو د کښه او درګذر اوکړه زمونږ نه او اوبخښه مونږ او رحم اوکړے په مونږ باندے

ع ۳۰
مَوْلٰىنَا فَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۲۸۶﴾ ع
۸

ته زمونږ رب یے مدد اوکړه زمونږ په کافرانو باندے ۲ ح

نکات: ۱ په توحید باندے خلورم عقلي دلیل. ۲ عقلا نو مراد دی په قرینه د ما قبل او مابعد. ۳ یعني د توحید په دے مسئله باندے پیغمبر او مؤمنان هم ایمان لري. ۴ د توحید مسئلے منلو نه روستو الله نه د دُعا غوښتلو د طریقے تعلیم.

موضح قرآن ف۱ دلته نه معلومه شوه چه د زړه په خیال باندے به هم حساب وی د دے اوریدو سره صحابو نبی علیه السلام ته عرض اوکړو چه دا حکم د بزرګان د دے فرمایل چه د بنی اسرائیلو پشان انکار مه کوئ بلکه قبول یے کړئ او د الله نه مدد اوغواړئ بیا خلقو اووئیل چه مونږ ایمان راوړه او قبول مو کړو الله ته دا خبره خوښه شوه نو دغه دا دوه راتلونکی آیتونه نازل شول دیکښې حکم راغے چه د طاقت نه د بهر څیز تکلیف نشته او س چه څوک په زړه کښې د ګناه خیال اوکړی او عمل پرے اونکړی هغه ګناه نه شي لیکلے.

فتح الرحمن ف۲ یعني د نفاق له قسم او اخلاص او حسد او نصیحت او د دے پشان د حدیث نفس له قسم نه. ف۳ یعني د څنو عقیدو لرونکی او د څنو نه انکار کونکی نه وو.

تفسیر ۵۵۵ یعني که چرے د سفر په حالت کښې د چا سره معامله پالدّین اوکړئ یعني په قرض اخستل خرڅول اوکړئ. او اقرار نامه لیکونکے نه ملاویږی نو بیا د چا په ذمه چه حق وی د هغه نه څه څیز مثلا کالے وغیره کاسره کیږدئ دے د پاره چه اطمینان حاصل شي او د حق ضائع کیدو خطره پاتے نه شي. د رهن نه روستو تناسب ذالک محذوف دے. دلته د سفر قید اتفاقي دے احترازي نه دے ځکه چه په سفر کښې دا احتمال قوی دے چه کاتب ملاؤ نه شي. د دے وجه نه رهن کیښودل د سفر حالت پورے مخصوص نه دے بلکه د اقامت په حالت کښې هم جائز دے. دا شان که چرے لیکونکے هم ملاؤ شي نو هم رهن کیښودل او اخستل جائز دي. اتفقت الفقهاء اليوم على ان الرهن في السفر والحضر سواء وفي حال وجود الكاتب وعدمه (کبیر ص ۵۵۵ ج ۲) ۵۵۶ د امانت نه دلته مراد هغه حق دے کوم چه د صاحب حق په ذمه واجب الاداء دے یعني که چرے یو سرے بل کس امین اوګنړی هغه سره قرض اخستل خرڅول کوی او د هغه نه څه اقرار نامه نه اخلي

نه څوك گواه جوړوي او نه د رهن په طور ترے څه څیز اخلي بلکه دهغه په امانت او دیانت
باندے اعتماد کولو سره معامله اوکړي نو په بل سړي باندے لازم ده چه هغه دده حق اداکړي
او د خدائ نه اووېرېږي نه دهغه په حق کښې کمے اوکړي او نه په اداکولو کښې د تاخیر نه کار
واخلي. اٰثِمٌ قَلْبُهٗ د پاره فاعل او اٰثِمٌ تمیز د دے مفعول دے.
۵۵۹ دا د گواهانو د پاره هدایت دے چه کله هغه څه معامله کښې گواه جوړ شي نو
په هغوی باندے لازم ده چه هغوی صحیح صحیح گواهي ورکړي او دهغے نه حصه پټول یا
په هغے کښې کمے کولو سره حیات نقصان او نه رسوي. کوم سړے چه داسے کوي هغه څه معمولي
گناه نه کوي بلکه دا ډیره لویه گناه ده. دینه معلومیږي چه دے سړي زړه مجرم دے
ځکه چه ترڅو په زړه کښې د یو کار اراده پیدا شوے نه وي ترهغے پورے د انساني اعضاؤ نه څه کار
نه شي موجود یدے. او چونکه د ټول بدن سر او پادشاه زړه دے په دے وجه دهغه جرم
به هم ډیر لوئ وي. لانه اشرف الاجزاء ورئیسها وفعله اعظم من افعال سائر الجوارح فیکون
في الکلام تنبیه علی ان الکتمان من اعظم الذنوب (روح ص ۶۳ ج ۳). الله پاک ستاسو د هر فعل نه خبر دے
هغه ستاسو اراده هم پیژني د دے وجے نه هغه به ضرور ستاسو د عملونو جزا درکړي دلته د
انتظامي امورو بیان ختم شو اوس وړاندے په توحید باندے څلورم دلیل عقلي پیش کړے شو
دے. ۵۶۰ دا یوه داسے جامع جمله ده چه ټولو کائناتو ته شامله ده. او هیڅ څیز د دے
نه بهر نه دے. او لله خبر دے چه د حصر فائده کولو د پاره په مبتدا باندے مقدم کړے
شویدے یعنی په ټولو کائناتو باندے یواځے د الله قبضه ده او هر څیز صرف د هغه په
قبضه کښې او تصرف او اختیار کښې دے او په دیکښې د هغه سره څوك شریك نشته. لهذا
عبادت هم صرف د هغه کوئ او حاجتونو او مشکلاتو کښې صرف هغه ته آواز کوئ.
۵۶۱ دلته د مَا نه مراد اعتقادات اختیاریه دي نه چه وسوسے ځکه چه په ابداء او اخفاء
د وارو کښې د فاعل اختیار ته دخل دے او وسوسے بغیله په زړه کښې راځي په دیکښې د فاعل هیڅ
دخل نه وي د دے وجے نه په وسوسو باندے هیڅ مؤاخذه نشته ځکه چه هغه د دے ایت
دلالت نه داخل نه دي. فَیَغْفِرُ لِمَنْ یَّشَآءُ الخ د محاسبے نه روستو که هغه او غواړي محض
په خپل فضل او احسان سره به یے معاف کړي او چا ته چه او غواړي د عدل او حکمت قانون
دلاندے به سزا ورکړي. ۵۶۲ په دے سورة جلیله کښې الله پاک د توحید، رسالت، مونځ
زکوٰة، حج، نکاح، طلاق، جهاد، انفاق او د ربا حرمت وغیره احکام بیان کړیدي اوس
د سورة په اختتام باندے یے ارشاد اوفرمایه چه د خدائ پیغمبر او ټول مؤمنان دا احکام
په زړه سره مني او په عملي ژوند کښې په دے باندے عمل کوي دي. وړاندے څه تفصیل
شته دے. کُلٌّ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَمَلٰٓئِکَتِهٖ وَکُتُبِهٖ الخ د خدائ پیغمبر او ټولو مؤمنانو د خدائ په
توحید باندے ایمان راوړیدے. د خدائ په فرښتو د هغه په کتابونو او د هغه د ټولو پیغمبرانو
په برحق کیدو باندے یے هم ایمان راوړیدے. د رسولانو په مینځ کښې د تفریق د نفي نه مراد
دا دے چه هغوی ټول پیغمبران مني داسے نه کوي چه ځینے اومني او ځینے اونه مني مثلاً چه

علیه السلام یا نو حضرت خاتم النبیین صلی الله علیه وسلم او یهود یا نو د نبی علیه السلام سره د عیسی علیه السلام نه هم انکار اوکړو. ۵۶۳ د قَالُوْا عطف په اٰمَنَ باندے دے اول یے د ایمان ذکر اوکړو ولته یے د هغوی د اطاعت او فرمانبردارئ ذکر اوکړو. وهو حکایة لامتثالهم الاوامر والنواهی اثر حکایة ایمانهم (روح ص۷۰ ج۳) د سَمِعْنَا معنی اَجَبْنَا ده او د غُفْرَانَكَ نه وړاندے طَلَبْنَا فعل محذوف دے قاله الشیخ رحمه الله تعالیٰ بعضو مفسرینو اِغْفِرْ محذوف منلے دے. یعنی هغوی ټول په ډیره سره اعلان کوی چه اے الله! مونږ ستا احکام قبول کړل او ستا د مکمل اطاعت عهد مو اوکړو. او مونږ ستا نه د عفوے درخواست کوؤ او دے خبرے یقین لرو چه د مرګ نه روستو دوباره ژوندی کیدو سره به مونږ ستا مخکښې حاضریږو. ۵۶۴ د الله پاک یو عام قانون دے چه هغه یو انسان ته د هغه د طاقت نه زیات تکلیف نه ورکوی او د هغه نه د داسے احکامو د تعمیل مطالبه نه کوی چه هغه د طاقت نه بهر وی. د دے صورت ټول حکمونه د انسان د قدرت په دائره کښې داخل دی: او په دیکښې یو حکم هم داسے نشته چه د هغے پوره کول د انسان د پاره ممکن نه وی. ځکه چه ټولو مؤمنانو دا احکام په رضا او رغبت سره قبول کړل هغے په عملی ژوند کښې خپل معمول ګرځولی دی. لَهَا مَا كَسَبَتْ وَ عَلَيْهَا مَا اكْتَسَبَتْ. دا یو دویم قانون دے چه هر انسان ته به د هغه د نیکو کارونو نفع رسیږی. او هر سړے به د خپل بد عمل سزا بیا موَمی. ۵۶۵ د بعضو مفسرینو خیال دے چه دا هم د قالوا د لاندے داخل دے او د مؤمنانو د بقیه دعاګانو حکایت دے او د بعضو خیال دے چه د دعا تعلیم دے او د دے نه مخکښې قُوْلُوْا محذوف دے او مطلب دا دے چه الله مؤمنانو ته تعلیم ورکوی. چه دا شان دعا غواړئ او د نسیان نه دلته ترک او د خطا نه عصیان مراد دے المراد من الاول الترک ... والمراد من الثانی العصیان (روح ص۶۹ ج۳) والقول الثانی فی تفسیر النسیان ان یحمل علی الترک (کبیر ص۱۲۶ ج۳) کذا فی مشکل الآثار. یعنی اے الله! که چرے زمونږ نه عمدًا یا خطأ ستا نافرمانی اوشی نو په هغے مونږ مه نیسے. د مؤمنانو اوله دعا دا ده چه دیکښې د ګناهونو د مغفرت درخواست دے.

۵۶۶ د اصر نه مراد هغه احکام دی کوم چه مشکل وی او کوم چه انسان په مشقت سره برداشت کړی. والمراد به التکالیف الشاقة (روح ص۷۰ ج۳، ابو السعود ص۲۲۶ ج۲) لکه چه په یهودیانو باندے وو مثلاً د مال څلورمه حصه زکوٰة ورکول، او د ناپاکه کپړے په اوبو سره نه پاکیدل وغیره. قال المفسرون ان الله تعالیٰ امرهم باداء ربع اموالهم فی الزکوٰة ومن اصاب ثوبه نجاسة امر بقطعها الخ (کبیر ص۱۲۶ ج۲) ۵۶۷ دا د مؤمنانو دریمه دعا ده او دیکښې درخواست کړے شویدے چه په هغوی باندے داسے ازمائش او مصیبتونه وانه چولے شی چه د هغوی د طاقت نه بهر وی وَاعْفُ عَنَّا وَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا الخ دا اخری دعا ده مؤمنان یو طرفته د الله په وړاندے د خپلو ګناهونو اعتراف کوؤ سره د الله نه د عفوے او درګذر درخواست کوی. او بل طرفته د الله نه د هغه رحمت غواړی د مشرکانو او کافرانو په مقابله کښې الله پاک د هغه خلقو مدد کوی څوک چه د اسبابو تیاروَلو نه پس صرف د الله په رحمت او د هغه په مدد باندے اعتماد کوی. د سورة

بقره تفسیر ختم شو. والحمدلله الذی بنعمته تتم الصالحات والصلوٰة والسلام علیٰ رسوله
الکریم و علیٰ جمیع عباده الصالحین.

سورهٔ بقره کښې د توحید اٰیتونه

(۱) یٰاَیُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوْا رَبَّكُمُ الَّذِیْ خَلَقَكُمْ وَ الَّذِیْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ
تَتَّقُوْنَ ۙ الَّذِیْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ فِرَاشًا وَّ السَّمَآءَ بِنَآءً ۪ وَّ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً
فَاَخْرَجَ بِهٖ مِنَ الثَّمَرٰتِ رِزْقًا لَّكُمْ ۚ فَلَا تَجْعَلُوْا لِلّٰهِ اَنْدَادًا وَّ اَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ۝ (ع ۳)
د توحید دعوىٰ د عقلي دلیل سره.

(۲) كَیْفَ تَكْفُرُوْنَ بِاللّٰهِ وَ كُنْتُمْ اَمْوَاتًا فَاَحْیَاكُمْ ۚ ثُمَّ یُمِیْتُكُمْ ثُمَّ یُحْیِیْكُمْ ثُمَّ
اِلَیْهِ تُرْجَعُوْنَ ۝ هُوَ الَّذِیْ خَلَقَ لَكُمْ مَّا فِی الْاَرْضِ جَمِیْعًا ۗ ثُمَّ اسْتَوٰۤى اِلَى السَّمَآءِ
فَسَوّٰىهُنَّ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ ؕ وَ هُوَ بِكُلِّ شَیْءٍ عَلِیْمٌ ۝ (ع ۳) د عقلي دلیل سره متعلق

(۳) اَلَمْ تَعْلَمْ اَنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ ۝ اَلَمْ تَعْلَمْ اَنَّ اللّٰهَ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ ؕ
وَ مَا لَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ وَّلِیٍّ وَّ لَا نَصِیْرٍ ۝ (ع ۱۳) د توحید دعوے سره متعلق

(۴) وَ قَالُوا اتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا ۙ سُبْحٰنَهٗ ؕ بَلْ لَّهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ ؕ كُلٌّ لَّهٗ قٰنِتُوْنَ ۝
بَدِیْعُ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ ؕ وَ اِذَا قَضٰۤى اَمْرًا فَاِنَّمَا یَقُوْلُ لَهٗ كُنْ فَیَكُوْنُ ۝ (ع ۱۴)

(۵) اَمْ كُنْتُمْ شُهَدَآءَ اِذْ حَضَرَ یَعْقُوْبَ الْمَوْتُ ۙ اِذْ قَالَ لِبَنِیْهِ مَا تَعْبُدُوْنَ مِنْۢ بَعْدِیْ ؕ قَالُوْا نَعْبُدُ
اِلٰهَكَ وَ اِلٰهَ اٰبَآىِٕكَ اِبْرٰهٖمَ وَ اِسْمٰعِیْلَ وَ اِسْحٰقَ اِلٰهًا وَّاحِدًا ۚۖ وَّ نَحْنُ لَهٗ مُسْلِمُوْنَ ۝ (ع ۱۶)

(۶) صِبْغَةَ اللّٰهِ ۚ وَ مَنْ اَحْسَنُ مِنَ اللّٰهِ صِبْغَةً ۫ وَّ نَحْنُ لَهٗ عٰبِدُوْنَ ۝ قُلْ اَتُحَآجُّوْنَنَا فِی
اللّٰهِ وَ هُوَ رَبُّنَا وَ رَبُّكُمْ ۚ وَ لَنَاۤ اَعْمَالُنَا وَ لَكُمْ اَعْمَالُكُمْ ۚ وَ نَحْنُ لَهٗ مُخْلِصُوْنَ ۝ (ع ۱۶)

(۷) وَ اِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۚ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِیْمُ ۝ اِنَّ فِیْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ
وَ اخْتِلَافِ الَّیْلِ وَ النَّهَارِ وَ الْفُلْكِ الَّتِیْ تَجْرِیْ فِی الْبَحْرِ بِمَا یَنْفَعُ النَّاسَ وَ مَاۤ اَنْزَلَ اللّٰهُ
مِنَ السَّمَآءِ مِنْ مَّآءٍ فَاَحْیَا بِهِ الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَ بَثَّ فِیْهَا مِنْ كُلِّ دَآبَّةٍ ۪ وَّ تَصْرِیْفِ
الرِّیٰحِ وَ السَّحَابِ الْمُسَخَّرِ بَیْنَ السَّمَآءِ وَ الْاَرْضِ لَاٰیٰتٍ لِّقَوْمٍ یَّعْقِلُوْنَ ۝ (ع ۱۹) نفي د تبرك فعلي

(۸) اَللّٰهُ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ اَلْحَیُّ الْقَیُّوْمُ ۚ لَا تَاْخُذُهٗ سِنَةٌ وَّ لَا نَوْمٌ ؕ لَهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَ
مَا فِی الْاَرْضِ ؕ مَنْ ذَا الَّذِیْ یَشْفَعُ عِنْدَهٗۤ اِلَّا بِاِذْنِهٖ ؕ یَعْلَمُ مَا بَیْنَ اَیْدِیْهِمْ وَ مَا خَلْفَهُمْ ۚ
وَ لَا یُحِیْطُوْنَ بِشَیْءٍ مِّنْ عِلْمِهٖۤ اِلَّا بِمَا شَآءَ ۚ وَسِعَ كُرْسِیُّهُ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضَ ۚ وَ لَا یَـُٔوْدُهٗ
حِفْظُهُمَا ۚ وَ هُوَ الْعَلِیُّ الْعَظِیْمُ ۝ لَاۤ اِكْرَاهَ فِی الدِّیْنِ ۙ قَدْ تَّبَیَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَیِّ ۚ فَمَنْ یَّكْفُرْ
بِالطَّاغُوْتِ وَ یُؤْمِنْۢ بِاللّٰهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقٰى ۗ لَا انْفِصَامَ لَهَا ؕ وَ اللّٰهُ
سَمِیْعٌ عَلِیْمٌ ۝ (نفي د شفاعت قهري)

(۹) لِلّٰهِ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَ مَا فِی الْاَرْضِ ؕ وَ اِنْ تُبْدُوْا مَا فِیْۤ اَنْفُسِكُمْ اَوْ تُخْفُوْهُ
یُحَاسِبْكُمْ بِهِ اللّٰهُ ؕ فَیَغْفِرُ لِمَنْ یَّشَآءُ وَ یُعَذِّبُ مَنْ یَّشَآءُ ؕ وَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ
(ع ۴۰) په توحید باندې څلورم عقلي دلیل

سُورَةُ اٰلِ عِمْرٰنَ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ مِائَتَا اٰيَةٍ وَّعِشْرُوْنَ رُكُوْعًا

سورة آل عمران په مدينه کښې نازل شو په دے کښې دوه سوه آيتونه دي او شل رکوع ده

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

شروع د الله د نوم نه چه بے حده مهربان نهايت رحم کوونکے دے

الٓمّٓ ﴿۱﴾ اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّوْمُ ﴿۲﴾ نَزَّلَ عَلَيْكَ

الله د هغه نه سوا څوک معبود نشته ژوندے دے د ټولو ساتونکے دے نازل يې کړو په تا باندې

الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ وَاَنْزَلَ التَّوْرٰىةَ

کتاب رښتونے دے تصديق کوی د مخکينو کتابونو او نازل يې کړو تورات

وَالْاِنْجِيْلَ ﴿۳﴾ مِنْ قَبْلُ هُدًى لِّلنَّاسِ وَاَنْزَلَ الْفُرْقَانَ

او انجيل. د دے کتاب نه وړاندے د خلقو د هدايت دپاره او نازل يې کړے فيصله

اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيْدٌ ۗ وَاللّٰهُ

بيشکه چه څوک منکر شو د الله د آيتونو نه هغوی دپاره سخت عذاب دے او الله

عَزِيْزٌ ذُو انْتِقَامٍ ﴿۴﴾

غالب او بدله اخستونکے دے

د سورة آل عمران

نوم د دے سورت په څلورمه رکوع کښې د آل عمران ذکر دے. په دے وجه د مناسبت سره د دے سورة نوم سورة آل عمران کيښودے شوے دے.

شانِ نزول مفسرينو ليکلی دی چه د نجران د نصارو يو وفد په مدينه کښې د نبی عليه السلام په خدمت کښې حاضر شو چه د دوی په منتخب شپيته کسانو باندے مشتمل وو. په وفد کښې درے کسان مشران وو يعنی عاقب، سيد او ابو حارثه. دے خلقو د نبی ﷺ سره د حضرت عيسٰی عليه السلام په باره کښې جګړه شروع کړه او وے ويل چه هغه د الله ولد او نائب دے. او حضرت مريم او حضرت عيسٰی عليهما السلام زمونږ معبودان دی. په دے باندے نبی ﷺ اوفرمائيل چه زمونږ رب خو هميشه ژوندے دے او د ټول جهان محافظ او رازق دے. د زمکے او آسمان هيڅ څيز د هغه نه پټ نه دے. د مور په رحم کښې د

خپله مطابق د بچي صورت جوړ وي. هغه نه خوراک کوي نه څکاک. او س تاسو او وايئ ای
په دے صفتونو کښې کوم يو صفت هم په حضرت عيسىٰ عليه السلام کښې موندے شي چه
کل دے صفتونو کښې هيڅ يو صفت هم په دوی کښې نشته نو بيا هغه معبود څنګه جوړيدے
شي په دے باندے د سورة آل عمران رو مبی اتيا ايتونه نازل شو(خازن ج۱ ص۲۶۵ وحاشيه شاه
عبد القادر رحمة الله عليه)

ربط

د سورة آل عمران سورة بقره سره په دريے طريقو ربط دے.
اوّل ربط (نامی) په سورة فاتحه کښې اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ سره يے
اقرار واخستلو چه مونږ صرف د الله عبادت کوو صرف هغه ته اواز کوو او صرف د هغه نه
په حاجتونو او تکليفونو کښې مافوق الاسباب مدد اوغواړو. په سورة بقره کښې يے د غواړ تعظيم
نه نفرت ورکړو او په سورة آل عمران کښې يے تلقين اوفرمايئ چه د الله په عبادت او را بللو کښې
د الله نيک بندګان مه شريکوئ څنګه چه نصاراؤ د آل عمران عبادت کولو. حضرت عيسىٰ عليه السلام
او حضرت مريم عليها السلام يے إله اوګرځول.
دوئيم ربط: د سورة بقره په اخر کښې فَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ سره مسلمانانو ته
د کافرانو په مقابله کښې د الله نه د مدد او نصرت غوښتلو تعليم ورکړے شو. په سورة آل عمران
کښې يے بيان کړل چه هغه کوم کافران دی چه د هغوی خلاف د الله نه د مدد غوښتلو
حکم شوی دے. يعنی د دے نه مراد مشرکان دی چه د الله بندګان الله سره شريکان ګرځوی.
د الله بندګان مالک او مختار ګنړلو سره په مصيبتونو کښې ورته اواز کوی څنګه چه نصاریٰ حضرت
عيسىٰ او حضرت مريم عليهما السلام معبود ګنړی او هغوی ته مافوق الاسباب اواز کوی.
دريم ربط:- په سورة بقره کښې د قران مجيد ټول مضامين اجمالی طور بيان شوی دی
او په سورة آل عمران کښې د هغے نه غلور زيات اهم مضامين بيان کړے شوی دی. اوّل توحيد
چه د هغے سره سره د نصاراؤ د مشرکانه عقائدو رد هم کړے شوے دے او زيات زور د شرک
اعتقادی په نفی ورکړے شوے دے. دوئيم رسالت يعنی د خاتم النبيين صلى الله عليه وسلم صداقت.
دريم جهاد فی سبيل الله او غلورم انفاق فی سبيل الله يعنی د الله په لاره کښې مال خرچ کول.

د مضامينو خلاصه

د دے سورت د مضامينو خلاصے دوه تقريرونه دی.
اوّل تقرير:- په دے سورت کښې د نصاراؤ د مشرکينو شبهاتو
ازاله کړے شوې ده د هغوی ځينے شبهات د توحيد په باره کښې دی او ځينے د رسالت په باره کښې.
د توحيد په باره کښې د هغوی په زړونو کښې پنځه شبهات وو.

د توحيد متعلق شبهات

اوّله شبه:- د حضرت عيسىٰ عليه السلام په حق کښې روح الله، کلمة الله او ابن الله (کما
فی الانجيل قاله الخازن) وغيره الفاظ راغلی دی. د دے نه معلوميږی چه د هغه د الله سره خصوصی
تعلق وو او هغه د الله نائب دے الله هغه ته د تصرف اختيار ورکړے دے د دے وجه نه

هغه سره اوازې پکار وسته.

دوېمه شبهه :- حضرت مسیح علیه السلام به پیدائشي ړانده او د برګي مرض والا تندرست صحیح کول او مړي به یې ژوندي کول د خاورو نه یې مارغه جوړول بیا به یې پوکه ورو هلو او هغه به یې د ساه والا ژوندي کړو - او په کورکښې د کېښودو شوو څیزونو خبر به یې ورکولو . نو د دې معلومه شوه چې هغه متصرف ، مختار ، کارساز او غیب دان وو .

درېمه شبهه :- مونږ ته د خپلو مشرانو نه څخه داسې عبارتونه ملاو یږي چې د هغې نه معلومیږي چې حضرت عیسی علیه السلام د خپل عبادت او د اوازو کولو حکم ورکړې وو . دې وجه د مونږ مشرانو به هغه را پکارلو .

څلورمه شبهه :- حضرت مریم علیها السلام سره به هر وخت بې موسمه میوې موجود وې حالانکه هغې ته به چا نه راوړلې نو د دې نه معلومه شوه چې هغه په خپله صاحب اختیار ، تصرف والا وه او چې کله به یې غوختل نو بې موسمه میوې به یې حاصلولې په دې وجه حاجتونو او مشکلاتو کښې هغې ته د مدد د پاره اوازې کول پکار دي .

پنځمه شبهه :- د حضرت زکریا علیه السلام په کور کښې د هغه د زړښت په ورځو کښې ځوي پیدا شو حالانکه د هغه ښځه هم د اولاد قابله نه وه نو د دې نه معلومه شوه چې هغوي ته اختیار او تصرف حاصل وو هغه کارساز وو چې بې موسمه یې ځوي پیدا کړو .

د اولې شبهې جواب :- هُوَ الَّذِيٓ أَنزَلَ عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ مِنۡهُ ءَايَٰتٞ مُّحۡكَمَٰتٌ هُنَّ أُمُّ ٱلۡكِتَٰبِ وَأُخَرُ مُتَشَٰبِهَٰتٞ الآية کښې د دې شبهې جواب ورکړې شوې دې چې دا الفاظ د متشابهاتو دي او د دې حکم دا دې چې د دې تاویل که چرې په عقل کښې نه راځي نو په هغه کښې د زیات بحث او مباحثې اجازت نشته . بلکه په دې د ومره اجمالي ایمان کافي دې چې د دې نه د الله نه کوم شئ مراد دې هغه برحق دې . لهذا داسې موهم شرکي الفاظو سره استدلال کول جائز نه دي . ځکه چې بني اسرائیل د سامري د خوشې اوازې سره دهوکه شوي وو او هغه یې خدای منلې وو لیکن الله هغوي په دې کښې معذور نه وو ګرځولي ځکه یې چې ارشاد او فرمایه .

أَفَلَا يَرَوۡنَ أَلَّا يَرۡجِعُ إِلَيۡهِمۡ قَوۡلٗا وَلَا يَمۡلِكُ لَهُمۡ ضَرّٗا وَلَا نَفۡعٗا (طٰه ع ۴)

د دوېمې شبهې جواب :- په رکوع ۵ کښې أَنِّي قَدۡ جِئۡتُكُم بِـَٔايَةٖ مِّن رَّبِّكُمۡ أَنِّيٓ أَخۡلُقُ لَكُم مِّنَ ٱلطِّينِ كَهَيۡـَٔةِ ٱلطَّيۡرِ فَأَنفُخُ فِيهِ فَيَكُونُ طَيۡرَۢا بِإِذۡنِ ٱللَّهِ الخ سره یې د دې شبهې جواب ورکړو چې د خټې نه مارغه جوړول او پیدائشي ړوند او برص والا صحیح کول مړي ژوندي کول او د غیب څیزونو خبر ورکول دا ټول هرڅه د الله په حکم سره د معجزې په طور وو د یکښې د حضرت مسیح علیه السلام د قدرت او طاقت هیڅ دخل نشته ځکه چې معجزات صرف د الله په حکم سره او د هغه په قدرت سره د انبیاء علیهم السلام په لاس باندې ظاهریږي مشرکان هغه ددوي په اختیار کښې نه وي دلته یې څلور ځلې بِإِذۡنِ ٱللَّهِ راوړلو او د مشرکانو د شبهې رد یې وکړو او فرمایل إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗ لَّكُمۡ مطلب دا چې دا ټول امور خاص د الله په حکم سره د معجزې په طور ظاهر شوي وو د یکښې د عیسی علیه السلام د قدرت

د ځان نه وو. دا شان عیسیٰ علیه السلام خپل قوم ته اُو فرمایل اِنَّ اللّٰهَ رَبِّیْ وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوْهُ (ع ۵) یعنی خما او ستاسو رب او کارساز الله دے لهٰذا د هغه عبادت کوئ او هم هغه ته آواز کوئ. د دے په ځائ هغه خپل قوم ته دا ښکاره هم اُونه وئیل چه زه ستاسو رب او کارساز یم. لهٰذا چه کوم سړے پخپله الله خپل کارساز منی هغه د نورو کارساز څنګه جوړیدے شي. د دے نه علاوه حضرت مسیح علیه السلام چه کله محسوس کړه چه یهودیان د هغه دین نه قبلوی بلکه هغوی شرارت او دشمنئ ته تیار شویدی. نو اعلان یې اوکړو چه مَنْ اَنْصَارِیْۤ اِلَی اللّٰهِ. یعنی د الله په لاره کښې خما مدد ګار څوك دی. که چرے هغه خپله کارساز او مالك او مختار وے نو دا شان به یې د عجز اظهار نه کولے. دا شان الله پاك د یهودیانو د شر نه د بچ کولو د پاره او فرمایل اِنِّیْ مُتَوَفِّیْكَ وَرَافِعُكَ اِلَیَّ (ع ۶) نو د دے نه هم معلومه شوه چه د هغوی د شر نه محفوظ پاتے کیدل د حضرت عیسیٰ علیه السلام په اختیار او قبضه کښې نه وو. د دے ټولو خبرو نه معلومه شوه چه هغه مالك او مختار او متصرف او کارساز نه وو او نه هغه ته آواز کول جائز دی.

دریم شبهے جواب:- مَا كَانَ لِبَشَرٍ اَنْ یُّؤْتِیَهُ اللّٰهُ الْكِتٰبَ نه تر اَیَاْمُرُكُمْ بِالْكُفْرِ بَعْدَ اِذْ اَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ۠ (ع ۸) په دیکښې یې د دریمے شبهے جواب ورکړو چه کله الله تعالیٰ یو انسان او بشر ته نبوت او رسالت ورکړی او هغه ته کتاب او حکمت ورکوی او هغه ته د توحید د دعوت عام کولو حکم ورکوی نو بیا دا ناممکن ده چه هغه پیغمبر د خپل رسالت او نبوت د تقاضو او د الله د احکامو خلاف د توحید د اشاعت په ځائ د شرك تلقین او تبلیغ شروع کړی او د الله د عبادت او رابللو په ځائ د خپل عبادت او رابللو تعلیم شروع کړی. په دے وجه چه کوم شرکیه کلمات د الله رښتینی رسول حضرت مسیح علیه السلام طرف ته منسوب شویدی. هغه ټول غلط دی. او د عیسایانو د تیر شوو عالمانو او د دوی د مشرانو افتراء ده. حضرت مسیح علیه السلام د دے نه بری دے.

د څلورمے شبهے جواب:- قَالَ یٰمَرْیَمُ اَنّٰی لَكِ هٰذَا قَالَتْ هُوَ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ (ع ۴) حضرت مریم صدیقے سره د بے موسمه میوو موجودیدل د هغے په قبضه او اختیار کښې نه وو بلکه الله پاك په خپل کامل قدرت سره د حضرت مریمؑ د پاره د اظهارِ کرامت په طور رالیږلے.

د پنځمے شبے جواب:- هُنَالِكَ دَعَا زَكَرِیَّا رَبَّهٗ نه تر وَسَبِّحْ بِالْعَشِیِّ وَالْاِبْكَارِ (ع ۴) حضرت زکریا علیه السلام خود ځوئ د پاره د الله نه دعا اُوغوښتله او عاجزی یې کوله او الله د هغه دعا قبوله کړه او هغه ته یې ځوئ ورکړو دیکښې هغه ته اختیار او تصرف حاصل نه وو.

د دے پنځه شبها تو یې دوه مشترك جوابونه هم ورکړیدی. اول. اِنَّ اللّٰهَ اصْطَفٰۤی نه تر ذُرِّیَّةًۢ بَعْضُهَا مِنْۢ بَعْضٍ (ع ۴) دا ټول حضرات بیشکه د الله خوښ بندګان وو لیکن د معبود جوړیدو لائق نه وو ځکه چه دوی کښې ځینے د ځینو اولاد وو او مخلوق وو. لهٰذا

په ضمیلو په تحقیل د وجود کښې بل ته محتاج وُو هغه د نورو حاجت روا او کارساز څنګه جوړېدی شي. دویم وَاللّٰهُ سَمِیۡعٌ عَلِیۡمٌ ۝ (ع ۴) سمیع لکل شيءٍ (د هر څه اورېدونکے) او علیم بکل شيءٍ (ټول هر څه پېژندونکے) صرف الله دے. دا حضرات په دې صفاتو سره متصف نه دي لهذا هغوی د معبود جوړېدلو لائق هم نه دي. ځکه چه معبود د پاره په دې دواړو صفتونو سره متصف کېدل ضروري دي. د پورتني بیان نه معلومه شوه چه نصاراؤ زیات زور د حضرت عیسٰی علیه السلام په الوهیت باندې ورکړلو. په دې وجه الله تعالیٰ هم د هغه د الوهیت په نفي باندې زیات دلائل قائم کړل.

د رسالت متعلق شُبهات

د عربو د مُشرکینو پښان د نصاراؤ د مُشرکینو اصل ضد خود توحید مسئلے سره وُو. په دې وجه د هغې د انکار د پاره یې د رسُول الله ﷺ په رسالت باندې طعن کولو. او په هغې کښې یې شُبهات پیدا کول نو مشرکینو او نصاراؤ د نبي علیه السلام په رسالت کښې درې شُبهاتو اظهار اوکړو.

اوله شُبه :- په مخکینو نبیانو علیهم السلام باندې د اوښ غوښه حرام وه لیکن دے نبي هغه حلاله کړې ده. دے خود مخکینو نبیانو مخالفت کوي په دې وجه ریښتینے نبي نه دے.

دویمه شُبه :- د پخوانو بیت المقدس د انبیاؤ علیهم السلام قبله راروانه ده لیکن دے نبي د ټولو نبیانو قبله پرېښوده او نوې قبله یې جوړه کړه.

دریمه شُبه :- په جنګِ اُحد کښې مُسلمانانو د کافرانو په لاس شکست اوخوړو او هغوی ته ډېر زیات جاني او مالي نُقصان اُوشو. که چرے دا پیغمبر وے او دا مُسلمانان په ریښتیني دین باندې وے نو ولے به یې شکست خوړلے او ولے به وژلے شوے.

د شُبهاتو جوابُونه

د اَولے شُبهے جواب :- کُلُّ الطَّعَامِ کَانَ حِلًّا لِّبَنِیۡۤ اِسۡرَآءِیۡلَ نه تر وَمَا کَانَ مِنَ الۡمُشۡرِکِیۡنَ (ع ۱۰) د نصاراؤ دا دعوی غلطه ده چه په مخکینو پیغمبرانو د اوښ غوښه حرامه وه. د بني اسرائیلو د پاره د خوراک ټول شیزونه چه په هغې کښې د اوښ غوښه هم شامله ده حلال وُو. البته حضرت یعقوب علیه السلام د طبیبانو په مشوره باندې د اوښ د غوښے نه پرهیز کړے وُو.

د دویمے شُبهے جواب :- اِنَّ اَوَّلَ بَیۡتٍ وُّضِعَ لِلنَّاسِ نه تر فَاِنَّ اللّٰهَ غَنِیٌّ عَنِ الۡعٰلَمِیۡنَ (ع ۱۰) په دُنیا کښې د ټولو نه مخکښې عبادت خانه کعبه ده او د حضرت آدم علیه السلام نه واخله حضرت اسمٰعیل علیه السلام پورې د ټولو نبیانو علیهم السلام قبله یاتے شوې ده.

د دریمے شُبهے جواب :- وَاِذۡ غَدَوۡتَ مِنۡ اَهۡلِکَ (ع ۱۲) نه تر وَاللّٰهُ ذُوۡ فَضۡلٍ عَلَی الۡمُؤۡمِنِیۡنَ ۝ په جنګِ اُحد کښې الله پاک مُسلمانانو سره د وعدے مطابق فتح ورکړه. څنګه چه

وَلَقَدْ صَدَقَكُمُ اللّٰهُ وَعْدَهٗۤ اِذْ تَحُسُّوْنَهُمْ بِاِذْنِهٖ (الآیة ع ۱۶)
د الله تعالیٰ ارشاد دے۔ لیکن د هغوی نه یوه غلطی او شوه چه د هغے د وجے نه فتح په شکست سره بدله شوه۔ په دے وجه داوقتی شکست صرف د امتحان او ابتلاء د پاره وو۔ گنی نو په جنگِ بدر کښی د دے باوجود چه د مُسلمانانو تعداد د کافرانو په نسبت ډیر کم وو۔ الله د هغوی نصرت اوکړو۔ او هغوی ته یے په کافرانو باندے فتح ورکړه۔

د مضامینو د خلاصے دویم تقریر

په سُورة آلِ عمران کښی څلور مضامین بیان شوی دی۔ (۱) توحید (۲) رسالت (۳) جهاد (۴) اِنفاق۔ د سُورت د شروع نه اَيَاۡمُرُكُمْ بِالْكُفْرِ بَعْدَ اِذْ اَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ (ع ۸) پورے د توحید بیان دے۔ وَاِذْ اَخَذَ اللّٰهُ مِيْثَاقَ النَّبِيّٖنَ (ع ۹) نه فَقَدْ هُدِيَ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ (ع ۱۰) د رسالت مضمون بیان شوے دے۔ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ حَقَّ تُقٰتِهٖ (ع ۱۱) نه تر وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ پورے (ع ۱۹) د جهاد فی سبیل الله مضمون بیان شوے دے په شروع کښی ترغیب الی الجهاد دے او د جهاد سره سره د اِنفاق فی سبیل الله ذکر هم دے۔

د څلورو وارو مضامینو اعاده

بیا په وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ کښی د توحید د مضمون اجمالاً اعاده شوی ده۔ او رَبَّنَاۤ اِنَّنَا سَمِعْنَا مُنَادِيًا يُّنَادِيْ لِلْاِيْمَانِ (ع ۲۰) کښی د رسالت مضمون او فَالَّذِيْنَ هَاجَرُوْا وَاُخْرِجُوْا کښی د جهاد او د اِنفاق اجمالی ذکر شوے دے

د مضامینِ اَربعه اجمالی اعاده

بیا په آخری آیت کښی څلورو وارو مضامینو طرف ته اشاره کړے شوی ده په يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا کښی توحید طرفته صراحةً او رسالت طرفته تبعًا او په اِصْبِرُوْا وَصَابِرُوْا وَرَابِطُوْا کښی جهاد طرف ته صراحةً او اِنفاق طرفته اجمالاً اشاره کړے شوی ده۔

توحید

د دے اجمال تفصیل دا دے چه په دے سُورت کښی د نصاراؤ د شرکیه عقائدو تردید سره سره شپږ ځله د توحید مضمون بیان شوے دے۔

اول ځل: اول د سُورت په شروع کښی اَللّٰهُ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ سره د توحید دعویٰ بیان کړے شوی ده چه د الله نه سوا څوک اِله یعنی د رابللو لائق نشته۔ اَلْحَيُّ الْقَيُّوْمُ نه تر هُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ (ع ۱) پورے چه کوم د توحید آیتونه دی په هغے کښی د توحید درے دلیلونه بیان کړے شوی دی۔ ۱ دلیلِ وحی نَزَّلَ عَلَيْكَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ سره ۲ دلیلِ نقلی وَاَنْزَلَ التَّوْرٰىةَ وَالْاِنْجِيْلَ مِنْ قَبْلُ هُدًى لِّلنَّاسِ سره۔ او ۳ دلیلِ عقلی اِنَّ اللّٰهَ لَا يَخْفٰى عَلَيْهِ شَيْءٌ فِي الْاَرْضِ وَلَا فِي السَّمَآءِ الخ کښی بیان کړے شوے دے۔ او په لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ کښی د دریواړو نتیجه او ثمره بیان کړے شوی ده۔

دویم ځل:- بیا شَهِدَ اللّٰهُ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْعَزِیْزُ الْحَکِیْمُ ۝ (ع ۲) کښې د توحید مضمون بیان شوی دے په دے ځائ کښې توحید یا نَوے دره دلائل نقلیه پیش کړے شوی دی. دلیل نقلی مخکینو کتابونو سره شَهِدَ اللّٰهُ سره دے طرف ته اشاره ده ای شهد الله فی الکتب السابقة انه لا اله الا هو. یعنی الله پاک په مخکینو کتابونو کښې ګواهی ورکړے ده (بیان یے کړے دے) چه د الله نه سوا څوک د عبادت او را بللو لائق نشته. دلیل نقلی په فرښتو سره. او دلیل نقلی په مخکینو پیغمبرانو او ربانیین علماؤ سره وَالْمَلٰٓئِکَةُ وَ اُولُوا الْعِلْمِ کښې د دے بیان دے.

دریم ځل:- قُلِ اللّٰهُمَّ مٰلِکَ الْمُلْکِ نه تَرْزُقُ مَنْ تَشَآءُ بِغَیْرِ حِسَابٍ (ع ۳) کښې د توحید مضمون بیان کړے شوی دے دا د توحید د پرومبو نو دلیلونو ثمره ده یعنی چه کله دلیل وحی، دلیل نقلی او دلیل عقلی سره ثابت شو چه د الله نه سوا د عبادت او را بللو لائق څوک نشته نو بیا د الله نه دا سے دعا او غواړئ چه اے الله! زمونږ حاجتونه پوره کړے دلته مقصود بالندا، محذوف دے ای اقض حاجتی.

څلورم ځل:- اِنَّ اللّٰهَ اصْطَفٰٓی اٰدَمَ نه وَاللّٰهُ سَمِیْعٌ عَلِیْمٌ (ع ۴) پورے په څلورم ځل د توحید مضمون بیان شوی دے یعنی انبیاء علیهم السلام او بزرګان دین د الله خوښ بندګان دی. لیکن د معبود یا حاجت روا جوړیدو لائق نه دی ځکه چه ذُرِّیَّةً بَعْضُهَا مِنْۢ بَعْضٍ هغه مخلوق دی او یو د بل اولاد دے. د دے وجه نه هغه په خپله محتاج دی او د عبادت او را بللو لائق نه دی. دا شان سَمِیْعٌ لِّکُلِّ شَیْءٍ (هر څه اوریدونکے) او عَلِیْمٌ بِکُلِّ شَیْءٍ (د هر څه نه خبردار) هم صرف الله دے هغوی نه دے.

پنځم ځل:- وَلِلّٰهِ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ ۝ وَ اِلَی اللّٰهِ تُرْجَعُ الْاُمُوْرُ (ع ۱۱) کښې پنځم ځل د توحید ذکر راغلے دے یعنی په زمکه او آسمان کښې چه کوم څه دی ټول د الله دی او ټول اختیارات او تصرفات د الله په قبضه کښې دی نه چه د حضرت عیسیٰ علیه السلام او حضرت مریم علیها السلام په قبضه کښې. لهٰذا ته خود هغوی عبادت اوکړئ او نه ورته آواز اوکړئ.

شپږم ځل:- بیا په آخر کښې وَلِلّٰهِ مُلْکُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۝ وَاللّٰهُ عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ (ع ۱۹) کښې د توحید مضمون ذکر شوی دے. اول ځل یے د توحید مضمون ذکر کولو سره د دوو شبهو جواب ورکړے شوی دے. اوله شبهه دا وه چه د حضرت عیسیٰ علیه السلام په باره کښې کلمة الله روح الله او ابن الله پشان موهم شرک کلمات ملاویږی. هُوَ الَّذِیْۤ اَنْزَلَ عَلَیْکَ الْکِتٰبَ الخ سره د دے جواب ورکړے شو چه دا د متشابهاتو نه دی په دے باندے اجمالی ایمان راوړل کافی دی. د دے علم الله ته حواله کول ضروری دی. او د دے معانیو پسے ګرځیدل جائز نه دی. د دے په ضمن کښې دنیوی او اخروی تخویف هم دے. دویمه شبهه دا وه. چه د کافرانو سره مال ډیر دے که چیرے کافران د الله خوښ نه وے نو هغوی ته به یے دومره دولت ولے ورکولے زُیِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ الشَّهَوٰتِ مِنَ النِّسَآءِ وَ الْبَنِیْنَ الخ (ع ۲) سره یے د دے جواب ورکړو چه دا صرف د څو ورځو رعب داب او عارضی زیب او زینت دے. همیشه پاتے کیدونکی نعمتونه د الله سره دی. او صرف هغه خلقو ته به ملاویږی. چا چه د ایمان نه روستو شرک نه وی کړے او نیک

عملونه یې کړي وي. د دې ضمن کښې یې د عالِمانو او پیرانو د توحید د مسئلې نه منلو وجه هم اُو فرمائیله چه هغوی د ځینو ورځو د دولت سره په دهوکه کښې پریوتي دي او توحید یې پریښې دویم ځل د توحید ذکر کولو نه روستو یې اُو فرمائیل إِنَّ الدِّينَ عِندَ اللَّهِ الْإِسْلَامُ الخ یعني چه کله دلائلِ نقلیه سره ثابته شوه چه د توحید مسئله په ټولو مخکینو کتابونو کښې موجود وه. او ټول انبیاء علیهم السلام او پخوانیو عالِمانو هم د توحید مسئله بیان کړه، او الله ته هم د توحید دین خوښ دے. بیا د دې نه د اهلِ کتابو عالمانو صرف د ضد او عناد د وجې نه اختلاف اوکړو او د دې خلاف یې نیکل اوکړل. او اوس د دوی نه روستو (یهودیان) د هغوی عبارتونه کوری او په دهوکه کښې مبتلا کیږي. دریم ځل د توحید د ذکر نه روستو یې اُو فرمائیل چه کله د توحید د مسئلې مخالفت صرف ضدي او د خدائ نه باغي عالمانو کړیدے نو د دوی سره د پوره بائیکاټ اوکړے شي او مسلمانان دِ د داسې باغیانو او ګمراهانو سره دوستي نه کوي نو وے فرمائیل. لَا يَتَّخِذِ الْمُؤْمِنُونَ الْكَافِرِينَ أَوْلِيَاءَ مِن دُونِ الْمُؤْمِنِينَ الخ (ع ۳) څلورم ځل د توحید د ذکر نه روستو د توحید متعلق د خوشبها تو یې ازاله اوکړه او واضحه یې کړه چه د عمران ښځه حضرت مریم صدیقه حضرت عیسی او حضرت زکریا علیهم السلام د عبادت او را بللو لائق نه دي. د شبهاتو د ازالې نه روستو یې اُو فرمائیل چه که څوک اوس هم نه مني نو د مباهلې چیلنج ورکړئ. فَمَنْ حَاجَّكَ فِيهِ مِن بَعْدِ مَا جَاءَكَ مِنَ الْعِلْمِ فَقُلْ تَعَالَوْا نَدْعُ أَبْنَاءَنَا وَأَبْنَاءَكُمْ الآية (ع ۶) او که څوک هغوی د مباهلې د پاره هم میدان ته رانه شي نو ته یو ځل بیا د توحید اعلان اوکړه وَمَا مِنْ إِلَٰهٍ إِلَّا اللَّهُ.

د دې نه پس یې قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْا إِلَىٰ كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ الخ (ع ۷) سره اهلِ کتابو ته دعوت ورکړو بیا د اهلِ کتابو پنځه شکوې دي.

اوله شکوه:- قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ لِمَ تُحَاجُّونَ فِي إِبْرَاهِيمَ نه تر وَمَا يُضِلُّونَ إِلَّا أَنفُسَهُمْ وَمَا يَشْعُرُونَ (ع ۷) دویمه شکوه:- يَا أَهْلَ الْكِتَابِ لِمَ تَكْفُرُونَ بِآيَاتِ اللَّهِ نه تر وَتَكْتُمُونَ الْحَقَّ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ (ع ۷) دریمه شکوه:- وَقَالَت طَّائِفَةٌ مِّنْ أَهْلِ الْكِتَابِ آمِنُوا بِالَّذِي نه تر وَاللَّهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ (ع ۸) څلورمه شکوه:- وَمِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ مَنْ إِنْ تَأْمَنْهُ بِقِنطَارٍ يُؤَدِّهِ إِلَيْكَ نه تر وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ (ع ۸) پنځمه شکوه:- وَإِنَّ مِنْهُمْ لَفَرِيقًا يَلْوُونَ أَلْسِنَتَهُم بِالْكِتَابِ نه تر وَيَقُولُونَ عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ وَهُمْ يَعْلَمُونَ (ع ۸)

د دې نه پس مَا كَانَ لِبَشَرٍ أَن يُؤْتِيَهُ اللَّهُ الْكِتَابَ نه تر أَيَأْمُرُكُم بِالْكُفْرِ بَعْدَ إِذْ أَنتُم مُّسْلِمُونَ (ع ۸) کښې یې د توحید متعلق د دریمې شبهې جواب ورکړیدے. شبهه دا وه چه حضرت عیسی علیه السلام نه مخکې دا سې کلمې ملا دیوی چه د هغه نه معلومیږي چه هغوی ته اواز کول پکار دي. جواب یې ورکړو چه دا په هغوی بهتان دے دا هرګز نه شي کیدے چه د الله پیغمبر د شرک تعلیم ورکوي.

رسالت

وَإِذْ أَخَذَ اللَّهُ مِيثَاقَ النَّبِيِّينَ الخ (ع ۹) نه د رسالت مضمون شروع کیږي. هغه رسول راغے کوم چه د مخکینو نبیانو د توحید د دعوت تصدیق کوي.

اوپه هغے باندے د ایمان را اوړلو ټولو نبیانو علیهم السلام خپلو اُمتونو ته تلقین کړے وُو لهٰذا په
دے باندے ایمان را اوړئ او د دغه دعوت یعنی توحید او منئ. لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتّٰى تُنْفِقُوْا
مِمَّا تُحِبُّوْنَ (ع ۱۰) د ایمان کامل درجے ته تاسو تر هغے پورے نه شئ رسیدے تر څو پورے
چه تاسو د توحید مسئله اُونه منئ او د هغے په خاطر خپل د پرخوښئ د دنیوی ریاست شان
او شوکت او ګدئ پریښے نه دئ. د دے نه پس كُلُّ الطَّعَامِ كَانَ حِلًّا لِّبَنِیْٓ اِسْرَآءِیْلَ نه تر وَمَا
كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِیْنَ پورے د رسالت متعلق د اولے شُبهے جواب دے. او اِنَّ اَوَّلَ بَیْتٍ
وُّضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِیْ بِبَكَّةَ سره د دویمے شُبهے جواب ورکړے شوید ے.

جهاد فی سبیل الله او انفاق فی سبیل الله

یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ حَقَّ تُقٰتِهٖ (ع ۱۱) نه تر اخره پورے د الله په لاره کښی جهاد
او د سره سره د انفاق فی سبیل الله مضمون ذکر شوید ے. په شروع کښی د جهاد ترغیب دے
د هغے نه روستو شلور ځله د جهاد او شلور ځله د انفاق ذکر دے د رکوع ۱۱ پورتنی ایت نه د
وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِیْمٌ (ع ۱۳) پورے د جهاد مضمون دے. او یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا لَا تَاْكُلُوا
الرِّبٰوٓا (ع ۱۳) د ابتداء نه تر وَهُدًى وَّمَوْعِظَةٌ لِّلْمُتَّقِیْنَ (ع ۱۴) پورے د انفاق مضمون ذکر
دے. خپلے روپئ په سود کښی مه لګوئ بلکه د الله په لاره کښی ے خرچ کړئ. بیا د وَلَا تَهِنُوْا
وَلَا تَحْزَنُوْا وَاَنْتُمُ الْاَعْلَوْنَ (ع ۱۴) نه وَاِنْ تُؤْمِنُوْا وَتَتَّقُوْا فَلَكُمْ اَجْرٌ عَظِیْمٌ (ع ۱۸)
پورے د جهاد ذکر دے او د هغے نه روستو وَلَا یَحْسَبَنَّ الَّذِیْنَ یَبْخَلُوْنَ بِمَآ اٰتٰىهُمُ اللّٰهُ نه تر
جَآءُوْ بِالْبَیِّنٰتِ وَالزُّبُرِ وَالْكِتٰبِ الْمُنِیْرِ (ع ۱۸) پورے د انفاق مضمون ذکر دے د هغے نه
روستو كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ الاٰیة او لَتُبْلَوُنَّ فِیْٓ اَمْوَالِكُمْ وَاَنْفُسِكُمْ الاٰیة (ع ۱۸) کښی
جهاد او انفاق طرف ته اشاره ده. د جهاد د مضمون په سلسله کښی د مشرکینو او نصاراؤ د یو ے
شُبهے جواب ے ورکړے. شُبه دا وه که چرے دا پیغمبر رښتینے وے او د مسلمانانو دین الله
ته خوښ وے نو په جنګ احد کښی به هغوی شکست نه خوړلے. د دے شُبهے جواب الله تدریجًا
ورکړے دے. وَاِذْ غَدَوْتَ مِنْ اَهْلِكَ الخ (ع ۱۳) کښی ے فرمائیلی چه الله تعالیٰ کله مسلمانان
پرېښودلے دی. په جنګ احد کښی دوو قبیلو د همت بیللو اراده کړے وه نو الله د هغوی مدد
وکړو او د هغوی د زړونو نه هغه غلط ارادے ختمے شوے او د هغوی په زړونو کښی ے همت او اخلاص
پیدا کړو. او بیا د جنګ بدر واقعه اوګورئ په هغے کښی د تعداد او د سامان د کمی باوجود الله
د مسلمانانو مدد اوکړو او هغوی ته ے فتح ورکړه. بیا ے اوفرمائیل اِنْ یَّمْسَسْكُمْ قَرْحٌ فَقَدْ مَسَّ
الْقَوْمَ قَرْحٌ مِّثْلُهٗ (ع ۱۴) په جنګ احد کښی که چرے مسلمانانو ته جانی او مالی نقصان شوید ے
نو دا کومه لویه خبره ده. ستا کافرانو هم په جنګ بدر کښی دومره لوئی نقصان اوچت کړید ے د
د هغے نه پس ے اصل جواب ورکړو. وَلَقَدْ صَدَقَكُمُ اللّٰهُ وَعْدَهٗٓ اِذْ تَحُسُّوْنَهُمْ بِاِذْنِهٖ (ع ۱۶)
یعنی الله تعالیٰ خو د مسلمانانو سره د فتح ورکولو خپله وعده پوره کړے وه. خو بیا په مسلمانانو
حَتّٰىٓ اِذَا فَشِلْتُمْ وَتَنَازَعْتُمْ فِی الْاَمْرِ وَعَصَیْتُمْ
کښی کمزورے تکړے کول او غور نه کول یے.

نزدے چه د مسلمانانو نه يوه غلطي اوشوه هغوی د پيغمبر ﷺ د اجازت نه بغير مورچے پريښے وه چه د هغے نتيجه دا شوه چه فتح شکست سره بدله شوه. ثُمَّ صَرَفَكُمْ عَنْهُمْ لِيَبْتَلِيَكُمْ او دا صرف د مسلمانانو د امتحان او ابتلاء دپاره وه نه د دے دپاره چه د دوی دين ختم شي نه وسے - دينه پس الله تعالىٰ د مسلمانانو دا غلطي معاف کړه وَلَقَدْ عَفَا عَنْكُمْ سره تفصيل ئے ورکړو. وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ قُتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَمْوَاتًا الخ (ع ۱۷) د هغه خلقو فضائل او درجات ئے بيان کړيدی. کوم چه د دے جهاد کښ شهيدان شول او د دے نه مخکښ او دينه روستو ئے هغه منافقانو ته تنبيه ورکړيده چا چه مجاهدينو ته طعن ورکولو په آخر کښ ئے لَقَدْ سَمِعَ اللّٰهُ قَوْلَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ فَقِيْرٌ الخ او وَاِذْ اَخَذَ اللّٰهُ مِيْثَاقَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ الخ (ع ۱۹) کښ د مشرکينو اهل کتابو تنبيه ده. ځکه چه په الله تعالىٰ باندے افتراء کوی او د چا نه چه د توحيد بيانونو عهد اخستے شوے وو. ليکن هغوی د دنيا او دولت په خاطر د الله وعده شاته او غورزوله او حق ئے پټ کړو. د مضمون جهاد په شروع کښ لَيْسُوْا سَوَآءً (ع ۱۲) او د سورة په اختتام باندے ئے وَاِنَّ مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ لَمَنْ يُّؤْمِنُ بِاللّٰهِ الخ (ع ۲۰) کښ اوفرمائيل چه اهل کتاب يو شان نه دي بلکه په دوی کښ ښه خلق هم شته چه په خپلو کتابونو باندے هم ايمان لری او په آخری پيغمبر ﷺ باندے هم ايمان راوړی. هغوی ته ئے په آخرت کښ د نجات زيرے هم ورکړيدے.

د سورة آل عمران مختصر خلاصه

آخری پيغمبر راغلے دے په هغه باندے ايمان راوړئ او د هغه راوړلے شوے د توحيد پيغام اومنئ او د حضرت عيسىٰ او حضرت مريم عليهما السلام عبادت او رابلل پريږدئ او د آخری پيغمبر سره يوځاے شئ د توحيد د اشاعت په خاطر د مشرکانو سره جهاد اوکړئ.

اوله حصه - توحيد

د توحيد مضمون ذکر اول

سـ۲ـه په دے باندے په سورة بقره کښ کلام تير شويدے.

اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ۔ دا د توحيد دعوىٰ ده. الْحَيُّ الْقَيُّوْمُ، د مبتدا، محذوف خبر دے (مدارک ج۱) د دے ځاے نه واخله الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ پورے د توحيد د دعوے د پاره دليل دے چه په دريو ضمنی دليلونو باندے مشتمل دے (۱) دليل وحی (۲) دليل نقلی (۳) دليل عقلی. د اولنو د دو دليلونو ذکر اشارةً دے او د دريم صراحةً دے.

سـ۳ـه دا دليل وحی ته اشاره ده يعنی ستاسو دا دعوىٰ د خپل طرفه نه ده بلکه د وحی ربانی تابع ده. الله چه کوم کتاب په تا نازل کړيدے په هغے کښ تاسو ته د دے دعوے د پيش کولو حکم درکړے شويدے. سـ۴ـه مُصَدِّقًا د الکتاب نه حال مؤکده دے (روح ج۳، بحر ج۲) مَا بَيْنَ يَدَيْهِ نه تير شوی کتابونه مراد دی. د قرآن مجيد د تير شوو کتابونو تصديق کولو مفهوم دا دے چه په تير شوو کتابونو کښ توحيد، رسالت د شرک نفی او د عدل او احسان چه کوم احکام بيان شويدی قرآن د هغے سره اختلاف نه کوی بلکه د هغے تصديق کوی. المراد منه انه لم يبعث نبيا

قط الا بالدعاء الی توحیده والایمان و تنزیهه عما لا یلیق به والعدل والاحسان والشرائع التی هی صلاح اهل کل زمان فالقرآن مصدق لتلک الکتب فی کل ذالک (بحر ج ۲ ص ۳۷۸) او د الفرقان نه مراد قرآن دے ځکه چه دے سره د حق او باطل او د حرام حلال تمیز کیږی. (روح ص ۷۶ ج ۳، خازن ج ۱ ص ۲۶۴) په دے آیت کښی دلیل نقلی من الکتب السابقة طرفته اشاره ده. یعنی دا دعوی صرف په قرآن کښی نده بلکه ټول مخکنی کتابونه کوم چه خپله خپله زمانه کښی د خلقو د هدایت ذریعه وو په هغے کښی هم دا دعوی موجود وه ځکه چه په سورة بنی اسرائیل کښی دی. وَاٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ وَ جَعَلْنٰهُ هُدًى لِّبَنِىٓ اِسْرَآءِيْلَ اَلَّا تَتَّخِذُوْا مِنْ دُوْنِىْ وَكِيْلًا. په آخر کښی الله پاک د دے توحید د دعوے سره خپل آخری کتاب د حق او باطل فیصله کولو د پاره په خپل آخری رسول صلی الله علیه وسلم باندے نازل کړو. ۴ څه دا د توحید دعوی مدلل بیانولو نه روستو نه منونکو د پاره تخویف اُخروی دے.

اِنَّ اللّٰهَ لَا يَخْفٰى عَلَيْهِ شَىْءٌ فِى الْاَرْضِ وَلَا فِى السَّمَآءِ ۝۵

د الله نه پټ نه دے هیڅ شیز په زمکه کښی او نه په آسمان کښی ۵

هُوَ الَّذِىْ يُصَوِّرُكُمْ فِى الْاَرْحَامِ كَيْفَ يَشَآءُ ۚ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ

هغه ستاسو نقشه جوړوی د مور په خیټه کښی څنګه چه اوغواړی. د چا بندګی نشته د هغه نه

الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝۶ هُوَ الَّذِىْٓ اَنْزَلَ عَلَيْكَ الْكِتٰبَ مِنْهُ

ډیر زبردست دے حکمت والا دے بس هغه دے چا چه نازل کړو په تا باندے کتاب د کښی بعضے

اٰيٰتٌ مُّحْكَمٰتٌ هُنَّ اُمُّ الْكِتٰبِ وَاُخَرُ مُتَشٰبِهٰتٌ ۭ فَاَمَّا

آیتونه دی محکم یعنی د هغے معانے واضح دی هغه اصل د کتاب دے او نور متشابه دی. یعنی چه د هغے معنے

الَّذِيْنَ فِىْ قُلُوْبِهِمْ زَيْغٌ فَيَتَّبِعُوْنَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ ابْتِغَآءَ

معلومے یا معین نه دی بیک نو د چا په زړه کښی چه کوږوالے دے هغه پیروی کوی د متشابهاتو. د ګمراهئ

الْفِتْنَةِ وَابْتِغَآءَ تَاْوِيْلِهٖ ۚ وَمَا يَعْلَمُ تَاْوِيْلَهٗٓ اِلَّا اللّٰهُ ۘ وَالرّٰسِخُوْنَ

خوروَلو په غرض او د مطلب معلومولو په وجه سره ۵ او د هغے مطلب هیڅوک نه پیژنی بیرته د الله نه ۶ او

فِى الْعِلْمِ يَقُوْلُوْنَ اٰمَنَّا بِهٖ ۙ كُلٌّ مِّنْ عِنْدِ رَبِّنَا ۚ وَمَا

او د مضبوط علم والا وائی چه مونږ په دے ایمان راوړو. ټول زمونږ د رب طرفنه نازل شوی دی ۷ او

يَذَّكَّرُ اِلَّآ اُولُوا الْاَلْبَابِ ۞ رَبَّنَا لَا تُزِغْ قُلُوْبَنَا بَعْدَ اِذْ

پوهېږي او نه سره هغه پوهېږي چه د چا عقل سلیم وي اے ربه زمونږه مه اړوه زړونه زمونږ پس له هغه چه

هَدَيْتَنَا وَهَبْ لَنَا مِنْ لَّدُنْكَ رَحْمَةً ۚ اِنَّكَ اَنْتَ

مونږ ته هدایت اوکړو او راکړه مونږ ته د خپل طرفه رحمت ته هم ته ورکوونکے

الْوَهَّابُ ۞ رَبَّنَآ اِنَّكَ جَامِعُ النَّاسِ لِيَوْمٍ لَّا رَيْبَ فِيْهِ

یے ښه اے ربه! ته جمع کوونکے یے خلقو لره یوه ورځ چه په هغه کښی هیڅ شک نشته

اِنَّ اللّٰهَ لَا يُخْلِفُ الْمِيْعَادَ ۞

بیشکه الله خلاف نه کوي د وعدے سره

نکات: ۔ سلا د تیر شوو دلائلو نمره ۲ د شبهے جواب ۳ دا هم د یقولون دلاندے داخل دے ۲ یقولون دلاندے۔

موضح قرآن ف دے سورة کښی د نصارا و په هغه ځای په نظر کښی دی چه حضرت مریم ته په پیے د الله ښځه و ښیله او حضرت عیسیٰ علیه السلام ته به بیے الله ځوئ او هغوی خوښيدلي وو په دے باندے چه د الله د مهربانئ الفاظ یے د هغوی په حق کښی اوریدلي وو چه هغوی ته د بندگئ نه زیاته مرتبه پکار ده۔ د دے وجے نه الله پاک فرمائي چه په هر کلام کښی الله پاک خپله خبرے داسے ایښے دي چه د هغے معنیٰ صفا او واضحه کیږي نو چه کوم ګمراه وي هغوی د دے معنیٰ د نورو آیتونو سره ملاؤ کړو کوم چه اصل کتاب دے ځان یے پوه کړو د هغے موافق یے ځان پوهه کړو نو پوهه شول او په کوم چه پوهه نه شو نو الله ته یے پریښودل چه هغه ښه پوهیږي او زمونږ کار خو د ایمان لرلو سره دے۔

تفسیر سلا دا عقلي دلیل دے معبود او مستعان صرف هغه څوک کیدے شي چه عالم الغیب وي په هر څیز خبر وي۔ او هیڅ څیز د هغه نه پټ نه وي او هغه قادر مطلق وي او هر کار د هغه د قدرت دلاندے داخل وي۔ په دے آیت کښی یے اول دا بیان کړیدے چه الله پاک د هر څیز نه خبر دے او هیڅ څیز د هغه د علم محیط نه بهر نه دے د دے برعکس حضرت عیسیٰ او حضرت مریم علیهما السلام کښی دا صفت موجود نه وو په دے وجه هغه معبود او مستعان نه شي جوړیدے۔ هُوَ الَّذِيْ يُصَوِّرُكُمْ فِي الْاَرْحَامِ دا د عقلي دلیل دویم حصه ده چه په دیکښی دویم شق طرفته اشاره ده چه الله پاک دا د قادر مطلق دے چه د مور په خیټه کښی په خپل اختیار سره د هر چا شکل جوړوي۔ حضرت عیسیٰ او د هغه محترمه مور علیهما السلام خو هرګز داسے نه شي کیدے بلکه د هغوی هم الله د هغوی د میندو په رحمونو کښی جوړ کړي دي۔ په دے وجه هغوی معبود او مستعان

په شي جوړېږي ـ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۞ دا د دليلِ عقلي نتيجه ده. د نتيجې بيان يې صراحت سره اوکړو او دې طرفته يې اشاره کړېده چه تقريب تام دے او دليل د دعوے سره بالکل مطابق دے.

د نصارٰو د شبهے جواب ۷ـ مخکښې بيان شوېدے چه د عيسايانو په زړونو کښې د توحيد او رسالت متعلق څې شبهات وُو چه هغه ټوله په دے سورت کښې ذکر کړے شوه او جواب ورکړے شو. اوله شبه دا وه چه د حضرت عيسٰي عليه السّلام په باره کښې روح الله، کلمة الله، ابن الله څنګه چه په انجيل کښې دي او د دے قسمه نور الفاظ راغلي دي. چه د هغې نه معلومېږي چه د حضرت عيسٰي عليه السّلام د الله سره يو خاص نسبت دے چه د هغې په وجه هغه د الله زوئ دے او الله هغه ته په غيبو د پوهېدلو او د حاجتونو د پوره کولو خصوصي اختيارات ورکړيدي. نو په اتم ۷ ايت کښې د دوي د دے شبهے جواب ورکړے شويدے.

ـه ديکښې شک نشته چه دا کتاب خو خدائ نازل کړيدے چه ديکښې د حضرت عيسٰي عليه السّلام متعلق د روح الله او کلمة الله الفاظ موجود دي ليکن د دے کتاب ايتونه د خپل مفهوم او معنٰي په اعتبار سره دوه قسمه دي. يو محکم دويم متشابه. محکم هغه دي چه د هغې معنٰي متفق عليه او مفهوم معقول او د فهم قابل وي. او متشابه هغه دي چه د هغې تاويل مختلف فيه وي. او د هغې ظاهر د پوهے نه اوچت وي. مثلاً حروف مقطعات او يد الله، روح الله او کلمة الله وغيره. المحکمات هي المتفق علي تاويلها والمعقول معناها والمتشابهات هي المختلف في تاويلها (المعتصر من مختصر مشکل الآثار طحاوي ج۲ ص) هُنَّ اُمُّ الْکِتٰبِ يعني د کتاب اصل او مرکزي حصه او د احکامو محور صرف دا محکمات دي. احکام هغه دے نه بيلېږي نه چه د متشابهاتو نه. بلکه د متشابهاتو مفهوم به د محکماتو په رڼا کښې متعين کولے شي. اي اصله والعمدة فيه يرد اليها غيرها (روح ج۳) ـه د زيغ نه د زړه کوږوالے، د حق نه مخ اړول او د نفس خواهشاتو طرفته ميلان مراد دے. اي ميل عن الحق الي الاهواء (ابوالسعود ج۲) د فتنې نه مراد شر او فساد دے يعني د کومو خلقو په زړونو کښې چه د حق نه نفرت او باطل طرفته ميلان دے هغوي محکمات پرېږدي او متشابهاتو پسے لګيدلي وي. چه د هغوي مقصد د دے نه صرف دا وي. چه د مسلمانانو په زړونو کښې مختلف قسمه شکونه او شبهات پيدا کړي د متشابهاتو د اصلي مفهوم تلاش کولو کښې لګيا کيږي چه د هغې اصلي مفهوم نه شي حاصلولے نو مختلفو طريقو سره مسلمانان ګمراه کوي.

ـه دا جمله د يتبعون د ضمير نه حال دے يعني دا بد باطن خلق د متشابهاتو د اصلي مفهوم معلومولو کوشش کوي حالانکه دا ممکن نه ده ځکه چه د متشابهاتو صحيح علم صرف الله ته دے په هغې بل هيڅوک نه پوهيږي. ځکه چه د هغې علم الله پاک خپل ځان پورے خاص کړيدے. وَمَا يَعْلَمُ تَاْوِيْلَهٗٓ اِلَّا اللّٰهُ ۘ باندے وقف لازم دے او د دينه رو ستو جمله مستانفه ده او مطلب دا دے چه د متشابهاتو علم د الله نه سوا هيچا ته نشته. څنګه چه د ابن عباسؓ، عائشهؓ، ابن عمرؓ، ابن مسعودؓ، اُبيّ بن کعبؓ، عمر بن عبد العزيزؒ، عروه بن زبيرؒ، امام مالکؒ،

ابو عبیدہ، کسائی، فراء او اخفش وغیرهم نه نقل دی. وعلی هذا القول لا یعلم المتشابه الا الله و هذا قول ابن عباس وعائشة والحسن و مالک بن انس والکسائی والفراء، ومن المعتزلة قول ابی علی الجبائی وهو المختار عندنا (کبیر ص ۱۸۶ ج ۷) هذا قول ابن عمرو ابن عباس وعائشة وعروة بن الزبیر وعمر بن عبدالعزیز وغیر وهو مذهب الکسائی والاخفش والفراء وابی عبید وغیرهم ..... وروی ذالک عن ابن مسعود وابی بن کعب (قرطبی ص ۱۶ ج ۴) هم دا حنفیانو مسلک دے او هم دا راجح دے. وهو الذی ذهب الیه الحنفیة ..... ورجح الثانی (ای الوقف علی الا الله) بانه مذهب الاکثرین من اصحاب رسول الله صلی الله تعالیٰ علیه وسلم والتابعین واتباعهم خصوصًا اهل السنة وهو اصح الروایات عن ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه (روح ص ۸۳ ج ۳) سله هغه خود زانګیتوحال ذو اوس د راسخینو حال هم واورئ. راسخ فی العلم هغه خلق دی کوم چه په علم دین کښی پاخه دی او د فهم سلیم او د طبع مستقیم مالکان دی. هغوی متشابهاتو پسے نه ګرځی. بلکه هغوی وائی چه زموږ په دے یانده ایمان دے چه دا متشابهات د الله د طرفنه دی. او د دے نه مراد د الله برحق دے. راسخ فی العلم زیات نه زیات دا کوی چه متشابهات د محکماتو په ذریعه معلوموی چه که چرے محکماتو په رڼا کښی د دے څه مفهوم په پوهه کښی راشی نو د محکماتو په شان به په هغے باندے هم عمل کوی. لیکن که چرے څه مفهوم یے په پوهه کښی را نشی نو بیا خاموشی اختیاروی او صرف په ایمان بالمتشابهات باندے اکتفاء کوی او په ظن او تخمین سره د هغے د مفهوم متعین کولو کوشش نه کوی. فاهل الحق یردون المتشابه الی عالمه ثم یلتمسون تأویله من المحکم الذی هو ام الکتٰب فان وجدوه فیه عملوا به کما عملوا بالمحکم فان لم یجدوا لقصورهم لم یتجاوزوا فی ذالک الایمان به ولا استعملوا فیه الظنون المحرم استعمالها فی غیره فکیف به (المعتصر من مختصر مشکل الآثار للطحاوی ص ۱۹۱ ج ۲) او لفظ روح الله او کلمة الله هم چونکه د متشابهاتو نه دے په دے وجه د دے صحیح مفهوم د الله نه سوا بل چاته معلوم نه دے. په ظن او تخمین سره عیسایانو چه د دے الفاظو مفهوم خیال کړیدے او د کوم په وجه یے چه حضرت عیسیٰ علیه السلام معبود او د الله ګرځولے دے دا ټول د هغوی د ګمراهئ او د باطنی پوند والی نتیجه ده. وَمَا یَذَّکَّرُ اِلَّآ اُولُوا الْاَلْبَابِ۔ نصیحت صرف هغه خلق حاصلوی د چاچه عقل سلیم او ذهن صفا وی. د دے سره د راسخین فی العلم صحیح اوتنا طرفته اشاره ده.

سله دا د راسخین فی العلم دعا ده هغوی د الله نه دا دعا غواړی چه اے الله! موږ په متشابهاتو باندے ایمان راوړو او د هغے صحیح علم هم تاته حواله کړو او ظن او تخمین (اټکل) سره د رائے د اظهار نه ځان ساتو. اے الله! موږ د هدایت په دے لاره باندے قائم اولرے او زموږ زړونه باطل طرفته مه مائل کوے او په فضل رحمت سره زموږ مدد اوکړے.

سله دا هم د راسخینو د دعا حصه ده. په دے کښی اعتراف دے چه د قیامت په ورځ به ضرور راځی او الله تعالیٰ به ټول بنیادم په میدان حشر کښی جمع کړی او د ټولو نه به حساب اخلی. د الله نیک بندګان هر وخت د آخرت په فکر کښی مشغول وی، او د الله په مخکښی د حساب او کتاب د نظارے نه هر وخت ویریږی ډکی او لړزیږی ډکی وی.

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا لَنْ تُغْنِيَ عَنْهُمْ أَمْوَالُهُمْ وَلَا أَوْلَادُهُمْ

بیشکه چه کوم خلق کافران دی هرګز به بکار نه راځی هغوی ته د هغوی مال او نه د هغوی اولاد

مِنَ اللَّهِ شَيْئًا ۖ وَأُولَٰئِكَ هُمْ وَقُودُ النَّارِ (۱۰) كَدَأْبِ آلِ

د الله په مخکښې بر هُم ۱۳ شله او هُم هغوی دی خشاك د جهنم ۱۳ شله لکه حال د فرعونیانو

فِرْعَوْنَ ۙ وَالَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۚ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا فَأَخَذَهُمُ

او کوم چه د هغوی نه مخکښې وُو شله دروغ یې اُوګنړل زمونږ ایتونه بیا اُونیول

اللَّهُ بِذُنُوبِهِمْ ۗ وَاللَّهُ شَدِيدُ الْعِقَابِ (۱۱) قُلْ لِلَّذِينَ

هغوی الله د هغوی په ګناهونو باندے او د الله عذاب سخت دے شله او وایه کافرانو ته اوس به

كَفَرُوا سَتُغْلَبُونَ وَتُحْشَرُونَ إِلَىٰ جَهَنَّمَ ۚ وَبِئْسَ

تاسو مغلوب شئ او شړلے به شئ دوزخ طرف ته او ډیر بد ځای

الْمِهَادُ (۱۲) قَدْ كَانَ لَكُمْ آيَةٌ فِي فِئَتَيْنِ الْتَقَتَا ۖ فِئَةٌ

دے شله اوس تیره شوې ده ستاسو په وړاندے یوه نمونه دوه فوجونو کښې چه د هغوی مقابله

تُقَاتِلُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَأُخْرَىٰ كَافِرَةٌ يَرَوْنَهُمْ مِثْلَيْهِمْ

اوشوه یو فوج دے چه جنګیږی د الله په لاره کښې او دویم فوج د کافرانو دے وینی دوی هغوی لره دخپل

رَأْيَ الْعَيْنِ ۚ وَاللَّهُ يُؤَيِّدُ بِنَصْرِهِ مَنْ يَشَاءُ ۗ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ

ځان نه دوچنده ښکاره سترګو سره شله او الله طاقت ورکوی دخپل مدد چا ته چه اُوغواړی دے کښې دے

لَعِبْرَةً لِأُولِي الْأَبْصَارِ (۱۳)

عبرت کتونکو د پاره ف۱

نکات :- ۱ تخویفِ اُخروی . ۲ تخویفِ دُنیوی . ۳ د تخویفِ دُنیوی یوه نمونه

موضحِ قرآن

ف۱ یعنی په جنګ بدر کښې د کوم قصه چه په سُورة انفال کښې ده . د مُسلمانانو نه کافران درے چنده وُو بیا الله د وچنده اُوښودل چه اُوله ویره یری . بیا الله پاك مُسلمانانو ته فتح ورکړه . ښکاره ده چه د دے نه ټول کافران عبرت واخلی .

تفسیر

۱۳ عیسایانو ته د هغوی د شبهې معقول جواب ورکولو نه روستو په دُنیوی
او اُخروی تخویف واوروئ چه ددې معمول او واضح دلائلو نه روستو هم
که چیرته تاسو په خپل ضد باندې قائم پاتې کیږئ. او د الله د توحید د واضح ایتونو نه
انکار کوئ نو د فرعون د قوم پشان بد انجام د پاره تیار شئ. چه هغوی په دُنیا کښ د دوبیدو
په عذاب سره هلاک کړے شول. او په اٰخرت کښ به هم سخت عذاب ورکړے شي او چه کله
د الله عذاب راشي نو هغه وخت به مال او اولاد او مددګار هم پکار رانه شي.

۱۴ کوم خلق چه د توحید د واضح او قوی دلائلو باوجود د الله د ایتونو نه انکار
اوکړي او توحید پریږدي او شرک اختیار کړي د غیر الله عبادت کوي او په حاجتونو او
مشکلاتو کښ غیر الله ته اوازونه کوي د هغوی سزا ددې نه سوا څه کیدے شي چه هغوی
به د دوزخ خشاک وي او په هغې کښ به همیشه اوسیږي. ۱۵ كَدَاْبِ اٰلِ فِرْعَوْنَ د مبتدا
محذوف خبر دے ای دأبهم کدأب آل فرعون. او دَاْبٌ معنٰی حال ده یعنی تکذیب او انکار کښ
ددې کافرانو حال او رویه بالکل هم هغه شان ده لکه چه د فرعونیانو او د هغوی نه د مخکښ
کافرانو وه. دا شان په عذاب کښ به هم د دوی حال هغه وي کوم چه د هغوی وو. دأب
هؤلاء الکفرة فی تکذیب الحق کدأب من قبلهم من آل فرعون وغیرهم (مدارک ج۱ ص۱۱۱) ای حال هؤلاء فی
الکفر واستحقاق العذاب کحال آل فرعون (روح ج۳ ص۹۳)

۱۶ دا د هغوی د دأب او حال تفسیر دے چه هغوی د الله ایتونه دروغ اوګڼړل نو الله
هغوی لره د هغوی د ګناهونو په وجه سره په عذاب کښ مبتلا کړل او دا یے خلقو د پاره د
الله عذاب ډیر سخت دے. د ایتونو نه مراد د الله د کتابونو ایتونه دي. یا مراد د الله د توحید
او د انبیاء علیهم السلام د صداقت دلائل دي. والمراد بالآیات اما المتلوا فی کتب الله تعالٰی
او العلامات الدالة علی توحید الله تعالٰی وصدق الانبیاء علیهم الصلوٰة والسلام (روح ج۳ ص۹۳ بحر ج۲ ص[illegible])
یحتمل ان یرید الآیات المتلوة ویحتمل ان یرید الآیات المنصوبة الدالة علی الوحدانیة (بحر ج۲ ص[illegible])

۱۷ دا د تخویف دُنیوی یوه نمونه ده. دیکښ د کافرانو مغلوبیت او د هغوی د عذاب
مستحق کیدل بیان شوي دي. ۱۸ دا د ماقبل تتمه ده او د قُلْ نه لاندې داخل ده. او دیکښ
جنګ بدر طرفته اشاره ده. دیکښ د مسلمانانو تعداد د کافرانو په مقابله کښ ډیر کم وو لیکن
د مسلمانانو د رُعب او هیبت دا عالم وو چه کافرانو ته مسلمانان خپل دوچنده په نظر راتلل
د مسلمانانو کافرانو ته دوچنده په نظر راتلل دا د نبي علیه السلام معجزه وه. الله تعالٰی د
کافرانو په زړونو کښ د مسلمانانو هیبت کیښودلو د پاره ددې اظهار اوکړو. ددې ایت نه د
جنګ بدر د شریکیدونکو صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعین ډیر لوئ فضیلت ثابتیږي.
الله پاک د دوی متعلق ارشاد اوفرمایه فِئَةٌ تُقَاتِلُ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ یعنی هغه یو داسې
جماعت وو چه محض د الله د دین په خاطر یے جنګ کولو. د الله د طرفنه دا د هغوی د
اخلاص او د کامل ایمان زبردست شهادت دے. ۱۹ الله چه چاته اوغواړي د ظاهري
اسبابو نه بغیر مدد ورکولے شي لکه چه په بدر کښ د مسلمانانو مدد اوکړو او هغوی ته یے په

کافرانو پوهی سره غلبه ورکړه سره له دی نه په شمیر او ظاهری اسبابو کښی معنوی د مسلمانانو نه زیات وو. په دی کښی عبرت دی د عقل او بصیرت لرونکو دپاره کافی عبرت دی ... چه ددی واقعی نه عبرت حاصل کړی او اوس هم وخت دی ... او اسلام قبول کړی

زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ الشَّهَوٰتِ مِنَ النِّسَآءِ وَالْبَنِيْنَ

ښکلی کړی شوی خلقو لره د مرغوب شیزونو محبت لکه ښځی

او زامن

وَالْقَنَاطِيْرِ الْمُقَنْطَرَةِ مِنَ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ وَ

او خزانی جمع کړی شوی د سرو او سپینو او

الْخَيْلِ الْمُسَوَّمَةِ وَالْاَنْعَامِ وَالْحَرْثِ ۗ ذٰلِكَ مَتَاعُ

آسونه نښه لګول شوی او څاروی او فصل دا فائده اخستل دی

الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ وَاللّٰهُ عِنْدَهٗ حُسْنُ الْمَاٰبِ ﴿١٤﴾ قُلْ

د دنیا په ژوند کښی او الله سره دی ښه ځای

او وایه

اَؤُنَبِّئُكُمْ بِخَيْرٍ مِّنْ ذٰلِكُمْ ۗ لِلَّذِيْنَ اتَّقَوْا عِنْدَ رَبِّهِمْ

آیا اوښایم تاسو ته د دی نه بهتر څه د پرهیزګارانو دپاره د خپل رب سره

جَنّٰتٌ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا وَ

باغونه دی چه د هغی د لاندی بهیږی نهرونه همیشه به اوسیږی په هغی کښی او

اَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ وَّرِضْوَانٌ مِّنَ اللّٰهِ ۗ وَاللّٰهُ بَصِيْرٌۢ

ښځی دی پاکی او رضامندی د الله څخه او د الله په نظر کښی دی

بِالْعِبَادِ ﴿١٥﴾ اَلَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَآ اِنَّنَآ اٰمَنَّا فَاغْفِرْ

بندګان هغه دی چه وائی ای زمونږ ربه مونږ ایمان راوړی دی نو بخښنه اوکړه

لَنَا ذُنُوْبَنَا وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ﴿١٦﴾ اَلصّٰبِرِيْنَ وَالصّٰدِقِيْنَ

مونږ ته زمونږ د ګناهونو او وساته مونږ د دوزخ د اور نه هغه صبر کونکی دی او رښتونی او

وَالْقٰنِتِيْنَ وَالْمُنْفِقِيْنَ وَالْمُسْتَغْفِرِيْنَ بِالْاَسْحَارِ ﴿١٧﴾

حکم ته غاړه ایږدونکی دی او خرچ کونکی دی او د ګناه بخښنه غوښتونکی دی په روستنی (حصه د) شپه کښی

دمشرکانو مالداری سره دنه منلو وجه ده
د توحید د مسئلے د نه منلو وجه
بشارت
هم ده او حقیره هم ده ... دمناظرے شروع کوی او دهغوی د
... اهل کتابو سره ... او داقصه چلیږی ده دوی شبهاتو رد او دهغوی د تحریف او شمائل دی

تفسیر

وهابت ... من اَهۡلِكَ - د توحید د مسئلے د نه منلو وجه ده
ـله دا د عیسایانو د علماؤ او کړی لښکرو د توحید مسئله او منله نو دا تپول شان
هغوی خیال کوی چه که چرے مونږ د توحید ... هم دا وجه ده چه نن صبا
... د کوخزانو نه به مونږ محروم شو ... داشان دُنیوی شان او شوکت او رونق
د شوان نه محروم شی او د سرتیپونو ... نه ده چه داشان ... دا ده چه که چرے
ډیر ملیان او کړی لښتین هم حق نه بیا توی شی جواب هم دے شبهه دا ده چه که چرے
امدن دلاسه دی داشان به دیکښی دیوے شبهے جواب هم دے ... ډیر دولت والے دے؟ نو
مشرکین مغضوب او مستحق د عذاب دی نو د هغوی سره دومره ډیر دولت ولے دے؟ نو
د دے جواب ورکړے شو چه دادُنیا دولت غرور او حقیر شیز دے. د دے د وجے نه دهوکه
کیدل پکار نه دی. څنګه چه بل ځای کښی د الله تعالی ارشاد دے لَا يَغُرَّنَّكَ تَقَلُّبُ الَّذِينَ
كَفَرُوا فِي الۡبِلَادِ مَتَاعٌ قَلِيلٌ (آل عمران ع ۲۰) داشان ارشاد دے. وَاعۡلَمُوا اَنَّمَا الۡحَيٰوةُ الدُّنۡيَا
لَعِبٌ وَّلَهۡوٌ وَّزِينَةٌ وَّتَفَاخُرٌ بَيۡنَكُمۡ وَتَكَاثُرٌ فِي الۡاَمۡوَالِ وَالۡاَوۡلَادِ (حدید ع ۳) ذٰلِكَ مَتَاعُ
الۡحَيٰوةِ الدُّنۡيَا. دامذکوره خیزونه خو دُنیوی ژوندیو حقیر سامان دے. دائمی او همیشه راحت
او ښه انجام صرف د الله رضا په لټولو کښی دے. ومعنی الآية تقليل الدنيا وتحقيرها والترغيب
في حسن المرجع الى الله تعالى في الآخرة (قرطبی ج۴) او منافع بیا تو لو نه روستو بے اُو فرمائیلی
ـلـه دا د ماقبل تقریر او تاکید دے د دُنیوی سامان او منافع ... د دُنیوی ساز و سامان
چه د اخرت نعمتونه او د جنت منافع د کمیت او کیفیت په اعتبار سره د دُنیوی ساز و سامان
ډیر زیات دی. انه تعالی لما عدد نعم الدنيا بين ان منافع الآخرة خير منها (کبیر ج۳) د ذٰلِكُمۡ اشارة
مذکوره ساز و سامان طرف ته ده. حضرت شیخ رحمة الله علیه او فرمائیل تنبيه بنعم الجنة وترغيب
في الآخرة بعد التزهيد في الدنيا. یعنی د دُنیوی ساز و سامان نه د نفرت کولو نه روستو د لته په
اخروی نعمتونو بشارت او ترغیب ورکړے شو (کذا في المدارک ج۱) ـلـه لِلَّذِينَ اتَّقَوۡا خبر
مقدم دے او جَنّٰتٌ تَجۡرِي الخ سره د معطوفاتو نه مبتداء مؤخر ده. او دا د ماقبل تفصیل د
کلام مستانف فيه دلالة على بيان ما هو خير من ذالكم فجنات مبتداء وللذين اتقوا خبره (کبیر ج۱۶)
یعنی د دُنیوی منافعو نه چه کوم خیزونه بهتر دی هغه دا دی چه د الله نه وېریږی او تکو ته به
په اخرت کښی د نهرونو او چینو والا همیشه او غیر فانی باغونه او ښځے ملاویږی او هغوی
ته به د الله رضا حاصله وی. د دے نه معلومه شوه چه د خیر نه مراد جنات دی. وَاللّٰهُ
بَصِيرٌۢ بِالۡعِبَادِ. الله پاک خپل بندګان ښه ویني د یو بنده عمل د هغه نه پټ نه دے.
د دے وجے نه هر سړی ته به د هغه د عمل جزا ملاویږی.
ـلـه اَلَّذِينَ يَقُولُونَ د خبر په محل کښی دے او د الۡعِبَاد یا اَلَّذِينَ اتَّقَوۡا نعت یا د هغه

په بدله و سته. وان یکون فی حیز الجر علی انه تابع للذین اتقوا نعتا او بدلا په وړ
ویاړه مقا ګوره اخروی نعمتونه دی هغوی په خپل ایمان او عملونو باندے په خپل دغه
په هر وخت په سبب دالله نه د ګناهونو مغفرت طلب کوي او د هغه د رحمت نه
معفرت غوښتلی دی چه ورسته آیت کښ سبب نفس ایمان باندے د مغفرت طلب
وسته. د دې نه معلومیږي چه په نفس ایمان سره بنده د الله د رحمت او مغفرت
په د خلاصی مستحق ګرځي. او باقی طاعات هغه د پاره موقوف علیه نه دی. وان هذا علی
العبد مجرد الایمان یستوجب الرحمة والمغفرة من الله تعالیٰ اکبیر ... ...
الصّٰبِرِيْنَ په محل د خبر کښ دے او سره د معطوفاتو د الذین اتقوا تابع دے. الصّٰبِرِيْنَ
د توحید په مسئله کښ هر تکلیف او مصیبت کښ د صبر او استقلال نه کار اخستونکی
الصّٰدِقِيْنَ. په ظاهر و باطن کښ په رښتونی خبرو کښ هم او د زړه په ارادو کښ هم
الْقٰنِتِيْنَ د الله اطاعت او په عبادت باندے همیشه قائم وسیدونکی. الْمُنْفِقِيْنَ. د الله
د رضا د پاره خپل مال دولت نه د الله د توحید او د دین اسلام په اشاعت کښ خرچ کوونکی
الْمُسْتَغْفِرِيْنَ بِالْاَسْحَارِ. د سحر په وخت کښ مونځ کوونکی او د توحید د مسئلے بیان کښ
کوتاهۍ او د نورو ګناهونو د پاره د الله نه بخشش غوښتونکی. الکل من الروح.

شَهِدَ اللّٰهُ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۙ وَالْمَلٰٓئِكَةُ وَاُولُوا الْعِلْمِ
الله ګواهي ورکړه چه د چا بندګي نشته سوا د هغه نه او فرښتو او د علم والو هم

قَآئِمًۢا بِالْقِسْطِ ؕ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۱۸ اِنَّ
هغه حاکم دے د انصاف سره د هیچا بندګي نشته سوا د هغه نه غالب دے حکمت والا دے بیشکه

الدِّيْنَ عِنْدَ اللّٰهِ الْاِسْلَامُ ۗ وَمَا اخْتَلَفَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا
دین چه کوم دے د الله په نزد نو هغه د مسلمانئ حکمبرداری ده سره او مخالف نه شو کتاب والا

الْكِتٰبَ اِلَّا مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَهُمُ الْعِلْمُ بَغْيًۢا بَيْنَهُمْ ؕ
لیکن چه کله هغوی ته معلومه شوه په خپلو کښو د ضد هغه او د حسد نه سره

وَمَنْ يَّكْفُرْ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ فَاِنَّ اللّٰهَ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ۱۹ فَاِنْ
او څوک چه انکار اوکړي د الله د حکمونو نه نو الله زر حساب اخستونکے دے بیا هم که

حَآجُّوْكَ فَقُلْ اَسْلَمْتُ وَجْهِيَ لِلّٰهِ وَمَنِ اتَّبَعَنِ ؕ وَقُلْ
تا سره د جهګړه اوکړي نو ته اووایه چه ما تابع کړو خپل ځان د الله په حکم باندے او هغوی هم شو تابعدار چه زما سره

لِلَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ وَالْاُمِّيّٖنَ ءَاَسْلَمْتُمْ ؕ فَاِنْ اَسْلَمُوْا فَقَدِ

دی. ؏له او اووا په کتاب والو ته او ان پړهو ته چه تاسو هم تابع کیږئ، بیا که هغوی تابع شو نو هغوی

اهْتَدَوْا ۚ وَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنَّمَا عَلَيْكَ الْبَلٰغُ ؕ وَاللّٰهُ بَصِيْرٌۢ بِالْعِبَادِ ﴿۲۰﴾

لاره اوموندله بیغه ۳ؒله اوکه مخ واړوی نو ستا په ذمه صرف رسول دی اود الله په نظر کښې دی بندګان ف

نکات:- ۱ د توحید د مضمون په دویم حل ذکر. ۲ د دلیل ثمره. ۳ مراد د توحید مسئله ۴ دے توحید د دلائلو په موجودګئ کښې صرف ضد ی خلق په مخالفت کوی، سر د تخویف اُخروی

موضح قرآن ف ان پړه په یے وئیل د عربو خلقو ته چه هغوی سره د تیرشوو پیغمبرانو علم نه وو.

فتح الرحمن:- ف یعنی د حقیقت حال نه خبردے.

تفسیر د توحید د مضمون دویم حل ذکر ۲۶ؒله دا دلیل نقلی طرفته اشاره ده یعنی د الله شهادت په مخکینو کتابونو کښې او د فرشتو شهادت ته د انبیاء علیهم السلام سره او ربانیینو علماؤ هم لیکلے دے. او قائماً بالقسط د دریواړو نه حال دے. په دیکښې توحید باندے د دلیل نقلی درے قسمونو سره استدلال کړے شویدے. (۱) دلیل نقلی په تیر شوؤ کتابونو سره (۲) دلیل نقلی په فرشتو سره (۳) دلیل نقلی په انبیاء علیهم السلام او علماء ربانیینو سره. شَهِدَ اللّٰهُ نه مراد دے د الله شهادت په مخکینو کتابونو کښې په دے سره اول قسم ته اشاره ده او د ملائکو په شهادت سره دویم قسم. او د اُولُوا الْعِلْم د شهادت نه دریم قسم مراد دے.

۲۷ؒله دا د دلائل ثلاثه نتیجه او ثمره ده او دا دواړه صفتونه یے ذکر کړل او دے طرفته یے اشاره اوکړه چه چونکه د قوت په اعتبار سره هغه په ټولو غالب دے او د تدبیر او حکمت په لحاظ سره په هر څیز حاوی دے، د دے وجے نه د هغه کوم معاون یا شریک ته ضرورت هم نشته.

۲۸ؒله دا د ماقبل تاکید او تائید دے او مطلب دا دے چه د الله په نزد غوره دین صرف اسلام دے د تیرشوو انبیاؤ دین هم اسلام وو او په تیرشوو کتابونو کښې هم دا دین پیش کړے شوے وو هر قسم عبادت او اطاعت خالص د الله د پاره کول او صرف الله د عبادت او اطاعت مستحق ګنړلو نوم اسلام دے. قال ابن الانباری المسلم معناه المخلص لله عبادته ... فالاسلام معناه اخلاص الدين والعقيدة لله تعالى (کبیر ج ۲) په سورة انعام ح ۲۰ کښې د الله پاک ارشاد دے قُلْ اِنَّ صَلَاتِيْ وَنُسُكِيْ وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِيْ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝ لَا شَرِيْكَ لَهٗ ۚ وَبِذٰلِكَ اُمِرْتُ وَاَنَا مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ ۝

۲۹ؒله د اَلَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ نه مراد یهود او نصارو علماء دی. الله پاک په مخکینو کتابونو کښې دین اسلام او د توحید مسئله وضاحت سره بیان کړے وه. څنګه چه د اهل کتابو علماؤ ته هم دا مسئله ښه معلومه وه. باقی د توحید په باره کښې د دوی په مینځ کښې چه کوم اختلافات موندلے شی یا په انجیل او تورات کښې د توحید خلاف مواد موندلے شی دا د هغوی

د علمانو د ضد او حسد نتیجه ده. او په تورات او انجیل کښې تحریف هم ددوی په لاس شوے
دی. دغه حقائق پوره په دلیل عقل او نقل او دلیل وحی سره ثابت کړے شول چه د الله نه سوا
غیر الله د عبادت او را بللو لائق نشته او دا په تیرشوو کتابونو کښې د الله شهادت او د فرشتو او
د ټولو نبیانو او ربانیینو علماؤ د شهادت نه هم ثابت شویده. د دے نه روستو اِنَّ الدِّیْنَ
عِنْدَ اللّٰهِ الْاِسْلَامُ سره بے د پورتنی مضمون تاکید او تائید او فرمائیلے چه د خالص عبادت او
د خالص را بللو والا دین د الله په نزد غوره دے. د دے نه روستو د هغه خلقو ذکر دے چا
به د توحید په مسئله کښې اختلاف اوکړو. د توحید په مسئله کښې د اختلاف کونکو په باره کښې
الله تعالٰی درے خبرے فرمائیلی دی اول دا چه دے اجماعی د اتفاق مسئله کښې اختلاف
کونکی صرف د اهلِ کتابو علماء دی د ټولو نه اول اختلاف هم د دے علماؤ کړے دے
او روستو د دوی منونکو. څنګه چه په سورۃ بقره ع ۲۶ کښې دا اختلاف په اَلَّذِیْنَ اُوْتُوا الْکِتٰبَ
(یعنی د اهلِ کتابو علماؤ) کښې منحصر کړے شوے دے. څنګه چه ارشاد دے وَاَنْزَلَ مَعَهُمُ الْکِتٰبَ
بِالْحَقِّ لِیَحْکُمَ بَیْنَ النَّاسِ فِیْمَا اخْتَلَفُوْا فِیْهِ وَمَا اخْتَلَفَ فِیْهِ اِلَّا الَّذِیْنَ اُوْتُوْهُ الآیة.
دویم دا چه د توحید په مسئله کښې د دوی اختلاف د جهالت او ناپوهئ یا د غلط فهمئ
نتیجه نه وه بلکه هغوی د توحید د مسئلے حقیقت ښه پیژنلی او هغوی ته د دے پوره پوره
علم وو. په دے وجه هغوی دا اختلاف د پیژندګلو او پوهے نه روستو کړے وو. څنګه چه
د تفسیر لاندے آیت کښې دی ولکن الله پاک د هغوی اختلاف هغه وخت پورے مخصوص
کړے شو چه کله د الله د پیغمبرانو او د کتابونو په ذریعه د توحید صحیح علم هغوی ته راغلے وو.
د توحید په دے مسئله کښې د هغوی اختلاف دیانت او تحقیق با نسے مبنی نه وو بلکه محض
د بُغض حسد، ضد او عناد د وجے نه وو څنګه چه په سورۃ شوری ع ۲ کښې دی. وَمَا تَفَرَّقُوْا
اِلَّا مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَهُمُ الْعِلْمُ بَغْیًا بَیْنَهُمْ. دلته بَغْیًا د تَفَرَّقُوْا مفعول له دے او د
تفرق او اختلاف علت بیانوی. او د لاندینی آیت په تفسیر کښې هم بَغْیًا اِخْتَلَفَ علت بیانوی.
مطلب دا چه د اهلِ کتابو تفرق او اختلاف صرف د بغض او حسد د وجے نه وو نه چه د بلے کوم
وجے نه. وَمَنْ یَّکْفُرْ بِاٰیٰتِ اللّٰهِ. د توحید پورتنی مذکوره عقلی او نقلی دلائلو سره واضح کولو
نه روستو او س د چا انکار نه شی کولے. او د دے قطعی دلائلو په مقابل کښې به د ګمراه
ملایانو او پیرانو اقوال او د محرفینو تحریفات حجت نه وی. او چه څوک د دوی تقلید کوی
هغوی به معذور نه وی. څنګه چه په سورۃ شوری ع ۲ کښې د الله تعالٰی ارشاد دے. وَالَّذِیْنَ
یُحَآجُّوْنَ فِی اللّٰهِ مِنْۢ بَعْدِ مَا اسْتُجِیْبَ لَهٗ حُجَّتُهُمْ دَاحِضَةٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ. د دے وینا نه د
الله د توحید او د هغه د آیتونو نه د انکار کونکو د حساب کتاب د انجام نه خبردار او سیدل
بکار دی. دا تخویفِ اُخروی دے.

څلورمه خبره د اهلِ کتابو عوام د خپلو ګمراه او ضدی ملایانو او پیرانو شرکیه اقوال او خبرونه
پیش کړی. نو تاسو هغه صفا صفا جواب ورکړئ چه د توحید د عقلی او نقلی قطعی دلیلونو په مقابله
کښې شرکیه عبارتونه د منلو قابل نه دی. په دے وجه زه او زما تول تابعداران صرف الله خپل

حیات او معبود مطلق یې صرف د هغه عبادت کوی او هغه ته ادا ئ کوی. ۳۰ــه أَأَسْلَمْتُمْ صورةً استفهام دے لیکن معنًا امر دے. هو استفهام فی معرض التقریر والمقصود منه الامر (کبیر) او د اُمِّیِّیْنَ نه مراد د عربو مشرکین دی. الله پاک نبی ﷺ ته حکم ورکړو چه تاسو اهل کتابو او مشرکینو ته اووایئ چه هغوی اسلام قبول کړی او د الله په عبادت او اطاعت او په دعا او رابللو کښې د نورو د الله سره نه شریکوی. که چرته هغه خلقو اسلام قبول کړو او د صنمی خلقو شرکیه عبارتونه سیده پریښودل او توحید یې قبول کړو نو هغوی به هم ستاسو او ستاسو د متبعینو په شان هدایت موندونکی شی. ځکه چه اسلام حق او د الله غوره کړے شوے دین دے. وَإِنْ تَوَلَّوْا فَإِنَّمَا عَلَيْكَ الْبَلَاغُ ۚ او که چرته هغوی اعراض اوکړو او اسلام یې قبول نه کړو او د صنمی خلقو عبارتونه یې پرے نښودل او د توحید مسئله نه منی نو په دیکښې ستاسو هیڅ نقصان نشته ځکه چه ستاسو په ذمه حکم رسول وو هغه تاسو کما حقه اورسول. ای لایضرک شیئًا اذ ما علیك الا البلاغ وقد ادیته علی اکمل وجه وابلغه (روح ص۱۰۹ ج۳) او الله پاک د خپلو بندګانو د حالاتو نه ښه خبردے په دے وجه هغه به د دوی په عملونو باندے دوی له پوره جزا ورکوی.

إِنَّ الَّذِينَ يَكْفُرُونَ بِآيَاتِ اللَّهِ وَيَقْتُلُونَ النَّبِيِّينَ

کوم خلق چه انکار کوی د الله د حکمونو نه او قتل کوی پیغمبران

بِغَيْرِ حَقٍّ وَيَقْتُلُونَ الَّذِينَ يَأْمُرُونَ بِالْقِسْطِ مِنَ

بغیر د حق نه او قتل کوی هغه خلق چه حکم کوی د انصاف کولو د خلقو نه

النَّاسِ فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٢١﴾ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ حَبِطَتْ

نو زیرے ورکړه هغوی ته د دردناک عذاب ئے هم دوی دی چه محنت یې ضائع

أَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَمَا لَهُمْ مِنْ نَاصِرِينَ ﴿٢٢﴾

شو په دنیا کښې او اخرت کښې او هیڅوک نشته د دوی مددګار ئے

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ أُوتُوا نَصِيبًا مِنَ الْكِتَابِ يُدْعَوْنَ

ایا تا نه دی لیدلی هغه خلق چه ورکړے شوے ورته حصه د کتاب هغوی رابللی

إِلَىٰ كِتَابِ اللَّهِ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ يَتَوَلَّىٰ فَرِيقٌ مِنْهُمْ وَ

د الله کتاب طرف ته د دے دپاره چه هغه کتاب د دوی کښې فیصله وکړی بیا مخ اړوی یو ډله د دوی نه په

هُمْ مُّعْرِضُوْنَ ﴿۲۳﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَالُوْا لَنْ تَمَسَّنَا النَّارُ

مخ ګرځوونکي وي. ۳۲ دا په دې وجه چه دوی وائي چه مونږ ته به هر ګز او نه لګي اور دوزخ

اِلَّآ اَيَّامًا مَّعْدُوْدٰتٍ ۪ وَّغَرَّهُمْ فِيْ دِيْنِهِمْ مَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ﴿۲۴﴾

مګر څو ورځې د شمار ۳۳ او دهوکه شویدي په خپل دین کښې په خپلو جوړو شوو خبرو باندې

فَكَيْفَ اِذَا جَمَعْنٰهُمْ لِيَوْمٍ لَّا رَيْبَ فِيْهِ ۣ وَوُفِّيَتْ كُلُّ

بیا به څنګه حال وي چه کله مونږ هغوي جمع کړو يوه ورځ چه د هغې په راتلو کښې هیڅ شک نشته او پوره به

نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿۲۵﴾

ورکړي شي هر چا ته خپل کړي (عملونه) او د دوي حق تلفي به نه کیږي ۳۵

نکات ۳۴ تخویف اخروي ۳۵ زجر ۳۵ د هغوي ته جوړې شوې قصې بې سنده خبرې.

موضح قرآن ف دا د یهودیانو ذکر دے چه فیصله کښې خپل کتاب باندې هم عمل نه کوي او په ګناه باندې زړور دي د دې دهوکه باندې چه د دین تحکښې بې د روح جوړ ګړیدي او ویلي دي چه که څه زمونږ نه څوک د بزرګ ګنهګار هم وي نو د او د هغو ورځو نه زیات به عذاب نه مومي.

تفسیر: ۳۲ دا د منکرینو او د توحید د مبلغینو قاتلانو د پاره زجر او تخویف اخروي دے
اَلَّذِيْنَ يَكْفُرُوْنَ نه هغه خلق مراد دي چه د ضد او عناد د وجې نه حق نه قبلوي او د توحید مسئله نه مني. ۳۳ اُولٰٓئِكَ اشاره د ناکاره صفتونو كُفْر بِاٰيٰتِ اللّٰهِ، قَتْلِ اَنْبِيَاء او قَتْل د اٰمِرِيْن بِالْقِسْط حاملینو طرفته ده. او په دنیا کښې د عملونو د بې نتیجه کیدو نه مراد دا دے چه په دنیا کښې به هغوي د دے ټولو حقونو نه محروم وي د کوموچه یو مسلمان مستحق ګرځي مثلاً د ځان او مال حفاظت او د مدح استحقاق وغیره. او په اخرت کښې د عملونو ضائع کیدو مفهوم دا دے چه په اخرت کښې به د دوي عملونو باندې اثره ثابت نشي. او د عذاب د دفع کولو او ثواب حاصلولو سبب به نه جوړیږي. اي اولئك المتصفون بتلك الصفات الشنيعة الذين بطلت اعمالهم وسقطت عن حيز الاعتبار وخلت عن الثمرة في الدنيا حيث لم تحقن دماءهم واموالهم ولم يستحقوا بها مدحا وثناء وفي الآخرة حيث لم ترفع عنهم العذاب ولم ينالوا بها الثواب (روح ج ۳)
۳۴ په دے ایت کښې د اهل کتابو د انتهائي سرکشي او د هغوي د نافرمانۍ شکوه کړے شویده يعني د الله د کتاب نه یې اعراض اوکړو او د صدق د عالمانو عبارتونو نه یې دليل اونیولو اَلَّذِيْنَ اُوْتُوْا نَصِيْبًا مِّنَ الْكِتٰبِ نه د اهل کتابو عالمان مراد دي. او د كِتٰبَ اللّٰهِ نه مراد تورات او انجیل دے. د کانو يدعون الى حكم التوراة والانجيل وكانوا يأبون (كبير ج ۳) د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه نقل دي چه نبي اکرم صلی الله علیه وسلم یهودیانو ته د دین اسلام دعوت ورکړو نو هغوي تیوس اوکړو.

علیه السلام او فرمائیل چه زه د ابراهیم علیه السلام په دین
یم هغه هم یهودي کوم یهود سته نو نبي علیه السلام او فرمایل چه زه د ابراهیم علیه السلام په دین
یم او دے په دین د شرک او باطل نه بیزار او د توحید داعي او ساتیق ووـ په دے بانے هغوی
اوو نیول چه سرف خو یهودي ووُ نو نبي علیه السلام او فرمایل چه تورات راوړئ او په هغے فیصل
اوکړئ بیاں هغوی دے ته تیار نه شول په دے آیت کښې هغے طرفته اشاره ده (قرطبي جه)
۲۴ ذٰلِكَ اشاره تولی او اعراض طرف ته ده چه د یتولی په ضمن کښې ذکر شو یعنې
د کتاب الله د فیصلې نه اعراض او روګرداني وجه داده چه هغوی ته به صرف څو ورځے عذاب
ورکولے شي په دے وجه بیے د خدای نافرماني اوکړه او د کتاب الله نه ئې مخ اړولو مجرم د دوی
په نظر کښې بالکل معمولي څیز دے. وَغَرَّهُمْ فِي دِيْنِهِمْ مَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ه دا شان
دے یهودیانو هندي او هنادیانو مُلایانو او پیرانو چه کوم د ځان نه جوړے کړے خبرے او
خیل شرکیه عبارتونه چه د دین حصه ګرځولے وه. د هغے د وجے نه هغوی دهوکه او فریب کښې
مبتلا وو چه مونږ چونکه د الله خوښ او محبوب یُو په دے وجه به زمونږ په ګناهونو بانه سے
زمونږ معمولي سزا وی. ای عدم افترائهم علی الله وهو قولهم نحن ابناء الله واحباؤه
فلا یعذبنا بذنوبنا الا مدة یسیرة (مدارک ج ۱)
۲۵ دا د هغه فریب خورده یهودیانو د پاره تخویف اُخروي دے. په لِيَوْمٍ کښې لام په
معنی د في دے (قرطبي ج ۴، روح ج ۳) یعنې په دُنیا کښې خو هغوی کتاب الله طرفته د
راتللو نه انکار کوی او د دروغو آرزو ګانو سره خپل زړونه خوشحالوی. لیکن هغه وخت
به د دوی څه حال وی چه کله مونږ هغوی ټول په یوه داسے ورځ کښې جمع کړو چه د هغې
په راتللو کښې څه شک نشته او د دوی د ارزو ګانو په خلاف هر سړی ته د هغه د عملونو
پوره پوره جزا ورکولے شي او د خپلو ذاتي نیکو عملونو نه بغیر بزرګانو ته انتساب به هیڅ
بکار نه راځي او هلته به په چا باندے ظلم نه کیږي. نه به د چا په نیکو کارونو کښې کمے کولے
شي او نه به د چا د ګناهونو په واجبي سزا کښې زیاتے کولے شي او نه به چا ته د هغه ګناهونو
چه کړي یے نه وی سزا ورکولے شي.

قُلِ اللّٰهُمَّ مٰلِكَ الْمُلْكِ تُؤْتِي الْمُلْكَ مَنْ تَشَآءُ وَ

ته اووایه اے الله مالک د بادشاهئ ته یے بادشاهي ورکوے چا ته چه اوغواړے او

تَنْزِعُ الْمُلْكَ مِمَّنْ تَشَآءُ وَتُعِزُّ مَنْ تَشَآءُ وَتُذِلُّ

بادشاهي اخلے د چا نه چه اوغواړے. او عزت ورکوے چا ته چه اوغواړے او ذلیله کوے

مَنْ تَشَآءُ بِيَدِكَ الْخَيْرُ اِنَّكَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۲۶

چا ته چه اوغواړے ستا په لاس کښې ده ټوله ښېګړه بیشکه ته په هر څیز قادر یے.

تُولِجُ الَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَتُولِجُ النَّهَارَ فِي الَّيْلِ وَ

ته داخلوې شپه په ورځ کښې او داخلوې ورځ په شپه کښې ځکه او

تُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَتُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ وَ

راوباسې ژوندے د مړی نه او راوباسې مړے د ژوندی نه او ته

تَرْزُقُ مَن تَشَاءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿٢٧﴾ لَا يَتَّخِذِ الْمُؤْمِنُونَ

رزق ورکوې چا ته چه اوغواړې بے شماره ۲۷ دِ نه دِ جوړوي مسلمانان

الْكَافِرِينَ أَوْلِيَاءَ مِن دُونِ الْمُؤْمِنِينَ وَمَن يَفْعَلْ

کافرانو لره دوستان چه مسلمانان پریږدي. ځکه او څوک چه دا کار اوکړي

ذَٰلِكَ فَلَيْسَ مِنَ اللَّهِ فِي شَيْءٍ إِلَّا أَن تَتَّقُوا

نو نشته هغه د الله سره څه تعلق لیکن په هغه حالت کښې چه کول غواړئ

مِنْهُمْ تُقَاةً وَيُحَذِّرُكُمُ اللَّهُ نَفْسَهُ وَإِلَى اللَّهِ

تاسو د هغوی نه د ځان ساتنه ځکه ۲۹ او الله تاسو ویروي د خپل ذات نه او د الله طرف ته

الْمَصِيرُ ﴿٢٨﴾ قُلْ إِن تُخْفُوا مَا فِي صُدُورِكُمْ أَوْ تُبْدُوهُ

واپس ورتلل دي ځکه ته اووایه که چرے تاسو پټوئ د خپل زړه خبره یا هغه ظاهروئ

يَعْلَمْهُ اللَّهُ وَيَعْلَمُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ

پیژني هغه الله ﷻ او هغه ته معلوم دي کوم څه چه په اسمانونو کښې دي او کوم څه چه په زمکه کښې دي.

وَاللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٢٩﴾ يَوْمَ تَجِدُ كُلُّ نَفْسٍ مَّا

او الله په هر څه قادر دے په کومه ورځ چه موجود بیا مومي هر سړے

عَمِلَتْ مِنْ خَيْرٍ مُّحْضَرًا وَمَا عَمِلَتْ مِن سُوءٍ

کوم څه چه هغه کړیدي د نیکئ نه خپلے مخے ته او کوم څه چه هغه کړیدي د بدئ نه ځکه

تَوَدُّ لَوْ أَنَّ بَيْنَهَا وَبَيْنَهُ أَمَدًا بَعِيدًا وَيُحَذِّرُكُمُ

آرزو به اوکړي چه څما او دے په مینځ کښې فرق پیرے ډیر لرے او الله د ویروي

اللّٰهُ نَفْسَهٗ ؕ وَ اللّٰهُ رَءُوْفٌۢ بِالْعِبَادِ ﴿۳۰﴾

تاسو نه د خپل ځان نه او الله ډیر مهربان دے په بندګانو باندے ۳۲

نکات: ۳۲ دلتوحید ذکر په دریم ځل او سابقه دلائلو ثمره ده دلته مقصود به منذر محذوف دے یعنی اقض حاجتی. ۳۲ د ثمرے نه روستو د مشرکانو سره د قطع تعلق حکم

موضح قرآن: ف یعنی یهودیان خیال کوی چه اول به مونږ کښی کومه بزرګی وه هغه به همیشه په مونږ کښی وی د الله د قدرت نه غافل دی هغه چه چاته اوغواړی عزت ورکړی او سلطنت ورکړی او د چانه چه اوغواړی نو ترے نه یے واخلی او ذلیل یے کړی او د جاهلانو نه کامل پیدا کړی او د کاملانو نه جاهل. او چاته چه اوغواړی ښه بے حسابه مال ورکړی.

فتح الرحمن: ف مترجم وائی چه دا دے دعا په امر کښی د کافرانو د مغلوب کیدو زیرے دے. والله اعلم

تفسیر: د توحید ذکر په دریم ځل: ۳۶ قُلِ اللّٰهُمَّ کله چه په عقلی او نقلی دلائلو سره ثابته شوه چه د الله نه سوا څوک اله (معبود) نشته نو اوس یے د هغے ثمره بیان کړه چه په غائب نه حاجتونو کښی صرف الله ته اواز کوئ او د اواز کونکو پیروئ واست وایئ اے الله! د دے صفتونو مالکه! زما فلانے حاجت پوره کړے. اللهم د خلیل سیبویه او د بصرے د نحویانو په رائے کښی اصل کښی یا الله وو، حرف ندا حذف کړے شو د هغے په عوض کښی میم مشدده مفتوحه په اخر کښی زیات کړے شو. مٰلِكَ الْمُلْكِ د امام مبرد او زجاج په نزد بانده دا د اَللّٰهُمَّ صفت دے او هم دا سے وئیے نه منصوب دے ځکه چه د منادی مفرد مبنی علی الضم صفت چه کله مضاف وی نو هغه منصوب وی. وانتصاب مٰلك علی الوصفية عند المبرد والزجاج (روح ص ۱۲۰ کبیر ص ۲۳۵) او مُلك په ضم د میم سره مراد کامل قدرت او اختیار او مکمل غلبه او اقتدار دے. نو د مالک الملک مطلب دا شو چه الله پاک حقیقی متصرف او د هر قسمه اختیار او اقتدار واحد مالک دے. ټول تصرفات او اختیارات د هغه په قبضه کښی دی او په د یکښی هغه سره هیڅوک شریک نشته. مالك الملك هو الملك الحقيقي المتصرف بما شاء كيف شاء ايجادا واعداما واماتة وتعذيبا واثابة من غير شارك ولا مانع (روح ص ۱۲۰) چه کله یے د اُو فرمایل چه الله پاک مالک الملک علی الاطلاق دے نو د دے نه پس یے ځنے تصرفات ذکر کړل کوم چه د الله سره مخصوص دی. تُؤْتِی الْمُلْكَ مَنْ تَشَآءُ ۳۷ دا جمله سره د معطوفاتو د منادی نه حال دے ځکه چه منادی معنیٰ مفعول دی. یا دا جمله سره د معطوفاتو نه د منادی صفت دے او جمله اګرچه د نکره په حکم کښی دی، چه کله د مفرد معرفه سره مخصوص وی نو هغه د معرفه په حکم کښی وی. او د معرفه صفت واقع کیدے شی کذا فی الرضی قاله الشيخ رحمه الله تعالی او دلته د مُلك نه مراد حکومت او بادشاهی ده مطلب دا چه ته چاته

...وه دنیا حکومت ورکوي او دنیا نه چه اوغواړي نو واپس ئې اخلي. نو ځکه چه هر وخت
...نو کښې رد و بدل او انقلابات واقع کیږي.
الخیر، مبتدا، مؤخر ده او په دیکښې الف لام د استغراق دپاره دے. بِيَدِكَ خبر
...دے دپاره چه د حصر او تخصیص فائده ورکړي او دې ته دلالة قدرت او قبض
... یعنی هر قسمه خیر او نیکي صرف ستا په قدرت کښې او صرف ستا په قبضه
...کښې ده او متصرف علی الاطلاق ته یې ستا نه سوا څوک مالک او مختار، کارساز
...او مشکل کشا نشته تعریف الخیر للتعمیم وتقدیم الخبر للتخصیص ای بقدرتک الخیر
...لا بقدرة احد من غیرک تتصرف فیه قبضا و بسطا حسبما تقتضیه مشیئتک (الالوسي ج۳ ص۱۲۱)
...ته د اهم سره د معطوفات د منادي نه حال یا د هغې صفت دے. شپه په ورځ کښې او
ورځ په شپه کښې داخلولو نه مراد د ورځ او شپې وړوکوالے او لویوالے مراد دے. مثلاً که
چرته د شپې څه حصه په ورځ کښې داخله شي نو ځکه چه د ګرمۍ په موسم کښې کیږي نو ورځ
لویه شي. او که چرے د ورځے څه حصه په شپه کښې شامله شي نو شپه لویه شي. دا د
حضرت ابن عباس، مجاهد، قتاده او حسن وغیرهم نه نقل دي. ای تدخل ما نقص من
احدهما فی الآخر (قرطبي ج۴ ص۵۵) او څینو وئیلي دي چه د دے نه د شپې او ورځے او د شپې او
ورځے بدل بدل راتلل مراد دي. وَتُخۡرِجُ ٱلۡحَيَّ مِنَ ٱلۡمَيِّتِ د حسن بصري قول دے
چه د ژوندي نه مراد مؤمن او د مړه نه مراد کافر دے. مطلب دا چه هغه د مؤمن نه کافر
او د کافر نه مؤمن پیدا کوي ځکه یې چه د حضرت نوح علیه السلام نه کنعان او د آذر نه
یې حضرت ابراهیم علیه السلام پیدا کړو. یخرج المؤمن من الکافر کابراهیم من آذر والکافر
من المؤمن مثل کنعان من نوح علیه السلام (کبیر ج۲ ص۴۳۳، قرطبي ج۴ ص۵۶) او د څینو مفسرینو قول دے
چه د مړي نه مراد نطفه او هګۍ ده چه د ژوندي نه راوځي. او د ژوندي نه مراد ساه والا
دے چه د نطفې او هګۍ نه راوځي. (کبیر، قرطبي وغیره) وَتَرۡزُقُ مَن تَشَآءُ بِغَيۡرِ حِسَابٖ
...ته خاې پورے صفتونه پوره شول. او مقصود بالنداء محذوف دے. ای اقض حاجتي
یعني اے مالک الملک! زما هر حاجت پوره کړے.
۳۶ په دے ایت کښې مسلمانانو ته د کافرانو سره د تعلق ختمولو حکم ورکړے شویدے
اول یې بیان اوکړو چه مالک الملک، مُعِز او مُذِل او قادر مطلق صرف الله دے په دے
وجه په هغه باندے پوره بهروسه اوساتئ او د کافرانو پرواه مه کوئ. حضرت شیخ
فرمائي چه یهود او نصارا چه محض د ضد او عناد د وجے نه توحید نه مني او اسلام
نه قبلوي ځکه چه د نجران وفد دے دلیله کبه و باوجود په شرک باندے قائم پاتے شو
او یهودیان د الله د کتاب (تورات) فیصلے ته راوبللے شو لیکن محض د ضد په وجه د تورات
د فیصلے نه انکاریان شول. په دے وجه یې مسلمانانو ته حکم ورکړو چه د دوي سره هر
قسمه دوستانه او تعلقات پریږدئ. ۳۹ دا د مؤمنانو دپاره تنبیه ده یعني کوم مسلمان
چه د دے کافرانو سره دوستي اوساتي نو د خدائے د دوستۍ رشته به د هغه نه پریکړے

شي او دښمنانو سره تعلق کښې به هغه نه شمارل کیږي. ای فلیس من حزب الله ولا من اولیاءه فی شئ. (قرطبی ج۳) د کافرانو سره معاملات او دلي دوستي په هیڅ صورت کښې جائز نه ده لیکن که چرته دهغوي نه د ځان خطره وي یا د دینه علاوه وجه وروند تلافي دیره وي نو په ظاهري طور باندې تعلق ملاقات او خاطر مدارت کښې هیڅ باک نشته.

۴۱ه په دې وجه په ظاهر او باطن کښې د الله تعالیٰ د نافرمانئ نه منع شئ. ۴۱ه دا د تخویف دې یعنې الله پاک ستاسو ظاهر او باطن پیژني که چرې تاسو په پټه د کافرانو سره تعلقات ساتئ نو دا به هم د الله په علم کښې وي. او کیدې شي چه په دُنیا کښې تاسو ته دهغې سزا درکړي. وَيَعْلَمُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ. دا د ماقبل علت دې یعنې الله پاک د زمکې او اسمان ټولو معلوماتو او حقائقو باندې حاوي دې او په هر څیز باندې قادر دې په دې وجه هغه ستاسو د کافرانو سره د پټې دوستئ نه خبر دې او په هغې باندې سزا درکولې شي. ۴۲ه د یَوْمَ عامل تَوَدُّ دې کوم چه روستو راځي. او دا تخویف اُخروي دې. تَوَدُّ لَوْ اَنَّ بَيْنَهَا وَبَيْنَهٗۤ اَمَدًۢا بَعِيْدًا. د قیامت په ورځ چه کله د هر سړي نیک او بد عملونه دهغه په مخکښې موجود کړې شي او د عملونو حساب کتاب کیږي نو هر سړې به ارمان وکوي چه ارمان! د ده او د ده د بد عملونو په مینځ کښې ډیره لویه فاصله وې او ده هغه نه لیرې وې. فیکون الضمیر فی بینه عائدا علی ما عملت من سوء (بحر ج۲ص۴۲۲)

۴۳ه او دا هم د الله پاک عین رحمت او مهرباني ده چه هغه خپل بندګان د عذاب نه ویروي چه هغوي د الله د نافرمانئ نه منع شي او دهغه اطاعت اوکړي او هم دېکښې دهغوي د دُنیا او دین فائده ده.

قُلْ اِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُوْنِيْ يُحْبِبْكُمُ

ته اووایه که چرې تاسو محبت ساتئ د الله سره نو ځما په لاره باندې لاړ شئ چه محبت اوکړي

اللّٰهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ ۭ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۳۱﴾ قُلْ

تاسو سره الله او اوبخښي ګناهونه ستاسو او الله بخښونکې مهربان دې ته ته اووایه

اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَالرَّسُوْلَ ۚ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ

چه حکم اومنئ د الله او دهغه د رسول ۴۴ه بیا که چرې اعراض اوکړي نو د الله محبت نشته دې

الْكٰفِرِيْنَ ﴿۳۲﴾ اِنَّ اللّٰهَ اصْطَفٰٓي اٰدَمَ وَنُوْحًا وَّاٰلَ

د کافرانو سره ۴۵ه بیشکه الله غوره کړو ادم او نوح او د ابراهیم کور

إِبْرَاهِيمَ وَآلَ عِمْرَانَ عَلَى الْعَالَمِينَ ﴿٣٣﴾ ذُرِّيَّةً بَعْضُهَا

او د عمران کور د ټول جهان خلقو نه ﴿٣٣﴾
چه اولاد وو د یو

مِنْ بَعْضٍ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٣٤﴾ إِذْ قَالَتِ امْرَأَتُ

بل نه او الله اوریدونکے خبردار دے. کله چه اووئیل
د عمران ښځې

عِمْرَانَ رَبِّ إِنِّي نَذَرْتُ لَكَ مَا فِي بَطْنِي مُحَرَّرًا

چه اے ربه زما نذر دا کوم خاص تا له کوم چه زما په ګیډه کښې دے د ټولونه ازاد ساتلو سره

فَتَقَبَّلْ مِنِّي إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴿٣٥﴾ فَلَمَّا

نو زما نه یې قبول کړه بیشکه ته یې اصل اوریدونکے او خبردار ﴿٣٥﴾ بیا بیا یې چه کله هغه

وَضَعَتْهَا قَالَتْ رَبِّ إِنِّي وَضَعْتُهَا أُنْثَى وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا وَضَعَتْ

اوزیګولو وے وئیل اے زما ربه! ما خو دا جینۍ اوزیګوله او الله ته ښه معلوم دے کوم چه هغې اوزیګوله

وَلَيْسَ الذَّكَرُ كَالْأُنْثَى وَإِنِّي سَمَّيْتُهَا مَرْيَمَ وَإِنِّي أُعِيذُهَا

او هلک نه دے ځنګه چه هغه جینۍ دی شوه ﴿٣٦﴾ او ما دې نوم مریم کینبود او زه ستا په پناه کښې ورکوم هغې لره

بِكَ وَذُرِّيَّتَهَا مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ ﴿٣٦﴾ فَتَقَبَّلَهَا رَبُّهَا بِقَبُولٍ

او هغې اولاد د شیطان رټلي شوي نه ﴿٣٦﴾ بیا قبول کړو هغه د هغې رب په ښه طریقه قبلولو سره

حَسَنٍ وَأَنْبَتَهَا نَبَاتًا حَسَنًا وَكَفَّلَهَا زَكَرِيَّا كُلَّمَا دَخَلَ عَلَيْهَا

او لویه یې کړه هغه په ښه شان لویولو سره. او حواله یې کړه زکریا ته چه کله به راتلو زکریا د هغې کوټې

زَكَرِيَّا الْمِحْرَابَ وَجَدَ عِنْدَهَا رِزْقًا قَالَ يَا مَرْيَمُ أَنَّى لَكِ هَٰذَا

ته موندل به یې هغې سره څه خوراک ﴿٣٦﴾ وے وئیل اے مریم دا تا ته د چرته نه راغلي؟ هغې

قَالَتْ هُوَ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يَرْزُقُ مَنْ يَشَاءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿٣٧﴾

اووئیل چه دا د الله د طرف نه راځي بیشکه الله رزق ورکوي چاته چه اوغواړي بے اندازے ﴿٣٧﴾

نکات: به ﴿٣٣﴾ خپل نشان د خپلو مشرکانو رشته دارانو سره تعلق ختم کړی به ﴿٣٤﴾ په تفلوم حل
د توحید ذکر انبیاء علیهم السلام د الله خوره کړے شوی دی بیکن د ابلولائق نه دی.

۔ ۶۵ دا قید مقصود دے ۔ ۶۶ مور مریم او د هغې مور معبود نه شي کیدے ۔ ۶۷ د مریم متعلق د شبهې جواب ۔

موضح قرآن

۱۵ یعني څوک چه دچا د محبت دعوی کوي نو هغه شان محبت د اوساتي څنګه چه محبوب خواړي نه دا چه څنګه دده زړه غواړي او چه دا انسان اوکړي نو محبوب به هغه خوښ کړي او بندګانو له هم بس دا پکار دے چه په دوی باندے مهربانه وي او په ګناه باندے نیول اونکړي نور خیالات عبث دي. ۱۶ یعني د بنده محبت دا دے چه په شوق سره د الله په کار او حکم باندے اوچلیږي. اوس وړاندے ذکر دے چه الله پاک حضرت مریم ته او حضرت عیسیٰ ته د محبت یا د خوښولو لفظ فرمایلے دے نو د الله محبت بندګانو سره هغه دے کوم چه تاسو واورېدو او د خوښولو لفظ یے اکثر مقربینو ته فرمایلے دے ۔ په دے لفظونو سره شبهه پکار نه ده. ۱۷ عمران د حضرت موسیٰ علیه السلام د پلار نوم هم دے او د حضرت مریم د پلار نوم هم دے شاید چه دلته هم دا په نظر کښې ساتل شوې دے. ۱۸ په دغه اُمت کښې دستور ؤ چه هلکان به مور پلار د خپل حق نه آزادول او الله ته به یے بخښلو بیا به یے ټول عمر هغه د دنیا په کار کښې نه لګولو. او همیشه به یے په جُمات کښې عبادت کولو. د عمران د ښځې حمل ؤ او هغې د وړاندے نه دا نذر کړے ؤ. ۱۹ دا په منځ کښې الله اوفرمایل چه الله پاک ته ښه معلومه ده او جوئ نه دي څنګه چه نور وي باقي د هغې کلام دے هغه نا اُمیده شوه چه څما نذر خو پوره نه شو څکه چه د نور نذر دستور نه ؤ. ۲۰ د هغې مور خوب لیدلے ؤ اګرچه دا جینئ ده الله هم دا په منښته کښې قبوله کړه دا جُمات ته یوړه هغې یے بوتله د جُمات بزرګانو اول او وئیل چه د جینئ ساتل خو دستور نه دے لیکن چه کله یے د هغې خوب واورېده نو بیا یے قبوله کړه. او د حضرت زکریا علیه السلام ښځه د هغې ترور وه هلته یے پرېښوده او هغې ورپاره یے په جُمات کښې یوه کوټه جوړه کړه د ورځے به هغې هلته عبادت کولو او د شپے به حضرت زکریا علیه السلام ځان سره بیا بوتله د هغې نه یے دا کرامت اولیده چه بے موسمه میوے به د الله د طرف نه راتلے. نو هغه وخت حضرت زکریا علیه السلام چه ټول عمر د اولاد نه نا اُمیده ؤ اوس یے اُمید پیدا شو چه شاید دا بے موسمه میوه به ماته هم ملاؤ شي. دغه ځای کښې یے د اولاد دعا اوکړه.

فتح الرحمن

۱ مترجم وائي چه نصاراؤ د نبي ﷺ سره د عیسیٰ علیه السلام په باره کښې خبرے اوکړے نو الله پاک دا آیتونه نازل کړل د آیتونو د نزول نه روستو یے نصاراؤ ته د مباهلے دعوت ورکړو نو ټول عاجز شول او جزیه یے قبوله کړه. والله اعلم ۲ یعني د بیت المقدس د خدمت د پاره نور مناسب نه ده. ۳ یعني د ژمي میوه به اوړي کښې او د اوړي میوه به ژمي کښې.

تفسیر

۶۸ دا د فَاِنَّ اللّٰهَ لَا یُحِبُّ الْکٰفِرِیْنَ پورے تخویف دے علیٰ سبیل التشرق. الله تعالیٰ نبي ﷺ ته حکم ورکړو چه تاسو مسلمانانو ته او وایئ چه کافرانو

سره دوستي مه کوئ بلکه صرف د الله ذات د خپل محبت مرکز اوګرځوئ او د الله د محبت لپاره دا
ده چه د الله د پیغمبر صلی الله علیه وسلم اتباع اوکړئ که چیرې د پیغمبر د اطاعت نه څوک واوړي نو د
اسلام نه به خارج شي او د کافرانو په ډله کښې به شامل شي او د کافرانو انجام به د ټولو نه
بد تر وي. يُحْبِبْكُمُ اللهُ. دا امر د وجوب د پاره دے یعنی چه کله تاسو څما اطاعت کوئ نو
الله به تاسو نه راضي شي او تاسو سره به محبت اوکړي. وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ دا په يُحْبِبْكُمُ
باندې معطوف دے فَإِنْ تَوَلَّوْا فَإِنَّ اللهَ لَا يُحِبُّ الْكَافِرِينَ د لیکن که چیرې هغوی
د الله او د هغه د رسول د اطاعت نه اعراض اوکړي نو الله پاک دا سې کافران نه خوښوي
او په هغوی باندې خپل انعام او اکرام نه کوي.

څلورم حل د توحید ذکر

ذُرِّيَّةً د الین نه بدل یا حال واقع دے. نصب علی البدلیة من الآلین او الحالیة منها (روح ص ۱۳۲ ج ۳)
یهود او نصارٰی ته دا شبهه کښې اخته وُو چه الله پاک انبیاء علیهم السلام د باقي مخلوق
نه منتخب کړل د ټولو نه لوړه او اوچته مرتبه یې ورکړې وه او هغوی ته یې خاص خاص
اختیارات ورکړي دي. څنګه چه یهودیانو حضرت عُزیر علیه السلام او عیسایانو حضرت عیسی
علیه السلام کارساز او معبود اوګڼل او د هغوی عبادت یې شروع کړو په دې باندې
الله پاک ارشاد اوفرمایه چه دا ټول انبیاء علیهم السلام سره د لوړې مرتبې او د اوچت
شان نه انسانان او بشر وُو او په خپلو کښې یو د بل اولاد او نسل وُو. او په خپل پیدائش
او بقاء کښې محتاج وُو په دې وجه هغوی معبود او کارساز نه شي کیدې. ان نصارٰی
نجران لما غلوا في عیسٰی علیه الصلوٰة والسلام وجعلوه ابن الله سبحانه واتخذوه الٰها نزلت ردا
علیهم واعلاما لهم بانه من ذریة البشر المنتقلین في الاطوار المستحیلة علی الاله (روح ص ۱۳۲
ج ۳) وَاللهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ. دا د دې آیت حاصل دا دے چه د کوم بزرګانو سره متعلق د
معبود کیدو شبهه وه هغه په دوه طریقو سره دفع کړې شوه. اول په دې شان چه دا
حضرات په خپلو کښې پلار او اولاد وُو. دویم دا حضرات د هر څیز پیژندونکي او هر څه
آوریدونکي نه دي. سمیع بکل شيءٍ او علیم بکل شيءٍ صرف د الله صفت دے په دې وجه
هغه معبود برحق دے او د هغه نه سوا هیڅوک معبود او کارساز نشته.

۴۶ عیسایانو د حضرت عیسٰی علیه السلام نه علاوه حضرت مریم صدیقه هم معبود
ګنړله. هغوی ته څکه شبهه پیدا شوه چه په ماشوم والي کښې به هغې سره بې موسمه میوې
موجود وې. نو هغوی دا اوګڼل چه هغې ته ما فوق الاسباب څه اختیار حاصل
وُو نو الله ددې په جواب کښې اوفرمائیل چه اوګورئ حضرت مریم د خپلې مور د دعا کانو نه روستو
پیدا شوه او څنګه د هغې تربیت اوشو. نو چه څوک په خپل پیدائش او پرورش کښې تور
نه محتاج وي هغه څنګه معبود کیدې شي، چه کله د حضرت مریم مور اُمید واره شوه
نو هغې نذر اوکړو چه اے الله څما د خیټې نه چه کوم بچې پیدا شي نو هغه به ستا عبادت او
ستا د کور خدمت د پاره وقف وي. په لَكَ کښې لام تعلیل د پاره دے. واللام من لك للتعلیل

والمراد لخدمة بيتك (روح ص۱۳۳ ج۳) ومعنى لك اى لعبادتك (قرطبى ص۶۶ ج۴) د هغوى په شريعت كښې دا
قسم نذر جائز وو. ۴۷ـه چه كله جينۍ پيدا شوه نو هغې افسوس اوكړو او الله پاك ته ئې
عرض اوكړو چه دا خو جينۍ ده او س زما خپل نذر نه شم پوره كولے كه چرته هلك
وے نو هغه به د الله د كور د خدمت د پاره وقف كولے شوے ځكه چه په اسرائيلي
شريعت كښې د جينۍ نه دا خدمت نه شو اخستلے. ۴۸ـه دا جمله معترضه ده. او د الله
تعالىٰ ارشاد دے. د حضرت مريم د مور مقوله نه ده يعنى الله پاك ته ښه معلوم وو
چه د هغې جينۍ پيدا شويده او دے جينۍ په ځائ كه چرے هلك پيدا شوے وَے نو
هغه به د دے جينۍ برابر نه وُو ځكه چه كوم اسرار او رموز د دے جينۍ سره متعلق دي.
هغه به د هلك په صورت كښې نه شو موندلے. وليس الذكر الذى طلبت كالانثى التى
وهبت لها واللام فيهما للعهد (مدارك ص۱۲۰ ج۱)
۴۹ـه دا د حضرت مريم د مور مقوله ده هغه د الله پاك سره مناجات كولو كښې وائي چه
اے الله ما خو د دے جينۍ نوم مريم كيښودو او دا او د دے اولاد د شيطان د شر نه ستا په
پناه او حفاظت كښې وركوم. نو مريم د خالص توحيد جذبه ده. بيشكه د هر قسم شر نه الله
حفاظت كولے شي نو الله د هغې دُعا قبوله كړه. د نبى عليه السّلام ارشاد دے چه كله ماشوم
پيدا كيږي نو شيطان هغه په اړخ باندې كوته زور كړي چه د هغې په وجه هغه چغه اوباسي ليكن
مريم او د هغې بچي الله پاك د شيطان د كوتے زور كولو نه محفوظ اوساتل. (قرطبى ص۶۸ ج۴
بخارى ص۱۳۲ ج۲ وغيره) ۵۰ـه په اسرائيلي شريعت كښې اگرچه د جُمات خدمت د پاره د باشعور او
عاقل هلك نذر قبليدلے شو او د جينۍ نذر نه شو قبليدے. ليكن د حضرت مريم د مور
اخلاص او د هغې عاجزى او زارى الله ته خوښه شوه په دے وجه ئې د حضرت مريم نذر په
ماشوم والى كښې قبول كړو. (كبير ص۱۵۵ ج۲، روح ص۱۳۳ ج۳) وَ اَنۡۢبَتَهَا نَبَاتًا حَسَنًا او په جسمانى روحانى
او اخلاقى اعتبار سره ئې د دے بچي په ډيره ښه طريقه تربيت اوكړو. عبارة عن حسن النشاة
والجودة فى خلق وخلق فانشاها على الطاعة والعبادة (بحر ص۴۴۲ ج۲)
۵۱ـه د محراب معنى حجره او خلوت ځاې ده. د رزق نه مراد د خوراك څكاك څيزونه دي.
او د رزقًا تنوين تفخيم د پاره دے. او كلما د فعل په تكرار باندے دلالت كوي. د حضرت
مريم پلار د هغې په ماشوم والى وفات شوے وو په دے وجه د هغې د پرورش سوال پيدا شو.
نو د هغې فيصله په خسنړي سره اوشوه د كوم ذكر چه راتلونكے دے. خسنړے د حضرت
زكريا عليه السّلام په نوم راووتلو هغه په رشته كښې د حضرت مريم د ترور خاوند هُم وُو.
په دے وجه پس هغه د دے كفيل شو. حضرت زكريا عليه السّلام چه به كله هُم د حضرت مريم
كمرے ته ورتلو نو هغې سره به بے بے موسمه تروتازه ميوے ليدلے. تواترت الروايات به
ان زكريا عليه السلام كان يجد عندها فاكهة الشتاء فى الصيف وفاكهة الصيف فى الشتاء (كبير ص۱۵۶ ج۲)
۵۲ـه حضرت زكريا عليه السّلام به د هغې نه تپوس كولو چه اے مريم! دا تروتازه ميوے درته
چرته نه راغلي دي نو هغې به په جواب كښې وئيل چه دا د الله د طرفنه دي. او الله د كوم چا

انسان د واسطې نه بغیر ماته راکړیدی. ما په خپل اختیار د چرته نه نه دی راوړی په دې سره جاهل د سیمابا نو هغه شبه لرې کړه چه حضرت مریم په خپل اختیار سره بې موسمه میوې حاصلولې. ۳۳ الله ته دا قدرت او اختیار حاصل دے چه هغه چا ته او غواړی بې حسابه فراخه روزی ورکړی. دیکښې هیڅ فرد بشر ته اختیار حاصل نه دے. حضرت مریم پیغمبره نه وه بلکه د اولیاء الله نه وه په دې وجه بلا واسطه دا قسم عجیبه رزق د الله د طرفه هغې ته راتلل د هغې کرامت وو. دا آیت د کرامات اولیاء د حق کیدو واضحه دلیل دے. واستدل بالآیة علی جواز الکرامة للاولیاء لان مریم لا نبوة لها علی المشهور وهذا هو الذی ذهب الیه اهل السنة والشیعة وخالف فی ذالک المعتزلة (روح ج ۳ ص ۱۴۲)

هُنَالِكَ دَعَا زَكَرِيَّا رَبَّهُ ۚ قَالَ رَبِّ هَبْ لِي مِن

دغه وخت دعا اوکړه زکریا د خپل رب ته وې ویل اے ربه زما! راکړې ماته د خپل طرفه

لَّدُنكَ ذُرِّيَّةً طَيِّبَةً ۖ إِنَّكَ سَمِيعُ الدُّعَاءِ ﴿۳۸﴾ فَنَادَتْهُ

اولاد پاکیزه ۳۴ بیشکه ته اوریدونکے یې د دعا بیا آواز اوکړو هغه ته

الْمَلَائِكَةُ وَهُوَ قَائِمٌ يُصَلِّي فِي الْمِحْرَابِ أَنَّ اللَّهَ يُبَشِّرُكَ

فرشتو چه کله هغه ولاړ وو په مانځه په حجره کښې دغه چه الله تا ته زیرے درکوی د

بِيَحْيَىٰ مُصَدِّقًا بِكَلِمَةٍ مِّنَ اللَّهِ وَسَيِّدًا وَحَصُورًا وَ

یحیٰی ۳۵ چه گواهی به ورکوی د الله د یو حکم والا او سردار به وی او ښځې ته به نه ورځی او

نَبِيًّا مِّنَ الصَّالِحِينَ ﴿۳۹﴾ قَالَ رَبِّ أَنَّىٰ يَكُونُ لِي غُلَامٌ

نبی به وی د صالحانو نه ۳۶ وې ویل اے ربه! د چرته نه به وی ځما هلک او

وَقَدْ بَلَغَنِيَ الْكِبَرُ وَامْرَأَتِي عَاقِرٌ ۖ قَالَ كَذَٰلِكَ اللَّهُ

او رسیدلے دے ماته بوډاوالے او ښځه ځما شنډه ده ۳۷ وې فرمائیل دا شان الله کوی هغه

يَفْعَلُ مَا يَشَاءُ ﴿۴۰﴾ قَالَ رَبِّ اجْعَل لِّي آيَةً ۖ قَالَ آيَتُكَ أَلَّا تُكَلِّمَ

چه او غواړی ۳۸ وې ویل اے ربه! مقرر کړے ځما د پاره نښه ۳۹ وې ویل ستا د پاره نښه دا ده

النَّاسَ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ إِلَّا رَمْزًا ۗ وَاذْكُر رَّبَّكَ كَثِيرًا وَسَبِّحْ بِالْعَشِيِّ وَالْإِبْكَارِ ﴿۴۱﴾ ۴ ع ۱۲

چه خبرې به نه کوی خلقو سره درې ورځې لیکن په اشاره سره ۴۰ او یاد کړه خپل رب ډیر زیات او تسبیح وایه بیګاه او صبا ۴۱

نکات: د زکریا علیه السلام متعلق د یوه شبهه جواب.

موضح قرآن | ف۱ گواهي به ورکوي د الله د حکم یعني د دې خبرې چه حضرت عیسیٰ پیدا شو. حضرت یحییٰ ځلقوته د مخکښې نه خبر ورکولو. عیسیٰ علیه السلام ته الله خطاب ورکړې دې د خپل حکم یعني حضرت به حکم سره پیدا شو بغیر د پلار نه. ف۲ بیا چه کله حضرت یحییٰ علیه السلام د خپل مور په خیټه کښې پروت وو نو حضرت زکریا علیه السلام درته ورځې د احالت وو چه د انسان سره بې خبرت او کښته شوه. وخت د دوی عمر یو کم سل کاله وو او د دوی خبتۍ عمر دوه کم شل کاله. او هم په دغه ورځو کښې د حضرت مریم په خیټه کښې حضرت عیسیٰ پیدا شو. من رحمه الله تعالیٰ.

فتح الرحمٰن | ف۱ یعني د عیسیٰ علیه السلام تصدیق او باور به کوي. ف۲ یعني د هغه ملک د حمل کیدو نیته.

تفسیر:- د یوې شبهې جواب: ۳۸ د حضرت زکریا علیه السلام په کور کښې بوډا په عمر کښې بچې پیدا کیدل په کوم کښې چه عادة بچې نه شي پیدا کیدې. عیسایان په دې شک کښې پریوتل چه د حضرت زکریا علیه السلام سره څه تصرف او اختیار وو چه د هغه په وجه سره د هغه د پاره په بوډا والی کښې ځوئ پیدا شو نو الله د دې تردید اوکړو. هُنَالِكَ ظرف دے زمان او مکان دواړو د پاره. دلته د مکان طرفته اشاره ده. یعني چه کله حضرت زکریا علیه السلام د حضرت مریم سره بې موسمه میوې اولیدې نو هلته یې دُعا اوکړه او خیال یې اوکړو چه کوم الله حضرت مریم ته بې موسمه میوې ورکولې شي هغه ماته هم په دې بوډا والی کښې ځوئ راکولے شي (روح ص۲۶). د دینه معلومه شوه چه د هغه په تصرف او اختیار کښې څو هیڅ نه وو د ځوئ د پاره خو هغه د الله نه سوال کړلو. په دې وجه هغه مالک او مختار یا متصرف څنګه کیدے شي. اِنَّكَ سَمِيْعُ الدُّعَاءِ دا هم د هغه د دُعا حصه ده حرفِ تاکید او جمله اسمیه یې راوړه. حضرت زکریا علیه السلام د الله په مخکښې اعتراف اوکړو اے الله! د دُعا قبلولو والا او ارزو پوره کولو والا صرف ته یې. ستا نه سیوا بل هیڅوک حاجت روا او مشکل کشا نشته. نو چه څوک د الله نه د اشان دُعا غواړي هغه څنګه معبود او کارساز کیدے شي. ۳۹ فاء د تعقیب د پاره ده چه دا ظاهروي چه د دې مابعد په ماقبل باندې مرتب دے یعني چه کله حضرت زکریا علیه السلام د خپل ځوئ دُعا اوکړه نو د دې په نتیجه کښې الله د هغه دُعا قبوله کړه او د ځوئ د زیرې آورولو د پاره یې هغه ته فرښتے رالیږلے نو حضرت زکریا علیه السلام په خپله حجره کښې ولاړ وو مونځ یې کولو هغه وخت فرښتو زیرے ورکړو. ۵۶ مصدقًا سره د معطوف تو نه د یحییٰ نه حال دے. او د کلمه نه مراد حضرت عیسیٰ علیه السلام دے. څنګه چه دا د حضرت ابن عباس، مجاهد، قتاده او د لویو لویو مفسرینو نه نقل شویدي. او حضرت عیسیٰ علیه السلام ته کلمه څکه او ویلے شوه چه د هغه پیدا ئش د اسباب عادیه نه بغیر محض په لفظ کُن سره اوشو. والمراد بالكلمة عيسىٰ عليه السلام

وهو المروي عن ابن عباس و مجاهد و قتادة و عليه اجلة المفسرين وانما سمي عيسى عليه السلام
بذالك لانه وجد بكلمة كن . من دون توسط سبب عادي (مدارك ص ۱۲۵) ، قول اكثر المفسرين و سمي عيسى كلمة لانه كان بكلمة الله تعالى انتهى حتى كن فكان من غير
اب (قرطبي ص ۷۶ ج ۴) د دے نه معلومه شوه چه د حضرت يحيى عليه السلام حيثيت د حضرت عيسى
عليه السلام د پاره د نقيب او تصديق كوونكي وو . حضرت شيخ فرمائي چه كوم په تيره شوو
كتابونو كښي ليكلے شوے وو چه زه به يو انسان بغير د پلار نه پيدا كوم نو د الله د دے
خبرے تصديق حضرت يحيى عليه السلام اوكړو . بعضے مفسرينو د تصديق نه ايمان مراد
اخستے دے نو هغه د ټولو نه مخكښې په عيسى عليه السلام باندے ايمان راوړو او د دے
خبرے تصديق ئے اوكړو چه هغه كلمة الله او روح الله دے . واريد بهذا التصديق ايمانه
وهو اول من آمن بعيسى عليه السلام وصدق انه كلمة الله تعالى وروح منه في المشهور (روح المعاني ص ۱۴۴ ج ۳) / وسيدا نه مراد د دين په معامله كښې رهنما او په پاكبازئ كښې د ټولو
نه اوچت او اعلى . حصورا چه په خپل نفس باندے طاقت لري او د لذاتو او خواهشونو
نه ډډه كوي . د نبيا سره د من الصالحين قيد په ظاهره زيات معلوميږي . ځكه چه هر
نبي لازمي طور باندے صالح وي . ليكن دا قيد د صلاح د اعلى درجے بيانولو د پاره ذكر
شوے . او د دے خبرے طرفته اشاره ده چه هغه ته د صلاح او تقوى كامله درجه
حاصله وه تر دے چه هغه په ټول ژوند كښې هم د ګناه خيال اونكړو . (كذا في الكبير ص ۲۲۲ ج ۲)
۵۳ أنى په معنى د كيف دے او قد بلغني الكبر او وامرأتي عاقر دواړه جملے حاليه دي او
في كښې د يا ضمير متكلم نه حال واقع دے . د زړه ئ اوريدو سره حضرت زكريا عليه السلام
په دے تعجب اوكړو چه د خوشئ پيدا كيدو ظاهري اسباب خو نشته زه خو د سپين ږيرو
په عمر يم او ښځه مې شنډه ده او د اولاد قابله نه ده په دے وجه په دے حالاتو كښې به زموږ خوئ څنګه
پيدا شي بلاشبه د الله په عظيم قدرت باندے دلالت كوي نو د الله په كامل قدرت باندے
په دے الفاظو سره د تعجب اظهار كوي .

۵۵ الله پاك جواب وركړو چه څما د كامل قدرت څه انتها نشته . دا شان خلاف عادت
بغير د اسباب عاديه نه چه زه څه غواړم نو كولے شم . قال رب اجعل لي اية واوس
په د الله نه سوال اوكړو چه څه داسے نښه د مقرر كړے شي چه د هغے نه معلومه شي
چه زه بي بي اميد واره ده د دے د پاره چه د دے نعمت د شكريے ادا كولو سامان مخكښې
تيار كړے شي او د عادي ظهور تر وخته پورے ديكښې رو ستو والے اونه شي . دا شان د
نعمت د شكريے په طور د مخكښې نه زيات نه زيات عبادت اوكړم . اي علامة اعلم بها وقت
حمل امرأتي فازيد في العبادة شكرا لك (معالم وخازن ص ۲۹۴ ج ۱) ليتلقى تلك النعمة بالشكر من حين حصولها
ولا يؤخر حتى تظهر ظهورا معتادا (روح ص ۱۵۱ ج ۳) ۵۶ نو الله پاك ارشاد اوفرمايئ چه ستا په كور كښې
د حمل علامه دا وي چه ته به متواتر درے ورځو پورے د خلقو سره خبرے اترے
نه شے كولے سره د دے نه به بنده شي درے ورځے به صرف په اشاره سره كار چليږي نو هم

هغه شان اوشو لکه الله تعالیٰ خبر ورکړو. قال آیتک الا تکلم الناس ثلثة ایام الا رمزا. آیت الله د تمرد زوال نه تر نمر پریوتلو پورے ته عشی او د صبح صادق نه تر غاړه ختو پورے ته ابکار وائی. د تسبیح نه مراد لمونځ مفسرینو مونځ اخستے دے او ځینو د ذکر نه ذکر قلبی او د تسبیح نه ذکر لسانی مراد اخستے دے. مطلب دا چه په دے ورځو کښے د نعمت شکریه په طور صبا بیګاه زبان نه زیات د الله ذکر کوه.

نتیجه:- حضرت زکریا علیه السلام د الله نه د ځوی سوال اوکړو چه کله ورله د ځوی زیری ملاؤ شو نو د الله په کامل قدرت باندے یے د تعجب اظهار اوکړو. دا څیزونه د عجز او احتیاج او د قدرت په نقصان دلالت کوی بیا د بی بی د حامله کیدو باندے د الله نه د علامت تپوس کوی چه د علم د نقصان دلیل دے په دے وجه هغه د معبود او مستعان جوړیدو لائق نه دے.

وَاِذْ قَالَتِ الْمَلٰٓئِكَةُ يٰمَرْيَمُ اِنَّ اللّٰهَ اصْطَفٰىكِ وَطَهَّرَكِ

او چه کله فرشتو اووئیل اے مریم الله ته غوره کړے او پاکه یے کړے

وَاصْطَفٰىكِ عَلٰى نِسَآءِ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۴۲﴾ يٰمَرْيَمُ اقْنُتِيْ لِرَبِّكِ

او غوره یے کړے ته د ټول جهان په ښځو باندے لله اے مریم بندګی کوه د خپل رب

وَاسْجُدِيْ وَارْكَعِيْ مَعَ الرّٰكِعِيْنَ ﴿۴۳﴾ ذٰلِكَ مِنْ اَنْۢبَآءِ

او سجده کوه او رکوع کوه د رکوع کوونکو سره لله دا خبرے د غیب دی

الْغَيْبِ نُوْحِيْهِ اِلَيْكَ ۭ وَمَا كُنْتَ لَدَيْهِمْ اِذْ يُلْقُوْنَ

مونږ چه کوم رالیږو تاته او ته نه وے د هغوی سره چه کله یے غورزول

اَقْلَامَهُمْ اَيُّهُمْ يَكْفُلُ مَرْيَمَ ۠ وَمَا كُنْتَ لَدَيْهِمْ اِذْ

خپل قلمونه لله چه څوک به پرورش کښی واخلی مریم او ته نه وے د هغوی سره چه کله

يَخْتَصِمُوْنَ ﴿۴۴﴾ اِذْ قَالَتِ الْمَلٰٓئِكَةُ يٰمَرْيَمُ اِنَّ اللّٰهَ يُبَشِّرُكِ

هغوی جګړه کوله ۴۳ هله چه کله اووئیل فرشتو اے مریم! الله تاته زیرے درکوی د خپل

بِكَلِمَةٍ مِّنْهُ ڰ اسْمُهُ الْمَسِيْحُ عِيْسَى ابْنُ مَرْيَمَ وَجِيْهًا

یو حکم چه د هغه نوم مسیح دے عیسیٰ ځوئ د مریم مرتبه والا

فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَمِنَ الْمُقَرَّبِينَ ﴿٤٥﴾ وَيُكَلِّمُ النَّاسَ

په دنیا کښې او په آخرت کښې او د الله په مقربینو کښې شامل دی. او خبرې به کوي خلقو

فِي الْمَهْدِ وَكَهْلًا وَمِنَ الصَّالِحِينَ ﴿٤٦﴾ قَالَتْ رَبِّ أَنَّىٰ

سره په کوره د مور په غیږ کښې دی او کله چه د پوره عمر وی او نیک بختو څخه دی کښې ځي (مریم) او وییل اے

يَكُونُ لِي وَلَدٌ وَلَمْ يَمْسَسْنِي بَشَرٌ ۖ قَالَ كَذَٰلِكِ اللَّهُ

پالونکیه! د کوم ځای نه به او شی ما خوئ او ما ته لاس نه دے راوړے یو انسان ملک وویل فرمائیلی داشان

يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ ۚ إِذَا قَضَىٰ أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُ كُن

الله پیدا کوي څه چه او غواړی چه کله اراده کوی د یو کار نو بس داوائی هغه ته چه شه نو هغه

فَيَكُونُ ﴿٤٧﴾ وَيُعَلِّمُهُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَالتَّوْرَاةَ وَالْإِنجِيلَ ﴿٤٨﴾

(موجود) شی شته او زده به کړی هغه ته کتاب او د پوهے خبرې او تورات او انجیل

نکات: سلا غوره کړے خویونه دے لیکن معبود نه شی جوړیدے. سلا جمله معترضه
د پاره د بیان د صداقت د رسول الله ﷺ. سلا حضرت مسیح علیه السلام متعلق د
شبے جواب۔

موضح قرآن ف۱ د جُماعت بزرګانو چه کله د حضرت مریم د مور خوب واوریده نو
ټولو غوښتل چه مونږ یې تربیت اوکړو فیصله په دے او شوه چه هر
یو خپل قلم په کوم یے چه تورات لیکلو په روانو اوبو کښې او غورزول د ټولو قلمونه اوبو سره
روان شول او د حضرت زکریا علیه السلام قلم اُلټه په بره روان شو نو د هغه طرفته د هغے
پالنه اُوسپارلے شوه. منه رحمه الله. ف۲ د حضرت عیسیٰ علیه السلام بشارت ړومبنو نبیانو
ورکړے وو چه مسیح به پیدا کیږی چه هغے سره به د بنی اسرائیلو ترقی وی. د مسیح معنیٰ د
دچا د لاس لګولو سره چه بیمار شفاء مُومی. یا چه د چا کلے او وطن نه وی همیشه سیاحت
(سفر) کښې اُوسی. حضرت عیسیٰ پیدا شو او یهودیانو هغه نه منلو چه کله په یهودیانو
کښې د دجّال پیدا شی نو هغه به خپل ځان ته مسیح وائی یهودیان به هغه مسیح ګنړی
منه رحمه الله. ف۳ یعنی د هدایت خبرے به خلقو ته ښائی هغه خبرے حضرت عیسیٰ
د مور په غیږ کښې کړیدی یا چه نبی شو نو وے کړے ۱۲ منه رحمه الله.

فتح الرحمٰن: ف۱ یعنی خسنړے یے غورزولو ۱۲۔

تفسیر ۱۳۵ حضرت عیسیٰ علیه السلام چونکه د الله په قُدرت سره بغیر د پلار نه پیدا شوے
وُو او بیا یے په ما شوم والی کښې خبرے هم کړے وے او بیا چه کله لوئ شو.

معجزے ښکاره شو سته هغه د خلقو په مخکښې ... او دا اشیا معجزے بیان شوے
تو هغه په لاس باندے بجوړیږو (پرتې) مرض والا تندرست کړل او مړي ژوندي کړل
روح اپنے له ... تو دے له توله ... تو سره د یهودیانو او نصارو
او هغوی ... شو ... تو دے یهودیانو د حضرت مریم صدیقة په باره کښې د
کبیر... شبهات پیدا شول، یهودیانو ... او د مسیح تو ... او د مریم د هغه
... او په هغه باندے ... او د نصرانیت ... او حضرت مریم او حضرت عیسی علیهما السلام
... او ... او دې ... اختیار ما لکان اوګرځول او هغوی ته ... په
مافوق الاسباب قدرت او تصرف او اختیار ... او نصارو دا ټول شبهات لرے کړل او د
او مشکلاتو کښې رایو تو الله پاک د یهودیانو او نصارو دا ټول شبهات لرے کړل او د
حضرت مریم صدیقة د عفت او پاک لمنۍ شهادت ورکړو چه د حضرت عیسی علیه السلام
پیدائش محض د الله په قدرت سره بغیر د پلار نه شوے دے او حضرت مریم صدیقه عفیفه
او پاک لمنے وه. دے نه روستو بیا د حضرت عیسی علیه السلام د معجزو ذکر اوکړو چه دا
ټولے معجزے محض د الله په حکم سره د هغه په لاس ښکاره شوے وے په ظهور کښې
هغوی تصرف او اختیار نه هیڅ دخل نه وو. د دے په ضمن کښې ئے د حضرت مریم د
الوهیت تردید هم اوکړو. اصْطَفٰكِ تا ئے د بیت الله په باقی ښځو خادمانو باندے
فوقیت ورکړو او په خصوصی صفتونو سره ئے ممتاز اوګرځولے. وَطَهَّرَكِ، د بد اخلاق
او خرابو عادتونو کفر، معصیت یا حیض او نفاس نه غیره نه ئے پاکه اوګرځولے. وَاصْطَفٰكِ
عَلٰی نِسَآءِ الْعٰلَمِیْنَ. د العالمین نه د حضرت مریم د زمانے ښځے مراد دی او مطلب دا دے
چه الله ورته د هغه زمانے په ښځو باندے برتری ورکړه او عزت ئے ورکړو د دے وجے نه
په دے سره د هغے افضلیت په حضرت فاطمة الزهراء، حضرت عائشے او حضرت خدیجے
رضی الله عنهن باندے نه لازمیږی. (والتفصیل فی روح المعانی ص۱۵۵ ج۳)

۴۲ د دے نه معلومه شوه چه حضرت مریم د الله د طرفنه په عبادت کولو او د هغه
په مخکښې په رکوع او سجده کولو باندے مأموره وه لهٰذا هغه معبود او اله نه شي کیدے.
۴۳ دا جمله معترضه ده چه د نبی علیه السلام په صداقت باندے دلالت کوی. دا
واقعات کوم چه ته بیانوے دا ټول ستا نه کلونه مخکښې دی. په دے واقعاتو کښې تا سو موجود
نه وئ لیکن د دے باوجود تاسو د دے صحیح تفصیلات بیانوئ. لهٰذا دا د دے خبرے
ښکاره او واضح دلیل دے چه دا د غیبو خبرے الله تا ته د وحی په ذریعه ښودلے دی او
او ته د الله رښتونے پیغمبر یے. فیه دلالة علی نبوة محمد صلی الله علیه وسلم حیث اخبر
عن قصة زکریا و مریم ولم یکن قرأ الکتب واخبر عن ذالک صدقه اهل الکتاب بذالک (قرطبی)
د حضرت مریم مور چونکه مخکښې وفات شوے وه. په دے وجه د هغے د پرورش سوال پیدا
شو نو د هیکل سلیمانی ټول خادمان په خپلو کښې په جګړه شو. د هر یو دا خواهش وو چه
د مریم کفالت هغه ته اوسپارلے شي نو د دے جګړے فیصله د قرعه اندازی په ذریعه اوکړے
شوه طریقه دا وه چه هر یو خپل قلم راوړی ټول قلمونه د په سیند کې واچوو او ... کښې ...

... شاقی پاتے شو او روان به شو د اولو سره هغه به د کافرانو مقابل ...
... او شوه او د ... د زکریا علیه السلام په قوم ...
... خوړل ... هغه ... به د اوږو ... او ... طرفته ...
... د حضرت زکریا علیه السلام په ... معجزه ده. ۞ کله چه ... شاقی ... د حضرت
عیسیٰ علیه السلام د پیدائش ذکر شروع کیږی ... د عبدالله یا ان حضرت جبرئیل علیه السلام
... کښې حضرت مریم ته د ځوی د زیږی ورکولو د پیاره ... اولیږلو نو جبرئیل
... سره ... هغه ... کړه چه هغه به محض په کلمه کن سره پیدا کیږی او
هغه ... عیسیٰ او لقب به یې مسیح وی او هغه به مور طرفته منسوب وی ځکه چه
... بغیر پیدا وی په دنیا او اخرت کښې به د لوی شان والا او د مقربینو وی.
... د اهم د فرشتې کلام دے یعنی هغه ماشوم به د پینې روډلو په زمانه کښې هم خبرے
... او بوډا والی کښې هم. او د صالحینو نه به وی د پې روډلو په زمانه کښې خبرے کول خو
په معجزه ده. په دے وجه د هغې د ذکر کولو وجه خو په ذهن کښې راتلے شی لیکن په
بوډا والی کښې خبرے کول خو څه کمال نه دے نو بیا د دے د ذکر ا شرف وجه ده؟
نو د دے وجه دا ده چه کله د حضرت عیسیٰ علیه السلام عمر درے دیرش کاله شو نو هغه ورته
الله پاک هغه اسمان ته اوخیژولو. نو تر اوسه پورے حضرت عیسیٰ علیه السلام په اسمان کښې
دے او هغه په کهولت (بوډا والی) کښې خبرے کول باقی دی. ځکه چه کهولت د څلویښتو
کالو نه پس شروع کیږی. په دے وجه هغه به د اسمان نه راکوزیږی او دوباره به زمکے
ته راځی او څلویښت کاله ژوند به تیروی. د اشان به په بوډا والی کښې د خبرو کولو د خدائی
دعوی پوره شی. وعلی ماذکر فی سن الکهولة یراد بتکلیمه علیه السلام کهلا تکلیمه لهم کذالک
بعد نزوله من السماء وبلوغه ذالک السن بناء علی ما ذهب الیه سعید بن المسیب و زید بن اسلم
وغیرهما انه علیه السلام رفع الی السماء و هو ابن ثلاث وثلثین سنة وانه سینزل الی الارض
ویبقی حیا فیها اربعا وعشرین سنة کما رواه ابن جریر بسند صحیح (روح ص ۱۹۲ ج ۳، کبیر ص ۶۵ ج ۲، قرطبی ص ۹۰ ج ۴)
ویکلم الناس فی المهد وکهلا قال (ابن زید) رفعه الله الیه قبل ان یکون کهلا قال وینزل کهلا (ابن
جریر ص ۲۷۲ ج ۳) دا ایت د حضرت مسیح علیه السلام د حیات او د رفع الی السماء (اسمان ته د خیژولو)
واضح دلیل دے. دا شان دا ایت د حضرت عیسیٰ علیه السلام د الوهیت په بطلان باندے
صریح نص دے چه دے سره د هغه د احوالو د بدلیدلو پته لګی. مثلاً د مور د خیټې نه
پیدا کیدل طفل (ماشوم) کیدل او کهل (بوډا) کیدل وغیره او کوم ذات چه د دومره
تغیر او د زمانے د انقلاب نه متأثره وی هغه د معبود او اله جوړیدلو لائق نه وی.
ځکه چه د عیسایانو عقیده ده. المراد منه بیان کونه متقلبا فی الاحوال من الصبا الی
الکهولة والتغیر علی الاله تعالیٰ محال والمراد منه الرد علی وفد نجران فی قولهم ان عیسیٰ کان
الٰها (کبیر ص ۶۵ ج ۲) ۞ حضرت مریم تر اوسه ناواده شوے وه او ډیره زیاته پاک لمنے وه په
دے وجه چه کله یې دا زیرے واوریدو نو په تعجب سره یې اوویل چه ما ته خو تر اوسه پورے

دکوم سړی لاس هم نه دے رارسیدلے. څما څوئی به څنګه پیدا شی.

کله په دے سره فرښتے اوویل چه تعجب څه خبره نشته. الله پاک داشان قادر دے اسبابو نه بغیر چه څۀ اغواړی هغه پیدا کوی هغه ته هیڅ مشکل نشته چه کله هغه یو کار کول غواړی نو بس د هغه کار د مکمل کیدو د پاره صرف د هغه اراده کافی ده. وَيُعَلِّمُهُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَالتَّوْرٰىةَ وَالْاِنْجِيْلَ ۝ داهم د فرښتے مقوله ده او په يُبَشِّرُكَ باندے معطوف دے. فرښتے زیاتی اوویل چه الله پاک به دے پیدا کیدونکی ماشوم ته دکتاب او حکمت او د تورات او انجیل علم هم ورکوی. دلته په الکتاب کښی الف لام دعهد د پاره دے او دینه قران مراد دے او د حکمت نه د نبی علیه السلام خبرے مراد دی چه کله حضرت عیسٰی علیه السلام د اسمان نه راکوزیږی نو هغه وخت به د قران او سنت علم هغه ته د الله د طرف وهبی طور باندے ورکړے شوے وی. وَرَسُوْلًا اِلٰى بَنِیْۤ اِسْرَآءِيْلَ. د رسولا عامل ناصب محذوف دے ای یجعله رسولا (روح ج۳ ص۱۶۶) په انی کښی رسولا عامل دے یعنی هغه ماشوم به د بنی اسرائیلو طرفته رسول وی او هغوی ته به وائی چه ماد خپل خدائ د طرفه تاسو ته د خپل صداقت نښے راوړیدی او راغلے یم.

وَرَسُوْلًا اِلٰى بَنِیْۤ اِسْرَآءِيْلَ ۙ اَنِّیْ قَدْ جِئْتُكُمْ بِاٰيَةٍ

او ګرځوی به یے پیغمبر بنی اسرائیلو طرفته بیشکه زه راغلے یم تاسو ته نشانو سره

مِّنْ رَّبِّكُمْ ۙ اَنِّیْۤ اَخْلُقُ لَكُمْ مِّنَ الطِّيْنِ كَهَيْئَةِ الطَّيْرِ

ستاسو د رب د طرفه چه زه جوړوم تاسو له د خټے نه د مارغه شکل بیا په هغه کښی

فَاَنْفُخُ فِيْهِ فَيَكُوْنُ طَيْرًاۢ بِاِذْنِ اللّٰهِ ۚ وَاُبْرِئُ الْاَكْمَهَ

پوکے وهم نو هغه کیږی الوتونکے مارغه د الله په حکم سره شله او صحیح کوم پیدائشی ړوند

وَالْاَبْرَصَ وَاُحْیِ الْمَوْتٰى بِاِذْنِ اللّٰهِ ۚ وَاُنَبِّئُكُمْ بِمَا

او ابرص والا او ژوندی کوم مړی د الله په حکم سره قله او خبر در کوم تاسو ته د هغه

تَاْكُلُوْنَ وَمَا تَدَّخِرُوْنَ ۙ فِیْ بُيُوْتِكُمْ ۭ اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ

چه خوړلی دی تاسو او راغلی یئ او کوم چه تاسو پریښی دی خپلو کورونو کښی شکه دیکښی نښه پوره ده

لَاٰيَةً لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۴۹﴾ وَمُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ

ستاسو د پاره که چرے تاسو ایمان لرونکی یئ او زه تصدیق کوم د مخکنی کتاب چه

بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ التَّوْرٰىةِ وَلِاُحِلَّ لَكُمْ بَعْضَ الَّذِيْ حُرِّمَ

تورات دے لکه او د دے د پاره چه حلال کړم تاسو د پاره هغه څیزونه کوم چه حرام ؤ

عَلَيْكُمْ وَجِئْتُكُمْ بِاٰيَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ ۟ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ﴿۵۰﴾

په تاسو او راغلے یم تاسو ته نښو ګاؤ پلو سره ستاسو د رب د طرفه نو اوویریږئ د الله نه او زما خبره

اِنَّ اللّٰهَ رَبِّيْ وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوْهُ ؕ هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيْمٌ ﴿۵۱﴾

اومنئ. بیشکه الله دے رب زما او رب ستاسو نو د هغه بندګي کوئ هم دا دے لاره ده ګله سمه

فَلَمَّآ اَحَسَّ عِيْسٰى مِنْهُمُ الْكُفْرَ قَالَ مَنْ اَنْصَارِيْٓ اِلَى

بیا چه کله معلوم کړه عیسٰی علیه السلام د بنی اسرائیلو کفر وے وئیل څوک دی چه زما امداد کوونکی د الله په

اللّٰهِ ؕ قَالَ الْحَوَارِيُّوْنَ نَحْنُ اَنْصَارُ اللّٰهِ ۚ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ ۚ

لاره کښي لکه اووئیل حواریون چه مونږ یو امداد کوونکی د الله مونږ یقین اوکړو په الله

وَاشْهَدْ بِاَنَّا مُسْلِمُوْنَ ﴿۵۲﴾ رَبَّنَآ اٰمَنَّا بِمَآ اَنْزَلْتَ

باندے او ته ګواه اوسے چه مونږ حکم قبول کړو کله ای ربه مونږ یقین اوکړو د هغه څیز

وَاتَّبَعْنَا الرَّسُوْلَ فَاكْتُبْنَا مَعَ الشّٰهِدِيْنَ ﴿۵۳﴾ وَمَكَرُوْا

کوم چه تا نازل کړو او مونږ تابع شو د رسول نو اولیکه مونږ د منونکو نه لکه او مکر اوکړو کافرانو

وَمَكَرَ اللّٰهُ ؕ وَاللّٰهُ خَيْرُ الْمٰكِرِيْنَ ﴿۵۴﴾ ع ۵ ۱۴

او مکر اوکړو الله هم او د الله تدبیر د ټولو نه بهتر دے ؤ لکه

نکات: ۱ ای و یجعله رسولا. ۲ دا دے نه تخلیق الی ماج دے یعنی القصه حضرت عیسٰی علیه السلام پیدا شو او هغوی خپل قوم ته د الله د توحید دعوت ورکړو ۱۲

موضح قرآن ف۱ حضرت عیسٰی علیه السلام ته تورات او هر کتاب بغیره لوستلو ورتلو او دا به ټولے معجزے وے ۱۲ منه رحمه الله. ف۲ د حضرت عیسٰی علیه السلام په وخت کښی د یر حکمونه ؤ چه هغه مشکل ؤ او موقوف شول باقی هم هغه د تورات حکم ؤ ۱۲ منه رحمه الله ف۳ د حضرت عیسٰیؑ د دوستو یارانو خطاب "حواری" ؤ. حواری په اصل کښی دهوبی ته وائی دوی کښی اول دوه کسان کوم چه د ده تابع شول هغه دهوبیان ؤ حضرت عیسٰی علیه السلام اووئیل چه کپړے څه له وینځئ زړه به تاسو ته زړونه وینځل او بیا هم هغوی د ده

سره منکری شول داشان د ټولو دا خطاب اوګرځیده.

فائده ۴: ددے آیت معنی دا ده چه حضرت عیسی علیه السلام اصحاب رسول وو بنی اسرائیلو د پاره چه کله یے معلوم کړه چه دوی خپل دین نه قبلوی نو وئے فرمایل چه څوک کوم خوک خپل دین ته رواج ورکړی د حواریون په لاس نور و ته دین اورسیده او ترنه پورے بنی اسرائیل د هغه په دین کښی کم دی. ۱۲ منه.

فائده ۵: د یهودو عالمانو د هغه وخت بادشاه دهوکه کړو چه دا سړے ملحد (بے دینه) دے د تورات د حکم نه خلاف خبره کوی هغه خلق اولیبرل چه وئے نیسی او وائے وژنی چه کله هغوی اورسیدل د حضرت عیسی علیه السلام منکری غائب شول ددے پریشانئ په حالت کښی الله پاک حضرت عیسی علیه السلام آسمان ته اوخیژولو او یو هم شکل د هغوی یا ستے شو هغه یے اونیوه او وائے وستلو او پهانسی یے کړو. ۱۲ منه رحمه الله تعالی.

فتح الرحمٰن

ف۱ القصه زیرے د عیسی علیه السلام په حق کښی متحقق شو او یهود ته یے دخپل دین دعوت ورکړو. ف۲ یعنی کافرانو سره.

تفسیر

۶۸ دا د اَنِّیْ قَدْ جِئْتُکُمْ نه بدل دے او د اِذْنِ اللّٰهِ نه مراد امر الله دے او ددے ځائ نه د حضرت عیسی علیه السلام د معجزاتو تفصیل شروع کیږی د هغه یوه معجزه دا وه چه هغه به د خټے نه د مارغه شکل جوړ کړو په هغه کښی به یے ده پوکلو نو هغه به ژوندے شو. بِاِذْنِ اللّٰهِ زیاتولو سره یے دے طرفته اشاره اوکړه چه د خټے نه ژوندے کیدل دا محض د الله په حکم سره وو د حضرت عیسی علیه السلام په دے کښی هیڅ تصرف یا اختیار نه وو. والمراد بامر الله واشار بذالک الی ان احیاءه من الله تعالی ولکن بسبب النفخ ولیس ذالک لخصوصیة فی عیسی علیه السلام الخ (روح ص۱۲۶ ج۳)

۶۹ دا په اَخْلُقُ باندے عطف دے اَکْمَهْ هغه ته وائی چه د مور د خیټے نه ړوند پیدا شوے وی او اَبْرَص برګی ته وائی دا هم د حضرت عیسی علیه السلام معجزے دی چه کله به هغه ته خلق د علاج د پاره راتلل نو د الله نه به یے دُعا غوښتله نو الله به شفا ورکوله. داشان به یے د مړو ژوندی کولو د پاره هم د خدائ نه دُعا غوښتله او دا ټول هر څه د الله په مشیت او د هغه په حکم سره کیدل. د حضرت عیسی علیه السلام د یکښی څه اختیار نه وو. ددے وجے نه هغه الله او معبود نه دے. وکان یداویهم بالدعاء الی الله تعالی بشرط الایمان (روح ص۱۲۶)

۷۰ دا هم د هغه معجزه ده هغه به خلقو ته ښودل چه څه یے خوړلے دی او دلته راغلی او څه یے په کور کښی پټ ساتلی دی. دا هم د الله په ښودلو سره هغه ته معلوم وو هغه به خپله په غیبو باندے نه پوهیدلو. ۷۱ حضرت عیسی علیه السلام به ذکر شوے معجزے خپل قوم ته ښائی او وائی به چه که چرتے ایمان راوړئ او زما تصدیق کول غواړئ نو دا معجزے زما د رسالت او نبوت د پاره لوئ دلیل دے ځکه چه دا د عادت نه خلاف کارونه د پیغمبر نه سوا څوک دروغژن د نبوت مدعی نه شی ښکاره کولے. ۷۲ د مصدقاً عطف په رسولاً باندے دے. د حضرت عیسی علیه السلام یوه قرینه دا هم وه چه هغه د تورات تصدیق اوکړو.

وشنفوف. او دوالي چه تورات د الله کتاب دے او ددے په تعلیماتو باندے ایمان راوړل او
عمل کول ضروري دي. وَلِاُحِلَّ لَكُمْ بَعْضَ الَّذِي حُرِّمَ عَلَيْكُمْ د تورات بعض احکام د
حضرت عیسیٰ علیه السلام په ذریعه منسوخ هم شول مثلاً د ... په تورات کښې حرام
وو حلال کړے شول. وَجِئْتُكُمْ بِآيَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ. ذکر شوی دلائل خما په نبوت او رسالت
باندے کافي دي. په دے وجه د خدائے نه اُوویریږئ خما انکار مه کوئ او خما تابعداري
وکړئ. ۴۳ او خما د دے معجزاتو او په تعجب کښې اچونکو معجزاتو سره په غلط فهمي کښې
مبتلا نه شئ او ما مختار، متصرف او کارساز مه ګڼړئ. زه د خدائی سره شریک نه یم
بلکه د الله بنده یم کوم خدائے چه ستاسو پروردګار دے بس هم هغه خما پروردګار او
کارساز دے په دے وجه صرف د هغه عبادت کوئ او صرف هغه رابلئ او هم دا صراط
مستقیم او سمه لاره ده چه دے طرفته ټولو نبیانو علیهم السلام دعوت ورکړلو۔
۴۴ دلته په کلام کښې اندماج دے یعني د فَلَمَّا نه وړاندے لږ عبارت محذوف دے
ای تولد عیسیٰ کما بشر به وبلغ قومه الرسالة یعني چه کله حضرت عیسیٰ علیه السلام د
زیری مطابق پیدا شو او د تبلیغ رسالت فریضه یے اُورسوله نو یهودیانو د هغه خلاف
د بغض او حسد د وجے نه سازشونه شروع کړل چه کله حضرت عیسیٰ علیه السلام ته د دوی
د کفر او انکار او عداوت پته اُولګیده نو هغوی خپلو منونکو ته د خپل مدد او نصرت
دعوت ورکړو او دا هم کیدے شي چه د فرښتے قول وَرَسُولًا إِلَىٰ بَنِي إِسْرَائِيلَ پورے
وي او دے نه روستو اندماج وي او مذکوره عبارت د دے نه روستو محذوف وي (کذا في الروح
ج ۳) د دے نه هم د عیسایانو د عقیدهٔ الوهیت مسیح تردید اُوشو چه کله سړے په خپله
عالم اسباب کښې د مدد او نصرت طالب وي هغه څنګه اِله جوړیدے شي او د نورو مشکلات
حل کولے او حاجتونه پوره کولے شي۔
۴۵ حواریین د حواري جمع ده دا خلق د خپلے علاقے سرداران وو او په عیسیٰ علیه السلام
باندے یے په اخلاص سره ایمان راوړے وو هغوی اُووئیل چه مونږ به د الله د دین په
خاطر ستاسو مدد کوو تاسو ګواه اُوسئ چه مونږ ایمان راوړیدے او د زړه نه تابعدار یو۔
وقیل کانوا ملوکا قاله ابن عون (قرطبي ج۴ ص۹۸، وکذا في الکبیر ج۲ ص۶۸۶) ۴۶ حضرت عیسیٰ علیه السلام
سره د وعدے نه روستو حواریینو د الله سره مناجات شروع کړو او صداقت سره یے اقرار
وکړو چه هغوی [illegible] د الله نازل کړے شوی ټولو احکامو باندے ایمان راوړیدے او د هغه
د پیغمبر اطاعت یے قبول کړیدے. په دے وجه هغوی د هم د هغه خلقو په فهرست کښې
شامل کړے شي چا چه د الله توحید او د هغه د پیغمبر د صداقت ګواهي ورکړیده ای اکتبنا
في جملة من شهد لك بالتوحید ولانبیائك بالتصدیق (کبیر ج۲ ص۶۸۶) د دے نه معلومه شوه چه خپله
د عیسیٰ علیه السلام صحابه چه مسیحیان وو هغوی خو صرف الله معبود منلو او د عیسیٰ علیه السلام
متعلق د هغوی هم دا نظریه وه چه هغه د الله رسول دے او په دوی باندے د هغه اتباع
لازم ده هغه ته اِله یا ابن الله وغیره وئیل د دے خرافاتو تصور هم د هغوی نه وو۔

ځکه مَکْر عربي لفظ دے چه د دے معنیٰ ژور او پټ تدبیر سره پېکول دی او دا څیز د خپل اصل په اعتبار سره بد او عیب ژن نه دے په دے وجه د دے نسبت د الله طرف ته بغیر د شک لنګ شُبهے نه جائز دے. لیکن پټ تدبیر که چرے د څه ناجائز کار د پاره وی نو معیوب او مذموم دے. مَکَرُوْا د دے فاعل یهودیان دی داخلق چونکه مُشرکان او بد عقیده وو او عیسیٰ علیه السلام د توحید پرستیٔ او حق بیانیٔ بانده غصه شول او دهغه د ښمنان شول او په دے وجه هغوی پرِ د الحاد او د بے دینیٔ الزام اُولګولو او د خپل مذهبی عدالت نه ئے د هٔ د کافر او واجب القتل کید و فیصله حاصله کړه. یهودیان چونکه د رومی مُشرک اوبت پرستو حکومت ماتحت وو او د رومی حکومت د منظورئ نه بغیر ئے چا ته د قتل سزا نه شوه ورکولے په دے وجه هغوی په حضرت مسیح علیه السلام بانده د بغاوت یو دروغژن مقدمه قائم کړه او د رومی عدالت نه ئے دهغهٔ د قتل احکام حاصل کړل هغه وخت به د مرګ سزا د صلیب په ذریعه ورکولے شوه د دے وجے نه اوس هغوی دهٔ په سولئ بانده د زوړند ولو تیاری شروع کړه لیکن الله د هغوی ټول تدبیرونه د خاورو سره ملاو کړل او حضرت مسیح علیه السلام ئے د هغوی نه بچ کړو او اسمان ته ئے اُوخیژولو. چه کله یهودیان د مسیح علیه السلام پهانسی کولو د پاره راغلل نو چه کوم سړے ئے د هٔ د نیولو د پاره اُولیږلو الله پاک هغه حضرت مسیح علیه السلام هم شکل اُوګرځولو او هغه ئے پورته اُوخیژولو نو یهودیانو هم هغه سړی بانده د مسیح ګمان اُوکړو او په سولئ ئے زوړند کړو.

اِذْ قَالَ اللّٰهُ يٰعِيْسٰٓى اِنِّىْ مُتَوَفِّيْكَ وَرَافِعُكَ اِلَىَّ وَ

کله وخت چه اُووئیل الله اے عیسیٰ! زهٔ به اخلم او اُوچتوم به دِ خپل خان طرف ته او

مُطَهِّرُكَ مِنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَجَاعِلُ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْكَ

پاک به کړم ستا د کافرانو نه ځے او ګرځوم به هغه کوم چه ستا تابع دی

فَوْقَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ ۚ ثُمَّ اِلَىَّ مَرْجِعُكُمْ

غالب په هغه خلقو بانده کوم چه انکار کوی د قیامت د ورځے پورے ئے بیا زما طرف ته دی

فَاَحْكُمُ بَيْنَكُمْ فِيْمَا كُنْتُمْ فِيْهِ تَخْتَلِفُوْنَ ﴿٥٥﴾ فَاَمَّا الَّذِيْنَ

ستاسو د ټولو راتلل بیا به فیصله اُوکړم ستاسو په مینځ کښې په کومه خبره کښې چه تاسو جګړه کوله نو هغه خلق

كَفَرُوْا فَاُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا شَدِيْدًا فِى الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ۫

چه کافران شو هغوی ته به عذاب ورکړم سخت عذاب په دُنیا کښې او په آخرت کښې

وَمَا لَهُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ﴿٥٦﴾ وَ اَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ عَمِلُوا
او نشته دوئ لره هیڅوک مددگار شته او هغه خلق چه ایمان یې راوړو او کارونه یې نیک
الصّٰلِحٰتِ فَيُوَفِّيْهِمْ اُجُوْرَهُمْ ۭ وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٥٧﴾
وکړل نو هغوی ته به پوره ورکړی د هغوی حق الله او هغه نه خوښوی بې انصافو ته
ذٰلِكَ نَتْلُوْهُ عَلَيْكَ مِنَ الْاٰيٰتِ وَالذِّكْرِ الْحَكِيْمِ ﴿٥٨﴾ اِنَّ
دا موږ اوروو تاته ایتونه او بیان تحقیقي شته بیشک د
مَثَلَ عِيْسٰى عِنْدَ اللّٰهِ كَمَثَلِ اٰدَمَ ۭ خَلَقَهٗ مِنْ تُرَابٍ
عیسیٰ مثال د الله په نزد په شان د مثال د ادم دے جوړ یې کړو هغه د خاورې نه
ثُمَّ قَالَ لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنُ ﴿٥٩﴾ اَلْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ فَلَا تَكُنْ
بیا یې ورته ووئیل هغه ته چه شه نو هغه اوشو شته حق هغه دے کوم چه ستا رب والی بیا ته
مِّنَ الْمُمْتَرِيْنَ ﴿٦٠﴾ فَمَنْ حَاۗجَّكَ فِيْهِ مِنْ بَعْدِ مَا
مه کیږه د شک راوړونکو نه شته بیا چه څوک جګړه کوی تا سره په دې قصه کښ روستو د هغه نه چه
جَاۗءَكَ مِنَ الْعِلْمِ فَقُلْ تَعَالَوْا نَدْعُ اَبْنَاۗءَنَا وَاَبْنَاۗءَكُمْ
راغے تاته خبر ریښتونے نو ته اووایه راشئ چه راوبلو موږ خپل ځامن او ستاسو ځامن
وَنِسَاۗءَنَا وَنِسَاۗءَكُمْ وَاَنْفُسَنَا وَاَنْفُسَكُمْ ۣ ثُمَّ نَبْتَهِلْ
او خپلې ښځې او ستاسو ښځې او خپل ځانونه او ستاسو ځانونه بیا زاری اوکړو موږ ټول
فَنَجْعَلْ لَّعْنَتَ اللّٰهِ عَلَي الْكٰذِبِيْنَ ﴿٦١﴾ اِنَّ هٰذَا لَهُوَ
او لعنت اولیږو د الله په هغوی چه څوک دروغژن دی شته بیشکه هم دا دے بیان
الْقَصَصُ الْحَقُّ ۚ وَمَا مِنْ اِلٰهٍ اِلَّا اللّٰهُ ۭ وَاِنَّ اللّٰهَ لَهُوَ
ریښتونے او د چا بندګی نشته سوا د الله نه او الله دے غالب او
الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿٦٢﴾ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌۢ بِالْمُفْسِدِيْنَ ﴿٦٣﴾
حکمت والا شته بیا که چیرې قبول نه کړی نو الله ته معلوم دی فساد کونکی شته

نکات:- ك تخویف دُنیوی او اُخروی دپاره د مُنکرینو ۱۲ ۲ بشارت دپاره د مؤمنانو ۳ د بحث خلاصه او د مُخکینو دلائلو نتیجه ۱۲ جُمله معترضه د پاره د صداقت د نبی صلی الله علیه وسلم

موضح قرآن:- ف د عیسی علیه السلام اول تابعه نصاری وُو او س مسلمانان دی تو همیشه به یهود غالب وی، یعنی نصاری په دے خبره د نبی علیه السلام سره جګړه کوله چه عیسی بنده نه دے د الله ځوی دے اخر ورته وویل چه که هغه د الله ځوی نه دے نو او وایه چه د چا ځوی دے دوی له جواب کښې دا آیت نازل شو چه د ادم نه پیدا شوو نه پلار او نه مور وه پلار نه وی نو څه تعجب دے ۱۲ منه ق الله حکم او کړو چه نصاری په د دے خبره نه منی نو هم قائل نه شو نو ځوی سره قسم او کړه دا هم د فیصلې یو صورت دے چه دواړه طرفونه خپل ځان او اولاد سره حاضر شی او دعا او کړی چه څوک په دے مونږ کښې دروغژن وی په هغه دې لعنت او عذاب پرېوځی بیا نبی علیه السلام د حضرت علی او حسنین رضی الله عنهم ځان سره او لاړو دے نصارا ؤکښې چه خول هوښیار وو هغوی مقابله اونکړه او جزیه یې قبوله کړه ۱۲ منه

تفسیر ۵۲ حضرت شیخ رحمه الله فرمائی چه د دے دا فقره نه هم د عیسائیانو د الوهیت مسیح د عقیدے تردید کیږی. ځکه چه که چرے حضرت مسیح علیه السلام اِلٰه او متصرف او مختار وے نو د یهودیانو د مکر و فریب نه به یې په خپله ځان بچ کړے وے. لیکن په دې کښې هغه د الله نصرت او مدد ته محتاج وُو. متوفی اسم فاعل دے د توفی نه او د توفی معنی ده یو شیز به پوره طریقه سره حاصلول او اخستل. التوفی اخذ الشیء وافیا (کبیر ج ۲) او رَافِعُكَ د ماقبل تفسیر دے. او اذ ظرف متعلق دے د مکروا سره یعنی یهودیانو چه کله د حضرت مسیح علیه السلام د قتل کولو پټ تدبیرونه سوچ کول هغه وخت الله پاک هغه ته دا زیرے ورکړو چه زه به تا پوره پوره یعنی روح مع الجسد اسمانونو ته خیژوم او د دے کافرانو د پښتو منصوبو نه به تا سو بچ ساتم. المراد اخذك وافیا بروحك و بدنك فیكون ورافعك الی كالمفسر لما قبله (روح ج ۳) الله پاک د رَافِعُكَ سره د دینه وړاندے د متوفیك اضافه کړیده حالانکه رفع الی السماء دلالت کولو دپاره رَافِعُكَ اِلَیَّ کافی وُو. امام رازی د دے وجه بیانوی چه که چرے صرف رَافِعُكَ اِلَیَّ باندے اکتفا شوے وے نو د دے سره دا شبه کیدے شوه چه شاید د عیسی علیه السلام د روح رفع شویده نه د جسد. په دے وجه یې مُتَوَفِّیكَ ذکر او صراحت یې اوکړو چه رفع د روح مع الجسد شویده نه چه صرف د روح. و لما علم الله ان من الناس من یخطر بباله ان الذی رفعه الله هو روحه لا جسده ذکر هذا الکلام لیدل علی انه علیه الصلوٰة والسلام رفع بتمامه الی السماء بروحه و بجسده (کبیر ج ۲)

دا آیت د حضرت عیسی علیه السلام اسمانونو ته په ژوندی خیژولو باندے صریح او واضح دلیل دے. د دینه علاوه نورو ډیرو آیتونو کښې هم د دے صراحت دے او د نزول مسیح په باره کښې خو حدیث د تواتر درجے ته رسیدلے دے لکه چه امام ابن جریر او نورو مفسرینو ویلی دی. قال ابو جعفر و اولی هذه الاقوال بالصحة عندنا قول من قال معنی ذلك انی قابضك من الارض ورافعك الی التواتر الاخبار عن رسول الله صلی الله علیه وسلم انه قال ینزل عیسی بن مریم فیقتل الدجال ثم یمکث فی الارض (ابن جریر ج ۳) [illegible] چه په یو مرفوع روایت کښې دی.

ابوهریره رضی الله عنه روایت کوی چه رسول الله ﷺ اوفرمایل چه خدای په هغه ذات قسم وی
چه په قبضه کښی زما ساه ده چه حضرت عیسی بن مریم به ضرور بالضرور په تاسو کښی
نازل شی الخ الفاظ دا دی. اوګورئ عن سعید بن المسیب سمع اباهریرة قال
قال رسول الله صلی الله علیه وسلم والذی نفسی بیده لیوشکن ان ینزل فیکم ابن مریم حکما عدلا
فیکسر الصلیب ویقتل الخنزیر ویضع الجزیة الخ (صحیح بخاری ص ۴۹۰ جلد ۱، ص ۳۳ جلد ۱) دا روایت د صحیح
بخاری نه علاوه په مروجه کتابونو کښی موجود دے. د نزول په باره کښی د احادیثو په کتابونو کښی چه څومره
روایتونه هم موجود دی په هیڅ یو روایت کښی هم د مثیل عیسی لفظ نه دے راغلے او نه په یو
مرفوع حدیث کښی او نه د صحابو، تابعینو او د تبع تابعینو په یو اثر کښی د حضرت مسیح
علیه السلام د وفات ذکر راغلے دے بلکه د صحابو او تابعینو نه حیات مسیح په تواتر سره ثابت
دے. د حضرت ابن عباس رضی نه د متوفیک معنی ممیتک په بخاری کښی چه نقل دے. د هغې
جواب دا دے چه اول خو دا روایت منقطع دے او د دے په مقابله کښی د حضرت ابن عباس
نه چه کوم روایت صحت سره منقول دے هغه دا دے چه حضرت مسیح ژوندے اسمانونو
ته خیژولے شوی دے لکه چه علامه قرطبی لیکی والصحیح ان الله تعالی رفعه الی السماء من
غیر وفاة ولا نوم کما قال الحسن وابن زید وهو اختیار الطبری وهو الصحیح عن ابن عباس وقاله
الضحاک (قرطبی ص ۹۹ ج ۴) ثانیا که چرے روایت صحیح هم وی نو د دے دا مفهوم نه دے چه
حضرت مسیح فوت شویدے بلکه په دے صورت کښی به په ایت کښی تقدیم او تاخیر وی ځکه
چه واؤ مطلق جمع د پاره راځی ترتیب لازم نه دے او مطلب به دا وی چه تا لره خپل ځان
طرفته اوچتوونکے یم او بیا په اخره زمانه کښی به زمکه باندے کوزولو سره تا ته مرګ درکوونکے
یم. لکه چه د حضرت قتاده نه نقل دی. عن قتادة قال هذا من المقدم والمؤخر ای رافعک
الی ومتوفیک (روح ص ۱۷۹ ج ۳)

د لفظ توفی معنی د ټولو لغت والو په نزد باندے اخذ الشئ وافیا ده، او په قرآن کښی دا
لفظ د حیات په مقابله کښی چرته هم نه دے استعمال شوے. د حیات په مقابله کښی د موت
لفظ راغلے دے مثلا كُنْتُمْ أَمْوَاتًا فَأَحْيَاكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ (بقره ع ۳) أَلَمْ
نَجْعَلِ الْأَرْضَ كِفَاتًا أَحْيَاءً وَأَمْوَاتًا (مرسلات ع ۱) بلکه د توفی په مقابله کښی کیدل او وسیدل
راغلی دی لکه چه ارشاد دے كُنْتُ عَلَيْهِمْ شَهِيدًا مَا دُمْتُ فِيهِمْ فَلَمَّا تَوَفَّيْتَنِي كُنْتَ
أَنْتَ الرَّقِيبَ عَلَيْهِمْ (مائده ع ۱۶) البته د دے لفظ اطلاق په مرګ باندے هم کیږی ځکه
چه هلته هم اخذ الشئ پوره وافیا وی. نو موت هم د توفی یو فرد دے لکه چه د بدن سره پوره
نزول دے یو فرد دے لیکن په دے ایت کښی د رفع نه مراد رفع مع الجسد ده نه چه
مرګ. د مرزائیانو د طرفه یوه قاعده بیانولے شی چه کله د توفی نه باب تفعل وی او فاعل
الله وی او مفعول ذی روح وی نو هلته د قبض روح نه سوا معنی نه صحیح کیږی یعنی رفع
مع الجسد نه شی مراد کیدے دا د امت مرزائیه د طرفه ټول فریب او دهوکه ده اول
خو د دے وجه نه چه د عیسی علیه السلام نه علاوه د هیچا رفع مع الجسد ثابت نه ده په دے

وجه دا الفاظ د بل څه د پاره وارد شوي نه دي. ثالثاً دا قاعده د نحوي نه ده چې دغه الفاظ د جوړه ژبې د لغت په یو کتاب کښې هم د دې ذکر نشته. بلکه موږ وایو چې کله د رفع فاعل الله وي او فاعل ذي جسد وي او د هغه صله الی وي نو هلته د رفع د جسم نه سوا هیڅ معنی نه شي کیدې. د قرآن او حدیث او د عربو د محاورو نه د دې خلاف هیڅ ثبوت نه شي ملاوېدې. والتفصیل في عقیدة الاسلام للسید انورشاه رحمة الله علیه.

ف۷۹ محققین د دې وعدې د عیسیٰ علیه السلام د ذات سره مخصوص وي او دا وعده د هغه د متبعینو او په هغه باندې ایمان راوړونکو سره ده. الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْكَ نه مسلمانان او ریښتوني عیسایان مراد دي. او د الَّذِيْنَ كَفَرُوْا نه مراد یهودیان دي، چې هغوی د عیسیٰ علیه السلام نه انکار اوکړو او د هغه قتل پسې اوګرځېدل او د فوقیت او غلبې نه معنوی او د دلائلو په اعتبار سره غلبه مراد ده نو په دې اعتبار سره هم یهودیان همیشه ذلیل، خوار، مقهور او محکوم اوسي. ثُمَّ اِلَيَّ مَرْجِعُكُمْ فَاَحْكُمُ بَيْنَكُمْ او چې کله تاسو ټول په میدان حشر کښې خما په مخکښې حاضر کړې شئ نو عملي او حتمي فیصله به ستاسو د اختلاف زه په خپله کوم.

ف۸۰ الذین کفروا نه هغه خلق مراد دي چې عیسیٰ علیه السلام یې نه منلو او د هغه قتول یې غوښتل یا چا هغه معبود ګرځولي وو. د اخرت عذاب خو ظاهر دې او د دنیا د عذاب نه قید و بند او قتل عذاب مراد دې نو د دې خلقو ته په دنیا کښې هم عذاب ورکړې شو او په اخرت کښې به هم ورکولې شي. وکذالک فعل بمن کفر بالمسیح من الیهود او غلا فیه او اطراه من النصاری عذبهم فی الدنیا بالقتل والسبی واخذ الاموال وازالة الایدی عن الممالک و فی الدار الاخرة عذابهم اشد واشق (ابن کثیر ص ۳۶۶ ج ۱) او د دې کافرانو به هیڅوک دوست او مددګار نه وي دوي چې څوک حاجت روا او مشکل کشا ګنړي هغوی به دوی لره په دنیا کښې د عذاب نه بچ کړي او نه په اخرت کښې. ف۸۱ او کوم خلقو چې د الله ټول نبیان اومنل او د هغوی راوړې شوې د توحید پیغام یې اومنلو او د عیسیٰ یا نو پیشان یې د الله نه سوا هیڅوک را ونه بللو او نیک عملونه یې اوکړل د ایمان ټولې تقاضایې پوره کړې نو هغوی ته به د هغوی د عملونو پوره اجر ملاوېږي. او په هغې کښې به هیڅ قسم کمې نه کیږي. وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ الظّٰلِمِيْنَ، په دې وجه د مؤمنانو په اجر و ثواب کښې د کمۍ څه سوال نه پیدا کیږي. ځکه چې مزدور ته د هغه مزدوري نه ورکول یا په هغې کښې کمې کول ظلم دې او الله ظالمان نه خوښوي په دې وجه د دې خبرې ادنیٰ احتمال هم نشته چې هغه دې چا په اجر کښې کمې اوکړي.

ف۸۲ دا جمله معترضه ده چې د نبي علیه السلام د صداقت د اظهار د پاره راوړې شوې ده ذٰلِكَ مبتدا دې او نَتْلُوْهُ عَلَيْكَ د دې خبر دې. مِنَ الْاٰيٰتِ وَالذِّكْرِ الْحَكِيْمِ د خبر بعد خبر دې، واو د نَتْلُوْهُ ضمیر منصوب نه حال دې او ذکر حکیم نه مراد قرآن دې یعنې کوم څه چې موږ په تا نازل کړي دي دا ستاسو د نبوت واضحه دلائل دي او د حکمت نه ډک د قرآن ایتونه دي چې د دې علم د وحی نه بغیر ممکن نه دې نو د دې نه معلومه شوه چې تاسو د خدائي پیغمبر یئ. الحجج الدالة علی صدق نبوتک اذا علمتهم بما لا یعلمه الا قاریٔ کتاب او معلم ولست

بواته منها فلم يبق الا انك قد عرفته من طريق الوحى (روح ص ۱۸۵ ج ۳) ۸۳ ـه دا تیر شوے شبهے د جواب تکمیل دے یعنی د عیسیٰ علیه السلام د پلار نه بغیر پیدا کیدل د هغهٔ د معبود کیدو دلیل نهٔ دے او نهٔ دا کار د الله د قدرت په مخکښې څهٔ مشکل یا عجیبه دے ددهٔ پیدائش د الله د قدرت یو نمونه ده ځکه چه د آدم علیه السلام پیدائش د مور پلار دواړو نه بغیر د قدرتِ خداوندی نمونه وه ځکه چه د آدم علیه السلام پیدائش محض د الله په قدرت او د هغهٔ ارادے سره اُوشو دغسے د حضرت عیسیٰ علیه السلام پیدائش اوشو. ۸۴ ـه اَلْحَقُّ خبر دهٔ او دهٔ مبتدا هُوَ محذوف دے یعنی د عیسیٰ علیه السلام په باره کښې چه موږ کوم څهٔ بیان کړل هغه د آدم علیه السلام پشان محض په قدرتِ کامله سره بغیر د پلار نه پیدا شوے دۀ او اِلٰه نهٔ دۀ او د هغهٔ مور حضرت مریم صدیقه پاک دامنه ښځه وه دا ټول حق دی دیکښې څهٔ شک نشته او د دے په مقابله کښې د یهود او نصارا نظریات غلط او باطل دی. مثلاً نصارا به ویل چه عیسیٰ علیه السلام معبود، اِله او کارساز دے او یهودو به حضرت مریمؓ باندے د زنا تهمت اولګولو نو الله ددے دواړو خیالونو ابطال اوکړو قال ابو مسلم المراد ان هذا الذي انزلت عليك هو الحق من خبر عيسى عليه السلام لا ما قالت النصارى واليهود فالنصارى قالوا ان مريم ولدت الها واليهود رموا مريم عليها السلام بالافك (کبیر ص ۲۹۰ ج ۲)

۸۵ ـه فِيْهِ ضمیر عیسیٰ علیه السلام طرفته راجع دے د عیسیٰ علیه السلام د الوهیت په قطعی دلائلو سره د باطلولو نه روستو به نبی علیه السلام مخاطب کړو او وے فرمائیل چه د حضرت مسیح د اِله (معبود) نهٔ کیدو او د رسول کیدو قطعی او یقینی دلائلو نه روستو هم که چرے د نجران وفد د مسیح د الوهیت په باره کښې تاسو سره اختلاف او جهګړه کوی نو تاسو هغوی ته د مباهلے چیلنج ورکړئ ځکه چه دلائلو سره خو مسئله واضحه شوې ده او دوی ته او وائی چه تاسو هم خپلے ښځے او بچی راولئ او موږ به یے هم راولو او بیا به په عاجزئ سره دعا اوکړو او په دروغژنو به د خدائ لعنت اُولیږو لیکن د نجران د وفد پادری ښه پوهیدهٔ چه نبی علیه السلام رښتونے رسول دے او د هغوی په مقابله کښې مباهله کولو سره به دوی تباه شی ځکه هغوی مباهلے ته اماده نهٔ شول او نبی علیه السلام سره یے صلح اوکړه. دا آیت د مباهلے په نوم سره مشهور دے چه د دے شانِ نزول او صحیح مفهوم پورته بیان شویدے. شیعه حضرات اول خو قرآن صحیح نهٔ منی بلکه دیکښې شل قسمه غلطئ او نقصانات راُوباسی او که چرے منی نو خواه مخواه د قرآن ایتونو نه په ډیر مشکل سره د امامانو د امامت او د حضرت علیؓ د خلافت بلا فصل ثابتولو کوشش کوی نو د مباهلے د آیت نه هم شیعه حضراتو د حضرت علیؓ په خلافت بلا فصل استدلال کړیدے هغوی وائی چه کله دا آیت نازل شو هغه وخت نبی علیه السلام حضرت علی، حضرت فاطمه او حسنین ځان سره کړل نو دینه معلومه شوه چه د اَنْفُسَنَا نه حضرت علیؓ او اَبْنَآءَنَا نه حضرات حسنینؓ او د نِسَآءَنَا نه حضرت فاطمهؓ مراد دی. نو معلومه شوه چه حضرت علیؓ نفسِ رسول دے او د نفسِ رسول په موجودګئ کښې بل څوک د خلافت مستحق نهٔ شی کیدے

جواب :- دا د شیعه ګانو د طرفه سراسر یو مغالطه ده او په دې ایت سره د دوی استدلال د ابتداء نه تر انتها پورې باطل دے. اول خو ځکه چې د دوی استدلال د دې ایت نه نه دے بلکه دا د یو روایت نه دے ځکه چې د ایت مطلب بغیر د دوی د روایت نه نه راوځي. بلکه ایت کښې دې طرف ته اشاره هم موجود نه ده. دویم دا دے چې نه په ایت کښې صرف حضرت علیؓ مراد اخستل دا د مفسرینو د تصریح نه خلاف دی بلکه د انفسنا نه په خپله د نبي علیه السلام ذات یا د هغوی سره حضرت علیؓ او نور ټول مسلمانان مراد دي لکه چې مفسر طبری فرمائي لا نسلم ان المراد بانفسنا الامیر بل المراد نفسه الشریفة صلی الله علیه وسلم (بحر ج ۲ ص ۴۸۰) او په معالم کښې دي عني نفسه وعليا رضي الله عنه والعرب تسمي ابن عم الرجل نفسه كما قال الله تعالى ولا تلمزوا انفسكم يريد اخوانكم وقيل هو على العموم لجماعة اهل الدين اصل خبره دا ده چې دا حضرات چونکه ځان له کور کښې اوسیدل دے وجې نه په مباهله کښې د دوی د شریکولو د پاره نبي علیه السلام دوی خپل کور نه راوبلل. لیکن د مباهلې نه ځکه چې د نجران عیسایانو مباهله کړې نو نبي علیه السلام به ازواج مطهراتو یقیناً ځان سره راوستلے او نورو مسلمانانو ته به یې د خپل اهل وعیال سره د مباهلې د پاره د راوتلو حکم ورکړے. علامه ابوحیان اندلسي فرمائي ولو عزم نصارى نجران على المباهلة وجاء والها لامر النبي صلى الله عليه وسلم المسلمين ان يخرجوا باهاليهم لمباهلة (بحر ج ۲ ص ۴۸۱) او حضرت امام باقر رضي الله عنه فرمائي چې د مباهلې د پاره نبي علیه السلام خو خلفاء ثلاثه هم سره د خپل بال بچو نه بوتلي وو ځکه چې امام ابن عساکر بیان کړي دي عن جعفر بن محمد عن ابیه في هذه الآية تعالوا ندع ابناءنا الآية قال فجاء بابي بكر وولده وبعمر وولده وبعثمان وولده وبعلي وولده (در منثور ج ۲ ص ۴۰) دریم دا دے چې په دې ایت سره د شیعه حضراتو استدلال بالکل غلط دے. ددې نه د حضرت علیؓ خلافت بلا فصل ثابتیږي او نه دا ثابتیږي چې په مباهله کښې د حضرت علیؓ، فاطمهؓ، حسنؓ او حسینؓ نه سوا بل هیڅوک شریک نه وو بلکه معلومه شوه چې ابوبکر، عمر، عثمان رضي الله عنهم هم په مباهله کښې د شریکیدو د پاره سره د خپل بال بچو راوبلل شو او که چیرې مباهله کیدې نو نورو مسلمانانو ته به سره د خپل اهل وعیال نه په مباهله کښې د شریکیدو حکم ورکړے شوے.

۸۲ھ هذا اشاره د عیسی علیه السلام په باره کښې د مذکوره تفصیلاتو طرفته ده ای المذکور في شان عيسى عليه السلام قاله ابن عباس (روح ج ۳ ص ۱۹۰) یعني د عیسی علیه السلام په باره کښې ټول مذکوره تفصیلات صحیح او درست دي او د نصارو د الوهیت او ابنیت مسیح دعوی بالکل باطله ده. ان هذا هو الحق لا ما يدعيه النصارى من كون المسيح عليه السلام الها وابن الله سبحانه وتعالى عما يقوله الظالمون علوا كبيرا (روح ج ۳ ص ۱۹۰) ۸۳ھ دا د ټول مخکنې بحث نتیجه او ماحصل دے چې کوم واضحه دلائلو نه ثابته شوه چې د عیسی علیه السلام بغیر د پلار نه پیدا کیدل محض د الله په کامل قدرت سره وو. ددے نه د هغوی اله کیدل نه ثابتیږي. دا شان د هغه نه چې کوم خلاف عادت کارونه ظاهر شول هغه دده معجزات وو او دا الله په حکم سره وو

هغه په لاس ظاهر شول په هغه کښې د هغه اختیار او تصرف نه شته دخل نه و ولیدل
داخو ده چې هغه د الله بنده او رسول وو معبود او اله نه وو د دښت وبخښنه د الله نه
بنده لګیا او د ابتلاء لائق نشته او د قدرت او حکمت په اعتبار سره هغه په ټولو
کښې مه او د هغه سره څوک شریک نشته .
ششه د دومره واضحه تصریحاتو نه روستو هم چې څوک حق قبول نه کړي او د توحید
نه انکار وکړي او شرکیه عقائد خواره کړي د شر او فساد پیدا کولو کښې مصروف وي نو
الله دلته مفسدان بنه پېژني د هغوی هېڅ کار د هغه نه پټ نه دے هغوی ته به د
هغوی د عملونو پوره پوره سزا ورکړي .

قُلْ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ تَعَالَوْا اِلٰى كَلِمَةٍ سَوَآءٍۢ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ
ته ووايه اے اهل کتابو راشئ د يوې خبرې طرف ته چې برابره ده زمونږ او ستاسو په
اَلَّا نَعْبُدَ اِلَّا اللّٰهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهٖ شَيْـًٔا وَّلَا يَتَّخِذَ
مینځ کښې چې بندګي به نه کوو مونږ لیکن د الله او شریک به نه جوړوو هغه سره هیڅ څوک او نه به
بَعْضُنَا بَعْضًا اَرْبَابًا مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ فَاِنْ تَوَلَّوْا
جوړوي هیڅوک ځانله رب بیا د الله نه ششه بیا که چېرے هغوی قبول نه کړه نو
فَقُوْلُوا اشْهَدُوْا بِاَنَّا مُسْلِمُوْنَ ۝٦٤ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ لِمَ
ووایئ چې ګواه اوسئ چې مونږ د حکم تابع یو ششه اے اهل کتابو ولے جګړه کوئ
تُحَآجُّوْنَ فِيْٓ اِبْرٰهِيْمَ وَمَآ اُنْزِلَتِ التَّوْرٰىةُ وَالْاِنْجِيْلُ
د ابراهیم په باره کښې حال دا دے چې نه ده نازله شوې تورات او انجیل خو نازل
اِلَّا مِنْۢ بَعْدِهٖ ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ۝٦٥ هٰٓاَنْتُمْ هٰٓؤُلَآءِ
شول د هغه نه پس ایا تاسو کښې عقل نشته ششه اورئ تاسو خلق په جګړه شوئ
حٰجَجْتُمْ فِيْمَا لَكُمْ بِهٖ عِلْمٌ فَلِمَ تُحَآجُّوْنَ فِيْمَا لَيْسَ
په کومه خبره کښې چې تاسو ته ششه خبر وو او س ولے جګړه کوئ په کومه خبره کښې چې
لَكُمْ بِهٖ عِلْمٌ ؕ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ وَاَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ۝٦٦ مَا
تاسو ته خبر نشته ششه او الله پوهیږي او تاسو نه پوهیږئ ششه نه وو

مَا كَانَ اِبْرٰهِيْمُ يَهُوْدِيًّا وَّلَا نَصْرَانِيًّا وَّلٰكِنْ كَانَ حَنِيْفًا
ابراهيم يهودي او نه نصراني ليكن وو حنيف يعني د ټولو دروغو دينونو څخه بېزاره

مُّسْلِمًا ۗ وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿٦٧﴾ اِنَّ اَوْلَى النَّاسِ
بېزاره او حکم منونکے او نه وو مشرک ۹۳ ۹۳ په تعلق کښې زیات مناسبت

بِاِبْرٰهِيْمَ لَلَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُ وَهٰذَا النَّبِيُّ وَالَّذِيْنَ
ابراهيم سره د هغو دي کوم چه د هغه ملګري وو او دے نبي او چا چه ایمان راوړو

اٰمَنُوْا ۗ وَاللّٰهُ وَلِيُّ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٦٨﴾ وَدَّتْ طَّآئِفَةٌ مِّنْ
په دے نبي باندے ۹۴ او الله والي دے د مسلمانانو ۹۵ ارزو ده د یخنے اهل کتابو څه

اَهْلِ الْكِتٰبِ لَوْ يُضِلُّوْنَكُمْ ۗ وَمَا يُضِلُّوْنَ اِلَّآ اَنْفُسَهُمْ
څنګه ګمراه کړي تاسو ۹۵ او نه ګمراه کوي مګر خپل ځانونه

وَمَا يَشْعُرُوْنَ ﴿٦٩﴾ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ لِمَ تَكْفُرُوْنَ بِاٰيٰتِ
او نه پوهیږي ۹۶ اے اهل کتابو ولے انکار کوئ د الله د کلام

اللّٰهِ وَاَنْتُمْ تَشْهَدُوْنَ ﴿٧٠﴾ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ لِمَ تَلْبِسُوْنَ
او تاسو قائل یئ ۹۸ ۹۷ اے اهل کتابو ولے یو ځائي کوئ

الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ وَتَكْتُمُوْنَ الْحَقَّ وَاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿٧١﴾
د ربښتیا سره دروغ او پټوئ ربښتیا خبره سره د پوهے نه ۹۹ ۹۹

نکات: په اخر کښې اهل کتابو ته توحید طرفته دعوت سره د زجر نه ۱۲ سے رومبئ شکوه سے دویمه شکوه۔

موضح قرآن ف یهود او نصارو یو جګړه داره چه هریو به وئیل چه ابراهیم زمونږ په دین باندے دے ۱۲ منه رحمه الله ف الله پاک او فرمائیل چه ابراهیم علیه السلام نه یهودي یا نصراني کیدے شو په دے معنٰی وایئ چه په تورات او انجیل باندے به عمل کولو نودا خو صریح بے عقلي ده۔ تورات او انجیل د هغه نه روستو نازل شوي دي او که دا مطلب وي چه هغه وخت هم د اهل هدایت نوم یهود یا نصارٰی وو نو هم غلطه ده بلکه ابراهیم علیه السلام خپل ځان ته حنیف وئیلے دے یا مسلم۔ د حنیف معنٰی ده چه څوک یو د حق لاره اونیسي

... یهود او نصارا ته هم شوي دي او د مسلمانانو هم حکم همدغه دی ځکه چې دا مطلب د
کتاب د یهودو او قومونو یا د نصارو د دین زیات مناسب دی ځکه چې د ابراهیم علیه
السلام او کړه چې زیات مناسبت د ابراهیم علیه السلام سره د هغه وخت د ابراهیم د دین سره
او مسلمانانو کښې وه شي نبي امت د شته نو دا امت په ټوم کښې هغه او په لاره کښې هغه د
ابراهیم علیه السلام سره زیات مناسبت لري. بیا بیه او فرمائیل چې د نجیبلا شته حق کېږو یا ن شه د
قرآن سره د دین هغه وخت او نیستي چې په خپل ځان باندې دوی ته د دي دا بلل نو دا
مسلمانانو چې دوی د هغه په حکم باندې روان دي ۱۲ منه
بیا هم د هغه خلاف وایي ۱۲ ف د تورات یعنې شکمونه سبب موقوف کړي او د ...
او د انجیل اېښو د منعې بدلې کړې دي او یعني سې یې کړي او د هغه د نبي علیه السلام متعلق بیان ۱۲ منه رحمه الله تعالی

فتح الرحمن

ف۱ یعني څوک به وئیل یهودي وو او څوک به وئیل نصراني وو. ف۲ یعني د تورات په منصوصي مسائلو کښې خو تاسو اختلاف او کړو نو په غیر منصوصي کښې تاسو ته څه پته ده ۱۲ ف۳ مترجم وائي چې حنیف هغه ته وائي چې قبله ته مخ کوي، ختنه (سنت) کوي او د جنابت نه غسل کوي. حاصل دا چې نوم به د هغه پیا دي چې په شریعت ابراهیمي باندې ایمان لري.

تفسیر

ف۱ د توحید متعلق د نصارو د ټولو شبهاتو د ازالې نه روستو یې ټول اهل کتاب ته د توحید عام دعوت ورکړي دے. سواء مصدر په معنی د اسم فاعل دے او د کلمه نه په طور د مجاز مرسل کلام مراد دے یعنی اهل کتابو ته دیو داسې خبرې دعوت ورکړه چې ستا او د هغوی په مینځ کښې متفق علیه ده او په کوم کښې چې د تورات، انجیل او قرآن په مینځ کښې هیڅ اختلاف نشته. ای لا یختلف فیها التوراة والانجیل والقرآن (روح ص۲۹۸ ج۳) اَلَّا نَعْبُدَ د ټولو معطوفاتو سره د کلمه تفسیر دے او د هغه نه بدل دے. د تفسرها بقوله تعالى الا نعبد الا الله فموضع ان خفض على البدل من كلمة (قرطبی ص۲۹ ج۴) یعنی هغه خبره د کوم طرف ته چې اهل کتابو ته دعوت ورکولے شي هغه دا ده چې مونږ ټول به صرف د یو الله عبادت کوو او څوک به هم هغه سره شریک نه جوړوو او نه به په خپل مینځ کښې یو بل رب امالک او مختار ګنړو. او نه به د خپلو عالمانو او درویشانو د ځان نه جوړ کړي تحلیلات او تحریمات منو ای لا نطیع احبارنا فیما احدثوا من التحریم والتحلیل (مدارک) نصارو کښې دا درې واړه خبرې موجود وے په دے وجه یې د دے درې واړو ذکر اوکړو هغوی خالص د الله عبادت نه کولو بلکه د الله نه سوا به یې د مسیح عبادت هم کولو او د الله سره به یې شرک کولو. فیعبدون غیرالله وهو المسیح ویشرکون به غیره (کبیر ص۸۲ ج۲) دا شان هغوی خپل ملایان او پیران د حلال او حرام مختار ګنړل او په نذرونیاز او سجدو سره به یې د هغوی عبادت هم کولو. انهم اتخذوا احبارهم ورهبانهم اربابا من دون الله فیدل علیه وجوه احدها انهم کانوا یطیعونهم في التحلیل والتحریم والثانی انهم کانوا یسجدون لاحبارهم الخ (کبیر ص۸۵ ج۲) بالکل هم دا شان نن صبا هم ډېر شمېر خلق د خپلو ملایانو

او پیرانو په هره خبره پاندے نکه د دوی ایمان راوړی اګرچه هغه د کتاب او سنت صریح خلاف وی. شه لیکن کله چه یهود او نصارای د توحید دا دعوت قبول نه کړی نو بیا تاسو هغوی ته اووایئ چه بنه ده نو تاسو د دے خبرے ګواه اوسئ چه مونږ خو مسلمانان یو او د الله خالص توحید پوره په پوره ظاهرًا او باطنًا منو نکی یو.

پنځه شکوے

ف۹۱ اول سره عقلی او نقلی دلائل سره د توحید اثبات اوکړو او ورسره سره د عیسایانو د توحید متعلق شبهات لرے کړل او د الله اهل کتابو یهود او نصارو باندے پنځه شکوے بیان کړیږی. اوله شکوه: یهود او نصاراؤ به په خپلو کښ جګړه کوله او هر یو ډلے به دعوی کوله چه ابراهیم علیه السلام د دوی په دین باندے وو یهود او نصاراؤ به دا پروپیګنډه کوله چه زمونږ دین رښتونے دے او ابراهیم علیه السلام زمونږ په دین باندے وو. دینه د دوی مقصد دا وو چه خلق د دین اسلام نه نفرت کونکی شی چه کله د توحید مسئله په دلائلو سره واضحه شوه او اهل کتابو ته د دے نه منلو باندے د مباهلے چیلنج ورکړے شو نو اوس هغوی د اسلام خلاف دا پروپیګنډه شروع کړه چه د دوی دین ابراهیمی نه دے الله پاک مسلمانان خبر کړل چه دوی د هغوی د غلطے پروپیګنډے نه هوښیار اوسی الله پاک د دے دواړو د دعوے تردید کړیدے او اهل کتابو ته یے اوفرمائیل چه تاسو خپل کوم کتابونه د مزعومه یهودیت او نصرانیت بنیاد ګرځوئ هغه خو د ابراهیم علیه السلام نه په سلګونو کلونه روستو نازل کړے شوی په دے وجه ډیره د بے عقلئ خبره ده چه ابراهیم علیه السلام یهودی یا نصرانی وو.

ف۹۲ دلته یے د اهل کتابو زیات حماقت بیان کړیدے چه اول خو تاسو د موسیٰ علیه السلام او عیسیٰ علیه السلام په باره کښ جګړه کوله. لیکن خیر د هغوی په باره کښ خو تاسو ته لږ شان تیکرے علم وو لیکن اوس دا کوم حماقت دے چه تاسو د ابراهیم علیه السلام د دین په باره کښ جګړه شروع کړه حالانکه د هغوی په باره کښ تاسو ته هیڅ علم نشته ﴿وَاللّٰهُ يَعْلَمُ وَاَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ﴾. د ابراهیم علیه السلام د دین په باره کښ تاسو بالکل ناخبره یئ او الله ته بنه معلومه ده په دے وجه اوس په دے باره کښ د الله فیصله واورئ.

ف۹۳ الله پاک خپله فیصله واوروله چه ابراهیم نه یهودی وو نه نصرانی بلکه هغه خو حنیف مسلم وو او مشرک هم نه وو دلته د هغه یهودیت او نصرانیت نفی ده د کوم چه یهود او نصاراؤ دعوی کوله ځکه چه دے خلقو تورات او انجیل محرف او د موسیٰ او عیسیٰ علیهما السلام دین مسخ کړے وو د هغے اصلی شکل یے بالکل وران کړے وو. او شرک او بدعت یے د دین حصه ګرځولے وه لیکن اصلی دین موسیٰ او عیسیٰ علیهما السلام پیش کړے وو هغه ټول په دین اسلام او توحید باندے مبنی وو لیکن د موجوده یهود او نصاراؤ د اصلی دین سره سخته دشمنی وه نکه تن صبا چه غلط کار ملایانو او پیرانو اصل دین وران کړو او په دیګښ یے نوے نوے دعَان نه جوړے شوے خبرے داخل کړیدی. د یهودیت او نصرانیت نفی یے اوکړه د ابراهیم علیه السلام دره صفتونه یے بیان کړیدی. او د ریواړه نه د یهود او نصاراؤ د دعوے

تردید او تکذیب کیږی. اول دا چه هغه حنیف وو یعنی د باطل دینونو او د فاسدو عقیدو نه بیزاره
او لرے وو. دویم دا چه هغه مسلم وو یعنی د خدائی د توحید معتقد او د خدائی د احکامو
فرمانبردار وو. دریم دا چه هغه مشرک نه وو. حنیفا ای مائلا عن العقائد الزائغة مسلما ای
منقادا لطاعة الحق او موحدا لان الاسلام یرد بمعنی التوحید ایضا (روح ص۱۹۵ ج۳) او د مشرکینو نه مراد
یهود او نصاری دی ځکه چه هغوی حضرت عزیر او عیسی علیه السلام د خدائی نائبان گنړل. او
هغوی به یے را بلل. کانه اراد بالمشرکین الیهود والنصاری لاشراکهم به عزیرا والمسیح (مدارک ص۱۳۲ ج۱)
وقیل اراد بهم الیهود والنصاری لقول الیهود عزیر ابن الله وقول النصاری المسیح ابن الله تعالی
الله عن ذالک علوا کبیرا (روح ص۱۹۵ ج۳) ځینو وئیلی دی چه د مشرکینو نه د عربو مشرکین مراد دی ځکه
چه هغوی هم د دے خبرے مدعیان وو چه هغوی په دین ابراهیمی دی نو الله پاک د هغوی
د دعوے تردید هم اوکړو. چه تاسو مشرکان یئ ابراهیم مشرک نه وو د دے وجے نه تاسو
ځنځ د هغه په دین باندے کیدے شئ ای عبدة الاصنام کالعرب الذین کانوا یدعون انهم
علی دینه (روح ص۱۹۵ ج۳).

۹۴ د دوی د دعوو د تکذیب نه روستو یے اوفرمائیل چه د ابراهیمی کیدو او ابراهیم علیه السلام
ته د زیات نژدے کیدو صرف هغه خلق حق لری کوم چه د هغه د دین صحیح تابعدار
وو. د غه دا پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم او په ده باندے ایمان راوړونکی ابراهیم ته زیات
نژدے دی ځکه چه دا ټول د هغه د دین تابع دی. وَاللّٰهُ وَلِیُّ الْمُؤْمِنِیْنَ. الله پاک د
ایمان والو مددگار او ناصر دے د باطل والو د شر او فساد نه به په دنیا کښ هغوی محفوظ
ساتی په دے شرط چه هغوی د ایمان تقاضے پوره کړی ځکه چه د الله ولایت او مدد او
نصرت د ایمان صفت سره متعلق دے. ۹۵ لو مصدریه دے او دا د وَدَّتْ مفعول
دے. یهود او نصاری په گمراهئ کښ دومره وراندے تلی وو چه هغوی نه خو خلق خو د
مسلمانانو هم د اسلام نه گرځولو کوشش کړلو او غوښتل یے چه مسلمانان د اسلام نه واړوی
او خپل دین ته یے راولی په دے وجه هغوی دا غلط پروپیگنډه کوله چه ابراهیم علیه السلام
زمونږ په دین باندے وو. ۹۶ لیکن هغوی د مسلمانانو د اسلام نه اړولو کښ نه شی کامیابیدے
په دے وجه هم خپله عملنامه تورَوی او خپل انجام خرابوی. او د دوی د ناپوهتیا دا حالت دے
چه دوی ته د دے شعور قدرے هم نشته۔

۹۷ دویم شکوه :- امام رازی فرمائی چه اول یے د هغه طائفے ذکر اوکړو چه جاهل
او کم عقل وو او س د لته یے د اهل کتابو هغه عالمان مخاطب کړل چا چه د الله هغه آیتونه
پیژندل کوم چه په تورات کښ موجود وو او د خاتم النبیین په صداقت باندے یے دلالت
کولو. علامه آلوسی فرمائی چه د آیتونو نه د تورات او انجیل هغه آیتونه مراد دی په کوم کښ
چه بیان کړے شوے دے چه د الله په نزد غوره دین صرف اسلام او توحید دے. لم تکفرون بما
فی کتبکم من ان الدین عند الله الاسلام وانتم تشاهدون ذالک (روح ص۱۹۹ ج۳) یعنی چه کله تاسو په
خپلو کتابونو کښ لیکلے شوی گورئ چه توحید حق او محمد صلی الله علیه وسلم پیغمبر دے نو بیا سره د پوهے

وے د الله د ایتونو نه انکار کوی. ۷۱ د لَبس معنیٰ پټول او غلط کول دی او مطلب دا دے
چه د خپل باطلو تاویلونو او تحریفونو په ذریعه حق خبره (توحید) وے پټوئ دا شان د
نبی علیه السلام د نبوت ذِکر چه ستاسو په کتابونو کښې موجود دے په هغے باندے وے پرده
اچوئ حالانکه تاسو ته معلومه ده چه هغه حق دے او محمد صلی الله علیه وسلم ریښتونے پیغمبر دے.

وَقَالَتْ طَّآئِفَةٌ مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ اٰمِنُوْا بِالَّذِیْٓ اُنْزِلَ

او اووئیل ځنو اهلِ کتابو او منئ کوم څه چه نازل شو

عَلَى الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَجْهَ النَّهَارِ وَاكْفُرُوْٓا اٰخِرَهٗ لَعَلَّهُمْ

په مسلمانانو باندے د ورځے په اول کښې او منکر شئ په اخر د ورځے کښې کیدے شی

یَرْجِعُوْنَ ﴿۷۲﴾ وَلَا تُؤْمِنُوْٓا اِلَّا لِمَنْ تَبِعَ دِیْنَكُمْ قُلْ

چه هغوی اوګرځی ۷۲ او مه منئ لیکن د هغه چا خولے چه چلیږی ستاسو په دین، او وایه

اِنَّ الْهُدٰى هُدَى اللّٰهِ اَنْ یُّؤْتٰٓى اَحَدٌ مِّثْلَ مَآ اُوْتِیْتُمْ

چه بیشکه هدایت هغه دے کوم چه الله هدایت اوکړی او دا ټول هر څه دے دپاره دی چه بیا چا

اَوْ یُحَآجُّوْكُمْ عِنْدَ رَبِّكُمْ قُلْ اِنَّ الْفَضْلَ بِیَدِ اللّٰهِ یُؤْتِیْهِ

ته هم وے ملاؤ شو څنګه چه تاسو ته ملاؤ شوی دی یا هغه غالب وے راشی په تاسو د رب په مخکښې منلو ته او وایه لوئی د

مَنْ یَّشَآءُ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِیْمٌ ﴿۷۳﴾ یَّخْتَصُّ بِرَحْمَتِهٖ مَنْ

الله په لاس کښې ده ورکوی یے چا ته چه اوغواړی او الله ډیر فراخئ والا دے خبردار الله خالص کوی خپلے مهربانئ

یَّشَآءُ وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِیْمِ ﴿۷۴﴾ وَمِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ

سره په چا چه اوغواړی، او د الله فضل لوئ دے ډیر او ځنے د اهلِ کتابو نه هغه

مَنْ اِنْ تَاْمَنْهُ بِقِنْطَارٍ یُّؤَدِّهٖٓ اِلَیْكَ وَمِنْهُمْ مَّنْ اِنْ

دی که چرے ته هغه سره امانت کیدے ډیر مال نو ادا به کړی تا ته او ځنے دوی کښې هغه دی

تَاْمَنْهُ بِدِیْنَارٍ لَّا یُؤَدِّهٖٓ اِلَیْكَ اِلَّا مَا دُمْتَ عَلَیْهِ

چه که چرے ته هغه سره امانت کیدے یوه اشرفئ نو ادا به نکړی تا ته لیکن تر څو چه ته همیشه په هغه

قَآئِمًا ۚ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَالُوْا لَيْسَ عَلَيْنَا فِى الْاُمِّيّٖنَ
سَبِيْلٌ ۚ وَيَقُوْلُوْنَ عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ (۷۵)
بَلٰى مَنْ اَوْفٰى بِعَهْدِهٖ وَاتَّقٰى فَاِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِيْنَ (۷۶)

ولاړ ... دا ځکه چه هغوی وئیلی دی چه نشته په مونږ باندې په دا امي خلقو ... کښې هیڅ ګناه هډ کښله او دروغ وائي په الله باندې او هغوی په پوهیږي کښله ... ولې نه ده څوک چه پوره کړي اقرار او هغه پرهیزګار وي نو الله محبت ساتي پرهیزګارانو سره ...

نکات:- ... دریمه شکوه ۱۲ ... دیهودو د قول جواب ۱۲ ... دیهودو د دوېمه مغفوسه ... غلو رمه شکوه ۱۲ ... یعني کوم څه چه هغوی خیال کړي هغه صحیح نه دي بلکه مسلمانان دا ... ۱۲

موضح قرآن

ف یعني یهودیانو په خپلو کښې مشوره اوکړه چه تاسو صبا ني وخت کښې لاړ شئ مسلمانان شئ او بیګاه وخت واپس کافران شئ نو کیدې شي مسلمانان هم واپس کافران شي چه دا خلق انصاف والا دي چه خپل دین یې پریښود او زمونږ دین نه راغلل بیا یې څه داسې غلطي اولیدله چه واپس شو او په خپلو کښې یې اووئیل چه دخپل دین والا دخبرو نه علاوه په نورو هرګز یقین مه کوئ. دې دپاره چه د چا په زړه کښې ربښتونے اسلام را نه شي نو الله پاک دهغوی فریب ښکاره کړو او وې وئیل چه نه او وایه چه هدایت هغه دے کوم چه الله ورکړو. ستاسو فریب سره به څوک نه ګمراه کیږي لیکن تاسو دا حسد کوئ چه اول بزرګي او نبوت په بني اسرائیلو کښې وو اوس په بل فریق کښې ولې شوه یا د دین په مدد کولو کښې زمونږ مقابل بل څوک ولې شول. دا د الله فضل دے چا ته چه اوغواړي نو ورلې کړي د چا حق نه دے ۱۲ منه رحمه الله ف۲ دا الله مسلمانانو ته اوکړوي چه دچانیت دا دے چه د پردي حق خوړلو دپاره یې دا مسئله جوړه کړې ده چه زمونږ دپاره د غیر دین والو په امانت کښې خیانت روا دے. دهغوی خبره د دین په مقدمه کښې څه سند اونکړي زمونږ په نزد هم د کافر حربي مال په زور سره اخستل روا دے لیکن په امانت کښې خیانت روا نه دے ۱۲ منه:

فتح الرحمن

ف یعني زمونږ مؤاخذه به دعربو په مال نه شي کیدے چه زمونږ هم مذهب نه دي ۱۲

تفسیر- ۹۹ه دریمه شکوه :- د اهل کتابو د طائفې نه مراد یهودیان دي او الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا نه نبي علیه السلام او صحابه کرام مراد دي. د وجه النهار نه د ورځې اولنۍ حصه او د اخر النهار نه د ورځې اخرینۍ حصه یعني بیګاه مراد دے یهودیانو د اسلام زیاتیدونکے شان او شوکت لیدلو سره د حسد د وجې نه سوزیدلي وو او همیشه به د اسلام خلاف شر او فساد کښې مصروف وو نو هغوی د مسلمانانو د اسلام نه د بد ګمانه (بدګمانه) کولو دپاره

د اسلام د وقار کمولو دپاره اجتماعي سازش تيار کړو او هغه سازش تيار ونکي د
يهوديانو لوئي لوئي عالمان وو نو هغوى فيصله اوکړه چه د صبا په وخت به ظاهري طور
باندے محض زباني اسلام قبول کړو. او ماښام د اسلام نه د بيزارئ اعلان اوکړو او
دے سره دا هم واضحه کړو چه د اسلام قبلولو نه روستو مونږ خپل کتابونه اوکتل او
قابلو علماؤ نه مو تپوس اوکړو نو معلومه شوه چه دا دين (عياذاً بالله) رښتونے نه
دے وجه مونږ پريښودو بيا مونږ خپل مخکنے دين قبول کړو. د اشان هغوى به ويل
چه تولو ورځ مو دے پيغمبر سره تيره کړه د پيغمبرانو او وليانو دے او نه يې سوا مونږ ورو
نه نور هيڅ نه دي اوريدلي صفات چه ولي او نبي کارساز نه دے او نه حاجت روا
دے نه ددوى مقصد دا وو چه مونږ کله اسلام پريږدو د دے متعلق پوره ذکر شوے
رائے ورکړو نو د مسلمانانو په زړونو کښ به هم دا خيال پيدا شي چه کله د مخکينو کتابونو
دومره لوئ عالمان د اسلام نه واپس شول نو دينه معلوميږي چه واقعي دا دين رښتيني
نه دے. د اشان به په مسلمانانو کښ هم بيزاري او بد دلي پيدا شي او د اسلام ترقي به بنده
شي ليکن الله پاک چه د غيب او شهادت پيژندونکے دے هغه مسلمانانو ته ديهوديانو دا
منصوبه ښکاره کړه او هغه ناکامه اوګرځوله. ومعنى الآية ان اليهود قال بعضهم لبعض
اظهروا الايمان بمحمد اول النهار ثم اكفروا به آخره فانكم اذا فعلتم ذالك ظهر لمن يتبعه ارتياب
فى دينه فيرجعون عن دينه الى دينكم ويقولون ان اهل الكتب اعلم به منا (قرطبى ص۱۱۱ ج۴) قال
الحسن والسدى تواطأ اثنا عشر رجلا من احبار يهود خيبر وقرى عرنية وقال بعضهم لبعض ادخلوا
فى دين محمد اول النهار باللسان دون الاعتقاد واكفروا آخر النهار وقولوا انا نظرنا فى كتبنا و
شاورنا علماءنا فوجدنا محمدا ليس بذالك وظهر لنا كذبه وبطلان دينه فاذا فعلتم ذالك شك
اصحابه فى دينهم فقالوا انهم اهل الكتاب وهم اعلم به فيرجعون عن دينهم الى دينكم (روح
ص۳ ج۳) ښتله دا هم دے منصوبه سازو د يهودو د احبارو قول دے ليکن قُلْ اِنَّ الْهُدٰى
هُدَى اللّٰهِ جمله معترضه ده چه د يهودو د قول جواب دے او اَنْ يُّؤْتٰى جمله
استفهاميه ده او همزه د استفهام محذوف ده په اصل کښ ءَاَنْ يُّؤْتٰى وو لکه چه د ابن
کثير په قرات کښ دي. ليکن دا استفهام انکاري دے او يُحَآجُّوْكُمْ په يُّؤْتٰى باندے
عطف دے. مطلب دا چه يهوديانو په خپلو کښ فيصله اوکړه چه په ظاهري طور باندے
د اسلام اظهار د مسلمانانو مخکښ خو اوکړئ ليکن چه د صدق دل نه يې او نه منئ او
نه د خپل دين د متبعينو نه علاوه د چا د اخبره منل چه ستاسو د دين پشان دين د
بل چا شته دے يا ستاسو د کتاب پشان د بل کوم دين والو سره هم پورته نوے کتاب
شته دے. يا دا چه د بل کوم دين والا به د خدائ په مخکښ د قيامت په ورځ دليل او حجت
سره غالب راشي. قال الشيخ رحمه الله تعالى والاولى ان يقال ان قوله لا تؤمنوا مقولة اهل الكتب
وقوله تعالى قل ان الهدى جملة واقعة بين كلامهم وان يؤتى بحذف همزة الانكار مقولة اليهود.
ښتله دا ديهوديانو د قول ترديد دے. يهوديانو چه کوم دا فرض کړے وه چه رسالت او نبوت

بنی اسرائیلو سره خاص دے. په دے وجه ددوی نه سوا په بل کوم قوم کښې نه یو نبی پیدا کیدے شی او نه د الله یو کتاب نازلیدے شی. اصل کښې د یهودیانو مُلایانو او گدی نشینانو د نبی علیه السلام د تکذیب دا یوه بهانه جوړه کړے وه ددوی ضد د توحید مسئلے سره وو. نو ددوی د دے خیال ابطال اوکړو چه د فضل او رحمت خزانے چه په هغے کښې رسالت او نبوت هم شامل دے ټولے د الله په قبضه کښې دی هغه بے انتهاء دے هغه چه څوک د خپلے ورکړے مقدار ټاکی هغه ته یے ورکوی.

۱۲۲ شلورمه شکوه :- یهودیانو کښې دوه قسمه خلق وو څینے دیانتدار او امین لکه عبدالله بن سلام او د هغه نور ملگری کوم چه مُسلمانان شوی وو او کوم خلق چه په یهودیت باندے قائم وو هغه ډیرزیات خیانت کار او بد دیانت وو دا آوڅے په متعلق یے ارشاد اوفرمایه چه هغه دومره زیات امانتدار دی چه که چرے د دولت ډیرے هم هغوی ته حواله کړے شی نو هغوی د یکښې د یوے پیسے خیانت هم نه کوی او ټول امانت به واپس کړی لیکن د دے په عکس د دویم ډلے بد دیانتی او د حُبّ مال دا حالت دے چه که چرے صرف یو دینار هم هغوی ته حواله کړے شی نو هغوی دا هم هضم کړی او د واپس کولو نوم هم نه اخلی لیکن که چرے تاسو د هغوی په سر همیشه ولاړ یئ او د بیا بیا واپس کولو اُمید کیدے شی د دوی په سر د ولاړ نه بار بار غوښتل مراد دی. نن صبا هم دا منصب او گدی نشین موجود دی چه که چرے هغوی ته څه طریقه سره د توحید پرستو مال په لاس راشی نو هغه به هضم کړی او د واپس کولو نوم به هم وانخلی.

۱۲۳ اُمّیین د اُمّی جمع ده او هغه اُم القری ته منسوب دے اُم القری د مکے نوم دے او د اُمّیین نه مراد دلته د عربو خلق دی. د دے بد دیانتی او خیانت او بد معاملے وجه به هغوی دا بیانوله چه د عربو خلقو کوم مال زمونږ لاس ته راشی د هغے په خوړلو کښې مونږ باندے هیڅ گناه نشته او نه څه ملامتیا بلکه مونږ ته د دے پوره پوره حق حاصل دے ای لیس علینا فیما اصبناه من اموال العرب عتاب وذم (روح ص ۲۰۳ ج ۳) او بیا د دے سره د یهودیانو دعوی هم وه چه دا حکم د دوی په کتاب تورات کښې موجود دے چه د دے مطلب دا شو چه الله پاک دوی ته د دے قسمه خلقو د مال خوړلو حکم ورکړیدے دا شان دے خلقو په الله باندے افتراء اوکړه چه الله پاک هغه د آیت په راتلونکے حصه کښې بیان کړیده.

۱۲۴ یعنی د هغوی دا دعوی چه دا حکم د الله کتاب په تورات کښې موجود دے ټول دروغ او الله باندے افتراء ده او بیا د دے ظالمانو ته دا هم معلومه ده چه دا خبره خو په تورات کښې نشته لیکن د دے باوجود سره د علم نه عمداً قصداً په خدای افتراء کوی الله تعالی خو په ناجائزه طریقه د چا مال خوړل حرام کړی وو ای وقد اختلقوا هذه المقالة وائتفکوها بهذه الضلالة فان الله حرم علیهم اکل الاموال الا بحقها وانما هم قوم بهت. (ابن کثیر ص ۳۷۵ ج ۱)

۱۲۵ بلی کلمه د ما قبل نفی د پاره ده یهودیانو ویلی وو چه د اُمّیین په مالونو کښې په مونږ

باندے هیڅ ذمه داری نشته نو ددے رد اوفرمایه چه ولے نه دا ذمه داری خو په هر کس باندے
لازمیږی چه کله څوک د چا سره وعده کوی نو د هغې پابندی په هغه باندے لازم ده لهذا
څوک چه د خپلے وعدے پابندی اوکړی او د خدائ نه اوویریږی نو داسے خلق الله خوښوی
خلاصه دا چه څنګه تاسو خیال کړیدے بلکه اصل حقیقت داسے دے.

إِنَّ الَّذِينَ يَشْتَرُونَ بِعَهْدِ اللَّهِ وَأَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا
کوم خلق چه اخلی د الله په وعده باندے او په خپلو قسمونو باندے لږ شان
قَلِيلًا أُولَٰئِكَ لَا خَلَاقَ لَهُمْ فِي الْآخِرَةِ وَلَا
قیمت دهغوی هیڅ حصه نشته په آخرت کښې او نه به
يُكَلِّمُهُمُ اللَّهُ وَلَا يَنْظُرُ إِلَيْهِمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَا
خبرے کوی هغوی سره الله او نه به اوګوری دهغوی طرفته د قیامت په ورځ او نه به
يُزَكِّيهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٧٧﴾ وَإِنَّ مِنْهُمْ لَفَرِيقًا
پاک کړی هغوی او هغوی دپاره عذاب دے دردناک او بیشکه په دوی کښې یوه ډله ده چه ژبه
يَلْوُونَ أَلْسِنَتَهُمْ بِالْكِتَابِ لِتَحْسَبُوهُ مِنَ الْكِتَابِ وَمَا
اړلو سره لولی کتاب چه تاسو ګمان اوکړئ چه هغه کتاب دے او هغه نشته په
هُوَ مِنَ الْكِتَابِ وَيَقُولُونَ هُوَ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ وَ
کتاب کښې داخله او وائی چه هغه د الله وینا ده او هغه نه ده
مَا هُوَ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ وَيَقُولُونَ عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ
د الله وینا څله او په الله دروغ وائی سره
وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿٧٨﴾ مَا كَانَ لِبَشَرٍ أَنْ يُؤْتِيَهُ اللَّهُ
د علم نه [illegible] د هیڅ یو انسان کار نه دے چه الله هغه ته ورکړی
الْكِتَابَ وَالْحُكْمَ وَالنُّبُوَّةَ ثُمَّ يَقُولَ لِلنَّاسِ كُونُوا
کتاب او حکمت او پیغمبری کړی بیا هغه اووائی خلقو ته چه تاسو شئ

عِبَادًا لِّيْ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلٰكِنْ كُوْنُوْا رَبّٰنِيّٖنَ بِمَا

شئ بندګان زما او الله نه بغیر دي لیکن داسې وائي چه تاسو الله والا شئ ځکه

كُنْتُمْ تُعَلِّمُوْنَ الْكِتٰبَ وَبِمَا كُنْتُمْ تَدْرُسُوْنَ ﴿۷۹﴾ وَلَا

چه تاسو ښودلو کتاب او ځکه چه تاسو په خپله هم لوستلو هغه ۱۳ اونه دا

يَاْمُرَكُمْ اَنْ تَتَّخِذُوا الْمَلٰٓئِكَةَ وَالنَّبِيّٖنَ اَرْبَابًا ؕ

وائي تاسو ته چه جوړ کړئ فرشتې او نبیان خدایان ۱۴

ع ۹ ۱۶ اَيَاْمُرُكُمْ بِالْكُفْرِ بَعْدَ اِذْ اَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ ﴿۸۰﴾

آیا تاسو ته به کفر ښائي روستو د هغې نه چه تاسو مسلمانان شوي یئ ۱۵

نکات: ۱۱ تخویف اُخروي ۱۲ ۱۲ د خانه جوړې کړې اعتقادي مسئلې د خپل طرفه لیج کوي ۱۳ دویم شبې جواب شبه دا ده چه عیسیٰ علیه السلام په خپله فرمایلي دي چه په ما جنتو نوکیني ما ته او از کوئ ۱۲ موضح قرآن: ۱۱ یهود یا نو کبې دا صفت وو چه الله ته اقرار اخستې وو او قسمونه یې ورکړي وو چه هر نبي به مدد کوي بیا هغوي د دُنیا غرض د پاره واپس شو او چه څوک په دروغو قسم اُوخوري د دُنیا ملا وېئ د پاره هغه هم د غه حال دې ۱۲ ۱۱ ۲ یعني اُن پرهوله دهوکه ورکوي خپل عبارت جوړ و لوستې د قرآن په شان لوستلو چه الله وائي فرمایلي دي ۱۳ یهود یانو به مسلمانانو ته وېئل چه ستاسو نبي مونږ ته وائي چه د الله بندګي او کړئ مونږ څو د ځکي نه د هغه بندګي کو ولیکن هغه غواړي چه ځما بندګي او کړئ نو الله اُوفرمایل چه څوک الله نبي جوړ کړي ا د هغه خلق دکفر نه اُو باسي او مسلمانيږي تنبیه را ولي بیا به شرک هغوي ته دا خبره اُو ښائي لیکن تاسو دا وائي چه تاسو کښې مخکښې کومه دینداري وه د کتاب لوستل او بل ته ښودل هغه پاتې نه شوه او س ځما په صحبت کښې هغه کمال حاصل کړئ ۱۲ منه

تفسیر ۱۱ تخویف اُخروي: د عهد الله نه مراد د ایمان او اطاعت عهد دے په عهد ماتولو باندې اُخروي وعید دے یعني کوم خلق چه د دُنیا د معمولي مفادو په خاطر د الله د عهد او اطاعت او په خپلو کښې د حلفي معاملا تو پرواه نه کوي. د الله سره کړې وعدې او د بنيادم سره فیصله شوې وعدې ماتوي په آخرت کښې د هغه خلقو هیڅ حصه نشته ځکه چه دې خلقو د وعدې پوره کولو او د قسم په حفاظت باندې د دُنیا حقیر مفادو ته ترجیح ورکړه او د ایفاء او محافظت په صورت کښې چه د آخرت کوم اجر او ثواب ددوي د پاره مقدر وُو د هغې نه محروم شول.

۱۲ د قیامت په ورځ به دا خلق د الله د خطاب شفقت او محبت او د هغه د نظرِ رحمت نه هم محروم وي او د هغه د عام عفوې نه به هم هیڅ حصه نه بیا مومي. د دې وجې نه به هغوي د ګناهونو د نجاست او خبیر نوالي نه پاک نه کړې شي او د جهنم د اُور دردناک

عذاب به بیا مومی۔

فئله پنځمه شکوه :- په دے خیانت کږی یهودیانو کښې یو جماعت یعنی د دوی د علماؤ جماعت داسے هم وو چه د الله په کتاب کښې به یے تحریف کولو او دځان نه جوړ کړی عبارتونه به یے د تورات سره ملاو کړل او داسے به یے لوستل چه اوریدونکی خیال اوکړی چه دا تول هم څه د الله د کتاب نه لُول. من اهل الکتاب الخائنین لجماعة یلوون السنتهم بالکتاب ای یحرفونه قاله مجاهد (روح ج ۳) حضرت شیخ رحمه الله اوفرمائیل چه د بنی اسرائیلو عالمانو دځان نه جوړے کړے اعتقادی مسئلے دخپل طرفنه د الله په کتاب کښې داخل کړے دے دپاره چه اوریدونکے دا مسئله د الله د کتاب نه اوګنړی بالکل هم دغه شان ن صبا شرک خوښوونکی مُلایان شرکیه عقائد وسره د قرآن ایتونه په داسے انداز کښې پیش کوی چه اوریدونکی دا خیال اوکړی چه دا ټول هرڅه یے په قرآن کښې لیکلی دی۔

فئله ۱۰۹ د یهودو او نصاراؤ عالمانو کله خودخپل ځان نه جوړ کړی عبارتونه د تورات او انجیل ایتونو سره داسے ګډ وډ کولو سره لوستل چه اوریدونکی خیال اوکړی چه دا ټول د الله د کتاب ایتونه دی دکوم ذکر یے چه مخکښې اوکړو او کله به یے دخپل ځان نه دجوړ کړو عبارتونو او خود ساخته شرکیه عقائدو و متعلق صفاویل چه دا د الله د طرفنه نازل شوی دی دهغے بیان یے دلته اوکړو. ویقولون مع ما ذکر من اللی والتحریف علی طریقة التصریح لا بالتوریة والتعریض (ابوالسعود ج ۲، روح ج ۳) څنګه چه نن صبا مشرک خلق قُلْ لَّآ اَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَّلَا رَشَدًا کښې او به قُلْ لَّآ اَقُوْلُ لَكُمْ عِنْدِیْ خَزَآئِنُ اللّٰهِ وَلَآ اَعْلَمُ الْغَیْبَ کښې د بالذات قید لګوی او وائی چه دلته د ذاتی اختیار او ذاتی علمِ غیب نفی ده. مسئله دا تحریف او کذب او افتراء دڅه غلط فهمئ په وجه نه ده بلکه هغوی قصداً عمداً دا کاروائی کوی، حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمائی چه یهودو او نصاراؤ تورات او انجیل بدل کړے وو او په هغے کښې یے دخپل طرفنه ډیر څه شامل کړی وو چه په هغے دا ایت نازل شو. عن ابن عباس ان الآیة نزلت فی الیهود و النصاری جمیعا وذالک انهم حرفوا التوراة والانجیل والحقوا بکتاب الله مالیس منه (معالم وخازن ج ۱)

دیوے شُبهے جواب :- د نجران نصاراؤ د نبی علیه السلام په مخکښې دا دعوی اوکړه چه عیسی علیه السلام په خپله هغوی ته وئیلی دی چه هغه رب جوړ کړئ او د هغه عبادت اوکړئ او هغه ته اواز کوئ څنګه چه نن صبا پیرپرست د شیخ عبدالقادر جیلانی رح په باره کښې دا عقیده لری. نو الله پاک دا ایت نازل کړو او د عیسی او د باقی ټولو نبیانو علیهم السلام د طرفنه یے صفائی بیان کړه ان نصاری نجران کانوا یقولون ان عیسی امرهم ان یتخذوه ربا فقال الله تعالی ردا علیهم ما کان لبشر الخ (معالم وخازن ج ۱) یعنی چه کله الله پاک یو انسان ته کتاب او نبوت ورکړی او په هغه باندے د علم او فهم مهربانی اوکړی نو هغه نه دا هرګز نه شی کیدے چه الله پاک خو د هغه د توحید د دعوت دپاره اولیږی او هغه اوګی دخپل عبادت په دعوت ورکولو کښې دا یوه ناممکنه خبره ده څکه چه انبیاء علیهم السلام څه داسے صفتونو سره متصف دی چه هغوی د الوهیت او ربوبیت دعوی نه شی کولے ان الانبیاء علیهم الصلوة والسلام

موصوف بصفات لا یحسن مع تلک الصفات ادعاء الالهیة والربوبیة الخ (کبیر ج ۳) ﴿وَلٰكِنْ كُوْنُوْا رَبّٰنِيّٖنَ﴾ داخو نا ممکنه ده چه یو پیغمبر خلقو ته د خپلې بندګئ او عبادت طرفته دعوت ورکړی، بلکه پیغمبر به خلقو ته دا وائی چه تاسو ټول د الله والا جوړ شئ د الله دین اُومنئ او په هغې عمل اوکړئ ځکه چه عیسیٰ علیه السلام خپل اُمت ته هُم دا تعلیم ورکړے وُو۔

۱۱۳ دا د کُوْنُوْا سره متعلق دے با سببیه او ما مصدریه دے یعنی تاسو منوانز د الله کتاب لوستلو او ښودلو او په درس و تدریس کښې مشغول یئ په دے وجه تاسو له خو په هرحال کښې د باطل او شرکیه عقائدو نه ځو کیدل پکار دی۔ او صرف د یو خدائ عبادت کول پکار دی۔ ۱۱۴ یعنی ځکه چه د الله یو پیغمبر خلقو ته د خپل عبادت او رابطې دعوت نه شي ورکولے د غه شان هغه د الله نه سوا د نورو پیغمبرانو او فرښتو د را بللو او عبادت تعلیم او تبلیغ هُم نه شي کولے۔ ۱۱۵ استفهام د تعجب او انکار د پاره دے یعنی هرګز نه شي کیدے چه کله تاسو توحید اقرار کړیدے نو یو پیغمبر د تاسو ته د کُفر او شرک حُکم درکړي۔ دے نه معلومه شوه چه د خُدائ نه سوا بل څوک (خواه پیغمبر وی یا فرښته) په خدائی صفاتو کښې شریک منل د خُدائ نه سوا د بل چا عبادت کول او په حاجتونو کښې ورته آوازونه کول کُفر دے۔ د الله نیکو بندګانو طرفته د شرکیه عقائدو نسبت په باره کښې حضرت شیخ رحمة الله علیه یوه جامع قاعده بیان کړه چه لاندے درج ده۔ دا خو نا ممکنه ده چه قرآن مجید یا د الله په بل کوم کتاب کښې د الله یو نیک بنده طرف ته یو شرکی عبارت منسوب وی ځکه چه د الله پاک ټول کتابونه د توحید مسئلے بیانولو د پاره نازل شویدی او په ټولو کښې د توحید د مسئلے خلاف هیڅ څیز نشته۔ لیکن که چرے یو عبارت متشابهاتو نه وی نو د هغې حُکم ورا ندے تیر شویدے چه د هغې مطلب د محکماتو په رڼا کښې بیان کړے شي که چرے دا شان هُم د هغې مطلب په پوهه کښې را نه شي نو د هغې علم د الله پاک ته حواله کړے شي او که چرے دا سے شرکیه عبارت قرآن یا د آسمانی کتاب نه علاوه بل کوم کتاب کښې منسوب کړے شي نو د دے دوه صورتونه دي۔ اول دا چه د کوم نیک بنده طرفته هغه عبارت منسوب کړے شویدے په حقیقت کښې هغه نیک نه دے لهٰذا هغه عبارت مردود دے۔ دویم دا چه هغه بنده خو واقعي نیک او بزرګ دے په دے وجه یا خو به دا ویلے شي چه د دے شرکیه عبارت نسبت دے نیک بنده طرف ته صحیح نه دے شرک خوښوونکو خلقو په هغه افتراء کړیده لهٰذا هغه عبارت د رد قابل دے ځکه چه د سید عبدالقادر جیلانی رحمة الله علیه طرف ته یوه شرکیه قصیده منسوب کړے شویده چه قطعًا د حضرت شیخ نه ده او که چرے د دے عبارت نسبت هغه بزرګ طرفته ثابت کړے شي نو په هغه عبارت کښې به مناسب تاویل کولو سره د قرآن او سُنت مطابق د هغې مطلب بیانولے شي لیکن که چرے هغه عبارت د تاویل قابل هُم نه وی او د هغې کوم صحیح مطلب نه راوځي نو دا عبارت به هُم رد کولے شي او خیال به کولے شي چه دا خبره تو دے بزرګ د ژبے نه په غلبهٔ حال کښې وتلے وی چه شرعي احکامو کښې حجت نه دے، تر دے ځای

پوره شه د توحید بیان وو، دراتلونکي درسالت بیان وشه.

وَإِذْ أَخَذَ اللَّهُ مِيثَاقَ النَّبِيِّينَ لَمَا آتَيْتُكُم مِّن

او هر کله چې واخسته الله وعده د نبیانو نه چې کوم څه ما تاسو ته درکړل

كِتَابٍ وَحِكْمَةٍ ثُمَّ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مُّصَدِّقٌ لِّمَا مَعَكُمْ

کتابونه او علم بیا راشي تاسو ته یو رسول چې رښتونی کنړي ستاسو سره چې

لَتُؤْمِنُنَّ بِهِ وَلَتَنصُرُنَّهُ ۚ قَالَ أَأَقْرَرْتُمْ وَأَخَذْتُمْ

کوم کتاب دے نو په هغه رسول به ایمان راوړئ او د هغه مدد به کوئ الله وفرمائیل آیا تاسو اقرار وکړو

عَلَىٰ ذَٰلِكُمْ إِصْرِي ۖ قَالُوا أَقْرَرْنَا ۚ قَالَ فَاشْهَدُوا وَ

او دې شرط سره تاسو زما وعده قبوله کړه وې وئیل چې موږ اقرار وکړو وفرمائیل اوس ګواه اوسئ او

أَنَا مَعَكُم مِّنَ الشَّاهِدِينَ ﴿٨١﴾ فَمَن تَوَلَّىٰ بَعْدَ ذَٰلِكَ

زه هم ستاسو سره ګواه یم الله ف بیا چې څوک اوګرځي د دے نه روستو نو هغه

فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ ﴿٨٢﴾ أَفَغَيْرَ دِينِ اللَّهِ يَبْغُونَ

خلق نافرمانه دي الله اوس بل کوم یو دین لټوي سوا د دین د الله نه او

وَلَهُ أَسْلَمَ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ طَوْعًا وَ

د هغه په حکم کښې دي څه چې په آسمانونو او په زمکه کښې دي په رضا سره یا په

كَرْهًا وَإِلَيْهِ يُرْجَعُونَ ﴿٨٣﴾ قُلْ آمَنَّا بِاللَّهِ وَمَا أُنزِلَ

مجبورولو سره او هم هغه طرفته به بوتل واپس څو الله ف ته او وایه چې موږ په الله ایمان راوړو او کوم

عَلَيْنَا وَمَا أُنزِلَ عَلَىٰ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ

څه چې موږ باندے نازل شو او کوم څه چې په ابراهیم نازل شو او په اسمٰعیل باندے او اسحاق باندے

وَيَعْقُوبَ وَالْأَسْبَاطِ وَمَا أُوتِيَ مُوسَىٰ وَعِيسَىٰ وَ

او په یعقوب باندے او د هغه په اولاد باندے نازله او کوم څه چې ملاؤ شو موسیٰ ته او عیسیٰ ته او

النَّبِيُّونَ مِن رَّبِّهِمْ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّنْهُمْ وَ

یو شانته چه ملاو شو تولو نبیانو ته دخپل رب د طرفه ۱۲۱ـه موږ نه جدا کوو د دوی نه څوك ۱۲۲ـه او

نَحْنُ لَهُ مُسْلِمُونَ ﴿٨٤﴾ وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا

موږ د هغه فرمانبردار یو او څوك چه غواړی سوا د دین اسلام نه بل کوم دین

فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ ﴿٨٥﴾

نو د هغه نه به هرګز قبول نه کړے شی او په آخرت کښی به هغه خراب وی ۱۲۳ـه

كَيْفَ يَهْدِي اللَّهُ قَوْمًا كَفَرُوا بَعْدَ إِيمَانِهِمْ وَشَهِدُوا

څنګه به لار ورکوی الله داسے خلقو ته چه کافران شو د ایمان نه روستو او ګواهی یے ورکړه

أَنَّ الرَّسُولَ حَقٌّ وَجَاءَهُمُ الْبَيِّنَاتُ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي

چه بیشکه رسول رښتونی دے او راغلی هغوی ته ښکاره روښانه ۱۲۴ـه او الله لار نه ښائی

الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ ﴿٨٦﴾ أُولَٰئِكَ جَزَاؤُهُمْ أَنَّ عَلَيْهِمْ لَعْنَةَ

ظالمانو خلقو ته ۱۲۵ـه داسے خلقو سزا داده چه دوی باندے لعنت دے د

اللَّهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ ﴿٨٧﴾ خَالِدِينَ فِيهَا

الله او د فرښتو او د خلقو ټولو ۱۲۶ـه همیشه به وی دے کښی

لَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ الْعَذَابُ وَلَا هُمْ يُنظَرُونَ ﴿٨٨﴾ إِلَّا

نه به سپکوی د دوی نه عذاب او نه به دوی ته فرصت ملاؤ شی ۱۲۷ـه لیکن هغه چه

الَّذِينَ تَابُوا مِن بَعْدِ ذَٰلِكَ وَأَصْلَحُوا فَإِنَّ اللَّهَ

توبه اوکړه د دے نه روستو او نیك کارونه یے اوکړو نو بیشکه الله تعالے

غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٨٩﴾ إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا بَعْدَ إِيمَانِهِمْ ثُمَّ

غفور رحیم دے ۱۲۸ـه کوم خلق چه منکر شول د ایمان نه روستو بیا زیات

ازْدَادُوا كُفْرًا لَّن تُقْبَلَ تَوْبَتُهُمْ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الضَّالُّونَ ﴿٩٠﴾

شول په انکار کښی هرګز به قبول نه شی د دوی توبه ۱۲۹ـه او هم دوی دی ګمراه دی

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَمَاتُوا وَهُمْ كُفَّارٌ فَلَنْ يُقْبَلَ
کوم خلق چه کافران شول او مړه شو کافران نو هرګز به قبول نه شي د هغوی

مِنْ أَحَدِهِمْ مِلْءُ الْأَرْضِ ذَهَبًا وَلَوِ افْتَدَىٰ بِهِ
د داسے یو کس نه ډکه زمکه د سروزرو نه او اګرچه بدله کښي ورکړي دومره

أُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ وَمَا لَهُمْ مِنْ نَاصِرِينَ ﴿٩١﴾
سره زر هغوی دپاره عذاب دردناک دے او هیڅوک نشته د دوی مددګار

نکات:- سل دتوحید نه روستو د رسالت د بحث ابتدا ۱۲ سلا داجمله مقصودی ده مطلب دادے چه ایمان خو په ټولو پیغمبرانو باندے راوړی لیکن تخصیص کیږی په صرف د الله په خلکو سل زجر سره د تخویفِ اُخروی ۱۲ سک رو هیږے هم وئیل چه محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم رښتیا حق دی ۱۲ سک زجر سره د تخویفِ اُخروی ۱۲

موضح قرآن فل الله تعالے وعده د نبیانو نه یعنی د نبیانو په مقدمه کښي ہے د بني اسرائیلو نه وعده واخستله ۱۲ منه رحمه الله تعالے. فل یعنی دهرعهد ہے چه کوم حکم اوکړو د هغے نه سوا بل کوم دین قبول نه دے. فک یعنی یهودیانو اول اقرار کولو چه دا نبي حق دے چه کله ورسره مقابله اوشوه نو منکر شول او په انکار کښي ډیر وړاندے لاړل یعني جنګ ته تیار شول د هغوی توبه به هرګز قبوله نه شي یعني هغوی ته به توبه کول اَدِو نصیب نه شي چه قبوله شي ۱۲ منه رحمه الله تعالے۔

فتح الرحمن فل یعني بني ادم نه ہے د پیغمبرانو د پاره وعده واخسته. فلا یعني ترمرګه پورے ہے همیشه والے اوکړو ۱۲

تفسیر:- دویمه حصه، بللله اوله حصه کښي توحید عقلي او نقلي دلائلو سره واضح کړے شو او ورسره ہے د توحید متعلق د اهل کتابو د شبهاتو جواب ورکړو. او س دے ځائے نه د حضرت خاتم النبیین صلی الله علیه وسلم د رسالت او نبوت اثبات شروع کیږی د هغوی د صداقت دلائلو سره سره د ټولو شبهاتو او اعتراضاتو ازاله هم کړے شویده کوم چه د یهود او نصارو د طرفنه د نبي علیه السلام په رسالت باندے کړے شو. د ټولو نه مخکښي الله تعالے د هغه وعدے ذکر اوکړو چه په نبي علیه السلام باندے د ایمان راوړلو او د هغه د پیشګوئی کولو په باره کښي د ټولو نبیانو علیهم السلام نه واخستلے شوه. الله پاک د هر پیغمبر نه وعده اخستے وه چه هغوی به په اخر الزمان پیغمبر باندے ایمان راوړی یعني هغه د الله رښتونے نبي اومنی او خپل اُمت ته د هغه د راتلو اطلاع ورکړی او هغه ته ہے حکم ورکړو چه که چرے هغوی د هغه زمانه بیاموهي نو په هغه باندے ایمان راوړی. د حضرت شیخ رحمة الله علیه په نزد راجح قول دادے چه د نبیانو نه دا عهد د نبوت ملاوېدو سره

مره دا اخستے شو دا عهد او میثاق د نبی علیه السلام د ریښتونی کید و لوئی دلیل دے ځکه
چه د اهل کتابو په مخکښ داول نه دا پیش کړو چه محمد صلی الله علیه وسلم هغه پیغمبر دے چه په
هغه باندے د ایمان راوړلو عهد د ټولو نبیانو علیهم السلام د امتونو نه اخستے شوے وو
نو اے اهل کتابو! په تورات او انجیل کښ ستاسو د پیغمبرانو نه هم دا عهد اخستے شوے
دے او په تورات او انجیل باندے د ایمان راوړلو دعوی کوئ لو سره تاسو هم په دے پیغمبر
باندے د ایمان راوړلو عهد کړیدے هغه معهود (معلوم) پیغمبر اوس راغلے دے لهذا په
هغه باندے ایمان راوړئ او په هره طریقه د هغه مدد او نصرت اوکړئ.

۱۱۷ د اِصْرٌ لغوی معنیٰ بوجه ده او دلته مراد عهد دے. د اَقْرَرْتُمْ نه د نبیانو
علیهم السلام خپل اقرار مراد دے. او اَخَذْتُمْ عَلٰی ذٰلِكُمْ اِصْرِیْ نه د امتونو نه عهد
اخستل مراد دی. معناه اخذتم علی ذالکم اصری علی الامم والاصر بکسر الهمزة العهد (روح ج۳ ص۲۱۳)
د انبیاء علیهم السلام نه الله پوخ اقرار او وعده واخستله او په اصر کښ یے اوفرمائیل چه
تاسو دیو بل په اقرار باندے گواه شئ او زه هم ستاسو په اقرار او شهادت باندے گواه
یم. فلیشهد بعضکم علی بعض بالاقرار و انا علی اقرارکم و اشهاد بعضکم بعضا من الشاهدین
(کبیر ج۲ ص۳۱) ۱۱۸ مذکوره عهد چونکه د نبیانو علیهم السلام پتبعیت کښ د هغوی د
امتونو نه اخستے شوے وو. په دے وجه دلته د اعراض کوونکو د عهد ماتوونکو نه امتونه
مراد دی ځکه چه عهد شکنی کبیره گناه ده چه د هغے صدور د انبیاء علیهم السلام نه ناممکن دے
۱۱۹ دین الله نه مراد دلته دین اسلام دے یعنی د ټولو نبیانو علیهم السلام نه د اخری پیغمبر
علیه السلام متعلق دا عهد اخستے شوے وو اوس هغه راغلے دے او هغه هم د الله هغه
دین پیش کړیدے کوم چه د دے نه مخکښ ټولو نبیانو پیش کړے وو نو معلومه شوه چه دین
اسلام د ټولو مخکښنو نبیانو متفق علیه دین دے د دینه علاوه د زمکے او اسمان د ټول
مخلوق خواه هغه جاندار وی یا غیر جاندار خواه ذی عقل وی یا غیر ذی عقل د ټولو دین
اسلام دے. چه کله ټول انبیاء علیهم السلام ټولے فرشتے او ټول مؤمنان جن او انس
په خپله اراده او اختیار سره د دین اسلام پابند دی او صرف الله خپل معبود او مستعان
گڼړی او هغه ته شپه او ورځ اواز کوی او د اشان د زمکے او اسمان ټول مخلوق جاندار او
غیر جاندار هم د الله د تکوینی امورو او قوانینو مطیع او فرمانبردار دی نو بیا د خلق
د الله دین ولے پریږدی او باطل دین پسے منډے وهی. او د الله نه بیا نورو ته ولے اواز
کوی ځکه چه په اخر کښ ټول به د الله په مخکښ حاضریږی نو پکار ده چه د الله د دین
تابعداری اوکړئ او هغه وخت د پاره څه سامان تیار کړے شی.

۱۲۰ اول یے بیان اوکړو چه هغه معهود پیغمبر به د خپل ځان نه مخکښ د ټولو پیغمبرانو
تصدیق کوی. په دے ایت کښ نبی علیه السلام ته او د هغه امت ته د دے تصدیق د اعلان
او اظهار حکم ورکړے شو یعنی اعلان اوکړئ چه الله کوم احکام په مونږ باندے نازل کړیدی
زمونږ په هغے باندے هم ایمان دے او په مخکښنو نبیانو باندے چه کوم شه نازل شوی دی

مونږ هغه حق منو. د دینه معلومه شوه چه د ټولو مشن یو وُو او ټول د دینِ توحید د رکولو سره رالیږلے شوُ. ۲۲۱ له حضرت موسیٰ علیه السلام اګرچه په اسباط کښې شامل وُو لیکن خطاب چونکه یهود او نصارٰو ته دے په دے وجه په اهتمام سره یے د ده ذکر اوکړو.

۲۲۲ له دلته د تفریق نه مراد تصدیق او تکذیب کښې تفریق مراد دے. یعنی داچه څخے او منلے شی او د ځینو نه انکار اوکړے شی څنګه چه یهود او نصارٰو اوکړو دواړو ډلو د محمد صلی الله علیه وسلم او یهودیانو د مسیح علیه السلام نه هم انکار اوکړو. باقی د مرتبے او فضیلت په اعتبار سره تفریق نو هغه جائز بلکه په نفس الامر کښې واقع دے. الله پاک ځینو ته په ځینو باندے فضیلت ورکړے دے. ای بالتصدیق والتکذیب کما فعل الیهود والنصارٰی والتفریق بغیر ذالک بالتفضیل جائز (روح ص ۲۱۵ ج ۳) وَنَحْنُ لَهٗ مُسْلِمُوْنَ د داجمله مقصودی ده او د ظرف تقدیم د حصر فائدے د پاره دے او د مُسْلِمُوْن معنیٰ ده خالص د الله عبادت کوُنکی او شرک نه کوُنکی. ای مخلصون له فی العبادة (روح ص ۲۱۵ ج ۳) موحدون مخلصون انفسنا له لا نجعل له شریکا فی عبادتنا (مدارک ص ۱۳۱ ج ۱، خازن ص ۲۱۵ ج ۱، ابوالسعود ص ۴۳۶ ج ۲) ونحن له منقادون بالطاعة متذللون بالعبودیة مقرون له بالالوهیة والربوبیة وانه لا اله غیره (ابن جریر ص ۲۲۳ ج ۳) حاصل داچه ایمان زمونږ په ټولو نبیانو علیهم السلام باندے دے او مونږ ټول برحق ګنړو لیکن معبود صرف خدائ ګنړو. د هغه عبادت کوُو د هغه په مخکښې خکته کیږو. د هغه نه سوال کوُو او په حاجتونو او مشکلاتو کښې صرف هغه ته آوازونه کوُو د الله دا نبیان او غوره بندګان د هغه سره شریک نه منوُ نه په علم کښې نه په قدرت کښې نه په سمع او بصر کښې او نه په نورو صفتونو کښې. تعالیٰ شانهٗ.

۲۲۳ له د دینِ اسلام د حقانیت او د الله په نزد د ده د غوره کیدو د اعلان کولو نه روستو د اسلام نه د اعراض کوُنکو تخویف اُخروی سره یے زجر او فرمائیلو چه کوم سړے د دینِ اسلام نه علاوه بل کوم دین تلاش کړی او توحید پریږدی او شرک اختیار کړی هغه به عند الله مقبول نه دی. او د هغه ټول عملونه به ضائع وی. او هغوی به په آخرت کښې د دغه عملونو نه محروم شی او په همیشه عذاب کښې به مبتلا شی هم دا د خسرانِ آخرت مفهوم دے. والخسران فی الآخرة هو حرمان الثواب وحصول العقاب (روح ص ۲۱۶ ج ۳) ۲۲۴ له دلته د قوم نه اهل کتاب یهود او نصارٰی مراد دی. د نبی علیه السلام د بعثت نه وړاندے خو په نبی علیه السلام باندے د هغوی ایمان وُو او هغوی د نبی علیه السلام په باره کښې د تورات بیان کړے شوی صفتونه او پیشګویانے لوستلے او اوروُلے څنګه چه مخکښې تیر شویدی. کَانُوْا مِنْ قَبْلُ یَسْتَفْتِحُوْنَ عَلَی الَّذِیْنَ کَفَرُوْا (بقرو ع) هغوی خوُ خله د دے اقرار اوکړو او د دے ګواهی یے ورکړه. د دے نه علاوه د پیغمبرد صداقت عقلی او نقلی دلائل هم د هغوی مخکښې راغلی د دے ټولو خبرو باوجود چه کله هغوی سره د پوره قصدًا عمدًا انکار اوکړو او خپل اختیار سره یے کفر ته ترجیح ورکړه نو اوس هم د دوی د ایمان راوړلو او په سمه لاره د تللو څه اُمید کیدے شی څنګه چه کله یهود او نصارٰ د


اوکتل چه د کوم پیغمبر پیشنګوئی په تورات او انجیل کښې موجود ده او د کوم متعلق چه
دهغوی توقع دا وه چه هغه به په بنی اسرائیلو کښې پیدا شی هغه خود عربو په بنی اسمٰعیل
قبیله کښې پیدا شویدے نو د بُغض او حسد په وجه یې انکار اوکړو. ۱۲۵ کوم خلق چه
په خپلو ځانونو باندے ظُلم اوکړی چه د الله د ورکړے شوی عقل نه لږ کار هم وا نخلی
او محض د ضد او عناد او د بُغض او حسد په وجه د حق نه سترګے پټے کړی او د هغے
د قبلولو په ځائ د هغے نه انکار اوکړی نو الله پاک داسے خلقو ته په دُنیا کښې دا سزا
ورکوی چه د هغوی په زړونو باندے مُهر جبّاریت اُولګوی د هغوی نه د هدایت توفیق
واخلی او هغوی هیڅ کله اسلام ته نه شی راتللے. اَلظّٰلِمِيْنَ الذین ظلموا انفسھم بالاخلال
بالنظر (روح ج۳ ص۲۱۶) ای ما داموا مختارین للکفر (مدارک ج۱ ص۱۳۱)


۱۲۶ دا تخویف اُخروی دے په اُولٰئِكَ سره د ذکرشوو صفتونو لرونکو طرفته اشاره
ده یعنی کوم خلق چه حق اُوپیژنی او محض د ضد او عناد د وجے نه کُفر او انکار کوی -
په هغوی باندے د الله لعنت، د فرشتو او د ټولو انسانانو لعنت دے. د الله لعنت
خو دا دے چه الله پاک هغوی د خپل رحمت نه لرے او د جنت نه لرے او په عذاب
کښې مبتلا کړل. د فرشتو او د انسانانو د لعنت نه مراد دا دے چه هغوی په ژبه سره
په دوی باندے لعنت لیږی. لعنة بالابعاد من الجنة وانزال العقوبة والعذاب و
اللعنة من الملائکة ھی بالقول وکذالک من الناس الخ (کبیر ج۲ ص۳۸۰) او د الناس نه مراد ټول
انسانان دی خواه مُسلمان وی یا کافر ځکه چه کافر هُم په دروغژن او باطل پرست باندے
لعنت لیږی. اګرچه هغوی ته دا معلومه نه وی چه هغوی په خپله هُم دروغژن او
باطل پرست دی.

۱۲۷ فیها کښې ضمیر لعنت طرفته راجع دے. او مطلب دا دے چه په دُنیا او اخرت
کښې به متواتر په هغوی باندے د لعنت نزول کیږی او په اخرت کښې به د دوی په عذاب
کښې نه کمے کیږی او نه به هغوی ته مُهلت ورکولے شی. ۱۲۸ دا د ماقبل نه استثناء ده
یعنی کوم خلقو چه د ایمان نه روستو کُفر اوکړو او د کُفر او ارتداد نه روستو بیا توبه
اُوباسی او ائنده د پاره خپله رویه صحیح کړی. الله پاک د داسے خلقو توبه قبلوی او د هغوی
تیر شوی ګُناهونه به معاف کړی په هغوی به نور فضل او رحمت اوکړی.

۱۲۹ اول د هغه خلقو ذِکر وُو چاچه د ارتداد او کُفر بعد الایمان نه توبه کړه او د
صلاح او تقوٰی لاره یې اختیار کړه دلته یې د هغه خلقو ذِکر اوکړو چاچه د ایمان نه
روستو کُفر اوکړو او بیا هغه سره د علم نه په کُفر کلک پاتے شی تر دے چه کُفر د هغه
په زړهٔ کښې مضبوط شی نو د داسے خلقو په زړونو باندے د جبّاریت مُهر لګولے شی په
دے وجه د هغوی نه د توبے توفیق اخستلے شی او هغوی ته د توبے هیڅ کله همت نه وی
دلته د همت اخستلو نه د توبے د نه قبلیدو سره تعبیر شویدے. دا مطلب هرګز نه دے
چه که چرے هغوی توبه اُوباسی نو د هغه توبه به نه قبلیږی ځکه چه د لوئ نه لوئ مجرم

توبه هم د الله په نزد قبوله ده ترڅو چه هغه په سکرات الموت کښې داخل شوے نه وی. قاله الشیخ روح الله روحه. وَأُولَٰئِكَ هُمُ الضَّالُّونَ ۝ او هم دا خلق په حقیقت کښې ګمراه دی ځکه چه د جبار رب مهر په وجه به هغه هیڅ کله هدایت مونده وکے نه وی. فَلَن يُقْبَلَ یعنی کوم خلقو چه کفر اختیار کړ او د توبے د توفیق نه بغیر مړشی هغه به په اخرت کښې د عذاب الٰهی نه په هیڅ صورت بچ نه شی که چرے بالفرض د قیامت په ورځ د زمکے د ډکوالی برابر سره زر د هغه لاس ته راشی او هغه یے په فدیه کښې ورکړی او د عذاب نه بچ کیدل اوغواړی نو دا فدیه به د دوی نه هیڅ کله قبوله نه کړے شی. الکلام ورد علی سبیل الفرض والتقدیر والمعنی لو ان للکافر قدر ملء الارض ذهبا یوم القیمة لبذله فی تخلیص نفسه من العذاب (خازن ص۳۱۶ ج۱، کبیر ص۱۳۲ ج۴) أُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ۝ هغوی ته به بهرحال دردناک عذاب ورکولے شی. دا به هیڅ کله نه وی چه که چرے فدیه نه شی قبلیدے نو هم داسے به ورته معافی ملاو شی. وفی تعقیب ما ذکر بهذه الجملة مبالغة فی التحذیر والاقناط لان من لایقبل منه الفداء ربما یعفی عنه تکرما (روح ص۲۲۰ ج۳) وَمَا لَهُم مِّن نَّاصِرِينَ ۝ نه به فدیه ورکولو سره بچ کړے شی نه معافی ملاویدے شی او نه د هغوی یار او مددګار نصرت او یاری او نه د یو سفارشی سفارش سره نجات ملاویدے شی. انه تعالٰی لما بین انه لاخلاص لهم عن هذا العذاب بسبب الفدیة بین ایضا انه لاخلاص لهم عنه بسبب النصرة والاعانة والشفاعة الخ (کبیر ص۱۳۲ ج۴)





کتابت: خیر الله شبقدر حلیم زئی ۲۳ نومبر ۲۰۰۳ء

لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتّٰى تُنْفِقُوْا مِمَّا تُحِبُّوْنَ ؕ وَ مَا

هرګز تاسو به نه کړئ نیکئ کښې کمال تر څو چه خرچ نه کړئ د خپل خوښ څیز نه څه بعضې او څوم

تُنْفِقُوْا مِنْ شَیْءٍ فَاِنَّ اللّٰهَ بِهٖ عَلِیْمٌ ﴿۹۲﴾ كُلُّ

څیز چه خرچ کوئ نو الله ته معلوم دے ټول د خوراک

الطَّعَامِ كَانَ حِلًّا لِّبَنِیْۤ اِسْرَآءِیْلَ اِلَّا مَا حَرَّمَ

څیزونه حلال وو بنی اسرائیلو د پاره مګر هغه چه حرام کړے وو اسرائیل

اِسْرَآءِیْلُ عَلٰی نَفْسِهٖ مِنْ قَبْلِ اَنْ تُنَزَّلَ التَّوْرٰىةُ ؕ

په خپل ځان باندے د تورات نازلیدو نه وړاندے ۳۲

قُلْ فَاْتُوْا بِالتَّوْرٰىةِ فَاتْلُوْهَاۤ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِیْنَ ﴿۹۳﴾

ته اووایه راوړئ تورات او وے لولئ که چرے رښتونی یئ ۳۳

فَمَنِ افْتَرٰی عَلَی اللّٰهِ الْكَذِبَ مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ

بیا چه څوک جوړ کړی په الله باندے دروغ د دے نه روستو

فَاُولٰٓىِٕكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿۹۴﴾ قُلْ صَدَقَ اللّٰهُ ۫ فَاتَّبِعُوْا

نو هم دوی دی ډیر بے انصاف ۳۴ ته اووایه رښتونے دے الله اوس تابع

مِلَّةَ اِبْرٰهِیْمَ حَنِیْفًا ؕ وَ مَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِیْنَ ﴿۹۵﴾

شئ د دین ابراهیم چه د یو کیدونکے وو او نه وو مشرکانو نه ۳۵

اِنَّ اَوَّلَ بَیْتٍ وُّضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِیْ بِبَكَّةَ مُبٰرَكًا

بیشکه اولنے کور چه مقرر شو د خلقو د پاره بس هغه دے چه په مکه کښې دے برکت والا

وَّ هُدًی لِّلْعٰلَمِیْنَ ﴿۹۶﴾ فِیْهِ اٰیٰتٌۢ بَیِّنٰتٌ مَّقَامُ اِبْرٰهِیْمَ ۚ

او هدایت د دنیا خلقو د پاره ۳۶ په دیکښې نخښے دی ښکاره لکه مقام ابراهیم ۳۷

نکات ۳۲ د اهل کتابو علماؤ ته د اسلام طرف ته ترغیب ۳۲ رسالت باندے د اولے شبهے جواب۔۔

موضح قران

ف۱ یعنی کوم څیز سره چه زړهٔ دیر لګیدلے وی د هغې خرچ کول لویه درجه ده او ثواب په هر څیز کښې شته. شاید یهودیانو بیان کښې یے دا ایت ځکه ذکر کړو چه هغوی ته خپله سرداری ډیره محبوب وه چه د هغې نیولو سره د نبی نه تابع کیدل تردے چه پریے نړدی دا الله په لاره کښې به د ایمان درجه بیانه مومی. ف۲ یهود وائی چه تاسو وایئ چه مونږ د ابراهیمؑ په دین باندے یئو او د ابراهیمؑ په کورنئ کښې چه کوم څیزونه حرام دی نو هغه خوری لکه د اوښ غوښه او ریئ. الله تعالیٰ اوفرمائیل چه څو مره څیزونه اوس خلق خوری د ابراهیمؑ په وخت کښې حلال وو څو پورے چه تورات نازل شوے په تورات کښې خاص بنی اسرائیلو باندے حرام شویدی لیکن د اوښ د تورات نه وړاندے حضرت یعقوبؑ د هغې د خوړلو نه قسم کړے وو. د هغه په بعد ئی سره د هغه اولاد هم پریښے وو. د دے قسم سبب دا وو چه هغه ته یو خاص بیماری وه هغه منخته کړے وه چه که چرے زهٔ روغ شوم نو چه کوم څیز ځما دیر خوښ وی نو هغه به پریږدم د هغه د اوښ غوښه ډیره خوښه وه نو د منځتے په وجه یے پریښودله.

فتح الرحمٰن

مترجم وائی چه یهودیانو په حضرت پیغمبر ﷺ عیب لګولو چه تاسو د ملت ابراهیمی دعوی کوئ او کوم څه چه د ابراهیم خاندان نه خوړل لکه د اوښ غوښه او ریئ هغه خورئ نو الله جواب ورکړو چه هر څیز د تورات د نازلیدو نه وړاندے حلال وو لیکن د اوښ غوښه او ریئ د ابراهیم ملت نه دے د بنی اسرائیلو د نیکه د حرامولو په وجه د دوی خاصه وه. ف۴ یعنی هغه تش چه په حجر اسود کښې بنکاره شویدے ۱۲

تفسیر: ۱۳۳ دا خطاب هم د مخکښې پشان د اهل کتابو سره دے او هغوی ته د اسلام ترغیب ورکړے شویدے. او د برنه د ایمان او تقوی هغه درجه مراد ده چه د هغې حاصلیدو سره انسان د ابرارو په ډله کښې شاملیږی. د کوم چه الله تعالیٰ په اِنَّ الْاَبْرَارَ لَفِیْ عِلِّیِّیْنَ کښې ذکر کړیدے. د مَا تُحِبُّوْنَ نه دنیوی ریاست او دولت او ظاهری شان او شوکت مراد دے اهل کتاب یے مخاطب کړل او وے فرمائیل چه ترڅو پورے تاسو د خپل د تبولو نه غوره او د محبوب څیز قربانی ورنکړئ یعنی دنیوی شان او شوکت او ریاست پریے نږدئ تر هغې به د خیر حقیقت او اصل تقوی بیانه مومئ. پدے وجه دا دنیوی نفعے پریږدئ او په حضرت محمد ﷺ باندے ایمان راوړئ او توحید مسئله اومنئ. حضرت مولانا شاه عبد القادرؒ لیکی یعنی د کوم څیز سره چه زړهٔ دیر لګیدلے وی د هغې خرچ کول ډیره درجه ده او ثواب په هر څیز کښې دے شاید چه د یهودیانو ذکر یے دے ایت کښې دے د پاره اوکړو چه هغوی ته خپل ریاست دیر عزیز وو چه د هغې نیولو سره د نبی نه تابع کیدل ترڅو پورے چه هغه پرے نږدئ د الله په لاره کښې به د ایمان درجه بیا نه مومی.

۱۳۳ د الله په لاره کښې چه هر څیز خرچ کړئ خواه محبوب وی یا غیر محبوب وی بهر حال

اوبه نه ده دے یعلم دے او هغه به ده دے مطابق د هغې جزا ورکوی باقی پاتے د خپل نیکئی کامل
درجه تو هغه صرف د محبوب ترین څیز قربانئ سره حاصلیږی. روا لمس اندا وسول الی
المطلوب الا باخراج المحبوب (مدارج ص۳۱)

د رسالت متعلق شُبهات

[۳۳] اسرائیل د حضرت یعقوب علیه السلام لقب دے چه د دے معنی ده عبد الله یعنی د الله

بنده. حضرت شیخ فرمائی چه د یهودیانو احبار او رُهبان یعنی د هغوی مُلایان او پیران اوګډی ناست کسانو به د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم خلاف نوی نوی اعتراضونه سوچ کول او مختلف طریقو سره به یې د مسلمانانو په زړونو کښې د شُبها تو پیدا کولو کوشش کولو نو هغوی به وئیل چه دا پیغمبر خود بُره نه د ملتِ ابراهیمی د اتباع دعوٰی کوی لیکن مینځ د حضرت ابراهیم علیه السلام مخالف دے ځکه چه دے د اُوښ غوښه خوری حالانکه د ابراهیم علیه السلام په مذهب کښې د اُوښ غوښه حرام وه. د غسے دا پیغمبر په ښکاره د ټولو نبیانو د منلو دعوٰی کوی لیکن د دے نه د ټولو مخالف دے ځکه چه ده د ټولو اسرائیلو نبیانو قبله پرینښودله او خانه کعبه یې خپله قبله ګرځولے ده حالانکه بیت المقدس د خانه کعبے نه وړاندے دے. ځکه په دے لحاظ سره د خانه کعبے نه افضل او بهتر دے. په دے ایت کښې الله تعالٰی د دوی د اولنی اعتراض جواب ورکړو چه د یهودو وینا ټوله غلطه او د دوی دعوٰی باطله ده. د خوراک د کومو څیزونو په باره کښې چه یهود جګړه کوی او هغه په ملتِ ابراهیمی کښې حرام ښائی هغه ټول د ابراهیم علیه السلام په مذهب کښې حلال وو او د هغوی نه روستو بنی اسرائیلو د پاره هُم هغه ټول حلال دی. لیکن حضرت یعقوب علیه السلام ته د عرق النساء بیمارئ د وجے نه طبیبانو مشوره ورکړے وه چه هغه به د اُوښ غوښه نه خوری نو هغه ځکه د اُوښ د غوښے نه پرهیز کولو او پرهیز صرف د بیمارئ د وجے نه وُو نه چه د شرعی حُرمت په وجه سره. اشارت علیه الاطباء باجتنابه ففعل ذٰلك باذن من الله. (کشاف ج۱) او دا ټول هرڅه د تورات د نزول نه وړاندے او شو کیدے ملتِ ابراهیمی کښې د اُوښ غوښه حرام وے نو د دے ذکر به ضرور په تورات کښې وے. دا شان څنے څیزونه په بنی اسرائیلو باندے د سزا په طور حرام کړے شوی وُو د ابراهیمی شریعت سره د هغې هُم څه واسطه نشته څنګه چه د الله تعالٰی ارشاد دے وَعَلَى الَّذِيْنَ هَادُوْا حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ كُلَّ ذِيْ ظُفُرٍ ۚ وَمِنَ الْبَقَرِ وَالْغَنَمِ حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ شُحُوْمَهُمَآ اِلَّا مَا حَمَلَتْ ظُهُوْرُهُمَآ اَوِ الْحَوَايَآ اَوْ مَا اخْتَلَطَ بِعَظْمٍ ۚ ذٰلِكَ جَزَيْنٰهُمْ بِبَغْيِهِمْ ۖ وَاِنَّا لَصٰدِقُوْنَ ۝ (انعام ع۱۸)

[۳۴] که چرے تاسو په خپله دعوٰی کښې رښتونی یئ نو تورات راوړئ او په هغې کښې دا حُکم راوُباسئ او وے ښایئ حالانکه تورات کښې د دے هیڅ ذکر نشته بلکه تورات کښې د هغه څاروُ د حِلت حُکم دے لکه چه په کتاب پیدائش باب ۹ ایت ۳ کښې دی. هر تلونکے ژوندے حیوان به ستاسو خوراك د پاره وی د هسے سبزئ پشان ما دا ټول تاسو ته درکړل. [۳۵] د الله پاک د دے واضح بیان سره د یهودو د دروغو او افترا درانه ښکاره شوه. اوس که چرے د دے نه

روستو هم هغوی د غلط بیانئ نه منع نه شول او هم هغسې په تیبیانو باندې او اسماني
کتابونو باندې افتراء کوی نو ډیر لوئ ظالمان دی ځکه چه هغوی د حق واضح کیدو
نه روستو هم د خپلو شرارتونو نه واپس نه شول ۱۳۵ الله تعالیٰ د توحید او د شبهاتو د
دفع کولو په باره کښې چه کوم څه بیان کړیدی هغه ټول په حقیقت او صداقت باندې
مبنی دی. لهذا تاسو په توحید باندې قائم شئ او د ابراهیم علیه السلام د ملت اتباع اوکړئ
چه د باطل دینونو نه یو طرفته او د شرک نه بیزار وو. او د ملتِ ابراهیمی نه مراد اسلام دے.
حنیفًا مائلا من الباطل وهی ملة الاسلام (جامع البیان ص۵۶) د پورتنی بیان نه معلومه شوه.
چه د اوښ غوښه په ابراهیمی مذهب کښې حرامه نه وه او نه په بنی اسرائیلو باندې حرامه
وه. اوس اعتراض پریږدئ او حق خبره قبوله کړئ او د ملتِ ابراهیمی پوره پوره
اتباع اوکړئ شرک پریږدئ او توحید قبول کړئ.

۱۳۶ بکة: د مکې دویم نوم دے. قال مجاهد بکة هی مکة (قرطبی ج۴ ص۱۳۸) بکة من اسماء مکة
علی المشهور (ابن کثیر ج۱ ص۳۸۳) نو الله تعالیٰ د دے جواب ورکړو چه په دُنیا کښې د خلقو نه مخکښې
کوم کور چه د خلقو د پاره معبد او عبادت خانه جوړے کړے شوه هغه هغه کور دے
چه په مکه کښې دے یعنی خانه کعبه أی لعموم الناس لعبادتهم ونسکهم یطوفون به ویصلون
به ویعتکفون عنده (ابن کثیر ج۱ ص۳۸۳) ان هذا البیت وضع الله موضعا للطاعات والخیرات و
العبادات (الکبیر ج۳ ص) په صحیح حدیث کښې راغلی دی چه په زمکه باندې د خلقو نه ړومبې عبادتگاه
مسجد حرام دے. ثبت فی صحیح مسلم عن ابی ذر قال سألت رسول الله صلی الله علیه وسلم عن اول مسجد
وضع فی الارض قال المسجد الحرام (قرطبی ج۴ ص۱۳۸) مُبٰرَكًا او هُدًی د وضع د ضمیر نه حال دے یعنی
خانه کعبه د خیر او برکت ځائی دے. او د ټولو انسانانو د پاره د هدایت مرکز دے بیت الله
د مبارک کیدو یو اثر دا دے چه کوم عمل هلته اوکړے شی د هغې اجر و ثواب د نورو ځایونو
په نسبت څو چنده زیات ملاویږی. جعله مبارکًا لتضاعف العمل فیه فالبرکة کثرة الخیر
(قرطبی ج۴ ص۱۳۹) وقیل لان الطاعات وسائر العبادات تتضاعف ویزداد ثوابها عنده (خازن ج۱ ص۳۴۲)
او خانه کعبه چونکه د ټولې دُنیا د مُسلمانانو د مانځه قبله ده. د اشان هلته حج او عمره ادا
کولے شی په دے وجه هغه د ټولې دُنیا د پاره د رشد او هدایت مرکز دے لانه قبلتهم
ومتعبدهم (مدارک ج۱ ص۱۳۲)

۱۳۷ د فیه د ضمیر مرجع بیت (خانه کعبه) ده او د آیت نه مراد د بیت الله د فضیلت او
حرمت نښے دی چه د هغې نه د څو بحث ورانده اوشو مثلاً د بیت الله مُبارک او د
هدایت مرکز کیدل او د څو بحث راځی مثلاً دیکښې د داخلیدونکو امن او محفوظ کیدل
او د دے د حج فرض کیدل والجملة اما مستأنفة جئ بها بیانا وتفسیرا للهدی (روح ج۴ ص۴) وقال
الزجاج ان قوله وَمَنْ دَخَلَهٗ كَانَ اٰمِنًا من بقیة تفسیر الایات (کبیر ج۳ ص۱۳۷) او مقام ابراهیم
مبتدا دے او د دے خبر منها محذوف دے (روح) یعنی منجمله د بینات آیتونو نه مقام ابراهیم
د مشهور تفسیر مطابق هغه کاڼے مراد دے په کوم کښې چه حضرت ابراهیم علیه السلام ولاړ وو او

خانه کعبه یې تعمیر کړے وه په دے کانړی باندے د حضرت ابراهیم علیه السلام د قدمو نو نښان
لګیدلے وُو چه تر اوسه پورے باقی دے.

وَمَنْ دَخَلَهٗ كَانَ اٰمِنًا ؕ وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ

او څوک چه دے ته دننه راشی هغه ته امن ملاؤ شو ۱۲۸ او د الله حق دے په خلقو باندے د حج

الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ اِلَيْهِ سَبِيْلًا ؕ وَمَنْ كَفَرَ فَاِنَّ

د هغه څوک چه قدرت لری د هغه طرفته د تلو ۱۲۹ او څوک چه اُونه منی نو بیا د

اللّٰهَ غَنِيٌّ عَنِ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٩٧﴾ قُلْ يٰۤاَهْلَ الْكِتٰبِ لِمَ

الله بے پرواه نشته د جهان د خلقو والے ته او وایه اے اهل کتابو ا ولے منکر

تَكْفُرُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ ۖۗ وَاللّٰهُ شَهِيْدٌ عَلٰى مَا تَعْمَلُوْنَ ﴿٩٨﴾

کیږئ د الله د کلام نه او د الله په مخکښی دی کوم څه چه تاسو کوئ ۱۳۱

قُلْ يٰۤاَهْلَ الْكِتٰبِ لِمَ تَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ مَنْ

ته او وایه اے اهل کتابو! ولے منع کوئ د الله د لارے نه ایمان ۱۳۲ راوړونکی چه

اٰمَنَ تَبْغُوْنَهَا عِوَجًا وَّاَنْتُمْ شُهَدَآءُ ؕ وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ

لټوئ په دے کښی عیب او تاسو په خپله پوهیږئ صحیح ۱۳۳ او الله بے خبره نه دے

عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿٩٩﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِنْ تُطِيْعُوْا فَرِيْقًا

ستاسو د کارونو نه. اے د ایمان والو که چرے تاسو خبره اُومنئ د بعضے

مِّنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ يَرُدُّوْكُمْ بَعْدَ اِيْمَانِكُمْ كٰفِرِيْنَ ﴿١٠٠﴾

اهل کتابو نو او به ګرځوی هغوی تاسو لره د ایمان راوړلو نه روستو کافران ۱۳۴

وَكَيْفَ تَكْفُرُوْنَ وَاَنْتُمْ تُتْلٰى عَلَيْكُمْ اٰيٰتُ اللّٰهِ وَفِيْكُمْ رَسُوْلُهٗ ؕ

او تاسو څنګه کافران کیږئ او په تاسو باندے لوستلے شی آیتونه د الله او په تاسو کښی د هغه رسول

وَمَنْ يَّعْتَصِمْ بِاللّٰهِ فَقَدْ هُدِيَ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿١٠١﴾ ع

دے ۱۳۵ او څوک چه مضبوط اُونیسی الله نو هغه ته هدایت اوشو سمے لارے ته ۱۳۶

نکات: ۱ــ مقصد د دواړو شبهاتو د ازاله نه روستو اوله تنبیه اهل کتابو د پاره ۲ــ مقصد دوهم تنبیه د اهل کتابو د پاره ۳ــ یعنی د الله په توحید کښې شبهات اچوئ ۴ــ د مؤمنانو د پاره تنبیه د شبهاتو نه په حفاظت سره ستاسو او په اتباع د رسول. ۵ــ مؤمنانو د پاره زجر ۶ــ د سورة دوهم مقصد تمهید د پاره د ترغیب الی الجهاد.

موضح قرآن

ف۱ دا هم د یهودیانو شبهه وه چه د ابراهیمؑ خاندان همیشه په شام کښې اوسیده او بیت المقدس یې قبله وه او تاسو په مکه کښې یئ او کعبه قبله کړې شوې نو تاسو څنګه د ابراهیمؑ وارثان شوئ نو الله اوفرمائیل چه د ابراهیمؑ په لاس اول عبادت خانه د الله په نوم دا جوړه شویده او په دیکښې د بزرګئ نښې او خوارق همیشه پیدا شي اصل مقام د ابراهیم علیه السلام بس دا دے. ف۲ الله تعالی د اهل کتابو د شبهاتو جواب ورکړو او مسلمانانو ته یې اوفرمائیل چه د هغوی خبره مه اوریئ هم دا مراد دے. هسې نه چه د شپې اوریدو او ریدو سره د نیکئ لارے نه اوځئ او په لاره شئ او س هر مسلمان له پکار دی چه د شبهاتو والا خبرو وانه وری په دیکښې د دین سلامتیا ده او جګړے سره شبه پیدا کیږي.

فتح الرحمٰن: ۱ــ صد یعنی شبهات پیدا کوی چه د خلقو په نزد ظاهر شي چه کږه ده

تفسیر الله دا هم د هغه تولو ایاتو بینتو نه دے. قال قتادة ذالك ایضا من ایات الحرم قال النحاس وهو قول حسن لان الناس كانوا يتخطفون من حواليه ولا يصل اليه جبار وقد وصل الى بيت المقدس وضرب (قرطبی ج۴) کوم سړے چه د حرم په حدودو کښې داخل شي نو هغه محفوظ الدم شي اګرچه هغه قاتل او مستوجب د حد ولے نه وی. تر څو چه هغه د حدودو د حرم دننه وی تر هغې پورے به هغه ته قصاص نشي اخستلے او نه به په هغه باندے حد قائمولے شي څنګه چه د حضرت امام ابوحنیفهؒ نه نقل شویدی ولهذا المعنى قال الامام السابق النعمان بن ثابت من اقترف ذنبا واستوجب به حدا ثم لجا الى الحرم عصمه لقوله تعالى ومن دخله كان امنا (قرطبی ج۴) د بیت الله د امن ځائ کیدل صرف انسان پورے مخصوص نه دے بلکه حدودِ حرم کښې د هر روح والا محفوظ دے او د دے نه علاوه د هغه ځائ نښته وابښه او ونے پریکول هم منع دی. لهٰذا مَنْ اګرچه ذوی العقول د پاره راځی لیکن دلته علی سبیل التغلیب غیر ذوی العقول هم شامل دے ومن اما للعقلاء اولهم ولغيرهم على سبيل التغليب لانه يأمن فيه الوحش والطير بل والنبات الخ (روح ج۴) مَنْ دَخَلَهٗ كَانَ اٰمِنًا. دا خوبی خو صرف د الله کور ته حاصله ده. لیکن ننن صبا پیر پرستو خپلو پیرانو خانقاهونو او زیارتونو ته هم دا درجه ورکړیده. څنګه چه د پاکپتن جنتی دروازه د دے خبرے ګواه ده. هر کال په زرګونو پیر پرست او د ضعیفو عقیدو خلق په هغې کښې تیریږی او خیال کوی چه هغوی جنتیان شویدی په دروازه باندے مَنْ دَخَلَهٗ كَانَ اٰمِنًا لیکلے شویدی. لله خبر مقدم او حِجُّ البیت مبتدا مؤخر دے و من استطاع د الناس نه بدل البعض دے. خانه کعبے د حرمت او فضیلت د نښانو نه یوه دا هم ده چه په خلقو باندے د دے کور

حج فرض دے یعنی کوم خلق چه خانه کعبې پورے د تلو راتلو خرچ برداشت کولے شی په هغوی حج فرض دے. د حج د فرضیت نورهم شرطونه دی مثلاً عقل: بالغ کیدل صحتمند کیدل، د لارے مامون کیدل او ښځے سره د خاوند یا د محرم کیدل وغیره د فقه په کتابونو کښې تفصیل موجود دے. د خانه کعبې پورتنی صفتونه او خصوصیتونه داسے دی چه په بیت المقدس کښې نشی موندلے په دے وجه خانه کعبې ته په دۀ باندے فوقیت او برتری حاصل دۀ.

۱۲۱ د کفر نه مراد د فرضیت د حج نه انکار دے څنګه چه د ابن عباسؓ او نورو حضراتو نه نقل دی ای جحد فرضية الحج وهو قول ابن عباس والحسن وعطاء (مدارک ج۱) او ممکن ده چه د کفر نه مراد کفران نعمت او ناشکری وی وتجوزان یکون من الکفران ای ومن لم یشکر ما انعمت علیه من صحة الجسم وسعة الرزق ولم یحج (مدارک) یعنی چا چه د حج د فرضیت نه انکار وکړو د الله د دورکړے شوی جسمانی صحت او د رزق د فراخئ شکریه ادا نه کړو او د حج فریضه یے په ځائی رانه وړه هغه الله ته هیڅ نقصان او نه رسولو هغه خپل نقصان وکړو ځکه چه الله تعالیٰ ته د خلقو د عبادت ضرورت نشته هغه د دوی د عبادت او طاعت نه بے پروا دے.

۱۲۲ اول یے د اهل کتابو د شبهاتو جواب ورکړو او س دلته یے تنبیه ورکړه چه اے اهل کتابو! تاسو د الله د ایتونو نه ولے انکار کوئ حالانکه الله تعالیٰ ستاسو ټول ظاهری و باطنی عملونه ښه پیژنی او هغه به ستاسو په بد عملونو باندے پوره پوره سزا درکوی او د اهل کتابو نه د یهودو او نصاراؤ علماء مراد دی څنګه چه د حضرت حسن نه روایت دے. قال الحسن هم علماء اهل الکتاب (قرطبی ج۴)

۱۲۳ د سبیل الله نه مراد توحید او دین اسلام دے کوم خلقو چه به دین اسلام قبلولو د یهودو او نصاراؤ علماؤ به په مختلفو حیلو او بهانو سره د هغوی په زړونو کښې شبهات اچول او د اسلام نه به یے د هغوی د بندولو کوشش کولو الله پاک هغوی په دے باندے ملامته کړل وهو الاسلام وکانوا یمنعون من الدخول فیه بجهدهم وجهدهم (روح ج۴) وکان صدهم عن سبیل الله بالقاء الشبه والشکوك فی قلوب الضعفة من المسلمین (قرطبی ج۴)

۱۲۴ تبغونها کښې ضمیر منصوب سبیل الله طرفته راجع دے او د دے نه وړاندے لام محذوف دے. تطلبون لها بحذف اللام مثل واذا کالوهم (قرطبی ج۴) ای تبغون لها (روح ج۴) عوج نه کوږوالے او د حق نه په ړنګول مراد دے وانتم شهداء د تصدون یا تبغون فاعل نه حال دے مطلب دا دے چه تاسو د دین اسلام د توحید مسئلو او د محمد ﷺ صداقت ښه پیژنئ او تاسو ته معلومه دۀ چه په تورات او انجیل کښې د کوم اخری نبی بشارت دے هغه هم دا دے کوم چه تاسو نن دروغژن ګنړئ او تاسو ته دا هم معلومه دۀ چه دین اسلام حق دین دے او توحید د ټولو نبیانو علیهم السلام دین دے په دے وجه تاسو مونږ دپوه خلق د دین اسلام نه ولے منع کوئ او د هغوی په زړونو کښې شکونه او شبهات اچولو سره هغوی د اسلام او توحید نه او د پیغمبر اسلام ﷺ نه ولے بدګمانه کوئ وانتم شهداء ان

فی التوراة مکتوبا ان دین الله الذی لا یقبل غیره الاسلام وان فیه نعت محمد صلی الله علیه وسلم (روح ج ۳ ص ۱۹)
ای کیف تفعلون هذا وانتم علماء عارفون بتقدم البشارة به صلی الله علیه وسلم مطلعون علی صحة نبوته الخ (روح)
ف۱۳۳ د یهودیانو عالمانو او پیراتو به د مسلمانانو په زړونو کښې شبهات پیدا کول او هغوی به
یې د توحید او دین اسلام نه هر وخت اړولو کښې مصروف وو. الله تعالیٰ د هغوی دا اعتراضونو
او شبهاتو جواب ورکړو او مسلمانانو ته یې تنبیه ورکړه چه هغوی د دوی د دهوکو نه
هوښیار اوسي او د دوی په خبرو کښې رانه شي بلکه د الله په کتاب باندې عمل اوکړي او د
هغه د رسول اتباع اوکړي او د دې قسمه مُلایانو او کړه نشینو نه لرې اوسي.
ف۱۳۴ دا مؤمنانو ته تنبیه ده چه کوږ څیر ته داسې اُو نشي چه په تاسو د الله ایتونه هم
نازلیږي چه په هغې کښې د توحید تول اړخونه او د اسلام تول احکام هم په تفصیل سره
بیانولې شي او د الله د ایتونو صحیح مفهوم او منشاء بیانولو د پاره او په زړه کښې د
پیدا کیدونکو شکونو او شبهاتو لرې کولو د پاره په تاسو کښې د الله رسول هم موجود دې
او بیا تاسو د اهلِ کتابو په دهوکه او فریب کښې ګیر شئ او د اسلام نه واپس شئ.
یوه شُبه :- بریلوي صاحبان په دې ایت سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حاضر ناظر کیدو
باندې استدلال کوي ځکه چه وَفِيكُمْ رَسُولُهُ (یعني د الله رسول په تاسو کښې موجود دې)
کښې تولو مسلمانانو ته خطاب دې نو د دینه معلومه شوه چه نبي علیه السلام نن هم هر ځائې
د دُنیا مسلمانانو کښې موجود او حاضر او ناظر دې.
جواب :- د دې جواب دا دې چه د دې ایت سیاق او سباق دا ښائي چه د دې مخاطب
حضرات صحابه کرام رضي الله عنهم دي چا ته چه الله براه راست دا احکام ورکړل تول اُمت مخاطب
نه دې او که چرې فرض کړې شي چه خطاب تول اُمت ته دې نو په دوی کښې د رسول
د موجودیدو مطلب به دا وي چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم سُنت د هغوی د نبوت دلائل او د
هغوی اُسوۂ حسنه او هغوی چه په اُمت کښې کوم قُران پریښې دې هغه دوی کښې موجود
دې په دې وجه د دې ایت د بریلیانو د دې باطلې عقیدې حاضر ناظر سره هیڅ تعلق
نشته ځکه چه علامه قرطبي د امام زجاج نه نقل کړیدي. یجوز ان یکون هذا الخطاب
لاصحاب محمد خاصة لان رسول الله صلی الله علیه وسلم کان فیهم وهم یشاهدونه ویجوز ان یکون هذا
الخطاب لجمیع الامة لان اثاره وعلاماته والقرآن الذی اوتی فینا مکان النبی صلی الله علیه وسلم فینا وان
لم نشاهده (قرطبي ج ۴ ص ۱۵۵) او علامه سید محمود آلوسي حنفي لیکي والاکثرون علی تخصیص هذا الخطاب
باصحاب رسول الله صلی الله علیه وسلم او الاوس والخزرج منهم ومنهم من جعله عاما لسائر المؤمنین وجمیع الامة
وعلیه معنی کونه صلی الله علیه وسلم فیهم ان اثاره وشواهد نبوته فیهم لانها باقیة حتی یاتی امر الله (روح ج ۴ ص ۱۶)
ف۱۳۶ د اعتصام نه مراد په الله باندې ایمان راوړل او د هغه په دین باندې مضبوطیا سره
قائم پاتې کیدل. المراد بالاعتصام بالله الایمان به سبحانه والتمسک بدینه کما قاله ابن جریر (روح ج ۴ ص ۱۶)
دلته یې د اهلِ کتابو له طرفه د اچول شوو شبهاتو د بد اثر نه د محفوظ اوسیدو د اکسیرې
نسخې بیان اوکړو او هغه دا چه کوم سړې په الله ایمان لاوړي او د هغه په دین باندې په مضبوطیا

سره قائم شي نو هغه هیڅ کله نشي ګمراه کیدے او نه شبهاتو سره د هغه ایمان متزلزل کیدے شي. او کیدے شي چه د اعتصام نه په الله باندے توکل او بهروسه کول مراد وي. لکه چه د ابوالعالیه نه نقل شوي دي المراد منه الثقة بالله تعالیٰ والتوکل علیه والالتجاء الیه (روح) نو مطلب به دا دي چه کوم انسان په الله باندے بهروسه اوکړي او خپل ماوي او ملجاء هغه اوګرځوي نو هغه به د ټولو شبهاتو نه محفوظ اوساتي ومن یجعل ربه ملجأ وفزعا عند الشبه یحفظه عن الشبه (مدارک ص۱۳۵ ج۱)

دویمه حصه

دا په دریو امورو باندے مشتمل ده (۱) جهاد (۲) انفاق (۳) د جهاد متعلق دیوے شبهے جواب. په شروع کښ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ دیو لسمے رکوع نه اِنَّ اللّٰهَ بِمَا يَعْمَلُوْنَ مُحِيْطٌ دولسمے رکوع پورے د جهاد د ترغیب بیان دے د کافرانو د طرفنه دا شبهه شوے وه چه پیغمبر خدا صلی الله علیه وسلم او د هغه ملګرو ته په جنګ احد کښ شکست اوشو او هغوی ته د یر زیات نقصان اورسیدو که چرے هغه واقعي پیغمبر وے نو هغه ته به شکست نه وے شوے او نه به ورته نقصان رسیدلے وے. وړاندے به دے تفصیلي جواب ورکړو چه د هغے خلاصه دا ده چه مونږ خو وعدے مطابق فتح ورکړے وه لیکن د مسلمانانو نه کوتاهي اوشوه چه هغوی مورچه پریښوده او د هغوی فتح وقتي شکست سره بدله شوه.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ حَقَّ تُقٰتِهٖ وَلَا تَمُوْتُنَّ

اے ایمان والو! ویره اوکړئ د الله نه څنګه چه یکاره ده د هغه نه ویره او

اِلَّا وَاَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ ﴿۱۰۲﴾ وَاعْتَصِمُوْا بِحَبْلِ اللّٰهِ جَمِيْعًا وَّلَا

مه مرئ مګر مسلمانان ګڼله او مضبوط اونیسئ رسئ د الله ټوله او بیل بیل مه کیږئ

تَفَرَّقُوْا ۠ وَاذْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ اِذْ كُنْتُمْ اَعْدَآءً

او اختلاف مه پیدا کوئ او یاد کړئ احسان د الله خپل ځان باندے چه کله تاسو وئ په خپلو

فَاَلَّفَ بَيْنَ قُلُوْبِكُمْ فَاَصْبَحْتُمْ بِنِعْمَتِهٖٓ اِخْوَانًا ۚ وَكُنْتُمْ

کښ دشمنان صلح بیا یے محبت واچولو ستاسو په زړونو کښ او س شوئ د هغه په فضل سره ورونه او

عَلٰى شَفَا حُفْرَةٍ مِّنَ النَّارِ فَاَنْقَذَكُمْ مِّنْهَا ۭ كَذٰلِكَ

تاسو وئ په غاړه باندے دیوے اور د کندے بیا یے تاسو ته د هغے نه خلاصے درکړه هم داشان

يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمْ اٰيٰتِهٖ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ (١٠٣) وَلْتَكُنْ

بیانوي الله په تاسو باندې ایتونه دې دپاره چه تاسو لار بیاموئ صلا او پکار ده چه وي

مِّنْكُمْ اُمَّةٌ يَّدْعُوْنَ اِلَى الْخَيْرِ وَيَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ

په تاسو کښې یوه ډله داسې چه رابلل کوي نیک کار طرفته او حکم کوي د نیکو کارونو

وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ ۭ وَاُولٰۗىِٕكَ ھُمُ الْمُفْلِحُوْنَ (١٠٤) وَلَا

او منع کوي د بدئ نه ۱۵۱ او هم دوي او رسیدل خپل مراد ته ۱۵۲ او مه

تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ تَفَرَّقُوْا وَاخْتَلَفُوْا مِنْۢ بَعْدِ مَا

کیږئ د هغو په شان چه جدا جدا شول او اختلاف یې شروع کړو روستو د هغې نه

جَاۗءَھُمُ الْبَيِّنٰتُ ۭ وَاُولٰۗىِٕكَ لَھُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ (١٠٥)

چه اورسیده هغوي ته صفا حکم ۱۵۳ او هغوي دپاره لوئ عذاب دې ۱۵۴

نکات: ۱۔ تمسک بالقرآن او په توحید کښې د اختلاف نه د اجتناب تلقین ۲۔ د امر بالمعروف او نهی عن المنکر رسم جاري ساتلو حکم ۳۔ زجر سره د تخویف اخروي.

موضح قرآن ف۱ یو مجلس کښې مسلمانان وو او یهودیانو مسلمانان په خپلو کښې اوجنګول او نزدې وه چه تورې او چلیږي نبي علیه السلام هلته اورسیده او صلح یې اوکړه. په دې طریقه یې اوجنګول چه د مدینې خلق دوه ډلې وو د اسلام نه وړاندې خپل مینځ کښې جنګیدلي وو او د دواړو طرفونو نه ډیر خلق مړه شوي وو دې وخت کښې یهودیانو دواړو ته هغه جنګ یاد کړو او په غصه یې کړل الله پاک مسلمانانو ته خبردار کوي چه دهوکه نشئ او په خپلو کښې اتفاق غنیمت اوګنړئ او د یهودیانو په شان د اختلاف په وجه خراب نه شئ ف۲ معلومه شوه چه په مسلمانانو باندې فرض دي چه یو جماعت د دوي نه داسې وي چه جهاد کوي او د دین خبرې پورې ته کوي دې دپاره چه څوک د دین خلاف اونکړي. او څوک چه په دې باندې قائم پاتې شي هم هغه کامیاب دي او دا چه څوک د چا مذهب ته تعرض نه کوي. موسی بدین خود، عیسی بدین خود (هر څوک مخان له خپل دین جوړ کړي) دا د مسلمانانو لاره نه ده.

فتح الرحمن ف۱ یعني اوس او خزرج او عرب معدیه او یمنیه او عرب او عجم د یو بل سره دښمني کوله ف۲ یعني ډله بازي په اصول دین کښې حرام ده چه یوه ډله معتزلي وه او یوه ډله شیعه وعلی هذا القیاس. ف۳ یعني واجب کفایه ده چه یوه ډله د نیکئ کولو په حکم او د بدئ نه منع کولو باندې قائم وي. ف۴ یعني د یهودو او نصارا او په شان مه کیږئ چه څه د پاسه اویا ډلې جوړې شوې.

تفسیر | ۱۰۲ تمهید دے په دیکښې یې حکم اوکړو چه تاسو په ظاهر او باطن او په ښکاره د الله نه او ویریږئ او د هغه د احکامو تابعداری اوکړئ او ترمرګه پورے په توحید او دین اسلام باندے قائم اوسئ او صرف د الله عبادت کوئ او هیڅوک دهغه سره شریک مه جوړوئ، ای مخلصون نفوسکم لله عزوجل لا تجعلون فیها شرکة اسواه اصواء (۲ ...)

۱۰۲ مطلب دا دے چه ترڅو په زړه کښې د الله ویره نه وی او په سینه کښې د توحید او اسلام د ژوندی سماتلو جذبه نه وی تر هغے پورے هیڅوک جهاد ته نشی تیاریدے.

۱۰۳ حبل الله (د الله د رسۍ) نه مراد دلته قرآن دے ځکه چه یو روایت سره د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه نقل دی عن ابی سعید الخدری قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم کتاب الله هو حبل الله الممدود من السماء الی الارض (ابن جریر ص۲۲ ج۴) او د اعتصام معنی تمسک او مضبوطتیا سره نیول دی مطلب دا دے چه په قرآن کښې الله تعالی کوم احکام نازل کړیدی په هغے باندے قائم اوسئ ولا تفرقوا په کوم کتاب او دین حق باندے چه تاسو ته د قائم اوسیدو حکم درکړے شوید ے د هغے نه جدا ئی مه اختیاروئ ولا تفرقوا عن الحق الذی امرتم بالاعتصام به (روح ص۱۹ ج۴) یا مطلب دا دے چه په خپلو کښې په اتفاق او محبت سره اوسئ د مخالفت او دښمنۍ نه پرهیز اوکړئ نهی عن المعاداة والمخاصمة فانهم کانوا فی الجاهلیة مواظبین علی المحاربة والمنازعة فنهاهم الله عنها (کبیر ص ...) ځکه چه ترڅو پخپلو کښې اتفاق او اتحاد نه وی تر هغے پورے په جهاد کښې کامیابی نه شی کیدے.

۱۰۳ په دے ایت کښې د اسلام نه وړاندے د جاهلیت د زمانے په خپلو کښې د دښمنۍ طرفته اشاره ده د کفر د زمانے دښمنۍ او جنګونه چه پښت په پښت راچلیدل د اسلام په برکت سره ټول ختم شول د انصارو دوه قبیلے خزرج او اوس وو د دوی په مینځ کښې د ښو پیړو نه د جنګ جګړے او دوښمنۍ تو یولو سلسله راچلیدله چه کله دے دواړو قبیلو اسلام قبول کړو نو د هغوی دښمنۍ ختمه شوه جنګونه موقوف شول او په خپلو کښې د رونړو پشان په محبت او الفت سره اوسیدل. الله تعالی دلته د هغوی د پخوانۍ دښمنۍ ذکر اوکړو. د اسلام په ذریعه د محبت او الفت پیدا کولو د نعمت ذکر یې اوکړو دے د پاره چه هغوی ته د دے نعمت د قدر احساس په ښه طریقه اوشی او دلته د نعمت نه مراد اسلام دے د کوم په برکت سره چه محبت او الفت پیدا شو امر تعالی بتذکیر نعمه واعظمها الاسلام واتباع نبیه محمد علیه السلام فان به زالت العداوة والفرقة وکانت المحبة والالفة الخ (قرطبی ص۱۶۴ ج۴)

۱۰۳ د شفا معنی غاړه ده او حفرة من النار نه مراد جهنم دے چونکه هغه خلق مخکښې مشرکان وو په دے وجه هغوی د جهنم په غاړه ولاړ وو صرف د مرګ انتظار وو د مرګ سره جهنم ته رسیدل لیکن الله تعالی هغوی ته د اسلام نعمت ورکړو او په دے طریقه یې د جهنم نه بچ کړل. ای وکنتم علی طرف حفرة من جهنم اذ لم یکن بینکم وبینها الا الموت (روح ص۱۹ ج۴) وکنتم مشفین علی ان تقعوا فی نار جهنم بما کنتم علیه من الکفر فانقذکم منها بالاسلام (مدارک ص۱۳۵ ج۱) دلته الله تعالی صحابه کرام مخاطب کړل او په هغوی باندے د دوه نعمتونو ذکر کړیدے یو دنیوی یعنی په دنیا کښې په خپلو کښې محبت او د اتفاق پیدا کیدل او دویم اخروی یعنی په اخرت کښې د جهنم نه بچ کیدل.

فائده: دغه آیتونه د صحابه کرامو ؓ د بیرلوئی فضیلت ثابتیږی د صحابو د دشمنانو شبهه کیږی ه چه د هغوی په خپلو کښې عداوت او دُشمنی وه لیکن په دغه آیت کښې الله تعالیٰ فیصله اوکړه چه د اسلام راوړلو نه روستو په صحابو کښې عداوت او دُشمنی نه وه پاتې شوې بلکه د هغوی په خپل مینځ کښې محبت او الفت پیدا شوې وُو هغوی په خپلو کښې رونړه رونړه شوی وو او دویمه فیصله الله دا اُوفرمائیله چه هغوی ئې د جهنم د اُور نه بچ کړل د جنت حقدار ګرځولې شوی دی۔ وذلك فضل الله یؤتیه من یشاء۔

۱۵۱ د خیر لفظ عام دے امر بالمعروف او نهی عن المنکر دواړو ته شامل دے ددے ذکر نه د تعمیم نه روستو تخصیص ددے دواړو کارونو د اهمیت او فضیلت اظهار د پاره دے. معروف هر هغه کار دے چه د کتاب او سُنت موافق وی او منکر هغه کار دے چه د دے خلاف وی۔ المعروف ما وافق الکتاب والسنة والمنکر ما خالفهما (مدارک ج۱ ص۱۳۷) اول الله تعالیٰ مسلمانانو ته د ایمان او تقوی په ذریعه د خپلې اصلاح حُکم ورکړو بیا ئې ارشاد اُوفرمائیلو چه د خپلې اصلاح نه روستو د نورو اصلاح طرف ته توجه ورکړئ لما انتقل الی مخاطبة المؤمنین امرهم اولا بالتقوی والایمان ثم امرهم بالسعی فی القاء الغیر فی الایمان والطاعة (کبیر ج۳ ص۲) او مطلب دا چه امر بالمعروف او نهی عن المنکر کوم سلسله په تاسو کښې جاری ده په هغې قائم اوسئ دا سلسله پریږدئ. دا مطلب نه دے چه اوس دا سلسله شروع کړئ ځکه چه دا سلسله خود مخکښې نه موجوده وه بقرینهٔ کنتم خیر امة۔ حضرت شاه عبدالقادرؒ فرمائی چه په مسلمانانو باندے فرض دی چه د دوی یو جماعت قائم وی د جهاد کولو او د دین د خبرو خیال ساتلو د پاره دے د پاره چه څوک د دین خلاف څه اُونکړی څوک چه دے باندے قائم پاتے شی هغوی کامیاب دی او دا چه څوک چا سره څه تعرض اُونکړی. موسیٰ بدین خود او عیسیٰ بدین خود دا د مسلمانانو لاره نه ده.

۱۵۲ دلته حصر د فلاح کامل په اعتبار سره دے نه چه د فلاح مطلق په اعتبار سره ای هم الاخصاء بالفلاح الکامل (مدارک ج۱ ص۱۳۷) ۱۵۳ دا د مسلمانانو د پاره زجر دے او ورسره تخویف اُخروی دے د حالاتو د اصلاح حُکم ورکولو نه پس ئې دوباره د تفرق او اختلاف نه منع اوکړه او د اختلاف په صورت کښې ئې د اُخروی عذاب نه اووېرول دے د پاره چه د مسلمانانو په زړونو کښې د اتفاق او محبت جرړے مضبوطے شی او په میدان جنګ کښې بنه په زړه د کافرانو مقابله اوکړے شی. تفرقوا او اختلفوا بعضې مفسرینو په یوه معنیٰ کښې اخستې ده. او تکرار لفظ ئې په تاکید محمول کړیدے او د اختلاف نه مراد د الله تعالیٰ توحید او د دین په نورو اصولو کښې اختلاف مراد دے او بعضې مفسرینو د تفرقوا نه په خپلو کښې دُشمنی او د اختلاف نه مراد مذهبی اختلافات اخستی دی واختلفوا فی التوحید والتنزیه واحوال المعاد قیل وهذا معنی تفرقوا وکرره للتاکید وقیل التفرق بالعداوة والاختلاف بالدیانة (روح ج۴ ص۲۳) او د الذین نه مراد یهودیان او نصاریٰ دی چه هغوی په توحید او د دین په نورو اصولو کښې اختلاف اوکړو. وهم الیهود والنصاری فانهم اختلفوا وکفر بعضهم بعضا (مدارک ج۱ ص۱۳۷) یعنی الیهود والنصاری فی قول جمهور المفسرین (قرطبی ج۴ ص۱۶۶) او د بینات نه مراد د تورات او انجیل هغه صریح او واضحه آیتونه دی چه په هغې کښې د دین اسلام

توحید او صداقت محمد ﷺ وغیره تفصیلي ذکر موجود دے او چه دغه
دپاره هیڅ قسمه اختلاف کول پکار نه وو من بعد ما جاءهم في التوراة والانجيل تلك النصوص هغوی
الظاهرة الخ (کبیر ۲۸ ج ۳) واولئك لهم عذاب عظيم. اولئك سره دے اختلاف کوونکو طرف ته
اشاره ده یعنی کوم خلقو چه په دین کښې اختلاف او تفرقه اچولے ده هغوی دپاره لوئی
عذاب دے دا شان په دیکښې مسلمانانو دپاره زجر دے.

يَوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوهٌ وَتَسْوَدُّ وُجُوهٌ ۚ فَأَمَّا الَّذِينَ

په کومه ورځ چه به سپین وی ځینې مخونه او تور به وی ځینې مخونه ۱۵۴ نو هغه خلق چه

اسْوَدَّتْ وُجُوهُهُمْ أَكَفَرْتُمْ بَعْدَ إِيمَانِكُمْ فَذُوقُوا

تور شی د هغوی مخونه هغوی ته به او ویلے شی ایا تاسو کافران شوئ د ایمان راوړلو نه پس ۱۵۵

الْعَذَابَ بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُونَ ﴿١٠٦﴾ وَأَمَّا الَّذِينَ ابْيَضَّتْ

اوس اوڅکئ عذاب په بدله د هغه کفر کښې ۱۵۶ او هغه خلق چه سپین شی مخونه

وُجُوهُهُمْ فَفِي رَحْمَةِ اللَّهِ ۖ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿١٠٧﴾

د هغوی نو په رحمت کښې دی د الله هغوی به په دیکښې همیشه اوسی ۱۵۷

تِلْكَ آيَاتُ اللَّهِ نَتْلُوهَا عَلَيْكَ بِالْحَقِّ ۗ وَمَا اللَّهُ

دا حکمونه دی د الله مونږ ئے اوروو تا ته ټهیک ټهیک ۱۵۸ او الله ظلم کول نه

يُرِيدُ ظُلْمًا لِلْعَالَمِينَ ﴿١٠٨﴾ وَلِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا

غواړی په مخلوق باندے ۱۵۹ او الله دپاره دی څه چه په اسمانونو کښې

فِي الْأَرْضِ ۚ وَإِلَى اللَّهِ تُرْجَعُ الْأُمُورُ ﴿١٠٩﴾ كُنْتُمْ خَيْرَ ع ١١ ٢

دی او څه چه په زمکه کښې دی ۱۶۰ او الله طرفته رجوع ده د هر کار ۱۶۱ تاسو یئ بهتر د

أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ

امتونو نه چه لیږلے شوے په عالم کښې ۱۶۲ حکم کوئ د ښه کارونو او منع کوئ د

عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ ۗ وَلَوْ آمَنَ أَهْلُ الْكِتَابِ لَكَانَ

بدو کارونو نه او ایمان راوړئ په الله باندے ۱۶۳ او که چرے ایمان راوړے وے اهل کتابو نو ددوی

خَيْرًا لَّهُمْ ۚ مِنْهُمُ الْمُؤْمِنُونَ وَأَكْثَرُهُمُ الْفَاسِقُونَ (۱۱۰)

و ب پاره بهتره وه ۱۶۳ ځینې د دوی نه په ایمان باندې دی او اکثر د دوی نه نافرمانه دی

نکات: ۱ بشارت أخروي. ۲ په توحید باندې نقلي دلیل مجرد او تشجیع علی الجهاد. ۳ د توحید خوړونکو او د شرک تردید جاري ساتلو ترغیب. ۴ زجر سره د ترغیب الی التوحید.

موضح قرآن: ف معلومه شوه چه تور مخونه د هغه چا دي چه په مسلمانۍ کښې کفر کوي یعنې په خوله خو کلمه د اسلام وائي او عقیده د اسلام نه خلاف ساتي تو لې گمراه فرقې هم دا حکم لري. ف یعنې د جهاد او د امر بالمعروف کولو حکم یې چه او کړه دا ظلم نه دې په خلق خدای باندې د یکښې د دوی تربیت دې ف یعنې په جهاد کښې چه د خلقو ځان او مال هلاک شي نو د مالک حکم سره دې تول خیزونه د الله مال دې تک دا امت د هر امت نه بهتر دې د دوو صفتونو سره امر بالمعروف یعنې جهاد او ایمان یعنې د توحید د و مره تقین په تورو د ېښتونو کښې نشته.

فتح الرحمن: ۱ یعنې مقرر کړې شوي.

تفسیر: ۱۵۵ یوم منصوب علی الظرفیة دې او د عذاب عظیم سره متعلق دې انه نصب علی الظرف والتقدیر ولهم عذاب عظیم فی هذا الیوم (الاکبر ج۲) یعنې دا عذاب به په هغه ورځ وي چه په هغې کښې به ځینې مخونه سپین او نوراني وي او ځینې مخونه به تور وي او هغه د قیامت ورځ ده چه په هغې کښې به د مؤمنانو مخونه رڼا کونکي وي او د کافرانو مخونه به تورشي او دا حکمه چه د حشر په میدان کښې هر سړی مؤمن او کافر نیک بخت او بد بخت به د سپینو سره او پیژني - والحکمة فی بیاض الوجوه وسوادها ان اهل الموقف اذا رأوا وجه المؤمن عرفوا انه من اهل السعادة واذا رأوا سواد وجه الکافر عرفوا انه من اهل الشقاوة (خازن ج۱)

۱۵۶ دلته د دواړو ډلو انجام په تفصیل سره بیان شوی دې او د اکفرتم نه وړاندې فیقال لهم محذوف دې. ۱۵۶ د العذاب نه معهود عذاب مراد دې یعنې هغه عذاب چه د عظیم صفت سره موصوف دې. فذوقوا کښې فا فصیحیه ده چه په دې خبره دلالت کوي چه د دې ما بعد په ماقبل باندې مرتب دې او دې نتیجه ده او په بما کښې با سببیه ده مطلب دا دې چه دا عذاب د هغوي د کفر او انکار نتیجه ده په هغوي باندې ظلم نه دې.

۱۵۷ دا د مؤمنانو د پاره خوشخبري ده او د رحمة الله نه مراد جنت دې د جنت لفظ د رحمت سره تعبیر کولو کښې دې طرفته اشاره ده چه مؤمن اگرچه ټول عمر د الله په عبادت کښې تیر کړي او یوه لمحه هم د الله نافرماني نه کوي نو په اخرت کښې چه کوم انعام هغه ته ملاویږي هغه به صرف د هغه په رحمت او فضل سره ملاویږي. وانما عبر ذلک بالرحمة اشعارا بان المؤمن وان استغرق عمره فی طاعة الله تعالی فانه لا ینال ما ینال الا برحمته تعالی (روح ج۴) هم فیها خالدون او هغوي به په جنت کښې همیشه اوسي نه به هغوي ته مرګ راځي او نه به په جنت او هغې په نعمتونو باندې فنا راځي. فی جنته وکرامته خالدون باقون (قرطبي ج۱).

۱۵۴ په تِلْكَ سره نیږدې شوو آیتونو طرفته اشاره ده یعنی دا آیتونه مونږ په تاسو باندې د
اصلي حقیقت واضح کولو د پاره نازل کړل. ای تکشف ما الامر علیه فی الدنیا والآخرة (ابن کثیر ص ۳۹۱ ج ۱)
۱۵۵ مخکښې کافرانو د پاره د سخت سزا اعلانات ذکر شوي دي ورسره اعلان اوکړو چه الله تعالیٰ
ظالم نه دے هغه به ګناه د چا نه سزانه ورکوي. هغه حاکم عادل دے او ولې به نه وي چه هغه
مالک او مختار او په هر څیز باندې قادر دے او د هر څه نه خبردے په دے وجه خپل مخلوق
باندې ظلم کولو ته څه ضرورت دے. ۱۵۶ دا په توحید باندې پنځم عقلي دلیل دے او په
دیکښې جار او مجرور تقدیم د حصر فائدې د پاره دے یعنی د زمکې او آسمانونو کائنات
صرف د الله دي ټول کائنات الله پیدا کړي دي او هغه د هر څیز مالک دے او په هر څیز کښې
متصرف او مختار دے. ای له سبحانه وحده ما فیهما من المخلوقات ملکا وخلقا وتصرفا (روح ص ۳۴ ج ۴)
۱۵۷ د ټولو معاملاتو فیصله او د ټولو کارونو انجام د الله په لاس کښې دے هرکله چه د زمکې
او آسمان او د ټولو کائناتو خالق او مالک او متصرف او مختار صرف الله دے نو بیا هم هغه
د عبادت او رابللو لائق دے په دے وجه عبادت صرف د هغه کوئ او په ضرورتونو او مصیبتونو
کښې صرف هغه رابلئ قال الشیخ. په دیکښې تشجیع علی الجهاد ده یعنی ټول هر څه د الله په
قبضه کښې دي او فتح او شکست د هغه په اختیار کښې دي نو بیا په هغه باندې اعتماد اوکړئ
او د کافرانو سره جهاد اوکړئ او همت مه بایلئ هغه به ضرور تاسو ته فتح درکړي.
۱۵۸ لِلنَّاسِ د خیر امة سره متعلق دے څنګه چه د ابن عباس، ابوهریره، مجاهد، عطاء،
عکرمه او ربیع رضی الله عنهم نه نقل دي یعنی خیر الناس للناس والمعنی انهم خیر الامم وانفع الناس
للناس (ابن کثیر ص ۳۹۱ ج ۱) یعنی تاسو بهترینه اُمت یئ چه د ټولو اُمتونو نه بهتر یئ او د ټولو اُمتونو
نه د خلقو د پاره زیات فائده ورکوونکي او نفع رسوونکي یئ. حضرت شیخ فرمائي چه دلته قلتکونوا
علی ذلك محذوف دے یعنی تاسو هم په دے باندې قائم اوسئ او ستاسو عادت دِ داوي چه توحید
بیانوئ او د توحید په خاطر مشرکینو سره په جهاد کښې مصروف اوسئ. ۱۵۹ دا جمله مستانفه
ده او په دیکښې د اُمت مسلمه د افضل او خیر الامم کیدو علت بیان شوی دے هذا کلام مستانف
والمقصود منه بیان علة تلك الخیریة وکونهم خیر امة (خازن ص ۳۳۹ ج ۱) په دے آیت کښې د معروف
او منکر نه اګرچه بعض مفسرینو توحید او شرک مراد اخستے دے لیکن بهتره دا ده چه دواړه
لفظونه په عموم محمول کړے شي او د معروف نه هغه ټول نیک کارونه مراد وي کوم چه شرعًا
معروف او جائز وي او د منکر نه ټول ګناهونه مراد وي. والظاهر فی المعروف والمنکر العموم (بحر ص ۲۹ ج ۳)
او المتبادر من المعروف الطاعات ومن المنکر المعاصی التی انکرها الشرع (روح ص ۲۸ ج ۴) د غیبي د توحید نه
واخله د وړوکي نه وړوکي نیک کار پورے معروف کښې داخل دے او د شرك نه واخله د وړوکي نه وړوکي
ګناه پورے د منکر فرد دے. د دے موجوده زمانې نوي تهذیب او س نوے اکثر واچولے په منکراتو کښې
بے اضافه کړیده مثلاً سینما تهیټر، ډګم اځایونه، جم خانې، شراب خانې، میوزک سکول،
فوټو سټوډیو وغیره ټول د منکراتو اډے دي او په دیکښې څه کیږي هغه ټول منکرات دي.
او د دے نه منع کول په علماؤ وخت باندې فرض دي کوم مفسرینو چه معروف او منکر توحید

او شرک پورے مخصوص کړیږے هغوی د معروف او منکر فرد کامل طرفته اشاره کړیده
ایمان هم ځکه نورو امتونو کښې مشترک وو او د دے امت خصوصیت امر بالمعروف ونهی عن
المنکر وو په دے وجه دا خصوصیت په ذکر کښې ایمان باندے مقدم کړو دلته دیکښې دے
طرفته هم اشاره شویده چه امر بالمعروف او نهی عن المنکر اګرچه په تیرو شوو بعضو امتونو
باندے هم فرض وو لیکن امت محمدیه علی صاحبها الصلوٰة والسلام ته الله تعالیٰ د امر بالمعروف
او نهی عن المنکر کوم نظام چه ورکړیدے هغه د تیرو شوو امتونو په نسبت هر لحاظ سره کامل
او مکمل او جامع دے او د دے دعمل دائره د انسان د ژوند ټولے شعبے راګیرے کړیدی او د
اعتقاداتو نه واخله تر اعمالو پورے او د اخلاقیاتو نه او معاشیاتو نه واخله تر سیاسیاتو پورے
د ټولو شعبو د تنظیم او اصلاح ذمه واری په دے امت باندے اچولے شویده او د دی بے
خبر کړیدی چه په دنیا کښې د نظام قائم ساتلو او د دے د چلولو د پاره د شریعت حقه
اتباع اوکړے شي او هیڅ یو قدم د دے خلاف او چت نکړے شي په ایت کښې خطاب اګرچه
صحابو ته دے لیکن په قرینه د علت سره د دے نه ټول امت مراد دے قال الزجاج قوله کنتم خیر
امة الخطاب فیه مع اصحاب رسول الله صلی الله علیه وسلم ولکنه عام فی کل امة الخ (خازن ج ۱)
او د ایمان بالله نه مراد دا دے چه پوره پوره د هغه د وجود یقین اوکړے شي او د هیڅ شرک
نه بغیر د هغه طاعت او عبادت اوکړے شي او د هغه د ورکړے شوی نظام حیات په مخکښې
د انقیاد سر ښکته کړے شي ای تصدقون بالله وتخلصون له التوحید والعبادة (خازن ج ۱)

۱۶۴ د اهل کتابو د پاره د دین د قبلولو ترغیب دے د کوم په وجه سره چه دے امت ته باقی
ټولو امتونو باندے دا فضیلت درجه ملاؤ شوه یعنی اهل کتاب ایمان راوړی او د حضرت
محمد صلی الله علیه وسلم اتباع اوکړی نو دا د دنیاوی ریاست او شان او شوکت په مقابله کښې د هغوی
د پاره د دنیا او اخرت په اعتبار سره ډیر زیات بهتر او فائده مند وی ځکه چه د ایمان راوړلو
په صورت کښې به یو طرفته خو هغوی په افضل امت کښې شامل شي او بل طرفته به اخرت
کښې د اجر عظیم او د ډیر ثواب حقدار اوګرځي. او په دوی کښې چه کوم علماء دی هغوی ته به
په عوامو باندے د دنیا کښې دینی سیادت او ریاست هم حاصل وی. ولو امنوا لحصلت لهم هذه
الریاسة فی الدنیا مع الثواب العظیم فی الاخرة فکان خیرا لهم مما قنعوا به (کبیر ج ۳)

۱۶۵ دا جمله مستانفه ده او د دینه مقصود دا دے چه د اهل کتابو بعضے اهل علم او صاحب
فهم کسانو ایمان راوړیدے لکه په یهودیانو کښې عبد الله بن سلام د هغه رور او د هغه نور ملګری
او د عیسایانو نه نجاشی عدی بن حاتم وغیره لیکن د دوی اکثریت په کفر باندے دی. او
هغوی د تورات او انجیل ایتونو نه په کوم کښې چه په اخری پیغمبر باندے د ایمان راوړلو
احکام دی مخ اړولو باندے همیشه مضبوط ولاړ دی. دوی نه چه چا ایمان راوړیدے منکرینو
له هغوی نه عبرت حاصلول پکار دی. لن یضروکم الا اذی دا ترغیب الی الجهاد دے. اذی
د ضرر په مقابله کښې لږ او معمولی شان تکلیف ته وئیلے شي. الاذی بمعنی الضرر الیسیر
(روح ج ۴) او د دے نه مراد کنځل، بد رد، طعن وتشنیع او دباؤ وغیره دے الاضرار مقتصرا علی

اذی بقول من طعن فی الدین او تهدید او نحو ذالک (مدارک ج ۱) یعنی اهل کتاب به تاسو ته مالي یا جاني
نقصان نشي رسولے او نه به هغوي په تاسو باندے غلبه حاصله کړے شي پس زیات نه زیات
هغوي به ستاسو خلاف زباني پروپیګنډه، افتراء او د الله د اٰیتونو تکذیب او تحریف کوي یعني
کذبهم وتحریفهم لا انه تکون لهم الغلبة (قرطبي ج ۴)

لَن يَضُرُّوكُمْ إِلَّآ أَذًى ۖ وَإِن يُقَٰتِلُوكُمْ يُوَلُّوكُمُ

هغوي به هیڅ نقصان اونکړي ستاسو لیکن تکلیف ورکول په ژبه سره هغه او که چیرته تاسو سره جنګ وشو نو شا

الْأَدْبَارَ ثُمَّ لَا يُنصَرُونَ (١١١) ضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ أَيْنَ

به اوګرځوي ﷺ بیا به د دوي امداد نه کیږي او وهلے شو په دوي باندے ذلت چیرته چه اولیدلے

مَا ثُقِفُوٓا إِلَّا بِحَبْلٍ مِّنَ اللَّهِ وَحَبْلٍ مِّنَ النَّاسِ

شي سوا د وعدے د الله تعالى او د وعدے د خلقو ﷺ

وَبَآءُو بِغَضَبٍ مِّنَ اللَّهِ وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الْمَسْكَنَةُ ۚ

او حاصل کړه هغوي غصه د الله او لازم یے کړه د دوي د پاسه حاجتمندي ﷺ

ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَانُوا يَكْفُرُونَ بِـَٔايَٰتِ اللَّهِ وَيَقْتُلُونَ

دا ځکه چه هغوي انکار کوي د الله د اٰیتونو نه او قتل کوي

الْأَنۢبِيَآءَ بِغَيْرِ حَقٍّ ۚ ذَٰلِكَ بِمَا عَصَوا وَّكَانُوا يَعْتَدُونَ (١١٢)

پیغمبران ناحقه ﷺ دا د دے وجے نه چه نافرماني اوکړه هغوي او وحد نه اوړتل ئے

لَيْسُوا سَوَآءً ۗ مِّنْ أَهْلِ الْكِتَٰبِ أُمَّةٌ قَآئِمَةٌ يَتْلُونَ

ټ هغوي ټول برابر نه دي په اهل کتابو کښې یوه ډله ده په سمه لاره باندے لولي

ءَايَٰتِ اللَّهِ ءَانَآءَ الَّيْلِ وَهُمْ يَسْجُدُونَ (١١٣) يُؤْمِنُونَ

اٰیتونه د الله د شپے په وخت او هغوي سجدے کوي ﷺ ایمان راوړي

بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْـَٔاخِرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ

په الله باندے او د قیامت په ورځ باندے او حکم کوي د ښو خبرو او منع کوي

عَنِ الْمُنْكَرِ وَ يُسَارِعُوْنَ فِي الْخَيْرٰتِ ۭ وَ اُولٰٓئِكَ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۱۱۴﴾

د ناکاره کار د نه او جلتي کوي په نيکو کارونو باندې ۱۶۲ او هغوي دا خلق نيک بخت دي

نکات :- سلـ د اهل کتابو مومنانو د پاره بشارت ۱۲

موضح قرآن

فـ سوا د معاهدې د يهودو نه په دنيا کښې چرته هم خپل حکومت سره نه اوسيږي بغير د معاهدې د الله نه چه ﷺ رسمونه د تورات په عمل کښې اوږي د دې په طفيل سره پراته دي او د خلقو د معاهدې نه بغير يعني په يورعيت کښې د هغوي په پناه کښې پراته دي.

فتح الرحمن

صلـ يعني د زبان درازئ په سبب. صلـ يعني ليکن په عهد او ذمه سره. صلـ يعني هغه کسان چه د دوي نه مسلمانان شويدي لکه عبد الله بن سلام رضي الله عنه.

تفسير

۱۶۶ دا د ماقبل تتمه ده مسلمانانو مجاهدينو ته الله تعالیٰ اطمينان ورکړو چه اهل کتاب به ستاسو هيڅ نقصان اونکړي اول خو به هغوي ستاسو مقابلے ته رانشي اوکه چرے جرات اوکړي او مقابلے ته راهم شي نو شکست خوړلو سره به په شا لښي او په مقابله کښې به او د ريدلے نه شي- ثم لا ينصرون د مغلوب کيدو او شکست خوړلو نه پس به هغوي ته هيڅ کله هم نصرت او غلبه او قوت حاصل نه وي. اى انهم بعد صيرورتهم منهزمين لا يحصل لهم شوكة ولا قوة البتة (کبير ج ۳) يا مطلب دا دے چه د کومو مشرکينو عربو په امداد د دوي اعتماد دے د شکست په صورت کښې به هيڅوک د دوي مدد نه کوي او نه به منافقان د دوي مدد ته را اوسي دا پيش گوئي حرف په حرف صحيح او وتله اهل کتابو په هر ميدان کښې شکست اوخوړه او د هر ميدان نه په تيښته لاړل وكل هذه الاخبار وقعت كما اخبر الله عنها فان اليهود لم يقاتلوا الا انهزموا وما اقدموا على محاربة وطلب رياسة الا خذلوا (كبير)

۱۶۷ د حبل معني عهد او ذمه ده والحبل العهد والذمة (مدارک ج ۱) د حبل من الله نه مراد عقد ذمه او ادا د جزيه ده او د حبل من الناس نه مراد د خلقو د طرفه امان د نفس او د مال وغيره عهد دے اى بذمة من الله وهو عقد الذمة لهم وضرب الجزية عليهم والزامهم احكام الملة وحبل من الناس اى امان منهم لهم كما في المهادن والمعاهد الخ (ابن كثير ج ۱) حاصل دا شو چه په يهودو باندې ذلت او رسوائي مسلط شويده او هر ځائ کښې د دوي ځان او مال بے قدره دے او سوا د دوه صورتونو نه نه خو د دوي ځان محفوظ دے او نه مال او نه خو د دوي ته د عزت او وقار ژوند نصيب دے - اول دا چه هغوي د يو مسلمان حکومت ذميان جوړ شي جزيه به ورکوي او دا شان هغه د ذمے حقوق به حاصل کړي کوم چه الله د دوي د پاره مقرر کړيدي. دويم دا چه د بل يو دويم قوم د دوستئ او مدد معاهده اوکړي او په دے طريقه هغوي ته لږه امان نصيب شي د دے دواړو صورتونو نه سيوا د دنيا کښې نه د دوي خود مختار حکومت قائميدے شي او نه د دوي ځان او مال محفوظ کيدے شي نن که چرے د دنيا په يو مختصر شان حصه

باندے د یهودیانو حکومت دے نو په حقیقت کښې د هغې خپل وجود نشته هم هغه حبل من الناس د امریکې په مرسته ژوندئ نیروی. بلکه حقیقت دا دے چه د اسرائیلی حکومت وجود د مغرب د دے سیاسی خواکرو د خپل ذاتی مفاد نتیجه ده نور هیڅ نه دی۔

۱۶۸ دا د هغوی د بدعملونو سزا ده دکومه ذکر چه وړاندے راغی یعنی د هغه بد عملونو په وجه سره هغوی د الله د غضب مستحق شویدی او په دُنیا کښې په هغوی باندے د الله د غضب ظهور، د ابدی ذِلت او رُسوایئ په صورت کښې شویدے هغوی چه چرته هم دی ذلیل او خوار او د نورو محتاج دی. مسکنة نه اکثر مفسرینو جزیه مراد اخستے ده چه د ذلت او رسوائی نښه ده واکثرون حملوا المسکنة علی الجزیة وهو قول الحسن (البحر ص ۳۲) او څینو دا لفظ په فقر او تنګ ستئ باندے محمول کړیدے په یهودیانو کښې چه کوم مالداران دی هغه په شمار څو کسان دی او د هغوی اکثریت په فقر او تنګ ستئ کښې مبتلا دی او کوم چه مالداران دی هغوی هم خپله مالداری نشی ښکاره کولے فهم فی الغالب مساکین وقلما یوجد یهودی یظهر الغنی (روح ص ۳۷)

۱٦٩ په ذلك سره مذکوره سزاګانو طرفته اشاره ده او د ایات نه مراد د تورات هغه ایتونه دی په کوم کښې چه د توحید مسئله بیان شوے وه او کوم چه د رسول الله ﷺ په صداقت باندے دلالت کولو (روح ص ۳۷) یعنی دوی ته مذکوره سزاګانے څکه ورکړے شوے چه یو خو هغوی د الله د ایتونو نه انکار کولو دویم په دے وجه چه هغوی د الله د توحید بیانونکی پیغمبران په بے دردئ سره وژل. ۱۷۰ په ذلك سره کفر او د نبیانو قتل طرفته اشاره ده مطلب دا دے چه هغوی د الله د ایتونو انکار او د نبیانو علیهم السلام قتل د دے د پاره کولو چه د الله پاك د حکمونو نه نافرمانئ او د حدودو ماتولو وجے نه د هغوی زړونه تور او سخت شوی وُو. کفر او نافرمانی د هغوی طبیعت ثانیه جوړه شوے وُه او د ضد او عناد په وجه سره د هغوی په زړونو باندے مهرِ جباریت لګیدلے وُو په دے وجه د هغوی نه د ایمان او اطاعت اُمید نه وُو د هغوی نه که چرے صادریدے شی نو هغه کفر او نافرمانی او د نبیانو قتل دا سے ناکاره افعال او سخت جرمونه صادریدے شی. لیسوا سواءً: حضرت شیخ رحمة الله علیه اوفرمائیل چه کُل په قومونو باندے د الله غضب راغی نو د هغوی هر هر کس بدکار نه وی بلکه په هغوی کښې نیکوکار هم وی او په د غه سنګریزو (کانړو) کښې څنے څنے بنه او قیمتی لعلونه هم وی هم د غه حال د اهل کتابو وُو چرته چه د دوی عالمان، پیران، درویشان او ګدی نشین اکثر دُنیادار غلط کار او حق پټونکی وُو نو هلته په دوی کښې څنے د خدائ نه ویریدونکی، حق ویونکی او د توحید بیانونکی عالمان هم موجود وُو اول الله تعالے د یهودیانو د باطل پرستو او د شرك خوښونکو عالمانو د شرارتونو او د هغوی د سزاګانو ذکر اوکړو. اوس دلته د یهودیانو د هغه عالمانو او پیرانو ذکر شروع کیږی چا چه دین توحید یعنی اسلام قبول کړے وُو او بیا ئے د توحید تبلیغ او اشاعت هم کولو او په خپله هم په توحید باندے قائم وُو څرګندے چه اوفرمائیل چه اهل کتاب ټول یوشان نه دی بلکه د دوی کښې څنے داسے خلق هم دی چا ته چه الله د حق قبلولو توفیق ورکړیدے او په دین توحید او اسلام باندے نه صرف په خپله قائم دی بلکه نورو ته هم

په هغوی د مومن ور کوی او د هغه په تبلیغ او اشاعت کښې پوره پوره جهد اخلی. لځلته د استقبال د لرېښو اسواء بیان وشه د امة قائمة نه مراد دا دے چه هغوی په توحید او دین اسلام باندې ثابت دی د هغوی ایمان ډیر مضبوط دے د هغوی زړونه د شک او شبهې نه خالی دی او هغوی د الله په اطاعت او بندګئ باندې قائم دی انها ثابتة علی التمسک بالدین الحق ملازمة له غیر مضطربة فی التمسک به (کبیر ص۳) ای امة مستقیمة علی طاعة الله تعالی ثابتة علی امره لا یترکه او یتلون ایات الله الخ قال الشیخ ای یبینون التوحید ویسجدون لله خاصة یعنی هغوی توحید بیانوی او صرف الله ته سجده کوی یا په دے سره څیرو موضوعونو طرفته اشاره ده یعنی د شپې پاسی او موضوعونه کوی او په کثرت سره د قرآن تلاوت کوی. وهم یسجدون ویتلون ضمیر نه حال دے او یسجدون معنی یصلون ده ځکه چه سجده کښې تلاوت نه کیږی او د مانځه نه د تهجد یا د ماسخوتن مونځ مراد دے. وعبر بالتلاوة فی ساعات اللیل عن التهجد بالقرآن (بحر ص۳) عبر بالسجود عن الصلاة لان التلاوة لا تکون فی السجود وقیل هی صلاة التهجد وقیل هی صلاة العشاء الخ (خازن ص۳) ای یقیمون اللیل ویکثرون التهجد ویتلون القرآن فی صلواتهم (ابن کثیر ص۳۹)

۱۶۲ له د اهل کتابو مؤمنانو نے زیات مدح او تعریف اوکړو چه هغوی په الله باندې او اخرت باندې صحیح صحیح د شریعت مصطفوی مطابق ایمان لرلو او دخپل تیرو شرکیه عقائدو مثلاً د عیسیٰ د ابنیت (شوی والے) او د عزیر د ابنیت نه یے توبه ویستلے ده. د شان دخپل زور تصور اخرت نه یے هم لاس اخستے دے ځکه چه اول هغوی په اخرت کښې د شفاعت قهری قائل وو. وذلک لان ایمان اهل الکتاب فیه شرک ویصفون الیوم الاخر بغیر مایصفه المؤمنون (خازن ص۳) او بیا صرف دا نه ده چه په ځپله یے ایمان لرلو او په نیکو عملونو کښې مصروف شویدی بلکه نورو ته هم د ایمان لرلو او د اعمال صالحه دعوت ورکوی او د کفر او منکراتو نه منع کوی. او د الله د رضا په خاطر د هغه طاعت او بندګئ کښې نورو نه ډیر وړاندې تللو کوشش کوی وَاُولٰٓئِکَ مِنَ الصّٰلِحِیْنَ. یعنی د اهل کتابو نه چه کوم خلق پورته ذکر شوی صفاتو سره منصف دی. د الله په نزد د هغوی شمار په نیکو خلقو کښې دے. ای من جملة الصالحین الذین صلحت احوالهم عند الله عزوجل (خازن ص۳) تردے ځائی پورے خو د هغوی مدح او ثناء وه وړاندې د هغوی د نیکو عملونو د جزاء ذکر دے.

وَمَا يَفْعَلُوا مِنْ خَيْرٍ فَلَنْ يُّكْفَرُوْهُ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ

او کوم څه چه اوکړی هغه خلق نیک کار د هغے به هرګز بے قدری نه کیږی ۱۶۳ له او الله خبر دے

بِالْمُتَّقِيْنَ ﴿۱۱۵﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَنْ تُغْنِيَ عَنْهُمْ

د پرهیزګارانو نه ۱۶۳ ف هغه خلق چه کافران دی هرګز به په کار رانشی هغوی ته د هغوی

مْوَالُهُمْ وَلَآ اَوْلَادُهُمْ مِّنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا ؕ وَاُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ

مال او نه اولاد د الله په مخکښې هیڅ هم ګټه او هم هغه خلق اوسیدونکی

النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۱۱۶﴾ مَثَلُ مَا يُنْفِقُوْنَ فِيْ هٰذِهِ

دي په اور کښې د دوزخ هغوی به همیشه هغه اور کښې اوسي ۱۱۶ کوم شئ چه خرچ کوي دوی په دنیا په ژوند کښې د

الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا كَمَثَلِ رِيْحٍ فِيْهَا صِرٌّ اَصَابَتْ حَرْثَ

هغې مثال داسې دے لکه یوه هوا چه په هغې کښې وي ډیره یخني اورګي بانديې

قَوْمٍ ظَلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ فَاَهْلَكَتْهُ ؕ وَمَا ظَلَمَهُمُ اللّٰهُ

دهغه قوم چه هغوی په خپل حق کښې زیاتے کړے دی بیا یې هغه تباه کړل ۱۱۷ او الله په هغوی باندې ظلم

وَلٰكِنْ اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴿۱۱۷﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا

او نکړو لیکن هغوی په خپلو ځانونو باندې ظلم کوي ۱۱۷ ف ۲ صط اے ایمان والو! مه

تَتَّخِذُوْا بِطَانَةً مِّنْ دُوْنِكُمْ لَا يَاْلُوْنَكُمْ خَبَالًا ؕ وَدُّوْا

جوړوئ رازدار غوندې خلق د خپلو نه سوا ۱۱۸ هغوی کمے نکوي ستاسو خرابولو کښې هغوی

مَا عَنِتُّمْ ۚ قَدْ بَدَتِ الْبَغْضَآءُ مِنْ اَفْوَاهِهِمْ ۚۖ وَمَا تُخْفِيْ

خوشحالیږي چه تاسو خوږ په تکلیف کښې یئ راوتلې دُشمني دهغوی د ژبو نه ۱۱۸ او کوم چه پټ دي د

صُدُوْرُهُمْ اَكْبَرُ ؕ قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ الْاٰيٰتِ اِنْ كُنْتُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿۱۱۸﴾

هغوی په سینو کښې هغه د دې نه ډیر زیات دی. مونږ او ښودل تاته د هغوی پتے که چرے تاسو کښې عقل وي ۱۱۸ ف

نکات: ۱- د اهل کتابو مشرکانو د پاره تخویف اُخروی ۲- د مشرکانو مال خرچ کول ضائع دي او د شبې جواب ۳- زجر مؤمنانو د پاره داسې مشرکینو سره دوستي مه ساتئ.

موضح قرآن: ف په یهودیانو کښې یخه اووه حق پرست کسان وُو هغوی مسلمانان شو ددوی سردار عبد الله بن سلام وُو الله تعالیٰ په هر ځائې کښې د اهل کتابو د مذمت نه دوی او باسی داهم هغوی ذکر دُو. ف یعني کوم مال یې چه خرچ کړو او د الله په رضا یې ونکړو په اخرت کښې د هغې ورکړه او نه ورکړه برابره ده. ف یعني مسلمانانو له کافرانو سره دوستي نه ده پکار هغوی هر قسمه ددوی دُشمنان دی.

فتح الرحمٰن

ص۲ حاصل دا دے چه د دوی صدقات به برباد شی. ص۳ یعنی غیر د مسلمانانو نه.

تفسیر

۱۴۳ له د ایمان ۷ اولونه پس اوس چه هغوی هر نیک کار کوی د هغے د اجر ثواب نه به نشی محروم کولے بلکه د هغوی د عملونو پوره پوره بدله به ملاویږی او د هغوی مخکنے کفر او د هغوی تیر شوی گناهونه به په هغے اثر اچوونکی نه گرځی. ای لن یحرموا ثوابه الجنة (روح ج۴ ص۳۵) وماتفعلوا من خیر فلن تجحدوا ثوابه بل یشکرلکم و تجازون علیه (قرطبی ج۴ ص۱۷۸)

وَاللّٰهُ عَلِیْمٌۢ بِالْمُتَّقِیْنَ پرهیزگار خلق د الله نه پټ نه دی د هغوی د نیکئ او پرهیزگارئ جزا به ضرور ورکوی. په دیکښ متقیانو د پاره د اُخروی جزا وعده ده. ومعنی علیم بهم انه مجازیهم علی تقواهم وفی ذالك وعد للمتقین ووعید للمفرطین (بحر ج۳ ص۳۶) ۱۴۴ له حضرت شیخ فرمائی چه پرمیخے الله تعالیٰ د اهلِ کتابو مؤمنانو ذکر اوکړو او د هغوی صفتونه یے بیان کړل او هغوی ته یے اُخروی بشارت ورکړو. دلته یے د اهلِ کتابو کافرانو ذکر اوکړو هغوی ته یے اُخروی تخویف ورکړو. قال مقاتل لما ذکر تعالی مومنی اهل الکتاب ذکر کفارهم وهو قوله ان الذین کفروا (قرطبی ج۴ ص۱۷۸) او د کفارو اهلِ کتابو نه دلته مراد عام دے خواه عوام وی یا خواص مریدان او متبعین وی یا علماء او گدی نشین او متبوعین ځکه چه مریدان په خپلو پیرانو او گدی نشینانو باندے خرچ کوی د هغوی په خدمت کښ نذرانے او شیرینئ پیش کوی او د هغے په ذریعه د خپلو پیرانو نه په اٰخرت کښ د نفع اُمید ساتی او په دے اُمید کښ اوسی چه د دے نذرانو او منتونو په بدله کښ به د دوی پیران د قیامت په ورځ د دوی سفارش کوی او د الله پاك د عذاب نه به یے خلاصوی د غسے پیران او گدی نشین هم په دُنیا کښ په خپل خیال کښ خپل مال په نیکو کارونو کښ خرچ کوی مثلاً د بزرگانو زیارتونه او خانقاهونه جوړوی مریدانو او زیارتونو ته نذرانے ۷ اوړونکو د پاره سرائے جوړوی او لنگر جاری کوی وغیره وغیره نو الله پاك او فرمائیل چه د یهودیانو د دے مُلایانو او گدی نشینانو او د غسے د مُریدانو په دُنیا کښ داسے دولت خرچ کول بالکل بیکاره دی. دوی ته به د دے د سړه ونجنه برابر فائده اونه رسی ځکه چه د انفاق او نورو نیکو عملونو په اٰخرت کښ مفید او نفع رسونکی کیدل په خالص ایمان او توحید باندے موقوف دی او دوی په کفر او شرك کښ ننوتلے دی.

۱۴۵ له لهذا د دوی انجام د جهنم ځائ دے او هغوی به همیشه په جهنم کښ اوسی او د اخلود فی النار د دوی په کفر او شرك باندے د قائم پاتے کیدو نتیجه ده. د دے ایت نه د معتزلو د دے خیال تردید کیږی چه فاسقان مؤمنان به همیشه په اور کښ وی ځکه چه اُولٰئك اصحٰب النار ترکیب مفید حصر دے. نو مطلب دا شو چه صرف کافران داسے جهنمیان دی چه همیشه به په جهنم کښ وی او د هغے نه به هیڅ کله هم نه ۷ اوځی نو معلومه شوه چه مؤمن گنهگار به همیشه په جهنم کښ نه وی ځکه چه د معتزلو خیال دے. ولما افادت هذه الکلمة معنی الحصر ثبت ان الخلود فی النار لیس الا للکافر (کبیر ج۳ ص۳۹) ۱۴۶ له د صِرٌّ معنی د سخته یخنی ده ځکه چه د ابن عباسؓ نه نقل دی چه الصر البرد الشدید (قرطبی ج۴ ص۱۷۸، روح ج۴ ص۳۶، کبیر ج۳ ص۵) او ظلموا انفسهم

کښې د ظلم نه مراد دا دے چه هغوی د کفر او عصیان په ذریعه خپلو ځانونو باندے ظلم اوکړو او د هلاکت او خسران حقدار شول ظلموا انفسهم بالکفر والمعاصی ومنع حق الله تعالیٰ فیه (معالم وخازن ج ۱ ص ۳۴۲)
د حضرت شیخ د تفسیر مطابق د انفاق نه دلته د یهودیانو د پیرانو په مریدانو باندے او د مریدانو په پیرانو باندے خرچ کول مراد دی. نفقه الیهود علی علمائهم (جامع البیان ص ۵۹) روسته تیر شویدی چه په آخرت کښې به کافرانو ته د هغوی مال دولت نه هیڅ فائده اونه رسی نو دلته بیوه شبهه پیدا کیږی چه کله چرے کافران په دُنیا کښې خپل مال دولت په نیکو کارونو کښې خرچ کړی نو شاید چه هغوی ته به په آخرت کښې د هغے ثواب ملاؤ شی نو الله تعالیٰ په دے آیت کښې د دے شبهے ازاله اوکړه چه د کافرانو په دُنیا کښې صدقه او خیرات کول او په نیکو کارونو کښې خپل مال دولت لګول د آخرت د اجر په اعتبار سره بالکل بے فائدے دی. په آخرت کښې به هغوی ته د دے هیڅ اجر او ثواب نه ملاویږی ځکه چه د نیکو عملونو د الله په نزد مقبول او د اجر او ثواب باعث کیدو د پاره ایمان او اخلاص په توحید کښې شرط دے او کافران د دینه محروم دی په دے وجه د هغوی عملونه باطل او ضائع دی. د کافرانو د خیرات د بے فائدے کیدو الله تعالیٰ یو ډیر آسان مثال واضح کړیدے څنګه چه د کافر او مشرک قوم شین تروتازه فصل وی لیکن هغوی د د اوړے او چینځ نه د محفوظ کولو دے هیڅ انتظام نه وی کړے او هغه د دے تازګئ ته ګوری او خوشحالیږی او د هغے د پیداوار په باره کښې ډیر اُمید لرونکے وی چه ناساپه د هوا طوفان راشی چه په هغے کښې ډیره زیاته یخنی، واوره او چینځ وی او د هغه تروتازه او شین فصل تباه او برباد کړی او د افسوس لاسونه مروړی او د هغه د دے فصل او غلے او نورے فائدے د خاوړو سره ملاؤ شی. بالکل هم دا حال د کافرانو د خیر خیرات دے څنګه چه د دے فصل والو د دے د نفع ډیر اُمید وو لیکن طوفان یا د و باران د دوی په اُمید و نو اوبه واړولے د غسے کافران په دُنیا کښې د خیر په کارونو او نورو نیکو کښې خپل دولت خرچ کوی او اُمید ساتی چه که چرے واقعی آخرت راتلونکے دے نو هغوی ته به د دے اجر و ثواب ملاویږی لیکن د کفر او شرک د وجے نه د دوی ټول عملونه باطل او ضائع دی. مثل نفقة الکافرین فی بطلانها وذهابها وعدم منفعتها کمثل زرع اصابه ریح باردة او نار فاحرقته واهلکته فلم ینتفع اصحابه بشیء بعدما کانوا یرجون فائدته ونفعه (قرطبی ج ۴ ص ۱۷۷) په مثال کښې الله تعالیٰ د کافرانو د فصل ذکر ځکه کړیدے چه د کافرانو د خیراتو تشبیه دا سے څیز سره مقصود وه چه بالکلیه تباه او برباد شوے وی او دا خبره صرف د کافرانو په فصل کښې تمونده شی ځکه چه په دُنیا کښې خو هغه د دے د نفعو نه محرومه شو خو په آخرت کښې هم هغوی ته د دے هیڅ بدله نه ملاویږی. لیکن د مسلمانانو په دُنیا کښې د مالی نقصان معامله د دے نه جُدا ده په دُنیا کښې د مالی نقصان په وجه اګرچه هغه د دے فائدے نه محرومه شی لیکن د دے نقصان په بدله کښې به په آخرت کښې د اجر او ثواب په صورت کښې هغه ته د دے بدله ضرور ملاویږی. (کبیر ج ۳ ص ۲۵) ۵۲ ظلمه د دوی نفقات او صدقات الله تعالیٰ باطل او مردود کړل او په دوی باندے یے ظلم او نکړو دا د دوی د خپل ګمراهئ نتیجه ده ځکه چه دوی د ایمان

او خالص توحید او د طاعت نه اعراض او کړو چه د صدقو او نورو نیکو عملونو د قبلیدو د پاره شرط دے او د کفر، شرک، طغیان او عصیان لارے اختیار کړه کوم چه د الله غضب طرفته بوتلل کوی. لان عملهم لم یکن لله وهم بالواحدانیة دائنون ولامره متبعون ولرسله مصدقون بل کان ذلک منهم وهم به مشرکون ولامره مخالفون ولرسله مکذبون بعد تقدم منه الیهم انه لا یقبل عملا من عامل الا مع اخلاص التوحید له الخ (ابن جریر ج۴ ص۳۶) ۱۱۸ دا آیت مؤمنانو د پاره زجر دے دیکښے د مخکښے نه بیے ترقی او کړه او وے فرمائیل چه امر بالمعروف او نهی عن المنکر هم کوئ او د غیر مسلمو سره پټه او ژوره دوستی هم مه ساتئ قاله الشیخ د بطانة معنی راز دار دوست یعنی چه د هغه په مخکښې انسان خپل ټول ملکی او ذاتی رازونه او وائی وبطانة الرجل خاصة الذین یستبطنون امره (قرطبی ج۴ ص۱۷۸) د اسلام نه وړاندے د انصارو د ځینو قبیلو د قرب وجوار په بناء باندے او د ما بین القبائلی معاهداتو په بناء باندے د یهودیانو سره دوستانه تعلقات وو دا تعلق د اسلام نه روستو انصارو هم هغسے قائم اوساتل. د هجرت نه پس چه کله مدینه منوره دار الاسلام او ګرځیده او اسلام ورځ په ورځ ترقی شروع کړه نو دے یهودیانو د انصارو د دوستانه تعلقاتو نه ناجائزه فائده اخستل شروع کړه او په مسلمانانو کښې د ننه یے سازشونه منصوبے شروع کړے په ظاهره د مسلمانانو ژور دوستان جوړ شوی وو لیکن په زړونو کښے یے مسلمانانو خلاف سخته دشمنی ساتله او د مسلمانانو نه یے پټ رازونه حاصل کړل کافرانو ته به یے رسول او په هره ممکنه طریقه به یے مسلمانانو ته د نقصان رسولو کوشش کولو په دے باندے دا آیتونه نازل شو په کوم کښې چه الله تعالیٰ مسلمانان د صورتِ حال نه خبر کړل او هغوی د یهودیانو سره د دوستانه تعلقاتو ساتلو نه منع کړل. قال ابن عباس کان رجال من المسلمین یوصلون الیهود لما بینهم من القرابة والصداقة والحلف والجوار والرضاع فانزل الله عزوجل هذه الآیة ونهاهم عن مباطنتهم خوف الفتنة (خازن ج۱ ص۳۴۲) لا یالونکم خبالا - د خبال معنی فساد او شرارت دے یعنی دا یهودیان اګرچه د ظاهری تعلقاتو په بناء باندے ستاسو خلاف جنګ کښې ښکاره نه شریکیږی لیکن په پټه به ستاسو خلاف مکر، فریب او سازشونو جوړولو کښې هیڅ کمے نه کوی.

۱۱۹ په ظاهره خو هغوی ستاسو دوستان جوړ شوی دی او ستاسو خیر خواهی کوی. لیکن د دوی د زړه خواهش دا دے چه تاسو ته هیڅ آرام، فائده او راحت حاصل نه شی او تاسو په سخت تکلیف او مشقت کښې مبتلا یئ د دوی د زړه دشمنی او اندرونی بغض او حسد د دوی د ژبو نه خو خله ظاهر شوی دے یهودیان اګرچه د خپل بغض جذبات پټوی لیکن د سختے دشمنئ په بناء ځینے وخت غیر اختیاری او غیر شعوری طور باندے د دوی د ژبو نه داسے الفاظ راوځی چه د هغے نه د دوی پټه دشمنی ظاهریږی. وما تخفی صدورهم اکبر په ژبه خو هغوی ښکاره د عداوت او تکذیب اظهار نه کوی د دوی د خبرو نه چه کوم بغض او عداوت ظاهریږی دا د هغه عداوت او بغض حسد په مقابله کښې ډیر کم دے کوم چه ستاسو خلاف د دوی په زړونو کښې پټ دے یعنی من العداوة والغیظ اکبر ای مما یظهرونه (خازن ج۱ ص۳۴۲) حضرت شاه ولی الله دهلوی فرمائی چه د یهودو او نصاراو عالمانو او پیرانو کوم حالات چه الله تعالیٰ بیان

کړېدی هغه د تن صبا علماء سوء او بد کاره پیرانو باندې په پوره طریقه سره منطبق دی. دا
شان د دې آیتونو حل اسانېږي.

۱۸۰ د کافرانو سره د ترلي موالات په باره کښې مونږ په واضحو الفاظو کښې نهیل احکام
ورکړېدي او هغه آیتونه مونږ صفا صفا بیان کړېدي په کوم کښې چه د کافرانو د دوستئ نه منع
کړې شوې ده. ای اظهرنا لکم الآیات الدالۃ علی النهی عن موالات اعداء الله تعالیٰ ورسوله صلی الله
تعالیٰ علیه وسلم (روح ج۴ ص۳۸) یا مطلب دا دے چه مونږ د یهودیانو د بغض او حسد، عناد او عداوت
علامات ښه واضحه کولو سره بیان کړېدي دے د پاره چه هغوی قولا او پیژنئ او د هغوی
نه جدا اوشئ. وقد اظهرنا لکم الدلالات الواضحات التی یتمیز بها الولی من العدو (روح ج۴ ص۳۸) قومی او ملکی
دښمنانو سره د دوستانه تعلق د سیاسی تنا تجوبه لحاظ سره ډیر زیات خطرناک دی ځکه وخت د ښمن
ته د جنګو اهمو رازونو پته اولګی چه هغه سره ډیرے اهمے جنګی او نورے تعمیری منصوبے ناکام
کېږي د جنګ کټنلو د پاره دا هم ضروري ده چه خپل خفیه جنګی تد بیرونه د دښمن د رسائی
نه اوچت اولرے او ساتلے شي د غه وخت چونکه د مسلمانانو د جنګی تیاریانو ورو دے و چې
نه مسلمانان خبر کړے شو چه محتاط اوسیږئ.

هَاأَنتُمْ أُولَاءِ تُحِبُّونَهُمْ وَلَا يُحِبُّونَكُمْ وَتُؤْمِنُونَ

وا ورئ تاسو خلق د دوی دوستان یئ او هغوی ستاسو دوستان نه دی او تاسو

بِالْكِتَابِ كُلِّهِ وَإِذَا لَقُوكُمْ قَالُوا آمَنَّا وَإِذَا خَلَوْا عَضُّوا

ټول کتابونه منئ ۱۸۱ او چه کله تاسو سره ملاوېږي وائي چه مونږ مسلمانان یو او چه کله خالي شي نو

عَلَيْكُمُ الْأَنَامِلَ مِنَ الْغَيْظِ ۚ قُلْ مُوتُوا بِغَيْظِكُمْ ۗ إِنَّ

چیچي په تاسو باندې ګوتے د غصے نه ۱۸۲ ته اووایه چه مړه شئ خپله غصه کښې الله ته

اللَّهَ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ ﴿١١٩﴾ إِنْ تَمْسَسْكُمْ حَسَنَةٌ

ښه معلوم دي د زړونو خبرے ۱۸۳ که چرے تاسو ته ملاو شي نعمت فائده

تَسُؤْهُمْ وَإِنْ تُصِبْكُمْ سَيِّئَةٌ يَفْرَحُوا بِهَا ۖ وَإِنْ

نو بدا لګي دوی ته او که چرے تاسو ته اورسي غم بدي نو خوشحاله شي هغه سره ۱۸۴ او که چرے

تَصْبِرُوا وَتَتَّقُوا لَا يَضُرُّكُمْ كَيْدُهُمْ شَيْئًا ۗ إِنَّ اللَّهَ

صبر کوئ او خان بچ کړئ نو هیڅ نقصان به او نه رسي تاسو ته د دوی د فریب ۱۸۵ بیشکه کوم څه

بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطٌ (١٢٠) وَإِذْ غَدَوْتَ مِنْ أَهْلِكَ تُبَوِّئُ

په هغو کارونو چه دوی یې کوی الله په قبضه کښې دی ئې راحاطه او (یاد کړه) چه کله ته سحر او وتلے د خپل کور نه په ځای کولو

الْمُؤْمِنِينَ مَقَاعِدَ لِلْقِتَالِ ۗ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ (١٢١) إِذْ

مسلمانان د جنګ په ځایونو باندے ۱۵۶ او الله هر څه اوری او خبردے کله چه

هَمَّتْ طَائِفَتَانِ مِنْكُمْ أَنْ تَفْشَلَا ۗ وَاللَّهُ وَلِيُّهُمَا

قصد اوکړو دوه ډلو ستاسو نه چه بزدلی اوکړی او الله مدد ګار وو د هغوی دواړو

تکات :- ۱۵۶ په جهاد کښې د کامیابئ د پاره د دوؤ شرطونو بیان، ۱۵۷ د دواړو شرطونو اوله نمونه۔

موضح قرآن

ف اکثر منافقان هم د یهودیانو سره ملاؤ وو په دے وجه د دوی ذکر سره یې د هغوی ذکر هم اوکړو اوس وړاندے یې د جنګ احد خبرے ذکر کړے چه په دیکښې مسلمانانو د بعضے کافرانو خبرے منلے وے او د جنګ نه یا تللی وو، او منافقانو د خپل نفاق خبرے ښکاره کړے وے۔

فتح الرحمن

ڡلـه په غزوهٔ احد کښې منافقان د یته مائل شو چه په ښار کښې پاتے شی او صحابو غوختل چه د جنګ د پاره د ښار نه بهر لاړ شی د هزیمت نه پس منافقانو دا د طعن ځائ اوګرځولو. او د جنګ په وخت پیغمبر علیه السلام یو کنډو باندے یو جماعت مقرر کړو چه د دے ځائ نه به نه خوزیږئ چه کله د فتح اثرات ظاهریدل شروع شو نو هغه جماعت د غنیمت په راجمع کولو شو او د پیغمبر نافرمانی یې اوکړه د دے نافرمانئ په وجه مسلمانانو ته شکست اوشو او ټول اوګښتیدل الا ما شاء الله د دے وخت کښې د نبی علیه السلام د شهادت خبر خور شو. منافقان قصداً مرتد شو نو د منافقانو د طعن په جواب کښې او د امر نه خلاف کولو تشنیع او بے وفائی الله تعالیٰ نازله کړه۔

تفسير

۱۵۱ په الکتاب کښې لام د جنس د پاره دے او مراد د دے نه ټول اسمانی کتابونه دی او د ضمیر غائب نه یهود و منافقان مراد دی دا د مسلمانانو د نیک دلئ او د یهودیانو د روایتی بغض او عداوت بیان دے مطلب دا دے چه تاسو هغوی سره دوستی هم کوئ او په ټولو اسمانی کتابونو باندے حتی چه په تورات او انجیل هم ایمان لرئ او د هغوی دا حال دے چه تاسو سره دوستی او محبت خو پریږده هغوی ستاسو کتاب یعنی قرآن باندے هم ایمان نه لری حاصل دا شو چه هغوی تاسو سره په هیڅ یوه درجه کښې انس او محبت نه ساتی۔
۱۵۲ عض انامل یعنی ګوتے چیچل دا یوه محاوره ده او هغه وخت ویلے شی چه کله انسان د ډیر غصے نه لیونے کیږی او غصے نه عملی جامه نشی اغوستولے والعض عبارة عن شدة الغيظ مع عدم القدرة على انفاذه (قرطبی ج۴ ص۱۸۳) دلته د هغوی د نفاق بیان دے مطلب دا چه د دوی نه د دوستی او

خیر خواهۍ امید بالکل بیکاره دے ځکه چه ددوی زړونه د کُفر او عناد نه پوره ډک شوی
او ددوی د ایمان دعوی بالکل منافقانه ده ستاسو په وړاندے خو هغوی د ایمان دعوی
کوی لیکن چه کله په خپلو کښ کیني نو ستاسو خلاف ډیرے سخت غصے نه غاښونه ژوي د
مسلمانانو شان او شوکت او د اسلام ترقی هیڅ کله هم نه خوښوی لیکن د اسلام او مسلمانانو
خلاف څه کولے هم نشی دے وجے نه د سختے غصے نه ګوتے را تاویوی. والمعنی اذا خلا بعضهم
ببعض اظهروا شدة العداوة وشدة الغیظ علی المؤمنین حتی تبلغ تلک الشدة الی عض الانامل. (اکبر مدنی)
۱۸۳ نبی علیه السلام ته حکم ملاو شوی دے چه نه منافقانو ته او وایه چه الله تعالیٰ د زړونو
رازونه پیژنی او هغه مونږ ته ستاسو د زړونو د ننه د کینے او بُغض اطلاع راکړی ده. باقی ستاسو
دا خواهش چه اسلام مغلوب شی او مسلمانان ناکام شی دا به هیڅ کله پوره نه شی تاسو
بیشکه په سخته غصه کښ مړهٔ شئ.
۱۸۴ خطاب مسلمانانو ته دے او په دیکښ د اسلام خلاف د منافقانو د بُغض کینے او حسد
زیات بیان دے یعنی ددوی دُشمنی دے حد ته رسیدلے ده چه هغوی ستاسو خوشحالی،
او ستاسو فتح په هیڅ قیمت نشی برداشت کولے. که چرے تاسو ته په دُشمنانو باندے
فتح حاصله شی یا په تاسو د خوشحالۍ دور راشی نو په هغے سره ددوی زړونه خفه شی لیکن
که چرے تاسو ته څه تکلیف اورسی یا تاسو په مشقت کښ پریوځئ نو په دے هغوی
ډیر زیات خوشحالیږی. ددے نه لو اینونو حاصل دا دے چه د ایمان والو خلاف د
کومو خلقو د کینے سا تنلو او د بُغض او حسد دا حال وی هغوی بالکل ددے لائق نه دی
چه هغوی خپل راز دار اوګرځولے شی خصوصاً چه کله د جهاد معامله وړاندے وی.
په کوم چه د مسلمانانو د دُنیا او د آخرت د کامیابۍ مدار دے. والمعنی فی الآیة ان من کانت
هذه صفته من شدة العداوة والحقد والفرح بنزول الشدائد علی المؤمنین لم یکن اهلا لان یتخذ بطانة
لاسیما فی هذا الامر الجسیم من الجهاد الذی هو ملاک الدنیا والآخرة. (القرطبی ص ۱۸۳ ج ۴)
۱۸۵ دا یے مسلمانانو ته د صبر او تقوی تلقین اوکړو چه د دُشمنانو د مکر او فریب او د هغوی
د چالونو نه د محفوظ پاتے کیدو یوه آسانه طریقه دا ده چه تاسو د صبر او استقلال نه کار
واخلئ د هغوی د طرف نه چه کوم تکلیفونه تاسو ته رسیږلے شی هغه برداشت کړئ په دین
اسلام باندے قائم اوسئ او د خدائ اطاعت خپل شعار جوړ کړئ او د الله نه ویریږئ او
د هغه د نافرمانۍ نه ځان بچ کړئ نو ددے نتیجه به دا وی چه د هغوی د چالونو او فریبونو
نه به تاسو ته هیڅ نقصان نه رسیږی او هغوی به تاسو ته هیڅ نقصان در نکړے شی.
دے خو کلمانو کښ الله تعالیٰ په جهاد کښ د کامیابۍ حاصلولو او د دُشمنانو د مکر فریب
نه د محفوظ کیدو د پاره ډیر مختصر طریقے سره دوه قیمتی اصول بیان کړل یو استقلال،
او دویم د الله ویره. هذا تعلیم من الله وارشاد الی ان یستعان علی کید العدو بالصبر والتقوی (مدارک ص ۱۳۶ ج ۱)
اِنَّ اللّٰهَ بِمَا یَعْمَلُوْنَ مُحِیْطٌ منافقان چه کوم څه کوی هغه د الله په علم کښ دی ددے وجے نه
هغوی به د خپلو بدو عملونو سزا ضرور بیامومی. په دے آیت کښ الله تعالیٰ ایمان والو ته تسلی

ورکړي دي ۸ او منافقانو ته یې تخویف اُخروي) ورکړي دي ۱۲۱-۱۲۹ اوس دلته خدای ته د جنګ اُحد ذکر شروع کیږي. والجمهور علی انها غزوة احد (قرطبي ص ۱۸۴) حضرت شیخ رحمه الله اوفرمائیل چه دا دې تعلق د اِنْ تَصْبِرُوْا الخ سره دې یعني که چرې تاسو همت او استقلال او استقامت نه کار اخلئ نو کافران به تاسو ته هیڅ نقصان اُونه رسوي. وړاندې د صبر او تقوی د نتائجو او د هغې د پاره د دوه نمونو بیان دې. په جنګ بدر کښې مشرکینو ته د مسلمانانو په لاس ډیر زیات ذلت او رسوائي سره شکست ورکړې شوې وو د هغوی اُویا سرداران او جنګي بهادران قتل کړې شو او اُویا ګرفتار شو او د مسلمانانو قیدیان شول مالي نقصان دې نه علاوه وو او ذلت او رسوائي دومره وه چه چا سره د سترګو لګولو قابل نه وو او س هغه شکست خوړونکو مشرکانو د انتقامي جنګ تیاریانې شروع کړې تو دیر د واقعې نه یو کال روستو د ۳ سنه په آخر کښې یې جنګي تیاریانې مکمل کړې او س د دوی تعداد درې زره وو چه په هغې کښې اُووه سوه زغره اغوستونکي دوه سوه په اسونو سواره او باقي په اُوښانو سواره وو او د هغوی جنګ کوونکې هم تش لاس نه وو مشرکان چونکه د انتقام په جوش کښې دیوانه وو دې وجې نه د ټولو قبیلو سردارانو هم په جنګ کښې د حصې اخستلو فیصله اوکړه تر دې چه د مشرکانو ښځو هم دې جنګ کښې شرکت اوکړو چه باجو او ډولونو سره به د بدر د مقتولینو مرثیې ویلې او خپل ځوانانو به یې د مسلمانانو خلاف تیزول او مسلمانانو د ساز و سامان دا حال وو چه د مجاهدینو تعداد صرف یو زر وو او په ټول فوج کښې صرف دوه اسونه وو او ټولو مجاهدینو سره تورې هم نه وې. او بیا عین هغه وخت چه کله دشمنان مخکښې راغلل او مسلمانان او س د صیا په ماتحه کښې مشغول وو عبد الله بن اُبي رئیس المنافقین د خپلو درې سوه ملګرو سره د میدان جنګ نه واپس راغې چه د هغې نتیجه دا شوه چه د مسلمانانو مجاهدینو تعداد او س صرف اووه سوه پاتې شو نبي اکرم صلی الله علیه وسلم د جنګ نه مخکښې د ټولو مجاهدینو صفونه د مناسب جنګي ترتیب مطابق جوړ کړل او مختلف فوجي دستې یې په مختلفو مورچو متعین کړل. په دې آیت کښې الله تعالی د دې صف بندئ د حالت ذکر کړې دې. والله سمیع علیم.

۱۲۲ اوله نمونه :- دا د وَاِذْ غَدَوْتَ نه بدل دې. او د طائفتان نه مراد د انصارو دوه قبیلې دي یعني د قبیلهٔ خزرج بنو سلمه او د قبیلهٔ اوس بنو حارثه. والطائفتان بنو سلمة من الخزرج وبنو حارثة من الاوس (قرطبي ص ۱۸۵) او هَمَّ په معنه اراده او حدیث نفس یعني وسوسه دواړو کښې استعمال شوې دې لیکن دلته وسوسه او حدیث نفس مراد دې والظاهر ان هذا الهم لم یکن عن عزم ..... بل کان مجرد حدیث نفس و وسوسة (روح ص ۴۴) او د فَشَل معنی بزدلي او کم همتي ده. دا سې اوشوه چه کله عبد الله بن اُبي رئیس المنافقین د خپلو درې سوه ملګرو سره د جنګ د میدان نه د ټولو سره واپس روان شو چه کله زمونږ خبره اُونه منلې شوه نو مونږ دې دوی ملګرتیا اوکړو او په مفتو کښې خپل ځانونه ضائع کړو (عبد الله بن اُبي هم نبي اکرم صلی الله علیه وسلم ته مشوره ورکړې وه چه د جنګ د پاره د مدینې بهر مه ځئ بلکه په ښار کښې دننه پاتې شئ ځکه

منظو کانو حمله اوکړه نو دلته به ورسره جنګ کوو) نو د مسلمانانو د دے دواړو ډلو د سامان
کموالی او تعداد د کم والی په وجه خیال اوکړو چه هغوی هم د وړاندے تللو په ځائی پروستو
لاړشی. غرض دا چه د دوی د بزدلئی او کم همتئ بنودلو وجه شک او نفاق یاد ایمان
کمزوری نه وه بلکه د مادی وسائلو د کمی په وجه سره د هغوی په اراده کښی کمزوری
راغله وذلك انه انما كان ذلك منهما عن ضعف و وهن اصابهما غير شك في دينهما (تیسیر ابن هشام
ج ۱ ص ۱۲۶) لیکن اوس دا اراده د وسوسے د حد نه وړاندے نه وه تلے چه الله تعالیٰ د هغوی امداد
اوکړو او د هغوی همتونه ئے بیا مضبوط کړل او خپل مدد او نصرت سره ئے هغوی مضبوط
کړل او دواړه قبیلے ئوی جوش او بهادرئ سره په جنګ کښی شریک شول او الله تعالیٰ هم
هغوی نه درګذر اوکړو او معاف ئے کړل دا د کم همتئ د اظهار اراده وقتی طور باندے
د صبر او تقوی نه د ځه اړولو نتیجه وه - دلته د صبر او تقوی نه ذهن د مادی وسائلو د
قلت او کثرت طرفته منتقل شو او فوراً ئے خرابه نتیجه مخکښی راغله.

وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ ﴿۱۲۲﴾ وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ

او صرف په الله باندے پکار ده چه بهروسه اوکړی مسلمانان او یقیناً مدد کړی وو ستاسو

اللّٰهُ بِبَدْرٍ وَّاَنْتُمْ اَذِلَّةٌ ۚ فَاتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ

الله د بدر په جنګ کښی او تاسو کمزوری وئ نو اووېرېږئ د الله نه د دے د پاره چه تاسو

تَشْكُرُوْنَ ﴿۱۲۳﴾ اِذْ تَقُوْلُ لِلْمُؤْمِنِيْنَ اَلَنْ يَّكْفِيَكُمْ اَنْ

احسان او منئ کله چه تا اووئیل مسلمانانو ته ایا تاسو له کافی نه ده چه ستاسو د

يُّمِدَّكُمْ رَبُّكُمْ بِثَلٰثَةِ اٰلٰفٍ مِّنَ الْمَلٰٓئِكَةِ

مدد د پاره رااولیږی ستاسو رب درے زره (۳۰۰۰) فرښتے د اسمان نه

مُنْزَلِيْنَ ﴿۱۲۴﴾ بَلٰٓى ۙ اِنْ تَصْبِرُوْا وَتَتَّقُوْا وَيَاْتُوْكُمْ

راکوزیدونکے ولے نه ضرور که چرے تاسو صبر اوکړو او ځان بچ ساتئ او هغوی راشی په

مِّنْ فَوْرِهِمْ هٰذَا يُمْدِدْكُمْ رَبُّكُمْ بِخَمْسَةِ اٰلٰفٍ مِّنَ

تاسو باندے د دغه وخت نو امداد به رااولیږی ستاسو رب پنځه زره (۵۰۰۰) فرښتے په

الْمَلٰٓئِكَةِ مُسَوِّمِيْنَ ﴿۱۲۵﴾ وَمَا جَعَلَهُ اللّٰهُ اِلَّا بُشْرٰى لَكُمْ

نښه دار اسونو باندے کښلے شوے او دا نه دے کړی الله ستاسو زړونه خوشحاله کړل

مطمئن او ثابت قدم اوسي په دے ایت کښې د دغه وعدے ذکر دے ﴿۱۹۲﴾ دینه. بیا چه کله دا خبر مشهور شو چه د پنځه زره سپاهیانو تر مدد د مشرکانو ته را رسیدونکے دے نو مسلمانان په دے خبر سره ډیر پریشانه شول نو الله تعالی د نورو پنځو زرو فرښتو د نازلولو وعده اوکړه لیکن بیا چه کله کرز د مشرکانو د شکست خبر واوریده نو د امداد ورکولو اراده ئیے پریښوده په دے وجه پنځه زره فرښتے هم نازل نه شوے. قال الشعبي بلغ النبي صلى الله عليه وسلم والمسلمين يوم بدر ان کرز بن جابر المحاربي يريد ان يمد المشركين فشق ذالك على النبي صلى الله عليه وسلم وعلى المسلمين فانزل الله تعالى أَلَنْ يَكْفِيَكُمْ الى قوله مسومين، فبلغ كرزا الهزيمة فلم يمدهم ورجع فلم يمدهم الله ايضا بالخمسة الاف وكانوا قدامدوا بالالف (قرطبی ص ۱۹۵ ج ۴) او د مسومین مطلب دا دے چه هغه فرښتے به مخصوص نښانانو او امتیازی علاماتو سره نازلیږی. د ایت حاصل دا شو چه په درے زره بانندے اکتفاء نه ده که چرے تاسو په صبر او تقوی بانندے قائم پاتے شئ او د مشرکانو امدادی دستے راورسی او هغوی په تاسو بانندے ناساپی حمله اوکړه نو الله تعالے به هم فوراً امتیازی علاماتو والا پنځه زره فرښتے ستاسو مدد د پاره راولیږی چونکه مشرکانو ته د دریو او پنځو زرو کسانو مدد نه وو را رسیدلے په دے وجه الله تعالے هم درے زره او پنځه زره فرښتے نه وے نازل کړے ځکه چه د فرښتو د دے دواړو جماعتونو نزول د مشرکانو د هغه موعود مدد رسیدلو سره معلق وو په دے وجه نه هغوی ته مدد راورسیده او نه فرښتے نازل شوے لیکن زر فرښتے مخکښې نازل شوے وے.

﴿۱۹۳﴾ جعله کښې ضمیر مذکوره مدد د طرفته راجع دے چه د یو زر فرښتو د بالفعل انزال او د دریو زرو او پنځو زرو د انزال د وعدے په صورت کښې ظاهر شو. العزیز یعنی داسے قدرت او طاقت والا چه د ظاهری اسبابو نه علاوه هم غلبه او فتح ورکولے شی. الحکیم چه د خپل حکمت بالغه مطابق کارونه په ظاهری اسبابو بانندے مرتب کوی یعنی په جنګ بدر کښې الله تعالے د غیبی تائید سره ستاسو د کامیابئ او فتحمندئ د پاره کوم ظاهری اسباب مهیا کړی وو دا صرف ستاسو د خوشحالئ او اطمینان د پاره وو بانندے شو فتح او نصرت نو هغه خو صرف د الله د طرفنه وه. چه داسے زبردست دے چه د دے اسبابو محتاج نه دے لیکن د خپل تکوینی حکمت د لاندے ئیے هر کار د هغې د سبب سره متعلق کړیدے د لته الله تعالی صفا اعلان کړیدے چه په حقیقت کښې کارساز او متصرف او مختار صرف الله تعالی دے فتح او کامیابی امداد او نصرت نه د پیغمبر خدا صلی الله علیه وسلم په اختیار کښې دے او نه د فرښتو. د جنګ بدر او جنګ اُحد واقعات زمونږ د وړاندے دی د صحابه کرامو مقدس جماعت د مشرکانو په مقابله کښې صف جوړ کړی دی او د سید الانبیاء صلی الله علیه وسلم ډیره عزتمنده هستی بنفس نفیس په هغوی کښې موجود دے لیکن د دے باوجود د الله مدد ته محتاج دی په بدر کښې یو زر فرښتے بالفعل د مدد د پاره په میدان جنګ کښې موجود دے دی او اته زره د راتلو د پاره د الله د حکم انتظار کښې ولاړے دی. لیکن د دے ټولو حیثیت د ظاهری سبب نه زیات نه ده حقیقی مؤثر او ناصر او مددګار صرف الله دے. جل جلاله وتعالی مجده یعنی لا تجعلوا النصر علی

الا ثلثة واجنحة وكثرة العدو فان النصر من عند الله لا من غيره والغرض ان يكون توكلكم على الله
على الملائكة الذين امدا بهم (خازن و معالم) ۹۴ ليقطع كښې لام د قصد دے او تعلق ئې د نصركم سره دے
قطع معنی قتل ده او طرف د جماعت او حصے په معنی دے ليهلك طائفة منهم بالقتل والاسر
يعنې په جنګ بدر کښې الله تعالیٰ د دے د پاره ستاسو غيبي مدد او کړو چه د کافرانو يو
جماعت ستاسو لاسونو باندے قتل شي او هغوی خوار او ذليل شي او خپلو کورونو ته ناکامه
واپس شي او د اشان د کفر زور ختم شي او د کافرانو شان او شوکت او د هغوی رعب او دبدبه
د مسلمانانو په لاس په خاوره کښې مل شي نو هم دغسے اوشوه چه په بدر کښې د کفر او شرک
لوئيه ارزان او مشران د مسلمانانو په لاس قتل شول او اويا قيديان شول .

لَيْسَ لَكَ مِنَ الْأَمْرِ شَيْءٌ أَوْ يَتُوبَ عَلَيْهِمْ أَوْ

ستا اختيار هيڅ نشته يا به توبے توفيق ورکړي دوئ ته الله تعالیٰ

يُعَذِّبَهُمْ فَإِنَّهُمْ ظَالِمُونَ ﴿١٢٨﴾ وَلِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا

يا به دوئ عذاب کړي چه هغوی په ناحقه دي ۹۵ او د الله مال دے کوم شے چه په اسمانونو

فِي الْأَرْضِ يَغْفِرُ لِمَنْ يَشَاءُ وَيُعَذِّبُ مَنْ يَشَاءُ

کښې دي او کوم شے چه په زمکه کښې دي . و به بخښي چاته چه اوغواړي او عذاب به کړي چاته چه اوغواړي

وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿١٢٩﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا

او الله بخښونکے مهربان دے ۹۶ اے ايمان والو مه خورئ

الرِّبَا أَضْعَافًا مُضَاعَفَةً وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿١٣٠﴾

سود دوچند په دوچند ۹۷ او او ويريږئ د الله نه د دے د پاره چه تاسو کامياب شئ

وَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِي أُعِدَّتْ لِلْكَافِرِينَ ﴿١٣١﴾ وَأَطِيعُوا

او بچ شئ د اهغه اور نه کوم چه تيار شويدے د کافرانو د پاره ۹۸ او حکم اومنئ

اللَّهَ وَالرَّسُولَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿١٣٢﴾ وَسَارِعُوا إِلَىٰ

د الله او د رسول د دے د پاره چه په تاسو رحم اوشي ۹۹ او منډه کړئ د بخښنے

مَغْفِرَةٍ مِنْ رَبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمَاوَاتُ وَالْأَرْضُ

طرف ته د خپل رب او جنت طرف ته چه د هغے پلنوالے دے اسمانونه او زمکه شان

أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِيْنَ ﴿۱۳۳﴾ الَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ فِي السَّرَّآءِ

تيار کړی شوی دے د پاره د پرهیزګارانو — هغوی چه خرچ کوی په خوشحالئ کښې

وَالضَّرَّآءِ وَالْكٰظِمِيْنَ الْغَيْظَ وَالْعَافِيْنَ عَنِ

او تکلیف کښې — ځغلونکي — او زغمې — غصه — او معاف کوی خلق

النَّاسِ ۗ وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۱۳۴﴾

او الله خوښوی نیکی کونکی

نکات ۱۳۳ دتوحید د دلیل عقلی اعاده ۲ د جهاد د مسئلے نه روستو د انفاق د مسئلے بیان. ۳ تخویف اُخروی ۴ مراد درجه کامله ده ۵ بشارت اُخروی ۶ د فریق لطے ذکر.

موضح قرآن ف الله تعالیٰ د پیغمبر تربیت اوکړو چه بنده له نه اختیار نشته الله پاک چه څه غواړی نو اوکړی اګرچه کافران ستاسو دُشمنان دی او په ظلم دی لیکن که اُوغواړی هدایت به ورته اوکړی او که اُوغواړی نو عذاب به ورکړی. د خپل طرفه خیرے مه کوئ. ف ۲ شاید چه د سُود ذکر یے د لته د دے د پاره اوکړو چه پورته ذکر شو د نامردئ په جهاد کښې او سُود خوړلو سره نامردی (بزدلی) راځی د دوه وجهونه یو دا چه حرام خوړلو سره د طاعت توفیق کمیږی او لوئ طاعت جهاد دے دویم دا چه سُود اخستل د بخل کمال دے ځکه چه خپل مال یے څو مره ورکړے وو هغه یے واخستو مینځ کښې د بل چا کار ، او وتلو د اهُم مفت پرے نور دی د دے ځنے ایله او غواړی نو د چا چه په مال باندے دو مره بخیل دے هغه به ځان څنګه ورکړی۔

تفسیر ۵ دے آیت تعلق د اُحد سره دے صحیح مسلم کښې راغلی دی چه په جنګ اُحد کښې د نبی علیه السلام یو غاښ شهید شو او په سر مبارک کښې یے هم زخم راغے نبی علیه السلام د زخم نه وینه پاکوله او ورسره یے دا هم فرمائیل کیف یفلح قوم شجوا نبیهم صلی الله علیه وسلم وکسروا رباعیته وهو یدعوهم الی الله تعالیٰ (صحیح مسلم ج ۲) یعنی هغه قوم ته به څنګه هدایت نصیب شی چا چه خپل پیغمبر زخمی کړو حالانکه هغه خو دوی له د الله تعالیٰ طرفته رابلی ګویا چه نبی علیه السلام هغوی د پاره هدایت مستبعد اُوګنړلو او د هغوی د هلاکت د پاره یے د ښیرو اراده اوکړه په دے باندے الله تعالیٰ دا آیت نازل کړو او د نبی علیه السلام استبعاد یے لرے کړو او هغوی ته یے د دوی د اسلام راوړلو اُمید ورکړو استبعاد لتوفیق من فعل ذالك به وقوله تعالیٰ لیس لك من الامر شئ تقریب لما استبعده واطماع فی اسلامهم (قرطبی ج ۴ ص ۱۹۹) او یتوب او یعذبهم کښې او په معنی د الا ان سره دے او مطلب دا دے چه کله نبی علیه السلام د مشرکانو د ایمان نه نا اُمیده شو او هغوی ته یے د ښیرو کولو اراده اوکړه نو الله تعالیٰ اُوفرمائیل چه د دے مشرکانو عاقبت او انجام

ځکه نه معلوم دے چه دا شان د دوی ټول امور او معاملات خما په اختیار او تصرف کښې دی
ځکه چه علم محیط او قدرت په هرڅه حاوی دے. نه خو ستا علم په هرڅیز محیط دے او
نه قدرت دے وجے نه تاسو ته د خیرو کولو اختیار نشته نو دے چه زه په دوی کښې ځنو ته
د توبے توفیق ورکړم او هغوی اسلام قبول کړی او ځوک چه په کفر قائم پاتے شی هغوی
به په همیشه عذاب کښې اخته کړم ومعنی الآیۃ لیس لك من امر مصالح عبادی شیء الا ما
اوحی الیك فان الله تعالٰی هو مالك امرهم فاما ان یتوب علیهم و یهدیهم فیسلموا او یهلکهم و یعذبهم
ان اصروا علی الکفر (خازن ص ۳۴۱) یا دا دواړه په لیقطع باندے عطف دی او مطلب دا دے چه
الله تعالٰی په جنګ بدر کښې دے د پاره ستاسو مدد اوکړو چه کافران هلاک کړی یا یے
ذلیل کړی یا هغوی ته د توبے توفیق ورکړی یا هغوی په همیشه عذاب کښې مبتلا کړی.
والمعنی ان مالك امرهم علی الاطلاق وهو الله تعالٰی نصرکم علیهم لیهلکهم او یکبتهم او یتوب علیهم ان
اسلموا او یعذبهم ان اصروا ولیس لك من امرهم شیء ان انت الا عبد مامور بانذارهم وجهادهم (روح ج ۴ ص ۵۳)
د صحیح روایتونو مطابق نبی علیه السلام مشرکانو ته ښیرے کولے په دے
باندے دا آیت نازل شو بهرحال شان نزول چه هرڅه وی دا آیت په دے دلالت کوی چه
نبی علیه السلام غیب دان او مختار کل نه وو.

۱۹۵ قال الشیخ د دلیل توحید پنځم عقلی دلیل اعاده ده په زمکه او آسمان کښې چه کوم څه
دی ټول د الله په قبضه او قدرت کښې دی هرڅیز د هغه په ملکیت کښې او د هغه د اختیار
او تصرف ما تحت دے هغه د چا په معاف کولو او سزا ورکولو کښې نه د څه سبب محتاج
دے او نه مجبور دے هغه د عام قانون رحمت دلاندے چه چا ته اوغواړی تو معاف یے
کړی او د خپل خاص قانون عدل او انصاف دلاندے چه چا ته اوغواړی نو سزا ورکوی
لیکن د هغه رحمت په غضب باندے غالب دے. وفی تخصیص التذییل به اشارة الی ترجیح جهة
الاحسان والانعام (روح ج ۴ ص ۵۳) حضرت شیخ رح فرمائی یغفر لمن یشاء من المنیبین منهم ویعذب من
یشاء من المصرین المعاندین منهم. یعنی د دوی نه چه کوم خلق الله طرفته رجوع اوکړی او توحید
او دین اسلام قبلوی نو د هغوی تیر شوی ګناهونه به معاف کړی او ځوک چه ضد او عناد
سره په کفر باندے همیشه والے کوی هغوی ته به الله عذاب ورکړی. ۱۹۶ حضرت شیخ رحمه الله
اوفرمائیل چه د ترغیب الی الجهاد نه روستو د دے ځائے نه و اخلہ د و هم یعلمون پورے ترغیب
الی الانفاق دے چه تاسو د الله په لاره کښې خرچ وله نکوئ خرچ کول خو بیر بیږده تاسو خو
چا ته قرض هم بغیر د سود نه نه ورکوئ - را شئ د الله په لاره کښې خرچ اوکړئ ځکه چه د
الله په لاره کښې خرچ کول د دوزخ د اور نه د بچ کیدو د الله د رحمت او مغفرت د استحقاق
او د دخول جنت ذریعه ده د الله دلته د انفاق فی سبیل الله طرفته بو مجیبه انداز سره ترغیب
ورکړو اول یے په مختلفو طریقو سره د مسلمانانو په زړونو کښې د جهاد جذبه پیدا کړه بیا
یے د دے نه روستو تاسو په د سود خوری نه د منع احکام نازل کړل د سودی کاروبار نه منع
هم په اصل کښې د جهاد د تقویت د پاره ده په جهاد کښې د ځان قربانی ورکول وی او ځوك

چه دومره بخیل او کنجوس وی چه که چرے چاته قرض هم ورکوی نو په هغے هم سود وصولوی
او د الله د پاره د قرض حسنه په طور د ذرے برابر هم د چاسره همدردی نشی کولے نو هغه
نه دا توقع خنګه کیدے شی چه هغه به د خپل خوږ ځان قربانی ورکړی د دے وجے نه یے
په قرض باندے د سود اخستلو نه منع اوکړه او دے په ضمن کښے دے هم جنس سره د همدردئ
او د الله په لاره کښے د خرچ کولو سبق ورکړو. اَضْعَافًا مُّضَاعَفَةً (دوچنده په دوچنده) دا قید نه
دا خیال او نکړی چه د سود مرکب نه منع شوید ه او د سود مفرد نه منع نه ده شوے بلکه دا
قید د مراعات واقعه د پاره دے ځکه چه جاهلیت کښے د سود مرکب (سود در سود) رواج زیات
وو ځکه یے د دے نه منع اوکړه لهذا په دے قید سره د سود مفرد په حرمت باندے هیڅ اثر
نه پریوځی (روح ج ۴ ص ۵۵، کبیر ج ۳ ص ۴۳) یا دا صفت د سود خوړنے د زیات قباحت ظاهرولو د پاره دے
قاله الشیخ الانور رحمه الله. وَاتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ د سود خوړنے د ممانعت نه روستو یے د
الله نه د ویریدے حکم ورکړو دے د پاره چه اول د تقوی مخدوش کونکو عملونو لاره بنده شی
او بیا تقوی په خپل کامل صورت کښے ښکاره شی. د فلاح امید یے په خوف خدا باندے مرتب
کړو او دے طرف ته یے اشاره اوکړه چه مؤمن د پاره د امید او خوف په مینځ کښے اوسیدل
یو طرف ته د د خدائے د عذاب نه ویره کوی او بل طرف ته د د هغه د رحمت او مغفرت امید هم
ساتی نه خو د بیباک شی او نه نا امیده.
۱۹۸ دا په سود خوړنے باندے سخت وعید دے او د دے نه معلومیږی چه سود خوری ګناه
کبیره ده. حضرت امام ابو حنیفه رحمة الله علیه فرمائی چه دا په قرآن کریم کښے د ټولو نه
زیات ویروونکے ایت دے ځکه چه دیکښے د الله د محارمو نه نه بچ کیدونکو ته د جهنم په هغه
طبقه کښے د عذاب ورکولو دهمکی ورکړے شویده چه په اصل کښے کافرانو د پاره تیار کړے شوے
دے کان ابو حنیفة رضی الله عنه یقول هی اخوف ایة فی القرآن حیث اوعد الله المؤمنین بالنار المعدة
للکافرین ان لم یتقوه فی اجتناب محارمه (مدارک ج ۱ ص ۱۴۲، روح ج ۴ ص ۵۶) او د اور نه د بچ کیدو مطلب دا دے
چه د هغه بدو عملونو نه ځان او ساتی کوم چه د جهنم د عذاب سبب ګرځی.
۱۹۹ نه صرف د سود په احکامو کښے بلکه د الله په ټولو اوامرو او نواهی کښے د هغه اطاعت
اوکړئ او د الله د اطاعت طریقه هم هغه ده کومه چه د هغه رسول د خپل اسوۂ حسنه او
عملی نمونے سره قائمه کړیده. لهذا د الله د اطاعت د پاره د هغه د رسول اطاعت ډیر
ضروری او لازمی دے او د رسول اطاعت عین د الله اطاعت دے. لعلکم ترحمون او د استحقاق
رحمت یے د اطاعت سره متعلق کړو او وے ښودل چه د رحمت امید صرف فرمانبردارانو
ساتل پکار دی نه چه فرمانبردارو له. د دے ایت نه د اهل سنتو د مسلک تائید کیږی او د فرقه
مرجئه د باطل خیال تردید کیږی. د اهل سنتو مسلک دا دے چه د ایمان نه روستو نیک
عملونو کول او د بدو عملونو نه ځان بچ کول ضروری دی. او د ګناهونو کونکو مؤمنانو د پاره به
عذاب وی. او مرجئه وائی چه د ایمان نه روستو هیڅ ګناه ضرر نه ورکوی او هیڅ مؤمن
د پاره به د اور عذاب نه وی د لفظ الله د ایمان والا د سود خوری نه منع کول او د نه منع کیدو

د عذاب د دهمکۍ ورکړه او بیا یې د خپل رحمت د استحقاق د پاره خپل او د خپل رسول پیروي د پاره د طاعت موقوف علیه. او ګرځولو تو دے نه معلومه شوه چه نافرماني او معصیت د الله د غضب سبب دے وفیه رد على المرجئة في قولهم لا يضر مع الايمان ذنب ولا يعذب بالنار اصلا (مدارک ص ۱۴۳) مغفرة پاندے معطوف دے او د دینه مخکښې مضاف محذوف دے ای الى اسباب مغفرة وجنة من الاعمال الصالحة (روح ص ۵۸) یعنې د بخښنې او جنت طرفته په منډه تلو سره د هغه اسبابو طرفته په منډه تلل او وړاندے کیدل مراد دی کوم چه د استحقاق مغفرت او جنت د داخلید وسبب دے. مثلاً اخلاص، توحید، جهاد او انفاق وغیره. حضرت عثمان رضی الله عنه نه نقل دی چه د دلته د موجب مغفرت نه اخلاص عبادت او توحید مراد دے والثالث انه الاخلاص وهو قول عثمان بن عفان رضى الله عنه ووجهه ان المقصود من جميع العبادات الاخلاص كما قال وما امروا الا ليعبدوا الله مخلصين له الدين (کبیر ص ۲۲۴) او د جنت پلنوالے د اسمانونو او زمکے برابر کیدل په خپل ظاهر باندے محمول دے یعنی دومره پلنوالے چه او وه اسمانونه او زمکے یو بل سره ملاؤ شي او خورولو سره چه څومره پلنوالے وي د هغے برابر به وي او ظاهره ده چه پلنوالے همیشه د اوږدوالي نه کم وي چه کله د دے جنت پلنوالے دومره دے نو د دے اوږدوالے به څومره وي. چه د هغے اندازه د الله نه سوا بل هیچا ته معلومه نه ده قال ابن عباس تقرن السموات والارض بعضها الى بعض كما تبسط الثياب ويوصل بعضها ببعض فذلك عرض الجنة ولا يعلم طولها الا الله وهذا قول الجمهور (قرطبي ص ۲۰۴) او ځنو مفسرینو فرمائيلي دي چه د دے نه خصوصیت سره د پلنوالي بیانول مقصود نه دی. بلکه دا د جنت د انتهائي فراخوالي نه کنایه ده. فليس المقصود تحديد عرضها ..... بل الكلام كناية عن غاية السعة بما هو في تصور السامعين (روح ص ۵۸) أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ، حضرت شیخ علام رحمة الله علیه او فرمائيل چه دلته فراخه جنت کوم چه د متقیانو د پاره تیار کړے شوے دے هغه دوه ډلے دی الذین ینفقون نه والله یحب المحسنین پورے د اول فریق ذکر دے او دا فریق اعلیٰ دے او د الذين اذا فعلوا نه واخلهم وهم يعلمون پورے د دویم فریق ذکر دے او دا د اول په نسبت ادنیٰ دے.

۲۲۸ دا د المتقین نعت دے او د فریق اعلیٰ په مینځ کښې د ترغیب الى الانفاق اول ځل اعاده شوي ده. ظرف د ینفقون ضمیر نه حال دے او د سراء نه فراخي او ضراء نه تنګسني مراد ده. عن ابن عباس في العسر واليسر (ابن جرير ص ۵۸) یعني هغوی په هر حال کښې د الله په لاره کښې خرچ کوي خواه دولتمند وي یا فقیر. والكاظمين الغيظ دا د فریق اعلیٰ دویم صفت دے د کظم الغیظ معنی ده غصه څکل یعني هغه خلق د غصے په حالت کښې مغلوب الغضب نه وي - بلکه غصه څکي او په هغے قابو مومي او هغے ته عملي جامه نه اغوندي وي دلته الله تعالیٰ الكاظمين الغيظ فرمائيلي دے الفاقدين الغيظ یې نه دے فرمائيلے ځکه چه غصه د غیرت او حمیت او د حرارت طبیعیه نه پیدا کیږي او د دے پیدا کیدل یو طبعي امر دے د دے وجے نه د غصے بالکل نه پیدا کیدل دا څه خوبي نه ده بلکه عیب دے. خوبي خو دا ده چه غصه راشي لیکن قابو کړے شي. والعافين عن الناس. دا د فریق اعلیٰ دریم صفت دے یعني هغوی د

شوي شي نو خلقو خطاګانې معاف کوي او په زړه کښې غصه نه ساتي د دغه قسمه خلکانو نه ساتي او د بعضه د
الکاظمين الغيظ نه اوچته ده يعني هغوي نه صرف دا چه غصه ئې اخلي او انتقام نه اخلي
بلکه د سره خطا کونکي معاف کوي او د خطا کونکي متعلق په زړه کښې هيڅ خيرښه نه ساتي
والله يحب المحسنين دا ماقبل تکمله ده او د احسان نه مراد دلته انعام دے او دا د بعضه
درجه نه اوچته ده يعني هغوي د عفوه او درګذر نه زياته په انعام او اکرام او ښه سلوک
سره پيش راځي.

وَالَّذِيْنَ اِذَا فَعَلُوْا فَاحِشَةً اَوْ ظَلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ ذَكَرُوا

او هغه خلق چه کله اوکړي څه بدکاره ګناه يا بد کار اوکړي خپل حق کښې نو ياد کړي

اللّٰهَ فَاسْتَغْفَرُوْا لِذُنُوْبِهِمْ ۪ وَمَنْ يَّغْفِرُ الذُّنُوْبَ

الله او بخښنه اوغواړي د خپلو ګناهونو ۲۰۲ او څوک دي چه ګناهونه بخښي سوا

اِلَّا اللّٰهُ ۪۫ وَلَمْ يُصِرُّوْا عَلٰى مَا فَعَلُوْا وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۳۵﴾

د الله نه ۲۰۳ او هميشه له نه کوي په هغه کار باندې او هغوي پوهيږي

اُولٰٓئِكَ جَزَآؤُهُمْ مَّغْفِرَةٌ مِّنْ رَّبِّهِمْ وَجَنّٰتٌ تَجْرِيْ

د دوي جزاء ده بخښنه د دوي د رب د طرف نه او باغونه چه د لاندې

مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ وَنِعْمَ اَجْرُ

لاندې نهرونه بهيږي هميشه به اوسي هغه خلق په دې باغونو کښې او ښه ښه مزدوري

الْعٰمِلِيْنَ ﴿۱۳۶﴾ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِكُمْ سُنَنٌ ۙ فَسِيْرُوْا فِى

ده د کار کونکو ۲۰۴ تير شويدي تاسو نه وړاندې واقعات نو اوګرځئ په

الْاَرْضِ فَانْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِيْنَ ﴿۱۳۷﴾ هٰذَا

زمکه کښې نو اوګورئ چه څنګه شو انجام د دروغ ګڼړونکو ۲۰۵ دا بيان

بَيَانٌ لِّلنَّاسِ وَهُدًى وَّمَوْعِظَةٌ لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿۱۳۸﴾ وَلَا تَهِنُوْا

دے د خلقو د پاره او هدايت او نصيحت دے ويريدونکو د پاره ۲۰۶ او سستي مه کوئ

وَلَا تَحْزَنُوْا وَاَنْتُمُ الْاَعْلَوْنَ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِیْنَ ﴿۱۳۹﴾

او مه مکوئ غم او هم تاسو به غالب اوسئ که چرته تاسو ایمان لرئ خلقه

اِنْ یَّمْسَسْكُمْ قَرْحٌ فَقَدْ مَسَّ الْقَوْمَ قَرْحٌ مِّثْلُهٗ ؕ

که چرته اورسیدلو تاسو ته زخم نو رسیدلے دے هغوی ته هم زخم دغه شان لکه

وَتِلْكَ الْاَیَّامُ نُدَاوِلُهَا بَیْنَ النَّاسِ ۚ وَلِیَعْلَمَ

او دا ورځے نمبر په نمبر بدلوو مونږ دے خلقو کښ او دے د پاره چه معلوم

اللّٰهُ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَیَتَّخِذَ مِنْكُمْ شُهَدَآءَ ؕ وَاللّٰهُ

کړی الله هغه چه ایمان دے او جوړ کړی تاسو نه شهیدان او الله

لَا یُحِبُّ الظّٰلِمِیْنَ ﴿۱۴۰﴾ ۙ

محبت نه کوی ظلم کوونکو سره هغه

نکات: ...د فریق ادنٰی ذکر ئے دوارو ډلو د پاره بشارت اُخروی ته اشاره منکره ونیل شوی د پاره.

موضح قرآن

ف یعنی د کافرانو مقابله د نبیانو سره زور د ستور دے د هر مُلک د خبر تحقیق اوکړئ نو معلومه به شی چه ردیے په نبیانو باندے هم تکلیفونه تیر شوی دی آخر د روغتن کنړو لکی خراب شو په جنګِ اُحد کښ اویا مُسلمانان کامل شهیدان شو او جنګ زیات شوے دے وجه الله تعالٰی تقویت فرمائی.

تفسیر

۲۲له دے عطف په اَلَّذِیْنَ یُنْفِقُوْنَ باندے دے او دا د مُتقیانو اَدنٰی فریق ذکر دے. ذکر الله تعالٰی فی هذه الآیة صنفا هو دون الصنف الاول فالحقهم به برحمته ومنه فهؤلاء هم التوابون (قرطبی ص۲۱۰ ج۴) د فاحشة او ظلمِ نفس مختلف تفسیرونه شوی دی ځینو وئیلی دی چه د فاحشة نه ګناه کبیره او ظلمِ نفس نه صغیره ګناه مراد ده. الفاحشة هی الکبیرة وظلم النفس هی الصغیرة (کبیر ج۳ ص۹، بحر ص۶۴ ج۳، مدارک ص۱۴۲ ج۱) او ځینو وئیلی دی چه فاحشة نه مطلق ګناه مراد ده دهغے تعلق خواه د بنده حق تلفئ سره وی یا د الله حق تلفئ سره. الفاحشة تطلق علی کل معصیة (قرطبی ص۲۱۱ ج۴) او د ظلم نفس نه د الله حقوق ضائع کول مراد دی وظلم النفس ما بین العبد وبین ربه (بحر ص۵۹ ج۳) بهرحال فاحشة کښ دهغه غشو ویشتو نکو کسانو جُرم هم داخل دے کوم چه په جنګِ اُحد کښ رسول الله صلی الله علیه وسلم په غرتیزه لاره باندے مقرر کړی او هغوی تنبیے حُکم کړے وُو چه مُسلمانانو ته اګرچه فتح حاصله شی لیکن هغوی به د ځپلو ځایونو نه نه لرے کیږی لیکن د هغوی نه په دے باره کښ کوتاهی اُوشوه دکوم ذکر چه

ورانده راغلی واب اما کان فبا طلاق اللفظ ينتظم ما فعله الرماة انتظامًا اوليًا (روح ملخصًا) دا آیت
هغه دوه ډلو ته هم شامل دے چاچه منافقانو ته کتلو سره همتونه بیللی وو لیکن الله تعالیٰ
ورته همت ورکړو - دغه شان کوم مسلمانان چه په جنګِ احد کښې په شا تښتیدلی وو او روستو
بے توبه ویستلے وه هغه هم په دیکښې داخل دی. ذکروا الله سره یے دے طرف ته اشاره اوکړه چه
هغه خلق د بغاوت او انکار د جذبے دلاندے د الله نافرمانی نه کوی بلکه د احکام الٰهی نه
د ذهول او د آخرت د سزا نه د غفلت په وجه د هغوی ګناهونه کیږی. لیکن چه کله هغوی
ته د الله حکم او د هغه وعید ورته رایاد شی نو هغوی فورًا پښیمانه شی او د الله نه د خپلو
ګناهونو معافی غواړی ۲۳ دا جمله معترضه ده دیکښې الله تعالیٰ مؤمنانو ته تنبیه
ورکړیده چه د الله نه سوا هیڅوک ګناه نشی معاف کولے نه یو پیغمبر او نه یو ولی او نه
فرشته - په دے وجه د الله نه سوا د هیچا په مخکښې د ګناه د معاف کولو درخواست
اونکړے شی. وَلَمْ يُصِرُّوا عَلَىٰ مَا فَعَلُوا وَهُمْ يَعْلَمُونَ. یعنی چه کله هغوی ته د خپلے
غلطئ احساس کیږی نو هغوی فورًا پښیمانه شی او د الله نه استغفار غواړی او سره
د علم نه په ګناه باندے همیشوالے نه کوی. اِصرار دا دے چه اِنسان بیا بیا ګناه کوی
او هرځل په زړه کښې دا وائی چه اوس ګناه کوم او صبا له به توبه اوباسم. والاصرار هو التسویف
والتسویف ان یقول اتوب غدا (قرطبی ج۴) نو د دے اصرار نتیجه دا وی چه هغه ته کله هم
د توبے توفیق نه ملاویږی او هغه هم د غسے په ګناه کښې ګیر وی او د دنیا نه لاړ شی.
۲۴ دا د دواړو د پاره مشترکه اُخروی بشارت دے چه دوی ته به معافی ملاو شی او په
طور د انعام به د جنت د عیش نه ډک او همیشه ژوند نصیب شی. په دے معافی نامه کښې هغه
ټول مسلمانان هم دی د کوم نه چه په جنګِ احد کښې په مختلفو شکلونو کښې غلطیانے او
کوتاهیانے شوے وے. ۲۵ دا تخویف دنیاوی دے او د سُنَنٌ نه مراد د تیرو شوو ملتونو
واقعات دی ای وقائع الامم المکذبة (روح ج۴) یعنی د الله توحید او د الله پیغمبرانو د دروغ
ګنړونکو د تباهئ او بربادئ ډیر واقعات ستاسو نه مخکښې واقع شویدی د هغے نه اندازه اولګوی
چه د مکذبینو څه حشر شو. په دے سره مسلمانانو ته د ګناهونو نه (مثلًا سود خوړل، په
میدانِ جنګ کښې بزدلی ښکاره کول او د امیر د اطاعت نه سرکشی وغیره) نه د بچ کیدو او
د طاعاتو (مثلًا جهاد، انفاق د امیر اطاعت وغیره) په ځائ راوړلو ترغیب ورکول مقصود
دے (روح) ۲۶ د هٰذا اشاره قرآن طرف ته ده. قال الحسن وقتادة وابن جریج والربیع الاشارة
الی القرآن (بحر ج۳) د قرآن صفت بیان یے ټولو خلقو د پاره عام کړو او هدایت او موعظة یے د
متقیانو د پاره خاص کړو ځکه چه د قرآن اعلان، اظهار او بلاغ او بیان خو د ټولے دنیا
د پاره دے لیکن د دے هدایت او پند و نصیحت نه صرف هغه خلق فائده اخلی چه د چا په
زړونو کښې خوفِ خدا وی او هغوی الله طرف ته رجوع کوی او د ضد او عناد نه ځان بچ کوی.
یا هٰذا مخکښې ټولو ذکر شوو واقعاتو طرف ته اشاره ده ۲۷ دلته بیا د جهاد د مضمون
اعاده کړے شویده او دا سلسله د کوع ۱۵ کښې فَلَكُمْ أَجْرٌ عَظِيمٌ پورے چلیدلے ده. په دے

آیت کښې الله تعالیٰ تشجیع علی القتال او ترغیب الی الجهاد سره سره مسلمانانو ته په جنګ
اُحد کښې د نقصاناتو په باره کښې تسلی هم ورکړیږي او هغوی ته یې د صبرو استقامت تلقین
هم ورکوي ېت عزاهم وسلاهم بما نالهم یوم احد من القتل والجراح وحثهم علی قتال
عدوهم و نهاهم عن العجز والفشل (قرطبی ص۲۱۶ ج۴) لَا تَهِنُوْا وهن نه دے چه د هغې معنیٰ د کمزوري
پیدا کېدو ده یعنې اے ایمان والو! د دښمنانو په مقابله کښې کمزوري او بزدلي مه ښکاره کوئ او په
احد کښې چه کوم څه اُوشو د هغې غم او افسوس پریږدئ او یاد ساتئ که چیرته تاسو د ایمان تولے
تقاضے په صحیح معنو کښې پوره کړئ نو په دُنیا کښې به همیشه سرلوړي او غالب اُوسئ او د دُنیا
هیڅ یو طاقت به تاسو مغلوب او مقهور نکړي لیکن که چیرے وقتي طور باندے کله شکست هم
راشي نو هغه د الله د طرفه د ازمائش په طور وي. ۲۵۵ دا د جهاد متعلق د مذکوره نهي
علیٰ سبیل الترقي جواب دے. او د القوم نه مراد مشرکین دي او فقد مس القوم د جزاء نه
محذوف قائم مقام دے مثلاً فلا تحزنوا یعنې که چیرے په اُحد کښې تاسو د مشرکانو نه زخم خوړلے
دے نو د هغې غم مه کوئ هغوی هم په بدر کښې ستاسو په لاسونو شکست خوړلے دے که چیرے
په اُحد کښې تاسو ته شکست راغے نو د الله د طرفنه دا یو ازمائش وو دا هم ممکن دي چه جزاء نه
محذوف فلا تضعفوا وي (بحر ص۶۲ ج۳، مدارک ص۱۴۳ ج۱) یعنې که چیرے تاسو ته په اُحد کښې شکست شوے
نو تاسو په دے زړه مه بدوئ او نه د الله د دپاره په جهاد کښې کمزوري ښکاره کړئ ستاسو
نه کورئ چه په بدر کښې مشرکانو ته ستاسو په لاسونو خراب شکست اُوشو لیکن د دے باوجود د
هغوی کمزوري نه شول او په اُحد کښې تاسو سره د جنګیدو د پاره د دیر لښکر سره راوسیدل
په جنګ اُحد کښې اُویا کسان مسلمانان شهیدان شول او اُویا زخمیان شوي وو.

۲۵۶ ولیعلم کښې واؤ عاطفه دے او د دے معطوف علیه محذوف دے ای لیکون کیت وکیت
ولیعلم الخ او معطوف علیه ځکه محذوف کړے شوید ے چه د دے طرفنه اشاره اوشي چه ممدولت
ایام نه مقصد صرف د کره او کوټه اظهار نه دے بلکه د دے نور هم مصلحتونه دي (کبیر ص۱۵ ج۳)
لیکن حضرت شاه ولي الله دهلويؒ فرمائي چه واؤ زائد دے او لیعلم د ما قبل علت دے او
یتخذ په لیعلم باندے عطف دے او د علم نه د لته مراد اظهار او تمیز دے ځکه چه الله پاک
خو ازل نه هر څه پیژني او د شهداء نه د اُحد شهیدان مراد دي. واراد بهم شهداء احد کما
قاله الحسن وقتادة وابن اسحق (روح ص۶۹ ج۴) د آیت حاصل دا شو چه مونږ فتح او شکست ستاسو د
دښمنانو په مینځ ځکه اړو را اړوو چه مؤمنان او منافقان ښکاره کړو او د یو بل نه یې ممتاز کړو
او خوش قسمته مؤمنانو ته د شهادت درجه ورکړو. ای لیری الله الذین امنوا فیمیزوا لمؤمن من
المنافق ویتخذ منکم شهداء یکرم اقواما بالشهادة (معالم ص۳۵۲ ج۱) وَاللّٰهُ لَا یُحِبُّ الظّٰلِمِیْنَ یعنې د دے
کافرانو ظالمانو وقتي فتح سره د دوي په حق کیدو باندے خودې په زړه کښې وسوسه هم
رانشي الله تعالیٰ خو دوي له بالکل نه خوښوي. د کافرانو دا وقتي کامیابي خو د الله تعالیٰ
د تکویني مصلحت د لاندے ظاهریږي.

وَلِيُمَحِّصَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَيَمْحَقَ الْكَافِرِينَ ﴿١٤١﴾

او دے دپاره چه پاک صفا کړی الله مؤمنان او ختم کړی کافران ول نکله

أَمْ حَسِبْتُمْ أَن تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَعْلَمِ اللَّهُ الَّذِينَ

آیا ستاسو خیال دے چه داخل به شئ جنت ته او تراوسه به معلوم کړے نه وی خدائ چه

جَاهَدُوا مِنكُمْ وَيَعْلَمَ الصَّابِرِينَ ﴿١٤٢﴾ وَلَقَدْ كُنتُمْ

جنګیږي دی ستاسو نه او معلوم کړے به یه نه وی ثابت اوسیدونکی الله او تاسو خو به آرزو

تَمَنَّوْنَ الْمَوْتَ مِن قَبْلِ أَن تَلْقَوْهُ فَقَدْ

کوله د مرګ د مخه د ملاقات نه مخکښې نو اوس تاسو

رَأَيْتُمُوهُ وَأَنتُمْ تَنظُرُونَ ﴿١٤٣﴾ وَمَا مُحَمَّدٌ إِلَّا رَسُولٌ ع

اولیده ګ د سترګو په وړاندے الله او محمد خو یو رسول دے

قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِ الرُّسُلُ ۚ أَفَإِن مَّاتَ أَوْ قُتِلَ

تیر شوی دی د ده نه مخکښې ډیر رسولان الله بیا آیا که چرے هغه مړ شو یا او وژلے شو

انقَلَبْتُمْ عَلَىٰ أَعْقَابِكُمْ ۚ وَمَن يَنقَلِبْ عَلَىٰ عَقِبَيْهِ

نو تاسو به واپس شئ په اُلټه خپو او څوک چه او ګرځی په اُلټه خپو

فَلَن يَضُرَّ اللَّهَ شَيْئًا ۗ وَسَيَجْزِي اللَّهُ الشَّاكِرِينَ ﴿١٤٤﴾

نو هرګز به نقصان ورنکړی الله ته هیڅ هم الله او الله به ثواب ورکړی شکر ګزاروته ف

نکات:- ا کمزوری ښکاره کول مؤمنانو دپاره زجر ۲ مؤمنانو دپاره زجر-

موضح قرآن

ف یعنی فتح او شکست پرلیه وتلے څیز دے او مسلمانانو ته د شهادت درجه ملاویدل وُو او مؤمن او منافق جدا کول منظور وُو صحیح کول-

د دے وجے نه دومره شکست راغے کنی نو الله خو د کافرانو نه راضی نه دے- ف۲ په دے جنګ

اُحد کښې مخکښې کامل مسلمانان هم وودے ته شوی وُو څکه چه یو کافر په خیل فوج کښې آواز

اوکړو چه محمد (صلی الله علیه وسلم) قتل کړے شو او د حضرت د زخم نه ډیره وینه وتلے وه ضعف راتلو سر

مغفر په یو کنده کښې غورځیدلے وُو مسلمانانو حضرت اُونه لیده په دے خبره یے یقین راغے

چه ګله نبی علیه السلام بےهوش کښې راغے نو چه کوم خلق په میدان جنګ کښې حاضر وُو هغه یے راجع

کړي وي چه جنګ شروع کړو نو کافران واپس لاړل نو الله تعالی اوفرمائیل چه رسول خو یو نبي دے او دین د الله دے هغه به دے پاتے شي قائم اوسي. دے کښے د اشارہ اوشي چه د نبي علیه السلام د وفات نه پس به بعضے خلق واپس اوګرځي او بعضے خلق قائم پاتے شي دغوي د پاره لوئي ثواب دے نو بعضے اوشو او ډیر خلق د نبي ﷺ د مرګ نه روستو مرتد شو او حضرت ابوبکر صدیق د پاره جهاد اعلان اوکړو او بعضے بیا اوواړل.

تفسیر

۱۴۰ داهم په یعلم باندے معطوف دے د تمحیص معنٰی ده خالص کول او د الله نه مراد دے د ګناهونو نه پاک صفا کول او د محق نه مراد ختمول او فنا کول دي یعني د فتح او شکست اَنیه اړولو کښې یو مصلحت داهم دے چه ایمان والا د ګناهونو د ډیري نه پاک صفا کړے شي او د کافرانو بیخ کندې اوکړي او د دغوي نوم او نشان ختم کړے شي حضرت ابن عباس فرمائي چه کله چیرے فتح د کافرانو وي نو په دے سره د مؤمن او منافق امتیاز کیږي. او مسلمانان مقتولین د شهادت درجه بیا مومي او په دے سره الله تعالی مؤمنان د ګناهونو نه پاکوي او کله چیرے فتح د مسلمانانو وي نو په دے سره د کافرانو استیصال بیخ کندې کیږي. یعني ان کانت الدولة علی المؤمنین فللتمییز والاستشهاد والتمحیص وان کانت علی الکفرین فلمحقهم ومحو اٰثارهم (مدارک ص۱۴۳) ۱۴۱ د ترغیب الی الجهاد نه پس دا د مؤمنانو د پاره زجر او زورنه ده او د علم نه دلته هم بدستور اظهار او تمییز مراد دے او خطاب هغه خلقو ته دے چا چه په اُحد کښې کمزوري اُوښوده او شکست خوړلو سره یے تیښته کړے وه. د دلت د فتح او شکست بدلولو ◌ِ این لولو اصل مقصد بیان شوے چه د مداولت د مذکوره درے علتونو نتیجه ده. خطاب للمنهزمین یوم احد وهو کلام مستانف لبیان ماهي الغایة القصوی من المداولة والنتیجة لما ذکر من العلل الثلث الاول (روح ص۷۳) یعني تاسو د اُحد شکست او زخمونو سره د ومره غمژن ولے یئ تاسو دا خیال کړیدے چه تاسو د جنت اعلی درجے د ابتلاء او امتحان په میدان جنګ کښې د قتال او د صبر استقامت نه بغیر حاصل کړئ؟ بالکل داسے نه ده بلکه تاسو به د لویو لویو مشکلاتو او سختو امتحانونو نه تیریږئ. په میدان جنګ کښې به همت او استقلال سره محض د الله د رضا د پاره او د توحید د سربلندئ د پاره جهاد کول وي او بیا به په جهاد کښې ستاسو مالي نقصان هم کیږي او په تاسو به زخمونه هم راځي او د مکرو او خپلوانو د شهادت خفګان به هم برداشت کول وي.

۱۴۲ ان تلقوه او په رأیتموه کښې ضمیر منصوب الموت طرف ته راجع دے او د الموت نه مراد د شهادت دے. المراد بالموت هنا الموت في سبیل الله تعالی وهي الشهادة (روح ص۷۳) په دے ایت کښې خطاب هغه مسلمانانو ته دے چه په جنګِ بدر کښې شریک شوي نه وُو او روستو به هغه غیر حاضري باندے سخت پښیمانه وُو او ارزو به یے کوله چه ارمان! اوس مونږ ته د الله په لاره کښې د جهاد موقع ملاؤ شي او مونږ هم د شهادت لویه نیک بختیا حاصله کړو لیکن چه کله هغه خلقو ته الله تعالی په جنګِ اُحد کښې د خپل شهادت تمنا پوره کولو موقعه ورکړه نو په دوي کښې د ډیرو خلقو خپے اُوخوځیدے او ثابت قدم پاتے نه شول په دے باندے الله تعالی د تنبیه او عتاب په طور اوفرمائیل چه تاسو

شو او شهیدانو ته بی سبیل الله التمسا اونه لیدلی شی چه کله الله تعالیٰ تاسو ته موقعه ورکړه او تاسو خپله
... د هغه معائنه اوکړه نو د میدان نه اوتښتیدلئ فالآیة عتاب في حق من انهزم ... و ... لاستئ
... علی النبي صلی الله علیه وسلم علی الخروج من المدینة (قرطبي ج۴ ص۲۳۱) دا هم د مؤمنانو د پاره د عبرت
په جنګ کښې نبي علیه السلام د حضرت عبدالله بن جبیر رضي الله عنه په امارت کښې د پنځوسو کسانو
دسته د لښکر شا ته مقرر کړه چه د دشمنانو د شا نه حمله او نکړي او هغوی ته یې حکم اوکړو چه
که چرے مسلمانانو ته فتح اوشي یا ورته شکست اوشي هغوی به په هرحال کښې د دے ځای نه
نه خوځي او هم هلته به قائم اوسي. دلته جنګ شروع شو او نبي علیه السلام او صحابو په مشرکانو
باندے داسے زبردسته حمله اوکړه چه د هغوی خپے اوخوځیدلے او ټول اوتښتیدل چه کله ښځې
وښتونکے د هغه اولیدل چه میدان د مشرکانو نه خالي دے او مسلمانانو فتح بیا موندلے او په
مال غنیمت جمع کولو کښې مشغول دي هغوی اوویل چه مونږ فتح حاصله کړیده د دے ځای
نه اوس دلته د پاتے کیدو ضرورت نشته نو هغوی د خپل امیر د منع کولو باوجود مورچه
پریښوده او میدان طرفته په منډه راغلل او د مال غنیمت په جمع کولو کښې مصروف شو
صرف یو څو غښتي وینتوکي حضرت عبدالله بن جبیر رضي الله عنه سره پاتے شول چه کله د مشرکانو امیر
خالد بن ولید اولیدل چه د مسلمانانو شا طرف خالي دے نو د دوه نیم سوو د سورو دستے سره یې
فوراً د روستو نه په مسلمانانو باندے حمله اوکړه. عبدالله بن قمیئه په نبي علیه السلام باندے حمله
اوکړه حضرت مصعب بن عمیر رضي الله عنه چه د هغه په لاس کښې د مسلمانانو جهنډه وه د نبي علیه السلام
د بچ کولو د پاره مخکښې شو او د ابن قمیئه په بخته د لاس نه شهید شو ابن قمیئه دا خیال اوکړو چه
هغه رسول الله صلی الله علیه وسلم قتل کړیدے په دے وجه هغه په اوچت آواز اوویل چه ما محمد قتل کړو
په دے باندے ابلیس لعنتي په اوچت آواز چغه اووهله او وے ویل چه محمد قتل کړے شو.
چه د هغے نتیجه دا شوه چه د اکثرو مسلمانانو همتونه کمزوري شو مخے اوښتیدل او څینو د مشرکانو
سره د صلح سوچونه شروع کړل دلته د دے غلط خبرے منافقانو فائده اوچته کړه او د کمزوري
ایمان والا ځینے مسلمانانو ته یې اوویل چه که چرے محمد قتل شوے وي نو تاسو خپل مخکني
دین ته واپس راشئ وذلك ان المنافقين قالوا لضعفة المسلمين ان كان محمد قتل فالحقوا بدينكم
(بحر محيط) په دے باندے ځینے انصارو اوویل چه که چرے محمد صلی الله علیه وسلم قتل شویدے نو د هغه
رب خو نه دے قتل شوے. راشئ د هغه مقصد او مشن د پاره اوجنګیږئ کوم د پاره چه محمد صلی الله علیه وسلم
جنګیدو یعني دین اسلام او د محمد صلی الله علیه وسلم د رب توحید. په دے باندے الله پاک اوفرمائیل چه
محمد صلی الله علیه وسلم خدائی نه دے چه په هغه به مرګ نه راځي بلکه هغه د الله رسول دے او مرګ خو د
هر سړي والا د پاره مقرر دے چه په خپل وخت به ضرور راځي نو آیا که محمد صلی الله علیه وسلم وفات
شي یا شهید کړے شي تو تاسو به دین اسلام پریږدئ او بیا به مخکني دین قبول کړئ؟ د نبي علیه السلام
نه وړاندے هم په زرګونو پیغمبران تیر شویدي. لیکن چه کله هغوی د دنیا نه رخصت شول نو
د هغوی امتیانو د هغوی د وفات نه روستو د هغوی دین نه دے پریښے بلکه هغوی د دوي د
مرګ نه روستو هم په هغه دین باندے قائم پاتے شو. حاصل دا دے چه د پیغمبر د وفات سره خو

د هغه دین نه ختمیږي او نه باطلیږي ۲۱۳ لیکن د دې شیو هغوی نه دوستوکه چرته بیا هم غواړي
د دین اسلام نه واپس اوګرځي نو هغه به خدائي ته هیڅ نقصان اونه رسوي او نه به د دوي به
ارتداد سره د مذهب اسلام او د پیغمبر اسلام په صداقت باندې څه اثر پریوځي بلکه د شیره
به هغوی خپل عاقبت خراب کړي. بل یضر نفسه ویعرضها للعقاب بسبب مخالفته والله تعالی لا
تنفعه الطاعة ولا تضره المعصیة لغناه (قرطبي ج۴) وسیجزي الله الشاکرین دا هغه خلق چه د اسلام
قدر دکړي او په دین توحید باندې قائم پاتې شي الله تعالی به هغوي ته د دې بهترین جزا ورکړي
الذین لم ینقلبوا وسماهم شاکرین لانهم شکروا نعمة الاسلام فیما فعلوا (مدارک ج۱)

وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ اَنْ تَمُوْتَ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ كِتٰبًا

او نشوله نفس مرګیدې بغیر د حکم د الله نه لیکلي شوي دے

مُّؤَجَّلًا ۭ وَمَنْ يُّرِدْ ثَوَابَ الدُّنْيَا نُؤْتِهٖ مِنْهَا ۚ وَ

او مقرر وخت ۲۱۵ او څوک چه اوغواړي بدله د دنیا ورکړو مونږ هغه ته د دنیا نه او

مَنْ يُّرِدْ ثَوَابَ الْاٰخِرَةِ نُؤْتِهٖ مِنْهَا ۭ وَسَنَجْزِي

څوک چه اوغواړي بدله د آخرت ۲۱۶ نو به ورکړو مونږ هغه ته او مونږ به ثواب ورکړو

الشّٰكِرِيْنَ ۱۴۵ وَكَاَيِّنْ مِّنْ نَّبِيٍّ قٰتَلَ ۙ مَعَهٗ رِبِّيُّوْنَ

احسان منونکو ته ۲۱۷ او ډیر نبیان دي چه د هغوي سره یوځاې جنګیدلي دي د الله والا ډیر خلق

كَثِيْرٌ ۚ فَمَا وَهَنُوْا لِمَآ اَصَابَهُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَمَا ضَعُفُوْا

بیا نه بزدل شو هغه تکلیف رسیدلو هغوي ته د الله په لاره کښې او نه سست شویدي

وَمَا اسْتَكَانُوْا ۭ وَاللّٰهُ يُحِبُّ الصّٰبِرِيْنَ ۱۴۶ وَمَا كَانَ قَوْلَهُمْ

او نه عاجز شویدي ۲۱۸ او الله محبت کوي ثابت قدم پاتې کیدونکو سره او هیڅ نه وه وینا ددوي

اِلَّآ اَنْ قَالُوْا رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا ذُنُوْبَنَا وَاِسْرَافَنَا فِيْٓ اَمْرِنَا

بې له دې نه چه اې زمونږ ربه! اوبخښه زمونږ ګناهونه او ګوزار چه زمونږ نه شوي دي زمونږ په کار کښې

وَثَبِّتْ اَقْدَامَنَا وَانْصُرْنَا عَلَي الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ۱۴۷ فَاٰتٰىهُمُ

کښې او ثابت اوساتې قدمونه زمونږ او مدد اوکړې زمونږ په قوم کافر باندې ۲۱۹ بیا ورکړو الله هغوي

اللّٰهُ ثَوَابَ الدُّنْيَا وَحُسْنَ ثَوَابِ الْاٰخِرَةِ ؕ وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۱۴۸﴾

نو ثواب د دُنیا او ښهٔ ثواب د اٰخرت او الله دوستی لری نیک کارکونکو سره ۲۱۵

نکات:- ۔ ترغیب الی الجهاد ۔ جهاد کښې سستی مهٔ ښکاره کوئ بلکه دا دُعا هم نے کوئ۔

موضح قرآن:- ف یعنی کوم خلق چه په دین باندے ثابت پاتے وی هغوی ته به دین هم ملاویږی او دُنیا هم لیکن چه څومره ورسے نعمت ته اُوپیږی۔

تفسیر ۲۱۵ بیا د جهاد د مضمون اعاده ده ددے ځائ نه تر واللّٰه یحب المحسنین پورے مختلفو طریقو سره ترغیب الی الجهاد دے۔ هذا حض علی الجهاد و اعلام ان الموت لا بد منه (قرطبی ج ۴ ص ۲۲۶)

یعنی د مرګ د ویرے د وجے نه جهاد مهٔ پریږدئ ځکه چه مرګ خو په هرحال کښې راتلونکے دے په خپل مقرر وخت باندے خواه تاسو په کور دننو کښې ولے ناست نهٔ یئ په دے وجه بیا بهتره دا ده چه تاسو د الله په لاره کښې جنګیدو سره قتل شئ او د شهادت مرتبه حاصل کړئ۔ ۲۱۶ جهاد کولو سره څوک هم په نقصان کښې نهٔ پاتے کیږی ځکه چه مرګ خو په هرحال کښې راځی خواه په کور کښې ناست یئ یا په جهاد کښې شریک یئ که چرے د جهاد نه د چا غرض د دُنیا ثواب یعنی مالِ غنیمت وی نو هغوی ته د هغے نه چه کوم د هغهٔ مقدر دے ملاویږی۔ او که چرے د چا غرض خالص د الله د دین اُوچتول او په اٰخرت کښې اجر و ثواب مونډل وی نو د الله سره د هغے هم څهٔ کمے نشته۔ په دے ایت کښې د غښتې وبښتونکی جماعت د فعل نه تعریض دے چا چه د مالِ غنیمت د پاره خپله مورچه پرېښوده۔ دا شان د هغه خلقو مدح ده کوم چه په مورچه کښې او د نبی علیه السلام سره ثابت قدم پاتے شول۔ وهذا تعریض بمن شغلتهم الغنائم یوم احد عن مصاحبة رسول الله صلی الله علیه وسلم واشارة الی مدح الثابتین مع رسول الله صلے الله علیه وسلم (روح ج ۴ ص ۷۶) وسنجزی الشاکرین۔ په جنګ اُحد کښې چه کوم خلق ثابت قدم پاتے شول او د خپلو فرائضو نه غفلت سره د مالِ غنیمت طرفته مائل نهٔ شو۔ هغوی د پاره الله تعالیٰ د زیات انعام او اکرام وعده اوکړه۔ او د جزا کمیت او کیفیت یے مبهم پرېښوده او دے طرفته یے اشاره اوکړه چه د هغوی جزا به دومره زیاته او خاسته وی۔ چه د هغے اندازه د الله نه سوا بل هیچا ته نشته۔ وسنجزی الجزاء المبهم الذین شکروا نعمة الله فلم یشغلهم شیء عن الجهاد (مدارک ج ۱ ص ۱۴۵)

۲۱۷ دلته الله تعالیٰ د مومنو اُمتونو د مخلص او بهادر مجاهدینو د همت او شجاعت او د هغوی د عزم او استقلال ذکر کولو سره د زوړنے په انداز کښې مسلمانانو ته غیرت او جرأت ورکړیدے او د مخکینو نبیانو د تابعدارو د ثابت قدم اُوسیدو تلقین یے ورکړیدے ومعنی الآیة تشجیع المؤمنین والامر بالاقتداء بمن تقدم من خیار اتباع الانبیاء (قرطبی ج ۴ ص ۲۲۹) ربّیّون د ربّی جمع ده چه د رب طرفته منسوب دے او د دینه د نبیانو مخلص الله والا او فرمان بردار خلق مراد دی والربیون الربانیون (مدارک ج ۱ ص ۱۴۵) او څینو ویلی دی چه ربّی د رِبّة طرفته منسوب دے چه د هغے معنی د جماعت ده او د رِبّی معنی مطلق جماعت کثیره یا په لس زرو کسانو باندے مشتمل جماعت دے نو د اشان به د ربیون معنی وی د بیر جماعتونه یا په زرګونو کسانو باندے مشتمل جماعتونه۔ والربیون الالوف الکثیرة۔

وقال ابان بن تغلب الربي عشرة الاف (قرطبي ج۴ ص۲۳۰) ما وهنوا هغوی د جهاد د مشقتونو او تکلیفونو په وجه بزدلي بنکاره نکړه۔ وَمَا ضَعُفُوا یعنی سست او کمزوري نه شول وَمَا اسْتَكَانُوا او د دشمن په مخکښې ځکنه نه شول نه د ځلو دپاره او د هغوی دین قبلولو دپاره ای ما جبنوا .... وما فتروا عن الجهاد .... وما خضعوا العدوهم (روح ج۴ ص۸۰) وَاللّٰهُ يُحِبُّ الصّٰبِرِيْنَ او دا هغه خلق الله تعالیٰ ډیر خوښوي کوم چه د هغه په لاره کښې د ومره تکلیفونه برداشت کړي او صبر او استقامت اوښائي. ۲۲۰ دا د ماقبل تتمه او تاکید دے حضرت شیخ فرمائي چه د تیر شوو اُمتونو جان نثار مجاهدینو په جهاد کښې سستي، بزدلي او د کمزوري ښودلو په ځائي د الله نه د اشان د صبر او استقامت دُعا ګانے او د ګناهونو د معافئي درخواستونه کول د دے وجے نه ستاسو طرز عمل هم هغه شان پکار دے. ۲۲۱ الله تعالیٰ د صبر او استقلال په بدل کښې او د هغوی د دُعا او زاري په بناء باندے هغوی ته د دُنیا جزاء یعني فتح او نصرت او مال غنیمت هم ورکړو او په آخرت کښې به هم هغوی ته د اجر جزیل ثواب جمیل او د جنات نعیم ورکولو فیصله اوکړه او دا ټول هر څه د هغه خلقو د اخلاص او احسان عمل د وجے دي او الله تعالیٰ مخلص او محسن خلق خوښوي۔

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِنْ تُطِيْعُوا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا يَرُدُّوْكُمْ
اے ایمان والو! که چرے تاسو خبره اُومنئ د کافرانو نو هغوی به تاسو
عَلٰۤى اَعْقَابِكُمْ فَتَنْقَلِبُوْا خٰسِرِيْنَ ﴿۱۴۹﴾ بَلِ اللّٰهُ مَوْلٰىكُمْ ۚ وَهُوَ
اوګرځوي په پښو د بیا به تاسو پریوځئ په نقصان کښې ۲۲۲ بلکه الله ستاسو مدد ګار دے او
خَيْرُ النّٰصِرِيْنَ ﴿۱۵۰﴾ سَنُلْقِيْ فِيْ قُلُوْبِ الَّذِيْنَ كَفَرُوا الرُّعْبَ
هغه ښه د ټولو نه مددګار دے ۲۲۱ اوس به مونږ واچوو د کافرانو په زړونو کښې هیبت ځکه
بِمَاۤ اَشْرَكُوْا بِاللّٰهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهٖ سُلْطٰنًا ۚ وَمَاْوٰىهُمُ النَّارُ ؕ
چه هغوی شریک جوړ کړو الله سره چه هغه د هغے هیڅ سند نه دے نازل کړے ۲۲۲ او د هغوی
وَبِئْسَ مَثْوَى الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۵۱﴾ وَلَقَدْ صَدَقَكُمُ اللّٰهُ وَعْدَهٗۤ
ځائي جهنم دے او هغه ډیر بد ځائي دے د ظالمانو او الله خو رښتونے کړه تاسو سره خپله وعده
اِذْ تَحُسُّوْنَهُمْ بِاِذْنِهٖ ۚ حَتّٰۤى اِذَا فَشِلْتُمْ وَتَنَازَعْتُمْ فِي
چه کله تاسو وژل هغوی لره د هغه په حکم سره ۲۲۳ تر دے چه تاسو نامردي اوکړه او په کار کښې مو

الْأَمْرِ وَعَصَيْتُم مِّن بَعْدِ مَا أَرَاكُم مَّا تُحِبُّونَ ۚ مِنكُم مَّن

جګړه او کړه او نافرمانی مو او کړه رسول ته د هغې نه پس چې ښودلے وو مونږ تاسو ته د خوشحالۍ شیز[۲۲۳] بعض ستاسو په

يُرِيدُ الدُّنْيَا وَمِنكُم مَّن يُرِيدُ الْآخِرَةَ ۚ ثُمَّ صَرَفَكُمْ عَنْهُمْ

تاسو کښې غوښتل دنیا او بعضو ستاسو نه غوښتلو آخرت بیا یې تاسو او ګرځولئ د دوی نه دے

لِيَبْتَلِيَكُمْ ۖ وَلَقَدْ عَفَا عَنكُمْ ۗ وَاللَّهُ ذُو فَضْلٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ ﴿١٥٢﴾

د پاره چې تاسو باندې ازمیښت او کړي[۲۲۵] او هغه تاسو معاف کړي او د الله فضل دے په ایمان والو باندې[۲۲۶]

إِذْ تُصْعِدُونَ وَلَا تَلْوُونَ عَلَىٰ أَحَدٍ وَالرَّسُولُ يَدْعُوكُمْ

کله چې تاسو ختلئ او شا ته مو نه کتل هیچا ته او رسول آوازونه کولو تاسو ته

فِي أُخْرَاكُمْ فَأَثَابَكُمْ غَمًّا بِغَمٍّ لِّكَيْلَا تَحْزَنُوا عَلَىٰ مَا

ستاسو د روستو نه[۲۲۷] بیا تاسو ته اورسیده غم د غم په عوض کښې دے د پاره چې تاسو غم او نکړئ په هغې

فَاتَكُمْ وَلَا مَا أَصَابَكُمْ ۗ وَاللَّهُ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿١٥٣﴾

کوم چې ستاسو د لاس نه اووتې او نه په هغې کوم څه چې را پیښ شو[۲۲۸] او الله ته خبر دے ستاسو د کارونو

نکات: سلد کافرانو اطاعت مه کوئ بلکه د الله اطاعت او کړئ هغه په تاسو باندې ډیر مهربان دے. ۲۲۲ دا ای بعیرد بنده ۲۲۳ زجر او شبه د جهاد متعلق په طریقه د ترقي سره دریم جواب هم دا اصلي جواب دے.

موضح قرآن

ك یعنی په دے جنګ کښې چې د کومو مسلمانانو زړونه مات شول نو کافرانو او منافقانو وخت بیا موندو یعنی الزام لګول یې شروع کړو هغوی د خیر خواهۍ په پرده کښې یو حال شروع کړل دے د پاره چې اشد د جنګ زړور تیا او سکړي الله تعالے خبر ورکوي چې د دښمن نه دهوکه او نه خورئ. ك۲ یعنی هغوی غلط دي د خدائی او د خپل په زړه کښې ویره دی د دے وجې نه به الله د هغوی په زړه کښې هیبت واچوي. ك۳ یعنی اول غلبه د مسلمانانو وه کافران به یې وهل او هغوی به تښتیدل. او د فتح آثار په نظر راتلل چې ته خوشحالي وه د مال او چاته د اسلام د غلبې. کله چې د مسلمانانو نه د پیغمبر بې حکمي اوشوه نو فتح الټه شوه هغه بې حکمي یوه دا چې نبي علیه السلام پنځوس کسان غشي ویشتونکي د غره په لاره مقرر کړي وو د خوکئ د پاره باقي لښکر جنګ شروع کړو چې کله دے غشو ویشتونکو فتح او غلبه اولیده نو د هغه ځائ نه یې تلل او غوښتل بعضو منع کړل لیکن هغوی او نه منل. هلته لږ کسان پاتے شول دے طرفته د کافرانو فوج د تنا د طرفته راغے. دویم دا چې کله کافران تښتیدل،

نو مسلمانانو دهغوی نه روستو هغوی پسے منډے وهلے نبی علیه السلام د شا نه ورته آوازونه وركول چه ورانی په خپل ځائے ولاړ اوسئ او دے طرفته را شئ دے طرفته چه کوم طرف غنیمت په نظر راغے خلق واپس نه شول دے په حقیقت کښ سره شکست راغے. ف٤ یعنی تاسو د رسول زړهٔ تنګ کړو دے په بدله کښ په تاسو بانديے تنګی راغله دے دپاره چه اینده یاد ساتئ چه په حکم باندے لاړ شئ که څه د لاس نه لاړ شی یا څه تکلیف مخے ته راشی.

تفسیر ۲۱۲ دا مؤمنانو ته د کافرانو د اتباع نه زجر دے. حضرت شیخ اُو فرمائیل چه اَلَّذِیْنَ كَفَرُوْا نه مشرکین مراد دی چاچه مسلمانان د شرك طرفته رابلل او هغوی یے په جهاد کښ د شریکیدلو نه منع کول. قال السدی هم ابوسفیان واصحابه من عباد الاوثان (بحر ج۳) یعنی ای ایمان والؤ! د مشرکانو اطاعت مهٔ کوئ او په جهاد کښ سستی او کمزوری مهٔ ښایئ یا اَلَّذِیْنَ كَفَرُوْا نه هغه منافقان مراد دی چاچه د اُحد د شکست په وخت مسلمانانو ته ویلی وُو چه خپل آبائی دین ته واپس شئ قال علی رضی الله عنه یعنی المنافقین فی قولهم للمؤمنین عند الهزیمة ارجعوا الی اخوانکم وادخلوا فی دینکم (معالم ج۱) یعنی که چرے تاسو د دے منافقانو خبره اُومنئ نو هغوی به تاسو بیا کفر او شرك ته واپس کړی او د هغے نتیجه به دا وی چه تاسو به د دُنیا او اخرت د خیر او سعادت نه محروم شئ او دا ډیره لویه خساره ده. ۲۱۳ دا مشرکین او منافقین ستاسو خیرخواه نهٔ دی دوی به هیڅ کله هم په سخت وخت کښ ستاسو په کار رانشی په دے وجه الله تعالے چه ستاسو دوست او بهترین ناصر او مددګار دے چه په هغهٔ هیڅوك نشی غالب کیدے کوم چه همیشه ژوندے دے او هیڅ کله هم نهٔ مری د هغهٔ په موجود والی کښ ولے کمزوری ښکاره کوئ او نصرت او پناه لټولو د پاره د نورو طرفته مائله کیږئ. د دے ایتونو شان نزول اګرچه خاص دے لیکن د دے حکم ترقیامته پورے عام دے که چرے مسلمانان په هره زمانه کښ د کافرانو او مشرکانو اطاعت کوی او د اسلام په مقابله کښ خپل منی هغوی معاملاتو ملکی او په سیاسی مسائلو کښ او په معاشرتی او معاشی أمورو کښ د غیرمسلمو تقلید کوی نو د هغے نتیجه به دا وی چه هغوی به غیرشعوری طور باندے د اسلام نه بالکل پردی شی نوم به د اسلام وی لیکن کار ونه به ټول کافرانه وی څنګه چه نن صبا مونږ په خپلو سترګو وینو.

۲۱۴ دا ایت د ماقبل تتمه ده. الرعب ویره به بِمَا کښ باء سببیه ده او په بِهٖ کښ ضمیر د و بِمَا طرفته راجع دے چه کنایه ده د معبودانِ باطلۀ نه او د دے مضاف محذوف دے ای بعبودیته سلطانا حجت او دلیل حجة وبیانا وعذرا وبرهانا (قرطبی ج۲) یعنی د کافرانو اطاعت مهٔ کوئ او کمزوری مهٔ ښکاره کوئ مونږ به ستاسو مدد کوؤ او کوئ مونږ اوس د دے مشرکانو په زړونو کښ ستاسو رعب او ویره مسلط کوؤ تر دے چه هغوی به بزدلانه انداز کښ شکست اُوخوری او وُبه تښتی. او وا څکه چه هغوی د الله سره د هغهٔ په عبادت کښ داسے معبودان شریکوی چه د هغوی د معبود کیدو او غائبانه د دُعا او اوازونو کولو لائق کیدو باندے الله هیڅ دلیل نه دے نازل کړے یعنی د هغوی د بزدلئ او د ویریدو وجه او علت شرك دے ځکه چه د مشرك اعتماد او بهروسه د غیر الله په ډیرو کمزورو اسرو باندے وی. او په کمزورو اسرو باندے د اعتماد اثر نفسیاتی او تکوینی

طور باندې هميشه وېره ، کمزوري او بزدلي وي . او دا د القاء رعب واقعه عين په جنګ احد کښې ډير معجزانه طريقې سره مخې ته راغله په احد کښې چه کله مشرکانو د غشي ويشتونکي جماعت د غلطۍ نه فائده واخستله او د روستو نه يې په مسلمانانو حمله اوکړه او د نبي عليه السلام د شهيد کيدو افواه خوره کړه په دې باندې د مسلمانانو همت ماتيدلو او خواره واره شول او يو جماعت هغوي سره ثابت قدم پاتې شو په دې باندې نبي صلى الله عليه وسلم په يوه غونډۍ باندې اودريده او مسلمانانو ته يې آواز اوکړو چه کله هغوي ته پته اولګيده چه نبي عليه السلام ژوندې دې او شهيد شوې نه دې نو بيا واپس راغلل او د نبي عليه السلام نه ګيرچاپيره جمع شول دغه وخت د مشرکانو په زړونو باندې د مسلمانانو دومره رعب خور شو چه بيرته لو ميدان پريښوده او او تښتيدل نبي عليه السلام صحابو ته د هغوي پسې د روستو تللو حکم ورکړو نو مسلمانان مجاهدين حمراء الاسد مقام پورې د مشرکانو پسې لاړل . ان الكفار لما استولوا على المسلمين وهزموهم اوقع الله الرعب فى قلوبهم فتركوهم وفروا منهم من غير سبب (کبير ص ۹۲ ج ۳) وَبِئْسَ مَثْوَى الظّٰلِمِيْنَ . په دنيا کښې خو به هغوي ستاسو په لاس ذليل کړم په آخرت کښې هم د دوي د پاره بدترين ځائې يعني جهنم دې .

۲۲۳ حضرت شيخ قدس سره فرمائي چه د احد د وقتي شکست په وجه سره چه د دشمنانو د مسلمانانو په مخکښې د کوم شبهې اظهار اوکړو او د کوم په وجه سره چه د ځينې مسلمانانو په زړونو کښې دا وسوسه پيدا شوه چه واقعي الله خو زمونږ د نصرت او مدد وعده کړې وه نو بيا ولې شکست اوشو . قال ناس من اصحابه من اين اصابنا هذا وقد وعدنا الله النصر (مدارک ص ۱۴۲ ج ۱) الله تعالى د لته د دې اصل جواب ارشاد فرمائيلې دې او د مسلمانانو د دې وقتي شکست اصل وجه يې بيان کړيده د دې وړاندې د دغه د دې شبهې جواب تير شويدې چه د هغې حاصل صرف تسلي او دلاسه ده صَدَقَ ريښتيا يې کړه يعني ريښتوني يې بنکاره کړه اى حقق (مدارک ، خشن پريکول او قتل کول . بِاِذْنِهٖ يعني د الله توفيق او د هغه د طرف نه د اسباب آساني سره اى بتيسيره وتوفيقه (روح ص ۹۶ ج ۴) او د وعدې نه مراد نصرت او مدد وعده ده کوم چه په اِنْ تَصْبِرُوْا وَتَتَّقُوْا الخ ع ۱۳ کښې ذکر شوې ده يعني الله تعالى خو خپلې وعدې مطابق ستاسو مدد اوکړو او تاسو ته يې همت او توفيق درکړو نو دا د الله د مدد او د هغه د طرف نه د مرستې او چتولو اثر دلو چه په جنګ کښې تاسو مشرکان ټکړې ټکړې کول او د لاشونو ډيرې مو لګولو . ۲۲۴ دا د شکست د اصل وجې بيان دې نبي عليه السلام د عبد الله بن جبير په مشرئ کښې د پنځوس غشو ويشتونکو يوه ډله په يو کنډو کښې مقرر کړې وه چه کله مسلمانانو فتح اوموندله نو د غشو ويشتونکو کښې اختلاف رائې پيدا شوه اکثرو او وئيل چه اوس دلته زمونږ پاتې کيدل ضروري نه دي ځکه چه مونږ فتح حاصله کړيده د جماعت امير او تقريبًا لس نورو سپاهيانو او وئيل چه مونږ ته په هر حال کښې دلته د پاتې کيدو حکم دې په دې وجه خپله مورچه مونږ پرېږدو لېکن هغوي او نه منله او د نبي عليه السلام د احکام او د ا شان د خپل امير د حکم نه يې خلاف اوکړو او کنډو او مورچه يې پريښوده او په مال غنيمت جمع کولو کښې مصروف شول . مَا تُحِبُّوْنَ د مسلمانانو فتح او د کافرانو شکست مطلب دا دې چه الله تعالى خپله وعده پوره کړه تر دې چه تاسو خپل محبوب مقصد يعني فتح او کاميابي

اُوموندله لیکن د هغې نه روستو تاسو د همت د کمزورئ ثبوت ورکړو او خپل د پیغمبر د حکم په تعمیل
کښې مو جګړې شروع کړې او اغرمو د رسول الله ﷺ او د امیر د حکم خلاف ورزي اُوکړه او
هغه دره مو پرېښوده او په نتیجه کښې ستاسو فتح په شکست بدله شوه. حاصل دا چه کوم شئ
اُوشو صرف ستاسو د خپلې غلطئ په وجه اُوشو د الله د نصرت په وعده کښې هیڅ تاخیر اُونشو.
۲۲۵ الله دا د هغه مؤمنانو د پاره زجر او عتاب دے چا چه د مال د طمع په وجه دره پرېښوده او
چه څوك د خپل امیر سره ثابت قدم پاتے شو او صرف د ثواب په خاطر په دے دره باندے د
خپل امیر په ملګرتیا کښې حمله کونکو مشرکانو سره اُوجنګیدل او شهیدان شو د هغوی دے بته
خپل طرفته اشاره ده. العتاب مع من انهزم لا مع من ثبت فان من ثبت فاز بالثواب (قرطبی ج ۴ ص ۲۳۶)
ثم صرفکم عنهم چه کله تاسو دا غلطي اُوکړه نو الله تاسو د کافرانو نه اُوګرځولئ او تاسو ته شکست
اوخوارۍ وارد شوې. لِيَبْتَلِيَكُمْ الله تعالیٰ دا وقتي شکست هم ستاسو د کمزورئ کولو او مشرکینو
په مخکښې د ذلیل کولو د پاره نه وو ورکړے بلکه په دے سره ستاسو ابتلاء او امتحان مقصود وو دا د
الله د طرفنه د هغه پرېښودونکو او د میدان جنګ نه د تښتیدونکو د پاره عام معافي نامه
ده چه کوم ددے غلطئ او کوتاهئ نه پس هغوی سخت پښیمانه شو او د رب په عاجزئ سره یے د
الله نه معافي اُوغوښتله نو الله د خپل فضل او رحم په وجه د هغوی دعا یے قبوله کړه د هغوی
تېرے معافي اُوکړه لهذا اوس به په هغوی باندے په آخرت کښې نیول نه وي المراد بذلك العفو عن
الذنب وعام لسائر المنصرفین (روح ج ۴ ص ۹۰)
۳۶۱ الله تعالیٰ په هر حال کښې په مسلمانانو باندے فضل کونکے او مهربان دے که څه هم هغوی
ته شکست ورکړے شو نو په امتحان کښې د ثابت قدم پاتے کیدو جذبه پیدا کولو د پاره. څه چه په
دے سره د هغوی ابتلاء مقصد وو چه د دوي په حق کښې تول رحمت دے په امتحان او ابتلا کښې
د ثابت قدم پاتے کیدو سره د دوي په ایمان کښې پوخوالے راځي او د دوي زړونه د شکونو او شبهاتو
د خیرې نه پاك صفا شي. وهو متفضل علیهم في جمیع الاحوال سواء ادیل لهم او ادیل علیهم لان الابتلاء
رحمة کما ان النصرة رحمة (مدارك ج ۱ ص ۱۴۳) دا په مؤمنانو او حضراتو صحابه کرامو باندے د الله تعالیٰ
د رحمت او شفقت انتهاء ده. ۳۶۲ اذ ظرف د صرفکم سره متعلق دے. اِذْ تُصْعِدُوْنَ متعلق
بصرفکم (ابو سعود ج ۳ ص ۹۶) تصعدون چه کله تاسو دا د پاسنو د تښتیدو کوشش کولو (قرطبی ج ۴ ص ۲۳۹) تَلْوُنَ
دلي نه دے چه د دے معنی د شا طرف ته کتل دي. فِي اُخْرٰىكُمْ د روستونه یعنی کوم
سړي چه ستاسو نه روستو ؤ وله یو څو کتل یعني مقام کولے او ولیکه ستاسو
من ورائكم (روح ج ۴ ص ۹۲) کله چه الله تعالیٰ تاسو د کافرانو نه اُوګرځولئ او شکست یے درکړو نو ستاسو
داحال وو چه د بد حواسئ په حالت کښې د میدان نه د وادئ طرفته تښتیدلئ او د ویرے د وجے
نه مو څوك ته اخوا دیخوا اُوړول او یو طرفته مو نه کتل او د الله رسول تاسو ته د روستونه اوازونه
کول چه د بیخی تښتیدونکو د پاره د برزیات زجر او زور نه ده چه د الله د رسول حکم منل په تاسو
باندے فرض وو هغه تاسو ته اوازونه کول لیکن تاسو نیغ په تښتیدنه روان وئ. ۳۶۳ دا اول غم
نه مراد قتل او د هزیمت غم دے او د دویم غم نه د نبي علیه السلام غم مراد دے کوم چه مسلمانانو
په وجه هغوی ته اُورسیده. ای اثابکم غما بسبب غم اذقتموه رسول الله صلی الله علیه وسلم بعصیانکم

لہ و بما الفتکم امرہ (روح ص ۹۳) لِکَیْلَا کہ چرتہ د اَثَابَکُم سرہ متعلق وی نو پہ ظاہرہ مفہوم غیر مرتبط شان گرځی ځکہ چہ د غم جزاء پہ غم ورکول خو د حُزن سبب گرځی نہ چہ د عدم حُزن حضرت شیخ فرمائی چہ لِکَیْلَا اَثَابَکُم سرہ متعلق نہ دے بلکہ د دے متعلق محذوف دے ای اخبرکم بذالک المذکور لکیلا تحزنوا الخ او دلتہ یے د نتو لوزجرونو وجہ بیان کریدہ مطلب دا دے چہ د دے تیرو شو کورہ واقعاتو اطلاع تاسو تہ دے د پارہ درکوم چہ تاسو پہ فوت شوو نفعو او کوم تکلیفونہ چہ تاسو تہ رسیدلی دی پہ ھغے باندے افسوس او غم اونکرئ۔ حضرت شاہ ولی اللہ رحمۃ اللہ علیہ د دے اٰیت ترجمہ داسے کوی: این پند دادن برائے آنست کہ تا اندوہناک نشوید۔ اللہ تعالیٰ ستاسو ظاہری عملونہ او باطنی غرضونہ او نیتونہ ښہ پیژنی۔ د دے وجے نہ پہ ظاہر او باطن کښی د ھغہ اطاعت اوکرئ او د ھغہ د نافرمانئ نہ ځان بچ کرئ۔ دا شان دیکښی د نیکو کارونو ترغیب او د بدو کارونو نہ ترھیب دے۔ وھذا ترغیب فی الطاعۃ وترھیب عن المعصیۃ (مدارک ج ۱ ص ۱۴۶)

ثُمَّ اَنْزَلَ عَلَیْکُمْ مِّنْ بَعْدِ الْغَمِّ اَمَنَةً نُّعَاسًا یَّغْشٰی

بیا یے پہ تاسو باندے نازل کرہ د تنگئ نہ روستو امن چہ پرکالی وہ چہ پټ کړو دے

طَآئِفَةً مِّنْکُمْ ۙ وَطَآئِفَةٌ قَدْ اَهَمَّتْهُمْ اَنْفُسُهُمْ یَظُنُّوْنَ

پرکالئ خنولہ ستاسو نہ ۲۲۹ ډلہ او ځنو سرہ فکرونو د خپلو ځانونو۔ خیال یے کولو پہ

بِاللّٰهِ غَیْرَ الْحَقِّ ظَنَّ الْجَاهِلِیَّةِ ؕ یَقُوْلُوْنَ هَلْ لَّنَا

اللہ باندے دروغ خیال د جاہلانو پشان ۲۳۰ ډلہ وئیل بہ یے څہ کار ھم شتہ

مِنَ الْاَمْرِ مِنْ شَیْءٍ ؕ قُلْ اِنَّ الْاَمْرَ کُلَّهٗ لِلّٰهِ ؕ یُخْفُوْنَ

زمونږ پہ لاس کښی صلہ ۲۳۱ تہ اووایہ ټول کار دے د اللہ پہ لاس ھغوی پہ خپلو

فِیْٓ اَنْفُسِهِمْ مَّا لَا یُبْدُوْنَ لَکَ ؕ یَقُوْلُوْنَ لَوْ کَانَ لَنَا

زړونو کښی پټوی چہ تا تہ یے نہ ظاہروی وائی کہ چرے څہ کار وے زمونږ

مِنَ الْاَمْرِ شَیْءٌ مَّا قُتِلْنَا هٰهُنَا ؕ قُلْ لَّوْ کُنْتُمْ فِیْ بُیُوْتِکُمْ

پہ لاس نو مونږ بہ نہ وے وژلے شوے د دے ځائے کښی ۲۳۲ ډلہ تہ اووایہ کہ چرے وے تاسو پہ خپلو

لَبَرَزَ الَّذِیْنَ کُتِبَ عَلَیْهِمُ الْقَتْلُ اِلٰی مَضَاجِعِهِمْ ۚ

کورونو کښی البتہ بہ ضرور راوتلے پہ ځائے لیکلے شوی دو قتلیدل پہ خپل پړاو باندے ۲۳۳ ډلہ

وَلِيَبْتَلِيَ اللّٰهُ مَا فِيْ صُدُوْرِكُمْ وَلِيُمَحِّصَ مَا

او الله له ازمیښت کولو د و کوم څه چه ستاسو په زړونو کښې دی او صفا کولو د هغه

فِيْ قُلُوْبِكُمْ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿۱۵۴﴾

کوم چه ستاسو په زړونو کښې دی ۲۳۴ او الله خبردے د زړونو په رازونو ۲۳۵

اِنَّ الَّذِيْنَ تَوَلَّوْا مِنْكُمْ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعٰنِ ۙ اِنَّمَا

کوم خلق ستاسو نه جُدا شول په کومه ورځ چه اوجنګیدل ۲۳۶ دوه فوجونه نو

اسْتَزَلَّهُمُ الشَّيْطٰنُ بِبَعْضِ مَا كَسَبُوْا ۚ وَلَقَدْ عَفَا

هغوی اوخوئیول شیطان د هغوی د ګناه د بد بختئ په وجه او هغوی الله تعالیٰ

اللّٰهُ عَنْهُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ حَلِيْمٌ ﴿۱۵۵﴾ ع

اوبښل الله بخښونکے دے صبر کولو والا دے ۲۳۷

نکات: ۱ د زجر د منافقانو د پاره ۲ شکوه ۳ جواب شکوه ۴ شکوه ۵ جواب شکوه

موضح قرآن ۱ په دے شکست کښې چه کوم شهیدان کیدل د هغه شهیدان شو او کوم چه جُدا کیدل د هغوی جُدا شو۔ او کوم چه په میدان کښې باقی پاتے شو هغوی باندې بیرکالی راغله۔ دے نه پس رُعب او ویره لرے شوه او دومره وخت په حضرتؐ بیهوشی وه بیا چه کله بیدار شو نو ټول نبی علیه السلام سره جمع شول۔ بیا یے جنګ شروع کړو او د سُست ایمان والو اوویل چه څه کار هم زمونږ په لاس کښې شته په ظاهره دا معنیٰ ده چه د دے شکست نه روستو به زمونږ په لاس کښې څه کار هم پاتے وی یا بالکل وران شو یا دا معنیٰ چه الله تعالیٰ څه غوښتل نو هغه یے اوکړل زمونږ څه اختیار دے او نیت کښې دا معنیٰ وه چه زمونږ په مشوره یے عمل اونکړو چه دومره خلق مړه شو الله تعالیٰ د دواړو معنو جواب ورکړو او وے ښودل چه الله تعالیٰ ته په دیکښې حکمت منظور وو دے د پاره چه صادق او منافق معلوم شی۔

فتح الرحمٰن ۱ یعنی دے کار کښې زمونږ اختیار نشته او زمونږ نه بیر کار نه ورکوی۔ ۲ او دا کار د هغه د پاره اوشو چه د الله په علم کښې مقدر وو۔

تفسیر: ۲۲۹ نُعَاسًا د اَمَنَةً نه بدل دے چه کله د مُسلمانانو په لښکر کښې وار خطائی راغله کوم چه مخلص مُسلمانان وو په میدان کښې باقی پاتے وو په هغوی باندې سمدستی برکالی راغله۔ او هغوی په ولاړه ولاړه ځوبے وهل شروع کړل د هغوی د لاسونو نه به تورے غورزیدلے بالکل د جنګ په میدان کښې خوب راتلل دا په مُسلمانانو باندے د الله خاص مهربانی وه د دے اثر دا شو چه ستړے ستومانه او د زخمونو نه ډرے ډرے او وېرول شوی مُجاهدین بیا د زړونو نه د ویرے

او نا اُمیدئ اثر ختم شو او هغوی تازه دم شو او د سره د دُشمن مقابلے ته تیار شو. طَائِفَةً مِّنكُمْ دا بیهوشي په ټولو مُسلمانانو باندے نه وه راغلے بلکه صرف په مخلص مؤمنانو باندے ان هذه الطائفة هم المؤمنون الذین کانوا علی البصیرة فی ایمانهم (کبیر ص۱۴۳ ج۳) په دے آیت کښ الله تعالی په مُسلمانانو باندے د خپل انعام او احسان ذِکر اوکړو چه هغه څنګه د شِکست او خذلان نه روستو دو باره فتح ورکړه او څنګه یے د هغوی ویره او دهشت سکون او اطمینان سره بدل کړو. کوم خلق چه صادق الایمان وُو په هغوی باندے یے عین د جنګ په میدان کښ بیهوشي راوسټله چه په هغے سره ویره او نا اُمیدي ختمه شوه. ۲۳۰ دے طائفة نه مراد منافقین دی اجمع المفسرین علی ان هذه الطائفة هم المنٰفقون (بحر ص۸۶ ج۳) قد اهمتهم انفسهم. هغوي سره صرف د خپلو ځانو فکر وُو د اسلام فکر ورسره نه وُو نه د پیغمبر خُدا صلی الله علیه وسلم خیال وُو او نه د مُسلمانانو ځکه چه دا خلق خو صرف مالِ غنیمت د پاره راغلي وُو نه چه د اسلام د پاره. غیرالحق. د حقیقت خلاف او داسے ګمان چه د خُدائ د شان مناسب نه وی یظنون بالله غیرالظن الحق الذی یجب ان یظن به (کبیر ص۸۴ ج۳) ظن الجاهلیة دا مفعول مطلق دے، د تشبیه د پاره یا د ماقبل نه بدل دے او لفظ جاهلیت په قرآنی محاوره کښ د اسلام نه وړاندے د شرکی دَور د پاره استعمال شوید ے په اخلاص والؤ باندے خوبے معمولی شان خوب راوستلو چه هغوی د پاره د ویرے د لرے کیدو او د ثبات او استقامت باعث شو لیکن منافقان د دے نعاس رحمت نه محروم شو د دے وجے نه د دوی ویره او بُزدِلي بحال پاتے وه او په خپل کُفر او نفاق ظاهر ولو او د الله د پاک ذات د صفاتو متعلق یے داسے بدګمانئ شروع کړے چه بالکل د هغه د بے انتها شان خلاف او بالکل د دورِ جاهلیت د مُشرکانو او جاهلانو د باطل خیالاتو سره یو شان وُو. مثلاً هغوی دا ګمان شروع کړو چه ممکن ده چه الله تعالی د چا سره د تائید او نُصرت او فتح او کامیابئ وعدہ اوکړي او بیا هغه پوره نهٔ کړي ای یظنون ان اخلاف وعده سبحانه حاصل (روح ص۹۶ ج۴)

۲۳۱ هغه خو د دوی د باطن حال وُو اوس د ظاهر حال هُم واورئ استفهام د انکار د پاره دے او د آمر نه مراد فتح او نُصرت دے او مطلب دا دے چه منافقان به خپل مینځ کښ یو بل ته وائي چه د کوم نصرت او فتح محمدنؐ موږ سره وعده کوي هغه به هرګز نهٔ راځي. المعنی یقول لیس لنا من الظفر الذی وعدنا به محمد شيء (قرطبی ص۲۴۲ ج۴) یا استفهام په خپل اصل باندے دے نو مطلب به دا وی چه منافقان د نیازمندئ د سوال په طور د نبی علیه السلام نه تپوس کوی چه حضور! د کوم فتح او نُصرت چه الله تاسو سره وعده کړیده آیا هغه به راشي. یقول الحاضرون منهم لرسول الله صلی الله علیه وسلم علی صورة الاسترشاد هل لنا من امرالله تعالی و وعده بالنصر شيء (روح ص۹۶ ج۴) نو الله ورته د دے جواب د ورکولو حُکم ورکړو چه د فتح او نُصرت معامله مکمل طور باندے د الله په اختیار کښ ده. چه کله هغه د خپل رسول سره وعده اوکړه نو هغه به ضرور د ده مدد کوي. یخفون فی انفسهم مالا یبدون لك. د هغوی د ټولے عاجزئ او چاپلوسئ صرف منافقانه دی هغوی به خپلو زړونو کښ داسے خبرے پټے کړیدی چه هغه ستاسو مخکښ نشي ښکاره کولے.

۲۳۲ دا د ماقبل نه بدل دے یا د سوال مقدر جواب دے او منافقان چه کوم څه به خپلو زړونو کښ

یو ځای و هغې بیان وسره وایجملة لمابدل من یخفون او استئناف وقع جوابا عن سوال نشأ مما قبله
کأنه قیل ما الذی اخفوه؟ فقیل ذالک (روح ج۴ ص۹۵) او الامر نه هم هغه د فتح او نصرت وعده مراد
ده منافقانو به خپلو کښې یو بل ته وائی چه د الله د طرفنه وعده وغیره نشته که چرې واقعي د
محمد صلی الله علیه وسلم په ذریعه الله زمونږ سره د فتح او نصرت څه وعده کړې وې نو مونږ به دلته بې
شکسته نه خوړلے او نه به دا شان زمونږ خپلوان رشته دار قتلیدے. په نورو الفاظو کښې دا د
نبي علیه السلام تکذیب وو. بعضو مفسرینو د الامر نه تدبیر او مشوره مراد اخستې ده. من الامر
قیل الرأی والتدبیر (بحر ج۳ ص۸۹) یعنی هغوی به خپل مینځ کښې وائی چه زمونږ خوښیا وانه وریدل
شوه خو نبي دا وو چه مونږ به د مدینې نه بهر نه اوځو به خپلو کورونو کښې به اوسو که چرې زمونږ
رائے منلے شوې وې او زمونږ په مشوره باندې عمل شوے وې نو نه به مونږ ته دا شکست شوے
وې او نه به زمونږ دومره قتل. ۲۳۳ مضاجع جمع د مضجع ده او د دې نه د قتل کیدو ځای یا تې
غورځیدل مراد دی چرته چه د الله په علم کښې د هغوی قتل مقدر وو ای مصارعهم التی علم الله
تعالیٰ وقدر قتلهم فیها (روح ج۴ ص۹۶) دا د منافقینو د پورتني قول جواب دے چه د هغې حاصل دا دے
چه د مرګ وخت مقرر دے هیڅ صورت کښې نه شي روستو کیدے او نه په تدبیر سره قضا او
قدر بدلولے شي اے منافقانو! که چرې تاسو د جهاد د پاره نه وتلے او په کورونو کښې ناست وئ
نو چه د کومو خلقو قتلیدل په غزوهٔ اُحد کښې د الله په علم ازلي کښې مقدر شوي وو هغوی به د
الله د تکویني او تقدیري قانون لاندې ضرور د خپلو کورونو نه راوتلے وې او خپل د قتل ځایونو
ته به رسیدلے وې او یقیناً به قتل شوي وې. ولې د الله تکویني احکام هم چرته روستو کیدے
شي؟ ومعنی الآیة ان الحذر لاینفع من القدر والتدبیر لایقاوم التقدیر فالذین قدر علیهم القتل وقضاه
وحکم به علیهم لابد وان یقتلوا الخ (خازن ج۱ ص۳۶۶)
۲۳۴ په ولیبتلی کښې واؤ عاطفه دے او د دې معطوف علیه محذوف دے ای فعل ذالک لمصالح
جمة وللابتلاء والتمحیص (مدارک ج۱ ص۱۴۶) او دا خطاب عام دے مؤمنانو او منافقانو دواړو ته شامل دے
یعنی الله تعالیٰ په تاسو جهاد فرض کړو او بیا په جنګ اُحد کښې یې لږ وخت د پاره مدد او نصرت
بند کړو او تاسو ته یې شکست درکړو دا ټول هر څه یې د ډیرو حکمتونو لا ندې او کړل چه هغه
کښې یو دا وو چه دې د پاره چه ستاسو د صبر او استقلال امتحان واخستلے شي او ستاسو د زړونو
پټ رازونه ښکاره کړے شي یعنی د مخلصینو اخلاص او د منافقینو نفاق ظاهر کړے شي. لیختبر
الله تعالیٰ ما فی صدورکم باعمالکم ..... ای لیکشف ما فی قلوبکم من مخفیات الامور والنفاق ویمیزها (روح ج۴ ص۹۶)
۲۳۵ الله تعالیٰ خو د مخکښې نه د زړونو رازونه پیژنی په دې وجه هغه ته د ابتلاء او امتحان ضرورت
نشته لیکن د ځینې مصلحتونو په وجه خپل بندګان په امتحان کښې مبتلا کوي. مثلاً د مخلصینو
مؤمنانو مشق او ثابتقدم ساتلو او د منافقانو د نفاق کشف او اظهار وغیره ۲۳۶ الجمعان (دوه
ډلګے) یعنی د مشرکانو او مسلمانانو په جنګ اُحد کښې چه د کومو صحابؤ نه لغزش شوے وو. او
هغوی د مشرکانو تاسایي حملې سره وارخطا کیدو سره کښتیدلی وو په دې آیت کښې یې د هغوی
نوره تسلی او تسکین اوفرمایه او د آئنده د پاره یې د محتاط اوسیدو تلقین اوفرمایه. هغو د

بِمَا كَسَبُوْا نه یا خو د غښو و پښتو نکو دستے خپله مورچه پریښودل مراد اخستے ده ځکه چه په اُحد کښ د مسلمانانو د شکست د دے لغزش د تولو نه زیات دخل دے یا د دینه د هغوی ټینے نور کناهونه مراد دی. ځکه چه ځینے وخت انسان د خپلو بد عملونو د وجے نه هم د خدائی تائید او نصرت نه محروم شی او د یو ے گناه نه د بلے گناه د پاره د اماده کولو شیطان ته هم موقعه ملاؤ شی یعنی په جنګ اُحد کښ چه کوم مسلمانانو شکست اُخوړو او تښتیدلی وُو د هغوی د یوے تیرے شوے گناه په وجه شیطان هغوی دهوکه کړل او د هغوی قدمونه سیے اُخوښول او هغوی د میدان نه واپس شول د دینه څو ایتونه وړاندے هم الله د دے مؤمنانو د پاره د معافئ اعلان کړیدے او س د هغوی د نور تسکین او تسلی د پاره یے دوباره د معافئ اعلان اوکړو د الله فضل و کرم او د هغه د شفقت او رحمت نه ولے القاظو سره. غښو و پښتونکو او د میدان نه واپس تلونکو نه چه کوم لغزش اوشو په هغے باندے یے صرف تنبیه اُوکړه. او د دے په بدله کښ یے پو تباه کونکے شکست هم ورنکړو او بیلیے د هغوی قصور هم دا سے معاف کړو چه په آخرت کښ به په هغوی باندے هیڅ مؤاخذه نهٔ وی د دے وجے نه او س د دے قصور په وجه په دے دُنیا کښ په دے صحابو رضی الله عنهم باندے د طعن او ملامتئ کولو هم چا ته حق نشته. ۲۳۷ کوم خلق چه د الله نه د خپلو گناهونو معافی غواړی الله د هغوی گناه معاف کوی او په آخرت کښ به په دوی باندے مؤاخذه نهٔ وی او کوم مجرم او گنهګار چه د هغه نه معافی نهٔ غواړی د هغوی فوراً نیول نه کوی بلکه هغوی ته د توبے او استغفار موقع ورکوی

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَكُونُوا۟ كَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟

اے ایمان والو! تاسو مهٔ کیږئ د هغو پشان چه کافران شول

وَقَالُوا۟ لِإِخْوَٰنِهِمْ إِذَا ضَرَبُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ أَوْ كَانُوا۟

او وائی خپلو وروڼو ته کله چه هغوی سفر ته اُوځی په ملک کښ یا په جهاد

غُزًّى لَّوْ كَانُوا۟ عِندَنَا مَا مَاتُوا۟ وَمَا قُتِلُوا۟ لِيَجْعَلَ

کښی وی که چرے اُوسیدلے زمونږ سره نو نهٔ به مړهٔ کیدے او نهٔ به قتلیدے ۲۳۸ د دپاره

ٱللَّهُ ذَٰلِكَ حَسْرَةً فِى قُلُوبِهِمْ ۗ وَٱللَّهُ يُحْىِۦ وَيُمِيتُ ۗ

چه الله واچوی دے گمان سره افسوس د هغوی په زړونو کښ ۲۳۹ او الله ژوندی کول کوی او مړه کول کوی

وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿١٥٦﴾ وَلَئِن قُتِلْتُمْ فِى سَبِيلِ

او الله تعالیٰ ستاسو ټول کارونه وینی ۱۵۶ او که چرے تاسو قتل شئ د الله په لاره

اللّٰهِ اَوْ مُتُّمْ لَمَغْفِرَةٌ مِّنَ اللّٰهِ وَرَحْمَةٌ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُوْنَ ﴿۱۵۷﴾

کښې یا مړهٔ شئ نو بخښنه د الله او مهربانی د هغه بهتره ده د هغه شیز نه کوم چه هغوی جمع کوی ۲۴۱

نکات: ۱۔ شکوه او زجر د منافقانو د پاره ۔ ۲۔ بشارت د مؤمنانو د پاره ۔

تفسیر: ۲۳۸ اَلَّذِيْنَ كَفَرُوْا نه منافقان مراد دی وهم المنفقون کعبد الله بن ابی واصحابه (روح ج ۴ ص ۹۹)
لِاِخْوَانِهِمْ کښې لام په معنی د فِیْ دے او د اِخْوَان نه مراد د دلته منافقانو هغه رونړه دی.
یعنی منافقان. او که چرته د اخوت نه نسبی اخوت مراد وی نو په دیکښې به هغه مخلص مؤمنان
هم شامل وی چه د دوی هم نسب وو ای فی حق اخوانهم فی النسب او فی النفاق (مدارک ج ۱ ص ۱۴۳) دے
ایت نه تر لَاِلَى اللّٰهِ تُحْشَرُوْنَ پورے ایمان والو ته خطاب دے او هغوی د دے منافقانو په شان د
کیدو نه منع کړے شویدی. چه دهغوی په تقدیر باندے هم ایمان نهٔ وو او هغوی به د خپلو
مذهبی رونړو (منافقانو یا د نسبی مسلمانانو رونړو) په حق کښې چه هغوی به په یو تجارتی یا مبل
سفر کښې مړهٔ شول یا به په یو غزا کښې شهیدان شول داسے به یے وئیل چه که چرے دا زمونږ
رونړه په سفر نهٔ تللے او د محمد ﷺ سره په جهاد کښې شریک نه وے نو د مرګ او قتل نه به
بچ شوے وے او ژوندی به پاتے شوی وے. نے مرے به یے کوَلے الله د دے جواب اوفرمایه
چه مړی او ضمیت خوزهٔ یم مرګ او ژوند خو څما په قبضه کښې دے که چرے تاسو به خپلو کورونو
کښې ناست یئ نو هلته به هم په خپل مقرر وخت باندے تاسو ته مرګ راځی ځکه چه الله په دے
قادر دے چه هغه چالره چرته او غواړی نو مړے کړی. او بیا د الله په لاره کښې او بیا په جهاد کولو
کښې مړهٔ کیدل خو د الله د رحمت او مغفرت سبب دے. په دے ایتونو کښې مؤمنانو ته خطاب
دے لیکن د دے په ضمن کښې منافقانو ته زجر هم ورکړے شوید ے.

۲۳۹ لِيَجْعَلَ کښې لام عاقبت د پاره دے او د قالوا سره متعلق دے. ای قالوا ذالک واعتقدوا
لیکون ذالک حسرة فی قلوبهم (مدارک ج ۱ ص ۱۴۳) یعنی دے منافقانو پورته خبره اوکړه چه که چرے هغوی
په کور کښې اوسیدلے نو نه به مړهٔ کیدے او نه به وژل کیدے او په زړهٔ کښې یے هم دا اعتقاد
پوخ کړو چه واقعی په کور کښې اوسیدل د مرګ او د قتل نه انسان بچ کولے شی نو د دے اعتقاد
نتیجه او انجام به دا وی چه د دوی په زړونو کښې به حسرت او افسوس، ندامت او پښیمانی وی.
او په دے سره به دوی ته سخت اذیت او تکلیف رسیږی. والاشارة الی القول لکن باعتبار مافیه
من الاعتقاد واللام لام العاقبة (روح ج ۴ ص ۱۰۰) او که چرے د لام متعلق محذوف اُومنو یعنی القی
الله ذالک الاعتقاد فی قلوبهم نو په دے صورت کښې به لام د عاقبت د پاره نهٔ وی بلکه تعلیلیه وی.
۲۴۰ دا د منافقانو د مذکوره قول رد دے مرګ او ژوند د الله په اختیار کښې دے دیکښې د سفر او
حضر هیڅ دخل نشته هغه چه کله اوغواړی مسافر او مجاهد ژوندے سلامت راولی او چه کله
اوغواړی نو په کور کښې ناست او جهاد کښې نهٔ شریکیدونکی د مرګ تورئ جوره کړی.

۲۴۱ لَئِنْ قُتِلْتُمْ د دے جزا محذوف ده یعنی فلا تحزنوا او لمغفرة الخ د جزاء محذوف علت
ده او د يَجْمَعُوْنَ ضمیر الذین کفروا طرفته راجع دے. کفار او منافقین چونکه د دنیا بندګان

وُو د هغوی نه وله منځه او کوشش صِرف د دُنیوی فائدې د پاره وُو او د هغوی د تهولونه لوئی خواهش داؤ چه د هغوی عُمرونه ډیر اُوږده وی او هغوی په دُنیا کښ پاتے شی ځنے هغو سے اوکړی په سفر کښ مړهٔ شوُو او د الله په لاره کښ د شهید شوُو په باره کښ د هغوی ذکر شوے قول چرته چه د دوی باطنی خیالات او قلبی مبتلا تونه راښکاره کوی هلته د دینه داهم ممکن وه چه د مُسلمانانو په زړونو کښ کم همتی یا د جهاد نه د نفرت وسوسه پیدا شی په دے وجه الله تعالیٰ په دے آیت کښ ایمان والوُ ته د جهاد ترغیب ورکړو او د الله په لاره کښ چه هغوی کوم تکلیفونه برداشت کړل د هغے په باره کښ ئے د دوی تسلی او تشفی اوکړه. وفیه ترغیب المؤمنین فی الجهاد .... وتعزیة لهم وتسلیة مما اصابهم فی سبیل الله تعالیٰ اثر ابطال ما عسیٰ ان یثبطهم عن اعلاء کلمة الله تعالیٰ (روح ج۴) یعنی اے ایمان والوُ! که چرے په تاسو کښ څوک د الله په لاره کښ جهاد کولو کښ او وژلے شی یا بل کوم دِینی کار کښ په طبعی مرګ سره مړشی نو د غم کولو ضرورت نشته ځکه چه د الله رحمت او مغفرت د دے نفسانی خوند ونو او دُنیوی نفعونه ډیر غوره دے د کوم په حاصلولو کښ چه دا کافران او منافقان شپه او ورځ مصروف دی.

وَلَئِن مُّتُّمْ أَوْ قُتِلْتُمْ لَإِلَى اللَّهِ تُحْشَرُونَ ﴿١٥٨﴾ فَبِمَا رَحْمَةٍ

او که چرے تاسو مړهٔ شوئ یا او وژلے شوئ نو ضرور به د الله په مخکښ جمع کولے شئ تاسو تهول ۲۲۱ دا

مِّنَ اللَّهِ لِنتَ لَهُمْ ۖ وَلَوْ كُنتَ فَظًّا غَلِيظَ الْقَلْبِ

تو دا د الله څخه رحمت دے چه ته نرم دِله ملاوُ شے هغوی ته او که چرے ته وے تیز خوئ والا

لَانفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ ۖ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ

سخت زړهٔ والا نو خوریدل به ستا د خوا نه ۲۲۲ نو ته د دوی معاف کړه او د دوی د پاره بخښنه اوغواړه

وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ ۖ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى

او د دوی نه مشوره واخله په کار کښ ۲۲۳ بیا چه قصد اوکړے ته د دے کار نو بیا بهروسه

اللَّهِ ۚ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِينَ ﴿١٥٩﴾ إِن يَنصُرْكُمُ اللَّهُ

اوکړه په الله باندے الله محبت کوی توکل کوُونکو سره ۲۲۴ ۲۲۵ که چرے الله ستاسو مدد اوکړی

فَلَا غَالِبَ لَكُمْ ۖ وَإِن يَخْذُلْكُمْ فَمَن ذَا الَّذِي

نو هیڅوک به په تاسو باندے غالب نشی او که چرے مدد اُونکړی ستاسو نو بیا داسے څوک دے چه

يَنْصُرُكُمْ مِّنْ بَعْدِهٖ ؕ وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ (۱۶۰)

مدد او کړے شي ستاسو دے نه پس ۲۳۶ او صرف په الله باندے بهروسه کاردے مسلمانانو ته

وَمَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَنْ يَّغُلَّ ؕ وَمَنْ يَّغْلُلْ يَأْتِ بِمَا غَلَّ

او د نبي کار نه دے چه څه پټ اوساتي ۲۳۷ او هر څوک چه پټ کړي هغه به راوړي خپل

يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۚ ثُمَّ تُوَفّٰى كُلُّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ (۱۶۱)

پټ کړے څيز په ورځ د قيامت بيا به پوره ورکړے شي هر چاته کوم څه چه هغه کسب کړي وي او په دوي به ظلم نه کيږي ملاقي

نکات: شذ زجر منافقانو د پاره چه هغوي په نبي علیه السلام باندے الزام لګولے وو ۲ بشارت اخروي.

موضح قرآن ف یعني نیک کار د پاره او وتلئ یا او وژلے شوئ نو په وتلو باندے افسوس مه کوئ دیکین انکار راغي د تقدیر نه او د آخرت فائده نه لیدل دا د نیازو نه خوښول دا بول خصلت دے د کافرانو ف شايد چه د حضورؐ زړه د مسلمانانو نه خفه شوے وي او غوښتلے يې وي چه اوس د دوي نه مشوره وانخلي نو الله تعالیٰ سفارش اوکړو او وے فرمائيل چه اول مشوره اخستل پکار دي چه کله يو خبره فيصله شي نو بيا مخکين روستو کيدل مه کوئ. ف د دے نه مراد د مسلمانانو زړونو ته تسلي ورکول دي دا خيال مه کوئ چه نبي علیه السلام په ظاهره معاف کړو او په زړه کين خفه دے بيا به چرته د زړه خفګان او باسي دا د نبيانو کار نه دے چه په زړه کين يو څه او په ظاهره بل څوي يا مسلمانان څه پوهول دي چه په حضورؐ ګمان مه کوئ چه غنيمت د مال نه څه پټ کړي شايد د دے وجے نه يې اوفرمائيل چه هغه غشو ويشتو نکو مورچه پرېښوده او منډه يې کړه غنيمت ته وله حضورؐ به دوي ته حِصه نه ورکوله يا به يې څه پټ ساتلے وے. او ويلے شي چه د بدر په جنګ کين د غنيمت نه يو څيز کم شو چا او ويل چه شايد حضرت صاحب د پاره کينبودلے وي په دے باندے دا آيت نازل شو.

فتح الرحمن ف مترجم وائي چه کله نبي علیه السلام منصرف وو نو په غنيمت کين دا آيت نازل شو دے د پاره چه څوک د خيانت ګمان اونه کړي.

تفسير ۲۳۵ که چرے تاسو په طبعي مرګ باندے مړه شئ يا د الله په لاره کين جهاد کولو کين قتل کړے شئ نو ستاسو د پاره د خوف او ويرے هيڅ وجه نشته ځکه چه تاسو به د مرګ او قتل نه روستو د خدائ غفور رحيم په بارګاه کين حاضر وُلے شئ چه په تاسو به خپل رحمت او بخښش اوکړي په آخرت کين د خدائ د رحمت او مغفرت اُميد وار صرف تاسو ايمان والا يئ. کافران، مشرکان او منافقان به په آخرت کين د رحمت او مغفرت په ځائ د خدائ د غضب او عقاب درا تلو ذريعه جوړيږي. يا ايها الذين امنوا نه تر دے ځائ پورے خطاب ايمانوالو ته وُو ليکن د دينه د منافقانو زجر مقصود دے ۲۳۶ د دے ځائ نه تر وعلى الله فليتوكل المؤمنون پورے نبي علیه السلام ته خطاب دے. فَبِمَا کين باء زائده د تاکيد د پاره

راو پسته شویه ؤ په جنګ احد کښې دکو مو صحابو څخه خوشینده وشه نبي علیه السلام هغوی سره دیر د مهربانئ سلوک اوکړو یو دے باندے الله تعالی د نبي علیه السلام نیک سلوک اوستائیلو او ارشاد سے اوفرمایئ چه ستا دا سلوک صرف د الله د مهربانئ او توفیق نتیجه ده الله تعالی ستاسو په زړه کښې واچوله چه تاسو د دوی سره د نرمئ او مهربانئ سلوک اوکړئ که چیرے په دے موقعه باندے تاسو صحابو سره سختي کړے نو دهغوی زړونه به مات شوے وے او د هغوی په زړونو کښې به د نفرت جذبات راپورته شوے وسے او نتیجه به دا وسے چه هغوی به ستاسو نه جدا شوے وے. انه علیه السلام لما رفق بمن تولی یوم احد ولم یعنفهم بین الرب تعالی انه انما فعل ذالک بتوفیق الله تعالی ایاه (قرطبی ج ۴ ص ۲۴۸) فَظّ بد ژبے غَلِيظَ الْقَلْبِ سخت زړه والا.

۲۳۳ صحابه کرامو سره یے د زیات رحمت او شفقت کولو تلقین اوکړو چه د دوی نه کوم غلطی اوشوه د هغے ورته تاسو هم معافی اوکړئ او د الله نه هم د هغوی د پاره د بخښنے دعا اوکړئ او په دوی کښې چه کوم اصحاب الرائے دی هغوی سره خو تاسو په جنګی معاملاتو او په نورو امورو کښې چه په کومو کښې وحي نه وی نازل شوے د هغوی سره مشوره هم کوئ په دے سره به د هغوی په زړونو کښې زیاته خوشحالی او راحت پیدا کیږی، د غسے د هغوی قدردانی به هم وی. وشاورهم فی امر الحرب ونحوه مما لم ینزل علیک فیه وحی تطییبا لنفوسهم وترویحا لقلوبهم ورفعا لقدرهم (روح ج ۴)

۲۳۴ چه کله مشوره وغیره اوشوه او تاسو د یو کار عزم او پخه اراده اوکړئ نو په هغے کښې کامیابئ د پاره ستاسو اعتماد او بهروسه صرف په الله باندے پکار ده نه چه په اسبابو او ذرائعو او مشورو باندے المعنی فاذا حصل الرای المتاکد بالمشورة فلا یجب ان یقع الاعتماد علیه بل یجب ان یکون الاعتماد علی اعانة الله وتسدیده وعصمته الخ (کبیر ج ۳ ص ۱۴۴) خلاصه چه په اسبابو کښې تاثیر پیدا کول او په خپلو کښې صلاح مشورے سره سوچ کړے شوی تدبیرونه او سکیمونه کامیابول او مقصد او حاجات پوره کول د الله په اختیار کښې دی. لانه سبحانه اسند الاقوم والملجا الاعظم الذی لا تؤثر الاسباب الابه ولا تنقضی الحوائج الا عند بابه (روح ج ۴) په دے وجه د جنګ او قتال نه وړاندے تول ممکن اسباب تیارول او په خپلو کښې د مشورے نه روستو د کامیابئ د پاره صرف په الله باندے اعتماد او بهروسه اوکړه میدان جنګ ته ورننوځه الله به ستا مدد اوکړی. خلاصه چه کوم خلق د ظاهری اسبابو تیارولو نه روستو په الله بهروسه کوی او تول نتائج الله ته سپاری الله تعالی دا سے خلق خوښوی او د هغوی مدد کوی.

۲۳۵ فتح او شکست، نصرت او رسوائی ټول د الله په لاس کښې دی چه کله هغه مدد کوی نو د بے سروسامانئ باوجود غلبه ورکوی او لویو لویو طاقتورو او زیاتو فوجونه مغلوب کوی لکه چه په جنګ بدر کښې اوشو چه بے سروسامانه او بے وسه مسلمانانو د الله په تائید او مدد سره د مشرکانو عظیم فوج ته ډیر خراب شکست ورکړو لیکن که چیرے الله تعالی ستاسو مدد او نصرت نه لاس واخلی نو بیا به په زمکه او اسمان کښې ستاسو څوک مدد کوونکے او غمخوار نه وی لکه چه په جنګ احد کښې اوشو. د دے وجے نه حقیقی اعتماد او بهروسه د الله په ذات باندے ساتل پکار دی. وعلی الله فلیتوکل المؤمنون ۵ او ایمان دارو له خو صرف په الله باندے بهروسه کول پکار

دي ځکه چه هغوی صرف الله خپل معبود (د عبادت او د اوامرو د لائق) کارساز حمايت کوونکی او مشکل کشا منلے دے او د هغوی ایمان دے چه صرف په الله باندے توکل او اعتماد سره د هغوی به هر کار کښې کاميابي او په هر ميدان کښې غلبه حاصليږي. او هغوی ته معلومه ده چه قضا او قدر د هغهٔ په قبضه کښې دے او د دُنيا هره معامله د هغهٔ په قبضه کښې ده يعنی لما ثبت ان الامر کله بيد الله وانه لا راد لقضائه ولا دافع لحکمه وجب ان لا يتوکل المؤمن الا عليه (کبير ج ٣ ص ٣١٢) ١٦٢ الله دے ځائی ته واخله ترو الله بصير بما يعملون. پورے د مُنافقانو د پاره زجر او د هغوی شکوه ده. د جنګِ بدر نه روستو چه کله مالِ غنيمت تقسيميدهٔ هغه وخت يوه جُبّه يا يو څادر د غنيمت د ذخيرے نه غائب شو نو څنو منافقانو اوويل چه رسول به اخستے وی په دے باندے الله تعالیٰ په دے ايت کښې د زجر په طور اُوفرمائيل چه د مالِ غنيمت نه د اُشان بلا اطلاع څهٔ څيز اخستل بشکاره خيانت دے او هيڅ يو نبي د اشان نهٔ دے چه هغه د خيانت پشان د نفرت والا جُرم اوکړی د جواب په دے طرز سره يے اشاره اوکړه چه نبوت او خيانت په يو کس کښې نهٔ شی جمع کيدے ځکه چه خيانت يو جُرم او کبيره ګناه ده او انبياء عليهم السلام د هر قسم ګناهونو نه پاک او معصوم وی المراد ان النبوة والخيانة لا يجتمعان (کبير ج ٣ ص ٢١٣) المعنی انه لا يمکن ذالک منه لان الغلول معصية والنبی صلی الله عليه وسلم معصوم من المعاصی فاعين ان يقع فی شیء منها وهذا النفی اشارة الی انه لا ينبغی ان يتوهم فيه ذالک (بحر ج ٣ ص ١٠٣) د قرآن مجيد دے مختصر او بليغ جُملے د هغه ټولو باطلو خيالاتو ترديد اوکړو چه د نبوت په باره کښې د چا په زړهٔ کښې پيدا کيدے شول مُشرکان او مُنافقان خو هسے هُم د نبوت د مرتبے د شرف او فضل نه نا خبره وُو. اهلِ کتاب اګرچه نبوت سره اشنا وُو ليکن په مزه مزه د هغوی په خيال کښې د نبي حيثيت صرف د يو کاهن پشان پاتے شو او هغوی دا خيال کولو چه نبي يو کاهن وی چه د اشده خبرو نه ورکوی. او عصمت هغوی د نبوت سره لازِم نهٔ ګنړلو. هُم دا وجه ده چه په بائيبل (انجيل) کښې د جليل القدر انبياء عليهم السلام طرف ته څو کبيره ګناهونه منسوب کړے شوی دی په دے ايت کښې يے د هغه ټولو غلطو خيالاتو ترديد اوکړو ٣٨ شوک چه په دُنيا کښې خيانت اوکړی د قيامت په ورځ به يے هغه د خيانت مال اوچت کړے وی او د الله په عدالت کښې به حاضر شی.

أَفَمَنِ اتَّبَعَ رِضْوَانَ اللَّهِ كَمَنۢ بَآءَ بِسَخَطٍ مِّنَ اللَّهِ

آيا يو کس چه تابع دے د الله د رضا برابر کيدے شی د هغه چا سره چا چه حاصل کړه غصه

وَمَأْوَىٰهُ جَهَنَّمُ ۚ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ ﴿١٦٢﴾ هُمْ دَرَجَٰتٌ عِندَ

د الله او د هغه ځائی دوزخ دے او ښه بد ځائی دے او رسيدهٔ ګټله د خلقو مختلف درجے دی د الله

اللَّهِ ۗ وَاللَّهُ بَصِيرٌۢ بِمَا يَعْمَلُونَ ﴿١٦٣﴾ لَقَدْ مَنَّ اللَّهُ عَلَى

په نزد او الله وينی کوم څه چه کوی بے له الله احسان اوکړو ايمان والو

الْمُؤْمِنِينَ إِذْ بَعَثَ فِيهِمْ رَسُولًا مِّنْ أَنفُسِهِمْ يَتْلُوا

باندې سته چه ولیږلو په دوی کښې رسول د دوی نه تلاوت کوي په دوی

عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ ۚ وَ

باندې سته ایتونه د هغه او پاکوي هغوی یعنی د شرک وغیره نه او ښائي دوی ته کتاب او د کار خبره

إِن كَانُوا مِن قَبْلُ لَفِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴿١٦٤﴾ أَوَلَمَّا

او هغوی د مخکښې نه بیشکه په ګمراهۍ ښکاره کښې وو ۲۵۱ آیا کوم وخت چه

أَصَابَتْكُم مُّصِيبَةٌ قَدْ أَصَبْتُم مِّثْلَيْهَا قُلْتُمْ أَنَّىٰ هَٰذَا ۖ

راورسیده تاسو ته یو مصیبت چه تاسو رسولے دے دوی ته دوچنده هغه تاسو وائي چه دا د چرته راغے

قُلْ هُوَ مِنْ عِندِ أَنفُسِكُمْ ۗ إِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿١٦٥﴾

ته ووایه چه دا تکلیف تاسو ته او رسیدا ستاسو د طرفه بیشکه الله په هر شی باندې قادر دے ۲۵۲

نکات: ۲۵۱ تخویف اخروی - ۲۵۲ دا قسم خیالات په زړه کښې مه راولئ بلکه شکر ادا کړئ چه الله په تاسو باندې احسان اوکړو ۲۵۳ زجر مؤمنانو د پاره.

موضح قرآن

ف یعنی نبی او ټول خلق برابر نه دی د طمع کار بے قدره کار د نبیانو نه نه کیږي ف۲ یعنی تاسو د بدر په جنګ کښې اویا کافران وژلے دی او اویا مو قیدیان کړي وو په دے جنګ کښې ستاسو اویا کسان شهیدان شول نو ولے خفه کیږئ او دا هم خپل قصور سره چه بے حکمئ سره اوجنګیدئ یا دا قصور چه د بدر قیدیان تاسو اونه وژل مال اخستلو سره مو پریښودل او حضرت فرمائیلي وو چه که چرے دوی پریږدئ نو ستاسو نه به اویا کسان شهیدان کیږي خلقو قبوله کړه او مال یے واخستلو او هغوی یے پریښودل.

تفسیر

۲۲۹ دا د ماقبل تتمه ده او استفهام انکاري دے یعنی چه څوک په خپل هر قول او فعل کښې د الله د رضا طالب او تلاش کوونکے دے نو څنګه چه د هر پیغمبر شان دے آیا د هغه په شان کیدے شي څوک چه د الله د غضب مستحق اوګرځي او جهنمي شي ری څنګه چه د خائن او د نورو مجرمانو حال دے مطلب دا چه دا دواړه یو شان نه دی نو بیا دا څنګه تصور کیدے شي چه د الله پیغمبر چه د هغه د ژوند مقصد د خدائ رضا ده هغه د خیانت په شان د جرم ارتکاب اوکړي چه ټول د الله د غضب او د عذاب الٰهي موجب دے هُمْ دَرَجَاتٌ عِندَ اللَّهِ د الله په نزد د دوی درجے مختلف دی کوم خلق چه د الله په رضا چلیږي د هغوی به اکرام او انعام او د محبوبیت درجے وي او چه څوک د حق لارے مخالفت اوکړي او د الله د غضب خریدار شي هغوی د پاره به ذلت او رسوائي او د مبغوضیت درجے وي. د غسے دا ایت په اخروي بشارت او تخویف

پاندے مشتمل دے. هُمۡ دَرَجٰتٌ کښې چونکه د دَرَجٰتٌ حمل په هُمۡ باندے صحیح نه دے په دے وجه یا د هُمۡ نه وړاندے لام مقدر دے یا د دَرَجٰتٌ نه وړاندے ذَوُوۡ. ای هم ذوو درجات ای منازل ..... وهذا معنی قول مجاهد والسدی لهم درجات (روح ص١٢٥ ج٤) ١٦٤ دا هُمۡ وَ مَا کَانَ لِنَبِیٍّ اَنۡ یَّغُلَّ سره متعلق دے. یعنی د پیغمبر بعثت خو الله پو بهترین نعمت او ډیر عظیم احسان دے کوم چه هغه په مؤمنانو باندے کړیدے. د دے وجے نه تاسو له د دے نعمت عظمیٰ شکریه ادا کول او د پیغمبر اتباع کول پکار دی نه چه د دے قسم غلطے خبرے د پیغمبر ذات طرفته منسوب کړئ. د نبی علیه السلام د بعثت اگرچه د ټول جهان د پاره بهترین نعمت وو لیکن د دے نعمت نه فائده اوچتونکی چونکه صرف مؤمنان دی په دے وجه ئے د هغوی ذکر په خصوصیت سره اوکړو او بیا مِنۡ اَنۡفُسِهِمۡ اضافه کولو سره ئے زیات رحمت او شفقت طرفته اشاره اوکړه د رسول بعثت هم د الله نعمت او رحمت وو ځکه چه د دے په ذریعه انسان د اخرت همیشه او آرام او راحت ژوند حاصلولے شی. لیکن بیا د انسانانو د جنس نه د رسول مبعوث کیدل دا د هغه نور شفقت او رحمت دے د هم جنس کیدو د وجے نه هغه بلا خوف او تکلیف د هغه نه هدایت حاصلولے شی دا شان په دے صورت کښې په د پیغمبر طبعی خواهشات او فطری ضرورتونه د نورو انسانانو پشان وی د دے وجه نه د هغه ژوند ټولو د پاره اُسوهٔ حسنه جوړیدلے شی. د دے نه دا هم معلومه شوه چه نبی علیه السلام د انسانانو د جنس نه وو. اراد به المؤمنین کلهم ومعنی من انفسهم انه واحد منهم وبشر مثلهم (قرطبی ص٢٦٤ ج٤)

اشله د دے ایت په دے حصه کښې الله تعالیٰ د نبی علیه السلام درے صفتونه بیان کړیدی. یا په نورو لفظونو کښې د بنه د رسالت درے فرائض او دا دی. اول دا چه هغوی په خلقو د الله ایتونه لولی او د دے الفاظ هغوی ته اَورَوی. دویم دا چه هغوی د منونکو عملی تربیت کوی او اخلاق رذیله عقائد باطله او اعمال سیئه مثلاً شرک او کفر او د اباؤ رسم و رواج نه د هغوی ظاهر او باطن پاکوی دریم دا چه هغوی د وی ته د کتاب الله مقصد ونه او معانی او د دے اسرار او رموز ښائی. د دے نه معلومه شوه چه د پیغمبر خدا صلی الله علیه وسلم د یو ټی صرف دا نه وه چه هغه د الله نه کتاب حاصل کړی او خلقو ته ئے ورکړی. او خلق پخپله هغه اولولی او خان پرپوه کړی او په هغے عمل اوکړی. ځکه چه د منکرین حدیثو خیال دے په دے ایت کښې الله اعلان اوکړو چه د الله کتاب لوستلو سره خلقو ته اورول د کتاب الله په اسرارو او معانیو باندے پوهول او د کتاب الله د تعلیماتو مطابق د هغوی عملی تربیت کول دا هم د پیغمبر علیه السلام په فرائضو کښې دی او دا ټول فرائض الله تعالیٰ د هغوی په ذمه لګولی وو ځکه چه قران د طرز بیان نه ظاهر یږی چه مونږ رسول الله صلی الله علیه وسلم مذکوره بالا صفاتو سره متصف او د پورتنو فرائضو ذمه دار ګرځولو سره اولیږلو. د قران الله دا بیان د دے خیال تردید کوی چه نبی علیه السلام پورتنے کار په خپل طور باندے یا د درخواست او سپارلو په وجه سره نه رسولو ځکه چه د پرویز یا نو خیال دے.

فائده ۹:- په دے ایت کښې د نبی علیه السلام چه کوم درے صفتونه بیان شویدی د دے تعلق د صحابه کرامو سره بالواسطه وو نبی علیه السلام بذات خود هغوی ته د قران کریم ایتونه اورول هغوی ئے د کتاب الله په اسرارو او معارفو پوهول او د هغوی تزکیه ئے اوکړه نو په دے ایت کښې

چه څنګه د نبي علیه السلام فضائل او مناقب او محامد او محاسن بیان کړے شویدي دغسے د دے نه د صحابه کرامو هم ډیر فضیلت معلومیږي چه هغوي پخپله د نبي علیه السلام نه تربیت موندلے وو او د اخلاق رذیله او افعال ذمیمه نه پاک صفا وو.

په آخر کښې د وَإِن كَانُوا مِن قَبْلُ لَفِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ جامع تعبیر سره یے د هغه ناپاک ماحول تصویر هم پیش کړو په کوم کښې چه الله تعالیٰ خپل آخري پیغمبر ﷺ مبعوث کړو. د هغوي د بعثت نه وړاندے هغه خلق بنکاره ګمراهئ کښې وو هغوي د ژوند په هره شعبه کښې د تیخ نه وړاندے شوي وو د هغوي اکثر صفات د احسان الاخلاق او شمائل د الله په نزد ناخوښه وو هغوي د انسان کیدو باوجود د انسانیت نه ډیر زیات لرے او حیوانیت او ظلم ته ډیر زیات نزدے وو. د دے ناپاک ماحول په ذکر سره د بعثت رسول د احسان عظیم اهمیت نور زیات شویدے.

۲۵۲ دا د مؤمنانو دپاره زجر دے په جنګ احد کښې د مسلمانانو اوویا کسان شهیدان شو. او وفتي طور باندے هغوي شکست هم اوخوړو په دے باندے مسلمانانو په حیرانتیا سره اووئیل چه دا شکست د چرته نه راغے مونږ خو د الله مسلمانان بندګان یو د هغه په آخري نبي باندے مونږ ایمان راوړے دے د هغه د توحید په خاطر د مشرکانو سره جهاد کوو مونږ مؤمنان او هغوي مشرکان او په مونږ کښې د الله نبي موجود دے بیا زمونږ سره د الله د فتح او نصرت وعده هم ده لیکن د دے باوجود بیا هم شکست مونږ اوخوړو اي من این اصابنا هذا الانهزام والقتل ونحن نقاتل في سبیل الله ونحن مسلمون وفینا النبي والوحي وهم مشرکون (قرطبي ج۴ ص۲۶۴) په دے باندے الله تعالیٰ د زجر په طور اوفرمائیل. چه کله په تاسو باندے مصیبت راغلے یعني په احد کښې ستاسو نه اوویا کسان اووژلے شول نو تاسو اووئیل چه دا مصیبت په مونږ باندے د چرته نه راغے حالانکه تاسو کافرانو ته د دے نه وړاندے جنګ بدر کښې د دے په شان چند نقصان رسولے وو په بدر کښې تاسو د هغوي نه اوویا کسان قتل کړي وو او اوویا بندیان کړي وو. قُلْ هُوَ مِنْ عِندِ أَنفُسِكُمْ. مسلمانانو ته د هغوي د حیرانتیا جواب ورکړے شو دا شکست ستاسو د عملي کوتاهئ نتیجه ده تاسو مرکز پرېښودو او د پیغمبر خدا ﷺ د حکم پرواه مو اونکړه او د مال غنیمت جمع کولو کښې مشغول شوئ اي انها السبب له حیث خالف الرماة امر رسول الله صلی الله علیه وسلم بلزومهم المرکز وحرصوا علی الغنیمة فعاقبهم الله تعالیٰ بذلک (روح ج۴ ص۱۱۳)

وَمَا أَصَابَكُمْ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعَانِ فَبِإِذْنِ اللَّهِ وَ

او کوم څه چه تاسو ته پیښ شو په هغه ورځ چه ملاؤ شو دوه فوجونه نو د الله په حکم سره شوے و

لِيَعْلَمَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿۱۶۶﴾ وَلِيَعْلَمَ الَّذِينَ نَافَقُوا ۚ وَقِيلَ

د دے دپاره چه معلوم کړي مؤمنان او د دے دپاره چه معلوم کړي هغه خلق چه منافقان وو ۲۵۳ او

لَهُمْ تَعَالَوْا قَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَوِ ادْفَعُوا ۖ قَالُوا لَوْ

او ویلے شو دوی ته چه راشئ جنګ وکړئ د الله په لاره کښې یا دفع کړئ دښمن وویل دوی

نَعْلَمُ قِتَالًا لَّاتَّبَعْنَاكُمْ ۗ هُمْ لِلْكُفْرِ يَوْمَئِذٍ أَقْرَبُ

که چرے موږ ته معلوم وے جنګ نو ضرور به تاسو سره وشو ملګری دغه خلق په دغه ورځ کفر ته نژدے

مِنْهُمْ لِلْإِيمَانِ ۚ يَقُولُونَ بِأَفْوَاهِهِم مَّا لَيْسَ فِي

دی په نسبت د ایمان وائی خپلو خولو سره کوم چه نشته

قُلُوبِهِمْ ۗ وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا يَكْتُمُونَ ﴿١٦٧﴾ الَّذِينَ قَالُوا

په زړونو کښې او الله ښه پیژنی کوم څه چه پټوی ئې (دوی) دغه خلق دی چه وائی خپلو

لِإِخْوَانِهِمْ وَقَعَدُوا لَوْ أَطَاعُونَا مَا قُتِلُوا ۗ قُلْ فَادْرَءُوا

رونړو ته او پخپله ناست دی که چرے هغوی زموږ خبره منلے وے نو نه به قتلیدے شوی ته

عَنْ أَنفُسِكُمُ الْمَوْتَ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿١٦٨﴾ وَلَا تَحْسَبَنَّ

او وایه اوس لرے کړئ د خپلو ځانونو مرګ که چرے تاسو رښتونی یئ او نه دے ګنړه هغه

الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتًا ۚ بَلْ أَحْيَاءٌ

خلق کوم چه اووژلے شو د الله په لاره کښې مړه بلکه هغوی ژوندی دی

عِندَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ ﴿١٦٩﴾ فَرِحِينَ بِمَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِن

د خپل رب سره خوراک ورکولے شی خوشحالی کوی په هغه څه چه ورکړل هغوی ته الله د خپل

فَضْلِهِ وَيَسْتَبْشِرُونَ بِالَّذِينَ لَمْ يَلْحَقُوا بِهِم مِّنْ

فضل نه او خوشخبری حاصلوی د هغوی د طرفه کوم چه لا نه دی راسیدلی دوی ته

خَلْفِهِمْ أَلَّا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿١٧٠﴾

د دوی نه روستو ځکه چه نه به ویره وی په هغوی باندے نه به هغوی غمژن شی

موضح قرآن:- ف د اهم د منافقانو کلام وو چه موږ ته معلومه شي جنګ یعنی په
ناحقه وسره وئیل چه څه وخت جنګ او وبیو نو شامل به شو یا دا وئیل چه موږ د جنګ د ول...

نه واقف نه ؤو او په زړهٔ کښې یې طعن اُولګولو چه زمونږ مشوره یې اُونه منله دوی ته معلومه نهٔ ده چه دا ئې لفظ سره کُفر ته نزدې شو او د ایمان نه لرې شو.

فتح الرحمٰن: ۔ طبعی مصلحت هم کښې.

تفسیر ۲۵۳ یوم التقی الجمعان (په کومه ورځ چه د دوؤ جماعتونو مقابله اوشوه) دې نه جنګِ اُحد مراد دې او په اِذنِ الله سره د الله اراده او د هغه قضا او قدر طرف ته اشاره ده اول یې اُوفرمائیل چه د اُحد شکست ستاسو د خپلو غلطو عملونو د نقصان نتیجه وه چه د هغې نه معلومیږي چه د دې شکست ټوله ذمه واري په مُسلمانانو باندې راځي. لیکن الله تعالیٰ صرف په خپل رحمت او شفقت سره د دې بوجه سپکولو د پاره اُوفرمائیل چه په اُحد کښې کوم وقتي شکست شوې وُو د دې په باره کښې د الله تعالیٰ فیصله هم دغه وه چه هغه واقع شي ځکه چه په دېکښې ډیر مصلحتونه پټ وُو۔ ۲۵۴ دویم لیعلم په رومبي لیعلم باندې معطوف دې۔ او د هغې عطف په باذن الله دې د قبیل د عطف د سبب نه په مسبب باندې او د علم نه مراد اظهار دې عطف علی باذن الله من عطف السبب علی المسبب والمراد لیظهر للناس و یثبت لدیهم ایمان المؤمن (روح ج ۴ ص ۱۱۸) یعني په اُحد کښې الله تعالیٰ د مُسلمانانو د شکست قضا او قدر کښې دې د پاره فیصله اوکړه چه مخلص مؤمن او منافق ظاهر شي او خلقو ته معلومه شي چه چا د زړهٔ په خلوص سره ایمان راوړې دې او کوم خلق منافق دي.

۲۵۵ قیل لهم عطف دې په نافقوا باندې یا دا استیناف دې او د هم ضمیر الذین نافقوا طرف ته راجع دې۔ او دېنه مراد عبدالله بن اُبيّ او د هغهٔ درې سوه ملګري دي چه په اُحد کښې یې د مُسلمانانو ملګرتیا پریښوده او واپس لاړل. نو عبدالله بن عمرو بن حرام او نورو د مُسلمانانو هغوی پوهول او د واپس راوستلو کوشش یې اوکړو او هغه مُنافقانو ته یې اوویل چه واپس ولې ځئ زمونږ سره محکښې لاړ شئ او (قَاتِلُوْا فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ) د الله دین او د هغهٔ د توحید د اُوچتولو د پاره د مُشرکانو سره جهاد اوکړئ او ادفعوا اوکه چرې تاسو د الله د رضا او د آخرت د ثواب د پاره نه جنګیږئ نو دومره خو اوکړئ چه د خپل ځان او مال او د خپل ښار د دفاع د پاره د کافرانو سره جنګ اوکړئ. اوادفعوا عن اهلکم وبلدکم وحریمکم ان لم تقاتلوا فی سبیل الله تعالیٰ (ابوالسعود ج ۳ ص ۱۳۳) وقیل انهم خیروا بین ان یقاتلوا للآخرة او لدفع الکفار عن انفسهم واموالهم (روح ج ۴ ص ۱۱۸)

۲۵۶ دا د منافقانو جواب دې د مُسلمانانو د پند او نصیحت په هغوی باندې هیڅ اثر اُونهٔ شو او هغوی اُوویل چه که چرې دا څه موزون جنګ وې نو مونږ به ضرور ستاسو سره ملګرتیا کولې لیکن دا جنګ نهٔ دې دا خو خودکشي ده د دُشمن فوج زیات د هغوی سره د جنګ سامان زیات او بیا د خپل ښار نه بهر وتل او د داسې زبردست دُشمن سره جنګیدل داکومه هوښیارتیا ده ای لو نعلم ما یصح ان یسمی قتالا لاتبعناکم یعنون ان ما انتم فیه خطأ رأیکم لیس بشيء ولا یقال لمثله قتال انما هو القاء النفس فی التهلکة (مدارک ج ۱ ص ۱۴۸) لیکن حضرت شیخ رحمة الله علیه فرمائي چه که چرې مونږ دا جهاد ګڼړلې نو ضرور به په دېکښې شریکیدې او ستاسو

ملګرتیا بہ مو کړے لیکن دا خو بالکل جهاد نه دے دا خو ظلم او قتل دے هُمْ لِلْكُفْرِ يَوْمَئِذٍ
أَقْرَبُ مِنْهُمْ لِلْإِيمَانِ دلته الله تعالیٰ د دوی نفاق او پټ کفر ډیر واضحه الفاظو کښې بیان
کړو چه کله دوی دا خبرے اوکړے نو دغه وخت دوی د ایمان په نسبت کفر ته زیات نزدے
شول اول خو هغوی په خپلو اقوالو او افعالو کښې پوره داحتیاط نه کار اخستلو چه په هیڅ
سره د دوی نفاق پټ وُو لیکن د دوی په جهاد کښې نه شریکیدل او د دوی د پورتنو خبرو
نه د دوی د نفاق راز ښکاره شو او هغوی بالکل بربنډ شول انهم كانوا يظهرون الايمان و لم
تكن تظهر لهم امارة تدل على الكفر فلما انخذلوا عن المؤمنين و قالوا ما قالوا ازدادوا قربا للكفر و تباعدوا
عن الايمان (بحر ج۳ ص۱۱۱) ف۲۵۷ دا جمله مستانفه ده چه د منافقانو مطلق حال بیانوی یعنی هغوی
په ژبو سره د یو داسے خبرے اقرار کوی چه د هغوی د اندرونی او باطنی عقیدے خلاف ده.
په ژبو سره خو هغوی د ایمان دعوی کوی لیکن د هغوی په زړونو کښې ایمان نشته د هغوی
په زړونو کښې خو هم هغه د کفر او شرک اعتقاد دے المراد ان لسانهم مخالف لقلبهم فهم وان
كانوا يظهرون الايمان باللسان لكنهم يضمرون فى قلوبهم الكفر (كبير ج۹ ص۸۲) وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا يَكْتُمُونَ
الله تعالیٰ د دوی نِفاق او د دوی پټ خیانتونه د نبی علیه السلام او د مؤمنانو په نسبت زیات پیژنی
ځکه چه دوی ته خو په ظاهری علامتونو سره څه لږ ډیر معلوم دی لیکن الله تعالیٰ ته خو د هر
څیز پوره حقیقت او ټول تفصیلات معلوم دی.

ف۲۵۸ دا د الذين نافقوا نه بدل دے او منصوب دے ځکه چه مبدل منه په محل د نصب کښې
دے منصوب على الذم او على انه نعت للذين نافقوا او بدل منه (روح ج۴ ص۱۲۱) او په لِإِخْوَانِهِمْ کښې
د اخوت نه نسبی یا د قُرب وجوار او وطنیت اخوت مراد دے. او د اِخوان نه مراد هغه مؤمنان
دی کوم چه په جنګِ اُحد کښې شهیدان شول معناه لاجل اخوانهم وهم الشهداء المقتولون من
الخزرج وهم اخوة نسب و مجاورة لا اخوة الدين اى قالوا لهؤلاء الشهداء لو قعدوا اى بالمدينة ما قتلوا.
(قرطبي ج۴ ص۲۶۷) یعنی منافقانو د هغه شهیدانو په باره کښې کوم چه په اُحد کښې شهیدان شوا وکوم
چه د نسب په اعتبار سره د دوی د قبیلے او رونړه وُو دا بیانی اووئیل چه که چرے هغوی زمونږ
خبره منلے وے او په دے جنګ کښې نه وے شریک شوے او په مدینه کښې پاتے شوے وے
نو د هغوی ځانونه به بچ شوے وے او هغوی به نه قتلیدے. ف۲۵۹ دا د منافقانو ذکر شوی
قول جواب دے. په قُلْ کښې خطاب نبی علیه السلام ته دے یعنی تاسو منافقانو ته اووایئ چه
که چرے ستاسو دا خبره صحیح وی چه په کور کښې ناسته د مرګ نه بچاؤ او د ژوند ضمانت دے
نو تاسو چه په خپلو کورونو کښې ناست یئ او په جنګ کښې نه یئ شریک شوی بیا خو تاسو
خپل ځانونه د مرګ نه بچ کړئ. دا ګویا چه د منافقانو د دے دعوے تکذیب دے. اى ان كان
القعود يسلم به الشخص من القتل والموت فينبغى انكم لا تموتون والموت لا بد آت اليكم ولو كنتم فى
بروج مشيدة (ابن كثير ج۱ ص۴۲۵) مفسرینو لیکلی دی چه په کومه ورځ منافقانو دا خبره کړے وه په هغه
ورځ د هغوی اویا کسان مړه شوی وُو. روى انه مات يوم قالوا هذه المقالة سبعون منافقا.
(مدارک ج۱ ص۱۵۱، قرطبی ج۴ ص۲۶۷) ف۲۶۰ د وَلَا تَحْسَبَنَّ نه تر لا يضيع اجر المؤمنين پورے د شهیدانو د پاره

اُخروي بشارت دے اول یے د منافقینو د دے خبرے رد اوکړو چه د احتیاط په وجه د مرګ نه خلاصے مُوندے شي اوس یے دلته اُوفرمائیل چه د کوم قتل نه تاسو ویریږئ هغه خو ویرے ځیز نه دے هغه خو ډیر د اعلیٰ درجے ځیز دے او د دین او دُنیا ډیر لوئ سعادت دے کوم خلقو ته چه دا د شهادت مرګ نصیب شي او هغوي د الله په لار کښ قتل شي نو هغوي ته د قتل نه روستو په برزخ کښ امتیازي ژوند حاصلیږي کوم چه عامو مسلمانانو ته حاصل نهٔ وي. د دے وجے نه د شهادت مرګ خوښهٔ ولے ځیز نه دے چه د دے نه د بچ کیدو او د تیښتے تدبیرونه سوچ کړے شي بلکه د دے د حاصلیدو تمنا خو د هر یو په زړهٔ کښ پکار ده. القتل الذی یحذرونه و یحذرون منه لیس مما یحذر بل هو من اجل المطالب التی یتنافس فیها المتنافسون (روح ج۴)

دشهیدانو د ژوند تحقیق

د شهیدانو د ژوند په باره کښ د قرآن مجید دوه آیتونه دي یو خو دا زیر تفسیر آیت او دویم آیت په سورة بقره ع ۱۹ کښ تیر شوے دے. دلته یے اُوفرمائیل چه شهیدان مړهٔ مهٔ ګنړئ او هلته یے اُوفرمائیل چه هغوي ته مړهٔ مهٔ وایئ حالانکه د دے حقیقت نه انکار نهٔ شي کیدے چه شهیدان قتل کړے شي او د هغوي روحونه د عنصري بدنونو نه پرواز کوي او د هغوي د بدنونو نه د اسے جُدا کیږي چه د هغے سره د هغوي هیڅ تعلق نهٔ پاتے کیږي لکه چه د علامه بیضاوي قول مخکښ راغی. نو د دے نه معلومه شوه چه د شهیدانو دُنیوي ژوند خو د الله په لاره کښ قتل کیدو سره او د روح د بدن نه وتلو سره ختمیږي. د دے وجے نه ظاهره ده چه د شهادت نه روستو چه هغوي ته کوم ژوند حاصلیږي هغه دُنیوي نهٔ وي بلکه د دے نه مختلف وي کله چه هغوي په دُنیا کښ ژوندي وُو نو د هغوي ژوند هم دُنیوي وُو یعني د روح او بدن دواړو یو ځائ کیدو سره هغوي ژوندي وُو لیکن په مرګ سره یے دُنیوي ژوند ختم شو او د برزخ زمانه شروع شوه په دے وجه اوس به دے ژوند ته برزخي ژوند ویلے شي او دا ژوند به بغیر د شراکت د عنصري بدن نه صرف د روح د پاره وي. دا معامله چونکه د عالم غیب سره تعلق ساتي لکه چه برزخ د عالم غیب ځیز دے په دے وجه د دے برزخي ژوند د کیفیت په باره کښ د عقل او فکر، رائے او قیاس نه د څهٔ وئیلو هیڅ یو ته څهٔ حق نشته او نهٔ په دے معامله کښ د کتاب او سُنت د نصوصُ نه چه کوم څهٔ ثابت وي د هغے نه تجاوز کول جائز دي. علامه سیّد محمود آلوسي په سُورة بقره کښ د وَلٰكِنْ لَّا تَشْعُرُوْنَ د لاندے فرمائي اي لا تحسون ولا تدرکون ما حالهم بالمشاعر لانها من احوال البرزخ التی لا یطلع علیها ولا طریق للعلم بها الا بالوحی (روح ج۲) د شهیدانو د ژوند کیفیت طرفته په قرآن مجید کښ خو صرف یو څو اجمالي اشارے دي تفصیل نشته دے. مثلاً په قرآن مجید کښ د دے طرفته اشاره ده چه د قتل نه روستو چه شهیدانو ته کوم ژوند ملاویږي هغه دُنیوي ژوند نه دے بلکه برزخي دے او د عالم غیب یو حالت دے. اَحْيَآءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ کښ عِنْدَ رَبِّهِمْ سره د دے طرف ته اشاره ده چه هغوي د خپل مهربان رب سره او په عالم غیب کښ ژوندي دي. علامه خازن لیکي

انهم احیاء عند الله تعالی فی عالم الغیب لانهم صاروا الی الآخرة (تفسیر خازن ج۱ ص۳۸۵) په قرآن مجید کښې د دے خبرے هم صراحت شته چه شهیدان په عالم برزخ کښې خوراک څکاک هم کوی. د حیات شهداء د تفصیلي کیفیت د نبوله پهتر او ډیر صحیح هم هغه دے کوم چه صاحب وحی نبی اکرم ﷺ په تفصیل بیان کړے دے. حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه فرمائی چه کله دا آیت نازل شو نو مونږ د نبی علیه السلام نه د دے باره کښې تپوس اوکړو چه اے د الله رسوله! هغوی څنګه ژوندی دی مونږ خو وینو چه هغوی قتل شویدی نو نبی علیه السلام په جواب کښې اوفرمائیل چه هغوی داشان ژوندی دی چه الله تعالی د هغوی روحونو ته د شنو مرغانو جسم ورکړے دے او هغوی بے په جنت کښې آزاد پریښے دی هغوی په جنت کښې چرته چه غواړی ځی راځی او سیل کوی. علامه قرطبی فرمائی وقال آخرون ارواحهم فی اجواف طیر خضر وانهم یرزقون فی الجنة ویاکلون ویتنعمون وهذا هو الصحیح من الاقوال لان ما صح به النقل فهو الواقع (قرطبی ج۴ ص۲۶۸) او علامه ابو السعود حنفی د امام واحدی نه ناقل دے. الاصح فی حیاة الشهداء ما روی عن النبی صلی الله علیه وسلم من ان ارواحهم فی اجواف طیور خضر وانهم یرزقون ویاکلون ویتنعمون (ابو السعود ص۱۳۸).

د حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه د حدیث الفاظ دا دی مسروق بیان کوی چه مونږ د عبد الله بن مسعودؓ نه د آیت وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتًا آیة د مطلب تپوس اوکړو نو هغویؓ اوفرمائیل چه مونږ هم د نبی علیه السلام نه د دے آیت په باره کښې تپوس کړے وو نو هغویؐ اوفرمائیل ارواحهم فی جوف طیر خضر لها قنادیل معلقة بالعرش تسرح من الجنة حیث شاءت ثم تاوی الی تلک القنادیل الحدیث (صحیح مسلم ج۲ ص۱۳۵، جامع ترمذی ج۲ ص۱۳۶، ابن ماجه ص۲۰۱، تفسیر ابن جریر ج۴ ص۱۰۳ ص۱۰۴) د غسے حضرت کعب بن مالک رضی الله عنه نه روایت دے چه د هغے الفاظ دا دی ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال ان ارواح الشهداء فی طیر خضر تعلق من ثمر الجنة او شجر الجنة (جامع ترمذی ج۱ ص۱۹۶، ابن ماجه ص۲۰۱، ص۳۱۰، نسائی ج۱ ص۲۹۲، موطا امام مالک ص۲۴۰، مسند احمد ج۶ ص۳۸۶) او حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنهما روایت کوی قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لما اصیب اخوانکم باحد جعل الله ارواحهم فی اجواف طیر خضر ترد انهار الجنة وتاکل من ثمارها وتاوی الی قنادیل من ذهب فی ظل العرش الحدیث (مستدرک حاکم ج۲ ص۸۸، ص۲۹۷، تفسیر ابن جریر ج۴ ص۱۰۳، مسند احمد ج۱ ص۲۶۶، ابو داؤد ج۱ ص۳۴۳) د غسے حضرت ابو سعید خدری رضی الله عنه نه هم د دے مضمون یو مرفوع حدیث روایت شوے دے اوګورئ درمنثور ج۲ ص۹۶ د دے حدیثونو الفاظو کښې اګرچه معمولی شان اختلاف دے لیکن د ټولو حاصل هم هغه دے کوم چه مخکښې بیان کړے شویدی په دے حدیثونو کښې نبی صلی الله علیه وسلم ډیر په وضاحت سره د شهیدانو د برزخی ژوند حقیقت بیان کړے دے. د صحابه کرامؓ او تابعینو نه هم د غه شان منقول دی او هم دا محققینو مفسرینو راجح او صحیح ګرځولی دی. حضرت عبد الله بن مسعودؓ عبد الله بن عباس، کعب الاحبار، عکرمه، سدی کبیر، ابو العالیه، قتاده، ربیع وغیرهم د اقوالو د پاره ملاحظه کړئ (تفسیر ابن جریر ج۲ ص۲۳، ج۴ ص۱۰۶ و ص۱۰۷ او تفسیر درمنثور ج۱ ص۱۵۵ ج۲ ص۹۶. د کلام حاصل دا چه په عالم برزخ کښې د شهیدانو د ژوند مطلب دا دے چه د دوی روحونو ته د مرغانو شکلونه ورکولے شی چه په هغے کښې داخل شی او په جنت کښې ګرځی راګرځی

او خوراك څښاك كوي او د شپې دعرش د لاندې په قنديلونو (فانوس) كښې شپه تيروي او ظاهره دا چه دا د مرغانو شكلونه مثالي دي نه چه عنصري ځكه چه د شهيدانو عنصري جسمونه خو په قبرونو كښې دفن دي نو ددې نه معلومه شوه چه په عالم برزخ كښې د شهيدانو ژوند صرف روحاني او برزخي دې ددوي بدنونه په قبرونو كښې دي ليكن د دوي روحونه د مرغانو په قالبونو كښې د جنت د نعمتونو نه فائده اخلي علامه بيضاوي په سورة بقره كښې فرمائي. و لكن لا تشعرون ماحالهم وهو تنبيه على ان حيوتهم ليست بالجسد ولا من جنس مايحس به من الحيوانات وانما هي امر لا يدرك بالعقل بل بالوحي (تفسير بيضاوي ج ۱ ص ۲۱) ليكن تاسو نه پوهيږئ چه هغوي په كوم حال كښې دي او دا په دې خبره باندې تنبيه دا چه ددې (شهيدانو) ژوند جسماني نه دې او نه د ژوندو پشان په ظاهري حواسو سره محسوس قسم ژوند دې او نه ددې ادراك په عقل سره كيدې شي بلكه ددې د كيفيت ادراك صرف په وحي سره كيدې شي. او مولانا شاه عبد العزيز دهلوي فرمائي. حيات شهداء يعني تعلق ارواح بابدان لطيفه براے استيفائے لذائذ كه موقوف برآلات بدنيه است نه تعلق ارواح با ابدان سابقه و نه بقائے روح بادراك وشعور الخ (عزيزي ص۵۸۶) يعني د شهيدانو د حيات مطلب دا دې چه د هغې لذتونو د حاصلولو د پاره چه د كوم حاصلول په آلاتو باندې موقوف دي ارواح د ابدان مثاليه سره متعلق شي. دا مطلب نه دې چه ارواح د سابقه (عنصري) ابدانو سره متعلق شي او نه دا چه د روح ادراك او شعور باقي پاتې شي.

د انبياء عليهم السلام حيات

ددې اوبو او دختو د دنيا نه د سفر كولو او تللو كيفيت الله تعالى د ټولو بنيادمو د پاره يو مقرر كړيدې او هغه مرګ دې او ددې نه هيڅ يو انسان د بچيدو ځائي نشته ځكه چه ارشاد دې كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ (انبياء ع ۳) يعني هر ژوندې د مرګ څكونكې دې خواه پيغمبر وي يا غير پيغمبر. د حضرت عيسى عليه السلام نه سِوا د خُدائي ټولو پيغمبرانو د مرګ پياله څښلې ده (د حضرات ادريس، الياس او خضر عليهم السلام په باره كښې محقق قول او صحيح مذهب دا دې چه هغوي وفات شويدي) ځكه چه د حضرت يعقوب عليه السلام په باره كښې د الله پاك ارشاد دې أَمْ كُنتُمْ شُهَدَآءَ إِذْ حَضَرَ يَعْقُوبَ الْمَوْتُ (بقره ع ۱۶) ايا نه هغه وخت موجود وئ چه كله په حضرت يعقوب باندې د مرګ وخت راغې. د حضرت يُوسف عليه السلام په باره كښې يې اُوفرمائيل حَتَّىٰ إِذَا هَلَكَ قُلْتُمْ لَن يَبْعَثَ اللَّهُ مِن بَعْدِهِ رَسُولًا (مؤمن ع ۴) تردې چه هغه وفات شو تاسو اووئيل چه اوس خو به الله تعالى هيڅ رسول نه راليږي د حضرت سُليمان عليه السلام په باره كښې ارشاد دې فَلَمَّا قَضَيْنَا عَلَيْهِ الْمَوْتَ مَا دَلَّهُمْ عَلَىٰ مَوْتِهِ إِلَّا دَآبَّةُ الْأَرْضِ تَأْكُلُ مِنسَأَتَهُ (سبا ع ۲) نو چه كله مونږ په هغه (سليمان) باندې د مرګ حُكم جاري كړو نو هغوي (پيريانو) ته دده د مرګ پته هيڅ ورنكړه ليكن د ونبو چينجو چه د هغه همسا يې خوړله. او په خپله د نبي اكرم صلى الله عليه وسلم په باره كښې ارشاد

دے اِنَّكَ مَيِّتٌ وَّاِنَّهُمْ مَّيِّتُوْنَ (زمر ع ۳) تاسو به هم مرئ او دوی به هم مری. د دینه علاوه د نبی علیه السلام په مرګ باندے د ټولو صحابوُ اجماع هم شوید ه ځکه چه په صحیح حدیثونو کښې موجود دی چه کله نبی علیه السلام وفات شونو حضرت عمر رضی الله عنه دا سخت تکلیف ورکوونکے غم برداشت نکړے شو او بے اختیاره شو اعلان یے اوکړو چه خبردار څوک هم دا مه وایئ چه نبی علیه السلام وفات شویدے کنی دهغه څټ به په توره اووهم چه کله حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه دا حال اُولیده نو هغه د ټولو صحابوُ په وړاندے یوه بلیغ خطبه ارشاد اُوفرمائیله دهغے اقتباس ملاحظه کړئ من کان یعبد محمدا فان محمدا قد مات ومن کان یعبد الله فان الله حی لا یموت وقال انك میت وانهم میتون (صحیح بخاری ج ۱ ص ۱۷) په تاسو کښې چه چا د محمد صلی الله علیه وسلم عبادت کولو نو هغه دِ واوری چه هغه خو وفات شویدے او په هغه باندے مرګ راغلے دے او چا چه د الله عبادت کولو نو هغه همیشه ژوندے دے او دا ایت یے هم اُولوسته چه بیشکه تاسو هم مړه کیدونکی یئ او دوی به هم مری. حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه چه کله دا خُطبه ورکړه نو په صحابوُ کښې هیچا هم د هغه په کومه خبره انکار اونکړو او حضرت عمرؓ تسلیم کړه چه واقعی نبی علیه السلام وفات شویدے نو ټولو صحابوُ دا یقین اوکړو چه نبی علیه السلام وفات شویدے دهغوی جسد اطهر یے په قبر مبارك کښې دفن کړو. غرض دا چه د مرګ نه هیچا خلاصے نشته. ټول انبیاء علیهم السلام او ټول بنیادم دے دروازے نه تیرشول او عالم برزخ ته اُورسیدل او کوم چه باقی دی نو هغوی به هم ددے دروازے نه تیریږی او د فوت معنی ده روح د بدن عنصری نه وتل او دده نه جُدا کیدل. امام راغب اصفهانی په دے ایت کښې د موت مفهوم داشان فرمائی وقوله کل نفس ذائقة الموت فعبارة عن زوال القوة الحیوانیة وابانة الروح عن الجسد (المفردات ص ۴۹۳) یعنی موت د قوت حیات زائل کیدل او د روح د بدن نه جُدا کیدل نوم دے علامه ابن عبدالبر ابوعبدالله قرطبی لیکی. واجل الموت هو الوقت الذی فی معلومه سبحانه ان روح الحی تفارق جسده (قرطبی ج ۴ ص ۲۲۶) اجل موت دهغه وخت نوم دے چه په هغے کښې د الله د علم مطابق د جاندار روح د هغه د بدن نه جُدا کیږی. علامه سیوطیؒ فرمائی قال العلماء الموت لیس بعدم محض ولا فناء صرف وانما هو انقطاع تعلق الروح بالبدن و مفارقة وحیلولة بینهما وتبدل حال وانتقال من دار الی دار (شرح الصدور ص ۸ وبشری الکئیب ص ۱۴۰) عُلماوُ ویلی دی چه مرګ د عدمِ محض او فناءِ صرف نوم نه دے بلکه مرګ د بدن سره د روح تعلق قطع کیدل، روح او بدن کښې جُدائی او پرده حائل کیدل او د یو دار (دُنیا) نه بل دار (عالم برزخ) ته د منتقل کیدو نه عبارت دے او علامه سید محمود آلوسی حنفی لیکی الاماتة بمعنی اخراج الروح وسلب الحیاة (روح ج ۲۳ ص ۳) امات معنیٰ ده د روح ویستل او د ژوند سلب کول او بیا د مرګ دا مذکوره کیفیت د مفهوم سره د ټولو د پاره یو شان دے او ټول بنیادم که پیغمبران وی یا شهیدان او یا عام مسلمانان نو باندے د روح ویستل د بدن نه او د روح جُدا کول د بدن نه یو شان یو طریقه سره راځی لیکن د اعزاز او اکرام او د تحقیر او تذلیل فرق ضروروی. انبیاء علیهم السلام، شهیدان

او د نورو مؤمنانو نه د روح قبض کولو معامله د مرتبو په حساب په عزت او اکرام سره کولے
شي او د کافرانو او مشرکانو نه په تنګ ليل او رسوائۍ سره. د شهيدانو په باره کښې نصوصو دا ښي
تيرشوي دي چه د دوی روحونه د دوی د ابدان عنصريه نه وېستلے شي او د مرغانو په مثالي
شکلونو کښې داخلولے شي داشان د انبياء عليهم السلام پاک روحونه د دوی د پاک بدنونو نه
وېستلے او جدا کولے شي ځکه چه په خپله د نبي عليه السلام وفات هم د الله پاک د هميشه عادت
او د دستور متعارف مطابق داشان واقع شو چه د هغوی پاک روح د هغوی د مبارک بدن
نه او وېستلے شو ځکه چه پخپله د هغوی ارشاد دے ان جميع الانبياء قبض ارواحهم ملک
الموت وهوالذی سيقبض روحی (قرطبی ج ۴ ص ۲۷۶) يعني د ټولو نبيانو روحونه ملک الموت قبض
کړل او زما روح به هم هغه قبض کړي. او حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائي چه فقبضه الله وان
راسه لبين سحری ونحری (صحیح بخاری ج ۲ ص) يعني چه کله الله تعالیٰ د هغوی روح قبض کړ هغه وخت
د هغوی سر مبارک زما د سينے او حلق په مينځ کښې وو د دے حديث د لاندے حافظ ابن حجر
فرمائي في رواية همام عن هشام بهذا الاسناد عند احمد نحوه وزاد فلما خرجت نفسه لم اجد ريح قط
اطيب منها (فتح الباری ج ۸ ص ۱۰۷) دا روايت امام احمد هم د دے اسناد سره د هشام نه په واسطه د
همام نقل کړيدے او په هغې کښې دا الفاظ زيات دي (حضرت عائشه فرمائي) چه کله د هغوی
روح مبارک (د بدن نه) او وتلو نو (د داسے خوشبوئي راغله چه) ما د دے نه بهتره خوشبو کله هم
نه ده بوئ کړے دا خوشبوئي د هغوی د پاک روح وه. او حضرت ابوبرده رضي الله عنه فرمائي ...
اخرجت الينا عائشة كساء وازارا غليظا فقالت قبض روح النبي صلى الله عليه وسلم في هذين
(صحیح بخاری ج ۲ ص ۸۶۵) حضرت عائشه مونږ ته يو څادر او يو غټ لنګ اوخودو او وے وئيل چه
د نبي عليه السلام پاک روح په دے دوو کپړو کښې قبض شو. پاتے شوه دا خبره چه د نبيانو عليهم السلام
روحونه د هغوی د بدنونو نه د وتلو نه روستو کوم ځائے اوسيږي او د هغوی د آرام ځائے
چرته وي نو دے باره کښې صحيح مسلک دا دے چه په عالم برزخ کښې د دوی روحونو ته د دوی
د عنصري بدنونو هم شکل او مماثل د مشکو او کافورو مثالي بدنونه ورکولے شي او د دوی
مقام او د آرام ځائے د جنت اعلیٰ ترين او د ټولو نه اوچت درجه اعلیٰ عليين دے. هلته هغوی
په جنت کښې چه چرته اوغواړي ځي راځي او د جنت ميوے خوري. ځکه چه علامه سيوطي
او علامه سيد محمود آلوسي د امام نسفي نه نقل کړيدي ارواح الانبياء تخرج من جسدها و
تصير مثل جسدها مثل المسک والکافور وتکون في الجنة تاکل وتشرب وتتنعم الخ (شرح الصدور
ص ۱۳۱، بشری الکئيب ص ۱۳۱، روح المعاني ج ۵ ص ۱۶۲، تفسير مظهري ج ۱۰ ص ۲۲۳) يعني د نبيانو روحونه د هغوی د
بدنونو نه اوځي او د هغې مماثل د مشک او کافورو په بدنونو کښې متشکل شي او په جنت کښې
خوراک څکاک کوي. داشان علامه ابن قيم او حافظ ابن رجب حنبلي فرمائي. الانبياء عليهم السلام
فلاشک ان ارواحهم عند الله في اعلیٰ عليين وقد ثبت في الصحيح ان اخر کلمة تکلم بها رسول الله
صلى الله عليه وسلم عند موته انه قال اللهم الرفيق الاعلیٰ (روح ج ۱۷ ص ۱۶۱، شرح الصدور ص ۱۳۱) د دے روايتونو
او عبارتونو نه د دے خبرے معلومے شوے يوه دا چه د نبيانو د روحونو د آرام ځائے اعلیٰ عليين

دے نهٔ چه د هغوی بدنونه ځکه چه هغوی مبارک بدنونه خو د زمکے په قبرونو کښې دفن کړې
لیکن د دے هرو برعکس هغوی ته الله تعالیٰ دا فضیلت او شرف ورکړیدے چه د هغوی بدنونه
په قبرونو کښې بالکل دا شان صحیح سالم وی څنګه چه اېښودلے شوی وُو او ځاورے به هغوی
نهٔ خوری د هغوی د بدنونو د محفوظ ساتلو د الله د طرفنه ضمانت دے. لیکن د نیانو نه
بغیر خواه شهیدان وی یا عام مُسلمانان هغوی د پاره داسے هیڅ ضمانت نشته او ګېرے
د بو صدیق او شهید یا د بل کوم غوره د خدائی بنده بدن په قبر کښې محفوظ پاتے شو. او
ځاورو اُونهٔ خوړلو دا هُم څهٔ بعیده نهٔ ده بلکه عین ممکن ده. باقی پاتے د روحونو تعلق د
بدنونو سره نو د دے متعلق تحقیق دا دے چه د کتاب الله او د صحیح سُنتو خو د دے څهٔ
ثبوت نهٔ ملاویږی. او د صحابه کرامو، تابعینو، اتباع تابعینو او ائمه مجتهدینو په ارشاداتو او
اقوالو کښې د روح تعلق د عنصری جسم سره څهٔ نفیاً او اثباتاً ذکر اذکار شته. په برزخ کښې
د حیاتِ انبیاء علیهم السّلام او د حیاتِ شهداءُ چه کوم کیفیت نبی علیه السّلام بیان کړیدے
هغه وړاندے تېر شویدے په قرونِ ثلاثه کښې دا هُم د غسے نقل کیدو سره لاندے پورے
راچلیدلے دے. لیکن د تعلق قِصه هیچا نهٔ ده چیړلے. البته د څلورسے صدئ نه روستو د
حدیث شارحینو څنے حدیثونو کښې د تطبیق سلسله کښې د روح تعلق د عنصری جسد سره
په مختلفو عنوانانو سره ذکر کړیدے چا اتصال معنوی سره چا اشراق سره چا اشراف سره او
چا د صاحبِ خانه د خانه د تعلق په مثل او د عاشق او معشوق وغیره الفاظو سره تعبیر
کړیدے لیکن په دے باندے ټول متفق دی چه دا تعلق دلے نهٔ دے څنګه چه په دُنیوی
ژوند کښې وُو بلکه دا تعلق بے کیف دے او د دے حقیقت د الله نه سوا بل هیچا ته معلوم نهٔ
دے. د دے وجے نه په عالَم برزخ کښې د روحونو تعلق د عنصری بدنونو سره د دے باره کښې سکوت
د ټولو نه احوط (ډیر د احتیاط) مسلک دے ځکه چه قرون ثلاثه مشهود لها بالخیر کښې د تعلق
هیڅ ذکر اذکار نشته لیکن که چرے څوک د غیر معلوم الکیفیت تعلق اثبات کوی نو هغه
هُم قابل د ملامتیا نهٔ دے ځکه چه په متقدمینو کښې یو کثیر تعداد د مختلفو عنوانانو سره
د دے قائل دے لیکن د دے تعلق باوجود د دوی د مدفون فی القبور بدنونو کښې څهٔ حرکت
نهٔ پیدا کیږی او نهٔ د دوی بدنونه د قیامت نه مخکښې د قبرونو نه بهر راوتلے شی دا حقیقت
په خپل ځائ مَنلے شویدے. د کلام خلاصه دا چه په برزخ کښې انبیاء علیهم السّلام ته کوم
ژوند حاصل دے هغه زمونږ د ادراک او حواسو نه اُوچت دے لیکن د حیاتِ شهداء نه ډیر
بلند او اعلیٰ دے او بیا د حضرت سید الانبیاء صلی الله علیه وسلم حیات د ټولو نبیانو په نسبت ارفع
اعلیٰ، اتم او اکمل دے. والمراد بتلک الحیاة نوع من الحیاة غیر معقول لنا وهی فوق حیاة الشهداء
بکثیر وحیاة نبینا صلی الله علیه وسلم اکمل واتم من حیاة سائرهم علیهم السلام (روح ج ۲۲ ص ۳۸)

یو اشکال

دلته یو اشکال دے چه هغه لوئ لوئ خلق حیران او سرګردانه کړیدی
او چه د هغے د حل کولو د پاره لوئ لوئ د قلم شهسوارانو د قلم سورلئ زغلولے
دی او هغه دا دے چه کله دا انبیاء علیهم السّلام د ارواح مقام او مستقر اعلیٰ علیین دے او

هغوی ته دوی په عنصري بدنونو کښې موجود دي. ورته د قبرونو په قرب د حیوة کښې دوی
بدنونه په قبرونو کښې مدفون او محفوظ دي او د روحونو په بدنونو کښې ورسره دوی
د دوی ته شپیلی ښکاره وي. هغوی په ژوند وي. هغه وخت به هغوی د قبرونو نه راوځي دغه
نخښې ښکاره شي. لېکن د صحیح حدیثونو نه ثابته ده چه نبي علیه السلام د معراج په شپه په
مختلفو آسمانونو باندې د نورو پیغمبرانو علیهم السلام سره ملاقات اوکړو. او په بیت مقدس
کښې د انبیاء علیهم السلام امامت وکړو. د شان حدیث کښې دي چه ما کتلي حضرت
موسی علیه السلام په قبر کښې ولاړ په مونځ کولو اوليده. او د شان نبي علیه السلام اوفرمائیل چه ما یونس
علیه السلام اولید او چه هغه په اوښه باندې سور وو او تلبیه ویلو. او دي ته وئیلي شي
و خلقو ته هم ښکاره شي په حالت کښې نبي علیه السلام او خضر علیه السلام اولیدل بعینه علی د
اشکال د غیر انبیاء په باره کښې هم دې خبره چه خلقو کامیلو هم دیدار شي په حالت کښې
لیدل شوي دي او دوی دے مثالونه او منصوصه وینه په ظاهره د قاعده مطابقه په سفر
راغلي چه انبیاء علیهم السلام او نور مري د دوي عنصري بدنونه نه په قبرونو کښې حرکت
کوي او نه به د قیامت نه وړاندې د قبرونو نه بهر راوځي.

د اشکال جواب

د دې اشکال څو جوابونه او حل پیش کړې شوي دي. لېکن دغه
توجیهات زړه ته مطمئن کوونکي نه دي. د هغه نه زیات تسلي
اوبه کیږي صرف یو حل د دې دې چه هغه سره د اشکال هم په ټوله طریقه حل کیږي
او چه شک شبه باقي نه پاتې کیږي. محققینو علماؤ او صوفیانو هم دې ته ترجیح ورکړې ده
او هغه دا دا چه ځنګه د دنیا په ژوند کښې روحونه د عنصري بدنونو په ذریعه متحرک
کیږي او ټول عمل او تصرفات په هغې سره کوي. د شان د انبیاء علیهم السلام او د نورو
کاملینو روحونه د وفات نه روستو په عالم برزخ کښې د مثالي او برزخي بدنونو په ذریعه
حرکت کوي او مونځ، تلاوت قرآن او نور عبادتونه په هغې سره کوي. که چرته یو کامل
بزرګ ته دیدار شي په حالت کښې یو پیغمبر یا د بل وفات شوي ولي زیارت په هغه شکل نصیب
شي شو د هغه مثالي شکل دے او د هغه روح مثالي شکل نه متشکل شو وو او د هغوی
راغلي دے او د هغه عنصري شکل په په قبر کښې بلا حرکت موجود وي. علامه آلوسي فرمائي
وعندي ان الحیاة في البرزخ ثابتة لکل من یموت من شهید وغیره وان الارواح وان کانت جواهر
قائمة بانفسها مغایرة لما یحس به من البدن لکن لا مانع من تعلقها ببدن برزخي مغایر لهذا البدن
الکثیف الخ یعنی زما په نزد په برزخ کښې هر مري ته حیات حاصل دے او روحونه اګرچه
جواهر دي او قائم بانفسها دي او د ابدان محسوسه نه مغایر دي لېکن د دې نه منع نه راځي
چه د روحونو تعلق د برزخي جسم سره راشي چه د دې عنصري بدن نه مغایر دي. دغه
شان کښې فرمائي الارواح مقدسة قد تظهر متشکلة ويحتمل ان يکون من هذا القبيل رؤيته
نه صلی الله علیه وسلم لموسی علیه السلام قائما یصلي في قبره ورؤيته في السماء ... بعوث
بالبیت روح پیغمبر ... روحونه که متشکل کیده و سره ظاهریږي او کاملینو ته د هغوی

سوره مبارکه کتاب گورې او دا خبره یې روښانه کړې ده چې نبي ﷺ موسیٰ علیه السلام په قبر کښې
په لمانځه ولاړ لیدلې وو او د معراج په شپه کښې بیا هغه په اسمانو کښې لیدلې وو او هغه سره د
ملاقات کولو علم نه کېږي او په بیت المقدس کښې بیا د انبیاء علیهم السلام د امامت په باره کښې
د هغوی ملاقات ارشاد فرمایلی دے چې امام ابو یعلیٰ په مسند کښې او امام طبراني په کبیر کښې تخریج کړې ده
علیه السلام سره په باره کښې مثالي بدنونو کښې حاضر کړے شو (بیضاوي ... مظهري ...) نبي علیه السلام او فرمایل چې انبیاء
علیهم السلام ... فرمائي مگر تمام هذا التوجیه ان یقال ان المنظور الیه هي ارواحهم فلعلها
مثلت له صلی الله علیه وسلم في الدنیا کما مثلت له لیلة الاسراء واما اجسادهم فهي في القبور قال
ابن المنیر وغیره یجعل الله لروحه مثالا فیری في الیقظة کما یری في النوم (فتح الملهم ج ۱ ص ۳۳۲) یعنی د نبي
کریم ﷺ موسیٰ علیه السلام لره په قبر کښې مونځ کولو او د ده لره او یونس علیه السلام لره په حج
کولو د لیدلو پوره توجیه دا ده چې کوم څه نبي علیه السلام اولیدل هغه د دوی روحونه وو او
شاید چې په دنیا کښې هغوی د پاره د دوی مثالي شکلونه ورکړے شوي وي لکه چې د معراج
په شپه هغوی انبیاء علیهم السلام په خپل مثالي جسمونو کښې لیدلي وو لیکن د هغوی عنصري
جسمونه په قبرونو کښې موجود وو او هغوی د قبرونو نه نه وو وتلي. ابن منیر وغیره وئیلي دي
چې الله تعالیٰ د مړي روح ته مثالي جسم ورکوي او هغه چې څنګه په خوب کښې لیدلے شي دا
شان په ویښه هم په نظر راځي. او علامه سیوطي لیکي. وکذلك رؤیة النبي صلی الله علیه وسلم
الانبیاء في لیلة الاسراء في السموات الصحیح انه رأی فیها الارواح في مثل الاجسام (شرح الصدور ...)
او دغسے د نبي علیه السلام په شپ معراج کښې انبیاء علیهم السلام په اسمانونو کښې لیدل نو د دے
متعلق خو صحیح خبره دا ده چې هلته هغه د دوی روحونه لیدلي وو چې په مثالي بدنونو کښې
متمثل وو. دا شان که چرے یو نیک بخت انسان ته په بیدارۍ کښې د نبي علیه السلام د زیارت
شرف حاصل شي نو اکثر صوفیان دا فرمائي چې هغه د نبي علیه السلام د مثالي جسم زیارت کړے
نه چې د عنصري لکه چې امام غزالي فرمائي لیس المراد انه یری جسمه وبدنه بل مثالا له صار
ذالك المثال آلة یتأدی بها المعنی الذي في نفسه (روح المعاني ج ۲۲ ص ۳۷) او شیخ علاؤ الدین
قونوي فرمائي وسادة صوفیه قدس الله اسرارهم عالمی متوسط در عالم اجساد وارواح اثبات کرده اند که آنرا
عالم مثال گویند الطف از عالم اجساد واکثف از عالم ارواح وظهور ارواح در صور مختلفه مبتني بران ساخته
وظهور جبرئیل علیه السلام بصورت دحیه کلبي وتمثل او به مریم را بصورت بشر سوي الخلق ازان عالم میدانند و
علیه جائز بود که موسیٰ علیه السلام باوجود استقرار در آسمان ششم بشبح وپیکر مثال در قبر متمثل باشند وآنحضرت
اورا در هردو مکان مشاهده فرموده وبعد از اثبات عالم مثال جواب از مسائل کثیره بیرون آید واشکالات
بسیار مثل بیان سعت جنت ورؤیت او درعرض حائط مثلاً منحل گردد انتهی کلام الشیخ (جذب القلوب ص ۲۰۹) صوفیه
کرام د عالم اجساد او عالم ارواح په مینځ کښې یو بل عالم تسلیموي چې هغې ته عالم مثال
وائي چې د عالم اجساد نه زیات لطیف لیکن د عالم ارواح په مقابله کښې کثیف دے او د
ارواحو په مختلفو شکلونو کښې ظاهریدل د دوی په نزد د دے عالم مثال په وجود مبني دے

او د حضرت جبرائیل علیه السلام د حضرت دحیه کلبی رضی الله عنه په شکل کښې او د حضرت مریم علیها السلام په
مخکښې د بشرا سوتیا په صورت کښې متمثل کېدل د دې قبیلې نه دی او په دې بناء باندې دا جائز
دی چې موسی علیه السلام په شپږم آسمان باندې موجود کېدا و سره سره مثالی شکل سره په قبر کښې
هم متمثل شي او لمونځ کوی او نبی علیه السلام د معراج په شپه دواړو ځایونو کښې هغه لیدلے
دی او د عالم مثال تسلیمولو سره د ډیرو مسئلو حل راوځي او د ډیرا شکالات حل کېږي مثلاً د
جنت د وسعت بیان او د نبی ﷺ په مانځه کښې جنت د دیوال په پلنوالی کښې لیدل وغیره
(دا ټول د عالم مثال څیزونه دی) حضرت شیخ عبد الحق محدث دهلوی د حیات انبیاء علیهم السلام
په مسئله کښې د ډیر اوږد بحث او تمحیص نه پس د اصل حقیقت ترجمانی کوی، وحقیقت آنست
که تحقیق مسئله حیات انبیاء علیهم السلام و غیر ایشان موقوف بمعرفت این عالم است و تحقیق دیدن آنحضرت
موسی و یونس را علیه و علیهما السلام بمعرفت زمان و مکان روحانیات و تمییز و فرق آنها از زمان و مکان جسمانیات
چنانچه محققین صوفیه کرده اند درست دهد الخ (جذب القلوب ص۲۹) او حقیقت دا ده چې د انبیاء علیهم السلام
او د غیر انبیاؤ په عالم برزخ کښې د حیات مسئله د دې عالم (مثال) په پیژندلو منحصره ده او د
نبی علیه السلام حضرت موسی او یونس علیهما السلام د لیدلو تحقیق د روحانیانو د زمان او مکان
معرفت او د محققینو صوفیانو د بیان مطابق د جسمانیانو د زمان او مکان نه امتیاز کولو سره
تکمیل ته رسي - دا شان حضرت خضر علیه السلام د پیرو بزرګانو د بیدارۍ په عالم کښې لیدلے دے
نو چونکه د محقق قول او د صحیح مسلک مطابق هغه وفات شوې دے. د دې وجې نه صوفیانو
کښې هم څینو کاملینو فرمائیلي دی چې د خضر علیه السلام لیدل مثالی او د عالم مثال څیز دے
جسې عنصری سره نه دے څنګه چې شیخ صدر الدین اسحاق قونوی په خپل کتاب
تبصرة المبتدی وتذکرة المنتهی کښې فرمائی ان وجود الخضر علیه السلام فی عالم المثال (ارواح ثلاثه ص۲۴۰)

۲۶۶ فرحین دا د یرزقون ضمیر نه حال دے او فضله نه هغه انعام او اکرام مراد دے کوم چې
د شهادت نه روستو جنت کښې دوی ته ورکړے شوې دے د جنت د اخاص نعمتونه او دا اعزاز
او اکرام چونکه د شهادت جزاء ده د دې وجې نه د شهادت نعمت هم په فضله کښې داخل دے. و
هو فی الشهادة وما ساق الیهم من الکرامة والتفضیل علی غیرهم من کونهم احیاء مقربین معجلا لهم
رزق الجنة ونعیمها (مدارک ج۱ ص۱۵۱) یعنی بما اعطاهم من الثواب والکرامة والاحسان والافضال
فی دار النعیم (خازن ج۱ ص۳۷۶) مطلب دا چې د شهادت د درجې په وجه سره الله تعالیٰ په عالم برزخ
کښې هغوی ته چې کوم نعمتونه ورکړیدی هغوی په هغې کښې خوشحاله دی. وَيَسْتَبْشِرُوْنَ الخ دا په
یرزقون باندې معطوف دے. او الَّذِيْنَ لَمْ يَلْحَقُوْا بِهِمْ نه هغه مجاهدین مراد دی کوم چې
دے شهیدانو په جهاد کښې مصروف پرېښي دی. شهیدانو چې په عالم برزخ کښې د الله پاک ډیر
زیات انعام او اکرام او د هغه ځای عیش وعشرت او همیشه نعمتونه اولیدل نو هغوی د
مجاهدینو په حق کښې ډیر خوشحاله شو چې کله هغوی شهادت ته اورسي نو د هغوی به هم دا
شان اعزاز او اکرام کولے شي. هم الشهداء الذین یاتونهم بعد من اخوانهم المؤمنین الذین
ترکوهم یجاهدون فیستشهدون فرحوا لانفسهم ولمن یلحق بهم من الشهداء اذ یصیرون الی ما

صاروا الیه من کرامة الله تعالیٰ (بحر ج ۳ ص ۱۱۴) دځینو مفسرینو خیال دے چه الذین لم یلحقوا بهم کښې تتولو ایمان والو طرفته اشاره ده او مطلب دا دے چه کله شهیدان عالم برزخ ته اورسیدل او د الله د انعام او احسان معامله یې اولیدله نو هغوی ته عین الیقین حاصل شو چه دینِ اسلام حق دین دے دده وجې نه هغوی ته د ټولو مؤمنانو په باره کښې خوشحالي حاصله شوه چه کله چرته دهغوی خاتمه په ایمان او دینِ اسلام باندے اوشوه نو د هغوی انجام به ډیر ښه ترو وی او د الله سره به ډیر اجر او ثواب حاصل کړی الاشارة بالاستبشار للذین لم یلحقوا بهم الی جمیع المؤمنین وان لم یقتلوا ولکنهم لما عاینوا ثواب الله وقع الیقین بان دین الاسلام هو الحق الذین یثیب الله علیه فهم فرحون لانفسهم بما اٰتاهم الله من فضله مستبشرون للمؤمنین الخ (قرطبی ج ۴ ص ۲۶۸)

۲۲۲ دا د اَلَّذِیْنَ لَمْ یَلْحَقُوْا بِهِمْ نه بدل الاشتمال دے. یا منصوب بنزع خافض دے او په اصل کښې لئلا یا بانْ لَّا دی او د یَسْتَبْشِرُوْنَ دپاره د مفعول له په ځائے واقع دے. (روح ج ۴ ص ۱۲۲) بهرصورت په دیکښې د شهیدانو د خوشحالئ اصل متعلق بیان شوید ے. یعنی شهیدانو ته د ژوندو مجاهدینو یا ترقیامته پورے کیدونکی د ټولو مؤمنانو په باره کښې په دے خوشحالی وی چه په اٰخرت کښې به دے مجاهدینو او مؤمنانو ته نه څه قسمه ویرّوی او نه غم، د خوشحالئ منشاء د مجاهدینو او مؤمنانو ذوات او اشخاص نه دی بلکه د هغوی نیک انجام او د اٰخرت همیشه نعمتونه دی. دخوف اطلاق په راتلونکی نقصان یا په مستقبل کښې کوم ناخوښه خبره نازلیدو باندے وی. او حزن: غم، د تیرشوی نفع په فوت کیدو باندے وی. مطلب دا چه دے شهیدانو او مؤمنانو ته به په اٰخرت کښې نه خود قیامت د تکلیفونو او د عذاب ویره وی. او نه به د دُنیا عیش وعشرت د لاسه په تلو باندے غم وی. لاخوف علیهم فیما سیأتیهم من احوال القیامة ولاحزن لهم فیما فاتهم من نعیم الدنیا (کبیر ج ۳ ص ۱۲۲)

یَسْتَبْشِرُوْنَ بِنِعْمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ وَفَضْلٍ وَّاَنَّ اللّٰهَ
زیرے حاصلوی د الله په نعمت او فضل سره او دے خبرے سره چه

لَا یُضِیْعُ اَجْرَ الْمُؤْمِنِیْنَ ﴿۱۷۱﴾ اَلَّذِیْنَ اسْتَجَابُوْا لِلّٰهِ
الله نه ضائع کوی مزدوری د ایمان والو ۲۲۳ هغه کومو خلقو چه حکم اُومنلو د الله او د

وَالرَّسُوْلِ مِنْۢ بَعْدِ مَاۤ اَصَابَهُمُ الْقَرْحُ ۛؕ لِلَّذِیْنَ
رسول روستو د هغه نه چه رسیدلے وُو هغوی ته زخم کوم چه دوی کښې نیک

اَحْسَنُوْا مِنْهُمْ وَاتَّقَوْا اَجْرٌ عَظِیْمٌ ﴿۱۷۲﴾ۚ اَلَّذِیْنَ قَالَ لَهُمُ
دی او پرهیزګار دهغوی ثواب لوئی دے کټه وی چا چه اُوویل خلقو چه

النَّاسُ إِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُوا لَكُمْ فَاخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ

د مکے والا خلقو جمع کړیدے سامان ستاسو مقابلے د پاره نو تاسو د هغوی نه ووېرېږئ

إِيمَانًا ۖ وَقَالُوا حَسْبُنَا اللَّهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ ﴿١٧٣﴾ فَانْقَلَبُوا

او زیات شو دهغوی ایمان. او وے وئیل کافی دے زمونږ الله او ښه کارساز دے ٦٧٢ ق بیا راپس راغلل

بِنِعْمَةٍ مِنَ اللَّهِ وَفَضْلٍ لَمْ يَمْسَسْهُمْ سُوءٌ وَاتَّبَعُوا

مسلمانان د الله احسان او فضل سره او نه رسیدهٔ هغوی ته څه تکلیف او تابع شول د

رِضْوَانَ اللَّهِ ۗ وَاللَّهُ ذُو فَضْلٍ عَظِيمٍ ﴿١٧٤﴾ إِنَّمَا ذَٰلِكُمُ الشَّيْطَانُ

الله د مرضئ او د الله فضل لوئ دے ٦٧٦ دا چه کوم دے نو شیطان دے

يُخَوِّفُ أَوْلِيَاءَهُ فَلَا تَخَافُوهُمْ وَخَافُونِ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ ﴿١٧٥﴾

چه ویروی د خپلو دوستانو نه نو تاسو مهٔ ویریږئ او خما نه او ویریږئ که چرې ایمان لرئ ٦٧٦

نکات: ۱ـ د احد د مجاهدینو مؤمنانو د پاره بشارت اخروی. ۲ـ مؤمنانو د پاره تنبیه د شیطان د مکر نه.

موضح قرآن

ف۱ شهیدانو د پاره د مرګ نه روستو یو قسم ژوند دے چه نورو مړو د پاره نشته. خوراک څکاک عیش او خوشحالی هم د هغوی د پاره پوره ده نورو د پاره به د قیامت نه روستو وی. ف۲ چه کله جنګ احد ختم شو ابوسفیان سردار وو د کافرانو وے وئیل چه راتلونکی کال کښې به په بدر باندے جنګ وی. او نبی علیه السلام قبوله کړه چه کله راتلونکی کال راغے نو حضور خلقو ته حکم اوکړو چه جنګ ته لاړ شئ هغه وخت چه چا منګرتیا اوکړه او تیار شول هغوی د پاره دا بشارت دے چه د شکست نه روستو یے بهادری اوکړه. ف۳ ابوسفیان غوښتل چه حضورؐ د وعدے مطابق راشی نو الزام به په هغوی راشی او د جنګ نه اوویریدهٔ. یو سړے به د مدینے طرفته تلو نو هغهٔ ته یے څهٔ ورکول او ورته به یے اووئیل چه هلته د دے طرف دا سے خبرے اوکړه چه هغوی اوویریږی او جنګ ته را نشی هغه سړے مدینے ته اورسیدهٔ وے وئیل چه د مکے والو ډیر خلق جمع کړیدی. ستاسو د پاره جنګ بهتر نه دے. مسلمانانو ته الله تعالیٰ استقلال ورکړو هغوی دا او وئیل چه زمونږ د پاره الله کافی دے آخر بدر (مقام) ته لاړل ورے ورځے یے تجارت اوکړو او نفع یے حاصله کړه بیا واپس راغلل راتلونکو ایتونو کښې هم دے ذکر دے. ف۴ یعنې هغه سړی چه کوم خبره کوله هغهٔ ته شیطان زده کوله.

فتح الرحمٰن ۱ مترجم وائي چه په أحد کښې مسلمانانو او کافرانو یو بل سره وعده اوکړه چه په اشده کال کښې به زمونږ د جنګ میدان د بدر بازار وي چه کله د بدر د بازار موسم راغے کافرانو یو سړے اولیږلو چه د دوی د زیاتے والے بیان اوکړي مسلمانان په توقف کښې واچوي د دے باوجود د حضور سره د مسلمانانو هغه جماعت بدر ته راورسید ل او په تجارتونو کښې یے فائده اوموندله او یو کافر د دوی سره مقابله اونکړه او د دے غزوه ته غزوه بدر صغری وائي الله تعالیٰ د دوی صفت کوي. ۲ یعني ضعیف الاسلام.

تفسیر ۲۶۳ اول یے بیان اوکړو چه شهیدانو ته به خپلو روستو (شهیدانو یا د ټولو مؤمنانو) رونړو د نیک انجام په بناء باندے ډیر زیاته خوشحالي وي. او س یے دلته د خپلے خوشحالئ بیان کړیږے. نعمة من الله. او د فضل نه هغه ټول نعمتونه او د الله هغه ټولے ورکړے مراد دي کوم چه په عالم غیب کښې په شهیدانو باندے کیږي. مثلاً چه کله شهید د زخمونو نه او په وینو کښې لت پت شي او خپل روح پیدا کوونکي ته سپاري هغه وخت د هغه ټول ګناهونه وبخلے شي هغه ته په جنت کښې خپل مکان ښودلے شي هغه د قبر د عذاب نه په امن او محفوظ کړلے شي د قیامت په ورځ به هغه د لوئي ویرے نه محفوظ وي هغه ته به د وقار تاج اغوستولے شي او هغه ته به د ګنهګارانو په حق د شفاعت کولو اجازت ورکولے شي. وغیر ذالک (قرطبي ج۴)

وان الله لا یضیع اجر المؤمنین دا په نعمة باندے عطف دے د قیامت په ورځ به دا حقیقت هم د شهیدانو د خوشحالئ او مسرت د زیاتوالي ذریعه وي چه الله تعالیٰ د ایمان والاؤ عمل نه ضائع کوي. بلکه د هغوی په هر وړوکي وړوکي عمل باندے هم اجر وثواب او ډیره ښائسته بدله ورکوي په دے سره دے طرفته هم اشاره اوشوه چه د اخرت اجر وثواب صرف شهیدانو پورے مخصوص نه دے بلکه ټولو مؤمنانو ته د هغوی په نیکو عملونو به اجر وثواب ملاویږي. یعني کما انه تعالیٰ لا یضیع اجر المجاهدین والشهداء کذالک لا یضیع اجر المؤمنین (خازن ج۱ ص ۳۷۰)

۲۶۴ د الذین استجابوا نه تر ذو فضل عظیم پورے د مؤمنانو د پاره اُخروي بشارت دے او د دے په ضمن کښې د کافرانو د پاره تخویف اُخروي طرفته اشاره ده. الذین مبتداء او للذین نه تر اجر عظیم پورے د دے خبره دے. او استجابوا په معنی د اَجَابُوْا ای اطاعوا الله والرسول بامتثال الاوامر (روح ج۴ ص۱۲۲) یعني هغوی د الله د رسول د احکامو تعمیل اوکړو القرح (زخم) هغه زخمونه مراد دي. کوم چه مسلمانانو ته په جنګ اُحد کښې رسیدلي وو. للذین احسنوا منهم واتقوا جمله خبر مقدم دے او اجر عظیم مرکب توصیفي دے مبتداء مؤخر. او جمله للذین د استجابوا خبره دے کما مرّ. احسنوا هغوی د باطن په پوره اخلاص سره د نبي علیه السلام د احکامو تعمیل اوکړو. واتقوا او د مخلصانه اطاعت نه پس یے د معصیت او نافرمانئ نه ځان بچ کړو. احسنوا فیما اتوا به من طاعة الرسول صلی الله علیه وسلم واتقوا ارتکاب شيء من المنهیات بعد ذالک (کبیر ج۳ ص ۱۲۵) په منهم کښې من بعضیه نه دے بلکه بیانیه دے ځکه چه ټولو الله او رسول اطاعت اوکړو هغه ټول په ټول محسن او متقي وو دے وجے نه دے دوه صفتونو بیانولو سره د مدح علت طرفته اشاره کول مقصود دي. یعني الذین استجابوا ځکه د مدح لائق دي چه

هغوی د احسان او اتقاء صفت سره موصوف دی وذهب غیر واحد الی انها البیان.... المقصود من الجمع بین الوصفین المدح والتعلیل لا التقیید لان المستجیبین کلهم محسنون ومتقون لان الذین استجابوا لله والرسول قد احسنوا کلهم واتقوا لا بعضهم (مدارک ج ۱ ص ۱۵۱) (روح ج ۴ ص ...) و بحر ج ۳ ص ...) حاصل مطلب دا دے چه کومو خلقو چه د زخمی کیدو باوجود د الله او د هغه د رسول اطاعت اوکړو هغوی د پاره ډیر لوئ اجر دے ځکه چه هغوی ټول محسن او متقیان دی. په دے ایت کښ یوے واقعے طرفته اشاره ده چه جنګ اُحد په دویمه ورځ ایپنه شوے وه چه کله ابوسفیان د خپل شکست خورده ملګرو سره د جنګ اُحد نه واپس تلو نو چه مقام رَوحاء ته اُورسیدهٔ نو هغهٔ ته خیال راغے چه مونږ غلطی کړیده مونږ له را تلل پکار نهٔ وُو مونږ خو د هغوی اَویا کسان وژلی وُو د باقی کسانو هُم صفائی کول وُو. نو هغه په خپله واپسۍ باندے پښیمانه شو او دوباره واپس لاړو او د جنګ فیصله یے اوکړه. نبی علیه السلام ته هم په څه طریقه د هغوی د دے ارادے اطلاع ملاؤ شوه نو هغوی هُم د کافرانو د مرعوب کولو د پاره هغوی لره هُم په لاره کښ د نیولو اراده اوکړه او ورسره یے دا اعلان هُم اوکړو چه ما سره به صرف هغه مجاهدین ځی کوم چه پرون په جنګِ اُحد کښ شریک وُو نو نبی علیه السلام د اَویا وُ کسانو د ډلے سره د کافرانو طرفته روان شو چه کله حمراء الاسد مقام ته اُورسیدهٔ کوم چه د مدینے نه صرف د دریؤ میلو په فاصله باندے دے نو ابوسُفیان او د هغهٔ لښکرته د دے خبرے پته اُولګیده چه په څه سره د هغوی په زړونو باندے د اسلامی لښکر رُعب خور شو نو هغوی زر بیللو او واپس شول (کبیر، روح، بحر، ابن کثیر، خازن وغیره) په دے ایت کښ الله تعالیٰ د هغه اَویا مجاهدینو ته کوم چه په وړاندے ورځ په جنګِ اُحد کښ زخمونه خوړلی وُو نو د دے باوجود هغوی د الله او د رسول د احکامو تعمیل اوکړو او د نبی علیه السلام سره روان شُو. محسن او متقی یے ورته اووئیل او هغوی ته یے په آخرت کښ د اجرِ عظیم زیرے واوروُلو.

۲۶۵ الذین قال لهم الناس الخ دا د الذین استجابوا نه بدل دے حضرت شیخ قدس سره فرمائی چه د جنګِ اُحد په ورځ ابوسفیان د مُسلمانانو سره وعده کړے ده چه انشاء الله کال کښ به بیا د بدر په مقام زمونږ او ستاسو جنګ وی لیکن د دے مقرر میعاد نه وړاندے الله تعالیٰ د هغهٔ په زړهٔ کښ د مُسلمانانو رُعب واچولو او د جنګ اراده یے پرېښوده. ابوسُفیان د څو سړو په ذریعه مُسلمانانو ته خبر اُولیږلو چه ابوسُفیان خو ډیر لوئ لښکر تیار کړیدے او د مُسلمانانو د مقابلے د پاره بالکل تیار دے د هغهٔ مقصد دا وُو چه مُسلمانان به د دے خبر سره بُزدله شی او مقابلے ته به رانشی نو دا ثان به د وعدہ خلافئ او بزدلئ الزام په دهٔ رانشی لیکن چه کله مُسلمانانو ته دا خبر اُورسیدهٔ نو د هغوی په ایمان کښ زیات جوش پیدا شو د هغوی ارادے نورے هُم مضبوطے شوے او په الله باندے د هغوی توکل او بهروسه کښ نور پوخوالے او قوت پیدا شو. په دے ایت کښ الله تعالیٰ د مُسلمانانو د دے پوخ ایمان او د دی د دے عزم او توکل ذکر کړیدے. په الناس کښ الف لام عهد د پاره دے د اول الناس نه هغه خلق مراد دی کوم چه ابوسفیان د جاسوسئ په طور مُسلمانانو ته لیږلی وُو او د دویم الناس نه

ابوسفیان او دهغهٔ ملګری مراد دی (مدارک ج ۱ ص ۱۵۲ کبیر ج ۳ ص ۱۳۳) ستید محمود آلوسیؒ او ځینو نورو مفسرینو لیکلی دی چه د جنګِ اُحد په دویمه ورځ چه کله ابوسفیان دوباره د جنګ په غرض واپس د مسلمانانو طرفته د تلو منصوبه جوړوله هغه وخت ورته چا اوویل چه محمد (صلی الله علیه وسلم) دلوی لښکر سره ستاسو په تعاقب کښې راوتلی دی نو هغه مرعوب شو دلته د قبیلهٔ عبد القیس څو سوارهٔ چه مدینې ته تلل دابوسفیان په خواکښې تیر شول نو هغه ددوی په لاس نبی علیه السلام ته داپیغام اولیږه چه موږ دوباره په مسلمانانو باندے د حملے کولو پخه اراده کړیده او موږ دهغوی بالکل ختمولو اراده کړیده چه دهغې په جواب کښې مسلمانانو حسبنا الله ونعم الوکیل نعره اُوچته کړه په دے صورت کښې به داول الناس نه د عبد القیس هغه سوارهٔ مراد وی چاچه دابوسفیان پیغام مسلمانانو ته راوړے وو. ۲۶۶ فانقلبوا کښې فا رعاطفه ده او معطوف علیه محذوف دے والمعنی خرجوا فانقلبوا (کبیر ج ۳ ص ۱۳۲) یعنی نبی علیه السلام او مسلمانان بدرِ صغرٰی طرفته دابوسفیان دوعدے مطابق اووتل او په خیر او عافیت سره واپس شو او هغوی ته څهٔ قسمه تکلیف اُونه رسیدهٔ او نه څهٔ نقصان اُوچتول. واتبعوا رضوان الله. چه کله مسلمانانو ته د کافرانو د لښکر د زیاتوالی او د ډیر ساز و سامان خبر ملاؤ شو نو هغوی د څهٔ قسمه کمزورئ او بزدلئ اظهار اونکړو بلکه په الله باندے یے توکل او بهروسه اوکړه او د هغهٔ رضا لټولو ته یے په هر څهٔ ترجیح ورکړه او جنګ د پاره پاڅیدل لما بلغهم کثرة جموعهم لم یفتروا ولم یفشلوا وتوکلوا علی الله ورضوا به کافیا ومعینا فلهم اجر عظیم (کبیر)

۲۶۷ داجمله مستانفه ده په دیکښې یے د شیطان شرارت او شیطنت ذکر کړو دا شان ایمان والو ته یے نصیحت اوکړو چه څنګه په دے موقع باندے د شیطان د پروپیګنډے نه متاثر کیدو سره تاسو اُونه ویریدلئ. دغسے په آئنده کښې هم د شیطان د نمائندګانو نه مه ویریږئ او صرف ځما نه اوویریږئ. ذٰلِکُمْ کښې خطاب مسلمانانو ته دے. او په اشاره کښې پروپیګنډه کوونکی طرفته اشاره ده چه مسلمانانو ته یے د کافرانو د جمعیت او کثرت ذکر اوکړو د هغوی حوصلے یے خکته کولے. او یخوف د پاره اول مفعول محذوف دے په اصل کښې یخوفکم اولیاءهٔ وو (روح ج ۴ ص ۱۲۹ کبیر ج ۳ ص ۱۳۸) او په اولیاءهٔ کښې ضمیر الشیطٰن طرفته راجع دے او د اولیاء الشیطٰن نه دلته ابوسفیان او د هغهٔ ملګری مراد دی. اولیاءه هم الکفار ابوسفیان ومن معه (بحر ج ۳ ص ۱۱۳) شیطان چه کله هم بنی آدم په غلطه لاره روانول غواړی نو خپل انسانی نمائندګان وړاندے کوی چه د شیطان پوره پوره نمائندګی کوی نو د ابوسفیان د طرفنه چه کوم خلقو (د عبد القیس سورو، یا د نعیم بن مسعود ثقفی علی اختلاف القولین) د مسلمانانو د بزدله کولو کوشش کړے وُو هغه د شیطان نمائندګان او ایجنټان وُو او د هغهٔ نه یے زده کړه کړے وه. نو د ایت مطلب دا شو چه اے ایمان والو! دا ستاسو د بزدله کوونکی او ستاسو همت بنکته کوونکی او کوشش کوونکے په اصل کښې شیطان دے چه خپلو دوستانو (ابوسفیان وغیره) سره تاسو ویروی. او تاسو مرعوب کول غواړی لیکن تاسو په خدائ بهروسه اُوساتئ او څنګه چه په دے موقعه باندے تاسو استقامت او جرأت

اوښودۀ او د شیطان د دوستانو نه مرعوب نۀ شوئ. داشان په الله کښې هم کله هم د دوی نۀ یرهٔ ویریږئ او همیشه خما نه ویریږئ او خما د احکامو تعمیل کوئ ځکه چه د ایمان تقاضا دا ده لان الایمان یقتضی ان یؤثر العبد خوف الله علی خوف غیره (مدارک ج ۱ ص ۱۵۲)

وَلَا يَحْزُنْكَ الَّذِيْنَ يُسَارِعُوْنَ فِي الْكُفْرِ ۚ اِنَّهُمْ لَنْ

او غم کښې دې وانۀ چوی تا لره هغه خلق څوک چه منډې وهي کفر طرفته هغوی به نقصان

يَّضُرُّوا اللّٰهَ شَيْـًٔا ۗ يُرِيْدُ اللّٰهُ اَلَّا يَجْعَلَ لَهُمْ حَظًّا فِي

ورنکړی الله ته هیڅ هم الله غواړی چه فانۀ ۲۶۸ ورنکړی دوی ته په آخرت کښې

الْاٰخِرَةِ ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿۱۷۶﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ اشْتَرَوُا

او دوی دپاره عذاب دے لوئ وا ۲۶۸ ځا چه واخستلو کفر د ایمان

الْكُفْرَ بِالْاِيْمَانِ لَنْ يَّضُرُّوا اللّٰهَ شَيْـًٔا ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ

په بدله کښې هغوی به نقصان ورنکړی الله ته هیڅ هم او دوی دپاره عذاب

اَلِيْمٌ ﴿۱۷۷﴾ وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَنَّمَا نُمْلِيْ لَهُمْ

دے دردناک ۲۶۹ او دا خیال دې نۀ کوی کافران چه مونږ کوم مهلت ورکوو دوی

خَيْرٌ لِّاَنْفُسِهِمْ ۚ اِنَّمَا نُمْلِيْ لَهُمْ لِيَزْدَادُوْٓا اِثْمًا ۚ وَلَهُمْ

ته خۀ ښۀ دے د دوی په حق کښې. مونږ خو مهلت ورکوو دوی ته دے دپاره چه ترقی اوکړی هغوی

عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ﴿۱۷۸﴾ مَا كَانَ اللّٰهُ لِيَذَرَ الْمُؤْمِنِيْنَ

په گناه کښې او دوی دپاره عذاب دے ذلیل کوونکے ۲۷۰ الله هغه نۀ دے چه پریږدی مسلمانان په کوم

عَلٰى مَآ اَنْتُمْ عَلَيْهِ حَتّٰى يَمِيْزَ الْخَبِيْثَ مِنَ الطَّيِّبِ ۗ

حالت کښې چه تاسو یئ ترڅو چه خدا نکړی پلیت د پاک نه ۲۷۱

وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُطْلِعَكُمْ عَلَى الْغَيْبِ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَجْتَبِيْ

او الله نۀ دے چه تاسو خبر کړی په غیب باندے لیکن الله بیا لک غوره کوی

مِنْ رُّسُلِهٖ مَنْ يَّشَآءُ ۪ فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ ۚ

د خپلو رسولانو نه چا ته چه اوغواړی ۲۶۵ نو تاسو یقین راوړئ په الله باندې او د هغه

وَاِنْ تُؤْمِنُوْا وَتَتَّقُوْا فَلَكُمْ اَجْرٌ عَظِيْمٌ ﴿۱۷۹﴾

په رسولانو باندې او که تاسو په یقین باندې یئ او پرهیزګاری باندې نو ستاسو دپاره لوئ ثواب دے ۲۶۶

نکات: ۱ تسلی د نبی کریم صلی الله علیه وسلم دپاره. ۲ تخویف اُخروی کافرانو دپاره. ۳ د مقدر

سوال جواب. ۴ دویم مقدر سوال جواب.

موضح قرآن ۱ یعنی منافقان خلق چه د مسلمانانو مینځ ته راغلل کیناستل او د کفر خبرے یے شروع کړے ۲ یعنی الله تعالیٰ مؤمنان او منافقان ولے

جدا کوی او د غیب نه خبر نه ورکوی لیکن رسولانو ته.

تفسیر ۲۶۶ دا د نبی علیه السلام دپاره تسلی ده او ورسره کافرانو دپاره تخویف اُخروی دے

الذین یسارعون نه مراد هغه منافقان دی چاچه د جنګ اُحد په موقعه خپل

قول او عمل سره ښکاره په ښکاره د کفر اظهار کړے وو والمراد بالموصول المنافقون من

المتخلفین (ابوسعود ج ۲ ص ۱۲۲) د بعضو مسلمانانو نه معمولی شان شکست اوشو اخوا هغوی علانیه

په کفر کښې پریوتل او اُلټه یے مسلمانان دهوکه کول شروع کړل. دلته په ظاهره معلومیږی

چه الله تعالیٰ نبی علیه السلام ته د دے منافقانو علانیه په کفر کښې پریوتلو باندې د غم کولو

نه منع کړیده. لیکن دا مناسب نه ده ځکه چه کفر قبیح دے او په دے باندې د نبی علیه السلام

غمژن کیدل د هغوی د شان رحمت او حرص علی الایمان عین مطابق وو بلکه دلته نبی علیه السلام

په دے خوف باندې د غم کولو نه منع کړے شوے چه دا منافقان چاچه اوس علانیه

د کفر اظهار اوکړو چرته د نورو کافرانو سره یوځای د مسلمانانو خلاف څه سازش اونکړی

او هغوی ته نقصان اونه رسوی ځکه چه انهم لن یضروا الله شیئا په دے باندې دلالت

کوی. والمراد لا یحزنک خوف ان یضروک ویعینوا علیک ویدل علی ذالک ایلاء قوله تعالیٰ انهم لن

یضروا الله شیئا (روح ج ۴ ص ۱۳۳) اِنَّهُمْ لَنْ يَّضُرُّوا اللّٰهَ شَيْـًٔا دلته د لَنْ يَّضُرُّوا نه پس مضاف حذف

دے ای لن یضروا بذالک اولیاء الله البتة (ابوسعود ج ۳ ص ۱۲۳) یعنی هغوی د الله دوستانو نبی علیه السلام

او د هغوی صحابو ته هیڅ نقصان نه شی رسولے دا د مذکوره نهی علت او تسلیه تکمیل دے.

یرید الله ان لا یجعل لهم حظا فی الاٰخرة. یعنی د دوی په کفر کښې په منډه منډه پریوتو کښې

د الله تعالیٰ دا حکمت پټ دے چه په دنیا کښې هغوی خپلے عملنامے بیخی تورے کړی د کومے

نیکی چه د دوی په تله کښې ده د هغې بدله دوی ته په دنیا کښې ورکړے شی او په اخرت کښې

د دوی دپاره صرف عذاب عظیم وی او په اجر و ثواب کښې د دوی هیڅ حصه نه وی. ای

و حکمته فیهم انه یرید تشبیته وقدرته ان لا یجعل لهم نصیبا فی الاخرة. (ابن کثیر ج ۱ ص ۴۳۳)

۲۶۶ دا آیت عام دے او ټولو کافرانو ته شامل دے. الاٰیة الاولیٰ فیمن نافق من المتخلفین

... والثانية في جميع الكفار او على العكس (مدارک ج۱ ص۱۵۱) ۲۵۱ انما نملی لهم کښې ما مصدریه ده او هغه د ځپل مابعد سره په تاویل د مفرد مبتدا ده او ضمیر لا تقسیم ددے خبر دے. ما مع ما بعدها في تقدير المصدر والتقدير لا يحسبن الذين كفروا ان املاؤنا لهم خير (کبیر ج۳ ص۱۵۱) او دا جمله د لا یحسبن د دوه مفعولینو قائم مقام ده او الذین کفروا دے فاعل دے. والفعل مسند الى الموصول وان بما في حيزها سادة مسد مفعوليه (ابو السعود ج۳ ص۱۵۱) یعنی په دُنیا کښې مونږ کافرانو ته اوږدې ځندی پلنے کیږو او په عیش و عشرت کښې د مشغولیدو مهلت ورکړیږ دے هغوی د دا خیال نه کوی چه زمونږ د طرفنه دا مهلت د دوی په حق کښې ښه دے او د نیو نتیجو حامل دے. بلکه انما نملی لهم لیزدادوا اثما. دوی ته زمونږ مهلت ورکول د دوی د پاره خیر او بهتر نه دے دا مهلت دوی ته صرف ددے د پاره ورکولے شی چه هغوی زیات نه زیات ګناهونه اوکړی او په آخرت کښې د ځپلو کړو سزا بیا مومی. وَلَهُمْ عَذَابٌ مُّهِينٌ. او هغوی د ذلت نه ډک عذاب مستحق دی او ددے کافرانو د اوږد عمر سره په ګناهونو کښې اضافه کیدل او د دوی د ذلیل کونکی عذاب مستحق کیدل دا ټول ځیزونه د دوی د اختیاری کُفر نتیجه ده ځکه چه کله یو سړے سوچ سمجھ سره صرف د ضد او عناد د وجے نه د حق نه انکار کوی نو هغه د حق د قبلولو د توفیق نه محروم کړځولے شی او دا ټول هر څه د الله د قانون لاندے کیږی.

۲۵۲ حضرت شیخ اُوفرمایل چه دا د مقدر سوال جواب دے. سوال دا وو چه په مؤمنانو باندې د الله امتحانات ولے راځی نو جواب ورکړے شو چه الله پاک دا خبره نه خوښوی چه مؤمن او منافق په ځپلو کښې ګډوډ پاتے شی او د دوی په مینځ کښې امتیاز نه وی. ځکه الله پاک دوی په مختلفو آزمائښتو کښې مبتلا کوی چه منافق ښکاره شی او د مخلصو مؤمنانو نه جُدا شی. مَا اَنْتُمْ عَلَيْهِ نه هغه حالت مراد دے چه په هغے کښې مخلص مؤمنان د منافقانو سره یوځای ګډوډ وی. من اختلاط المؤمنين المخلص والمنافقين (مدارک ج۱ ص۱۵۳) د الخبیث نه منافق او د الطیب نه مخلص مؤمن مراد دے. منافق ته د هغه د کُفر او د باطنی نفاق د نجاست او خباثت په بناء الخبیث او وئیلو او د مخلص مؤمن زړه د اخلاص او د نورِ ایمان د طهارت او نورانیت په وجه سره طیب او طاهر وی. او بیا د باطنی طهارت سره هغه ته عملی او اخلاقی طهارت هم حاصلیږی. ځکه یے دا په الطیب سره تعبیر کړو ۲۵۳ دا په ماقبل باندے معطوف دے او په لیطلعکم کښې خطاب مؤمنانو ته دے. ځنو دا هم لیکلی دی چه خطاب عام دے مؤمنانو او کافرانو ټولو ته شامل دے والاول اولی دا هُم د سوالِ مقدر جواب دے. مؤمنانو دا خواهش ظاهر کړے وُو چه هغوی ته څه علامت ورکړے شی چه په هغے سره هغوی په مؤمن او منافق کښې پیژند ګلو اوکړے شی. ان المؤمنين سألوا ان يعطوا علامة يفرقون بها بين المؤمن والمنافق فنزلت (روح ج۴ ص۱۳۸) حاصل دا چه الله به نه خو دا سے اوکړی چه مؤمنان او کافران به یو ځای ګډوډ پریږدی. او د دوی په مینځ کښې به حدِّ امتیاز قائم نکړی. بلکه هغه ضرور منافقان او مؤمنان جُدا کول غواړی لیکن هغه دا سے نه کوی چه تاسو ته د غیب علم درکړی او تاسو د زړونو په پټو خبرو باندے خبر کړے شئ. او دا شان مؤمنان او منافقان

اوپېژنئ بلکه ستاسو دپاره بو صورت دے چه د امتحان او ابتلاء او د تکلیف او محنت په ذریعه د استدلال په طور تاسو د مؤمن او منافق په مینځ کښې امتیاز اوکړئ ځکه چه په احد کښې داقع شو یا معشر المؤمنین ای ماکان الله لیعین لکم المنافقین حتی تعرفوهم ولکن ذالک لکم بالتکلیف والمحنة وقد ظهر ذالک فی یوم احد فان المنافقین تخلفوا واظهروا الشماتة (قرطبی جزء ۴ ص ۲۸۹) باقی پاتے د اطلاع علی الغیب په ذریعه مؤمن او منافق کښې امتیاز کول نو دے دپاره الله تعالیٰ خپل ځینې پیغمبران منتخب کوی او د وحی په ذریعه هغوی ته اطلاع ورکوی۔

زیات تحقیق

تر څو چه د ایت د نفس مفهوم تعلق دے هغه پوره بیان شو اوس دلته د اهلِ بدعت د یو مغالطے رد مقصود دے مبتدعین دے ایت نه د نبی علیه السلام او د نورو نبیانو د پاره کلی علم غیب ثابتوی هغوی وائی چه دلته الف لام استغراق د پاره دے په دے ایت کښې د غیر انبیاؤ نه الغیب یعنی د کلی غیب نفی کړے شوے ده او بیا په لکن سره د برگزیده رسولانو د پاره الغیب یعنی کلی غیب ثابت کړے شوے دے لیکن دا استدلال د څو وجهونه باطل دے اولاً ځکه چه الف لام بیشکه استغراق د پاره هم راځی لیکن دا د دے حقیقی معنی نه ده بلکه مجازی ده۔ او الف لام په عهدِ خارجی کښې اصل او حقیقت دے ځکه چه علامه تفتازانی فرمائی التعریف لا یلزم ان یکون للاستغراق بل العهد هو الاصل (التلویح ص ۶۰) یعنی لام د تعریف د پاره ضروری نه دے چه هغه استغراق د پاره وی بلکه اصل خو عهد خارجی دے او مولانا عبد الحکیم سیالکوٹی فرمائی۔ انما الفرق بان الجنس لا یحتاج الی مؤنة المقام الخطابی بخلاف الاستغراق (حاشیه عبد الحکیم سیالکوٹی ص ۴۰) یعنی په جنس او په استغراق کښې فرق په دے طریقه دے چه جنس د پاره د مقامِ خطابی د قرینے ضرورت نه وی لیکن استغراق د قرینے محتاج وی۔ نو د دینه معلومه شوه چه استغراق کښې د الف لام استعمال مجازی دے ځکه چه اهلِ علمو ته ښه معلومه ده چه د قرینے محتاج همیشه مجازی معنی وی او حقیقی معنی قرینے ته محتاج نه وی۔ او فاضل مدقق مولانا نور محمد لیکی۔ قال العلامة التفتازانی فی بعض تصانیفه انهم اختلفوا فی اللام المزید بعد رفع الاسم بالابتداء کما فی سلام علیک فذهب بعضهم الی انها تعریف الجنس اذ لا عهد ههنا ولا ثالث لمعنی اللام باتفاق ائمة اللغة دینه پس بیا د صاحب الباب الاعراب نه نقل کړیدی۔ اللام لا یفید الا التعریف والاسم لا یدل الا علی الجنس فاذن لا یکون ثمه الاستغراق نعم یصار الیه بقرینة المقام لا ان یکون مدلول اللام (حاشیه عبد الغفور ص ۴) د دواړو عبارتونو حاصل دا دے چه الف لام په اتفاق د لغت د امامانو په عهد خارجی او جنس کښې اصل او حقیقت دے او په استغراق کښې د دے استعمال مجازی او د قرینے محتاج دے۔ هکذا فی المتن المتین وغیره۔ چه کله دا ثابته شوه چه استغراق د الف لام مجازی استعمال دے نو بلا قرینه صارفه حقیقت یعنی عهد خارجی پریښودل او استغراق مراد کول هرگز جائز نه دے لان المجاز فرع الحقیقة او مجازی معنی صرف هغه وخت مراد اخستلے شی چه کله حقیقت متعذر وی متی تعذرا لحقیقة اریدالمجاز لیکن دلته خو حقیقی معنی متعذر نه ده بلکه عین ممکن ده او عین مراد ده۔ کما سیأتی۔ ثانیاً په دے ایت کښې الف لام په استغراق محمول کول هسے هم دے

ځکه چه سوال خو غیب متقاضی دے ځکه چه مقام شو د عهد خارجي مقام کښې مناسب نه دی ځکه چه مقام شو د عهد خارجي متقاضي دے ځکه چه سوال خو غیب مقام کښې مناسب نه دی ځکه چه مقام شو د عهد خارجي

مقام کښې مناسب نهٔ دی ځکه چه مقام شو د عهد خارجي متقاضی دے ځکه چه سوال خو غیب مقام کښې مناسب نهٔ دی ځکه چه مونږ ته صفا صفا بیان اوکړی چه فلانے فلانے دیو خاص معاملې په باره کښې وُو یعنی الله د مونږ ته صفا صفا بیان اوکړی چه فلانے فلانے منافق دے یعنی د هغوی په زړونو کښې نفاق دے ځکه یے دے په جواب کښې اُوفرمائیل چه دا بادل نشی کیدے چه الله د تاسو د دے غیب په خبره باندے خبر کړی، البته دا کیدے شی چه الله تعالیٰ خپل یو غوره کړے شوی پیغمبر ته ددے غیب اطلاع ورکړی ددے وجے نه په الغیب کښې الف لام عهد خارجي دپاره دے او ددے نه هغه مخصوص غیب مراد دے یعنی د منافقانو په نښه کول د وحی په ذریعه. ثالثاً ټولو مفسرینو دلته د الغیب نه بعضے علم غیب مراد اخستے دے. ماکان و مایکون او ټولو مغیباتو کلی او تفصیلي علم هیڅ څوک هم مراد نهٔ دے اخستے. یا خو دا هُم ددے خبرے دلیل دے چه الف لام استغراق دپاره نهٔ دے ځکه چه ددے ایت په تفسیر کښې علامه قاضي بیضاوی فرمائي ولکن الله یجتبی من رسله من یشاء فیوحی الیه ویخبره ببعض المغیبات (بیضاوی ص۹۳) لیکن الله تعالیٰ د خپلو پیغمبرانو نه چا ته چه اُوغواړی غوره کوی نو هغهٔ ته وحی کوی او هغهٔ ته د څینو مغیباتو خبر ورکوی. امام بغوی فرمائي ولکن الله یجتبی من رسله من یشاء فیطلعه علی بعض علم الغیب (معالم ج۱ ص۳۸۲) لیکن الله تعالیٰ د خپلو رسولانو نه چه څوک اُوغواړی نو منتخب یے کړی نو هغهٔ ته بعضے علم غیب ورکړی علامه خازن لیکی یعنی ولکن الله یصطفی و یختار من رسله من یشاء فیطلعه علی ما یشاء من غیبه (خازن ج۱ ص۳۸۲) مطلب دا دے چه الله تعالیٰ د خپلو پیغمبرانو نه چه چا ته اوغواړی نو منتخب یے کړی او خپل کوم بعضے مغیبات چه اُوغواړی هغهٔ ته یے اطلاع ورکړی او علامه ابن صفي لیکی ولکن الله یجتبی من رسله من یشاء فیخبره ببعض المغیبات (جامع البیان ص۶۲) او مولانا قاضي ثناء الله پانی پتی فرمائي فیطلعه علی البعض من علوم الغیب احیاناً (تفسیر مظهری ص۲) یعنی الله تعالیٰ چه کوم رسول منتخب کوی هغهٔ ته د بعضو مغیباتو خبر ورکوی او هغه هُم احیاناً یعنی کله کله. رابعاً که چرے دلته د ټولو عربیت قواعدو او د تفسیر داصولو خلاف الف لام استغراق دپاره اُومنلے شی او دا هُم تسلیم کړے شی چه نبی علیه السلام ته د ماکان او مایکون کلي او تفصیلي علم غیب ورکړے شو نو په دے سره د یو رتنو ذکر شوو خرابیانو نه علاوه د ډیرو قرانی ایتونو تکذیب به لازم شی چه په هغے کښې ډیر په صراحت سره د نبی علیه السلام د ذات نه د کلي علم غیب نفی کړے شوے ده مثلاً وَمِمَّنْ حَوْلَكُمْ مِنَ الْأَعْرَابِ مُنَافِقُونَ وَمِنْ أَهْلِ الْمَدِينَةِ مَرَدُوا عَلَى النِّفَاقِ لَا تَعْلَمُهُمْ نَحْنُ نَعْلَمُهُمْ او بعضے ستاسو ګیرچاپیره او څینې د مدینې والو نه داسے منافقان دی چه د نفاق حد کمال ته رسیدلی دی تاسو هُم هغوی نه پیژنئ (چه دا منافقان دی صرف) مونږ هغوی پیژنو. په دے ایت کښې د نبی علیه السلام نه صراحةً د مدینے د هغه منافقانو د پیژندګلو نفی کړے شوے ده چه په خپل نفاق پټولو کښې به یے د انتهائي احتیاط نه کار اخستلو دا ایت د سورة توبے دے د سورة ال عمران نه روستو نازل شوے وُو. نو که چرے د ال عمران د ایت نه د نبی علیه السلام دپاره علم غیب کلي ثابت کړے شی نو د سورة توبے نه روستو نازل شوے ایت ددے ایت نفی

کړی او دا بنکاره تضاد دے چه د الله په کلام کښې ددے موجود والے محال دے. لهٰذا صحیح خبره داده چه زیر تفسیر ایت کښې نه الف لام دا ستغراق دپاره دے او نه ددے نه د نبی علیه السلام دپاره دماکان و مایکون کلی علم غیب ثابتیږی.

(۲) عَفَا اللّٰهُ عَنْكَ لِمَ اَذِنْتَ لَهُمْ حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَكَ الَّذِيْنَ صَدَقُوْا وَتَعْلَمَ الْكٰذِبِيْنَ (توبه ع ۷) الله تعالیٰ تاسو ته معاف (نبو) اوکړه (لیکن) تاسو (ولے ژر) اجازت ولے ورکړو ترڅو چه ستاسو په مخکښې رښتونی خلق ظاهر کړے شوے وے او تاسو ته دروغژن معلوم شوے وے. نبی علیه السلام منافقانو ته په جنګ کښې د نه شریکیدو اجازت ورکړو. نبی علیه السلام د هغوی چاپلوسیٔ په خبرو سره هغوی واقعی معذور اوګڼل حالانکه هغوی دروغژن او مکاره وو نو په دے بانده الله تنبیه نازله کړه چه تاسو تپولو عذرکوونکو ته ولے اجازت ورکړو تر دے چه تاته په عذر کښې رښتونے او دروغژن معلوم شوے وے نو ددینه معلومه شوه چه نبی علیه السلام ته په عذر کښې د رښتونو او د دروغژنو علم نه وو. دا ایت هم د سورة توبے دے.

(۳) يٰۤاَيُّهَا النَّبِىُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَاۤ اَحَلَّ اللّٰهُ لَكَ تَبْتَغِىْ مَرْضَاتَ اَزْوَاجِكَ (تحریم ع ۱) اے نبی! ولے حراموئ تاسو هغه څیز کوم چه الله تعالیٰ ستا دپاره حلال کړیدے او هغه هم د خپلو بیبیانو د رضا لټولو دپاره. رسول الله صلی الله علیه وسلم یو ځل د څینو بیبیانو په خاطر د شاتو نه خوړلو قسم کړے وو چه په دے بانده دا ایت نازل شو او د نبی علیه السلام ته د قسم نه د دستبردارئ حکم ورکړے شو نو معلومه شوه چه تر دغه وخته پورے هغوئ ته د ماکان او مایکون کلی غیب حاصل نه وو که چرے هغوئ ته کلی غیب حاصل وے نو هغوئ به یو داسے څیز په خپل ځان بانده ولے حراموله په کوم چه د الله د طرفه هغوئ ته تنبیه اوشوه. دا سورة هم د ال عمران نه روستو نازل شویدے نو دا هم ددے خبرے دلیل دے چه دلته په الغیب کښې هرګز استغراق مراد نه دے.

(۴) سورة منافقون چه د ال عمران نه پس نازل شویدے په دیکښې یوے واقعے طرفته اشاره شویده او د هغه واقعے تفصیل د حدیث په کتابونو کښې موجود دے څنګه چه په صحیح بخاری ج ۲ ص ۷۲۷ بانده دی حضرت زید بن ارقم وائی چه په یوه غزوه کښې ما د عبدالله بن ابی منافق نه واوریدل چه د پیغمبر د ملګرو سره مالی مدد مه کوئ دے دپاره چه هغوی د لوږے نه مړه شی او د هغه ملګرتیا پریږدی او اوس چه مونږ مدینے ته لاړشو نو العیاذ بالله دا ذلیل (کمینه) خلق به د ښار نه بهرته اوباسو ما دا خبره نبی علیه السلام ته راورسوله نو هغوی د منافق را وغوښتلو او تپوس یے تری اوکړو نو هغه صفا انکار اوکړو او قسمونه یے اوخوړل او د خپلے رښتینولئ یقین یے ورکړو نو نبی علیه السلام څما تکذیب اوکړو او د هغه تصدیق یے اوکړو چه ما ته په دے ډیره صدمه اورسیدله. بیا الله تعالیٰ د سورة منافقون ابتدائی ایتونه نازل کړل او اصل حقیقت یے واضح کړو چه دے منافقانو دا خبرے کړیدی نو الله تعالیٰ لفظ په لفظ د هغه خبرو تصدیق اوکړو کوم چه ما ویلی وو. او نبی علیه السلام زه راوغوښتلم او وے فرمائیل چه الله ستا د خبرو تصدیق کړیدے نو ددے نه معلومه شوه چه نبی علیه السلام ته تردے واقعے

پورے هم کلي علم غیب حاصل نه وُو دا واقعه د غزوهٔ تبوک ده چه سنه ۹ کښې پیښه شوې ده نو دا واقعه هم دد ے خبرے دلیل دے چه د آلِ عمران په ایت کښې استغراق مراد نه دے او نه په دے ایت کښې د نبي علیه السلام د کلي علم غیب څه ثبوت شته.

(۵) وَالَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مَسْجِدًا ضِرَارًا وَّ كُفْرًا وَّ تَفْرِيْقًا بَيْنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَ اِرْصَادًا لِّمَنْ حَارَبَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ مِنْ قَبْلُ ؕ وَ لَيَحْلِفُنَّ اِنْ اَرَدْنَاۤ اِلَّا الْحُسْنٰى ؕ وَ اللّٰهُ يَشْهَدُ اِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ ۝ لَا تَقُمْ فِيْهِ اَبَدًا (توبه ع ۱۳) يعني چا چه د هغه اغراضو د پاره جُمات جوړ کړے دے چه (اسلام ته) ضرر اُورسوی او په هغه کښې (کښيني) د کفر خبرے اوکړي او په ایمان والو کښې تفریق پیدا کړي او هغه خلقو د پاره د مورچے ځائ پیدا کړي کوم چه د مخکښې نه د الله او د هغهٔ د رسول مخالف دي او هغوی به قسمونه کوي چه د نیکئ نه بغیر زمونږ بل هیڅ نیت نه دے او الله ګواهي ورکوي چه هغوی بالکل دروغژن دي. تاسو به دیکښې هیڅ کله هم (مانځه د پاره) مه اُودریږئ. ابو عامر یو ډیر زیات خبیث او مکار پادري وُو چه پخپله خو قیصر روم اورسیدهٔ چه هغوی د مسلمانانو په خلاف جنګ ته مائل کړي دلته یے د مدینے منافقانو ته اُوئیل چه هغوی د جُمات په نوم یو عمارت جوړ کړي او د مونږ په بهانه به دیکښې جمع شي د اسلام خلاف سازشونه اوکړي او د هغوی خفیه خطونه هم هغوی ته دلته ملاؤ شي دا شان که چرے هغه کله مدینے ته راغے نو د هغهٔ قیام به هم دلته وي نو هغوی د دے مقصد د پاره یو عمارت د جُمات په شکل جوړ کړو او د نبي علیه السلام په خدمت کښې حاضر شو او قسمونه یے خوړل چه حضرت زمونږ اراده نیکه ده مونږ صرف دا غوختل چه مسجد قبا زمونږ نه لرے دے او د بوډا ګانو، ماشومانو او د بیمارو رسیدل هلته مشکل دي په دے وجه مونږ دا جُمات جوړ کړے دے د پاره چه دا خلق به دیکښې په اسانئ سره مونځونه کوي او زمونږ د زړهٔ خواهش دا دے چه دد ے جُمات افتتاح ستاسو د مونځ نه اُوشي د دے وجے نه تاسو په هغے کښې د مونځ کولو د پاره تشریف یوسئ. د هغه وخت نبي علیه السلام د غزوهٔ تبوک فهم د پاره تللو په دے وجه یے ورسره وعده اوکړه چه د تبوک نه په واپسئ به زهٔ ستاسو نوی جُمات ته راشم او به دیکښې به مونځ هم کوم نو مفسرینو لیکلي دي ولو قدمنا ان شاء الله اتینا کم فصلینا لکم فیه (تفسیر ابن کثیر ج ۲ ص ۳۸۸) یعني که چرے ان شاء الله دد ے فهم نه په خیریت سره واپس راغلو نو ستاسو په جُمات کښې به مونځ کوم چه کله هغوی د غزوهٔ تبوک نه په خیریت سره واپس تشریف راوړو نو په زړهٔ کښې یے د ایفاءِ عهد خیال راغے. لیکن الله پاک د وحي په ذریعه هغوی د اصل حقیقت حال نه خبر کړل. نو دد ے نه هم معلومه شوه چه نبي علیه السلام ته د توګلو مغیباتو علم نه وُو که چرے کلي غیب ورته معلوم وے نو دد ے منافقانو د مکارئ او چالاکئ علم به هُم ورته وے او مسجدِ ضرار ته د مانځه د پاره د تشریف اُوړلو وعده به یے نه کوله. پورته ذکر شوی پنځه ایتونه د سورهٔ آلِ عمران نه روستو نازل شوي دي او په دیکښې د نبي علیه السلام نه علم غیب صفا صفا نفي کیږي. لهذا معلومه شوه چه د آلِ عمران په دے ایت کښې د الغیب الف لام استغراق د پاره نه دے او نه د الغیب نه د ما کان و ما یکون

کی علم غیب مراد دے بلکه الف لام دلته دعهد دپاره دے او د الغیب نه په احد کښی پیرو فاتی
کوتکو پیژندل مراد دی۔ حاصل دا چه په دے ایت سره د نبی علیه السلام په علم غیب کلی باندے
استدلال سراسر غلط او باطل دے۔ ۲۴۳ چه کله دا خبره واضحه شوه چه الله تعالیٰ
تاسو په علم غیب نه خبروی نو اوس ستاسو دپاره صرف دا خیز باقی پاتے کیږی چه تاسو
په الله او د هغهٔ په رسول باندے ایمان راوړئ او په دے باندے قائم اوسئ ستاسو کار
ایمان او تصدیق دے نه چه د علم غیب حاصلولو تمنا کول۔ ای علیکم التصدیق لا التشوف
الی اطلاع الغیب (قرطبی ج۴ ص۲۹۰) دلته په الله باندے د ایمان راوړلو مطلب دا دے چه صرف
الله قادر مطلق اومنئ او صرف هغه عالم الغیب او د پټو خبرو پیژندونکے اوګنړئ او په
رسولانو باندے د ایمان راوړلو مطلب دا دے چه هغوی د الله خویش بندګان دی۔
الله هغوی دخپل رسالت دپاره منتخب کړیدی۔ او هغوی عالم الغیب نه دی هغوی ته
صرف دومره غیب معلوم دے څومره چه ورته الله ښودلے دے او هغوی د الله د طرفه
د وحی نه بغیر هیڅ نه وائی۔ فامنوا بالله ورسله بان تقدروه حق قدره وتعلموه وحده
مطلعا علی الغیوب وان تنزلوهم منازلهم بان تعلموهم عبادا مجتبین لا یعلمون الا ما
علمهم الله ولا یخبرون الا بما اخبرالله به من الغیوب ولیسوا من علم الغیب فی شیء (بحر ج۳ ص۱۲۹)
المراد من الایمان بالله تعالیٰ ان یعلموه وحده مطلعا علی الغیب ومن الایمان برسله ان
یعلموهم عبادا مجتبین لا یعلمون الا ما علمهم الله تعالیٰ ولا یقولون الا ما یوحی الیهم فی
امر الشرائع (روح ج۴ ص۱۳۴) وَاِنْ تُؤْمِنُوْا وَتَتَّقُوْا الخ او که چرے تاسو په الله او د هغهٔ په رسولانو
باندے کما حقه ایمان راوړئ او بیا د الله په اوامر او نواهی کښی د هغهٔ د مخالفت نه ځان بچ
کړئ د دے په بدله کښی به الله تعالیٰ محض په خپل فضل او احسان سره تاسو ته دومره لوئ
اجر او ثواب درکړی چه د اندازے او حساب نه به بهر وی۔ لا یکتنه ولا یحد فی الدنیا والاخرة
(روح ج۴ ص۱۳۴) خلاصه د ما قبل۔ دجهاد متعلق د شبهے جواب یے په تدریج سره ورکړو اول
اذ همت طائفتان نه تر بعد کم تشکرون (ع ۱۳) پورے اوفرمائیل چه تاسو سره یے یارومدد کار
برښی ښئ د احد په میدان کښی یے هم ستاسو مدد اوکړو په تاسو کښی دوه ډلو په جنګ احد
کښی د بزدلئ ښودلو او په جنګ کښی د نه شریکیدو اراده اوکړه نو الله هغوی مضبوط کړل
او د هغوی همتونه یے مضبوط کړل او د دے نه وړاندے په جنګ بدر کښی یے هم ستاسو
مدد اوکړو تاسو په تعداد کښی کم او بے سروسامان وئ۔ لیکن بیا هم الله تعالیٰ تاسو ته فتح
درکړه دیته پس ع ۱۴ کښی یے علی سبیل الترقی اوفرمائیل وتلک الایام نداولها بین الناس
ولیعلم الله الذین الخ دا شکست د الله د حکمت بالغه عین مقتضا وه۔ الله تعالیٰ مخلص
مؤمنان او منافقان جدا کول غوختل د دے وجے نه که چرے په احد کښی تاسو ته جانی
او مالی نقصان رسیدلے دے نو څه اوشو ستاسو دشمنانو هم ستاسو په لاسونو باندے
د دے نه ډیر نقصان مونډلے دے په اخر کښی یے د دے نه ترقی اوکړه او وے فرمائیل چه
ولقد صدقکم الله وعده الخ (ع ۱۶) دا د شبهے اصلی جواب دے یعنی الله تعالیٰ خو خپله

وعده یې پوره کړه او د وعدې مطابق یې ستاسو مدد اوکړو او تاسو ته یې فتح هم درکړه لیکن ستاسو د کوتاهئ او د رسول الله ﷺ د امر د مخالفت د وجې نه ستاسو فتح په شکست سره بدله شوه.

او سه پورې د څلورو ډلو ذکر راغلے دے (۱) مؤمنین مخلصین (۲) منافقین طاعنین (۳) شهداء او (۴) نبي علیه السلام. ولا تهنوا ولا تحزنوا الخ (ع ۱۴) نه تر یغشی طائفة منکم (ع ۱۶) پورې د مخلصینو ذکر دے چې دیکښې هغوی ته زجر هم دے او د انفاق او قتال ترغیبونه هم دي د دوی په کوتاهیانو باندې د عفوې او درګذر اعلان هم. دے دپاره چې د دوی په غلطو باندې خوله د دوی خلاف د طعن ژبه کولاؤ نه کړي. ځکه یې په یوه رکوع کښې دوه ځله اعلان اوکړو ولقد عفا الله عنکم او ولقد عفا الله عنهم (ع ۱۶) بیا فبما رحمة من الله لنت لهم الخ (ع ۱۷) سره یې د مشفقانه معاملې تعریف اوکړو چې د چا غلطۍ د شکست سبب جوړ شو او داشان چې کومو مسلمانانو شکست اوخوړو او وتښتیدل په هغوی باندې یې سختي اونکړه بلکه مینې او محبت سره یې د هغوی دلجوئي اوکړه نه یې په زړه کښې څه خفګان اوساتو او نه یې په ژبه سختي اوکړه. وے فرمائیل چې ستاسو نرم خوئي او مشفقانه معامله داټول په تاسو د الله مهربانی ده چې هغه تاسو ته د داسې کریمانه اخلاقو دولت درکړې دے که چرې تاسو د هغوی سره د سختئ معامله کړې وے نو هغوی به ټول ناراضه او خفه شوي وو او ستا نه به ګرځیدلي وو. په اخر کښې ارشاد اوشو چې تاسو دوی ته معافي اوکړئ او اصلاح د دپاره په ضروري کارونو کښې د دوی نه مشوره واخلئ دے دپاره چې د دوی زړونو ته نور تسکین هم اوشي د دے نه دا مسئله معلومه شوه چې که چرې د ماتحتو نه څه غلطي اوشي نو هغوی سره سختي کول پکار نه دي. بلکه د نرمئ او شفقت معامله پکار ده. او طائفة قد اهمتهم انفسهم (ع ۱۶) نه تر ان کنتم صدقین پورې یې د منافقانو مختلف حالات بیان کړیدي او مینځ کښې یې هغوی ته تنبیه ورکړه چې د پیغمبر ﷺ هغه مشفق او مهربانه هستي چې نه خو په زړه کښې د چا خلاف کینه ساتي او نه په ژبه سختي کوي ایا په هغه د خیانت الزام لګوئ. لَقَدْ مَنَّ اللّٰهُ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ الخ د پیغمبر علیه السلام ذات خو د الله ډیر لوئ احسان دے په هغه باندې د طعن په ځائې خو تاسو له د دے لوئ نعمت شکر اداکول پکار دي. وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ قُتِلُوْا نه تر لَا يُضِيْعُ اَجْرَ الْمُؤْمِنِيْنَ پورې د الله په لاره کښې د شهید شوو فضیلت او د هغوی ثواب ذکر دے. اَلَّذِيْنَ اسْتَجَابُوْا نه تر فَلَهُمْ اَجْرٌ عَظِيْمٌ (ع ۱۸) پورې د درې څیزونو بیان شوې دے اول یې د هغو مخلصو مؤمنانو شان او تعریف بیان کړو چې د الله په لاره کښې جنګ اوکړو زخمونو د پاسه زخمي شول او د رشته دارانو د شهادت صدمه یې برداشت کړه اول یې هغوی ته زوزنه ورکړې وه دلته یې هغوی ته تسلي ورکړه دے دپاره چې د دوی د زخمي زړونو مرهم پټئ اوشي. بیا یې په وَلَا يَحْزُنْكَ سره نبي ﷺ ته تسلي ورکړه چې تاسو د دے شریرو منافقانو غم مه کوئ دوی تاسو ته هیڅ نقصان نه شي رسولے د دے نه روستو یې منافقانو او مشرکانو ته تنبیه ورکړه او هغوی یې د اخرت د عذاب نه اوویرول.

وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ يَبْخَلُوْنَ بِمَآ اٰتٰىهُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ

او گمان دې نه کوي هغه خلق چې بخل کوي په هغه څيز باندې کوم چې الله ورکړې دې دوی ته د خپل

هُوَ خَيْرًا لَّهُمْ ؕ بَلْ هُوَ شَرٌّ لَّهُمْ ؕ سَيُطَوَّقُوْنَ مَا بَخِلُوْا

فضل نه چې دا بخل بهتر دې د دوی په حق کښې بلکه دا بد دې د دوی په حق کښې زر دې طوق به جوړ کړی شي هغه څيز

بِهٖ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ وَلِلّٰهِ مِيْرَاثُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ

د دوی په غاړه کښې هغه مال چې بخل يې کړی وو هغه کښې د قيامت په ورځ او الله وارث دې د آسمانونو او د زمکې

۱۸ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ﴿۱۸۰﴾ لَقَدْ سَمِعَ اللّٰهُ قَوْلَ

او الله چې تاسو هغه کوئ نو په هغه خبر دې ټکه ولـ بيشکه واوريده دهغوی خبره چا چې اوويل

الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ فَقِيْرٌ وَّنَحْنُ اَغْنِيَآءُ ؕ سَنَكْتُبُ

چې الله تعالٰی فقير دې او مونږ مالداريو ژر ده اوس به مونږ ليکو

مَا قَالُوْا وَقَتْلَهُمُ الْاَنْۢبِيَآءَ بِغَيْرِ حَقٍّ ۙ وَّنَقُوْلُ ذُوْقُوْا

د دوی خبره او کوم چې دوی وژلې دي نبيان ناحقه او وبه وايو چې اوڅکئ

عَذَابَ الْحَرِيْقِ ﴿۱۸۱﴾ ذٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْكُمْ وَاَنَّ

عذاب د سوزونکي اور دا بدله ده د هغې کوم چې تاسو په خپلو لاسونو مخکښې ليږلی

اللّٰهَ لَيْسَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ ﴿۱۸۲﴾ اَلَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ

دی او الله ظلم نه کوي په بندگانو باندې هغه خلق کوم چې وائي چې الله مونږ ته

عَهِدَ اِلَيْنَآ اَلَّا نُؤْمِنَ لِرَسُوْلٍ حَتّٰى يَاْتِيَنَا بِقُرْبَانٍ

ډيلی دی چې يقينا مونږ به نه کوو د يو رسول تر څو چې رانه وړي مونږ ته قرباني چې

تَاْكُلُهُ النَّارُ ؕ قُلْ قَدْ جَآءَكُمْ رُسُلٌ مِّنْ قَبْلِيْ بِالْبَيِّنٰتِ

اوخوري هغه اور ووايه ته دوی ته چې په تاسو کښې راغلي ځو مره رسولان مخکښې زما نه په نښو

وَبِالَّذِيْ قُلْتُمْ فَلِمَ قَتَلْتُمُوْهُمْ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۱۸۳﴾

او په هغه څيز چې تاسو هغه وايئ نو ولې تاسو هغوی وژلي که چېرې تاسو رښتوني يئ

نکات :- ۱. د جهاد ته روستو ترغیب الی الانفاق ۔ ۲. جواب شکوه ۔

موضح قرآن

ف ۱ خوک چه زکوٰة نه ورکوی د هغه د مال نه به اژدها جوړه شی او په ناره کښی به یې پریږدی او د هغه د ښکلی به شلوی او الله وارث دے یعنی اخر به تاسو مړه شئ او مال به هم هغه ته پاتے شی تاسو یې په شپیل لاس ورکړئ نو ثواب به بیا مومئ ف ۲ یهودیانو چه دا آیت واوریده چه اقرضوا الله نو وے ویل چه الله زمونږ نه قرض غواړی نو الله محتاج دے او مونږ دولتمند یو۔

فتح الرحمٰن

ف ۱ یعنی هغه مال به د مار په صورت کښی د دوی په غاړه کښی واچولے شی ف ۲ یعنی چه کله یهودیانو اقرضوا الله واوریده نو وے ویل چه مونږ غنیان یو او خدائ فقیر دے ۔ ف ۳ یعنی د غیب نه کم چه هغوئ اوچت کړی.

تفسیر

۱۸۰ د وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ نه تر وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ پورے اول نحل د انفاق د مضمون اعاده ده دلته یې په جهاد کښی د خرچ کولو ترغیب ورکړیدے یعنی تاسو د الله په لاره کښی خرچ وله نه کوئ دا ټول هرڅه خود الله ورکړے شوی دی بیا د هغه د ورکړے شوے مال د هغه په لاره کښی د خرچ کولو نه بخل کول ډیره بده خبره ده اخر به مړئ او هرڅه به ټول په دُنیا کښی پریږدئ باقی خو به صرف الله پاتے وی. سورة آلِ عمران او په سورة بقره کښی د انفاق د مضمون اینونو سره د دے آیت ربط دا شان دے په سورة بقره کښی یې یوځائ اُوفرمائیل وانفقوا فی سبیل الله یعنی د الله په لاره کښی خرچ اوکړئ بیا یې اُوفرمائیل من ذا الذی یقرض الله قرضًا حسنًا. په آلِ عمران کښی یې علی سبیل الترقی اُوفرمائیل چه لا تاکلوا الربٰوا اضعافًا مضاعفة ۔ د الله په لاره کښی خرچ کول خو پریږده تاسو خو قرض هم د سود نه بغیر نه ورکوئ حالا نکه پکار خو دا وه چه تاسو به هرحال کښی (فی السراء والضراء) د الله د توحید او د هغهٔ د دِین په خاطر مال خرچ کولے او د توحید منونکو به غلطیانو باندے تاسو غُصه ځکلے او هغوی ته مو معافی کولے. او س یې دلته اوفرمائیل چه یاد ساتئ که چرے د الله په لاره کښی مو مال خرچ نه کړو او د غیبے بُخل کوئ نو بیا آخرت کښی به د هغے سزا بیامومئ او د هغے خرابه نتیجه به زغمئ. وجه الارتباط انه تعالٰی لما بالغ فی التحریض علی بذل الارواح فی الجهاد وغیره شرع ههنا فی التحریض علی بذل المال وبین الوعید الشدید لمن یبخل الخ (روح ص ۱۴۹ ج ۴) دلته د لا یحسبن اول مفعول محذوف دے یعنی البخل او خیرًا لهم دے دویم مفعول دے او هو ضمیر فصل دے قال الخلیل وسیبویه والفراء المعنی البخل خیرًا لهم ای لا یحسبن الباخلون البخل خیرا لهم (قرطبی ص ۲۹۰ ج ۴) بخیل او د الله په لاره کښی نهٔ خرچ کوکے خپل د بُخل فعل خپل حق کښی فائده منده ګنړی ځکه چه هغه داسے خیال کوی چه خرچ کولو سره مال کمیږی لیکن د هغهٔ دا خیال غلط دے بُخل د دوی د پاره مُفید نهٔ دے بلکه سخت مُضر دے او تاکاره ځیږدے ځکه چه د آیت په اول حصه کښی یې اُوفرمائیل.

ځکه دا د بُخل د مُضراو شرکیه وبیان دے او د بُخل کونکو یعنی د مال زکوٰة نه ورکونکو او جهاد فی سبیل الله کښی د نهٔ خرچ کونکو د پاره تخویف اُخروی دے دا آیت په خپل ظاهر باندی

شعوب وسه څخه چه حدیث کښې راغلی دی نبی ﷺ فرمائیلی من اتاه الله مالا فلم یؤد
زکوته مثل له ماله شجاعا اقرع له زبیبتان یطوقه یوم القیمة یاخذ بلهزمتیه یعنی
شدقیه یقول انا مالک انا کنزک ثم تلا هذه الایة. بخاری ﷺ چا ته چه الله مال ورکړی
بیا هغه د هغې حق ادا نه کړو نو د قیامت په ورځ به د هغه مال د ګنجی ژړ (اژدها) په صورت کښې
مثل شی چه د هغې په سترګو باندې به تور ټکی وی او هغه به د دواړو د غاړې هار جوړه
کړے شی او هغه دواړه وخښی به او ویبه ی هغه ته به وائی چه زه ستا مال یم زه ستا خزانه
یم بیا نبی ﷺ دا ایت تلاوت کړو. ... زمکه او اسمان ورکوم شان چه دیکښې دی د هر
څیز مالک الله دے. د ټول مالونو و مسکیتونه چه دیوبس نه منتقل کیږی د ټول د الله پاک
ورکړه دی او بیرته د ټول مدعیان مړه شی وصرف الله به باقی پاتے وی چه کله دا ټول
مالونه و مسکیتونه د الله دی د هغه وارث شویدی او په اخرکښې به هم هغه ته پاتے وی
نو بیا د دے خیزونو په خرچ کولو کښې بخل کول ... والله په زړه کښې نو زهم به د خبره دا.
... دا ترغیب علی الانفاق دے او د تخویف اخروی نه روستو د منافقینو او یهودیانو
شکوه دا چه کله الله تعالی مومنانو ته چه د فی سبیل الله کښې د مال خرچ کولو په قرضو
نه قرضا حسنا سره ترغیب ورکړو نو هغوی د استهزاء او مسخرے په طور اووئیل چه
الله محتاج دے او مونږ مالدار یو ځکه چه هغه زمونږ نه قرض غواړی. سنکتب دا قول
د تخویف اخروی دے او دلته سین د تاکید دپاره دے. او د لیکلو نسبت الله طرف ته
مجازی دے یعنی کوم څه چه هغوی وئیلی دی مونږ به ضرور کراما کاتبین ته د هغې د
لیکلو حکم ورکړو او هغه به ضرور لیکلے شی. ای نامر الحفظة باثبات قولهم فی قرطیسهم
وسین بتت کید ای لن یفوتنا ابدا تدوینه واثباته (روح ج) وقتلهم الانبیاء بغیر حق
دا په ما قالوا باندے معطوف دے یعنی مونږ د دوی پورته ذکر شوے قول او د انبیاء علیهم السلام
قتل او د هغوی په قتل باندے د رضامندئ خبره هم د دوی په عملنامو کښې درج کړے
د قیامت په ورځ به هغوی ته حیثیت عملنامه ... دوی هغه وخت به د هغوی په عذاب کښې
د هغوی د افسوس او نا امیدئ زیاتولو دپاره د دوی ته اووئیلے شی چه اوس د خپلو
خبیثو ګناهونو په بدله کښې د جهنم عذاب اوڅکئ. تر دے ځائ پورے د یهودیانو دپاره
وعید او تخویف اخروی دے. ذٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْكُمْ وَاَنَّ اللّٰهَ لَيْسَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ
دا د ماقبل تتمه ده په دیکښې بیان د کړو چه سزا به د دوی د خپلو کړو ګناهونو وی ځکه
چه الله ظالم نه دے چه بندګانو ته ناحقه سزا ورکړی.

... دا د یکښې الذین قالوا نه بدل دے او په دیکښې د یهودیانو دیو باطل قول او د هغوی د
یو صریح بهتان شکوه ده چرته دوی د مسخرے په طور دا وئیلی وو چه الله پاک محتاج
دے د بندګانو نه خیرات غواړی هلته دوی په الله باندے دا صریح بهتان هم اوتړلو
چه الله تعالی په تورات کښې دا حکم ورکړے دے چه تر څو پورے یو پیغمبر مونږ ته د معجزه
اونه بنائی چه د اسمان نه اور راشی او د هغه قربانی اوخوری تر هغې پورے به مونږ په

هغه ایمان نه راته اوړو په دے سره د دوی مقصد د نبی صلی الله علیه وسلم په نبوت باندے طعن کول وُو چه تاسو چونکه داسے هیڅ معجزه اونه ښودله په دے وجه تاسو د الله رسول نه یئ! عیاذاً بالله. داشان هغوی په وئیل چه مخکینو پیغمبرانو به د قربانئ غوښه نه خوړله لیکن دے د قربانئ غوښه خوری او د مخکینو رسولانو مخالفت کوی په دے وجه دا رسول څنګه کیدے شی حکه مونږ ورته پیش کړے شوے د توحید مسئله هم نه منُو. ان دعوی اولٰئك الیهود هذا العهد من مفتریاتهم (روح ص۱۴۲ ج۴) ۲۷۹ ــــه دا د یهودیانو د دروغو او افتراء او د شکوی او د هغوی د مطالبے جواب دے. نبی علیه السلام ته حکم وکړے شو چه تاسو دوی ته جواب ورکړئ چه خما نه وړاندے د الله ډیر پیغمبران تاسو ته راغلی دی او هغوی تاسو ته ډیرے معجزے هم ښودلے دی او خاص طور باندے دکوے معجزے چه تاسو مطالبه کوئ یعنی د اسمان نه د اور نازلیدل. چه د قربانئ څیز اوخوری هغه هم تاسو ته ښودلے شوے دی. لیکن د دے باوجود هم تاسو هغه پیغمبران اونه منل بلکه د هغوی نه څو پیغمبران ستاسو پلرونو نیکونو قتل هم کړل په دے وجه ستاسو د مخصوص معجزے مطالبه د حق په تلاش او د هدایت په طلب باندے مبنی نه ده بلکه د تعنت او ضد د وجے نه تاسو دا مطالبه کوئ که چرے تاسو خپله مطالبه کښ رښتونی او د هدایت طلب کونکی وئ نو د دے پیغمبرانو به مو منلے وے او په دوی به تاسو ایمان راوړے وے د دوی تکذیب به مو نه کولے او نه به مو وژلے فالحق ان هذا منکم محض الیهود تعلل وتعنت ولوجاء بالقربان لتعللوا بغیر ذالك مما یقترحونه (بحر ص۱۳۲ ج۳) اعلم انه تعالی بین بهذه الدلائل انهم یطلبون هذه المعجزة لا علی سبیل الاسترشاد بل علی سبیل التعنت (الرازی کبیر ص۱۶۳ ج۳)

فَإِنْ كَذَّبُوكَ فَقَدْ كُذِّبَ رُسُلٌ مِّنْ قَبْلِكَ

بیا که چرے دوی تا دروغژن اوګنړی نو دروغژن ګنړلے شوی دی ستا نه مخکښ ډیر رسولان

جَآءُوْ بِالْبَيِّنٰتِ وَالزُّبُرِ وَالْكِتٰبِ الْمُنِيْرِ ﴿۱۸۴﴾ كُلُّ نَفْسٍ

چه راوړے یے وے نښانے او صحیفے او کتاب روښانه ۲۸۰ هر د ساه والا څکونکے د

ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ ؕ وَإِنَّمَا تُوَفَّوْنَ أُجُوْرَكُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ

د مرګ او تاسو ته به پوره بدله ملاو ډیږی د قیامت په ورځ ۲۸۱

فَمَنْ زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَأُدْخِلَ الْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ ؕ

بیا چه څوک لرے کړے شو د دوزخ نه او داخل کړے شو جنت ته د هغه کار خوجوړ شو.

وَمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَآ اِلَّا مَتَاعُ الْغُرُوْرِ ﴿۱۸۵﴾ لَتُبْلَوُنَّ فِيْٓ

او نه ده ژوند د دنیا بېگن سامان د دهوکې ۲۸۲ خامخا به ستاسو ازمائښت

اَمْوَالِكُمْ وَاَنْفُسِكُمْ قف وَلَتَسْمَعُنَّ مِنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا

کېږي په مالونو کښې او ځانونو کښې ۲۸۳ او خامخا به اورئ تاسو د هغه کسانو

الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَمِنَ الَّذِيْنَ اَشْرَكُوْٓا اَذًى كَثِيْرًا ط وَ

کتابونو ورکړے شوی وو نه او د مشرکانو نه بدې وینا ډېره او

اِنْ تَصْبِرُوْا وَتَتَّقُوْا فَاِنَّ ذٰلِكَ مِنْ عَزْمِ الْاُمُوْرِ ﴿۱۸۶﴾

که چرې تاسو صبر اوکړئ او پرهیزگاري اوکړئ نو دا د همت کارونه دي ۲۸۴

نکات: ۱۔ نبي علیه السلام ته تسلي۔ ۲۔ د جهاد د مضمون دویم ځل ذکر۔ ۳۔ د انفاق د مضمون دویم ځل اعاده۔ ۴۔ د جهاد او انفاق د مضمون دریم ځل اعاده په طریقه د لف او نشر مرتب سره۔ تسلي مؤمنانو د پاره او زجر یهودیانو، پیرانو او عالمانو د پاره۔

تفسیر ۲۸۰ دا بیو طرفته نبي علیه السلام ته تسلي ده او بل طرفته تکذیب کوونکو د پاره زجر او زورنه ده۔ وے فرمائيل چه که چرے دا اهل کتاب په تاسو ایمان نه راوړي او ستاسو تکذیب کوي نو تاسو په دے مه خفه کېږئ۔ دا قسمه سرکش او ضدي خلق د تېرو شوو رسولانو په وخت کښې هم موجود وو هغوی هم د دوی تکذیب اوکړو حالانکه هغه ټولو پیغمبرانو هم دلائل او معجزے او د الله د طرفنه د هدایت نور خوروونکي کتابونو سره راغلي وو د دے وجے نه دا معامله خو تېرو شوو پیغمبرانو ته هم را پېښه شوې ده وفي ذالک کمال توبیخهم وتوضیح صدقه صلی الله علیه وسلم وتسلیة له لیس فوقها تسلیة (روح ج ۴ ص ۱۴۵) ۲۸۱ دلته دوباره د جهاد د مضمون اعاده ده او د جهاد د کولو ترغیب یے فرمائیلے دے چه جهاد کښې د نه شریکېدو وجه خو دا کیدے شي چه د یکښې د مرګ ویره ده چه چرته مړه نه شو لیکن یاد ساتئ چه د مرګ مزه خو به هر څوک څکي او مرګ به په هر حال کښې راځي خواه تاسو په کورونو کښې ناست یئ یا په جنګ کښې شریک شئ په دے وجه ستاسو دپاره بهتره دا ده چه تاسو جهاد اوکړئ ځکه چه د الله په لاره کښې جهاد کول لویه نیکي ده او د اعلی درجے نیک عمل دے د دے دنیوی فائدے مثلاً د خپل مال، ځان، عزت او ملک او ملت حفاظت او مال غنیمت وغیره نه علاوه به اخرت کښې به هم تاسو ته د دے پوره پوره اجروثواب ملاویږي۔ فَمَنْ زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ الخ او د ټولو نه زیات دا چه که چرے د الله په لاره کښې جنګېدو کښې شهیدان شوئ نو نیغ به په جنت کښې داخل شئ۔

۲۸۲ دا د انفاق د مضمون دویم ځل اعاده ده یعني د دنیا دولت تاسو ته د درغوښ

دے چه تاسو دا د الله په لاره کښې نه خرچ کوئ او خیال کوئ چه دا دولت به تاسو ته غه فائده درکړی لیکن واوری چه دا د دُنیا ژوند او د دے ساز و سامان او مال و متاع بالکل عارضی او فانی دی۔ او د آخرت اجر بانده ے چه تاسو ته کوم د الله په لاره کښې د مال او ځان ورکولو سره حاصلیږی د دے غوره خو دُنیوی عیش و عشرت ته ولے ترجیح کوئ دا سراسر د دهوکے سودا ده چه خپل ظاهری بشاشت سره تاسو د آخرت نه غافله کوی وما نفع الحیاة الدنیا الا نفع الغرور ای نفع یغفل عن النفع الحقیقی لدوامه وهو النفع فی الحیاة الاخرویة (بحر ص ۱۲۳ ج ۳) ای تغر المؤمن وتمنیه فیظن طول البقاء وهی فانیة (قرطبی ص ۳۰۲ ج ۴) ۲۸۳ دلته د اِنفاق او قتال مضمون د لف او نشر مرتب په طور بانده ے اعاده کړے شوید ه- وے فرمایل چه اوس به په تاسو بانده ے د ځان او مال په سِلسله کښې غه امتحانونه راځی په مال کښې امتحان دا دے چه جهاد فی سبیل الله او نور د خیر په کارونو کښې به د مال د خرچ کولو حکم وی یا به په مال بانده ے آفتونه راځی. او په ځان کښې ابتلاء دا ده چه د الله په لاره کښې به جهاد کول وی قتل، زخمونه، قید کیدل او نور ومصیبتونو سره به مخامخ کیدل وی۔ ای لتختبرن (فی اموالکم) بالانفاق فی سبیل الله وبما یقع فیها من الآفات (وفی انفسکم) بالقتل والاسر والجراح وما یرد علیها من انواع المخاوف والمصائب (مدارک ص ۱۵۱ ج ۱) په دے وجه د امتحانونو ته تیار شئ او د دے تکلیفونو برداشت کولو د پاره خپل همتونه آماده کړئ. ولتسمعن من الذین اوتوا الکتٰب الخ دا هم د ابتلاء یوه صورت ده د الذین اوتوا الکتٰب نه یهود او نصاریٰ او الذین اشرکوا نه مشرکین عرب مراد دی. او اذًی کثیرًا نه د نبی علیه السلام په حق کښې د بے عزتئ کلمات د بدئ نظمونه او په اسلام او مسلمانانو بانده ے بد وئیل او په هغوی پورے مسخرے کول مراد دے۔ من الطعن فی الدین الحنیف والقدح فی احکام الشرع الشریف وصد من اراد ان یؤمن وتخطئة من امن وما کان من کعب بن الاشرف واضرابه من هجاء المؤمنین الخ (ابو السعود ص ۱۱۴ ج ۳) یعنی تاسو به د اهل کتابو او مشرکینو د ژبو نه ډیر غه بد رد او ملامتیا او د تحقیر او تذلیل خبرے اوریئ او دا به هم ستاسو په حق کښې یو امتحان وی د دے دین او اسلام د دُشمنانو په خبرو تاسو مه خفه کیږئ او مه بے همته کیږئ او نه د دوی په خبرو سره په جذباتو کښې راشئ او د وقار او د تقویٰ لمن د لاس نه پریږدئ او د دے ټولو امتحانونو مقابله په صبر او تحمل او مضبوطتیا سره اوکړئ.

۲۸۴ په دیکښې ایمان والو ته د ابتلاء او امتحان په وخت د شجاعت او بهادرئ بنه د کار اخستلو او د مشرکانو د طرفنه په ورکړے شوو تکلیفونو بانده ے د صبر او ثابت قدمئ لمن د مضبوط نیولو تعلیم ورکړے شوید ے. په ذٰلِکَ سره د صبر او تقویٰ طرفته اشاره ده- او په عزم الامور کښې عزم مصدر په معنیٰ د اسم مفعول سره دے او د عزم الامور نه مراد هغه کارونه دی کوم چه ډیر اهم او تاکیدی وی او د کوم په ځائ راوړلو د پاره چه د ټلګے او پخ ارادے ضرورت وی ای الامور ینبغی ان یعزمها کل واحد (روح ص ۱۴۸ ج ۴) دا جُمله د مقدر جواب شرط علت دے او دغه قائمقام ده ای وان تصبروا

وتتقوا فهو خیر لکم فان ذلک من عزم الامور (ابو سعود ﷺ) د دینه د موجوده رنځ د توحید
مبلغینو له سبق حاصلول پکار دی که چرته د دین صحیح عالمان، پیران او گدی نشین هغوی
ته تنګی اوکړی په هغوی بد او ملامتیا اووائی او هغوی ته ئې اذیت اورسَوَی او کوششونه
د ناموفق کوشش بې اوکړی نو د هغې د پرواه کولو نه بغیر صبر او تحمل او ثابت قدمی و مستقل
مزاجی سره خپل کار جاری ساتل پکار دی.

وَإِذْ أَخَذَ اللَّهُ مِيثَاقَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ لَتُبَيِّنُنَّهُ
او چې کله الله وعده واخستله د کتاب والو نه چې دا به بیانوئ
لِلنَّاسِ وَلَا تَكْتُمُونَهُ فَنَبَذُوهُ وَرَاءَ ظُهُورِهِمْ وَاشْتَرَوْا
خلقو ته او نه به ئې پټوئ خلقو بیا وا غورځوله هغوی هغه وعده د خپل شا نه او واخستو
بِهِ ثَمَنًا قَلِيلًا ۖ فَبِئْسَ مَا يَشْتَرُونَ ﴿١٨٧﴾ لَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ
په دے خستو هغه په بدله کې لږ شان مال نو څه بد دے هغه کوم اخلی. ته خیال مه کوه چې کوم خلق
يَفْرَحُونَ بِمَا أَتَوا وَّيُحِبُّونَ أَن يُحْمَدُوا بِمَا لَمْ يَفْعَلُوا
خوشحالیږی په خپلو کړو باندے او تعریف خوښوی په هغه کړو باندے چې نه ئې دی کړی
فَلَا تَحْسَبَنَّهُم بِمَفَازَةٍ مِّنَ الْعَذَابِ ۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١٨٨﴾
نو خیال مه کوه هغوی چې خلاص شوی دی د عذاب نه او هغوی دپاره عذاب دردناک دے او خاص
وَلِلَّهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۗ وَاللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ
او خاص الله دپاره ده بادشاهی د آسمان او د زمکے او الله په هر څیز باندے قادر دے
قَدِيرٌ ﴿١٨٩﴾ إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ
شک نشته بیشکه د زمکے او آسمان جوړولو او د شپے او د ورځے بدلون راتلو کې
اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَآيَاتٍ لِّأُولِي الْأَلْبَابِ ﴿١٩٠﴾ الَّذِينَ يَذْكُرُونَ
په دے کې نښے دی عقل والو دپاره هغه خلق چې یادوی الله
اللَّهَ قِيَامًا وَقُعُودًا وَعَلَىٰ جُنُوبِهِمْ وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلْقِ
ولاړ او په ناست او په اړخ باندے په ملاستو او فکر کوی د زمکے او آسمان

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هٰذَا بَاطِلًا ۚ

د پیدائش د آسمانونو او زمکې وائي اے ربه زمونږه نه دے پیدا کړے تا دا عبث ف۱ ۲۹۰

سُبْحٰنَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ﴿۱۹۱﴾

ګوري ته پاک یې د ټولو عیبونو نه نو مونږ بچ کړه د دوزخ د عذاب نه ف۲ ۲۹۱

نکات: ف۱ د یهودو د علماؤ او پیرانو د پاره زجر دے حقیر عوض یعني د نذر، منحتے اغلي او د خپل ګد او د حفاظت د پاره ف۲ د سورت د څلورو مضمونونو نه د توحید د مضمون اعاده سره د عقلي دلیل نه۔

موضح قرآن ف۱ هم دا یهودیان مسئلے غلطے بیانوي او رشوتونه خوري او د پیغمبر صفت پټوي بیا خوشحالیږي چه مونږ هیڅوک نه شي نیولے او امید ساتي چه خلق زمونږ صفت اوکړي چه تو یر ښه عالم دین او حق پرست دے۔ ف۲ یعني د نبي نه د معجزے غوښتلو څه ضرورت دے کوم خبره چه هغه کوي یعني د توحید نښانے په ټول عالم کښې ظاهرے دي۔ ف۳ خبط یے نه دي پیدا کړي یعني د دے عالم انتهاره په بل عالم کښې۔

فتح الرحمٰن: ف۱ یعني په غیر د تدبیر بلیغ نه۔

تفسیر ۲۸۵ دا د ما قبل سره متعلق دے اول یے مؤمنان زړور کړل چه اهل کتابو او مشرکینو د طرفه په ورکړے شوؤ تکلیفونو باندے صبر اوکړئ او س یے دلته اهل کتابو ته تنبیه ورکړه چه مونږ د دوي نه وعده اخستے وه چه دوي به حق یعني د توحید مسئله مني او دا به بیانوي او نه به یے پټوي لیکن هغوي د دے وعدے او میثاق هیڅ پرواه اونکړه۔ فنبذوه وراء ظهورهم. ه ضمیر میثاق ته راجع دے هغوي دا وعده د شا ته وغورزوله او د هغے پابندي یے اونکړه۔ واشتروا به ثمنا قلیلا. د به ضمیر الکتاب طرفته راجع دے. د کوم کتاب چه صفا صفا بیانولو حکم ورکړے شوے وو. د هغے کتاب بیانولو په ځائے یے هغه د عوامو نه پټ اوساتو او د حق هیڅ خبره یے د هغوي غوږونو ته اونه رسوله او دا ټول هر څه یے صرف د بیکاره دُنیا د حقیر دولت او د دُنیا د فاني او عارضي عیش او د خپلو ګد و حفاظت د پاره اوکړل. په دے آیت کښې خاص طور باندے د یهودو علماء مراد دي یعني فنحاص واشیع واشباههما من الاحبار (ابن جریر ص۱۲۲ ج۴) دا خلق محض د خپل دُنیوي ریاست عزت او وقار او د نذر او منحتے د امدني د حفاظت د پاره حق پټوي او عوام یے بیوقوف ګرځولو سره په غلطه لار روان کړي وُو۔ ۲۸۶ دا د دے تعلق د وَلَا تَكْتُمُوْنَهٗ سره دے او د ما اَتَوْا نه مراد کتمان حق او د تحریف فعل مراد دے یعني اول خو د اهل کتابو دے عالمانو وعده کړے وه چه هغوي به حق بیانوي لیکن هغوي خپلو طرفته وعده مانه کړه او حق پټوي او بیا په دے کار باندے خوشحاله هم وي او ورسره دا هم غواړي چه د دوي صفت اوکړے شي او د دوي د حق بیانولو دیانت او امانت او د دوي

د علم او فضل تعریف او کړے شي. قال ابن عباس رضی الله عنهما هم الیهود حرفوا التورٰة وفرحوا بذٰلک واحبوا ان یوصفوا بالدیانة والفضل (ابو السعود ج ۲ ص ۴۹) ۲۸۷ دا د یهودو عالمانو د بیاره تعریفِ آخروی دے او په دیکښې خطاب نبی صلی الله علیه وسلم ته دے یا هر مخاطب ته. د دوی ظاهری شان و شوکت او طور طریقو نه د خلقو دا اندازه نه کوي چه شاید په آخرت کښې به هم دا خلق په بنه ژوند کښې وي بلکه دا خیره د دې چاپه ذهن او خیال خاطر کښې هم را نشي چه هغوی به د عذاب نه بچ شي بلکه دوئ مفسد انه او ګمراهانه کاروایانو سزا به ضرور ملاویږي چه ډیره زیاته دردناکه به وي. فاخبران لهم عذابا الیما بما افسدوا الدین علی عباد الله (زمخشری ج ۱ ص ۳۴۸) د نن زمانے د موجوده ګدی نشین او بدعت خوښونکی مُلیان خالص د خپلو ګیډو او د خپل دروغژن وقار په خاطر د توحید مسئله پټوي او هغه نه ښکاره کوي په سورة آل عمران کښې خلور مضمونونه بیان کړے شویدی. توحید، رسالت، جهاد فی سبیل الله او انفاق فی سبیل الله. او س دلته دے خلورو واړو اعاده ده. په سورة آل عمران کښې چونکه زیات د نصارٰو اصلاح مقصود وه چه حضرت عیسٰی او مور مریم او آل عمران یے کارساز ګنړل او هغوی یے رابلل نو ځکه یے اوفرمائیل وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ.

۲۸۸ یعنی ټول هرڅهٔ د الله دي نه چه د حضرت عیسٰی، حضرت مریم او د آلِ عمران د کوم بزرګانو. او د هر څیز خالق او په هر څیز قادر صرف الله دے نه چه دا حضرات. چه کله د زمکے او اسمان مالک او په ټولو کائناتو کښې متصرف او مختار صرف الله دے او د هغهٔ قدرت کامل او حاوی دے چه د هغهٔ د قدرت نه هیڅ څیز بهرنه دے نو بیا د رابللو او عبادت لائق هم صرف هغه دے او هغه د ټولو حاجت پوره کوونکے او مشکل اسانوونکے دے او د هغهٔ په مخکښې نه څوک شفیع غالب شته او نه څوک د هغهٔ سره د کارسازئ په صفاتو کښې شریک او نائب شته. ای السلطان القاهر فیهما بحیث یتصرف فیهما و فیما فیهما کیف مایشاء ویریدہ ایجادًا واعدامًا احیاءً واماتة تعذیبًا واثابة من غیر ان یکون لغیرہ شائبة دخل فی شیء من ذٰلک بوجه من الوجوه (ابو السعود ج ۲ ص ۱۴۰)

۲۸۹ دا هم د توحید په دعوی باندے عقلی دلیل دے. د زمکے او اسمان په پیدائش کښې او د ورځے شپے په تلو راتلو کښې عقل او پوهه لرونکو او غور و فکر کوونکو د پاره د الله په توحید او د هغهٔ د صنعت او حکمت واضحه دلائل موجود دي. که چیرے د اسمانونو نظام ته او کتلے شي نو په دیکښې نمر، سپوږمۍ او بیشماره ستوری او د سیارو حرکات او د فلک ګردش، د اسمان آثار او نتائج. د زمکے شکل وصورت، په هغے باندے راټوکیدونکی فصلونه او باغونه، میوے، ګلونه او د زمکے په خیټه کښې خزانے، د موسمونو بدلیدل د شپے ورځے اختلاف د ورځے شپے کمیدل زیاتیدل غرض دا چه دا ټول کارونه دے خبرے ښکاره ثبوت دے چه دوئ د ټولو پیدا کوونکے او د دے ټول نظام نظم او نسق ساتلو والا ډیر زیات مدبّر او په صنعت او حکمت کښې یو او په صفاتِ کمال کښې یو او بے مثل دے.

۲۹۰ الذین یذکرون نذتر بعضکم من بعض پورے د اولی الالباب صفتونه او حالاتو ذکر

تو پېري تو څو ځې پورته يې د دوي صفتونه بيان كړل يو دا چه هغوي په هر حال كښې الله
يادوي او د هغه توحيد بيانوي او هغه نه او ذكر وي او په هيڅ حال كښې هم د هغه نه غافل نه دي.
دوېم دا چه هغوي د زمكې او اسمانونو په مخلوقاتو كښې او په كائنات عالم كښې غور او تدبر كوي. او
د كائنات د ذرې ذرې سره د الله په توحيد باندې استدلال كوي چه د الله نه سوا څوك د عبادت
او بلولو لائق نشته. ــــــــ ۲۹ دا د اولي الالباب د عرض دے هغوي د الله تعالى د خالق او مالك
كېدو اعتراف كوي او وايي اے الله! ته كارساز يې د نظام عالم پيدا كولو او ددے په چلولو
كښې ستا سره څوك شريك نشته. اي يقولون ما خلقته عبثا وهزلا بل خلقته دليلا على
قدرتك وحكمتك (قرطبي ج۴)

رَبَّنَآ اِنَّكَ مَنْ تُدْخِلِ النَّارَ فَقَدْ اَخْزَيْتَهٗ ؕ وَمَا

اے زمونږه ربه! خوك چه ته دوزخ كښې واچوے نو هغه دې رسوا كړو او نشته ظالمانو لره

لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ اَنْصَارٍ ﴿۱۹۲﴾ رَبَّنَآ اِنَّنَا سَمِعْنَا مُنَادِيًا

د هيڅ يو مدد ګار ۱۹۲ اے ربه زمونږه! مونږه واورېدل يو اواز كوونكے

يُّنَادِيْ لِلْاِيْمَانِ اَنْ اٰمِنُوْا بِرَبِّكُمْ فَاٰمَنَّا ۖ رَبَّنَا

اواز كوي ايمان ته او وايي ۱۹۳ چه ايمان راوړئ په خپل رب باندې نو مونږ ايمان راوړو اے

فَاغْفِرْ لَنَا ذُنُوْبَنَا وَكَفِّرْ عَنَّا سَيِّاٰتِنَا وَتَوَفَّنَا مَعَ

زمونږه ربه! او مو بخښے زمونږ ګناهونه او لرې كړې زمونږ نه بدئ زمونږ او مونږ ته مرګ راكړې مونږ

الْاَبْرَارِ ﴿۱۹۳﴾ رَبَّنَا اٰتِنَا مَا وَعَدْتَّنَا عَلٰى رُسُلِكَ وَلَا

ته د نيكو خلقو سره. اے ربه زمونږه او راكړې مونږ ته كومه وعده چه او كړې تا زمونږ سره د خپلو

تُخْزِنَا يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ اِنَّكَ لَا تُخْلِفُ الْمِيْعَادَ ﴿۱۹۴﴾

رسولانو په واسطه سره او مه رسوا كوئ مونږ د قيامت په ورځ بيشكه ته د وعدې خلاف نه كوے ۱۹۴

فَاسْتَجَابَ لَهُمْ رَبُّهُمْ اَنِّيْ لَآ اُضِيْعُ عَمَلَ عَامِلٍ

بيا قبوله كړه د هغوي دعا د هغوي رب چه زه نه ضائع كوم محنت د يو محنت كوونكي ستاسو

مِّنْكُمْ مِّنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى ۚ بَعْضُكُمْ مِّنْ بَعْضٍ ۚ فَالَّذِيْنَ

نه سړے وي يا ښځه تاسو په خپلو كښې يو د بل نه يئ بيا هغه خلق چه هجرت اوكړو

هَاجَرُوْا وَاُخْرِجُوْا مِنْ دِيَارِهِمْ وَاُوْذُوْا فِيْ سَبِيْلِيْ وَ

هغوی او اوویستلے شو د خپلو کورونو نه او تکلیف ورکړے شو څما په لاره کښې او

قٰتَلُوْا وَقُتِلُوْا لَاُكَفِّرَنَّ عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ وَلَاُدْخِلَنَّهُمْ

او جنګیدل او اووژلے شو خامخا به لرے کړم د هغوی نه بدئ د هغوی او داخل به کړم

جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۚ ثَوَابًا مِّنْ عِنْدِ

هغوی به باغونو کښې چه د هغے نه لاندے بهیږی نهرونه دا بدله ده د الله سره

اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ عِنْدَهٗ حُسْنُ الثَّوَابِ ﴿۱۹۵﴾

او الله سره ښه بدله ده.

نکات: ۱۔ د رسالت مضمون طرفته ۲۔ د جهاد د مضمون طرفته اشاره.

تفسیر ۲۹۲ دا د اولی الالباب دویمه دُعا ده چه دیکښې د جهنم د عذاب نه د پناه غوښتلو پاره د ډیرے ژبائے عاجزئ او زارئ اظهار دے. او د اولے دُعا د پاره په منزله د علت ده. یعنی اے زمونږ پروردګاره! چه ته کوم مشرکان او نافرمانه په جهنم کښې داخل کړے د هغوی به نه وی مددګار او دوست نه وی او هغه به خوار هم. چه نه کړے شی او د جهنم داخلیدل به انتهائی د ذلت او د هلاکت آخری منزل وی د دے وجے نه اے زمونږ مهربان پروردګاره! مونږ د هغے نه محفوظ کړے. ۲۹۳ دا هم د هغوی د دُعا حکایت دے او په دیکښې د رسالت د مضمون اعاده ده. څکه چه د مُنادی نه دلته نبی ﷺ مراد دے یعنی اے الله! ستا پیغمبر د توحید مسئله بیان کړه مونږ هغه اومنله څنګه چه د ابن عباسؓ، ابن مسعودؓ او ابن جریجؒ وغیرهم نه نقل دی والمراد بالمنادی رسول الله صلی الله علیه وسلم وهو المروی عن ابن مسعود وابن عباس وابن جریج واختاره الجبائی وغیره (روح ج۴ ص۱۶۳) ۲۹۴ تر دے ځائ پورے د الله د نیکو بندګانو دُعاګانے وے. د دینه دا هم معلومه شوه چه د الله دوستان او نیک بندګان خو مخلوق د الله ته محتاج دی. او هغه په وړاندے عاجز دی او هروخت هغه یادوی او د هغه د عذاب نه د هغه پناه غواړی او په هرحال کښې هغه ته اوازکوی په دے وجه هغوی په هیڅ شان سره هم د عبادت او د رابللو لائق نه دی. ۲۹۵ دلته الله تعالے پورته ذکر شوو دُعاګانو ته زیرے اوروَلے دے چه د دوی دُعاګانے الله قبولے کړے څکه چه هغه د چا عمل نه ضائع کوی بلکه په هر وړوکی او لوی عمل باندے اجر و ثواب ورکوی عمل کونکے خواه سړے وی یا ښځه. څکه چه هغه دواړه د خدا نه مخلوق نه دے بلکه د یو قسم د وه بناخونه دی. او د عملونو قبولیت خود عمل کونکی په اخلاص باندے موقوف دے نه چه د هغے په نر یا ښځه کید و باندے فَالَّذِيْنَ هَاجَرُوْا وَاُخْرِجُوْا مِنْ دِيَارِهِمْ وَاُوْذُوْا فِيْ سَبِيْلِيْ وَقٰتَلُوْا وَقُتِلُوْا نه تر وَاللّٰهُ عِنْدَهٗ حُسْنُ الثَّوَابِ پورے د جهاد د مضمون اعاده

دلا دیکښې د قتال فی سبیل الله ترغیب ورکړے شوے دے او مجاهدینو او شهیدانو د پاره د بشارت اُخروی ذکر دے او ددے په ضمن کښې ترغیب الی الانفاق مضمون هم راغے .

لَا يَغُرَّنَّكَ تَقَلُّبُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فِي الْبِلَادِ ﴿۱۹۶﴾ مَتَاعٌ

تا نه دې دهوکه در نکړی ګرځیدل د کافرانو په ښارونو کښې ۲۹۶ دا فائده ده لږه

قَلِيْلٌ قف ثُمَّ مَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ط وَبِئْسَ الْمِهَادُ ﴿۱۹۷﴾ لٰكِنِ الَّذِيْنَ

شان بیا د هغوی ځائې دوزخ دے او ډیر بد ځائې دے لیکن کوم خلق چه

اتَّقَوْا رَبَّهُمْ لَهُمْ جَنّٰتٌ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ

ډیر بیری د خپل رب نه هغوی د پاره باغونه دی چه د هغے د لاندے بهیږی نهرونه ۲۹۷ همیشه

فِيْهَا نُزُلًا مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ ط وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ خَيْرٌ لِّلْاَبْرَارِ ﴿۱۹۸﴾ وَاِنَّ

به اُوسیږی په هغے کښې میلستیا ده د الله د طرفنه او الله سره چه کوم څه دی نو هغه ډیر ښه دی نیکانو د پاره

مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ لَمَنْ يُّؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكُمْ

او په کتاب والو کښې ځینې هغه هم دی چه ایمان راوړی په الله باندے ۲۹۸ او کوم چه نازل شو ستا طرفته

وَمَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِمْ خٰشِعِيْنَ لِلّٰهِ لَا يَشْتَرُوْنَ

او کوم چه نازل شو دوی طرفته عاجزی کوی د الله په مخکښې نه اخلی د

بِاٰيٰتِ اللّٰهِ ثَمَنًا قَلِيْلًا ط اُولٰٓئِكَ لَهُمْ اَجْرُهُمْ عِنْدَ

الله په ایتونو باندے قیمت لږ هم دا دی چا د پاره چه مزدوری ده د هغوی د

رَبِّهِمْ ط اِنَّ اللّٰهَ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ﴿۱۹۹﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا

رب سره بیشکه الله زر اخلی حساب اے ایمان والو

اصْبِرُوْا وَصَابِرُوْا وَرَابِطُوْا قف وَاتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ

صبر اوکړئ او په مقابله کښې مضبوط اُوسئ او مشغول اُوسئ ۲۹۹ او ډیر بیریږئ د الله نه دے د پاره

تُفْلِحُوْنَ ﴿۲۰۰﴾ ع

چه تاسو خپل مراد ته اُورسئ ف ا

نکات: ۱ـ د مشرکانو د زجر دپاره دے. ۲ـ تخویف اخروی. ۳ـ د انفاق مضمون طرف ته اشاره. ۴ـ د مؤمنانو دپاره زیرے. ۵ـ د اهل کتابو مؤمنانو دپاره بشارت. ۶ـ د ټولو سورت د مضامینو اعاده په آمنوا کښې توحید صراحةً رسالت ضمناً او صابروا او رابطوا کښې جهاد.

موضح قرآن: ف ثابت اوسئ یعنې په دین باندې او په مقابله کښې یعنې په جهاد کښې او مشغول اوسئ یعنې د کافرانو په ګیراؤ کښې.

تفسیر: ۲۹۶ په لَا یَغُرَّنَّكَ کښې خطاب نبی کریم ﷺ ته دے او مراد ترې هغوی امت دے. الخطاب للنبي صلى الله عليه وسلم والمراد منه امته وكثيرا ما يخاطب سيد القوم بشيء ويراد اتباعه فيكون بمقام خطابهم (روح ج ۴ ص ۱۷۳) او دا هم ممکن ده چه خطاب عام وی نبی علیه السلام ته او په طریقه د تغلیب امت ته هم. ويحتمل ان يكون عاما للنبي صلى الله عليه وسلم وغيره بطريق التغليب تطييبا لقلوب المخاطبين (روح). او د تقلب في البلاد نه د تجارت سلسله کښې مختلفو ښارونو ته تلل راتلل مراد دی. والمراد بتقلب الذين كفروا في البلاد تصرفهم في التجارات والمكاسب (کبیر ج ۳ ص ۱۵۷) یعنې د کافرانو تجارتونه، هغوی سره د دولت ډیروالے او د ژوند فراخي تاسو دهوکه نه کړی چه د خدائی په نزد د دوی څه قدر او مرتبه ده او په اخرت کښې به هم دوی ته دا شان عیش وعشرت خوشحالي حاصله وی. مَتَاعٌ قَلِيلٌ دا د دنیا حقیر دولت او خوورے عیش وعشرت د الله د هغه اجر او ثواب په مقابله کښې بالکل لږ او بے قدره دے. کوم چه د الله په لاره کښې د خرچ کوونکو دپاره مقرر دے. په دے وجه لئے ایمان والو! دنیوی منافعو ته هیڅ قدر مه ورکوئ بلکه د الله د رضا کولو او د اخرت د ثواب په خاطر خپل دولت جهاد في سبيل الله او نورو نیکو کارونو کښې خرچ کړئ. ثُمَّ مَأْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ وَبِئْسَ الْمِهَادُ دا د هغه خلقو دپاره تخویف اخروی دے څوک چه دنیا له ترجیح ورکوی په اخرت باندې او د الله په لاره کښې د مال خرچ کولو په ځائې په عیش او مستئ او لهو ولعب کښې خپل دولت برباد وی.

۲۹۷ دا بشارت اخروی دے د ماقبل نه دا وهم پیدا کیدے شو چه تجارت په هر حال کښې بد څیز دے په دے وجه بے د دے وهم ازاله اوکړه چه کوم خلق د الله نه اوویریږی او خپل کار مثلاً تجارت، زراعت، معیشت، معاشرت وغیره کښې د الله د رضامندئ او د هغه د احکامو د پابندئ خیال اوساتی نو هغوی دپاره په اخرت کښې د الله سره مزیداره میلمستیا ده او په اخرت کښې چه هغوی دپاره کوم اجر و ثواب مقدر دے هغه د دنیا د نعمتونو نه په ډیرو درجو بهتر دے. وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ خَيْرٌ لِّلْاَبْرَارِ. د مشرکانو مال د شرک رواج کولو دپاره او د مؤمنانو مال د توحید د اشاعت دپاره خرچ کولے شی. د دے وجے نه د توحید په خاطر خرچ کوونکو دپاره د الله سره ډیر زیات لوئ اجر دے دا شان په دے ایت کښې ترغیب الی الانفاق طرفته اشاره ده. ۲۹۸ اول وَاِذْ اَخَذَ اللّٰهُ مِيْثَاقَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ (رکوع ۱۹) کښې د توحید مسئلے نه منونکو اهل کتابو ته د تنبیه په مقابله کښې دلته هغوی دپاره بشارت اخروی دے چاچه د هغوی نه مذکوره دعوی منلے ده. او په دیکښې د ته منونکو دپاره د ترغیب اړخ موجود دے یعنې اکثر اهل کتابو د توحید مسئلے نه منله حالانکه په هغوی کښې څینو منلے ده.

کله چې دا مسئله حق نه وه نو هغوی به ولې منله په دې وجه هغوی د پاره هم د توحید
په مسئله باندې ایمان راوړل ګران دي. ۲۹۹ په دې آخري آیت کښې د سورة اجمالي خلاصه
بیان شوې ده. اصبروا یعني د توحید په وجه چې تاسو مره مصیبتونه راځي په هغې صبر اوکړئ او
هغه برداشت کړئ. وصابروا او ثابتقدم اوسئ یعني په دین او مقابله کښې (مدارک تفسیر القرآن)
ورابطوا په ډیرو کښې آسونه اوتړئ. یعني جهاد د پاره تیار شئ (جلالین) په دې کښې ترغیب علی القتال
ذکر دې او انفاق فی المال چونکه د قتال مبدأ او دې د پاره موقوف علیه دې په دې وجه
هغه ضمناً په دې کښې راغي.

په سورة آل عمران کښې د توحید آیتونه او د هغې مختصر خلاصونه

(1) اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْحَیُّ الْقَیُّوْمُ (ع ۱) نفی د شرک فی التصرف.
(2) اِنَّ اللّٰهَ لَا یَخْفٰی عَلَیْهِ شَیْءٌ فِی الْاَرْضِ وَلَا فِی السَّمَآءِ (ع ۱) نفی د شرک فی العلم
(3) هُوَ الَّذِیْ یُصَوِّرُکُمْ فِی الْاَرْحَامِ کَیْفَ یَشَآءُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْعَزِیْزُ الْحَکِیْمُ (ع ۱)
نفی د شرک فی التصرف.
(4) شَهِدَ اللّٰهُ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ وَالْمَلٰٓئِکَةُ وَاُولُوا الْعِلْمِ قَآئِمًۢا بِالْقِسْطِ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ
الْعَزِیْزُ الْحَکِیْمُ (ع ۲) نفی د شرک فی التصرف د ملائکو او انبیاؤ علیهم السلام نه.
(5) (6) قُلِ اللّٰهُمَّ مٰلِکَ الْمُلْکِ تُؤْتِی الْمُلْکَ مَنْ تَشَآءُ وَتَنْزِعُ الْمُلْکَ مِمَّنْ تَشَآءُ وَ
تُعِزُّ مَنْ تَشَآءُ وَتُذِلُّ مَنْ تَشَآءُ بِیَدِکَ الْخَیْرُ اِنَّکَ عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ تُوْلِجُ الَّیْلَ
فِی النَّهَارِ وَتُوْلِجُ النَّهَارَ فِی الَّیْلِ وَتُخْرِجُ الْحَیَّ مِنَ الْمَیِّتِ وَتُخْرِجُ الْمَیِّتَ مِنَ الْحَیِّ وَ
تَرْزُقُ مَنْ تَشَآءُ بِغَیْرِ حِسَابٍ نفی د شرک فی التصرف (ع ۲)
(7) (8) اِنَّ اللّٰهَ اصْطَفٰٓی اٰدَمَ وَنُوْحًا وَّاٰلَ اِبْرٰهِیْمَ وَاٰلَ عِمْرٰنَ عَلَی الْعٰلَمِیْنَ
ذُرِّیَّةًۢ بَعْضُهَا مِنْۢ بَعْضٍ وَاللّٰهُ سَمِیْعٌ عَلِیْمٌ (ع ۲) نفی د شرک فی التصرف و العلم.
(9) اِذْ قَالَتِ امْرَاَتُ عِمْرٰنَ رَبِّ اِنِّیْ نَذَرْتُ لَکَ مَا فِیْ بَطْنِیْ مُحَرَّرًا فَتَقَبَّلْ مِنِّیْ اِنَّکَ
اَنْتَ السَّمِیْعُ الْعَلِیْمُ (ع ۲) نفی د نذر د غیر الله او نفی د شرک فی العلم.
(10) قَالَ یٰمَرْیَمُ اَنّٰی لَکِ هٰذَا قَالَتْ هُوَ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ اِنَّ اللّٰهَ یَرْزُقُ مَنْ یَّشَآءُ بِغَیْرِ
حِسَابٍ (ع ۲) د اولیاؤ کرامت ظاهرول د الله په اختیار کښې دي.
(11) هُنَالِکَ دَعَا زَکَرِیَّا رَبَّهٗ قَالَ رَبِّ هَبْ لِیْ مِنْ لَّدُنْکَ ذُرِّیَّةً طَیِّبَةً اِنَّکَ
سَمِیْعُ الدُّعَآءِ (ع ۴) نفی د شرک فی الدعاء.
(12) ذٰلِکَ مِنْ اَنْۢبَآءِ الْغَیْبِ نُوْحِیْهِ اِلَیْکَ وَمَا کُنْتَ لَدَیْهِمْ اِذْ یُلْقُوْنَ اَقْلَامَهُمْ
اَیُّهُمْ یَکْفُلُ مَرْیَمَ وَمَا کُنْتَ لَدَیْهِمْ اِذْ یَخْتَصِمُوْنَ (ع ۵) نفی د شرک فی العلم.
(13) اَنِّیْ قَدْ جِئْتُکُمْ بِاٰیَةٍ مِّنْ رَّبِّکُمْ اَنِّیْۤ اَخْلُقُ لَکُمْ مِّنَ الطِّیْنِ کَهَیْئَةِ الطَّیْرِ فَاَنْفُخُ
فِیْهِ فَیَکُوْنُ طَیْرًۢا بِاِذْنِ اللّٰهِ وَاُبْرِئُ الْاَکْمَهَ وَالْاَبْرَصَ وَاُحْیِ الْمَوْتٰی بِاِذْنِ اللّٰهِ

فِيْ بُيُوْتِكُمْ پورے (ع ٥) د نبيانو معجزے د دعوی په اختيار کښ نه وی .
(١٤) اِنَّ اللّٰهَ رَبِّيْ وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوْهُ ؕ هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيْمٌ (ع ٥) نفی د شرک فی العبادة
(١٥) فَلَمَّآ اَحَسَّ عِيْسٰى مِنْهُمُ الْكُفْرَ قَالَ مَنْ اَنْصَارِيْٓ اِلَى اللّٰهِ ؕ قَالَ الْحَوَارِيُّوْنَ نَحْنُ اَنْصَارُ
اللّٰهِ ۚ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ ۚ وَاشْهَدْ بِاَنَّا مُسْلِمُوْنَ ۝ (ع ٥) نفی د شرک فی التصرف .
(١٦) اِذْ قَالَ اللّٰهُ يٰعِيْسٰٓى اِنِّيْ مُتَوَفِّيْكَ وَرَافِعُكَ اِلَيَّ وَمُطَهِّرُكَ مِنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَ
جَاعِلُ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْكَ فَوْقَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ ۚ ثُمَّ اِلَيَّ مَرْجِعُكُمْ فَاَحْكُمُ
بَيْنَكُمْ فِيْمَا كُنْتُمْ فِيْهِ تَخْتَلِفُوْنَ ۝ (ع ٦) نفی د شرک فی التصرف .
(١٧) قُلْ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ تَعَالَوْا اِلٰى كَلِمَةٍ سَوَآءٍۢ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ اَلَّا نَعْبُدَ اِلَّا اللّٰهَ وَلَا
نُشْرِكَ بِهٖ شَيْـًٔا وَّلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا اَرْبَابًا مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَقُوْلُوا
اشْهَدُوْا بِاَنَّا مُسْلِمُوْنَ ۝ (ع ٧) نفی د شرک فی العبادة .
(١٨) ، (١٩) مَا كَانَ لِبَشَرٍ اَنْ يُّؤْتِيَهُ اللّٰهُ الْكِتٰبَ وَالْحُكْمَ وَالنُّبُوَّةَ ثُمَّ يَقُوْلَ لِلنَّاسِ
كُوْنُوْا عِبَادًا لِّيْ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلٰكِنْ كُوْنُوْا رَبّٰنِيّٖنَ بِمَا كُنْتُمْ تُعَلِّمُوْنَ الْكِتٰبَ وَ
بِمَا كُنْتُمْ تَدْرُسُوْنَ ۝ وَلَا يَاْمُرَكُمْ اَنْ تَتَّخِذُوا الْمَلٰٓئِكَةَ وَالنَّبِيّٖنَ اَرْبَابًا ؕ اَيَاْمُرُكُمْ
بِالْكُفْرِ بَعْدَ اِذْ اَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ ۝ (ع ٨) هيڅ يو پيغمبر غير الله ته داوازکولو تعليم نه دے
ورکړے ځکه چه دا څيز د نبوت بالکل منافی دے .
(٢٠) وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ وَاِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ الْاُمُوْرُ ۝ (ع ١١) نفی د شرک فی التصرف
(٢١) وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ اللّٰهُ بِبَدْرٍ وَّاَنْتُمْ اَذِلَّةٌ ۚ فَاتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ۝
(ع ١٣) نفی د شرک فی التصرف .
(٢٢) نه تر (٢٥) پورے . وَمَا جَعَلَهُ اللّٰهُ اِلَّا بُشْرٰى لَكُمْ وَلِتَطْمَئِنَّ قُلُوْبُكُمْ بِهٖ ؕ وَمَا النَّصْرُ
اِلَّا مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ ۝ لِيَقْطَعَ طَرَفًا مِّنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَوْ يَكْبِتَهُمْ فَيَنْقَلِبُوْا
خَآئِبِيْنَ ۝ لَيْسَ لَكَ مِنَ الْاَمْرِ شَيْءٌ اَوْ يَتُوْبَ عَلَيْهِمْ اَوْ يُعَذِّبَهُمْ فَاِنَّهُمْ ظٰلِمُوْنَ ۝
وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ يَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ
رَّحِيْمٌ ۝ (ع ١٣) نفی د شرک فی التصرف .
(٢٦) نه تر (٢٨) پورے . وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝ اِنَّ
فِيْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَاخْتِلَافِ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَاٰيٰتٍ لِّاُولِي الْاَلْبَابِ ۝ الَّذِيْنَ
يَذْكُرُوْنَ اللّٰهَ قِيٰمًا وَّقُعُوْدًا وَّعَلٰى جُنُوْبِهِمْ وَيَتَفَكَّرُوْنَ فِيْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ
رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هٰذَا بَاطِلًا ۚ سُبْحٰنَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ۝ (ع ١٩ و ٢٠) نفی د شرک فی
التصرف .

(د الله په مدد سره د سورة آل عمران تفسير ختم شو ١٦ شوال ١٣٨٢ھ د چهار شنبے ورځ
د ورځے يولس بجے)

سُوْرَةُ النِّسَآءِ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ مِائَةٌ وَّسَبْعٌ وَّسَبْعُوْنَ اٰيَةً وَّاَرْبَعٌ وَّعِشْرُوْنَ رُكُوْعًا

سورة نساء، مدینه کښې نازل شوې او دېکښې یو سل اووه اویا آیتونه او څلیریشت رکوعات دي.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ⓪

شروع کوم زه په نوم د الله سره چه بیحده مهربانه ډیر زیات رحم کونکې دے

يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوْا رَبَّكُمُ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ مِّنْ

اے خلقو! ډیر ویریږئ د خپل رب نه چا چه پیدا کړئ تاسو له یو د

نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ وَّخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا

نفس نه او هم د هغه نه یې پیدا کړو د هغه جوړه او خوارهٔ یې کړل د دے

رِجَالًا كَثِيْرًا وَّنِسَآءً ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِيْ تَسَآءَلُوْنَ

دواړو نه ډیر سړي او ښځے او ډیر ویریږئ د الله نه د چا په واسطه چه سوال کوئ په

بِهٖ وَالْاَرْحَامَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيْبًا ①

خپلو کښې او خبردار اوسئ د رشته دارانو نه. بیشکه الله په تاسو باندے نګهبان دے ف۱

موضح قرآن ف۱ یعنی د ادم علیه السلام نه یې حوا پیدا کړه بیا یې د هغې نه ټول خلق. او خبردار! په ښځو کې مه کوئ په خپلو کښې.

د سُوْرَةُ النِّسَآءِ

ربط دسورة نساء د سورة اٰل عمران سره دوه قسمه ربط دے یو اسمي دویم معنوي اسمي ربط:- څنګه چه وړاندے تیر شویدي چه د فاتحے نه مابعد پورے د سورتونو اسمي ربط دا شان دے اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ وَلَا نَعْبُدُ وَلَا نَسْتَعِيْنُ الْبَقَرَةَ كَمَا فَعَلَتِ الْيَهُوْدُ وَالْمُشْرِكُوْنَ وَلَآ اٰلِ عِمْرَانَ كَمَا فَعَلَتِ النَّصٰرٰى وَنُؤَدِّيْ حُقُوْقَ النِّسَآءِ اَللّٰهُمَّ فَاَنْزِلْ عَلَيْنَا مَآئِدَةً لِّاِنْعَامِكَ وَرَحْمَتِكَ (اے الله! مونږ صرف ستا عبادت کوو او صرف ستانه مدد غواړو مونږ نه د غوا عبادت کوو نه به ورته آواز کوو څنګه چه یهودیانو او مشرکانو اوکړل او مونږ به نه آل عمران رابلو څنګه چه عیسایانو اوکړل او مونږ به د ښځو حقونه ادا کوو اے الله! په مونږ باندے د خپل رحمت او برکت دسترخوان نازل کړے)

معنوي ربط:- په سورة بقره کښې څلور بنیادي مضمونونه (توحید، رسالت، جهاد او انفاق) بیان کړے شوي وو. او د دے سره سره امورِ انتظامیه او اُمور مصلحه هم مذکور وو.

په بقره کښې د توحید بیان او د شرک رد په هر اړخ سره دی. نفي د شرک فعلي، نفي د شرک اعتقادي او نفي د شفاعت قهري. په سورة آل عمران کښې د توحید او رسالت متعلق د شبهاتو ازاله وکړے شوه او د شرک اعتقادي نفي کړے شوېده او د جهاد او انفاق في سبيل الله ترغيب ورکړے شو او س د مسلمانانو انفرادي او اجتماعي طور بندے د منظم کولو د پاره په سورة نساء کښې په تفصيل سره امور انتظاميه بيان کړے شوېدي او ورسره بو امر مصلح يعني د مونځ ذکر کړے شوېدے ځکه چه مونځ په انتظامي امورو باندے عمل کولو کښې مدد ګار دے. ګويا چه د سورة بقره د مضمونونو نه يو مضمون يعني انتظامي امور په سورة نساء کښې په پوره تفصيل سره بيان کړے شوېدي.

خلاصه:- په سورة نساء کښې چه کوم انتظامي امور ذکر شوېدي هغه چونکه په دوه قسمه دي ځنې امور داسے دي چه د هغے تعلق د عامو خلقو سره دے او ځنې امور حکامو سره متعلق دي. په دے اعتبار سره دا سورت په دوه حصو تقسيم شوېدے. اوله حصه د شروع نه تر وَنُدْخِلُهُمْ ظِلًّا ظَلِيلًا (ع ۸) پورے ده. او دويمه حصه إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَىٰ أَهْلِهَا نه تر وَكَانَ اللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ مُحِيطًا (ع ۱۸) پورے ده. اوله حصه کښې احکام رعيت او په دويمه حصه کښې د احکام سلطانيه بيان دے او هرے حصے نه پس اصلي د توحيد مسئله بيان کړے شوېده. د اولے حصے نه پس د اجمال سره او د دويمے حصے نه پس په تفصيل سره. د رعيت د احکامو مقصد دا دے چه په خپلو کښې ديو بل حق مه ضائع کوئ او په يو بل ظلم مه کوئ. او د احکام سلطانيه حاصل دا دے چه تورو ته د حق تلفئ او ظلم اجازت مه ورکوئ. د سورة په شروع کښې تخويف اخروي دے يعني کوم احکام چه وړاندے راځي هغه په ځائ راؤړئ ګني نو په اخرت کښې به عذاب درکولے شي. ديته پس د عذاب نه د بچکيدو د پاره درے امور بيان شوېدي يعني ظلم مه کوئ، شرک مه کوئ او احسان کوئ د احکام رعيت خلاصه دا ده چه ظلم مه کوئ او دے نه پس باقي نور دوه امور هم ذکر شوېدي.

احکام رعيت:- ديته پس بے نولس احکام رعيت بيان کړل (۱) وَآتُوا الْيَتَامَىٰ أَمْوَالَهُمْ نه تر حُوبًا كَبِيرًا (ع ۱) د يتيمانو مال مه خورئ هغه تاسو د پاره خبيث دے. (۲) وَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تُقْسِطُوا نه تر ذَٰلِكَ أَدْنَىٰ أَلَّا تَعُولُوا پورے. که چرے د يتيمانو جينکو سره نکاح اوکړئ نو هغوی مهر او د هغوی نور حقونه ادا کړئ (۳) وَآتُوا النِّسَاءَ صَدُقَاتِهِنَّ نِحْلَةً نه تر هَنِيئًا مَرِيئًا. د يتيمانو جينکو نه علاوه د نورو ښځو مهرونه هم ادا کړئ. (۴) وَلَا تُؤْتُوا السُّفَهَاءَ أَمْوَالَكُمْ نه تر وَكَفَىٰ بِاللَّهِ حَسِيبًا د يتيمان بچي چه کله د ښه بد تميز کولو عمر ته اونه رسي تر هغے پورے هغوی ته د هغوی مالونه مه حواله کوئ او چه کله يے ورته حواله کوئ نو په هغوی باندے ګواهان جوړ کړئ دے د پاره چه معلومه شي چه تاسو د هغوی مال خوړلے نه دے. (۵) لِلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ نه تر وَسَيَصْلَوْنَ سَعِيرًا پورے. د مړي په ميراث کښې د ټولو وارثانو حق دے. او د هغوی حصے مقرر کړے شوېدي د يو وارث حق مه ضائع کوئ خواه يتيم دي يا غير يتيم. (۶) يُوصِيكُمُ اللَّهُ فِي أَوْلَادِكُمْ (ع ۲) نه تر وَلَهُ عَذَابٌ مُهِينٌ پورے. د وارثانو مقرر حصے دا

دي دوی سره مطابق ميراث تقسيم کړي. (۷) وَالّٰتِي يَأۡتِينَ الۡفَاحِشَةَ (ع ۲) نه تر اَعۡرِضُوا عَنۡهُمَا
تَوَّابًا رَّحِيۡمًا پورې. سړو او ښځو ته دوراثت نه بيشکه حصه ورکړی. که چرې دوی نه څول بد
فعل اوکړي نو هغوی ته د شرعي قانون مطابق سزا ورکړئ. (۸) يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا لَا يَحِلُّ لَكُمۡ
نه تر وَّاَخَذۡنَ مِنۡكُمۡ مِّيۡثَاقًا غَلِيۡظًا پورې. وارثانو ته په وراثت کښې مال ملاويږي. ښځې نه
ملاويږي يعنی که چرې په خوښه او رضا نکاح کوی نو اوکړی. (۹) وَلَا تَنۡكِحُوۡا مَا نَكَحَ اٰبَآؤُكُمۡ
(ع ۳) نه تر كِتٰبَ اللّٰهِ عَلَيۡكُمۡ (ع ۴) ښځې نکاح سره ملاويږي ليکن د دې ښځو سره نکاح جائز نده
اګرچه هغوی په خوښه نکاح کوی. (۱۰) وَاُحِلَّ لَكُمۡ مَّا وَرَآءَ ذٰلِكُمۡ نه تر خُلِقَ الۡاِنۡسَانُ ضَعِيۡفًا
(ع ۵) پورې. د کومو ښځو سره چه نکاح جائز ده د نکاح په صورت کښې د هغوی مهر ادا کول
ضروري دي خواه ازادې وی يا وينځې. د وينځو سره د نکاح اجازت د دې د پاره ورکړې
شو چه تاسو د ظلم (زنا) نه بچ شئ. (۱۱) يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا لَا تَاۡكُلُوۡۤا اَمۡوَالَكُمۡ نه تر وَنُدۡخِلۡكُمۡ
مُّدۡخَلًا كَرِيۡمًا پورې. (يتيم مال، دوراثت او مهر نه علاوه هم د هيڅ قسمه مال حرام مه خورئ.
(۱۲) وَلَا تَتَمَنَّوۡا مَا فَضَّلَ اللّٰهُ بِهٖ نه تر اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلٰى كُلِّ شَيۡءٍ شَهِيۡدًا ادپورې. دوارثانو
چه کوم حصې کمې بيشي مقرر شويدي په هغې کښې د چا سره حسد مه کوئ هر يو ته د هغهٔ حصه
پوره ورکړئ او په هغې کښې کمې کولو سره ظلم مه کوئ او د چا حصه چه زيات ده د هغې خواهش مه
کوئ. (۱۳) اَلرِّجَالُ قَوّٰمُوۡنَ عَلَى النِّسَآءِ (ع ۶) نه تر اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيًّا كَبِيۡرًا ۰ پورې. اګرچه
د ښځو په وراثت کښې حصه شته دے ليکن سړو ته په ښځو باندې بالادستي حاصله ده. په
هغوی باندې د خاوندانو فرمانبرداري لازم ده د دوو وجهونه. اول الله سړو ته په ښځو
باندې فضيلت ورکړيدے. دويم سړي په ښځو باندې مال خرچ کوی. که چرې په ښځه کښې
د خوف وی نو هغې ته نصيحت اوکړئ. او د ضرورت په اندازه هغه وهلے هم شئ. ليکن په هغې باندې
ظلم مه کوئ. (۱۴) وَاِنۡ خِفۡتُمۡ شِقَاقَ بَيۡنِهِمَا نه تر اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيۡمًا خَبِيۡرًا ۰ پورې. که چرې
د خاوند او ښځې په مينځ کښې اختلاف واقع شی نو د هغوی په مينځ کښې د صلح کولو کوشش پکار دے.
ترد دې خاتمې پورې د رعيت نه خوا لس احکام ختم شول. د دې په خاتمه باندې په وَاعۡبُدُوا
اللّٰهَ وَلَا تُشۡرِكُوۡا بِهٖ شَيۡـًٔا الخ سره دوه څيزونه بيان کړے شو. اول صرف الله ته اوا زکوئ هغهٔ
سره په بلو کښې هيڅوک مه شريکوئ. دويم مور پلار او رشته دارو او نورو حقدارانو باندې
احسان کوئ. دا احکام رعيت نه روستو په اصل د توحيد دعوی اجمالاً ذکر اوکړو. د دې نه پس
الَّذِيۡنَ يَبۡخَلُوۡنَ (ع ۷) نه تر اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَزِيۡزًا حَكِيۡمًا (ع ۸) پورې. مشرکانو او اهل کتابو
د پاره متعدد زجرونه او تخويفونه دی. او د زجرونو نه روستو بيا د توحيد د مسئلې د اهميت
په وجه بيا اوفرمائيل. اِنَّ اللّٰهَ لَا يَغۡفِرُ اَنۡ يُّشۡرَكَ بِهٖ يعنی دا ټول احکام اومنئ ليکن
شرک چير بد څيز دے د دې نه ځان بچ کړئ. او په اخر کښې وَالَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ
د مومنانو د پاره اخروی بشارت دے. د دې دوران کښې يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا لَا تَقۡرَبُوا الصَّلٰوةَ
وَاَنۡتُمۡ سُكٰرٰى (ع ۷) سره امر مصلح يعنی د مونځ او طهارت ذکر کړے شويدے. ځکه چه د
بدن طهارت سره انسان د مونځ قابل ګرځيدلے شی او د مونځ د ظلم نه د بچ کيدو او احسان

کولو او توحید باندے قائم پاتے کیدو کښې مدد گار دے ځکه چه په ماځه کښې سراسر توحید تعلیم دے او په ماځه سره مختلفو زړونو کښې الفت او محبت پیدا کیږي ځکه چه ارشادِ نبوي دے سووا صفوفکم او لیؤلفن الله بین قلوبکم (مشکوٰة شریف) یعني په ماځه کښې صفونه برابر کړئ کنې الله تعالیٰ به ستاسو په زړونو کښې په خپلو کښې دُشمني پیدا کړي.

احکامِ سلطانیه (بادشاهي حکمونه) اوس وړاندے ځنے شاهي حکمونه بیانولے شي. کوم چه حاکمانو او د اقتدار خاوندانو سره متعلق دي. چه د هغے حاصل دا دے چه د وخت د حاکمانو دپاره پکار دي چه هغوي د الله دا احکام قائم کړي او په کمزورو او ضعیفانو باندے څوک ظلم کولو ته پرے نږدي او د هغوي حقونه اوورکولے شي. د احکامِ سلطانیه په مینځ کښې ځاے په ځاے مشرکانو، منافقانو او اهلِ کتابو دپاره زجرونه، تخویفونه او شکوے هم ذکر شوے دي. شاهي احکام لاندے لیکلے شوے دي. (۱) اِنَّ اللّٰهَ يَاْمُرُكُمْ اَنْ تُؤَدُّوا الْاَمٰنٰتِ اِلٰٓى اَهْلِهَا (ع ۸)

نه تر ذٰلِكَ خَيْرٌ وَّ اَحْسَنُ تَاْوِيْلًا (حقدارانو ته د هغوي حقونه ورکړئ. او فیصلے په انصاف سره کوئ. دینه پس اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ يَزْعُمُوْنَ (ع ۹) نه تر وَلَهَدَيْنٰهُمْ صِرَاطًا مُّسْتَقِيْمًا پورے، منافقانو دپاره زجر دے. او وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَالرَّسُوْلَ نه تر وَكَفٰى بِاللّٰهِ عَلِيْمًا پورے مؤمنانو دپاره اُخروي بشارت دے. (۲) يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا خُذُوْا حِذْرَكُمْ (ع ۱۰) نه تر فَسَوْفَ نُؤْتِيْهِ اَجْرًا عَظِيْمًا پورے. دا دے حکمرانانو ته حکم لاندے وسله واچوئ او د خپل او د الله په لاره کښې د مشرکانو سره جهاد اوکړئ. (۳) وَمَا لَكُمْ لَا تُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ نه تر اِنَّ كَيْدَ الشَّيْطٰنِ كَانَ ضَعِيْفًا. کمزوري او ضعیف مُسلمانان کوم چه په مکه کښې په تکلیف کښې دي د ظالمانو مشرکانو د پنجے نه خلاص کړئ. او دے نه پس اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ قِيْلَ لَهُمْ كُفُّوْٓا اَيْدِيَكُمْ الخ (ع ۱۱) سره د منافقانو دپاره زجر. وَيَقُوْلُوْنَ طَاعَةٌ فَاِذَا بَرَزُوْا مِنْ عِنْدِكَ الخ سره د منافقانو دپاره شکوه ده. فَقَاتِلْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ الخ سره ترغیب الی الجهاد دے. وَمَنْ يَّشْفَعْ شَفَاعَةً الخ حَرِّضِ الْمُؤْمِنِيْنَ سره متعلق دے یعني خلقو ته د جهاد ترغیب ورکولو به الله تاسو ته اجر درکوي. اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ سره د جهاد د غرض او غایة بیان دے. او په اٰخر کښې لَيَجْمَعَنَّكُمْ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ الخ سره تخویفِ اُخروي دے.

(۴) فَمَا لَكُمْ فِى الْمُنٰفِقِيْنَ فِئَتَيْنِ (ع ۱۲) نه تر جَعَلْنَا لَكُمْ عَلَيْهِمْ سُلْطٰنًا مُّبِيْنًا پورے په لاره کښې د مدینے منورے نه هر چه کوم منافقان تاسو سره ملاویږي هغه هم تمام کړئ. لیکن د معاهد او غیر جانبدار کافرانو د قتل نه منع شئ. (۵) وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ اَنْ يَّقْتُلَ مُؤْمِنًا (ع ۱۳) نه تر وَاَعَدَّ لَهٗ عَذَابًا عَظِيْمًا پورے. که چرے په لاره کښې د یو مُسلمان د لاسه په غلطۍ سره څوک مُسلمان قتل شي نو د هغه متعلق احکام دا دي. (۶) يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا ضَرَبْتُمْ نه تر اِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرًا پورے. که چرے څوک سرے په لاره کښې تاسو ته اوواي - چه زه مؤمن یم نو د مال په لالچ کښې هغه مه قتلوئ. د دے نه روستو لَا يَسْتَوِي الْقٰعِدُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ نه تر وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا پورے ترغیب الی الجهاد او مجاهدینو دپاره بشارتِ اُخروي دے. (۷) اِنَّ الَّذِيْنَ تَوَفّٰىهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ

(ع ۱۴) نه تر وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا۔ پورے. اے د مکے محصور (بند کړے شوؤ) مسلمانانو! ستاسو
د مدد د پاره خو د مجاهدینو جماعت درلیږم لیکن تاسو د مکے نه د هجرت کولو کوشش ولے
نه کوئ. (۸) وَاِذَا ضَرَبْتُمْ فِی الْاَرْضِ (ع ۱۵) نه تر وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا۔ پورے جهاد له
چه ځئ نو په مانځه کښې قصر کوئ او د جنګ په میدان کښې چه د مانځه وخت راشي او د
دشمن د حملے ویره هم وي نو مونځ په دے طریقه کوئ۔ (۹) اِنَّآ اَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ
(ع ۱۶) نه تر وَكَانَ فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكَ عَظِيْمًا۔ (ع ۱۷) پورے. الله تعالیٰ نبي علیه السلام ته د وحي
په ذریعه د احکامو تعلیم ورکړیدے چه کله تاسو د جهاد په سفر باندے اوځئ نو په حسن ظن
(ښه ګمان) سره فیصلے مه کوئ بلکه د شرعي قواعدو مطابق یې کوئ دے د پاره چه تاسو دهوکه
اونه خورئ۔ څنګه چه د طعمه په قصه کښې تاسو ته دهوکه ورکړے شوه۔ دے نه پس لَا خَيْرَ
فِیْ كَثِيْرٍ مِّنْ نَّجْوٰهُمْ نه تر وَسَآءَتْ مَصِيْرًا۔ پورے د نهم حکم سلطاني سره متعلق دے تر دے
ځائے پورے نهه احکامِ سلطانیه ختم شول.

د احکامِ سلطانیه نه پس د اصلي دعوے یعني د توحید د مسئلے ذکر د اول په نسبت څه
قدرے تفصیل سره اوکړے شو۔ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَغْفِرُ اَنْ يُّشْرَكَ بِهٖ (ع ۱۸) سره مشرکینو
د پاره تخویفِ اخروي دے۔ اِنْ يَّدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖٓ اِلَّآ اِنٰثًا نه تر وَمَا يَعِدُهُمُ الشَّيْطٰنُ
اِلَّا غُرُوْرًا۔ پورے د شرکِ اعتقادي او شرکِ فعلي د دواړو نفي ده۔ بیا په اُولٰٓئِكَ مَاْوٰىهُمْ
سره تخویفِ اخروي دے۔ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ سره بشارتِ اخروي. لَيْسَ
بِاَمَانِيِّكُمْ وَلَآ اَمَانِيِّ اَهْلِ الْكِتٰبِ سره زجر او وَمَنْ يَّعْمَلْ مِنَ الصّٰلِحٰتِ مِنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى
سره بشارت اخروي دے۔ د احکامِ رعیت او احکامِ سلطانیه په ختمیدو پورے دوه احکام
رعیت یعني دویم او خوارلسم۔ او یو حکم سلطاني یعني نهم باندے د دوي سره متعلق د ځینو
شبهاتو لرے کولو د پاره زیاته رڼا اچولے شویده۔ وَيَسْتَفْتُوْنَكَ فِی النِّسَآءِ (ع ۱۹) نه د
فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِهٖ عَلِيْمًا۔ پورے په دویم حکم رعیت باندے تنویر (رڼا اچول) دي۔ یعني مقصد
دا نه دے چه یتیمانو جینکو سره نکاح ناجائز ده۔ بلکه مقصد دا دے چه یتیمانو او ضعیفانو
سره اوکړئ۔ وَاِنِ امْرَاَةٌ خَافَتْ مِنْۢ بَعْلِهَا نُشُوْزًا نه تر وَكَانَ اللّٰهُ وَاسِعًا حَكِيْمًا۔ پورے
خوارلسم حکم رعیت باندے رڼا اچول دي. د خاوند او ښځے په مینځ کښې اختلاف او جهګړو
ختمولو سره په هر حال کښې د اصلاح کوشش کول پکار دي۔ اګرچه د فریقینو نه یو کس ته
د خپل حق نه دلاس اخستلو ضرورت پیښ شي۔ که چرے خاوند د دوه ښځے په موجودګئ
کښې دویمه نکاح اوکړي نو د دواړو ښځو حقونه په هم هغسے ادا کوي او هغه په کالمعلقه نه
کرځوي۔ وَلِلّٰهِ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ نه تر وَكَانَ اللّٰهُ سَمِيْعًاۢ بَصِيْرًا۔ پورے تخویف
دے۔ ټول هر څه د الله په قبضه او تصرف کښې دي، د هغه نه او ویریږئ۔ دے نه پس
يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُوْنُوْا قَوّٰمِيْنَ بِالْقِسْطِ (ع ۲۰) نه تر فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ
خَبِيْرًا۔ پورے په نهم حکم سلطاني باندے رڼا اچول دي۔ د انصاف لمن په هیڅ حال کښې
مه پریږدئ۔ د مور پلار، د نورو خپلوانو رشته داري یا د یو غریب کس د غریبئ د وجے نه

د ښتيني ګواهئ کښې لحاظ مه کوئ. او د هغوی په وجه سره ګواهئ کښې کمے زياتے مه کوئ.
يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ (ع ۲۰) نه تر وَاَعْتَدْنَا لِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابًا مُّهِيْنًا.
(۲۶) پورے منافقانو او يهوديانو د پاره زجر او تخويف دے يعنی کوم کتاب چه دفعةً (نزول يې
يو ځل) نازل شويدے مثلاً تورات. هغه هم اومنئ او کوم چه په مزه مزه (لږلږ) نازل شويدے
يعنی قرآن. دا هم اومنئ د واړه د الله وحی ده. او وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ سره مئونکو
د پاره زيرے دے د دينه پس يَسْـَٔلُكَ اَهْلُ الْكِتٰبِ (۲۶) سره د يهوديانو د يو سوال ذکر دے
چه قرآن د نورو کتابونو په شان په يو وخت ټول وے نازل نه شو. وړاندے د يهوديانو د پاره
د زجرونو سلسله شروع شويده چه د ۲۲ رکوع تر اخره پورے چليدلے ده. په مينځ کښې لٰكِنِ
الرّٰسِخُوْنَ فِي الْعِلْمِ مِنْهُمْ الخ سره يې اوفرمائيل چه په يهوديانو کښې کوم راسخ في العلم (پوخ علم
والا) دی نو هغوی خو منلے دے اوس اِنَّاۤ اَوْحَيْنَاۤ اِلَيْكَ كَمَاۤ اَوْحَيْنَاۤ اِلٰى نُوْحٍ (۲۶) نه
وَكَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا پورے د يهوديانو د سوال جواب دے چه په باقی انبياؤ عليهم السلام باندے
هم ټوله وحی په يو ځل نه ده نازل شوے بلکه ټولو باندے وحی په مزه مزه راغلے ده اګرچه
په ځنے پيغمبرانو (مثلاً موسیٰ عليه السلام) باندے کتابونه په يو ځل نازل شو. ليکن باقی وحی
په هغوی هم په جدا جدا طور باندے راتله. بيا د اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ
نه تر وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا پورے د يهوديانو د پاره تخويفِ اُخروی دے. د يٰۤاَهْلَ
الْكِتٰبِ لَا تَغْلُوْا فِيْ دِيْنِكُمْ نه تر وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيْلًا پورے د يَسْـَٔلُكَ اَهْلُ الْكِتٰبِ سره
متعلق دے. يهوديانو به نبی عليه السلام باندے طعن لګولو چه هغه نبی نه دے که چرے
نبی وے نو د تورات په شان به په هغه باندے ټول قرآن په يو ځل نازل شوے وے او
عيسیٰ عليه السلام ته به يې هم بد ويئيل چه هغه عياذاً بالله د زنا کارے ځوئ دے. په دے وجه
يې اوفرمائيل چه نه په حضرت محمد صلی الله عليه وسلم باندے بد وايئ نه حضرت عيسیٰ عليه السلام باندے
اګرچه هغه اِله او معبود نه دے ليکن هغه ته بد هم مه وايئ بيا د لَنْ يَّسْتَنْكِفَ الْمَسِيْحُ
اَنْ يَّكُوْنَ عَبْدًا لِّلّٰهِ (ع ۲۴) نه تر وَلَا يَجِدُوْنَ لَهُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا پورے د وَلَا
تَقُوْلُوْا ثَلٰثَةٌ پورے متعلق دے يعنی عيسیٰ عليه السلام معبود هم مه جوړوئ او هغه ته بد هم
مه وايئ. ګورئ حضرت عيسیٰ عليه السلام او فرښتے د الله عابد او بندګی کيدو نه نفرت نه کوی
بلکه ټول د الله عبادت کوی او هغه ته ايلی بيا هغوی ولے معبودان جوړوئ او هغوی ته بدئ.
وړاندے يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَآءَكُمْ بُرْهَانٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ نه تر وَيَهْدِيْهِمْ اِلَيْهِ صِرَاطًا
مُّسْتَقِيْمًا پورے نبی عليه السلام او په قرآن باندے د ايمان راوړلو ترغيب دے او ايمان
راوړونکو د پاره بشارتِ اُخروی دے. بيا يَسْتَفْتُوْنَكَ قُلِ اللّٰهُ يُفْتِيْكُمْ فِي الْكَلٰلَةِ الخ د سورت
اخری آيت په احکامِ رعيت کښې په حکم وراثت باندے رنړا اچول دی. اول د کلاله اخيافی
(مور يو خويند ورو) کوم رونړه خويندے چه د پلار نه وی) حصه بيان کړے شوے وه دلته د کلاله
عينی اچه مور پلار يې يو وی) خويندو حصه بيان شويده. کلاله هغه ته وائی چه د هغه اصول
او فروع کښې څوک هم نه وی. ليکن دلته د هم شرط دے چه د هغه لور هم نه وی. شک دے چه

وَلَهٗ أُخْتٌ په دے باندے قرینه ده. یعنی د هغه نه مور پلار وی نه ځوئ او لور. واشان د وراثت په مسئله سره یے سورت ختم کړو دے طرفته یے اشاره وکړه چه د سورت مقصد احکام بیان دے.

تنبیه:- په سورة آل عمران کښې د شرک اعتقادی د یو قسم نفی کړے شوے وه یعنی د الله نه سوا څوک د عبادت او او از کولو لائق اعتقاد نه کړے شی. په سورة نساء کښې د شرک اعتقادی دویم قسم رد کړے شوے دے یعنی د غیر الله د احکامو متعلق د واجب الاتباع کیدو اعتقاد اونه ساتلے شی. ځکه چه د الله نه سوا دبل چا احکام واجب الاتباع نه دی. حضرت شیخ فرمائی. ان الله بین فی سورة النساء احکاما ثم قال اعبدوا الله ولا تشرکوا به شیئا فعلم ان کون العبد بحیث یعتقد ان علی اتباع امور غیره امر به الشارع شرک. یعنی الله پاک په سورة نساء کښې د احکامو بیانولو نه پس اوفرمائیل چه الله عبادت کوئ او د هغه سره شریک مه کوئ. نو د دے نه معلومه شوه چه که چرے سړے دا اعتقاد اوساتی چه د کومو امورو حکم شارع ورکړے دے د هغے نه علاوه هم د بل احکامو اتباع په هغه واجب ده نو دا شرک دے هم داوجه ده چه په دے احکامو په تعمیل نه کولو باندے یے همیشه د جهنم وعید اورولے دے. ځکه چه د شپږم د رعیت د حکم نه روستو یُدْخِلْهُ نَارًا خَالِدًا فِيهَا (۱۴) سره او د نهم سلطانی حکم نه روستو یے فَجَزَآؤُهٗ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيهَا (۹۳) سره د خلود فی النار وعید ذکر دے قرآن کښې همیشه د طاعت او عصیان کامل درجه بیانولے شی. په دے وجه د مؤمن د ذکر نه روستو د جزاء کامل یعنی جنات نعیم ذکر راځی. او د الله د احکامو په خلاف نه اونږلو خلود فی النار بیانولے شی یعنی چه څوک د الله احکام اونه منی په هغے ایمان رانه وړی او د هغے خلاف حلال اوګنړی نو هغه به خالد فی النار وی ځکه چه دا د کفر مرتبه ده.

د پورتنی تفصیل نه معلومه شوه چه د مضامینو په اعتبار د دے سورت درے حصے دی اوله حصه احکام رعیت دویمه حصه احکام سلطانیه، دریمه حصه خاتمه. چه په هغے کښې د د اولنو د دواړو حصو د بعضو احکامو وضاحت دے.

اوّله حِصّه

په اوله حصه کښې د رعایا او عامو خلقو د باره څوارلس احکام بیان کړے شویدی چه د هغے تعلق اندرونی نظم وضبط، د معاشرے اصلاح، په خپلو کښې معاملاتو کښې عدل او انصاف د یو بل د حقوقو حفاظت او په یو بل باندے د فضل او احسان معامله کولو سره دے اوله حصه د سورت د شروع نه واخله تر وَنُدْخِلُهُمْ ظِلًّا ظَلِيلًا (۵۷) پورے ده.

• سُـله دا تخویف اخروی دے او د دے حاصل دا دے چه الله تعالی ستاسو خالق او محسن او مربی دے. د هغه نه اوویریږئ. او کوم احکام چه اوس د دے کښې بیانیږی د هغے تعمیل اوکړئ ستاسو هر حرکت د خدائ په نظر کښې دے هغه ستاسو ظاهر او باطن پیژنی او څوک چه د هغه د احکامو نه مخالفت کوی هغه له به عذاب ورکړی. د تخویف اخروی نه روستو په تول

شروع کړي د عذاب نه د . بیا کیږي و د پاره سره درې اُمور بیان کړيدي (۱) ظلم مه کوئ نو د احکام رعیت خلاصه دا چه ظلم مه کوئ (۲) شرک مه کوئ (۳) احسان کوئ . د رعیت احکام په روستو دا دواړه اُمور ذکرشوي دي . د نفس واحدة نه مراد حضرت ادم علیه السلام دے چه د ټولو انسانانو پلار دے . فرعکم من اصل واحد وهو نفس ادم ابیکم (مدارک ج۱ ص۱۵۹) تَسَآءَلُوْنَ دا په اصل کښې تَتَسَآءَلُوْنَ دو تاء وو یو تاء تخفیف په طور حذف کړے شوے . د باب التفاعل خاصه اشتراک دے دے وجے نه د تَسَآءَلُوْنَ په مطلب داوي چه تاسو د الله په نوم باندے یو بل نه سوال کوئ . یسأل بعضکم بعضًا بالله (مدارک ج۱ ص۱۵۹) والتساؤل بالله هو کقولک اسئلک بالله واحلف علیک بالله واستشفع الیک بالله (خازن ج۱ ص۳۹۶) یا تسآءلون په معنی تسئلون مجرد دے او په باب کښې باء زائده ده او مطلب دا دے چه د کوم الله نه تاسو سوال کوئ او غواړئ د هغه نه اووېرېږئ . والارحام دا د رحم جمع ده او په لفظ الله باندے معطوف دے . او ددے نه مراد صلۀ رحمي قطع کول دي . یعني د الله نه اووېرېږئ او د قطع رحمئ نه بچ شئ . اتقوا الارحام ان تقطعوها (مدارک ، معالم ، خازن) دا اول حکم طرفته اشاره ده په اصل کښې دا ایت د ټول سورة تمهید دے په شروع کښې د تخویفِ اُخروي په ذریعه خبردارکړے شو چه د راتلونکو احکامو (احکام رعیت او احکام سلطانیه) تابعداري اوکړئ . ګنې د اٰخرت عذاب ته تیار شئ او د ایت په اٰخر کښې د احکام رعیت په مناسبت سره د قطع رحمئ نه منع اوکړه ځکه چه د احکام رعیت تعلق د تولو رشته دارو سره د حُسن سُلوک او ښه ژوند تېرولو سره دے . او بیا یې اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيْبًا ۝ اُوفرمائیل او خپل بندګان یې خبردار کړل چه د الله نه اوده کیږي و نه نظر ستاسو د هر حرکت نګراني کوي . ستاسو نیک او بد عملونه ټول د هغه په مخکښې دي . ستاسو اطاعت او نافرماني په هغه ښکاره ده ددے وجے نه تاسو ټول د هغه احکام په ځاي راوړئ او د عمل دیدلے نه مه غافله کیږئ .

وَاٰتُوا الْيَتٰمٰٓى اَمْوَالَهُمْ وَلَا تَتَبَدَّلُوا الْخَبِيْثَ بِالطَّيِّبِ

او ورکړئ یتیمانو ته د هغوي مالونه کله او مه بدلوئ خراب مال د ښه مال سره

وَلَا تَاْكُلُوْٓا اَمْوَالَهُمْ اِلٰٓى اَمْوَالِكُمْ ؕ اِنَّهٗ كَانَ حُوْبًا كَبِيْرًا ۝۲

او مه خورئ د هغوي مالونه د خپلو مالونو سره دا دے لوئ وبال دلے

وَاِنْ خِفْتُمْ اَلَّا تُقْسِطُوْا فِى الْيَتٰمٰى فَانْكِحُوْا مَا طَابَ

او که چیرے ویرېږئ چه انصاف به اونکړئ د یتیمانو جینکو په حق کښې کله نو نکاح اوکړئ چه خوښ دے

لَكُمْ مِّنَ النِّسَآءِ مَثْنٰى وَثُلٰثَ وَرُبٰعَ ۚ فَاِنْ خِفْتُمْ

تاسو ته ښځې ستاسو خوښه لني دوه دوه درے درے څلور څلور . که چیرے ویرېږئ

أَلَّا تَعْدِلُوا فَوَاحِدَةً أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ ذَٰلِكَ أَدْنَىٰ أَلَّا تَعُولُوا

چه دوی کښې به انصاف ونکړی نو یو نکاح اوکړئ خو یوه یا دهغه چه مالکان شوی دی لاسونه ستاسو، دا زیات نزدې دی ددې چه ظلم ونکړئ

نکات: ۱۔ دا دعبارت دظواهرو نه حکمونه اول حکم یعنی دیتیمانو مال مه خورئ. هغه ستاسو دپاره خبیث دے. ۲۔ دویم حکم دعبارت اوکه چرته دیتیمانو جینکو سره نکاح کوئ نو دهغوی مهر اونور حقونه ادا کړئ۔

موضح قرآن: ف یعنی دکوم هلک پلار چه مړ شی نو دهغه په مشرانو باندې حکم دے چه دهغه مال نه لاس وړنه وړی او بدل یی نکړی او حفاظت ورله اوساتی چه کله بالغ شی هغه وخت یی ورته حواله کړی.

فتح الرحمن: ع۱ مترجم وائی چه په جاهلیت کښې دیتیمانو جینکو نیکه دهغوی دترکې منو به هغوی په خپله نکاح کښې راوستلے او دهغوی حقونه به یی نه ورکول الله آیت نازل کړو.

درعبارت څخه ارشاد احکام: سے درعبارت رومبے حکم:۔ ۱ دیتیمانو مال مه خورئ هغه ستاسو دپاره خبیث دے دیتیم مال دپاره ګټی یے درسے خیزونو نه منع اوفرمائیلی ۱۔ دیتیم غوره مال اخستل دهغې په بدله کښې خپل زوړ مال ورکول ځکه چه دجاهلیت په زمانه کښې به خلقو داسے کول وکانوا فی جاهلیة لعدم الدین لا یتحرجون عن اموال الیتمی فکانوا یأخذون الطیب والجید من اموال الیتمی ویبدلونه بالردی من اموالهم (قرطبی) دیتیم مال ته یے دحرمت په وجه خبیث اووئیل ځکه چه دیتیم دوی دپاره حرام دے۔ ۲۔ چه خپل مال ورسره نه وی نو دمال خوړل. لا تتعجلوا اکل الخبیث من اموالهم وتدعوا انتظار الرزق الحلال من عند الله (قرطبی) ۳۔ اوکه چرته خپل مال ځم ورسره وی نو دیتیم مال هغې سره یوځائی خوړل. دا درسے واړه طریقې ظالمانه دی په دې وجه یے دوینه منع اوکړه. په الی اموالکم کښې الی په معنی دمع دے. اودے سره دریم حکم طرفته اشاره ده یاد اموالکم نه وړاندے مضاف مقدر دے ای الی حصول اموالکم. داشان د په حکم ثانی طرفته اشاره دی. وَآتُوا الْيَتَامَىٰ أَمْوَالَهُمْ کښې خطاب دیتیم اولیاؤ ته دے دیتیم نو دهغوی دمال ورکولو نه. دلته دا مراد نه دے چه دهغوی مال هغوی ته حواله کړئ ځکه چه دا حکم مخکښې راغلی بلکه مطلب دا دے چه دیتیمانو مال محفوظ اوساتئ او په هیڅ کښې هیڅ قسمه خیانت مه کوئ. والمراد بایتاء اموالهم ترکها سالمة غیر متعرض لها بسوء فهو مجاز مستعمل فی لازم معناه (روح المعانی) سے درعبارت دویم حکم:۔ اوکه چرته یتیمانو جینکو سره نکاح کوئ نو دهغوی مهر ادا کړئ اونور حقونه هم، دجاهلیت په زمانه کښې به داسے هم کیدل چه به به سرپرستۍ کښې به یتیمه جینۍ مثلاً دهغه د تره لور به وه چه په میراث کښې به ورسره شریکه وه هغه سرپرست به داسوچ اوکړو چه که چرته دا دے جینۍ نکاح دبل چا سره اوکړی نو دمال به ونډه دلاس نه اوځی هغه به ورسره په خپله نکاح اوکړه لیکن مهر اونور حقونه به یے د هغې

اذا کول سے انصاف [illegible] الله [illegible] الصالحه [illegible]
او مسلمانانو ته یې تلقین او کړو چه [illegible] د هغوی [illegible]
د هغوی د حیثیت مطابق مهر [illegible] او د هغوی [illegible]
هغوی سره [illegible] چه د یتیمانو [illegible] نکاح [illegible] د هغوی [illegible]
او تکرسته شی نو هغوی له پکار دی [illegible] هغوی یتیمانو [illegible] نکاح [illegible]
سره او کوئے چه د دوی په نکاح کښې [illegible] یا درې یا څلور [illegible]
د ما طاب نه مراد [illegible] یعنی [illegible] سره چه نکاح [illegible] من النساء [illegible]
ښځې مراد دی کوم چه د یتیمانو نه علاوه دی. [illegible]
ای فاختاروا واحدة [illegible] د یو نه [illegible] یتیمانو [illegible]
چه د ډېرو ښځو سره انصاف کول نشی. [illegible] د انصاف [illegible] د هغوی
د حقونو اداکولو نه قاصر شی نو صرف په یوه ښځه د اکتفا او کړئ. او ما ملکت ایمانکم [illegible]
عطف په واحدة د [illegible] مطلب [illegible] یعنی [illegible] ښځې حقونو [illegible]
کولے نو صرف په خپله مملوکه وینځه باندې اکتفا او کړئ. [illegible]
فما ملکت ایمانکم [illegible] ذلک [illegible] ښځه یا په وینځه باندې اکتفا کول [illegible]
دی. الا تعولوا ای الا تجوروا [illegible] یعنی یوه ښځه یا خپله مملوکه وینځه باندې اکتفا
کول ستاسو د پاره عدل و انصاف ته زیات نزدې ده او د ظلم نه د بچ کیدو [illegible]
ذریعه ده.

وَاٰتُوا النِّسَآءَ صَدُقٰتِهِنَّ نِحْلَةً ؕ فَاِنْ طِبْنَ لَكُمْ عَنْ

او ورکړئ ښځو ته د هغوی مهرونه د هغوی په رضا سره نو بیا که څه حصه د هغه [illegible]

شَیْءٍ مِّنْهُ نَفْسًا فَكُلُوْهُ هَنِیْٓـًٔا مَّرِیْٓـًٔا ④ وَلَا تُؤْتُوا السُّفَهَآءَ

بخښلې دی تاسو ته په خپله خوښه سره نو هغه خورئ خوندور او هضمیدونکې او مه ورکوئ بے عقلو ته

اَمْوَالَكُمُ الَّتِیْ جَعَلَ اللّٰهُ لَكُمْ قِیٰمًا وَّارْزُقُوْهُمْ فِیْهَا وَاكْسُوْهُمْ

خپل هغه مالونه کوم چه ګرځولی دی الله ستاسو د پاره د ژوند تېرولو سبب شه او هغوی ته د دې نه خوراک

وَقُوْلُوْا لَهُمْ قَوْلًا مَّعْرُوْفًا ⑤ وَابْتَلُوا الْیَتٰمٰی حَتّٰۤی اِذَا

او جامے ورکوئ او ورته ووایئ خبره معقوله او د یتیمانو ازمیښت کوئ تر څو چه اورسی د نکاح

بَلَغُوا النِّكَاحَ ۚ فَاِنْ اٰنَسْتُمْ مِّنْهُمْ رُشْدًا فَادْفَعُوْۤا اِلَیْهِمْ

عمر ته بیا که تاسو په دوی کښې هوښیارتیا او موندله نو حواله کړئ هغوی ته [illegible] مالونه د

أَمْوَالَهُمْ ۚ وَلَا تَأْكُلُوهَا إِسْرَافًا وَبِدَارًا أَنْ يَكْبَرُوا ۚ

هغوی او مه خورئ د یتیمانو مال د ضرورت نه زیات او د حاجت نه مخکښې چه دوی لوئی نه شی

وَمَنْ كَانَ غَنِيًّا فَلْيَسْتَعْفِفْ ۖ وَمَنْ كَانَ فَقِيرًا

او چا ته چه حاجت نه وی نو د یتیم د مال نه دِ ځان بچ اوساتی ۞ او څوک چه محتاج وی نو

فَلْيَأْكُلْ بِالْمَعْرُوفِ ۚ فَإِذَا دَفَعْتُمْ إِلَيْهِمْ أَمْوَالَهُمْ

او دِ خوری د دستور موافق بیا چه حواله کړئ د هغوی مالونه

فَأَشْهِدُوا عَلَيْهِمْ ۚ وَكَفَىٰ بِاللَّهِ حَسِيبًا ﴿٦﴾

گواه کړئ په هغوی باندے او الله کافی دے حساب اخستونکے ۞

نکات: سے دریم حکم د یتیمانو جینکو نه علاوه چه د کوم ښځو سره هم نکاح اوکړئ هغوی ته هم مهر ورکړئ که چرے هغوی یے معاف نه کړی. سے د رعیت څلورم حکم. یتیم چه کله عاقل بالغ شی نو د گواهانو په موجودگئ کښې د هغوی مال هغوی ته حواله کړئ.

موضح قرآن ۞ یعنی که چرے پوهیږئ چه که مونږ د یتیمانو جینکو سره نکاح اوکړو نو د هغوی حق به ادا نکړے شو ځکه چه د هغوی د حق غوښتلو والا نشته نو نورے ښځے ډیرے دی خه کمے نشته. بوسرې د پاره دوه هم، درے هم شور هم روا دی د دینه زیات جمع کول جائز نه دی ځکه چه په دیکښې هم انصاف کول مشکل دی به زیاتو کښې به یے کله اوکړے شی. نو دومره هم هله کوئ چه پوهیږئ چه انصاف سره به اوسئ کنی نو یوه بس ده یا خپله وینزه کافی ده. د چا چه زیاتے ښځے وی نو واجب ده چه په خوراک لباس او په ورکړه راکړه کښې یے یوشان اوساتی او په شپه تیرولو کښې تمبر برابر اوساتی که چرے دا نه کوی نو د قیامت په ورځ به یے نیم بدن په زمکه راخکلے شی او روان به وی. او قیدا یے اولگولو چه د ښځے مهر پوره په خوشحالئ سره ورکړئ که چرے هغه په خوشحالئ خه پریږدی نو روا دے. ۞ یعنی که چرے هلک بے عقله وے نو د هغه مال د هغه په لاس کښې مه ورکوئ د هغے خرچه د هغے نه کوئ چه کله بالغ شی او عقل پکښې راشی نو هغه وخت ورته مال حواله کړئ. لیکن خبره معقول کوئ یعنی تسلی ورکوئ چه مال ستا دے زمونږ نه دے مونږ ستا خیرخواهی کوو. ۞ یعنی د یتیم مال په خپل خرچ کښې مه راوړئ. لیکن که چرے د هغے ساتونکے محتاج وی نو د خدمت موافق د ترے ردیئ واخلی. او چه کله پلار یے مړ شی نو د چرے په مخکښې د یتیم مال اولیکئ او امانتدارته یے حواله کړئ. چه کله یتیم بالغ شی نو د هغے موافق یے حواله کړئ کوم چه خرچ شو په هغے یے پوهه کړئ او دغه وخت یے گواهانو ته هم اوښایئ.

فتح الرحمٰن

ھلہ یعنی په سبب د عقل وړو بانډې مال بندول پکار دي او د دوی مالونه چې په حقیقت کښې ټول د مسلمانانو دهغه نه نفع اخستونکي دي بغیر د واسطې یا په واسطه سره د هغوی په لاس کښې ورکولو سره ضائع کول پکار نه دي. ھلہ یعنی د یتیم وصی که چرته مالدار وي نو د یتیم د مال نه د څه شیز نه اخلي.

تفسیر

لہ د رعیت دریم حکم:- (د یتیمانو جینکو نه علاوه د نورو ښځو مهرونه هم ادا کړئ) د اول حکم نه پې ترقي اوکړه او وې فرمائیل چې د یتیمانو جینکو نه علاوه چې د کومو ښځو سره نکاح اوکړئ نو هغوی ته هم مهرونه ورکول ضروري دي. لیکن که چرته په خوشحالئ سره ټول مهر یا د هغې څه حصه معاف کړي نو هغه ستاسو دپاره حلال دے هغه خورئ او په خپل استعمال کښې راولئ. صَدُقٰت د صَدُقَة جمع ده د صدقة معنی مهر ده. نِحْلَة معنی فریضة او دا د صَدُقٰت نه حال دے. نحلة ای فریضة قاله ابن عباس وابن زید وابن جریج وقتادة فانتصابها علی الحالیة من الصدقات ای اعطوهن مهورهن حال کونها فریضة من الله تعالٰی لهن (روح ج۴ ص۱۹۵) عَنْ شَيْءٍ په موقعه د حال واقع دے او د عافیات معنی لره متضمن دے. او نفسًا تمیز دے چې د طِبْنَ نسبت نه دا بهام رفع کوي او هَنِيْٓئًا صِحتمند او مَرِيْٓئًا هضم کیدونکي دواړه الفاظ د مبالغې په طور باندې وارد شوي دي مطلب دا دے چې که چرته ښځې په خپله رضا او خوشحالئ د مهر څه حصه یا پوره مهر معاف کړي نو هغه ستاسو دپاره حلال او طیب دے او ودے یې خورلو کښې به تاسو هیڅ قسمه ملامتیا نشته او نه ګناه شته. وهذا عبارة عن المبالغة فی الاباحة وازالة التبعة (مدارک ج۱ ص۱۶۱)

کہ د رعیت څلورم حکم:- (د بالغ کیدو نه وړاندې یتیمانو ته د هغوی مال مه ورکوئ او چې کله یې ورکوئ نو ګواه پرې اونیسئ) دا حکم د یتیمانو د مال هغوی ته د حواله کولو متعلق دے یعنی ترڅو چې یتیم کم عقل وي او نابالغه وي نو هغه وخت د هغوی مالونه هغوی ته مه ورکوئ لیکن د هغوی د خوراک او اغوستلو وغیره خرچه د هغې نه پوره کوئ. او یتیمانو ته اووایئ چې ستاسو مال مونږ سره محفوظ دے مونږ د هغې امانتګر او محافظ یو. چې کله تاسو بالغ شئ او خپل نفع نقصان اوپیژنئ نو ستاسو مال به تاسو ته حواله کړے شي او چې یتیمان د بلوغ عمر ته اورسي او تاسو هغوی ته د هغوی مالونه سپارئ نو په وصولئ باندې ګواهان جوړ کړئ دے دپاره چې په تاسو د خیانت شبه پاتې نه شي او هغوی ته اطمینان اوشي چې تاسو د هغوی مال نه دے ضائع کړے. اِسْرَافًا وَّ بِدَارًا دواړه مصادر دي په معنی د اسم فاعل. او لَاتَاْكُلُوْا د ضمیر نه حال دے. ای لاتأکلوها مسرفین ومبادرین (روح ج۴ ص۲۰۴، مدارک ج۱ ص۱۶۲) او اَنْ يَّكْبَرُوْا نه وړاندې مِنْ مقدر دے یعنی د یتیمانو مال په دے طریقه مه خورئ چې د اسراف نه کار واخلئ او د هغوی ټول مال د هضم کولو په غرض سره په جلتئ هغه ختم کړئ چې چرته داسې اونشي چې هغوی لوئ شي او بلوغت ته اورسي او په تاسو باندې د هغوی مال هغوی ته حواله کول لازم شي. د دے نه روستو یې د یتیم د مال نه په جائزه طریقه باندې د فائدې اخستلو اجازت ورکړو. وَمَنْ كَانَ غَنِيًّا فَلْيَسْتَعْفِفْ. یعنی که چرته د یتیم ولي مالدار وي

نو هغه د یتیم د مال نه پوره ځان اوساتی نه خو هغه نه قرض اخلی او نه د یکښی تجارت کوی ، و
مَنْ كَانَ فَقِيرًا فَلْيَأْكُلْ بِالْمَعْرُوفِ . او که چیرته فقیروی نو هغه ته اجازت دے چه په جائز
طریقه د ترسه نفع واخلی ، مثلاً د هغه نه قرض واخلی او د فراخئ (مال لری) په وخت د ادا
کړی یا د د هغه د مال د حفاظت او اصلاح کولو اجرت واخلی ، والمعروف القرض ای یستقرض
من الیتیم اذا احتاج الیه فاذا ایسر قضاه .... وقال قوم المعروف ان یاخذ من ماله بقدر قیامه
و اجرة عمله (خازن ج ۱ ص ۳۴۰)

لِلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالْأَقْرَبُونَ

د سړو د پاره حصه ده هغه کښی کوم چه پریږدی مړه مور او پلار او رشته داران ئے

وَلِلنِّسَاءِ نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالْأَقْرَبُونَ مِمَّا

او د ښځو هم حصه ده په هغه کښی کوم چه پریږدی مړه مور پلار او رشته داران لږ وی

قَلَّ مِنْهُ أَوْ كَثُرَ ۚ نَصِيبًا مَّفْرُوضًا ﴿٧﴾ وَإِذَا حَضَرَ الْقِسْمَةَ

یا ډیر وی حصه مقرر شوی ده ورله او چه کله حاضر وی د تقسیم په وخت

أُولُو الْقُرْبَىٰ وَالْيَتَامَىٰ وَالْمَسَاكِينُ فَارْزُقُوهُم مِّنْهُ وَ

کښی رشته دار هلته او یتیم او محتاج خلق نو په هغوی باندے څه اوخوروئ د هغے نه

قُولُوا لَهُمْ قَوْلًا مَّعْرُوفًا ﴿٨﴾ وَلْيَخْشَ الَّذِينَ لَوْ تَرَكُوا

د وایئ هغوی ته معقول خبره دا او یکاره ده چه او ویریږی هغه خلق چه که چرے پریږدی

مِنْ خَلْفِهِمْ ذُرِّيَّةً ضِعَافًا خَافُوا عَلَيْهِمْ فَلْيَتَّقُوا اللَّهَ

د ځان نه روستو اولاد کمزورے ئے نو په هغوی باندے ویریږی نو یکاره ده چه او ویریږی د

وَلْيَقُولُوا قَوْلًا سَدِيدًا ﴿٩﴾ إِنَّ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ أَمْوَالَ

الله نه او او وائی خبره لیکه ده کوم خلق چه خوری مال د یتیمانو

الْيَتَامَىٰ ظُلْمًا إِنَّمَا يَأْكُلُونَ فِي بُطُونِهِمْ نَارًا ۖ وَ

ناحقه هغه خلق خپله خیټه د اور ئے ډکوی . او

سَيَصْلَوْنَ سَعِيْرًا ﴿۱۰﴾ يُوْصِيْكُمُ اللّٰهُ فِيْۤ اَوْلَادِكُمْ لِلذَّكَرِ

نزدے دہ چہ داخل بہ شی اور تہ حکم کوی تاسو تہ اللہ ستاسو د اولاد پہ حق کښی چہ د یو سړی

مِثْلُ حَظِّ الْاُنْثَيَيْنِ ۚ فَاِنْ كُنَّ نِسَآءً فَوْقَ

حصہ دہ برابر د دوو ښځو شتہ بیا کہ چرے صرف ښځے وی د دوو نہ

اثْنَتَيْنِ فَلَهُنَّ ثُلُثَا مَا تَرَكَ ۚ

زیاتے نو ھغوی د پارہ دہ دوہ حصے پہ درے حصو کښی د ھغہ مال نہ کوم چہ مړی پریښے دے

نکات: ۱۔ پنځم حکم د رعیت پہ میراث کښی د ټولو وارثانو حصے مقرر دی د چا حصہ مہ کموئ۔ ۲۔ دا پہ پنځم حکم کښی داخل دے یعنی کہ چرے وارثان یتیمان یا فقیران وی ھغوی تہ ھم حصہ ورکړئ خوراک د پارہ او ھغوی تہ اووایئ چہ کلہ مال تقسیمیږی تاسو بہ را بللے شئ۔ لھذا دا آیت منسوخ نہ دے ۳۔ دا عطف د خاص دے پہ عام باندے۔ ۴۔ اول زجر۔ ۵۔ دویم زجر دا دوارہ زجرونہ پہ دے خبرہ قرینہ دہ چہ د لتہ یتیمان او مسکینان وارثان دی او فارزقوھم کښی امر وجوب د پارہ دے۔ ۶۔ شپږم حکم د وارثانو مقررے حصے دا دی۔ دے مطابق تقسیم اوکړئ۔

موضح قرآن ۱۔ د کفر پہ رسم کښی بہ یے ښځہ وارث نہ گڼلہ اوس د ښځو د پارہ ھم میراث مقرر شو۔ ۲۔ یعنی چہ کوم وخت میراث او رشتہ دار جمع دی. نو د چا حصہ چہ مقرر نہ دہ او رشتہ دار دے یا یتیم او محتاج دے نو څہ ورتہ ورکړئ او رخصت یے کړئ او خبرہ ورتہ د عقل والا اوکړئ یعنی سخت جواب مہ ورکوئ۔ او کہ چرے د زیات امید لری نو عذر ورتہ اوکړئ ۳۔ یعنی د مړی نہ روستو د ھغہ د اولاد پہ حق کښی قصور مہ کوئ پہ خپل ځان باندے قیاس اوکړئ چہ کہ زمونږ اولاد روستو پاتے شی نو موږ سرہ بہ د ھغوی خومرہ ویرہ وی۔

فتح الرحمٰن ۱۔ یعنی سړی او ښځے دوارہ حصہ دار دی د ھر مال نہ چہ وی لږ دی یا ډیر پہ دیکښی رد دے د جاھلیت پہ خلقو چہ ښځو تہ بہ یے حصہ نہ ورکولہ۔ ۲۔ یعنی خپلوان چہ وارثان نہ وی۔ ۳۔ یعنی ھغہ خلق چہ اولاد لری پہ ھغہ وجہ وصیت اوکړی چہ اولاد تہ ضرر اونہ رسی او دا پہ شرع کښی مقدر (اندازہ شوے) دے پہ دریمہ حصہ د مال یا د دینہ کم کښی۔ ۴۔ د دوہ لونړو حکم ھم د دا شان دوہ ثلثان دی۔ واللہ اعلم۔

تفسیر ۱۱ د رعیت پنځم حکم:- (پہ میراث کښی د ټولو وارثانو حصے مقرر دی د چا حصہ مہ کموئ) د جاھلیت یو رسم دا وو چہ ھغوی بہ د مړی د پاتے مال نہ ښځو او ماشومانو تہ حصہ نہ ورکولہ ھغوی بہ وئیل چہ د میراث نہ د حصے حقدار صرف ھغہ څوک کیدے شی څوک چہ جنګ اوکړی او د خپل قوم او علاقے حفاظت اوکړی۔ اللہ تعالی د دے رسم د ماتولو

حکم ورکړے شوے دے فرمائي چه میراث خو به اولوي یا وړیر به شي کښې د ټولو وارثانو حق دے د میړه هم او ښځو هم دی چه هم او د ماشومانو هم نیکی د وارثانو حقے خپل خپل دی دو حصے مقرر دے. ۲ یعنی که چرته په وارثانو کښې یتیمان، مسکینان هم وی نو د میراث مال نه تقسیمولو نه مخکښې دخوارلنده د پوره څه خیر ورکړی او هغوی ته او وایئ چه اوس مال نه تقسیمو، چه کله تقسیم وی نو تاسو به هم ستاسې حقه چه په میراث کښې د غیر منقولو، چه مال د تقسیم په دې وخت ممکن نه وی نو په دے آیت کښې د اُولی الْقُربٰی نه وارثان مراد دی او وَالْیَتٰمٰی وَالْمَسٰکِیْنَ عطف تفسیری دے او فَارْزُقُوْهُمْ په معنی د فَاعْطُوْهُمْ دے او د اُولُوا الْقُربٰی نه روستو د یتامٰی او مساکین تخصیص د هغوی د حقونو د حفاظت د وجې دے. وسے د پاره چه د دوی حقونه ضائع نه شي. د شان د آیت منسوخ نه دے. دے په وَلْیَخْشَ الَّذِیْنَ لَوْ تَرَکُوْا الخ او اِنَّ الَّذِیْنَ یَاْکُلُوْنَ اَمْوَالَ الْیَتٰمٰی ظُلْمًا الخ د دوی زجرونه هم په دے باندے قرینه دی چه په دے آیت کښې د یتامٰی او مساکین نه وارثان مراد دی. د فَارْزُقُوْهُمْ حکم وجوبي دے استحبابي نه دے ځکه چه زجر په مستحب و مندوب باندے نه وی بلکه د فرض یا واجب په پریښودو باندے وی. د دے وجې نه اوس د دے توجیه ضرورت نشته چه اول به دے اُولُوا الْقُربٰی یَتٰمٰی وَمَسٰکِیْنَ ته د میراث نه حصه ورکوله او اوس د میراث آیت سره دا آیت منسوخ شو یا دے او نه د دے توجیه ضرورت شته چه دا حکم استحبابي وو او اوس هم هغسې استحباب باندے باقي دے.

۳ دا هغه خلقو ته زورنه ده څوک چه د یتیمانو او مسکینانو حق ضائع کوي او د میراث نه د هغوی مقرره حصه نه ورکوي. د وَلْیَخْشَ مفعول اَللّٰهَ محذوف دے یعنی د مړی ولیان د الله نه دې ویریږی او سوچ دې وکړی چه که چرته هغه مړ شي او د هغه نه روستو د هغه یتیمان بچي پاتے شي نو هغه به د دوی په حق کښې د څه قسمه سلوک تمنا کوي په دے وجه اوس هغوی له د نورو یتیمانو او مسکینانو سره هم هغسې سلوک کول پکار دی. نو قسم معاملہ کول چه هغوی څپل یتیمانو او مسکینانو سره تمنا وسره هغه. کوي. لعموا بیتامٰی ما یحبون ان یفعل باولادهم من بعدهم. (قرطبی ج۵) اِنَّ الَّذِیْنَ یَاْکُلُوْنَ اَمْوَالَ الْیَتٰمٰی ظُلْمًا اِنَّمَا یَاْکُلُوْنَ فِیْ بُطُوْنِهِمْ نَارًا. دا تخویف اُخروی دے د مخکښنو حکمونو خلاصه دا ده چه د یتیمانو هغه او وجیبې حق مه ضائع کوئ او په ظلم د هغوی مال مه خورئ د دے وجې نه دنیا په دے باندے د سخت عذاب د همکي ورکړے شوي ده.

۴ د رضیت شپږم حکم :- د وارثانو مقررے حصے دا دی د دے موافق تقسیم وکړئ. اول دے او فرمائي چه د مړی پاتے مال کښې د مړی د بچو او د پلار د مور د خور او د نورو هر وارث مقرره حصه ده. او س دلته د وارثانو د مقررو حصو بیان دے چه د وارثانو مقررے حصے دا دی چه هغوی ته پوره پوره حق ورکړئ او په هغه کښې کمے زیاتے مه کوئ. په دے ځائے کښې د مړی د مال (میراث) تقول د دوئ صورتونه بیان شوی دی.

اول صورت :- که چرته د مړی په اولاد کښې هلکان هم وی او جینکۍ هم نو هغوی به

مینځ کښې به میراث په دې طریقه تقسیمولے شي چه هر هلک ته به د جینکۍ نه دوچنده ملاویږي. دا صورت په لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْاُنْثَيَيْنِ کښې بیان کړے شو.
دویم صورت: که چیرته د مړي په اولاد کښې هلک نه وي صرف جینکۍ وي او هغه هم دوه یا د دوو نه زیاتې وي نو د میراث دوه دریمه حصه به ورته ملاویږي او دریمه حصه به د هغوی باقي په نورو وارثانو تقسیم شي فَاِنْ كُنَّ نِسَآءً فَوْقَ اثْنَتَيْنِ فَلَهُنَّ ثُلُثَا مَا تَرَكَ کښې دویم صورت ذکر دے. مفسرینو لیکلي دي چه لفظ فَوْقَ په دې آیت کښې زائد دے لکه په فَاضْرِبُوْا فَوْقَ الْاَعْنَاقِ کښې زائد دے. او بعض وائي حکم چه د دوو هم دا حکم دے وَاِنْ كَانَتْ وَاحِدَةً فَلَهَا النِّصْفُ هم په دې باندې قرینه ده.

وَاِنْ كَانَتْ وَاحِدَةً فَلَهَا النِّصْفُ ۭ وَلِاَبَوَيْهِ لِكُلِّ
او که چیرته یوه وي نو هغې د پاره نیم دے. او د مړي مور پلار هر یو
وَاحِدٍ مِّنْهُمَا السُّدُسُ مِمَّا تَرَكَ اِنْ كَانَ لَهٗ وَلَدٌ ۚ
د پاره د دواړو نه شپږمه حصه ده د هغه مال نه کوم چه مړي پریښے دے که چیرته د مړي
فَاِنْ لَّمْ يَكُنْ لَّهٗ وَلَدٌ وَّوَرِثَهٗٓ اَبَوٰهُ فَلِاُمِّهِ الثُّلُثُ ۚ
اولاد وي. او که چیرته د مړي اولاد نه وي او وارثان دې د هغه مور پلار نو د هغه د مور د پاره دریمه
فَاِنْ كَانَ لَهٗٓ اِخْوَةٌ فَلِاُمِّهِ السُّدُسُ مِنْۢ بَعْدِ
حصه ده. بیا که چیرته د مړي ورور یا خویندې وي نو د هغه د مور شپږمه حصه ده وروستو د
وَصِيَّةٍ يُّوْصِيْ بِهَآ اَوْ دَيْنٍ ۭ اٰبَاۗؤُكُمْ وَاَبْنَاۗؤُكُمْ
وصیت نه چه کړے وي مړي یا وروستو د قرض ادا کولو نه. ستاسو پلاران او ځامن
لَا تَدْرُوْنَ اَيُّهُمْ اَقْرَبُ لَكُمْ نَفْعًا ۭ فَرِيْضَةً مِّنَ اللّٰهِ ۭ
تاسو نه پوهیږئ چه کوم یو په نفع رسولو کښې تاسو ته زیات دے. حصه مقرر کړے شوې ده د الله د طرفه
اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ۝ وَلَكُمْ نِصْفُ مَا تَرَكَ
بیشکه الله خبردار دے حکمت والا دے. او ستاسو د پاره نیم مال دے کوم چه پریښے دے
اَزْوَاجُكُمْ اِنْ لَّمْ يَكُنْ لَّهُنَّ وَلَدٌ ۚ فَاِنْ كَانَ لَهُنَّ
ستاسو ښځو که چیرته نه وي د هغوی اولاد. که چیرته د هغوی اولاد وي

وَلَدٌ فَلَكُمُ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْنَ مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ

نو ستاسو دپاره څلورمه حصه ده د هغې نه کوم چې پرېښودې دي وصیت نه روستو کوم چې

يُوصِينَ بِهَا أَوْ دَيْنٍ وَلَهُنَّ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْتُمْ

چې کړې وي یا روستو د قرض نه. او ښځو دپاره څلورمه حصه مال دی د هغې نه کوم چې

إِنْ لَمْ يَكُنْ لَكُمْ وَلَدٌ فَإِنْ كَانَ لَكُمْ وَلَدٌ فَلَهُنَّ

تاسو پرېږدئ نه روستو پرېږدئ. که چرې نه وي ستاسو اولاد او که چرې ستاسو اولاد وي نو هغوی دپاره

الثُّمُنُ مِمَّا تَرَكْتُمْ مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ تُوصُونَ بِهَا أَوْ دَيْنٍ

اتمه حصه ده د هغې نه کوم چې تاسو پرېښودې دي روستو د وصیت نه کوم چې تاسو اوکړو ورله یا د قرض نه

موضح قرآن

ف۱ په دې ایت کښې دوه میراثونه بیان کړل د اولاد او مور پلار. اولاد که چرې کښ وو نو مېړي او ښځې وي نو د مېړي دوه حصې او د ښځې یوه حصه ده. او که چرې صرف ښځې وي نو یوه ته به نیم مال او زیاتو ته به دوه حصې په برابره ورکولې شي او د مور حصه که چرې د مړي اولاد وي یا رونړه خوېندې وي دیو نه زیات نو شپږمه حصه او که چرې دوارو نه وي نو دریمه او د پلار حصه که چرې د مړي اولاد وي نو شپږمه حصه او که چرې اولاد یې نه وي نو عصبه (یعنې چه د وارثانو نه پاتې مال یا د نه موجودو) په صورت کښې ټول مال اخلي) شو او د مړي مال به اول د هغه په کفن کښې خرچ کولې شي کوم چه پاتې شي قرض کښې به ورکولې شي. د دې نه چه کوم پاتې شي نو د هغه د وصیت مطابق به دریمه حصه پورې لګولې شي. د دېنه پس چه پاتې شي په هغې کښې د میراث حصې دي. او د دې دوه حصو کښې د عقل هیڅ دخل نشته. الله مقرر کړیدي هغه حکمت او زیات پوهه دی.

ف۲ تر دې ځای پورې د مړي او د ښځې میراث یې بیان کړو د ښځې په مال کښې د مړي دپاره نیمه ده که چرې د ښځې اولاد نه وي او که اولاد یې وي د دې مړي نه یا د بل مړي نه نو د مړي دپاره څلورمه حصه ده او د اشان د مړي په مال کښې د ښځې څلورمه حصه ده که د مړي اولاد نه وي او که اولاد یې وي نو اتمه حصه ده په هر جنس مال کښې نقدي وي یا جنس وسله کالي کور یا باغ. باقي د ښځې مهر د میراث نه جدا دې په قرض کښې داخل دی.

فتح الرحمٰن

ف۱ یعنې کوم چه پاتې شو هغه د پلار دی. ف۲ یعنې که چیرې وصیت وي نو اول به د وصیت ادا اوکړي. او که چرې قرض وي نو اول به قرض ادا کړي. والله اعلم. ف۳ یعنې رونړه یا خوېندې د مور حصه کموي. اګرچه پخپله څه څیز نه بیا مومي. او یو رور او یوه خور یې نه کموي. والله اعلم.

تفسیر

۱۲ په دیکښې دریم صورت بیان کړے شوید ے یعنې که چرے د مړی اولاد صرف یو جینئ وی نو هغه د میراث د نیم ½ حقدار ده او باقی نیم به په نورو وارثانو باندے د هغوی د حِصّو موافق تقسیمیږی.

څلورم صورت:- په ذکر شوو دریو صورتونو کښې د مړی د اولاد سره که چرے والدین هم موجود وی نو د دواړو نه به هر یو ته د میراث شپږمه حصه ⅙ ملاویږی. او باقی به د نورو وارثانو وی. مثلاً یو سړے مړ شو او هغه مور پلار، یو ځوئ او دوه لُونړه وارثان پریخودل او د پاتے مال مقدار اتلس سوه روپئ وی نو دوه سُدس (⅙×۲) یعنی شپږ سوه روپئ به مور پلار وی په حساب د فی کس دریے سوه او باقی پاتے به د اوّل صورت موافق په دے طریقه تقسیمولے شی چه زوی ته به شپږ سوه روپئ او دوه خویندو ته به دریے دریے سوه روپئ ملاویږی. دا صورت په وَلِاَبَوَيۡهِ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنۡهُمَا السُّدُسُ مِمَّا تَرَكَ اِنۡ كَانَ لَهٗ وَلَدٌ کښې ذکر شوید ے.

پنځم صورت:- که چرے د مړی څوک اولاد نه وی او نه یے څوک رونړه خویندے وی. او هغه مور پلار ژوندی وی نو د هغه مور به د دریمے حِصے ⅓ حقداره وی. او باقی پاتے مال به ټول پلار ته ملاویږی. دا صورت فَاِنۡ لَّمۡ يَكُنۡ لَّهٗ وَلَدٌ وَّوَرِثَهٗۤ اَبَوٰهُ فَلِاُمِّهِ الثُّلُثُ کښې بیان شوید ے.

شپږم صورت:- که چرے د مړی څوک لور ځوئ نه وی او دوه یا زیات رونړه خویندے وی یا کم د دې او مور پلار یے ژوندی وی. نو د هغه مور ته به شپږمه حصه ملاویږی او باقی ټول به پلار ته ملاویږی. او د هغه رونړه خویندے به محروم کړی. فَاِنۡ كَانَ لَهٗۤ اِخۡوَةٌ فَلِاُمِّهِ السُّدُسُ. کښې هم دا صورت ذکر شوید ے. دلته لفظ اِخۡوَةٌ اگرچه جمع دے لیکن د دوؤ هم دا حکم دے او د لفظ جمع اطلاق په دوؤ باندے هم د عربو په لغت کښې عام دے جمهور مفسّرین هم دے طرفته تلے دی. قال الجمهور ان حکم الاثنین فی باب المیراث حکم الجماعة (روح ص۲۲۶ ج۴) ۱۳ دا حُکم مخکینو ټولو صورتونو سره متعلق دے. دلته دا دے دوه حقونه بیان کړے شویدی چه د هغې ادا کول په وارثانو کښې د پاتے مال په تقسیم باندے مقدم دی. مرکبید وئکی نه شریعت دا حق ورکړید ے چه هغوی د خپل میراث نه دریمے حِصے پورے د هغه رشته دارانو په حق کښې وصیت اوکړی کوم چه شرعاً وارثان نه دی او د وصیت نافذ کول په میراث تقسیمولو باندے مقدم دی. د ټولو نه ړومبے به د مړی د پاتے مال نه د هغه تجهیز وتکفین کولے شی چه نه د د اسراف حد ته اُورسی او نه د د بُخل حد ته. بلکه دیکښې به د مړی مالی حالت ته کتلے شی. دے نه پس د مړی په ذمه چه کوم حُقوق العباد دی. هغه به ادا کولے شی مثلاً قرض وغیره. اَوۡ دَيۡنٍ کښې د دے حقونو ذکر دے. د حقوق العباد ادا کولو نه پس په باقی پاتے مال کښې د میراث په دریمه ⅓ حصه کښې به د مړی وصیت نافذ کړے شی. مِنۡۢ بَعۡدِ وَصِيَّةٍ يُّوۡصِىۡ بِهَاۤ اَوۡ دَيۡنٍ کښې دا حُکم ذکر شوید ے دینه پس چه کوم مال باقی پاتے شی هغه به وارثانو کښې د هغوی د حقونو مطابق تقسیم کړے شی. اٰبَآؤُكُمۡ وَاَبۡنَآؤُكُمۡ لَا

تَدْرُوْنَ اَیُّهُمْ اَقْرَبُ لَكُمْ نَفْعًا. د جاهلیت په دستور کښې به صرف خامن د مړي په مال کښې وارثان کرځیدل لونړو ته به یې هیڅ نه ورکول د اسلام په شروع کښې د مور پلار په حق کښې د وصیت حکم وو د هغې نه روستو د میراث په اٰیت سره د ټولو وارثانو حصې مقرر کړې شوې. او اول حکم منسوخ کړے شو او وې فرمائیل چه تاسو ته معلومه نه ده چه مور پلار او خامنو نه کوم یو ستاسو د پاره د دُنیوی یا اُخروی نفع باعث دے کله د پلار د طرفه دا ځے دُنیوی یا اُخروی نفع حاصلیږي چه د خامنو د طرفنه نه حاصلیږي- او کله بالعکس دے وجې نه مونږ په نفسِ میراث کښې ټول برابر کړیدي- او د ټولو حصې مو مقرر کړیدي. (من ابن کثیر ص۴۵۹ ج۱)

ګله ردمبی شپږ صورتونه د ذوي الفروض (چا د پاره چه په قرآن کښې مقرر حصې بیان شویدي) نسبیه ؤ او س ؤراندے د ذوي الفروض سببیه یعني د خاوند او ښځې د حصو بیان دے.

اووم صورت:- که چرے ښځه مړه شي او د هغې څه اولاد نه وي نو د ښځې د پلتے مال نه به خاوند ته نصف ½ ملاو یږي. باقي به په نورو وارثانو باندے د هغوي د حصو مطابق تقسیم شي.

اتم صورت:- فَاِنْ كَانَ لَهُنَّ وَلَدٌ فَلَكُمُ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْنَ الخ یعني که چرے ښځه مړه شي او د هغې اولاد وي خواه د موجوده خاوند نه وي یا د مخکني خاوند نه نو په دے صورت کښې به د ښځې د میراث نه څلورمه حصه ¼ د خاوند وي. او باقي به د نورو وارثانو وي.

نهم صورت:- وَلَهُنَّ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْتُمْ اِنْ لَّمْ يَكُنْ لَّكُمْ وَلَدٌ. او که چرے خاوند مړ شو او څوک اولاد یې نه وي پریښے نو ښځې ته به د میراث نه څلورمه حصه ¼ ملاویږي که چرے ښځې د یوے نه زیاتے وي نو هغه څلورمه حصه به په هغوي باندے برابر تقسیمیږي

لسم صورت:- فَاِنْ كَانَ لَكُمْ وَلَدٌ فَلَهُنَّ الثُّمُنُ مِمَّا تَرَكْتُمْ الخ او که چرے د مړي اولاد وي خواه د موجوده ښځې نه وي یا د مخکنۍ نه نو ښځه خواه یوه وي یا زیاتے هغه به د میراث اتمه ⅛ حصه بیا مومي-

وَاِنْ كَانَ رَجُلٌ يُّوْرَثُ كَلٰلَةً اَوِ امْرَاَةٌ وَّلَهٗ اَخٌ

او که چرے هغه سړے د چا چه میراث دے پلار څوک هیڅ نه لري یا ښځه وي داسے ؤ او د دے مړي ور

اَوْ اُخْتٌ فَلِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا السُّدُسُ فَاِنْ كَانُوْٓا

رور دے یا یې خورده نو د دواړو نه د هریو شپږمه حصه ده ⅙ او که چرے زیات وي د دے

اَكْثَرَ مِنْ ذٰلِكَ فَهُمْ شُرَكَآءُ فِي الثُّلُثِ مِنْ بَعْدِ

نه نو ټول شریک دي. دریمه حصه د وصیت نه روستو کوم چه

وَصِيَّةٍ يُّوْصٰى بِهَآ اَوْ دَيْنٍۙ غَيْرَ مُضَآرٍّۚ وَصِيَّةً مِّنَ

شو پس له ... یا ... قرض ... چه کله بیله وارثانو ورته نقصان نه وي ګرځولي دا حکم دی له

اللّٰهِؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَلِيْمٌؕ ﴿١٢﴾ تِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِؕ وَمَنْ

د الله او الله هر څه پېژني ... او صبر کوونکی دی (چه ژر سزا نه ورکوي) دا ... حدونه ټاکلي شوي د الله دي او چه څوک

يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ يُدْخِلْهُ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا

په حکم بانديست او چلېږي د الله او د رسول هغه به داخل کړي جنتونو ته چه د هغې د لاندې بهېږي

الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَاؕ وَذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿١٣﴾ وَمَنْ

نهرونه هميشه به اوسي په هغې کښې تل له او همدا دے لوئې مراد ملاوېدل. او چه څوک

يَّعْصِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَيَتَعَدَّ حُدُوْدَهٗ يُدْخِلْهُ نَارًا

نافرماني اوکړي د الله او د هغه د رسول او وتښتي د هغه د حدونو نه وابه چوي هغه به اورکښې

خَالِدًا فِيْهَا ۪ وَلَهٗ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ﴿١٤﴾

هميشه به اوسي په هغې کښې او هغه دپاره د ذلت عذاب دے

نکات:- سلـ د عصيان نه کامل درجه مراد ده يعني چه څوک دا مذکوره احکام اونه مني په قرينه د يَتَعَدَّ حُدُوْدَهٗ.

موضح قرآن ف دلته پسې د خور او رور ميراث بيان کړو تو د پلار او څوئ سره رور خور دپاره هيڅ حصه نشته چه کله پلار او څوئ نه وي تو بيا رور خور ته رسيږي. رونړه خوېندې درې قسمه وي سکه چه مور پلار کښې شريک وي يا ناسکه (چه مېنې سے بېل اوي) پلار کښې شريک وي يا اخيافي چه مور کښې شريک وي. دا ميراث د هغه دريوار دے يوے دپاره شپږمه حصه او زياتو دپاره دريمه. په دېکښې به سخي او سړي دپاره برابر وي. او هغه دوه قسمه رونړه خوېندے د اولاد په مثال دي- چه کله پلار څوئ نه وي نو اول سکه بيا که هغه نه وي نو بيا ناسکه. د دے سورت په اخر کښې د دوي ميراث دے او دا يے اوفرمائيل چه وصيت اول دے چه کله يے د نورو نقصان نه وي کړے نقصان دوه قسمه دے يو دا چه د مال د دريمے حصے نه زيات وصيت اوکړي او مړ شي هغه به دريمے حصے پورے نافذ کولے شي زيات به نه شي- دويم دا چه چا ته چه د ميراث نه حصه ملاويږي هغه ته د خپل طرفه رعايت ورکړي. د هغه دپاره د زيات وصيت اوکړي او مړ شي هغه معتبر نه دے که چېرے نول راضي وي نو دا د دارو وصيتونه د قبول کړي کني تو نه د قبلوي او دا پخه ميراثونه کوم يے

چه بیان کړل دا د حِصّه دارو دی. او ددے بیو بل قِسم وارثان دی چه هغوی ته عصبه وئیلے شی د هغوی حِصّه نشته. که چرے عصبه وی او حِصّه دار نه وی نو ټول مال به عصبه اَخلی او چه حِصّه داره وی نو د حِصّه دارانو نه چه کوم پاتے شی نو هغه د عصبه شو او چه پاتے نه شی نو نه به اَخلی. او اصل عصبه خو هغه دی چه سړے وی ښځه نه وی او د ښځے واسطه نه لری. د دے څلور درجے دی. په اوله درجه کښی ځوئ او نمسے دے. په دویمه درجه کښی پلار، نیکه او په دریمه درجه کښی رور او وراره او په څلورمه درجه کښی تره او د تره ځوئ یا نمسے دے. په یوه درجه کښی که چرے ډیر سړی وی نو چه مړی ته کوم نزدے وی هغه مقدم دے لکه د نمسی نه ځوئ د وراره نه رور بیا د ناسکه نه سکه. په باقی اولاد او رونړو کښی د سړی سره ښځه هم عصبه ده. په نورو کښی نه ده. که چرے د دواړه قِسمه وارثان نه وی نو دریم قِسم ذو الرحم یعنی د دے رشتے والا چه په هغے کښی واسطه ښځه ده او حِصّه داره نه ده لکه د لور ځوئ او نیا او خوریے، ماما او د مور خور او د پلار خور او د هغوی اولاد د دوی حساب هم د عصبه په شان دے.

فتح الرحمٰن

ف۱ کلاله هغه دے چه پلار او ځوئ نه لری. ف۲ یعنی هغه وصیت چه د ثلث یعنی دریمے حِصّے نه زیات وی اعتبار نه لری.

تفسیر

یوولسم او دوولسم صورت. کَلٰلَةً په لغت کښی هغه سړی یا ښځے ته وئیلے شی چه د هغهٔ په اصول او فروع کښی څوک نارینه موجود نه وی او د شرع په اصطلاح کښی دے کښی اضافه شوید ه چه د هغهٔ لور هم نه وی څنګه چه د حضرت ابو بکر صدیقؓ، عمرؓ او ابن عباسؓ وغیرهم نه نقل شوید ه. الکلٰلة من لم یترک ولدا ولا والدا (ابن جریر ج۴) سلیم بن عبد وائی چه په دے باندے د مفسرینو اجماع ده اجمعوا ان الکلٰلة الذی لیس له ولد ولا والد (ایضا) په دے سورت کښی د کلالة شپږ صورتونه بیان شوی دی. څلور د سورت په اخر کښی او دوه په دے رکوع کښی. اول کلاله سړے وی یا ښځه که چرے هغه مړ شی او د هغهٔ د مورنه یو رور یا یوه خور ژوندئ وی نو هغے ته به د میرات نه سُدس یعنی شپږمه حِصّه ورکړے شی. وَاِنْ كَانَ رَجُلٌ نه تر السُّدُسُ پورے د دے بیان دے. دوئیم دا چه د مورنه رونړه خویندے د یو نه زیات وی نو هغوی به د میرات ثلث (⅓) مومی. او ثلث به د هغوی د سرونو شمار مطابق په برابر حِصّو کښی تقسیمولے شی. او د نر او د ښځے په حِصّه کښی به هیڅ فرق نه وی. فَاِنْ كَانُوْٓا اَكْثَرَ مِنْ ذٰلِكَ فَهُمْ شُرَكَآءُ فِي الثُّلُثِ کښی دا صورت ذِکر شوید ے. د رونړو خویندو نه دلته د مور اولاد مراد دے څنګه چه د حضرت صدیقؓ او سعد بن ابی وقاصؓ نه نقل دی. ای من ام کما هو فی قراءة بعض السلف منهم سعد بن ابی وقاص وکذا فسرها ابوبکر الصدیق فیما رواه قتاده عنه (ابن کثیر ج۱ ص۴۶۰) او که چرے خویندے رونړه اعیانی یا علاتی وی (یعنی د مور پلار دواړو یا صرف د پلار نه وی) نو د هغوی حِصّے د سُورت په اخر کښی بیان شوی دی. غَيْرَ مُضَآرٍّ د يُوْصِيْ بِهَآ د فاعل نه حال دے په صورت د قراءت د فعل معروف او د مجهول فعل لوستلو په صورت کښی د فعل محذوف د فاعل نه حال دے مطلب دا دے چه مړے به د وصیت یا اقرار بالدّین سره وارثانو ته نقصان نه رسوی مثلاً دا چه د دریمے حِصّے نه د زیات وصیت د نه کړی

او دغه ته پوره وه چه په جاهلیت کښې حق تلفي د هغه د پاره ... او د فرض ... کوي فان کن نساء فوق
اثنتين ... بالکرامي ... الثلثان ... فلهما ... د مړي ... د ابن العباس ... اخوة ... وسته
د میراث احکام چه ... په هغو ... پېغمبرۍ د ... پس بیا ... اوفرمائیل چه ... الله
... او د هغه مقرر کړي شوي احکام دي چه د الله د رسول په واسطه سره ... نو نه
ورکړے شو ... خوک چه په دې احکامو باندې ایمان راوړي او عمل ورباندې کوي هغه د پاره
په اخرت کښې د نعمتونو جنتونه او د همیشه نعمتونو زیرے دے. وَمَنْ يَّعْصِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَ
يَتَعَدَّ حُدُوْدَهٗ الخ دا د هغه خلقو د پاره تخویف اخروي دے کوم چه د الله حدود ... په
وارثانو میراث نه تقسیموي ... نه مراد دلته د عصیان کامله درجه ده یعنی هغه چه
په احکامو ایمان نه راوړي هغه کافر دے او د هغه سزا دا ده چه هغه به همیشه د جهنم په اور
کښې اوسي. ځکه چه وَيَتَعَدَّ حُدُوْدَهٗ په دې باندې قرینه ده او ځکه چه ... شوي
دے وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْكٰفِرُوْنَ. ... په ... احمد
کښې د وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ تفسیر په من لم يعتقد سره کړے شوے یعنی کوم خلق چه د الله نازل
کړے شوي احکامو باندې ایمان نه راوړي او د هغې د حق کېدو اعتقاد نه ساتي هغوي
کافران دي

وَالّٰتِيْ يَاْتِيْنَ الْفَاحِشَةَ مِنْ نِّسَآئِكُمْ فَاسْتَشْهِدُوْا

او هغه ښځې چه بدکاري وکړي ستاسو د ښځو نه | نو ګواهان کړئ په هغوي

عَلَيْهِنَّ اَرْبَعَةً مِّنْكُمْ فَاِنْ شَهِدُوْا فَاَمْسِكُوْهُنَّ فِي

باندې څلور سړي د خپلو نه بیا که چرته هغوي ګواهي ورکړي نو بند اوساتئ هغې ښځې

الْبُيُوْتِ حَتّٰى يَتَوَفّٰهُنَّ الْمَوْتُ اَوْ يَجْعَلَ اللّٰهُ لَهُنَّ

په کورونو کښې تر دې چه پوره نه کړي هغوي له مرګ | یا مقرر کړي الله هغوي د پاره څه

سَبِيْلًا ﴿۱۵﴾ وَالَّذٰنِ يَاْتِيٰنِهَا مِنْكُمْ فَاٰذُوْهُمَا فَاِنْ تَابَا

لاره | او کوم دوه سړي چه اوکړي ستاسو نه هغه بدکاري نو هغوي ته تکلیف ورکړئ بیا که چرته

وَاَصْلَحَا فَاَعْرِضُوْا عَنْهُمَا اِنَّ اللّٰهَ كَانَ تَوَّابًا رَّحِيْمًا ﴿۱۶﴾

هغه دواړه توبه اوباسي او ځان اصلاح کړي | نو د هغوي خیال پرېږدئ بېشکه الله توبه قبلونکے مهربان دے

اِنَّمَا التَّوْبَةُ عَلَى اللّٰهِ لِلَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ السُّوْٓءَ بِجَهَالَةٍ

توبه قبلول الله ته ضرور خو هغه چا دې چه کوي بد کار | په نا پوهئ سره

ثُمَّ يَتُوبُونَ مِن قَرِيبٍ فَأُولَٰٓئِكَ يَتُوبُ اللَّهُ عَلَيْهِمْ

بیا توبه کوي په جلتۍ سره نو هغوی لره الله معاف کوي

وَكَانَ اللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴿۱۷﴾ وَلَيْسَتِ التَّوْبَةُ لِلَّذِينَ

او الله هر څه پېژندونکے حکمت والا دے او د داسې خلقو توبه نشته کوم چه

يَعْمَلُونَ السَّيِّـَٔاتِ ۚ حَتَّىٰٓ إِذَا حَضَرَ أَحَدَهُمُ الْمَوْتُ

کوي ناکاره کارونه ترد ے چه کله مخے ته راشي د دوی نه د چا مرګ

قَالَ إِنِّي تُبْتُ الْـَٔانَ وَلَا الَّذِينَ يَمُوتُونَ وَهُمْ

نو او وائي چه زه اوس توبه کوم او نه د داسے خلقو توبه چه مره شي د کفر

كُفَّارٌ ۚ أُولَٰٓئِكَ أَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿۱۸﴾

په حالت کښې هغوی د پاره مونږ تیار کړیدے عذاب دردناک ق۲ ق

نکات ب۱ د رعیت اوم حکم بحثو ته د وراثت نه ضرور حصه ورکړئ یعنی که چرے زنا تر اوشي نو په هغوی باندے شرعي حکم نافذ کړئ. ب۲ د ا د اووم حکم سره متعلق دے.

موضح قرآن ف۱ دا یے د زنا حکم اوکړو چه څلور مسلمانان سړي ګواهان پکار دي. بیا یے اوس حد نازل نه کړو وعده یے اوکړه. اخرچه حد نازل شو. په سورة نور کښې ف۲ که چرے دوه سړي بد فعلي اوکړي د هغوی حکم یے دا وخت مجمل یعنی تکلیف ورکول او فرمائیلي او چه توبه اوکړي نو تکلیف مه ورکوئ بیا چه کله حد نازل شو نو ددے یے حد جدي اونه فرمائیلو. په دیکښې د علماؤ اختلاف دے چه هم هغه حد دے د دوی هم یا په تورو سره قتلول یا په بل څه طریقه سره. ف۳ یعني مرګ چه کله یقیني شو او آخرت په نظر راتلل شروع شو هغه وخت توبه قبوله نه ده او د هغے نه مخکښې قبوله ده د مسلمان توبه. او کافر که چرے د کفر نه توبه کړي هغه ګناه نه لوے کیږي لیکن چه مسلمان مرشي.

فتح الرحمن ف۱ ددے ایت نه روستو بیا الله تعالیٰ لاره مقرره کړه. او هغه دا ده چه واده شوي رجم او د نا واده شوي دُرے دي نو اوس د هغه دوه حکم نشته. ف۲ دا ایت مجمل دے په حدیثونو کښې ذکر دے چه د ازادے با کرے (ناواده) د پاره سل دُرے وهل پکار دي. او ازادے واده شوے د پاره رجم. او د غلام او وینزے د پاره پنځوس دُرے دي. والله اعلم ف۳ مترجم وائي چه د جاهلیت خلقو به ښځے هم د میراث د مال نه ګڼړلے. د مړي ولي به چرے غوښتل نو په زور به یے ورسره یخپله نکاح کوله او که غوښته به یے شوه نو بل ته به یے په نکاح ورکړه او ځله به یے ترې مهر واپس واخستلو. نو الله دا ایت رالیږلو. والله اعلم

تفسیر کله د رعیت اووم حکم :- ښځوته د وراثت نه حصه ضرور ورکړئ لیکن که چرې دوی نه زنا اوشي نو په هغوی باندې شرعي حکم نافذ کړئ. د احکام وراثت بیانولو نه روستو د هغه ښځو حکم بیان شوید ې چه د چانه زِنا اوشي. یعني ښځوته د میراث نه بیشکه حِصه ورکړئ لیکن که چرې د یوې ښځې نه زنا اوشي. نو که چیرې د څلورو ګواهانو شهادت سره د هغوی جرم ثابت شي نو هغه بنده کړئ تردې چه هغې د پاره بل کوم حکم نازل شي او کچرې هغوی ته د سزا په طور باندې څه تکلیف ورکول غواړئ نو زبانت مه ورکوئ او د میانه روئ د حد نه مخکښې مه ځئ. دا حکم د شرعي حد د نازلیدو نه مخکښې وُو او که چیرې هغوی ربښتینې توبه اوکړي نو بیا ورسره تعرض مه کوئ او هغوی ته هیڅ مه وایئ ځکه چه څوک د ګناه کولو نه روستو ربښتینې توبه اوباسي او په ګناه همیشوالے اونکړي نو الله یې توبه قبلوي. وَالَّذٰنِ يَاْتِيٰنِهَا مِنْكُمْ فَاٰذُوْهُمَا دا د اووم حکم سره متعلق دے یعني د یکښې د زِنا حکم ذکر دے. اِنَّمَا التَّوْبَةُ عَلَى اللّٰهِ لِلَّذِيْنَ الخ یعني الله تعالیٰ محض په خپل فضل او کرم سره د هغه خلقو د توبې قبلولو ذمه پخپله اخستې ده. څوک چه په ناپوهئ کښې ګناه اوکړي او بیا ربښتینې توبه اوباسي او اینده د پاره د ې ګناه ته نزدې هم نه ورځي. وَلَيْسَتِ التَّوْبَةُ لِلَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ الخ دا زجر او تخویف اُخروي دے یعني بې ویرې او بغیر د سوچ نه ګناه کوي چه کله د مرګ وخت راورسي او د غرغره حالت شروع شي نو توبه اوباسي نو دا توبه الله ته منظور نه ده. دا شان هغه خلق کوم چه د کفر په حالت کښې مړه شي د هغوی ګناه به هرګز معاف نه شي او هغوی ته به دردناکه سزا ورکولے شي.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا يَحِلُّ لَكُمْ اَنْ تَرِثُوا النِّسَآءَ

اے ایمان والو! حلال نه ده ستاسو د پاره چه په میراث کښې واخلئ تاسو ښځې

كَرْهًا ؕ وَلَا تَعْضُلُوْهُنَّ لِتَذْهَبُوْا بِبَعْضِ مَآ اٰتَيْتُمُوْهُنَّ

په زبردستئ سره او مه بندوئ هغوی دے د پاره چه واخلئ د هغوی نه خپل څه ورکړے شوے.

اِلَّآ اَنْ يَّاْتِيْنَ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ ۚ وَعَاشِرُوْهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ

لیکن چه اوکړي هغوی بے حیائي ښکاره او وخت تیروئ د ښځو سره په ښه طریقه

فَاِنْ كَرِهْتُمُوْهُنَّ فَعَسٰٓى اَنْ تَكْرَهُوْا شَيْئًا وَّيَجْعَلَ اللّٰهُ

بیا که چرې هغوی تاسو خوښې نکړې نو شاید تاسو ته خوښ رانشي یو څیز او الله اېښے وي په هغې

فِيْهِ خَيْرًا كَثِيْرًا ⑲ وَاِنْ اَرَدْتُّمُ اسْتِبْدَالَ زَوْجٍ مَّكَانَ

کښې ډیره خوبي ؔ او که چرې بدلول یې غواړئ د یوې ښځې ځائ بله

زَوْجٍ وَّاٰتَيْتُمْ اِحْدٰىهُنَّ قِنْطَارًا فَلَا تَاْخُذُوْا مِنْهُ

ښځه او ورکړې مو دے یوې ته ډیر مال نو مه واپس کوئ د هغې نه څه

شَيْـًٔا ؕ اَتَاْخُذُوْنَهٗ بُهْتَانًا وَّاِثْمًا مُّبِيْنًا ﴿۲۰﴾ وَكَيْفَ

څیز ایا اخستل غواړئ هغه ناحقه او په ګناه ښکاره سره او څنګه اخستلے

تَاْخُذُوْنَهٗ وَقَدْ اَفْضٰى بَعْضُكُمْ اِلٰى بَعْضٍ وَّاَخَذْنَ

شئ او رسیدلی یئ تاسو یو بل ته او اخستے دے هغو

مِنْكُمْ مِّيْثَاقًا غَلِيْظًا ﴿۲۱﴾ وَلَا تَنْكِحُوْا مَا نَكَحَ اٰبَآؤُكُمْ مِّنَ

ښځو ستاسو نه وعده ټینګه او مه نکاح کوئ ورسره اولئ کومې ښځې چه په نکاح کړې

النِّسَآءِ اِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ ؕ اِنَّهٗ كَانَ فَاحِشَةً وَّمَقْتًا ؕ وَسَآءَ سَبِيْلًا ﴿۲۲﴾ ع

او ښځې ستاسو پلارانو لیکن هغه کوم چه وړاندې اوشول دا بے حیائی ده او کار د غضب او بده لاره ده

حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ اُمَّهٰتُكُمْ وَبَنٰتُكُمْ وَاَخَوٰتُكُمْ وَ

حرام شویدی په تاسو باندې ستاسو میندې او لوڼې او خویندې او

عَمّٰتُكُمْ وَخٰلٰتُكُمْ وَبَنٰتُ الْاَخِ وَبَنٰتُ الْاُخْتِ وَ

د پلار خویندې او د مور خویندې او لوڼې د ورور او لوڼې د خور او

اُمَّهٰتُكُمُ الّٰتِيْٓ اَرْضَعْنَكُمْ وَاَخَوٰتُكُمْ مِّنَ الرَّضَاعَةِ

کومې میندې چه تاسو ته یې دی ورکړی او رضاعی خویندې

وَاُمَّهٰتُ نِسَآئِكُمْ وَرَبَآئِبُكُمُ الّٰتِيْ فِيْ حُجُوْرِكُمْ

او ستاسو د ښځو میندې او ستاسو پرکتۍ کومې چه ستاسو په پرورش کښې دی

مِّنْ نِّسَآئِكُمُ الّٰتِيْ دَخَلْتُمْ بِهِنَّ ؗ فَاِنْ لَّمْ تَكُوْنُوْا

چه زیږولي دي ستاسو هغه ښځو چه تاسو صحبت کړے وي که چرې هغوی سره

دَخَلْتُمْ بِهِنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ ؗ وَحَلَآئِلُ اَبْنَآئِكُمُ

تاسو صحبت نه وی کړے نو په تاسو څیز ګناه نشته د هغوی په نکاح کښې. او ښځې ستاسو

الَّذِينَ مِنْ أَصْلَابِكُمْ وَأَنْ تَجْمَعُوا بَيْنَ الْأُخْتَيْنِ

د شا مخو ګوم چه ستاسو د شا نه بندي او دا چه یو ځای کړئ دوه خویندې

إِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ إِنَّ اللَّهَ كَانَ غَفُورًا رَحِيمًا ﴿٢٣﴾

مګر ګوم چه تخکښ اوشو بیشکه الله بخښونکے مهربان دے.

نکات:- ۱ د رعیت اتم حکم په میراث کښ مال ملاویږي ښځے نه ملاویږي لیکن د هغوی په رضا د هغوی سره نکاح کیدے شي ۲ نهم حکم بیشکه ښځے په نکاح سره ملاویږي لیکن لاندے لیکلي شوے ښځے چه راضي وي نو بیا بیا هم په نکاح کښ نه شي راوستلے.

موضح قرآن ف۱ په دے ایت کښ دوه حکمونه دي. یو کښ چه مړ شي نو د هغه ښځه د خپلے نکاح مختاره ده. د مړي زوئ نړه د پاره په نکاح کښ د اختلاق نشته او نه د هغے د منع کولو حق نشته د نکاح نه. چه عاجزه شي او ګوم څه چه مړي ورکړي وو هغه ترے واپس کړے شي لیکن د غیر شرعي خبرے نه بالکل بند ول پکار دي. دویم حکم دا چه د ښځو سره وخت تیر کړئ صبر او تحمل سره. که چرے په دوی کښ څه خیز ناخوښه وي نو شاید چه څه خوبي هم پکښ وي. بد خوئي سره بد خوئي پکار نه ده. ف۲ یعنی سړے چه ښځے نه اورسیده نو د هغے تول مهر لازم شو او س د هغه د بیرته بیولو نه بغیر نشي خلاصیدے او مضبوط وعده دا چه د شریعت په حکم سره ښځه د سړي په قبضه کښ راغله. او که چرے دا ئے نه وي. نو دے د هغے مالک نه دے. ف۳ لیکن ګوم چه اوشو یعني په کفر کښ بیبے د دینه پرهیز نه کولو. نو د اسلام نه روستو هغه ګناه پاتے نه ده. او س وړاندے پرهیز پکار دے.

فتح الرحمٰن ف۱ یعنی ایجاب و قبول په مینځ کښ د ګواهانو حاضریدل لو سره.

تفسیر ف۱ د رعیت اتم حکم:- په میراث کښ مال ملاویږي ښځے نه ملاویږي لیکن که چرے هغوی راضي وي نو نکاح ورسره اوکړئ. د جاهلیت د زمانے یو انسانیت شرموونکے رسم دا وو چه د مال د میراث په شان به یے د میراث پرینودو نکو ښځے هم خپل میراث ګنړلو او که چرے هغوی به د چا سره نکاح کول غوښتل نو جبرًا به یے هغوی منع کولے. که چرے هغه به خاتسته وے نو پخپله به یے ورسره نکاح کوله کنه نو بند به یے ساتلے او د هغوی د مرګ نه روستو به یے د هغوی په مال قبضه کوله نو په دے باندے الله پاک اوفرمائیل چه په وراثت کښ مال ملاویږي ښځے نه ملاویږي. لیکن که چرے یوه ښځه په خپله خوښه نکاح کوي نو نکاح ورسره اوکړئ په دے شرط چه هغه ستاسو محرم نه وي. کَرْهًا د فعل مخذوف مفعول مطلق دے اي تکرهون کرهًا. وَلَا تَعْضُلُوهُنَّ اي لا تمنعوهن ابن صح یعنی هغوی مه منع کوئ. په بعض کښ با تعدیه د پاره ده خطاب وارثانو ته دے. ښځے وخت لګیدو نه بنی سره د نکاح کولو اجازت په دے شرط باندے ورکوئ چه د خاوند نه هغے ته ګوم څه په میراث کښ ملاو شوي دي هغه واپس کړي یا خپل مهر واپس کړي نو د دے نه یے منع اوکړه. باد

خطاب خاوندانو ته دے. چې خلقو به نه خپلو ښځو ته طلاق ورکولو او نه به یې ورسره ښه سلوک کولو بلکه هغوی به یې ځورولې. دے د پاره چې هغوی خپل ومهور کړے مهر واپس کړي او خلع وکړي. په دے باندے د ممانعت حکم نازل شو او د خُسن معاشرت حکم یې ورکړو. وَإِنْ أَرَدْتُمُ اسْتِبْدَالَ زَوْجٍ مَّكَانَ زَوْجٍ الخ یعني تاسو ښځې د مال په خاطر مه ځوروئ. اګر ښځې ته طلاق ورکړئ او دبلې ښځې سره نکاح کول غواړئ. نو ځکه ښځې ته دورکړے شوي مهر نه هیڅ مه اخلئ. دوسے نه معلومه شوه چه د مهر د طرفه دبے تفریق په وجه خلع نه شي کیدے. بُهْتَانًا وَإِثْمًا دوارو مصادر دي په معنی د اسم فاعل د تَأْخُذُونَهُ فاعل نه حال دي. ای اتاخذونه باهتین وآثمین. او أَفْضَىٰ بَعْضُكُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ کنایه ده د جماع نه د امام ابوحنیفه په نزد باندے د خلوت صحیحه ته هم شامل دے (روح جلد ۴) دوے وجے نه که چرته د خلوت صحیحې نه روسته طلاق واقع شي اګرچه د جماع موقع راغلې نو هم د ښځې نه د مهر څه حصه واپس اخستل جائز نه دي.

فائده درعیت نهم حکم: د ښځو په نکاح سره ملاویږي لیکن په آیت کښې ذکر شوے حسب ذیل ښځې که راضي هم وي نو بیا هم په نکاح کښې نشي راتلے. اول یې فرمائیلي ولې چې کومې ښځې په رضا سره ستاسو سره نکاح کول غواړي هغوی سره نکاح وکړئ. لیکن دا زړے لیکلے شوے ښځې که چرته راضي هم وي نو بیا هم هغوی سره نکاح مه کوئ ځکه چه د حرمت دي. او د دوی سره نکاح کول ستاسو د پاره همیشه حرام ده. د ته ښخلس محرمات ذکر شویدي

① د پلار منکوحه. یعني کومه ښځه چه د پلار په نکاح کښې راغلے د وې که نیکه وي یا طلاقه شوې ② مور او د پلار او د مور د طرفه نیاګانې هم په اُمَّهَاتُ کښې داخل دي ③ وَبَنَاتُكُمْ لونړه په دیکښې د خوټی او د لور د طرفه نمسئ هم داخل دي. ④ أَخَوَاتُكُمْ خویندے خواه عیني د مور پلار دواړو وي یا علاتي صرف د پلار نه وي یا خیافي صرف د مور نه وي. ⑤ وَعَمَّاتُكُمْ ترورګانے د پلار خویندے ⑥ وَخَالَاتُكُمْ ترورګانے د مور خویندے ⑦ وَبَنَاتُ الْأَخِ وریرے د دوی د لونړو هم دا حکم دے ⑧ وَبَنَاتُ الْأُخْتِ خوریې او د دوی د لونړو هم دا حکم دے.

⑨ وَأُمَّهَاتُكُمُ اللَّاتِي أَرْضَعْنَكُمْ او هغه ښځې کومې چه تاسو ته یې درکړے وي. ⑩ وَأَخَوَاتُكُم مِّنَ الرَّضَاعَةِ او ستاسو رضاعي خویندے ⑪ وَأُمَّهَاتُ نِسَائِكُمْ د خپلو ښځو میندے خواښے خواه نسبي وي یا رضاعي ⑫ وَرَبَائِبُكُمُ او ستاسو د ښځو لونړه کومې چه د مخکښې خاوند نه وي په دے شرط چه تاسو د هغوی سره خلوت صحیحه کړے وي لیکن که چرته چا لا تراوسه پورے خپلې ښځې سره خلوت نه وي کړے او هغې ته طلاق ورکړي نو د هغې د لور سره نکاح کولے شي. د فِي حُجُورِكُم قید صرف اتفاقي دے احترازي نه دے ⑬ وَحَلَائِلُ أَبْنَائِكُمُ الَّذِينَ مِنْ أَصْلَابِكُمْ او ستاسو د صلبي ځامنو ښځې. الَّذِينَ مِنْ أَصْلَابِكُمْ قید احترازي دے او دے سره د متبنّی د ښځې نه احتراز دے ځکه چه د کونډیدو نه روستو یا د طلاق نه روستو هغې سره نکاح جائز ده. ⑭ وَأَن تَجْمَعُوا بَيْنَ الْأُخْتَيْنِ او د دوو خویندو سره یو ځائې نکاح کول هغه خویندے خواه نسبي وي یا رضاعي. داشان هر هغه دوه ښځې چې د

هغوی ته په همیشه کښې د محرمیت رشته وي مثلاً ترور او خوریزه د پلار خور او وریره هغه هم
و یو سړي ته په نکاح کښې یو ځای کول جائز نه دي ⑮ وَالْمُحْصَنٰتُ مِنَ النِّسَاۗءِ. او هغه ښځې
چه په نکاح د بل سړي د نورو په نکاح کښې وي. هغوی سره هم نکاح جائز نه ده. اِلَّا مَا مَلَکَتْ
اَيْمَانُكُمْ سره په ظاهر کښې د شبه کیږي چه د واده شوو آزادو ښځو سره په نکاح جائز نه دي
نو د واده شوو وینځو سره به نکاح جائز وي حالانکه دا هم کول جائز نه دي د دې وجه نه
د وینځو نه هغه وینځې مراد نه دي چه د اول نه د مسلمانانو په ملک کښې وي بلکه هغه وینځې
ترینه مراد دي کوم چه د قید په ذریعه د کافرانو نه د مسلمانانو لاس ته راشي او په دارالکفر
کښې د هغوی خاوندان موجود وي. څنګه چه په سبي (قید) سره د هغوی نکاح ماتیږي او
هغوی سره نکاح جائز ده. والمراد بالملك الملك بالسبي خاصة فانه المقتضى لفسخ النكاح
وحدها نسب يعني دون غيره وهو قول عمر وعثمان وجمهور الصحابة والتابعين والائمة الاربعة (روح)





وَالْمُحْصَنٰتُ مِنَ النِّسَآءِ اِلَّا مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ ۚ

او د خاوند والا ښځې لیکن د کوم چه مالک شي ستاسو لاسونه ف۱

كِتٰبَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ ۚ وَاُحِلَّ لَكُمْ مَّا وَرَآءَ ذٰلِكُمْ اَنْ

حکم اوشو په تاسو باندې د الله ف۱ او حلال دي تاسو له نورې ښځې د دینه سوا ف۲

تَبْتَغُوْا بِاَمْوَالِكُمْ مُّحْصِنِيْنَ غَيْرَ مُسٰفِحِيْنَ ؕ فَمَا

په دې شرط چه طلب کړئ هغه د خپل مال په بدله په قید کښې راوستلو د پاره نه د مستۍ ویستلو

اسْتَمْتَعْتُمْ بِهٖ مِنْهُنَّ فَاٰتُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ فَرِيْضَةً ؕ

د پاره ف۲ بیا چه کله په کار کښې راولئ تاسو هغه ښځې نو هغوی ته ورکړئ د هغوی حق کوم چه

وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيْمَا تَرٰضَيْتُمْ بِهٖ مِنْۢ بَعْدِ

مقرر شو ف۳ او ګناه نشته په تاسو دې خبره کښې چه معاف کړي تاسو د واړه ښځې رضا سره د مقرر

الْفَرِيْضَةِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ﴿۲۴﴾ وَمَنْ لَّمْ

کولو نه روستو ف۴ بیشکه الله دې خبردار حکمت والا ف۵ او څوک چه نه لري

يَسْتَطِعْ مِنْكُمْ طَوْلًا اَنْ يَّنْكِحَ الْمُحْصَنٰتِ الْمُؤْمِنٰتِ

طاقت د دې چه نکاح اوکړي ازادو مسلمانانو (ښځو) سره ف۲

فَمِنْ مَّا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ مِّنْ فَتَيٰتِكُمُ الْمُؤْمِنٰتِ ؕ

نو نکاح د اوکړي د هغو سره کوم چه ستاسو د لاسونو مال دې کوم چه ستاسو لاسو نکښې

وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِاِيْمَانِكُمْ ؕ بَعْضُكُمْ مِّنْ بَعْضٍ ۚ فَانْكِحُوْهُنَّ

وینځې دي مسلمانانې. او الله ته ښه معلوم ده ستاسو مسلماني تاسو خپلو کښې یو بل ف۵ نو هغوی سره نکاح

بِاِذْنِ اَهْلِهِنَّ وَاٰتُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ

اوکړئ د هغوی د مالکانو اجازت سره او ورکړئ د هغوی مهر موافق د دستور په قید کښې

مُحْصَنٰتٍ غَيْرَ مُسٰفِحٰتٍ وَّلَا مُتَّخِذٰتِ اَخْدَانٍ ۚ فَاِذَآ

راوستونکې وي نه مستي ویستونکې او نه په پټه یاري کوونکې ف۶ بیا چه کله

أُحْصِنَّ فَإِنْ أَتَيْنَ بِفَاحِشَةٍ فَعَلَيْهِنَّ نِصْفُ مَا عَلَى

هغوی د نکاح په قید کښې راشي نو که چرته اوکړي دا بې حیایۍ کار نو په هغوی نیمه سزا ده د

الْمُحْصَنَاتِ مِنَ الْعَذَابِ ذَٰلِكَ لِمَنْ خَشِيَ الْعَنَتَ

ازادو ښځو د سزا نه هغه دا د دې دپاره دے چه څوک ویریږي ستاسو نه تکلیف

مِنْكُمْ وَأَنْ تَصْبِرُوا خَيْرٌ لَكُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿٢٥﴾ ع

کښې د خوږیدلو نه او چه صبر اوکړئ نو بهتره ده ستاسو په حق کښې او الله بخښونکے مهربان دے ؏

نکات: - دا لسم حکم د رعیت اوګوم چه په نکاح کښې راتلې شي خواه ازاده وي یا وینځه هغوی ته مهر ورکړئ ۱۲ سه د متعه نفي کولو طرفته اشاره ده ۱۲

موضح قرآن

ف ۱ او دغه رشتې یې حرام کړے یوه مور په دیکښې داخله ده - د مور مور او د پلار مور یعنې کومه ښځه چه د دے سړی جرړه ده دویمه لُور په دیکښې داخله ده د لُور لور او د ځوئ لُور کوم چه دد وی شاخ دے - دریم خور څلورم وریره، پنځم خورزه یعنې کوم چه دده سره په مور پلار کښې ملاویږي، او شپږم د پلار خور اووم د مور خور کوم چه د مور پلار نه پورته ملاویږي - په دے شرط چه بغیر د واسطے نه ملاویږي او کوم چه واسطے سره ملاؤ شي هغه حلالیږي لکه د طرفنه د ترور لُور - او د پیُو یے دوه رشتے ذکر کړے مور او خور - اشاره ده چه اوُ واړه رشتے په دیکښې هم حرام دی - او د سخرګنۍ یے څلور رشتے ذکر کړے - ښځے د پاره د سړی جرړه او سړی د پاره د ښځے جرړه او شاخ لیکن شاخ هله حرام دے چه د نکاح نه روستو صحبت هم شوے وی او جرړه فقط نکاح سره حرامه ده - پیُو (رضاع) سره دا څلور رشتے حرام شوے - لیکن یو شکل هغه معتبر دی چه د رضاعت په موده کښې یے اوُ شکی - په لوئ عمر کښې شکل معتبر نه دی په دے ځائ سکه، ناسکه او اخیافی ټول برابر دی او په رضاعت کښې هم میرنۍ رشته معتبره ده او د دے نه روستو یے منع اوکړه د دوؤ خویندو د جمع کولو نه - د دے اشارے نه معلومه شوه چه دا دُوُ واړو رشتو جمع کول یے حرام اوګرځول او د سخرګنۍ په رشتو کښې جمع کول حرام نه دی اخری یے حرام کړه نکاح شوے ښځه یعنې د بو په نکاح کښې ده نو هرچا د پاره هغے سره نکاح حرام ده - لیکن دا چه خپل ملک اوګرځي - د دے صورت دا دے چه دکافر سړی او ښځے په مینځ کښې نکاح وه هغه ښځه په قید یا تو کښې راغله نو هغه چه ځانته اورسیده هغه د پاره حلاله ده - که چرے د پیُو رشته یا د سخرګنۍ د سړی د خپلے وینځے سره ده نو د هغے سره صحبت حرام دے - لیکن په ملک کښې داوسي، او دا یے اوفرمائیل چه ستاسو د شامنو ښځے کوم چه ستاسو د شاهانو نه دي یعنې ستاسو

متبنّیٰ (پاللی شوی) خوئ مه گڼړئ په هیڅ حُکم کښې هغه خوئ نه دے .

ف۲ یعنی کوم ښځې یې چه حرام اوگرځولے د دے نه سوا تولے حلالے دي لیکن څلورو شرطونو سره . اول داچه طلب کړئ یعنی په ژبے سره ایجاب او قبول مینځ کښې راشي دویم داچه مال ورکول قبول کړئ یعنی مَهر . دریم داچه قید کښې د راوستلو پشان وي . د مستئ ویستلو د پاره نوي . یعنی همیشه د پاره هغه ښځه د دے شي د هغه پریښودلو نه بغیر نه شي خلاصیدے . یعنی د موده ذکر پکښې رانه شي چه د کاله پورے یا میاشت پورے به دے سره متعه حرام اوگرزیده . څلورم شرطے په سورة مائده کښې اوفرمائیلو او د لته یے هم د ویڅو په نکاح کښې وړاندے فرمائیلي دي چه پټه یاري نه وي یعنی خلق گواهان وي کم نه کم دوه سړي یا یو سړے او دوه ښځے بیا یے اوفرمائیل چه کوم په کار راشي د هغے مَهر پوره ورکړئ یعنی په کار کښې راغله صُحبت اوشو یا خلوت او شو او س په هیڅ شان سره مَهر نه شي پریښودے او ترڅو چه په کار کښې نه وي راغلے نو که چرے خاوند یے پریږدي نو نیم مَهر لازم دے او که چرے ښځه داسے کار اوکړي چه نکاح مات شوه نو ټول مَهر ختم شو . بیا یے اوفرمائیل چه د مَهر مقررولو نه روستو چه په خپله خوښه دواړه مَهر کم کړي یا یے زیات کړي هغه هم معتبر دے .

ف۳ وے فرمائیل چه د چا طاقت نه وي د آزادے ښځے سره د نکاح کولو او صبر کښې ویریږي چه خمانه په حرام اوشي نو جائز دي چه د وینځے سره نکاح اوکړي د مالک په اجازت سره او د پټه یارۍ نه یے منع اوکړه . نو په نکاح کښې گواه لازم شو او د چا په نکاح کښې چه یوه آزاده ښځه وي هغه د پاره د وینځے سره نکاح روا نه ده . او په دے باندې چه کومه نیمه سزا مقرر کړه یعنی آزاد سړے یا ښځه که چرے واده شوے وي او زنا اوکړي نو سنگسار به کړے شي او بے واده که زنا اوکړي نو سل کوړے به وهلے شي . نو وے فرمائیل چه د واده شوو وینځو د زنا حد پنځوس کوړے دے زیات نه دے . هم دا حُکم د غُلام دے ۱۲.

فتح الرّحمٰن ف۱ یعنی که چرے یوه ښځه د دارالحرب نه قید راوستلے شوه نو نکاح کول او وینځه گرځول د هغے صحیح دي آگرچه هلته یے خاوند وي ۱۲ ف۲ یعنی صحیح نکاح هغه ده چه مَهر سره وي او همیشه وي د ظاهر په اعتبار سره ځکه چه کله د جماع حاجت همیشه دے نو احصان بغیر د عقد مؤبد (همیشه) نه نه حاصلیږي . ف۳ یعنی جماع سره ټول مهر لازمیږي ۱۲

ف۴ یعنی د مقررولو نه روستو که چرے په خپله خوښه زیات یا کم کړي باک نشته ۱۲

ف۵ یعنی وینځے هم د اشان د آدم لونړه دي ۱۲ ف۶ مترجم وائي چه د نکاح او یارانے په مینځ کښې فرق د گواهانو شرط دے او په احصان او سفاح کښې فرق همیشه کیدل د عقد (نکاح) دے په اعتبار د ظاهر سره ۱۲ والله اعلم .

تفسیر

ــــٰہ د رعیت لسم حکم :- (د کومو ښځو سره چه نکاح جائزه ده خواه هغه آزاده وی یا وینځه هغوی ته به مهر ورکول وی) دا د اتم او نهم حکم سره متعلق دے . اتم حکم ــــٰہ اوفرمائیلو چه په میراث کښ مال ملاویږی ښځے نه ملاویږی لیکن کوم ښځے چه په رضا سره نکاح کول غواړی هغوی سره نکاح جائز ده اوس دلته ــــٰہ علی سبیل الترقی اوفرمائیل چه ددوی نه علاوه باقی ښځے په تاسو حلالے دی. لیکن د حلال والی شرط دا دے چه تاسو هغه همیشه دپاره په خپل زوجیت کښ د ساتلو په غرض هغوی سره شرعی عقد اوکړئ. وقتی یا د ښو ورځو شهوت پوره کول مقصود نه وی په دے سره د متعے ممانعت طرفته اشاره ده ځکه چه د متعے غرض او مقصد د وقتی یا څو ورځے نفع اخستلو او شهوت پوره کولو نه سوا هیڅ نه وی. وفیه اشارة الی النهی عن کون القصد مجرد قضاء الشهوة وصب الماء واستفراغ اوعیة المنی فبطلت المتعة بهذا القید لان مقصود المتمتع لیس الا ذالک (روح ص ۶ ج ۵) او دا هم یاد ساتئ چه کوم ښځے سره نکاح کوئ خواه آزاده وی یا وینځه هغے ته مهر ضرور ورکړئ . وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا تَرَاضَيْتُمْ بِهِ مِنۢ بَعْدِ الْفَرِيضَةِ لیکن که چرے مهر مقرر کیدو نه روستو ښځے خپل پوره مهر یا د هغے څه حصه معاف کړی نو هغه ستاسو دپاره حلال ده په دیکښ تاسو باندے هیڅ ګناه نشته .

۲۱ــــٰہ کوم خلق چه د آزادو ښځو سره د نکاح کولو طاقت نه لری هغوی د وینځو سره نکاح اوکړی لیکن د وینځے سره د نکاح کولو دپاره د هغے د مالک اجازت شرط دے . د دے ایت نه امام شافعیؒ په دے دلیل نیولے دے چه د چا د آزادے ښځے سره د نکاح کولو طاقت وی هغه دپاره د وینځے سره نکاح جائز نه ده ځکه چه د شرط د مفهوم تقاضا ده . او اهلِ حجاز وائی چه د غیر طاقت لرونکی دپاره د کتابیے وینځے سره نکاح جائز نه ده ځکه د مِنْ فَتَيَاتِكُمُ نه روستو د الْمُؤْمِنَاتِ قید موجود دے . لیکن د امامِ ابوحنیفه رحمة الله علیه په نزد وینځه خواه مؤمنه وی یا کتابیه په هرصورت کښ ورسره نکاح جائز ده د حُرّے (آزادے) سره د نکاح طاقت لری یا نه لری ځکه چه فَانْكِحُوا مَا طَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ او وَأُحِلَّ لَكُمْ مَا وَرَاءَ ذَٰلِكُمْ دواړه مطلق دی چه د وینځے د نکاح په جواز باندے دلالت کوی . او تخصیص او تقیید دپاره د دلیل ضرورت دے . باقی پاتے مفهوم شرط او مفهوم صفت نو هغه د امام صاحبؒ په نزد حجت نه دے . کما تقرر فی الاصول .

۲۲ــــٰہ دلته د واده شوو وینځو سزا بیان شویده د چا نه چه زنا اوشی . تا واده شوے آزادے ښځے دپاره د زنا حد سل کوړے دے ځکه چه په سورة نور کښ ذکر دی او وینځے دپاره د هغے په نیم یعنی پنځوس کوړے دی. ذَٰلِكَ لِمَنْ خَشِيَ الْعَنَتَ مِنْكُمْ الخ د عنت نه مراد زنا ده ځکه چه د ابن عباسؓ نه نقل دی. عن ابن عباس رضی الله عنهما هو الزنا لانه سبب الهلاک (مدارک ص ۱۷۱ ج ۱) یعنی د آزادو ښځو طاقت نه لرلو په صورت کښ د وینځو

سره د نکاح اجازت دے د پاره درکړے شویدے چه تاسو په ګناه کښې واقع نه شئ لیکن که چرے تاسو خپل جذبات قابو کړئ او وینځو سره نکاح نه کوئ او د آزادو ښځو سره د نکاح طاقت لرلو پورے انتظار اوکړئ نو دا ستاسو په حق کښې بهتره خیره ده ځکه د وینځے سره د نکاح کولو په صورت کښې به ستاسو اولاد د خپلے مور تابع وی او غلامه وی ددے وینځے مالک به ستاسو اولاد خرڅولے شی. يُرِيْدُ اللّٰهُ لِيُبَيِّنَ لَكُمْ وَيَهْدِيَكُمْ د نکاح متعلق درے احکام بیانولو نه روستوئے د بیان وجه اوښودله چه دا د نکاح د حلت او حرمت احکام دے د پاره بیان کړے شویدی چه تاسو په دے پوهه شئ او په دے باندے عمل اوکړئ د ګناه نه بچ شئ او د انبیاء علیهم السلام او صالحانو په لاره باندے لاړ شئ.

يُرِيْدُ اللّٰهُ لِيُبَيِّنَ لَكُمْ وَيَهْدِيَكُمْ سُنَنَ الَّذِيْنَ مِنْ

الله غواړی چه بیان کړی ستاسو د پاره او بوځی تاسو د مخکینو په لاره

قَبْلِكُمْ وَيَتُوْبَ عَلَيْكُمْ ۗ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿۲۶﴾ وَاللّٰهُ

او معاف کړی تاسو او الله پیژندونکے حکمت والا دے او الله

يُرِيْدُ اَنْ يَّتُوْبَ عَلَيْكُمْ ۚ وَيُرِيْدُ الَّذِيْنَ يَتَّبِعُوْنَ

غواړی چه په تاسو باندے متوجه شی او غواړی هغه خلق څوک چه لګیدلے وی

الشَّهَوٰتِ اَنْ تَمِيْلُوْا مَيْلًا عَظِيْمًا ﴿۲۷﴾ يُرِيْدُ اللّٰهُ اَنْ

د خپلو خواهشاتو د روستو چه تاسو اوګرځئ د لارے نه ډیر لرے ف۱ الله غواړی چه ستاسو نه

يُّخَفِّفَ عَنْكُمْ ۚ وَخُلِقَ الْاِنْسَانُ ضَعِيْفًا ﴿۲۸﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ

بوج سپک کړی او انسان جوړ شویدے کمزورے ف۲ اے ایمان والو!

اٰمَنُوْا لَا تَاْكُلُوْۤا اَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ اِلَّاۤ اَنْ

مه خورئ مالونه د یو بل په خپل مینځ کښې په ناحقه ف۱ ۲۳ لیکن دا چه

تَكُوْنَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِّنْكُمْ ۚ وَلَا تَقْتُلُوْۤا

تجارت وی په خپل مینځ کښې په خوښه او مه وژنئ خپل

أَنفُسَكُمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا ﴿٢٩﴾ وَمَن يَفْعَلْ

مه وژنئ بېشکه الله په تاسو باندې مهربان دی . او څوک چه دا کار اوکړي

ذَٰلِكَ عُدْوَانًا وَظُلْمًا فَسَوْفَ نُصْلِيهِ نَارًا ۚ وَكَانَ

په تجاوز او ظلم سره نو موږ به هغه واچوو په اور کښې او دا په

ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرًا ﴿٣٠﴾ إِن تَجْتَنِبُوا كَبَائِرَ مَا

الله تعالی باندې اسانه ده ۳۰ف که چېرې تاسو بچ اوسېږئ د هغه غټو

تُنْهَوْنَ عَنْهُ نُكَفِّرْ عَنكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ وَنُدْخِلْكُم مُّدْخَلًا

نه کوم چه په ګناهونو کښې لوئ دي نو موږ به معاف کړو ستاسو نه واړه ګناهونه ستاسو ۳۲ف او داخل به

كَرِيمًا ﴿٣١﴾ وَلَا تَتَمَنَّوْا مَا فَضَّلَ اللَّهُ بِهِ بَعْضَكُمْ عَلَىٰ

کړو تاسو د عزت مقام کښې ۵۵ف او ارزو مه کوئ کوم څيز کښې چه الله زيات والی کړی دی يو ته په بل

بَعْضٍ ۚ لِّلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا اكْتَسَبُوا ۖ وَلِلنِّسَاءِ

باندې ۲۵ف سړو د پاره حصه ده د خپلې ګټې نه او د ښځو د پاره

نَصِيبٌ مِّمَّا اكْتَسَبْنَ ۚ وَاسْأَلُوا اللَّهَ مِن فَضْلِهِ ۗ

حصه ده د خپلې ګټې نه او غواړئ د الله نه د هغه فضل

إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا ﴿٣٢﴾ وَلِكُلٍّ جَعَلْنَا

بېشکه الله ته هر څيز معلوم دی ف او هر چا د پاره موږ مقرر

مَوَالِيَ مِمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالْأَقْرَبُونَ ۚ وَالَّذِينَ عَقَدَتْ

کړي دي وارث د هغه مال کوم چه پرېږدي مور پلار او خپلوان او د چا سره چه عهد شوی

أَيْمَانُكُمْ فَآتُوهُمْ نَصِيبَهُمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدًا ﴿٣٣﴾ ع

دی ستاسو هغوی ته ورکړئ د هغوی حصه بېشکه د الله په وړاندې دی هر څيز ښکاره ف

نکات: ۱ــ دا د رعیت یولسم حکم دی یتیم د مال او وراثت او مهر نه علاوه په هیڅ طریقه هم حرام مال مه خورئ دا حرام خوړل د خپل ځان د قتلولو برابر دی. ۲ــ دولسم حکم د کومو وارثانو حصې چه زیاتې دی هغوی ته پوره حصې ورکړئ او د خپل حق نه د زیاتو اخستلو کوشش مه کوئ. ۳ــ دنیوی نصرت او امداد او خیرخواهي مراد ده شریک مه حصه مراد نه ده کما قال ابن عباس لهذا دا آیت منسوخ نه دے.

موضح قرآن ف۱ یعنی ناکاره صحبت چه د انسان زړه ناکاره کارته واړدی او د شرع پابندیې پرے کړدي. ف۲ یعنی په شرع کښې دغه خیزتګی نشته چه څوک د حلال پریږدي او حرامو ته د مائل شي.

ف۳ یعنی مغرور نه شئ چه مونږ مسلمانان یو ولے دوزخ ته څو الله پاک دے دا هم ساتنه ده. ف۴ کبیره ګناه هغه ده په کوم چه قرآن یا حدیث کښې صفا وعده د دوزخ ورکړے شوي ده یا د الله د غصے یا یې ورله حد مقرر کړے دے. او صغیره هغه ده د کوم نه یې چه منع کړے ده دے نه نور څه زیات نشته.

ف۵ ښځو د نبي علیه السلام نه تپوس اوکړو چه څه وجه ده چه الله تعالی هر ځائي سړو د پاره حکم بیانوي. د ښځو نوم نه اخلي او په میراث کښې یې د سړي حصه دوچند مقرر کړه په دے باندے دا آیت نازل شو.

ف۶ اکثر خلق نبي علیه السلام سره یو ځائے مسلمانان شوي ولو د هغوي خپلوان کافران پاتے وو نو نبي علیه السلام دوه دوه مسلمانان په خپلو کښې رونړه کړل. هم هغوي به د یو بل وارث کیدل چه کله د هغوي رشته داران مسلمانان شو نو هغه وخت دا آیت نازل شو چه میراث به رشته دارئ دے او د قول (ژبے) د رور سره به ژوند کښې ښه سلوک دے یا د مرګ په وخت څه وصیت اوکړئ.

فتح الرحمن ف۱ ګناه کبیره هغه ده چه په هغې باندے حد مشروع شوے وي. یا د دوزخ وعده شوے وي یا په کفر سره د هغې نوم کینبودے شوے وي په قرآن یا صحیح سنت کښې. او هر څوک چه د کبائرو نه ځان اوساتي نو مونځ، روژه او صدقه د هغه واړه ګناهونه ختموي.

ف۲ یعنی حلیف د پاره څه رعایت کول یا وصیت کول کیدے شي او دوي به میراث کښې څه حصه نشته او میراث د رشته دارو د پاره مقرر کړے شوے دے.

تفسیر: ۱ــ دا د رعیت یولسم حکم دے. مخکښې یې د حرام مال خوړلو د دریو مخصوص طریقو نه منع اوفرمائیله. د یتیم مال په ناحقه خوړل، د ښځې مهر بغیر د معافئ نه نه ورکول. او په میراث کښې د وارثانو حق وهل. اوس دلته یې د حرام مال خوړلو نه عامه منع اوکړه چه په هیڅ یو ناجائزه طریقه هم د چا مال مه خورئ. وَلَا تَقْتُلُوٓا اَنْفُسَكُمْ او حرام مال خوړلو او شرک کولو سره او دا شان په نورو ګناهونو سره په خپلو ځانونو باندې ظلم مه کوئ او خپل ځانونه په هلاکت کښې مه اچوئ ځکه چه دا سے ګناهونه کول د خپلو

ځانونو د قتلولو برابر دی. المعنی لا تهلکوا انفسکم بارتکاب الآثام کاکل الاموال بالباطل وغیره من المعاصی التی تستحقون بها العقاب (روح ص۱٦ ج ٥) یا دا په خپل ظاهر دے او په دیکښې د یو بل د وژلو نه نهی ده.

۳۳ کبائر د کبیره جمع ده. د کبائرو نه مراد هغه ګناهونه دی په کوم کښې چه کتاب او سنت کښې سزا او وعید راغلے وی. یا هره ګناه د خپل ماتحت په اعتبار سره کبیره ده. او بعضو ویلی دی چه د کبائرو نه دلته د کفر او شرک قسمونه مراد دی. حملوا قوله تعالی کبائر ما تنهون عنه علی انواع الشرک والکفر (بحر ص۲۳۲ ج ۳) یعنی که چرے تاسو د کفر او شرک د ټولو قسمونو نه ځان اوساتئ نو باقی ګناهونه چه الله او غواړی نو معاف به یے کړی. لیکن شرک به نه شی معاف کیدے.

۳۵ د رعیت دولسم حکم :- (د کومو وارثانو حصے چه زیاتے دی هغوی ته پوره پوره حصه ورکړئ او د خپل حق نه د زیات اخستلو خواهش مه کوئ) دلته د تفضیل نه د میراث په حصو کښې تفضیل مراد دے په قرینه د لِلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا اكْتَسَبُوا الخ د وارثانو حصے کم او زیاتے مقرر شویدی. د چا حصه زیاته ده او د چا کمه ده دے وجے نه حکم ورکړے شو چه د چا حق وهل او د هغه په حصه کښې ځان ته ګډول خو پریږده. داخو بنکاره ظلم دے تاسو د خپلے حصے نه د زیات اخستلو ارزو هم مه کوئ. اول یے اوفرمائیل چه د خلقو مالونه په باطل طریقو مه خورئ اوس یے اوفرمائیل چه په باطله طریقه د مال خوړلو خیال هم د زړه نه اوباسئ. وَلِكُلٍّ جَعَلْنَا مَوَالِيَ مِمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالْأَقْرَبُونَ د هر انسان نه خپل وارث وی د دے وجے نه د هر یو د پاره د میراث نه خپله خپله حصه اخستل پکار دی. او د یو بل د حق اخستلو تمنا او ارزو کول پکار نه دی. بین تعالی ان لکل انسان ورثة وموالی فلینتفع کل واحد بما قسم الله له من المیراث ولا یتمن مال غیره (قرطبی ص۱٦۵ ج ٥)

د بعضو مفسرینو قول دے چه په جاهلیت کښې به یو سړی د بل سړی سره د موالاتو عقد کولو او د هغوی په مینځ کښې به دا فیصله کیدله چه د یو سره جنګ به د بل سره جنګ او د یو سره صلح به د بل سره صلح شمارلے شی او د وارو به د یو بل تاوان ادا کوی او د واړه به یو د بل نه میراث اوړی. دا شان به مولی موالات ته د میراث شپږمه حصه ملاویدله د اسلام په شروع کښې هم به دے باندے د عمل کولو حکم په خپل حال پاتے وو نکه چه په وَالَّذِينَ عَقَدَتْ أَيْمَانُكُمْ فَآتُوهُمْ نَصِيبَهُمْ کښې هم دا حکم ذکر دے بیا دا حکم د دے ایت په اولے حصے یعنی وَلِكُلٍّ جَعَلْنَا مَوَالِيَ او دویم ایت د میراث سره منسوخ شو (ابن کثیر وغیره) لیکن حضرت ابن عباسؓ او مجاهد فرمائی چه د هجرت نه روستو نبی علیه السلام د انصارو او مهاجرینو په مینځ کښې چه کوم اخوت او رورولی قائم کړے وه د هغے په وجه به هر مهاجر د خپل انصاری رور وارث ګرځیده او د انصاری رشته دار به وارث نه ګرځیده چه کله دا ایت نازل شو (وَلِكُلٍّ جَعَلْنَا مَوَالِيَ) نو هغه حکم منسوخ شو. د دے نه روستو وَالَّذِينَ عَقَدَتْ أَيْمَانُكُمْ فَآتُوهُمْ نَصِيبَهُمْ سره به

د حلفاؤ او موالیو یعنی د هغه خلقو د حصے ادا کولو حکم ورکړو د چا سره سے چه دیو بل سره د تعاون او امداد وعده کړے شوے وی. د هغه خلقو د حصے نه د هغوی خیرخواهی هغوی ته آرام رسول او د وعدے موافق هغوی سره تعاون او د وصیت په ذریعه د هغوی مالی امداد وغیره مراد دے. وفی روایة عن ابن عباس رضی الله عنهما اخرجها البخاری وابوداؤد و النسائی و جماعة انه قال فی الآیة کان المهاجرون لما قدموا المدینة یرث المهاجر الانصاری دون ذوی رحمه للاخوة التی اخی النبی صلی الله علیه وسلم بینهم فنزلت (ولکل جعلنا موالی) نسخت ثم قال (والذین عاقدت ایمانکم فاتوهم نصیبهم) من النصر والرفادة والنصیحة وقد ذهب المیراث ویوصی له وروی عن مجاهد مثله (روح ص۲۳ ج ۵ کذا فی القرطبی ص۱۶۵ ج ۵) د اشان د آیت د دیمه حصه د اولے حصے نه منسوخ ویلو ته ضرورت نشته څنګه چه څینو مفسرینو خیال دے. بلکه د آیت دواړه حصے په خپل ځائی محکم او برقرار دی. حضرت شیخ رحمه الله به هم دا توجیه خوښوله هغوی به فرمائیل چه که چرے دیو آیت دوه معانے وی دیو معنے په اعتبار سره آیت منسوخ وی او د دویمے اعتبار سره غیر منسوخ نو آیت به په هغه معنی باندی محمولولے شی کوم سره چه هغه منسوخ نه ګرځی او دے معنے ته معنی ابقائی وائی.

اَلرِّجَالُ قَوّٰمُوْنَ عَلَى النِّسَآءِ بِمَا فَضَّلَ اللّٰهُ بَعْضَهُمْ

سړی حاکمان دی په ښځو باندے ۲۶ په دے وجه چه الله بهتری ورکړیده یو له

عَلٰى بَعْضٍ وَّبِمَآ اَنْفَقُوْا مِنْ اَمْوَالِهِمْ ؕ فَالصّٰلِحٰتُ

په بل باندے ۲۷ او په دے وجه چه خرچ کړو هغوی خپل مالونه بیا چه کوم ښځے نیکے وی

قٰنِتٰتٌ حٰفِظٰتٌ لِّلْغَيْبِ بِمَا حَفِظَ اللّٰهُ ؕ وَالّٰتِىْ تَخَافُوْنَ

تو تابعدارے دی، نګرانی کوی پیشے شا د الله په حفاظت سره ۲۸ کله او د چا د بدخوئی چه ویره

نُشُوْزَهُنَّ فَعِظُوْهُنَّ وَاهْجُرُوْهُنَّ فِى الْمَضَاجِعِ وَ

وی تاسو سره نو هغوی پوهه کړئ او جدا ئے کړئ په اودۀ کیدو کښی (بستره کښی) او

اضْرِبُوْهُنَّ ۚ فَاِنْ اَطَعْنَكُمْ فَلَا تَبْغُوْا عَلَيْهِنَّ سَبِيْلًا ؕ

وہے وهئی بیا که چرے خبره منی ستاسو نو مه تلاش کوئ په هغوی باندی لاره د الزام ۲۹

اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيًّا كَبِيْرًا ﴿۳۴﴾ وَاِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ

بیشکه الله دے د ټولو نه اوچت او لوئی ۳۰ او که چرے تاسو ویریږئ چه هغوی د واړه

بَيْنِهِمَا فَابْعَثُوا حَكَمًا مِّنْ أَهْلِهِ وَحَكَمًا مِّنْ أَهْلِهَا إِنْ

خپل مینځ کښې ضد لری نو اودروئ یو منصف د سړی والونه او یو منصف د ښځو والونه که چیرې

يُّرِيدَآ إِصْلَاحًا يُّوَفِّقِ اللَّهُ بَيْنَهُمَا إِنَّ اللَّهَ كَانَ

دا دواړه غواړی چه صُلح اوکړی نو الله تعالی به موافقت راولی د دواړو کښې بیشکه الله هرڅه

عَلِيمًا خَبِيرًا ﴿٣٥﴾ وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَ

پیژندونکے او خبردار دے . او بندګی کوئ د الله او شریک مه جوړوئ هغه سره هیڅوک او

بِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا وَبِذِي الْقُرْبَىٰ وَالْيَتَامَىٰ وَالْمَسَاكِينِ

مور پلار سره نیکی کوئ ښکله او رشته دارانو سره او یتیمانو او فقیرانو سره

وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبَىٰ وَالْجَارِ الْجُنُبِ وَالصَّاحِبِ بِالْجَنبِ

او همسایه نزدے او همسایه لرے سره او خواکښې ناست کس سره

وَابْنِ السَّبِيلِ وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ

او مسافر سره او خپل لاس مال یعنی غلام او وینځے سره بیشکه الله نه خوښوی

مَن كَانَ مُخْتَالًا فَخُورًا ﴿٣٦﴾

تکبر کوونکے او ځان لوی ګنړونکے ف۲

نکات: ۱ د رعیت دیارلسم حُکم: په وراثت کښې بیشکه ښځے د سړو سره شریکے دی لیکن د دوه وجونه الله تعالے سړی په ښځو باندے حاکمان مقرر کړیدی ۱۲
۲ د رعیت څوارلسم حُکم که چیرے د خاوند او ښځے په مینځ کښې اختلافات پیداشی نو مسلمانانو له د هغوی په مینځ کښې د اصلاح کوشش کول پکار دے ۱۲ ۳ تردے ځائ پورے څوارلس انتظامی اُمور بیان شویدی چه د هغے خلاصه دا ده چه ظلم مه کوئ ۱۲
۴ د رعیت د احکامو نه روستو د توحید د اصل مسئلے بیان یعنی په یتیمانو، وارثانو او ښځو باندے ظلم مه کوئ او د الله سره په عبادت او رابللو کښې د هغه مخلوق مه شریکوئ ۱۲

موضح قرآن ف۱ یعنی الله تعالٰی د سړی درجه اعلیٰ اُوګرځوله نو ښځے د پاره حُکم په ځائ راوړل پکار دی او که چیرے یو ښځه بد خوئی اوکړی نو سړی ته ښه ده اوله درجه کښې هغه پوهه کړی او په دویمه درجه کښې د جُدا اُوده شی لیکن هم د هغه کور کښې بیا د په اخری درجه کښې وهل اوکړی لیکن داسے نه چه څه اندام ورله زخمی کړی بیا

کوچې تابعداره شوه نو بیا ورسره څه تعرض مه کوئ په تقصیر باندې. الله په ټولو حاکم دے باقي د هر تقصیر بوختل دے. وهل آخري درجه ده۔

ف۲ یعنی اول د الله حکم ادا کړئ او بیا د مور پلار بیا د دے ټولو درجه په درجه د نزدے کاونډي حق زیات دے د لرے کاونډي نه. نزدے یعني رشته دار او د خوا کښې ناستی چه په څه کار ورسره شریک وي مثلاً د یو اُستاذ شاګردان د یو مالک دوه نوکران او نوریې چه د دوي حق نه ادا کوي هغه دي د چا په مزاج کښې چه تکبر او د ځان لوئي وي چه څوک هم د خپل ځان برابر نه ګنړي ۱۲

فتح الرحمٰن

ف۱ یعنی په سبب د هغې چه سړي په پیدائش کښې د ښځو نه بهتر دي ۱۲

ف۲ مترجم وائي چه په دے آیت کښې بیان کړیدے چه سړے حاکم دے د پیدائش د فضیلت او د مال خرچ کولو په وجه. او هغه ښځه صالحه ده چه تابعداري کوي او د مال حفاظت کوي. والله اعلم ۱۲

ف۳ یعنی د ضرر رسولو حیلے مه تلاش کوئ ۱۲

تفسیر:- ۲۶ د رعیت دیارلسم حکم :- په وراثت کښې بیشکه ښځې هم سړو سره شریکے دي لیکن د دوي خیرد په وجه الله تعالی سړي په ښځو باندے منتظم مقرر کړیدي او هغوي ته یے په دوي باندے د اُوچتوالي او تسلط شان ورکړیدے. بِمَا فَضَّلَ اللّٰهُ بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ کښې باء سببیه ده. او دا د سړو په ښځو باندے د قوام او حاکم کیدو او دے عزت دے. یعني الله تعالی سړو ته د علم او عقل او فهم تدبر، قوت او قدرت کښې په ښځو باندے چه کوم اُوچتوالے او فضیلت ورکړیدے. د دے په وجه هغوي د دے شرف مستحق دي چه د کار انتظام د دوي په لاس کښې وي. او هغوي ته په ښځو باندے تسلط حاصل وي. وَبِمَآ اَنْفَقُوْا مِنْ اَمْوَالِهِمْ دلته هم با سببیه ده او دا د تسلط دویم علت دے یعني خاوند ښځې ته مهر ورکوي او د هغې په خوراک او استوګنه، کپړو او نورو ضروریاتو باندې د خپل جیب نه روپئ خرچ کوي د دے وجے نه لازمي طور باندے سړي ته په ښځه باندې فضیلت حاصل دے او هغه په ښځه باندے د حاکم کیدو مستحق دے.

۲۷ لِلْغَیْبِ کښې لام په معنیٰ د فی دے ای یحفظن انفسهن و فروجهن فی حال غیبة ازواجهن (روح ص۲۳ ج۵) بِمَا کښې باء سببیه او ما مصدریه دے. ما مصدریة ای بحفظه تعالی ایاهن بالامر بحفظ الغیب والحث علیه بالوعد والوعید والتوفیق له (ابوالسعود ص۳۱۱ ج۳) ۲۸ چه د دوؤ وجونه سړو د پاره په ښځو باندے اُوچتوالے او بالادستي حاصله شوه نو اوس په ښځو باندے فرض دي چه هغوي د خپلو خاوندانو اطاعت اوکړي او هغوي وفادار اوسیږي او د هغوي په امانت کښې خیانت نه کوي. قال ابن عباس امروا علیهن فعلی المراة ان تطیع زوجها فی طاعة الله (خازن ص۴۳۲ ج۱) نو په نیکو بیبیانو کښې په دا صفتونه موجود دي. قٰنِتٰتٌ هغوي د خپلو خاوندانو وفادارے وي. حٰفِظٰتٌ لِّلْغَیْبِ الخ او د الله د طرفنه د حفاظت او نګرانۍ په توفیق سره د خاوندانو په عدم موجودګۍ کښې د خپل عزت، عفت او

عصمت حفاظت کوی.- وَالّٰتِيْ تَخَافُوْنَ نُشُوْزَهُنَّ فَعِظُوْهُنَّ الخ دنشوز نه نافرمانی او د خاوند د اطاعت نه نفرت او دخاوند سره د بداخلاقۍ سلوك مراد دے. نشوزهن عصیانهن وترفعهن عن اطاعة الازواج (مدارك ص۱۶۵ ج ۱) یعنی کومے ښځے چه دخاوند اطاعت نه کوی او د بداخلاقۍ اظهار کوی نو هغوی ته نصیحت اوکړئ او د خدائ ویره وریاده کړئ وَاهْجُرُوْهُنَّ فِي الْمَضَاجِعِ که چرے د زبانی وعظ او نصیحت په دوی باندے څه اثر نه وی نو هغوی سره یو ځائ کیدل او همبستری پریږدئ کیدے شی چه دے سره هغوی نافرمانی او بد خوئ پریږدی. وَاضْرِبُوْهُنَّ که چرے دے سره هم هغوی متأثره نه شی او هم هغه شان خپل شرارت او نافرمانی جاری اوساتی نو د سزا په طور هغوی اووهئ لیکن دومره بے مه وهئ چه د ظلم حد ته اورسیږئ او هغوی زخمی کړئ یا د هغوی اندامونه مات کړئ. فَاِنْ اَطَعْنَكُمْ فَلَا تَبْغُوْا عَلَيْهِنَّ سَبِيْلًا لیکن که چرے هغوی ستاسو اطاعت اوکړی او ستاسو حقونه په ځائ راوړی نو هغوی سره هیڅ قسم تعرض مه کوئ او هغوی ته تکلیف مه ورکوئ.

۲۸ه د رعیت څوارلسم حکم:. که چرے د خاوند او ښځے په مینځ کښی اختلاف پیدا شی نو د اصلاح کوشش اوکړئ که چرے د خاوند او ښځے په مینځ کښی اختلاف نافرمانۍ او مخالفت حد ته اورسیږی او وعظ او نصیحت او وهلو ټکولو نه روستو هم د دوی په مینځ کښی د صلح کوم صورت په نظر نه راځی نو په مسلمانانو باندے فرض دی چه هغوی د دوی په مینځ کښی د اصلاح کوشش اوکړی په دے شان چه د دواړو د رشته دارانو نه یو یو هوښیار او په معامله پوهه کسان منتخب کړی او هغوی د ښځے او خاوند په مینځ کښی په اصلاح باندے مقرر کړی. اِنْ يُّرِيْدَآ اِصْلَاحًا يُّوَفِّقِ اللّٰهُ بَيْنَهُمَا د يُرِيْدَا نه دواړه فیصله والا مراد دی او د بَيْنَهُمَا ضمیر زوجینو ته راجع دے یعنی که چرے هغه دواړه فیصله والا په نیک نیتۍ سره د ښځے او خاوند په مینځ کښی د اصلاح کوشش اوکړی نو الله تعالیٰ به د هغوی په زړونو کښی الفت او محبت واچوی او د هغوی په مینځ کښی به موافقت پیدا کړی. ای ان قصدا اصلاح ذات البین وکانت نیتهما صحیحة وقلوبهما ناصحة لوجه الله تعالی (یوفق الله بینهما) یوقع بین الزوجین الموافقة والالفة والقی فی نفوسهما المودة و الرأفة (ابو السعود ص۳۲۰ ج ۳) تر دے ځایه پورے د رعیت د پاره څوارلس انتظامی امور یا په نورو الفاظو کښی د رعیت احکام ذکر شول.

۲۹ه د رعیت د احکامو بیانولو نه روستو اصل مسئله یعنی د توحید مسئله یے ذکر کړه. اَعْبُدُوا اللّٰهَ صرف د یو خدائ عبادت په ځائ راوړئ صرف هغه ته اوازکوئ قال ابن عباس المعنی وحدوه (کبیر ص۳۲ ج ۳) وَلَا تُشْرِكُوْا بِهٖ شَيْئًا او د هغه په عبادت کښی او رابللو کښی د هغه کوم مخلوق هغه سره شریک مه جوړوئ نه پیغمبران او ولیان، نه فرشتے او پیریان د دے نه روستو وَبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا نه واخله وَكَانَ اللّٰهُ بِهِمْ عَلِيْمًا پورے شلور شیزونه بیان شوی دی.- مور پلار، نور رشته داران، یتیمان، غریبانان، ګاونډیا

الَّذِينَ يَبْخَلُونَ وَيَأْمُرُونَ النَّاسَ بِالْبُخْلِ وَيَكْتُمُونَ

مَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ وَأَعْتَدْنَا لِلْكَافِرِينَ عَذَابًا

مُهِينًا وَالَّذِينَ يُنْفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ رِئَاءَ النَّاسِ وَلَا

يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْآخِرِ وَمَنْ يَكُنِ

الشَّيْطٰنُ لَهٗ قَرِيْنًا فَسَآءَ قَرِيْنًا ﴿٣٨﴾ وَمَاذَا عَلَيْهِمْ لَوْ

شیطان شو نو هغه ډیر ناکاره ملګرے دے ول اوڅه نقصان وو د دوی که چیرته

اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَاَنْفَقُوْا مِمَّا رَزَقَهُمُ

ایمان یې راوړے وے په الله باندے او د قیامت په ورځ باندے او خرچ کړے یې د الله ورکړے

اللّٰهُ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ بِهِمْ عَلِيْمًا ﴿٣٩﴾ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَظْلِمُ مِثْقَالَ

شوے مال او الله د دوی نه بنه خبر دے بیشکه الله ظلم نه کوی په څپا دیوے ذرے

ذَرَّةٍ ۚ وَاِنْ تَكُ حَسَنَةً يُّضٰعِفْهَا وَيُؤْتِ مِنْ لَّدُنْهُ

برابر څه او که چیرے نیکی وی نو هغه دوچنده کوی او ورکوی د خپل طرفه لوئ

اَجْرًا عَظِيْمًا ﴿٤٠﴾ فَكَيْفَ اِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ اُمَّةٍۭ بِشَهِيْدٍ

ثواب ول بیا به څه حال وی چه کله موږ راوبلو هر اُمت نه احوال بیانوونکے ول

وَّجِئْنَا بِكَ عَلٰى هٰٓؤُلَاۗءِ شَهِيْدًا ﴿٤١﴾ يَوْمَىِٕذٍ يَّوَدُّ الَّذِيْنَ

او را وبلو تا لره په هغه خلقو باندے احوال بیانوونکے والا په دغه ورځ به آرزو کوی هغه خلق چه

كَفَرُوْا وَعَصَوُا الرَّسُوْلَ لَوْ تُسَوّٰى بِهِمُ الْاَرْضُ ۭ وَلَا يَكْتُمُوْنَ اللّٰهَ حَدِيْثًا

کوم کافران شوی وو او د رسول نافرمانی یې کړے وه چه برابر کړے شي زمکه سره ول ۴۲ او نه به پټوی الله څخه خبره

نکات:- سل د امرِ ثالث بیان یعنی ظلم مه کوئ شرک مه کوئ او احسان کوئ. ۱۲
سلے زجر سره د تخویفِ اُخروی هغه خلقو دپاره کوم چه پورته ذکر شوو مصارفو کښ مال
خرچ کول جائز نه ګنړی ۱۲ سلے یعنی یا خرچ کوی لیکن مقصود محض ریا کاری نمائش
او نوم شهرت وی ۱۲ سکے زجر سره د تخویفِ اُخروی ۱۲
سه ترغیب الی الاحسان نن وخت دے د خرچ کولو الله به دے په بدله کښ
دوچنده ورکړی لهٰذا تاسو ته پکار دی چه حسنه مضاعفه حاصل کړی ۱۲ سلا تخویفِ اخروی ۱۲

موضحِ قرآن ف۱ یعنی په مال ورکولو کښ بخل کول شکه چه د الله په نزد بد
دی د غسے خلقو ته د ښودلو دپاره هم ورکول بد دی او قبول هغه دے کوم چه عقلاً و
ته ورکړی د کوم ذکر چه اول اوکړے شو او په الله باندے یقین لرلو سره او د آخرت اُمید
سره ورکړی۔
ف۲ یعنی د الله په لاره کښ خرچ کولو کښ هیڅ قسمه نقصان نشته. او د آخرت ثواب

بے شمیره دے او په دنیا کښې هم عوض ییامومي په دے باندے د خدائ رسول قسم خوړلے دے.

ف یعني د هر اُمت او د هر زمانے خلقو احوال به د هغه وخت پیغمبر او د معتبر نیک بختو خلقو په خُوله بیانولے شي. د مُنکرینو انکار او د تابعدارانو د تابعدارئ بیان به وي هغه وخت به منکرین آرزو او کړي چه هونږ انسانان نه وے خاورو سره برابر شوے دے او خاورے شوے وے.

فتح الرحمٰن :- ف یعني د هغوي نوم نشان پاتے نه شي ۱۲

تفسیر ۴۰ دلته د احسان کولو ترغیب ورکړے شویدے چه اوس وخت دے مال خرچ کړئ اوس د احکام خداوندي مطابق د خرچ کولو اجر وثواب به خوچنده زیات ملاویږي په دے وجه دا موقعه ضائع نه کړئ.

۴۱ دا د ماقبل تخویف تکمله ده یعني چه کله د قیامت په ورځ د تیرشوو اُمتونو منکرینو خلاف د هغوي نبیانو گواهي ورکړي. او اے محمد ﷺ تاسو د خپے زمانے د مشرکانو او کافرانو خلاف گواهي ورکړئ هغه وخت به د دوي څه حال وي هغه وخت به د دوي حالت د بیانولو نه وي. او د ډیرے سختئ او د عذاب د ویرے د وجے نه به هغوي خواهش کوي چه په زمکه کښې ځائ کړے شي څنګه چه په راتلونکي ایت کښې ذکر دی. کیف یکون حالهم اذا جئنا یوم القیامة من کل امة من الامم وطائفة من الطوائف بشهید یشهد علیهم بما کانوا علیه من فساد العقائد وقبائح الاعمال وهو نبیهم (روح ص ۳۳ ج ۵) په دے ایت کښې نبي علیه السلام د پاره د شهید لفظ استعمال شویدے چه د دے سره اهل بدعت د نبي علیه السلام د هر اُمتي سره د حاضر ناظر کیدو باندے استدلال کوي لیکن دا استدلال صحیح نه دے ځکه چه د شهید معنی دلته رقیب او نګهبان ده او بیا دا نګهباني هم د نبي علیه السلام د ژوند پورے مخصوص وه څنګه چه په صحیح بخاري کښې دي (ص ۶۶۵ ج ۲) چه نبي علیه السلام اُوفرمائیل چه د قیامت په ورځ به څما د اُمت ځینے خلق جهنم ته بوتلے شي نو زه به الله ته عرض اوکړم چه دا خما اُمتیان دي. په دے سره به ما ته جواب راکړے شي چه ستا سو نه روستو دے خلقو چه کوم څه کړیدي هغه تاسو ته معلوم نه دي نو :- فاقول کما قال العبد الصالح وکنت علیهم شهیدا مادمت فیهم فلما توفیتني کنت انت الرقیب علیهم (زه به په جواب کښې هغه څه اووایم کوم چه به د الله نیک بنده عیسیٰ علیه السلام وائي چه ترڅو پورے زه په دوي کښې موجود وم په دوي باندے نګران وم او چه کله تا زه پورته کړم نو ته د دوي نګهبان وے) په دے وجه د دے ایت نه د نبي علیه السلام په هره زمانه کښې په هرځائ کښې په حاضر ناظر کیدلو باندے استدلال صحیح نه دے. د شهید د لفظ پوره بحث په سورة بقره ع ۱۷ کښې د ایت وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا د تفسیر لاندے تیرشویدے.

۴۲ دلته د کافرانو او نافرمانو حال بیان شویدے د کوم طرف نه چه مخکښې اشاره کړے شوے وه. استیناف لبیان حالهم التي اشیر الی شدتها وفظاعتها (روح ص ۳۳ ج ۵) لَوْ تُسَوّٰی

کښې لَوْ مصدریه دے او جمله په تاویل د مفرد سره دیَوَدُّ مفعول دے۔ لو مصدریة ای
یودون ان یدفنوا وتسوی الارض ملتبسة بهم (روح)

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَقْرَبُوا الصَّلٰوةَ وَاَنْتُمْ سُكٰرٰى

اے ایمان والو! نزدے مه ورځئ مانځه ته کوم وخت چه تاسو نشه کښې یئ تر څو

حَتّٰى تَعْلَمُوْا مَا تَقُوْلُوْنَ وَلَا جُنُبًا اِلَّا عَابِرِيْ سَبِيْلٍ

نزدے چه پوهه شئ په هغې کوم څه چه وائی دا او نه هغه وخت چه د غسل حاجت وی لیکن په

حَتّٰى تَغْتَسِلُوْا ؕ وَاِنْ كُنْتُمْ مَّرْضٰٓى اَوْ عَلٰى سَفَرٍ اَوْ

لاره تلونکی نزدے چه غسل اوکړئ ۳۲ او که چرے تاسو بیمار یئ یا سفر کښې یئ یا

جَآءَ اَحَدٌ مِّنْكُمْ مِّنَ الْغَآئِطِ اَوْ لٰمَسْتُمُ النِّسَآءَ فَلَمْ

راغے څوک سړے ستاسو نه د ضرورت د ځائ نه یا ورنزدے شوی یئ ښځو ته بیا ملاو نه شو

تَجِدُوْا مَآءً فَتَيَمَّمُوْا صَعِيْدًا طَيِّبًا فَامْسَحُوْا بِوُجُوْهِكُمْ

تاسو ته اوبه نو اراده اوکړئ د زمکے پاکے بیا اومږئ خپل مخونه

وَاَيْدِيْكُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَفُوًّا غَفُوْرًا ﴿۴۳﴾ اَلَمْ تَرَ اِلَى

او لاسونه بیشکه الله دے معاف کوونکے بخښونکے والا دے آیا تا اونه کتل

الَّذِيْنَ اُوْتُوْا نَصِيْبًا مِّنَ الْكِتٰبِ يَشْتَرُوْنَ الضَّلٰلَةَ

هغه خلق چاته چه ملاو شوے وو څه حصه د کتاب نه ۳۵ اخلی گمراهی

وَيُرِيْدُوْنَ اَنْ تَضِلُّوا السَّبِيْلَ ﴿۴۴﴾ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِاَعْدَآئِكُمْ

او غواړی چه تاسو هم ورک شئ د لارے نه (لار ورکه کړئ) او الله ښه پیژنی ستاسو دشمنان

وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَلِيًّا ۙ وَّكَفٰى بِاللّٰهِ نَصِيْرًا ﴿۴۵﴾ مِنَ الَّذِيْنَ

او الله کافی دے حمایت کوونکے او الله کافی دے مدد کار ۳۶ بعضے هغه خلق چه یهود یان

هَادُوْا يُحَرِّفُوْنَ الْكَلِمَ عَنْ مَّوَاضِعِهٖ وَيَقُوْلُوْنَ سَمِعْنَا

دی اړوی خبرے د خپلو ځایونو نه او وائی مونږ واوریدل

وَعَصَيْنَا وَاسْمَعْ غَيْرَ مُسْمَعٍ وَّرَاعِنَا لَيًّا بِأَلْسِنَتِهِمْ وَطَعْنًا

او نه یې منو او واوره چه واورولے و نه شې او وائي راعِنَا کښې اړوي ژبې خپلې او عیب لګوي

فِي الدِّينِ وَلَوْ أَنَّهُمْ قَالُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا وَاسْمَعْ وَانْظُرْنَا

په دین کښې او که چرې هغوی ویلې منو او اوریدلی او وو منل او واوره او په موږ نظر وکړه

لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ وَأَقْوَمَ وَلَٰكِن لَّعَنَهُمُ اللَّهُ بِكُفْرِهِمْ فَلَا

نو بهتر به وے دوی ته حق کښې او صحیح لیکن لعنت اوکړو په هغوی باندې الله د هغوی د کفر په

يُؤْمِنُونَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿٤٦﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ آمِنُوا

سبب نو هغوی ایمان نه راوړي لیکن ډیر کم ورکړے شوې اے کتاب والو! ایمان راوړئ په هغه

بِمَا نَزَّلْنَا مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَكُم مِّن قَبْلِ أَن نَّطْمِسَ

باندې کوم چه موږ نازل کړو کوم تصدیق کوي د هغه کتاب کوم چه تاسو سره دے مخکښې د هغې نه چه

وُجُوهًا فَنَرُدَّهَا عَلَىٰ أَدْبَارِهَا أَوْ نَلْعَنَهُمْ كَمَا لَعَنَّا أَصْحَابَ

موږ ختم کړو ډیر مخونه بیا اُلټه کړو هغه شا طرفته یا لعنت اوکړو هغه باندې څنګه چه لعنت

السَّبْتِ ۚ وَكَانَ أَمْرُ اللَّهِ مَفْعُولًا ﴿٤٧﴾ إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن

اوکړو اموږ د خالی ورځ والا باندې او د الله حکم خرور کړے شوې دے بیشکه الله نه بخښي هغه څوک چه الله

يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَاءُ ۚ وَمَن

لره شریک جوړ کړي او بخښي د دې نه لاندې ګناه چا له چه اوغواړي او چا چه

يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدِ افْتَرَىٰ إِثْمًا عَظِيمًا ﴿٤٨﴾ أَلَمْ تَرَ إِلَى

شریک جوړ کړو الله لره هغه لویې طوفان اوتړلو
ایا تا اونه لیده هغه څوک

الَّذِينَ يُزَكُّونَ أَنفُسَهُم ۚ بَلِ اللَّهُ يُزَكِّي مَن يَشَاءُ

چه خپل ځان ته پاکیزه وائي ډیر بلکه الله پاکیزه کوي چا له چه اوغواړي

وَلَا يُظْلَمُونَ فَتِيلًا ﴿٤٩﴾ انظُرْ كَيْفَ يَفْتَرُونَ عَلَى اللَّهِ

او په هغوی به ظلم نه کیږي د تار برابر هم اوګوره څنګه جوړوي په الله باندې

الْكَذِبَ ؕ وَكَفٰى بِهٖۤ اِثْمًا مُّبِيْنًا ﴿۵۰﴾

دروغ او کافی دے دغه گناه ښکاره وسے

نکات: ۔ ‌ ف ۱ أمور ثلاثو (ظلم مه کوئ، شرک مه کوئ احسان کوئ) ته روستو امر مصلے یعنی د مونځ بیان ځکه چه مونځ د احسان کولو او د ظلم او حق تلفئ نه د بچ کیدو او په توحید باندے په قائم پاتے کیدو کښ معاون دے ۱۲

ف ۲ دا د لَا تَقْرَبُوا انتهاء ده په قید د وَاَنْتُمْ سُكٰرٰى سره ۱۲ ف ۳ دلته صنعت استخدام دے که چرے د الصلوٰة نه مراد مونځ وی نو مسافر د عذر په صورت کښ تیمم اوکړی۔ او که چرے د الصلوٰة نه مراد مسجد وی نو مطلب دا دے چه د جماعت نه د جنابت په حالت کښ د تللو اجازت دے ۱۲

ف ۴ دا د لَا تَقْرَبُوا انتهاء ده په قید د جُنُبًا سره ۱۲ ف ۵ او تغایر مفهوم د پاره دے۔ ۱۲

ف ۶ زجر اهل کتابو د پاره ۱۲ ف ۷ دا د الَّذِيْنَ اُوْتُوا بیان دے ۱۲ ف ۸ دا په معنی د اسم فاعل دے او د يحرفون یا د يقولون ضمير نه حال دے ۱۲ ف ۹ ترغیب الی التوحید سره د تخویف اخروی نه یعنی اوس د ایمان راوړلو وخت دے او عذاب راتلو سره به هیڅ اونکړے شئ ۱۲

ف ۱۰ د زجرونو په مینځ کښ په اصل مقصد باندے د وباره تنبیه یعنی ټول احکام اومنئ۔ لیکن شرک ډیره لویه بلاء ده د دے نه ضرور ځان بچ کړئ دا داسے ده لکه چه واعظ وائی چه په دے خبرو باندے عمل اوکړئ لیکن فلانئ خبره ډیره اهمه ده لهٰذا واعبدوا الله و لا تشرکوا سره یے تړلی اوکړلو او ویلے شو چه شرک مه کوئ ځکه چه دا په هیڅ حیله نه معاف کیږی ۱۲ ف ۱۱ اول زجر اهل کتابو د پاره چه خپل ځان ته پاک ویلو سره نه پاکیږی۔ مشرک شکه پاکیدے نشی ۱۲

موضح قرآن ف د یعنی په دے ایت کښ ذکر دے د تیمم کوم ذکر چه اوشو۔ چه کافران به په اخرت کښ ارزو کوی چه خاورو سره ملاؤ شو سے د خاورو نه د انسان پیدائښت دے او د خپل پیدائښت طرفته تلل د گناهونو نه خلاصیدی د دے وجه نه یے په خاورو مَکلو سره هُم طهارت اوفرمائیلو۔ اول یے حُکم اوکړو چه په نشه کښ مانځه ته مه ځئ دا حُکم هغه وخت وو کوم وخت چه نشه حرامه شوے نه وه لیکن د مانځه نه یے مانع کړځولے وه۔ او اگرچه د خوب نه بیهوشی وی یا د بیماری په وجه سره۔ د خپلے خُلے په الفاظو باندے نه پوهیږی نو په دے حالت کښ مونځ صحیح نه دے. بیا د قضا اوکړی بیا یے اوفرمائیل چه په جنابت کښ مانځه ته مه ځئ تر څو چه غُسل اونکړئ لیکن په لاره تلونکی په سفر کښ اچه دے حُکم ته راځئ بیا یے اوفرمائیل چه که چرے د اوبو عذر وی او طهارت ضروری وی نو تیمم سره مونځ اوکړئ د اوبو عذر یے په درے صورتونو سره بیان کړو او د طهارت ضروری کیدل د وه صورتونو سره یو صورت د اوبو د عذر دا چه مریض وی او اوبه

ضرر ورکوي. دریم دا چه سفر ځکه ته دے اوبه یې د څښلو دپاره ساتې وي ځکه چه اوبه ډیرلرے پورے نه ملاویږي. دریم د چه اوبه موجود نه وي. دے دریم سره یې دوه صورتونه د طهارت د ضرورت اوفرمائیل یو دا چه دا سړے د قضاء حاجت د ځائ نه راغے دا اودس حاجت دے. دویم دا چه دے د ښځے سره یو ځائ شو د غسل حاجت دے او د تیمم طریقه دا ده چه پاکه زمکه باندے دوه ځل لاسونه اووهي بیا یې په مخ باندے راکاږي بیا دوباره لاسونه اووهي بیا لاسونه راکاږي تر څنګلو پورے.

ف۲ یهودو ته یې اوفرمائیل چه د کتاب څه حصه ورته ملاؤ شوید ه یعنی الفاظ ئې ورسره او په معنی یو هیدل ورته ملاؤ شویدي او عمل کول نه دي ملاؤ شوي.

ف۳ د راعنا لفظ به یې وئیلو ددے بیان په سورة بقره کښې اوشو د شان په نبي علیه السلام خبرے کولے نو په جواب کښې به یې وئیل چه مونږ واوریدل ددے معنی دا ده چه قبول مو کړل لیکن په مزه به یې وئیل چه نه یې منو یعنی فقط غوږونو سره مونږ واوریدل زړه سره مونږ نه دي اوریدلي او نبي علیه السلام ته به یې خطاب کولو نو وئیل به یې واوره وانه وروے شې په ظاهر کښې د نیکه دعا ده ته همیشه غالب یې څوک د تاته بده خبره وانه ورووي او په زړه کښې به یې د نیت کولو ته ښه شے دا دے شرارت به یې کولو بیا به یې په دین کښې عیب لګولو چه که چرے د سړے نبي وے نو زمونږ دهوکه به یې معلومه کړے هغه الله ظاهر کړه او واضح یې کړه.

ف۴ یعنی ایمان راوړئ مخکښې د هغې نه چه عذاب بیا موئی. صورت به مو بدل کړے شي او شناوره ورنه جوړ کړے شي د خلی د ورځے والو پشان د هغوی بیان سورة اعراف کښې دے. ف۵ د یهودیانو د نبي علیه السلام سره مخالفت شو نو د مکے مشرکانو سره متفق شول او د هغوی د وجه نه یې د بتانو تعظیم کولو او وئیل به یې چه ستاسو لاره بهتره ده د مسلمانانو نه. او د اټول د دوی حسد و وجه نبوت او ریاست د دین زمونږ نه سوا بل چاته ورکړے شو. الله پاک په دے باندے دوی ته الزام ورکوي په دے نېټولو ایتونو کښې دا ذکر شویدے.

فتح الرحمن

ف۱ مترجم وائي چه دا حکم د شرابو د حرمت نه مخکښې وو د دینه روستو نشه بالکل حرام شوه. والله اعلم ؏ ف۲ مترجم وائي چه الله تعالیٰ د یهودیانو په رد او د دوی د قباحتونو په شمېرلو کښې ایتونه رالیږل والله اعلم

ف۳ مترجم وائي چه د خبرے تاؤول دا دي چه په کلام کښې محتمل داسے کلمه ووه کړي چه څوک یې نه پېژني. وَاسْمَعْ غَيْرَ مُسْمَعٍ. دوه معنے لري یوه دا چه واوره په داسے حال کښې چه معظم او محترم یې او څوک تا سره خلاف مرضي خبره نه شي کولے. بله دا چه واوره په داسے حالت کښې چه حقیر یې او څوک تاته خبره نه کوي. او رَاعِنَا هم دوه معنے لري یوه دا چه رعایت اوکړه زمونږ او بله دا چه احمق بیوقوفه رعونت لرونکے. د دوی غرض کنځل وو د دوو معنو محتمل کلمه به یې کوله. والله اعلم.

ف ۲ یعنی وائی چه بنی اسرائیل د خدائی غوره شوی خلق دی او دوی د پاره به عذاب نه وی لیکن شو ورسره ۱۲۰

تفسیر ۳۳ دا امر مصلح دے د رجینه د پاره یے شوارلس انتظامی امور بیان کړل او وے فرمائیل چه صرف د یو الله عبادت کوئ او د شرک نه ځان بچ کړئ. مسے نه روستو یے د احسان کولو او د ظلم نه د بچ کیدو تلقین اوکړو او د زجر او تخویف په ذریعه یے انفاق او احسان باندے نیزول اوکړل. او د ټولو په اخر کښ یے امر مصلح یعنی د مانځه ذکر اوکړو ځکه چه مونځ په احسان کولو کښ او د ظلم او د حق تلفئ نه بچ کیدو کښ او په توحید باندے قائم پاتے کیدو کښ امداد کوونکے دے. په مانځه سره په زړونو کښ د محبت او الفت جذبه پیدا کیږی. خصوصاً د جمع مانځه په برکت سره د زړونو نه ټول خیرے صفا کیږی. او انسان په خپلو رونړو او رشته دارو باندے انعام او احسان ته اماده کیږی. ځکه چه د نبی علیه السلام ارشاد دے سَوُّوا صفوفکم او لیخالفن الله بین قلوبکم (مشکوٰة ص۹۷ بحواله مسلم) یعنی صفونه برابر کړئ کنې نو ستاسو په زړونو کښ به نفرت او عداوت پیدا شی دے نه معلومه شوه چه د جمع سره مونځ ادا کولو او صفونو برابرولو سره په زړونو کښ الفت پیدا کیږی. دا شان د مونځ پابندئ سره د مونځګو ار په زړه کښ د ګناهونو نه نفرت پیدا کیږی او متقی جوړیږی. حدیث کښ راغلی دی چه کله انسان په مانځه کښ قیام کوی نو ګویا چه هغه د الله په مخکښ ولاړ وی او عاجزی کوی او په هغه د الله رحمت وریږی چه کله رکوع ته ځی نو د الله د رحمت په دریاب کښ غوپه کیدو د پاره تیارے کوی او چه کله سجدے ته لاړ شی نو ګویا چه د رحمت په دریاب کښ غوپه وهی او ګویا بلا تشبیه د الله په قدمونو یے سر ایښے دے بیا چه ځکه په قدمونو باندے پریوتونکی ته وئیلے شی چه اوس سر اوچت کړه دا شان الله تعالیٰ حکم ورکړو چه اوس سر اوچت کړه هغه سړے سر اوچت کړی بیا دوباره په قدمونو باندے پریوځی (کنز العمال) د بدن طهارت او اودس چونکه د مونځ صحیح کوونکے دے. او د دے نه بغیر مونځ نه جائز کیږی. د دے وجے نه په مانځه سره یے د بدن طهارت او د اودس احکام ذکر کړل. د غسے طهارت هم بالواسطه په احسان کولو کښ امدادی دے.

۳۴ حَتّٰی تَغْتَسِلُوْا د جُنُبًا سره متعلق دے او د عَابِرِیْ سَبِیْلٍ نه مسافر مراد دی الا ان تکون مسافرین (مدارک ص۱۷۶ ج ۱) او دا د ماقبل نه مستثنٰی ده یعنی د جنابت په حالت کښ مانځه ته نزدے مه ورځئ تر دے چه غسل اوکړئ لیکن که چرے جنب شئ او اوبه نه ملاویږی نو تیمم اوکړئ د دے تفصیل مخکښ راځی. یا دلته د صنعت استخدام دلاندے حَتّٰی تَعْلَمُوْا مَا تَقُوْلُوْنَ پورے د الصلوٰة نه مونځ مراد دے او په وَلَا جُنُبًا کښ د الصلوٰة نه مواضع الصلوٰة یعنی جماتونه مراد دی او په عَابِرِیْ سَبِیْلٍ سره د جماتونو نه تیریدل مراد دی. مطلب دا دے چه د جنابت په حالت کښ تاسو په جماتونو کښ تیریدے شئ ځکه چه دا امام شافعیؒ مذهب دے. ولا جنبًا ای ولا تقربوا المسجد جنبا الا عابری

سبیل الا مجتازین فیه (مدارک) اَوْ جَآءَ اَحَدٌ مِّنْكُمْ مِّنَ الْغَآئِطِ دلته اَوْ په معنی د واو حالیه سره دے ځکه چې که چرته اَوْ په خپله اصلي معنی پاتے شي نو دے نه به لازم شي چه مریض او مسافر باندے بغیر د حدث نه هم تیمم ضروري دے حالانکه داسے نه دي. قال الرازي معناه وجاء حتی لا یلزم المریض والمسافر التیمم بلا حدث (مدارک ص۲۳۰ ج۱) ځینو شیو دي چه دلته اَوْ زائد دے او ځینو دے نه مخکښې څه مناسب معطوف علیه محذوف منلے دے لیکن د بتولونه اولي دا دلا چې اَوْ که د تغیر مفهوم د پاره هم راځي ځکه چه په مسلم الثبوت کښې دي. قاله الشیخ الانور رحمة الله علیه.

۳۵ د اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ نه تر فَلَا يُؤْمِنُوْنَ اِلَّا قَلِيْلًا پورے په یهودو باندې زجرونه او شکوے دي چه هغوی ذکرشوي احکام نه مني ځکه چې د احکام د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه راوړلے شویدي د ا شان به هغوی د نبي علیه السلام تکذیب کړیو او د هغوی په کتابونو کښې چه د نبي علیه السلام کوم صفتونه ذکرشوي وو په هغې کښې به یې تحریف کولو ځکه چه د نبي علیه السلام اخري پیغمبر منلو په صورت کښې د هغوی راوړلے شوے د توحید مسئلے منل به هم لازم کیدل. او د توحید مسئله د منلو سره به د هغوی ګدۍ نذرانه منتلے او بتول وقار ختم شي. هغوی ته یې اوفرمائیل چه که چرته هغوی اخري پیغمبر منلے دے نو هغوی د پاره بهتره وه د يَشْتَرُوْنَ معنی يَسْتَبْدِلُوْنَ ده او د مفعول نه روستو بِالْهُدٰى محذوف دے او د اُوْتُوْا د جملے نه حال دے. و معنی یشترون یستبدلون فهو في موضع نصب علی الحال وفي الکلام حذف تقدیره یشترون الضلالة بالهدی (قرطبي ص۲۴۲ ج۵) په مِنَ الَّذِيْنَ هَادُوْا کښې مِنْ بیانیه دے او اَلَّذِيْنَ اُوْتُوْا نَصِيْبًا د پاره بیان دے او د الْكَلِمَ نه مراد د نبي علیه السلام هغه صفات دي کوم چه په تورات کښې ذکرشوي وو د یهودو عالمانو به په هغې کښې تحریف کولو د هغوی د غه تحریف یې اول په الضَّلٰلَةَ سره تعبیر او کړو د یهودیانو عالمانو به د خپلو منونکونه او د خپلو معتقدینونه لوی لوی رقمونه وصولول او د خپلو خواهشاتو مطابق به یې په تورات کښې لفظي او معنوي تحریفونه کول قال الزجاج المعنی یأخذون الرشا ویحرفون التوراة فالضلالة هو هذا التحریف ای اشتروه بدل الرشا (روح ص۴۷ ج۵)

۳۶ دا د یهودیانو د دویم شرارت بیان دے د یهودو منافقانو به دے الفاظو سره نبي علیه السلام مخاطب کولو دا الفاظ ذو وجهین دي یعنی اړخه لري. او د یکښې یو اړخ د مدح دے او دویم د ذم. د مدح په صورت کښې دا د اسمع فلان فلانا اذا سبه نه ماخوذ دے او مطلب دا دے اسمع غیر مسمع مکروها (مدارک ص۲۳۱ ج۱) یعنی خدائ د وکړي چه تاسو کومه ناخوښه خبره وانه وری او د ذم په صورت کښې د دے مفهوم دا دے چه خدائ د اوکړي چه ستا اسو غوږ ونو ته کوم د خیر او خوشحالۍ خبر اونه رسیږي. یعنی اعیاذ بالله ته کونړ شے. په دے الفاظو سره خو به د هغوی مراد دویمه معنی وه. لیکن ظاهرول به یې دا چه هغوی اوله معنی مراد کوي د ا شان لفظ رَاعِنَا هم ذو وجهین دے یو مفهوم

ښود دے چه په ضبرو کښې زمونږ خیال هم اوساته او زمونږ طرفته هم توجه اوکړه. دویم
د رعونت په معنی د حماقت (بیوقوفتیا) سره اسم فاعل دے په دیکښې به هم هغوی په
بټ سره دو بګه معنی مراد اخستله یا داچه هغوی به ژبه اړوله او لفظ راعنا به یې دا شان
اد به وچه هغه به راعینا جوړیدو چه د هغې مطلب دے زمونږ شپونکے. لَيًّا حضرت شیخ
نرم فرمائي چه دا مصدر په معنی د اسم فاعل د یحرّفون د ضمیر نه حال دے او مطلب دا دے
چه هغوی دا دے موهم الفاظ استعمالوی چه د هغې یو اړخ صحیح وی لیکن په هغې کښې بل
اړخ د شرک هم وی چه د هغې نه د دوی مقصد دا دے چه دا قسم موهم شرک الفاظ په
مسلمانانو کښې رواج بیا مومی چه مخکښې تلو سره د شرک ذریعه جوړه شی نو لفظ راعنا هغوی
دے دپاره منتخب کړو چه په دیکښې نبی معنی سره د شرکیه مفهوم ګنجائش هم شته په
ظاهره دے معنی دا ده چه زمونږ خیال هم اوساتئ او زمونږ طرفته هم توجه اوکړئ.
لیکن په دیکښې د نبی علیه السلام د نګهبانئ او حفاظت دپاره د اوانه کولو اړخ هم موجود
دے. څنګه چه په صراح کښې دی. مراعاة نګهداشتن (یعنی نګهبانی کول) و استرعاء نګهداشتن
خواستن (یعنی نګهبانی جوړول) فی المثل من استرعی الذئب فقد ظلم یعنی چا چه شرمخ د رمے
نګهبان جوړ کړو هغه ظلم اوکړو. دا شان دلته هم د لیّ مفهوم هغه دے کوم چه د سورة
آل عمران ع ۸ کښې دے دے آیت دے. وَاِنَّ مِنْهُمْ لَفَرِيْقًا يَّلْوٗنَ اَلْسِنَتَهُمْ بِالْكِتٰبِ الآية
او د مفسرینو لیًّا د یقولون سره متعلق کړیدے یعنی هغوی خپلے ژبے د حق نه باطل
طرفته اړخوی او د الله په کتاب کښې تحریف کوی ای یلوون السنتهم عن الحق ای یمیلون الی
ما فی قلوبهم (قرطبی ص ۲۴۳ ج ۵) یا داچه هغوی خپلے ژبے د ما فی الضمیر (د زړه د خبرے) نه اړوی
د هغې خلاف اظهار کوی. مثلا په زړه کښې خود پیغمبر علیه السلام د تحقیر حیٰ په چیپه
وهی لیکن په ژبه دا سے الفاظ ادا کوی چه د هغې نه د تعظیم او توقیر اړخ هم ظاهریږی.
ویفتلون بالسنتهم مایضمرونه من الشتم الی ما یظهرونه من التوقیر نفاقا (مدارک ص ۱۷۸ ج ۱)
۷۸ دا اهل کتابو ته د ایمان راوړلو او د توحید منلو ترغیب دے او وسره تخویف اخروی
دے یعنی اوس وخت دے ایمان راوړئ مخکښې د هغې نه چه زمونږ عذاب راشی چه کله
عذاب نازل شی بیا به د ایمان راوړلو هیڅ فائده نه وی. اِنَّ اللّٰهَ لَا يَغْفِرُ اَنْ يُّشْرَكَ
۷۹ د زجرونو او تخویفونو په مینځ کښې یو ځل بیا زوردار الفاظو کښې مقصود اصلی باندے تنبیه
ورکړه چه شرک کول او د توحید نه منع اړول لوئ جرم او کبیره ګناه ده چه هغه به هیڅ
کله نه شی معاف کولے. دا ناصحانه انداز دا سے دے څنګه چه یو واعظ حکیم او مشفق
د وعظ دوران کښې ډیرے مسئلے بیان کړی او په مینځ کښې او وائی چه فلانے کار ډیر
اهم او ضروری دے او ددے په ځای راوړل ضروری دی اول یے د رعیت احکام بیان
کړل وَاعْبُدُوا اللّٰهَ وَلَا تُشْرِكُوْا بِهٖ شَيْئًا سره یے اصل مسئلے طرفته متوجه کړل چه صرف
د الله عبادت کوئ او د هغه په عبادت او د بللو کښې هیڅوک مه شریکوئ دے نه روستو یے
په طور د ترقی اوفرمائیل چه شرک مه کوئ ځکه چه هغه بوه ناقابل معافی ګناه ده دده

نه به هرحال کښې څان بچ اوساتئ دا په هیڅ حیلے سره نه شی معاف کیدے.

۳۸ دا اهلِ کتابو ته زجر دے چه د ځپلے صفایئ او پاکیزګئ دعوے به یے کولے حضرت قتاده او حسن فرمائی چه دا آیت د هغه یهود او نصارو په حق کښې نازل شو چه وئیل به یے نَحۡنُ اَبۡنٰٓؤُا اللّٰهِ وَ اَحِبّٰٓؤُهٗ یعنی مونږ د الله ځامن او د هغه دوستان یو او دا شان به یے وئیل لَنۡ یَّدۡخُلَ الۡجَنَّةَ اِلَّا مَنۡ کَانَ هُوۡدًا اَوۡ نَصٰرٰی یعنی جنت ته به د یهودیانو او نصارو نه بغیر هیڅوک نه ځی. (قرطبی ص ۲۴۶ ج ۵ و روح ص ۵۳ ج ۵) په دے بانػے الله تعالیٰ د هغوی د دعوے ابطال اوکړو چه د دوی د ځپلے پاکیزګئ او طهارت دا دعوے ټولے غلطے دی پاک او صفا خو هغه دی څوک چه الله تعالیٰ د هغه د ایمان او عمل په بناء پاک کړی، اُنۡظُرۡ کَیۡفَ یَفۡتَرُوۡنَ عَلَی اللّٰهِ الۡکَذِبَ. لیکن د دوی دا دواړه دعوے په الله بانػدے بنکاره بهتان دے ځکه چه د دوی د دعوے مطلب دا دے چه الله پاک هغوی خپل محبوب منتخب کړیدی او هغوی سره یے وعده کړیده چه جنت د دوی د پاره مخصوص دے حالانکه دا قول غلط او خلاف واقع دی. وافتراءهم علی الله هو قولهم نحن ابناء الله واحباءه وقولهم لن یدخل الجنة الا من کان هودا او نصاری (کبیر ص ۳۴۵ ج ۳)

اَلَمۡ تَرَ اِلَی الَّذِیۡنَ اُوۡتُوۡا نَصِیۡبًا مِّنَ الۡکِتٰبِ یُؤۡمِنُوۡنَ

ایا تا اونه کتل هغه خلقو ته چاته چه ملاؤ شویده څه حصه د کتاب چه منی (ایمان لری)

بِالۡجِبۡتِ وَ الطَّاغُوۡتِ وَ یَقُوۡلُوۡنَ لِلَّذِیۡنَ کَفَرُوۡا هٰۤؤُلَآءِ

بُتان او شیطان ۳۹ او وائی کافرانو ته چه دا خلق زیات

اَهۡدٰی مِنَ الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا سَبِیۡلًا ﴿۵۱﴾ اُولٰٓئِکَ الَّذِیۡنَ

په نیغه لاره دی د مسلمانانو نه ۴۰ دا هغه دی چه

لَعَنَهُمُ اللّٰهُ ؕ وَ مَنۡ یَّلۡعَنِ اللّٰهُ فَلَنۡ تَجِدَ لَهٗ نَصِیۡرًا ﴿۵۲﴾

لعنت کړیدے په دوی بانػدے الله او په چاچه لعنت اوکړی الله نه به بیا مومے ته د هغوی څوک

اَمۡ لَهُمۡ نَصِیۡبٌ مِّنَ الۡمُلۡکِ فَاِذًا لَّا یُؤۡتُوۡنَ النَّاسَ

مددګار. ایا د هغوی څه حصه ده په بادشاهئ کښې بیا به دوی نه ورکوی خلقو ته کجورے هډوکی د دانے

نَقِیۡرًا ﴿۵۳﴾ اَمۡ یَحۡسُدُوۡنَ النَّاسَ عَلٰی مَاۤ اٰتٰهُمُ اللّٰهُ مِنۡ

په برابر ۴۱ دوی حسد کوی خلقو سره په هغے بانػدے کوم چه ورکړیدے الله د خپل

فَضْلِهٖ ۚ فَقَدْ اٰتَيْنَآ اٰلَ اِبْرٰهِيْمَ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَ

فضل نه لکه نو مونږ ورکړې دے د ابراهیم په خاندان کښی کتاب او علم او

اٰتَيْنٰهُمْ مُّلْكًا عَظِيْمًا ﴿٥٤﴾ فَمِنْهُمْ مَّنْ اٰمَنَ بِهٖ وَمِنْهُمْ

هغوی ته مونږ ورکړې ده او یو بادشاهي بیا د هغوی نه چا اومنلو او څوک د هغے نه

مَّنْ صَدَّ عَنْهُ ۭ وَكَفٰى بِجَهَنَّمَ سَعِيْرًا ﴿٥٥﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ

لرے شول ۲ څه او ورته کافی دے دوزخ لمبے وهونکے اور ۲ بیشکه څوک چه

كَفَرُوْا بِاٰيٰتِنَا سَوْفَ نُصْلِيْهِمْ نَارًا ۭ كُلَّمَا نَضِجَتْ جُلُوْدُهُمْ

منکر شول زمونږ د اٰیتونو نه هغوی به مونږ واچوو په اور کښی څه وخت چه اوسوزی څرمنه

بَدَّلْنٰهُمْ جُلُوْدًا غَيْرَهَا لِيَذُوْقُوا الْعَذَابَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ

د هغوی نو مونږ به بدل کښی ورکړو هغوی ته نورے څرمنے دے د پاره چه اوڅکی عذاب بیشکه الله د

عَزِيْزًا حَكِيْمًا ﴿٥٦﴾ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ سَنُدْخِلُهُمْ

زبردست حکمت والا او کومو خلقو چه ایمان راوړو او کارونه یے اوکړل نیک خامخا هغوی

جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ۭ لَهُمْ

مونږ داخل کړو په باغونو کښی چه د هغے د لاندے یے بهیږی نهرونه او سیږی به په هغے کښی همیشه هغوی

فِيْهَآ اَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ ۡ وَّنُدْخِلُهُمْ ظِلًّا ظَلِيْلًا ﴿٥٧﴾ اِنَّ اللّٰهَ

د پاره هلته ښځے دی پاکے او صفا او هغوی به مونږ داخل کړو په ګڼړو سورو کښی. بیشکه الله تاسو

يَاْمُرُكُمْ اَنْ تُؤَدُّوا الْاَمٰنٰتِ اِلٰٓى اَهْلِهَا ۙ وَاِذَا حَكَمْتُمْ

ته فرمائی چه اورسوئی امانتونه امانت والو ته ۳ او چه کله فیصله کوئ خلقو

بَيْنَ النَّاسِ اَنْ تَحْكُمُوْا بِالْعَدْلِ ۭ اِنَّ اللّٰهَ نِعِمَّا يَعِظُكُمْ

کښی نو فیصله اوکړئی په انصاف سره ۴ الله ښه نصیحت کوی تاسو ته

بِهٖ ۭ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ سَمِيْعًۢا بَصِيْرًا ﴿٥٨﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا

بیشکه الله دے اوریدونکے کتونکے ۵ ۳ اے ایمان والو ۱

أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنكُمْ ج

حکم اومنئ د الله او حکم اومنئ د رسول او د حاکمانو کوم چه ستاسو نه وي

فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ

بیا چیرے جګړه اوکړئ په څه څیز کښې نو هغه واپس کړئ د الله طرفته او د رسول طرفته

إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ذَٰلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا ﴿٥٩﴾ ع

که چیرے یقین لرئ په الله او د قیامت په ورځ، دا خبره ښه ده او ډیر بهتره ده د انجام وی فته

نکات:- سلے زجر ثانی د اهلِ کتابو د پاره د شیطان او بُتانو عبادت کوونکی هدایت موندونکی نشی کیدے ۱۲ سلے یقولون د یومنون تفسیر دے ۱۲ سلے دا هم زجر دے د فخر خبرے کوی ولے د الله په بادشاهئ کښې د دوی څه حصه ده؟ نه بلکه دوی حاسدان دی ۱۲ سلے آل ابراهیم ته الله کتاب او حکمت او بادشاهی ورکړے وه د اشان مؤمنانو ته هم الله کتاب ورکړو او بادشاهی به ورکړی ۱۲

سلے اهلِ کتابو کښې دوه ډلے دی مؤمنان او کافران ۱۲ سلے تخویفِ اخروی د اهلِ کتابو کافرانو د پاره ۱۲ سلے بشارتِ اخروی د اهلِ کتابو مؤمنانو د پاره ۱۲ سلے د سورت د دویم حصے ابتداء:- د احکامِ سلطانیه بیان ۱۲ سلے اولنے حکم سلطانی۔ حکامو ته حکم ورکړے شو چه د حقدارو حقونه د خلقو نه واخلئ (او حقدارو ته یے ورکړئ) او حکم بالعدل کوئ، او رعیت ته حکم ورکړے شو چه د حکامو تابعداری اوکړئ او د دے حاکمانو باندے فیصلے اوکړئ ۱۲

موضح قرآن ف۱ یعنی همیشه الله د ابراهیم په کور کښې بزرګی ورکړیده او س هم په دے کور کښې ده بیا چه څوک یے نه قبلوی نو هغه بے انصاف دے.

ف۲ یعنی په امانت کښې خیانت مه کوئ او په فیصله کښې د چا خاطر مه کوئ خواه د رشوت په واسطه وی یا د چا په واسطه (سفارش) سره. دا عادتونه په یهودیانو کښې ډیر زیات وو. د دے وجے نه څنے کچه مسلمانان به د قضیے فیصله کولو نبی علیه السلام ته نه راتلل چه هغوئ به د چا خاطر اونکړی او د یهودیانو عالمانو ته به ورتلل چه هغوی به د زمونږ خاطر اوکړی ورانده یے په مسلمانانو باندے قید اولګولو چه ترڅو په هره قضیه کښې او په هر حکم کښې رسول ته رجوع اونکړئ او د زړه نه په هغه راضی نه شئ تر هغے پورے په تاسو کښې ایمان نشته.

ف۳ د اختیار والا پادشاه او قاضی او څوک چه په کوم کار مقرر کړے شوے وی د هغه په حکم تلل ضروری دی ترڅو چه هغه د خدائ او پیغمبر خلاف حکم نه ورکوی که چیرے بنکاره د حکم خلاف اوکړی نو هغه حکم د نه منی نو که چیرے دوه مسلمانان جګړه کوی۔

بو وژنې شي چه شرعه ته رجوع اوکړي دوېم او وئیل چه زه خو شرعه له پیغمبر یا نما وته رجوع
کوم نو دا نشته هغه پیشکه کافر دے۔

فتح الرحمٰن

ف۱ په دے ایت کښې تعریض دے په دے خبره باندے چه یهود د احزاب په ورځ باندے د مشرکانو مدد کار شول۔
ف۲ وتقبیر بیو داغ دے د کهجورے د هډوکی پښا باندے وی۔ ف۳ په دے ایت کښې
اشاره ده قصې د عثمان صحابي ته چه د هغه دلاس نه یې د کعبې کلیانے واخستلے او
سپرو هغه د نبي علیه السلام ته اوغوښتلے نبي علیه السلام هغه ورنکړے او عثمان ته یې واپس
ورکړے۔ ف۴ مترجم وائی چه د کمزوری اسلام والاخلاق به د خواهش نفس خلاف د
شرع په حکم باندے نه راضي کیدل او کله به یې کاهنانو او د کفر سردارانو ته رجوع کوله.
چه کله نبي علیه السلام هغوی ته په دے سزا او زوړنه ورکوله او قسمونه به یې خوړل چه
زمونږ مقصد د نبي علیه السلام مخالفت نه دے الله په دے باره کښې ایت را اولیږلو۔ والله اعلم

تفسیر

ف۵ دا هم اهل کتابو ته زجر دے هغوی به د شیطان او بتانو عبادت کولو
ته هدایت یافته وئیل او د الجبت نه بتان او هر معبود غیر الله مراد دے
او د الطاغوت نه مراد شیطان دے کوم چه بتانو کښې خبرے کوی او خلق خیال کوی چه
بت خبرے کوی. الجبت الاوثان والطاغوت شیاطین الاوثان ولکل صنم شیطان یعبر
عنه فیغتر به الناس (معالم) او په یقولون کښې واؤ تفسیری دے او یقولون د یؤمنون
تفسیر دے. اهل کتابو ته ښه معلومه وه چه بت پرستي شرک دے لیکن د دے باوجود
به یې د بت پرستئ او د بت پرستو نه صرف حمایت کولو بلکه د دغه مشرکان به یې د
مؤمنانو نه بهتر ګڼڼل نو د دوی دا فعل محض د بغض او حسد او ضد او عناد د وجې
نه وو. لاشك انهم كانوا عالمين بان ذالك باطل فكان اقدامهم على هذا القول لمحض العناد
والتعصب. (کبیر ص۳۴۵ ج۳)

ف۶ یهودیانو به د نبي علیه السلام او مسلمانانو سره ډیر زیات حسد کولو چه
یو طرفته الله تعالٰی هغوی ته حکومت ورکړو او بل طرفته اسلام ورځ په ورځ ترقی
کوله نو په دے باندے الله تعالٰی اوفرمائیل چه دا حسد ولے کوئ ایا دوی سره حکومت
یا بادشاهي ده چه د دوی نه مسلمانانو په زور اخستے وی. که چرے د دوی سره د کوم ځائے
حکومت وے نو دوی به د هغې نه یو معمولي شان څیز هم نه وے ورکړے چه کله دوی
سره هیڅ نشته او نه د دوی نه څه څیز اخستے شوے دے نو د دوی حسد بے وجې د
خفګان دے چه په سورة ص کښې اوفرمائیل. اَمْ عِنْدَهُمْ خَزَائِنُ رَحْمَةِ رَبِّكَ الْعَزِيْزِ
الْوَهَّابِ (ص ع۱)

ف۷ د یهودو د حسد یوه وجه دا هم کیدے شوه چه دوی سره اګر چه بادشاهي خو
نشته لیکن مسلمانانو ته ولے ملاؤ شوه دوی کله د بادشاهئ او نبوت لائق وو نو د دے
جواب یې اوفرمائیلو چه مونږ د خپل فضل او رحمت نه چه کوم نعمتونه مثلاً علم او حکمت

او حکومت وغیره خپل پیغمبر ته ورکړیدي په هغې باندې دوي حسد کوي او هغوي ددې انعاماتو اهل نه ګڼړي حالانکه دا ټول نعمتونه مونږ آل ابراهیم ته ورکړیدي آل ابراهیم ته مونږ نبوت او رسالت هم ورکړو او حکومت هم چه د هغې نه معلومه شوه چې په آل ابراهیم کښې ددې نعمتونو صلاحیت موجود وو او نبي علیه السلام هم د آل ابراهیم نه دے ددې وجې نه په دوي کښې ددې صلاحیت شته. او که چرې هغوي ته مونږ خپل انعامات او احسانات ورکړیدي نو کومه د تعجب خبره ده. آل ابراهیم الذین هم اسلاف محمد علیه السلام وانه لیس ببدع ان یؤتیه الله مثل ما اوتی اسلافه (مدارک ص ۱۸۱ ج ۱)

۴۲ے دلته یې بیان دے چه اهل کتاب دوه قسمه خلق وو یو هغه وو چه ایمان یې راوړے وو او دویم هغه وو چه ایمان یې نه وو راوړے. اِنَّ الَّذِیْنَ کَفَرُوْا بِاٰیٰتِنَا سَوْفَ نُصْلِیْهِمْ نَارًا الخ دا د اهل کتابو منکرینو دپاره اخروي تخویف دے. او وَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ سَنُدْخِلُهُمْ جَنّٰتٍ الخ دا د اهل کتابو مؤمنانو دپاره اخروي بشارت دے تر دے ځایه د رعیت احکام وو اوس د سلطاني احکامو بیان شروع کیږي.

دویمه حصه (سلطاني احکام)

۴۳ے دویم حکم سلطاني :- حقدارو ته د هغوي حقونه ورکړي او فیصلے انصاف سره کوئ. دلته خطاب حاکمانو او د مسلمانانو امیرانو ته دے لکه چه د حضرت علی رض او نورو مفسرینو نه نقل شویدي. قال علی بن ابی طالب وزید بن اسلم وشهر بن حوشب وابن زید هذا خطاب لولاة المسلمین خاصة الخ (قرطبی ص ۲۵۶ ج ۵) دلته حاکمانو او اقتدار والو ته حکم ورکړے شویدے چه حقدارو ته حقونه د خلقو ورله ورکړي او په خپلو کښې جګړے په عدل او انصاف سره فیصله کړي او رعیت ته حکم ورکړے شو دداسے حاکمانو فرمانبرداري کوئ او خپلے جګړے دداسے حاکمانو ته یوسي چه عدل او انصاف سره فیصله اوکړي. حضرت شیخ رحمة الله علیه اوفرمائیل چه د امنت نه دلته مراد عام دے. او دا ددے قسمه ذمه واریانو او د عدل او انصاف فیصلو شامل دے. الخطاب عام یتناول الولاة فیما الیهم من الامانات فی قسمة الاموال ورد الظلامات وعدل الحکومات الخ (بحر ص ۲۷۸ ج ۳) فَاِنْ تَنَازَعْتُمْ فِیْ شَیْءٍ الخ په دیکښې خطاب حکامو او رعایا ته دے. یعنی که چرې د حکامو او رعایا په مینځ کښې څه معامله کښې تنازع او اختلاف پیدا شي نو د هغې د ختمولو صورت دادے چه د هغې متعلق د الله او د هغه د رسول احکامو طرفته رجوع اوکړے شي او د کتاب او سنت نه چه کوم هدایات ملاو شي په هغې باندې عمل اوکړے شي نه دا چه د خوانانو مشاورتي کونسل جوړه کړي او د هغوي فیصلو ته د حرف آخر حیثیت ورکړے شي.

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ آمَنُوا بِمَا أُنزِلَ إِلَيْكَ

وَمَا أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُوا إِلَى

الطَّاغُوتِ وَقَدْ أُمِرُوا أَن يَكْفُرُوا بِهِ وَيُرِيدُ الشَّيْطَانُ

أَن يُضِلَّهُمْ ضَلَالًا بَعِيدًا ۝ وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا

إِلَىٰ مَا أَنزَلَ اللَّهُ وَإِلَى الرَّسُولِ رَأَيْتَ الْمُنَافِقِينَ يَصُدُّونَ

عَنكَ صُدُودًا ۝ فَكَيْفَ إِذَا أَصَابَتْهُم مُّصِيبَةٌ بِمَا قَدَّمَتْ

أَيْدِيهِمْ ثُمَّ جَاءُوكَ يَحْلِفُونَ بِاللَّهِ إِنْ أَرَدْنَا إِلَّا إِحْسَانًا

وَتَوْفِيقًا ۝ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ يَعْلَمُ اللَّهُ مَا فِي قُلُوبِهِمْ فَ

أَعْرِضْ عَنْهُمْ وَعِظْهُمْ وَقُل لَّهُمْ فِي أَنفُسِهِمْ قَوْلًا

بَلِيغًا ۝ وَمَا أَرْسَلْنَا مِن رَّسُولٍ إِلَّا لِيُطَاعَ بِإِذْنِ اللَّهِ

وَلَوْ أَنَّهُمْ إِذ ظَّلَمُوا أَنفُسَهُمْ جَاءُوكَ فَاسْتَغْفَرُوا اللَّهَ

وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُوْلُ لَوَجَدُوا اللّٰهَ تَوَّابًا رَّحِيْمًا ﴿٦٤﴾ فَلَا

د الله نه معافي غوښتلې وے او رسول هم هغوی دپاره بخښنه غوښتلې وے نو ضرور به يې الله معاف کوونکے

وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُوْنَ حَتّٰى يُحَكِّمُوْكَ فِيْمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا

مهربان. نو قسم دے ستا په رب هغوی به مؤمنان نه وي تر دے چه تا منصف اونګړي هغه جګړه کښي کوم چه په

يَجِدُوْا فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا ﴿٦٥﴾ وَ

هغوی کښي راپورته شوے وي بيا نه بيا مومي په خپل زړه کښي تنګي ستا د فيصلے نه او قبول يې کړي خوشحالۍ سره او

لَوْ اَنَّا كَتَبْنَا عَلَيْهِمْ اَنِ اقْتُلُوْٓا اَنْفُسَكُمْ اَوِ اخْرُجُوْا مِنْ دِيَارِكُمْ

که چرے مونږ دوی باندے حکم کولے چه هلاک کړئ خپل ځان او يا اوځئ د خپلو کورو نو نه به

مَّا فَعَلُوْهُ اِلَّا قَلِيْلٌ مِّنْهُمْ ۭ وَلَوْ اَنَّهُمْ فَعَلُوْا مَا يُوْعَظُوْنَ بِهٖ

يې نه کول ليکن لږ د دوی نه او که چرے دا خلق اوکړي هغه کوم چه دوی ته نصيحت

لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ وَاَشَدَّ تَثْبِيْتًا ﴿٦٦﴾ وَّاِذًا لَّاٰتَيْنٰهُمْ مِّنْ لَّدُنَّآ

کولے شي نو ضرور به د دوی په حق کښي بهتر وي او زيات ثابتونکي به وي په دين کښي ﴿٦٦﴾ او هغه وخت به ضرور

اَجْرًا عَظِيْمًا ﴿٦٧﴾ وَّلَهَدَيْنٰهُمْ صِرَاطًا مُّسْتَقِيْمًا ﴿٦٨﴾ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ

ورکړو مونږ دوی ته د خپل طرفه لوئ ثواب. او روان به کړو دوی په نيغه لاره باندے او څوک چه حکم اومني د الله

وَالرَّسُوْلَ فَاُولٰٓئِكَ مَعَ الَّذِيْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مِّنَ النَّبِيّٖنَ

او د هغه د رسول نو هغوی به هغه چا سره وي چا باندے چه الله انعام اوکړو څه چه هغه نبيان،

وَالصِّدِّيْقِيْنَ وَالشُّهَدَآءِ وَالصّٰلِحِيْنَ ۚ وَحَسُنَ اُولٰٓئِكَ

صديقين او شهيدان او نيک بختان دي او ښه دے د هغوی

رَفِيْقًا ﴿٦٩﴾ ذٰلِكَ الْفَضْلُ مِنَ اللّٰهِ ۭ وَكَفٰى بِاللّٰهِ عَلِيْمًا ﴿٧٠﴾ ع

ملګرتيا ﴿٦٩﴾ دا فضل دے د الله د طرفه او الله کافي دے او د علم والا ﴿٧٠﴾

نکات: ۱ - د منافقانو دپاره زجر چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم فيصلے يې کافي نه

ګڼړلے ۱۲۰ ۲ - دا دے تعلق د پيغمبر علیه السلام د ژوند سره دے د مرګ نه پس سره دا دے

هیڅ تعلق نشته ۱۲ ۳ بشارت اُخروی ۱۲ ۴ اطاعت کوُنکو ته به په آخرت کښې د هغوی ملګرتیا نصیب کیږی. اطاعت کوُنکی صدّیقین او شهیدان جوړیږی تنی شنګه چه په سورة حدید کښې یې اُو فرمائیل. انبیاء نشی جوړیدے.

موضح قرآن

ف۱ په مدینه کښې یو یهودی او یو منافق په ظاهره مسلمان دَ وو جګړه اوکړه. یهودی اووئیل چه محمّد صلی الله علیه وسلم ته ورځو. منافق اووئیل چه کعب بن اشرف ته ورځو هغه د یهودیانو سردار وو. آخر نبی علیه السّلام ته راغلل نبی علیه السّلام د یهودی حق ثابت کړو منافق چه بهرته راغے نو وے وئیل چه عمرؓ ته ورځو هغه د نبی علیه السّلام په حُکم د مدینې قاضی وو. منافق خیال اوکړو چه د اسلام طرفداری به اوکړی چه کله لاړل د هغه په مخکښې یهودی اووئیل چه مونږ نبی علیه السّلام ته ورغلی وُو هغوی زمونږ رښتونے کړے یم. حضرت عمرؓ د منافق څټ اووهلو د هغه وارثان راغلل نبی علیه السّلام ته او په هغه سیے د قتل دعوی اوکړه او قسمونه یې خوړل چه مونږ تللی وُو دے د پاره چه کیدے شی هغه صُلح اوکړی. نو هغه وخت دا آیتونه نازل شو. او د هغه نوم یې فاروق کیښودو.

ف۲ یعنی د مالک په حُکم کښې خو د ځان منع هم بکار نه ده. که چرے الله دا سے حُکم کړے وے نو دے منافقانو دا کوم ځائ کولے شوه. دا حُکم خو د نصیحت دے چه په دے باندے روان شئ نو نفاق به ختم شی او مؤمنان به شئ ولے دا غنیمت نه ګنړئ.

ف۳ تبیان هغه دی چا ته چه د الله د طرفه وحی راشی یعنی فرشته په ظاهر کښې پیغام واوروی او صدّیقین هغه دی چه په وحی کښې راشی نو د هغوی زړهٔ مخپله د هغې ګواهی ورکړی او شهیدن هغه دے چه هغه د پیغمبر حُکم دا سے رښتونے اوګنړی چه په هغې باندے ځان قربان کړی. او نیکبخت هغه دے چه د هغه طبیعت په نیکئ پیدا شوے وی نو چه کوم خلق دا سے نه دی لیکن د حُکم په ځائ راوړلو کښې مشغول دی. الله پاک به هغوی هم د دوی نه اُوشماری. ف۴ وړاندے د جهاد ذکر دے.

فتح الرّحمٰن

ف۱ یعنی د جګړه کوُنکو په مینځ کښې ۱۲ ف۲ مترجم وائی چه ضعیف الاسلام خلق چه لا جهاد نه وُو فرض شوے د اسلام دعوت یې قبول کړو چه کله جهاد فرض شو نو د جهاد نه کیناستل او څینې منافقانه کلمات یې وئیل او څینې مخالفینو سره هم کلام شول. د نبی علیه السّلام د مرضئ خلاف راتلے به یې ورکوُله الله تعالےٰ دے باب کښې آیت راولیږلو. والله اعلم ۱۲

تفسیر

ربط کله دا د اطیعوا الله و اطیعوا الرسول سره متعلق دے او هغه یهودیانو او منافقانو د پاره زجر دے چه دعوی به یې کوُله چه هغوی د تورات د تعلیم مطابق په قرآن او آخری پیغمبر باندے د زړهٔ نه ایمان راوړیدے. لیکن د هغوی عمل د دے دعوے بالکل خلاف وُو. امام ثعلبی او ابن ابی حاتم د حضرت عبدالله بن عباسؓ نه نقل کړیدی چه یو منافق چه نوم یې بشر وُو د یو یهودی سره په جګړه شو نو د هغه یهودی

او د هغه دوستانو دے. منافق ته اوویل چه څه د اجګړه مونږ ستاسو پیغمبر ته اوړو نو دے منافق اوویل چه نه حتیٰ د ا فیصله د یهودیانو سردار کعب بن اشرف ته اوړو اخر فیصله عدالت نبوی ته اورسیدله. نبي علیه السلام د فریقینو بیانونه واوریدل او د یهودي په حق کښې یے فیصله اوکړه چه منافق په هغه ډیر خفه شو د هغه خوښ نه پاخیده اوپشر نومے منافق یهودي ته اوویل چه څه حضرت عمرؓ ته ورځو د هغه خیال وو چه هغه به مسلمان اوګنړي او څما طرفداري به اوکړي لیکن هلته رسیدلو سره یهودي حضرت عمرؓ ته اوویل چه رسول الله ﷺ د دے مقدمے فیصله څما په حق کښې کړے ده لیکن بشر د دے باندے راضي نه دے. دا یے چه واوریدل عمرؓ د ننه لاړو او توره یے راوړه او د منافق سر یے د تنے نه جدا کړو او وے فرمائیل چه کوم سړے د الله او د هغه د رسول په فیصله راضي نه وي. څما په نزد د هغه فیصله دا ده. دا شان د الطاغوت نه کعب بن اشرف مراد دے. (روح ص۶۶ ج۵) لیکن د عموم په اعتبار سره طاغوت هر غیر الله معبود ته ویلے شي او په دے ایت کښې هم د عموم الفاظو پیش نظر طاغوت هر غیر الله معبود باندے محمول شوے دے. دا شان په ایت کښې د هغه مشرکانو حال تذکره ده. چه د بزرګان دین بتانو او د هغوي په قبرونو کښې د مافوق الفطرة کرشمے مني د هغوي خانقاهونو ته خپلے جګړے اوړي څنګه یه چه د مکے مشرکانو د حضرت ابراهیم علیه السلام بت نه د تقسیم فیصلے اخستلے او ان صباځنے جاهلان مجرم ته وائي چه ته د فلاني بزرګ په قبر باندے لاس کیږده یا د هغه د روضے ګنبد پر انزه. زه دا خبره د هغه په قبر باندے پردم ته یے یورته کړه. وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا إِلَىٰ مَا أَنزَلَ اللَّهُ وَإِلَى الرَّسُولِ هم د دے ذکر شوے واقعے سره متعلق دے.

۵۵ د مُّصِيبَةٌ نه د قتل ذکر شوے واقعه مراد ده. او د مَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ نه مراد د نبي علیه السلام په فیصله باندے اعتماد نه کول او هغه نا کافي ګنړل دي. څکه چه د قتل مصیبت په هغه باندے هم په دے وجه راغے چه هغه د دربار نبوی فیصله اونه منله. چه کله حضرت عمرؓ بشر منافق قتل کړو نو د هغه وارثان نبي علیه السلام ته راغلل او د مقتول د خون بها (دیت) مطالبه یے اوکړه او قسمونه یے خوړل چه مونږ خپله فیصله رد کړے نه وه بلکه حضرت عمرؓ ته د ورتللو نه زمونږ نیت دا وو چه هغه زمونږ مینځ کښې صلح راولي أُولَٰئِكَ يَعْلَمُ اللَّهُ مَا فِي قُلُوبِهِمْ الله د دوي د زړونو خبرے پیژني او هغه ته معلومه ده چه دوي منافقان دي او ستاسو په مخکښې په دروغو قسمونه خوري. او صریح غلط بیاني کوي. د دے وجے نه تاسو د دوي د بیانونو نه اعراض اوکړئ او د هغوي د خون بها وغیره څیزونو مطالبه مه قبلوئ او هغوي ته بالکل صفا صفا الفاظو او مؤثر انداز کښې د منافقت نه د منع کیدو تلقین اوکړئ.

۵۶ د رسولانو د لیږلو مقصد دا دے چه د هغوي تابعداري اوکړے شي لیکن دا منافقان د طاعت په ځائې په نافرمانئ باندے ټینګ ولاړ دي. وَلَوْ أَنَّهُمْ إِذ ظَّلَمُوا أَنفُسَهُمْ جَاءُوكَ کوم وخت چه هغوي نه دا ګناه شوے وه چه هغوي د پیغمبر علیه السلام د فیصلے

نه اعتراض اوکړو که چرته هغه وخت هغوی په دے باندے پښیمانه شوے وے او د پیغمبر علیه السلام په خدمت کښ حاضر شوے وے توبه ئے وېستلے وے او د اللّٰه تعالیٰ نه ئے معافی غوښتلے وے او نبی علیه السلام هم هغوی دپاره د الله نه د قبولیت توبه او د معافئ سفارش کړے وے، نو یقیناً به الله تعالیٰ د هغوی توبه قبوله کړے وے او د هغوی ګناه به ئے معاف کړے وے. وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُوْلُ و سئل الله تعالیٰ ان یقبل توبتهم ویغفر ذنوبهم (روح ص۵۱۱) د دے ایت تعلق د نبی علیه السلام د وژوند سره دے او د هغوی د قبرونه استمداد او استشفاع جائز نه دے. خنګه چه حضرت مولانا شاه محمد اسحٰق د شاه عبد الحق محدث دهلوی دیو عبارت نه پیدا کیدونکی غلط فهمی ازاله کوئیلے او فرمائیلی ئے دی. حق آنست که انکارِ فقهاء عام است از آنکه استمداد از قبور انبیاء باشد یا از قبور غیر ایشان هم جائز نیست چنانچه از عبارت دیګر کتب فقهاء که در این جواب ایراد کرده شود واضح خواهد ګردید (مسائل اربعین مسئله (۲۰) ص۳۲) ترجمه:- او حق دا دے چه د فقهاؤ انکار عام دے استمداد خواه د انبیاء علیهم السلام د قبرونو نه وی یا د غیر انبیاء قبرونو نه جائز دی خنګه چه د فقهاؤ د نورو کتابونو د حوالو سره به موږ د دے سوال په جواب کښ ذکر اوکړو نو واضحه به شی.

۴۷ دلته د ایمان دپاره درے شرطونه بیان کړے شویدی. اول حَتّٰى يُحَكِّمُوْكَ الخ ستاسو فیصله کونکے اومنی، دویم لَا يَجِدُوْا فِیْٓ اَنْفُسِهِمْ حَرَجًا ستاسو فیصله به په خوشحالئ سره قبول کړی. دریم وَيُسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا ستاسو د فیصلے خلاف به ئے زړه کښ غصه رانه ورشی. حاصل دا چه صرف زبانی اقرار سره مؤمن نشی جوړیدے. تر څو چه اقرار سره عملی طور باندے هم پیغمبر خدا صلی الله علیه وسلم فیصله کونکے اونه منی. تر څو چه ئے ستاسو فیصله د زړه نه قبوله نه کړی. او فیصله د خپل ځان خلاف کیدو په صورت کښ ئے زړه خفه نه وی او نه به ئے د شکایت یو حرف راوړی تر هغے پورے مؤمن نه شی جوړیدے. وَلَوْ اَنَّا كَتَبْنَا عَلَيْهِمْ اَنِ اقْتُلُوْٓا اَنْفُسَكُمْ الخ د دے خلقو دا حالت دے چه په اسانو حکمونو باندے هم عمل نه کوئیلو که چرے دوی باندے سخت احکام فرض کړے شوے وے نو بیا د خو کسانو نه به دوی کښ هیڅوک هم په هغے عمل نه کولے دا احکام خو ډیر اسان دی. که چرے دے خلقو په دے باندے په شوق سره عمل کړے وے نو دیته به دوی خپله فائده وه. په دنیا کښ به هم په ارام سره اوسیدلے او په اخرت کښ به ئے هم لوئی اجر موندلے وے.

۴۸ دا د زړه نه خالص مؤمنانو دپاره اخروی بشارت دے مطلب دا دے چه کوم خلق په احکام الٰهی او ارشادات نبوی باندے پوره پوره عمل کوی او په شوق سره د هغه دا احکامو په وړاندے سر ختنه کړی د قیامت په ورځ به جنت کښ هغوی ته د نبیانو، صدیقینو، شهیدانو او د نیکانو خلقو ملګرتیا نصیب شی. هغوی به جنت کښ دوی سره وی. د دے ایت مطلب دا هرګز نه دے چه د الله او د هغه د رسول اطاعت

سره انسان نبي هم جوړيدے شي ځکه چه رسالت او نبوت وهبي څيزدے چه محض د الله په ورکړے سره حاصليږي کسب او رياضت او د عبادت په کثرت سره نشي حاصليدے ځنکه چه د الله تعالىٰ ارشاد دے. اَللّٰهُ اَعْلَمُ حَيْثُ يَجْعَلُ رِسَالَتَهٗ (انعام ع ۵) نبي عليه السلام نه ددے ايت هم دا مفهوم نقل دے. امام سعيد بن جُبَيرؓ، مسروقؒ، ربيعؒ او سُدي کبير نه نقل دي چه صحابو عرض اوکړو اے د الله رسوله! په دُنيا کښې خو مونږ تاسو سره يو او ستاسو جُدائي نه شو برداشت کولے. ليکن په اخرت کښې به ستاسو درجه چونکه ډيرا اوچته وي ددے وجے نه به ستاسو ملاقات نه شو کولے په دے باندے دا ايت نازل شو. قال اصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم يارسول الله ما ينبغي لنا ان نفارقك في الدنيا فانك لو قدمت رفعت فوقنا فلم نرك فانزل الله ومن يطع الله والرسول الآية (ابن جرير ص ۹۹ ج ۵، ابن کثير ص ۵۲۲ ج ۱) علامه قرطبي فرمائي. اي هم معهم في دار واحدة ونعيم واحد يستمتعون برؤيتهم والحضور معهم لا انهم يساوونهم في الدرجة (قرطبي ص ۲۷۲ ج ۵) او بيا يے په اخر کښې وَحَسُنَ اُولٰٓئِكَ رَفِيْقًا سره ددے خبرے صراحت اوکړو چه دا حضرات ډير ښه ملګري دي ددے مطلب دا دے چه په دے ايت کښې د اُخروي معيت او رفاقت ذکر دے. چونکه د الله او د هغهٔ د رسول اطاعت سره انسان ولي او صديق جوړيدے شي ليکن نبي نه شي کيدے البته په اخرت کښې د نبيانو ملګرے جوړيدے شي ددے وجے نه يے دلته اوفرمائيل چه په اخرت کښې به فرمانبردار خلق د نبيانو او صِدّيقينو او د شهيدانو ملګري وي. او په بل ځائي کښې يے اوفرمائيل. وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖٓ اُولٰٓئِكَ هُمُ الصِّدِّيْقُوْنَ وَ الشُّهَدَآءُ (سورة حديد ع ۲) يعني په الله او د هغهٔ په رسول باندے ايمان راوړونکي صِدّيقين او شهيدان دي. دا يے اونه فرمائيل چه هغوي نبيان دي.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا خُذُوْا حِذْرَكُمْ فَانْفِرُوْا ثُبَاتٍ

اے ايمان والو واخلئ خپله وسله بيا اوځئ ډلے ډلے

اَوِ انْفِرُوْا جَمِيْعًا ﴿۷۱﴾ وَاِنَّ مِنْكُمْ لَمَنْ لَّيُبَطِّئَنَّ فَاِنْ

فوج يا ټول يوځائي ۱ او په تاسو کښې ځنے داسے دي چه خامخا روستو کيږي ښه بيا که

اَصَابَتْكُمْ مُّصِيْبَةٌ قَالَ قَدْ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيَّ اِذْ لَمْ

چرے تاسو ته څه مصيبت اورسيږي نو وائي الله په ما فضل اوکړو چه زهٔ نه وم

اَكُنْ مَّعَهُمْ شَهِيْدًا ﴿۷۲﴾ وَلَئِنْ اَصَابَكُمْ فَضْلٌ مِّنَ اللّٰهِ

د هغوي سره.

او که چرے اورسي تاسو ته فضل د الله د طرفه

لَيَقُولَنَّ كَأَن لَّمْ تَكُن بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُ مَوَدَّةٌ يَٰلَيْتَنِي

نو دا شان به او وائی چه گویا نه وه ستاسو او ده ترمنځه دوستی ای ارمان

كُنتُ مَعَهُمْ فَأَفُوزَ فَوْزًا عَظِيمًا ﴿٧٣﴾ فَلْيُقَٰتِلْ فِي سَبِيلِ

چه زه وی ورسره نو مونده به می وه مراد لوی نو پکار دی چه او جنګیږی د الله په

ٱللَّهِ ٱلَّذِينَ يَشْرُونَ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا بِٱلْءَاخِرَةِ وَمَن

لار کښی هغه خلق چه خرخوی د دنیا ژوند د اخرت په بدله کښی او څوک چه

يُقَٰتِلْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَيُقْتَلْ أَوْ يَغْلِبْ فَسَوْفَ نُؤْتِيهِ

او جنګیږی د الله په لار کښی بیا او وژلے شی یا غالب شی نو مونږ به ورکړو هغه له

أَجْرًا عَظِيمًا ﴿٧٤﴾ وَمَا لَكُمْ لَا تُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَ

لوی ثواب او څه تاسو باندے شوی دی چه نه جنګیږئ د الله په لار کښی او

ٱلْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ ٱلرِّجَالِ وَٱلنِّسَآءِ وَٱلْوِلْدَٰنِ

حالانکه څوک چه ضعیفان او مغلوب دی سړی او ښځے او ماشومان

ٱلَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَآ أَخْرِجْنَا مِنْ هَٰذِهِ ٱلْقَرْيَةِ ٱلظَّالِمِ

چه وائی اے ربه زمونږه اوباسے مونږ د دے کلی نه چه ظالمان دی

أَهْلُهَا وَٱجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ وَلِيًّا وَٱجْعَل لَّنَا مِن

د دے خلق او اوګرزوے د مونږ دپاره د خپل طرفه څوک حمایت کوونکے او وګرځوه زمونږ دپاره

لَّدُنكَ نَصِيرًا ﴿٧٥﴾ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ يُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ

د خپل طرفه څوک مددګار کوم خلق چه ایمان والا دی نو هغوی جنګیږی د الله په لار کښی

وَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ يُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِ ٱلطَّٰغُوتِ فَقَٰتِلُوٓا۟

او څوک چه کافران دی نو هغوی جنګ کوی د شیطان په لار کښی نو جنګ کوئ تاسو د

أَوْلِيَآءَ ٱلشَّيْطَٰنِ إِنَّ كَيْدَ ٱلشَّيْطَٰنِ كَانَ ضَعِيفًا ﴿٧٦﴾

شیطان د دوستانو سره بیشکه د شیطان فریب سست دے

نکات :- ۱ دویم سلطانی حکم چه پاخئ او وسله واخلئ او د مشرکانو سره جهاد اوکړئ ۱۲ ۲ زجر سره د شکوی ۱۲ ۳ جمله معترضه ۱۲ ۴ مقوله د لیقولن ۱۲ ۵ ترغیب الی القتال ۱۲ ۶ دریم سلطانی حکم چه پاخئ وسله واچوئ او وخئ اوکوم کمزوری مسلمانان چه په مکه کښ قید دی هغه د مشرکانو د پنجې نه آزاد کړئ هغوی په خپله د دې تنو طاقت نه لري او دعا ګانې غواړي چه اے الله! موږ نه د ظالمانو نه خلاصے راکړے ۱۲ ۷ په ترغیب الی الجهاد کښ داخل دے ۱۲

موضح قرآن ف ۱ یعنی په جنګ کښ خپل بچاؤ کول زغره، ډهال واخلئ تدبیر نو نه منع نشته. ف ۲ یعنی داسے سړے منافق دے چه د خدائ په حکم نه ځیلیږي بلکه د دنیا نفع ئے په نظر کښ وی که چرے خلقو ته په دے کار کښ تکلیف اورسیږي نو به خپل روستو پاتے کیدو باندے خوشحالیږي او که چرے خلقو ته څه فائده اورسید له نو خفه کیږي او د دشمنانو پشان حسد کوي.

ف ۳ یعنی مسلمانانو له بکار دی چه د دنیا په ژوند باندے نظر اونه ساتی اجرت اوغواړی او پوهه شی چه د الله په حکم کښ هرقسم نفع ده.

ف ۴ یعنی د دوؤ وجهو نه ستاسو د پاره جنګ ضروری دے یو خو د الله دین اوچتولو دپاره دویم د مظلوم مسلمانانو کوم چه د کافرانو په لاسونو کښ بے وسه پراته دی هغوی د خلاصولو دپاره د مکے په ښار کښ داسے خلق ډیر وو چه د نبي علیه السلام سره بے هجرت اونکړے شو او د هغوی خپلوانو په هغوی ظلم شروع کړو چه مسلمانان بیا کافر کړي.

تفسیر: ۴۹ دویم سلطانی حکم :- (پاخئ او وسله واچوئ او مشرکانو سره جهاد اوکړئ) حذر نه جنګي وسله مراد ده څنګه چه د امام مقاتل او محمد باقر نه روایت شوید ے اي عدتكم من السلاح قاله مقاتل وهو المروی عن ابی جعفر رضی الله عنه (روح ص ۵ ج ۵) او ثُبَات جمع د ثُبَة ده او ثبة هغه ډلے ته وئیلے شی کوم کښ چه د لسو نه زیات کسان وی (ایضا) او د فَانْفِرُوْا د ضمیر نه حال دے یعنی چه کله د جهاد مهم راپیښ وی نو بغیر د توقف نه به جهاد کښ شریک شئ څنګه چه کیدے شی یا څنګه چه د موقع او محل مناسب وی په یو ځائ حمله اوکړئ یا د وړو وړو ټولګو په صورت کښ حمله اوکړئ.

۵۰ دا زجر او شکوی ده هغه منافقانو دپاره کوم چه په مسلمانانو کښ موجود وو. د هغوی خو خپله حوصلے خکته وے خو ورسره ورسره بے د مسلمانانو د بزدله کولو کوشش نه هم کول. المراد منه المنافقون کانوا یثبطون الناس عن رسول الله صلی الله علیه وسلم (بحر ص ۲۹۲ ج ۳) لَيُبَطِّئَنَّ لازم او متعدی دواړو طریقو سره راځی یعنی هغوی په خپله روستو پاتے خلق روستو کول. فَاِنْ اَصَابَتْكُمْ مُّصِیْبَةٌ الخ دا دے منافقانو حال دا وو چه خدائ مه کړه مسلمانانو به شکست اوخوړو نو وئیل به بے چه دا خو په موږ د خدائ لوئ احسان اوشو چه موږ هغوی سره په جنګ کښ شریک نه وو.

کئ مونږ به هم هغوی سره مُصیبت کښې اخته شوی وُو. وَلَئِنۡ اَصَابَكُمۡ فَضۡلٌ مِّنَ اللّٰهِ
او که چرې مُسلمانانو ته فتح حاصِله شي او ډیر زیات مالِ غنیمت لاس ته راشي نو منافقین
په حسرت او افسوس سره په ګوتو ټکونه لګوي او وئیل به یې ارمان! چه مونږ هم دوی
سره وے نو د مالِ غنیمت نه به مونږ ته هم ډیر دولت په لاس راغلے وے او ما له اره
شوے به وو. دَ لَيَقُوۡلَنَّ مقوله د يٰلَيۡتَنِيۡ نه شروع کیږي. او كَاَنۡ لَّمۡ تَكُنۡۢ بَيۡنَكُمۡ وَبَيۡنَهٗ
مَوَدَّةٌ په مینځ کښې جُمله معترضه ده او مطلب دا دے چه هغه منافقان داسے خبرې
په دے شان کوي ګویا چه ستاسو او د دوی په مینځ کښې د څه قسمه دِینی رشته او تعلق
موجود نه دے او د مُنافقانو دوستي چه د مُسلمانانو سره وه هغه محض ظاهري وه. د
هغوی په زړونو کښې بُغض او عداوت وُو (كذا في المدارك وخازن وابي السعود والكبير وغيرها)
یا دا مطلب دے چه هغوی د خوشامند په طور دا شان خبرې کوي ګویا چه ظاهروي چه
اول څما د مُسلمانانو سره هیڅ تعلق نه وُو که چرې هغوی سره څه دوستي او تعلق وے
نو دوی به هم هغوی ضرور جِهاد ته تللے وے او فوزِ عظیم به یې حاصِل کړے وے.
د حضرت شیخ په نزد باندے دا معنیٰ راجح ده.

۱۵۱ه دا ترغیب الی القتال دے يَشۡرُوۡنَ د شَرِيٰ نه دے چه د اضداد نه دے او
دا اخستلو خرڅولو دواړو معنو کښې مستعمل دے دلته يشرون په معنیٰ د يبيعون دے
یعنی هغوی د دوی په مقابله کښې اخِرت ته ترجیح ورکوي. مطلب دا دے چه کوم مؤمنانو
د خپل ژوند مقصد دا ګرځولے دے چه هغوی به هره معامله کښې اخِرت ته په دُنیا
ترجیح ورکوي نو هغوی ته د الله په لاره کښې جهاد کول پکار دي او هغوی له په میدانِ
جنګ کښې ثابت قدم اوسیدل او د مُنافقانو د بُزدله کونکو خبرو پروا نه کول پکار نه
دي وَمَنۡ يُّقَاتِلۡ فِيۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ. دا مُجاهدینو د پاره دُنیوي او اُخروي بشارت
دے. که چرې شهیدان شي نو په اخِرت کښې به ډیرے اوچتے درجے حاصِلے کړي
او که چرې شهادت نصیب نه شو نو ثوابِ عظیم او د مالِ غنیمت نه به ضرور حِصه
ملاویږي.

۱۵۲ه درېیم سُلطاني حُکم:- (کمزوري او ضعیف مُسلمانان کوم چه په مکه کښې تکلیفونه
اوچتوي د ظالمانو مُشرکانو د پنجے نه ازاد کړئ) دا اول نه یې زیات واضحه او مدلل طریقے
سره د مُشرکانو سره د جِهاد کولو حُکم ورکړو چه پاخئ وسله و اچوئ او کمزوري مُسلمانان
د مُشرکانو د محاصرے نه خلاص کړئ کوم چه د الله تعالیٰ نه دُعا غواړي چه اے الله!
د دے ظالمانو مُشرکانو نه مونږ ته نجات راکړے. لهذا تاسو پاخئ او د هغوی د خلاصي
د پاره جِهاد اوکړئ اَلَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا يُقَاتِلُوۡنَ فِيۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ دا هم ترغیب الی الجهاد دے
یعنی مؤمن خو همیشه د الله د دِین د اوچتولو د پاره او په دُنیا کښې د امن او امان
قائم ساتلو د پاره جِهاد کوئ د دے وجے نه الله تعالیٰ د هغوی حامي او ناصر او
مددګار دے د دے په خلاف کافران او مُشرکان د باطل د پاره جنګ کوي د دے وجے

دوی باطل پرستو سره جنګ کول پکار دی دوی د پاره چه دُنیا نه باطل ختم شی او د الله حق دین او د هغه توحید غالب شی د توحید والو په مقابله کښې به مشرکین همیشه شرمنده او شکست خورډلی وی. رغب الله المؤمنین بانهم یقاتلون فی سبیل الله فهو ولیهم و ناصرهم واعداؤهم یقاتلون فی سبیل الشیطان فلا ولی لهم الا الشیطان (مدارک ص۱۸۲ ج ۱)

اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ قِيْلَ لَهُمْ كُفُّوْٓا اَيْدِيَكُمْ وَاَقِيْمُوا

آیا نه ئی لیدلی هغه خلق چه ورته حکم شوی وو چه خپل لاسونه بند او ساتئ (کشی) او قائم

الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ ۚ فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقِتَالُ اِذَا فَرِيْقٌ

کړئ مونځونه او ورکړئ زکوٰة بیا چه کله حکم اوشو هغوی ته د جنګ هغه وخت هغوی کښې

مِّنْهُمْ يَخْشَوْنَ النَّاسَ كَخَشْيَةِ اللّٰهِ اَوْ اَشَدَّ خَشْيَةً ۚ وَ

یو جماعت او ویریدهٔ د خلقونه څنګه چه ویره وی د الله یا د دینه هم زیاته ویره او

قَالُوْا رَبَّنَا لِمَ كَتَبْتَ عَلَيْنَا الْقِتَالَ ۚ لَوْلَآ اَخَّرْتَنَآ اِلٰٓى

وی وئیل اے ربه! زمونږ ولے د فرض کړو په مونږ جنګ. ولے د یرے تنبو د و مونږه

اَجَلٍ قَرِيْبٍ ؕ قُلْ مَتَاعُ الدُّنْيَا قَلِيْلٌ ۚ وَالْاٰخِرَةُ خَيْرٌ لِّمَنِ

لږ وخته پورے ورته او وایه چه د دُنیا فائده لږه ده او آخرت بهتر دے پرهیزګارانو

اتَّقٰى ۫ وَلَا تُظْلَمُوْنَ فَتِيْلًا ﴿۷۷﴾ اَيْنَ مَا تَكُوْنُوْا يُدْرِكْكُّمُ

د پاره او ستاسو حق به پاتے نه شی د تار برابر ( ) چرته چه تاسو یئی مرګ به تاسو ته

الْمَوْتُ وَلَوْ كُنْتُمْ فِيْ بُرُوْجٍ مُّشَيَّدَةٍ ؕ وَاِنْ تُصِبْهُمْ حَسَنَةٌ

راځی اګرچه تاسو یئی په مضبوطو قلعه ګانو کښې او چرے اورسیږی خلقو ته ښه

يَّقُوْلُوْا هٰذِهٖ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ ۚ وَاِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ يَّقُوْلُوْا

فائده نو وائی دا د الله د طرفنه ده ( ) او که چرے هغوی ته اورسیږی څه بدی نو وائی دا

هٰذِهٖ مِنْ عِنْدِكَ ؕ قُلْ كُلٌّ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ ؕ فَمَالِ هٰٓؤُلَآءِ

ستا د طرفنه ده او وایه چه ټول د الله د طرفنه دی نو څه حال دے د دے خلقو

الْقَوْمِ لَا يَكَادُونَ يَفْقَهُونَ حَدِيثًا ﴿٧٨﴾ مَا أَصَابَكَ مِنْ

قوم ته چې نږدې نه دي پوهه شي هيڅ خبره ته يا نه دي هغه ته ورسيږي

حَسَنَةٍ فَمِنَ اللَّهِ وَمَا أَصَابَكَ مِنْ سَيِّئَةٍ فَمِنْ نَفْسِكَ

نيکي نو د الله د طرفنه ده مشقه او کوم چه تا ته اُورسيږي بدي نو ستا د نفس د طرفنه ده

وَأَرْسَلْنَاكَ لِلنَّاسِ رَسُولًا ۚ وَكَفَىٰ بِاللَّهِ شَهِيدًا ﴿٧٩﴾

وموږ ته اُوليږلے پيغام رسونکے خلقو ته ته او الله کافي دے شاهد او بس دے ګواه

نکات ب سـ ١ زجر د پاره د منافقانو د پاره ١٢ سـ ٢ زجر د پاره د منافقانو ١٢ سـ ٣ د يهودي منافقانو د بوړه ذکر شوي باطل قول جواب ١٢ سـ ٤ تسلي يعني د داسے خرابو خبرو خفا کيږه چرته هغوي ستاسو اطاعت کولے نو هغوي د پاره بهترده و ١٢٧

موضح قرآن ف ١ يعني ترڅو چه مسلمانان په مکه کښې وو او کافرانو به تکليف ورکولو نو الله تعالیٰ هغوي د جنګ نه بند وُل او د صبر حکم به ئے ورته کولو اوس چه کله د جنګ حکم راغے نو پوهه شول چه زمونږه مراد ملاؤ شو بلکه کمزوري مسلمانان ډير کوي او د مرګ نه ويريږي او د الله برابر د انسانانو نه ويريږي.

ف ٢ دا د منافقانو ذکر دے که چرے د جنګ تدبير صحيح راغے او فتح او غنيمت ملاؤ شو نو وائي چه د الله د طرفنه اوُشو يعني اتفاقاً اوُشو د نبي عليه السلام د تدبير سره قابل کيږي او که چرے نقصان اُورسيږي نو الزام د نبي عليه السلام تدبير باندے لګوي. الله پاک اُوفرمائيل اووايه ټول د الله د طرفنه دي يعني د پيغمبر تدبير د الله پاک الهام دے غلط نه دے او نقصان نقصان ګڼړي الله ستاسو اصلاح کوي ستاسو تقصير باندے بيا په راتلونکي آيت کښې صفا اُوفرمائيل.

ف ٣ بنده له پکار دي چه نيکي د الله فضل اوګڼړي او تکليف خپل تقصير او په پيغمبر الزام اُونه لګوي. تقصيرونو باندے الله خبر دے او هغه بدله ورکوي.

تفسير ٧٧ دا د منافقانو د پاره زجر دے د هجرت نه مخکښې مکه مکرمه کښې مسلمانانو ته د مشرکانو د لاس نه ډير تکليفونه اُورسيدل نو هغوي د نبي عليه السلام په خدمت کښې حاضر شول او د دے شکايت به ئے کولو نبي عليه السلام نه به ئے د جهاد د اجازت غوښتلو. نبي عليه السلام به فرمائيل لا تر اُوسه ما ته د جهاد حکم نه دے ملاؤ شوے کوم احکام چه په تاسو فرض شوي دي. مونځ او زکوٰة وغيره اوس په هغے عمل کوئي بيا هجرت نه روستو مدينه منوره کښې د جهاد حکم نازل شو نو بوره ډله يعني منافقان ودے ځکه اُوويريدل او وئے وئيل چه اے الله ! تا ولے په موږه باندے جنګ فرض کړو، داسې د

بختنا نه دیر سخت او ویریدل. ظاهره ده چه دوی ډیره موده مخکښی او مړه شوی وو. د دے په جواب کښی یه اوفرمائیل. اَيْنَمَا تَكُونُوا يُدْرِكْكُّمُ الْمَوْتُ او مرګ نه څوک نه شی خلاصیدے او د دے نه مه ویریږئ مرګ صرف په میدان جنګ کښی راځی بلکه مرګ به په هر صورت کښی راځی که چرے تاسو د مرګ نه د بچ کیدو دپاره او ډیر مضبوط قلعو کښی ډیر سخت کړئ او په هغے کښی ځان پټ کړئ نو هلته به هم راځی او تاسو به هرګز پرے نه بچ کیږئ. هر کله چه د مرګ نه خلاصے نشته نو بهتره دا ده چه د الله په لاره کښی جنګ اوکړئ کښی مرګ شی چه د شهادت درجه پیدا کوی او په آخرت کښی د الله خصوصی انعامات او مخصوص عنایات حاصل کړی.

۵۴ دا هم د منافقانو د پاره زجر دے حضرت ابن عباس رضی الله عنهما او قتاده فرمائی چه که چرے مسلمانانو به فتح حاصله کړه او د غنیمت مال به لاس ته راغے نو منافقانو به وئیل دا بختوله د الله مهربانی ده. او که چرے شکست به یے اوشو نو به خپل مینځ کښی به یے پټ پټ وئیل چه نعوذ بالله دا د پیغمبر د بے تدبیری نتیجه ده (روح ص ۸۵، قرطبی ص ۲۸۲ ج ۵ وغیره) نو الله تعالی د دوی دا باطل خیال رد اوکړو چه فتح او شکست او تنګی او فراخی ټول د الله د طرفه دی هغه د هر څیز خالق او پیدا کوونکے دے او هغه نافع او ضار دے لا خالق ولا مخترع سواه فليس الامر كما زعمتم فانه تعالى وحده هو النافع الضار ومن ارادته تصدر جميع الكائنات (بحر ص ۳۰۰ ج ۳) حسن او ابن زید وائی چه یهودیانو او منافقانو به د نبی صلی الله علیه وسلم سره عیاذاً بالله بد فالی نیوله چه د دے نه مخکښی موږ خوشحاله وو او زموږ باغونو به ښے میوے نیولے لیکن د ده د راتلو نه روستو زموږ د باغونو او زمکو پیداوار کم شوے دے. (بحر روح وغیره)

۵۵ دا هم د منافقانو او یهودیانو د پورته ذکر شوی باطل قول جواب دے بلکه د هغے د جواب تفصیل دے. په دیکښی په ظاهره خو خطاب نبی علیه السلام ته دے. لیکن مراد عام دے، او دا خطاب هر مخاطب ته شامل دے مطلب دا دے چه انسان ته کومه فائده او نیکی رسیږی هغه محض د الله تعالی احسان او فضل دے او کوم نقصان یا بدی چه هغه ته رسیږی اګرچه د هغے هم خالق الله دے. لیکن د هغے سبب د انسان خپل بد عملونه دی او کوتاهیانے دی څنګه چه یو ځائ ارشاد دے. وَمَآ اَصَابَكُمْ مِّنْ مُّصِيْبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ اَيْدِيْكُمْ (شوری ع ۴) د مدینے یهودیانو د نبی علیه السلام د تشریف راوړلو نه مخکښی که چرے خوشحاله وو نو دا محض د الله احسان وو او د نبی علیه السلام د راتلو نه روستو که چرے په هغوی تنګی او سختی راغله نو دا د هغوی د بد عملئ نتیجه وه چه کله هغوی د خدائ د پیغمبر تکذیب اوکړو نو الله تعالی په طور د تنبیه په هغوی تنګی اوکړه. والضمير لليهود والمنافقين روي انه كان قد بسط عليهم الرزق فلما قدم النبي صلى الله عليه وسلم المدينة فدعاهم الى الايمان فكفروا فامسك عنهم بعض الامساك (ابو السعود ص ۳۹۴ ج ۳)

ستا دوسه ځائې نه ده. ترفَمَآ اَرْسَلْنٰكَ عَلَيْهِمْ حَفِيْظًا پورے نبي علیه السلام ته
تسلي ده یعني دوی له پکار وُو چه دواړه خبرو په ځائې سره ستاسو اطاعت کړے وسے
ځکه چه ستاسو اطاعت عین د الله اطاعت دے. لیکن که چرته ستا اطاعت نه
قبلوی او ستاسو د تابعداری نه اعراض کوي نو تاسو مه غمګینیږئ او مه خفه کیږئ
ځکه چه تاسو خپل فرض اَدا کړیدی. ستاسو فرض صرف تبلیغ دے چه تاسو هغه
پوره کړو. وَكَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا سره یے تخویفِ اُخروی طرفته اشاره اوکړه چه مونږ ټول
هر څه وینو د دوی هیڅ یو عمل مونږ نه پټ نه دے. هغوی ته به د خپلو عملونو
پوره پوره سزا ملاویږی.

مَنْ يُّطِعِ الرَّسُوْلَ فَقَدْ اَطَاعَ اللّٰهَ ۚ وَمَنْ تَوَلّٰى فَمَآ
بیا چا چه حکم اومنلو د رسول هغه حکم اومنلو د الله او څوک چه واپس اوګرزیدو نو

اَرْسَلْنٰكَ عَلَيْهِمْ حَفِيْظًا ﴿٨٠﴾ وَيَقُوْلُوْنَ طَاعَةٌ ۡ فَاِذَا بَرَزُوْا
مونږ ته نه یے لیږلے دوی باندے نګهبان هم او وائي چه قبول دے بیا چه کله بهرته لاړل

مِنْ عِنْدِكَ بَيَّتَ طَآئِفَةٌ مِّنْهُمْ غَيْرَ الَّذِيْ تَقُوْلُ ؕ
ستا د خوا نه کښے نو مشوره کوی یو څو ځنې د هغوی نه د شپے د هغے خلاف چه تا ته یے ویلی وو

وَاللّٰهُ يَكْتُبُ مَا يُبَيِّتُوْنَ ۚ فَاَعْرِضْ عَنْهُمْ وَتَوَكَّلْ
او الله لیکي کوم چه هغوی مشوره کوی نو ته مخ ان مه خبرته د دوی نه او بهروسه اوکړه

عَلَى اللّٰهِ ؕ وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيْلًا ﴿٨١﴾ اَفَلَا يَتَدَبَّرُوْنَ
په الله باندے او کافي دے الله کارساز آیا غور نه کوی په

الْقُرْاٰنَ ؕ وَلَوْ كَانَ مِنْ عِنْدِ غَيْرِ اللّٰهِ لَوَجَدُوْا
قرآن کښې او که چرے وے د بل چا سوا د الله نه نو ضرور به یے بیا موندلے

فِيْهِ اخْتِلَافًا كَثِيْرًا ﴿٨٢﴾ وَاِذَا جَآءَهُمْ اَمْرٌ مِّنَ
وے په دې کښې ډیر اختلاف هغه او چه کله راورسیږی هغوی ته څه خبر د

الْاَمْنِ اَوِ الْخَوْفِ اَذَاعُوْا بِهٖ ۭ وَلَوْ رَدُّوْهُ اِلَى
امن یا د وېرے نو هغه مشهور کړی هغه او که چرے هغه یے رسولے وے

الرَّسُوْلِ وَ اِلٰٓى اُولِى الْاَمْرِ مِنْهُمْ لَعَلِمَهُ الَّذِيْنَ

رسول ته او خپلو حاکمانو ته نو تحقیق به کړے وسے هغه کسان

يَسْتَنْۢبِطُوْنَهٗ مِنْهُمْ ؕ وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَ

کوم چه تحقیق کوونکي دی هغه کښې د دوی نه ئے او که چرے نه وسے د الله فضل په تاسو

رَحْمَتُهٗ لَاتَّبَعْتُمُ الشَّيْطٰنَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿۸۳﴾ فَقَاتِلْ

او د هغه مهربانی نو ضرور به تاسو تابعداری کړے وسے د شیطان لیکن لږ وے نو جنګ اوکړه

فِیْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۚ لَا تُكَلَّفُ اِلَّا نَفْسَكَ وَ حَرِّضِ

ستے د الله په لاره کښې ته ذمه دار نه یے لیکن د خپل ځان او تاکید اوکړه

الْمُؤْمِنِيْنَ ۚ عَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّكُفَّ بَاْسَ الَّذِيْنَ

مسلمانانو ته هم نزدے دے چه الله بند کړی جنګ د کافرانو

كَفَرُوْا ؕ وَاللّٰهُ اَشَدُّ بَاْسًا وَّ اَشَدُّ تَنْكِيْلًا ﴿۸۴﴾ مَنْ

او الله ډیر سخت دے په جنګ کښې او ډیر سخت دے په سزا ورکولو کښې څوک چه

يَّشْفَعْ شَفَاعَةً حَسَنَةً يَّكُنْ لَّهٗ نَصِيْبٌ مِّنْهَا ۚ وَ مَنْ

سفارش اوکړی په نیکه خبره کښې هغه ته به هم ملاویږی د هغے نه یوه حصه او څوک

يَّشْفَعْ شَفَاعَةً سَيِّئَةً يَّكُنْ لَّهٗ كِفْلٌ مِّنْهَا ؕ وَ كَانَ

چه سفارش اوکړی په بدې خبره کښې هغه باندے هم دے بوجهه د هغے نه او الله په

اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ مُّقِيْتًا ﴿۸۵﴾

په هر څیز باندے قدرت لرونکے دے ۳ ق

نکات: سله شکوه د پاره د منافقانو ۱۲ سله یعنی دیکښې به خلافِ واقع امور راغلے یا به په فصاحت او بلاغت کښې فرق وسے ۱۲ سله زجر منافقانو د پاره ۱۲ سله د دے دوه تقریرونه دی ۱۲ سله ترغیب الی الجهاد ۱۲ سله یعنی قتال کوئے او مؤمنان هم په قتال آماده کړئے ۱۲ سله دا د حرض المؤمنین علی القتال سره متعلق دے یعنی کوم

سرے چه د دے خبرے وعظ او نصیحت اوکړی او ترغیب الی الجهاد اوکړی نو هغوئ ته به د هغے ثواب ملاویږی۔ اوکه چرے بل خبره اوکړی (د منافقانو پشان د مسلمانانو خلاف پروپیګنډه اوکړی) هغوئ ته به د هغے سزا ملاویږی۔

موضح قرآن

ف۱ یعنی مخلوق په هرحال کښې د هغه حال مطابق خبره کوی په غصے والو طرفته د دنیا په بیان کښې آخرت یاد نه وی او د آخرت بیان کښې دنیا اوهیږی کښې د مهربانئ کونکو طرفته توجه نه ورکوی او په مهربانئ کښې د په بے پرواهئ کښې د عنایاتو ذکر نشته۔ او عنایاتو کښې د بے پرواهئ۔ نو د دے حال کلام او بدل د دویم حال مخالف نظر راغے او قرآن شریف چه د خالق کلام دے دلته د هرڅیز په بیان بل طرفته هم نظروی۔ غور کولو سره معلومیږی چه د هر څیز بیان په هرمقام کښې په یوه لاره دے۔ بیان کښې د منافقانو ذکر دے نو په هغے کښې په هره خبره باندے الزام هم هغومره دے څومره چه پکار دے او د جماعت نه په هغه چا الزام دے څوک چه د الزام لائق دے۔ د دے وجے نه یے اوفرمائیل چه په هغوی کښې دا شان کوی۔

ف۲ یعنی د کوم ځائ نه چه څه خبر راشی نو اول یے سردار ته اورسوئ او د هغه تاشانو ته چه کله یے هغه صحیح کړی او په هغے عمل اوکړی هغه وخت تاسو هم په هغے عمل اوکړئ۔ نبی علیه السلام یو سړے یو قوم ته د زکوٰة اخستلو د پاره اولیږلو هغوی استقبال د پاره راووتل د ده خیال اوکړو چه ځما د قتل د پاره راوتلی دی۔ واپس راغے او د مدینے په ښار کښې یے مشهوره کړه چه فلانے قوم مرتد شویے لا تر اوسه پورے نبی علیه السلام ته خبر نه وو رسیدلے چه په ښار کښې مشهوره شوه دا قسم هرخبرے بے تحقیقه او بغیر د سردار د خبر نه مشهور کړو چه هغه خبر آخر غلط اوختلو دا یے چه اوفرمائیل چه که چرے د الله فضل په تاسو باندے نه وے نو تاسو به د شیطان تابعداری کړے ملګرلو۔ یعنی هروخت د تربیت احکام که اونه رسی نو کم خلق به په هدایت باندے قائم پاتے شی۔

ف۳ مثلاً که څوک د یو محتاج سفارش اوکړی او د مالدار نه ورله څه واخلی نو دا هم ورسره په ثواب او خیرات کښې شریک شو۔ او چه څوک د یو کافر یا مفسد سفارش اوکړی او هغه خلاص کړی چه هغه بیا فساد اوکړی دا هم ورسره په دے فساد کښې شریک شو۔

فتح الرحمن

ف۱ مترجم وائی یعنی دا کلمهٔ حق ده چه خیر د الله د طرفنه دے او شر د بنده د طرفنه۔ لیکن د دے خلقو مقصود د دے کلمے نه صحیح نه دے او هغه دا دے چه جهاد د ټولو عربو قبیلو سره معقول نه دے نو که چرے فتح وی نو نعمت غیر مترقب دے او که چرے شکست وی نو موافق د دے تدبیر د حال سره دے چه کله جهاد د خدائ په حکم سره دے نو ټول خیر دے عقل ته به

دغه ځائ کښې دخل ورکول صحیح نه دی. والله اعلم ۱۲
ف ۳ په تا باندے صرف رغبت ورکول دی. که چرے ملکرتیا نه کوی نو په تا باندے نیول نشته ۱۲

تفسیر :- ف ۵۷ دا د منافقانو شکوه ده او دوی په دوه مختلف چال باندے زجر دے چه کله هغوی تاسره موجود وی هغه وخت ستاسو تابعداری کوی او وائی چه حضور ستاسو حکم زمونږ په سر سترګو قبول دے لیکن چه کله ستاسو نه لاړ شی نو د خپل قول او اقرار خلاف د شپے ستاسو او د مسلمانانو خلاف منصوبے جوړوی. لیکن د دوی پرواه مه کوئ او په الله بهروسه اوساتئ هغوی به تاسو ته نقصان اونه رسوی اونه رسوی او مونږ د هغوی ټولے منصوبے لیکلی دی. او هغوی ته به د دے شرارت پوره پوره سزا ورکړو. په تقول کښې دوه احتماله دی. یا خو دا واحد مونث غائب صیغه ده. او ضمیر طَآئِفَةٌ طرف ته راجع دے. او مطلب دا دے چه د منافقانو طائفه او د دوی د سردارانو جماعت د خپل اقرار په سبب د شپے منصوبے جوړوی یا دا د واحد مذکر حاضر صیغه ده او خطاب نبی علیه السلام ته دے یعنی دوی ستاسو د احکامو او ارشاداتو خلاف خبرے کوی.
ف ۵۸ د اختلاف مطلب دا دے چه په دیکښې بیان شوی امور او حقائق د نفس الامر او واقع نه مختلف وی او د بیان نفس الامر نه مختلف کیدل دروغ او کذب وی. نو حاصل دا راووتلو چه که چرے قرآن د خدائ کلام نه وے بلکه د انسان د خپل لاس جوړ کړے شوے وے نو دے ډیر بیانونه به د نفس الامر خلاف او دروغ وے. لیکن که چرے د قرآن بیان شوی امور او حقائق د انصاف په نظر اوکوری. او په دیکښې که غور اوفکر اوکړے شی نو په دیکښې یوه خبره هم خلاف واقع نه شی ملاویدے بان یکون بعض اخباراته الغیبیة کالاخبار عما یسره المنافقون غیر مطابق للواقع ۱۲ (روح ص۹۲ ج ۵ وخازن ص ج ۱) د حضرت شیخ رحمة الله علیه په نزد هم دا راجح دے یا د اختلاف نه عام اختلاف مراد دے خواه په خپل مینځ کښې تناقض وی یا د نفس الامر سره مخالفت یا په اسلوب بیان او په فصاحت او بلاغت کښې اختلاف وغیره کما فی القرطبی ص۲۹ ج ۵ وغیره)
ف ۵۹ دا د منافقینو شکوے دویمه وجه ده چه هغوی دا خبرونه او رازونه ښکاره کوی او هغه مشهوروی چه د هغے پټ ساتل د اسلام او مسلمانانو د پاره فائده مند وی د دے تعلق خواه د امن سره وی یا ویرے سره. حضرت عبد الله عباس فرمائی چه نبی ﷺ به د جهاد د پاره کوم لښکر لیږلو چه کله به هغه غالب یا مغلوب واپس شو نو منافقانو به د هغوی خبرونه په غلط انداز کښې خورول ان الرسول کان اذا بعث سریة من السرایا فغلبت او غلبت

تحرثوا بذالك و افشوه ولم يصبروا الخ (بحر ص ۳۰۵ ج ۳ ، مدارك ص ۱۸۶ ج ۱) ضمیر منصوب اخذ ولفاته ...

۱۳۵ د دوه معنې دی اول دا چه د اَلَّذِيْنَ يَسْتَنْۢبِطُوْنَهٗ نه هغه خلق مراد دی چه د دې قسمه خبرو معلومولو او د دې علم تلاش کوونکے وو. او د مِنْهُمْ ضمير اولی الامر طرفته راجع دے. او جار مجرور د علمه متعلق دے او مطلب دا دے چه خلقو دا خبرونه نه وے مشهور کړے . او د کومو خلقو چه د دے خبرو د معلومولو شوق وو هغوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم او اولی الامر یعنی صحابو کښې چه کوم خلق د معلومولو والا او تیز والا وو د هغوی نه به معلوم کړے وے. دویم دا چه د مِنْهُمْ کښې مِنْ بیانیه دے او د هُمْ ضمير اولی الامر طرفته راجع دے. د اَلَّذِيْنَ يَسْتَنْۢبِطُوْنَهٗ نه هغه خلق مراد دی چه په اولی الامر کښې د بصيرت او استنباط والا وو.

۱۳۶ فَقَاتِلْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ نه اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ حَسِيْبًا پورے حکم ثالث یعنی وَمَا لَكُمْ لَا تُقَاتِلُوْنَ پاندے تنویر دے او د بعد عهد د وجے نه د هغے اعاده د دلته بیے دوباره د قتال ترغيب ورکړو. او نبی علیه السلام ته یے مؤمنانو ته د جهاد د ترغیب ورکولو حکم ورکړو. د تنکیل معنی تعذیب یعنی د سزا ورکولو ده. مَنْ يَّشْفَعْ شَفَاعَةً حَسَنَةً الخ دا د وَحَرِّضِ الْمُؤْمِنِيْنَ سره متعلق دے یعنی تاسو مؤمنانو ته ترغیب الی الجهاد وعظ اوکړئ. او چه څوك د نیکے خبرے وعظ او نصیحت اوکړی او د نیکو کارونو ترغیب ورکړی. هغه ته به د الله د طرفنه ډیرلوئ اجر او ثواب ملاویږی. او چه څوك د بد کار ترغیب ورکړی هغه ته به د هغے سزا ملاویږی. او د مُقِيْتًا معنی د اقتدار والا یا حافظ او نګهبان (مُقِيْتًا، مُقْتَدِرًا..... اَوْحَفِيْظًا (مدارك ص ۱۸۶ ج ۱) وَاِذَا حُيِّيْتُمْ بِتَحِيَّةٍ الخ دا هم د ماقبل سره متعلق دے. او په دیکښې خطاب رعیت ته دے یعنی که چرے تاته څوك واعظ د جهاد د ترغیب د پاره راشي او تاته سلام اوکړی نو ته د هغه د الفاظو په نسبت زیات ښه جواب ورکړه. مثلاً که چرے هغه السلام عليكم ویلی وی نو ته د دے په جواب کښې د ورحمة الله اضافه اوکړه او که چرے زیات نه کړے نو د هغه د الفاظو مطابق خو ضرور جواب ورکړه. حاصل دا چه هغه سره په خوشحالئ سره ملاو شه . د هغه د حکم تعمیل اوکړه. د دے ایت نه مخکښې او د دے نه پس چونکه د جهاد د مضمون ذکر دے. په دے وجه د سیاق او سباق رعایت کولو سره مفهوم بیان کړے شویدے.

وَاِذَا حُيِّيْتُمْ بِتَحِيَّةٍ فَحَيُّوْا بِاَحْسَنَ مِنْهَآ اَوْ رُدُّوْهَا ؕ

او کله چې تاسو ته دعا درکړی شي نو تاسو هم دعا ورکړئ دهغې نه بهتر یا هغه اوبیځي واپس کړئ

اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ حَسِيْبًا ﴿۸۶﴾ اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا

بیشکه الله دے د هرخیز حساب کوونکے والا دے. دالله نه سوا دهیڅ بندګی

هُوَ ؕ لَيَجْمَعَنَّكُمْ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ لَا رَيْبَ فِيْهِ ؕ وَمَنْ

نشته بیشکه تاسو به جمع کړی د قیامت په ورځ. په هغې کښې هیڅ شک نشته، او د

اَصْدَقُ مِنَ اللّٰهِ حَدِيْثًا ﴿۸۷﴾ فَمَا لَكُمْ فِي الْمُنٰفِقِيْنَ

الله نه رښتونے خبره د چا ده؟ بیا تاسو له څه اوشو د منافقانو معامله کښې

فِئَتَيْنِ وَاللّٰهُ اَرْكَسَهُمْ بِمَا كَسَبُوْا ؕ اَتُرِيْدُوْنَ اَنْ

دوه ډلے کیدئ او الله هغوی سرنګونه کړل په سبب د هغوی د عملونو. ایا تاسو غواړئ چه په

تَهْدُوْا مَنْ اَضَلَّ اللّٰهُ ؕ وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَلَنْ

لاره راولئ هغه چه ګمراه کړل الله، او څوک چه ګمراه کړی الله هرګز به

تَجِدَ لَهٗ سَبِيْلًا ﴿۸۸﴾ وَدُّوْا لَوْ تَكْفُرُوْنَ كَمَا كَفَرُوْا فَتَكُوْنُوْنَ

بیا ته مومې نه هغه دپاره څه لاره. غواړی چه تاسو هم کافر شئ څنګه چه هغوی کافران شول نو بیا به تاسو

سَوَآءً فَلَا تَتَّخِذُوْا مِنْهُمْ اَوْلِيَآءَ حَتّٰى يُهَاجِرُوْا فِيْ

ټول برابر شئ نو تاسو دوی کښې هیڅوک دوستي سره مه نیسئ ترڅو پورې چه وطن پرېږدي د الله

سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَخُذُوْهُمْ وَاقْتُلُوْهُمْ حَيْثُ

په لاره کښې. بیا که چرے دا قبول نکړی نو هغوی اونیسئ او قتل ئے کړئ چرته چه ئے

وَجَدْتُّمُوْهُمْ ۪ وَلَا تَتَّخِذُوْا مِنْهُمْ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا ﴿۸۹﴾

بیا مومئ او مه نیسئ د دوی نه څوک دوست او نه مددګار

نکات: دا خطاب رعیت ته دے یعنی که چرے تاسو جهاد ته اماده کولو دپاره څوک واعظ راشي او سلام واچوی نو د هغه جواب د هغه د وینا نه زیات ورکړئ یعنی

د هغه د حکم تعمیل اُو کړي. ۲ جهاد کوم مسئله د پاره کول دي بل دا چه د الله تعالیٰ نه سوا د تحمل بل ځای نشته چرته به لاړ شي. ۳ تخویف اُخروي ۴ خلورم حکم سلطاني یعنې کوم منافقان چه د مدینې نه بهر نورو ښارونو ته وتلي دي هغه هم قتل کړئ د کښې خلاف مکوئ. او کوم چه مدینهٔ منوره کښې دي هغه مهٔ وژنئ. ۵ تو مصدریه دے.

موضح قرآن

ف مثلاً څوك اُو وائي اَلسَّلَامُ عَلَیْکُمْ نو واجب دے د دے جواب که برابر ورکول غواړي نو وَعَلَیْکُمُ السَّلَام او که زیات ثواب غواړي نو وَرَحْمَةُ اللهِ هم اووائي او که هغه دا هم اُووائي نو ورسره وَبَرَکَاتُهٗ اووایه.
ف۲ دلته ئے منافق اُوبلل هغه خلقو ته چه کوم په ظاهر کښې هم مسلمانان نهٔ وُو لیکن نبي علیه السلام سره به ئے محبت او تعلق ساتلو په دے غرض چه د دوي لښکر زمونږ قوم باندې ورشي نو زمونږ مال او ځان به بچ پاتے شي. هرکله چه مسلمانان خبر شول چه د دوي تلل راتلل په دے غرض دي د زړهٔ محبت ئے نشته نو بعضو اُوبلل چه د دوي سره صحبت او ملاقات پرېږدئ د پاره د دے چه یو طرفته شي او چا اُوبلل چه ورسره ملاوېږئ کېدے شي د دے سره ایمان راوړي. الله تعالیٰ اوفرمائیل چه هغه ایت او گمراهي د واړه د الله په لاس کښې دي. د دے فکر تاسو ته څه ضرورت دے او باقي چه تاسو سره یو ځائے لشي تر هغے ئے بندهٔ بل کښې مهٔ شریکوئ او په جنګ کښې ئے مهٔ بچ کوئ.

فتح الرحمٰن

ف۱ الله تعالیٰ فرمائي چه د کافرانو په چاپلوسئ باندې ئے اعتماد اوکړو. ف۲ یعنې څنګه په چاپلوسئ باندې عاشقان شول او بیکار ده چه بتول په اتفاق سره نهٔ وے عاشقان شوے ف۳ یعنې د نورو لاره مونږ وتړونه ئے اوشمارئ.

تفسیر ۶۲ د ترغیب الی الجهاد نه پس ئے اصل مسئله (مسئله توحید) بیان کړه کوم چه په خاطر چه جهاد کول دي او ورسره ئے لَیَجْمَعَنَّکُمْ الخ تخویف اُخروي واوروله چه که چرے د الله حکم نهٔ منئ او د جهاد نه تیښته کوئ نو اخر به د قیامت په ورځ په میدان حشر کښې د الله تعالیٰ وړاندې جمع کړے شئ او د خپلو اعمالو سزا به بیاموئ. او چرته تیښته کولو سره به ځان بچ نکړے شئ.

۶۳ خلورم حکم سلطاني:- (لاره کښې د مدینې منورے نه بهر چه کوم منافقان چه تاسو ته ملاو شي هغه هم قتل کړئ لیکن د کوموسره چه ستاسو معاهده شوے ده او غیرجانبدار دي هغه مهٔ وژنئ. د دے ځائے نه د منافقانو د دوو ډلو حکم بیان شوے دے. یو هغه منافقان چه د مدینې نه نورو ښارونو ته وتلي وُو، دوېم هغه چه د اسے کافرانو ته ورغلي وُو او پناه ئے اخستے وه کوم سره چه د مسلمانانو معاهده شوے وه. د دے ایت کښې د المنافقین نه مراد د منافقانو اوله ډله ده.

دده ی دقتل باره کښی مسلمانان دوه ډلی شوی وو. یو ډله وئیل چه دوی منافقان دی. وژل ئی پکار دی. دویمی ډلی ددوی قتل کښی توقف اوکړو نو ددی باره الله تعالی مسلمانانو ته د زجر او توبیخ په طور اوفرمائیل چه تاسو ددی منافقانو باره کښی دوه ډلی شوی حال دا دی چه دهغوی منصوبی د دی متقاضی دی چه تاسو ددوی په قتل کښی ذره برابر تامل نه کوی. دا د هغوی د بد عملئ او د باطنی دنیا ګئ نتیجه ده چه الله تعالی هغوی د ایمان نه لری کړل او کفر طرفته ئی وردیکه کړل. ارکسهم - ردهم الی الکفر. (روح) یعنی الله تعالی هغوی له کفر طرفته واپس کړل او داخل ئی کړل. وَدُّوْا لَوْ تَكْفُرُوْنَ الخ لو مصدریه ده او دا دده منافقانو د بیرلوئی خباثت بیان دی. هغوی په ظاهره خو مسلمانان دی او مسلمانان ورته وئیلی شی لیکن ددوی په زړونو کښی کفر او شرک دی او هغوی دزړه نه غواړی چه کوم خلقو د زړه د اخلاص ایمان راوړی دی هغه بیا کافران شی او په کفر او ضلالت کښی ددوی سره یوشان شی. کوم خلق چه په کفر او ګمراهئ کښی دی حد ته رسیدلی دی تاسو دهغوی هیڅ رعایت او خیال مه ساتئ او هغوی چه درته هرځائ کښی ملاؤ شی نو بلا تامل ئی قتل کړئ.

إِلَّا الَّذِيْنَ يَصِلُوْنَ إِلٰى قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ مِّيْثَاقٌ

لیکن هغه خلق څوک چه تعلق لری د یو قوم سره چه ستاسو او دهغوی په مینځ کښی عهد دی

أَوْ جَآءُوْكُمْ حَصِرَتْ صُدُوْرُهُمْ أَنْ يُّقَاتِلُوْكُمْ أَوْ

یا راغلی دی تاسو ته چه تنګ شوی دی زړونه دهغوی ستاسو د جنګ نه او د

يُقَاتِلُوْا قَوْمَهُمْ ؕ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَسَلَّطَهُمْ عَلَيْكُمْ

خپل قوم د جنګ نه هم ولی او که چیرې الله غوښتلی نو هغوی ته به ئی غلبه درکړې وه په تاسو

فَلَقٰتَلُوْكُمْ ۚ فَإِنِ اعْتَزَلُوْكُمْ فَلَمْ يُقَاتِلُوْكُمْ وَأَلْقَوْا

نو ضرور به جنګیدل تاسو سره، نو که یو طرفته اوسیږی هغوی ستاسو نه بیا تاسو سره جنګ نکوی او پیش کړی

إِلَيْكُمُ السَّلَمَ ۙ فَمَا جَعَلَ اللّٰهُ لَكُمْ عَلَيْهِمْ سَبِيْلًا ﴿۹۰﴾

تاسو بانډې صلح نو الله نه دی درکړې تاسو ته ددوی باندې لاره وهل

سَتَجِدُوْنَ اٰخَرِيْنَ يُرِيْدُوْنَ أَنْ يَّأْمَنُوْكُمْ وَيَأْمَنُوْا

اوس به تاسو اوګورئ یو بل قوم چه غواړی چه په امن کښی اوسیږی ستاسو نه او د خپل قوم

قَوْمَهُمْ ۚ كُلَّمَا رُدُّوا إِلَى الْفِتْنَةِ أُرْكِسُوا فِيهَا ۚ فَإِن

له هم قوم خپل څه کله چه واپس کړی شی دوی هغوی د فساد طرف ته نو الټه لوړېږی واپس ځی په دی کی پس که چرے

لَّمْ يَعْتَزِلُوكُمْ وَيُلْقُوا إِلَيْكُمُ السَّلَمَ وَيَكُفُّوا أَيْدِيَهُمْ

هغوی ستاسو ته یو طرف ته نشی او نه وړاندی کوی تاسو ته صلح لاره او نه ساتی لاسونه خپل نو ونیسی

فَخُذُوهُمْ وَاقْتُلُوهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوهُمْ ۚ وَأُولَٰئِكُمْ

نو وے نیسئ او قتل ئے کړئ چه هرچرته ئے بیاموئ او دوی پاندے

جَعَلْنَا لَكُمْ عَلَيْهِمْ سُلْطَانًا مُّبِينًا ﴿٩١﴾

مونږ تاسو ته درکړے دے ښکاره دلیل او سند. ف ۲ ف ۳

نکات: ۱ یعنی کوم منافقان چه دغه کافرانو ته ورغلی دی چا سره چه ستاسو معاهده ده هغه معاهده وړنیئ په دے شرط چه فسادیان نه وی. ۲ اَرْكِسُوا فِيهَا ای یقهی الله. یا د جباریت مهر سره. ۳ یلقوا او یکفوا عطف دے یَعْتَزِلُوكُمْ باندے.

موضح قرآن ف ۱ یعنی د صلاد پیلو او تعلقاتو سره هغوی په جنګ کښ نه پچ کوی لیکن دوه صورتونو سره یا خو هغوی یو قسم وی تاسو سره صلح کوونکو سره نو هغوی هم صلح کښ داخل دی یا د جنګ نه عاجز وی تاسو سره بخپله صلح اوکړی دے خیره بانی چه نه به دخپل قوم له طرفه تاسو سره جنګیږی نه ستاسو لطرفه هغوی سره نو که چرے په دے وعده باندی قائم پاتے وی نو تاسو هم دالله احسان اوګنړئ چه مونږ سره دجنګ نه منعه شول. ف ۲ یعنی ظخے دی چه وعده کوی چه نه به تاسو سره جنګیږو نه دخپل قوم سره لیکن قائم نه پاتے کیږی چه د خپل قوم غلبه وینی دهغوی ملګری کیږی نو تاسو هم هغوی سره قصور مه کوی ستاسو په لاسونو کښ سند درکړے چه هغوی په وعده قائم نه دی.

فتح الرحمن ف ۱ مترجم وائی څوک چه ایمان راوړی او هجرت نه کوی دهغه حکم په طریق اولی معلوم شو. والله اعلم. ف ۲ یعنی که چرے اسلام راوړی او هجرت کوی هغوی سره دوستی پکار ده او که چرے اسلام راونړی نو وژل ئے پکار دی لیکن دا چه ورسره معاهده وی او په وعده باندے ثابت پاتے کیدونکی وی او د معاهد ینو په حلفاؤ باندے هیڅ یوه لاره د ضرر رسولو نه نه ونیږی. ف ۳ یعنی صلح کوی او بیا وعده ماتوی. ف ۴ مترجم وائی چه الله تعالی دقتل خطاء احکام بیانوی او دا چه منعه دقتل دهغه چانه چه د اسلام کلمه وائی واجب ده او فضیلت د مجاهدینو او د

هجرت وجوب د دار کفر نه دار اسلام ته او د سفر اته مونځ کیفیت او د صلوٰة خوف بیان کوی. والله اعلم.

تفسیر: ٢٦٦ دا د دویم فریق حکم دے یعنی کوم منافقان چه هغه کافرانو له ورغلی دی کوم سره چه ستاسو معاهده او میثاق دے هغه مه قتلوئ د پاره د دے چه د معاهدے خلاف ورزی اونشی. د اسے خلک چه د جنګ او قتال نه بالکل خاندله شی او تاسو سره د اتللو سره کیږے صفا اعلان اوکړی چه هغوی به نه تاسو سره جنګ کوی نه د کافرانو سره او تاسو سره به د سلامتیا درخواست کوی، د هغے نه هم درګذر اوکړی اوګورئ که چرے واقعی هغوی د جنګ نه کناره کش شوے وی او په صحیح معنو کښې صلح او سلامتی غواړی نو هغوی هم مه قتلوئ. حَصِرَتْ صُدُوْرُهُمْ په تقدیر د قد سره د جَاءُوْ اجمله د ضمیر فاعل نه حال دے او اَنْ یُّقَاتِلُوْکُمْ نه مخکښې حرف جار محذوف دے ای ان یقاتلوکم او لان یقاتلوکم. (روح وبحر)

٢٦٧ د مذکوره بالا دوه ډلونه علاوه دغے دا بے منافقانو سره به هم ستاسو واسطه پریوزی چه یو طرفته خو به ستاسو نه امن او سلامتی او ظاهری طور بانذے به د صلح معاهده کوی او بل طرفته خپل قوم سره چه کله هغوی مسلمانانو سره ملاویږی نو د اسلام اظهار به کوی او خپل قوم ته به وائی چه مونږ خو ستاسو په دین بانذے یو او ستاسو ملګری یو او په دے طریقه به خپلو کورونو کښې اوسیږی د واړو طرفونو نه به د مامون او محفوظ اوسیدو کوشش کوی. نبه علی طائفة اخری مخادعة یریدون الاقامة فی مواضعهم مع اهلیهم یقولون لهم نحن معکم وعلی دینکم و یقولون للمسلمین کذلک اذا وجدوا (بحر ج ٣ ص ٣١٨) كُلَّمَا رُدُّوْٓا اِلَى الْفِتْنَةِ اُرْكِسُوْا فِیْهَا ۚ او چه کله هم هغوی مسلمانانو سره جنګ طرفته متوجه کولے شی نو هغوی د اسلام ظاهری اقرار یا صلح معاهده پریږی. دی فوراً جنګ او شر فساد ته ورد انګی. حضرت شیخ رحمه الله فرمائی چونکه د دوی په زړونو بانذے د جباریت مُهر لګیدلے دے، د دے وجے نه هغوی د الله پاک له طرفه قهر جباریت سره په قتال کښې شاملولے شی.

٢٦٨ نو که چرے هغوی تاسو سره د جنګ نه نه منعه کیږی او د سلامتیا طریقه نه اختیاروی او تاسو سره د جنګ کولو نه خپل لاسونه نه بندوی نو بیا تاسو د پاره د هغوی وژل مُباح دی چرته هم چه تاسو ته ملاویږی نو وے نیسئ او پغیر د څه مما نعت نه ئے قتل کړئ. وَيُلْقُوْٓا اِلَيْكُمُ السَّلَمَ وَيَكُفُّوْٓا اَيْدِيَهُمْ د واړه يَعْتَزِلُوْكُمْ بانذے معطوف دی.

وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ اَنْ يَّقْتُلَ مُؤْمِنًا اِلَّا خَطَـًٔا ۚ وَمَنْ

او د مسلمان کار نه دے چه قتل کړی مسلمان مګر په غلطئ سره ٢٦٩ او څوک چه

قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَأً فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ وَّدِيَةٌ

قتل کړی مسلمان غلطئ سره نو ازادول دی یو مسلمان مریی او دیت دی ورکول

مُّسَلَّمَةٌ إِلَىٰ أَهْلِهِ إِلَّا أَن يَصَّدَّقُوا ۚ فَإِن كَانَ مِن

د هغه د کور خلقو ته لیکن دا چه هغه معافی اوکړی، بیا که چرته مقتول وو د دا سے

قَوْمٍ عَدُوٍّ لَّكُمْ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ ۖ

قوم نه چه هغه ستاسو دښمن دی او خپله هغه مسلمان وو نو ازادول دی یو مریی مسلمان غلام

وَإِن كَانَ مِن قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُم مِّيثَاقٌ فَدِيَةٌ

او که چرته هغه وو د دا سے قوم نه چه ستاسو او د هغوی مینځ کښی عهد دے ورته نو دیت دی

مُّسَلَّمَةٌ إِلَىٰ أَهْلِهِ وَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ ۖ فَمَن لَّمْ

اوسپاری د هغه کور والو ته او ازادول یو مریی مسلمان ، بیا چه څوک دا نه

يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ تَوْبَةً مِّنَ اللَّهِ ۗ وَ

مومی نو روژے دی اونیسی دوه میاشتے پرله پسے لکه د ګناه بخښلو دپاره د الله نه او

كَانَ اللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴿٩٢﴾ وَمَن يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا

الله پوهه حکمت والا دے او څوک چه قتل کړی مسلمان قصدًا

فَجَزَاؤُهُ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيهَا وَغَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُ

نو د هغه سزا دوزخ دے او همیشه به هغے کښی او د الله غضب اوشو په هغه او لعنت ئے اوکړو

وَأَعَدَّ لَهُ عَذَابًا عَظِيمًا ﴿٩٣﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا

او ورله ئے تیار کړو لوئے عذاب هلاک اے ایمان والو! کله چه

ضَرَبْتُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَتَبَيَّنُوا وَلَا تَقُولُوا لِمَنْ أَلْقَىٰ

تاسو سفر کوئ د الله په لاره کښی نکه نو تحقیق کوئ او مه وایئ هغه سړی ته کوم چه

إِلَيْكُمُ السَّلَامَ لَسْتَ مُؤْمِنًا تَبْتَغُونَ عَرَضَ الْحَيَاةِ

تاسو ته سلام علیک اوکړی چه ته مسلمان نه یے ، تاسو غواړئ سامان د دنیا د

الدُّنْيَا فَعِنْدَ اللّٰهِ مَغَانِمُ كَثِيْرَةٌ ۭ كَذٰلِكَ كُنْتُمْ مِّنْ

ژوندون نو الله سره ډیر غنیمتونه دي ، دارنګې تاسو هم وئ د دینه

قَبْلُ فَمَنَّ اللّٰهُ عَلَيْكُمْ فَتَبَيَّنُوْا ۭ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِمَا

وړاندې بیا الله په تاسو فضل اوکړو نو اوس تحقیق کوئ ، بیشکه الله ستاسو د کارونو

تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرًا ﴿۹۴﴾

نه خبردار دے ۞

نکات: ۔ ۱ پنځم حکمِ سلطاني ۔ منافقان او کافران په لاره کښې بیشکه قتل کړی لیکن خیال کوئ چه څوک مؤمن مو د لاسه عمدًا قتل نشي او که چرې یو مؤمن خطأ قتل شي نو د هغه حکم هم واورئ ۔ ۲ دا د قتلِ خطا د اولنی صورت حکم دے ۔ ۳ د قتلِ خطا د دویم صورت حکم ۴ د قتلِ خطا دریم صورت یعني د ذمي یا معاهد کافر حکم دے ۵ کامله درجه مراده ده ۶ شپږم حکم سلطاني یعني چه کله تاسو د جهاد في سبیل الله دپاره ځئ او په لاره کښې یو کافر ملاؤ شي او د اسلام دعوی اوکړی نو بغیر تحقیقه هغه د دُنیا په لالچ کښې مه وژنئ ۔

موضح قرآن **ف۱** د خطا څلور صورتونه دي ۔ دلته هغه ذکر شوي دي چه مسلمان او کافر کښې فرق اونکړې شي او قتل اوکړی ۔ هر قسم قتلِ خطا کښې دوه څیزونه لازم دي ۔ یو مسلمان مرییے آزادول او چه طاقت نلری نو دوه میاشتې روژې نیول پرله پسې ۔ دا د خپل تقصیر تدارک دے د الله په حضور کښې، دویم دیت ورکول د هغه وارثانو ته ، دا د هغوی حق دے ۔ که چرې هغوی خیرات اوکړی دیت پریږدی نو هغه ته اختیار دے ۔ نو که د هغه وارثان مسلمانان وي یا کافران وي لیکن صُلح اوکړی نو دیت ادا کول واجب دي او که کافران او دشمنان وي نو واجب نه دے ۔ دیت د احنافو په مذهب کښې دوه زره اووه سوه څلویښت درهم دي تخمینًا او د قاتل په برادرئ بانډې ورکول دي درے کلونو کښې تفریق سره به ئے ادا کوی ۔ **ف۲** ابن عباس رضی اللہ عنہ اُوفرمائیل چه که مسلمان په قصد سره بل مسلمان قتل کړو نو هغه دوزخي شو ، د هغه توبه نه قبلیږي ۔ باقي نور عُلماء وائي چه سزا د هغه دغه ده کومه چه ذکر شوه دلته وړاند الله مالک دے لیکن په قصاص کښې که چرې قتل کړې شو نو د هغوی په قول پاک شو ۔ **ف۳** د نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم په زمانه کښې د مسلمانانو فوج یو کلی ته اُورسیدو هلته یو مسلمان وُو خپل نغاروی ئے یو طرفته کړی وُو ، مُسلمانانو ته ئے سلام علیك اُوکړو ۔ خلقو خیال اوکړو چه د غرض دپاره د مسلمانئ اظهار کوی ، هغه ئے اُووژلو او نغاروی ئے ترینه واخستل ۔ د دے بانډې

ایت نازل شو- دا ئے چه اُوفرمائیل چه تاسو هم دا شان وئ مخکښ یعنی دُدُنیا په غرض مو ناحقه وینه نو بوُله لیکن چه مسلمانان شوی نو دا کارنهٔ دے پکار تاسو هم داشان مخکښ وئ یعنی دکافرانو په بنا رکښ اُوسید لئ مستقل حکومت مو نهٔ لرلو.

فتح الرحمٰن

ف۱ یعنی مقتول مسلمان کهٔ چرے دُ دارُالحرب د اُوسیدونکو نه وی نو دیت ئے لازم نهٔ دے **ف۲** اوهغه مؤمن وی **ف۳** مترجم والیٰ جمهورو مفسرینو د : وَاِنْ كَانَ مِنْ قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ مِّيْثَاقٌ تصویر دمقتول کافر دپاره دے په نظر سره دیته چه دکافرا و مؤمن مینځ کښ میراث یو بل نه میراث وُړل نشته- دمیراث طریقه ددیت طریقه ده هغهٔ دپاره- بندهٔ ضعیف والیٰ دمسئلے فهمیدل په مَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ اَنْ يَّقْتُلَ مُؤْمِنًا اِلَّا خَطَـًٔا سره او دمؤمن قید لګول په مثال دمَا نَحْنُ فِيْهِ کښ ظاهر دے په کوم کښ چه دایمان قید معتبر دے او ددیت لزوم وعده بانئ دُوفا په وجه دے نهٔ په طریقه دمیراث او ددے مثال وجوب دمهر دے په مسئله دمؤمنه کښ دمعاهد قوم سره په سورهٔ ممتحنه کښ- والله اعلم- **ف۴** مترجم والیٰ مُراد ترے قتل حلال ګڼړلو والا دے- والله اعلم.

تفسیر: ۶۷ے پنځم حکمِ سُلطانی :-

(لاره کښ خیال ساتئ چرته غلطئ سره ستاسو د لاسه څوك مسلمان قتل نشئ اوکهٔ چرے په خطا دا سے اُوشی نو هغے حکم دا دے) وے فرمائیل دا دمؤمن شان نهٔ دے چه هغه په قصد سره یو مسلمان قتل کړی لیکن دا ممکن ده چه دهغهٔ دلاس نه غلطئ او خطا سره قتل اوشی- د قتل خطا دوه لوئے قسمونه دی. یو دا چه قصد او اراده کښ غلطئ سره دمسلمان قتل واقع شی یا دعمل غلطئ سره دُ اُول صورت مثال دا دے چه دلرے نه څوك سړے اُووینی او خیال اوکړی چه هغه حربی کافر دے او په هغهٔ بانئ ئے ګذار اوکړو لیکن په اصل کښ هغه مؤمن وُو- ددویم صورت مثال دا دے چه کافرے په نښه کړو غشے یے اُوویشتلو لیکن په هغے یو مسلمان اولګیدو او هغه مړ شو. بیا چه کوم سړے غلطئ سره دیو مسلمان د لاس نه قتل شی دهغے درے صورتونه دی. اُول دا چه مقتول مؤمن وی او دارُالاسلام کښ اوسیږی، دویم دا چه مقتول مؤمن وی خو حربی کافرانو سره اُوسیږی- دریم دا چه مقتول کافر وی لیکن ددا سے قوم فرد وی چه دهغوی مسلمانانو سره معاهده وی مثلاً ذمی وی یعنی دارالاسلام کښ مستقل طور بانئ اُوسیږی یا عارضی طور بانئ یعنی دارالاسلام کښ داجازت نامے په ذریعه بانئ مقیم وی- ددریو وارو مختلف حکمونه دی.

۶۸ے دا د قتل داُولنی صورت حکم دے. دے صورت کښ په قاتل بانئ یو مسلمان غلام یا وینزه آزادول دی او دمقتول وارثانو ته دیت (خون بها) اداکول واجب دی. ددیت رقم به وارثانو ته دهغوی دحصو مناسبت سره تقسیمولے شی- کهٔ چرے څوك وارث ئے نهٔ وی نو هغه رقم به بیت المال (سرکاری خزانه) کښ جمع کولے

شي۔ اِلَّآ اَنْ يَّصَّدَّقُوْا ۔ دا د وجوب د دیت نه مُستثنیٰ دے یعنی کهٔ چرے د مقتول وارثان دیت یا د هغے څهٔ حصه معاف کړی نو د معاف کړے شوے حصے اداکول به واجب نهٔ وی۔ د خون بها مقدار سل اوښان دی او که چرے د سل اوښانو انتظام اونکړے شو نو بیا زر دینارهٔ یا لس زرهٔ درهم دی چه شرعی درهم موجودهٔ پاکستانی سکے (روپۍ) مطابق تقریبًا د ځلورو آنو برابر دے۔

۶۹ د قتل د دویم صورت حکم دا دے چه قاتل یا نې دیو مسلمان غلام یا وینزے ازادول واجب دی۔ دے صورت کښ خون بها واجب نهٔ دهٔ۔ اذا اسلم الحربی فی دار الحرب ولم یهاجر الینا فقتله مسلم خطأ تجب الکفارة بقتله للعصمة المؤثمة وهی الاسلام ولا تجب الدية لان العصمة المقومة بالدار ولم توجد (مدارک ص ۱۸۹ ج ۱) ۷۰ دا د ذمی کافر معاهد د قتل حکم دے یعنی د دهٔ په وژلو کفاره او دیت دواړه واجب دی: هٰذا فی الذمی والمعاهد یقتل خطأ فتجب الدية والکفارة (قرطبی ص ۳۲۵ ج ۱) مقتول مؤمن وی لکه چه اول صورت کښ وُو یا کافر لکه په دریم صورت کښ د دواړو په قاتل یا نې د دیت واجبول یو انداز سره بیان کړے شوی دی چه د دے خبرے دلیل دے چه د مؤمن او کافر ذمی یا مستأمن دیت برابر دے۔ اِن کان المقتول ذمیًا فحکمه حکم المسلم وفیه دلیل علی ان دیة الذمی کدیة المسلم۔ (مدارک)

۷۱ د دے تعلق د کفارے د دریے واړو صورتونو سره دے یعنی کهٔ چرے غلام یا وینزهٔ میسر نهٔ وی نو د دے په ځائے په متواتر دوهٔ میاشتے روژو نیولو سره کفاره اداشی لیکن شرط دا دے چه دوه میاشتے روژے نیولو کښ یوه ورځ هم ناغه نهٔ وی کهٔ چرے یوه ورځ هم ناغه اوشوه نو بیا به سر د وباره دوه میاشتے روژے نیول وی۔ دلته د قتل خطا د دریے واړو صورتونو حکم بیان شو: وَمَنْ يَّقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآؤُهٗ جَهَنَّمُ۔ د قتل خطا نه روستو ئے په قتل عمد با نې تخویف اُخروی اوفرمائیلو۔ د قتل عمد فقهی حکم كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ فِى الْقَتْلٰى (بقره۔ ع ۲۲) کښ بیان شوے دے۔ دلته خَالِدًا فِيْهَا الفاظو سره ئے دے طرفته اشاره اوکړه چه دلته قتل عمد نه د هغه کامل درجه مُراد دهٔ یعنی مؤمن ئے عمدًا او د هغه قتل ئے په وجه د ایمان جائز ګڼړلو سره قتل کړو او د قتل مؤمن د حلت عقیدهٔ لرونکے وی۔ لکه چه نسفی فرمائی: ای قاصدًا قتله لایمانه وهو کفر او قتله مستحلا لقتله وهو کفر ایضًا۔ (مدارک ص ۱۸۹ ج ۱)

شپږم حُکمِ سلطانی

۷۲ (لاړهٔ کښ کهٔ درته څوک اُووائی چه زهٔ مسلمان یم نو د مال په لالچ کښ هغه مهٔ وژنئ) یعنی څوک تاسو ته اووائی چه زهٔ مسلمان یم نو د هغهٔ د دعوے تحقیق اوکړئ۔ بغیر د تحقیق نه دا خیال مکوئ چه دے د مرګ د ویرے نه اسلام ظاهروی۔ هغه صرف د مال په خاطر مهٔ وژنئ د هغهٔ د لږ شان مال پروا مکوئ، الله پاک سره تاسو د پاره ډیر غنیمت شته او بیا دا هم

سوبچ اوکړئ چه تاسو هم مخکښې کافران وئ بیا الله تعالیٰ خپله مهربانئ سره تاسو ته د اسلام راوړلو توفیق درکړو نو که چرے په لاره کښې د اقسم واقعه پیښه شي نو د هغې تحقیق ضرور اوکړئ۔ د بینه پس لَا یَسْتَوِی الْقٰعِدُوْنَ نه تر وَکَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِیْمًا د پورې د جهاد ترغیب او مجاهدینو د پاره اخروی بشارت دے۔

لَا يَسْتَوِي الْقٰعِدُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ غَيْرُ اُولِي الضَّرَرِ

برابر نه دی ناست پاتے کیدونکی مسلمانان چا ته چه څه عذر نشته او هغه مسلمانان

وَالْمُجٰهِدُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ ؕ

خلق چه جهاد کوی د الله په لاره کښې خپل مال او ځان سره

فَضَّلَ اللّٰهُ الْمُجٰهِدِيْنَ بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ عَلَى

الله غوره کړی دی جنګ کونکی خپل مال او ځان سره په

الْقٰعِدِيْنَ دَرَجَةً ؕ وَكُلًّا وَّعَدَ اللّٰهُ الْحُسْنٰى ؕ وَفَضَّلَ

ناست پاتے کیدونکو باندې درجو کښې او د هر یو سره وعده کړے ده الله د نیکئ او زیات کړو

اللّٰهُ الْمُجٰهِدِيْنَ عَلَى الْقٰعِدِيْنَ اَجْرًا عَظِيْمًا ﴿۹۵﴾ دَرَجٰتٍ

الله جنګ کونکی په ناست پاتے کیدونکو باندې اجر عظیم سره چه درجے دی

مِّنْهُ وَمَغْفِرَةً وَّرَحْمَةً ؕ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿۹۶﴾

د الله د طرفه او بخښش دے او مهربانئ دے، او الله دے بخښونکے مهربانه ئ

اِنَّ الَّذِيْنَ تَوَفّٰهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ ظَالِمِيْٓ اَنْفُسِهِمْ قَالُوْا فِيْمَ

هغه خلق چه روحونه ئے اوباسی فرښتے داسے حالت کښې چه هغوی به کوی خپل ځان سره ظلم وائی ورته

كُنْتُمْ ؕ قَالُوْا كُنَّا مُسْتَضْعَفِيْنَ فِي الْاَرْضِ ؕ قَالُوْٓا اَلَمْ

فرښتے تاسو کوم حال کښې وئ؟ هغوی وائی مونږ وو کمزوری ولاړ دے ملک کښې، وائی هغوی ته فرښتے ولے نه

تَكُنْ اَرْضُ اللّٰهِ وَاسِعَةً فَتُهَاجِرُوْا فِيْهَا ؕ فَاُولٰٓئِكَ

وه زمکه د الله فراخه چه تاسو تللی وے هلته او وطن مو پریخے وے نو دا سے خلقو

مَأْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ۖ وَسَآءَتْ مَصِيْرًا ﴿۹۷﴾

ځائے دوزخ دے او ھغوی بد ځائے ته اؤرسیدل ۔

نکات: ـ ۱ـ ترغیب الی القتال او بشارت مجاهدینو دپاره ۔ ۲ـ اووم حکم سلطانی، دا خطاب هغه محصورو مسلمانانو ته دے چا چه باوجود د قدرت د مکے نه هجرت او نکړو ، یعني ئے خاننه مؤمنان وَیونکوا اگرچه ستاسو امداد دپاره مجاهدین درلیږلے شي لیکن تاسو پخپله د قدرت باوجود اوُنه وتلئ ، دا تاسو خپل ځان بانديِ ظلم کړے دے ۔ ۳ـ زجر سره د تخویف اُخروي ۔

موضح قرآن ف د بدن نقصان لرونکی یعنی گډ ، شل د جهاد دَحکم نه معاف دی باقی خلقو کښ د جنگ کوونکو لوئے درجے دی کومے چه د تاسِت پاتے کیدونکو دپاره نشته ، اگرچه نا ست پاتے کیدونکی هم جنتیان دی ۔ دینه معلومه شوه چه جهاد فرض کفائی دے فرض عین نه دے ۔ بعض چه جهاد کوی نوره کوونکی هم معاف دی او چه ټول ئے پریږو دی نو ټول گناهگار دی ۔

فتح الرحمٰن ف ۱ یعنی په اول حال کښ بغیر د کلمهٔ شهادت نه دلیل د دوی په اسلام باندیِ نه وُو په مزه مزه نیک کارونه د دوی نه وجود ته راتلل. ف ۲ مترجم وائی د غَیْرُ اُوْلِی الضَّرَرِ د قید فائده دادکه چه اُوْلِی الضَّرَرِ ته دا حکم عام نهٔ دے بلکه یَوجماعت به وی د اُولی الضرر نه چه صحیح نیت لری او ثواب به د کامل عمل بیا موی ۔ ف ۳ یعنی هجرت نهٔ کوُلو سره د دارالحرب نه دارالاسلام ته او د کافرانو د جماعت زیاتولو سره ۔ والله اعلم ۔

تفسیر ۷۲ :

اُووم حکمِ سُلطانی: ـ زاے په مکه کښ بند شوُو مسلمانانو ! ستاسو مدد دپاره خو مجاهدین درلیږم لیکن تاسو پخپله هم د مکے نه د هجرت کوُلو کوشش وَلے نهٔ کوئ ، اول ئے د هغه خلقو حال بیان کړو چا چه په جهاد کښ شریکیدل نهٔ غوښتل اُوس ئے دلته د هغه خلقو حال بیان کړو چا چه سره د قدرت لرلو نه هجرت نهٔ کوُلو : بیان لحال القاعدین عن الهجرة اثر بیان القاعدین عن الجهاد ۔ (روح ص ۱۲۵ ج ۱) او هغه خلقو ته ئے ظالمان په دے وجه اُووئیل چه هغوی د هجرت نهٔ کوُلو په وجه خپلو ځانونو باندیِ ظلم کړیدے ۔ دا هغه خلقو دپاره زجر او تخویف دے او د دینه مراد هغه خلق دی کوم چه مکه معظمه کښ محصور (بند) وُو ۔ و ے فرمائیل ستاسو د مدد او نصرت دپاره خو احکام سلطانیه درکړے شوی دی او مجاهدین درله مدد دپاره راځی لیکن اے د ایمان او اسلام دعویدارو! تاسو پخپله هم د کافرانو د پنجے نه د تیښتے کوشش اوکړئ . اِلَّا الْمُسْتَضْعَفِيْنَ مِنَ الرِّجَالِ وَ النِّسَآءِ ۔ بوډان ، ماشومان ، زنانه خوک چه د هغه نه د هجرت کوُلو طاقت نهٔ لری او هر قسمه مجبوره دی ، د پورته ذکر شوے وعید نه مستثنی دی ۔ وَمَنْ يُّهَاجِرْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

دا د الله په لاره کښې د هجرت کولو ترغیب دے یعنی ولے هجرت نه کوئ حالانکه هجرت کونکو ته به چرې قحط العام هم ملاو نه شي. مُرٰغَمًا نه مراد مال غنیمت دے یا د هجرت ځائے چرته چه به هغوي ازادۍ سره د دین کار کوي.

اِلَّا الْمُسْتَضْعَفِیْنَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَآءِ وَالْوِلْدَانِ لَا

لیکن هغوئ چه کمزوري دي د سړو او ښځو او ماشومانو نه چه نشي

یَسْتَطِیْعُوْنَ حِیْلَةً وَّلَا یَهْتَدُوْنَ سَبِیْلًا ﴿۹۸﴾ فَاُولٰٓئِكَ عَسَى

کولے څه تدبیر او نه پیژني چرته د تلو لار نو امید دے چه الله به

اللّٰهُ اَنْ یَّعْفُوَ عَنْهُمْ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَفُوًّا غَفُوْرًا ﴿۹۹﴾ وَمَنْ

دا سے خلق معاف کړي، او الله دے معاف کونکے بخښونکے ؒ او هغوئ چه

یُّهَاجِرْ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ یَجِدْ فِی الْاَرْضِ مُرٰغَمًا كَثِیْرًا

وطن پریږدي د الله په لاره کښې بیا به مومي دهغه مقابله کښې ځائے ډیر

وَّسَعَةً ؕ وَمَنْ یَّخْرُجْ مِنْۢ بَیْتِهٖ مُهَاجِرًا اِلَى اللّٰهِ وَ

او فراخي او هغوئ چه اوځي د خپل کور نه هجرت اوکړي د الله او رسول

رَسُوْلِهٖ ثُمَّ یُدْرِكْهُ الْمَوْتُ فَقَدْ وَقَعَ اَجْرُهٗ عَلَى اللّٰهِ ؕ

طرفته بیا راشي هغه ته مرګ نو مقرر شوے دے د هغه ثواب الله سره،

ع ۱۱ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِیْمًا ﴿۱۰۰﴾ وَاِذَا ضَرَبْتُمْ فِی الْاَرْضِ

او دے الله بخښونکے مهربان او کله چه تاسو سفر کوئ ملک کښې

فَلَیْسَ عَلَیْكُمْ جُنَاحٌ اَنْ تَقْصُرُوْا مِنَ الصَّلٰوةِ ۖ اِنْ

نو تاسو باندې ګناه نشته چه څه کمے اوکړئ په مانځه کښې که چرے تاسو

خِفْتُمْ اَنْ یَّفْتِنَكُمُ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا ؕ اِنَّ الْكٰفِرِیْنَ

ویرېږئ چه تکلیف به اورسوي تاسو ته کافران، خامخا کافران دي

كَانُوْا لَكُمْ عَدُوًّا مُّبِیْنًا ﴿۱۰۱﴾

ستاسو ښکاره دشمنان ؒ

نکات: ۔ ۱ یعنی معذوري رسري او ښځې مستثنیٰ دي. ۲ ترغیب الی الهجرة ۔ ۳ إنتم حکم سلطاني: جهاد ته ځئ نو د صلوٰة خوف طریقه اُو پېژنئ ځکه چه د مونځ فرضیت هغه چیلے سره نشي ختمیدے ۔ ۴ قصر په رکعتونو کښې یعني د څلورو په ځائے دوه یا په کیفیت کښې یعنی قرات وغیره مختصر کوئ. از شاه ولی الله رح ۔ ۵ إِنْ خِفْتُمْ قید اتفاقي دے یعني د قصر حکم د جهاد سره خاص نه دے .

موضح قرآن ف ۱ د احال لے د هغه چا اُوفرمائیلو څوک چه د کافرانو ملک کښې د زړه نه مسلمانان دي او نشي ظاهریدے د دوي د ظلم د وجے نه نو که چرے خپله کښې پخپله کوئے شي او د سفر د تګ بېرنه واقف وي نو عذر ئے قبول نه دے بل ملک ته د لاړ شي د الله زمکه فراخه ده او که چرے معذوري وي پردي ملک کښې نو اُمید دے چه معاف دي ف ۲ دینه معلومه شوه چه کوم ملک کښې مسلمان ښکاره نشي اوسیدے د هغه ځائے نه هجرت فرض دے یعني د رزق ویره کول نه دي پکار ځکه چه ډیر زرق ملاویږي فراخي سره او د خطره نه ده پکار چه کید سے شي لاره کښې مړه شو چه دیکښې ثواب پوره دے او مرګ د خپل وخت نه مخکښې نه راځي ۔ ف ۳ سفر چه درے منزله وي په هغے څلور رکعتو فرضو نه دوه کول پکار دي او د کافرانو د تنګولو ویره هغه وخت وه کله چه حکم راغے د دغه تقریب نه معافي ملاؤ شوه هر وخت دپاره او پوره د نه کوي ځکه د الله ورکړه ده دیکښې بے پرواهي کیږي او د سنت قید لګول په سفر کښې نه پائے کیږي .

فتح الرحمٰن ف ۱ یعنی په لاره کښې مخکښې رسیدلو نه مقصد ته ف ۲ مترجم وائي مشهوره خو دا ده چه دا آیت صلوٰة مسافر کښې نازل شوے دے او د خوف قید اتفاقي دے او کوم چه دے بنده په نزد راجح دے هغه دا دے چه دا آیت په صلوٰة خوف کښې نازل شوے دے ۔ د سفر قید اتفاقي دے او مراد قصر دے په کیفیت کښې نه په کمیت د رکعتونو کښې رکوع او سجده په اشارے سره کولے شي ۔ والله اعلم ۔

تفسیر ۳ کله

اَنتم حُکم سُلطانی: ۔ (جهاد ته چه ځئ نو په مانځه کښې قصر کوئ او چه عین د جنګ میدان کښې د مانځه وخت راشي او د دشمن د حملے ویره وي نو مونځ په دے طریقه ادا کړئ.) دے آیتونو کښې د قصر صلوٰة حکم ورکړے شویدے او د صلوٰة خوف طریقه ښودلے شویده کله چه عین میدان جنګ کښې د مانځه وخت راشي نو د مونځ فرضیت هغه وخت هم نه ساقطیږي او مونځ به دے حالت خوف کښې هم معاف نه وي ۔ د جمهور و مفسرینو په نزد دلته د قصر صلوٰة نه د څلورو رکعتونو په ځائے دوه رکعتونه مُراد دي لیکن شاه ولی الله رحمه الله فرمائي چه د قصر نه د قرأت اختصار مُراد دے او د إِنْ خِفْتُمْ قید احترازي نه دے بلکه اتفاقي دے او د قصر حکم د جهاد سفر پورے خاص نه دے بلکه هر سفر کښې د قصر حکم دے .

وَإِذَا كُنْتَ فِيهِمْ فَأَقَمْتَ لَهُمُ الصَّلٰوةَ فَلْتَقُمْ طَآئِفَةٌ

او کله چه ته دوی کښی موجود یې نو بیا ئے په مانځه اودروے ته نو پکار دی چه یوه ډله د دوی نه وا

مِّنْهُمْ مَّعَكَ وَلْيَأْخُذُوٓا أَسْلِحَتَهُمْ قف فَإِذَا سَجَدُوا

وی تا سره او خان سره دِ خپله وسله واخلی بیا چه کله دوی سجده اوکړی

فَلْيَكُونُوا مِنْ وَّرَآئِكُمْ ص وَلْتَأْتِ طَآئِفَةٌ أُخْرٰى لَمْ

نو لاړ دِ شی ستاسو نه وروسته او راد دِ شی دویمه ډله چا چه مونځ نه دے

يُصَلُّوا فَلْيُصَلُّوا مَعَكَ وَلْيَأْخُذُوا حِذْرَهُمْ وَأَسْلِحَتَهُمْ ج

کړے هغوی دِ مونځ اوکړی تا سره او خان سره دِ واخلی خپل بچاؤ او وسله،

وَدَّ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْ تَغْفُلُونَ عَنْ أَسْلِحَتِكُمْ وَأَمْتِعَتِكُمْ

کافران غواړی چه په څه طریقه تاسو بے خبره یئ د خپلے وسلے نه او سامان نه

فَيَمِيلُونَ عَلَيْكُمْ مَّيْلَةً وَّاحِدَةً ط وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ

دپاره د دے چه په تاسو حمله اوکړی په یو ځل او په تاسو څه ګناه نشته

إِنْ كَانَ بِكُمْ أَذًى مِّنْ مَّطَرٍ أَوْ كُنْتُمْ مَّرْضٰى أَنْ

که چرے په تاسو څه تکلیف وی د باران نه یا بیمار یئ چه

تَضَعُوٓا أَسْلِحَتَكُمْ ج وَخُذُوا حِذْرَكُمْ ط إِنَّ اللّٰهَ أَعَدَّ

کیږدئ خپلے وسلے او خان سره کړئ خپله دفاع، بیشکه الله تیار کړے دے

لِلْكٰفِرِينَ عَذَابًا مُّهِينًا ﴿١٠٢﴾ فَإِذَا قَضَيْتُمُ الصَّلٰوةَ

کافرانو دپاره عذاب رسواکونکے دے بیا چه کله مونځ اوکړئ

فَاذْكُرُوا اللّٰهَ قِيَامًا وَّقُعُودًا وَّعَلٰى جُنُوبِكُمْ ج

نو یاد کړئ الله په ولاړه او په ناسته او په اړخ

فَإِذَا اطْمَأْنَنْتُمْ فَأَقِيمُوا الصَّلٰوةَ ج إِنَّ الصَّلٰوةَ كَانَتْ

بیا چه کله وېره ختمه شی نو درست کړئ خپل مونځ ته بیشکه مونځ په مسلمانانو

عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ كِتٰبًا مَّوْقُوْتًا ﴿۱۰۳﴾

فرض دے خپلو مقررو وختونو کښې ئ

نکات: سلا د صلوٰۃ خوف کولو طریقه سلا یعنی یو رکعت د اوکړے شي او لاړه شي. سلا یعنی دویمه ډله د پوره مونځ اوکړي. د ضرورت د وجې نه دا اجازت ورکړے شو، د احناف دا مسلک دے. سلا لو مصدریه دے. سلا یعنی هر حال کښې تنه پالا نه آواز کوئ۔

موضح قرآن

ف دا ئے د صلوٰۃ خوف بیان اوکړو چه که د مننا بخے وخت وی نو فوج د دوه حصے شي. هر ډله د نیم مونځ کښې د امام د سره شریک وی او نیم د ځانله اوکړي تر څو پورے چه دویم جماعت د دشمن مقابل وی او دے وخت کښې مانځه کښې تلل راتلل معاف دي او اسلحه او زغره یا ډال د ځان سره ساتي او که دومره مقدار فرصت هم نه وی نو قضا د اوکړي. ف۲ یعنی دویرے په وخت که څه ے مانځه کښې کوتاهي وی پس د مانځه نه نو الله په بله طریقه یاد کړئ. بیو مانځه کښې دا قید دے چه په وخت یکار دے او د الله تعالیٰ یاد به هر حال کښې صحیح دے.

فتح الرحمٰن

ف۱ یعنی د ویرے په وخت ف۲ یعنی د دشمن مقابل ف۳ مترجم وائی د دے ډیر صورتونه دی. یو هغه چه امام د دوه ډله مونځ کوی. یو ډل دے د ے سره اوبل ډل هغه د ے سره. دویم دا چه امام د یو ے ډلے سره یو رکعت اوکړي قیام کښې توقف اوکړي تر دے چه دویم رکعت کولو پورے اول رکعت کونکی د دشمن مقابل شي او هغه دویم جماعت راشي امام پسے اقتداء اوکړي، امام بل یو رکعت هغه جماعت سره اوکړي او په قعده کښې به دومره توقف اوکړي چه د دویم رکعت نه فارغ شي هغه وخت به دوی سلام اوګرځوی او دا د واړه صورتونه د نورو صورتونو نه صحیح دی او نور د دے احتمال لری. والله اعلم. ف۴ یعنی په طریقه د امن د مونځ

تفسیر: ۱۰۲ دا د صلوٰۃ خوف کولو طریقه ده. د دے کښې خطاب نبی علیه السلام سره دے لیکن ستاسو نه پس تر قیامته پورے ستاسو جانشین هم دیکښې داخل دی. و هذه الاٰیة خطاب للنبی صلی الله علیه وسلم وهو یتناول الامراء بعده الی یوم القیٰمة (قرطبی ص ۳۶۳ ج ۵) حاصل دا دے چه کله حین میں ان جنګ کښې د مانځه وخت راشي او د کافرانو له طرفه ناڅاپه د حملے کولو خطره وی نو امام د مسلمانانو له په دوه حصو کښې تقسیم کړي، یوه ډله خود وسله په لاس د دشمن په مقابله کښې ولاړه وی او دویمه د امام سره په جمع کښې شریکه شي. هر کله چه یو رکعت اوکړي نو خاموشي سره د د رومبۍ ډلے ځائی ته لاړه شي او رومبۍ ډله د راشي امام سره د شریکه شي. هر کله چه

امام دویم رکعت بانږ سلام واړوی نو دوی به پاتې خپل سابقه رکعت به ادا کړی او سلام به اوګرځوی نو د دشمن مقابلے ته به لاړشي او کوم چه ډلے چه یو رکعت کړے وو او تلے وه هغه به واپس خپل ځائے ته راشي او باقی پاتے رکعت به ادا کړی۔ دا طریقه د دوه رکعتونو ده او که څلور رکعتونه وی نو امام د دواړو ډلوته دوه دوه رکعته مونځ ورکړی۔

لَوْ تَغْفُلُوْنَ کښی لَوْ مصدریه دے۔

۱۶۶ هر کله چه ذکر شوے طریقے سره صلوٰة خوف ادا کړئ نو په هر حال کښی د الله تعالٰی ذکر جاری اوساتئ۔ د ذکر الله نه مراد رابلنه ده لهٰذا ذکر الله هم د مانځه په شان فرض دے۔ څوک چه الله نه یادوی نو کویا چه هغه فرض پرېښودل

ذکر ایجو تمازے فرض دان۔

وروی عن ابن عباس رضی الله تعالٰی عنهما انه قال عقب تفسیرها لم یعذر الله تعالٰی احدا فی ترک ذکره الا المغلوب علی ۔ او بیا یه آخر کښی ۔ (روح ج ۵ ص ۱۳۷)

وَلَا تَهِنُوْا فِی ابْتِغَآءِ الْقَوْمِ ؕ اِنْ تَكُوْنُوْا تَاْلَمُوْنَ فَاِنَّهُمْ

او همت مه بائیلئ د دښمن په تلاش کولو کښی که تاسو بے آرامه کیږئ نو هغوی هم

یَاْلَمُوْنَ كَمَا تَاْلَمُوْنَ ۚ وَتَرْجُوْنَ مِنَ اللّٰهِ مَا لَا یَرْجُوْنَ ؕ

بے آرامه کیږی څنګه چه تاسو یئ او ستاسو الله نه امید شته کوم چه د هغوی نشته

وَكَانَ اللّٰهُ عَلِیْمًا حَكِیْمًا ﴿۱۰۴﴾ ع اِنَّاۤ اَنْزَلْنَاۤ اِلَیْكَ الْكِتٰبَ

او الله په هر څه خبردار او حکمت والا دے بیشکه مونږ نازل کړو ستا طرفته کتاب

بِالْحَقِّ لِتَحْكُمَ بَیْنَ النَّاسِ بِمَاۤ اَرٰىكَ اللّٰهُ ؕ وَلَا

ریښتونے د دیاره د دے چه ته انصاف اوکړے خلقو کښی په هغه څه چه اوښودل تا ته الله تعالٰی او ته مه

تَكُنْ لِّلْخَآىِٕنِیْنَ خَصِیْمًا ﴿۱۰۵﴾ لا وَّاسْتَغْفِرِ اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

کیږه د خیانتګرو له طرفه جګړه کونکے۔ او بخښنه اوغواړه د الله نه شک نشته بیشکه الله

كَانَ غَفُوْرًا رَّحِیْمًا ﴿۱۰۶﴾ ج وَلَا تُجَادِلْ عَنِ الَّذِیْنَ یَخْتَانُوْنَ

بخښونکے مهربانه دے۔ او جګړه مه کوه د هغه چا له طرفه چه خپلو زړونو کښی

اَنْفُسَهُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا یُحِبُّ مَنْ كَانَ خَوَّانًا اَثِیْمًا ﴿۱۰۷﴾ لا

دهوکه لری، الله ته خوښ نه دے هغه څوک چه وی دهوکه باز ګناهګار۔

يَسْتَخْفُونَ مِنَ النَّاسِ وَلَا يَسْتَخْفُونَ مِنَ اللَّهِ وَهُوَ

شرمیږي د خلقو نه وَ نه شرمیږي د الله نه او هغه

مَعَهُمْ إِذْ يُبَيِّتُونَ مَا لَا يَرْضَىٰ مِنَ الْقَوْلِ ۚ وَكَانَ اللَّهُ

دوی سره دے کله چه مشورے کوی دشپے د هغه خبرے په کومه چه الله راضی نه دے او کوم څه چه دوی

بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطًا ﴿١٠٨﴾

کوی ټول دالله په اختیار کښې دی ف

نکات: ۱۰۵ ترغیب الی القتال یعنی د مشرکانو په زغلولو کښې سستی مکوئ ۲۵ نهم حکم سلطانی یعنی چه کله تاسو د جهاد د سفر نه راشئ نو د شرعی قواعدو مطابق فیصلے کوئ نه چه ظن او اټکل سره د پارټي داری نه چه چرته دهوکه نشی لکه چه د طعمه په قصه کښې تاسو ته دهوکه درکړے شوه. الله پاک تاسو ته شرعی قواعد ښودلی دی. دا د هغه ډیر لوئے انعام دے. ۳۷ څکه چه تاسو دا سے فیصلے اراده کړے وه کومه چه واقع خلاف وه. ۳۸ منافقان نه مراد دی چه چه دشپے د دروغو شهادت کولو منصوبه جوړه کړے وه.

موضح قرآن

ف دا اول او آخر څه آیتونو کښې ذکر دے د یو قصے. د نبی ﷺ په وخت کښې د یو انصاری زغره او د اوړو ګیډئ ورکه شوه صبا ئے تلاش کړه نو د اوړو لکیرونه اولیدله چه د یو سړی کور پورے رسیدلے وه. د هغه نوم طعمه بن ابیرق وو. هغه تلاش کړے شوه نو اونه موندے شوه چه وړاندے ئے اوکتل د یو یهودی کور کښې پیدا شوه چه نوم ئے زید وو. یهودی اوویل چه ما ته طعمه سپارلے ده. طعمه اوویل چه څه سړی په غلا همدا دے. د طعمه قوم دشپے مشوره اوکړه چه مونږ به نبی علیه السلام ته ګواهی ورکړو چه طعمه بری دے. نو نبی علیه السلام به زمونږ حمایت اوکړی او یهودی به غل ثابت شی. څرګند ئے همدغه اوکړل نو الله تعالی دا آیتونه نازل کړل او نبی علیه السلام ته ئے خبر ورکړو. په حقیقت کښې غل همدا طعمه وو.

فتح الرحمن

ف۲ مترجم وائی چه کوم کسان ضعیف الاسلام وو که د هغوی نه په چا گناه اوکړه نو د هغه د قوم خلقو د ګوند یارانه به ئے حیلے جوړولے او د نبی علیه السلام په مخکښې به ئے دا سے هڅے سره اظهار کولو چه نبی علیه السلام ته به د هغه براءت په زړه کښې اوشو او په دغه سره کړے شوے پټے د راز خبرے چه د نبی علیه السلام د مرضی نه به خلاف وے هغه به ئے میشتو ته راوړلے. الله تعالی دا آیتونه نازل کړل. والله اعلم.

تفسیر: ۱۶۵ دا ترغیب الی القتال دے۔ د اَلْقَوْمِ نه مراد مشرکان دی یعنی کله چرے څۀ وخت د مشرکانو د تعاقب ضرورت راپیښ شی نو سُستی او کمزوری مۀ ښکاره کوئ، بیشکه دیکښې به تاسو ته تکلیف زغمل خوږ وی لیکن مشرکانو ته به هم تکلیف وی۔ په تکلیف زغملو کښې خو تاسو ټول برابر یئ لیکن د دے تکلیفونو په بدله کښې د الله رحمت او بخښش او اُخروی انعامات دکوم چه تاسو اُمید لرئ، د مشرکانو هغې کښې هیڅ حصه نشته۔ د دے وجے نه د مشرکانو تکلیف خو صرف تکلیف دے لیکن ستاسو په تکلیف بانې به د آخرت اَجر او همیشه نعمتونه ملاویږی۔ لهذا تاسو له د الله تعالیٰ په لاره کښې هر تکلیف په خوشالئ او زړونړتندی سره زغمل پکار دی۔

۱۶۷ نهم حکم سلطانی

الله تعالیٰ تاسو ته د وحی په ذریعه شرعی احکام درکړی دی چه کله تاسو د جهاد سفر بانې څئ نو اټکل فیصلے مکوئ بلکه د شرعی قواعدو مطابق فیصلے اوکړئ د پاره د دے چه دهوکه اُونه خورئ لکه د طُعمه په قیصه کښې تاسو ته دهوکه درکړے شوه۔ د دے ځائے نه واخله تر: وَكَانَ فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكَ عَظِيْمًا ۝ (ع ۱۴) پورے یو واقعے سره متعلق دی۔ واقعه داده چه طعمه بن ابیرق نومے منافق د یو صحابی حضرت رفاعه بن زید رضی الله عنه مکان کښې کنډر اوکړو او غلا ئے ترے اوکړه۔ غلا شوی مال کښې څۀ اسلحه او د ډوډئ وړه۔ اتفاقاً هغه تهیلئ کښې سُورے وُو چه د هغې نه اُوړه د غل ترکوره پورے لاره کښې اُوغوړیدل۔ هر کله چه غل ته پته اُولګیده نو بد نامئ نه د بچ کیدلو د پاره ئے هغه غلا شوے مال زید بن یاسمین نومی یو یهودی سره امانت کیښودو۔ سبا له چه کله د کور مالک ته د دے واردات علم اوشو نو هغه خپل وراره حضرت قتاده بن نعمان ته د دے ذکر اوکړو نو هغه تفتیش سره معلومه کړه چه دا حرکت بنو اُبیرق کړے دے نو هغه د نبی علیه السلام په خدمت کښې حاضر شو او ټوله قصه ئے ورته واورؤله۔ هر کله چه بنو اُبیرق د دینه خبر شو نو باقاعده سازش ئے جوړ کړو او په زید بن یاسمین بانَدے ئے د غلا الزام اُولګولو او قسمونه ئے کول او د خپل ایمان او اخلاص واسطه ئے ورکړه، نبی علیه السلام ته ئے یقین ورکړو او طعمه بن ابیرق چه اَصلی غل وُو هغه ئے د غلا د الزام نه بالکل بری اوګرزولو او بے ګناه ئے ثابت کړو۔ نو نبی علیه السلام د دے منافقانو قسمونه اوګواهئ صحیح اُوګڼلے یهودی ئے غَل او طعمه ئے بے ګناه تصور کړو او بیا ئے یهودی ته د سزا ورکولو اراده اُوکړه نو دا آیتونه نازل شو چه په هغې کښې د نبی علیه السلام اجتهادی غلطئ بانې تنبیه ورکړے شوه۔

۱۶۹ نبی علیه السلام د منافقانو د ژبے چالاکئ او تیزئ په وجه زید بن یاسمین غل اوګڼلو او د هغۀ د لاس پریکولو اراده ئے اوکړه۔ بیا چه کله الله تعالیٰ د اَصل حقیقت نه خبر کړو نو نبی علیه السلام ته معلومه شوه چه دا سزا که چرے نافذ شوے وے نو د نفس الامر نه به خلاف او په واقعه کښې به خطا وے۔ د دے وجے نه دیکښې اګرچه هغوی معذور وُو مګر

بیا هم دے لغزش باندې د استغفار حکم ورکړے شو؛ فهم النبی صلی الله علیه وسلم ان یقطع
ید زید الیهودی (معالم ج ١ ص ٤٩٣) فلما اطلع الله علی کذب قوم طعمة عرف انه لو وقع ذلك
الامر لکان خطأ فی نفس الامر بالاستغفار منه وان کان معذوراً (خازن ص ٤٩٢ ج ١).
اِذْ یُبَیِّتُوْنَ مَا لَا یَرْضٰی مِنَ الْقَوْلِ د یُبَیِّتُوْنَ ضمیر اَلَّذِیْنَ یَخْتَانُوْنَ ته راجع دے
او دے نه مراد هم هغه منافقان دی یعنی هغوی د شپے داسے خبرے جوړوی چه الله تعالٰی
هغه نه خوښوی۔ مراد ترے دغه د دروغو د ګواهئ ورکولو منصوبه او مشوره ده۔
هَاَنْتُمْ۔ خطاب هم دغه جګړه کوونکو منافقانو سره دے او د هغوی نه زجر دے۔

هٰٓاَنْتُمْ هٰٓؤُلَآءِ جٰدَلْتُمْ عَنْهُمْ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا فَمَنْ

بیا به څوک کښې د دنیا په ژوند له طرفه د دهغوی کوئ جګړه خلق تاسو ! واورئ

يُّجَادِلُ اللّٰهَ عَنْهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ اَمْ مَّنْ يَّكُوْنُ عَلَيْهِمْ

جګړه کوی دهغوی بدله کښې الله سره د قیامت په ورځ یا به څوک وی د هغوی

وَكِيْلًا ﴿١٠٩﴾ وَمَنْ يَّعْمَلْ سُوْٓءًا اَوْ يَظْلِمْ نَفْسَهٗ ثُمَّ يَسْتَغْفِرِ

کارساز ۔ او هر څوک چه اوکړی ګناه یا خپل ځان سره بد اوکړی شه بیا د الله نه بخښنه

اللّٰهَ يَجِدِ اللّٰهَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿١١٠﴾ وَمَنْ يَّكْسِبْ اِثْمًا فَاِنَّمَا

اوغواړی نو بیا به مومی الله بخښونکے مهربانه ؤ او څوک چه اوکړی ګناه نو کوی ئے

يَكْسِبُهٗ عَلٰى نَفْسِهٖ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ﴿١١١﴾ وَمَنْ

په خپل حق کښې او الله په هر څه خبردار حکمت والا دے ؤ او څوک چه

يَّكْسِبْ خَطِيْٓئَةً اَوْ اِثْمًا ثُمَّ يَرْمِ بِهٖ فَقَدِ احْتَمَلَ

اوکړی خطا یا ګناه بیا تهمت اولګوی په یو بے ګناه باندې نو هغه په خپل سر باندې

ع ١٦/٨/١٣ بُهْتَانًا وَّاِثْمًا مُّبِيْنًا ﴿١١٢﴾ وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكَ وَ

کښېښودو طوفان او ښکاره ګناه ؤ او که چرے نه وے په تا باندې د الله فضل او

رَحْمَتُهٗ لَهَمَّتْ طَّآئِفَةٌ مِّنْهُمْ اَنْ يُّضِلُّوْكَ ؕ وَمَا يُضِلُّوْنَ

او د هغه رحمت نو قصد کړے ؤ دوی کښې یوې ډلے چه تا ګمراه کړی او نه ګمراه کوی

إِلَّآ أَنفُسَهُمْ ۖ وَمَا يَضُرُّونَكَ مِن شَيْءٍ ۚ وَأَنزَلَ اللَّهُ

لیکن خپل ځانونه او تاته هیڅ نقصان نشي درکولے او نازل کړو الله

عَلَيْكَ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَعَلَّمَكَ مَا لَمْ تَكُن تَعْلَمُ ۚ

تا باندې کتاب او حکمت او وے ښودلے تاته هغه خبرے کومے چه تاته نه وے معلومے

وَكَانَ فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكَ عَظِيمًا ﴿١١٣﴾

او دالله فضل تا باندې ډیر لوئے دے ۸۱

نکات: ۔ ۱ اے جهګړه کوونکو ۲ سُوْٓءً غلا، یَظْلِمْ نَفْسَهٗ۔ د دروغو ګواهي ۳ مَنْ یَّکْسِبْ اِثْمًا۔ غلا ۴ مَنْ یَّکْسِبْ خَطِیْٓئَةً۔ غلا ۔ اِثْمًا د دروغو قسم یا بالعکس۔ ۵ لَاَضَلُّوْكَ جواب محذوف دے او لَهَمَّتْ علت قائم مقام د جواب دے۔ ۶ یعني د دے واقعے پوره حقیقت تاته معلوم نه وو، الله پاك درته خبر درکړو۔

موضح قرآن ف ګناه کبیره نه اُو بښله او خپل ځان سره بد وترلے صغیره دا هغه خلقو ته حکم دے چه توبه اُو باسي نو قبوله شي ف۲ یعني قوم به خپل زړه کښ پخپله شرمنده شي چه په مونږ باندې عیب اولګیده او په الله ده کښ به د عیب لګیدلو ویرے نه د خپل کس حمایت نه کوي تر څو چه تحقیق نه وي شوے ځکه چه الله تعالیٰ خو خبر دے او د هغه حکم هم دا دے چه دیو ګناه په بل نشته۔

تفسیر: ۸۰ د سُوْٓءً نه مراد غلا او د ظلم نفس نه مراد د دروغو ګواهي ده یعني کوم سړے چه غلا او د دروغو د ګواهئ پشان ګناه هم اوکړي او د هغه نه رښتینې توبه اُو باسي نو الله تعالیٰ به ئے معاف کړي او د خپل رحمت نازلید و ځائے به ئے اوګرځوي وَمَنْ یَّکْسِبْ خَطِیْٓئَةً اَوْ اِثْمًا دا هم د طعمه قوم ته زجر دے ځکه چه هغوي به یو بے ګناه یهودي باندې تهمت اولګولو او د طعمه د برئ کولو د پاره ئے په دروغه قسمونه اوکړل او دروغ ګواهیانے ئے ورکړے۔ د خَطِیْٓئَةً نه مراد غلا او د اِثم نه مراد دروغ قسم دے۔ قیل ان الخطیئة هي سرقة الدرع والاثم هو یمینه الکاذبة (خازن ج ۱ ص ۳۹۶) وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَیْكَ الخ د لَوْ جواب محذوف دے یعني لَاَضَلُّوْكَ او د لَهَمَّتْ نه استئناف دے چه د ما قبل د پاره په منزله د علت دے او د دے کافرانو د بد ارادے ظاهرولو د پاره راوړے شوے دے یعني که چرے په تا سو د الله فضل او د هغه رحمت نه وے نو هغوي به تا سو د صحیح فیصلے نه بے لارے کړے وې لیکن الله تعالیٰ د حال د حقیقت نه خبر کړې او د د هوکے نه ئے بچ کړې۔ هغوي خو تا سو لره د خپله جانبه په غلطه لاره باندې د اچولو کلکه اراده کړے وه۔ وجوز ابو البقاء ان یکون الجواب محذوفا والتقدیر ولولا فضل الله علیك ورحمته لاضلوك ثم استانف

بقوله سبحانه (لهمت) ای لقد همت بذلك - (روح ج ۵ ص ۱۴۳)

۸۱ دغلا د اسی کوره واقعات چه ته ورته د حقیقت نه خبر نه وې چه دا د اصلی غل علم تاته نه وو او په کوم کښې چه د غل رشته دارانو د غل د بې گناه ثابتولو دپاره دشپې چه کیتا استنل او کومه منصوبه یې تیاره کړې وه هغه هم تاسو ته معلومه نه وه لیکن دا د دې واقعې د یو ره حقیقت نه الله تعالیٰ تاسو خبر کړې او دا د الله تعالیٰ په تاسو ډیر لوئې احسان وو او د هغه عظیم فضل وو ځکه چه تاسو که چرې د اصلی حقیقت نه خبر نه وې نو تاسو به یو بې گناه ته د غلا سزا ورکړې وه او اصلی غل به مو بری کړې وو چه د هغې نتیجه به دا وې چه د خلقو په زړونو کښې به ستاسو د نبوت باره کښې شکوك او شبهات پیدا شوی وو.

دا ایت زیاتی تحقیق

دې ایت سره بریلیان د نبی علیه السلام په کلی علم غیب باندې استدلال کوی. هغوی وائی چه دې ایت کښې ما لفظ استعمال شوې دې چه د عموم دپاره راځی. نو مطلب دا شو چه ټول هغه څیزونه کوم چه تاته معلوم نه وو هغه ورته ټول په ټول الله تعالیٰ اوښودل نو دې نه معلومه شوه چه نبی علیه السلام ته الله تعالیٰ کلی علم غیب ورکړې وو لیکن دې ایت نه د نبی علیه السلام کلی علم غیب باندې استدلال کول بالکل باطل دې.

اولًا: ځکه چه دا استدلال په دې مبنی دې چه ما دې ایت کښې استغراق حقیقی او عموم دپاره دې حال دا دې چه ما هر ځائې کښې عموم او استغراق دپاره نه وی بلکه دې کښې د خصوص احتمال هم وی. امام ابوالبرکات نسفی حنفی رح فرمائی: وما ومن یحتملان العموم والخصوص واصلهما العموم (رساله منار مع شرح نور الانوار ص ۷۹) یعنی اگر چه اصل په دواړو کښې عموم دې لیکن دواړو کښې د خصوص احتمال هم وی. د دې په شرحه کښې ملا جیون رح فرمائی یعنی انهما فی الوضع للعموم ویستعملان فی الخصوص بعارض القرآن. او د دې مثالونه قران کښې په ډیره کثرت سره موجود دی چه په هغې کښې کلمه د ما عموم دپاره نه ده لکه یو ځائې کښې ارشاد دې: یُعَلِّمُكُمْ مَّا لَمْ تَكُوْنُوْا تَعْلَمُوْنَ. (بقره ع ۱۸) او هغه پیغمبر صلی الله علیه وسلم تاسو ته هغه خبرې زده کوی کومې چه تاسو نه پوهیدلې. دې ایت کښې خطاب مخامخ صحابه کرامو رض ته دې او د هغوی په وساطت سره ټول امت تر قیامته پورې دې ایت مخاطب دې. که چرې دلته کلمه د ما د عموم دپاره شی او په استغراق حقیقی باندې محمول شی لکه چه د بریلوی حضراتو خیال دې نو دې نه به لازمه شی چه صحابه کرام رض بلکه د امت محمدیه هر یو فرد تر قیامه د قیامته پورې غیب دان دې او هغه ته د ما کان او ما یکون (تیر شوی او راتلونکی) کلی علم غیب حاصل وی حال دا دې چه هیڅوك د دې قائل نه دې. دا شان یو ځائې کښې ارشاد دې: وَعُلِّمْتُمْ مَّا لَمْ تَعْلَمُوْٓا اَنْتُمْ وَلَآ اٰبَآؤُكُمْ (انعام ع ۱۱) او وې ښودل تاسو ته هغه کوم چه تاسو ته معلوم نه وو او نه ستاسو پلار نیکه ته.

د دے آیت د سباق او سیاق نه ظاهره ده چه دیکښ خطاب بهم د وله دے لکه څنګه چه اکثرو مفسرینو لیکلی دی او که چرے خطاب مسلمانانو سره وی نو هم مَا دلته چه د استغراق حقیقی د پاره واخستلے شی نو د دے نه نتولو بهم دیانو یا ټولو مسلمانانو د پاره علم غیب ثابتول دی څوک چه د دے آیت مخاطب دی. د دے اینونو نه معلومه شوه چه ما هر ځائے کښ عموم د پاره نه وی.

ثانیًا:- مفسرین کرام هم د دے آیت کښ مَا په خصوص محمولوی او د دین مخصوص اُمور مراد اخلی او دا هیڅوک هم په استغراق حقیقی باندِ نۀ د دے محمول کړے. حضرت عبد الله بن عباس رض او مقاتل رح وائی. د مَا نه مراد شریعت د ے: قال ابن عباس رض و مقاتل هو الشرع. (بحر، ص ٣٤٧ ج ٣) مفسر قرطبی، امام بغوی، امام نسفی او علامه خازن فرمائی چه د مَا نه د دین اُمور او احکام شریعت مراد دی. وَعَلَّمَكَ مَا لَمْ تَكُنْ تَعْلَمُ يعنی من الشرائع والاحکام (قرطبی، ص ٣٨٢ ج ٥) يعنی من الشرائع والاحکام (قرطبی ج ٥ ص ٣٨٢) يعنی من احکام الشريعة وامور الدين (معالم وخازن واللفظ له ج ١ ص ٤٩٠) من امور الدين والشرائع (مدارک ج ١ ص ١٩٥) امام ماوردی وائی چه د مَا نه کتاب او حکمت مراد د ے وذکر الماوردی الکتاب والحکمة (بحر، ص ٣٤٧ ج ٣). د دے حوالو نه ښۀ واضحه شوه چه مَا دلته عموم د پاره نۀ د ے بلکه مُراد ترے امور دین او شریعت دی. که چرے اُو ویلے شی چه ځنے مفسرینو لیکلی دی چه د مَا نه مراد علم غیب د ے نو د دے جواب دا د ے چه کومو مفسرینو علمِ غیب یا اخبار د اُولینو او اخرینو لیکلی دی هغوی صحیح او مختار قول اُمورِ دین او احکام شریعت ګرځولے د ے او دوَم قول یعنی علمِ غیب ئے د تمریض کلمه قِيلَ سره ذکر کړے د ے. د دے د ضعیف او غیر معتبر کیدو طرفته ئے اشاره کړے ده. ضعیف قول کښ هم د کُلی علمِ غیب څۀ ذکر نشته بلکه د دے نه هم بعضِ علمِ غیب مُراد د ے.

ثالثًا:- مَا دلته په عموم استغراق باندِ محمولول بالکل د آیت د سیاق او سباق نه منافی د ے ځکه چه د دے نه مخکښ ئے إِنَّا أَنزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ سره حکم سلطانی بیان کړو چه د الله تعالیٰ د نازل کړے شوو احکامو او د هغۀ د مقرر کړے شوو قوانینو مطابق فیصلے کوئ. د دے نه پس ئے تهمت لګونکو او د دروغو ګواهی کونکو ته زجر ورکړو او بیا ئے اُوفرمائیل وَعَلَّمَكَ مَا لَمْ تَكُنْ تَعْلَمُ د لهذا د مَا نه دلته هغه څۀ مراد دی کوم چه حضرات مفسرینو بیان کړی دی یعنی د شریعت احکام. لهذا علمِ غیب کلی مراد ګڼول سراسر غلط او باطل د ے. دغه د دے آیت نه لږ شان مخکښ ئے اُوفرمائیل: وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكَ وَرَحْمَتُهُ الخ یعنی که چرے په تاسو د الله فضل او د هغۀ رحمت نۀ وے نو د دے منافقانو یو ے ډلے به تاسو د صحیح لارے نه بے لارے کړی وے. که چرے نبی علیه السلام ته کلی علمِ غیب وے نو بیا څرنګه ممکن وه چه منافقانو به هغوی بے لارے کړی وُو. دا رنګے وَلَا تَكُنْ لِّلْخَائِنِينَ

خصوصیات سره چې نبي علیه السلام ته کومه تنبیه شویده کا۔ دا هم دې دلیل دې چې نبي علیه السلام ته کلي علم غیب نه وو ګني نبي علیه السلام به د دروغژنو منافقانو طرفداري ولې کوله۔

۷ **ایضًا** :- سورة نساء کوم کښې چه دا ایت دې، ددې نه پس لفریبًا خلیر بیشت سورتونه نور نازل شول. که چرې دې ایت سره نبي علیه السلام ته کلي علم غیب حاصل شوې وې نو بیا دې خلیر یشتو سورتونو نازلولو څه ضرورت وو۔ دا رنګې د سورة نساء نه پس نازلیدونکو سورتونو کښې سورة نور، منافقون، تحریم او توبه وغیره دي۔ سورة نور کښې د افک عائشة (عائشه رضی الله عنها باندې د زناد تهمت) واقعه ذکر ده. د کومې په وجه چه نبي علیه السلام ډیرې مودې پورې پریشانه وو۔ سورة منافقون کښې د عبد الله بن اُبيّ او د نورو منافقانو د سازش ذکر دې چه د هغې نبي علیه السلام ته پته اونه لګیده۔ سورة تحریم کښې د نبي علیه السلام د شاتو نه خوړلو د قسم ذکر دې چه الله تعالی د هغې د ماتولو حکم ورکړو۔ او په سورة توبه کښې د مسجد ضرار په سلسله کښې لې نبي علیه السلام هغې مسجد ته د تلو راتللو نه منعه کړو حال دا چه هغوی ددې بخاطت جوړوونکي مخلص مؤمنان اوګنړل او هغه نه د ورتلو او د مونځ کولو وعده ئې کړې وه۔ دا ایتونه تفصیل سره وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُطْلِعَكُمْ عَلَى الْغَيْبِ (آل عمران ع ۱۸) تفسیر کښې مذکور دي۔ دا ټول ایتونه د نبي علیه السلام د ذاتِ ګرامي نه د علمِ غیب نفي کوي۔ نو که چرې د زیرِ بحث ایت نه د نبي علیه السلام د پاره کلي علم غیب ثابت کړې شي نو د دینه به د روستو نازلیدونکو ایتونو تکذیب لازم شي چه د نبي علیه السلام نه د کلي علمِ غیب نفي کوي۔ د پورتني تفصیل نه د دُوښانه ورځ پشان واضح شوه چه ددې ایت نه د نبي علیه السلام د پاره کلي علم غیب نه ثابتیږي۔

یوه د ځانه جوړه شوې قاعده

ځینې بد عتي ملایان وائي چه ما د عموم د پاره دې او د عَلَّمَ د پاره فاعل الله تعالی دې او مفعول نبي کریم صلی الله علیه وسلم دې۔ الله تعالی عام فیض کونکې دې او په نبي علیه السلام کښې پوره استعداد دې نه ثابته شوه چه نبي علیه السلام ته کلي علمِ غیب وو۔

ددې جواب :- سورة علق کښې عَلَّمَ الْاِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ کښې د الانسان نه د بعضِ مفسرینو په نزد نبي کریم صلی الله علیه وسلم مراد دې او ځینې بد عتي ملایان هم دینه ترجیح ورکوي نو دلته هم فاعل الله دې او مفعول نبي کریم صلی الله علیه وسلم دې او د سورة علق دا ایتونه هم په اتفاق سره د ټول قران شریف نه وړاندې نازل شوي دي نو که چرې ما د عموم د پاره وي او استغراق حقیقي واخستې شي او عَلَّمَ د ماضي صیغه ده چه په تیره شوې زمانه کښې د فعل په وقوع دلالت کوي نو مطلب دا شو چه الله تعالی ددې ایت نه مخکښې یا ددې د نزول سره نبي علیه السلام ته ټول علوم غیبیه ښودلي وو (معاذ الله) بیا د ټول قران نازلولو څه ضرورت وو حکه چه د تحصیل د حاصل دې۔ بل دا چه دا قانون هم په هیڅ یو کتاب کښې نه دې لیکلې شوې چه فاعل الله تعالی

وی او مفعول ذات د رسول الله ﷺ وی نو هلته هیڅ علوم مراد کیدے شی بلکه د شرک خوړولو د پاره دے ملایانو دا قاعده د خپله ځانه جوړه کړے ده۔

غلط استدلال

مخالفین د نبی علیه السلام په عمومِ علم باندې د څخې احادیثو نه هم دلیل نیسی مثلاً صحیح مسلم کښ دی: اَخۡبَرَنَا بِمَا كَانَ وَمَا يَكُونُ۔ نو د دے جواب دا دے چه علومِ غیبیه کلیه یعنی ما کان وما یکون مثلاً ټول فوجداری دیوانی احکام، هندی، بنګالی، جرمنی وغیره بیانول په لږ وخت کښ ناممکن دی بلکه دلته د مَا نه مراد نبذ من امورعظام دی یعنی څخے د پر اهم امور، لکه چه بل روایت کښ د دے تصریح موجوده ده. بل دا دی وائی چه نبی علیه السلام اوفرمائیل چه د معراج په شپه الله تعالیٰ خپل لاس زما په شا باندې کیښودو فتجلّٰی لی کل شیٔ نو ماته ټول هرڅه روښانه شول۔ د دے جواب دا دے چه اوړه صحابه دا الفاظ بیان کړیدی. فعلمت الذی سالنی عنه کما هو مصرح فی الدر المنثور۔ او لفظ تجلّٰی لی کل شیٔ باره کښ خازن د بیهقی نه نقل کړے دے چه د دے ټول طریقے ضعیفے دی. لهٰذا د دے احادیثو سره استدلال کول د نبی کریم ﷺ په کلی علمِ غیب باندې غلط او باطل دی۔

لَا خَيۡرَ فِي كَثِيرٖ مِّن نَّجۡوَىٰهُمۡ إِلَّا مَنۡ أَمَرَ بِصَدَقَةٍ أَوۡ

هیڅ ښے نه دی د دوی اکثرے مشورے لیکن څوک چه کوی خبره د صدقه کولو یا

مَعۡرُوفٍ أَوۡ إِصۡلَٰحِۭ بَيۡنَ ٱلنَّاسِۚ وَمَن يَفۡعَلۡ

د نیک کار یا د صلحے کولو د خلقو مینځ کښ او څوک چه دا کار اوکړی

ذَٰلِكَ ٱبۡتِغَآءَ مَرۡضَاتِ ٱللَّهِ فَسَوۡفَ نُؤۡتِيهِ أَجۡرًا

د الله د رضا د پاره نو مونږ به ورکړو هغه ته ډیر

عَظِيمٗا ﴿١١٤﴾ وَمَن يُشَاقِقِ ٱلرَّسُولَ مِنۢ بَعۡدِ مَا تَبَيَّنَ

ثواب ؛ او څوک چه مخالفت اوکړی د رسول کله چه ښکاره شی هغه ته

لَهُ ٱلۡهُدَىٰ وَيَتَّبِعۡ غَيۡرَ سَبِيلِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ نُوَلِّهِۦ مَا

نیغه لاره او لاړ شی د یو لو مسلمانانو د لارے خلاف نو مونږ به حواله کړو هغه

تَوَلَّىٰ وَنُصۡلِهِۦ جَهَنَّمَۖ وَسَآءَتۡ مَصِيرًا ﴿١١٥﴾ إِنَّ ٱللَّهَ

هغه طرفته کوم چه هغه اختیار کړیدے او داخل به یې کړو هغه لره دوزخ کښ او هغه ډیر بد ځائے دے او رسیدو ځائے دے بیشکه الله

لَا يَغْفِرُ اَنْ يُّشْرَكَ بِهٖ وَيَغْفِرُ مَا دُوْنَ ذٰلِكَ لِمَنْ

نه بخښي هغه خوداي چه هغه ته شريك كړى شي او بخښي ددينه سوا چه څه دي او لمن (جا) ته چه

يَّشَآءُ ۚ وَمَنْ يُّشْرِكْ بِاللّٰهِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلٰلًا بَعِيْدًا ﴿١١٦﴾

غواړي او چا چه شريك جوړ كړو الله سره نو هغه ګمراه شو ډير لرې ګمراهي ته (نو يو ځل ورسره)

اِنْ يَّدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖۤ اِلَّاۤ اِنٰثًا ۚ وَاِنْ يَّدْعُوْنَ اِلَّا

دا الله ته سوا نه رابلي مګر ښځې او نه رابلي ليکن

شَيْطٰنًا مَّرِيْدًا ﴿١١٧﴾ ۙ

شيطان سرکش ۸۴

نكات: ـ ٨١ دا د نهم حكم سلطاني سره متعلق دے يعني د دروغو ګواهئ دپاره مشورے كول بد دے خبره ده نيکئ دپاره مشوره كول پكار دي ٨٢ بشارت ته دمسلمانو خلاف منصوبے جوړونكو دپاره تخويف اُخروي ٨٣ د احكام سلطانيه نه روستو داصلي مسئله توحيد دمخكښ په نسبت تفصيلي بيان ٨٤ ديكښ شرک فعلي او اعتقادي دواړه مراد دي. ٨٥ نفي د شرك اعتقادي اِنٰثًا نه مراد فرښتے دي. ٨٦ دا مشركان په اصل كښ فرښتے نه رابلي شيطان پخپله هغه د فرښتو والا نوم ايږدي.

موضح قرآن ف منافقانو خلقو به نبي عليه السلام ته په غوږ كښ خبرے كولے دپاره ددے چه خلقو كښ خپل اعتبار زيات كړي او چه په مجلس كښ به كيناستل نو خپل مينځ كښ به ئے په غوږ كښ خبرے كولے، دچا عيب د چا ګيله. الله تعالىٰ د هغے بيان اوكړو چه ددوي مشورے اكثر بے خيره دي، صفا خبرے پټولو ته حاجت نشته ليكن ديكښ څه فريب ملاؤ دے او پټ خو خير خيرات پكار دے چه اخستونكے شرمنده نشي يا د دين مسئله كښ غلطي ښودل دے دپاره چه ناپوهه شرمنده نشي يا د جنګ كوونكو مينځ كښ صُلحه كوونكے ځكه چه په غصه كښ كوونكے صلح نه مني او خپل مينځ كښ خبرے اوكړي بيا ئے هغه ته واوروي.

ف٢ رسول الله صلى الله عليه وسلم اُوفرمائيل چه د الله لاس دے په جماعت باندے بيا چه جُدا لاړه اُونيسوُله نو هغه په دوزخ كښ پريوتلو. نو چه په كوم كار باندے د اُمت اجماع اوشوه هغه د الله مرضي ده او چه منكر شو نو دوزخي دے. ف٣ پورته ذكر د منافقانو چه د پيغمبر په حكم باندے راضي نه وُو او په جُدا لاره لاړل. بيا ئے دا آيت اُوفرمائيلو چه الله تعالىٰ شرك نه بخښي نو شرك ئے اُوفرمائيلو په حكم كښ شريكولو ته يعني بسوا د

دینِ اِسلام ته دبل دین حکم غوره کړی او په هغې لاړشي نو چه کوم دین د دین اسلام نه متبول شي لٹ دے اگرچه په عبادت کښې شرك نکوی .

فتح الرحمٰن

ف۱ مترجم وائی یعنی د زړه سختیدل به نے نور هم زیات کړم . والله اعلم .
ف۲ مترجم وائی د شرك د حرامولی سختی بیا بیانوی .

تفسیر : ۵۵۲ دا نهم سُلطانی حُکم سره متعلق دے . منافقانو د شپے منصوبے تیاره کړے وه چه هغوی په زید بن یا سمین یهودی باندې د غلا الزام اُولگوی او په دروغه نے قسمونه خوړل او د طُعمه د غلا نه د بری کولو کوشش نے کولو . نو وے فرمائیل چه نورو ته د نقصان رسولو او د دروغو گواهئی دپاره مشوره کول نه دی پکار . اراد ما تفاوضن به قوم بنی ابیرق من التدبیر (قرطبی ص ۳۸۲ ج ۵) بلکه مشورے تورو ته د فائدے رسولو، هغوی باندې د احسان کولو او خپل مینځ کښې د اصلاح باره کښې پکار دی . وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ ابْتِغَآءَ مَرْضَاتِ اللهِ الخ دا هغه خلقو دپاره بشارت اُخروی دے څوك چه محض د الله پاك د رضا دپاره مشورے کوی . وَمَنْ يُّشَاقِقِ الرَّسُوْلَ الخ دا هغه خلقو دپاره تخویف اخروی دے چا چه د نبی علیه السلام او د مسلمانانو مخالفت ته ملاتړلے وی او د دوی خلاف منصوبے جوړوی او مشورے کوی . دے ځائے پورے احکام سلطانیه ختم شول .

۵۵۳ دا هغه مشرکانو دپاره تخویف دے . د احکام سلطانیه نه پس اصلی مقصد یعنی د توحید د مخکښې په نسبت لږ زیات تفصیل سره بیان دے . هلته نے اول شرك مکوئی . دلته نے بیان اوکړو چه شرك بې بلا ده ، الله تعالیٰ دا هیڅکله نه بخښی اِنْ يَّدْعُوْنَ اِلَّآ اِنٰثًا ، سره د شرك اعتقادی نفی کړے شوے ده . د اِنٰثا نه مراد فرښتے دی ځکه چه مشرکانو فرښتے د الله پاك لونړه گڼړلے او وئیل به نے چه دوی الله سره زمونږ سفارش کونکی دی . اِنّ بعضهم كان يعبد الملائكة وكانوا يقولون ان الملائكة بنات الله . (کبیر ص ۳۶۴ ج ۳) وقیل الا اناثا ملائکة لقولهم الملئكة بنات الله وهی شفعاءنا عند الله . (قرطبی ص ۳۸۷ ج ۵)

۵۵۴ یعنی په ظاهره خو به نے د فرښتو او بزرگانو جوړکړے شوی شکلونه را بلل او د هغوی نه د رونه او منتے به نے کولے لیکن په حقیقت کښې دا ټول هر څه هغوی شیطان دپاره کوی کوم چه دے تصویرونو او شکلونو کښې خبرے کوی . كان يدخل فی اجواف الاصنام فيكلم داعیها (بحر ص ۳۵۲ ج ۳) تر دے ځائی پورے نفی د شرك اعتقادی وه . وَقَالَ لَاَتَّخِذَنَّ مِنْ عِبَادِكَ نَصِيْبًا مَّفْرُوْضًا . مُقرره حصه یعنی خپله ستا بندگان دا سے گمراه کړم چه شرك به شروع کړی او د خپلو مالونو مقرر حصے به د غیر الله په منتونو کښې اوباسی (شاه عبدالقادر) فَلَيُبَتِّكُنَّ اٰذَانَ الْاَنْعَامِ الخ یعنی هغوی به د غیر الله خوشالولو دپاره څاروی پریږدی او بحیرے سائبے وغیره به جوړوی او په طور د علامے به د هغوی په غوږونو کښې څیرے کول کوی ای احملهم علی قطع اٰذان البحیرة والسائبة ونحوه (قرطبی ص ۳۸۹ ج ۵) فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلْقَ اللهِ . حضرت عبدالله

ابن عباس رضی الله عنه فرمائی ... د الله دین ... او تغییر ... حلال حرام
کړو خوک او حرام حلال کړو خوک مونږ ... قال ابن عباس یعنی دین الله و خلق
الله هو تحلیل الحرام و تحریم الحلال (خازن ص ٣٩٩ ج ١) ... [illegible]
[illegible]

لَعَنَهُ اللّٰهُ ۘ وَقَالَ لَاَتَّخِذَنَّ مِنْ عِبَادِكَ نَصِيْبًا

پیدا ئو چه لعنت اوکړو الله، او اوویل شیطان چه خامخا به واخلم ستا د بندګانو نه حصه مقرر کړے

مَّفْرُوْضًا ﴿١١٨﴾ وَّلَاُضِلَّنَّهُمْ وَلَاُمَنِّيَنَّهُمْ وَلَاٰمُرَنَّهُمْ فَلَيُبَتِّكُنَّ

شوے. او هغوی به بے لارے کړم او امیدونه به ورته ورکړم او ورته به اوښایم چه څیرے کوی

اٰذَانَ الْاَنْعَامِ وَلَاٰمُرَنَّهُمْ فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلْقَ اللّٰهِ ۚ وَ

غوږونه د څارویو او ورته به اوښایم چه بدل کړی صورتونه څو چه الله جوړ کړی دی. او

مَنْ يَّتَّخِذِ الشَّيْطٰنَ وَلِيًّا مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ فَقَدْ خَسِرَ

څوک چه جوړ کړی شیطان دوست او الله پریږدی نو هغه به یو ښکاره

خُسْرَانًا مُّبِيْنًا ﴿١١٩﴾ يَعِدُهُمْ وَيُمَنِّيْهِمْ ۚ وَمَا يَعِدُهُمُ الشَّيْطٰنُ

نقصان کښے. هغوی ته وعدے ورکوی او امیدونه ورکوی او کوم وعدے چه ورکوی هغوی ته شیطان نو

اِلَّا غُرُوْرًا ﴿١٢٠﴾ اُولٰٓئِكَ مَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ۫ وَلَا يَجِدُوْنَ

نو دی فریب دے. دا هغه خلق دی ځائے د دوزخ دے او نه به بیا مومی د هغه ځائے نه

عَنْهَا مَحِيْصًا ﴿١٢١﴾ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

د تیښتے ځائے. او څوک چه ایمان راوړی او عملونه اوکړی نیک، هغوی به

سَنُدْخِلُهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ

مونږ داخل کړو باغونو ته چه لاندے به ترے بهیږی نهرونه، هغه کښے به همیشه

فِيْهَآ اَبَدًا ۚ وَعْدَ اللّٰهِ حَقًّا ۚ وَمَنْ اَصْدَقُ مِنَ اللّٰهِ قِيْلًا ﴿١٢٢﴾

اوسیږی. وعده ده د الله رښتونے او د الله نه زیات رښتونے څوک دے.

نکات: ـ ۱ یعنې د غیر الله منښتې ـ ۲ یعنې د معبودانو په نوم بانډو به د الله تعالی حلال کړې شوې څیزونه حراموي، بحیره، سائبه وغیره به جوړوي. دا د تحریمات غیر الله بیان دے. ـ ۳ مشرکانو د پاره تخویف اُخروي. ـ ۴ بشارت اخروي مؤمنانو د پاره.

موضح قرآن ف۱ یعنې ستا بندګان به په خپل مال کښې څما حصه مقرروي لکه څنګه چه دستور دے، د بتانو منښتې به کوي. ف۲ د غوږونو شیرې کول دا د کافرانو دستور وُو، د غوا چیلئ بچي به یې د بُت په نوم کول نو د هغه په غوږ کښې به یې نښه کوله او صورت بدلول دا چه د هلک په سر کښې به یې چوټئ پریښوده د بُت په نوم. مسلمانانو له د دے کارونو نه منع کیدل پکار دي. خپلو بزرګانو سره دا معامله کوي کافرانو به هم چه د چا سره کول هغوی به یې بزرګان ګڼل او دا کارونه به یې کول.

فتح الرحمن ف۱ مترجم وائي یعنې لکه خصي کول او خالونه داغونه ورکول په بدن باندې چه سور او کرخې یا شین شي.

تفسیر: ۱۶۵ دا د مشرکانو او شیطانانو تابعداري کوونکو د پاره تخویف اُخروي دے او وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ سره توحید منونکو او نیک عمل کوونکو د پاره بشارت اُخروي دے. لَيْسَ بِاَمَانِيِّكُمْ وَلَآ اَمَانِيِّ اَهْلِ الْكِتٰبِ الخ دا مؤمنانو او اهل کتاب ته زجر دے چه ستا او د اهل کتابو خواهشاتو او ارزوګانو باندې نجات نه دے بلکه د نجات انحصار خو په اعمالو او د الله تعالی د احکامو په تعمیل باندې دے. نو خپل مینځ کښې تفاخر سره هیڅ فائده نشته. مَنْ يَّعْمَلْ سُوْٓءًا تخویف اخروي او مَنْ يَّعْمَلْ مِنَ الصّٰلِحٰتِ سره بشارت اُخروي دے.

لَيْسَ بِاَمَانِيِّكُمْ وَلَآ اَمَانِيِّ اَهْلِ الْكِتٰبِ ؕ مَنْ يَّعْمَلْ

نه ستاسو په امیدونو باندې مدار دے او نه د اهل کتابو په امیدونو باندې، هر څوک چه بد کار

سُوْٓءًا يُّجْزَ بِهٖ ۙ وَلَا يَجِدْ لَهٗ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلِيًّا وَّلَا

کوي د هغې سزا به بیا مومي او بیا به نه مومي سوا د الله نه څوک حمایتي او نه

نَصِيْرًا ﴿۱۲۳﴾ وَمَنْ يَّعْمَلْ مِنَ الصّٰلِحٰتِ مِنْ ذَكَرٍ اَوْ

څوک مدد ګار ۞ او څوک چه کار اوکړي نیک سړے دې یا

اُنْثٰى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَاُولٰٓئِكَ يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ وَلَا

ښځه او هغه ایمان لري نو هغه خلق به داخل شي جنت ته او د هغوی

يُظْلَمُونَ نَقِيرًا ﴿١٢٤﴾ وَمَنْ أَحْسَنُ دِينًا مِّمَّنْ أَسْلَمَ وَجْهَهُ

حق به ضائع نشي د اهغوي څخه د هغې کي د ... او څوک دی ښه په دين کښې له هغه چا چې ... د الله په حکم

لِلَّهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ وَاتَّبَعَ مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا ۗ وَاتَّخَذَ

بانو لله او په نيکو کارو کښې مشغول دے او روان شو په دين د ابراهيم ؑ چه يو طرفه وو ، او الله جوړ

اللَّهُ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلًا ﴿١٢٥﴾ وَلِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا

کړو ابراهيم ؑ خالص دوست او خاص د الله دی څه چه په اسمانونو کښې دی او څه چه

فِي الْأَرْضِ ۚ وَكَانَ اللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ مُّحِيطًا ﴿١٢٦﴾ وَيَسْتَفْتُونَكَ

زمکه کښې دی او ټول څيزونه د الله په اختيار کښې دی . او ستا نه رخصت غواړي د

فِي النِّسَاءِ ۖ قُلِ اللَّهُ يُفْتِيكُمْ فِيهِنَّ ۙ وَمَا يُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ

ښځو په نکاح کښې ووايه الله تاسو ته اجازت درکوي د هغو او هغه کوم چه تاسو ته اوروله شي

فِي الْكِتَابِ فِي يَتَامَى النِّسَاءِ اللَّاتِي لَا تُؤْتُونَهُنَّ مَا

په قران کښې ورته حکم دے د هغو يتيمانو ښځو چه تاسو نه ورکوئ هغوئ ته کوم چه

كُتِبَ لَهُنَّ وَتَرْغَبُونَ أَن تَنكِحُوهُنَّ وَالْمُسْتَضْعَفِينَ

تاسو هغوي د پاره مقرر کړے دي او غواړئ چه هغوي په نکاح کښې راولئ او حکم دے د کمزورو

مِنَ الْوِلْدَانِ وَأَن تَقُومُوا لِلْيَتَامَىٰ بِالْقِسْطِ ۚ وَمَا تَفْعَلُوا

هلکانو او دا چه قائم اوسيږئ د يتيمانو په حق کښې انصاف سره او کوم نيکي

مِنْ خَيْرٍ فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ بِهِ عَلِيمًا ﴿١٢٧﴾

چه کوئ نو هغه الله تعالى ته معلومه ده .

نکات: - ... زجر يعني د الله تعالى د بيان کړے شوو احکامو تعميل او کړئ . د ښځو يتيمانو ، د ملايانو خود ساخته احکامو او خواهشاتو پسے مه لګئ . او د حضرت ابراهيم عليه السلام پشان په اعتقاد کښې پاخه شئ ... بشارت ... ترغيب ... د سورت دوو حصو په آخر کښې د دے احکام اودويم او خوارلسم حکم د رعيت او نهم حکم سلطاني بانی زيات رنړا اچولے شي ... دويم حکم رعيت بانی رنړا اچول يعني دويم حکم د

مقصد نه دے چه د یتیمانو جینکو سره نکاح جائز نه ده بلکې مقصد دا دے چه انصاف کوئ ــ لفظ الله بانې معطوف او معطوف و معطوف علیه پیان دے یعنی الله دے ایت وَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تُقْسِطُوا فِي الْيَتٰمٰى سره فتوی درکوی ــ او دا فِيهِنَّ په ضمیر بانې معطوف دے ــ واؤ تفسیریه، أَنْ تَقُومُوا او يُفْتِيكُمْ تفسیر دے یا واؤ نه دے سبتو يَأْمُرُكُمْ محذوف دے یعنی الله تعالیٰ تاسو ته د یتیمانو جینکو او د کمزورو سره باره کښې حکم درکوی چه دوی سره هر قسم انصاف کوئ.

موضح قرآن

ف۱ د کتاب والو خیال وُو چه مونږ خاص بندګان یو، په کومو ګناهونو چه خلق نیولے شی مونږ به په هغې نه نیولے کیږو، پیغمبر به زمونږ حمایت کوی او نا پوهه مسلمانان هم خپل حق کښې دا خیال کوی نو الله تعالیٰ اُو فرمائیل چه څوک بد کوی سزا به بیا مومی هر څوک چه وی حمایت به د چا پیش نکړے شی د الله نیولے شوے چه هغه لره پریږدی نو پرے به نه پږدی دُ دُنیا په مصیبت کښې د انسان قیاس اوکړی. ف۲ د دے سورت په اول کښې د یتیمانو د حق تاکید فرمائیلے وُو چه یتیمه جینئ چه د هغې ولی نشته لیکن د هغې د تره څوئے که چرے پوهیږی چه څه به د دے حق ادا نکړم نو هغه دِ اُوس نکاح کښې نه راولی بل چا ته دِ دے په نکاح کړی او دِ دے دِ دَ هغې حمایت کوُنکے شی نو مسلمانانو دا سے ښځے په نکاح کښې راوستل موقوف کړل. بیا لئے اُوکتل چه ځینے وخت جینئ د پاره دا بهتره ده چه خپل ولی ئے په نکاح کښې راولی کوم لحاظ چه ولی کوی هغه به بل څوک نکوی دغه وخت لئے د نبی علیه السلام نه اجازت اوغوښتلو. د دے بانې دا ایت نازل شو اجازت ملاؤ شو او دے فرمائیل چه هغوی کتاب کښې کومه منعه اُورېدلے وه هغه هله وه چه کله د هغوی حق نه ادا کوی او د یتیم د حق تاکید وُو او کومه نیکی هم چه کوُل غواړئ سوا اجازت دے.

فتح الرحمٰن

ف۱ مترجم وائی یعنی دوی سره څه قسمه معامله کوُل پکار دی. والله اعلم. ف۲ مترجم وائی د دے استفتاء جواب تفصیل لرلو نو الله تعالیٰ څنے مسئلے په تیرو شوُو ایتونو حواله کړے او هغه مسئله د ظلم د حرامولی ده په یتیمانو ښځو بانې او څنو لره ئے د اجواب ورکړو او هغه مسئله د نا فرمانئ او د پوره میلان ده یو ے ښځے طرفته او د بلے نه اعراض کوُل او د طلاق اباحت دے د ضرورت په وخت. والله اعلم. ف۳ مترجم وائی د یتیمانو ښځو په نکاح کښې به ئے رغبت کوُلو په سبب د بنائست د هغوی او د نو عمرئ او د نفقے او مهر په ادا کوُلو کښې به ئے تقصیر کوُلو. والله اعلم.

تفسیر: ۵٦ دا د دین اسلام د پیروئ او د ملتِ ابراهیمی د تابعدارئ ترغیب دے. خپل خواهشات او د خود ساخته نجات خبرے پریږدئ او د هر قسم باطل او شرک نه د لرے او سیده وګئی ملت ابراهیمی تابعداری اُوکړئ ځکه چه الله تعالیٰ د (خالص) دوستئ مقام ورکړے دے. وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ الخ دا

تخویف اُخروی دے په زمکه او اسمان کښې د اقتدار اعلیٰ مالک الله تعالیٰ دے او هغه هر څیز پیژنی۔ نو هر یو ته به د خپل عمل پوره پوره جزا ورکړی۔ تردے ځایه پورے د دواړو حصو سره متعلقا مسائل ختم شو۔ د دینه پس د دواړو حصو ځنے مسائل یعنے د رعیت احکامو نه دویم او څوارلسم، او د احکام سلطانیه نه نهم حکم بانډ زیاتنه رترا اچولے شوے دی۔

کښے تنویر اول (اوله رترا اچول):- د اول احکام رعیت نه دے بے دویم حکم بانډ رترا اچول دی: وَاِنْ خِفْتُمْ اَلَّا تُقْسِطُوْا فِی الْیَتٰمٰی الخ (ع ۱) سره شبهٔ کیدله چه یتیما نو جینکو سره نکاح جائز نه ده۔ دے شبهے ازالے اوکړه یعنی دلته د دے حکم منشاء دا نه ده چه یتیمانو جینکو سره نکاح جائز نه ده بلکه مقصد دا دے چه هغوی سره د انصاف معامله کوئ او حقونه ئے ادا کړئ او که چرے انصاف نشئ کولے نو بیا نورو ښځو سره نکاح اوکړئ۔ وَمَا یُتْلٰی عَلَیْکُمْ عطف دے لفظ الله بانډ دے او د دینه مُراد هغه ایت دے چه رکوع نمبر کښې تیر شوے دے یعنی وَاِنْ خِفْتُمْ اَنْ لَّا تُقْسِطُوْا فِی الْیَتٰمٰی الخ او اَلْمُسْتَضْعَفِیْنَ مجرور دے او فِیْهِنَّ کښې ضمیر بانډ معطوف دے او اَنْ تَقُوْمُوْا کښې واؤ تفسیریه دے او اَنْ تَقُوْمُوْا تفسیر دے د یُفْتِیْکُمْ یا دا د نصب په محل کښې دے د یَاْمُرُکُمْ محذوف مفعول دے او واؤ تفسیریه دے په اصل کښې اوو وَیَاْمُرُکُمْ اَنْ تَقُوْمُوْا الخ یعنی الله تعالیٰ تاسو ته یتیمانو جینکو او د ضعیفانو متعلق دا حکم درکوی چه هغوی سره هر قسمه د انصاف معامله اوکړئ۔

(من المدارک ص ۱۹۷ ج ۱ والروح ص ۱۶۱ ج ۱)

وَاِنِ امْرَاَةٌ خَافَتْ مِنْ بَعْلِهَا نُشُوْزًا اَوْ اِعْرَاضًا

او که چرے یوه ښځه پریږدی خپل خاوند د جګړے نه هغه یا د زړه اوختلو نه

فَلَا جُنَاحَ عَلَیْهِمَآ اَنْ یُّصْلِحَا بَیْنَهُمَا صُلْحًا ؕ وَالصُّلْحُ

نو څه ګناه نشته په دواړو بانډ چه اوکړی خپل مینځ کښې په څه طریقه صلح او صلح ښه څیز

خَیْرٌ ؕ وَاُحْضِرَتِ الْاَنْفُسُ الشُّحَّ ؕ وَاِنْ تُحْسِنُوْا وَ

دے او د زړونو ځنے ته موجود دے حرص ۱ او که چرے تاسو نیکی کوئ او

تَتَّقُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ کَانَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِیْرًا (۱۲۸) وَلَنْ

پرهیزګاری کوئ نو الله ستاسو د ټولو کارونو نه خبر دے ۲ او تاسو به هیڅکله

تَسْتَطِيْعُوْٓا اَنْ تَعْدِلُوْا بَيْنَ النِّسَآءِ وَلَوْ حَرَصْتُمْ فَلَا

برابر اُو نه شئ ساتلے تاسو ښځو لره اګر څه هم چه ددے حرص اوکړئ نو بالکل

تَمِيْلُوْا كُلَّ الْمَيْلِ فَتَذَرُوْهَا كَالْمُعَلَّقَةِ ۭ وَاِنْ تُصْلِحُوْا

مه اوړئ ټول چه پریږدئ هغې لره ځوړندې شان او که چرے اصلاح کوئ

وَتَتَّقُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿١٢٩﴾ وَاِنْ يَّتَفَرَّقَا

او پرهیزګاری کوئ نو الله بخښونکے مهربانه دے ول او که چرے دواړه جدا شی

يُغْنِ اللّٰهُ كُلًّا مِّنْ سَعَتِهٖ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ وَاسِعًا حَكِيْمًا ﴿١٣٠﴾

نو الله به هر یو بے پروا کړی خپلے فراخئ سره او الله فراخی کوونکے او په تدبیر پوهه دے.

وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۭ وَلَقَدْ وَصَّيْنَا

او الله دپاره دی هغه څه چه اسمانونو کښې دی او هغه څه چه په زمکه کښې دی او مونږ حکم ورکړے دے

الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَاِيَّاكُمْ اَنِ اتَّقُوا

هغوی کتاب والو ته او تاسو ته چه وېره کوئ د

اللّٰهَ ۭ وَاِنْ تَكْفُرُوْا فَاِنَّ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي

الله نه، او که نه منئ نو د الله دی هغه څه چه په اسمانونو کښې دی او کوم څه چه په

الْاَرْضِ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ غَنِيًّا حَمِيْدًا ﴿١٣١﴾

زمکه کښې دی او الله دے بے پروا ستائلو خوبیانو والا.

نکات:- ۱؎ خوارلسم حکم درعیت یا نه زړه اچول یعنی ددے حکم مقصد داد ے چه
سړے له یکاړدی چه حتی الامکان دا ګڼد زاوکړی او اوله ښځه کالمعلقه اُونه ګرځوی،
ددے مقصد دا نه دے چه هره یوه پوره پوره حق وصول کړی ۲؎ هر څوک په خپلو
حقونو باندې حریص وی او خپل حق نه پریږدی ۳؎ یعنی د ګنډ زکوئ ۴؎ د هغا
ضمیر نه اولنئ ښځه مراد ده ۵؎ دا تخویف دے یعنی ټول هر څه د الله په قبضه کښې
دی، د هغه نه اویریږئ ۶؎ دا هم تخویف اُخروی دے ۷؎ تاکید دپاره لے اعاده
کړے شوے ده-

موضح قرآن:- ف۱ یعنی دسری زړه حقه اُووینی او ښځه خپل څه حق

پریږدي نو روا ده او د نفس سره نه حرص و لاړ شي یعني مال ښځه کیدل د هر چا خوښ دي لیکن سره به خوشاله شي. ف۲ یعني د انسان په طبیعت کښې د مال حرص دے او په دوه ښځه باندې زیاته مهرباني بېکار ده خو مره چه ئې وس وي خپل ځان د دے زیاتي نه بچ او ساتي - د دینه پس الله بخښونکے دے. او میړونو کښې نو رنده داده چه نه خو هغه تاسو په ښه طریقه ساتئي او نه ئې پریږدئ چه بل خاوند سره نکاح او کړي

فتح الرحمن

ف۱ مترجم والي یعني د بخل نه غالب نه وي او هغه نه پریږدي والله اعلم.
ف۲ مترجم والي معلقه هغه ښځه ده چه نه خو کونډه ده او نه ورسره خاوند ښه وخت تیروي. والله اعلم.

تفسیر ۸۸

تنویر ثاني :- خوار لسم حکم رعیت باندې تنویر دے. وَإِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ بَيْنِهِمَا الخ (ع۳) سره د اشبه کیدله چه د اصلاح نه مراد عام دے د دواړو ته خواه هر یو چه خپل حق پریږدي لکه چه وَإِن تُحْسِنُوا وَتَتَّقُوا سره ئې دے طرفته اشاره او کړه یعني هر یو په خپلو حقوقو باندې حرص کونکے وي او په هیڅ طریقه خپل حق پریښودل نه غواړي لیکن که چرے تاسو د نفس د تقاضے نه خلاف خپل حق پریږدئ او معاف ئې کړئ نو د ا تاسو د پاره ډیره بهتره ده. ستاسو دا عمل به نه ضائع کیږي بلکه د دے پوره پوره اجر به درته ملاویږي. وَلَن تَسْتَطِيعُوا أَن تَعْدِلُوا الخ هر کله چه تاسو د دوه بیبي ښځے په موجودګئي کښې دویمه نکاح او کړئ نو پوره شپاړس اسنے عدل او انصاف اګرچه ستاسو د وس نه بهر دے لیکن د خپل طاقت مطابق انصاف ضرور کوئ او دومبئ ښځه د ډوروند سے پښان مه پریږدئ. وَإِن يَتَفَرَّقَا الخ اول د تفریق ذکر نه وو، دلته ئے د اهم اوفرمائیل چه که دواړه په تفریق باندې راضي وي نو جدا ئے کړئ، د دواړو مالك رازق الله دے او د خپلے مهرباني سره به د دواړو د بهترئ اسباب پیدا کړي د نُشُوزَ معنی سرکشي ده - وَإِن تُحْسِنُوا - د احسان نه دلته عفو او درګذر مراد دے په قرینه د : وان تعفوا اقرب للتقوی (بقره : ع۳۱) (حاشیه ۸۸ د انلونکی متن کښې ده)

۸۹ ددے ځائے نه تر سَمِيعًا بَصِيرًا ه پورے تخویف اُخروی دے - ټول هر څه د الله تعالی په قبضه او اختیار کښې دي هغه په هر څه قادر دے ، د هغه د عذاب او نیولو نه اویریږئ. وَلِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ الخ دو باره ذکر د تاکید د پاره دے -

وَلِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ۚ وَكَفَىٰ بِاللَّهِ

او الله د پاره دي هغه څه چه اسمانونو کښې دي ۸۹ او هغه چه دي زمکه کښې او الله کافي دے

وَكِيلًا ﴿١٣٢﴾ إِن يَشَأْ يُذْهِبْكُمْ أَيُّهَا النَّاسُ وَيَأْتِ

کارساز ف۱ که چرے او غواړي نو تاسو به لرے کړي اے خلقو ! او رابه ولي

بِاٰخَرِيْنَ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى ذٰلِكَ قَدِيْرًا ﴿۱۳۳﴾ مَنْ كَانَ

نور خلق ؛ او الله پدې باندې قادر دے. اوڅوک چه

يُرِيْدُ ثَوَابَ الدُّنْيَا فَعِنْدَ اللّٰهِ ثَوَابُ الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ؕ

غواړي بدله د دنیا نو الله سره ده بدله د دنیا او د اخرت ،

وَكَانَ اللّٰهُ سَمِيْعًا بَصِيْرًا ﴿۱۳۴﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

او الله تعالیٰ هر څه اوریدونکے لیدونکے دے. اے ایمان والو!

كُوْنُوْا قَوّٰمِيْنَ بِالْقِسْطِ شُهَدَآءَ لِلّٰهِ وَلَوْ عَلٰٓى اَنْفُسِكُمْ

قائم اوسیږئ په انصاف باندې شاهدي ورکوئ د الله له طرفه اګرچه نقصان دے ستاسو

اَوِ الْوَالِدَيْنِ وَالْاَقْرَبِيْنَ ۚ اِنْ يَّكُنْ غَنِيًّا اَوْ فَقِيْرًا

یا د مور پلار یا د رشته دارانو که څوک مالدار دے یا محتاج

فَاللّٰهُ اَوْلٰى بِهِمَا ۫ فَلَا تَتَّبِعُوا الْهَوٰٓى اَنْ تَعْدِلُوْا ۚ

نو الله د هغه خیر خواه دے ستاسو زیات نو تاسو تابعداري مکوئ د زړه د خواهش په انصاف کولو کښې.

وَاِنْ تَلْوٗۤا اَوْ تُعْرِضُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرًا ﴿۱۳۵﴾

او که چرته تاسو ژبه واړوئ یا څنګ او کړئ نو الله ستاسو د ټولو کارونو نه خبر دے ۳۔

نکات: ۱ بیا اعاده د پاره د نور تاکید. ۲ نهم حکم سلطاني باندې زیرا اچول. یعني د دے حکم مقصد دا دے چه په شهادت کښې پوره انصاف کوئ او د هیڅ لحاظ پکښې مکوئ. د غریب د غریبئ یا د مور پلار د احترام وغیره په وجه شهادت کښې کمے زیاتے مکوئ.

موضح قرآن ف۱ د دے ځلے اوفرمائیل چه د الله دي ټول هغه څه په آسمانونو کښې دي او څه چه زمکه کښې دي. آول ځل بیان د دے د فراخئ دویم ځل د الله د بے پرواهئ، دریم ځل د کارجوړولو او رحمت په دے شرط چه متقیان جوړ شئ. ف۲ یعني ټول اتفاق سره په شریعت باندې قائم اوسیږئ نو الله به دنیا کښې هم بدله درکړي او اخرت کښې هم. ف۳ یعني ګواهئ کښې د مالدار لحاظ مکوئ او په محتاج باندې زړه مه سیزئ او رشتے ته مه ګورئ، کوم چه حق وي هغه وایئ او که چرے ریښتیا نه اووایئ په جومے ژبے سره چه اوریدونکي په شبه کښې پریوځي

بتوله قصه ئې اونړ وئيله ځنې د کار خبرې ئې پرېښودلې د اخبره هم کتاب د ده.

تفسير: شه تنوير ثالث بر دا په نهم حکم سلطاني باندې زيات اجمالي دي. وَلَوْ عَلٰٓى اَنْفُسِكُمْ په اصل کښې دا سې وو. وَلَوْ كَانَتِ الشَّهَادَةُ عَلٰٓى اَنْفُسِكُمْ (مدارک ص ۱۹۹ ج ۱) دا شبه کيدے شوه چه يو غريب انسان نه ق بده رسولو د پاره يا د مور پلار د رعايت په خاطر يا د يو لوئے انسان د اصلاح په خاطر شايد په ګواهئ کښې کمے زياتے جائز وي نو دے فرمائيل چه دا بالکل جائز نه دے بلکه په شهادت کښې د هيچ لحاظ مکوئ او هميشه ګواهي پوره پوره اد اکوئ. د نهم حکم سلطاني نه معلوميده چه ګواهي هميشه رښتيني او صحيح ورکول پکار دي. د دے باندې ئے اوفرمائيل: اِنْ يَّكُنْ غَنِيًّا اَوْ فَقِيْرًا الخ يعني که څوك غني دے او که فقير دے نو تاسو د هغه معامله الله پاك ته اوسپارئ هغه ستاسو نه د دوي حال او د دوي په حق کښې بهتري ښه پيژني. والمعنی وکلوا امرهم الی الله تعالٰی فهو اعلم بهم وبحالهم. (خازن ص ۵ ج ۱) نو تاسو د خپلو خواهشاتو تابعداری کولو سره په ګواهئ کښې کمے زياتے مکوئ وَاَنْ تَعْدِلُوْا يا خو عدل په معنی "د حق نه اعراض" سره اخستے شوے دے يا عدل د جور يعني ظلم د ضد نه ماخوذ دے. دواړو صورتونو کښې په تقدير د مضاف سره د ما قبل مفعول له دے: وَاَنْ تَعْدِلُوْا من العدول عن الحق او من العدل وهو القسط فعلی الاول يكون التقدير ارادة ان تجوروا ومحبة ان تجوروا وعلی الثانی يكون التقدير كراهة ان تعدلوا بين الناس وتقسطوا (مدارک ج ۱ ص ۱۹۹ وبحر ج ۳ ص ۳۷۰ واللفظ له) اومبي صورت کښې به مطلب دا وي چه تاسو د حق او انصاف نه د تګ کولو په نيت د خواهش نفس تابعداری مکوئ او دويم صورت کښې به مفهوم دا وي. تاسو عدل او انصاف نه خوښولو سره د نفس د خواهشاتو اتباع مکوئ.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَالْكِتٰبِ

اے ايمان والو! يقين اوکړئ په الله او د هغه په رسول باندې او په هغه کتاب باندې

الَّذِيْ نَزَّلَ عَلٰى رَسُوْلِهٖ وَالْكِتٰبِ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ مِنْ

چه نازل کړے شوے دے په خپل رسول باندې او په هغه کتاب چه نازل کړے شوے دو مخکښې

قَبْلُ ؕ وَمَنْ يَّكْفُرْ بِاللّٰهِ وَمَلٰٓئِكَتِهٖ وَكُتُبِهٖ وَرُسُلِهٖ

او څوك چه يقين نه ساتي په الله باندې او د هغه فرښتو او کتابونو او رسولانو باندې

وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلٰلًا بَعِيْدًا ﴿۱۳۶﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ
او د قيامت په ورځ باندې هغه اوخوټيدو لواو ډير لرې په بېوتلو (۲) علوم خلق چه مسلمانان
اٰمَنُوْا ثُمَّ كَفَرُوْا ثُمَّ اٰمَنُوْا ثُمَّ كَفَرُوْا ثُمَّ ازْدَادُوْا
شول بیا کافران شول بیا مسلمانان شول بیا کافران شول (۱) بیا په کفر کښې زیات
كُفْرًا لَّمْ يَكُنِ اللّٰهُ لِيَغْفِرَ لَهُمْ وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ سَبِيْلًا ﴿۱۳۷﴾
شول (۲) نو الله هرګز هغوی لره بخښونکے نه دے او نه به ورته او ښائی نیغه لاره ف (۳)
بَشِّرِ الْمُنٰفِقِيْنَ بِاَنَّ لَهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿۱۳۸﴾ الَّذِيْنَ
زیرے ورکړه منافقانو ته چه دوی د پاره دے عذاب دردناک
يَتَّخِذُوْنَ الْكٰفِرِيْنَ اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ ؕ
هغه چه جوړوی کافران خپل دوستان او مسلمانان پریږدی (۳) ف (۴)
اَيَبْتَغُوْنَ عِنْدَهُمُ الْعِزَّةَ فَاِنَّ الْعِزَّةَ لِلّٰهِ جَمِيْعًا ﴿۱۳۹﴾ؕ
آیا لټوی دا منافقان دوی سره عزت نو عزت خو الله لره دے ټول ـ

نکات: ۱ـ دا زجرونه دی منافقانو د پاره. ۲ـ یعنی په ژبه، دینه دیځو د منافقان مراد دی. ۳ـ یعنی په زړه سره. ۴ـ زجر منافقانو د پاره سره د تخویف اخروی نه. ۵ـ د منافقانو د خباثت بیان سره د زجر نه ـ

موضح قرآن ف ۲ ایمان والا لے وئیلی دی هغه چا ته څوک چه په ظاهر کښې مسلمانان دی نو په هغوی ئے تاکید کړے دے چه ترڅو د زړه نه یقین اونکړی د دے تولو څیزونو د الله په نزد مسلمانان نه دی. ف ۲ یعنی په ظاهر کښې مسلمانان شول او په زړه کښې کافران دی نو که په آخر کښې هم بے یقینه مړه شول نو د کافرانو برابر دی هغوی ته بخښنه نشته او په ظاهری مسلمانئ سره به هغوی د (خلاصی) لار بیا نه مومی ـ

فتح الرحمن ف ۱ مترجم وائی مُراد دا دے چه څوک په ملّتِ اسلامیه کښې داخل شی هغه له پکار دی چه د دے څیزونو تصدیق اوکړی والله اعلم. ف ۲ یعنی همیشوالے ئے کولو. ف ۳ مترجم وائی د دے ځائے نه د منافقانو وعید فرمائی. والله اعلم ـ

تفسیر: ۹۱ـ د دے ځائے نه د منافقانِ مدینه د پاره زجرونه دی ـ

اٰمَنُوْا ماضي نه مراد ايمان باللسان دے او د اٰمِنُوْا نه مراد ايمان بالقلب (زړه نه ايمان) دے. منافقانو چه ظاهري طور باندے په ژبے سره ايمان راوړے وو دعوی ته لے اُوفرمائيل چه اخلاص سره د زړهٔ اعتقاد سره د الله په توحيد او د حضرت د رسول ؐ په رسالت او بتولو ضروريا تو باندے ايمان راوړئ: والخطاب للمنافقين المؤمنين ظاهرًا فمعنى اٰمنوا اخلصوا الايمان (روح ج ۵ ص ۱۶۹) اى يايها الذين اٰمنوا اٰمنوا اخلاصًا (مدارک ج ۱ ص ۱۹۵) والمعنى يٰايها الذين اٰمنوا بالسنتهم ولم تؤمن قلوبهم اٰمنوا بقلوبكم الخ (خازن ج ۱ ص ۵۰۸) يا د اٰمَنُوْا ماضي نه مراد دے اٰمنوا بالكتب السابقة والرسل السابقين. او د اٰمِنُوْا امر نه مراد اٰمِنُوْا بمحمد ﷺ والقراٰن يعني په تيرو شوو كتابونو او رسولانو باندے موخو ايمان راوړے دے اخري رسول او اخري كتاب باندے هم ايمان راوړئ. د دے صورت كښې به خطاب ټولو اهلِ كتابو ته وى: قيل هو خطاب لاهل الكتب جميعًا والمعنى يايها الذين اٰمنوا بموسٰى والتوراة وبعيسٰى والانجيل اٰمنوا بمحمد والقراٰن (خازن)

۹۲ دا ټولو منافقانو ته زجر دے او د بيا بيا ايمان راوړلو او د كفر كولو مفسرينو مختلف توجيهات كړيدى ليكن د ټولو نه زړهٔ ته خوښه خبره دا ده د تردد او پريشانئ بيان مقصود دے: قال القفال رحمه الله وليس المراد بيان هذا العدد بل المراد ترددهم كما قال مذبذبين بين ذٰلك لا الى هؤلاء ولا الى هؤلاء (كبير ج ۳ ص ۳۸۶) او د اِزْدَادُوْا كُفْرًا نه مراد دے چه كفر سره سره كافرانو سره دوستي هم ساتي. بيا بَشِّرِ الْمُنٰفِقِيْنَ سره منافقانو د پاره تخويف اخروى دے.

۹۳ دا د منافقانو د يو بے پلتئ بيان دے چه ظاهري طور باندے د ايمان اظهار كوى ليكن په پټه لے كافرانو سره دوستي ده او د زړهٔ همدردئ لے هم د كافرانو سره دى او چه كله خپل مينځ كښې ناست وى اسلام پورے ټوقے كوى. نو اے ايمان والو! تاسو د دوى نه جدا شئ. اَلَّذِيْنَ يَتَرَبَّصُوْنَ بِكُمْ. د دوى د زړونو د خيرنوالى دا حال دے چه هر وخت په تاسو باندے د مصيبت انتظار كوونكى او د دوى د دوه مخيز چال نمونه هم اوګورئ چه كله د الله پاک له طرفه تاسو ته كافرانو باندے فتح حاصله شى نو تاسو باندے خپل احسان ضباطوى چه مونږ تاسو سره وو او په جهاد كښې درسره شريک وو او كه چرے اتفاقًا كافرانو ته فتح او شى نو همدست هلته اُورسيږى حقوى باندے خپل حق ضباطوى چه زمونږ د مسلمانانو فوج كښې د منافقت په وجه او ظاهري اسلام سره خپل ځانونه مسلمانانو كښې شامل ول) مونږ تاسو باندے غالب شوى وو ليكن مونږ خپل بنهٔ تدبير سره د جنګ مخه بدله كړه او تاسو شكست په فتح كښې بدل شو. دا صرف د دے د پاره چه مونږ خفيه طور باندے ستاسو مدد او كړو او تاسو ته مو پناه در كړه او مسلمانانو مو ستاسو نه بند كړل.

وَقَدْ نَزَّلَ عَلَيْكُمْ فِي الْكِتٰبِ اَنْ اِذَا سَمِعْتُمْ اٰيٰتِ اللّٰهِ

او حکم نے نازل کړو تاسو باندې په قرآن کښ چه کله واورئ د الله تعالیٰ په ایتونو

يُكْفَرُ بِهَا وَيُسْتَهْزَاُ بِهَا فَلَا تَقْعُدُوْا مَعَهُمْ حَتّٰى

باندې انکار کول او ټوقې کول نو مه کینئ هغوی سره تر دے چه

يَخُوْضُوْا فِيْ حَدِيْثٍ غَيْرِهٖۤ ۖ اِنَّكُمْ اِذًا مِّثْلُهُمْ ؕ اِنَّ

مشغول شي په نورو خبرو کښ کنې تاسو به هم د هغوی په شان شئ الله به

اللّٰهَ جَامِعُ الْمُنٰفِقِيْنَ وَالْكٰفِرِيْنَ فِيْ جَهَنَّمَ جَمِيْعًا ۙ ﴿۱۴۰﴾

جمع کړی منافقان او کافران دوزخ کښ ټول ځائے ی

الَّذِيْنَ يَتَرَبَّصُوْنَ بِكُمْ ۚ فَاِنْ كَانَ لَكُمْ فَتْحٌ مِّنَ اللّٰهِ

هغه منافقان خلک چه ستاسو په انتظار کښ دی بیا که چرے تاسو ته فتح ملاؤ شي د الله پاک له طرفه

قَالُوْۤا اَلَمْ نَكُنْ مَّعَكُمْ ۖ وَاِنْ كَانَ لِلْكٰفِرِيْنَ نَصِيْبٌ ۙ

نو وائی ایا مونږ نه وو تاسو سره ملا او که چرے برخه وی کافرانو د پاره نو

قَالُوْۤا اَلَمْ نَسْتَحْوِذْ عَلَيْكُمْ وَنَمْنَعْكُمْ مِّنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ؕ

وائی ایا مونږ نه وو غالب شوی تاسو باندې نه وو او بچ مو کړئ تاسو د مؤمنانو نه وو فتح

فَاللّٰهُ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ وَلَنْ يَّجْعَلَ اللّٰهُ

نو فیصله به او کړی الله ستاسو په مینځ کښ د قیامت په ورځ او هرګز به ونکړی الله تعالیٰ

ع
لِلْكٰفِرِيْنَ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ سَبِيْلًا ﴿۱۴۱﴾ اِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ

کافرانو ته مسلمانانو باندې د غلبے لاره والله بیشکه منافقان

يُخٰدِعُوْنَ اللّٰهَ وَهُوَ خَادِعُهُمْ ۚ وَاِذَا قَامُوْۤا اِلَى

چلکی کوی الله سره او هغه به دوی ته د چلکی سزا ورکړی او کله چه دوی پاسیږی ته

الصَّلٰوةِ قَامُوْا كُسَالٰى ۙ يُرَآءُوْنَ النَّاسَ وَلَا يَذْكُرُوْنَ

او درېږی نو اودرېږی چه زړه ئے نه وی خلقو ته ښودنے د پاره او نه یادوی

اللّٰهَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿۱۴۲﴾ مُّذَبْذَبِيْنَ بَيْنَ ذٰلِكَ ۖ لَآ اِلٰى

الله لیکن لږ. مینځ کښې زړه نا وی د دے دواړو نه دوی طرف ته د دی

هٰٓؤُلَآءِ وَلَآ اِلٰى هٰٓؤُلَآءِ ۭ وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَلَنْ تَجِدَ

او نه هغوی طرف ته او چا لره چه الله ګمراه کړی نو ته هیڅکله بیا نه مومے

لَهٗ سَبِيْلًا ﴿۱۴۳﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوا الْكٰفِرِيْنَ

هغه د پاره څه لار. اے ایمان دارو! مه جوړوئ کافران

اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ ۭ اَتُرِيْدُوْنَ اَنْ تَجْعَلُوْا

خپل دوستان سواد مؤمنانو نه ګله ایا اخلئ خپل ځان باندے

عَلَيْكُمْ سُلْطٰنًا مُّبِيْنًا ﴿۱۴۴﴾ اِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ فِي الدَّرْكِ

د الله تعالیٰ الزام ښکاره. بیشکه منافقان د ټولو نه لاندے درجه

الْاَسْفَلِ مِنَ النَّارِ ۚ وَلَنْ تَجِدَ لَهُمْ نَصِيْرًا ﴿۱۴۵﴾ اِلَّا

کښې دی د دوزخ او هرګز به بیا نه مومې تاسو هغوی د پاره څوک مدګار لیکن

الَّذِيْنَ تَابُوْا وَاَصْلَحُوْا وَاعْتَصَمُوْا بِاللّٰهِ وَاَخْلَصُوْا

چا چه توبه کړه او خپل اصلاح ئے وکړه او مضبوط ئے اونیوه الله او خالص حکم منونکے شو

دِيْنَهُمْ لِلّٰهِ فَاُولٰٓئِكَ مَعَ الْمُؤْمِنِيْنَ ۭ وَسَوْفَ يُؤْتِ اللّٰهُ

دَ الله نو هغوی به ایمان والو سره وی او زر به ورکړی الله

الْمُؤْمِنِيْنَ اَجْرًا عَظِيْمًا ﴿۱۴۶﴾ مَا يَفْعَلُ اللّٰهُ بِعَذَابِكُمْ اِنْ

ایمان والو ته لوئے ثواب - څه به اوکړی الله ستاسو په عذاب که چرے

شَكَرْتُمْ وَاٰمَنْتُمْ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ شَاكِرًا عَلِيْمًا ﴿۱۴۷﴾

تاسو حق اومنئ او یقین اوکړئ او الله قدردان دے او په هر څه باندے پوهه دے۔

نکات: ۱ تخویف اُخروی ۲ دمنافقانو دیونفاق بیان ۳ دمنافقانو دنفاق بیان سره دزجرنه ۴ زجر منافقانو د پاره ۵ زجر منافقانو ته ۶ تخوف اخروی منافقانو

تا ۸۲ بشارت خالص مؤمنانو دپاره ۸۳ تخویف دُنیوی منافقانو دپاره.

موضح قرآن ف۱ څوك چه په یو مجلس کښې د دین عیب واوری بیا هلته ناست وی اګر چه پخپله ئے نه بیانوی هغه منافق دے. ف۲ دے نه معلومه شوه چه څوك په حقه لاروی اوګمراهانو سره ئے هم (دوستانه) تعلق جوړ کړے دے هغه هم منافق دے.

فتح الرحمٰن ف۱ یعنی ستاسو ځلے ته یم ف۲ مترجم وائی یعنی تاسو ته خامخا مشوره درکړه چه مسلمانانو سره اوجنګیږئ او دبل مشورے ته پریښه خودلئ ف۳ یعنی کوشش مو اوکړو چه تاسو ته دمسلمانانو نه نقصان اونه رسیږی والله اعلم. ف۴ مترجم وائی یعنی لشی کوئے چه د اسلام بیخ کندی اوکړی. والله اعلم.

تفسیر: ۹۴ دا خطاب هم هغه خلقوته دے کوم چه منافقانه طریقے سره مؤمنانو او کافرانو سره ئے دوستی ساتله یا خطاب عام دے، مؤمنانو او منافقانو ټولو ته شامل دے:

قال ابن عطية خطابه للمؤمنين يدخل فيه بحكم الظاهر المنافقون المظهرون للايمان. (بحر، ص ۳۷۹ ج ۳)

إِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ فِي الدَّرْكِ الْأَسْفَلِ مِنَ النَّارِۚ دا منافقانو دپاره تخویف اخروی دے. إِلَّا الَّذِيْنَ تَابُوْا وَأَصْلَحُوْا. دا د ذکر شوی حکم نه استثناء ده یعنی کوم منافقانو چه دنفاق نه توبه کړه او د زړهٔ د اخلاص سره ئے ایمان قبول کړو هغوی به د مذکوره عذاب نه په امن کښې وی بلکه جنت کښې به د مخلصو مؤمنانو سره وی او د الله پاك د طرفه به ورته اجر عظیم ورکړے شی.

۹۵ دا خطاب منافقانو سره دے یعنی که چرے تاسو د الله تعالیٰ د نعمتونو شکریه ادا کړئ او اخلاص سره ایمان راوړئ نو دے څهٔ ضرورت دے چه هغه تاسو ته بلاوجه عذاب درکړی نو هغه خو قدردان دے او په هر څهٔ خبر دے. څوك چه د هغهٔ د نعمتونو شکر ادا کړی او په هغه خالص ایمان راوړی نو خامخا به ورته هغه ښهٔ بدله ورکړی.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ بِنِعْمَتِهٖ تَتِمُّ الصَّالِحَاتُ ؕ

کتابت: ابوطلحه ګلزار احمد ولد خیر الله
سنګهٔ رفورټ ضلع چارسده.
۱۱ مارچ ۲۰۰۵ء موافق یکم صفر المظفر ۱۴۲۶ هجری
بروز جمعه